# Translation of the meaning of the noble Quran – Pashto translation

# ترجمة معانى القرآن باللغة البشتو

**Translated by:**
**Zakaria Abulsalam**

**Edition:**
1423 AH

**Version: April 21, 2019**

**This file was downloaded from: http://quran.wiki**
**Email: info@quran.wiki**

# فهرس

سورۀ فاتحه ........................................................................ 1

سورۀ بقره.......................................................................... 2

سورۀ آل عمران.............................................................. 93

سورۀ نساء ..................................................................... 148

سورۀ مائده .................................................................... 205

سورۀ انعام ..................................................................... 246

سورۀ اعراف ................................................................... 293

سورۀ انفال..................................................................... 347

سورۀ توبه ...................................................................... 367

سورۀ یونس.................................................................... 407

سورۀ هود ...................................................................... 435

سورۀ یوسف .................................................................. 467

سورۀ رعد....................................................................... 495

سورۀ ابراهیم ........................................................ 509

سورۀ حِجر ........................................................ 522

سورۀ نحل ........................................................ 537

سورۀ اِسراء ........................................................ 567

سورۀ کهف........................................................ 593

سورۀ مریم ........................................................ 620

سورۀ طه ........................................................ 638

سورۀ انبیاء ........................................................ 662

سورۀ حج ........................................................ 683

سورۀ مؤمنون ........................................................ 703

سورۀ نور ........................................................ 724

سورۀ فرقان........................................................ 744

سورۀ شعراء........................................................ 760

سورۀ نمل........................................................ 789

سورۀ قصص ........................................................ 809

سورۀ عنکبوت........................................................ 831

سورۀ روم ............................................................. 847

سورۀ لقمان........................................................... 861

سورۀ سجده .......................................................... 869

سورۀ احزاب ......................................................... 876

سورۀ سبأ ............................................................. 896

سورۀ فاطر ........................................................... 910

سورۀ یس ............................................................. 923

سورۀ صافات......................................................... 937

سورۀ ص .............................................................. 959

سورۀ زُمر............................................................. 973

سورۀ غافر............................................................ 993

سورۀ فُصلت ........................................................ 1013

سورۀ شوری ........................................................ 1026

سورۀ زُخرف ....................................................... 1040

سورهٔ دُخان ........................................................ 1056

سورهٔ جاثیه ........................................................ 1064

سورهٔ احقاف ........................................................ 1072

سورهٔ محمد ........................................................ 1083

سورهٔ فتح ........................................................ 1093

سورهٔ حجرات ........................................................ 1102

سورهٔ ق ........................................................ 1107

سورهٔ ذاریات ........................................................ 1115

سورهٔ طور ........................................................ 1123

سورهٔ نجم ........................................................ 1130

سورهٔ قمر ........................................................ 1138

سورهٔ رحمن ........................................................ 1146

سورهٔ واقعه ........................................................ 1156

سورهٔ حدید ........................................................ 1167

سورهٔ مجادله ........................................................ 1176

سورهٔ حشر ........................................................ 1183

سورهٔ ممتحنه ........................................................ 1191

سورهٔ صف ........................................................ 1197

سورهٔ جمعه ........................................................ 1200

سورهٔ منافقون ........................................................ 1203

سورهٔ تغابن ........................................................ 1206

سورهٔ طلاق ........................................................ 1211

سورهٔ تحریم ........................................................ 1215

سورهٔ ملک ........................................................ 1219

سورهٔ قلم ........................................................ 1226

سورهٔ حاقه ........................................................ 1233

سورهٔ معارج ........................................................ 1240

سورهٔ نوح ........................................................ 1246

سورهٔ جن ........................................................ 1250

سورهٔ مزمل ........................................................ 1256

سورۀ مدثر ........................................ 1260

سورۀ قیامه ........................................ 1266

سورۀ انسان........................................ 1271

سورۀ مرسلات........................................ 1276

سورۀ نبأ........................................ 1282

سورۀ نازعات........................................ 1287

سورۀ عبس ........................................ 1292

سورۀ تکویر ........................................ 1296

سورۀ انفطار ........................................ 1300

سورۀ مطففین........................................ 1302

سورۀ انشقاق ........................................ 1307

سورۀ بروج........................................ 1310

سورۀ طارق ........................................ 1313

سورۀ اعلی ........................................ 1315

سورۀ غاشیه ........................................ 1317

سورهٔ فجر ........................................ 1320

سورهٔ بلد ........................................ 1324

سورهٔ شمس ........................................ 1326

سورهٔ لیل ........................................ 1328

سورهٔ ضحی ........................................ 1331

سورهٔ شرح ........................................ 1332

سورهٔ تین ........................................ 1333

سورهٔ علق ........................................ 1334

سورهٔ قدر ........................................ 1337

سورهٔ بینه ........................................ 1338

سورهٔ زلزله ........................................ 1340

سورهٔ عادیات ........................................ 1341

سورهٔ قارعه ........................................ 1343

سورهٔ تکاثر ........................................ 1344

سورهٔ عصر ........................................ 1345

سورۀ همزه ........................................ 1346

سورۀ فیل ........................................ 1347

سورۀ قریش........................................ 1348

سورۀ ماعون ........................................ 1349

سورۀ کوثر ........................................ 1350

سورۀ کافرون ........................................ 1350

سورۀ نصر ........................................ 1351

سورۀ مسد ........................................ 1352

سورۀ اخلاص ........................................ 1353

سورۀ فلق ........................................ 1353

سورۀ ناس ........................................ 1354

## سُورَةُ الفَاتِحَةِ

## سورهٔ فاتحه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿١﴾

(1) د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٢﴾

(2) ټول (د کمال) صفتونه خاص د الله لپاره دي چې د ټولو عالَمونو ښه پالونکی دی

ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿٣﴾

(3) ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ﴿٤﴾

(4) د بَدلې د ورځې مالك دی

إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ ﴿٥﴾

(5) مونږ خاص ستا عبادت کوو او خاص له تا نه مدد غواړو

ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ﴿٦﴾

(6) ته مونږ ته سَمَه (نېغه) لاره وښَیَه

صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ﴿٧﴾

(7) د هغو خلقو لاره چې تا پر هغوی باندې انعام کړی دی؛ چې نه پر هغوی باندې غضب شوی او نه ګمراهان دي

## سُورَةُ البَقَرَةِ

## سورۀ بقره

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

الٓمٓ ١

(1) الف، لام، میم

ذَٰلِكَ ٱلۡكِتَٰبُ لَا رَيۡبَۛ فِيهِۛ هُدٗى لِّلۡمُتَّقِينَ ٢

(2) دا (عظيم) کتاب دی، په ده کې هېڅ شك نشته، د پرهېزګارانو لپاره هدايت دی

ٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡغَيۡبِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ٣

(3) هغه خلق چې پر غیبو ایمان راوړي او لمونځ قایموي او له هغه (مال) نه څه حصه خرچ کوي؛ چې مونږ هغوی ته ورکړی دی

وَٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبۡلِكَ وَبِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ يُوقِنُونَ ٤

(4) او هغه خلق چې ایمان راوړي پر هغه (کتاب) چې تا ته نازل کړی شوی دی او پر هغو (کتابونو) چې له تا نه مخکې نازل کړی شوي دي، او پر اخرت همدوی يقين لري

أُوْلَٰٓئِكَ عَلَىٰ هُدٗى مِّن رَّبِّهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ٥

(5) دغه خلق د خپل رب له طرفه په راغلي هدايت باندې دي او همدغه خلق پوره کامیاب دي

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ سَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ

(6) بېشکه هغه (خاص) کسان چې کافر

ءَأَنذَرۡتَهُمۡ أَمۡ لَمۡ تُنذِرۡهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ٦

شوي دي؛ دوی ته یو شان ده که ته دوی ووېروې یا ته دوی ونه وېروې، دوی ایمان نه راوړي

خَتَمَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ وَعَلَىٰ سَمۡعِهِمۡۖ وَعَلَىٰٓ أَبۡصَٰرِهِمۡ غِشَٰوَةٞۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ٧

(7) الله د هغوی پر زړونو او د هغوی پر غوږونو مهر لګولی دی، او د هغوی پر سترګو (یوه خاصه) پرده ده، او د هغوی لپاره ډېر لوی عذاب دی

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَبِٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَمَا هُم بِمُؤۡمِنِينَ ٨

(8) او په خلقو کې ځینې هغه څوك دي چې وايي: مونږ پر الله او د اخرت پر ورځ ایمان راوړی دی، حال دا چې دوی له سَره مومنان نه دي

يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَمَا يَخۡدَعُونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمۡ وَمَا يَشۡعُرُونَ ٩

(9) دوی له الله سره دوکه کوي، او له هغو خلقو سره چې ایمان یې راوړی دی، حال دا چې دوی یواځې له هم خپلو ځانونو سره دوکه کوي، او شعور نه لري

فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ فَزَادَهُمُ ٱللَّهُ مَرَضٗاۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمُۢ بِمَا كَانُواْ يَكۡذِبُونَ ١٠

(10) د دوی په زړونو کې بیماري ده، نو الله دوی ته بیماري ورزیاته کړه، او د دوی لپاره ډېر دردوونکی عذاب دی؛ په دې سبب چې دوی به همېشه دروغ ویل

وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ لَا تُفۡسِدُواْ فِي

(11) او کله چې دوی ته وویل شي چې په

| | |
|---|---|
| ٱلۡأَرۡضِ قَالُوٓاْ إِنَّمَا نَحۡنُ مُصۡلِحُونَ ﴿١١﴾ | ځمکه کې فساد مه کوئ، دوی وايي: يقينًا همدا خبره ده چې مونږ خو بس اصلاح کوونکي يو |
| أَلَآ إِنَّهُمۡ هُمُ ٱلۡمُفۡسِدُونَ وَلَٰكِن لَّا يَشۡعُرُونَ ﴿١٢﴾ | (12) خبردار! بېشکه همدوی فساد کوونکي دي، او لېکن دوی شعور نه لري |
| وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ ءَامِنُواْ كَمَآ ءَامَنَ ٱلنَّاسُ قَالُوٓاْ أَنُؤۡمِنُ كَمَآ ءَامَنَ ٱلسُّفَهَآءُۗ أَلَآ إِنَّهُمۡ هُمُ ٱلسُّفَهَآءُ وَلَٰكِن لَّا يَعۡلَمُونَ ﴿١٣﴾ | (13) او کله چې دوی ته وويل شي: تاسو ايمان راوړئ، لکه څنگه چې خلقو (صحابه وو) ايمان راوړی دی، نو دوی وايي: ايا مونږ ايمان راوړو، لکه څنگه چې بې وقوفو (کم عقلو) ايمان راوړی دی؟ خبردار! يقينًا همدوی بې وقوفه دي، او لېکن دوی نه پوهېږي |
| وَإِذَا لَقُواْ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا وَإِذَا خَلَوۡاْ إِلَىٰ شَيَٰطِينِهِمۡ قَالُوٓاْ إِنَّا مَعَكُمۡ إِنَّمَا نَحۡنُ مُسۡتَهۡزِءُونَ ﴿١٤﴾ | (14) او کله چې دوی له مومنانو سره ملاقات وکړي، نو وايي چې مونږ ايمان راوړی دی، او کله چې له خپلو شيطانانو (مشرانو) سره يواځې شي، نو (بيا) وايي: په رښتيا خو مونږ له تاسو سره يو، خبره همدا ده چې مونږ خو بس استهزا (خندا) کوونکي يو |
| ٱللَّهُ يَسۡتَهۡزِئُ بِهِمۡ وَيَمُدُّهُمۡ فِي طُغۡيَٰنِهِمۡ يَعۡمَهُونَ ﴿١٥﴾ | (15) الله په دوی پورې استهزا کوي او دوی ته په خپلې سرکشۍ کې ترقي ورکوي، په داسې |

حال کې چې دوی حیران سرګردان ګرځي

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشۡتَرَوُاْ ٱلضَّلَٰلَةَ بِٱلۡهُدَىٰ فَمَا رَبِحَت تِّجَٰرَتُهُمۡ وَمَا كَانُواْ مُهۡتَدِينَ ﴿١٦﴾

(16) دا هغه خلق دي چا چې د نیغي لاري په بدل کې ګمراهي اخیستې ده، نو د دوی سوداګری هیڅ ګټه ونه کړه او دوی نیغه لار موندونکي نه وو،

مَثَلُهُمۡ كَمَثَلِ ٱلَّذِي ٱسۡتَوۡقَدَ نَارٗا فَلَمَّآ أَضَآءَتۡ مَا حَوۡلَهُۥ ذَهَبَ ٱللَّهُ بِنُورِهِمۡ وَتَرَكَهُمۡ فِي ظُلُمَٰتٖ لَّا يُبۡصِرُونَ ﴿١٧﴾

(17) د دوی مثال د هغه کس په شان دی چې اور یې بل کړ، نو کله چې دغه (اور) د هغه ګېرچاپېره (ځایونه) روښانه کړل، نو الله د هغوی رڼا ختمه کړه، او هغوی یې په تیارو کې پرېښودل، داسې چې نهویني

صُمُّۢ بُكۡمٌ عُمۡيٞ فَهُمۡ لَا يَرۡجِعُونَ ﴿١٨﴾

(18) (دوی) کاڼه دي، ګونګیان دي، ړانده دي، نو دوی نه راګرځي

أَوۡ كَصَيِّبٖ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ فِيهِ ظُلُمَٰتٞ وَرَعۡدٞ وَبَرۡقٞ يَجۡعَلُونَ أَصَٰبِعَهُمۡ فِيٓ ءَاذَانِهِم مِّنَ ٱلصَّوَٰعِقِ حَذَرَ ٱلۡمَوۡتِۚ وَٱللَّهُ مُحِيطُۢ بِٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿١٩﴾

(19) یا (مثال د دوی) له اسمان نه د وریدونکي تېز باران په شان دی، چې په هغه کې تیارې او ګړزارې او بریښنا وي، دوی د تندرونو په وجه د مرګ له وېرې نه خپلې ګوتې په خپلو غوږونو کې ننباسي، او الله کافرانو لره راګېروونکی دی

يَكَادُ ٱلۡبَرۡقُ يَخۡطَفُ أَبۡصَٰرَهُمۡۖ كُلَّمَآ أَضَآءَ لَهُم مَّشَوۡاْ فِيهِ وَإِذَآ

(20) نژدې ده چې بریښنا د دوی نظرونه وتښتوي، کله هم چې هغه د دوی لپاره رڼا

أَظۡلَمَ عَلَيۡهِمۡ قَامُواْۚ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَذَهَبَ بِسَمۡعِهِمۡ وَأَبۡصَٰرِهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٢٠

کوي، نو دوی په هغې (رڼا) کې مزل کوي او کله چې پر دوی تیاره شي، نو ودرېږي، او که الله غوښتلی، نو خامخا به یې د دوی اَورېدل او د دوی نظرونه ختم کړي وی، بېشکه الله پر هر شي باندې ښه قادر دی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱعۡبُدُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ٢١

**(21)** ای خلقو! د خپل رب عبادت کوئ، هغه چې تاسو یې پیدا کړي یئ او هغه کسان چې له تاسو نه مخکې وو، د دې لپاره چې تاسو پرهېزګاره شئ

ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ فِرَٰشٗا وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءٗ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَخۡرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزۡقٗا لَّكُمۡۖ فَلَا تَجۡعَلُواْ لِلَّهِ أَندَادٗا وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٢٢

**(22)** هغه (رب) چې ستاسو لپاره یې ځمکه فرش او اسمان چت جوړ کړی دی او له بره نه یې اوبه نازلې کړي دي، بیا یې په دغو سره له مېوو نه ستاسو لپاره رزق راوېستلی دی، نو له الله سره هېڅ قسمه شریکان مه جوړوئ، حال دا چې تاسو پوهېږئ

وَإِن كُنتُمۡ فِي رَيۡبٖ مِّمَّا نَزَّلۡنَا عَلَىٰ عَبۡدِنَا فَأۡتُواْ بِسُورَةٖ مِّن مِّثۡلِهِۦ وَٱدۡعُواْ شُهَدَآءَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٢٣

**(23)** او که تاسو د هغه (قرآن) په هکله په کوم شك کې یئ چې مونږ پر خپل بنده نازل کړی دی، نو د ده غوندې یو وړوکی سورت راوړئ، او له الله نه سِوا خپل مددګاران راوغواړئ، که تاسو رښتوني یئ

فَإِن لَّمۡ تَفۡعَلُواْ وَلَن تَفۡعَلُواْ
فَٱتَّقُواْ ٱلنَّارَ ٱلَّتِي وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ
وَٱلۡحِجَارَةُۖ أُعِدَّتۡ لِلۡكَٰفِرِينَ ٢٤

(24) نو كه تاسو(دا كار) ونه كړ او كله به يې هم ونه كړى شئ، نو له هغه اور نه ځان بچ كړئ چې خشاك يې انسانان او كاڼي دي، د كافرانو لپاره تيار كړى شوى دى

وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ
ٱلصَّٰلِحَٰتِ أَنَّ لَهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي
مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ كُلَّمَا رُزِقُواْ
مِنۡهَا مِن ثَمَرَةٖ رِّزۡقٗا قَالُواْ هَٰذَا
ٱلَّذِي رُزِقۡنَا مِن قَبۡلُۖ وَأُتُواْ بِهِۦ
مُتَشَٰبِهٗاۖ وَلَهُمۡ فِيهَآ أَزۡوَٰجٞ مُّطَهَّرَةٞۖ
وَهُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٢٥

(25) او زېرى ورکړه هغو کسانو ته چې ايمان يې راوړى دى او نېك عمل يې كړى دى، چې يقينًا د دوى لپاره (داسې) جنتونه دي چې د هغو له لاندې وَلې بهېږي، هر ځلې چې دوى ته له هغو (جنتونو) نه څه مېوه د خوراك لپاره وركړى شي، نو دوى به وايي: دا خو هماغه ده چې مونږ ته مخكې راكړى شوې وه، او دوى ته به هغه يو له بله مُشابه (يو شانته) وركول كېږي، او د دوى لپاره په دغو (جنتونو) كې ډېرې پاكې بيبيانې (ښځې) دي، او دوى به په دغو كې هميشه وي

۞إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَسۡتَحۡيِۦٓ أَن يَضۡرِبَ
مَثَلٗا مَّا بَعُوضَةٗ فَمَا فَوۡقَهَاۚ فَأَمَّا
ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فَيَعۡلَمُونَ أَنَّهُ ٱلۡحَقُّ
مِن رَّبِّهِمۡۖ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ
فَيَقُولُونَ مَاذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِهَٰذَا
مَثَلٗاۘ يُضِلُّ بِهِۦ كَثِيرٗا وَيَهۡدِي

(26) بېشكه الله د هېڅ مثال په بيانولو نه شرمېږي، د ماشي وي، يا كه له ده نه د زيات (شي) وي، نو هر چې هغه خلق دي چې ايمان يې راوړى دى، نو هغوى پوهېږي چې يقينًا دا د هغوى د رب له طرف نه حق (مثال) دى، او پاتې شو هغه خلق چې كفر يې كړى

بِهِۦ كَثِيرٗاۚ وَمَا يُضِلُّ بِهِۦٓ إِلَّا ٱلۡفَٰسِقِينَ ٢٦

دی، نو هغوی وايي: الله په دې مثال وركولو سره څه اراده کړې ده؟ (نو) هغه (الله) په دې سره ډېر خلق ګمراه کوي او ډېرو ته په دې سره هدايت وركوي او نه ګمراه کوي په دې سره مگر فاسقان

ٱلَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهۡدَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مِيثَٰقِهِۦ وَيَقۡطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيُفۡسِدُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ٢٧

**(27)** هغه خلق چې د الله (سره کړی) لوظ ماتوي وروسته د هغه (لوظ) له مضبوطولو (او پخلي) نه او پرېکوي هغه څه چې الله يې د پيوست ساتلو حکم کړی دی، او په ځمکه کې ورانی کوي، همدغه خلق تاوانيان دي

كَيۡفَ تَكۡفُرُونَ بِٱللَّهِ وَكُنتُمۡ أَمۡوَٰتٗا فَأَحۡيَٰكُمۡۖ ثُمَّ يُمِيتُكُمۡ ثُمَّ يُحۡيِيكُمۡ ثُمَّ إِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ٢٨

**(28)** څنګه تاسو له الله نه منکرېږئ، حال دا چې تاسو نِشت وئ، نو هغه تاسو راژوندي کړئ، بيا به هغه تاسو مړه کوي، بيا به تاسو راژوندي کوي، بيا به خاص د هغه په طرف ستنولی شئ

هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَ لَكُم مَّا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ فَسَوَّىٰهُنَّ سَبۡعَ سَمَٰوَٰتٖۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ٢٩

**(29)** همدی هغه ذات دی چې ستاسو لپاره يې هغه ټول څه پيدا کړل چې په ځمکه کې دي، بيا يې پورته قصد وکړ، نو هغه يې ښه برابر اوه اسمانونه جوړ کړل، او هغه پر هر شي ښه عالم دی

وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي ٱلْأَرْضِ خَلِيفَةً ۖ قَالُوٓا۟ أَتَجْعَلُ فِيهَا مَن يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ ٱلدِّمَآءَ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ ۖ قَالَ إِنِّيٓ أَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٣٠﴾

(30) او کله چې ستا رب ملایکو ته وویل: بې شکه زه په ځمکه کې یو خلیفه پیدا کوونکی یم، هغوی وویل: ایا ته په هغې کې داسې څوك پیدا کوې چې په هغې کې به ورانی کوي او وینې به تویَوي؟ حال دا چې مونږ ستا له ستایلو سره تسبیح وایو او ستا پاکوالی بیانوو، (الله) وویل: یقینًا زه پوهېږم پر هغه څه چې تاسو پرې نه پوهېږئ

وَعَلَّمَ ءَادَمَ ٱلْأَسْمَآءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ فَقَالَ أَنۢبِـُٔونِى بِأَسْمَآءِ هَٰٓؤُلَآءِ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٣١﴾

(31) او ادم ته يې ټول نومونه وښودل، بیا یې هغه ملایکو ته وړاندې کړل، نو ویې ویل: ما د دوی په نومونو خبر کړئ که تاسو (په خپله خبره کې) رښتوني يئ

قَالُوا۟ سُبْحَٰنَكَ لَا عِلْمَ لَنَآ إِلَّا مَا عَلَّمْتَنَآ ۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٣٢﴾

(32) هغوی وویل : ته پاك يې، مونږ ته هېڅ علم نشته سِوا له هغه نه چې تا مونږ ته راښودلی دی، بېشکه، خاص ته، ښه عالم، ښه حکمت والا يې

قَالَ يَٰٓـَٔادَمُ أَنۢبِئْهُم بِأَسْمَآئِهِمْ ۖ فَلَمَّآ أَنۢبَأَهُم بِأَسْمَآئِهِمْ قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ إِنِّيٓ أَعْلَمُ غَيْبَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَأَعْلَمُ مَا

(33) (الله) وویل: ای ادمه! دوی د هغو (څیزونو) پر نومونو خبر کړه، نو کله چې یې دوی د هغو پر نومونو خبر کړل، (الله) وویل: ایا ما تاسو ته نه و ویلي چې بېشکه زه د

تُبۡدُونَ وَمَا كُنتُمۡ تَكۡتُمُونَ ﴿٣٣﴾

اسمانونو او ځمکې پر غیبو (پټو ځیزونو) پوهېږم، او پوهېږم پر هغه څه چې تاسو یې ښکاره کوئ او پر هغه څه چې تاسو پټول

وَإِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبۡلِيسَ أَبَىٰ وَٱسۡتَكۡبَرَ وَكَانَ مِنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٣٤﴾

(34) او کله چه مونږ ملایکو ته وویل: ادم ته سجده وکړئ، نو هغوی سجده وکړه خو ابلیس نه، هغه انکار وکړ او تکبر یې وکړ، او هغه و له کافرانو نه

وَقُلۡنَا يَٰٓـَٔادَمُ ٱسۡكُنۡ أَنتَ وَزَوۡجُكَ ٱلۡجَنَّةَ وَكُلَا مِنۡهَا رَغَدًا حَيۡثُ شِئۡتُمَا وَلَا تَقۡرَبَا هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٣٥﴾

(35) او مونږ وویل: ای ادمه! اوسېږه ته او ستا ښځه په جنت کې، او دواړه له هغه (د جنت له مېوو) نه پرېمانه (په مزې سره) خوراك کوئ کوم ځای چې مو خوښه وي، او تاسو دواړه دې ونې ته مه نږدې کېږئ، ګنې تاسو به له ظالمانو نه شئ

فَأَزَلَّهُمَا ٱلشَّيۡطَٰنُ عَنۡهَا فَأَخۡرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيهِۖ وَقُلۡنَا ٱهۡبِطُواْ بَعۡضُكُمۡ لِبَعۡضٍ عَدُوّٞۖ وَلَكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُسۡتَقَرّٞ وَمَتَٰعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴿٣٦﴾

(36) پس شیطان دوی دواړه د دغې (ونې) په سبب، وښویول، نو له هغه (ځای) نه یې راووېستل چې دوی په کې وو، او مونږ وویل: تاسو ټول کوز شئ، ستاسو ځینې به د ځینو نورو لپاره دښمنان وي، او ستاسو لپاره په ځمکه کې تر یو وخته پورې استوګنه او فایده اخیستل دي

فَتَلَقَّىٰٓ ءَادَمُ مِن رَّبِّهِۦ كَلِمَٰتٖ
فَتَابَ عَلَيۡهِۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلتَّوَّابُ
ٱلرَّحِيمُ ٣٧

(37) نو ادم له خپل رب نه څو کلمې زده
کړې، نو د هغه توبه يې قبوله کړه، بېشکه هم
هغه ښه توبه قبلوونکی، بې حده رحم کوونکی
دی

قُلۡنَا ٱهۡبِطُواْ مِنۡهَا جَمِيعٗاۖ فَإِمَّا
يَأۡتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدٗى فَمَن تَبِعَ
هُدَايَ فَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ
يَحۡزَنُونَ ٣٨

(38) مونږ ووېل: تاسو ټول له دې(جنت) نه
کوز شئ، نو که زما له طرف نه تاسو ته کوم
هدايت راغی، نو چا چې زما د هدايت پېروي
وکړه، نو پر هغوی باندې نه هېڅ وېره شته او
نه به هغوی غمژن کېږي

وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآ
أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا
خَٰلِدُونَ ٣٩

(39) او هغه خلق چې کفر يې کړی دی او
زمونږ ايتونه يې دروغ ګڼلي دي، همدغه
کسان د (دوزخ د) اور والا دي، دوی به په
هغه کې همېشه وي

يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتِيَ
ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ وَأَوۡفُواْ
بِعَهۡدِيٓ أُوفِ بِعَهۡدِكُمۡ وَإِيَّٰيَ
فَٱرۡهَبُونِ ٤٠

(40) ای بني اسرائيلو! زما هغه نعمتونه ياد
کړئ چې ما پر تاسو باندې پېرزو کړي دي او
زما لوظ پوره کړئ، زه به ستاسو لوظ پوره کړم،
او خاص له ما نه وېرېږئ

وَءَامِنُواْ بِمَآ أَنزَلۡتُ مُصَدِّقٗا لِّمَا
مَعَكُمۡ وَلَا تَكُونُوٓاْ أَوَّلَ كَافِرِۭ

(41) او تاسو ايمان راوړئ پر هغه (کتاب) چې
ما نازل کړی دی، چې د هغه (کتاب) تصدېق
کوونکی دی چې له تاسو سره دی، او په هغه

| | |
|---|---|
| بِهِۦۖ وَلَا تَشۡتَرُواْ بِـَٔايَٰتِي ثَمَنٗا قَلِيلٗا وَإِيَّٰيَ فَٱتَّقُونِ ﴿٤١﴾ | سره اول کفر کوونکي مه جوړېږئ، او زما په ايتونو سره لږ قيمت مه اخلئ او خاص له ما نه وېرېږئ |
| وَلَا تَلۡبِسُواْ ٱلۡحَقَّ بِٱلۡبَٰطِلِ وَتَكۡتُمُواْ ٱلۡحَقَّ وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿٤٢﴾ | (42) او تاسو حق له باطل سره مه ګډوئ، او حق مه پټوئ، حال دا چې تاسو پوهېږئ |
| وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱرۡكَعُواْ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴿٤٣﴾ | (43) او تاسو لمونځ قايموئ او زکات ورکوئ او له رکوع کوونکو سره رکوع کوئ |
| ۞أَتَأۡمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلۡبِرِّ وَتَنسَوۡنَ أَنفُسَكُمۡ وَأَنتُمۡ تَتۡلُونَ ٱلۡكِتَٰبَۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴿٤٤﴾ | (44) ايا تاسو (نورو) خلقو ته د نېکۍ حکم کوئ او خپل ځانونه هېروئ، سره له دې چې تاسو کتاب لولئ، ايا نو تاسو عقل نه لرئ؟ |
| وَٱسۡتَعِينُواْ بِٱلصَّبۡرِ وَٱلصَّلَوٰةِۚ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى ٱلۡخَٰشِعِينَ ﴿٤٥﴾ | (45) او په صبر او لمانځه سره مدد غواړئ او بېشکه چې يقينًا دا (کار) ډېر ګران دی مګر پر عاجزي کوونکو باندې (نه دی) |
| ٱلَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَٰقُواْ رَبِّهِمۡ وَأَنَّهُمۡ إِلَيۡهِ رَٰجِعُونَ ﴿٤٦﴾ | (46) هغه کسان چې يقين کوي چې بېشکه دوی له خپل رب سره ملاقات کوونکي دي او دا چې بېشکه دوی خاص د هغه په طرف واپس ورتلونکي دي |

يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتِيَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ وَأَنِّي فَضَّلۡتُكُمۡ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٤٧﴾

(47) ای بني اسرائیلو! زما هغه نعمتونه یاد کړئ چې ما پر تاسو باندې انعام کړي دي او دا چې یقینًا هم مَا تاسو پر عالَمونو باندې غوره کړي وئ

وَٱتَّقُواْ يَوۡمٗا لَّا تَجۡزِي نَفۡسٌ عَن نَّفۡسٖ شَيۡـٔٗا وَلَا يُقۡبَلُ مِنۡهَا شَفَٰعَةٞ وَلَا يُؤۡخَذُ مِنۡهَا عَدۡلٞ وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ﴿٤٨﴾

(48) او له هغې ورځې نه ووېرېږئ چې هېڅ یو نفس به د بل نفس هېڅ په کار نه راځي او نه به له هغه نه څه سفارش قبلیږي او نه به له هغه نه څه (مالي) بدله اخیستل کیږي او نه به له هغوی سره مدد کیږي

وَإِذۡ نَجَّيۡنَٰكُم مِّنۡ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ يَسُومُونَكُمۡ سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِ يُذَبِّحُونَ أَبۡنَآءَكُمۡ وَيَسۡتَحۡيُونَ نِسَآءَكُمۡۚ وَفِي ذَٰلِكُم بَلَآءٞ مِّن رَّبِّكُمۡ عَظِيمٞ ﴿٤٩﴾

(49) او کله چې مونږ له فرعونیانو نه تاسو خلاص کړئ چې تاسو ته به یې سخت عذاب درکاوه، ستاسو زامن به یې حلالول او ستاسو ښځې (لوڼه) به یې ژوندی پرېښودلې، او په دې کې ستاسو د رب له طرف نه ډېر لوی ازمېښت و

وَإِذۡ فَرَقۡنَا بِكُمُ ٱلۡبَحۡرَ فَأَنجَيۡنَٰكُمۡ وَأَغۡرَقۡنَآ ءَالَ فِرۡعَوۡنَ وَأَنتُمۡ تَنظُرُونَ ﴿٥٠﴾

(50) او کله چې مونږ ستاسو لپاره سمندر خیرې کړ او تاسو ته مو خلاصی درکړ او فرعونیان مو ډوب کړل او تاسو کتل

وَإِذۡ وَٰعَدۡنَا مُوسَىٰٓ أَرۡبَعِينَ لَيۡلَةٗ ثُمَّ ٱتَّخَذۡتُمُ ٱلۡعِجۡلَ مِنۢ بَعۡدِهِۦ

(51) او کله چې مونږ له موسٰی سره د څلوېښتو شپو وعده وکړه، بیا تاسو له هغه نه

وَأَنتُمۡ ظَٰلِمُونَ ٥١

پس سخی (معبود) جوړکړ او تاسو ظالمان وَئ

ثُمَّ عَفَوۡنَا عَنكُم مِّنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ٥٢

(52) بیا مونږ له دي نه پس تاسو معاف کړئ، د دي لپاره چي تاسو شکر وباسئ

وَإِذۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡفُرۡقَانَ لَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ ٥٣

(53) او کله چي مونږ موسیٰ ته کتاب او فرقان (د حق او باطل سره بېلوونکی) ورکړ، د دي لپاره چي تاسو نېغه لار ومومئ

وَإِذۡ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِۦ يَٰقَوۡمِ إِنَّكُمۡ ظَلَمۡتُمۡ أَنفُسَكُم بِٱتِّخَاذِكُمُ ٱلۡعِجۡلَ فَتُوبُوٓاْ إِلَىٰ بَارِئِكُمۡ فَٱقۡتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ عِندَ بَارِئِكُمۡ فَتَابَ عَلَيۡكُمۡۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ٥٤

(54) او (یاد کړه) هغه وخت چي موسیٰ خپل قوم ته وویل: ای زما قومه! یقینًا تاسو د سخي په (معبود) نیولوسره په خپلو ځانونو باندي ظلم کړی دی، لهٰذا خپل خالق ته توبه وباسئ، نو خپل ځانونه قتل کړئ، دا (وژل) تاسو لپاره ستاسو د خالق په نیز بهتر دي، بیا هغه ستاسو توبه قبوله کړه، یقینًا هم هغه ښه توبه قبلوونکی، بې حده رحم کوونکی دی

وَإِذۡ قُلۡتُمۡ يَٰمُوسَىٰ لَن نُّؤۡمِنَ لَكَ حَتَّىٰ نَرَى ٱللَّهَ جَهۡرَةٗ فَأَخَذَتۡكُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ وَأَنتُمۡ تَنظُرُونَ ٥٥

(55) او کله چي تاسو وویل: ای موسیٰ! مونږ به هېڅ کله هم پر تا ایمان را نه وړو تر هغه پوري چي مونږ الله ښه ښکاره ووينو، نو تاسو تندر ونیولئ او تاسوکتل

ثُمَّ بَعَثۡنَٰكُم مِّنۢ بَعۡدِ مَوۡتِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ٥٦

(56) بيا مونږ تاسو ستاسو له مرگ نه پس راژوندي کړئ، د دې لپاره چې تاسو شکر وباسئ

وَظَلَّلۡنَا عَلَيۡكُمُ ٱلۡغَمَامَ وَأَنزَلۡنَا عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَنَّ وَٱلسَّلۡوَىٰۖ كُلُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقۡنَٰكُمۡۚ وَمَا ظَلَمُونَا وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ٥٧

(57) او مونږ پر تاسو وريځ سيورى کړه او مَن او سلوٰى (ترنجبين او مړز ډوله مرغان) مو پر تاسو نازل کړل، هغه پاکيزه څيزونه خورئ، چې مونږ تاسو ته درکړي دي، او هغوى پر مونږ ظلم نه و کړى، او لېکن هم پر خپلو ځانونو يې ظلم کاوه

وَإِذۡ قُلۡنَا ٱدۡخُلُواْ هَٰذِهِ ٱلۡقَرۡيَةَ فَكُلُواْ مِنۡهَا حَيۡثُ شِئۡتُمۡ رَغَدٗا وَٱدۡخُلُواْ ٱلۡبَابَ سُجَّدٗا وَقُولُواْ حِطَّةٞ نَّغۡفِرۡ لَكُمۡ خَطَٰيَٰكُمۡۚ وَسَنَزِيدُ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٥٨

(58) او کله چې مونږ وويل: دې کلي ته ورننوځئ، نو چرته چې مو خوښه شي، ترې پريمانه يې خورئ او په دروازه کې داخل شئ، چې سجده کوونکي يئ او وايئ ”مونږ وبخښه“ مونږ به تاسو ته ستاسو گناهونه وبخښو، او ژر ده چې مونږ به نېکانو ته (ثواب) نور زيات ورکړو

فَبَدَّلَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ قَوۡلًا غَيۡرَ ٱلَّذِي قِيلَ لَهُمۡ فَأَنزَلۡنَا عَلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ رِجۡزٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ بِمَا كَانُواْ يَفۡسُقُونَ ٥٩

(59) نو هغو کسانو چې ظلم يې کړى و، هغه خبره چې ورته ويل شوې وه، په بل شان بدله کړه، نو په هغو ظالمانو باندې مونږه له اسمان نه عذاب نازل کړ، ځکه چې نافرماني يې کوله

۞وَإِذِ ٱسۡتَسۡقَىٰ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِۦ فَقُلۡنَا ٱضۡرِب بِّعَصَاكَ ٱلۡحَجَرَۖ فَٱنفَجَرَتۡ مِنۡهُ ٱثۡنَتَا عَشۡرَةَ عَيۡنٗاۖ قَدۡ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٖ مَّشۡرَبَهُمۡۖ كُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ مِن رِّزۡقِ ٱللَّهِ وَلَا تَعۡثَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُفۡسِدِينَ ٦٠

(60) او کله چې موسیٰ د خپل قوم لپاره اوبه وغوښتې، نو مونږ وویل: په خپلې امسا سره تیږه (ګټه) ووهه، نو له هغې نه دولس چینې جارې شوې، یقینًا ټولو خلقو خپل خپل ګودر (د څښاك ځای) وپېژندہ، د الله له رزق نه خورئ او څښئ، او په ځمکه کې له حده مه تېرېږئ، چې ورانی کوونکي اوسئ

وَإِذۡ قُلۡتُمۡ يَٰمُوسَىٰ لَن نَّصۡبِرَ عَلَىٰ طَعَامٖ وَٰحِدٖ فَٱدۡعُ لَنَا رَبَّكَ يُخۡرِجۡ لَنَا مِمَّا تُنۢبِتُ ٱلۡأَرۡضُ مِنۢ بَقۡلِهَا وَقِثَّآئِهَا وَفُومِهَا وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَاۖ قَالَ أَتَسۡتَبۡدِلُونَ ٱلَّذِي هُوَ أَدۡنَىٰ بِٱلَّذِي هُوَ خَيۡرٌۚ ٱهۡبِطُواْ مِصۡرٗا فَإِنَّ لَكُم مَّا سَأَلۡتُمۡۗ وَضُرِبَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلذِّلَّةُ وَٱلۡمَسۡكَنَةُ وَبَآءُو بِغَضَبٖ مِّنَ ٱللَّهِۗ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَانُواْ يَكۡفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَيَقۡتُلُونَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّۗ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَواْ وَّكَانُواْ يَعۡتَدُونَ ٦١

(61) او کله چې تاسو وویل: ای موسیٰ! مونږ به په یو خوراك باندې کله هم صبر ونه کړی شو، لهذا زمونږ لپاره له خپل رب نه دُعا وغواړه چې زمونږ لپاره هغه څیزونه راوباسي چې ځمکه یې زرغونوي (لکه) د هغې سبزي (ساګ) بادرنګ، هوږه، مسور او پیاز، هغه وویل: ایا تاسو په بدل کې هغه څیز اخیستل غواړئ چې هغه ادنیٰ دی د هغه څیز په ځای چې هغه بهتر دی، نو تاسو کوم ښار ته کوز شئ، پس بېشکه ستاسو لپاره هغه څه دي چې تاسو غوښتي دي، او پر هغوی ذلت او محتاجي مسلط کړی شوه، او راستانه (اخته) شول په غضب سره د الله له طرف نه، دا په دې سبب چې یقینًا دوی د الله له ایتونو نه انکار کاوه، او نبیان یې ناحقه وژل، دا په دې

چې دوی نافرماني كوله، او زياتی يې كاوه

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَٱلَّذِينَ هَادُواْ وَٱلنَّصَٰرَىٰ وَٱلصَّٰبِـِٔينَ مَنْ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْأَخِرِ وَعَمِلَ صَٰلِحًا فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦٢﴾

(62) يقينًا هغه كسان چې ايمان يې راوړی دی، او هغه كسان چې يهوديان شوي دي، او نصرانيان او صابيان (بې دينه) دي، هر هغه چا چې پر الله او پر ورځ د اخرت ايمان راوړ او نېك عمل يې وكړ، نو د خپل رب په نيز د دوی لپاره اجر دی او نه په دوی باندې څه وېره شته او نه به دوی غمژن كېږي

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَٰقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ ٱلطُّورَ خُذُواْ مَآ ءَاتَيْنَٰكُم بِقُوَّةٍ وَٱذْكُرُواْ مَا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿٦٣﴾

(63) او كله چې مونږ (له تاسو نه) ستاسو پخه وعده واخيسته او راپورته مو كړ ستاسو له پاسه (غر د) طُور (او درته مو وويل:) كلك ونيسئ هغه څه چې مونږ تاسو ته دركړي دي؛ او څه چې په ده كې دي، (هغه) ياد كړئ، د دې لپاره چې تاسو پرهېزګاره شئ

ثُمَّ تَوَلَّيْتُم مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ ۖ فَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُۥ لَكُنتُم مِّنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿٦٤﴾

(64) بيا له دې نه بعد تاسو (له وعدې نه) وګرځېدئ، نو كه پر تاسو باندې د الله فضل او د هغه رحمت نه وی، نو تاسو به خامخا تاوانيان شوي وی

وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ ٱلَّذِينَ ٱعْتَدَوْاْ مِنكُمْ فِى ٱلسَّبْتِ فَقُلْنَا لَهُمْ

(65) او يقينًا يقينًا هغه خلق تاسو ته معلوم دي، چې له تاسو څني يې د خالي د ورځې په هكله زياتی كړی و، نو مونږ هغوی ته وويل:

كُونُواْ قِرَدَةً خَٰسِـِٔينَ ٦٥

تاسو ذليله بيزوگان (شادوگان) شئ

فَجَعَلۡنَٰهَا نَكَٰلٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهَا وَمَا خَلۡفَهَا وَمَوۡعِظَةٗ لِّلۡمُتَّقِينَ ٦٦

(66) نو مونږه دا (واقعه) هغې ته د حاضرو (خلقو) او له هغې نه وروسته راتلونکو لپاره عبرت او د پرهيزگارو لپاره نصيحت وگرځوله

وَإِذۡ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِۦٓ إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُكُمۡ أَن تَذۡبَحُواْ بَقَرَةٗۖ قَالُوٓاْ أَتَتَّخِذُنَا هُزُوٗاۖ قَالَ أَعُوذُ بِٱللَّهِ أَنۡ أَكُونَ مِنَ ٱلۡجَٰهِلِينَ ٦٧

(67) او کله چې موسیٰ خپل قوم ته وويل: ببشکه الله تاسو ته حکم کوي چې يوه غوا حلاله کړئ، هغوی وويل: ايا ته مونږ مسخره گرځوې (په مونږ پورې ټوقې کوې)؟ هغه وويل: زه د الله پناه غواړم له دې نه چې زه شم له جاهلانو نه

قَالُواْ ٱدۡعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا هِيَۚ قَالَ إِنَّهُۥ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٞ لَّا فَارِضٞ وَلَا بِكۡرٌ عَوَانُۢ بَيۡنَ ذَٰلِكَۖ فَٱفۡعَلُواْ مَا تُؤۡمَرُونَ ٦٨

(68) هغوی وويل: زمونږ لپاره له خپل رب نه دُعا وغواړه چې مونږ لپاره واضحه کړي چې هغه (غوا) څنگه ده؟ هغه وويل: يقيناً هغه وايي چې ببشکه هغه يوه داسې غوا ده چې نه زَړه ده او نه نوې ځوانه، (بلکې) د دې دواړو په مينځ کې مِيانَه حاله ده، نو هغه کار وکړئ چې تاسو ته يې حکم کيږي

قَالُواْ ٱدۡعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا لَوۡنُهَاۚ قَالَ إِنَّهُۥ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٞ صَفۡرَآءُ فَاقِعٞ لَّوۡنُهَا تَسُرُّ

(69) هغوی وويل: زمونږ لپاره له خپل رب نه دُعا وغواړه چې مونږ ته بيان کړي چې د هغې رنگ څنگه دی؟ هغه وويل: يقيناً هغه وايي

ٱلنَّـٰظِرِينَ ٦٩

چې ببشکه هغه یوه زېړه غوا ده، رنګ یې تك زېړ دی، کتونکي خوشحالوي

قَالُواْ ٱدۡعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا هِيَ إِنَّ ٱلۡبَقَرَ تَشَٰبَهَ عَلَيۡنَا وَإِنَّآ إِن شَآءَ ٱللَّهُ لَمُهۡتَدُونَ ٧٠

(70) هغوی وویل: زمونږ لپاره له خپل رب نه دُعا وغواړه چې زمونږ لپاره بیان کړي چې هغه څه قسم ده؟ ببشکه چې غواګانې پر مونږه ګډې وډې (مشتبِه) شولې، او که الله وغواړي، ببشکه مونږ خامخا لارموندونکي یو

قَالَ إِنَّهُۥ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٞ لَّا ذَلُولٞ تُثِيرُ ٱلۡأَرۡضَ وَلَا تَسۡقِي ٱلۡحَرۡثَ مُسَلَّمَةٞ لَّا شِيَةَ فِيهَاۚ قَالُواْ ٱلۡـَٰٔنَ جِئۡتَ بِٱلۡحَقِّۚ فَذَبَحُوهَا وَمَا كَادُواْ يَفۡعَلُونَ ٧١

(71) (موسٰی) وویل: یقینًا هغه وایي چې ببشکه هغه یوه داسې غُوا ده چې نه کار کوونکې ده، چې ځمکه قُلبه کوي او نه فصل اوبه کوي، روغه رَمَته ده، هېڅ داغ تکی په کې نشته، هغوی وویل: اوس دې واضحه خبره راوړه، نو هغه یې حلاله کړه، او دوی نژدې نه وو چې دا کار یې کړی وی

وَإِذۡ قَتَلۡتُمۡ نَفۡسٗا فَٱدَّٰرَٰٔتُمۡ فِيهَاۖ وَٱللَّهُ مُخۡرِجٞ مَّا كُنتُمۡ تَكۡتُمُونَ ٧٢

(72) او کله چې تاسو یو کس ووژلو، نو د هغه په باره کې تاسو په خپل مینځ کې په جګړه شوئ، او الله د هغه څه ښکاره کوونکی و چې تاسو پټول

فَقُلۡنَا ٱضۡرِبُوهُ بِبَعۡضِهَاۚ كَذَٰلِكَ يُحۡيِ ٱللَّهُ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَيُرِيكُمۡ

(73) نو مونږ وویل: دا د ده په څه حصې سره ووهئ، الله همداسې مړي ژوندي کوي او تاسو ته خپلې نښې درښَيِي، د دې لپاره چې

ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ٧٣

تاسو له عقل نه کار واخلئ

ثُمَّ قَسَتۡ قُلُوبُكُم مِّنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ فَهِيَ كَٱلۡحِجَارَةِ أَوۡ أَشَدُّ قَسۡوَةٗۚ وَإِنَّ مِنَ ٱلۡحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنۡهُ ٱلۡأَنۡهَٰرُۚ وَإِنَّ مِنۡهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخۡرُجُ مِنۡهُ ٱلۡمَآءُۚ وَإِنَّ مِنۡهَا لَمَا يَهۡبِطُ مِنۡ خَشۡيَةِ ٱللَّهِۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ٧٤

(74) بیا له دې نه بعد ستاسو زړونه سخت شول، نو هغه د تیږو په شان دي، یا په سخت والي کې نور هم زیات دي او بېشکه یقیناً ځینې تیږې هغه دي چې له هغو نه وَلې بهیږي او بې شکه یقیناً ځینې هغه دي چې چوي، نو له هغو نه اوبه راوځي، او خامخا یقیناً ځینې هغه دي چې د الله له وېرې نه رارغړي، او الله ستاسو له عملونو نه کله هم غافل نه دی

۞أَفَتَطۡمَعُونَ أَن يُؤۡمِنُواْ لَكُمۡ وَقَدۡ كَانَ فَرِيقٞ مِّنۡهُمۡ يَسۡمَعُونَ كَلَٰمَ ٱللَّهِ ثُمَّ يُحَرِّفُونَهُۥ مِنۢ بَعۡدِ مَا عَقَلُوهُ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ٧٥

(75) ایا نو تاسو تمه کوئ چې دوی به ستاسو (د وینا) له وجې ایمان راوړي، او یقیناً په دوی کې یوه ډله وه چې د الله کلام به یې اورېده، بیا به یې په هغه کې له پوهېدو نه وروسته تحریف کاوه، حال دا چې دوی به پوهېدل

وَإِذَا لَقُواْ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا وَإِذَا خَلَا بَعۡضُهُمۡ إِلَىٰ بَعۡضٖ قَالُوٓاْ أَتُحَدِّثُونَهُم بِمَا فَتَحَ ٱللَّهُ عَلَيۡكُمۡ لِيُحَآجُّوكُم بِهِۦ عِندَ رَبِّكُمۡۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ٧٦

(76) او کله چې دوی له مومنانو سره ملاقات وکړي، نو وايي: مونږ ايمان راوړی دی او کله چې د دوی ځینې له ځینو نورو سره یواځې شي (بیا) وايي: ایا تاسو دوی (مومنانو ) ته هغه خبرې بیانوئ چې الله تاسو ته ښودلي دي؟ د دې لپاره چې پر تاسو باندې په دغو

(خبرو) سره د خپل رب په وړاندې غالبه شي، ایا نو تاسو عقل نه لرئ!

أَوَلَا يَعۡلَمُونَ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعۡلِنُونَ ٧٧

(77) ایا دغه (خلق) پر دې نه پوهېږي چې یقینًا الله پر هغو خبرو پوهېږي چې دوی یې پټوي او پر هغو چې دوی یې ظاهروي

وَمِنۡهُمۡ أُمِّيُّونَ لَا يَعۡلَمُونَ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّآ أَمَانِيَّ وَإِنۡ هُمۡ إِلَّا يَظُنُّونَ ٧٨

(78) او په دوی کې ځینې اَمیان دي، په کتاب نه پوهېږي، مگر په تشو بې دلیله ارزوگانو، او دوی یواځې تش گمانونه کوي

فَوَيۡلٞ لِّلَّذِينَ يَكۡتُبُونَ ٱلۡكِتَٰبَ بِأَيۡدِيهِمۡ ثُمَّ يَقُولُونَ هَٰذَا مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ لِيَشۡتَرُواْ بِهِۦ ثَمَنٗا قَلِيلٗاۖ فَوَيۡلٞ لَّهُم مِّمَّا كَتَبَتۡ أَيۡدِيهِمۡ وَوَيۡلٞ لَّهُم مِّمَّا يَكۡسِبُونَ ٧٩

(79) نو د هغو کسانو لپاره هلاکت دی چې په خپلو لاسونو (له ځانه) کتاب لیکي، بیا وایي: دا د الله له جانبه دی، د دې لپاره چې د هغه په بدل کې لږ قیمت واخلي، نو د دوی لپاره هلاکت دی په سبب د هغه څه چې د دوی لاسونو لیکلي دي، او د دوی لپاره هلاکت دی په سبب د هغه چې دوی څه عمل کوي

وَقَالُواْ لَن تَمَسَّنَا ٱلنَّارُ إِلَّآ أَيَّامٗا مَّعۡدُودَةٗۚ قُلۡ أَتَّخَذۡتُمۡ عِندَ ٱللَّهِ عَهۡدٗا فَلَن يُخۡلِفَ ٱللَّهُ عَهۡدَهُۥٓۖ أَمۡ تَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا

(80) او دوی وایي: له څو په شمار ورځو نه سوا به مونږ ته کله هم اور را ونه رسیږي، ته (ورته) ووایه: ایا تاسو له الله نه څه وعده اخیستې ده؟ (که داسې وي)، نو الله به کله

تَعۡلَمُونَ ٨٠

هم د خپلې وعدې خلاف ونه کړي، بلکې تاسو په الله باندې هغه دروغ تپئ(اړوئ) چې تاسو پرې نه پوهېږئ

بَلَىٰۚ مَن كَسَبَ سَيِّئَةٗ وَأَحَٰطَتۡ بِهِۦ خَطِيٓـَٔتُهُۥ فَأُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٨١

(81) ولې نه! چا چې بدي وکړه او پر ده خپله ګناه راچاپېره شوه، نو همدغه کسان د اور والا دي، دوی به په هغه (اور) کې تل ترتله وي

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٨٢

(82) او هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او نېك عملونه یې کړي دي، همدغه کسان د جنت والا دي، دوی به په هغه (جنت) کې تل ترتله وي

وَإِذۡ أَخَذۡنَا مِيثَٰقَ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ لَا تَعۡبُدُونَ إِلَّا ٱللَّهَ وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ إِحۡسَانٗا وَذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَقُولُواْ لِلنَّاسِ حُسۡنٗا وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ ثُمَّ تَوَلَّيۡتُمۡ إِلَّا قَلِيلٗا مِّنكُمۡ وَأَنتُم مُّعۡرِضُونَ ٨٣

(83) او کله چې مونږ د بني اسرائیلو (نه) پخه وعده واخیسته چې عبادت به یواځې او یواځې د الله کوئ، او له مور و پلار سره به ښېګړه کوئ او له خپلوانو او یتیمانو او مسکینانو سره (به هم ښېګړه کوئ) او خلقو ته ښایسته خبرې کوئ، او لمونځ قایموئ او زکات ورکوئ، بیا تاسو (له خپلې وعدې نه) وګرځېدئ مګر ډېر لږ کسان (ونه ګرځېدل) او تاسو مخ ګرځونکي یئ

وَإِذۡ أَخَذۡنَا مِيثَٰقَكُمۡ لَا

(84) او کله چې مونږ ستاسو (نه) پخه وعده

| | |
|---|---|
| تَسۡــــفِكُونَ دِمَــــآءَكُمۡ وَلَا تُخۡرِجُونَ أَنفُسَكُم مِّن دِيَٰـرِكُمۡ ثُمَّ أَقۡرَرۡتُمۡ وَأَنتُمۡ تَشۡهَدُونَ ٨٤ | واخیسته چې خپلې وینې به نه تُویَوئ او له خپلو کورونو نه به خپل ځانونه (یو بل) نه وباسئ، بیا تاسو اقرار وکړ، په دې حال کې چې تاسو گواه یئ |
| ثُـمَّ أَنـتُمۡ هَـٰٓـؤُلَآءِ تَقۡتُلُـونَ أَنفُسَـكُمۡ وَتُخۡرِجُـونَ فَرِيقًـا مِّنكُم مِّـن دِيَٰـرِهِمۡ تَظَٰهَـرُونَ عَلَـيۡهِم بِـٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُـدۡوَٰنِ وَإِن يَـأۡتُوكُمۡ أُسَـٰرَىٰ تُفَـٰدُوهُمۡ وَهُـوَ مُحَـرَّمٌ عَلَـيۡكُمۡ إِخۡـرَاجُهُمۡۚ أَفَتُؤۡمِنُـونَ بِـبَعۡضِ ٱلۡكِتَٰـبِ وَتَكۡفُرُونَ بِـبَعۡضٖۚ فَمَـا جَزَآءُ مَـن يَفۡعَـلُ ذَٰلِـكَ مِـنكُمۡ إِلَّا خِـزۡيٞ فِي ٱلۡحَيَـوٰةِ ٱلدُّنۡيَـاۖ وَيَـوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يُرَدُّونَ إِلَىٰٓ أَشَدِّ ٱلۡعَذَابِۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ٨٥ | (85) بیا هم تاسو هغه کسان یئ چې خپل ځانونه وژنئ، او خپله یوه ډله د هغوی له کورونو نه وباسئ، په گناه او ظلم سره د هغوی په خلاف د یو بل مدد کوئ، او که چېرې هغوی تاسو ته بندیان راشي، نو د هغوی (دخلاصون لپاره) فدیه ورکوئ، حال دا چې شان دا دی چې پر تاسو باندې د هغوی وېستل حرام دي، ایا نو د کتاب پر ځینې (حکمونو) ایمان راوړئ او پر ځینو یې کافر کېږئ؟ نو د دغه کس څه سزا ده چې په تاسو کې دا کار کوي مگر په دنیایي ژوند کې ښه رسوایي او د قیامت په ورځ به تر ټولو سخت عذاب ته ورگرځولی شي، او الله له هغه څه نه چې تاسو یې کوئ کله هم غافل نه دی |
| أُوْلَـٰٓئِكَ ٱلَّذِيـنَ ٱشۡـتَرَوُاْ ٱلۡحَيَـوٰةَ ٱلدُّنۡيَا بِٱلۡأٓخِرَةِۖ فَلَا يُخَفَّفُ عَنۡهُمُ ٱلۡعَذَابُ وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ٨٦ | (86) دا هغه کسان دي چې دنیایي ژوند یې د اخرت په بدل کې اخیستی دی، نو نه به له دوی نه عذاب سپك (کم) کړی شي او نه به |

له دوی سره مرسته کېږي

وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ
وَقَفَّيۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِۦ بِٱلرُّسُلِۖ
وَءَاتَيۡنَا عِيسَى ٱبۡنَ مَرۡيَمَ
ٱلۡبَيِّنَٰتِ وَأَيَّدۡنَٰهُ بِرُوحِ ٱلۡقُدُسِۗ
أَفَكُلَّمَا جَآءَكُمۡ رَسُولُۢ بِمَا لَا
تَهۡوَىٰٓ أَنفُسُكُمُ ٱسۡتَكۡبَرۡتُمۡ
فَفَرِيقٗا كَذَّبۡتُمۡ وَفَرِيقٗا
تَقۡتُلُونَ ﴿٨٧﴾

(87) يقينًا يقينًا مونږ موسىٰ ته کتاب ورکړی و، او له هغه نه بعد مو پرله پسې رسولان لېږلي وو، او مونږه د مريمې زوی عيسىٰ ته خرگندې نښې ورکړې وې او مونږه هغه په پاك روح سره قوي کړی و، ايا نو کله چې به هم کوم رسول تاسو ته هغه (احکام) راوړل چې ستاسو نفسونو به نه خوښوَل، تاسو به ډېره لويي وکړه؛ نو (د پيغمبرانو) يوه ډله مو دروغژن وگڼله او بله ډله به تاسو وژله

وَقَالُواْ قُلُوبُنَا غُلۡفُۢۚ بَل لَّعَنَهُمُ
ٱللَّهُ بِكُفۡرِهِمۡ فَقَلِيلٗا مَّا
يُؤۡمِنُونَ ﴿٨٨﴾

(88) دوی ويل: زمونږ زړونه پرده بَند دي، (داسې نه ده) بلکې د دوی د کفر په سبب الله پر دوی لعنت کړی دی، نو هغه (خلق) چې ايمان راوړي ډېر لږ دي

وَلَمَّا جَآءَهُمۡ كِتَٰبٞ مِّنۡ عِندِ
ٱللَّهِ مُصَدِّقٞ لِّمَا مَعَهُمۡ وَكَانُواْ مِن
قَبۡلُ يَسۡتَفۡتِحُونَ عَلَى ٱلَّذِينَ
كَفَرُواْ فَلَمَّا جَآءَهُم مَّا عَرَفُواْ
كَفَرُواْ بِهِۦۚ فَلَعۡنَةُ ٱللَّهِ عَلَى
ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٨٩﴾

(89) او کله چې دوی ته د الله له جانبه کتاب (قرآن) راغی چې د هغه څه تصديق کوونکی دی چې له دوی سره دي، او له دې نه مخکې به دوی پر هغو خلقو باندې چې کافر شوي دي، فتح غوښتله، نو کله چې دوی ته هغه (رسول، کتاب) راغی چې دوی پېژنده، نو په هغه باندې کافر شول، نو په کافرانو باندې د

الله لعنت دی

بِئْسَمَا ٱشْتَرَوْا۟ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمْ أَن يَكْفُرُوا۟ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بَغْيًا أَن يُنَزِّلَ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۖ فَبَآءُو بِغَضَبٍ عَلَىٰ غَضَبٍ ۚ وَلِلْكَـٰفِرِينَ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿٩٠﴾

(90) بد دی هغه شی چې دوی د هغه په بدل کې خپل ځانونه خرخ کړل، چې په هغه څه باندې کافر شول چې الله نازل کړی دی، د دې کینې (او حسد) له وجې چې (ولې) الله خپل فضل په خپلو بنده ګانو کې پر هغه چا نازلوي چې يې غواړي، نو راوګرځېدل (اخته شول) په يو غضب له پاسه د بل غضب، او د کافرانو لپاره سپکوونکی عذاب دی

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ ءَامِنُوا۟ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ قَالُوا۟ نُؤْمِنُ بِمَآ أُنزِلَ عَلَيْنَا وَيَكْفُرُونَ بِمَا وَرَآءَهُۥ وَهُوَ ٱلْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَهُمْ ۗ قُلْ فَلِمَ تَقْتُلُونَ أَنۢبِيَآءَ ٱللَّهِ مِن قَبْلُ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٩١﴾

(91) او كله چې دوی ته وویل شي: ایمان راوړئ پر هغه (کتاب) چې الله نازل کړی دی، نو دوی وايي: مونږ پر هغه (کتاب) ایمان راوړو چې پر مونږ باندې نازل کړی شوی دی، او چې له هغه (کتاب) نه علاوه دي؛ په هغو (کتابونو) باندې کافر کېږي، حال دا چې هم دغه (قرآن) حق دی، د هغه (کتاب) تصدیق کوونکی دی چې له دوی سره دی، ته (ورته) ووايه چې تاسو پخوا (له دې نه) د الله نبیان ولې وژل؟ كه تاسو مومنان وئ

۞ وَلَقَدْ جَآءَكُم مُّوسَىٰ بِٱلْبَيِّنَـٰتِ ثُمَّ ٱتَّخَذْتُمُ ٱلْعِجْلَ مِنۢ

(92) او یقینًا یقینًا تاسو ته موسیٰ ښکاره دلیلونه راوړي وو، بیا له هغه نه بعد تاسو

بَعۡدِهِۦ وَأَنتُمۡ ظَٰلِمُونَ ٩٢

سخی (معبود) وګرځاوه او تاسو ظالمان یئ

وَإِذۡ أَخَذۡنَا مِيثَٰقَكُمۡ وَرَفَعۡنَا فَوۡقَكُمُ ٱلطُّورَ خُذُواْ مَآ ءَاتَيۡنَٰكُم بِقُوَّةٖ وَٱسۡمَعُواْۖ قَالُواْ سَمِعۡنَا وَعَصَيۡنَا وَأُشۡرِبُواْ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلۡعِجۡلَ بِكُفۡرِهِمۡۚ قُلۡ بِئۡسَمَا يَأۡمُرُكُم بِهِۦٓ إِيمَٰنُكُمۡ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ٩٣

(93) او کله چې مونږه ستاسو (نه) پخه وعده واخیسته او مونږه طُور (غر) ستاسو له پاسه راپورته کړ (مونږ وویل:) څه چې مونږ تاسو ته درکړي دي هغه په قوت سره ونیسئ او واورئ، دوی وویل: مونږ اَوریدلي دي او مونږ نافرماني کړې ده او د دوی د کفر په سبب د دوی په زړونو کې د سخي (مینه) ورڅښول شوې وه، ته (ورته) ووایه: هغه شی بد دی چې ستاسو ایمان تاسو ته د هغه حکم درکوي، که تاسو مومنان یئ

قُلۡ إِن كَانَتۡ لَكُمُ ٱلدَّارُ ٱلۡأٓخِرَةُ عِندَ ٱللَّهِ خَالِصَةٗ مِّن دُونِ ٱلنَّاسِ فَتَمَنَّوُاْ ٱلۡمَوۡتَ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٩٤

(94) ته (ورته) ووایه: که د الله په نیز د اخرت کور له نورو خلقو نه په غیر، یواځې هم ستاسو لپاره وي، نو(بیا خو) د مرګ ارزو وکړئ که تاسو رښتوني یئ

وَلَن يَتَمَنَّوۡهُ أَبَدَۢا بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيهِمۡۚ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ٩٥

(95) او دوی به کله هم د هغه ارزو و نه کړي هیڅکله، په سبب د هغو (عملونو) چې د دوی لاسونو وړاندې لیږلي دي او الله په ظالمانو باندې ښه پوه دی

وَلَتَجِدَنَّهُمۡ أَحۡرَصَ ٱلنَّاسِ عَلَىٰ

(96) او خامخا ته به له ټولو خلقو نه زیات په

حَيَوٰةٖ وَمِنَ ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُواْۚ يَوَدُّ
أَحَدُهُمۡ لَوۡ يُعَمَّرُ أَلۡفَ سَنَةٖ وَمَا
هُوَ بِمُزَحۡزِحِهِۦ مِنَ ٱلۡعَذَابِ أَن
يُعَمَّرَۗ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِمَا
يَعۡمَلُونَ ٩٦

ژوند پسې حرصناك هم دوی مومې، او تر دې چې له مشركانو نه هم(زيات حرصناك)، د دوی (د يهوديانو) هر يو كس دا ارزو كوي چې ارمان! كه زر كاله عمر وركړی شي، او نه دی هغه خَلاصَوُنكی ده لره له عذاب نه، دا چې(دومره) عمر وركړی شي، او الله هغه څه لره ښه ليدونكی دی چې دوی يې كوي

قُلۡ مَن كَانَ عَدُوّٗا لِّجِبۡرِيلَ
فَإِنَّهُۥ نَزَّلَهُۥ عَلَىٰ قَلۡبِكَ بِإِذۡنِ ٱللَّهِ
مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَهُدٗى
وَبُشۡرَىٰ لِلۡمُؤۡمِنِينَ ٩٧

**(97)** ووايه: هر څوك چې د جبريل دښمن دی، نو يقيناً هغه دا (قرآن) د الله په حكم سره ستا پر زړه نازل كړی دی، چې د هغو (كتابونو) تصدق كوونكی دی، چې له ده نه مخكې دي، او د مومنانو لپاره هدايت او زېرى دی

مَن كَانَ عَدُوّٗا لِّلَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ
وَرُسُلِهِۦ وَجِبۡرِيلَ وَمِيكَىٰلَ فَإِنَّ
ٱللَّهَ عَدُوّٞ لِّلۡكَٰفِرِينَ ٩٨

**(98)** هر څوك چې د الله دښمن دی او د هغه د ملايكو او د هغه د رسولانو او د جبرېل او د ميكائيل، نو يقيناً الله د كافرانو دښمن دی

وَلَقَدۡ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ءَايَٰتِۭ بَيِّنَٰتٖۖ
وَمَا يَكۡفُرُ بِهَآ إِلَّا ٱلۡفَٰسِقُونَ ٩٩

**(99)** او يقيناً په تحقيق سره مونږ ستا په طرف روښانه ايتونه نازل كړي دي او په هغو باندې يواځې او يواځې فاسقان (بدكاران) كافر كېږي

أَوَكُلَّمَا عَٰهَدُواْ عَهۡدٗا نَّبَذَهُۥ فَرِيقٞ مِّنۡهُمۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ١٠٠

(100) ايا هر كله چې دوی به وعده وكړه، كومه وعده، نو په دوی كې يوې ډلې به هغه وغورځوله، بلكې د دوی اكثره خلق ايمان نه راوړي

وَلَمَّا جَآءَهُمۡ رَسُولٞ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٞ لِّمَا مَعَهُمۡ نَبَذَ فَرِيقٞ مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ كِتَٰبَ ٱللَّهِ وَرَآءَ ظُهُورِهِمۡ كَأَنَّهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ١٠١

(101) او كله چې دوی ته د الله له جانب نه رسول راغی، چې تصدق كوونكی دی د هغه څه چې له دوی سره دي، نو له هغو كسانو نه چې كتاب (تورات) ورته وركړې شوی و (اهل كتاب وو) يوې ډلې د الله كتاب د خپلو شاګانو وروسته (داسې) وغورځاوه، ګوياكې دوی نه پوهېږي

وَٱتَّبَعُواْ مَا تَتۡلُواْ ٱلشَّيَٰطِينُ عَلَىٰ مُلۡكِ سُلَيۡمَٰنَۖ وَمَا كَفَرَ سُلَيۡمَٰنُ وَلَٰكِنَّ ٱلشَّيَٰطِينَ كَفَرُواْ يُعَلِّمُونَ ٱلنَّاسَ ٱلسِّحۡرَ وَمَآ أُنزِلَ عَلَى ٱلۡمَلَكَيۡنِ بِبَابِلَ هَٰرُوتَ وَمَٰرُوتَۚ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنۡ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَآ إِنَّمَا نَحۡنُ فِتۡنَةٞ فَلَا تَكۡفُرۡۖ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنۡهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِۦ بَيۡنَ ٱلۡمَرۡءِ وَزَوۡجِهِۦۚ

(102) او دوی د هغه څه تابع شول چې د سليمان په بادشاهت كې شيطانانو لوستل، او سليمان كفر نه و كړی او لېكن شيطانان كافر شوي وو، خلقو ته به يې جادو (سحر) ښوده او (دوی تابع شول) د هغه څه چې په بابل ښار كې په دوه ملايكو هاروت او ماروت نازل كړی شوی و او دغو دواړو به هيچا ته ښودنه نه كوله، مګر چې ويل به يې: اصل خبره دا ده چې مونږ يَوَ ازمېښت يو، نو ته مه كافر كېږه، نو هغوی به له دغو دواړو نه هغه څه زده كول

وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِۦ مِنۡ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمۡ وَلَا يَنفَعُهُمۡۚ وَلَقَدۡ عَلِمُواْ لَمَنِ ٱشۡتَرَىٰهُ مَا لَهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنۡ خَلَٰقٖۚ وَلَبِئۡسَ مَا شَرَوۡاْ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمۡۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ١٠٢

چې په هغه سره به يې د سړي او د هغه د ښځې په مينځ کې جدايي راوستله، او په دې (جادو) سره دوی هيچا ته هم ضرر نه شو رسولی مگر د الله په حکم سره، او دوی به هغه څه زده کول چې دوی ته به يې ضرر رساوه او فايده به يې ورته نه رسوله او يقينًا يقينًا دوی په دې پوه وو چې چا دا (سحر) واخيسته، نو د هغه لپاره په اخرت (جنت) کې هېڅ برخه نشته، او يقينًا بد دی هغه څيز چې د هغه په بدل کې دوی خپل ځانونه خرڅ کړل، که چېرې دوی پوهېدلی

وَلَوۡ أَنَّهُمۡ ءَامَنُواْ وَٱتَّقَوۡاْ لَمَثُوبَةٞ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِ خَيۡرٞۖ لَّوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ١٠٣

**(103)** او که يقينًا دوی ايمان راوړی وی او پرهېزگاره شوي وی، نو خامخا د الله له جانبه بدله ډېره ښه ده، که دوی پوهېدلی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَقُولُواْ رَٰعِنَا وَقُولُواْ ٱنظُرۡنَا وَٱسۡمَعُواْۗ وَلِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٞ ١٠٤

**(104)** ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو'رَاعِنَا' (لفظ) مه وايئ او 'اُنْظُرْنَا' (مونږ ته وگوره) وايئ او (خبره) اورئ او د کافرانو لپاره ډېر دردوونکی عذاب دی

مَّا يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ وَلَا ٱلۡمُشۡرِكِينَ أَن يُنَزَّلَ

**(105)** دا خبره نه هغه کسان خوښوي چې په اهل کتابو کې کافر شوي دي او نه يې مشرکان، چې ستاسو د رب له جانبه پر تاسو

| | |
|---|---|
| عَلَيۡكُم مِّنۡ خَيۡرٖ مِّن رَّبِّكُمۡۚ وَٱللَّهُ يَخۡتَصُّ بِرَحۡمَتِهِۦ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ﴿١٠٥﴾ | څه خير نازل کړی شي، او الله په خپل رحمت سره خاص کوي هغه څوك چې يې وغواړي، او الله د عظيم فضل خاوند دى |
| ۞مَا نَنسَخۡ مِنۡ ءَايَةٍ أَوۡ نُنسِهَا نَأۡتِ بِخَيۡرٖ مِّنۡهَآ أَوۡ مِثۡلِهَآۗ أَلَمۡ تَعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ﴿١٠٦﴾ | (106) مونږ چې كوم ايت منسوخ كوو، يا يې (د مومنانو له زړونو نه) هيرَوُو، نو له هغه نه غوره، يا د هغه په شان راوړو، ايا ته پوه نه يې چې يقينًا الله پر هر شي باندې ښه قادر دى |
| أَلَمۡ تَعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٍ ﴿١٠٧﴾ | (107) ايا ته پوه نه يې چې يقينًا الله چې دى، د اسمانونو او ځمكې بادشاهي خاص د هغه لپاره ده، او تاسو لپاره له الله نه غير (بل) هېڅ كارساز نشته او نه مددگار |
| أَمۡ تُرِيدُونَ أَن تَسۡـَٔلُواْ رَسُولَكُمۡ كَمَا سُئِلَ مُوسَىٰ مِن قَبۡلُۗ وَمَن يَتَبَدَّلِ ٱلۡكُفۡرَ بِٱلۡإِيمَٰنِ فَقَدۡ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ﴿١٠٨﴾ | (108) ايا تاسو اراده لرئ چې له خپل رسول نه (داسې) سوال وكړئ لكه څنگه چې له دې نه مخكې له موسٰى نه سوال شوى و؟ او هغه څوك چې د ايمان په بدل كې كفر واخلي، نو يقينًا هغه له سمې لارې نه بې لارې شو |
| وَدَّ كَثِيرٞ مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ لَوۡ يَرُدُّونَكُم مِّنۢ بَعۡدِ إِيمَٰنِكُمۡ كُفَّارًا حَسَدٗا مِّنۡ عِندِ أَنفُسِهِم | (109) په اهل كتابو كې ډېر خلق د خپلو نفسونو د حسد په وجه، د حق له واضحه كېدو نه بعد (هم)، دا ارزو لري چې له ايمان |

مِّنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ ٱلۡحَقُّۖ فَٱعۡفُواْ وَٱصۡفَحُواْ حَتَّىٰ يَأۡتِيَ ٱللَّهُ بِأَمۡرِهِۦٓۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ﴿١٠٩﴾

راوړو نه پس تاسو بیا کافران کړي، نو (لا دوی ته) معافي کوئ او مخ ترې واړوئ، تر هغې چې الله خپل حکم راوړي، ببشکه الله پر هر شي باندې ښه قادر دی

وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَۚ وَمَا تُقَدِّمُواْ لِأَنفُسِكُم مِّنۡ خَيۡرٖ تَجِدُوهُ عِندَ ٱللَّهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ﴿١١٠﴾

**(110)** او تاسو لمونځ قایموئ او زکات ورکوئ، او هر هغه خیر (نېکي) چې تاسو یې د خپلو ځانونو لپاره مخکې لېږئ، هغه به له الله سره مومئ، ببشکه الله هغه عمل لره ښه لیدونکی دی چې تاسو یې کوئ

وَقَالُواْ لَن يَدۡخُلَ ٱلۡجَنَّةَ إِلَّا مَن كَانَ هُودًا أَوۡ نَصَٰرَىٰۗ تِلۡكَ أَمَانِيُّهُمۡۗ قُلۡ هَاتُواْ بُرۡهَٰنَكُمۡ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿١١١﴾

**(111)** او دوی (اهل کتاب) وایي: جنت ته به هیڅکله هم (څوک) داخل نشي، مگر هغه څوک چې یهودي وي، یا نصراني، دا د دوی (باطلې) ارزوګانې دي، ته (ورته) ووایه: (په دې دعوا) خپل دلیل راوړئ، که تاسو رښتوني یئ

بَلَىٰۚ مَنۡ أَسۡلَمَ وَجۡهَهُۥ لِلَّهِ وَهُوَ مُحۡسِنٞ فَلَهُۥٓ أَجۡرُهُۥ عِندَ رَبِّهِۦ وَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ﴿١١٢﴾

**(112)** ولې نه! چا چې خپل مخ د الله تابع کړو او نېکي کوونکی و، نو د هغه لپاره د خپل رب په نیز اجر دی، او په دوی باندې نه هېڅ وېره شته او نه به دوی غمژن کېږي

وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ لَيۡسَتِ ٱلنَّصَٰرَىٰ

**(113)** او یهودیانو ویل: نصرانیان (د دین) په

عَلَىٰ شَيۡءٖ وَقَالَتِ ٱلنَّصَٰرَىٰ
لَيۡسَتِ ٱلۡيَهُودُ عَلَىٰ شَيۡءٖ وَهُمۡ
يَتۡلُونَ ٱلۡكِتَٰبَۗ كَذَٰلِكَ قَالَ
ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ مِثۡلَ قَوۡلِهِمۡۚ
فَٱللَّهُ يَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ
فِيمَا كَانُواْ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ١١٣

هېڅ شيز باندې (قايم) نه دي او نصرانيانو ويل: يهوديان (د دين) په هېڅ شيز باندې (ولاړ) نه دي، حال دا چې دوی کتاب لولي، همدارنګه، د دوی د خبرې په شان خبره هغو کسانو هم کړې وه چې بې علمه وو، نو الله به د قيامت په ورځ د دوی په مينځ کې د هغو خبرو په هکله فيصله کوي چې دوی به په کې اختلاف کاوه

وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّن مَّنَعَ مَسَٰجِدَ
ٱللَّهِ أَن يُذۡكَرَ فِيهَا ٱسۡمُهُۥ وَسَعَىٰ
فِي خَرَابِهَآۚ أُوْلَٰٓئِكَ مَا كَانَ لَهُمۡ
أَن يَدۡخُلُوهَآ إِلَّا خَآئِفِينَۚ لَهُمۡ فِي
ٱلدُّنۡيَا خِزۡيٞ وَلَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ
عَذَابٌ عَظِيمٞ ١١٤

(114) او له هغه کس نه بل زيات ظالم څوک دی چې د الله جوماتونه بندوي (له دې خبرې نه) چې په دغو (جوماتونو) کې د هغه (الله) نوم ياد کړی شي او د دغو (جوماتونو) په ورانولو کې کوشش کوي، دغه کسان چې دي، دوی ته دا حق نشته چې دې (جوماتونو) ته ننوځي مګر دا چې وېرېدونکي وي، د دوی لپاره په دنيا کې رسوايي ده او د دوی لپاره په اخرت کې ډېر لوی عذاب دی

وَلِلَّهِ ٱلۡمَشۡرِقُ وَٱلۡمَغۡرِبُۚ فَأَيۡنَمَا
تُوَلُّواْ فَثَمَّ وَجۡهُ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ وَٰسِعٌ
عَلِيمٞ ١١٥

(115) او خاص د الله لپاره مشرق او مغرب دی، نو کوم طرف ته چې تاسو مخ کوئ، نو هلته د الله مخ دی، بېشکه الله ډېر فراخۍ والا، ښه پوه دی

وَقَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدٗاۗ سُبۡحَٰنَهُۥۖ بَل لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ كُلّٞ لَّهُۥ قَٰنِتُونَ ١١٦

(116) او هغوی وویل: الله (د ځان لپاره) اولاد نیولی دی، (داسې نه ده) هغه (له دې خبرو نه) پاك دی، بلکې څه چې په اسمانونو او ځمکه کې دي، هغه (ټول) خاص د هغه لپاره دي، ټول د هغه حکم منونکي دي

بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَإِذَا قَضَىٰٓ أَمۡرٗا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ١١٧

(117) بې له نمونې پیدا کوونکی د اسمانونو او ځمکې دی، او کله چې د کوم کار فیصله وکړي، نو همدا خبره ده چې هغه ته ووايي: ”وشه“ نو هغه وشي

وَقَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ لَوۡلَا يُكَلِّمُنَا ٱللَّهُ أَوۡ تَأۡتِينَآ ءَايَةٞۗ كَذَٰلِكَ قَالَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِم مِّثۡلَ قَوۡلِهِمۡۘ تَشَٰبَهَتۡ قُلُوبُهُمۡۗ قَدۡ بَيَّنَّا ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يُوقِنُونَ ١١٨

(118) او وویل هغو کسانو چې (په هېڅ) نه پوهېږي: زمونږ سره الله ولې خبرې نه کوي، یا مونږ ته ولې کومه نښه نه راځي؟ همدارنګه د دوی د خبرې په شان خبره هغو کسانو (هم) کړې وه؛ چې له دوی نه مخکې وو، د دوی زړونه له یو بل سره مشابه (یو شان) شوي دي، یقينًا مونږ د هغو خلقو لپاره ایتونه بیان کړي دي چې یقین کوي

إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ بَشِيرٗا وَنَذِيرٗاۖ وَلَا تُسۡـَٔلُ عَنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلۡجَحِيمِ ١١٩

(119) یقينًا (ای نبي!) ته مونږه په حقه سره زېری ورکوونکی او وېروونکی لېږلی یې، او د دوزخیانو په باره کې به له تا نه تپوس نه کېږي

| | |
|---|---|
| وَلَن تَرۡضَىٰ عَنكَ ٱلۡيَهُودُ وَلَا ٱلنَّصَٰرَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمۡۗ قُلۡ إِنَّ هُدَى ٱللَّهِ هُوَ ٱلۡهُدَىٰۗ وَلَئِنِ ٱتَّبَعۡتَ أَهۡوَآءَهُم بَعۡدَ ٱلَّذِي جَآءَكَ مِنَ ٱلۡعِلۡمِ مَا لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٍ ١٢٠ | (120) او له تا نه خو به هېڅکله نه يهوديان راضي شی، او نه نصرانيان، تر دې چې ته د دوی د دين پيروي وکړې، ته ووايه: بېشکه د الله هدايت، هُم هغه (اصل) هدايت دی، او يقينًا که تا، له دې نه پس چې تا ته علم راغی، د هغوی د خواهشاتو پيروي وکړه، (نو) تا لره د الله (له عذاب) نه (خلاصوونکی) نه څوك دوست شته او نه کوم مددگار |
| ٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ يَتۡلُونَهُۥ حَقَّ تِلَاوَتِهِۦٓ أُوْلَٰٓئِكَ يُؤۡمِنُونَ بِهِۦۗ وَمَن يَكۡفُرۡ بِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ١٢١ | (121) هغه کسان چې مونږ هغوی ته کتاب ورکړی دی، هغوی د دې (کتاب) تلاوت کوي (خنگه) چې يې د تلاوت حق دی، هم دغه کسان پر ده ايمان راوړي، او څوك چې په دې (کتاب) باندې کافر شه، نو هم دغه کسان تاوانيان دي |
| يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتِيَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ وَأَنِّي فَضَّلۡتُكُمۡ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٢٢ | (122) ای بني اسرائيلو! زما هغه نعمتونه ياد کړئ چې ما پر تاسو باندې لَورَولي دي او دا چې بېشکه ما تاسو پر عالَمونو باندې غوره کړي وئ |
| وَٱتَّقُواْ يَوۡمٗا لَّا تَجۡزِي نَفۡسٌ عَن نَّفۡسٖ شَيۡـٔٗا وَلَا يُقۡبَلُ مِنۡهَا عَدۡلٞ وَلَا تَنفَعُهَا شَفَٰعَةٞ وَلَا هُمۡ | (123) او له هغې ورځې نه ووېرېږئ چې هيڅ يو نفس به د بل نفس هيڅ په کار رانشي، او نه به له هغه نه فديه (بدل) قبلېږي او نه به |

يُنصَرُونَ ١٢٣

هغه ته څه سفارش فایده ورکوي او نه به له هغوی سره مرسته کېږي

۞وَإِذِ ٱبۡتَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِـۧمَ رَبُّهُۥ بِكَلِمَٰتٖ فَأَتَمَّهُنَّۖ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامٗاۖ قَالَ وَمِن ذُرِّيَّتِيۖ قَالَ لَا يَنَالُ عَهۡدِي ٱلظَّٰلِمِينَ ١٢٤

(124) او (یاد کړه) هغه وخت چې خپل رب یې ابراهیم په څو خبرو سره وازمایه، نو (ابراهیم) هغه پوره کړې (الله) وویل: یقینًا زه تا د خلقو لپاره امام جوړوم، هغه وویل: او زما په اولاد کې (هم امامان جوړکړه) (الله) وویل: زما عهد (د امامت وعده) ظالمانو (کافرانو) ته نه رسېږي

وَإِذۡ جَعَلۡنَا ٱلۡبَيۡتَ مَثَابَةٗ لِّلنَّاسِ وَأَمۡنٗا وَٱتَّخِذُواْ مِن مَّقَامِ إِبۡرَٰهِـۧمَ مُصَلّٗىۖ وَعَهِدۡنَآ إِلَىٰٓ إِبۡرَٰهِـۧمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ أَن طَهِّرَا بَيۡتِيَ لِلطَّآئِفِينَ وَٱلۡعَٰكِفِينَ وَٱلرُّكَّعِ ٱلسُّجُودِ ١٢٥

(125) او کله چې مونږه بیت الله د خلقو لپاره د جمع کېدو او د امن ځای وګرځاوه، او (مونږ وویل:) له مقامِ ابراهیم نه ''لمونځ ځای'' جوړ کړئ، او مونږ ابراهیم او اسمٰعیل ته کلك حکم وکړ ادا چې تاسو (دواړه) زما کور د طواف کوونکو او اعتکاف کوونکو او رکوع کوونکو، سجده کوونکو لپاره ښه پاك کړئ

وَإِذۡ قَالَ إِبۡرَٰهِـۧمُ رَبِّ ٱجۡعَلۡ هَٰذَا بَلَدًا ءَامِنٗا وَٱرۡزُقۡ أَهۡلَهُۥ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ مَنۡ ءَامَنَ مِنۡهُم بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ قَالَ وَمَن كَفَرَ فَأُمَتِّعُهُۥ قَلِيلٗا ثُمَّ أَضۡطَرُّهُۥٓ إِلَىٰ

(126) او کله چې ابراهیم وویل: ای زما ربه! دا (ځای) امن ناکه ښار جوړ کړه، او د دې اوسېدونکو ته له مېوو نه روزي ورکړه، (خو) په دوی کې یواځې هغه چا ته چې پر الله او پر ورځ د اخرت یې ایمان راوړی وي. (الله) وویل:

عَذَابِ ٱلنَّارِۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ١٢٦

او څوك چې كافر شو، نو هغه ته به لږه فايده وركړم، بيا به هغه په زوره د اور عذاب ته بوځم او هغه د ورتلو بد ځای دی

وَإِذۡ يَرۡفَعُ إِبۡرَٰهِـۧمُ ٱلۡقَوَاعِدَ مِنَ ٱلۡبَيۡتِ وَإِسۡمَٰعِيلُ رَبَّنَا تَقَبَّلۡ مِنَّآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ١٢٧

(127) او كله چې ابراهيم د بيت الله بنيادونه اوچتول او (ورسره) اسمٰعيل (هم) (دواړو دا دعا كوله) ای زموږه رَبه! زموږ نه (دا عمل) قبول كړه، تهٔ چې يې، خاص تهٔ، ښه اورېدونكی، ښه عالم يې

رَبَّنَا وَٱجۡعَلۡنَا مُسۡلِمَيۡنِ لَكَ وَمِن ذُرِّيَّتِنَآ أُمَّةٗ مُّسۡلِمَةٗ لَّكَ وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبۡ عَلَيۡنَآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ١٢٨

(128) ای زموږه ربه! موږ ستا (حكم) منونكي جوړ كړه او زموږه په اولاد كې (هم) يوه ډله ستا حكم منونكې (جوړه كړه) او موږ ته زموږ د عبادت طريقې وښيَه او زموږه توبه قبوله كړه، يقينًا همدا تهٔ ډېر ښه توبه قبلوونكی، بې حده رحم كوونكی يې

رَبَّنَا وَٱبۡعَثۡ فِيهِمۡ رَسُولٗا مِّنۡهُمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَيُزَكِّيهِمۡۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ١٢٩

(129) ای زموږه ربه! دې (خلقو) ته له هم دوی نه يو رسول ولېږه، چې دوی ته ستا ايتونه تلاوت كوي او دوی ته كتاب (قرآن) او حكمت (سنت) ښَيي او دوی پاكوي، يقينًا، هم دا ته، ډېر غالب، ښه حكمت والا يې

وَمَن يَرۡغَبُ عَن مِّلَّةِ إِبۡرَٰهِـۧمَ إِلَّا

(130) او څوك دی چې د ابراهيم له ملت نه مخ اړوي، سِوا له هغه كس نه چې خپل ځان

مَن سَفِهَ نَفۡسَهُۥۚ وَلَقَدِ ٱصۡطَفَيۡنَٰهُ فِي ٱلدُّنۡيَاۖ وَإِنَّهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٣٠﴾

يې جاهل کړی وي او يقينًا يقينًا مونږه هغه (ابراهيم) په دنيا کې غوره کړی دی او بېشکه هغه په اخرت کې خامخا له صالحانو څنې دی

إِذۡ قَالَ لَهُۥ رَبُّهُۥٓ أَسۡلِمۡۖ قَالَ أَسۡلَمۡتُ لِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٣١﴾

(131) کله چې هغه ته خپل رب وويل: حکم منونکی شه، هغه ووېل: زه د رب العلمين حکم منونکی شوم

وَوَصَّىٰ بِهَآ إِبۡرَٰهِـۧمُ بَنِيهِ وَيَعۡقُوبُ يَٰبَنِيَّ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصۡطَفَىٰ لَكُمُ ٱلدِّينَ فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ ﴿١٣٢﴾

(132) او ابراهيم خپلو زامنو ته د دې وصيت وکړ او يعقوب (هم، ويې ويل:) ای زما زامنو! بېشکه الله تاسو لپاره دا دين غوره کړی دی، نو بېخي مه مرئ مگر په داسې حال کې چې مسلمانان يئ

أَمۡ كُنتُمۡ شُهَدَآءَ إِذۡ حَضَرَ يَعۡقُوبَ ٱلۡمَوۡتُ إِذۡ قَالَ لِبَنِيهِ مَا تَعۡبُدُونَ مِنۢ بَعۡدِيۖ قَالُواْ نَعۡبُدُ إِلَٰهَكَ وَإِلَٰهَ ءَابَآئِكَ إِبۡرَٰهِـۧمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ إِلَٰهًا وَٰحِدًا وَنَحۡنُ لَهُۥ مُسۡلِمُونَ ﴿١٣٣﴾

(133) ايا تاسو هغه وخت موجود وئ چې يعقوب ته مرگ حاضر شو؟ کله چې هغه خپلو زامنو ته ووېل: له ما نه بعد به د څه شي عبادت کوئ؟ هغوی ووېل: مونږ به ستا د اِلٰه (معبود) او ستا د پلرونو ابراهيم، او اسمٰعيل او اسحٰق د اِلٰه عبادت کوو، د يو حق معبود، او مونږه (ټول) د هغه حکم منونکي يو

تِلۡكَ أُمَّةٞ قَدۡ خَلَتۡۖ لَهَا مَا

(134) دغه يوه ډله وه چې يقينًا تېره شوې ده، څه (عمل) چې هغوی کړی دی؛ هغه د

كَسَبَتۡ وَلَكُم مَّا كَسَبۡتُمۡۖ وَلَا تُسۡـَٔلُونَ عَمَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١٣٤﴾

هغوی لپاره دی او څه چې تاسو کړی دی؛ هغه تاسو لپاره دی، او له تاسو نه به د هغوی د عملونو په باره کې تپوس نه کېږي

وَقَالُواْ كُونُواْ هُودًا أَوۡ نَصَٰرَىٰ تَهۡتَدُواْۗ قُلۡ بَلۡ مِلَّةَ إِبۡرَٰهِـۧمَ حَنِيفٗاۖ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴿١٣٥﴾

**(135)** او دوی وېل چې تاسو يهوديان شئ، يا نصرانيان، نو نېغه لار به ومومئ، ته (دوی ته) ووايه: (داسې نه ده) بلکې (مونږ) د ابراهيم د ملت (تابع کېږو) چې حنيف (توحيد والا) و او دی له مشرکانو څخه نه و

قُولُوٓاْ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡنَا وَمَآ أُنزِلَ إِلَىٰٓ إِبۡرَٰهِـۧمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَٱلۡأَسۡبَاطِ وَمَآ أُوتِيَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَمَآ أُوتِيَ ٱلنَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمۡ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّنۡهُمۡ وَنَحۡنُ لَهُۥ مُسۡلِمُونَ ﴿١٣٦﴾

**(136)** تاسو ووايئ: مونږ پر الله ايمان راوړی دی او پر هغه څه چې مونږ ته نازل کړی شوي دي، او پر هغه څه چې ابراهيم او اسمٰعيل او اسحٰق او يعقوب او (د هغوی) اولادې ته نازل کړی شوي دي، او (مونږ ايمان راوړی دی) پر هغه څه چې موسىٰ او عيسىٰ ته ورکړی شوي دي، او پر هغه څه چې د خپل رب له جانبه (نورو) نبيانو ته ورکړی شوي دي، مونږ په دوی کې د هېڅ يو په مينځ کې فرق نه کوو، او مونږ خاص د هغه (الله) حکم منونکي يو

فَإِنۡ ءَامَنُواْ بِمِثۡلِ مَآ ءَامَنتُم بِهِۦ فَقَدِ ٱهۡتَدَواْۖ وَّإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّمَا هُمۡ

**(137)** نو که دوی هغه شان ايمان راوړي څنګه چې تاسو پر دي (کتاب) ايمان راوړی

فِي شِقَاقٖۖ فَسَيَكۡفِيكَهُمُ ٱللَّهُۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ١٣٧

دی، نو یقینًا دوی سمه لاره ورکه کړې ده او په مخ یې وګرځاوه، نو همدا خبره ده چې دوی په سخت مخالفت کې دي، نو ژر ده چې د دوی مقابلې ته به تا لپاره الله کافي شي او هم هغه ښه اورېدونکی، ښه پوه دی

صِبۡغَةَ ٱللَّهِ وَمَنۡ أَحۡسَنُ مِنَ ٱللَّهِ صِبۡغَةٗۖ وَنَحۡنُ لَهُۥ عَٰبِدُونَ ١٣٨

**(138)** (مونږ) د الله رنګ (قبول کړی دی) او له الله نه په رنګ کې څوك ډېر ښه دی! او مونږ خاص د هغهٔ عبادت کوونکي یو

قُلۡ أَتُحَآجُّونَنَا فِي ٱللَّهِ وَهُوَ رَبُّنَا وَرَبُّكُمۡ وَلَنَآ أَعۡمَٰلُنَا وَلَكُمۡ أَعۡمَٰلُكُمۡ وَنَحۡنُ لَهُۥ مُخۡلِصُونَ ١٣٩

**(139)** ته (دوی ته) ووایه: ایا تاسو زمونږ سره د الله په باره کې جګړه کوئ؟ حال دا چې هغه زمونږ رب دی او ستاسو (هم) رب دی، زمونږ لپاره زمونږ عملونه دي او تاسو لپاره ستاسو عملونه دي اومونږ خاص د هغه لپاره اخلاص کوونکي یو

أَمۡ تَقُولُونَ إِنَّ إِبۡرَٰهِـۧمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَٱلۡأَسۡبَاطَ كَانُواْ هُودًا أَوۡ نَصَٰرَىٰۗ قُلۡ ءَأَنتُمۡ أَعۡلَمُ أَمِ ٱللَّهُۗ وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّن كَتَمَ شَهَٰدَةً عِندَهُۥ مِنَ ٱللَّهِۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ١٤٠

**(140)** ایا تاسو (دا) وایئ چې بېشکه ابراهیم او اسمٰعیل او اسحٰق او یعقوب او (د هغه) اولاده یهودیان، یا نصرانیان وو؟ ته (دوی ته) ووایه: ایا تاسو ډېر پوه یئ، یا که الله؟ او له هغه کس نه زیات ظالم څوك دی چې هغه ګواهي پټوي چې له ده سره د الله له جانبه ده؟ او الله ستاسو له عملونو نه کله هم غافل

نه دی

تِلۡكَ أُمَّةٞ قَدۡ خَلَتۡۖ لَهَا مَا كَسَبَتۡ وَلَكُم مَّا كَسَبۡتُمۡۖ وَلَا تُسۡـَٔلُونَ عَمَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١٤١﴾

(141) دغه یوه ډله ده چې یقینًا تېره شوې ده، څه (عمل) چې هغوی کړی دی؛ هغه د هغوی لپاره دی او څه (عمل) چې تاسو کړی دی؛ هغه تاسو لپاره دی او له تاسو نه به د هغوی د عملونو په باره کې تپوس نه کېږي

۞سَيَقُولُ ٱلسُّفَهَآءُ مِنَ ٱلنَّاسِ مَا وَلَّىٰهُمۡ عَن قِبۡلَتِهِمُ ٱلَّتِي كَانُواْ عَلَيۡهَاۚ قُل لِّلَّهِ ٱلۡمَشۡرِقُ وَٱلۡمَغۡرِبُۚ يَهۡدِي مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿١٤٢﴾

(142) له خلقو څخه بې وقوفان به ژر ووایي چې دوی له خپلې هغه قبلې نه څه شي واړول چې دوی پر هغې باندې وو؟ ته (ورته) ووایه: خاص د الله لپاره مشرق او مغرب دي، سمې (نېغې) لارې ته هدایت کوي چا ته چې يې وغواړي

وَكَذَٰلِكَ جَعَلۡنَٰكُمۡ أُمَّةٗ وَسَطٗا لِّتَكُونُواْ شُهَدَآءَ عَلَى ٱلنَّاسِ وَيَكُونَ ٱلرَّسُولُ عَلَيۡكُمۡ شَهِيدٗاۗ وَمَا جَعَلۡنَا ٱلۡقِبۡلَةَ ٱلَّتِي كُنتَ عَلَيۡهَآ إِلَّا لِنَعۡلَمَ مَن يَتَّبِعُ ٱلرَّسُولَ مِمَّن يَنقَلِبُ عَلَىٰ عَقِبَيۡهِۚ وَإِن كَانَتۡ لَكَبِيرَةً إِلَّا عَلَى ٱلَّذِينَ هَدَى ٱللَّهُۗ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُضِيعَ

(143) او همدارنګه مونږه تاسو غوره امت جوړ کړي یئ، د دې لپاره چې تاسو پر خلقو باندې شاهِدان (ګواهان) شئ، او رسول پر تاسو باندې ګواه شي او هغه قبله چې ته په هغې باندې وې؛ مونږ نه وه مقرر کړې مګر د دې لپاره چې مونږ هغه څوک معلوم (څرګند) کړو چې د رسول پیروي کوي له هغه چا نه چې پر خپلو پوندو باندې ببرته ګرځي، او یقینًا دا (خبره) ډېره درنه ده، مګر پر هغو

إِيمَٰنَكُمْۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِٱلنَّاسِ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٞ ١٤٣

کسانو چې الله ورته هدايت کړی دی (درنه نه ده) او الله کله هم داسې نه دی چې ستاسو ايمان (لمونځونه) ضايع کړي، يقينًا الله پر خلقو باندې خامخا ډېر نرمي کوونکی، بې حده رحم کوونکی دی

قَدۡ نَرَىٰ تَقَلُّبَ وَجۡهِكَ فِي ٱلسَّمَآءِۖ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبۡلَةٗ تَرۡضَىٰهَاۚ فَوَلِّ وَجۡهَكَ شَطۡرَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِۚ وَحَيۡثُ مَا كُنتُمۡ فَوَلُّواْ وُجُوهَكُمۡ شَطۡرَهُۥۗ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ لَيَعۡلَمُونَ أَنَّهُ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّهِمۡۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا يَعۡمَلُونَ ١٤٤

(144) يقينًا اسمان ته ستا د مخ ګرځېدل (اوړېدل) مونږ وينو، نو مونږ به تا خامخا د هغې قبلې په طرف وګرځوو چې ته يې خوښوې، نو خپل مخ د مسجد حرام (کعبې) په طرف وګرځوه او تاسو چې په هر ځای کې يئ، نو خپل مخونه د هغهٔ په طرف وګرځوئ، او بېشکه هغه کسان چه هغو ته کتاب ورکړې شوی دی؛ هغوی خامخا پوهېږي چې يقينًا دا (د قبلې بدلول) د دوی د رب له جانبه حق دي، او الله له هغه څه نه چه دوی يې کوي کله هم غافل نه دی

وَلَئِنۡ أَتَيۡتَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ بِكُلِّ ءَايَةٖ مَّا تَبِعُواْ قِبۡلَتَكَۚ وَمَآ أَنتَ بِتَابِعٖ قِبۡلَتَهُمۡۚ وَمَا بَعۡضُهُم بِتَابِعٖ قِبۡلَةَ بَعۡضٖۚ وَلَئِنِ ٱتَّبَعۡتَ أَهۡوَآءَهُم مِّنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَكَ مِنَ

(145) او يقينًا که ته هغو کسانو ته چې ورته کتاب ورکړې شوی دی، هره نښه (هر قسمه دليل) راوړې ( بيا به هم) هغوی ستا د قبلې تابع نشي او ته (هم) د هغوی د قبلې تابع کېدونکی نه يې، او د دوی بعضې د بعضو نورو د قبلې تابع کېدونکي نه دي، او يقينًا له دې

ٱلۡعِلۡمِ إِنَّكَ إِذٗا لَّمِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٤٥

نه پس چې تا ته علم راغی، که چېرې ته د هغوی د خواهشاتو تابع شوې (نو) یقینًا یقینًا ته به په دغه وخت کې له ظالمانو څخه يې

ٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ يَعۡرِفُونَهُۥ كَمَا يَعۡرِفُونَ أَبۡنَآءَهُمۡۖ وَإِنَّ فَرِيقٗا مِّنۡهُمۡ لَيَكۡتُمُونَ ٱلۡحَقَّ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ١٤٦

(146) هغه کسان چې مونږ هغوی ته کتاب ورکړی دی، هغوی دا (محمدﷺ، یا قرآن یا اسلام) پېژني لکه چې دوی خپل زامن پېژني، او یقینًا له دوی نه یوه ډله لازمًا حق پټوي، حال دا چې دوی پوهېږي

ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمُمۡتَرِينَ ١٤٧

(147) حق ستا د رب له جانبه دی، نو کله هم له شك کوونکو نه مه کېږه

وَلِكُلّٖ وِجۡهَةٌ هُوَ مُوَلِّيهَاۖ فَٱسۡتَبِقُواْ ٱلۡخَيۡرَٰتِۚ أَيۡنَ مَا تَكُونُواْ يَأۡتِ بِكُمُ ٱللَّهُ جَمِيعًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ١٤٨

(148) او د هر چا لپاره یو جانب دی چې دی هغه ته مخ ګرځوونکی دی، نو نېکیو ته له یو بل نه مخکې کېږئ، په هر ځای کې چې تاسو يئ الله به تاسو (ټول) په جمع راولي، یقینًا الله په هر شي باندې ښه قادر دی

وَمِنۡ حَيۡثُ خَرَجۡتَ فَوَلِّ وَجۡهَكَ شَطۡرَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِۖ وَإِنَّهُۥ لَلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ١٤٩

(149) او له کوم ځای نه چې ته وځې، نو خپل مخ د مسجد حرام په طرف وګرځوه، او یقینًا همدا ستا د رب له جانبه خامخا حق دي، او الله له هغه څه نه چې تاسو يې کوئ کله هم غافل نه دی

وَمِنۡ حَيۡثُ خَرَجۡتَ فَوَلِّ وَجۡهَكَ
شَطۡرَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِۚ وَحَيۡثُ مَا
كُنتُمۡ فَوَلُّواْ وُجُوهَكُمۡ شَطۡرَهُۥ
لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَيۡكُمۡ
حُجَّةٌ إِلَّا ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنۡهُمۡ فَلَا
تَخۡشَوۡهُمۡ وَٱخۡشَوۡنِي وَلِأُتِمَّ نِعۡمَتِي
عَلَيۡكُمۡ وَلَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ ١٥٠

(150) او له کوم ځای نه چې ته وځې، نو خپل مخ د مسجد حرام (قبلې) په طرف وګرځوه، او تاسو چې په هر ځای کې يئ، نو خپل مخونه د هغه په طرف وګرځوئ، د دې لپاره چې د خلقو لپاره په تاسو باندې څه حجت (او اعتراض) نه وي، مګر له دوی څخه هغه کسان چې ظلم يې کړی دی، نو له هغو نه مه وېرېږئ، او له ما نه وېرېږئ، او د دې لپاره چې زه خپل نعمتونه پر تاسو باندې پوره کړم او د دې لپاره چې تاسو هدايت ومومئ

كَمَآ أَرۡسَلۡنَا فِيكُمۡ رَسُولٗا
مِّنكُمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتِنَا
وَيُزَكِّيكُمۡ وَيُعَلِّمُكُمُ ٱلۡكِتَٰبَ
وَٱلۡحِكۡمَةَ وَيُعَلِّمُكُم مَّا لَمۡ
تَكُونُواْ تَعۡلَمُونَ ١٥١

(151) لکه چې مونږ په تاسو کې له هم تاسو نه رسول درلېږلی دی چې پر تاسو باندې زمونږ ايتونه تلاوت کوي، او تاسو پاکوي او تاسو ته کتاب او حکمت (سنت) ښيي، او تاسو ته د هغه څه تعليم درکوي چې تاسو پرې نه پوهېدلئ

فَٱذۡكُرُونِيٓ أَذۡكُرۡكُمۡ وَٱشۡكُرُواْ
لِي وَلَا تَكۡفُرُونِ ١٥٢

(152) نو تاسو ما يادوئ زه به تاسو ياد کړم او زما شکر وباسئ او په ما باندې مه کافر کېږئ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱسۡتَعِينُواْ
بِٱلصَّبۡرِ وَٱلصَّلَوٰةِۚ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ

(153) ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! په صبر او لمانځه سره مدد غواړئ، يقينًا

ٱلصَّٰبِرِينَ ١٥٣

الله د صبر کوونکو ملګری دی

وَلَا تَقُولُواْ لِمَن يُقۡتَلُ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمۡوَٰتُۢۚ بَلۡ أَحۡيَآءٞ وَلَٰكِن لَّا تَشۡعُرُونَ ١٥٤

(154) او تاسو هغه چا ته مړه مه وایئ چې د الله په لار کې ووژل شي بلکې (هغوی) ژوندي دي او لېکن تاسو (د هغوی په ژوند) نه پوهېږئ

وَلَنَبۡلُوَنَّكُم بِشَيۡءٖ مِّنَ ٱلۡخَوۡفِ وَٱلۡجُوعِ وَنَقۡصٖ مِّنَ ٱلۡأَمۡوَٰلِ وَٱلۡأَنفُسِ وَٱلثَّمَرَٰتِۗ وَبَشِّرِ ٱلصَّٰبِرِينَ ١٥٥

(155) او خامخا مونږ به تاسو ضرور په یو شي سره له وېرې او له لوږې او د مالونو او ځانونو او مېوو په نقصان (کمي) سره ازمایو، او صبر کوونکو ته زېری ورکړه

ٱلَّذِينَ إِذَآ أَصَٰبَتۡهُم مُّصِيبَةٞ قَالُوٓاْ إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّآ إِلَيۡهِ رَٰجِعُونَ ١٥٦

(156) هغه کسان چې کله دوی ته څه مصیبت ورسي (نو) وايي: یقیناً مونږ د الله یو او بېشکه مونږ خاص هغه ته ورګرځېدونکي یو

أُوْلَٰٓئِكَ عَلَيۡهِمۡ صَلَوَٰتٞ مِّن رَّبِّهِمۡ وَرَحۡمَةٞۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُهۡتَدُونَ ١٥٧

(157) دغه خلق، پر هم دوی باندې د خپل رب له جانبه عنایتونه دي او رحمت دی، او همدغه خلق هدایت موندونکي دي

۞إِنَّ ٱلصَّفَا وَٱلۡمَرۡوَةَ مِن شَعَآئِرِ ٱللَّهِۖ فَمَنۡ حَجَّ ٱلۡبَيۡتَ أَوِ ٱعۡتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِ أَن يَطَّوَّفَ بِهِمَاۚ وَمَن تَطَوَّعَ خَيۡرٗا فَإِنَّ ٱللَّهَ

(158) یقیناً صفا او مروه د الله له نښو څخه دي، نو هر څوک چې د بیت الله حج کوي، یا عمره کوي، نو په هغۀ باندې هېڅ ګناه نشته چې د دې دواړو طواف وکړي، او هر څوک

شَاكِرٌ عَلِيمٌ ﴿١٥٨﴾

چې په خپله خوښه څه نېکي وکړي، نو الله شکر قبلوونکی، ښه عالم دی

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡتُمُونَ مَآ أَنزَلۡنَا مِنَ ٱلۡبَيِّنَٰتِ وَٱلۡهُدَىٰ مِنۢ بَعۡدِ مَا بَيَّنَّٰهُ لِلنَّاسِ فِي ٱلۡكِتَٰبِ أُوْلَٰٓئِكَ يَلۡعَنُهُمُ ٱللَّهُ وَيَلۡعَنُهُمُ ٱللَّٰعِنُونَ ﴿١٥٩﴾

(159) يقينًا كوم خلق چې هغه څه پټوي چې مونږ نازل کړي دي، چې هدايت او ښکاره دليلونه دي، له دې نه پس چې مونږ هغه په کتاب کې خلقو ته بيان کړي دي، دغه خلق (چې دي)، الله پر دوی لعنت کوي اولعنت ويونکي پر دوی لعنت وايي

إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ وَأَصۡلَحُواْ وَبَيَّنُواْ فَأُوْلَٰٓئِكَ أَتُوبُ عَلَيۡهِمۡ وَأَنَا ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٦٠﴾

(160) مگر هغه کسان چې توبه وباسي او (د ځان) اصلاح وکړي او (د حق) بيان وکړي، پس دغه کسان، زه د هغوی توبه قبلوم او زه ښه توبه قبلوونکی، بې حده رحم کوونکی يم

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَمَاتُواْ وَهُمۡ كُفَّارٌ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَيۡهِمۡ لَعۡنَةُ ٱللَّهِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلنَّاسِ أَجۡمَعِينَ ﴿١٦١﴾

(161) بېشکه هغه کسان چې کفر يې کړی دی او په داسې حال کې مړه شول چې کافران وو، (نو) دغه کسان، په دوی باندې د الله لعنت دی او د ملايکو او د خلقو ټولو (لعنت دی)

خَٰلِدِينَ فِيهَا لَا يُخَفَّفُ عَنۡهُمُ ٱلۡعَذَابُ وَلَا هُمۡ يُنظَرُونَ ﴿١٦٢﴾

(162) په دې حال کې چې همېشه به وي په دې (لعنت) کې، له دوی نه به نه عذاب سپک کړی شي او نه به دوی ته مهلت ورکړی شي

وَإِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا
هُوَ ٱلرَّحۡمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ ١٦٣

(163) او ستاسو حق معبود يو معبود دى، هېڅ لايق د عبادت نشته مگر يواځې هغه دى چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکى دى

إِنَّ فِي خَلۡقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ
وَٱخۡتِلَٰفِ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ وَٱلۡفُلۡكِ
ٱلَّتِي تَجۡرِي فِي ٱلۡبَحۡرِ بِمَا يَنفَعُ
ٱلنَّاسَ وَمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ
مِن مَّآءٖ فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ
مَوۡتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٖ
وَتَصۡرِيفِ ٱلرِّيَٰحِ وَٱلسَّحَابِ
ٱلۡمُسَخَّرِ بَيۡنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ
لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ١٦٤

(164) يقينًا د اسمانونو او ځمکې په پيدا کولو کې، او د شپې او ورځې په بدلېدو کې، او په هغو بېړيو کې چې په سمندر کې يې هغه څه روان کړي وي چې خلقو ته نفع رسوي، او په هغه څه کې چې الله له بره نه راورَولي دي، چې اوبه دي، نو په دې سره يې ځمکه د هغې د مَره کېدو (وچېدو) نه پس ژوندۍ کړه، او په دې کې يې هر قسمه خوځنده (شيان) خواره کړل، او د بادونو په گرځولو (راگرځولو) کې او په هغې وربځ کې چې د اسمان او ځمکې په مينځ کې مُسَخَّر کړی شوې ده، خامخا د (هغه) قوم لپاره نښې دي چې عقلمند وي

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ
ٱللَّهِ أَندَادٗا يُحِبُّونَهُمۡ كَحُبِّ ٱللَّهِۖ
وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَشَدُّ حُبّٗا لِّلَّهِۗ وَلَوۡ
يَرَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓاْ إِذۡ يَرَوۡنَ

(165) او په خلقو کې ځېنې هغه څوك دي چې له الله نه غير شريکان نيسي، له هغوى سره مينه کوي له الله سره د مينې په شان، او هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی؛ له الله

ٱلۡعَذَابَ أَنَّ ٱلۡقُوَّةَ لِلَّهِ جَمِيعٗا وَأَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعَذَابِ ١٦٥

سره په مينه کې ډېر سخت (او کلك) دي، او که چېرې هغه کسان چې ظلم يې کړی دی؛ دا وويني، کله چې دوی عذاب ويني، چې يقينًا قوت ټول خاص د الله لپاره دی او دا چې يقينًا الله ډېر سخت عذاب ورکوونکی دی

إِذۡ تَبَرَّأَ ٱلَّذِينَ ٱتُّبِعُواْ مِنَ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُواْ وَرَأَوُاْ ٱلۡعَذَابَ وَتَقَطَّعَتۡ بِهِمُ ٱلۡأَسۡبَابُ ١٦٦

(166) کله چې هغه کسان چې اتباع يې شوې وه، له هغو کسانو نه بېزاره شي چې اتباع يې کړې وه، او عذاب وويني او پر دوی (ټولې) وسيلې غوڅې شي

وَقَالَ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُواْ لَوۡ أَنَّ لَنَا كَرَّةٗ فَنَتَبَرَّأَ مِنۡهُمۡ كَمَا تَبَرَّءُواْ مِنَّاۗ كَذَٰلِكَ يُرِيهِمُ ٱللَّهُ أَعۡمَٰلَهُمۡ حَسَرَٰتٍ عَلَيۡهِمۡۖ وَمَا هُم بِخَٰرِجِينَ مِنَ ٱلنَّارِ ١٦٧

(167) او چا چې پيروي کړې ده، هغوی به وايي: ارمان! که موږ لپاره (دنيا ته) بيا تلل وي، نو له دوی نه به موږ بېزاره شو لکه چې دوی له موږ نه بېزاره شول، همدارنګه به الله دوی ته خپل عملونه په دوی باندې د حسرتونو لپاره ښکاره کوي او دوی له اور نه کله هم وتونکي نه دي

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ كُلُواْ مِمَّا فِي ٱلۡأَرۡضِ حَلَٰلٗا طَيِّبٗا وَلَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٌ ١٦٨

(168) ای خلقو! له هغو څيزونو نه چې په ځمکه کې دي، حلال پاك خورئ او د شيطان د قدمونو پيروي مه کوئ، يقينًا هغه ستاسو ښکاره دښمن دی

إِنَّمَا يَأۡمُرُكُم بِٱلسُّوٓءِ وَٱلۡفَحۡشَآءِ وَأَن تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴿١٦٩﴾

(169) يقينًا همدا خبره ده چې هغه تاسو ته د بدۍ او بې حيايۍ حکم کوي او دا چې تاسو په الله باندې هغه خبرې وتړئ (وتپئ) چې تاسو پرې نه پوهېږئ

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱتَّبِعُواْ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ قَالُواْ بَلۡ نَتَّبِعُ مَآ أَلۡفَيۡنَا عَلَيۡهِ ءَابَآءَنَآۚ أَوَلَوۡ كَانَ ءَابَآؤُهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ شَيۡـٔٗا وَلَا يَهۡتَدُونَ ﴿١٧٠﴾

(170) او کله چې دوی ته وويل شي: د هغه څه پيروي وکړئ چې الله نازل کړي دي، (نو) وايي: (نه) بلکې مونږه د هغه څه پيروي کوو چې په هغه باندې مونږ خپل پلرونه (مشران) موندلي دي، ايا اگر که د دوی پلرونه (داسې) وو چې پر هېڅ شي نه پوهېدل، اونه يې سمه لار موندلې وه

وَمَثَلُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ كَمَثَلِ ٱلَّذِي يَنۡعِقُ بِمَا لَا يَسۡمَعُ إِلَّا دُعَآءٗ وَنِدَآءٗۚ صُمُّۢ بُكۡمٌ عُمۡيٞ فَهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ ﴿١٧١﴾

(171) د هغو کسانو مثال چې کفر يې کړی دی؛ د هغه کس په شان دی چې هغو (څارويو) ته ناري وهي چې نه اوري مگر يواځې تشه بلنه او غږ، (دوی) کاڼه دي، گونگيان دي، ړانده دي، نو دوی هېڅ نه پوهېږي

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُلُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقۡنَٰكُمۡ وَٱشۡكُرُواْ لِلَّهِ إِن كُنتُمۡ إِيَّاهُ تَعۡبُدُونَ ﴿١٧٢﴾

(172) ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! له هغو پاکو حلالو څيزونو څخه خورئ چې مونږ تاسو ته درکړي دي، او د الله شکر وباسئ، که تاسو داسې يئ چې خاص د هغهٔ

عبادت کوئ

إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَيۡتَةَ وَٱلدَّمَ وَلَحۡمَ ٱلۡخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ بِهِۦ لِغَيۡرِ ٱللَّهِۖ فَمَنِ ٱضۡطُرَّ غَيۡرَ بَاغٖ وَلَا عَادٖ فَلَآ إِثۡمَ عَلَيۡهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ١٧٣

(173) بېشکه خبره همدا ده چې هغه په تاسو باندې همدا مرداره او وینه او د خنزیر غوښه حرامه کړې ده او هغه څه (یې حرام کړي دي) چې په هغه باندې د غیرالله لپاره اواز اوچت شوی وي، نو هغه څوك چې مجبور کړی شي، په دې حال کې چې نه سرکشي کوونکی وي او نه ( له حد نه) تېرېدونکی وي، نو په هغه باندې هېڅ ګناه نشته، یقینًا الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡتُمُونَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَيَشۡتَرُونَ بِهِۦ ثَمَنٗا قَلِيلًا أُوْلَٰٓئِكَ مَا يَأۡكُلُونَ فِي بُطُونِهِمۡ إِلَّا ٱلنَّارَ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ ٱللَّهُ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ١٧٤

(174) یقینًا هغه کسان چې هغه څه پټوي چې الله له (خپل) کتاب نه نازل کړي دي، او د دې په بدل کې لږ قیمت اخلي، (نو) دغه کسان، نه خوري (نه اچوي) په خپلو خېټو کې مګر اور، او د قیامت په ورځ به الله نه له دوی سره خبرې وکړي او نه به دوی پاك کړي او د دوی لپاره ډېر دردوونکی عذاب دی

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشۡتَرَوُاْ ٱلضَّلَٰلَةَ بِٱلۡهُدَىٰ وَٱلۡعَذَابَ بِٱلۡمَغۡفِرَةِۚ فَمَآ أَصۡبَرَهُمۡ عَلَى ٱلنَّارِ ١٧٥

(175) دا هغه کسان دي چې د هدایت په بدله کې یې ګمراهي اخیستې ده او د مغفرت په بدله کې عذاب، نو (تعجب دی) دوی په اور باندې څومره صبر کوونکي دي!

ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ نَزَّلَ ٱلۡكِتَٰبَ
بِٱلۡحَقِّۗ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ ٱخۡتَلَفُواْ فِي
ٱلۡكِتَٰبِ لَفِي شِقَاقِۭ بَعِيدٖ ١٧٦

(176) دا ځکه چې بېشکه الله کتاب په حقه نازل کړی دی او يقينًا هغه کسان چې په کتاب کې يې اختلاف کړی دی؛ خامخا په ډېر لرې مخالفت کې دي

۞لَّيۡسَ ٱلۡبِرَّ أَن تُوَلُّواْ وُجُوهَكُمۡ
قِبَلَ ٱلۡمَشۡرِقِ وَٱلۡمَغۡرِبِ وَلَٰكِنَّ
ٱلۡبِرَّ مَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ
ٱلۡأٓخِرِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلۡكِتَٰبِ
وَٱلنَّبِيِّـۧنَ وَءَاتَى ٱلۡمَالَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ
ذَوِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ
وَٱلۡمَسَٰكِينَ وَٱبۡنَ ٱلسَّبِيلِ
وَٱلسَّآئِلِينَ وَفِي ٱلرِّقَابِ وَأَقَامَ
ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَى ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلۡمُوفُونَ
بِعَهۡدِهِمۡ إِذَا عَٰهَدُواْۖ وَٱلصَّٰبِرِينَ
فِي ٱلۡبَأۡسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ وَحِينَ
ٱلۡبَأۡسِۗ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْۖ
وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُتَّقُونَ ١٧٧

(177) نېکي دا نه ده چې خپل مخونه د مشرق او مغرب په طرف وګرځوئ، او لېکن نېکي (د هغه چا) ده چې پر الله او پر ورځ د اخرت او پر ملايکو او پر کتابونو او پر نبيانو يې ايمان راوړی دی او د هغه په مينه (کې) خپلوانو او يتيمانو او مسکينانو او مسافرو او سوالګرو ته مال ورکوي او په (ازادولو د) ختونو کې (يې لګوي) او لمونځ قايموي او زکات ورکوي او د خپلو وعدو پوره کوونکي وي کله چې وعده وکړي، (خصوصًا) چې په سختۍ او تکليف کې او د جنګ په وخت کې صبر کوونکي دي، دا هغه خلق دي چې رښتيني دي او همدغه خلق متقيان دي

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ
عَلَيۡكُمُ ٱلۡقِصَاصُ فِي ٱلۡقَتۡلَىۖ

(178) ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! پر تاسو باندې د وژل شويو په باره کې (د) قصاص (قانون) فرض کړی شوی دی،

ٱلۡحُرُّ بِٱلۡحُرِّ وَٱلۡعَبۡدُ بِٱلۡعَبۡدِ
وَٱلۡأُنثَىٰ بِٱلۡأُنثَىٰۚ فَمَنۡ عُفِيَ لَهُۥ
مِنۡ أَخِيهِ شَيۡءٞ فَٱتِّبَاعُۢ
بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَأَدَآءٌ إِلَيۡهِ بِإِحۡسَٰنٖۗ
ذَٰلِكَ تَخۡفِيفٞ مِّن رَّبِّكُمۡ وَرَحۡمَةٞۗ
فَمَنِ ٱعۡتَدَىٰ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَلَهُۥ
عَذَابٌ أَلِيمٞ ١٧٨

ازاد د ازاد په بدل کې، او غلام د غلام په بدل کې، او ښځه د ښځې په بدل کې (قصاصیږي)، پس هغه څوك چې هغه ته د خپل ورور له جانبه د څه شي معافي وکړې شي، نو په ښې طریقې سره مطالبه ( لازم) ده، او هغه (د مقتول ولي) ته په نېکې طریقې سره ادا کول (لازم) دي، دا ستاسو د رب له جانبه اسانی او مهرباني ده، نو له دې نه پس چې چا زیاتی وکړ، نو د هغه لپاره ډېر دردوونکی عذاب دی

وَلَكُمۡ فِي ٱلۡقِصَاصِ حَيَوٰةٞ
يَٰٓأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ لَعَلَّكُمۡ
تَتَّقُونَ ١٧٩

(179) او تاسو لپاره په قصاص کې لوی ژوند دی، ای د خالص عقل خاوندانو! د دې لپاره چې تاسو (ځان) وساتئ

كُتِبَ عَلَيۡكُمۡ إِذَا حَضَرَ
أَحَدَكُمُ ٱلۡمَوۡتُ إِن تَرَكَ خَيۡرًا
ٱلۡوَصِيَّةُ لِلۡوَٰلِدَيۡنِ وَٱلۡأَقۡرَبِينَ
بِٱلۡمَعۡرُوفِۖ حَقًّا عَلَى ٱلۡمُتَّقِينَ ١٨٠

(180) پر تاسو باندې فرض کړی شوي دي د مور و پلار او خپلوانو لپاره په ښې طریقې سره وصیت کول، کله چې په تاسو کې یو کس ته مرگ راشي، په دې شرط چې مال یې پرېښی وي، دا پر متقیانو ډېر لازم (حکم) دی

فَمَنۢ بَدَّلَهُۥ بَعۡدَ مَا سَمِعَهُۥ فَإِنَّمَآ
إِثۡمُهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ يُبَدِّلُونَهُۥٓۚ إِنَّ

(181) نو چا چې دا (وصیت) له اورېدلو نه پس بدل کړ، نو یقیناً همدا خبره ده چې د دې (بدلولو) گناه پر هغو کسانو ده چې دا

ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ١٨١

(وصيت) بدلوي، يقينًا الله ښه اورېدونکی، ښه عالم دی

فَمَنْ خَافَ مِن مُّوصٍ جَنَفًا أَوْ إِثْمًا فَأَصْلَحَ بَيْنَهُمْ فَلَآ إِثْمَ عَلَيْهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ١٨٢

**(182)** بيا چې څوك له وصيت کوونکي نه (په خطا سره) د ظلم، يا (په قصد سره) د ګناه وېره لري، نو د هغوی په مینځ کې یې جوړه وکړه، نو په هغه باندې هېڅ ګناه نشته، يقينًا الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ١٨٣

**(183)** ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! پر تاسو باندې روژه فرض کړی شوې ده لکه چې فرض کړی شوې وه پر هغو کسانو چې له تاسو نه مخکې وو، د دې لپاره چې تاسو متقیان شئ

أَيَّامًا مَّعْدُودَٰتٍ ۚ فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ ۚ وَعَلَى ٱلَّذِينَ يُطِيقُونَهُۥ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ ۖ فَمَن تَطَوَّعَ خَيْرًا فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُۥ ۚ وَأَن تَصُومُوا۟ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ١٨٤

**(184)** یو څو ورځې شمېرل شوې، نو څوك چې په تاسو کې مریض وي، یا پر سفر وي، نو (په هغه باندې) د نورو ورځو شمېرل دي، او په هغو کسانو باندې چې د دې (روژې) طاقت لري، د یو مسکین خوراك فدیه لازم ده، پس څوك چې په خوښۍ سره نېکي وکړي، نو د ده لپاره هغه بهتره ده، او دا چه روژه ونیسئ (دا) تاسو لپاره ډېر غوره دي، که چېرې یئ تاسو چې پوهېږئ

شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ
ٱلۡقُرۡءَانُ هُدٗى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَٰتٖ
مِّنَ ٱلۡهُدَىٰ وَٱلۡفُرۡقَانِۚ فَمَن شَهِدَ
مِنكُمُ ٱلشَّهۡرَ فَلۡيَصُمۡهُۖ وَمَن
كَانَ مَرِيضًا أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٖ فَعِدَّةٞ
مِّنۡ أَيَّامٍ أُخَرَۗ يُرِيدُ ٱللَّهُ بِكُمُ
ٱلۡيُسۡرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ ٱلۡعُسۡرَ
وَلِتُكۡمِلُواْ ٱلۡعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُواْ ٱللَّهَ
عَلَىٰ مَا هَدَىٰكُمۡ وَلَعَلَّكُمۡ
تَشۡكُرُونَ ١٨٥

**(185)** د رمضان میاشت هغه ده چې په هغې کې قرآن نازل کړی شوی دی، چې د خلقو لپاره هدایت دی، او د هدایت او د فرقان (د حق او د باطل بېلوونکي) ښکاره دلیلونه دي، نو په تاسو کې چې څوك دې میاشتې کې حاضر و، نو هغه دې د دې روژې ونیسي، او څوك چې مریض وي، یا پر سفر وي، نو (پر هغه) د نورو ورځو شمېرل دي، الله پر تاسو د اسانتیا اراده لري او پر تاسو باندې د سختۍ اراده نه لري او د دې لپاره چې تاسو شمېره پوره کړئ او د دې لپاره چې تاسو د الله لويي بیان کړئ، په دې چې هغه تاسو ته هدایت کړی دی، او د دې لپاره چې تاسو شکر وباسئ

وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي
قَرِيبٌۖ أُجِيبُ دَعۡوَةَ ٱلدَّاعِ إِذَا
دَعَانِۖ فَلۡيَسۡتَجِيبُواْ لِي وَلۡيُؤۡمِنُواْ
بِي لَعَلَّهُمۡ يَرۡشُدُونَ ١٨٦

**(186)** او کله چې زما په باره کې له تا نه زما بنده ګان تپوس وکړي، نو یقیناً زه قریب یم، د دعا کوونکي دعا قبلوم کله چې له ما نه دعا غواړي، پس دوی دې زما حکم ومني، او پر ما دې ایمان راوړي، د دې لپاره چې دوی سمه لار ومومي

أُحِلَّ لَكُمۡ لَيۡلَةَ ٱلصِّيَامِ ٱلرَّفَثُ

**(187)** تاسو لپاره د روژې په شپو کې له خپلو

إِلَىٰ نِسَآئِكُمْۚ هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ
وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّۗ عَلِمَ ٱللَّهُ
أَنَّكُمْ كُنتُمْ تَخْتَانُونَ أَنفُسَكُمْ
فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَعَفَا عَنكُمْۖ
فَٱلْـَٔـٰنَ بَٰشِرُوهُنَّ وَٱبْتَغُواْ مَا
كَتَبَ ٱللَّهُ لَكُمْۚ وَكُلُواْ وَٱشْرَبُواْ
حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكُمُ ٱلْخَيْطُ
ٱلْأَبْيَضُ مِنَ ٱلْخَيْطِ ٱلْأَسْوَدِ مِنَ
ٱلْفَجْرِۖ ثُمَّ أَتِمُّواْ ٱلصِّيَامَ إِلَى ٱلَّيْلِۚ
وَلَا تُبَٰشِرُوهُنَّ وَأَنتُمْ عَٰكِفُونَ
فِي ٱلْمَسَٰجِدِۗ تِلْكَ حُدُودُ ٱللَّهِ
فَلَا تَقْرَبُوهَاۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ
ءَايَٰتِهِۦ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ١٨٧

ښځو سره یو ځای کېدل حلال کړی شوي دي، هغوی تاسو لپاره لباس (جامې) دي او تاسو د هغوی لپاره لباس (جامې) یئ، الله ته معلوم دي چې یقینًا تاسو له خپلو ځانونو سره خیانت کاوه، نو پر تاسو یې (د مهربانۍ) رجوع وکړه، او تاسو ته یې معافي وکړه، نو اوس له هغوی سره مُباشَرت (کوروالی) کوئ او څه چې الله تاسو لپاره لیکلي دي هغه لټوئ، او خورئ، او څښئ تر هغه چې تاسو ته سپین تار د سبا له تور تار نه ښه ښکاره (او ښېل) شي، بیا روژه تر شپې پورې پوره کړئ، او له هغوی سره مباشرت (کوروالی) مه کوئ، په داسې حال کې چې تاسو په جوماتونو کې اعتکاف کوونکي یئ، دا د الله پُولې (حدونه) دي، نو دې ته مه نژدې کېږئ، هم په دې شان الله خپل ایتونه خلقو ته واضحه بیانوي، د دې لپاره چې دوی متقیان شي

وَلَا تَأْكُلُوٓاْ أَمْوَٰلَكُم بَيْنَكُم
بِٱلْبَٰطِلِ وَتُدْلُواْ بِهَآ إِلَى ٱلْحُكَّامِ
لِتَأْكُلُواْ فَرِيقًا مِّنْ أَمْوَٰلِ ٱلنَّاسِ
بِٱلْإِثْمِ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ١٨٨

**(188)** او خپل مالونه په خپل مینځ کې په ناحقه سره مه خورئ او حاکمانو ته یې د دې لپاره مه ورکوئ چې د خلقو له مالونو نه څه حصه په ظلم سره وخورئ، حال دا چې تاسو پوهېږئ

۞يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡأَهِلَّةِۖ قُلۡ هِيَ مَوَٰقِيتُ لِلنَّاسِ وَٱلۡحَجِّۗ وَلَيۡسَ ٱلۡبِرُّ بِأَن تَأۡتُواْ ٱلۡبُيُوتَ مِن ظُهُورِهَا وَلَٰكِنَّ ٱلۡبِرَّ مَنِ ٱتَّقَىٰۗ وَأۡتُواْ ٱلۡبُيُوتَ مِنۡ أَبۡوَٰبِهَاۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴿١٨٩﴾

(189) دوی له تا نه د نویو میاشتو په باره کې تپوس کوي، ته (ورته) ووایه: دا (میاشتې) د خلقو او د حج لپاره ټاکلي وختونه دي، او (دا) نېکي نه ده چې کورونو ته د هغو له شاګانو نه راشئ، او لېکن نېکي د هغه چا ده چې متقي شي، او تاسو کورونو ته د هغو له دروازو نه راځئ، او له الله نه وېرېږئ، د دې لپاره چې کامیاب شئ

وَقَٰتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ يُقَٰتِلُونَكُمۡ وَلَا تَعۡتَدُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُعۡتَدِينَ ﴿١٩٠﴾

(190) او د الله په لاره کې له هغو کسانو سره جنګ کوئ چې له تاسو سره جنګېږي، او له حد نه مه تېرېږئ، یقینًا الله له حد نه تېرېدونکي نه خوښوي

وَٱقۡتُلُوهُمۡ حَيۡثُ ثَقِفۡتُمُوهُمۡ وَأَخۡرِجُوهُم مِّنۡ حَيۡثُ أَخۡرَجُوكُمۡۚ وَٱلۡفِتۡنَةُ أَشَدُّ مِنَ ٱلۡقَتۡلِۚ وَلَا تُقَٰتِلُوهُمۡ عِندَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ حَتَّىٰ يُقَٰتِلُوكُمۡ فِيهِۖ فَإِن قَٰتَلُوكُمۡ فَٱقۡتُلُوهُمۡۗ كَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿١٩١﴾

(191) او دوی وژنئ کوم ځای چې دوی مومئ، او دوی له هغه ځای نه وباسئ چې تاسو یې وبستلي وئ، او فتنه (شرك، له دین نه اړول) له قتل نه ډېره سخته (ګناه) ده او له دوی سره د مسجد حرام په خوا کې جنګ مه کوئ، تر دې چې دوی له تاسو سره په ده کې جنګ شروع کړي، نو که دوی له تاسو سره جنګ شروع کړي، نو بیا دوی قتل کړئ، د دغو کافرانو سزا همداسې ده

فَإِنِ ٱنتَهَوۡاْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ١٩٢

(192) پس كه چېرې دوى منع شول، نو يقينًا الله ښه بخښونكى، بې حده رحم كوونكى دى

وَقَٰتِلُوهُمۡ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتۡنَةٞ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ لِلَّهِۖ فَإِنِ ٱنتَهَوۡاْ فَلَا عُدۡوَٰنَ إِلَّا عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ ١٩٣

(193) او له دوى سره جنگېږئ تر هغه چې فتنه (د كافرانو زور) پاتې نشي، او دين (ټول) د الله لپاره شي، نو كه دوى منع شول، نو هېڅ زياتى نشته مگر په ظالمانو باندې

ٱلشَّهۡرُ ٱلۡحَرَامُ بِٱلشَّهۡرِ ٱلۡحَرَامِ وَٱلۡحُرُمَٰتُ قِصَاصٞۚ فَمَنِ ٱعۡتَدَىٰ عَلَيۡكُمۡ فَٱعۡتَدُواْ عَلَيۡهِ بِمِثۡلِ مَا ٱعۡتَدَىٰ عَلَيۡكُمۡۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلۡمُتَّقِينَ ١٩٤

(194) حرامه مياشت په بدل د مياشتې حرامې كې ده، او حرمتونه (عزتونه) په بدله دي، پس چا چې پر تاسو باندې تېرى وكړ، نو تاسو په هغه باندې (په جواب كې) تېرى وكړئ په مثل د هغه چې هغه پر تاسو باندې تېرى كړى دى، او له الله نه وېرېږئ او پوه شئ چې يقينًا الله د متقيانو ملگرى دى

وَأَنفِقُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا تُلۡقُواْ بِأَيۡدِيكُمۡ إِلَى ٱلتَّهۡلُكَةِ وَأَحۡسِنُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١٩٥

(195) او د الله په لاره كې خرڅ كوئ او په خپلو لاسونو هلاكت ته غورځول مه كوئ، او نېكي كوئ، يقينًا الله له نېكي كوونكو سره مينه كوي

وَأَتِمُّواْ ٱلۡحَجَّ وَٱلۡعُمۡرَةَ لِلَّهِۚ فَإِنۡ أُحۡصِرۡتُمۡ فَمَا ٱسۡتَيۡسَرَ مِنَ

(196) او حج او عمره خاص د الله لپاره پوره كړئ، بيا كه چېرې (له حج، يا عمرې نه)

ٱلۡهَدۡيِۖ وَلَا تَحۡلِقُواْ رُءُوسَكُمۡ
حَتَّىٰ يَبۡلُغَ ٱلۡهَدۡيُ مَحِلَّهُۥۚ فَمَن
كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوۡ بِهِۦٓ أَذٗى
مِّن رَّأۡسِهِۦ فَفِدۡيَةٞ مِّن صِيَامٍ أَوۡ
صَدَقَةٍ أَوۡ نُسُكٖۚ فَإِذَآ أَمِنتُمۡ فَمَن
تَمَتَّعَ بِٱلۡعُمۡرَةِ إِلَى ٱلۡحَجِّ فَمَا
ٱسۡتَيۡسَرَ مِنَ ٱلۡهَدۡيِۚ فَمَن لَّمۡ يَجِدۡ
فَصِيَامُ ثَلَٰثَةِ أَيَّامٖ فِي ٱلۡحَجِّ
وَسَبۡعَةٍ إِذَا رَجَعۡتُمۡۗ تِلۡكَ عَشَرَةٞ
كَامِلَةٞۗ ذَٰلِكَ لِمَن لَّمۡ يَكُنۡ أَهۡلُهُۥ
حَاضِرِي ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِۚ وَٱتَّقُواْ
ٱللَّهَ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ
ٱلۡعِقَابِ ١٩٦

ايسار كړى شوئ، نو (بيا لازم ده) هغه هَدي (د حرم قرباني) چې په اسانۍ سره ترلاسه شي او خپل سرونه مه خرَوئ تر هغه چې قرباني خپل (د حلالې) ځاى ته ورسي، پس څوك چې په تاسو كې ناجوړه وي، يا ده ته په خپل سر كې څه تكليف وي، نو (پر ده) فديه لازمه ده په روژې سره، يا په صدقې سره، يا په قربانۍ سره، نو كله چې تاسو په امن شئ، پس كه چا فايده واخيسته په عمرې سره حج ته، نو( پر هغه لازمه ده) هغه قرباني چې په اسانۍ سره ترلاسه شي، پس كه چا (قرباني) ونه موندله، نو درې ورځې روژې په حج كې (واجبې) دي او اوه روژې هغه وخت دي چې تاسو راوګرځئ، دا پوره لس (ورځې) دي، دا (حكم د تمتع) د هغه چا لپاره دى چې د هغه ټبر د مسجد حرام اوسېدونكي نه وي، او له الله نه وېرېږئ او پوه شئ چې يقينًا الله سخت عذاب وركوونكى دى

ٱلۡحَجُّ أَشۡهُرٞ مَّعۡلُومَٰتٞۚ فَمَن
فَرَضَ فِيهِنَّ ٱلۡحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا
فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي ٱلۡحَجِّۗ وَمَا
تَفۡعَلُواْ مِنۡ خَيۡرٖ يَعۡلَمۡهُ ٱللَّهُۗ

**(197)** (وخت د احرام د) حج څو معلومې مياشتې دي، نو چا چې په دې (مياشتو) كې (په ځان باندې) حج فرض كړ، نو په حج كې نه له ښځو سره د شهوت خبرې كول شته او

وَتَزَوَّدُواْ فَإِنَّ خَيۡرَ ٱلزَّادِ ٱلتَّقۡوَىٰۖ وَٱتَّقُونِ يَٰٓأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴿١٩٧﴾

نه (د الله) نافرماني او نه جګړه او تاسو چې څه نېکي کوئ، الله پر هغې پوهېږي، او توښه واخلئ، پس یقینًا بهترینه توښه تقویٰ ده، ای د صفا عقل خاوندانو! له ما نه وېرېږئ

لَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ أَن تَبۡتَغُواْ فَضۡلٗا مِّن رَّبِّكُمۡۚ فَإِذَآ أَفَضۡتُم مِّنۡ عَرَفَٰتٖ فَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ عِندَ ٱلۡمَشۡعَرِ ٱلۡحَرَامِۖ وَٱذۡكُرُوهُ كَمَا هَدَىٰكُمۡ وَإِن كُنتُم مِّن قَبۡلِهِۦ لَمِنَ ٱلضَّآلِّينَ ﴿١٩٨﴾

**(198)** پر تاسو باندې په دې کې هېڅ ګناه نشته چې د خپل رب څه فضل ولټوئ، نو کله چې له عرفات نه راکوز شئ، نو په مشعرحرام کې د الله ذکر کوئ، او د هغه ذکر کوئ لکه څنګه چې یې تاسو ته ښودنه کړې ده، او یقینًا تاسو له دې نه مخکې خامخا له ګمراهانو څخه وئ

ثُمَّ أَفِيضُواْ مِنۡ حَيۡثُ أَفَاضَ ٱلنَّاسُ وَٱسۡتَغۡفِرُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿١٩٩﴾

**(199)** بیا راکوزېږئ له هغه ځای نه چې خلق ترې راکوزېږي او له الله نه مغفرت غواړئ، یقینًا الله ښه مغفرت کوونکی، بې حده رحم کوونکی دی

فَإِذَا قَضَيۡتُم مَّنَٰسِكَكُمۡ فَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَذِكۡرِكُمۡ ءَابَآءَكُمۡ أَوۡ أَشَدَّ ذِكۡرٗاۗ فَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِي ٱلدُّنۡيَا وَمَا لَهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنۡ خَلَٰقٖ ﴿٢٠٠﴾

**(200)** نو کله چې تاسو خپل د حج عبادتونه (اعمال) ادا کړئ، نو الله یادوئ په شان د یادولو ستاسو خپلو پلرونو لره، بلکې زیات یادول، نو په خلقو کې ځینې هغه څوك دي چې وايي: ای زمونږ ربه! ته مونږ ته (هر څه) په دنیا کې راکړه، او د دغه کس لپاره په

اخرت کې هېڅ برخه نشته

وَمِنْهُم مَّن يَقُولُ رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِي ٱلدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي ٱلْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴿٢٠١﴾

(201) او په دوی کې بعضې هغه څوك دي چې وايي: اى زمونږ ربه! مونږ ته په دنيا كې نعمت راکړه او په اخرت کې (هم) نعمت راکړه او مونږ د اور له عذابه وساته

أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمْ نَصِيبٌ مِّمَّا كَسَبُواْۚ وَٱللَّهُ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ ﴿٢٠٢﴾

(202) دغه كسان دي چې د دوى لپاره د دوى د كړو (نېكو) عملونو په سبب لويه برخه ده، او الله ډېر ژر حساب كوونكى دى

۞ وَٱذْكُرُواْ ٱللَّهَ فِيٓ أَيَّامٍ مَّعْدُودَٰتٍۚ فَمَن تَعَجَّلَ فِي يَوْمَيْنِ فَلَآ إِثْمَ عَلَيْهِ وَمَن تَأَخَّرَ فَلَآ إِثْمَ عَلَيْهِۖ لِمَنِ ٱتَّقَىٰۗ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّكُمْ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٢٠٣﴾

(203) په شمېرل شويو ورځو كې الله يادوئ، پس څوك چې په دوه ورځو كې ژر لاړ، نو پر هغه هېڅ ګناه نشته، او چا چې تاخير وكړ، نو پر ده (هم) هېڅ ګناه نشته، د هغه چا لپاره چې تقوىٰ يې غوره كړې وي او له الله نه وېرېږئ، او پر دې پوه شئ چې يقيناً تاسو به خاص هغه ته ورجمع كولى شئ

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُعْجِبُكَ قَوْلُهُۥ فِي ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَيُشْهِدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا فِي قَلْبِهِۦ وَهُوَ أَلَدُّ ٱلْخِصَامِ ﴿٢٠٤﴾

(204) او بعضې له خلقو نه هغه څوك دي چې د دنيايي ژوند په باره كې د هغه خبرې تا په تعجب كې اچوي او دى په هغه څه باندې الله ګواه كوي چې د ده په زړه كې دي، حال دا چې دى ډېر زيات جګړه مار دى

وَإِذَا تَوَلَّىٰ سَعَىٰ فِي ٱلۡأَرۡضِ لِيُفۡسِدَ
فِيهَا وَيُهۡلِكَ ٱلۡحَرۡثَ وَٱلنَّسۡلَۚ
وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلۡفَسَادَ ٢٠٥

**(205)** او كله چې بېرته وګرځي، نو په ځمكه كې ګرځندی ګرځي، د دې لپاره چې په دې كې فساد وكړي او فصل او نسل تباه كړي، حال دا چې الله فساد نه خوښوي

وَإِذَا قِيلَ لَهُ ٱتَّقِ ٱللَّهَ أَخَذَتۡهُ
ٱلۡعِزَّةُ بِٱلۡإِثۡمِۚ فَحَسۡبُهُۥ جَهَنَّمُۖ
وَلَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ٢٠٦

**(206)** او كله چې هغهٔ ته وويل شي: له الله نه ووېرېږه، نو ده لره تكبر ونيسي په ګناه كولو سره، نو د ده لپاره جهنم بس دی او يقينًا هغه بده استوګنه ده

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشۡرِي نَفۡسَهُ
ٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ رَءُوفُۢ
بِٱلۡعِبَادِ ٢٠٧

**(207)** او بعضې له خلقو نه هغه څوك دي چې د الله د رضا لټولو لپاره ځان خرڅوي، او الله په بنده ګانو باندې ډېر نرمي كوونكی دی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱدۡخُلُواْ فِي
ٱلسِّلۡمِ كَآفَّةٗ وَلَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ
ٱلشَّيۡطَٰنِۚ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ
مُّبِينٞ ٢٠٨

**(208)** ای هغو كسانو چې ايمان يې راوړی دی! په اسلام كې پوره پوره داخل شئ او د شيطان په قدمونو پسې مه ځئ، يقينًا هغه ستاسو ښكاره دښمن دی

فَإِن زَلَلۡتُم مِّنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡكُمُ
ٱلۡبَيِّنَٰتُ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ
حَكِيمٌ ٢٠٩

**(209)** بيا كه چېرې تاسو له دې نه پس وښويدلئ؛ چې تاسو ته ښكاره دليلونه (هم) راغلل، نو پوه شئ چې يقينًا الله ډېر غالب، ښه حكمت والا دی

هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن يَأۡتِيَهُمُ ٱللَّهُ فِي ظُلَلٖ مِّنَ ٱلۡغَمَامِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ ٢١٠

(210) دوی انتظار نه کوي مګر د دې چې الله دوی ته د وریځو په سیورو کې راشي او ملایک (هم) او معامله فیصله کړی شي، او ټول کارونه خاص الله ته ورګرځول کیږي

سَلۡ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ كَمۡ ءَاتَيۡنَٰهُم مِّنۡ ءَايَةِۭ بَيِّنَةٖۗ وَمَن يُبَدِّلۡ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُ فَإِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ٢١١

(211) له بني اسرائیلو نه تپوس وکړه چې مونږ څومره ډیرې واضحې نښې دوی ته ورکړې وې، او څوک چې د الله نعمت بدل کړي، له دې نه پس چې ده ته راغی، نو یقیناً الله سخت عذاب ورکوونکی دی

زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا وَيَسۡخَرُونَ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْۘ وَٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ فَوۡقَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ وَٱللَّهُ يَرۡزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٖ ٢١٢

(212) او هغو کسانو ته چې کافران شوي دي دنیایي ژوند ښایسته کړی شوی دی، او دوی په هغو کسانو پورې مسخرې کوي چې ایمان یې راوړی دی، او هغه کسان چې متقیان دي د قیامت په ورځ به د دوی له پاسه وي او الله چې چا لره وغواړي بې حسابه رزق ورکوي

كَانَ ٱلنَّاسُ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ فَبَعَثَ ٱللَّهُ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ وَأَنزَلَ مَعَهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَ ٱلنَّاسِ فِيمَا ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِۚ وَمَا ٱخۡتَلَفَ فِيهِ

(213) ټول خلق (په شروع کې) یو امت وو (بیا په کې ځینې کافر شول) نو الله نبیان راولیږل چې زیرې ورکوونکي او ویروونکي وو او له هغوی سره یې په حقه سره کتاب نازل کړ، د دې لپاره چې هغه د خلقو په مینځ کې

إِلَّا ٱلَّذِينَ أُوتُوهُ مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُ بَغۡيَۢا بَيۡنَهُمۡۖ فَهَدَى ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لِمَا ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِ مِنَ ٱلۡحَقِّ بِإِذۡنِهِۦۗ وَٱللَّهُ يَهۡدِي مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٍ ﴿٢١٣﴾

د هغه شي فيصله وکړي چې دوی په کې اختلاف کړی دی، او په هغه کې اختلاف نه دی کړی مګر هغو کسانو چې هغوی ته هغه (کتاب) ورکړی شوی و، په خپل منځ کې د لويي او ظلم په وجه (يې اختلاف کړی و)، له دې نه پس چې هغوی ته ښې ښکاره نښې راغلې، نو الله هغو کسانو ته چې ايمان يې راوړی و، په خپل حکم سره هغه حق ته هدايت وکړ چې هغوی (کافرانو) په کې اختلاف کړی و او الله د سمې لارې هدايت کوي هغه چا ته چې ويې غواړي

أَمۡ حَسِبۡتُمۡ أَن تَدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ وَلَمَّا يَأۡتِكُم مَّثَلُ ٱلَّذِينَ خَلَوۡاْ مِن قَبۡلِكُمۖ مَّسَّتۡهُمُ ٱلۡبَأۡسَآءُ وَٱلضَّرَّآءُ وَزُلۡزِلُواْ حَتَّىٰ يَقُولَ ٱلرَّسُولُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ مَتَىٰ نَصۡرُ ٱللَّهِۗ أَلَآ إِنَّ نَصۡرَ ٱللَّهِ قَرِيبٞ ﴿٢١٤﴾

(214) ايا تاسو دا ګمان کوئ چې جنت ته به داخل شئ؟ حال دا چې پر تاسو باندې لا تر اوسه د هغو خلقو حالت نه دی راغلی چې له تاسو نه مخکې تېر شوي دي، هغوی ته سختۍ او بيمارۍ رسېدلې وې، او ځړقول شوي وو تر دې چې رسول او له هغه سره ايمان راوړونکو به ووېل: د الله مدد به کله راځي؟ خبردار شئ! يقينًا د الله مدد ډېر نږدې دی

يَسۡـَٔلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَۖ قُلۡ مَآ أَنفَقۡتُم مِّنۡ خَيۡرٖ فَلِلۡوَٰلِدَيۡنِ

(215) دوی له تا نه پوښتنه کوي چې څه شی خرچ (انفاق) کړي؟ ته (ورته) ووايه: څه

وَٱلْأَقْرَبِينَ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينِ
وَٱبْنِ ٱلسَّبِيلِ ۗ وَمَا تَفْعَلُوا۟ مِنْ
خَيْرٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٌ ﴿٢١٥﴾

چې خرڅ کوئ له مال نه، نو (هغه) د مور و پلار لپاره او نژدې خپلوانو او مسکینانو او مسافرو لپاره دي، او تاسو چې څه نېکي هم کوئ، نو یقینًا الله پر هغې ښه عالم دی

كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ
لَّكُمْ ۖ وَعَسَىٰٓ أَن تَكْرَهُوا۟ شَيْـًٔا
وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ وَعَسَىٰٓ أَن تُحِبُّوا۟
شَيْـًٔا وَهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ ۗ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ
وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٢١٦﴾

**(216)** پر تاسو باندې جنګ کول فرض کړې شوي دي، حال دا چې دا ستاسو بدې شي، او کېدی شي چې تاسو به یو شی بد ګڼئ، حال دا چې هغه به تاسو لپاره ډېر غوره وي او کېدی شي چې تاسو به یو شی خوښوئ، حال دا چې هغه به تاسو لپاره ډېر بد وي او الله پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ

يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلشَّهْرِ ٱلْحَرَامِ
قِتَالٍ فِيهِ ۖ قُلْ قِتَالٌ فِيهِ كَبِيرٌ ۖ
وَصَدٌّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَكُفْرٌۢ بِهِۦ
وَٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ وَإِخْرَاجُ أَهْلِهِۦ
مِنْهُ أَكْبَرُ عِندَ ٱللَّهِ ۚ وَٱلْفِتْنَةُ
أَكْبَرُ مِنَ ٱلْقَتْلِ ۗ وَلَا يَزَالُونَ
يُقَٰتِلُونَكُمْ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمْ عَن
دِينِكُمْ إِنِ ٱسْتَطَٰعُوا۟ ۚ وَمَن
يَرْتَدِدْ مِنكُمْ عَن دِينِهِۦ فَيَمُتْ
وَهُوَ كَافِرٌ فَأُو۟لَٰٓئِكَ حَبِطَتْ

**(217)** دوی له تا نه د حرامو میاشتو په باره کې تپوس کوي، په هغې کې د جنګ کولو ( په باره کې)، ته (ورته) ووایه: په هغې کې جنګ کول لویه ګناه ده او د الله له لارې نه منع کول او په هغه (الله ) سره کافر کېدل او له مسجد حرام نه منع کول او له هغه (مسجد) نه د هغه اهل (حقدار) ویستل د الله په نیز ښېخي ډېره لویه ګناه ده، او فتنه (شرك) له قتل نه ډېره لویه ګناه ده، او دوی به همېشه له تاسو سره جنګ کوي تر هغه پورې چې تاسو له خپل دین نه واړوي، که

أَعۡمَٰلُهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٢١٧

وس يې وشي، او په تاسو کې چې څوك له خپل دين نه وګرځېده، بيا په داسې حال کې مړ شو چې کافر و، نو دغه کسان (چې دي) د دوی عملونه په دنيا او اخرت (دواړو) کې ضايع شوي دي او دغه کسان د اور ملګري دي، دوی به په هغه کې تل ترتله (همېشه) وي

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أُوْلَٰٓئِكَ يَرۡجُونَ رَحۡمَتَ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٢١٨

(218) يقيناً هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او هغه کسان چې هجرت يې کړی دی او جهاد يې کړی دی د الله په لاره کې، دغه کسان د الله د رحمت اميد لري، او الله ډېر بخښونکی، ډېر مهربان دی

۞يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡخَمۡرِ وَٱلۡمَيۡسِرِۖ قُلۡ فِيهِمَآ إِثۡمٞ كَبِيرٞ وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ وَإِثۡمُهُمَآ أَكۡبَرُ مِن نَّفۡعِهِمَاۗ وَيَسۡـَٔلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَۖ قُلِ ٱلۡعَفۡوَۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلۡأٓيَٰتِ لَعَلَّكُمۡ تَتَفَكَّرُونَ ٢١٩

(219) ... دوی له تا نه د شرابو او جواري په باره کې تپوس کوي، ووايه: په دې دواړو کې بېخي لويه ګناه ده، او د خلقو لپاره په کې فايدې دي، او د دې دواړو ګناه ډېره لويه ده، د دې دواړو له فايدو نه او دوی له تا نه پوښتنه کوي چې څه خرچ (انفاق) کړي؟ ته (ورته) ووايه: له نفقې (اخراجاتو) نه زياتي (څيز خرچ کړئ) الله همداسې تاسو لپاره ايتونه بيانوي، د دې لپاره چې تاسو ښه فکر

وکړئ

فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۗ وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡيَتَٰمَىٰۖ قُلۡ إِصۡلَاحٞ لَّهُمۡ خَيۡرٞۖ وَإِن تُخَالِطُوهُمۡ فَإِخۡوَٰنُكُمۡۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ ٱلۡمُفۡسِدَ مِنَ ٱلۡمُصۡلِحِۚ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَأَعۡنَتَكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ﴿٢٢٠﴾

(220) د دنيا او اخرت په باره کې، او دوی له تا نه د يتيمانو په باره کې پوښتنه کوي، ووايه: د دوی اصلاح کول ډېر ښه دي، او که تاسو هغوی (له ځان سره) شريك کړئ، نو ستاسو ورونه دي، او الله پېژني ورانکاری له اصلاح کوونکي نه، او که الله غوښتلی، نو تاسو به يې خامخا په مشقت کې اچولي وی، يقيناً الله ډېر غالب، ښه حکمت والا دی

وَلَا تَنكِحُواْ ٱلۡمُشۡرِكَٰتِ حَتَّىٰ يُؤۡمِنَّۚ وَلَأَمَةٞ مُّؤۡمِنَةٌ خَيۡرٞ مِّن مُّشۡرِكَةٖ وَلَوۡ أَعۡجَبَتۡكُمۡۗ وَلَا تُنكِحُواْ ٱلۡمُشۡرِكِينَ حَتَّىٰ يُؤۡمِنُواْۚ وَلَعَبۡدٞ مُّؤۡمِنٌ خَيۡرٞ مِّن مُّشۡرِكٖ وَلَوۡ أَعۡجَبَكُمۡۗ أُوْلَٰٓئِكَ يَدۡعُونَ إِلَى ٱلنَّارِۖ وَٱللَّهُ يَدۡعُوٓاْ إِلَى ٱلۡجَنَّةِ وَٱلۡمَغۡفِرَةِ بِإِذۡنِهِۦۖ وَيُبَيِّنُ ءَايَٰتِهِۦ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمۡ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٢١﴾

(221) او له مشرکو ښځو سره نکاح مه کوئ تر هغه پورې چې دوی ايمان راوړي، او خامخا مومنه وينځه ښځي غوره ده له ازادې مشرکې نه اگر که هغه تاسو حيران کړي (د خوښېدو په وجه) او مشرکانو ته (مسلماني ښځې) په نکاح مه ورکوئ تر هغه پورې چې دوی ايمان راوړي، او خامخا مومن مَرَيی ښځي غوره دی له ازاد مشرك نه، اگر که هغه تاسو (د خوښېدو په وجه) حيران کړي، دغه کسان اور ته بلنه کوي، او الله په خپل اذن سره جنت او مغفرت ته بلنه کوي، او خلقو ته خپل ايتونه بيانوي، د دي لپاره چې دوی نصيحت قبول

کړي

وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْمَحِيضِ ۖ قُلْ هُوَ أَذًى فَٱعْتَزِلُوا۟ ٱلنِّسَآءَ فِى ٱلْمَحِيضِ وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّىٰ يَطْهُرْنَ ۖ فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ ٱللَّهُ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلتَّوَّٰبِينَ وَيُحِبُّ ٱلْمُتَطَهِّرِينَ ﴿٢٢٢﴾

(222) او دوی له تا نه د حیض په باره کې پوښتنه کوي، ته ووایه: دا یوه پلیتي ده، نو په حیض کې د ښځو له جماع نه په ډډه شئ، او دوی ته مه نژدې کېږئ (د جماع لپاره) تر هغه پورې چې پاکې شي، نو کله چې ښې پاکې شي (غسل وکړي)، بیا له دوی سره جماع کوئ، په هغه ځای کې چې الله تاسو ته حکم کړی دی، یقینًا الله ډېر توبې وېستونکي خوښوي او ښه پاك اوسېدونکي خوښوي

نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ فَأْتُوا۟ حَرْثَكُمْ أَنَّىٰ شِئْتُمْ ۖ وَقَدِّمُوا۟ لِأَنفُسِكُمْ ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّكُم مُّلَٰقُوهُ ۗ وَبَشِّرِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٢٢٣﴾

(223) ستاسو ښځې تاسو لپاره فصل دي، نو خپل فصل ته راځئ څنګه چې ستاسو خوښه وي، او د خپلو ځانونو لپاره (نېك عمل) وړاندې ولېږئ، او له الله نه وېرېږئ او پر دې پوه شئ چې یقینًا تاسو له هغه سره ملاقات کوونکي یئ، او مومنانو ته زېری ورکړه

وَلَا تَجْعَلُوا۟ ٱللَّهَ عُرْضَةً لِّأَيْمَٰنِكُمْ أَن تَبَرُّوا۟ وَتَتَّقُوا۟ وَتُصْلِحُوا۟ بَيْنَ ٱلنَّاسِ ۗ وَٱللَّهُ

(224) او د خپلو قسمونو لپاره تاسو الله هدف مه ګرځوئ (د الله نوم مه استعمالوئ) چې نه به کوئ نېکي او پرهېزګاري او د خلقو په مینځ کې صلح، او الله ښه اورېدونکی، ښه پوه

سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٢٤﴾

دی

لَّا يُؤَاخِذُكُمُ ٱللَّهُ بِٱللَّغْوِ فِيٓ أَيْمَٰنِكُمْ وَلَٰكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا كَسَبَتْ قُلُوبُكُمْۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿٢٢٥﴾

(225) الله تاسو نه نیسي په خپلو قسمونو کې په لغو سره، او لېکن نیسي تاسو پر هغه (قسم) چې ستاسو زړونو یې قصد (نیت) کړی وي، او الله ډېر بخښونکی، ښه تحمل کوونکی دی

لِّلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِن نِّسَآئِهِمْ تَرَبُّصُ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٖۖ فَإِن فَآءُو فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٢٢٦﴾

(226) د هغو کسانو لپاره چې خپلو ښځو (ته له ورتلو) نه قسم خوري، د څلورو میاشتو مهلت دی، بیا که دوی رجوع وکړه، نو یقیناً الله ډېر بخښونکی، ډېر مهربان دی

وَإِنْ عَزَمُواْ ٱلطَّلَٰقَ فَإِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ﴿٢٢٧﴾

(227) او که دوی د طلاقو عزم کړی وي، نو یقیناً الله ښه اورېدونکی، ښه پوه دی

وَٱلْمُطَلَّقَٰتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلَٰثَةَ قُرُوٓءٖۚ وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ أَن يَكْتُمْنَ مَا خَلَقَ ٱللَّهُ فِيٓ أَرْحَامِهِنَّ إِن كُنَّ يُؤْمِنَّ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْأٓخِرِۚ وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِي ذَٰلِكَ إِنْ أَرَادُوٓاْ إِصْلَٰحٗاۚ وَلَهُنَّ مِثْلُ ٱلَّذِي عَلَيْهِنَّ

(228) او طلاقي کړی شوې ښځې دې پر خپلو ځانونو درې حیضه انتظار کوي، او د دوی لپاره حلال نه دي چې پټ کړي هغه څه چې الله د دوی په رَحِمونو کې پیدا کړي دي، که دوی پر الله او پر ورځ د اخرت ایمان لري او په دې موده کې د دوی خاوندان د دوی د بیا راوستلو اصل حقدار دي که هغوی د اصلاح (جوړښت) اراده لري، او د دستور

بِـٱلْمَعْرُوفِۚ وَلِلرِّجَـالِ عَلَـيْهِنَّ دَرَجَةٌۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٢٨﴾

مطابق د هغو (ښځو) لپاره (په خاوندانو باندې حقونه) دي په شان د هغو (حقونو) چې پر دغو (ښځو) باندې لازم دي (د خپلو خاوندانو لپاره) او په دوی باندې د سړيو لپاره درجه شته، او الله ډېر غالب، ښه حکمت والا دی

ٱلطَّلَٰقُ مَرَّتَانِۖ فَإِمۡسَاكُۢ بِمَعۡرُوفٍ أَوۡ تَسۡرِيحُۢ بِإِحۡسَٰنٖۗ وَلَا يَحِلُّ لَكُمۡ أَن تَأۡخُذُواْ مِمَّآ ءَاتَيۡتُمُوهُنَّ شَيۡـًٔا إِلَّآ أَن يَخَافَآ أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ ٱللَّهِۖ فَإِنۡ خِفۡتُمۡ أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ ٱللَّهِ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِمَا فِيمَا ٱفۡتَدَتۡ بِهِۦۗ تِلۡكَ حُدُودُ ٱللَّهِ فَلَا تَعۡتَدُوهَاۚ وَمَن يَتَعَدَّ حُدُودَ ٱللَّهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٢٢٩﴾

(229) طلاق دوه ځله دي، بيا په ښې طريقې سره (ښځې لره) ساتل دي، يا په ډېرې ښې طريقې سره رخصتول دي او (ای سړيو!) تاسو لپاره دا حلال نه دي چې له هغه (مال) نه چې تاسو دوی ته ورکړی دی؛ څه لږ شی هم واخلئ، مګر دا چې دواړه له دې نه ووېرېږي چې دوی به د الله حدونه (حکمونه) قايم نه کړي، نو که تاسو وېرېږئ چې دوی دواړه به د الله حکمونه پوره نه کړي، بيا نو په دې دواړو باندې هيڅ ګناه نشته په هغه (مال) کې چې هغه ښځه يې د جداوالي لپاره ورکوي. دا د الله حدونه دي، نو له دغو نه مه تېرېږئ، او څوك چې د الله له حدونو نه تېر شي، نو همدغه کسان ظالمان دي

فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُۥ مِنۢ بَعۡدُ حَتَّىٰ تَنكِحَ زَوۡجًا غَيۡرَهُۥۗ فَإِن

(230) نو که بيا يې هغه (په دريم ځلي) طلاقه کړه، نو له دې نه پس هغه د ده لپاره

طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ أَن
يَتَرَاجَعَآ إِن ظَنَّآ أَن يُقِيمَا حُدُودَ
ٱللَّهِۗ وَتِلْكَ حُدُودُ ٱللَّهِ يُبَيِّنُهَا
لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٢٣٠﴾

حلاله نه ده تر هغه پورې چې هغه (ښځه له عدت نه پس) له ده نه غېر بل خاوند سره نکاح وکړي، بيا که هغه (دويم خاوند) دا طلاقه کړه، نو په دې دواړو (ښځه او پخواني خاوند) باندې هېڅ ګناه نشته چې دواړه (له عدت نه پس په نوې نکاح سره) يو بل ته رجوع وکړي، که دواړه دا خيال کوي چې دوی به د الله حکمونه پوره کړي، او دا د الله حکمونه دي، دا د هغه قوم لپاره بيانوي چې پوهېږي

وَإِذَا طَلَّقْتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَبَلَغْنَ
أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ
سَرِّحُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍۚ وَلَا
تُمْسِكُوهُنَّ ضِرَارًا لِّتَعْتَدُواْۚ وَمَن
يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُۥۚ
وَلَا تَتَّخِذُوٓاْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ هُزُوًاۚ
وَٱذْكُرُواْ نِعْمَتَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ
وَمَآ أَنزَلَ عَلَيْكُم مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ
وَٱلْحِكْمَةِ يَعِظُكُم بِهِۦۚ وَٱتَّقُواْ
ٱللَّهَ وَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ
شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٢٣١﴾

(231) او کله چې تاسو ښځې طلاقې کړئ، بيا هغوی خپلې (د عدت اخري) مودې ته نږدې شي، نو دوی په ښې طريقې سره ايسارې کړئ (په رجوع کولو سره)، يا هغوی په ښې طريقې سره رخصت کړئ، او د ضرر رسولو لپاره هغوی مه ايساروئ چې زياتی وکړئ، او چا چې دغه (کارونه) وکړل، نو يقيناً هغه پر ځان ظلم وکړ او د الله ايتونه مسخره مه جوړوئ او پر تاسو باندې (شوې) د الله نعمتونه ياد کړئ او هغه چې الله پر تاسو باندې نازل کړی دی چې کتاب (قرآن) او حکمت (سنت) دی، هغه تاسو ته په دې سره

وعظ کوي، او له الله نه ووېرېږئ او پوه شئ چې يقينًا الله په هر شي باندې ښه پوه دی

وَإِذَا طَلَّقۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَبَلَغۡنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا تَعۡضُلُوهُنَّ أَن يَنكِحۡنَ أَزۡوَٰجَهُنَّ إِذَا تَرَٰضَوۡاْ بَيۡنَهُم بِٱلۡمَعۡرُوفِۗ ذَٰلِكَ يُوعَظُ بِهِۦ مَن كَانَ مِنكُمۡ يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۗ ذَٰلِكُمۡ أَزۡكَىٰ لَكُمۡ وَأَطۡهَرُۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ وَأَنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ٢٣٢

(232) او کله چې تاسو ښځو ته (رجعي) طلاق ورکړئ، بيا هغوی خپلې نېټې ته ورسېږي (او عدت يې پوره شي) نو تاسو دوی مه منع کوئ (له دې نه) چې دوی له خپلو پخوانيو خاوندانو سره (دوباره) نکاح وکړي، کله چې دوی په خپل مينځ کې د دستور مطابق راضي شي، دا (حکم چې دی)، په ده سره هغه چا ته وعظ کولی شي چې په تاسو کې پر الله او پر ورځ د اخرت ايمان لري، دا تاسو لپاره ډېر غوره او ډېر پاکيزه دی، او الله پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ

۞وَٱلۡوَٰلِدَٰتُ يُرۡضِعۡنَ أَوۡلَٰدَهُنَّ حَوۡلَيۡنِ كَامِلَيۡنِۖ لِمَنۡ أَرَادَ أَن يُتِمَّ ٱلرَّضَاعَةَۚ وَعَلَى ٱلۡمَوۡلُودِ لَهُۥ رِزۡقُهُنَّ وَكِسۡوَتُهُنَّ بِٱلۡمَعۡرُوفِۚ لَا تُكَلَّفُ نَفۡسٌ إِلَّا وُسۡعَهَاۚ لَا تُضَآرَّ وَٰلِدَةُۢ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوۡلُودٞ لَّهُۥ بِوَلَدِهِۦۚ وَعَلَى ٱلۡوَارِثِ مِثۡلُ ذَٰلِكَۗ فَإِنۡ أَرَادَا فِصَالًا عَن تَرَاضٖ

(233) او ميندې دې خپل اولاد ته پوره دوه کاله تی ورکوي، (دا حکم) د هغه چا لپاره دی چې د تي ورکولو موده پوره کول غواړي او د چا لپاره چې بچی دی په هغه باندې د دغو (ښځو) نفقه ده او د دوی جامه ده په ښې طريقې سره، هيڅوك هم مکلف کولی نشي مګر د هغه له وَس سره سم، ضرر دې ونه رسول شي مور ته د هغې د بچي په وجه، او نه د بچي پلار ته د هغه د بچي په وجه او په

مِّنۡهُمَا وَتَشَاوُرٖ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِمَاۗ وَإِنۡ أَرَدتُّمۡ أَن تَسۡتَرۡضِعُوٓاْ أَوۡلَٰدَكُمۡ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ إِذَا سَلَّمۡتُم مَّآ ءَاتَيۡتُم بِٱلۡمَعۡرُوفِۗ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ﴿٢٣٣﴾

وارث باندې د دې په مثل لازم دي، پس که دواړه د خپلمينځي رضامندۍ او مشورې سره له تي نه د پرېکولو اراده وکړي، نو په دې دواړه باندې هېڅ ګناه نشته او که تاسو خپل اولاد ته مُرضِعه (دايي) نيول غواړئ بيا (هم) پر تاسو باندې هېڅ ګناه نشته، کله چې هغه (مال) سپارئ چې تاسو يې ورکول غواړئ، په ښې طريقې سره، او له الله نه ووېرېږئ او پوه شئ چې يقيناً الله هغه څه لره ښه لېدونکی دی چې تاسو يې کوئ

وَٱلَّذِينَ يُتَوَفَّوۡنَ مِنكُمۡ وَيَذَرُونَ أَزۡوَٰجٗا يَتَرَبَّصۡنَ بِأَنفُسِهِنَّ أَرۡبَعَةَ أَشۡهُرٖ وَعَشۡرٗاۖ فَإِذَا بَلَغۡنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ فِيمَا فَعَلۡنَ فِيٓ أَنفُسِهِنَّ بِٱلۡمَعۡرُوفِۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ﴿٢٣٤﴾

(234) او هغه کسان چې په تاسو کې مړه شي او ښځې پرېږدي، هغه ښځې دې څلور مياشتې او لس ورځې خپل ځانونه په انتظار کې ساتي، بيا چې کله هغوی خپلې نېټې ته ورسېږي (عدت يې پوره شي) نو پر تاسو باندې هېڅ ګناه نشته په هغه کار کې چې دوی يې د خپلو ځانونو په حق کې په ښې طريقې سره کوي، او الله پر هغو عملونو چې تاسو يې کوئ؛ ښه خبردار دی

وَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ فِيمَا عَرَّضۡتُم بِهِۦ مِنۡ خِطۡبَةِ ٱلنِّسَآءِ

(235) او پر تاسو باندې هېڅ ګناه نشته په هغه (خبره) کې چې په هغې سره تاسو د ښځو د غوښتنې اشاره کوئ، يا په خپلو

أَوۡ أَكۡنَنتُمۡ فِيٓ أَنفُسِكُمۡۚ عَلِمَ
ٱللَّهُ أَنَّكُمۡ سَتَذۡكُرُونَهُنَّ
وَلَٰكِن لَّا تُوَاعِدُوهُنَّ سِرًّا إِلَّآ
أَن تَقُولُواْ قَوۡلٗا مَّعۡرُوفٗاۚ وَلَا
تَعۡزِمُواْ عُقۡدَةَ ٱلنِّكَاحِ حَتَّىٰ يَبۡلُغَ
ٱلۡكِتَٰبُ أَجَلَهُۥۚ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ
يَعۡلَمُ مَا فِيٓ أَنفُسِكُمۡ فَٱحۡذَرُوهُۚ
وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٞ ٢٣٥

نفسونو کې يې پټه ساتئ، (له هغو سره نکاح کول) الله پوه دی چې يقينًا ژر دی چې تاسو به دوی يادوئ، او لېکن له دوی سره په پټه وعده مه کوئ، مگر دا چې مناسبه (تعريضي) خبره وکړئ، او د نکاح تړلو عزم مه کوئ تر هغه پورې چې فرض شوی (عدت) خپلې نېټې ته ورسېږي، او پوه شئ چې يقينًا الله پر هغه څه پوهېږي چې ستاسو په نفسونو کې دي، نو له هغه (الله) نه وېرېږئ، او پوه شئ چې يقينًا الله ډېر بخښونکی، ډېر تحمل کوونکی دی

لَّا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ إِن طَلَّقۡتُمُ
ٱلنِّسَآءَ مَا لَمۡ تَمَسُّوهُنَّ أَوۡ
تَفۡرِضُواْ لَهُنَّ فَرِيضَةٗۚ وَمَتِّعُوهُنَّ
عَلَى ٱلۡمُوسِعِ قَدَرُهُۥ وَعَلَى ٱلۡمُقۡتِرِ
قَدَرُهُۥ مَتَٰعَۢا بِٱلۡمَعۡرُوفِۖ حَقًّا عَلَى
ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٢٣٦

(236) پر تاسو باندې هېڅ بوج (مهر) نشته که تاسو ښځو ته طلاق ورکړئ څو پورې چې تاسو له هغوی سره کوروالی (جماع) کړی نه وي، يا مو د هغوی لپاره څه مهر مقرر کړی نه وي او دوی ته څه خرڅ، سامان ورکړئ، په مالدار باندې د هغه د اندازې مطابق ورکول لازم دي او په غريب باندې د هغه د اندازې سره سم لازم دي، له دستور سره سم ضروري سامان ورکول، (دا) په نېکي کوونکو باندې لازم دي

وَإِن طَلَّقۡتُمُوهُنَّ مِن قَبۡلِ أَن

(237) او که تاسو دوی ته طلاق ورکړئ

تَمَسُّوهُنَّ وَقَدۡ فَرَضۡتُمۡ لَهُنَّ فَرِيضَةٗ فَنِصۡفُ مَا فَرَضۡتُمۡ إِلَّآ أَن يَعۡفُونَ أَوۡ يَعۡفُوَاْ ٱلَّذِي بِيَدِهِۦ عُقۡدَةُ ٱلنِّكَاحِۚ وَأَن تَعۡفُوٓاْ أَقۡرَبُ لِلتَّقۡوَىٰۚ وَلَا تَنسَوُاْ ٱلۡفَضۡلَ بَيۡنَكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٌ ٢٣٧

مخکې له دې نه چې تاسو له هغوی سره کوروالی وکړئ، په دې حال کې چې تاسو د هغوی لپاره مهر مقرر کړی وي، نو د هغه (مهر) نیم ورکول لازم دي چې تاسو مقرر کړی دی مګر دا چې هغوی (ښځې) یې معاف کړي، یا هغه کس یې معاف کړي د چا په لاس کې چې د نکاح غوټه ده (خاوند ورکړی مهر ښځې ته پرېږدي)، او ستاسو معاف کول تقوىٰ ته ډېر نژدې دي، او په خپل مینځ کې احسان کول مه هېروئ، یقیناً الله هغو عملونو لره چې تاسو یې کوئ، ښه لیدونکی دی

حَٰفِظُواْ عَلَى ٱلصَّلَوَٰتِ وَٱلصَّلَوٰةِ ٱلۡوُسۡطَىٰ وَقُومُواْ لِلَّهِ قَٰنِتِينَ ٢٣٨

(238) د لمونځونو ساتنه کوئ او (خصوصًا) د ببخې منځني لمونځ، او الله ته ودرېږئ اطاعت کوونکي

فَإِنۡ خِفۡتُمۡ فَرِجَالًا أَوۡ رُكۡبَانٗاۖ فَإِذَآ أَمِنتُمۡ فَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَمَا عَلَّمَكُم مَّا لَمۡ تَكُونُواْ تَعۡلَمُونَ ٢٣٩

(239) بیا که وېرېدلئ، نو (لمونځ کوئ) پیاده، یا سواره، بیا چې کله په امن شئ، نو الله یادوئ څنګه چې یې تاسو ته هغه څه ښودلي دي چې تاسو (پرې) نه پوهېدئ

وَٱلَّذِينَ يُتَوَفَّوۡنَ مِنكُمۡ وَيَذَرُونَ

(240) او هغه کسان چې په تاسو کې مري او ښځې پرېږدي (نو په دوی باندې لازم دي

أَزۡوَٰجٗا وَصِيَّةٗ لِّأَزۡوَٰجِهِم مَّتَٰعًا إِلَى ٱلۡحَوۡلِ غَيۡرَ إِخۡرَاجٖۚ فَإِنۡ خَرَجۡنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ فِي مَا فَعَلۡنَ فِيٓ أَنفُسِهِنَّ مِن مَّعۡرُوفٖۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ٢٤٠

وصیت کول د خپلو ښځو لپاره تر یو کاله پورې د خرچ ورکولو، بې له وېستلو نه، نو که دوی (پخپله) ووتلې، نو پر تاسو باندې هېڅ گناه نشته په هغه څه کې چې دوی (ښځې) یې د خپلو ځانونو په باره کې کوي څه نېک کار، او الله ډېر غالب، ښه حکمت والا دی

وَلِلۡمُطَلَّقَٰتِ مَتَٰعُۢ بِٱلۡمَعۡرُوفِۖ حَقًّا عَلَى ٱلۡمُتَّقِينَ ٢٤١

**(241)** او د طلاق کړې شویو ښځو لپاره، له عُرف سره سم، سامان ورکول په کار دي، په متقیانو باندې (دا) لازم دي

كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ٢٤٢

**(242)** همدارنگه الله تاسو لپاره خپل ایتونه بیانوي، د دې لپاره چې تاسو پوه شئ

۞أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ خَرَجُواْ مِن دِيَٰرِهِمۡ وَهُمۡ أُلُوفٌ حَذَرَ ٱلۡمَوۡتِ فَقَالَ لَهُمُ ٱللَّهُ مُوتُواْ ثُمَّ أَحۡيَٰهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَشۡكُرُونَ ٢٤٣

**(243)** ایا تا هغه کسان نه دي لیدلي چې د مرگ له وېرې له خپلو کورونو نه وتلي وو، په دې حال کې چې هغوی زرگونه وو، پس الله دوی ته وویل: مړه شئ، بیا یې هغوی راژوندي کړل، یقینًا الله خامخا په خلقو باندې فضل کولو والا دی او لیکن اکثره خلق شکر نه وباسي

وَقَٰتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ٢٤٤

**(244)** او د الله په لاره کې جنگېږئ، او پوه شئ چې یقینًا الله ښه اورېدونکی، ښه عالم

دی

مَّن ذَا ٱلَّذِى يُقۡرِضُ ٱللَّهَ قَرۡضًا حَسَنًا فَيُضَٰعِفَهُۥ لَهُۥٓ أَضۡعَافًا كَثِيرَةًۚ وَٱللَّهُ يَقۡبِضُ وَيَبۡصُۜطُ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ٢٤٥

(245) څوك دی هغه کس چې الله ته قرض ورکوي، قرضِ حسنه، نو هغه (الله ) به د هغه لپاره دا (قرض) زيات کړي په ډېرو زياتولو سره، او الله تنګي راولي او (هغه) فراخي راولي، او تاسو به خاص هغه ته بېرته ورګرځول کېږئ

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلۡمَلَإِ مِنۢ بَنِىٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ مِنۢ بَعۡدِ مُوسَىٰٓ إِذۡ قَالُواْ لِنَبِىّٖ لَّهُمُ ٱبۡعَثۡ لَنَا مَلِكٗا نُّقَٰتِلۡ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِۖ قَالَ هَلۡ عَسَيۡتُمۡ إِن كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡقِتَالُ أَلَّا تُقَٰتِلُواْۖ قَالُواْ وَمَا لَنَآ أَلَّا نُقَٰتِلَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَقَدۡ أُخۡرِجۡنَا مِن دِيَٰرِنَا وَأَبۡنَآئِنَاۖ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقِتَالُ تَوَلَّوۡاْ إِلَّا قَلِيلٗا مِّنۡهُمۡۚ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ٢٤٦

(246) ايا تا له موسیٰ نه بعد راغليو، د بني اسرائيلو سردارانو ته نه دي کتلي، کله چې هغوی خپل نبي ته وويل: زمونږ لپاره يو بادشاه مقرر کړه چې مونږ د الله په لاره کې جنګ وکړو، هغه نبي وويل: ايا تاسو نږدې يئ که پر تاسو باندې جنګ کول فرض کړی شي دا چې جنګ به ونه کړئ؟ هغوی وويل: او مونږ لره څه (موانع) دي چې د الله په لاره کې به جنګ نه کوو، حال دا چې مونږ له خپلو کورونو او خپلو زامنو نه وېستل شوي يو، بيا چې کله پر هغوی باندې جنګ کول فرض کړی شول، نو هغوی (له خپلې خبرې نه) وګرځېدل، مګر له هغوی څخه ډېر لږ (خلق ونه ګرځېدل) او الله په ظالمانو باندې ښه پوه

دی

وَقَالَ لَهُمۡ نَبِيُّهُمۡ إِنَّ ٱللَّهَ قَدۡ بَعَثَ لَكُمۡ طَالُوتَ مَلِكٗاۚ قَالُوٓاْ أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُ ٱلۡمُلۡكُ عَلَيۡنَا وَنَحۡنُ أَحَقُّ بِٱلۡمُلۡكِ مِنۡهُ وَلَمۡ يُؤۡتَ سَعَةٗ مِّنَ ٱلۡمَالِۚ قَالَ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصۡطَفَىٰهُ عَلَيۡكُمۡ وَزَادَهُۥ بَسۡطَةٗ فِي ٱلۡعِلۡمِ وَٱلۡجِسۡمِۖ وَٱللَّهُ يُؤۡتِي مُلۡكَهُۥ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٞ ﴿٢٤٧﴾

(247) او دوی ته خپل نبي وویل: بېشکه الله تاسو لپاره یقینًا طالوت بادشاه مقرر کړی دی، هغوی وویل: د هغه لپاره پر مونږه باندې بادشاهي څنګه کېدی شي، حال دا چې مونږ له هغه نه د بادشاهۍ زیات حقدار یو، او هغه ته د مال فراخي (هم) نه ده ورکړی شوې، هغه (نبي) وویل: یقینًا الله هغه پر تاسو باندې غوره کړی دی، او هغه ته یې په جسم او علم کې زیاته فراخي ورکړې ده، او الله خپله بادشاهي ورکوي چا ته چې یې وغواړي، او الله فراخه فضل والا، ښه عالم دی

وَقَالَ لَهُمۡ نَبِيُّهُمۡ إِنَّ ءَايَةَ مُلۡكِهِۦٓ أَن يَأۡتِيَكُمُ ٱلتَّابُوتُ فِيهِ سَكِينَةٞ مِّن رَّبِّكُمۡ وَبَقِيَّةٞ مِّمَّا تَرَكَ ءَالُ مُوسَىٰ وَءَالُ هَٰرُونَ تَحۡمِلُهُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لَّكُمۡ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿٢٤٨﴾

(248) او دوی ته خپل نبي وویل: بېشکه د ده د باشاهۍ نښه دا ده چې تاسو ته به صندوق راشي چې په هغه کې ستاسو د رب له جانبه سکینت (د زړه ارام) دی او باقي پاتې شوني له هغو (څیزونو) نه چې الِ موسٰی او الِ هارون پرېښي وو، چې ملایکو به راپورته کړې وي، یقینًا په دې کې تاسو لپاره خامخا لویه نښه ده که تاسو ایمان لرونکي یئ

فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوتُ بِٱلۡجُنُودِ قَالَ

(249) نو کله چې طالوت سره د لښکرو

إِنَّ ٱللَّهَ مُبۡتَلِيكُم بِنَهَرٖ فَمَن شَرِبَ مِنۡهُ فَلَيۡسَ مِنِّي وَمَن لَّمۡ يَطۡعَمۡهُ فَإِنَّهُۥ مِنِّيٓ إِلَّا مَنِ ٱغۡتَرَفَ غُرۡفَةَۢ بِيَدِهِۦۚ فَشَرِبُواْ مِنۡهُ إِلَّا قَلِيلٗا مِّنۡهُمۡۚ فَلَمَّا جَاوَزَهُۥ هُوَ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ قَالُواْ لَا طَاقَةَ لَنَا ٱلۡيَوۡمَ بِجَالُوتَ وَجُنُودِهِۦۚ قَالَ ٱلَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَٰقُواْ ٱللَّهِ كَم مِّن فِئَةٖ قَلِيلَةٍ غَلَبَتۡ فِئَةٗ كَثِيرَةَۢ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿٢٤٩﴾

راووت، ويې ويل: يقينًا الله په يوې ولِې سره ستاسو ازمايش كوونكى دى، نو څوك چې له هغې نه اوبه وڅښي، نو هغه زما له ملګرو نه نه دى، او څوك چې هغه ونه څكي، نو بېشكه هغه زما له ملګرو څخه دى مګر هغه څوك چې په خپل لاس سره يو چونګ (اوبه) راواخلي، نو هغوى له هغې (ولې) نه اوبه وڅښلې مګر له دوى نه ډېرو لږو (خلقو ونه څښلې) نو كله چې دى (طالوت) او هغه كسان چې له ده سره يې ايمان راوړى و له هغې نه پورې وتل، (مخالفت كوونكو وويل:) نن ورځ زمونږ لپاره د جالوت او د هغه د لښكرو په مقابله كې هېڅ طاقت نشته، او وويل هغو كسانو چې يقين يې لاره چې بېشكه دوى له الله سره ملاقات كوونكي دي: څومره ډېر ځلي ډېره وړه ډله په ډېرې لويې ډلې باندې د الله په حكم سره غالبه شوې ده، او الله د صبر كوونكو ملګرى دى

وَلَمَّا بَرَزُواْ لِجَالُوتَ وَجُنُودِهِۦ قَالُواْ رَبَّنَآ أَفۡرِغۡ عَلَيۡنَا صَبۡرٗا وَثَبِّتۡ أَقۡدَامَنَا وَٱنصُرۡنَا عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٢٥٠﴾

(250) او كله چې هغوى د جالوت او د هغه د لښكرو د مقابلې لپاره (ميدان ته) راووتل، ويې ويل: اى زمونږه ربه! راخوشې كړه پر مونږ باندې صبر، او زمونږ قدمونه ټينګ (كلك)

کړه، او د کافر قوم په مقابله کې زمونږ مدد وکړه

فَهَزَمُوهُم بِإِذْنِ ٱللَّهِ وَقَتَلَ دَاوُۥدُ جَالُوتَ وَءَاتَىٰهُ ٱللَّهُ ٱلْمُلْكَ وَٱلْحِكْمَةَ وَعَلَّمَهُۥ مِمَّا يَشَآءُ ۗ وَلَوْلَا دَفْعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ ٱلْأَرْضُ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ ذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢٥١﴾

(251) نو دوی هغو ته د الله په حکم سره ماتې ورکړه، او داود جالوت لره قتل کړو، او الله هغه (داود) ته بادشاهي او حکمت ورکړ، او هغه ته يې له هغو (څيزونو) نه ښودنه وکړه چې (الله) غوښتل او که د الله لرې کول نه وی خلقو لره، د دوی ځينو لره په ځينو نورو سره (نو) ځمکه به خامخا ورانه شوې وی او ليکن الله په عالَمونو باندې د لوی فضل کولو والا دی

تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱللَّهِ نَتْلُوهَا عَلَيْكَ بِٱلْحَقِّ ۚ وَإِنَّكَ لَمِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٢٥٢﴾

(252) دا د الله ايتونه دي، مونږ دا په تا باندې په حقه سره لولو او يقيناً ته خامخا له رسولانو ځنې يې

۞ تِلْكَ ٱلرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۘ مِّنْهُم مَّن كَلَّمَ ٱللَّهُ ۖ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجَٰتٍ ۚ وَءَاتَيْنَا عِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ ٱلْبَيِّنَٰتِ وَأَيَّدْنَٰهُ بِرُوحِ ٱلْقُدُسِ ۗ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَا ٱقْتَتَلَ ٱلَّذِينَ مِنۢ بَعْدِهِم

(253) دا رسولان (دي)، مونږه د دوی ځينې په ځينو نورو باندې غوره کړي دي، له دوی نه ځينې هغه دي چې الله ورسره خبرې کړې دي، او د دوی د بعضو يې درجې اوچتې کړې دي، او مونږه د مريمې زوی عيسٰی ته ښکاره معجزې ورکړې دي، او مونږ هغه په روح القدس (پاك روح) سره قوي کړی دی، اوکه

مِّنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُ
وَلَٰكِنِ ٱخۡتَلَفُواْ فَمِنۡهُم مَّنۡ
ءَامَنَ وَمِنۡهُم مَّن كَفَرَۚ وَلَوۡ شَآءَ
ٱللَّهُ مَا ٱقۡتَتَلُواْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ
يَفۡعَلُ مَا يُرِيدُ ٢٥٣

الله غوښتلی، (نو) هغه کسان به په خپلو کې نه وو جنګېدلي، چې له دغو (رسولانو) نه پس وو، له دې نه وروسته چې دوی ته څرګندې نښې راغلې، او لېکن دوی اختلاف وکړ، نو په دوی کې ځینې هغه دي؛ چې ایمان یې راوړ، او ځینې په دوی کې هغه دي؛ چې کافر شول، او که الله غوښتلی، (نو) دوی به په خپلو کې نه وو جنګیدلي، او لېکن الله کوي هغه څه چې اراده یې وکړي

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنفِقُواْ مِمَّا
رَزَقۡنَٰكُم مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَ يَوۡمٞ
لَّا بَيۡعٞ فِيهِ وَلَا خُلَّةٞ وَلَا شَفَٰعَةٞۗ
وَٱلۡكَٰفِرُونَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ٢٥٤

(254) ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! له هغه (مال) نه څه حصه خرچ کوئ چې مونږ تاسو ته درکړی دی، مخکې له دې چې هغه ورځ راشي چې نه په هغې کې اخیستل خرڅول شته، او نه څه دوستانه، او نه څه سفارش، او همدا کافران ظالمان دي

ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُۚ
لَا تَأۡخُذُهُۥ سِنَةٞ وَلَا نَوۡمٞۚ لَّهُۥ مَا
فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ مَن
ذَا ٱلَّذِي يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ
يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡۖ
وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيۡءٖ مِّنۡ عِلۡمِهِۦٓ

(255) الله (چې دی) نشته هېڅ لایق د عبادت مګر هم دی دی، همېشه ژوندی دی، د ټول عالم انتظام کوونکی دی، پر ده نه پرکالي راځي، او نه خوب، خاص هم ده لره دي هغه څه چې په اسمانونو کې دي، او هغه څه چې په ځمکه کې دي، څوك دی هغه کس چې د ده په وړاندې به سفارش کوي

إِلَّا بِمَا شَآءَۚ وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفۡظُهُمَاۚ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ ﴿٢٥٥﴾

مگر د ده په اجازت سره؟ هغه پوهېږي پر هر هغه څه چې د دوی په وړاندې دي او پر هر هغه څه چې د دوی وروسته دي، او دوی (مخلوق) د هغه له علم نه هېڅ شی هم نشي راګېرولی، مگر هغه څه چې هغه (الله) یې وغواړي، د هغه کرسۍ اسمانونه او ځمکه راځای کړي (راګېر) کړي دي او د دې دواړو ساتنه هغه (الله) نه ستړی کوي، او هم هغه ډېر اوچت دی، ډېر لوی دی

لَآ إِكۡرَاهَ فِي ٱلدِّينِۖ قَد تَّبَيَّنَ ٱلرُّشۡدُ مِنَ ٱلۡغَيِّۚ فَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلطَّٰغُوتِ وَيُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱسۡتَمۡسَكَ بِٱلۡعُرۡوَةِ ٱلۡوُثۡقَىٰ لَا ٱنفِصَامَ لَهَاۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٥٦﴾

(256) په دین (منلو) کې هېڅ جبر نشته، یقینًا حقه لار له ګمراهۍ نه ښه څرګنده (بېله) شوې ده، نو چا چې له طاغوت (شیطان، بت) نه انکار وکړ او پر الله یې ایمان راوړ، نو یقینًا ده ډېره مضبوطه کړۍ ټینګه ونیوله، چې هغې لره هېڅ پرېکېدل نشته، او الله ښه اورېدونکی، ښه پوه دی

ٱللَّهُ وَلِيُّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يُخۡرِجُهُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَوۡلِيَآؤُهُمُ ٱلطَّٰغُوتُ يُخۡرِجُونَهُم مِّنَ ٱلنُّورِ إِلَى ٱلظُّلُمَٰتِۗ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ

(257) او الله د هغو کسانو دوست دی چې ایمان یې راوړی دی، هغه دوی لره له تیارو نه رڼا ته راوباسي، او هغه کسان چې کفر یې کړی دی؛ د هغوی دوستان شیطانان دي، دغه (شیطانان) دوی لره له رڼا نه تیارو ته وباسي، دغه کسان د اور ملګري دي، دوی به

هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٥٧﴾

په هغه کې همېشه وي

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِى حَآجَّ إِبْرَٰهِـۧمَ
فِى رَبِّهِۦٓ أَنْ ءَاتَىٰهُ ٱللَّهُ ٱلْمُلْكَ إِذْ
قَالَ إِبْرَٰهِـۧمُ رَبِّىَ ٱلَّذِى يُحْىِۦ
وَيُمِيتُ قَالَ أَنَا۠ أُحْىِۦ وَأُمِيتُ ۖ
قَالَ إِبْرَٰهِـۧمُ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَأْتِى
بِٱلشَّمْسِ مِنَ ٱلْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا
مِنَ ٱلْمَغْرِبِ فَبُهِتَ ٱلَّذِى كَفَرَ ۗ
وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ
ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٥٨﴾

(258) ایا تا هغه کس نه دی لیدلی (د هغه
په قصه نه یې خبر شوی) چې له ابراهیم سره
یې د ده د رب په باره کې جګړه وکړه، ځکه
چې الله هغه ته بادشاهي ورکړې وه؟ کله چې
ابراهیم وویل: زما رب هغه دی چې ژوندي
کول او مړه کول کوي، هغه وویل: زه ژوندي
کول او مړه کول کوم، ابراهیم وویل: پس
یقینًا الله لمر له مشرق نه راخېژوي، نو ته هغه
له مغرب نه راوخېژوه، نو هغه کس چې کفر
یې کړی و؛ حیرانه، ملامته شو، او الله داسې
ظالم قوم ته سمه لار نه ښیي

أَوْ كَٱلَّذِى مَرَّ عَلَىٰ قَرْيَةٍ وَهِىَ
خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا قَالَ أَنَّىٰ
يُحْىِۦ هَٰذِهِ ٱللَّهُ بَعْدَ مَوْتِهَا ۖ
فَأَمَاتَهُ ٱللَّهُ مِا۟ئَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهُۥ ۖ
قَالَ كَمْ لَبِثْتَ ۖ قَالَ لَبِثْتُ يَوْمًا
أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ۖ قَالَ بَل لَّبِثْتَ مِا۟ئَةَ
عَامٍ فَٱنظُرْ إِلَىٰ طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ
لَمْ يَتَسَنَّهْ ۖ وَٱنظُرْ إِلَىٰ حِمَارِكَ
وَلِنَجْعَلَكَ ءَايَةً لِّلنَّاسِ ۖ وَٱنظُرْ

(259) یا د هغه کس په شان، چې پر یو کلي
باندې تېر شو، او هغه (کلی) په خپلو چتونو
باندې راپرېوتی و، هغه وویل: الله به دا (د
کلي خلق د دوی) له مرګ نه پس څنګه
ژوندي کوي؟ نو الله هغه تر سلو کالو پورې مړ
وساته، بیا یې هغه راژوندی کړ، (الله) وویل:
څومره موده (داسې) پاتې شوی یې؟ هغه
وویل: زه یوه ورځ، یا د ورځې څه حصه
(داسې) پاتې شوی یم. هغه (الله) وویل:
بلکې ته سل کاله (داسې مړ) پاتې شوی یې،

إِلَى ٱلۡعِظَامِ كَيۡفَ نُنشِزُهَا ثُمَّ نَكۡسُوهَا لَحۡمٗاۚ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥ قَالَ أَعۡلَمُ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ﴿٢٥٩﴾

نو ته خپل خوراك او څښاك ته وګوره، چې خراب شوی نه دی او خپل خر ته وګوره، او د دې لپاره چې مونږ تا د خلقو لپاره نښه وګرځوو، او هډوکو ته وګوره، مونږ هغو ته څنګه حرکت ورکوو، په پورته کولو سره، بیا هغو ته غوښه وراغوندو، نو کله چې ده ته (دا حال) ښه څرګند شو، ویې ویل:زه پوهېږم چې یقینًا الله په هر شي باندې ښه قادر دی

وَإِذۡ قَالَ إِبۡرَٰهِـۧمُ رَبِّ أَرِنِي كَيۡفَ تُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰۖ قَالَ أَوَلَمۡ تُؤۡمِنۖ قَالَ بَلَىٰ وَلَٰكِن لِّيَطۡمَئِنَّ قَلۡبِيۖ قَالَ فَخُذۡ أَرۡبَعَةٗ مِّنَ ٱلطَّيۡرِ فَصُرۡهُنَّ إِلَيۡكَ ثُمَّ ٱجۡعَلۡ عَلَىٰ كُلِّ جَبَلٖ مِّنۡهُنَّ جُزۡءٗا ثُمَّ ٱدۡعُهُنَّ يَأۡتِينَكَ سَعۡيٗاۚ وَٱعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ﴿٢٦٠﴾

(260) او کله چې ابراهیم وویل: ای زما ربه! په ما باندې ووینه چې ته مړي څنګه ژوندي کوې؟ ویې ویل:ایا ته یقین نه لرې؟ هغه وویل: ولې نه! او لېکن د دې لپاره چې زما زړه مطمئن شي، (الله) وویل: نو له مرغانو نه څلور راونیسه، نو هغه خپلې خوا ته (له بلَدولو نه پس) ټکرې کړه، بیا له هغو څخه یوه یوه حصه په هر غره باندې کېږده، بیا هغوی راوبله، (نو) دغه به تا ته په منډو راځي، او پوه شه چې یقینًا الله ډېر غالب، ښه حکمت والا دی

مَّثَلُ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمۡوَٰلَهُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنۢبَتَتۡ

(261) د هغو کسانو مثال چې د الله په لار کې خپل مالونه لګوي د هغه داني په شان دی چې اوه وږي زرغون کړي، په هر وږي کې

سَبۡعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنۢبُلَةٖ مِّاْئَةُ
حَبَّةٖۗ وَٱللَّهُ يُضَٰعِفُ لِمَن يَشَآءُۚ
وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ (٢٦١)

سل داني وي، او الله (اجر) زياتوي د چا لپاره چې وغواړي، او الله ډېر فراخۍ والا، ښه پوه دی

ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمۡوَٰلَهُمۡ فِي سَبِيلِ
ٱللَّهِ ثُمَّ لَا يُتۡبِعُونَ مَآ أَنفَقُواْ مَنّٗا
وَلَآ أَذٗى لَّهُمۡ أَجۡرُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ
وَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ
يَحۡزَنُونَ (٢٦٢)

**(262)** هغه کسان چې خپل مالونه د الله په لاره کې لګوي، بيا دوی په خپل انفاق (خيرات) پسې احسان بارول نه کوي او نه ازار رسوي، خاص د دوی لپاره د خپل رب په نيز د دوی اجر دی، او نه به په دوی باندې څه وېره وي اونه به دوی غمژن کېږي

۞قَوۡلٞ مَّعۡرُوفٞ وَمَغۡفِرَةٌ خَيۡرٞ مِّن
صَدَقَةٖ يَتۡبَعُهَآ أَذٗىۗ وَٱللَّهُ غَنِيٌّ
حَلِيمٞ (٢٦٣)

**(263)** ښه خبره کول، او بخښنه کول، ډېر غوره دي له هغه خيرات نه چې په هغه پسې تکليف (تنګول) راځي، او الله ډېر بې پروا، ډېر تحمل والا دی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُبۡطِلُواْ
صَدَقَٰتِكُم بِٱلۡمَنِّ وَٱلۡأَذَىٰ
كَٱلَّذِي يُنفِقُ مَالَهُۥ رِئَآءَ ٱلنَّاسِ
وَلَا يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۖ
فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ صَفۡوَانٍ عَلَيۡهِ
تُرَابٞ فَأَصَابَهُۥ وَابِلٞ فَتَرَكَهُۥ
صَلۡدٗاۖ لَّا يَقۡدِرُونَ عَلَىٰ شَيۡءٖ مِّمَّا

**(264)** ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! خپل خيراتونه په احسان بارولو (زباتولو) او ضرر رسولو سره مه بربادوئ، د هغه کس په شان چې خلقو ته د ځان ښودني لپاره خپل مال خرچ کوي، او په الله او د اخرت پر ورځ ايمان نه لري، نو د ده مثال د هغه ښويې ګټې په شان دی؛ چې په هغې باندې څه لږه خاوره وي، بيا په هغې (ګټې) زوروَر باران

كَسَبُواْۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٢٦٤

وورېږي، نو هغه (ګټه) صفا پرېږدي، دوی به له هغو عملونو نه چې کړي يې دي، په هېڅ شي (ثواب) باندې قادره نشي، او الله داسې کافر قوم ته نېغه لار نه ښيي

وَمَثَلُ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمۡوَٰلَهُمُ ٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِ ٱللَّهِ وَتَثۡبِيتٗا مِّنۡ أَنفُسِهِمۡ كَمَثَلِ جَنَّةِۭ بِرَبۡوَةٍ أَصَابَهَا وَابِلٞ فَـَٔاتَتۡ أُكُلَهَا ضِعۡفَيۡنِ فَإِن لَّمۡ يُصِبۡهَا وَابِلٞ فَطَلّٞۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٌ ٢٦٥

(265) او د هغو کسانو مثال چې خپل مالونه د الله د رضا غوښتلو لپاره او د خپلو نفسونو د کلکوالي لپاره لګوي، د هغه باغ په شان دی؛ چې په نرمه خَړبَه ځمکه باندې وي؛ چې په هغه زورور باران وورېږي، نو دغه (باغ) خپلې مېوې دوه چنده وکړي، نو که پر هغه زورور باران ونه ورېږي، نو (هغه ته) نری باران (هم کافي دی) او الله هغو (کارونو) لره ښه ليدونکی دی، چې تاسو يې کوئ

أَيَوَدُّ أَحَدُكُمۡ أَن تَكُونَ لَهُۥ جَنَّةٞ مِّن نَّخِيلٖ وَأَعۡنَابٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ لَهُۥ فِيهَا مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ وَأَصَابَهُ ٱلۡكِبَرُ وَلَهُۥ ذُرِّيَّةٞ ضُعَفَآءُ فَأَصَابَهَآ إِعۡصَارٞ فِيهِ نَارٞ فَٱحۡتَرَقَتۡۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلۡأٓيَٰتِ لَعَلَّكُمۡ

(266) ايا په تاسو کې يو کس دا خوښوي چې د ده دې د کجورو، او انګورو داسې باغ وي چې د هغه له لاندې وَلې بهېږي او د ده لپاره په هغه (باغ) کې هر قسمه مېوې وي، په دې حال کې چې ده ته بُوډاوالی (زوړوالی) راشي او د ده کمزوري (واړه) بچي وي، پس پر دغه(باغ) داسې سخت باد راوالوزي چې په هغه کې اور وي، نو دا (باغ) بېخي وسوځي، همدارنګه الله تاسو لپاره ايتونه (نښې)

تَتَفَكَّرُونَ ﴿٢٦٦﴾

بیانوي؛ د دې لپاره چې تاسو ښه فکر وکړئ

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنفِقُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا كَسَبۡتُمۡ وَمِمَّآ أَخۡرَجۡنَا لَكُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِۖ وَلَا تَيَمَّمُواْ ٱلۡخَبِيثَ مِنۡهُ تُنفِقُونَ وَلَسۡتُم بِـَٔاخِذِيهِ إِلَّآ أَن تُغۡمِضُواْ فِيهِۚ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴿٢٦٧﴾

(267) ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی! له هغو پاکو (مالونو) نه انفاق کوئ چې تاسو ګټلي دي او له هغو (مالونو) نه چې مونږه تاسو لپاره له ځمکې نه را ایستلي دي، او له هغه (مال) ښخه چې تاسو يې خيرات کوئ، د بې کاره څيز اراده مه کوئ، حال دا چې تاسو (پخپله) د هغه اخيستونکي نه يئ مګر دا چې د ده په باره کې تاسو سترګې پټې کړئ، او پوه شئ چې يقيناً الله ډېر بې پروا، ډېر ستايل شوی دی

ٱلشَّيۡطَٰنُ يَعِدُكُمُ ٱلۡفَقۡرَ وَيَأۡمُرُكُم بِٱلۡفَحۡشَآءِۖ وَٱللَّهُ يَعِدُكُم مَّغۡفِرَةٗ مِّنۡهُ وَفَضۡلٗاۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٞ ﴿٢٦٨﴾

(268) شيطان تاسو له غريبۍ ښخه وېروي او تاسو ته د بې حيايۍ حکم کوي او الله تاسو سره له خپل جانب نه د مغفرت او فضل وعده کوي او الله فراخه فضل والا، ښه پوه دی

يُؤۡتِي ٱلۡحِكۡمَةَ مَن يَشَآءُۚ وَمَن يُؤۡتَ ٱلۡحِكۡمَةَ فَقَدۡ أُوتِيَ خَيۡرٗا كَثِيرٗاۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّآ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴿٢٦٩﴾

(269) چا ته چې وغواړي حکمت (د دين پوهه) ورکوي، او چا ته چې حکمت ورکړی شو، نو يقيناً هغه ته ډېر لوی خير ورکړی شو، او نصيحت نه اخلي مګر د خالص عقل خاوندان

وَمَآ أَنفَقۡتُم مِّن نَّفَقَةٍ أَوۡ نَذَرۡتُم مِّن نَّذۡرٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُهُۥۗ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ أَنصَارٍ ﴿٢٧٠﴾

(270) او تاسو چې څه خرچ هم ولګوئ، یا څه نذر هم (پر ځان) لازم کړئ؛ نو یقینًا الله پر هغو پوهېږي او د ظالمانو لپاره هېڅ مدد کوونکي نشته

إِن تُبۡدُواْ ٱلصَّدَقَٰتِ فَنِعِمَّا هِيَۖ وَإِن تُخۡفُوهَا وَتُؤۡتُوهَا ٱلۡفُقَرَآءَ فَهُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡۚ وَيُكَفِّرُ عَنكُم مِّن سَيِّـَٔاتِكُمۡۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ﴿٢٧١﴾

(271) که تاسو خیراتونه په ښکاره وکړئ، نو دا یو ښه کار دی او که تاسو دا په پټه وکړئ او فقیرانو ته یې ورکړئ، نو دا ستاسو لپاره ډېر غوره دي او هغه (الله) به له تاسو نه ستاسو ځینې ګناهونه لرې کړي، او الله پر هغو (کارونو) چې تاسو یې کوئ ؛ ښه خبردار دی

۞لَّيۡسَ عَلَيۡكَ هُدَىٰهُمۡ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَهۡدِي مَن يَشَآءُۗ وَمَا تُنفِقُواْ مِنۡ خَيۡرٖ فَلِأَنفُسِكُمۡۚ وَمَا تُنفِقُونَ إِلَّا ٱبۡتِغَآءَ وَجۡهِ ٱللَّهِۚ وَمَا تُنفِقُواْ مِنۡ خَيۡرٖ يُوَفَّ إِلَيۡكُمۡ وَأَنتُمۡ لَا تُظۡلَمُونَ ﴿٢٧٢﴾

(272) سمې لارې ته د دوی راړول ستا په ذمه نه دي او لېکن الله سمې لارې ته راړوي چا ته چې وغواړي، او هغه څه چې تاسو یې له مال څخه خرچ کوئ؛ نو ستاسو ځانونو لپاره (یې فایدې) دي او تاسو یواځې د الله د مخ لَتِوَنِې (رضا) لپاره انفاق کوئ، او هغه څه چې تاسو یې له مال څخه لګوئ (انفاق کوئ، نو) هغه به تاسو ته پوره پوره درکړی شي، په داسې حال کې چې پر تاسو به ظلم نه کېږي

لِلۡفُقَرَآءِ ٱلَّذِينَ أُحۡصِرُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ لَا يَسۡتَطِيعُونَ ضَرۡبٗا فِي

(273) (خیراتونه) د هغو فقیرو کسانو لپاره دي چې د الله په لاره کې ایسار کړی شوي

ٱلۡأَرۡضِ يَحۡسَبُهُمُ ٱلۡجَاهِلُ أَغۡنِيَآءَ مِنَ ٱلتَّعَفُّفِ تَعۡرِفُهُم بِسِيمَٰهُمۡ لَا يَسۡـَٔلُونَ ٱلنَّاسَ إِلۡحَافٗاۗ وَمَا تُنفِقُواْ مِنۡ خَيۡرٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٌ ٢٧٣

دي، په ځمکه کې د سفر کولو وَس نه لري، د ښه عفت (له سوال نه د ځان ساتلو) په وجه ناخبره کس پر دوی د غنيانو ګمان کوي، ته به دوی په خپلو علامو (سره) پېژنې، دوی له خلقو څخه په سختۍ سره (بې ضرورته) سوال نه کوي او هغه چې تاسو يې له مال څخه لګوئ، نو يقيناً الله پر هغه باندې ښه عالم دی

ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمۡوَٰلَهُم بِٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ سِرّٗا وَعَلَانِيَةٗ فَلَهُمۡ أَجۡرُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ وَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ٢٧٤

(274) هغه کسان چې خپل مالونه (د الله لپاره) لګوي په شپه کې او په ورځ کې، په پټه او په ښکاره، نو د دوی لپاره د خپل رب په نيز د دوی اجر دی، او نه به په دوی باندې څه وېره وي او نه به دوی غمژن کېږي

ٱلَّذِينَ يَأۡكُلُونَ ٱلرِّبَوٰاْ لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ ٱلَّذِي يَتَخَبَّطُهُ ٱلشَّيۡطَٰنُ مِنَ ٱلۡمَسِّۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَالُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡبَيۡعُ مِثۡلُ ٱلرِّبَوٰاْۗ وَأَحَلَّ ٱللَّهُ ٱلۡبَيۡعَ وَحَرَّمَ ٱلرِّبَوٰاْۚ فَمَن جَآءَهُۥ مَوۡعِظَةٞ مِّن رَّبِّهِۦ فَٱنتَهَىٰ فَلَهُۥ مَا سَلَفَ وَأَمۡرُهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِۖ وَمَنۡ عَادَ فَأُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا

(275) هغه کسان چې سود خوري ؛ دوی به (له قبرونو نه) نه پاڅېږي مګر په شان د پاڅېدلو د هغه کس چې شيطان هغه په لېونتوب سره بدحواسه کړی وي، دا ځکه چې يقيناً دوی ويلي دي چې ببشکه بيع خو د سود په شان ده، حال دا چې الله اخيستل خرڅول (بيع) حلال کړي دي او سود يې حرام کړی دی، پس چا ته چې د خپل رب له جانبه نصيحت راغی، نو دی (فوراً ) منع شو، نو د ده لپاره هغه څه (معاف) دي چې مخکې

خَٰلِدُونَ ﴿٢٧٥﴾

تېر شوي دي او د ده معامله الله ته حواله ده، او کوم کس چې (سود ته) بېرته راوګرځي، نو دغه کسان د اور والا دي، دوی به په هغه کې همېشه وي

يَمۡحَقُ ٱللَّهُ ٱلرِّبَوٰاْ وَيُرۡبِي ٱلصَّدَقَٰتِۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ ﴿٢٧٦﴾

(276) الله سود محوه کوي او خېراتونه (صدقې) زیاتوي، او الله هېڅ یو سخت ناشکره، سخت ګناهګار نه خوښوي

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ لَهُمۡ أَجۡرُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ وَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ﴿٢٧٧﴾

(277) بېشکه هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او نېك عملونه یې کړي دي، او لمونځ یې قایم کړی دی او زکات یې ورکړی دی، د دوی لپاره د خپل رب په نیز د دوی اجر دی، او نه به په دوی باندې څه وېره وي او نه به دوی غمژن کېږي

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَذَرُواْ مَا بَقِيَ مِنَ ٱلرِّبَوٰٓاْ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿٢٧٨﴾

(278) ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! له الله نه ووېرېږئ او هغه باقي پاتې سود پرېږدئ؛ که تاسو مومنان یئ

فَإِن لَّمۡ تَفۡعَلُواْ فَأۡذَنُواْ بِحَرۡبٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۖ وَإِن تُبۡتُمۡ فَلَكُمۡ رُءُوسُ أَمۡوَٰلِكُمۡ لَا تَظۡلِمُونَ

(279) نو که تاسو ( داسې) ونه کړل، نو تاسو د الله او د هغه د رسول له جانبه په جنګ کولو خبر شئ، او که چېرې تاسو توبه وباسئ، نو ستاسو رأس المال (اصل مال) ستاسو

وَلَا تُظۡلَمُونَ ٢٧٩

لپاره دی، مه تاسو ظلم کوئ او نه به پر تاسو ظلم کېږي

وَإِن كَانَ ذُو عُسۡرَةٖ فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ مَيۡسَرَةٖۚ وَأَن تَصَدَّقُواْ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٢٨٠

(280) او که هغه (قرض داری) تنگ لاسی وي، نو تر اسانی پورې مهلت ورکول دي، او خیراتي پرېښودل يې تاسو لپاره ډېر غوره دي؛ که تاسو پوهېږئ

وَٱتَّقُواْ يَوۡمٗا تُرۡجَعُونَ فِيهِ إِلَى ٱللَّهِۖ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفۡسٖ مَّا كَسَبَتۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ٢٨١

(281) او تاسو له هغې ورځې نه ووېرېږئ چې په هغې کې به تاسو الله ته بېرته ورگرځول کېږئ، بیا به هر نفس ته پوره پوره ورکړی شي بدل د هغه عمل چې ده کړی دی، او پر دوی به ظلم ونه کړی شي

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا تَدَايَنتُم بِدَيۡنٍ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى فَٱكۡتُبُوهُۚ وَلۡيَكۡتُب بَّيۡنَكُمۡ كَاتِبُۢ بِٱلۡعَدۡلِۚ وَلَا يَأۡبَ كَاتِبٌ أَن يَكۡتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ ٱللَّهُۚ فَلۡيَكۡتُبۡ وَلۡيُمۡلِلِ ٱلَّذِي عَلَيۡهِ ٱلۡحَقُّ وَلۡيَتَّقِ ٱللَّهَ رَبَّهُۥ وَلَا يَبۡخَسۡ مِنۡهُ شَيۡـٔٗاۚ فَإِن كَانَ ٱلَّذِي عَلَيۡهِ ٱلۡحَقُّ سَفِيهًا أَوۡ ضَعِيفًا أَوۡ لَا يَسۡتَطِيعُ أَن يُمِلَّ

(282) ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی! کله چې تاسو يو له بله سره تر ټاکلې نېټې پورې په قرضو معامله کوئ، نو هغه ولیکئ او ستاسو په مینځ کې دې لیکونکی په انصاف سره لیکل وکړي، او لیکونکی دې له لیکلو نه انکار نه کوي ؛ لکه څنگه چې الله ده ته ښودنه کړې ده، نو هغه دې لیکل وکړي، او هغه کس دې اِملاء (اقراري عبارت) ووايي ؛ په چا باندې چې حق دی، او له خپل پالونکي الله نه دې ووېرېږي، او له هغه (حق

هُــوَ فَلۡيُمۡلِــلۡ وَلِيُّــهُۥ بِٱلۡعَــدۡلِۚ وَٱسۡتَشۡــهِدُواْ شَــهِيدَيۡنِ مِــن رِّجَــالِكُمۡۖ فَــإِن لَّــمۡ يَكُونَــا رَجُلَيۡنِ فَرَجُلٞ وَٱمۡرَأَتَــانِ مِمَّن تَرۡضَوۡنَ مِنَ ٱلشُّــهَدَآءِ أَن تَضِــلَّ إِحۡــدَىٰهُمَا فَتُــذَكِّرَ إِحۡــدَىٰهُمَا ٱلۡأُخۡرَىٰۚ وَلَا يَــأۡبَ ٱلشُّــهَدَآءُ إِذَا مَا دُعُواْۚ وَلَا تَسۡـَٔمُوٓاْ أَن تَكۡتُبُوهُ صَــغِيرًا أَوۡ كَبِــيرًا إِلَىٰٓ أَجَلِــهِۦۚ ذَٰلِكُمۡ أَقۡسَطُ عِنــدَ ٱللَّهِ وَأَقۡــوَمُ لِلشَّهَٰدَةِ وَأَدۡنَىٰٓ أَلَّا تَرۡتَابُوٓاْ إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً حَاضِرَةٗ تُدِيرُونَهَا بَيۡنَكُمۡ فَلَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَــاحٌ أَلَّا تَكۡتُبُوهَــاۗ وَأَشۡــهِدُوٓاْ إِذَا تَبَــايَعۡتُمۡۚ وَلَا يُضَــآرَّ كَاتِــبٞ وَلَا شَهِيدٞۚ وَإِن تَفۡعَلُواْ فَإِنَّهُۥ فُسُــوقُۢ بِكُــمۡۗ وَٱتَّقُــواْ ٱللَّهَۖ وَيُعَلِّمُكُــمُ ٱللَّهُۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ﴿٢٨٢﴾

نه دې هېڅ شی نه کمَوي، بیا که چېرې هغه کس، په چا باندې چې حق دی؛ ناپوه وي، یا (بدني) کمزوری وي، یا پخپله د اِملاء (عبارت) ویلو طاقت نه لري، نو د هغه وَلي (واکدار) دې په انصاف سره املاء ووايي او تاسو له خپلو (مسلمانانو) سړیو نه دوه گواهان گواه ونیسئ، نو که دوه سړي گواهان نه وي، نو یو سړی او دوه ښځې(دې گواه شي) له هغو گواهانو څخه چې تاسو یې خوښَوئ، د دې لپاره چې که په دواړو کې له یوې نه هېر شي؛ نو په دوی کې یوه به یې بلې ته وریاد کړي او گواهان دې انکار نه کوي؛ چې کله هم راوبلل شي او د خپلې نېټې پورې (د هغه قرض) په لیکلو باندې مه تنگېږئ ؛ لږ وي، یا که ډېر وي، دا د الله په نیز ښه انصاف (والا کار) دی او گواهۍ لره ښه درست ساتونکی دی او ډېر قریب دی دې ته چې تاسو به شکیان نشئ مگر دا چې دا (معامله) لاس په لاس سودا وي چې تاسو هغه په خپل مینځ کې نغده اخلئ راخلئ، نو پر تاسو باندې څه گناه نشته چې دا (شان معامله) ونه لیکئ او کله چې په خپل مینځ کې اخیستل خرخول کوئ (نو) گواهان

ونیسئ او ضرر دې ونه رسول شي لیکونکي ته او نه ګواه ته او که تاسو (داسې) وکړئ، نو یقینًا دا نافرماني (ګناه) ده چې په تاسو پورې (نښتې) ده او له الله نه ووېرېږئ، او الله تاسو ته ښودنه کوي، او الله په هر شي باندې ښه پوه دی

وَإِن كُنتُمۡ عَلَىٰ سَفَرٖ وَلَمۡ تَجِدُواْ كَاتِبٗا فَرِهَٰنٞ مَّقۡبُوضَةٞۖ فَإِنۡ أَمِنَ بَعۡضُكُم بَعۡضٗا فَلۡيُؤَدِّ ٱلَّذِي ٱؤۡتُمِنَ أَمَٰنَتَهُۥ وَلۡيَتَّقِ ٱللَّهَ رَبَّهُۥۗ وَلَا تَكۡتُمُواْ ٱلشَّهَٰدَةَۚ وَمَن يَكۡتُمۡهَا فَإِنَّهُۥٓ ءَاثِمٞ قَلۡبُهُۥۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ عَلِيمٞ ﴿٢٨٣﴾

(283) او که چېرې تاسو په سفر باندې يئ او کوم ليکونکی مو ونه مونده، نو (جايز ده چې) قبض کړی شوې ګروي (رهن) واخلئ، نو که ستاسو بعضو په بعضو نورو باندې اعتبار وکړ (او ګروي يې وانه خيستله) بيا نو لازم ده چې امين ګڼل شوی کس دی د هغه (بايع) امانت (حق) ادا کړي، او له خپل پالونکي الله نه دې ووېرېږي، او ګواهي مه پټوئ، او چا چې دا پټه کړه، نو يقينًا د هغه زړه ګناهګار دی، او الله پر هغو (کارونو) چې تاسو يې کوئ؛ ښه پوه دی

لِّلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَإِن تُبۡدُواْ مَا فِيٓ أَنفُسِكُمۡ أَوۡ تُخۡفُوهُ يُحَاسِبۡكُم بِهِ ٱللَّهُۖ فَيَغۡفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ

(284) خاص د الله لپاره دي؛ څه چې په اسمانونو کې دي او څه چې په ځمکه کې دي او که تاسو هغه څه چې ستاسو په زړونو کې دي، ښکاره کړئ، يا هغه پټ کړئ (نو الله به له تاسو سره د هغه حساب کوي، بيا به چا ته

مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ٢٨٤

چې وغواړي بخښنه وکړي او چا ته چې وغواړي عذاب به ورکړي او الله په هر شي باندې ښه قادر دی

ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۚ كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّن رُّسُلِهِۦۚ وَقَالُواْ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۖ غُفۡرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيۡكَ ٱلۡمَصِيرُ ٢٨٥

(285) رسول پر هغه څه ایمان راوړی دی ؛ چې په ده باندې د خپل رب له جانبه نازل کړی شوی دی او مومنانو هم، ټولو ایمان راوړی دی په الله باندې او د هغه پر ملایکو او د هغه پر کتابونو او د هغه په رسولانو باندې (او وایې) مونږه د هغه (الله) په رسولانو کې د هیچا په مینځ کې تفریق نه کوو او وایې: مونږ واورېدل او مونږ خبره ومنله (مونږ) ستا (نه) بخښنه (غواړو) ای زمونږه ربه! او خاص تا ته بېرته درتګ دی

لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَاۚ لَهَا مَا كَسَبَتۡ وَعَلَيۡهَا مَا ٱكۡتَسَبَتۡۗ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذۡنَآ إِن نَّسِينَآ أَوۡ أَخۡطَأۡنَاۚ رَبَّنَا وَلَا تَحۡمِلۡ عَلَيۡنَآ إِصۡرٗا كَمَا حَمَلۡتَهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِنَاۚ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلۡنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِۦۖ وَٱعۡفُ عَنَّا وَٱغۡفِرۡ لَنَا وَٱرۡحَمۡنَآۚ أَنتَ مَوۡلَىٰنَا

(286) او الله هېڅ یو نفس نه مکلف کوي مګر د هغهٔ له وَس سره سم، د همدهٔ لپاره دي څه نېکۍ چې ده کړي دي او په همدغه (نفس) باندې دي څه (ګناهونه) چې ده کړي دي، ای زمونږه ربه! مونږ مه نیسه که مونږ (څه حکم) هېر کړو، یا مونږ غلطي وکړو، ای زمونږه ربه! او په مونږ باندې بوج مه ږده؛ لکه څنګه چې تا هغه (بوج) ایښی و په هغو خلقو باندې چې له مونږ نه مخکې وو، ای زمونږه

فَٱنصُرۡنَا عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٢٨٦

ربه! او پر مونږ باندې داسې څه مه راباروه چې په مونږ کې د هغو (د اوچتولو) هېڅ طاقت نه وي او مونږ ته معافي وکړه او مونږه وبخښه او پر مونږ رحم وکړه، هم ته زمونږ کارساز یې، نو د کافر قوم په خلاف ته زمونږ مدد وکړه

## سُورَةُ آلِ عِمۡرَانَ

## سورة آل عمران

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

الٓمٓ ١

(1) الف، لام، میم

ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُ ٢

(2) الله (چې دی) نشته هېڅ لايق د عبادت مګر هم دی دی، همېشه ژوندی دی، د ټول عالَم انتظام کوونکی دی

نَزَّلَ عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَأَنزَلَ ٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَ ٣

(3) هغهٔ په تا باندې په حقه سره کتاب نازل کړی دی چې د هغو (کتابونو) تصدیق کوونکی دی چې له ده نه مخکې وو، او تورات او انجیل یې نازل کړي دي

مِن قَبۡلُ هُدٗى لِّلنَّاسِ وَأَنزَلَ

(4) له ده نه مخکې، د خلقو د هدايت لپاره او

ٱلۡفُرۡقَانَۗ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدٞۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٞ ذُو ٱنتِقَامٍ ٤

فرقان يې نازل کړی دی، بېشکه هغه کسان چې د الله په ایتونو سره کافر شوي دي، د دوی لپاره ډېر سخت عذاب دی او الله ډېر غالب دی، انتقام والا دی

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَخۡفَىٰ عَلَيۡهِ شَيۡءٞ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ ٥

(5) یقینًا الله (چې دی) له هغه نه هېڅ شی نه دی پټ په ځمکه کې او نه په اسمان کې

هُوَ ٱلَّذِي يُصَوِّرُكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡحَامِ كَيۡفَ يَشَآءُۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٦

(6) دی همغه ذات دی چې په رَحِمونو کې ستاسو شکلونه (صورتونه) جوړوي څنګه چې وغواړي، نشته هېڅ لایق د عبادت مګر هم دی دی، چې ډېر غالبه، ښه حکمت والا دی

هُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ مِنۡهُ ءَايَٰتٞ مُّحۡكَمَٰتٌ هُنَّ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ وَأُخَرُ مُتَشَٰبِهَٰتٞۖ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمۡ زَيۡغٞ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَٰبَهَ مِنۡهُ ٱبۡتِغَآءَ ٱلۡفِتۡنَةِ وَٱبۡتِغَآءَ تَأۡوِيلِهِۦۖ وَمَا يَعۡلَمُ تَأۡوِيلَهُۥٓ إِلَّا ٱللَّهُۗ وَٱلرَّٰسِخُونَ فِي ٱلۡعِلۡمِ يَقُولُونَ ءَامَنَّا بِهِۦ كُلّٞ مِّنۡ عِندِ رَبِّنَاۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّآ أُوْلُواْ

(7) دی هغه ذات دی چې په تا باندې یې کتاب نازل کړی دی، په ده کې ځینې محکم (ښکاره مراد والا) ایتونه دي؛ چې هغه د کتاب اصل دي، نور یې متشابهات (پټ مراد والا) دي، نو هغه کسان چې د هغوی په زړونو کې کوږ والی دی؛ نو هغوی په هغو(ایتونو) پسې کېږي چې په دې (قرآن) کې متشابه (پټ مراد والا) دي، د فتنې لټولو لپاره او د هغو د مراد معلوملو لپاره، حال دا چې د هغوی په تاویل (مراد) باندې نه پوهېږي مګر الله، او هغه کسان چې په علم کې پاخه دي؛

ٱلۡأَلۡبَٰبِ ٧

هغوی وایي: مونږ پر ده ایمان راوړی دی، ټول (محکم او متشابه ایتونه)زمونږ د رب له جانبه دي، او نصیحت نه اخلي مګر د صفا عقل خاوندان

رَبَّنَا لَا تُزِغۡ قُلُوبَنَا بَعۡدَ إِذۡ هَدَيۡتَنَا وَهَبۡ لَنَا مِن لَّدُنكَ رَحۡمَةًۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡوَهَّابُ ٨

(8) (او وایي) ای زمونږه ربه! زمونږ زړونه مه کږوه وروسته له دې چې تا مونږ ته سمه لار وښودله او مونږ ته له خپلې خوا نه رحمت راکړه، یقینًا هم ته، (د نعمت او رحمت) بې حده عطا کوونکی یې

رَبَّنَآ إِنَّكَ جَامِعُ ٱلنَّاسِ لِيَوۡمٖ لَّا رَيۡبَ فِيهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُخۡلِفُ ٱلۡمِيعَادَ ٩

(9) ای زمونږه ربه! ببشکه ته خلقو لره جمع کوونکی یې په داسې ورځ کې چې په هغې کې هیڅ شك نشته، یقینًا الله د وعدې مخالفت نه کوي

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَن تُغۡنِيَ عَنۡهُمۡ أَمۡوَٰلُهُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُهُم مِّنَ ٱللَّهِ شَيۡـٔٗاۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ وَقُودُ ٱلنَّارِ ١٠

(10) ببشکه هغه کسان چې کفر یې کړی دی، هیڅ کله به هم د هغوی مالونه او اولادونه له دوی څخه د الله (له عذاب) نه هیڅ شی لرې نه کړی شي او همدغه کسان د اور خشاك دي

كَدَأۡبِ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا فَأَخَذَهُمُ

(11) (حال د دوی داسی دی) لکه حال (او عادت) د فرعونیانو او د هغو کسانو چې له دوی نه مخکې وو، چې زمونږ ایتونه به یې

ٱللَّهُ بِذُنُوبِهِمۡۗ وَٱللَّهُ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ١١

دروغ ګڼل، نو الله هغوی د خپلو ګناهونو په سبب ونیول او الله ډېر سخت عذاب ورکوونکی دی

قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ سَتُغۡلَبُونَ وَتُحۡشَرُونَ إِلَىٰ جَهَنَّمَۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ١٢

**(12)** ته ووایه هغو کسانو ته چې کفر یې کړی دی: ژر دی چې تاسو به مغلوب کړی شئ او جهنم ته به را یوځای (راجمع) کړی شئ او هغه بده استوګنه ده

قَدۡ كَانَ لَكُمۡ ءَايَةٞ فِي فِئَتَيۡنِ ٱلۡتَقَتَاۖ فِئَةٞ تُقَٰتِلُ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَأُخۡرَىٰ كَافِرَةٞ يَرَوۡنَهُم مِّثۡلَيۡهِمۡ رَأۡيَ ٱلۡعَيۡنِۚ وَٱللَّهُ يُؤَيِّدُ بِنَصۡرِهِۦ مَن يَشَآءُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبۡرَةٗ لِّأُوْلِي ٱلۡأَبۡصَٰرِ ١٣

**(13)** یقینًا شته تاسو لپاره لویه نښه په هغو دوه ډلو کې چې یو بل ته مخامخ شوې وې، یوه ډله د الله په لار کې جنګېدله او بله کافره وه، دوی به هغوی لره له خپل ځان نه دوه چنده (زیات) لیدل، د سترګو په لیدلو سره، او الله په خپل مدد سره قوت ورکوي (مضبوطوي) چا ته چې وغواړي، یقینًا په دې کې د سترګو خاوندانو لپاره خامخا عبرت (اونصیحت) دی

زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ ٱلشَّهَوَٰتِ مِنَ ٱلنِّسَآءِ وَٱلۡبَنِينَ وَٱلۡقَنَٰطِيرِ ٱلۡمُقَنطَرَةِ مِنَ ٱلذَّهَبِ وَٱلۡفِضَّةِ وَٱلۡخَيۡلِ ٱلۡمُسَوَّمَةِ وَٱلۡأَنۡعَٰمِ وَٱلۡحَرۡثِۗ ذَٰلِكَ مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ

**(14)** ښایسته کړی شوې ده خلقو ته مینه د مرغوبو خوندَوَرو شیانو چې ښځې دي او زامن دي او راجمع کړی شوي ډېر مالونه دي له سرو زرو نه او سپینو زرو نه او اسونو نه، چې نښه دار کړی شوي دي او له څارویو نه او

وَٱللَّهُ عِندَهُۥ حُسۡنُ ٱلۡمَـَٔابِ ١٤

فصل نه، دا د دنيايي ژوند سامان دی او له الله سره د ورګرځېدلو ښه ځای دی

۞قُلۡ أَؤُنَبِّئُكُم بِخَيۡرٖ مِّن ذَٰلِكُمۡۖ لِلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ عِندَ رَبِّهِمۡ جَنَّـٰتٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا وَأَزۡوَٰجٞ مُّطَهَّرَةٞ وَرِضۡوَٰنٞ مِّنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِٱلۡعِبَادِ ١٥

**(15)** ته (ورته) ووايه: ايا تاسو ته د داسې شيانو خبر درکړم چې له دغو (دنياوي خوندونو) نه ډېر ښه دي؟ د هغو کسانو لپاره چې پرهېزګاره دي، (هغه) د خپل رب په نيز باغونه دي چې د هغو له لاندې ولې بهېږي، چې په هغو کې به دوی تل ترتله وي او (د دوی لپاره) ښې پاکې ښځې دي او د الله له جانبه رضامندي (ده) او الله بنده ګانو لره ښه ليدونکی دی

ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ إِنَّنَآ ءَامَنَّا فَٱغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَا وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ١٦

**(16)** هغه کسان چې وايي: ای زموږه ربه! يقينًا موږ ايمان راوړی دی، نو موږ ته زموږ ګناهونه وبخښه او موږ د اور له عذابه وساته

ٱلصَّـٰبِرِينَ وَٱلصَّـٰدِقِينَ وَٱلۡقَٰنِتِينَ وَٱلۡمُنفِقِينَ وَٱلۡمُسۡتَغۡفِرِينَ بِٱلۡأَسۡحَارِ ١٧

**(17)** چې صبرکوونکي دي او رښتيا ويونکي دي او حکم منونکي دي او انفاق کوونکي دي او د شپو په اخر کې مغفرت غوښتونکي دي

شَهِدَ ٱللَّهُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَٱلۡمَلَـٰٓئِكَةُ وَأُوْلُواْ ٱلۡعِلۡمِ قَآئِمَۢا بِٱلۡقِسۡطِۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ

**(18)** الله ګواهي ورکړې ده د دې خبرې چې يقينًا نشته هېڅ لايق د عبادت مګر هم دی دی او ملايکو او د علم خاوندانو، (هم) په

ٱلۡحَكِيمُ ١٨

داسې حال کې چې دی په انصاف سره قایم دی، نشته هېڅ لایق د عبادت مگر هم دی دی چې ډېرغالب، ښه حکمت والا دی

إِنَّ ٱلدِّينَ عِندَ ٱللَّهِ ٱلۡإِسۡلَٰمُۗ وَمَا
ٱخۡتَلَفَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّا
مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُ بَغۡيَۢا
بَيۡنَهُمۡۗ وَمَن يَكۡفُرۡ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ
فَإِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ١٩

(19) بېشکه (معتبر) دین د الله په نیز اسلام دی، او هغو کسانو، چې کتاب ورته ورکړی شوی دی، اختلاف نه دی کړی مگر وروسته له دې چې دوی ته علم راغلی، په خپل مینځ کې د ضد او سرکشۍ په سبب او هغه کس چې د الله په ایتونو باندې کافر شي، نو یقینًا الله ببېخي ژر حساب کوونکی دی

فَإِنۡ حَآجُّوكَ فَقُلۡ أَسۡلَمۡتُ
وَجۡهِيَ لِلَّهِ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِۗ وَقُل
لِّلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡأُمِّيِّـۧنَ
ءَأَسۡلَمۡتُمۡۚ فَإِنۡ أَسۡلَمُواْ فَقَدِ
ٱهۡتَدَواْۖ وَّإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّمَا عَلَيۡكَ
ٱلۡبَلَٰغُۗ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِٱلۡعِبَادِ ٢٠

(20) بیا که چېرې دوی له تاسره جگړه کوي، نو ته ووایه: ما خپل مخ خاص الله ته تابع کړی دی او هغه چا هم (تابع کړی دی) چې زما پیروي کوي او ته هغو کسانو ته ووایه چې هغوی ته کتاب ورکړی شوی دی او اَمیانو (نالوستو) ته: ایا تاسو اسلام راوړئ؟ پس که دوی اسلام راوړ، نو یقینًا دوی سمه لار موندله او که وگرځېدل، پس بېشکه په تا باندې یواځې تبلیغ کول (د حق رسَول) دي او الله بنده گانو لره ښه لیدونکی دی

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ

(21) بېشکه هغه کسان چې د الله په ایتونو

وَيَقۡتُلُونَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ بِغَيۡرِ حَقّٖ وَيَقۡتُلُونَ ٱلَّذِينَ يَأۡمُرُونَ بِٱلۡقِسۡطِ مِنَ ٱلنَّاسِ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ٢١

كافران كېږي او نبيان ناحقه وژني او په خلقو كې هغه كسان وژني چې د انصاف كولو حكم كوي، نو هغوى ته د ډېرې دردوونكي عذاب زېرى وركړه

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ٢٢

(22) دا هغه كسان دي چې د دوى عملونه په دنيا او اخرت (دواړو) كې ضايع شوي دي او نشته د دوى لپاره هيڅوك مدد كوونكي

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُواْ نَصِيبٗا مِّنَ ٱلۡكِتَٰبِ يُدۡعَوۡنَ إِلَىٰ كِتَٰبِ ٱللَّهِ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَهُمۡ ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٞ مِّنۡهُمۡ وَهُم مُّعۡرِضُونَ ٢٣

(23) ايا تا نه دي كتلي هغو كسانو ته چې هغوى ته له كتاب نه څه حصه (د علم) وركړې شوې ده، دوى كتاب ته رابللى شي، د دې لپاره چې (دا كتاب) د دوى په مينځ كې فيصله وكړي، بيا په دوى كې يوه ډله مخ اړوي او دوى (همېشه) له حق نه مخ ګرځوونكي دي

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَالُواْ لَن تَمَسَّنَا ٱلنَّارُ إِلَّآ أَيَّامٗا مَّعۡدُودَٰتٖۖ وَغَرَّهُمۡ فِي دِينِهِم مَّا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ٢٤

(24) دا په دې سبب چې بېشكه دوى ويلي دي: مونږ ته به اور هېڅ كله هم را ونه رسېږي مګر څو په شمار ورځې او دوى په خپل دين كې هغو خبرو غولولي (دوكه كړي) دي چې دوى به له ځانه جوړولې

فَكَيۡفَ إِذَا جَمَعۡنَٰهُمۡ لِيَوۡمٖ لَّا

(25) نو څه حال به وي كله چې مونږ دوى د

رَيۡبَ فِيهِ وَوُفِّيَتۡ كُلُّ نَفۡسٖ مَّا كَسَبَتۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ٢٥

هغې ورځې (د فيصلې) لپاره راجمع كړو چې په هغې كې هېڅ شك نشته او هر نفس ته به (جزا د) هغه څه پوره پوره وركړى شي چې ده كړي دي او پر دوى به ظلم ونه كړى شي

قُلِ ٱللَّهُمَّ مَٰلِكَ ٱلۡمُلۡكِ تُؤۡتِي ٱلۡمُلۡكَ مَن تَشَآءُ وَتَنزِعُ ٱلۡمُلۡكَ مِمَّن تَشَآءُ وَتُعِزُّ مَن تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَن تَشَآءُۖ بِيَدِكَ ٱلۡخَيۡرُۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٢٦

(26) ته ووايه: اى الله!د بادشاهۍ مالكه! ته بادشاهي وركوې هغه چا ته چې وغواړې او بادشاهي ببرته اخلې له هغه چا نه چې وغواړې، چا ته چې وغواړې عزت وركوې او چا ته چې وغواړې ذلت وركوې، هم ستا په لاس كې خير دى، ببشكه ته په هر شي باندې ښه قادر يې

تُولِجُ ٱلَّيۡلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَتُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيۡلِۖ وَتُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ وَتُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتَ مِنَ ٱلۡحَيِّۖ وَتَرۡزُقُ مَن تَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٖ ٢٧

(27) ته شپه په ورځ كې ننباسې او ورځ په شپه كې ننباسې او ته ژوندى له مړي راوباسې او مړى له ژوندي راوباسې او چا ته چې وغواړې بې حسابه روزي وركوې

لَّا يَتَّخِذِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلۡكَٰفِرِينَ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ فَلَيۡسَ مِنَ ٱللَّهِ فِي شَيۡءٍ إِلَّآ أَن تَتَّقُواْ مِنۡهُمۡ تُقَىٰةٗۗ

(28) او مومنان دې له (خپلو) مومنانو نه غير كافرانو لره دوستان نه جوړوي، او څوك چې دا كار وكړي، نو نه دى (دغه كس) د الله (له دلي) نه په هېڅ شي كې، مگر دا چې تاسو له دغو (كافرو) نه ځان ساتل غواړئ، ځان

وَيُحَذِّرُكُمُ ٱللَّهُ نَفۡسَهُۥۗ وَإِلَى
ٱللَّهِ ٱلۡمَصِيرُ ﴿٢٨﴾

ساتنه، او الله تاسو له خپل ځان نه وېروي او خاص الله ته ورتلل دي

قُلۡ إِن تُخۡفُواْ مَا فِي صُدُورِكُمۡ أَوۡ
تُبۡدُوهُ يَعۡلَمۡهُ ٱللَّهُۗ وَيَعۡلَمُ مَا فِي
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَٱللَّهُ
عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ﴿٢٩﴾

(29) ته ووایه: که تاسو پټ ساتئ هغه څه چې ستاسو په سینو کې دي، یا هغه ښکاره کړئ، الله ته هغه معلوم دي، دی پوهېږي پر هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او پر هر هغه څه چې په ځمکه کې دي او الله په هر شي باندې ښه قادر دی

يَوۡمَ تَجِدُ كُلُّ نَفۡسٖ مَّا عَمِلَتۡ
مِنۡ خَيۡرٖ مُّحۡضَرٗا وَمَا عَمِلَتۡ مِن
سُوٓءٖ تَوَدُّ لَوۡ أَنَّ بَيۡنَهَا وَبَيۡنَهُۥٓ أَمَدَۢا
بَعِيدٗاۗ وَيُحَذِّرُكُمُ ٱللَّهُ نَفۡسَهُۥۗ
وَٱللَّهُ رَءُوفُۢ بِٱلۡعِبَادِ ﴿٣٠﴾

(30) په هغه ورځ کې چې هر نفس به هره هغه نېکي چې ده کړې وي، (خپلې مخې ته) حاضره ومومي او هره هغه بدي چې ده کړې ده (هغه هم)، دا (نفس) به ارزو کوي چې کاشکې د ده په مینځ کې او د هغې (بدۍ) په مینځ کې ډېر لرې مسافت وی او الله تاسو له خپل ځان نه وېروي او الله په بنده ګانو باندې ډېر نرمي کوونکی دی

قُلۡ إِن كُنتُمۡ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ
فَٱتَّبِعُونِي يُحۡبِبۡكُمُ ٱللَّهُ وَيَغۡفِرۡ
لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ
رَّحِيمٞ ﴿٣١﴾

(31) (اى نبي!) ته ووایه: که چېرې يئ تاسو چې له الله سره مینه کوئ، بیا نو زما اتباع وکړئ، الله به له تاسو سره مینه وکړي او تاسو ته به ستاسو ګناهونه وبخښي او الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی

قُلۡ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَۖ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٣٢﴾

(32) (اى نبي!) ته ووايه: د الله اطاعت كوئ او د (هغه د) رسول، بيا كه دوى وګرځېدل، نو بېشكه الله له كافرانو سره مينه نه كوي

۞إِنَّ ٱللَّهَ ٱصۡطَفَىٰٓ ءَادَمَ وَنُوحٗا وَءَالَ إِبۡرَٰهِيمَ وَءَالَ عِمۡرَٰنَ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٣٣﴾

(33) بېشكه الله په عالَمونو باندې ادم او نوح او الِ ابراهيم او الِ عمران غوره كړي دي

ذُرِّيَّةَۢ بَعۡضُهَا مِنۢ بَعۡضٖۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٣٤﴾

(34) په دې حال كې چې (دا داسې) نسل دى، چې ځينې د دوى له ځينو نورو دي او الله ښه اورېدونكى، ښه پوه دى

إِذۡ قَالَتِ ٱمۡرَأَتُ عِمۡرَٰنَ رَبِّ إِنِّي نَذَرۡتُ لَكَ مَا فِي بَطۡنِي مُحَرَّرٗا فَتَقَبَّلۡ مِنِّيٓۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٣٥﴾

(35) كله چې د عمران ښځې وويل: اى زما ربه! بېشكه ما تا لپاره نذر منلى دى د هغه چې زما په ګېډه كې دى، په دې حال كې چې ازاد به وي، نو ته يې له ما نه قبول كړه، بېشكه هم ته ښه اورېدونكى، ښه پوه يې

فَلَمَّا وَضَعَتۡهَا قَالَتۡ رَبِّ إِنِّي وَضَعۡتُهَآ أُنثَىٰ وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا وَضَعَتۡ وَلَيۡسَ ٱلذَّكَرُ كَٱلۡأُنثَىٰۖ وَإِنِّي سَمَّيۡتُهَا مَرۡيَمَ وَإِنِّيٓ أُعِيذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ

(36) نو كله چې دې هغه وزېږوله، دې وويل! اى زما ربه! بېشكه زه چې يم، ما هغه وزېږوله، چې ښځه (جينۍ) ده او الله ښه پوه دى پر هغه څه چې دې وزېږوه او نر (هلك) د ښځې (جينۍ) په شان نه دى او بېشكه ما دې ته مريم نوم كېښود، او بېشكه زه دا او د دې

ٱلرَّجِيمِ ٣٦

اولاد له شیطان رټل شوي نه ستا په حفاظت کې درکوم

فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُولٍ حَسَنٖ وَأَنۢبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنٗا وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّاۖ كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيۡهَا زَكَرِيَّا ٱلۡمِحۡرَابَ وَجَدَ عِندَهَا رِزۡقٗاۖ قَالَ يَٰمَرۡيَمُ أَنَّىٰ لَكِ هَٰذَاۖ قَالَتۡ هُوَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِۖ إِنَّ ٱللَّهَ يَرۡزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٍ ٣٧

(37) نو هغه د هغې رب په ډېرو ښو قبلولو سره قبوله کړه او هغه یې په ډېرو ښُکلو زرغونولو (لویَولو) سره زرغونه (لویه) کړه او هغه یې د زکریا په کفالت کې ورکړه کله چې به هم زکریا دې ته عبادت خانې ته ننوت (نو) له هغې سره به یې څه رزق (خوراك) مونده، هغه وویل: ای مریمې! تا ته دا له کومه کېږي؟ هغې وویل: داد الله له خوا راځي، یقینًا الله چې چا ته وغواړي بې حسابه روزي ورکوي

هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهُۥۖ قَالَ رَبِّ هَبۡ لِي مِن لَّدُنكَ ذُرِّيَّةٗ طَيِّبَةًۖ إِنَّكَ سَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ ٣٨

(38) په دغه ځای کې زکریا له خپل رب نه دعا وغوښته، ویې ویل:ای زما ربه! ما ته له خپلې خوا نه ښه پاکیزه اولاد راکړه، یقینًا ته د دعا ښه اورېدونکی یې

فَنَادَتۡهُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَهُوَ قَآئِمٞ يُصَلِّي فِي ٱلۡمِحۡرَابِ أَنَّ ٱللَّهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحۡيَىٰ مُصَدِّقَۢا بِكَلِمَةٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَسَيِّدٗا وَحَصُورٗا وَنَبِيّٗا مِّنَ

(39) نو ملایکو ده ته اواز وکړ، په داسې حال کې چې دی په عبادت خانه کې ولاړ و، لمونځ یې کاوه، دا چې ببشکه الله تا ته د یحیٰی زېرى درکوي، چې تصدیق کوونکی به وي د هغې کلمې چې د الله له طرفه ده، او

ٱلصَّٰلِحِينَ ٣٩

سردار به وي او ځان به ډېر منع کوونکی وي (له خواهشاتو نه) او نبي به وي له صالحانو نه

قَالَ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَٰمٞ وَقَدۡ بَلَغَنِيَ ٱلۡكِبَرُ وَٱمۡرَأَتِي عَاقِرٞۖ قَالَ كَذَٰلِكَ ٱللَّهُ يَفۡعَلُ مَا يَشَآءُ ٤٠

**(40)** ويې ويل:ای زما ربه! ما لره به هلك څنګه کيږي، حال دا چې په ما باندې بوډا والی (زوړ والی) راغلی دی او زما ښځه شنډه ده؟! هغه وويل: همداسې الله کوي څه چې وغواړي

قَالَ رَبِّ ٱجۡعَل لِّيٓ ءَايَةٗۖ قَالَ ءَايَتُكَ أَلَّا تُكَلِّمَ ٱلنَّاسَ ثَلَٰثَةَ أَيَّامٍ إِلَّا رَمۡزٗاۗ وَٱذۡكُر رَّبَّكَ كَثِيرٗا وَسَبِّحۡ بِٱلۡعَشِيِّ وَٱلۡإِبۡكَٰرِ ٤١

**(41)** ويې ويل: ای زما ربه! زما لپاره څه نښه مقرر کړه، هغه وويل: ستا نښه دا ده چې ته به له خلقو سره خبرې نشې کولی خو په اشارې سره، او ته خپل رب ډېر يادوه او د ورځې په اخر او اول کې تسبيح (پاکي) بيانوه

وَإِذۡ قَالَتِ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَٰمَرۡيَمُ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصۡطَفَىٰكِ وَطَهَّرَكِ وَٱصۡطَفَىٰكِ عَلَىٰ نِسَآءِ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٤٢

**(42)** او کله چې ملايکو وويل: ای مريمې! يقينًا الله ته غوره کړې يې او ته يې پاکه کړې يې او د ټول عالَم پر ښځو يې تا ته غوره والی درکړی دی

يَٰمَرۡيَمُ ٱقۡنُتِي لِرَبِّكِ وَٱسۡجُدِي وَٱرۡكَعِي مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ٤٣

**(43)** ای مريمې! د خپل رب فرمانبرداره شه او سجده کوه او له رکوع کوونکو سره رکوع کوه

ذَٰلِكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلۡغَيۡبِ نُوحِيهِ إِلَيۡكَۚ وَمَا كُنتَ لَدَيۡهِمۡ إِذۡ يُلۡقُونَ أَقۡلَٰمَهُمۡ أَيُّهُمۡ يَكۡفُلُ مَرۡيَمَ وَمَا كُنتَ لَدَيۡهِمۡ إِذۡ يَخۡتَصِمُونَ ﴿٤٤﴾

(44) دا د غيب له خبرونو څخه دي چې مونږه يې تا ته وحي کوو او ته له هغوی سره موجود نه وې کله چې هغوی خپل قلمونه غورځول، چې په دوی کې څوك د مريمې کفالت وکړي او ته له هغوی سره حاضر نه وې کله چې يې په خپلو کې جګړه کوله

إِذۡ قَالَتِ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَٰمَرۡيَمُ إِنَّ ٱللَّهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٖ مِّنۡهُ ٱسۡمُهُ ٱلۡمَسِيحُ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ وَجِيهٗا فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَمِنَ ٱلۡمُقَرَّبِينَ ﴿٤٥﴾

(45) کله چې ملايکو وويل: ای مريمې! بېشکه الله تا ته له خپل طرف نه د يوې کلمې زېری درکوي، چې د هغه نوم مسيح عيسٰی زوی د مريم دی، چې په دنيا او اخرت کې به ډېر مخور وي او له مُقرَبينو څخه به وي

وَيُكَلِّمُ ٱلنَّاسَ فِي ٱلۡمَهۡدِ وَكَهۡلٗا وَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٤٦﴾

(46) او له خلقو سره به خبرې کوي په زانګو (غېږ) کې او په پاخه عمر کې او وي به له صالحانو څخني

قَالَتۡ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي وَلَدٞ وَلَمۡ يَمۡسَسۡنِي بَشَرٞۖ قَالَ كَذَٰلِكِ ٱللَّهُ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُۚ إِذَا قَضَىٰٓ أَمۡرٗا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٤٧﴾

(47) هغې وويل: ای زما ربه! زما لپاره بچی څنګه کېدی شي،حال دا چې ما ته هېڅ يو بشر لاس (هم) نه دی راوړی؟! هغه (جبريل) وويل: همداسې الله پيدا کوي څه چې وغواړي، کله چې د يو کار اراده وکړي، نو بېشکه چې هغه (کار) ته همدا وايي: ’’وشه‘‘

نو هغه وشي

وَيُعَلِّمُهُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَ ﴿٤٨﴾

(48) او هغه ته به کتاب او حکمت او تورات او انجيل ورزده کوي

وَرَسُولًا إِلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ أَنِّي قَدۡ جِئۡتُكُم بِـَٔايَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ أَنِّيٓ أَخۡلُقُ لَكُم مِّنَ ٱلطِّينِ كَهَيۡـَٔةِ ٱلطَّيۡرِ فَأَنفُخُ فِيهِ فَيَكُونُ طَيۡرَۢا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۖ وَأُبۡرِئُ ٱلۡأَكۡمَهَ وَٱلۡأَبۡرَصَ وَأُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۖ وَأُنَبِّئُكُم بِمَا تَأۡكُلُونَ وَمَا تَدَّخِرُونَ فِي بُيُوتِكُمۡۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لَّكُمۡ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿٤٩﴾

(49) او بني اسرائيلو ته به رسول وي (چې ورته به وايي:) بېشکه زه چې يم، يقينًا ما تاسو ته ستاسو د رب له طرفه لويه نښه راوړې ده، چې يقينًا زه تاسو ته له خَټې نه د مرغۍ د شکل په شان (يو شی) جوړوم، بيا په دې (شکل) کې پوکی کوم، نو هغه به د الله په حکم سره الوتونکې مرغۍ شي، او زه مورزادي ړوند او د برګي مرض والا روغوم او مړي ژوندي کوم د الله په حکم سره، او تاسو خبروم پر هغه څه چې تاسو يې خورئ او پر هغه څه چې تاسو يې په خپلو کورونو کې ذخيره کوئ، بېشکه تاسو لپاره په دې کې خامخا لويه نښه ده که چېرې تاسو ايمان راوړونکي يئ

وَمُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيَّ مِنَ ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَلِأُحِلَّ لَكُم بَعۡضَ ٱلَّذِي حُرِّمَ عَلَيۡكُمۡۚ وَجِئۡتُكُم بِـَٔايَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ

(50) په دې حال کې چې تصديق کوونکی يم د هغه (کتاب) چې له ما نه مخکې و، چې تورات دی او د دې لپاره (راغلی يم) چې تاسو لپاره بعضې له هغو شيانو حلال کړم چې پر تاسو باندې حرام کړی شوي وو او ستاسو د

| | |
|---|---|
| وَأَطِيعُونِ ﴿٥٠﴾ | رب له طرفه نه ما تاسو ته واضحه نښه راوړې ده، نو له الله نه ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ |
| إِنَّ ٱللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمۡ فَٱعۡبُدُوهُۚ هَٰذَا صِرَٰطٞ مُّسۡتَقِيمٞ ﴿٥١﴾ | (51) بېشکه الله زما رب دی او ستاسو رب دی، نو د هغه عبادت کوئ، دا ډېره نېغه لار ده |
| ۞فَلَمَّآ أَحَسَّ عِيسَىٰ مِنۡهُمُ ٱلۡكُفۡرَ قَالَ مَنۡ أَنصَارِيٓ إِلَى ٱللَّهِۖ قَالَ ٱلۡحَوَارِيُّونَ نَحۡنُ أَنصَارُ ٱللَّهِ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَٱشۡهَدۡ بِأَنَّا مُسۡلِمُونَ ﴿٥٢﴾ | (52) نو عیسٰی چې کله له دوی څخه کفر ولیده، نو ویې ویل: د الله په طرف (تللو کې) څوك زما مددکوونکي دي؟ حواریانو وویل: مونږ د الله مددگار یو، مونږ پر الله ایمان راوړی دی او ته گواه شه پر دې چې بېشکه مونږ مسلمانان (فرمانبردار) یو |
| رَبَّنَآ ءَامَنَّا بِمَآ أَنزَلۡتَ وَٱتَّبَعۡنَا ٱلرَّسُولَ فَٱكۡتُبۡنَا مَعَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿٥٣﴾ | (53) ای زمونږه ربه! مونږ ایمان راوړی دی په هغه څه چې تا نازل کړي دي او مونږ د رسول تابعداري کړې ده، نو ته مونږه (د حق) له گواهي کوونکو سره ولیکه |
| وَمَكَرُواْ وَمَكَرَ ٱللَّهُۖ وَٱللَّهُ خَيۡرُ ٱلۡمَٰكِرِينَ ﴿٥٤﴾ | (54) او هغوی چلونه جوړ کړل او الله پټ تدبیر وکړ او الله له ټولو تدبیر کوونکو نه غوره دی |
| إِذۡ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَىٰٓ إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ وَمُطَهِّرُكَ مِنَ ٱلَّذِينَ | (55) کله چې الله وویل: ای عیسٰی! بېشکه زه تا لره پوره پوره اخیستونکی یم او د خپل |

كَفَرُواْ وَجَاعِلُ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوكَ
فَوۡقَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِلَىٰ يَوۡمِ
ٱلۡقِيَٰمَةِۖ ثُمَّ إِلَيَّ مَرۡجِعُكُمۡ
فَأَحۡكُمُ بَيۡنَكُمۡ فِيمَا كُنتُمۡ
فِيهِ تَخۡتَلِفُونَ ﴿٥٥﴾

ځان طرف ته ستا راپورته کوونکی یم او تا لره
له هغو کسانو نه پاکوونکی یم چې کفر يې
کړی دی او چا چې ستا پیروي کړې ده
هغوی لره د قیامت د ورځې پورې د هغو
کسانو له پاسه کوونکی یم؛ چې کفر يې کړی
دی، بیا خاص زما طرف ته ستاسو واپسي ده،
نو ستاسو په مینځ کې به د هغو خبرو په باره
کې فیصله کوم چې تاسو په کې اختلاف کاوه

فَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَأُعَذِّبُهُمۡ
عَذَابٗا شَدِيدٗا فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ
وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴿٥٦﴾

(56) پس هر چې هغه کسان دي چا چې
کفر کړی دی، نو هغوی ته به زه په دنیا او
اخرت کې ډېر سخت عذاب ورکوم او د دوی
لپاره به هیڅوک مددکوونکي نه وي

وَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ
ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَيُوَفِّيهِمۡ أُجُورَهُمۡۗ
وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٧﴾

(57) پاتې شو هغه کسان چا چې ایمان
راوړی دی او نیك عملونه يې کړي دي، نو
هغوی ته به (الله) د هغوی اجر پوره ورکړي او
الله له ظالمانو سره مینه نه کوي

ذَٰلِكَ نَتۡلُوهُ عَلَيۡكَ مِنَ ٱلۡأٓيَٰتِ
وَٱلذِّكۡرِ ٱلۡحَكِيمِ ﴿٥٨﴾

(58) دا دي چې مونږ يې له ایتونو او له
حکمته ډك نصیحت څخه پر تا لولو

إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ عِندَ ٱللَّهِ كَمَثَلِ
ءَادَمَۖ خَلَقَهُۥ مِن تُرَابٖ ثُمَّ قَالَ

(59) ببشکه د عیسٰی مثال د الله په نیز د
ادم د مثال په شان دی، الله هغه له خاورې

| | |
|---|---|
| لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٥٩﴾ | پيدا کړ، بيا يې هغه ته وويل: (پيدا) شه، پس (پيدا) شو |
| ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُن مِّنَ ٱلۡمُمۡتَرِينَ ﴿٦٠﴾ | (60) حق ستا د رب له جانبه دی، نو له شك كوونكو نه مه كېږه |
| فَمَنۡ حَآجَّكَ فِيهِ مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَكَ مِنَ ٱلۡعِلۡمِ فَقُلۡ تَعَالَوۡاْ نَدۡعُ أَبۡنَآءَنَا وَأَبۡنَآءَكُمۡ وَنِسَآءَنَا وَنِسَآءَكُمۡ وَأَنفُسَنَا وَأَنفُسَكُمۡ ثُمَّ نَبۡتَهِلۡ فَنَجۡعَل لَّعۡنَتَ ٱللَّهِ عَلَى ٱلۡكَٰذِبِينَ ﴿٦١﴾ | (61) نو څوك چې د ده (عيسٰى) په باره كې له تا سره جګړه كوي، وروسته له دې چې تا ته علم حاصل شو، نو ته ووايه: راځئ! چې مونږ راوبلو خپل زامن او ستاسو زامن او خپلې ښځې او ستاسو ښځې او خپل ځانونه او ستاسو ځانونه، بيا به په زارۍ سره دعا وكړو، نو پر دروغژنو به د الله لعنت وواېو |
| إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلۡقَصَصُ ٱلۡحَقُّۚ وَمَا مِنۡ إِلَٰهٍ إِلَّا ٱللَّهُۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٦٢﴾ | (62) بېشكه همدا حق بيان دى او نشته هېڅ برحق معبود مګر يواځې الله دى او بېشكه يواځې الله ډېر غالب، ښه حكمت والا دى |
| فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿٦٣﴾ | (63) نو كه دوى وګرځېدل، نو يقينًا الله پر فسادكوونكو ښه پوه دى |
| قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ كَلِمَةٖ سَوَآءِۭ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمۡ أَلَّا | (64) (اى نبي!) ته (دوى ته) ووايه: اى اهل كتابو! داسې كلمې ته راشئ چې زمونږ په مينځ كې او ستاسو په مينځ كې برابره ده، ادا |

نَعۡبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشۡرِكَ بِهِۦ
شَيۡـٔٗا وَلَا يَتَّخِذَ بَعۡضُنَا بَعۡضًا
أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِۚ فَإِن تَوَلَّوۡاْ
فَقُولُواْ ٱشۡهَدُواْ بِأَنَّا مُسۡلِمُونَ ٦٤

چې عبادت به نه کوو مګر يواځې د الله او له هغه سره به هېڅ شی نه شريکوو او زمونږ بعضې به بعضو نورو لره له الله نه غېر پالونکي (خدايان) نه نيسي، نو که دوی وګرځېدل، نو تاسو (ورته) ووايئ چې تاسو پر دې ګواه شئ چې يقينًا مونږ مسلمانان يو

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لِمَ تُحَآجُّونَ فِيٓ
إِبۡرَٰهِيمَ وَمَآ أُنزِلَتِ ٱلتَّوۡرَىٰةُ
وَٱلۡإِنجِيلُ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِهِۦٓۚ أَفَلَا
تَعۡقِلُونَ ٦٥

(65) ای اهل کتابو! ولې تاسو د ابراهيم په باره کې جګړه کوئ، حال دا چې تورات او انجيل نه وو نازل کړی شوي مګر له هغه نه وروسته، ايا نو ولې له عقل نه کار نه اخلئ!

هَٰٓأَنتُمۡ هَٰٓؤُلَآءِ حَٰجَجۡتُمۡ فِيمَا
لَكُم بِهِۦ عِلۡمٞ فَلِمَ تُحَآجُّونَ
فِيمَا لَيۡسَ لَكُم بِهِۦ عِلۡمٞۚ وَٱللَّهُ
يَعۡلَمُ وَأَنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ٦٦

(66) ګورئ! تاسو خصوصًا دغو، په هغه خبره کې جګړه وکړه چې تاسو ته د هغې څه علم و، نو په هغه خبره کې ولې جګړه کوئ چې تاسو ته د هغې هېڅ علم نشته؟ او الله پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ

مَا كَانَ إِبۡرَٰهِيمُ يَهُودِيّٗا وَلَا
نَصۡرَانِيّٗا وَلَٰكِن كَانَ حَنِيفٗا
مُّسۡلِمٗا وَمَا كَانَ مِنَ
ٱلۡمُشۡرِكِينَ ٦٧

(67) ابراهيم نه يهودي و او نه نصراني او لېکن حنيف (پوخ توحيد والا) مسلمان و او له مشرکانو څخه نه و

إِنَّ أَوۡلَى ٱلنَّاسِ بِإِبۡرَٰهِيمَ لَلَّذِينَ

(68) ببشکه په خلقو کې ابراهيم ته حقيقتًا

ٱتَّبَعُوهُ وَهَٰذَا ٱلنَّبِيُّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْۗ وَٱللَّهُ وَلِيُّ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٦٨

نژدې خامخا هغه كسان دي چا چې د هغه تابعداري كړې ده او دا نبي دى او هغه كسان دي چې ايمان يې راوړى دى او الله د مومنانو دوست دى

وَدَّت طَّآئِفَةٌ مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ لَوۡ يُضِلُّونَكُمۡ وَمَا يُضِلُّونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمۡ وَمَا يَشۡعُرُونَ ٦٩

(69) په اهل كتابو كې يوه ډله ستاسو د گمراه كولو ارزو لري او هغوى يواځې خپل ځانونه گمراه كوي او شعور نه لري

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لِمَ تَكۡفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَأَنتُمۡ تَشۡهَدُونَ ٧٠

(70) اى اهلِ كتابو! ولې د الله په ايتونو كافر كېږئ، حال دا چې تاسو (د هغو د حقانيت) گواهي وركوئ؟

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لِمَ تَلۡبِسُونَ ٱلۡحَقَّ بِٱلۡبَٰطِلِ وَتَكۡتُمُونَ ٱلۡحَقَّ وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٧١

(71) اى اهلِ كتابو! ولې تاسو حق له باطل سره گډوډ كوئ؟ او تاسو حق پټوئ، حال دا چې تاسو پوهېږئ

وَقَالَت طَّآئِفَةٌ مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ ءَامِنُواْ بِٱلَّذِيٓ أُنزِلَ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَجۡهَ ٱلنَّهَارِ وَٱكۡفُرُوٓاْ ءَاخِرَهُۥ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ٧٢

(72) او له اهلِ كتابو څخه يوې ډلې (بلې ډلې ته) وويل: تاسو په هغه (كتاب) باندې چې په مومنانو باندې نازل كړى شوى دى، د ورځې په اول كې (په ظاهره) ايمان راوړئ او د هغې (ورځې) په اخر كې(بيا) كافر شئ، د دې لپاره چې دوى (مومنان) راوگرځي

وَلَا تُؤۡمِنُوٓاْ إِلَّا لِمَن تَبِعَ دِينَكُمۡ قُلۡ إِنَّ ٱلۡهُدَىٰ هُدَى ٱللَّهِ أَن يُؤۡتَىٰٓ أَحَدٞ مِّثۡلَ مَآ أُوتِيتُمۡ أَوۡ يُحَآجُّوكُمۡ عِندَ رَبِّكُمۡۗ قُلۡ إِنَّ ٱلۡفَضۡلَ بِيَدِ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٞ ﴿٧٣﴾

(73) او (د دې) يقين مه کوئ مګر د هغه چا لپاره چې ستاسو د دين متابعت يې کړی وي (ای نبي!) ته ووايه: يقينًا اصل هدايت (او حق دين) خو د الله هدايت دی (او د دې يقين هم مه کوئ) دا چې يو چا ته به د هغو (فضايلو) په مثل ورکړی شي چې تاسو ته درکړی شوي دي، يا به دوی پر تاسو باندې د خپل رب په وړاندې غالبه شي، (ای نبي!) ته ووايه: بېشکه فضل د الله په لاس کې دی، چا ته چې وغواړي هغه ورکوي او الله فراخی والا دی، ښه پوه دی

يَخۡتَصُّ بِرَحۡمَتِهِۦ مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٧٤﴾

(74) په خپلې مهربانۍ سره خاص کوي چا ته چې وغواړي او الله د ډېر لوی فضل والا دی

۞وَمِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ مَنۡ إِن تَأۡمَنۡهُ بِقِنطَارٖ يُؤَدِّهِۦٓ إِلَيۡكَ وَمِنۡهُم مَّنۡ إِن تَأۡمَنۡهُ بِدِينَارٖ لَّا يُؤَدِّهِۦٓ إِلَيۡكَ إِلَّا مَا دُمۡتَ عَلَيۡهِ قَآئِمٗاۗ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَالُواْ لَيۡسَ عَلَيۡنَا فِي ٱلۡأُمِّيِّـۧنَ سَبِيلٞ وَيَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ

(75) او ځينې له اهلِ کتابو څخه هغه څوک دي چې که ته هغه ته ډېر مال امانت ورکړې، نو تا ته به هغه (مال) بېرته ادا کوي او ځينې له دوی نه هغه څوک دي چې که ته هغه ته يو دينار (هم) امانت ورکړې (نو) تا ته به هغه (دينار) بېرته نه ادا کوي مګر دا چې ته په (سر د) هغه مدام ولاړ اوسې، دا په دې چې

ٱلۡكَذِبَ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ٧٥

يقينًا دوی ویلي دي چې پر مونږ باندې د اَمیانو (د حق) په باره کې هېڅ ګناه نشته او په الله باندې دروغ ورتړي، حال دا چې دوی پوهېږي

بَلَىٰۚ مَنۡ أَوۡفَىٰ بِعَهۡدِهِۦ وَٱتَّقَىٰ فَإِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُتَّقِينَ ٧٦

(76) ولې نه! چا چې خپله وعده پوره کړه او پرهېزګاره شو، نو یقینًا الله پرهېزګاران خوښوي

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَشۡتَرُونَ بِعَهۡدِ ٱللَّهِ وَأَيۡمَٰنِهِمۡ ثَمَنٗا قَلِيلًا أُوْلَٰٓئِكَ لَا خَلَٰقَ لَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ ٱللَّهُ وَلَا يَنظُرُ إِلَيۡهِمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ٧٧

(77) ببشکه هغه کسان چې د الله (سره د کړې) وعدې او د خپلو قسمونو په بدل کې لږې پیسې اخلي، دغه کسان، د دوی لپاره په اخرت کې هېڅ برخه نشته او د قیامت په ورځ به الله له دوی سره نه خبرې کوي او نه به دوی ته ګوري او نه به دوی پاك کړي او د دوی لپاره ډېر دردوونکی عذاب دی

وَإِنَّ مِنۡهُمۡ لَفَرِيقٗا يَلۡوُۥنَ أَلۡسِنَتَهُم بِٱلۡكِتَٰبِ لِتَحۡسَبُوهُ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَمَا هُوَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَيَقُولُونَ هُوَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ وَمَا هُوَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِۖ وَيَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ٧٨

(78) او یقینًا یقینًا په دوی کې یوه ډله ده چې په (لوستو د) کتاب سره خپلې ژبې تاووي، د دې لپاره چې تاسو پر هغهٔ د (الله د) کتاب ګمان وکړئ، حال دا چې هغه له (حق) کتاب څخه نه دي، او دوی وایي چې ادا (مُحرَّف عبارتونه او تعبیرونه) د الله له جانبه دي، حال دا چې هغه د الله له جانبه نه دي،

او دوی په الله باندې دروغ تړي، حال دا چې
دوی پوهېږي

مَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُؤۡتِيَهُ ٱللَّهُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحُكۡمَ وَٱلنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُولَ لِلنَّاسِ كُونُواْ عِبَادٗا لِّي مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَٰكِن كُونُواْ رَبَّٰنِيِّـۧنَ بِمَا كُنتُمۡ تُعَلِّمُونَ ٱلۡكِتَٰبَ وَبِمَا كُنتُمۡ تَدۡرُسُونَ ٧٩

(79) هېڅ یو انسان ته دا حق نه دی حاصل چې الله هغه ته کتاب او حکم او نبوت (پیغمبري) ورکړي، بیا دې هغه، خلقو ته وایي چې له الله نه غیر زما بنده ګان (عبادت کوونکي) شئ، او لېکن (هغه خو به وایي چې) تاسو الهي خلق شئ (په علم باندې عمل کوونکي شئ) ځکه چې تاسو د کتاب ښودنه کوئ او په دې چې تاسو زده کړه کوئ

وَلَا يَأۡمُرَكُمۡ أَن تَتَّخِذُواْ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ أَرۡبَابًاۗ أَيَأۡمُرُكُم بِٱلۡكُفۡرِ بَعۡدَ إِذۡ أَنتُم مُّسۡلِمُونَ ٨٠

(80) او نه (ورته) دا (حق حاصل دی) چې تاسو ته حکم درکړي چې تاسو ملایکو او نبیانو لره پروردګاران (خدایان) ونیسئ، ایا هغه به تاسو ته د کفر کولو حکم کوي وروسته له دې چې تاسو مسلمانان یئ؟

وَإِذۡ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ لَمَآ ءَاتَيۡتُكُم مِّن كِتَٰبٖ وَحِكۡمَةٖ ثُمَّ جَآءَكُمۡ رَسُولٞ مُّصَدِّقٞ لِّمَا مَعَكُمۡ لَتُؤۡمِنُنَّ بِهِۦ وَلَتَنصُرُنَّهُۥۚ قَالَ ءَأَقۡرَرۡتُمۡ وَأَخَذۡتُمۡ عَلَىٰ

(81) او کله چې الله د نبیانو (نه) پخه وعده واخیسته چې هر هغه څه چې زه يې تاسو ته له کتاب او حکمته درکړم، بیا تاسو ته یو رسول راشي چې د هغه څه تصدیق کوونکی وي چې له تاسو سره دي (نو) تاسو به خامخا پر هغه ایمان راوړئ او خامخا به د هغه مدد

ذَٰلِكُمۡ إِصۡرِيۖ قَالُوٓاْ أَقۡرَرۡنَاۚ قَالَ
فَٱشۡهَدُواْ وَأَنَا۠ مَعَكُم مِّنَ
ٱلشَّٰهِدِينَ ٨١

کوئ، (الله) وويل: ايا تاسو اقرار وکړ او په دې باندې تاسو زما درنه وعده قبوله کړه، هغوی وويل: مونږ اقرار وکړ، (الله) وويل: نو تاسو گواه شئ او زه (هم) تاسو سره له گواهانو څخه يم

فَمَن تَوَلَّىٰ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ
هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ٨٢

(82) نو څوك چې له دې نه بعد وگرځېده، نو همدغه خلق فاسقان دي

أَفَغَيۡرَ دِينِ ٱللَّهِ يَبۡغُونَ وَلَهُۥٓ
أَسۡلَمَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ
طَوۡعٗا وَكَرۡهٗا وَإِلَيۡهِ يُرۡجَعُونَ ٨٣

(83) ايا نو دوی د الله له دين نه غير (بل دين) غواړي، حال دا چې خاص هغه (الله) ته غاړه ايښې ده، هر هغه څه چې په اسمانونو او ځمکه کې دي، په خوښه، يا په ناخوښه، او خاص هغه ته به دوی ورگرځولی شي

قُلۡ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ عَلَيۡنَا
وَمَآ أُنزِلَ عَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ
وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَٱلۡأَسۡبَاطِ وَمَآ
أُوتِيَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَٱلنَّبِيُّونَ
مِن رَّبِّهِمۡ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ
مِّنۡهُمۡ وَنَحۡنُ لَهُۥ مُسۡلِمُونَ ٨٤

(84) ته ووايه: مونږ ايمان راوړی دی پر الله او پر هغه (کتاب) چې پر مونږه نازل کړی شوی دی او پر هغه څه چې په ابراهيم او سمٰعيل او اسحٰق او يعقوب او (د هغه) په اولادې باندې نازل کړی شوي دي او پر هغه څه چې موسٰی او عيسٰی او )نورو) نبيانو ته د خپل رب له جانبه ورکړی شوي دي، مونږ په دوی کې د هېڅ يو په مينځ کې فرق نه کوو او مونږ خاص د هغه (الله) حکم منونکي يو

وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن
يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ
ٱلۡخَٰسِرِينَ ٨٥

(85) او څوك چې له اسلام نه غېر (بل) دين غواړي، نو هېڅكله به هم له ده نه قبول نه كړى شي او دغه كس په اخرت كې له تاوانیانو څخه دى

كَيۡفَ يَهۡدِي ٱللَّهُ قَوۡمٗا كَفَرُواْ
بَعۡدَ إِيمَٰنِهِمۡ وَشَهِدُوٓاْ أَنَّ ٱلرَّسُولَ
حَقّٞ وَجَآءَهُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُۚ وَٱللَّهُ لَا
يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ٨٦

(86) الله به داسې قوم څنگه په سمه لار روان كړي چې له خپل ايمان راوړو نه بعد (بيا) كافر شول، حال دا چې دوى گواهي وركړې وه چې بېشكه دا رسول حق دى او دوى ته ښكاره معجزې (هم) راغلې وې او الله (داسې) ظالمو خلقو ته سمه لار نه ښَيي

أُوْلَٰٓئِكَ جَزَآؤُهُمۡ أَنَّ عَلَيۡهِمۡ لَعۡنَةَ
ٱللَّهِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلنَّاسِ
أَجۡمَعِينَ ٨٧

(87) دغه خلق، د دوى جزا دا ده چې يقينًا په دوى باندې د الله لعنت دى او د ملايكو او د خلقو، د ټولو (لعنت دى)

خَٰلِدِينَ فِيهَا لَا يُخَفَّفُ عَنۡهُمُ
ٱلۡعَذَابُ وَلَا هُمۡ يُنظَرُونَ ٨٨

(88) چې همېشه به وي په دې (لعنت) كې، له دوى نه به نه عذاب سپكولى شي او نه به دوى ته مهلت وركول كېږي

إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ
وَأَصۡلَحُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ
رَّحِيمٌ ٨٩

(89) مگر هغه كسان چې له دې نه بعد توبه وباسي او د ځان اصلاح وكړي، نو يقينًا الله ډېر بخښونكى، بې حده مهربان دى

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بَعۡدَ إِيمَٰنِهِمۡ
ثُمَّ ٱزۡدَادُواْ كُفۡرٗا لَّن تُقۡبَلَ
تَوۡبَتُهُمۡ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ
ٱلضَّآلُّونَ ٩٠

(90) بېشکه هغه کسان چې له خپل ایمان راوړو نه بعد کافر شول، بیا په کفر کې (ترځنکدنه) مخ په وړاندې لاړل، (نو) د هغوی توبه به له سره نه قبلېږي او همدغه کسان گمراهان دي

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَمَاتُواْ وَهُمۡ
كُفَّارٞ فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡ أَحَدِهِم
مِّلۡءُ ٱلۡأَرۡضِ ذَهَبٗا وَلَوِ ٱفۡتَدَىٰ
بِهِۦٓۗ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ وَمَا
لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ٩١

(91) بېشکه هغه کسان چې کافر شوي دي او په داسي حال کې مړه شول چې کافران وو، نو کله به هم قبول نه کړی شي د هغوی له هېڅ یو تن نه ډکه ځمکه سره زر اگر که هغه يې د ځان خلاصي په بدل کې ورکړي، دغه کسان، د دوی لپاره ډېر دردوونکی عذاب دی او د دوی لپاره به هیڅوك مدد کوونکي نه وي

لَن تَنَالُواْ ٱلۡبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُواْ مِمَّا
تُحِبُّونَۚ وَمَا تُنفِقُواْ مِن شَيۡءٖ فَإِنَّ
ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٞ ٩٢

(92) تاسو به (پوره) نېکۍ ته له سره ونه رسېږئ تر هغه پورې چې له هغه (څیز) نه څه حصه خرچ کړئ چې تاسو يې خوښوئ، او تاسو چې څه څیز هم خرچ کوئ، نو بېشکه الله په هغه ښه عالم دی

۞كُلُّ ٱلطَّعَامِ كَانَ حِلّٗا لِّبَنِيٓ
إِسۡرَٰٓءِيلَ إِلَّا مَا حَرَّمَ إِسۡرَٰٓءِيلُ
عَلَىٰ نَفۡسِهِۦ مِن قَبۡلِ أَن تُنَزَّلَ

(93) د خوراك ټول شیان د بني اسرائیلو لپاره حلال وو، مگر هغه (شیان) چې اسرائیل (یعقوب) په ځان باندې بند کړي وو، مخکې

ٱلتَّوۡرَىٰةُۗ قُلۡ فَأۡتُواْ بِٱلتَّوۡرَىٰةِ
فَٱتۡلُوهَآ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٩٣

له دې چې تورات نازل کړی شي، ته ووايه: نو
تورات راوړئ، بيا هغه ولولئ، که تاسو رښتوني
يئ

فَمَنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ
مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ
ٱلظَّٰلِمُونَ ٩٤

(94) نو هغه چا چې له دې نه بعد په الله
باندې دروغ ووېل، نو همدغه کسان ظالمان
دي

قُلۡ صَدَقَ ٱللَّهُۗ فَٱتَّبِعُواْ مِلَّةَ
إِبۡرَٰهِيمَ حَنِيفٗاۖ وَمَا كَانَ مِنَ
ٱلۡمُشۡرِكِينَ ٩٥

(95) ته ووايه: الله رښتيا وَيلي دي، پس د
ابراهيم د ملت تابع شئ، چې حنيف (پوخ
توحيد والا) و او له مشرکانو څخه نه و

إِنَّ أَوَّلَ بَيۡتٖ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي
بِبَكَّةَ مُبَارَكٗا وَهُدٗى لِّلۡعَٰلَمِينَ ٩٦

(96) بېشکه اول کور چې د خلقو لپاره جوړ
کړی شوی دی، خامخا هغه دی چې په مکه
کې دی، چې ډېر برکتي دی او د عالَمونو
لپاره هدايت دی

فِيهِ ءَايَٰتُۢ بَيِّنَٰتٞ مَّقَامُ إِبۡرَٰهِيمَۖ
وَمَن دَخَلَهُۥ كَانَ ءَامِنٗاۗ وَلِلَّهِ عَلَى
ٱلنَّاسِ حِجُّ ٱلۡبَيۡتِ مَنِ ٱسۡتَطَاعَ
إِلَيۡهِ سَبِيلٗاۚ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ ٱللَّهَ
غَنِيٌّ عَنِ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٩٧

(97) په هغه کې ښې واضحې نښې دي،
چې (يوه په کې) مقامِ ابراهيم دی او څوک
چې هغه (کور) ته داخل شي، (نو) هغه په
امن شي، او خاص د الله لپاره په خلقو باندې
د (هغه د) کور حج کول فرض دي، په هغه چا
باندې چې هغه ته د لارې وسَ ولري او څوک
چې کافر شو، نو بېشکه الله له مخلوقاتو نه

ببخي بې پروا دی

قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لِمَ تَكۡفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَٱللَّهُ شَهِيدٌ عَلَىٰ مَا تَعۡمَلُونَ ٩٨

(98) (ای نبي!) تهووایه: ای اهلِ کتابو! تاسو د الله په ایتونو ولې کافر کېږئ، حال دا چې الله ستاسو په عملونو باندې گواه دی

قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لِمَ تَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ مَنۡ ءَامَنَ تَبۡغُونَهَا عِوَجٗا وَأَنتُمۡ شُهَدَآءُۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ٩٩

(99) (ای نبي!) ته ووایه: ای اهلِ کتابو! تاسو د الله له لارې نه هغه څوك ولې منع کوئ چې ایمان راوړي؟ تاسو په هغې (لاره)کې کوږوالی لټوئ، حال دا چې تاسو گواهان یئ او تاسو چې څه عمل کوئ، الله له هغه (عمل) نه کله هم غافل نه دی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تُطِيعُواْ فَرِيقٗا مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ يَرُدُّوكُم بَعۡدَ إِيمَٰنِكُمۡ كَٰفِرِينَ ١٠٠

(100) ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! که چېرې تاسو په اهلِ کتابو کې د یوې ډلې خبره ومنئ (،نو) هغه به تاسو لره ستاسو له ایمان راوړو نه پس بیا کافران کړي

وَكَيۡفَ تَكۡفُرُونَ وَأَنتُمۡ تُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتُ ٱللَّهِ وَفِيكُمۡ رَسُولُهُۥۗ وَمَن يَعۡتَصِم بِٱللَّهِ فَقَدۡ هُدِيَ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ١٠١

(101) او تاسو څنگه کافر کېږئ، او تاسو چې یئ، تاسو ته د الله ایتونه تلاوت کېږي او په تاسو کې د هغه رسول (هم موجود) دی او چا چې په (دین د) الله منگولې ښخې کړې، نو په رښتیا سره هغه په نېغه لار روان کړی شو

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ
حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم
مُّسۡلِمُونَ ١٠٢

(102) ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! له الله نه ووېرېږئ، څنګه چې له هغه نه د وېرېدلو حق دی او تاسو مه مرئ مګر په دې حال کې چې تاسو مسلمانان یئ

وَٱعۡتَصِمُواْ بِحَبۡلِ ٱللَّهِ جَمِيعٗا وَلَا
تَفَرَّقُواْۚ وَٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ
عَلَيۡكُمۡ إِذۡ كُنتُمۡ أَعۡدَآءٗ فَأَلَّفَ
بَيۡنَ قُلُوبِكُمۡ فَأَصۡبَحۡتُم
بِنِعۡمَتِهِۦٓ إِخۡوَٰنٗا وَكُنتُمۡ عَلَىٰ شَفَا
حُفۡرَةٖ مِّنَ ٱلنَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنۡهَاۗ
كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ
لَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ ١٠٣

(103) او تاسو د الله پر رسۍ (تړول) په جمع سره منګولې ښخې کړئ او سره بېلېږئ مه او د الله (هغه) نعمتونه را یاد کړئ چې پر تاسو باندې شوي دي، کله چې تاسو دښمنان وَئ، بیا الله ستاسو د زړونو تر مینځ جوړښت راوسته، نو د هغه په (دې) نعمت سره تاسو ورونه شوئ او تاسو له اور نه د ډکې کندې پر غاړه وَئ، نو تاسو یې له هغه نه وژغورلئ، همدارنګه الله تاسو ته خپل ایتونه بیانوي، د دې لپاره چې تاسو نېغه لار ومومئ

وَلۡتَكُن مِّنكُمۡ أُمَّةٞ يَدۡعُونَ إِلَى
ٱلۡخَيۡرِ وَيَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ
وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِۚ وَأُوْلَـٰٓئِكَ
هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ١٠٤

(104) او لازم ده چې په تاسو کې دې یوه داسې ډله وي چې د خیر طرف ته بلنه کوي او د نېکۍ حکم کوي او له بدۍ نه منع کوي، او همدغه خلق پوره کامیاب دي

وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ تَفَرَّقُواْ
وَٱخۡتَلَفُواْ مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ

(105) او تاسو د هغو خلقو په شان مه کېږئ چې بېل بېل شول او هغو ته د واضحو دلایلو

ٱلۡبَيِّنَٰتُۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ١٠٥

له راتلو نه پس (هم) په خپلو کې مختلف شول، او دغه خلق (چې دي)، د هغوی لپاره ډېر لوی عذاب دی

يَوۡمَ تَبۡيَضُّ وُجُوهٞ وَتَسۡوَدُّ وُجُوهٞۚ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ٱسۡوَدَّتۡ وُجُوهُهُمۡ أَكَفَرۡتُم بَعۡدَ إِيمَٰنِكُمۡ فَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَ بِمَا كُنتُمۡ تَكۡفُرُونَ ١٠٦

(106) په هغې ورځ کې چې څه مخونه به تك سپین وي او څه مخونه به تك تور وي، نو هر چې هغه کسان دي چې د چا مخونه به تك تور وي، (هغوی ته به ویلی شي) ایا تاسو له خپل ایمان نه پس کافر شوي وَئ، نو عذاب وڅکئ د هغه کفر په بدل کې چې تاسو به کاوه

وَأَمَّا ٱلَّذِينَ ٱبۡيَضَّتۡ وُجُوهُهُمۡ فَفِي رَحۡمَةِ ٱللَّهِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ١٠٧

(107) او پاتې شو هغه کسان چې د هغوی مخونه به تك سپین وي، نو (هغوی) به د الله په مهربانۍ کې وي، دوی به په هغې کې همېشه وي

تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱللَّهِ نَتۡلُوهَا عَلَيۡكَ بِٱلۡحَقِّۗ وَمَا ٱللَّهُ يُرِيدُ ظُلۡمٗا لِّلۡعَٰلَمِينَ ١٠٨

(108) دا د الله ایتونه دي، چې مونږه یې تا ته په حقه سره لولو او الله په عالَمونو باندې د ظلم کولو اراده نه لري

وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ ١٠٩

(109) او خاص د الله لپاره دي هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هغه څه چې په ځمکه کې دي او خاص د الله په طرف (ټول) کارونه

ورگرځولی شي

كُنتُمۡ خَيۡرَ أُمَّةٍ أُخۡرِجَتۡ لِلنَّاسِ تَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَتَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَتُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِۗ وَلَوۡ ءَامَنَ أَهۡلُ ٱلۡكِتَٰبِ لَكَانَ خَيۡرٗا لَّهُمۚ مِّنۡهُمُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ وَأَكۡثَرُهُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ١١٠

(110) تاسو غوره امت يئ چې د خلقو لپاره پيدا کړی شوي يئ، تاسو د نېکۍ حکم کوئ او له بدۍ نه منع کوئ او په الله باندې ايمان راوړئ، او که چېرې اهلِ کتابو ايمان راوړی وَی، نو دا به د هغوی لپاره ډېر ښه و، له دوی نه ځينې اِيمان راوړونکي دي او د دوی اکثره فاسقان (بدکاران) دي

لَن يَضُرُّوكُمۡ إِلَّآ أَذٗىۖ وَإِن يُقَٰتِلُوكُمۡ يُوَلُّوكُمُ ٱلۡأَدۡبَارَ ثُمَّ لَا يُنصَرُونَ ١١١

(111) دوی هيڅکله هم تاسو ته ضرر نشي دررسولی مګر لږ (د ژبې) تکليف، او که دوی له تاسو سره جنګ شروع کړي (نو) تاسو ته به شاګاني درواړوي، بيا به له دوی سره مرسته نه کېږي

ضُرِبَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلذِّلَّةُ أَيۡنَ مَا ثُقِفُوٓاْ إِلَّا بِحَبۡلٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَحَبۡلٖ مِّنَ ٱلنَّاسِ وَبَآءُو بِغَضَبٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَضُرِبَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلۡمَسۡكَنَةُۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَانُواْ يَكۡفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَيَقۡتُلُونَ ٱلۡأَنۢبِيَآءَ بِغَيۡرِ حَقّٖۚ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَواْ وَّكَانُواْ

(112) په دوی باندې ذلت مسلط کړی شوی دی، هر ځای چې دوی وموندل شي، مګر (دا چې دوی منګولې ولګوي) د الله پر رسۍ او د خلقو پر رسۍ او دوی راستانه شول په هغه غضب سره چې د الله له طرفه و، او په دوی باندې محتاجي مسلط کړی شوه، دا په دې چې يقينًا دوی د الله له ايتونو نه انکار کاوه او نبيان يې ناحقه وژل، دا په دې وجه چې دوی

| | |
|---|---|
| يَعۡتَدُونَ ﴿١١٢﴾ | نافرماني کوله او دوی زیاتی کاوه |
| ۞لَيۡسُواْ سَوَآءٗۗ مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ أُمَّةٞ قَآئِمَةٞ يَتۡلُونَ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ ءَانَآءَ ٱلَّيۡلِ وَهُمۡ يَسۡجُدُونَ ﴿١١٣﴾ | (113) دوی یو شان نه دي، په اهلِ کتابو کې یوه ډله ده قایمه، چې د شپې په ساعتونو کې د الله ایتونه تلاوت کوي او هغوی سجدې کوي |
| يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَيَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَيُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡخَيۡرَٰتِۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١١٤﴾ | (114) پر الله او د اخرت پر ورځ ایمان راوړي او د نېکۍ حکم کوي او له بدۍ نه منع کوي، او په نېکیو کې له یو بل نه تلوار کوي او دغه کسان له صالحانو څخه دي |
| وَمَا يَفۡعَلُواْ مِنۡ خَيۡرٖ فَلَن يُكۡفَرُوهُۗ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِٱلۡمُتَّقِينَ ﴿١١٥﴾ | (115) او هغوی چې څه نېکي هم وکړي، نو هېڅکله به هم د هغوی د دې (عمل) ناقدري ونه کړى شي او الله پر پرهېزګارانو ښه پوه دى |
| إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَن تُغۡنِيَ عَنۡهُمۡ أَمۡوَٰلُهُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُهُم مِّنَ ٱللَّهِ شَيۡـٔٗاۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿١١٦﴾ | (116) ببشکه هغه کسان چې کفر يې کړى دى، هېڅ کله به هم د هغوی مالونه او اولادونه له دوی څخه د الله (له عذاب) نه هېڅ شى لرې نه کړى شي، او دغه کسان د اور والا دي، دوی به په هغه (اور) کې همېشه وي |

مَثَلُ مَا يُنفِقُونَ فِي هَٰذِهِ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا كَمَثَلِ رِيحٖ فِيهَا صِرٌّ أَصَابَتۡ حَرۡثَ قَوۡمٖ ظَلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ فَأَهۡلَكَتۡهُۚ وَمَا ظَلَمَهُمُ ٱللَّهُ وَلَٰكِنۡ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ١١٧

(117) مثال د هغه شي چې دوی يې په دې دنيايي ژوند کې خرچ کوي د هغه باد په شان دی چې په هغه کې سخته يخني وي، د داسې خلقو فصل ته ورسي چې پر خپلو ځانونو يې ظلم کړی وي، نو دا (باد) هغه (فصل) تباه کړي، او الله پر هغوی ظلم نه دی کړی او لېکن هغوی (پخپله) پر خپلو ځانونو ظلم کاوه

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ بِطَانَةٗ مِّن دُونِكُمۡ لَا يَأۡلُونَكُمۡ خَبَالٗا وَدُّواْ مَا عَنِتُّمۡ قَدۡ بَدَتِ ٱلۡبَغۡضَآءُ مِنۡ أَفۡوَٰهِهِمۡ وَمَا تُخۡفِي صُدُورُهُمۡ أَكۡبَرُۚ قَدۡ بَيَّنَّا لَكُمُ ٱلۡأٓيَٰتِۖ إِن كُنتُمۡ تَعۡقِلُونَ ١١٨

(118) ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! له خپلو (مسلمانانو) نه غير (بل څوک) رازدار دوست مه جوړوئ، دوی تاسو ته په نقصان رسولو کې هېڅ کمی نه کوي، دوی هر هغه څه خوښوي چې تاسو په تکليف کې اچوي، يقينًا د دوی له خولو څنې (کينه او) بغض ښکاره شوی دی او هغه (بغض) چې د دوی سينې يې پټوي (هغه) ډېر لوی دی، يقينًا مونږه تاسو لپاره ايتونه ښه واضحه بيان کړي دي، که چېرې يئ تاسو چې له عقل نه کار اخلئ

هَٰٓأَنتُمۡ أُوْلَآءِ تُحِبُّونَهُمۡ وَلَا يُحِبُّونَكُمۡ وَتُؤۡمِنُونَ بِٱلۡكِتَٰبِ

(119) ګورئ! تاسو هغه خلق يئ چې له هغو (اهل کتابو) سره مينه کوئ او هغوی له تاسو

كُلِّهِۦ وَإِذَا لَقُوكُمۡ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا وَإِذَا خَلَوۡاْ عَضُّواْ عَلَيۡكُمُ ٱلۡأَنَامِلَ مِنَ ٱلۡغَيۡظِۚ قُلۡ مُوتُواْ بِغَيۡظِكُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ١١٩

سره مینه نه کوي او تاسو پر ټولو کتابونو ایمان راوړئ او کله چې دوی له تاسو سره ملاقات وکړي، (نو) وايي: مونږ ایمان راوړی دی، او کله چې یواځې شي، نو تاسو ته د غصې له وجې نه د ګوتو سرونه چیچي، (ورته) ووایه: په خپلې غصې سره مړه شئ، بېشکه الله ښه پوه دی پر هغو (خبرو) چې په سینو (زړونو) کې دي

إِن تَمۡسَسۡكُمۡ حَسَنَةٞ تَسُؤۡهُمۡ وَإِن تُصِبۡكُمۡ سَيِّئَةٞ يَفۡرَحُواْ بِهَاۖ وَإِن تَصۡبِرُواْ وَتَتَّقُواْ لَا يَضُرُّكُمۡ كَيۡدُهُمۡ شَيۡـًٔاۗ إِنَّ ٱللَّهَ بِمَا يَعۡمَلُونَ مُحِيطٞ ١٢٠

(120) که چېري تاسو ته څه ښېګڼه دړورسېږي، نو هغه دوی لره خفه کوي او که چېري تاسو ته څه بدي (تکلیف) دروررسیږي، نو دوی په هغې باندې خوشحالیږي او که تاسو صبر وکړئ او(د دوی له دوستۍ نه) ځان وساتئ (نو) د هغوی چل (او فریب) به تاسو ته هېڅ ضرر هم در ونه رسولی شي، بېشکه چې الله د هغو کارونو چې دوی یې کوي، احاطه کوونکی دی

وَإِذۡ غَدَوۡتَ مِنۡ أَهۡلِكَ تُبَوِّئُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ مَقَٰعِدَ لِلۡقِتَالِۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ١٢١

(121) او(یاد کړه هغه وخت) کله چې د ورځې په اوله حصه کې له خپل کوره راووتلې، چې د جنګ لپاره دې مومنان په (خپلو) ځایونو باندې کېنول، او الله ښه اوریدونکی،

ښه پوه دی

إِذۡ هَمَّت طَّآئِفَتَانِ مِنكُمۡ أَن تَفۡشَلَا وَٱللَّهُ وَلِيُّهُمَاۗ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ١٢٢

(122) کله چې له تاسو څخه دوه ډلو د دې اراده وکړه چې بې زړه (بُزدله) شي او الله د هغو دواړو دوست و، او لازم ده چې مومنان خاص په الله باندې توکل وکړي

وَلَقَدۡ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ بِبَدۡرٖ وَأَنتُمۡ أَذِلَّةٞۖ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ١٢٣

(123) او خامخا په رښتیا سره الله په بدر کې ستاسو مدد کړی دی، حال دا چې تاسو ډېر کمزوري (او لږ) وئ، نو له الله نه ووېرېږئ، د دې لپاره چې تاسو شکر وباسئ

إِذۡ تَقُولُ لِلۡمُؤۡمِنِينَ أَلَن يَكۡفِيَكُمۡ أَن يُمِدَّكُمۡ رَبُّكُم بِثَلَٰثَةِ ءَالَٰفٖ مِّنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ مُنزَلِينَ ١٢٤

(124) کله چې تا مومنانو ته ویل: ایا تاسو ته به دا کافي نه شي چې ستاسو رب په درې زره نازل کړی شویو ملایکو سره ستاسو مدد وکړي!

بَلَىٰٓۚ إِن تَصۡبِرُواْ وَتَتَّقُواْ وَيَأۡتُوكُم مِّن فَوۡرِهِمۡ هَٰذَا يُمۡدِدۡكُمۡ رَبُّكُم بِخَمۡسَةِ ءَالَٰفٖ مِّنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِينَ ١٢٥

(125) ولې نه! که تاسو صبر وکړئ او پرهېزګاره شئ او هغوی پر تاسو باندې په خپل جوش سره په تېزۍ حمله وکړي، (نو) دا دی چې ستاسو رب به په پنځو زرو علامې لرونکو ملایکو سره ستاسو مدد وکړي

وَمَا جَعَلَهُ ٱللَّهُ إِلَّا بُشۡرَىٰ لَكُمۡ

(126) او الله دا (مدد) نه دی ګرځولی مګر ستاسو لپاره زېرې او لپاره د دې چې ستاسو

وَلِتَطۡمَئِنَّ قُلُوبُكُم بِهِۦۗ وَمَا ٱلنَّصۡرُ إِلَّا مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ ﴿١٢٦﴾

زړونه په دې مطمئن شي او نه دی مدد مګر د الله له جانبه، چې ډېر غالب، ډېر حکمت والا دی

لِيَقۡطَعَ طَرَفٗا مِّنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَوۡ يَكۡبِتَهُمۡ فَيَنقَلِبُواْ خَآئِبِينَ ﴿١٢٧﴾

(127) لپاره د دې چې هغه هلاك كړي يو ټولی د هغو كسانو چې كفر يې كړی دی، يا يې ذليله (خواروزار) كړي، پس چې بېرته محرومه، نامراده لاړ شي

لَيۡسَ لَكَ مِنَ ٱلۡأَمۡرِ شَيۡءٌ أَوۡ يَتُوبَ عَلَيۡهِمۡ أَوۡ يُعَذِّبَهُمۡ فَإِنَّهُمۡ ظَٰلِمُونَ ﴿١٢٨﴾

(128) تا لپاره په دې كار كې هېڅ شی (اختيار) نشته، يا به هغه (الله) په دوی باندې په مهربانۍ سره راوګرځي، يا به دوی ته عذاب وركړي، ځكه چې يقينًا دوی ظالمان دي

وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ يَغۡفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿١٢٩﴾

(129) او خاص د الله لپاره دي هغه څه چې په اسمانونو كې دي او هغه څه چې په ځمكه كې دي، هغه بخښنه كوي چا لپاره چې وغواړي او چا ته چې وغواړي عذاب وركوي او الله ډېر بخښونكی، بې حده مهربان دی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَأۡكُلُواْ ٱلرِّبَوٰٓاْ أَضۡعَٰفٗا مُّضَٰعَفَةٗۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴿١٣٠﴾

(130) ای هغو كسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو سود مه خورئ چې څو چنده دوه ګونه كړی شوی وي او له الله نه ووېرېږئ، د دې لپاره چې تاسو كامياب شئ

وَٱتَّقُواْ ٱلنَّارَ ٱلَّتِيٓ أُعِدَّتۡ
لِلۡكَٰفِرِينَ ١٣١

(131) او له هغه اور نه ځان وساتئ چې د
کافرانو لپاره تیار کړی شوی دی

وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ لَعَلَّكُمۡ
تُرۡحَمُونَ ١٣٢

(132) او د الله او د رسول اطاعت کوئ، لپاره
د دې چې پر تاسو رحم وکړی شي،

۞وَسَارِعُوٓاْ إِلَىٰ مَغۡفِرَةٖ مِّن
رَّبِّكُمۡ وَجَنَّةٍ عَرۡضُهَا ٱلسَّمَٰوَٰتُ
وَٱلۡأَرۡضُ أُعِدَّتۡ لِلۡمُتَّقِينَ ١٣٣

(133) او تاسو له یو بل نه تلوار کوئ هغه
(مغفرت او) بخښنې ته چې د خپل رب له
جانبه ده او داسې جنت ته چې د هغه پلن
والی د اسمانونو او د ځمکې (په اندازه) دی،
د پرهېزګارانو لپاره تیار کړی شوی دی

ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي ٱلسَّرَّآءِ
وَٱلضَّرَّآءِ وَٱلۡكَٰظِمِينَ ٱلۡغَيۡظَ
وَٱلۡعَافِينَ عَنِ ٱلنَّاسِۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ
ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١٣٤

(134) هغه کسان چې انفاق کوي په اسانۍ
او تنګۍ کې او خصوصًا چې غصې لره
زغمونکې وي او خلقو ته معافي کوونکې وي
او الله نېکي کوونکې خوښوي

وَٱلَّذِينَ إِذَا فَعَلُواْ فَٰحِشَةً أَوۡ
ظَلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ ذَكَرُواْ ٱللَّهَ
فَٱسۡتَغۡفَرُواْ لِذُنُوبِهِمۡ وَمَن يَغۡفِرُ
ٱلذُّنُوبَ إِلَّا ٱللَّهُ وَلَمۡ يُصِرُّواْ عَلَىٰ
مَا فَعَلُواْ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ١٣٥

(135) او هغه کسان چې کله څه فاحش کار
وکړي، یا پر خپلو ځانونو (بل) ظلم وکړي (نو)
الله یاد کړي، (او) وروسته د خپلو ګناهونو
لپاره بخښنه وغواړي، او بل څوك دی چې
ګناهونه وبخښي غیر له الله نه؟ او څه چې
دوی کړي وي په هغو اصرار (کلکوالی) و نه

کړي، په دې حال کې چې دوی پوهېږي

أُوْلَٰٓئِكَ جَزَآؤُهُم مَّغۡفِرَةٞ مِّن رَّبِّهِمۡ وَجَنَّٰتٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ وَنِعۡمَ أَجۡرُ ٱلۡعَٰمِلِينَ ١٣٦

(136) دغه کسان (چې دي) د دوی بدله د خپل رب له جانبه بخښنه ده او داسې جنتونه دي، چې د هغو له لاندې وَلې بهېږي، چې په هغو کې به دوی همېشه وي، او د (ښه) عمل کوونکو (لپاره) ښه اجر دی

قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِكُمۡ سُنَنٞ فَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ١٣٧

(137) بېشکه له تاسو مخکې ډېرې طریقې (او پېښې) تېرې شوي دي، نو تاسو په ځمکه کې وګرځئ، بیا وګورئ چې د دروغ ګڼونکو انجام څنګه و؟

هَٰذَا بَيَانٞ لِّلنَّاسِ وَهُدٗى وَمَوۡعِظَةٞ لِّلۡمُتَّقِينَ ١٣٨

(138) دا د خلقو لپاره بیان دی او د پرهېزګارانو لپاره لارښوونه او نصیحت دی

وَلَا تَهِنُواْ وَلَا تَحۡزَنُواْ وَأَنتُمُ ٱلۡأَعۡلَوۡنَ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ١٣٩

(139) او تاسو مه کمزوري کېږئ او مه غمژن کېږئ، په دې حال کې چې هم تاسو به غالبه یئ، (خو) که تاسو مومنان یئ

إِن يَمۡسَسۡكُمۡ قَرۡحٞ فَقَدۡ مَسَّ ٱلۡقَوۡمَ قَرۡحٞ مِّثۡلُهُۥۚ وَتِلۡكَ ٱلۡأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيۡنَ ٱلنَّاسِ وَلِيَعۡلَمَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَيَتَّخِذَ مِنكُمۡ

(140) که چېرې تاسو ته څه زخم رسېږي، نو یقینًا (کافر) قوم ته (هم) د دې په شان زخم رسېدلی دی او دا ورځې (حادثې) دي چې مونږه یې د خلقو په مینځ کې په وار سره اړوو راړوو او لپاره د دې چې الله مومنان معلوم

شُهَدَآءَۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٤٠

(ثرګند) کړي او له تاسو څخه شهيدان واخلي او الله له ظالمانو سره مينه نه کوي

وَلِيُمَحِّصَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَيَمۡحَقَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ١٤١

(141) او لپاره د دې چې الله مومنان ښه پاك کړي او دغه کافران ختم (او) نابوده کړي

أَمۡ حَسِبۡتُمۡ أَن تَدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ وَلَمَّا يَعۡلَمِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ مِنكُمۡ وَيَعۡلَمَ ٱلصَّٰبِرِينَ ١٤٢

(142) ايا تاسو دا ګمان کوئ چې تاسو به جنت ته داخل شئ، حال دا چې لا تر اوسه الله په تاسو کې هغه کسان نه دي معلوم (ثرګند) کړي چې جهاد يې کړی دی، او د دې لپاره چې هغه صبر کوونکي معلوم کړي

وَلَقَدۡ كُنتُمۡ تَمَنَّوۡنَ ٱلۡمَوۡتَ مِن قَبۡلِ أَن تَلۡقَوۡهُ فَقَدۡ رَأَيۡتُمُوهُ وَأَنتُمۡ تَنظُرُونَ ١٤٣

(143) او خامخا په رښتيا سره تاسو د مرګ ارزو کوله، له دې (مرګ) سره له مخامخ کېدو نه مخکې، نو يقينًا تاسو هغه وليده، په داسې حال کې چې تاسو کتل

وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهِ ٱلرُّسُلُۚ أَفَإِيْن مَّاتَ أَوۡ قُتِلَ ٱنقَلَبۡتُمۡ عَلَىٰٓ أَعۡقَٰبِكُمۡۚ وَمَن يَنقَلِبۡ عَلَىٰ عَقِبَيۡهِ فَلَن يَضُرَّ ٱللَّهَ شَيۡـٔٗاۚ وَسَيَجۡزِي ٱللَّهُ ٱلشَّٰكِرِينَ ١٤٤

(144) او محمد نه دی مګر يو رسول، بېشکه له ده نه مخکې رسولان تېر شوي دي، ايا نو که چېرې دی مړ شي، يا ووژل شي (،نو) تاسو به بېرته په شا لاړ شئ او څوك چې بېرته په شا لاړ شي، نو هغه به الله ته هيڅکله هم څه زيان ونه رسولی شي او الله به خامخا شکر ګذارو ته بدله (ثواب) ورکړي

وَمَا كَانَ لِنَفۡسٍ أَن تَمُوتَ إِلَّا
بِإِذۡنِ ٱللَّهِ كِتَٰبٗا مُّؤَجَّلٗاۗ وَمَن
يُرِدۡ ثَوَابَ ٱلدُّنۡيَا نُؤۡتِهِۦ مِنۡهَا وَمَن
يُرِدۡ ثَوَابَ ٱلۡأٓخِرَةِ نُؤۡتِهِۦ مِنۡهَاۚ
وَسَنَجۡزِي ٱلشَّٰكِرِينَ ١٤٥

**(145)** او هېڅ يو نفس لره دا اختيار نشته چې (پخپله) مړ شي مگر د الله په ارادې سره، ليکلی مقرر وخت دی، او څوك چې د دنيا بدله غواړي، (نو) مونږ به له دې (دنيا) نه هغه ته (بدله) ورکړو او څوك چې د اخرت ثواب غواړي، (نو) هغه ته به يې له دې (اخرت) نه ورکړو، نژدې ده چې مونږ به شکر گذارو ته ښه بدله ورکړو

وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيّٖ قَٰتَلَ مَعَهُۥ رِبِّيُّونَ
كَثِيرٞ فَمَا وَهَنُواْ لِمَآ أَصَابَهُمۡ فِي
سَبِيلِ ٱللَّهِ وَمَا ضَعُفُواْ وَمَا
ٱسۡتَكَانُواْۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ
ٱلصَّٰبِرِينَ ١٤٦

**(146)** او ډېر پيغمبران (تېر شوي) دي چې د هغوی په ملگرتيا کې ډېرو رباني (خدايي) خلقو جنگ کړی دی، نو نه هغوی د هغه مصيبت په سبب سستي وکړه چې پر هغوی باندې د الله په لار کې راغلی و او نه يې کمزورتيا ښکاره کړه او نه ټيټ شول، او الله له صبر کوونکو سره مينه کوي

وَمَا كَانَ قَوۡلَهُمۡ إِلَّآ أَن قَالُواْ رَبَّنَا
ٱغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسۡرَافَنَا فِيٓ
أَمۡرِنَا وَثَبِّتۡ أَقۡدَامَنَا وَٱنصُرۡنَا
عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ١٤٧

**(147)** او د هغوی وينا له دې نه غير بله نه وه چې ويل به يې: ای زمونږه ربه! مونږ ته زمونږ گناهونه او په خپل کار کې زمونږه اسراف کول (له حد نه تېرېدل) وبخښه او زمونږه (پښې) قدمونه ټينگ کړه او د کافر قوم په مقابله کې زمونږ مدد وکړه

فَـَٔاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ ثَوَابَ ٱلدُّنۡيَا وَحُسۡنَ ثَوَابِ ٱلۡأٓخِرَةِۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١٤٨

(148) نو الله هغوی ته د دنیا بدله او د اخرت ښکلی ثواب ورعطا کړ او الله له نېکي کوونکو سره مینه کوي

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تُطِيعُواْ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يَرُدُّوكُمۡ عَلَىٰٓ أَعۡقَٰبِكُمۡ فَتَنقَلِبُواْ خَٰسِرِينَ ١٤٩

(149) ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! که چېرې تاسو د کافر شویو کسانو خبره ومنئ (، نو) هغوی به تاسو (له دین نه) په شا وګرځوي، بیا به تاسو داسې شئ چې تاوانیان به یئ

بَلِ ٱللَّهُ مَوۡلَىٰكُمۡۖ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلنَّـٰصِرِينَ ١٥٠

(150) بلکې الله ستاسو مددګار دی او هغه تر ټولو ښه مدد کوونکی دی

سَنُلۡقِي فِي قُلُوبِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلرُّعۡبَ بِمَآ أَشۡرَكُواْ بِٱللَّهِ مَا لَمۡ يُنَزِّلۡ بِهِۦ سُلۡطَٰنٗاۖ وَمَأۡوَىٰهُمُ ٱلنَّارُۖ وَبِئۡسَ مَثۡوَى ٱلظَّـٰلِمِينَ ١٥١

(151) ژر ده چې مونږ به د هغو کسانو په زړونو کې رعب واچوو چې کافران شوي دي، په سبب د دې چې دوی له الله سره هغه شی شریك كړی دی چې هغه (الله) پر دې هیڅ دلیل نه دی نازل کړی، او د دوی استوګنځی اور دی او هغه د ظالمانو بد اوسېدنځی دی

وَلَقَدۡ صَدَقَكُمُ ٱللَّهُ وَعۡدَهُۥٓ إِذۡ تَحُسُّونَهُم بِإِذۡنِهِۦۖ حَتَّىٰٓ إِذَا فَشِلۡتُمۡ وَتَنَٰزَعۡتُمۡ فِي ٱلۡأَمۡرِ

(152) او خامخا یقینًا الله تاسو ته خپله وعده رښتیا کړله، کله چې تاسو هغوی وژل د هغه (الله) په حکم سره، تر دې چې تاسو بې زړه شوئ او د کار په باره کې مو په خپلو کې

وَعَصَيۡتُم مِّنۢ بَعۡدِ مَآ أَرَىٰكُم مَّا تُحِبُّونَۚ مِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلدُّنۡيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلۡأٓخِرَةَۚ ثُمَّ صَرَفَكُمۡ عَنۡهُمۡ لِيَبۡتَلِيَكُمۡۖ وَلَقَدۡ عَفَا عَنكُمۡۗ وَٱللَّهُ ذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١٥٢﴾

اختلاف وکړ او نافرماني مو وکړه، وروسته له دې چې هغه (الله) تاسو ته هغه څه دروښودل چې تاسو خوښول، په تاسو کې ځينې هغه څوک دي چې دنيا غواړي او ځينې په تاسو کې هغه څوک دي چې اخرت غواړي، بيا هغه (الله) تاسو له هغوی نه واړولئ، د دې لپاره چې تاسو و ازمايي، او خامخا په رښتيا سره يې تاسو معاف کړئ، او الله په مومنانو باندې د لوی فضل کولو والا دی

۞إِذۡ تُصۡعِدُونَ وَلَا تَلۡوُۥنَ عَلَىٰٓ أَحَدٖ وَٱلرَّسُولُ يَدۡعُوكُمۡ فِيٓ أُخۡرَىٰكُمۡ فَأَثَٰبَكُمۡ غَمَّۢا بِغَمّٖ لِّكَيۡلَا تَحۡزَنُواْ عَلَىٰ مَا فَاتَكُمۡ وَلَا مَآ أَصَٰبَكُمۡۗ وَٱللَّهُ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ﴿١٥٣﴾

(153) کله چې تاسو په بره په منډه روان وئ او تاسو هيچا ته مخ هم نه را اړولو او رسول ستاسو شا ته تاسو ته اوازونه کول، نو (د دې) په بدل کې يې تاسو ته غم له پاسه غم درکړ، د دې لپاره چې تاسو غمژن نشئ په هغه شي چې له تاسو نه پاتې شو او نه په هغه شي چې تاسو ته دررسېده، او الله ستاسو په عملونو ښه خبردار دی

ثُمَّ أَنزَلَ عَلَيۡكُم مِّنۢ بَعۡدِ ٱلۡغَمِّ أَمَنَةٗ نُّعَاسٗا يَغۡشَىٰ طَآئِفَةٗ مِّنكُمۡۖ وَطَآئِفَةٞ قَدۡ أَهَمَّتۡهُمۡ أَنفُسُهُمۡ يَظُنُّونَ بِٱللَّهِ غَيۡرَ ٱلۡحَقِّ

(154) بيا يې له دغه غم نه پس پر تاسو باندې امن (اطمينان) نازل کړ، چې پرکالي وه، چې ستاسو يوه ډله يې لاندې کړې وه او بله ډله وه چې يقينًا هغوی (فکرونو د) خپلو ځانونو غمژن کړې وو، په داسې حال کې چې

ظَنَّ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِۖ يَقُولُونَ هَل لَّنَا
مِنَ ٱلۡأَمۡرِ مِن شَيۡءٖۗ قُلۡ إِنَّ
ٱلۡأَمۡرَ كُلَّهُۥ لِلَّهِۗ يُخۡفُونَ فِيٓ
أَنفُسِهِم مَّا لَا يُبۡدُونَ لَكَۖ
يَقُولُونَ لَوۡ كَانَ لَنَا مِنَ ٱلۡأَمۡرِ
شَيۡءٞ مَّا قُتِلۡنَا هَٰهُنَاۗ قُل لَّوۡ كُنتُمۡ
فِي بُيُوتِكُمۡ لَبَرَزَ ٱلَّذِينَ كُتِبَ
عَلَيۡهِمُ ٱلۡقَتۡلُ إِلَىٰ مَضَاجِعِهِمۡۖ
وَلِيَبۡتَلِيَ ٱللَّهُ مَا فِي صُدُورِكُمۡ
وَلِيُمَحِّصَ مَا فِي قُلُوبِكُمۡۚ وَٱللَّهُ
عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ١٥٤

هغوی په الله باندې ناحقه ګمان کاوه، د جاهلیت ګمان، هغوی ویل: ایا په دې کار کې مونږ له هم څه برخه شته؟ ته ووایه: بېشکه (د) کار ټول (اختیار) خاص الله لره دی، دوی په خپلو نفسونو (زړونو) کې هغه خبرې پټوي، چې تا ته يې نه ښکاره کوي، دوی وايي: که مونږ لره له دې کاره څه حصه وَی (،نو) مونږ به دلته نه وژل کېدلو، ته (ورته) ووایه: که چېرې تاسو په خپلو کورونو کې وَی (،نو) هغه کسان به خامخا خپلو د غورځېدو ځايونو ته راوتلي وو، د چا چې وژل کېدل ليکل شوي وو (او دا کار الله تعالیٰ وکړ) د دې لپاره چې الله هغه څه وازمايي چې ستاسو په سينو کې دي او ښه پاك کړي هغه څه چې ستاسو په زړونو کې دي او الله ښه عالم دی پر هغو خبرو چې په سينو کې پرتې دي

إِنَّ ٱلَّذِينَ تَوَلَّوۡاْ مِنكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡتَقَى
ٱلۡجَمۡعَانِ إِنَّمَا ٱسۡتَزَلَّهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ
بِبَعۡضِ مَا كَسَبُواْۖ وَلَقَدۡ عَفَا ٱللَّهُ
عَنۡهُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٞ ١٥٥

**(155)** بېشکه هغه کسان چې له تاسو نه په هغې ورځې کې (له جنګ نه) وګرځېدل (کله) چې دوه ډلې يو بل ته مخامخ شولې، بېشکه همدا خبره ده چې شیطان دوی د خپلو ځينو (د ګناه د) عملونو په وجه ښويولي وو، او خامخا یقیناً الله دوی ته معافي کړې

ده، بېشکه الله ډېر بخښونکی، ډېر تحمل والا
دی

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَقَالُواْ لِإِخۡوَٰنِهِمۡ إِذَا ضَرَبُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَوۡ كَانُواْ غُزّٗى لَّوۡ كَانُواْ عِندَنَا مَا مَاتُواْ وَمَا قُتِلُواْ لِيَجۡعَلَ ٱللَّهُ ذَٰلِكَ حَسۡرَةٗ فِي قُلُوبِهِمۡۗ وَٱللَّهُ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ١٥٦

(156) ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی! تاسو د هغو کسانو په شان مه کېږئ، چې کافران شوي دي او د خپلو ورونو په باره کې به يې ویل، کله چې به هغوی په ځمکه کې په سفر تلل، یا به هغوی غزا کوونکي وو: که چېرې دوی له مونږ سره وَی (،نو) نه به مړه شوي وو او نه به وژل شوي وو، لپاره د دې چې الله (د دوی) دا (ګمان) د دوی په زړونو کې (د) حسرت (او افسوس باعث) وګرځوي او الله ژوندي کول او مړه کول کوي، او الله هغو عملونو لره، چې تاسو يې کوئ، ښه لیدونکی دی

وَلَئِن قُتِلۡتُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَوۡ مُتُّمۡ لَمَغۡفِرَةٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَحۡمَةٌ خَيۡرٞ مِّمَّا يَجۡمَعُونَ ١٥٧

(157) او قسم دی، خامخا که تاسو د الله په لار کې ووژل شئ، یا مړه شئ(نو) خامخا د الله له طرفه بخښنه او رحمت ډېر غوره دی له هغو (مالونو) نه چې دوی يې جمع کوي

وَلَئِن مُّتُّمۡ أَوۡ قُتِلۡتُمۡ لَإِلَى ٱللَّهِ تُحۡشَرُونَ ١٥٨

(158) او خامخا که چېرې تاسو مړه شئ، یا ووژل شئ، (نو) خامخا خاص د الله په طرف به تاسو راجمع کړی شئ

فَبِمَا رَحۡمَةٖ مِّنَ ٱللَّهِ لِنتَ لَهُمۡۖ وَلَوۡ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ ٱلۡقَلۡبِ لَٱنفَضُّواْ مِنۡ حَوۡلِكَۖ فَٱعۡفُ عَنۡهُمۡ وَٱسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ وَشَاوِرۡهُمۡ فِي ٱلۡأَمۡرِۖ فَإِذَا عَزَمۡتَ فَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُتَوَكِّلِينَ ١٥٩

(159) نو (يواځې) د الله د رحمت په سبب ته د دوی لپاره نرم يې او که چېرې ته بدخويَه، سخت زړی وَی (،نو) خامخا دوی به ستا له چاپېره نه خواره شوي وو، نو دوی ته معافي کوه، او د دوی لپاره بخښنه غواړه، او له دوی سره په کار کې مشوره کوه، بيا چې کله ته پخه اراده وکړې، نو په الله باندې توکل کوه، يقينًا الله له توکل کوونکو سره مينه کوي

إِن يَنصُرۡكُمُ ٱللَّهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمۡۖ وَإِن يَخۡذُلۡكُمۡ فَمَن ذَا ٱلَّذِي يَنصُرُكُم مِّنۢ بَعۡدِهِۦۗ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ١٦٠

(160) که چېرې الله ستاسو مدد وکړي، نو بيا پر تاسو باندې هيڅوك غالب راتلونکی نشته او که چېرې تاسو (بې مدده) پرېږدي، نو څوك دی هغه کس چې له هغه (الله) نه بعد به ستاسو مدد وکړي؟ او پس لازم ده چې مومنان خاص په الله باندې توکل وکړي

وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَغُلَّۚ وَمَن يَغۡلُلۡ يَأۡتِ بِمَا غَلَّ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفۡسٖ مَّا كَسَبَتۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ١٦١

(161) او له نبي نه دا نشي کېدلی چې هغه دې خيانت وکړي او چا چې خيانت وکړ، نو د قيامت په ورځ به له خيانت سره راځي، بيا به هر نفس ته د هغه د عمل پوره پوره بدله ورکړی شي او پر هغوی به ظلم ونه کړی شي

أَفَمَنِ ٱتَّبَعَ رِضۡوَٰنَ ٱللَّهِ كَمَنۢ بَآءَ بِسَخَطٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَمَأۡوَىٰهُ جَهَنَّمُۖ

(162) ايا نو هغه څوك چې د الله د رضامندی پيروي کوي، د هغه کس په شان

وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ١٦٢

دی چې د الله له جانبه په (راغلي) غضب سره واپس شي؟ او د هغه استوګنه جهنم دی او هغه د ورتلو بد ځای دی

هُمۡ دَرَجَٰتٌ عِندَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِمَا يَعۡمَلُونَ ١٦٣

(163) د الله په نیز دوی د بېلو بېلو درجو (والا) دي او الله ښه لیدونکی دی هغو عملونو لره چې دوی یې کوي

لَقَدۡ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ إِذۡ بَعَثَ فِيهِمۡ رَسُولٗا مِّنۡ أَنفُسِهِمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِهِۦ وَيُزَكِّيهِمۡ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَإِن كَانُواْ مِن قَبۡلُ لَفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ١٦٤

(164) خامخا په رښتیا سره الله په مومنانو باندې احسان کړی دی کله چې یې دوی ته د همدوی له نفسونو (جنس) ځخه یو رسول راولېږه، چې دوی ته د هغه ایتونه تلاوت کوي او دوی پاکوي او دوی ته د کتاب او حکمت (سنت) تعلیم ورکوي او یقینًا دوی له دې نه مخکې په ښکاره ګمراهۍ کې وو

أَوَلَمَّآ أَصَٰبَتۡكُم مُّصِيبَةٞ قَدۡ أَصَبۡتُم مِّثۡلَيۡهَا قُلۡتُمۡ أَنَّىٰ هَٰذَاۖ قُلۡ هُوَ مِنۡ عِندِ أَنفُسِكُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ١٦٥

(165) ایا کله چې تاسو ته (په احد کې) یو مصیبت دررورسېده، چې یقینًا تاسو د هغه دوه چنده (مصیبت کفارو ته) رسولی و، تاسو وویل: دا له کومه (راغی؟) ته ووایه: دا ستاسو د نفسونو له طرفه دی، ببشکه الله په هر شي باندې ښه قادر دی

وَمَآ أَصَٰبَكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡتَقَى

(166) او تاسو ته چې څه مصیبت دررورسېده، په هغې ورځې کې چې دوه ډلې

ٱلۡجَمۡعَانِ فَبِإِذۡنِ ٱللَّهِ وَلِيَعۡلَمَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٦٦

يو بل ته مخامخ شولې، نو (دا) د الله په حکم سره و او د دې لپاره چې هغه (الله) مومنان معلوم کړي

وَلِيَعۡلَمَ ٱلَّذِينَ نَافَقُواْۚ وَقِيلَ لَهُمۡ تَعَالَوۡاْ قَٰتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَوِ ٱدۡفَعُواْۖ قَالُواْ لَوۡ نَعۡلَمُ قِتَالٗا لَّٱتَّبَعۡنَٰكُمۡۗ هُمۡ لِلۡكُفۡرِ يَوۡمَئِذٍ أَقۡرَبُ مِنۡهُمۡ لِلۡإِيمَٰنِۚ يَقُولُونَ بِأَفۡوَٰهِهِم مَّا لَيۡسَ فِي قُلُوبِهِمۡۚ وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا يَكۡتُمُونَ ١٦٧

(167) او د دې لپاره چې هغه (الله) هغه کسان معلوم کړي چې نفاق يې کړی دی او دوی ته وويل شو چې راځئ د الله په لار کې جنګ وکړئ، يا دفاع وکړئ، دوی ويل:که چېرې مونږه په جنګ پوهېدلی، (نو) مونږ به خامخا ستاسو پيروي کړې وه، دوی په دغې ورځ کې ايمان ته د نژدې کېدو په نسبت کفر ته زيات نژدې وو، دوی په خپلو خولو سره هغه خبرې کوي چې په زړونو کې يې نشته، او الله پر هغه څه ښه عالم دی، چې دوی يې پټوي

ٱلَّذِينَ قَالُواْ لِإِخۡوَٰنِهِمۡ وَقَعَدُواْ لَوۡ أَطَاعُونَا مَا قُتِلُواْۗ قُلۡ فَٱدۡرَءُواْ عَنۡ أَنفُسِكُمُ ٱلۡمَوۡتَ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ١٦٨

(168) هغه کسان چې د خپلو ورونو په باره کې يې وويل او خپله (له جنګ نه) ناست وو: که چېرې هغوی زمونږ خبره منلې وی، (نو) نه به وژل کېدل، ته (ورته) ووايه: نو تاسو له خپلو ځانونو نه مرګ لرې کړئ که چېرې تاسو رښتيني يئ

وَلَا تَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمۡوَٰتَۢاۚ بَلۡ أَحۡيَآءٌ عِندَ رَبِّهِمۡ

(169) او د الله په لاره کې پر وژل شويو کسانو باندې هېڅکله د مړيو ګمان مه کوه،

يُرۡزَقُونَ ١٦٩

بلکې (هغوی) ژوندي دي، د خپل رب په نيز هغوی ته رزق ورکول کېږي

فَرِحِينَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن
فَضۡلِهِۦ وَيَسۡتَبۡشِرُونَ بِٱلَّذِينَ لَمۡ
يَلۡحَقُواْ بِهِم مِّنۡ خَلۡفِهِمۡ أَلَّا
خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ
يَحۡزَنُونَ ١٧٠

(170) په دې حال کې چې ډېر خوشحاله دي په هغه شي باندې چې الله دوی ته له خپله فضله ورکړی دی او د هغو کسانو په باره کې ډېر خوشحالېږي چې له دوی نه وروسته دوی پسې لا نه دي وررسېدلي، دا چې په دوی باندې هېڅ وېره نشته او نه دوی غمژن کېږي

۞يَسۡتَبۡشِرُونَ بِنِعۡمَةٖ مِّنَ ٱللَّهِ
وَفَضۡلٖ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجۡرَ
ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٧١

(171) ډېر خوشحالېږي د الله له جانبه په نعمت او فضل سره او په دې چې بېشکه الله د مومنانو اجر نه ضايع کوي

ٱلَّذِينَ ٱسۡتَجَابُواْ لِلَّهِ وَٱلرَّسُولِ مِنۢ
بَعۡدِ مَآ أَصَابَهُمُ ٱلۡقَرۡحُۚ لِلَّذِينَ
أَحۡسَنُواْ مِنۡهُمۡ وَٱتَّقَوۡاْ أَجۡرٌ
عَظِيمٌ ١٧٢

(172) هغه کسان، چې د الله او د رسول حکم يې ومانه، وروسته له دې چې دوی ته زخم (هم) رسېدلی و، په دوی کې د هغو کسانو لپاره چې نېکي يې کړې ده او پرهېزګاره شوي دي ډېر لوی اجر دی

ٱلَّذِينَ قَالَ لَهُمُ ٱلنَّاسُ إِنَّ ٱلنَّاسَ
قَدۡ جَمَعُواْ لَكُمۡ فَٱخۡشَوۡهُمۡ
فَزَادَهُمۡ إِيمَٰنٗا وَقَالُواْ حَسۡبُنَا ٱللَّهُ

(173) (دوی) هغه کسان دي چې دوی ته (ځينو) خلقو وويل: بېشکه (د مکې) خلق په ربښتيا سره ستاسو (سره د جنګ) لپاره راټول

وَنِعۡمَ ٱلۡوَكِيلُ ١٧٣

شوي دي، نو تاسو له هغوی نه ووېرېږئ، نو (دي خبري) د هغوی ایمان (نور هم) زیات کړ او ويې ویل:زمونږ لپاره الله کافي دی او هغه ښه کار جوړوونکی دی

فَٱنقَلَبُواْ بِنِعۡمَةٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَضۡلٖ لَّمۡ يَمۡسَسۡهُمۡ سُوٓءٞ وَٱتَّبَعُواْ رِضۡوَٰنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ ذُو فَضۡلٍ عَظِيمٍ ١٧٤

(174) نو دوی د الله له جانبه په نعمت او فضل سره بېرته راوګرځېدل، په دي حال کې چي ونه رسېد دوی ته هېڅ تکلیف او دوی د الله د رضامندی تابع شول او الله د ډېر لوی فضل والا دی

إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ يُخَوِّفُ أَوۡلِيَآءَهُۥ فَلَا تَخَافُوهُمۡ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ١٧٥

(175) بېشکه همدا خبره ده چي دغه شیطان دی، چي خپل دوستان وېروي، نو تاسو له هغوی نه مه وېرېږئ او له ما نه وېرېږئ که چېرې تاسو مومنان یئ

وَلَا يَحۡزُنكَ ٱلَّذِينَ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡكُفۡرِۚ إِنَّهُمۡ لَن يَضُرُّواْ ٱللَّهَ شَيۡـٔٗاۗ يُرِيدُ ٱللَّهُ أَلَّا يَجۡعَلَ لَهُمۡ حَظّٗا فِي ٱلۡأٓخِرَةِۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٌ ١٧٦

(176) او تا لره دي هغه کسان غمژن نه کړي چي په کفر کې يو تر بله تلوار کوي، بېشکه دوی کله هم الله ته څه ضرر نشي رسولی، الله اراده لري چي د دوی لپاره په اخرت کې هېڅ برخه جوړه نه کړي او د دوی لپاره ډېر لوی عذاب دی

إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱشۡتَرَوُاْ ٱلۡكُفۡرَ

(177) بېشکه هغه کسان چي د ایمان په بدله کې يې کفر اخیستی دی، دوی به کله

بِٱلۡإِيمَٰنِ لَن يَضُرُّواْ ٱللَّهَ شَيۡـٔٗاۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ١٧٧

هم الله ته څه ضرر ونه رسولی شي او د دوی لپاره ډېر دردوونکی عذاب دی

وَلَا يَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّمَا نُمۡلِي لَهُمۡ خَيۡرٞ لِّأَنفُسِهِمۡۚ إِنَّمَا نُمۡلِي لَهُمۡ لِيَزۡدَادُوٓاْ إِثۡمٗاۖ وَلَهُمۡ عَذَابٞ مُّهِينٞ ١٧٨

**(178)** او کافران شوي خلق دې له سره دا گمان ونه کړي چې ببشکه مونږ چې دوی ته مهلت ورکوو، دا دوی د ځانونو لپاره ډېر ښه دی، يقينًا خبره دا ده چې مونږ دوی ته مهلت د دې لپاره ورکوو چې دوی په گناه کې مخ په وړاندې لاړ شي او د دوی لپاره سپکوونکی عذاب دی

مَّا كَانَ ٱللَّهُ لِيَذَرَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ عَلَىٰ مَآ أَنتُمۡ عَلَيۡهِ حَتَّىٰ يَمِيزَ ٱلۡخَبِيثَ مِنَ ٱلطَّيِّبِۗ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُطۡلِعَكُمۡ عَلَى ٱلۡغَيۡبِ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَجۡتَبِي مِن رُّسُلِهِۦ مَن يَشَآءُۖ فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦۚ وَإِن تُؤۡمِنُواْ وَتَتَّقُواْ فَلَكُمۡ أَجۡرٌ عَظِيمٞ ١٧٩

**(179)** الله له سره داسې نه دی چې مومنان په هغه حال باندې پرېږدي په کوم باندې چې تاسو (اوس) يئ، تر دې چې ناپاك له پاکه بېل کړي، او الله کله هم داسې نه دی چې تاسو په غيبو باندې خبر کړي او لېکن الله د خپلو رسولانو (له ډلې) نه غوره کوي چا لره چې وغواړي، نو پر الله او د هغه په رسولانو باندې ايمان راوړئ او که چېرې تاسو ايمان راوړ او پرهېزگاره شوئ، نو تاسو لپاره ببخي لوی اجر دی

وَلَا يَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ يَبۡخَلُونَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦ هُوَ خَيۡرٗا

**(180)** او هغه کسان، چې په هغه څه سره شومتيا (بخل) کوي چې الله دوی ته له خپله

لَّهُمۖ بَلۡ هُوَ شَرّٞ لَّهُمۡۖ سَيُطَوَّقُونَ مَا
بَخِلُواْ بِهِۦ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ وَلِلَّهِ
مِيرَٰثُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ وَٱللَّهُ
بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ١٨٠

فضله ورکړی دی (دوی دي) له سره دا گمان ونه کړي چې دا (شومتیا کول) د دوی لپاره ډېر ښه دي، بلکې دا د دوی لپاره ډېر بد دي، ژر ده چې د قیامت په ورځ به دوی ته هغه شی امېل کړی شي، چې په هغه سره دوی شومتیا کوله، او خاص الله لپاره د اسمانونو او ځمکې میراث دی او الله پر هغو کارونو چې تاسو يې کوئ؛ ښه خبردار دی

لَّقَدۡ سَمِعَ ٱللَّهُ قَوۡلَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ
إِنَّ ٱللَّهَ فَقِيرٞ وَنَحۡنُ أَغۡنِيَآءُۘ
سَنَكۡتُبُ مَا قَالُواْ وَقَتۡلَهُمُ
ٱلۡأَنۢبِيَآءَ بِغَيۡرِ حَقّٖ وَنَقُولُ ذُوقُواْ
عَذَابَ ٱلۡحَرِيقِ ١٨١

**(181)** خامخا یقینًا الله د هغو خلقو خبره واورېدله چې ویې ویل:بېشکه الله فقیر دی او مونږه غنیان یو، خامخا به مونږ لیکو د دوی دا خبره او نبیانو لره د دوی ناحقه وژل، او مونږ به (دوی ته) ووایو: تاسو سخت سوزوونکی عذاب وڅکئ

ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيكُمۡ وَأَنَّ
ٱللَّهَ لَيۡسَ بِظَلَّامٖ لِّلۡعَبِيدِ ١٨٢

**(182)** دا (عذاب) په سبب د هغه (بدعمل) دی چې ستاسو لاسونو مخکې لېږلی دی، او ځکه چې یقینًا الله پر بنده گانو هېڅ ظلم کوونکی نه دی

ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ عَهِدَ إِلَيۡنَآ أَلَّا
نُؤۡمِنَ لِرَسُولٍ حَتَّىٰ يَأۡتِيَنَا بِقُرۡبَانٖ
تَأۡكُلُهُ ٱلنَّارُۗ قُلۡ قَدۡ جَآءَكُمۡ

**(183)** (دوی) هغه کسان دي چې وايي: بېشکه الله مونږ ته حکم کړی دی چې مونږ به په هېڅ یو پېغمبر باندې ایمان نه راوړو تر هغه

رُسُلٞ مِّن قَبۡلِي بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَبِٱلَّذِي قُلۡتُمۡ فَلِمَ قَتَلۡتُمُوهُمۡ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ١٨٣

پورې چې هغه مونږ ته يوه داسې قرباني راوړي چې اور يې خوري، ته (ورته) ووايه: يقينًا تاسو ته له ما نه مخکې رسولانو ښکاره معجزې راوړې وې او هغه شی هم چې تاسو يې وايئ، بيا ولې تاسو هغوی قتل کړل؟ که چېرې تاسو رښتيني يئ

فَإِن كَذَّبُوكَ فَقَدۡ كُذِّبَ رُسُلٞ مِّن قَبۡلِكَ جَآءُو بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَٱلزُّبُرِ وَٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُنِيرِ ١٨٤

(184) نو که دوی تا دروغژن وګڼي، نو يقينًا له تا نه مخکې (هم) رسولان دروغژن ګڼل شوي دي، هغوی ښکاره دليلونه راوړي وو او واړه کتابونه او رڼا کوونکی کتاب (يې راوړی و)

كُلُّ نَفۡسٖ ذَآئِقَةُ ٱلۡمَوۡتِۗ وَإِنَّمَا تُوَفَّوۡنَ أُجُورَكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۖ فَمَن زُحۡزِحَ عَنِ ٱلنَّارِ وَأُدۡخِلَ ٱلۡجَنَّةَ فَقَدۡ فَازَۗ وَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا مَتَٰعُ ٱلۡغُرُورِ ١٨٥

(185) هر ساه لرونکی د مرګ (مزه) څکونکی دی او يقينًا همدا خبره ده چې تاسو ته به د قيامت په ورځ ستاسو ثوابونه (پوره) پوره درکړی شي، نو څوك چې له اور (د جهنم) نه لرې کړی شو او جنت ته داخل کړی شو، نو يقينًا هغه کامياب شو او دنيايي ژوند يواځې د غولېدلو سامان دی

۞لَتُبۡلَوُنَّ فِيٓ أَمۡوَٰلِكُمۡ وَأَنفُسِكُمۡ وَلَتَسۡمَعُنَّ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِكُمۡ وَمِنَ

(186) خامخا به تاسو په خپلو مالونو او خپلو ځانونو کې وازمايل شئ او خامخا به تاسو له هغو کسانو نه چې له تاسو نه مخکې ورته

ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُوٓاْ أَذٗى كَثِيرٗاۚ وَإِن تَصۡبِرُواْ وَتَتَّقُواْ فَإِنَّ ذَٰلِكَ مِنۡ عَزۡمِ ٱلۡأُمُورِ ١٨٦

كتاب ورکړی شوی دی او له هغو کسانو نه چې مشرکان دي، د خفګان ډېرې زياتې خبرې واورئ، او که چېرې تاسو صبر وکړئ او پرهېزګاره شئ، نو يقينًا دا د همت له کارونو څخه دي

وَإِذۡ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ لَتُبَيِّنُنَّهُۥ لِلنَّاسِ وَلَا تَكۡتُمُونَهُۥ فَنَبَذُوهُ وَرَآءَ ظُهُورِهِمۡ وَٱشۡتَرَوۡاْ بِهِۦ ثَمَنٗا قَلِيلٗاۖ فَبِئۡسَ مَا يَشۡتَرُونَ ١٨٧

(187) او کله چې الله له اهلِ کتابو نه پخه وعده واخيستله چې تاسو به هرومرو خلقو ته دا (کتاب) بيانوئ او تاسو به دا نه پټوئ، نو هغوی دا(کتاب) د خپلو شاګانو شا ته وغورځاوه او د ده په بدل کې يې لږ قيمت واخيست، نو بد دی هغه شی چې دوی يې اخلي

لَا تَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ يَفۡرَحُونَ بِمَآ أَتَواْ وَّيُحِبُّونَ أَن يُحۡمَدُواْ بِمَا لَمۡ يَفۡعَلُواْ فَلَا تَحۡسَبَنَّهُم بِمَفَازَةٖ مِّنَ ٱلۡعَذَابِۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ١٨٨

(188) ته له سره ګمان مه کوه په هغو خلقو باندې چې په خپلو کړو (ناروا کارونو) باندې خوشحالېږي او خوښوي چې په هغو (نېکو) کارونو وستايل شي چې دوی نه دي کړي، نو ته د دوی په هکله له عذاب نه د خلاصې ګمان له سره مه کوه او د دوی لپاره ډېر دردوونکی عذاب دی

وَلِلَّهِ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ١٨٩

(189) او خاص د الله لپاره د اسمانونو او ځمکې بادشاهي ده او الله په هر شي باندې

ښه قادر دی

إِنَّ فِي خَلۡقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَٱخۡتِلَٰفِ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ لَأٓيَٰتٖ لِّأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ ١٩٠

(190) بېشكه د اسمانونو او ځمكې په پیدا كولو كې او د شپې او ورځې په تلو راتلو كې خامخا د خالص عقل خاوندانو لپاره ډېرې نښې دي

ٱلَّذِينَ يَذۡكُرُونَ ٱللَّهَ قِيَٰمٗا وَقُعُودٗا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمۡ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلۡقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ رَبَّنَا مَا خَلَقۡتَ هَٰذَا بَٰطِلٗا سُبۡحَٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ١٩١

(191) هغه كسان چې الله یادوي په ولاړه او ناسته او (چې پراته وي) په خپلو اړخونو باندې او د اسمانونو او ځمكې په پیدا كونه كې ښه فكر كوي (او وايي:) اې زمونږه ربه! تا دا عبث نه دي پیدا كړي، تا لره پاكي ده، نو ته مونږه (د جهنم) له اور نه بچ كړه

رَبَّنَآ إِنَّكَ مَن تُدۡخِلِ ٱلنَّارَ فَقَدۡ أَخۡزَيۡتَهُۥۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ أَنصَارٖ ١٩٢

(192) اې زمونږه ربه! بېشكه ته چې څوك اور ته داخل كړې، نو یقینًا تا هغه رسوا كړ او د ظالمانو لپاره هیڅوك مدد كوونكي نشته

رَّبَّنَآ إِنَّنَا سَمِعۡنَا مُنَادِيٗا يُنَادِي لِلۡإِيمَٰنِ أَنۡ ءَامِنُواْ بِرَبِّكُمۡ فَـَٔامَنَّاۚ رَبَّنَا فَٱغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرۡ عَنَّا سَيِّـَٔاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ ٱلۡأَبۡرَارِ ١٩٣

(193) اې زمونږه ربه! بېشكه مونږه یو اواز كوونكى واورېده، چې ایمان ته یې بلنه كوله، (او دا یې ویل) چې په خپل رب باندې ایمان راوړئ، نو مونږ ایمان راوړ، اې زمونږه ربه! نو ته مونږ ته زمونږ ګناهونه وبخښه او له مونږ نه زمونږ بدۍ لرې كړه او مونږ ته وفات راكړه، په

دي حال کې چې د نېکانو له ډلې سره يو

رَبَّنَا وَءَاتِنَا مَا وَعَدتَّنَا عَلَىٰ رُسُلِكَ وَلَا تُخۡزِنَا يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۖ إِنَّكَ لَا تُخۡلِفُ ٱلۡمِيعَادَ ١٩٤

(194) ای زمونږه ربه! او مونږ ته هغه (ثوابونه) راکړه چې تا له مونږ سره د خپلو رسولانو په ژبه (د هغو) وعده کړې ده، او د قيامت په ورځ مونږه مه رسوا کوه، بېشکه ته د وعدې مخالفت نه کوې

فَٱسۡتَجَابَ لَهُمۡ رَبُّهُمۡ أَنِّي لَآ أُضِيعُ عَمَلَ عَٰمِلٖ مِّنكُم مِّن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰۖ بَعۡضُكُم مِّنۢ بَعۡضٖۖ فَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ وَأُخۡرِجُواْ مِن دِيَٰرِهِمۡ وَأُوذُواْ فِي سَبِيلِي وَقَٰتَلُواْ وَقُتِلُواْ لَأُكَفِّرَنَّ عَنۡهُمۡ سَيِّـَٔاتِهِمۡ وَلَأُدۡخِلَنَّهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ ثَوَابٗا مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ عِندَهُۥ حُسۡنُ ٱلثَّوَابِ ١٩٥

(195) نو خپل رب يې دعا قبوله کړه چې بېشکه زه په تاسو کې د هېڅ يو عمل کوونکي عمل نه ضايع کوم، نر وي او که ښځه، ستاسو ځينې له ځينو نورو څخه دي، نو هغه کسان چې هجرت يې کړی دی او له خپلو کورونو نه وېستل شوي دي او زما په لاره کې ورته تکليفونه رسول شوي دي او جنګونه يې کړي دي او وژل شوي دي (نو) زه به خامخا ضرور لرې (معاف) کړم له دوی نه د دوی ګناهونه او خامخا ضرور به يې داسې جنتونو ته داخل کړم چې د هغو له لاندې وَلې بهېږي، چې د الله له طرفه نه بدله ده او هم دا الله دی چې له هغه سره ښه بدله ده

لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِي ٱلۡبِلَٰدِ ١٩٦

(196) (ای اورېدونکيه!) په ښارونو کې د کافرانو تلل راتلل دې تا تېر نه باسي (دوکه نه

کړي)

مَتَٰعٞ قَلِيلٞ ثُمَّ مَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ١٩٧

(197) (دا) ډېره لږه فايده ده، بيا د هغو اوسېدنځای جهنم دی او هغه بده استوګنه ده

لَٰكِنِ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ رَبَّهُمۡ لَهُمۡ جَنَّٰتٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا نُزُلٗا مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِۗ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيۡرٞ لِّلۡأَبۡرَارِ ١٩٨

(198) خو هغه کسان چې له خپل رب نه ووېرېدل د هغوی لپاره داسې جنتونه دي چې د هغو له لاندې وَلې بهېږي، چې دوی به په هغو کې همېشه وي، چې د الله له طرف نه مېلمستيا ده، او هغه څه چې له الله سره دي (هغه) د نېکانو خلقو لپاره ډېر غوره دي

وَإِنَّ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ لَمَن يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُمۡ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِمۡ خَٰشِعِينَ لِلَّهِ لَا يَشۡتَرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ثَمَنٗا قَلِيلًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ أَجۡرُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ١٩٩

(199) او بېشکه ځينې له اهلِ کتابو څخه خامخا هغه څوك دي چې پر الله ايمان راوړي او پر هغه (کتاب) چې تاسو ته نازل کړی شوی دی او پر هغو (کتابونو) چې دوی ته نازل کړی شوي دي، چې الله ته عاجزي کوونکي دي، د الله د ايتونو په بدل کې لږ قيمت نه اخلي، دغه کسان (چې دي) د دوی لپاره د خپل رب په نيز د دوی اجر دی، بېشکه الله ډېر ژر حساب کوونکی دی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱصۡبِرُواْ وَصَابِرُواْ وَرَابِطُواْ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ

(200) ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو صبر کوئ او په صبر ټينګ اوسئ

لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ٢٠٠

او په (سرحدي) مورچو کې محکم اوسئ او له الله نه وېرېږئ، لپاره د دې چې تاسو کامیاب شئ

## سُورَةُ النِّسَاءِ

## سورۀ نساء

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٖ وَٰحِدَةٖ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِي تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا ١

(1) ای خلقو! له خپل رب نه ووېرېږئ هغه چې تاسو یې له یو نفس نه پیدا کړي یئ او له هغه نه یې د هغه جوړه پیدا کړې ده، او له دغو دواړو نه یې (په ځمکه کې) ډېر سړي او ښځې خواره کړل، او له هغه الله نه ووېرېږئ چې تاسو له یو بل نه په(نامه د) هغه سره سوال کوئ او د خپلولۍ له پرېکولو نه (ووېرېږئ)، بېشکه الله پر تاسو باندي ښه ساتونکی (نګهبان) دی

وَءَاتُواْ ٱلۡيَتَٰمَىٰٓ أَمۡوَٰلَهُمۡۖ وَلَا تَتَبَدَّلُواْ ٱلۡخَبِيثَ بِٱلطَّيِّبِۖ وَلَا تَأۡكُلُوٓاْ أَمۡوَٰلَهُمۡ إِلَىٰٓ أَمۡوَٰلِكُمۡۚ إِنَّهُۥ كَانَ حُوبٗا كَبِيرٗا ٢

(2) او یتیمانو ته د هغوی مالونه ورکړئ او ناپاکه څیز د پاك په بدل کې مه اخلئ او د هغوی مالونه له خپلو مالونو سره (په یوځای کولو) مه خورئ، یقینًا دا له همېشه ببخي

لويه ګناه ده

وَإِنۡ خِفۡتُمۡ أَلَّا تُقۡسِطُواْ فِي ٱلۡيَتَٰمَىٰ فَٱنكِحُواْ مَا طَابَ لَكُم مِّنَ ٱلنِّسَآءِ مَثۡنَىٰ وَثُلَٰثَ وَرُبَٰعَۖ فَإِنۡ خِفۡتُمۡ أَلَّا تَعۡدِلُواْ فَوَٰحِدَةً أَوۡ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُكُمۡۚ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَلَّا تَعُولُواْ ٣

(3) او که چېرې تاسو وېرېدلئ له دې چې د يتيمانو په حق کې به انصاف ونه کړی شئ، بيا نو له (نورو) هغو ښځو سره نکاح وکړئ چې ستاسو خوښې وي، دوه دوه، يا درې درې، يا څلور څلور، نو که تاسو وېرېدلئ چې انصاف به ونه کړی شئ، بيا نو له يوې (اصيلې ښځې) سره (نکاح وکړئ)، يا وينځه (واخلئ)، دا (طريقه) ډېره نژدې ده دې ته چې تاسو به ظلم ونه کړئ

وَءَاتُواْ ٱلنِّسَآءَ صَدُقَٰتِهِنَّ نِحۡلَةٗۚ فَإِن طِبۡنَ لَكُمۡ عَن شَيۡءٖ مِّنۡهُ نَفۡسٗا فَكُلُوهُ هَنِيٓـٔٗا مَّرِيٓـٔٗا ٤

(4) او ښځو ته د هغوی مهرونه په خوشحالۍ سره ورکړئ، بيا که دوی تاسو ته له هغه (مهر) نه څه شی د زړه په خوشحالۍ سره درکړي، نو هغه خورئ، چې ښه خوندوَر حلال (او) بې ضرره دی

وَلَا تُؤۡتُواْ ٱلسُّفَهَآءَ أَمۡوَٰلَكُمُ ٱلَّتِي جَعَلَ ٱللَّهُ لَكُمۡ قِيَٰمٗا وَٱرۡزُقُوهُمۡ فِيهَا وَٱكۡسُوهُمۡ وَقُولُواْ لَهُمۡ قَوۡلٗا مَّعۡرُوفٗا ٥

(5) او ناپوهو کسانو ته د هغوی مالونه مه ورسپارئ، هغه چې الله تاسو لپاره د ګذران سبب ګرځولي دي، او له د غو (مالونو) نه تاسو هغوی ته خوراك ورکوئ او جامه ورکوئ او هغوی ته ښه خبره کوئ

| | |
|---|---|
| وَٱبۡتَلُواْ ٱلۡيَتَٰمَىٰ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغُواْ ٱلنِّكَاحَ فَإِنۡ ءَانَسۡتُم مِّنۡهُمۡ رُشۡدٗا فَٱدۡفَعُوٓاْ إِلَيۡهِمۡ أَمۡوَٰلَهُمۡۖ وَلَا تَأۡكُلُوهَآ إِسۡرَافٗا وَبِدَارًا أَن يَكۡبَرُواْۚ وَمَن كَانَ غَنِيّٗا فَلۡيَسۡتَعۡفِفۡۖ وَمَن كَانَ فَقِيرٗا فَلۡيَأۡكُلۡ بِٱلۡمَعۡرُوفِۚ فَإِذَا دَفَعۡتُمۡ إِلَيۡهِمۡ أَمۡوَٰلَهُمۡ فَأَشۡهِدُواْ عَلَيۡهِمۡۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ حَسِيبٗا ﴿٦﴾ | (6) او تاسو يتيمان ازمايئ تر هغه پورې چې دوی (حد د) نکاح ته ورسېږي، نو كه تاسو له هغوی نه څه هوښيارتيا معلومه (محسوسه) كړه، بيا نو هغوی ته خپل مالونه وروسپارئ، او تاسو دا (د يتيمانو مالونه) په اسراف سره او جلتۍ سره مه خورئ، چې دوی به لوی شي (نو وابه يې خلي) او څوك (د يتيم ولي) چې مالداره وي، نو هغه دې (له دې ماله) ځان بنه بچ ساتي او څوك چې فقير وي، نو هغه دې له دستور سره سم خوري، بيا چې كله هغوی ته خپل مالونه وركوئ، نو په دې (وركړه) باندې گواهان ونيسئ او الله كافي دی، چې ښه حساب اخيستونكی دی |
| لِّلرِّجَالِ نَصِيبٞ مِّمَّا تَرَكَ ٱلۡوَٰلِدَانِ وَٱلۡأَقۡرَبُونَ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيبٞ مِّمَّا تَرَكَ ٱلۡوَٰلِدَانِ وَٱلۡأَقۡرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنۡهُ أَوۡ كَثُرَۚ نَصِيبٗا مَّفۡرُوضٗا ﴿٧﴾ | (7) د نارينه وو لپاره حصه شته له هغه (مال) نه چې مور و پلار او نژدې خپلوان يې پرېږدي، او د ښځو لپاره (هم) حصه شته له هغه (مال) نه چې مور و پلار او نژدې خپلوان يې پرېږدي، له هغه (مال) نه چې لږ وي، يا ډېر وي، مقرر كړی شوې برخه ده |
| وَإِذَا حَضَرَ ٱلۡقِسۡمَةَ أُوْلُواْ ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينُ فَٱرۡزُقُوهُم | (8) او كله چې (د ميراث) تقسيم ته خپلوان او يتيمان او مسكينان حاضر شي، نو له هغه |

مِّنۡهُ وَقُولُواْ لَهُمۡ قَوۡلٗا مَّعۡرُوفٗا ٨

(مال) نه دوى ته (هم څه) ورکړئ او دوى ته ښه خبره وکړئ

وَلۡيَخۡشَ ٱلَّذِينَ لَوۡ تَرَكُواْ مِنۡ خَلۡفِهِمۡ ذُرِّيَّةٗ ضِعَٰفًا خَافُواْ عَلَيۡهِمۡ فَلۡيَتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلۡيَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدًا ٩

(9) او هغه کسان دې ووېرېږي چې که چېرې دوى له خپل ځان (له مرګ) نه وروسته کمزوري بچي پرېږدي، (نو) دوى به په هغو باندې وېرېږي، نو لازم ده چې له الله نه دې ووېرېږي او سمه نېغه خبره دې وکړي

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَأۡكُلُونَ أَمۡوَٰلَ ٱلۡيَتَٰمَىٰ ظُلۡمًا إِنَّمَا يَأۡكُلُونَ فِي بُطُونِهِمۡ نَارٗاۖ وَسَيَصۡلَوۡنَ سَعِيرٗا ١٠

(10) بېشکه هغه کسان چې د يتيمانو مالونه په ظلم سره خوري، يقينًا همدا خبره ده چې هغوى په خپلو خېټو کې اور خوري او ژر ده چې لمبې وهونکي اور کې به داخل شي

يُوصِيكُمُ ٱللَّهُ فِيٓ أَوۡلَٰدِكُمۡۖ لِلذَّكَرِ مِثۡلُ حَظِّ ٱلۡأُنثَيَيۡنِۚ فَإِن كُنَّ نِسَآءٗ فَوۡقَ ٱثۡنَتَيۡنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَۖ وَإِن كَانَتۡ وَٰحِدَةٗ فَلَهَا ٱلنِّصۡفُۚ وَلِأَبَوَيۡهِ لِكُلِّ وَٰحِدٖ مِّنۡهُمَا ٱلسُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِن كَانَ لَهُۥ وَلَدٞۚ فَإِن لَّمۡ يَكُن لَّهُۥ وَلَدٞ وَوَرِثَهُۥٓ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ ٱلثُّلُثُۚ فَإِن كَانَ لَهُۥٓ إِخۡوَةٞ فَلِأُمِّهِ ٱلسُّدُسُۚ

(11) الله تاسو ته ستاسو د اولاد په باره کې وصيت کوي (چې) د يو نر اولاد لپاره د دوه جينکو (لوڼو) د حصې په مثل (حصه) ده، نو که دوى (دوه يا) له دوو نه زياتې جينکۍ وي، نو د دوى لپاره دوه په درې برخې دي د هغه (مال) چې ده پرېښى وي او که چېرې يواځې يوه جينۍ وي، نو د هغې لپاره نيم (مال) دى او د هغه (مړي) مور و پلار لپاره په دواړو کې د هر يو لپاره شپږمه حصه ده له هغه (مال) نه چې هغه (مړي) پرېښى وي، که چېرې د هغه

مِنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٖ يُوصِي بِهَآ أَوۡ دَيۡنٍۗ
ءَابَآؤُكُمۡ وَأَبۡنَآؤُكُمۡ لَا تَدۡرُونَ
أَيُّهُمۡ أَقۡرَبُ لَكُمۡ نَفۡعٗاۚ فَرِيضَةٗ
مِّنَ ٱللَّهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا
حَكِيمٗا ١١

(مړي) لپاره اولاد وي او که د هغه اولاد نه وي او د هغه وارثان د هغه مور و پلار وي، نو د هغه د مور لپاره دریمه حصه ده، نو که چېرې د هغه (مړي) لپاره وروڼه وي، نو د هغه د مور لپاره شپږمه حصه ده (دا) پس له (اداکولو د) وصیت نه، چې هغه (مړي) یې وصیت کړی وي یا له قرض نه، ستاسو پلرونه او ستاسو زامن (چې دي)، تاسو نه پوهېږئ چې په دوی کې تاسو ته د فایدې په لحاظ سره څوک ډېر نژدې دي، دا مقرره برخه ده د الله له جانبه، بېشکه الله ښه پوه، ښه حکمت والا دی

۞وَلَكُمۡ نِصۡفُ مَا تَرَكَ
أَزۡوَٰجُكُمۡ إِن لَّمۡ يَكُن لَّهُنَّ وَلَدٞۚ
فَإِن كَانَ لَهُنَّ وَلَدٞ فَلَكُمُ ٱلرُّبُعُ
مِمَّا تَرَكۡنَۚ مِنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٖ
يُوصِينَ بِهَآ أَوۡ دَيۡنٖۚ وَلَهُنَّ ٱلرُّبُعُ
مِمَّا تَرَكۡتُمۡ إِن لَّمۡ يَكُن لَّكُمۡ
وَلَدٞۚ فَإِن كَانَ لَكُمۡ وَلَدٞ فَلَهُنَّ
ٱلثُّمُنُ مِمَّا تَرَكۡتُمۚ مِّنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٖ
تُوصُونَ بِهَآ أَوۡ دَيۡنٖۗ وَإِن كَانَ

**(12)** او تاسو لپاره (ای سړیو!) نیمه حصه ده له هغه (مال) نه چې ستاسو ښځې یې پرېږدي که چېرې د هغوی اولاد نه وي، نو که چېرې د هغوی اولاد وي، نو تاسو لپاره څلورمه حصه ده له هغه (مال) نه چې هغوی یې پرېږدي، پس له (ادا کولو د) وصیت نه چې هغوی په دې سره وصیت کوي، یا له قرض نه، او د هغو (ښځو) لپاره څلورمه حصه ده له هغه (مال) نه چې تاسو (خاوندان) یې پرېږدئ که چېرې ستاسو اولاد نه وي، نو که چېرې

رَجُلٌ يُورَثُ كَلَٰلَةً أَوِ ٱمۡرَأَةٌ وَلَهُۥٓ أَخٌ أَوۡ أُخۡتٌ فَلِكُلِّ وَٰحِدٍ مِّنۡهُمَا ٱلسُّدُسُۚ فَإِن كَانُوٓاْ أَكۡثَرَ مِن ذَٰلِكَ فَهُمۡ شُرَكَآءُ فِي ٱلثُّلُثِۚ مِنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٍ يُوصَىٰ بِهَآ أَوۡ دَيۡنٍ غَيۡرَ مُضَآرٍّۚ وَصِيَّةً مِّنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَلِيمٌ ١٢

ستاسو لپاره وي، نو د هغو (ښځو) لپاره اتمه حصه ده له هغه (مال) نه چې تاسو يې پرېږدئ، پس له (اداكولو د) وصيت نه چې تاسو د هغه وصيت كوئ، يا له قرض نه او كه يو سړى، يا ښځه چې ميراث ترې وړل كېږي، كلاله (بې پلاره او بې اولاده) وي او د هغه (يا د هغې) (مورنى) ورور، يا خور وي، نو په دې دواړو كې هر يو ته شپږمه حصه ده، بيا كه هغوى (د كلاله خويندې، وروڼه) له دې (شمېر) نه زيات وو، نو هغوى په درېمه حصه كې (ټول) شريك دي، پس له وصيته، چې د هغه وصيت كولى شي، يا له قرض نه، چې ضرر رسوونكى نه وي (بل ته په دې وصيت سره) دا د الله له جانبه وصيت دى، او الله ښه پوه، ښه تحمل ولا دى

تِلۡكَ حُدُودُ ٱللَّهِۚ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ يُدۡخِلۡهُ جَنَّٰتٍ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ وَذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ١٣

**(13)** دا د الله حدونه دي او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وكړ، (نو) هغه (الله) به يې داسې جنتونو ته ننباسي چې د هغو له لاندې وَلې بهېږي، چې دوى به په هغو كې همېشه وي او دا ډېر لويه كاميابي ده

وَمَن يَعۡصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَتَعَدَّ حُدُودَهُۥ يُدۡخِلۡهُ نَارًا خَٰلِدًا فِيهَا

**(14)** او چا چې د الله او د هغه د رسول نافرماني وكړه او د هغه (الله) له حدونو نه

وَلَهُۥ عَذَابٞ مُّهِينٞ ١٤

مخکې تېر شو، نو هغه (الله) به يې اور ته داخل کړي، چې په هغه کې به همېشه وي او د هغه لپاره سپکوونکی عذاب دی

وَٱلَّٰتِي يَأۡتِينَ ٱلۡفَٰحِشَةَ مِن نِّسَآئِكُمۡ فَٱسۡتَشۡهِدُواْ عَلَيۡهِنَّ أَرۡبَعَةٗ مِّنكُمۡۖ فَإِن شَهِدُواْ فَأَمۡسِكُوهُنَّ فِي ٱلۡبُيُوتِ حَتَّىٰ يَتَوَفَّىٰهُنَّ ٱلۡمَوۡتُ أَوۡ يَجۡعَلَ ٱللَّهُ لَهُنَّ سَبِيلٗا ١٥

(15) او ستاسو له ښځو څني چې کومې بدکاري (زنا) وکړي، نو تاسو پر هغوی باندې له خپلو (مسلمانانو) نه څلور (سړي) گواهان ونيسئ، نو که چېرې هغوی گواهي ووايي، بيا دا ښځې په کورونو کې پابندې وساتئ تر هغه وخته پورې چې مرگ يې فنا کړي، يا الله د دوی لپاره څه بله لار راوباسي

وَٱلَّذَانِ يَأۡتِيَٰنِهَا مِنكُمۡ فَـَٔاذُوهُمَاۖ فَإِن تَابَا وَأَصۡلَحَا فَأَعۡرِضُواْ عَنۡهُمَآۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ تَوَّابٗا رَّحِيمًا ١٦

(16) او په تاسو کې چې کوم دوه کسان دا (بدکاري) کوي، نو هغوی دواړو ته تکليف ورسوئ، بيا که دوی توبه ووېسته او د ځان اصلاح يې وکړه، نو تاسو له دوی نه مخ واړوئ، بېشکه الله ډېر توبه قبلوونکی، بې حده مهربان دی

إِنَّمَا ٱلتَّوۡبَةُ عَلَى ٱللَّهِ لِلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ ٱلسُّوٓءَ بِجَهَٰلَةٖ ثُمَّ يَتُوبُونَ مِن قَرِيبٖ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَتُوبُ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡۗ وَكَانَ ٱللَّهُ

(17) اصل خبره دا ده چې په الله باندې د توبې د قبلولو حق د هغه چا لپاره دی، چې په ناپوهۍ سره گناه کوي، بيا ډېر ژر توبه وباسي، نو دغه خلق دي چې الله د هغوی توبه قبلوي او الله ښه پوه، ښه حکمت والا دی

عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿١٧﴾

وَلَيْسَتِ ٱلتَّوْبَةُ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ حَتَّىٰٓ إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ ٱلْمَوْتُ قَالَ إِنِّى تُبْتُ ٱلْـَٰٔنَ وَلَا ٱلَّذِينَ يَمُوتُونَ وَهُمْ كُفَّارٌ ۚ أُو۟لَـٰٓئِكَ أَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٨﴾

(18) او د هغه چا لپاره توبه نشته چې لګیا وي ګناهونه کوي، تر دې چې کله په دوی کې یو کس ته مرګ راشي، (بیا د ځنکدن په وخت کې) وایي:بېشکه زما اوس توبه ده او نه د هغو کسانو لپاره (توبه شته) چې د کافرتوب په حالت کې مري، دغه کسان چې دي؛ مونږ د دوی لپاره ډېر دردوونکی عذاب تیار کړی دی

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَرِثُوا۟ ٱلنِّسَآءَ كَرْهًا ۖ وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ لِتَذْهَبُوا۟ بِبَعْضِ مَآ ءَاتَيْتُمُوهُنَّ إِلَّآ أَن يَأْتِينَ بِفَـٰحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ۚ وَعَاشِرُوهُنَّ بِٱلْمَعْرُوفِ ۚ فَإِن كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَىٰٓ أَن تَكْرَهُوا۟ شَيْـًٔا وَيَجْعَلَ ٱللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا ﴿١٩﴾

(19) ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو لپاره حلال نه دي چې ښځې په زور سره په میراث کې واخلئ او په دې غرض دوی مه منع کوئ (مه تنګوئ) چې تاسو (له دوی نه) له هغه (مال) نه څه برخه (بېرته) واخلئ چې تاسو دوی ته ورکړې و مګر دا چې دوی ښکاره بدکار وکړي (نو بیا یې تنګولی شئ) او له دوی سره په ښه طریقه ګذران کوئ، نو که دوی ستاسو خوښې نه وي، نو کېدای شي چې تاسو به یو شی بد ګڼئ او الله به په هغه کې ډېر زیات خیر ایښی وي

وَإِنْ أَرَدتُّمُ ٱسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَّكَانَ

(20) او که چېرې تاسو غواړئ چې د یوې

زَوۡجٖ وَءَاتَيۡتُمۡ إِحۡدَىٰهُنَّ قِنطَارٗا فَلَا تَأۡخُذُواْ مِنۡهُ شَيۡـًٔاۚ أَتَأۡخُذُونَهُۥ بُهۡتَٰنٗا وَإِثۡمٗا مُّبِينٗا ٢٠

ښځې په ځای بله ښځه بَدَله راولئ او تاسو په دوی کې یوې ته ډېرى مالونه ورکړي وي، نو له هغه (مال) نه هېڅ شی هم مه اخلئ، ایا تاسو به هغه (مال) اخلئ په بهتان لګولوسره او په ښکاره ګناه سره؟

وَكَيۡفَ تَأۡخُذُونَهُۥ وَقَدۡ أَفۡضَىٰ بَعۡضُكُمۡ إِلَىٰ بَعۡضٖ وَأَخَذۡنَ مِنكُم مِّيثَٰقًا غَلِيظٗا ٢١

**(21)** او تاسو به هغه (مال) څنګه واپس اخلئ، حال دا چې په تحقیق سره تاسو له یو بل سره یو ځای شوي یئ او هغو (ښځو) له تاسو نه ډېره پخه وعده اخیستې ده!

وَلَا تَنكِحُواْ مَا نَكَحَ ءَابَآؤُكُم مِّنَ ٱلنِّسَآءِ إِلَّا مَا قَدۡ سَلَفَۚ إِنَّهُۥ كَانَ فَٰحِشَةٗ وَمَقۡتٗا وَسَآءَ سَبِيلًا ٢٢

**(22)** او له کومو ښځو سره چې ستاسو پلرونو نکا ح کړې ده، تاسو له هغوی سره نکاح مه کوئ، لیکن هغه چې مخکې تېر شوي دي، بېشکه دا له همېشه د ډېرې بې حیایی او د (الله د) غضب کار دی او بده لار ده

حُرِّمَتۡ عَلَيۡكُمۡ أُمَّهَٰتُكُمۡ وَبَنَاتُكُمۡ وَأَخَوَٰتُكُمۡ وَعَمَّٰتُكُمۡ وَخَٰلَٰتُكُمۡ وَبَنَاتُ ٱلۡأَخِ وَبَنَاتُ ٱلۡأُخۡتِ وَأُمَّهَٰتُكُمُ ٱلَّٰتِيٓ أَرۡضَعۡنَكُمۡ وَأَخَوَٰتُكُم مِّنَ ٱلرَّضَٰعَةِ وَأُمَّهَٰتُ نِسَآئِكُمۡ

**(23)** حرامې کړی شوې دي پر تاسو باندې ستاسو میندې، او ستاسو لوڼه، او ستاسو خویندې او ستاسو تروریانې (د پلار خویندې) او ستاسو خاله ګانې (د مور خویندې) او وربرې او خورځې او ستاسو هغه میندې چې تاسو ته یې تی درکړی دی او ستاسو رضاعي خویندې او ستاسو د ښځو میندې (سکه

وَرَبَٰٓئِبُكُمُ ٱلَّٰتِي فِي حُجُورِكُم
مِّن نِّسَآئِكُمُ ٱلَّٰتِي دَخَلْتُم بِهِنَّ
فَإِن لَّمْ تَكُونُواْ دَخَلْتُم بِهِنَّ فَلَا
جُنَاحَ عَلَيْكُمْ وَحَلَٰٓئِلُ
أَبْنَآئِكُمُ ٱلَّذِينَ مِنْ أَصْلَٰبِكُمْ
وَأَن تَجْمَعُواْ بَيْنَ ٱلْأُخْتَيْنِ إِلَّا مَا
قَدْ سَلَفَ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورًا
رَّحِيمًا ﴿٢٣﴾

خوابنې) او ستاسو پرکتيانې، چې (عُمومًا) ستاسو په پرورش کې وي، چې ستاسو له هغو ښځو نه (پيدا وي) چې تاسو ورسره کوروالى کړې وي او که تاسو ورسره کوروالى نه وي کړى، نو (بيا) پر تاسو باندې څه گناه نشته، او ستاسو د خپلو حقيقي زامنو ښځې (اينگوريانې) او دا چې تاسو د دوه خويندو تر مينځه جمع وکړئ (په يو وخت کې دواړه په نكاح کې وساتئ) لېكن هغه چې مخکې تېر شوي دي، بېشكه الله له همېشه ډېر بخښونكى، بې حده مهربان دى

۞ وَٱلْمُحْصَنَٰتُ مِنَ ٱلنِّسَآءِ إِلَّا
مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُمْ ۖ كِتَٰبَ ٱللَّهِ
عَلَيْكُمْ ۚ وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَآءَ
ذَٰلِكُمْ أَن تَبْتَغُواْ بِأَمْوَٰلِكُم
مُّحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَٰفِحِينَ ۚ فَمَا
ٱسْتَمْتَعْتُم بِهِۦ مِنْهُنَّ فَـَٔاتُوهُنَّ
أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةً ۚ وَلَا جُنَاحَ
عَلَيْكُمْ فِيمَا تَرَٰضَيْتُم بِهِۦ مِنۢ
بَعْدِ ٱلْفَرِيضَةِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ
عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿٢٤﴾

**(24)** او (پر تاسو باندې حرامې كړى شوې دي) مړوښې ښځې مگر (حرامې نه دي) هغه چې تاسو يې مالكان شئ (ستاسو وينځې شي) دا پر تاسو باندې (د) الله لازم كړى (قانون) دى او چې له دغو (ښځو) نه ماسِوا دي هغه تاسو لپاره حلالې دي، (په دې شرط) چې د خپلو مالونو په ذريعه يې غواړئ، چې عفت غوښتونكي يئ، بدكاري كوونكي نه يئ، بيا چې تاسو له هغوى نه د ښځه والي فايده واخيستله، نو هغوى ته خپل مهرونه وركړئ، چې مقرر شوي دي او (اى خاوندانو

او ښځو!) پر تاسو باندې هېڅ حرج نشته په هغه څه کې چې (د مهر) له مقررولو نه پس تاسو په خپلو کې په هغه (کې په کمي، یا زیاتي) باندې راضي شئ، بېشکه الله له ازله پر هر څه پوه، ښه حکمت والا دی

وَمَن لَّمۡ يَسۡتَطِعۡ مِنكُمۡ طَوۡلًا أَن يَنكِحَ ٱلۡمُحۡصَنَٰتِ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ فَمِن مَّا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُكُم مِّن فَتَيَٰتِكُمُ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتِۚ وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِإِيمَٰنِكُمۚ بَعۡضُكُم مِّنۢ بَعۡضٖۚ فَٱنكِحُوهُنَّ بِإِذۡنِ أَهۡلِهِنَّ وَءَاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ بِٱلۡمَعۡرُوفِ مُحۡصَنَٰتٍ غَيۡرَ مُسَٰفِحَٰتٖ وَلَا مُتَّخِذَٰتِ أَخۡدَانٖۚ فَإِذَآ أُحۡصِنَّ فَإِنۡ أَتَيۡنَ بِفَٰحِشَةٖ فَعَلَيۡهِنَّ نِصۡفُ مَا عَلَى ٱلۡمُحۡصَنَٰتِ مِنَ ٱلۡعَذَابِۚ ذَٰلِكَ لِمَنۡ خَشِيَ ٱلۡعَنَتَ مِنكُمۡۚ وَأَن تَصۡبِرُواْ خَيۡرٞ لَّكُمۡۗ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٢٥

(25) او په تاسو کې چې څوك له اصيلو مومنو ښځو سره د نکاح کولو مالي وَس نه لري، نو له هغو مومنو وينځو سره (دې نکاح وکړي) چې تاسو يې مالکان شوي يئ او الله ستاسو پر ايمان ښه عالم دی، ستاسو ځينې له ځينو نورو دي، نو د هغو (وينځو) د مالکانو په اجازت سره له هغوی سره نکاح وکړئ او هغوی ته خپل مهرونه له دستور سره سم ورکړئ، (په دې شرط) چې پاك لمنې وي، بدکارې نه وي او نه پټ ياران نيونکې وي، بيا چې کله دوی مېروښې شوې، نو که بدکاري (زنا) يې وکړه، نو په دوی باندې د اصيلو ښځو د سزا نيمايي (سزا) ده. دا (له وينځې سره د نکاح کولو اسانې) په تاسو کې د هغه چا لپاره ده چې د زنا انديښنه لري او که تاسو (له وينځې سره له نکاح نه) صبر وکړئ (نو دا) تاسو لپاره غوره دي او الله ډېر بخښونکی، بې

حده مهربان دی

يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمۡ وَيَهۡدِيَكُمۡ سُنَنَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ وَيَتُوبَ عَلَيۡكُمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ٢٦

(26) الله غواړي چې تاسو ته (حکمونه) ښه واضحه کړي او تاسو ته د هغو خلقو لارې وښيي چې له تاسو نه مخکې وو، او ستاسو توبه قبوله کړي (تاسو ته په خپل رحمت سره توجه وکړي) او الله ښه عالم، ښه حکمت والا دی

وَٱللَّهُ يُرِيدُ أَن يَتُوبَ عَلَيۡكُمۡ وَيُرِيدُ ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلشَّهَوَٰتِ أَن تَمِيلُواْ مَيۡلًا عَظِيمٗا ٢٧

(27) الله غواړي تاسو ته توجه وکړي (په خپل رحمت سره) او هغه کسان، چې د خواهشاتو تابع کېږي، (هغوی) غواړي چې تاسو (له حقې لارې نه) ډېر زيات کاږه شئ،

يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُخَفِّفَ عَنكُمۡۚ وَخُلِقَ ٱلۡإِنسَٰنُ ضَعِيفٗا ٢٨

(28) او الله غواړي چې پر تاسو تخفيف (اساني) راولي او انسان ډېر کمزوری پيدا کړی شوی دی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَأۡكُلُوٓاْ أَمۡوَٰلَكُم بَيۡنَكُم بِٱلۡبَٰطِلِ إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً عَن تَرَاضٖ مِّنكُمۡۚ وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُمۡ رَحِيمٗا ٢٩

(29) ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو په خپل مينځ کې د يو بل مالونه په باطله (ناحقه طريقې) سره مه خورئ مگر داچې تجارت وي، چې ستاسو په خپل مينځي رضامندی سره وي او تاسو خپل ځانونه مه وژنئ، بېشکه الله پر تاسو باندې بې

حده مهربان دی

وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ عُدۡوَٰنٗا وَظُلۡمٗا فَسَوۡفَ نُصۡلِيهِ نَارٗاۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرًا ﴿٣٠﴾

(30) او چا چې دا (کارونه) وکړل، په دې حال کې چې زياتي کوونکی او ظلم کوونکی و، نو ژر به مونږ دغه (کس) اور ته داخل کړو او دا (کار) الله ته ډېر اسان دی

إِن تَجۡتَنِبُواْ كَبَآئِرَ مَا تُنۡهَوۡنَ عَنۡهُ نُكَفِّرۡ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَنُدۡخِلۡكُم مُّدۡخَلٗا كَرِيمٗا ﴿٣١﴾

(31) که چېرې تاسو له هغو غټو ګناهونو نه ځان وساتئ، چې تاسو ترې منع کولی شئ (، نو) مونږ به له تاسو نه ستاسو (واړه) ګناهونه لرې کړو او ډېر د عزت ځای ته به مو داخل کړو

وَلَا تَتَمَنَّوۡاْ مَا فَضَّلَ ٱللَّهُ بِهِۦ بَعۡضَكُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖۚ لِّلرِّجَالِ نَصِيبٞ مِّمَّا ٱكۡتَسَبُواْۖ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيبٞ مِّمَّا ٱكۡتَسَبۡنَۚ وَسۡـَٔلُواْ ٱللَّهَ مِن فَضۡلِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٗا ﴿٣٢﴾

(32) او د هغه شي ارزو مه کوئ چې په هغه سره الله ستاسو ځينې په ځينو نورو غوره ګرځولي دي، د سړيو لپاره د خپل عمل حصه ده او د ښځو لپاره د خپل عمل برخه ده او له الله نه د هغه د فضل سوال کوئ، بېشکه الله پر هر شي ښه پوه دی

وَلِكُلّٖ جَعَلۡنَا مَوَٰلِيَ مِمَّا تَرَكَ ٱلۡوَٰلِدَانِ وَٱلۡأَقۡرَبُونَۚ وَٱلَّذِينَ عَقَدَتۡ أَيۡمَٰنُكُمۡ فَـَٔاتُوهُمۡ

(33) او د هر يو (سړي او ښځې) لپاره مونږ وارثان مقرر کړي دي له هغه (مال) نه چې مور و پلار او نژدې خپلوانو پرېښی وي او هغه کسان چې له هغوی سره ستاسو معاهده

نَصِيبَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ
شَيۡءٖ شَهِيدًا ٣٣

شوي ده، نو تاسو هغوى ته د هغوى حصه ورکړئ، بېشکه الله په هر شي باندې ګواه دى

ٱلرِّجَالُ قَوَّٰمُونَ عَلَى ٱلنِّسَآءِ بِمَا
فَضَّلَ ٱللَّهُ بَعۡضَهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ
وَبِمَآ أَنفَقُواْ مِنۡ أَمۡوَٰلِهِمۡۚ
فَٱلصَّٰلِحَٰتُ قَٰنِتَٰتٌ حَٰفِظَٰتٞ
لِّلۡغَيۡبِ بِمَا حَفِظَ ٱللَّهُۚ وَٱلَّٰتِي
تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ
وَٱهۡجُرُوهُنَّ فِي ٱلۡمَضَاجِعِ
وَٱضۡرِبُوهُنَّۖ فَإِنۡ أَطَعۡنَكُمۡ فَلَا
تَبۡغُواْ عَلَيۡهِنَّ سَبِيلًاۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ
عَلِيّٗا كَبِيرٗا ٣٤

(34) سړي په ښځو باندې نګرانان دي په سبب د دې چې الله د دوى ځينې په ځينو نورو باندې غوره کړي دي او په سبب د دې چې دوى (سړي) له خپلو مالونو نه انفاق کوي، نو نېکې ښځې اطاعت کوونکې دي او د الله په ساتنې سره پسې شا (د ځان او مال) حفاظت کوونکې دي. او هغه ښځې چې تاسو د هغوى له نافرمانۍ نه وېرېږئ، نو دوى ته نصيحت وکړئ او د ملاستې په ځايونو کې ترې جدا شئ او ويې وهئ، نو که ستاسو خبره يې ومنله، نو (بيا) د دوى په خلاف بله لار مه لټوئ، بېشکه الله ډېر اوچت، ډېر لوى دى

وَإِنۡ خِفۡتُمۡ شِقَاقَ بَيۡنِهِمَا فَٱبۡعَثُواْ
حَكَمٗا مِّنۡ أَهۡلِهِۦ وَحَكَمٗا مِّنۡ
أَهۡلِهَآ إِن يُرِيدَآ إِصۡلَٰحٗا يُوَفِّقِ
ٱللَّهُ بَيۡنَهُمَآۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا
خَبِيرٗا ٣٥

(35) او که تاسو د دغو دواړو په مينځ کې د مخالفت وېره لرئ، نو يو حَکَم (مينځګړى) د هغه (سړي) له خاندان نه مقرر کړئ او يو مينځګړى د هغې (ښځې) له کورنۍ نه، که دوى دواړه (ښځه، خاوند، يا ثالثان) د څه اصلاح اراده ولري، (نو) الله به د دې دواړو په

مینځ کې موافقت (جوړښت) راولي، بېشکه الله له همېشه ښه پوه، ښه خبردار دی

۞وَٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُشۡرِكُواْ بِهِۦ شَيۡـٔٗاۖ وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ إِحۡسَٰنٗا وَبِذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱلۡجَارِ ذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡجَارِ ٱلۡجُنُبِ وَٱلصَّاحِبِ بِٱلۡجَنۢبِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُكُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ مَن كَانَ مُخۡتَالٗا فَخُورًا ٣٦

(36) او تاسو د الله عبادت کوئ او له هغه سره هېڅ شی مه شریکوئ او له مور و پلار سره ښېګڼه کوئ او له خپلوانو سره او یتیمانو او مسکینانو سره او له خپلوان ګاونډي سره او له لرې یا اجنبي ګاونډي سره او د څنګ له ملګري سره او له مسافر سره او له خپلو وینځو، مریانو سره (ښېګڼه کوئ) بېشکه الله نه خوښوي هغه چا لره چې کبرجن، ډېر فخر کوونکی وي

ٱلَّذِينَ يَبۡخَلُونَ وَيَأۡمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلۡبُخۡلِ وَيَكۡتُمُونَ مَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦۗ وَأَعۡتَدۡنَا لِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٗا مُّهِينٗا ٣٧

(37) هغه کسان چې شومتیا کوي او (نورو) خلقو ته د شومتیا کولو حکم کوي او هغه څه پټوي چې الله دوی ته له خپله فضله ورکړي دي او مونږه د کافرانو لپاره سپکوونکی عذاب تیار کړی دی

وَٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمۡوَٰلَهُمۡ رِئَآءَ ٱلنَّاسِ وَلَا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَلَا بِٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۗ وَمَن يَكُنِ ٱلشَّيۡطَٰنُ لَهُۥ قَرِينٗا فَسَآءَ

(38) او (نه) هغه کسان (خوښوي) چې خلقو ته د ځان ښودلو لپاره خپل مالونه خرچ کوي او پر الله او د اخرت پر ورځ ایمان نه راوړي او هغه څوک چې د هغه ملګری شیطان وي، نو هغه بد ملګری دی

قَرِينًا ﴿٣٨﴾

وَمَاذَا عَلَيۡهِمۡ لَوۡ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَأَنفَقُواْ مِمَّا رَزَقَهُمُ ٱللَّهُۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِهِمۡ عَلِيمًا ﴿٣٩﴾

(39) او دوی ته به څه نقصان و که چېرې دوی پر الله او پر ورځ د اخرت ایمان راوړی وَی او له هغه (مال) نه يې انفاق کړی وَی چې الله دوی ته ورکړی دی او الله په دوی ښه پوه دی

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَظۡلِمُ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖۖ وَإِن تَكُ حَسَنَةٗ يُضَٰعِفۡهَا وَيُؤۡتِ مِن لَّدُنۡهُ أَجۡرًا عَظِيمٗا ﴿٤٠﴾

(40) ببشکه الله د يوې ذرې په اندازه هم ظلم نه کوي او که دا (ذره) يوه نېکي وي، نو هغه به يې دوه چنده کړي او هغه ته به له خپل جانب نه ښېخي لوی اجر ورکړي

فَكَيۡفَ إِذَا جِئۡنَا مِن كُلِّ أُمَّةِۭ بِشَهِيدٖ وَجِئۡنَا بِكَ عَلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ شَهِيدٗا ﴿٤١﴾

(41) نو څه حال به وي په هغه وخت کې کله چې مونږ له هر امت نه يو ګواه راولو او تا په دوی باندې (د) ګواه (په حيث) راولو

يَوۡمَئِذٖ يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَعَصَوُاْ ٱلرَّسُولَ لَوۡ تُسَوَّىٰ بِهِمُ ٱلۡأَرۡضُ وَلَا يَكۡتُمُونَ ٱللَّهَ حَدِيثٗا ﴿٤٢﴾

(42) په دغه ورځ کې به هغه کسان ارزو کوي چې کافر شوي دي او د رسول نافرماني يې کړې ده، چې کاشکې په دوی باندې ځمکه (له پاسه نه) همواره کړی شي، او دوی به له الله نه هېڅ خبره هم نشي پټولی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَقۡرَبُواْ

(43) ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو د نشې په حالت کې لمانځه ته مه

ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنتُمۡ سُكَٰرَىٰ حَتَّىٰ تَعۡلَمُواْ مَا تَقُولُونَ وَلَا جُنُبًا إِلَّا عَابِرِي سَبِيلٍ حَتَّىٰ تَغۡتَسِلُواْۚ وَإِن كُنتُم مَّرۡضَىٰٓ أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوۡ جَآءَ أَحَدٞ مِّنكُم مِّنَ ٱلۡغَآئِطِ أَوۡ لَٰمَسۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَلَمۡ تَجِدُواْ مَآءٗ فَتَيَمَّمُواْ صَعِيدٗا طَيِّبٗا فَٱمۡسَحُواْ بِوُجُوهِكُمۡ وَأَيۡدِيكُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُورًا ﴿٤٣﴾

نژدې کېږئ، تر هغه پورې چې تاسو پوه شئ په هغه څه چې تاسو يې وايئ او نه د جنابت په حالت کې، مګر دا چې لاروي يئ، تر دې چې تاسو غسل وکړئ او که تاسو بېماران يئ، يا په سفر يئ، يا په تاسو کې يو کس له اودس ماتي راشي، يا تاسو له ښځو سره کوروالی وکړئ، بیا تاسو اوبه ونه مومئ، نو د ځمکې پاك مخ (خاورې وغيره) ته اراده وکړئ، پس د خپلو مخونو او (تر مرونډونو پورې د) لاسونو مسح وکړئ، بېشکه الله ډېر معافي کوونکی، ښه مغفرت کوونکی دی

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُواْ نَصِيبٗا مِّنَ ٱلۡكِتَٰبِ يَشۡتَرُونَ ٱلضَّلَٰلَةَ وَيُرِيدُونَ أَن تَضِلُّواْ ٱلسَّبِيلَ ﴿٤٤﴾

(44) ايا تاسو هغه کسان نه دي کتلي (د هغوی په حال نه يئ خبر شوي) چې هغوی ته څه حصه له کتابه ورکړی شوې ده، چې هغوی ګمراهي اخلي او غواړي چې تاسو (هم حقه) لاره ورکه کړئ

وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِأَعۡدَآئِكُمۡۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَلِيّٗا وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ نَصِيرٗا ﴿٤٥﴾

(45) او الله ستاسو په دښمنانو ښه پوه دی او الله کافي دی کارساز او الله کافي دی مدد کوونکی

مِّنَ ٱلَّذِينَ هَادُواْ يُحَرِّفُونَ ٱلۡكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِۦ وَيَقُولُونَ سَمِعۡنَا

(46) او ځينې له هغو کسانو نه چې يهوديان دي، هغوی له خپلو ځايونو نه کلمې بدلوي او

وَعَصَيْنَا وَٱسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ
وَرَٰعِنَا لَيًّۢا بِأَلْسِنَتِهِمْ وَطَعْنًا فِي
ٱلدِّينِۚ وَلَوْ أَنَّهُمْ قَالُواْ سَمِعْنَا
وَأَطَعْنَا وَٱسْمَعْ وَٱنظُرْنَا لَكَانَ
خَيْرًا لَّهُمْ وَأَقْوَمَ وَلَٰكِن لَّعَنَهُمُ
ٱللَّهُ بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُونَ إِلَّا
قَلِيلًا ٤٦

هغوی وايي: سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا مونږ واورېدل او مونږ نافرماني وکړه'' وَاسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ ''او ته واوره، په دې حال کې چې تا ته دې اورول ونشي'' او رَاعِنَا زمونږ رعايت وکړه د خپلو ژبو په تاوولو سره او په دين کې د طعن(او عيب) راوښکلو لپاره، او يقيناً که دوی ويلي وی (چې) سَمِعْنَا وَاطَعْنَا ''مونږ واورېدل او اطاعت مو وکړ''، او اِسْمَعْ ''واوره''، وَانْظُرْنَا ''او مونږ ته وګوره''، نو دا (کلام) به د هغوی لپاره ډېر غوره او ډېر درست ساتونکی و او لېکن الله د دوی د کفر پر سبب پر دوی لعنت کړی دی، نو دوی ايمان نه راوړي مګر ډېر لږ (خلق)

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْكِتَٰبَ
ءَامِنُواْ بِمَا نَزَّلْنَا مُصَدِّقًا لِّمَا
مَعَكُم مِّن قَبْلِ أَن نَّطْمِسَ
وُجُوهًا فَنَرُدَّهَا عَلَىٰٓ أَدْبَارِهَآ أَوْ
نَلْعَنَهُمْ كَمَا لَعَنَّآ أَصْحَٰبَ
ٱلسَّبْتِۚ وَكَانَ أَمْرُ ٱللَّهِ
مَفْعُولًا ٤٧

**(47)** ای هغو کسانو چې هغوی ته کتاب ورکړی شوی دی! تاسو پر هغه (کتاب) ايمان راوړئ چې مونږ نازل کړی دی، چې تصديق کوونکی دی د هغو (کتابونو) چې له تاسو سره دي، مخکې له دې چې مونږه څه مخونه محوه کړو، بيا دغه (مخونه) خپلو شاګانو ته ورواړوو، يا پرې مونږ لعنت وکړو، لکه څنګه چې مونږ لعنت کړی و د خالي د ورځې پر ملګرو، او د الله کار (خامخا) پوره کړی شوی وي

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱفۡتَرَىٰٓ إِثۡمًا عَظِيمًا ﴿٤٨﴾

(48) بېشکه الله نه بخښي دا چې له هغه سره دې (څوك) شريك كړى شي او هغه بخښي هغه (ګناه) چې له دې (شرك) نه كمه وي د چا لپاره چې وغواړي او څوك چې له الله سره شريك ونيسي، نو يقيناً هغه ډېره لويه ګناه راجوړه كړله

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يُزَكُّونَ أَنفُسَهُمۚ بَلِ ٱللَّهُ يُزَكِّي مَن يَشَآءُ وَلَا يُظۡلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٤٩﴾

(49) ايا تاسو هغه كسان نه دي كتلي چې د خپلو ځانونو تزكيه (ستاينه) كوي (داسي نه ده) بلكې الله پاكوي چا لره چې وغواړي، او پر دوى به د كجورې د نرې تار په برابر هم ظلم ونه كړى شي

ٱنظُرۡ كَيۡفَ يَفۡتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَۖ وَكَفَىٰ بِهِۦٓ إِثۡمًا مُّبِينًا ﴿٥٠﴾

(50) ته وګوره دوى څنګه په الله باندې دروغ ورتړي او دا (دروغ) د ښكاره ګناه كېدلو لپاره كافي دي

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُواْ نَصِيبًا مِّنَ ٱلۡكِتَٰبِ يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡجِبۡتِ وَٱلطَّٰغُوتِ وَيَقُولُونَ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ هَٰٓؤُلَآءِ أَهۡدَىٰ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ سَبِيلًا ﴿٥١﴾

(51) ايا تا هغو كسانو ته نه دي كتلي چې هغوى ته يوه برخه له كتابه وركړى شوې وه، چې هغوى (اوس) پر بت او پر شيطان (هم) ايمان راوړي او د كافر شويو كسانو (مشركانو) په باره كې وايي: دا (كفار) له مومنانو نه زيات، سمه لارموندونكي دي

أُوْلَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُۖ وَمَن يَلۡعَنِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ نَصِيرًا ﴿٥٢﴾

(52) دا هغه كسان دي چې الله پر دوى لعنت كړى دى او په چا باندې چې الله لعنت وكړي، نو ته به كله هم د هغه لپاره مدد كوونكى ونه مومې

أَمۡ لَهُمۡ نَصِيبٞ مِّنَ ٱلۡمُلۡكِ فَإِذٗا لَّا يُؤۡتُونَ ٱلنَّاسَ نَقِيرًا ﴿٥٣﴾

(53) ايا د دوى لپاره په بادشاهۍ كې څه برخه شته؟ (نشته او كه وَى) نو په دغه وخت كې به دوى نورو خلقو ته نقير (د كجورې د زړې داغ) هم نه وركوي

أَمۡ يَحۡسُدُونَ ٱلنَّاسَ عَلَىٰ مَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦۖ فَقَدۡ ءَاتَيۡنَآ ءَالَ إِبۡرَٰهِيمَ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَءَاتَيۡنَٰهُم مُّلۡكًا عَظِيمٗا ﴿٥٤﴾

(54) يا دوى له خلقو سره حسد كوي په هغه څه چې الله هغوى ته له خپل فضل نه وركړې دي، پس يقينًا مونږه الِ ابراهيم ته كتاب او حكمت وركړى و او مونږه هغوى ته ډېره لويه بادشاهي وركړې وه

فَمِنۡهُم مَّنۡ ءَامَنَ بِهِۦ وَمِنۡهُم مَّن صَدَّ عَنۡهُۚ وَكَفَىٰ بِجَهَنَّمَ سَعِيرًا ﴿٥٥﴾

(55) نو له دوى نه ځينې هغه دي چې پر ده يې ايمان راوړى دى او ځينې له دوى نه هغه دي چې له ده نه يې مخ اړولى دى، او د (كافرانو لپاره) جهنم كافي دى، چې لمبې وهونكى دى

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِنَا سَوۡفَ

(56) بېشكه هغه كسان چې زمونږ په ايتونو كافر شوي دي ژر ده چې مونږ به هغوى اور

نُصۡلِيهِمۡ نَارٗا كُلَّمَا نَضِجَتۡ جُلُودُهُم بَدَّلۡنَٰهُمۡ جُلُودًا غَيۡرَهَا لِيَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَزِيزًا حَكِيمٗا ٥٦

ته ننباسو، هر كله چې د هغوى څرمنې (په اور) پخې شي، مونږ به هغوى ته له هغو نه غير نورې څرمنې وربدلې كړو، د دې لپاره چې دوى عذاب وڅكي، ببشكه الله ډېر غالب، ښه حكمت والا دى

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَنُدۡخِلُهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ لَّهُمۡ فِيهَآ أَزۡوَٰجٞ مُّطَهَّرَةٞۖ وَنُدۡخِلُهُمۡ ظِلّٗا ظَلِيلًا ٥٧

(57) او هغه كسان چې ايمان يې راوړى دى او نېك عملونه يې كړي دي، يقينًا مونږ به دوى داسې جنتونو ته داخل كړو چې د هغو له لاندې وَلې بهېږي، چې دوى به په هغو كې تل ترتله، همېشه وي، د دوى لپاره په هغو كې ښې پاكې بيبيانې دي او مونږ به دوى ښه ګور سيورې ته داخل كړو

۞إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُكُمۡ أَن تُؤَدُّواْ ٱلۡأَمَٰنَٰتِ إِلَىٰٓ أَهۡلِهَا وَإِذَا حَكَمۡتُم بَيۡنَ ٱلنَّاسِ أَن تَحۡكُمُواْ بِٱلۡعَدۡلِۚ إِنَّ ٱللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِۦٓۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ سَمِيعَۢا بَصِيرٗا ٥٨

(58) ببشكه الله تاسو ته د دې حكم كوي چې امانتونه خپلو حقدارو ته وسپارئ او دا چې كله تاسو د خلقو په مېنځ كې فيصله كوئ، (نو) په انصاف سره فيصله كوئ، ببشكه الله تاسو ته ډېر ښه نصيحت كوي، ببشكه الله ښه اورېدونكى، ښه لېدونكى دى

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنكُمۡۖ فَإِن تَنَٰزَعۡتُمۡ فِي شَيۡءٖ

(59) اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى! د الله خبره منئ او د رسول خبره منئ او د خپلو د امر د خاوندانو، نو كه چېرې تاسو په

فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ وَأَحۡسَنُ تَأۡوِيلًا ﴿٥٩﴾

خپلو کې د څه شي په باره کې هم نزاع (جګړه او اختلاف) وکړئ، نو هغه (شی) الله او د هغه رسول ته وګرځوئ که چېرې تاسو په الله او په ورځ د اخرت ایمان لرئ، دا (کار) ډېر غوره دی او د انجام په لحاظ ډېر ښه دی

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يَزۡعُمُونَ أَنَّهُمۡ ءَامَنُواْ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبۡلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓاْ إِلَى ٱلطَّٰغُوتِ وَقَدۡ أُمِرُوٓاْ أَن يَكۡفُرُواْ بِهِۦۖ وَيُرِيدُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَن يُضِلَّهُمۡ ضَلَٰلَۢا بَعِيدٗا ﴿٦٠﴾

(60) ایا تا هغه کسان نه دي کتلي چې دا دعوا کوي چې دوی پر هغه څه ایمان راوړی دی چې تا ته نازل کړی شوي دي او پر هغه څه چې له تا نه مخکې نازل کړی شوي دي، دوی غواړي چې خپلمینځي فیصلې طاغوت ته یوسي، حال دا چې دوی ته له هغه نه د انکار کولو حکم شوی دی او شیطان غواړي چې دوی بې لارې کړي، په ډېرې لرې ګمراهۍ سره

وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَإِلَى ٱلرَّسُولِ رَأَيۡتَ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ يَصُدُّونَ عَنكَ صُدُودٗا ﴿٦١﴾

(61) او کله چې دوی ته وویل شي هغه (قرآن) ته راشئ چې الله نازل کړی دی او رسول ته( راشئ، نو) ته به منافقان وینې چې له تا نه مخ اړوي، مخ اړول

فَكَيۡفَ إِذَآ أَصَٰبَتۡهُم مُّصِيبَةُۢ بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيهِمۡ ثُمَّ جَآءُوكَ

(62) نو څه حال به وي (د دوی) چې کله دوی ته څه مصیبت ورسېږي په سبب د هغو (کارونو) چې د دوی لاسونو مخکې لېږلي

يَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ إِنۡ أَرَدۡنَآ إِلَّآ إِحۡسَٰنٗا وَتَوۡفِيقًا ٦٢

دي، بيا تا ته راشي، چې پر الله قسمونه خوري چې زموږ اراده يواځې ښېګڼه کول او موافقت راوستل وو

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يَعۡلَمُ ٱللَّهُ مَا فِي قُلُوبِهِمۡ فَأَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ وَعِظۡهُمۡ وَقُل لَّهُمۡ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ قَوۡلَۢا بَلِيغٗا ٦٣

(63) دا هغه کسان دي چې الله پوهېږي پر هغه څه چې د دوی په زړونو کې دي، نو ته له دوی نه مخ واړوه او دوی ته نصيحت وکړه او دوی ته د دوی د نفسونو په باره کې ښه اثر کوونکې خبره وکړه

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ وَلَوۡ أَنَّهُمۡ إِذ ظَّلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ جَآءُوكَ فَٱسۡتَغۡفَرُواْ ٱللَّهَ وَٱسۡتَغۡفَرَ لَهُمُ ٱلرَّسُولُ لَوَجَدُواْ ٱللَّهَ تَوَّابٗا رَّحِيمٗا ٦٤

(64) او نه دی لېږلی موږ هېڅ رسول مګر د دې لپاره چې د الله په حکم سره د هغه اطاعت وکړی شي او که په رښتيا دوی په هغه وخت کې تا ته راغلي وَی چې دوی پر خپلو ځانونو ظلم وکړ، بيا يې له الله نه بخښنه غوښتې وَی او د دوی لپاره رسول (هم)بخښنه غوښتې وَی(، نو) خامخا دوی به الله ښه توبه قبلوونکی، بې حده رحم کوونکی موندلی و

فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيۡنَهُمۡ ثُمَّ لَا يَجِدُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَرَجٗا مِّمَّا قَضَيۡتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسۡلِيمٗا ٦٥

(65) پس داسې نه ده، ستا پر رب مې دې قسم وي! دوی مومنان کېدی نشي تر هغه پورې چې دوی په خپل مينځ کې په پېښو جګړو کې تا فيصله کوونکی ومني، بيا په خپلو نفسونو کې ستا د کړې فيصلې په باره

کې هېڅ تنګي ونه مومي او په ښو منلو سره
يې ومني

وَلَوۡ أَنَّا كَتَبۡنَا عَلَيۡهِمۡ أَنِ ٱقۡتُلُوٓاْ
أَنفُسَكُمۡ أَوِ ٱخۡرُجُواْ مِن دِيَٰرِكُم
مَّا فَعَلُوهُ إِلَّا قَلِيلٞ مِّنۡهُمۡۖ وَلَوۡ
أَنَّهُمۡ فَعَلُواْ مَا يُوعَظُونَ بِهِۦ
لَكَانَ خَيۡرٗا لَّهُمۡ وَأَشَدَّ تَثۡبِيتٗا ﴿٦٦﴾

(66) او که په رښتيا سره مونږه په دوی باندې
دا فرض کړې وَی چې خپل ځانونه قتل کړئ،
يا له خپلو کورونو نه ووځئ (، نو) دا کار به نه
و کړی مګر په دوی کې ډېرو لږو (خلقو) او که
په رښتيا دوی هغه کار کړی وَی د څه چې
ورته نصيحت کېږي (، نو) دا به د دوی لپاره
يقينًا ډېر غوره و، او د کلکوالي په لحاظ به
ډېر سخت و

وَإِذٗا لَّأٓتَيۡنَٰهُم مِّن لَّدُنَّآ أَجۡرًا
عَظِيمٗا ﴿٦٧﴾

(67) او په دغه وخت کې به يقينًا مونږ دوی
ته له خپل جانبه ډېر لوی اجر ورکړی و

وَلَهَدَيۡنَٰهُمۡ صِرَٰطٗا مُّسۡتَقِيمٗا ﴿٦٨﴾

(68) او مونږ به يقينًا دوی په نېغه لار روان
کړي وو

وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ فَأُوْلَٰٓئِكَ
مَعَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم مِّنَ
ٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلصِّدِّيقِينَ وَٱلشُّهَدَآءِ
وَٱلصَّٰلِحِينَۚ وَحَسُنَ أُوْلَٰٓئِكَ
رَفِيقٗا ﴿٦٩﴾

(69) او څوک چې د الله او د (هغه د) رسول
اطاعت وکړي، نو دغه کسان به له هغو خلقو
سره وي پر چا باندې چې الله انعام کړی دی،
چې نبيان، او صديقين او شهيدان او
صالحان دي او دغه خلق ښه ملګري دي

ذَٰلِكَ ٱلۡفَضۡلُ مِنَ ٱللَّهِۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ عَلِيمٗا ٧٠

(70) دا د الله له جانبه (پېرزوینه او) فضل دی او الله کافي دی، ښه پوه

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ خُذُواْ حِذۡرَكُمۡ فَٱنفِرُواْ ثُبَاتٍ أَوِ ٱنفِرُواْ جَمِيعٗا ٧١

(71) ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! خپلې وسلې واخلئ، نو (د جنګ لپاره) بېلې بېلې ډلې ووځئ، یا ټول په جمع ووځئ

وَإِنَّ مِنكُمۡ لَمَن لَّيُبَطِّئَنَّ فَإِنۡ أَصَٰبَتۡكُم مُّصِيبَةٞ قَالَ قَدۡ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيَّ إِذۡ لَمۡ أَكُن مَّعَهُمۡ شَهِيدٗا ٧٢

(72) او بېشکه په تاسو کې ځینې خامخا هغه دي چې ارومرو به (غزا ته په تلو کې) تاخیر کوي، او که چېرې تاسو ته څه مصیبت ورسېږي (، نو) هغه وايي: یقینًا الله پر ما باندې پېرزوینه وکړه، چې په دغه وخت کې زه له دوی سره حاضر نه وم

وَلَئِنۡ أَصَٰبَكُمۡ فَضۡلٞ مِّنَ ٱللَّهِ لَيَقُولَنَّ كَأَن لَّمۡ تَكُنۢ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهُۥ مَوَدَّةٞ يَٰلَيۡتَنِي كُنتُ مَعَهُمۡ فَأَفُوزَ فَوۡزًا عَظِيمٗا ٧٣

(73) او که چېرې پر تاسو باندې د الله له جانبه څه فضل وشي (، نو) دوی به خامخا (په داسې انداز کې) وايي ګویاکې ستاسو په مینځ کې او د هغه په مینځ کې هېڅ دوستي (او مینه) نه وه: کاشکې زه (هم) له دوی سره وَی، نو ډېره لویه کامیابي به مې حاصله کړې وَی

۞فَلۡيُقَٰتِلۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ

(74) نو (لازم ده چې) هغه کسان دې د الله په لار کې وجنګېږي چې دنیایي ژوند د

| | |
|---|---|
| يَشۡرُونَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا بِٱلۡأٓخِرَةِۚ وَمَن يُقَٰتِلۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيُقۡتَلۡ أَوۡ يَغۡلِبۡ فَسَوۡفَ نُؤۡتِيهِ أَجۡرًا عَظِيمٗا ٧٤ | اخرت په بدل کې خرڅوي (قربانوي) او څوک چې د الله په لار کې جنګ کوي، بيا هغه ووژل شي، يا (پر دښمن) غالبه شي، نو مونږ به هغه ته ژر ډېر لوی اجر ورکړو |
| وَمَا لَكُمۡ لَا تُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلۡمُسۡتَضۡعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلۡوِلۡدَٰنِ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَخۡرِجۡنَا مِنۡ هَٰذِهِ ٱلۡقَرۡيَةِ ٱلظَّالِمِ أَهۡلُهَا وَٱجۡعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيّٗا وَٱجۡعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا ٧٥ | (75) او پر تاسو څه شوي دي چې تاسو د الله په لاره کې نه جنګېږئ او د کمزورو سړيو او ښځو او ماشومانو (د خلاصولو) په لاره کې؟! هغه کسان چې وايي: ای زمونږه ربه! ته مونږه له دې کلي نه وباسه، چې اوسېدونکي يې ظالمان دي او ته زمونږ لپاره له خپل اړخه کوم دوست (حمايت کوونکی) مقرر کړه او ته زمونږ لپاره له خپل جانبه کوم مدد کوونکی مقرر کړه |
| ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱلطَّٰغُوتِ فَقَٰتِلُوٓاْ أَوۡلِيَآءَ ٱلشَّيۡطَٰنِۖ إِنَّ كَيۡدَ ٱلشَّيۡطَٰنِ كَانَ ضَعِيفًا ٧٦ | (76) هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی، هغوی د الله په لاره کې جنګ کوي او هغه کسان چې کفر يې کړی دی، هغوی د طاغوت (شيطان) په لاره کې جنګ کوي، نو تاسو د شيطان له دوستانو سره جنګ کوئ، بېشکه د شيطان چل (او مکر) له همېشه ضعيف دی |
| أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ قِيلَ لَهُمۡ كُفُّوٓاْ | (77) ايا تا هغه کسان نه دي کتلي، چې |

أَيۡدِيَكُمۡ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقِتَالُ إِذَا فَرِيقٞ مِّنۡهُمۡ يَخۡشَوۡنَ ٱلنَّاسَ كَخَشۡيَةِ ٱللَّهِ أَوۡ أَشَدَّ خَشۡيَةٗۚ وَقَالُواْ رَبَّنَا لِمَ كَتَبۡتَ عَلَيۡنَا ٱلۡقِتَالَ لَوۡلَآ أَخَّرۡتَنَآ إِلَىٰٓ أَجَلٖ قَرِيبٖۗ قُلۡ مَتَٰعُ ٱلدُّنۡيَا قَلِيلٞ وَٱلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ لِّمَنِ ٱتَّقَىٰ وَلَا تُظۡلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٧٧﴾

هغوی ته وویل شو: خپل لاسونه (له جنگ نه) بند وساتئ او لمونځ قایموئ او زکات ورکوئ، نو کله چې پر هغوی باندې جنگ کول فرض کړی شول (، نو) ناڅاپه په دغه وخت کې په هغو کې یوه ډله وه چې له خلقو نه وېرېدله، له الله نه د وېرېدلو په شان، یا (له دې نه هم) زیات وېرېدل، او وېې ویل:ای زمونږه ربه! تا پر مونږ باندې جنگ کول ولې فرض کړل؟ ولې ته مونږ ته تر نژدې مودې پورې مهلت نه راکوې؟ ته (ورته) ووایه: د دنیا فایده ډېره لږه ده او اخرت ډېر غوره دی د هغه چا لپاره چې پرهېزګاره شو او پر تاسو به د کجورې د هډوکي د نری تار (قدرې) ظلم هم ونه کړی شي

أَيۡنَمَا تَكُونُواْ يُدۡرِككُّمُ ٱلۡمَوۡتُ وَلَوۡ كُنتُمۡ فِي بُرُوجٖ مُّشَيَّدَةٖۗ وَإِن تُصِبۡهُمۡ حَسَنَةٞ يَقُولُواْ هَٰذِهِۦ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِۖ وَإِن تُصِبۡهُمۡ سَيِّئَةٞ يَقُولُواْ هَٰذِهِۦ مِنۡ عِندِكَۚ قُلۡ كُلّٞ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِۖ فَمَالِ هَٰٓؤُلَآءِ ٱلۡقَوۡمِ لَا يَكَادُونَ يَفۡقَهُونَ

(78) تاسو چې په هر ځای کې یئ، مرگ به تاسو رالاندې کړي، اگر که تاسو په سختو مضبوط کړی شویو قلاگانو کې یئ، او که چېرې پر دوی څه خوشحالي راشي (، نو) وايي: دا د الله له جانبه ده او که پر دوی څه سختي راشي (، نو) وايي: (ای نبي!) دا ستا له طرفه ده، ته (ورته) ووایه: دا هر څه (خوشحالي او تکلیف) د الله له خوا دي، نو پر

حَدِيثًا ﴿٧٨﴾

دي قوم څه شوي دي چې نژدې نه دي چې پر څه خبره پوه شي

مَّآ أَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ ٱللَّهِ ۖ وَمَآ أَصَابَكَ مِن سَيِّئَةٍ فَمِن نَّفْسِكَ ۚ وَأَرْسَلْنَٰكَ لِلنَّاسِ رَسُولًا ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا ﴿٧٩﴾

(79) تا ته چې څه خوشحالي هم دررسېدلې ده، نو د الله له جانبه ده او تا ته چې څه تکلیف هم دررسېدلی دی، نو (هغه) ستا د نفس له جانبه دی او (ای نبي!) ته مونږه د خلقو لپاره رسول لېږلی يې او کافي دی الله (د) ګواه (په حیث)

مَّن يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ ٱللَّهَ ۖ وَمَن تَوَلَّىٰ فَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا ﴿٨٠﴾

(80) چا چې د رسول اطاعت وکړ، نو یقینًا هغه د الله اطاعت وکړ او څوك چې (له اطاعت نه) وګرځېده، نو ته مونږه پر هغوی باندې څارونکی (نګهبان) نه يې لېږلی

وَيَقُولُونَ طَاعَةٌ فَإِذَا بَرَزُوا۟ مِنْ عِندِكَ بَيَّتَ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ غَيْرَ ٱلَّذِى تَقُولُ ۖ وَٱللَّهُ يَكْتُبُ مَا يُبَيِّتُونَ ۖ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ﴿٨١﴾

(81) او دوی وايي: (زمونږ کار ستا) خبره منل دي، نو کله چې ستا له خوا نه ووځي (، بیا) په دوی کې یوه ډله د شپې مشورې کوي، له هغې خبرې نه غیر چې دوی کوله، او الله لیکي هغه خبرې چې دوی يې د شپې تدبیر کوي، نو ته له دوی نه مخ واړوه او پر الله باندې توکل وکړه او الله کافي دی کارساز

أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلْقُرْءَانَ ۚ وَلَوْ كَانَ

(82) ایا نو دوی په قرآن کې غور نه کوي او که چېرې دا د غیرالله له طرفه وَی، دوی به په

مِنۡ عِندِ غَيۡرِ ٱللَّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ
ٱخۡتِلَٰفٗا كَثِيرٗا ﴿٨٢﴾

ده کې خامخا ډېر زيات اختلاف موندلی و

وَإِذَا جَآءَهُمۡ أَمۡرٞ مِّنَ ٱلۡأَمۡنِ أَوِ
ٱلۡخَوۡفِ أَذَاعُواْ بِهِۦۖ وَلَوۡ رَدُّوهُ إِلَى
ٱلرَّسُولِ وَإِلَىٰٓ أُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنۡهُمۡ
لَعَلِمَهُ ٱلَّذِينَ يَسۡتَنۢبِطُونَهُۥ مِنۡهُمۡۗ
وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ
وَرَحۡمَتُهُۥ لَٱتَّبَعۡتُمُ ٱلشَّيۡطَٰنَ إِلَّا
قَلِيلٗا ﴿٨٣﴾

**(83)** او کله چې دوی ته د امن، يا وېرې څه خبره راشي، دوی هغه (خبره) نشر کړي او که چېرې دوی هغه، خپل رسول ته او خپلو د کار خاوندانو (حاکمانو) ته رسولې وَی، (نو) خامخا په دوی کې به هغو کسانو دا (خبره) معلومه کړې وَی، څوك چې د دې استنباط او راوېستنه کوي او که پر تاسو باندې د الله فضل او د هغه رحمت نه وَی، نو تاسو به خامخا د شيطان تابعداري کړې وه مګر لږو خلقو (به نه وه کړې)

فَقَٰتِلۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ لَا تُكَلَّفُ
إِلَّا نَفۡسَكَۚ وَحَرِّضِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ
عَسَى ٱللَّهُ أَن يَكُفَّ بَأۡسَ
ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۚ وَٱللَّهُ أَشَدُّ بَأۡسٗا
وَأَشَدُّ تَنكِيلٗا ﴿٨٤﴾

**(84)** نو ته د الله په لاره کې جنګ کوه، ته يواځې د خپل نفس په هکله ذمه وار ګرځولی شې او مومنانو ته ترغيب ورکړه، کېدی شي چې الله د هغو کسانو جنګ بند کړي چا چې کفر کړی دی، او الله ډېر سخت دی د جنګ په لحاظ او ډېر سخت دی د سزا ورکولو په لحاظ

مَّن يَشۡفَعۡ شَفَٰعَةً حَسَنَةٗ يَكُن
لَّهُۥ نَصِيبٞ مِّنۡهَاۖ وَمَن يَشۡفَعۡ

**(85)** چا چې سفارش وکړ، ښه سفارش، هغه ته به په دې (سفارش) سره (د ثواب) برخه وي

| | |
|---|---|
| شَفَٰعَةَ سَيِّئَةَ يَكُن لَّهُۥ كِفۡلٞ مِّنۡهَاۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ مُّقِيتٗا ٨٥ | او چا چې سفارش وكړ، بد سفارش (، نو) هغه ته به په دې سره (د ګناه) پېټی وي او الله له همېشه پر هر شي باندې قدرت لرونكی دی |
| وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٖ فَحَيُّواْ بِأَحۡسَنَ مِنۡهَآ أَوۡ رُدُّوهَآۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٍ حَسِيبًا ٨٦ | (86) او كله چې تاسو ته په سلام ويلو سره دعا وكړى شي، نو تاسو له هغې نه غوره جواب وركړئ، يا همغه ور وګرځوئ ، بېشكه الله د هر شي ښه حساب كوونكی دی |
| ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ لَيَجۡمَعَنَّكُمۡ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ لَا رَيۡبَ فِيهِۗ وَمَنۡ أَصۡدَقُ مِنَ ٱللَّهِ حَدِيثٗا ٨٧ | (87) الله (چې دی)، نشته هېڅ لایق د عبادت مګر يواځې هم دی دی، هغه به تاسو خامخا د قيامت ورځې ته راجمع كړي، چې په هغې كې هېڅ شك نشته او له الله نه په خبره كې ډېر رښتينی څوك دی؟ |
| ۞فَمَا لَكُمۡ فِي ٱلۡمُنَٰفِقِينَ فِئَتَيۡنِ وَٱللَّهُ أَرۡكَسَهُم بِمَا كَسَبُوٓاْۚ أَتُرِيدُونَ أَن تَهۡدُواْ مَنۡ أَضَلَّ ٱللَّهُۖ وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ سَبِيلٗا ٨٨ | (88) نو د منافقانو په باره كې پر تاسو څه شوي دي، چې دوه ډلې شوئ، حال دا چې الله هغوى د خپلو عملونو په سبب نسكور كړي دي، ايا تاسو غواړئ چې هغه كس په نېغه لار روان كړئ چې الله ګمراه كړى دى، او چې الله څوك ګمراه كړي، نو ته به هېڅ كله هم د هغه لپاره (نېغه) لار ونه مومې |
| وَدُّواْ لَوۡ تَكۡفُرُونَ كَمَا كَفَرُواْ | (89) دوى خوښوي چې تاسو (هم) كافران |

فَتَكُونُونَ سَوَآءٗۖ فَلَا تَتَّخِذُواْ
مِنۡهُمۡ أَوۡلِيَآءَ حَتَّىٰ يُهَاجِرُواْ فِي
سَبِيلِ ٱللَّهِۚ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَخُذُوهُمۡ
وَٱقۡتُلُوهُمۡ حَيۡثُ وَجَدتُّمُوهُمۡۖ وَلَا
تَتَّخِذُواْ مِنۡهُمۡ وَلِيّٗا وَلَا
نَصِيرًا ٨٩

شئ، لکه څنګه چې دوی کافران شوي دي، بیا به تاسو (ټول) یو شان شئ، نو تاسو له دوی نه هېڅ دوستان مه نیسئ تر هغه پورې چې دوی د الله په لار کې هجرت وکړي، نو که دوی (د الله له لارې نه) وګرځېدل، نو تاسو دوی نیسئ او دوی وژنئ کوم ځای چې تاسو دوی ومومئ او تاسو له دوی نه مه هېڅ دوست نیسئ او نه مدد کوونکی

إِلَّا ٱلَّذِينَ يَصِلُونَ إِلَىٰ قَوۡمِۭ
بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهُم مِّيثَٰقٌ أَوۡ
جَآءُوكُمۡ حَصِرَتۡ صُدُورُهُمۡ أَن
يُقَٰتِلُوكُمۡ أَوۡ يُقَٰتِلُواْ قَوۡمَهُمۡۚ وَلَوۡ
شَآءَ ٱللَّهُ لَسَلَّطَهُمۡ عَلَيۡكُمۡ
فَلَقَٰتَلُوكُمۡۚ فَإِنِ ٱعۡتَزَلُوكُمۡ فَلَمۡ
يُقَٰتِلُوكُمۡ وَأَلۡقَوۡاْ إِلَيۡكُمُ ٱلسَّلَمَ
فَمَا جَعَلَ ٱللَّهُ لَكُمۡ عَلَيۡهِمۡ
سَبِيلٗا ٩٠

(90) مګر هغه کسان چې له داسې قوم سره پیوند(تعلق) لري چې ستاسو په مینځ کې او د هغوی په مینځ کې معاهده (تړون) وي، یا هغوی تاسو ته راشي چې سینې یې له تاسو سره له جنګ کولو نه، یا له خپل قوم سره له جنګ کولو نه تنګې وي او که الله غوښتلی (، نو) دوی به یې خامخا پر تاسو باندې زورور کړي وَی، بیا به دوی له تاسو سره خامخا جنګ کړی و، پس که دوی له تاسو نه ډډه وکړي، نو له تاسو سره جنګ ونه کړي او تاسو ته د سولې درخواست وکړي، بیا نو الله تاسو لپاره پر دوی باندې هېڅ لار نه ده ګرځولې

سَتَجِدُونَ ءَاخَرِينَ يُرِيدُونَ أَن
يَأۡمَنُوكُمۡ وَيَأۡمَنُواْ قَوۡمَهُمۡ كُلَّ مَا

(91) ژر دی چې تاسو به نور خلق وموموئ چې هغوی غواړي چې له تاسو نه په امن (او

رُدُّوٓاْ إِلَى ٱلۡفِتۡنَةِ أُرۡكِسُواْ فِيهَاۚ فَإِن لَّمۡ يَعۡتَزِلُوكُمۡ وَيُلۡقُوٓاْ إِلَيۡكُمُ ٱلسَّلَمَ وَيَكُفُّوٓاْ أَيۡدِيَهُمۡ فَخُذُوهُمۡ وَٱقۡتُلُوهُمۡ حَيۡثُ ثَقِفۡتُمُوهُمۡۚ وَأُوْلَٰٓئِكُمۡ جَعَلۡنَا لَكُمۡ عَلَيۡهِمۡ سُلۡطَٰنٗا مُّبِينٗا ﴿٩١﴾

ببغمه) شي او له خپل قوم نه (هم) په امن شي، هر وخت چې فتنې (كفر او وراني) ته وبلل شي، (نو) په هغې كې نسكور پرېوځي، نو كه دوى له تاسو نه په ډډه نه شول، او تاسو ته يې سوله پېش نه كړله او خپل لاسونه يې (له جنګ) نه بند نه كړل، بيا نو تاسو دوى نيسئ او دوى وژنئ كوم ځاى چې تاسو دوى مومئ او دغه خلق دي چې مونږ تاسو ته د دوى په خلاف (د جنګ كولو) ښكاره دليل ګرځولى دى

وَمَا كَانَ لِمُؤۡمِنٍ أَن يَقۡتُلَ مُؤۡمِنًا إِلَّا خَطَـٔٗاۚ وَمَن قَتَلَ مُؤۡمِنًا خَطَـٔٗا فَتَحۡرِيرُ رَقَبَةٖ مُّؤۡمِنَةٖ وَدِيَةٞ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِۦٓ إِلَّآ أَن يَصَّدَّقُواْۚ فَإِن كَانَ مِن قَوۡمٍ عَدُوّٖ لَّكُمۡ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَتَحۡرِيرُ رَقَبَةٖ مُّؤۡمِنَةٖۖ وَإِن كَانَ مِن قَوۡمِۭ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهُم مِّيثَٰقٞ فَدِيَةٞ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِۦ وَتَحۡرِيرُ رَقَبَةٖ مُّؤۡمِنَةٖۖ فَمَن لَّمۡ يَجِدۡ فَصِيَامُ شَهۡرَيۡنِ مُتَتَابِعَيۡنِ تَوۡبَةٗ مِّنَ ٱللَّهِۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا

(92) او هېڅ مومن لره دا حق نشته چې بل مومن قتل كړي مګر دا چې په خطا سره وي، او چا چې مومن په خطا سره قتل كړ، نو د يو مومن څټ (مريي يا وينځې) ازادول لازم دي او ديت دى چې د هغه (مقتول) وارثانو ته به سپارلى شي، مګر دا چې هغوى (وارثان) يې معاف كړي، نو كه چېرې هغه ستاسو د دښمن له قوم څخه وي او دا (مقتول) مومن وي، بيا نو د يو مومن څټ ازادول دي، او كه چېرې له داسې قوم څخه وي چې ستاسو په مينځ كې او د هغوى په مينځ كې معاهده وي، نو بيا ديت دى چې د هغه وارثانو ته به

حَكِيمًا ﴿٩٢﴾

سپارلی شي او مومن ځټ (غلام یا وینځه) ازادول دي، نو چا چې دغه (ځټ) ونه مونده، نو پرله پسې دوه میاشتې روژې نیول دي، د الله له جانبه د توبې لپاره او الله له همېشه ښه پوه، ښه حکمت والا دی

وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُۥ جَهَنَّمُ خَٰلِدًا فِيهَا وَغَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُۥ وَأَعَدَّ لَهُۥ عَذَابًا عَظِيمًا ﴿٩٣﴾

(93) او هغه څوك چې مومن په قصد (او ارادې) سره قتل کړي، نو د هغه سزا جهنم دی، چې همېشه به په هغه کې وي او الله پر ده باندې غضب کړی دی او پر ده یې لعنت کړی دی او د ده لپاره یې ښخې لوی عذاب تیار کړی دی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا ضَرَبْتُمْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَتَبَيَّنُواْ وَلَا تَقُولُواْ لِمَنْ أَلْقَىٰٓ إِلَيْكُمُ ٱلسَّلَٰمَ لَسْتَ مُؤْمِنًا تَبْتَغُونَ عَرَضَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا فَعِندَ ٱللَّهِ مَغَانِمُ كَثِيرَةٌۚ كَذَٰلِكَ كُنتُم مِّن قَبْلُ فَمَنَّ ٱللَّهُ عَلَيْكُمْ فَتَبَيَّنُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿٩٤﴾

(94) ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! کله چې تاسو د الله په لار کې سفر کوئ، نو ښه تحقیق کوئ او څوك چې پر تاسو سلام واچوي، هغه ته دا مه وایئ چې ته مومن نه یې، تاسو د دنیایي ژوند سامان غواړئ، نو له الله سره ډېر زیات غنیمتونه دي، له دې نه مخکې تاسو هم همداسې وئ، بیا پر تاسو باندې الله فضل وکړ، نو ښه تحقیق کوئ، بېشکه الله په هغو کارونو چې تاسو یې کوئ، ښه خبردار دی

لَّا يَسۡتَوِي ٱلۡقَٰعِدُونَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ غَيۡرُ أُوْلِي ٱلضَّرَرِ وَٱلۡمُجَٰهِدُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡۚ فَضَّلَ ٱللَّهُ ٱلۡمُجَٰهِدِينَ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ عَلَى ٱلۡقَٰعِدِينَ دَرَجَةٗۚ وَكُلّٗا وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ وَفَضَّلَ ٱللَّهُ ٱلۡمُجَٰهِدِينَ عَلَى ٱلۡقَٰعِدِينَ أَجۡرًا عَظِيمٗا ﴿٩٥﴾

(95) په مومنانو کې ناست خلق، چې تکليف والا نه دي، (دوی) او د الله په لار کې په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد کوونکي سره برابربېدلی نه شي، الله په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد کوونکو ته په ناستو باندې په لويې مرتبې سره فضيلت ورکړی دی، او له هر يو سره الله د ښې بدلې وعده کړې ده، او الله جهاد کوونکو ته په ناستو باندې په ډېر لوی اجر سره غوره والی ورکړی دی

دَرَجَٰتٖ مِّنۡهُ وَمَغۡفِرَةٗ وَرَحۡمَةٗۚ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمًا ﴿٩٦﴾

(96) چې د هغه (الله) له طرف نه مرتبې دي او بخښنه او مهرباني ده، او الله له همېشه بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی

إِنَّ ٱلَّذِينَ تَوَفَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ ظَالِمِيٓ أَنفُسِهِمۡ قَالُواْ فِيمَ كُنتُمۡۖ قَالُواْ كُنَّا مُسۡتَضۡعَفِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ قَالُوٓاْ أَلَمۡ تَكُنۡ أَرۡضُ ٱللَّهِ وَٰسِعَةٗ فَتُهَاجِرُواْ فِيهَاۚ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ وَسَآءَتۡ مَصِيرًا ﴿٩٧﴾

(97) بېشکه هغه کسان چې ملايکو د هغوی روحونه قبض کړل، په داسې حال کې چې پر خپلو ځانونو ظلم کوونکي وو، ورته وايي به: تاسو په څه حال کې وئ؟ دوی به وايي: مونږه په (هغې) ځمکه کې کمزوري کړی شوي وو، ورته وبه وايي: ايا د الله ځمکه فراخه نه وه چې تاسو په هغې کې هجرت کړی وَی، نو دغه خلق (چې دي) د دوی اوسېدنځای

جهنم دی او هغه د ورتلو بد ځای دی

إِلَّا ٱلۡمُسۡتَضۡعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلۡوِلۡدَٰنِ لَا يَسۡتَطِيعُونَ حِيلَةٗ وَلَا يَهۡتَدُونَ سَبِيلٗا ﴿٩٨﴾

(98) مگر هغه (په رښتيا) کمزوري کړی شوي سړي او ښځې او ماشومان، چې نه د هېڅ حيلې وَس لري او نه څه لاره مومي

فَأُوْلَٰٓئِكَ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَعۡفُوَ عَنۡهُمۡۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَفُوًّا غَفُورٗا ﴿٩٩﴾

(99) نو دغه خلق (چې دي) امېد دی چې الله به هغوی ته معافي وکړي او الله له ازله ښه معافي کوونکی، ښه بخښونکی دی

۞وَمَن يُهَاجِرۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ يَجِدۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُرَٰغَمٗا كَثِيرٗا وَسَعَةٗۚ وَمَن يَخۡرُجۡ مِنۢ بَيۡتِهِۦ مُهَاجِرًا إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ثُمَّ يُدۡرِكۡهُ ٱلۡمَوۡتُ فَقَدۡ وَقَعَ أَجۡرُهُۥ عَلَى ٱللَّهِۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ﴿١٠٠﴾

(100) او چا چې د الله په لار کې هجرت وکړ (، نو) هغه به په ځمکه کې د اوسېدو ډېر ځايونه او فراخي ومومي او څوك چې له خپله کوره وځي، چې الله ته او د هغه رسول ته هجرت کوونکی وي، بيا مرگ دی رالاندې کړي، نو يقيناً د ده اجر په الله باندې ثابت شو، او الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی

وَإِذَا ضَرَبۡتُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَلَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ أَن تَقۡصُرُواْ مِنَ ٱلصَّلَوٰةِ إِنۡ خِفۡتُمۡ أَن يَفۡتِنَكُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْۚ إِنَّ ٱلۡكَٰفِرِينَ

(101) او کله چې تاسو په ځمکه کې سفر کوئ، نو پر تاسو باندې هېڅ گناه نشته چې له لمانځه نه څه حصه کمه کړئ که تاسو وېرېدلئ له دې نه چې کافران شوي خلق به تاسو په فتنه کې واچوي، بېشکه دغهکافران

كَانُواْ لَكُمۡ عَدُوّٗا مُّبِينٗا ١٠١

له شروع نه ستاسو ښكاره دښمنان دي

وَإِذَا كُنتَ فِيهِمۡ فَأَقَمۡتَ لَهُمُ
ٱلصَّلَوٰةَ فَلۡتَقُمۡ طَآئِفَةٞ مِّنۡهُم مَّعَكَ
وَلۡيَأۡخُذُوٓاْ أَسۡلِحَتَهُمۡۖ فَإِذَا سَجَدُواْ
فَلۡيَكُونُواْ مِن وَرَآئِكُمۡ وَلۡتَأۡتِ
طَآئِفَةٌ أُخۡرَىٰ لَمۡ يُصَلُّواْ فَلۡيُصَلُّواْ
مَعَكَ وَلۡيَأۡخُذُواْ حِذۡرَهُمۡ
وَأَسۡلِحَتَهُمۡۗ وَدَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوۡ
تَغۡفُلُونَ عَنۡ أَسۡلِحَتِكُمۡ
وَأَمۡتِعَتِكُمۡ فَيَمِيلُونَ عَلَيۡكُم
مَّيۡلَةٗ وَٰحِدَةٗۚ وَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ
إِن كَانَ بِكُمۡ أَذٗى مِّن مَّطَرٍ أَوۡ
كُنتُم مَّرۡضَىٰٓ أَن تَضَعُوٓاْ
أَسۡلِحَتَكُمۡۖ وَخُذُواْ حِذۡرَكُمۡۗ إِنَّ
ٱللَّهَ أَعَدَّ لِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٗا
مُّهِينٗا ١٠٢

**(102)** او كله چې ته په دوی كې موجود يې، بيا ته دوی ته لمونځ ودروې، نوله دوی نه دې يوه ډله له تا سره ودرېږي او خپلې وسلې دې (هم له ځانه سره) ونيسي، نو كله چې دوی سجده وكړي، نو دوی دې ستاسو شا ته شي او هغه بله ډله دې راشي چې لمونځ يې نه دی كړی، نو هغوی دې له تا سره لمونځ وكړي او خپل د ساتنې سامان او خپلې وسلې دې (له ځانه سره) ونيسي، دغه كافران شوي خلق ارزو لري چې كاشكې تاسو له خپلو وسلو او خپلو سامانونو نه غافله شئ، بيا هغوی پر تاسو باندې په يو ځلې زوروره حمله وكړي. او پر تاسو باندې هېڅ ګناه نشته كه تاسو ته د باران په وجه څه تكليف وي، يا تاسو بيماران يئ دا چې تاسو خپلې وسلې كېږدئ، او خپله بيداري (د ساتنې سامان) راكلكه كړئ، بېشكه الله د كافرانو لپاره سپكوونكی عذاب تيار كړی دی

فَإِذَا قَضَيۡتُمُ ٱلصَّلَوٰةَ فَٱذۡكُرُواْ
ٱللَّهَ قِيَٰمٗا وَقُعُودٗا وَعَلَىٰ

**(103)** بيا چې كله تاسو لمونځ ادا كړئ، نو الله يادوئ، په ولاړه او ناسته او په خپلو اړخونو باندې (چې پراته يئ)، بيا چې كله تاسو

جُنُوبِكُمْۚ فَإِذَا ٱطۡمَأۡنَنتُمۡ فَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَۚ إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ كَانَتۡ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ كِتَٰبٗا مَّوۡقُوتٗا ١٠٣

مطمئن (ډاډمن) شئ، نو لمونځ قايموئ (د اطمينان د حالت لمونځ) ببشكه لمونځ له شروع نه په مومنانو باندې په (معلومو) وختونو كې فرض كړى شوى دى

وَلَا تَهِنُواْ فِي ٱبۡتِغَآءِ ٱلۡقَوۡمِۖ إِن تَكُونُواْ تَأۡلَمُونَ فَإِنَّهُمۡ يَأۡلَمُونَ كَمَا تَأۡلَمُونَۖ وَتَرۡجُونَ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا يَرۡجُونَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ١٠٤

(104) او تاسو د دغو (كافرو) خلقو په لټون كې سستي (كمزوري) مه كوئ، كه تاسو يئ چې په تكليف كېږئ، نو ببشكه هغوى (هم) په تكليف كېږي، لكه څنګه چې تاسو په تكليف كېږئ او تاسو له الله نه د هغه څه امېد لرئ چې هغوى يې امېد نه لري او الله له همېشه نه پوه، نبه حكمت والا دى

إِنَّآ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ لِتَحۡكُمَ بَيۡنَ ٱلنَّاسِ بِمَآ أَرَىٰكَ ٱللَّهُۚ وَلَا تَكُن لِّلۡخَآئِنِينَ خَصِيمٗا ١٠٥

(105) ببشكه مونږ تا ته كتاب په حقه سره نازل كړى دى، د دې لپاره چې ته د خلقو په مينځ كې فيصله وكړې په هغه څه سره چې الله تا ته ښودلي دي او ته د خيانت كوونكو لپاره جګړه كوونكى مه جوړېږه

وَٱسۡتَغۡفِرِ ٱللَّهَۖ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ١٠٦

(106) او له الله نه بخښنه غواړه، ببشكه الله ډېر بخښونكى، بې حده مهربان دى

وَلَا تُجَٰدِلۡ عَنِ ٱلَّذِينَ يَخۡتَانُونَ أَنفُسَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ مَن كَانَ

(107) او ته د هغو كسانو له طرفه جګړه مه كوه چې له خپلو ځانونو سره خيانت كوي،

خَوَّانًا أَثِيمًا ١٠٧

بېشكه الله له هغه چا سره مينه نه كوي چې ډېر خاين، سخت گناهگار وي

يَسْتَخْفُونَ مِنَ ٱلنَّاسِ وَلَا يَسْتَخْفُونَ مِنَ ٱللَّهِ وَهُوَ مَعَهُمْ إِذْ يُبَيِّتُونَ مَا لَا يَرْضَىٰ مِنَ ٱلْقَوْلِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطًا ١٠٨

(108) دوی (خپل جرمونه) له خلقو نه ډېر پټوي او له الله نه يې نه پټوي، حال دا چې هغه (الله) له دوی سره وي كله چې دوی د شپې د هغې خبرې په باره كې مشورې كوي چې هغه يې نه خوښوي، او الله هغو عملونو لره چې دوی يې كوي، راگېرونكى دى

هَٰٓأَنتُمْ هَٰٓؤُلَآءِ جَٰدَلْتُمْ عَنْهُمْ فِي ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا فَمَن يُجَٰدِلُ ٱللَّهَ عَنْهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ أَم مَّن يَكُونُ عَلَيْهِمْ وَكِيلًا ١٠٩

(109) واورئ! دا تاسو خلق يئ چې د دوی له طرفه مو په دنيايي ژوند كې جگړه وكړه، نو د قيامت په ورځ به له الله سره د دوی له طرفه څوك جگړه كوي؟ يا څوك به د دوی لپاره كارساز جوړېږي؟

وَمَن يَعْمَلْ سُوٓءًا أَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهُۥ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ ٱللَّهَ يَجِدِ ٱللَّهَ غَفُورًا رَّحِيمًا ١١٠

(110) او هر څوك چې څه بد عمل وكړي يا پر خپل ځان ظلم وكړي، بيا له الله نه بخښنه وغواړي (، نو) الله به ډېر بخښونكى، بې حده رحم كوونكى ومومي

وَمَن يَكْسِبْ إِثْمًا فَإِنَّمَا يَكْسِبُهُۥ عَلَىٰ نَفْسِهِۦ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ١١١

(111) او هر څوك چې څه گناه وكړي، نو بېشكه هم دا خبره ده چې د خپل ځان په ضرر يې كوي، او الله له همېشه نه پوه، ښه

حکمت والا دی

وَمَن يَكۡسِبۡ خَطِيٓـَٔةً أَوۡ إِثۡمٗا ثُمَّ يَرۡمِ بِهِۦ بَرِيٓـٔٗا فَقَدِ ٱحۡتَمَلَ بُهۡتَٰنٗا وَإِثۡمٗا مُّبِينٗا ﴿١١٢﴾

**(112)** او هر څوك چې څه خطا وكړي، يا څه گناه، بيا د هغې تور په (بل) بې گناه پورې كوي، نو يقينًا هغه د غټ تهمت او ښكاره گناه بار پورته كړ

وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكَ وَرَحۡمَتُهُۥ لَهَمَّت طَّآئِفَةٞ مِّنۡهُمۡ أَن يُضِلُّوكَ وَمَا يُضِلُّونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمۡۖ وَمَا يَضُرُّونَكَ مِن شَيۡءٖۚ وَأَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَعَلَّمَكَ مَا لَمۡ تَكُن تَعۡلَمُۚ وَكَانَ فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكَ عَظِيمٗا ﴿١١٣﴾

**(113)** او كه په تا باندې د الله فضل او د هغه رحمت نه وَى (، نو) يقيناً په دوى كې يوې ډلې اراده كړې وه چې تا گمراه كړي او دوى نه گمراه كوي مگر خپل ځانونه، او تا ته هېڅ قسمه ضرر نشي دررسولى او الله پر تا باندې نازل كړى دى كتاب (قرآن) او حكمت (سنت) او تا ته يې هغه څه درزده كړي دي چې ته پرې نه پوهېدلې، او پر تا باندې د الله فضل ډېر لوى دى

۞لَّا خَيۡرَ فِي كَثِيرٖ مِّن نَّجۡوَىٰهُمۡ إِلَّا مَنۡ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوۡ مَعۡرُوفٍ أَوۡ إِصۡلَٰحِۭ بَيۡنَ ٱلنَّاسِۚ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ ٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِ ٱللَّهِ فَسَوۡفَ نُؤۡتِيهِ أَجۡرًا عَظِيمٗا ﴿١١٤﴾

**(114)** هېڅ خير نشته د هغوى په ډېرو پټو مشورو كې مگر هغه څوك چې حكم وكړي د صدقې كولو، يا د نېكۍ كولو، يا د خلقو په مينځ كې د اصلاح (روغې) كولو، او هر څوك چې دغه كارونه د الله د رضا لټولو لپاره وكړي، نو ژر ده چې هغه ته به مونږ ډېر لوى اجر وركړو

وَمَن يُشَاقِقِ ٱلرَّسُولَ مِنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ ٱلۡهُدَىٰ وَيَتَّبِعۡ غَيۡرَ سَبِيلِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ نُوَلِّهِۦ مَا تَوَلَّىٰ وَنُصۡلِهِۦ جَهَنَّمَۖ وَسَآءَتۡ مَصِيرًا ﴿١١٥﴾

(115) او هغه څوك چې له رسول سره مخالفت وكړي، وروسته له دې نه چې هغه ته نېغه لار ښه څرګنده شوه، او د مومنانو له لارې نه غير د بلې (لارې) تابع شي (، نو) مونږ به دغه (كس) هغه څه ته وروګرځوو چې دى ورته ورګرځېدلى دى او جهنم ته به يې داخل كړو او هغه د ورتلو بد ځاى دى

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلَۢا بَعِيدًا ﴿١١٦﴾

(116) بېشكه الله نه بخښي دا چې له هغه سره شريك ونيول شي او بخښي هغه (ګناهونه) چې له دې (شرك) نه كم دي، د چا لپاره چې يې وغواړي، او څوك چې له الله سره شريك ونيسي، نو يقينًا هغه ګمراه شو په ډېرې لرې ګمراهۍ سره

إِن يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ إِنَٰثٗا وَإِن يَدۡعُونَ إِلَّا شَيۡطَٰنٗا مَّرِيدٗا ﴿١١٧﴾

(117) دوى له هغه (الله) نه غير نه بلي مګر ښځې (ښځنومي بتان) او دوى نه بلي مګر سركښه شيطان

لَّعَنَهُ ٱللَّهُۘ وَقَالَ لَأَتَّخِذَنَّ مِنۡ عِبَادِكَ نَصِيبٗا مَّفۡرُوضٗا ﴿١١٨﴾

(118) الله پر هغه لعنت كړى دى او هغه (شيطان) ووېل: زه به خامخا لازمًا ستا په بنده ګانو كې يوه مقرره برخه راګېروم

وَلَأُضِلَّنَّهُمۡ وَلَأُمَنِّيَنَّهُمۡ وَلَأٓمُرَنَّهُمۡ

(119) او زه به خامخا لازمًا هغوى ګمراه كوم

فَلَيُبَتِّكُنَّ ءَاذَانَ ٱلۡأَنۡعَٰمِ
وَلَأٓمُرَنَّهُمۡ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلۡقَ ٱللَّهِۚ
وَمَن يَتَّخِذِ ٱلشَّيۡطَٰنَ وَلِيّٗا مِّن
دُونِ ٱللَّهِ فَقَدۡ خَسِرَ خُسۡرَانٗا
مُّبِينٗا ﴿١١٩﴾

او زه به هغوی خامخا لازمًا په ارزوگانو کې اچوم او زه به هغوی ته خامخا لازمًا حکم کوم، بیا به یقیناً هغوی د څارویو غوږونه څیروي او زه به ضرور هغوی ته حکم کوم، نو هغوی به ارومرو د الله په تخلیق کې تغییر (بدلون) راولي او چا چې له الله نه غیر شیطان دوست ونیوه، نو یقینًا هغه تاواني شو، ښکاره تاواني کېدل

يَعِدُهُمۡ وَيُمَنِّيهِمۡۖ وَمَا يَعِدُهُمُ
ٱلشَّيۡطَٰنُ إِلَّا غُرُورًا ﴿١٢٠﴾

**(120)** هغه (شیطان) دوی ته وعدې ورکوي او په ارزوگانو کې یې اچوي او شیطان دوی ته وعدې نه ورکوي مگر د دوکې (او چل ول)

أُوْلَٰٓئِكَ مَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُ وَلَا
يَجِدُونَ عَنۡهَا مَحِيصٗا ﴿١٢١﴾

**(121)** دغه خلق دي چې د دوی استوگنه جهنم دی او دوی به له هغه نه هیڅ خلاصی ونه مومي

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ
ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَنُدۡخِلُهُمۡ جَنَّٰتٖ
تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ
فِيهَآ أَبَدٗاۖ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٗاۚ وَمَنۡ
أَصۡدَقُ مِنَ ٱللَّهِ قِيلٗا ﴿١٢٢﴾

**(122)** او هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او نېك عملونه یې کړي دي ژر ده چې مونږ به دوی داسې جنتونو ته داخل کړو چې د هغو له لاندې ولې بهېږي، چې دوی به په هغو کې تل ترتله وي، (دا) د الله حقه وعده ده او له الله نه په خبره کې څوك زیات رښتینی دی؟!

| | |
|---|---|
| لَّيۡسَ بِأَمَانِيِّكُمۡ وَلَآ أَمَانِيِّ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِۗ مَن يَعۡمَلۡ سُوٓءٗا يُجۡزَ بِهِۦ وَلَا يَجِدۡ لَهُۥ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا ١٢٣ | (123) نه ستاسو په ارزوگانو څه کېږي او نه د اهلِ کتابو په ارزوگانو، (بلکې) چا چې هم بد عمل وکړ هغه ته به د دغه (بد عمل) بدله ورکولی شي او هغه به ونه مومي د ځان لپاره له الله نه غير هېڅ کارساز او نه څوك مدد کوونکی |
| وَمَن يَعۡمَلۡ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ وَلَا يُظۡلَمُونَ نَقِيرٗا ١٢٤ | (124) او چې چا هم د نېکيو عمل وکړ، نر وي يا که ښځه، خو چې مومن وي، نو دغه خلق به جنت ته داخلېږي او پر دوی به د کجورې د زړي د داغ هومره ظلم هم نه کېږي |
| وَمَنۡ أَحۡسَنُ دِينٗا مِّمَّنۡ أَسۡلَمَ وَجۡهَهُۥ لِلَّهِ وَهُوَ مُحۡسِنٞ وَٱتَّبَعَ مِلَّةَ إِبۡرَٰهِيمَ حَنِيفٗاۗ وَٱتَّخَذَ ٱللَّهُ إِبۡرَٰهِيمَ خَلِيلٗا ١٢٥ | (125) او د دين په لحاظ له هغه کس نه څوك زيات ښه دی، چې خپل مخ يې الله ته تابع کړ او هغه نېکي کوونکی و او د ابراهيم د ملت تابع شو، چې يواځې په حق پسې تلونکی و، او الله ابراهيم لره خليل نيولی دی |
| وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٖ مُّحِيطٗا ١٢٦ | (126) او خاص د الله لپاره دي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي او الله هر شي لره ښه راگېروونکی دی |
| وَيَسۡتَفۡتُونَكَ فِي ٱلنِّسَآءِۖ قُلِ ٱللَّهُ | (127) او (ای نبي!) دوی له تا نه د ښځو په |

يُفْتِيكُمْ فِيهِنَّ وَمَا يُتْلَىٰ
عَلَيْكُمْ فِي ٱلْكِتَٰبِ فِي يَتَٰمَى
ٱلنِّسَآءِ ٱلَّٰتِي لَا تُؤْتُونَهُنَّ مَا
كُتِبَ لَهُنَّ وَتَرْغَبُونَ أَن
تَنكِحُوهُنَّ وَٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ
ٱلْوِلْدَٰنِ وَأَن تَقُومُوا۟ لِلْيَتَٰمَىٰ
بِٱلْقِسْطِ ۚ وَمَا تَفْعَلُوا۟ مِنْ خَيْرٍ
فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِهِۦ عَلِيمًا ﴿١٢٧﴾

باره کې تپوس کوي، ته ووايه: الله تاسو ته د هغوی په باره کې فتوا درکوي او هغه (حکم هم راغلی دی) چې تاسو ته په کتاب کې تلاوت کولی شي د هغو يتيمو ښځو په باره کې چې تاسو هغوی ته د هغوی لپاره مقرر شوی (مهر) نه ورکوئ او له هغوی سره د نکاح کولو رغبت لرئ او د کمزورو ماشومانو په باره کې (هم همدا حکم دی) او (بل حکم دی) په دې باره کې چې تاسو د يتيمانو لپاره په انصاف سره قايم اوسئ او تاسو چې څه نېکي کوئ، بېشکه الله په هغې باندې ښه عالم دی

وَإِنِ ٱمْرَأَةٌ خَافَتْ مِنۢ بَعْلِهَا
نُشُوزًا أَوْ إِعْرَاضًا فَلَا جُنَاحَ
عَلَيْهِمَآ أَن يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا
صُلْحًا ۚ وَٱلصُّلْحُ خَيْرٌ ۗ وَأُحْضِرَتِ
ٱلْأَنفُسُ ٱلشُّحَّ ۚ وَإِن تُحْسِنُوا۟
وَتَتَّقُوا۟ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ
خَبِيرًا ﴿١٢٨﴾

**(128)** او که چېرې يوه ښځه له خپل خاوند نه د زياتي، يا مخ اړونې انديښنه ولري، نو په دې دواړو باندې هېڅ ګناه نشته چې په خپل مينځ کې په څه شان هم روغه وکړي، او روغه کول ډېر غوره دي او نفسونه شومتيا ته حاضر کړی شوي دي او که تاسو نېکي وکړئ او پرهېزګاره شئ، نو يقينًا الله پر هغو کارونو چې تاسو يې کوئ ؛ ښه خبردار دی

وَلَن تَسْتَطِيعُوٓا۟ أَن تَعْدِلُوا۟ بَيْنَ
ٱلنِّسَآءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ ۖ فَلَا تَمِيلُوا۟

**(129)** او تاسو به کله هم (دا) وَس ونه لرئ چې د خپلو ښځو په مينځ کې (په هر لحاظ سره او د زړه په مينه کې) انصاف وکړئ اګر

كُلَّ ٱلۡمَيۡلِ فَتَذَرُوهَا كَٱلۡمُعَلَّقَةِۚ وَإِن تُصۡلِحُواْ وَتَتَّقُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ﴿١٢٩﴾

که تاسو (د دې) حرص (هم) وکړئ، نو مه کږېږئ (يوې ته) پوره کږېدل، چې تاسو هغه (بله) پرېږدئ په شان د زوړندې کړى شوې او که تاسو صلح وکړئ او پرهېزګاره شئ، نو بېشکه الله له همېشه ډېر بخښونکى، بې حده مهربان دى

وَإِن يَتَفَرَّقَا يُغۡنِ ٱللَّهُ كُلّٗا مِّن سَعَتِهِۦۚ وَكَانَ ٱللَّهُ وَٰسِعًا حَكِيمٗا ﴿١٣٠﴾

(130) او كه دواړه (ښځه او خاوند) له يو بل نه بېل شي (، نو) الله به هر يو په خپلې فراخۍ سره غني كاندي او الله له همېشه فراخۍ والا، ښه حكمت والا دى

وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَلَقَدۡ وَصَّيۡنَا ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِكُمۡ وَإِيَّاكُمۡ أَنِ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ وَإِن تَكۡفُرُواْ فَإِنَّ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ غَنِيًّا حَمِيدٗا ﴿١٣١﴾

(131) او خاص د الله لپاره دي هر هغه څه چې په اسمانونو كې دي او هر هغه څه چې په ځمكه كې دي او يقينًا يقينًا مونږه هغو كسانو ته كلك حكم كړى دى چې له تاسو نه مخكې ورته كتاب وركړى شوى و او تاسو ته هم، چې له الله نهووېرېږئ او كه تاسو كفر وكړئ، نو يقينًا خاص د الله لپاره دي هغه څه چې په اسمانونو كې دي او هغه څه چې په ځمكه كې دي او الله له همېشه غني (او) ښه ستايل شوى دى

وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي

(132) او خاص د الله لپاره دي هغه څه چې

ٱلْأَرْضِۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ١٣٢

په اسمانونو كې دي او هغه څه چې په ځمكه كې دي او الله ښه كافي دى كارساز

إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ أَيُّهَا ٱلنَّاسُ وَيَأْتِ بِـَٔاخَرِينَۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ ذَٰلِكَ قَدِيرًا ١٣٣

(133) كه هغه وغواړي تاسو به فنا كړي اى خلقو! او نور خلق به راولي او الله په دې باندې ښه قادر دى

مَّن كَانَ يُرِيدُ ثَوَابَ ٱلدُّنْيَا فَعِندَ ٱللَّهِ ثَوَابُ ٱلدُّنْيَا وَٱلْـَٔاخِرَةِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ سَمِيعًۢا بَصِيرًا ١٣٤

(134) څوك چې داسې دى چې د دنيا بدله غواړي، نو له الله سره د دنيا او اخرت دواړو بدله ده او الله ښه اورېدونكى، ښه ليدونكى دى

۞ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ كُونُوا۟ قَوَّٰمِينَ بِٱلْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلَّهِ وَلَوْ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ أَوِ ٱلْوَٰلِدَيْنِ وَٱلْأَقْرَبِينَۚ إِن يَكُنْ غَنِيًّا أَوْ فَقِيرًا فَٱللَّهُ أَوْلَىٰ بِهِمَاۖ فَلَا تَتَّبِعُوا۟ ٱلْهَوَىٰٓ أَن تَعْدِلُوا۟ۚ وَإِن تَلْوُۥٓا۟ أَوْ تُعْرِضُوا۟ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ١٣٥

(135) اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى! شئ تاسو قايم اوسېدونكي په انصاف باندې، ګواهي كوونكي د الله لپاره، اګر كه (دا ګواهي) ستاسو د خپلو ځانونو، يا مور و پلار او نژدې خپلوانو په خلاف وي، كه هغه (كس) مالداره وي، يا غريب وي، نو الله د دې دواړو ډېر خير غوښتونكى دى، نو تاسو (له حق نه) د اوړېدلو لپاره د خواهشاتو پیروي مه كوئ او كه تاسو ژبې كږې كړئ، يا مخ واړوئ، نو يقينًا الله پر هغو كارونو چې تاسو يې كوئ ښه خبردار دى

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ ءَامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَٱلْكِتَـٰبِ ٱلَّذِى نَزَّلَ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَٱلْكِتَـٰبِ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ مِن قَبْلُ ۚ وَمَن يَكْفُرْ بِٱللَّهِ وَمَلَـٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَـٰلًۢا بَعِيدًا ﴿١٣٦﴾

(136) ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی! تاسو پر الله ایمان راوړئ او د هغه پر رسول او پر هغه کتاب چې هغه په خپل رسول باندې نازل کړی دی او پر هغو کتابونو چې له ده نه یې مخکې نازل کړي دي، او څوك چې په الله سره کافر شي او د هغه په ملایکو او د هغه په کتابونو او د هغه په رسولانو او د اخرت په ورځ، نو يقيناً هغه گمراه شو په ډېرې لرې گمراهۍ سره

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ثُمَّ كَفَرُواْ ثُمَّ ءَامَنُواْ ثُمَّ كَفَرُواْ ثُمَّ ٱزْدَادُواْ كُفْرًا لَّمْ يَكُنِ ٱللَّهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ سَبِيلًۢا ﴿١٣٧﴾

(137) بېشکه هغه کسان چې ایمان یې راوړ، بیا دوی کافر شول، بیا يې ایمان راوړ، بیا کافر شول، بیا دوی په کفر کې نبه مخ په وړاندې لاړل (، نو) الله کله هم داسې نه دی چې دوی ته بخښنه وکړي او نه داسې دی چې دوی به پر (نېغه) لاره روان کړي

بَشِّرِ ٱلْمُنَـٰفِقِينَ بِأَنَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٣٨﴾

(138) منافقانو ته زېری ورکړه چې بېشکه د دوی لپاره ډېر دردوونکی عذاب دی

ٱلَّذِينَ يَتَّخِذُونَ ٱلْكَـٰفِرِينَ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۚ أَيَبْتَغُونَ عِندَهُمُ ٱلْعِزَّةَ فَإِنَّ ٱلْعِزَّةَ لِلَّهِ

(139) هغه کسان چې له مومنانو نه غير کافران دوستان نیسي، ايا دوی د هغوی په خوا کې عزت لټوي؟ نو بېشکه عزت ټول د

جَمِيعًا ﴿١٣٩﴾

الله لپاره دی

وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي ٱلْكِتَٰبِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُواْ مَعَهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُواْ فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِۦٓ إِنَّكُمْ إِذًا مِّثْلُهُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ جَامِعُ ٱلْمُنَٰفِقِينَ وَٱلْكَٰفِرِينَ فِي جَهَنَّمَ جَمِيعًا ﴿١٤٠﴾

(140) او يقينًا هغه (الله) پر تاسو باندې په كتاب كې دا (حكم) نازل كړى دى چې كله تاسو د الله ايتونه واورئ، چې په هغو سره كفر كېږي او په هغو پورې مسخرې كېږي، نو تاسو له هغوى (كفر او استهزا كوونكو) سره مه كېنئ تر دې چې هغوى له دې نه سِوا (په نورو) خبرو كې مشغوله شي، بېشكه تاسو په دغه وخت كې د هغوى په شان يئ، بېشكه الله منافقانو او كافرانو ټولو لره په جهنم كې راجمع كوونكى دى

ٱلَّذِينَ يَتَرَبَّصُونَ بِكُمْ فَإِن كَانَ لَكُمْ فَتْحٌ مِّنَ ٱللَّهِ قَالُوٓاْ أَلَمْ نَكُن مَّعَكُمْ وَإِن كَانَ لِلْكَٰفِرِينَ نَصِيبٌ قَالُوٓاْ أَلَمْ نَسْتَحْوِذْ عَلَيْكُمْ وَنَمْنَعْكُم مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۚ فَٱللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۗ وَلَن يَجْعَلَ ٱللَّهُ لِلْكَٰفِرِينَ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا ﴿١٤١﴾

(141) هغه (منافقان) چې ستاسو په باره كې انتظار كوي، نو كه د الله له جانبه تاسو ته فتح حاصله شي، دوى وايي: ايا مونږ له تاسو سره ملګري نه وو؟ او كه چېرې د كافرانو لپاره څه برخه وي، (بيا نوكافرو ته) دوى وايي: ايا مونږ پر تاسو غالب شوي نه وو او (ايا) مونږ له مومنانو نه تاسو بچ نه كړئ؟ نو الله به ستاسو په مېنځ كې د قيامت په ورځ فيصله كوي او الله به كله هم د كافرانو لپاره په مومنانو باندې (د غلبې) څه لار جوړه نه كړي

إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَهُوَ خَٰدِعُهُمْ وَإِذَا قَامُوٓا۟ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ قَامُوا۟ كُسَالَىٰ يُرَآءُونَ ٱلنَّاسَ وَلَا يَذْكُرُونَ ٱللَّهَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٤٢﴾

**(142)** بېشکه منافقان له الله سره دوکه کوي او الله له دوی سره دوکه کوونکی دی او کله چې دوی لمانځه ته پاڅېږي (، نو) سست (کاهلان) پاڅېږي، خلقو ته ځانونه ښيي او الله نه يادوي مگر ډېر لږ

مُّذَبْذَبِينَ بَيْنَ ذَٰلِكَ لَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ وَلَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ ۚ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ سَبِيلًا ﴿١٤٣﴾

**(143)** دوی د دې (کفر او اسلام) په مينځ کې زړه نازړه دي، نه (سم) د دوی په طرف دي او نه (سم) د هغوی په طرف دي او هغه څوك چې الله يې گمراه کړي، نو ته به کله هم د هغه لپاره څه لار ونه مومې

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوا۟ ٱلْكَٰفِرِينَ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۚ أَتُرِيدُونَ أَن تَجْعَلُوا۟ لِلَّهِ عَلَيْكُمْ سُلْطَٰنًا مُّبِينًا ﴿١٤٤﴾

**(144)** ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! له مومنانو نه غير کافرانو لره دوستان مه نيسئ، ايا تاسو غواړئ چې د الله لپاره د خپل ځان په خلاف ښکاره دليل ثابت کړئ

إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ فِى ٱلدَّرْكِ ٱلْأَسْفَلِ مِنَ ٱلنَّارِ وَلَن تَجِدَ لَهُمْ نَصِيرًا ﴿١٤٥﴾

**(145)** بېشکه منافقان د اور تر ټولو لاندينی طبقه کې دي او ته به کله هم د هغوی لپاره څوك مدد کوونکی ونه مومې

إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُوا۟ وَأَصْلَحُوا۟ وَٱعْتَصَمُوا۟ بِٱللَّهِ وَأَخْلَصُوا۟

**(146)** مگر هغه کسان چې توبه يې وبستله او د ځان اصلاح يې وکړه او پر (دين د) الله

دِينَهُمْ لِلَّهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَعَ ٱلْمُؤْمِنِينَۖ
وَسَوْفَ يُؤْتِ ٱللَّهُ ٱلْمُؤْمِنِينَ أَجْرًا
عَظِيمًا ﴿١٤٦﴾

یې منګولې کلکې ولګولې او خپل دین یې د الله لپاره خالص کړ، نو دغه کسان به له مومنانو سره وي او ژر ده چې الله به مومنانو ته ډېر لوی اجر ورکړي

مَّا يَفْعَلُ ٱللَّهُ بِعَذَابِكُمْ إِن
شَكَرْتُمْ وَءَامَنتُمْۚ وَكَانَ ٱللَّهُ
شَاكِرًا عَلِيمًا ﴿١٤٧﴾

**(147)** الله تاسو ته په عذاب درکولو څه کوي که تاسو شکر وباسئ؟! او ایمان راوړئ او الله له همېشه شکر قبلوونکی، ښه پوه دی

۞لَّا يُحِبُّ ٱللَّهُ ٱلْجَهْرَ بِٱلسُّوٓءِ
مِنَ ٱلْقَوْلِ إِلَّا مَن ظُلِمَۚ وَكَانَ ٱللَّهُ
سَمِيعًا عَلِيمًا ﴿١٤٨﴾

**(148)** الله د بدې خبرې ښکاره ویل نه خوښوي خو هغه کس چې ظلم پرې شوی وي (هغه معاف دی) او الله له همېشه ښه اورېدونکی، ښه پوه دی

إِن تُبْدُواْ خَيْرًا أَوْ تُخْفُوهُ أَوْ تَعْفُواْ
عَن سُوٓءٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَفُوًّا
قَدِيرًا ﴿١٤٩﴾

**(149)** که تاسو څه نېکي ښکاره کړئ، یا هغه پټه کوئ، یا د بدۍ په هکله معافي کوئ، بېشکه الله له ازله ښه معافي کوونکی، ښه قادر دی

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِٱللَّهِ
وَرُسُلِهِۦ وَيُرِيدُونَ أَن يُفَرِّقُواْ
بَيْنَ ٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَيَقُولُونَ نُؤْمِنُ
بِبَعْضٍ وَنَكْفُرُ بِبَعْضٍ
وَيُرِيدُونَ أَن يَتَّخِذُواْ بَيْنَ ذَٰلِكَ

**(150)** بېشکه هغه کسان چې په الله او د هغه په رسولانو کافران کېږي او دوی غواړي چې د الله او د هغه د رسولانو په مینځ کې بېلتون وکړي او دوی وایي چې مونږ پر ځینو (رسولانو) ایمان راوړو او په ځینو کافر کېږو او

سَبِيلًا ﴿١٥٠﴾

دوی غواړي چې د دې (اسلام او کفر) په مینځ کې (بله) لار ونیسي

أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ حَقّٗاۚ وَأَعۡتَدۡنَا لِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٗا مُّهِينٗا ﴿١٥١﴾

(151) دغه کسان په رښتیا کافران دي او مونږه د کافرانو لپاره سپکوونکی عذاب تیار کړی دی

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَلَمۡ يُفَرِّقُواْ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّنۡهُمۡ أُوْلَٰٓئِكَ سَوۡفَ يُؤۡتِيهِمۡ أُجُورَهُمۡۚ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ﴿١٥٢﴾

(152) او هغه کسان چې پر الله او د هغه پر رسولانو یې ایمان راوړی دی او په دوی کې یې د هېڅ یو تر مینځه تفریق نه دی کړی، دغه کسان دي چې هغه (الله) به دوی ته د دوی ثوابونه ژر (او) یقینًا ورکړي او الله له ازله ډېر بخښونکی، بې حده مهربان دی

يَسۡـَٔلُكَ أَهۡلُ ٱلۡكِتَٰبِ أَن تُنَزِّلَ عَلَيۡهِمۡ كِتَٰبٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِۚ فَقَدۡ سَأَلُواْ مُوسَىٰٓ أَكۡبَرَ مِن ذَٰلِكَ فَقَالُوٓاْ أَرِنَا ٱللَّهَ جَهۡرَةٗ فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ بِظُلۡمِهِمۡۚ ثُمَّ ٱتَّخَذُواْ ٱلۡعِجۡلَ مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُ فَعَفَوۡنَا عَن ذَٰلِكَۚ وَءَاتَيۡنَا مُوسَىٰ سُلۡطَٰنٗا مُّبِينٗا ﴿١٥٣﴾

(153) اهلِ کتاب له تا نه د دې مطالبه کوي چې ته پر دوی باندې له اسمانه یو کتاب نازل کړې، پس یقینًا دوی له موسٰی څخه له دې نه غټه مطالبه کړې وه، نو دوی (هغه ته) ویلي وو: ته مونږ ته الله ښکاره مخامخ وښیه، نو دوی د خپل ظلم په سبب تندر ونیول، بیا دوی سخی معبود ونیوه، وروسته له دې چې دوی ته ښې واضحې نښې راغلې، بیا مونږ دوی ته د دې معافي وکړه او مونږ موسٰی ته ښکاره غلبه (دلیل) ورکړه

وَرَفَعۡنَا فَوۡقَهُمُ ٱلطُّورَ بِمِيثَٰقِهِمۡ وَقُلۡنَا لَهُمُ ٱدۡخُلُواْ ٱلۡبَابَ سُجَّدٗا وَقُلۡنَا لَهُمۡ لَا تَعۡدُواْ فِي ٱلسَّبۡتِ وَأَخَذۡنَا مِنۡهُم مِّيثَٰقًا غَلِيظٗا ﴿١٥٤﴾

(154) او مونږ له دوی څخه د پخې وعدې اخیستلو لپاره د دوی له پاسه (د) طور (غر) راپورته کړ او مونږه دوی ته وویل: تاسو په دروازه کې داخل شئ، چې سجده کوونکي یئ او مونږه دوی ته وویل: تاسو د خالي په ورځ کې زیاتی مه کوئ او مونږه له دوی نه ډېره مضبوطه وعده واخیستله

فَبِمَا نَقۡضِهِم مِّيثَٰقَهُمۡ وَكُفۡرِهِم بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَقَتۡلِهِمُ ٱلۡأَنۢبِيَآءَ بِغَيۡرِ حَقّٖ وَقَوۡلِهِمۡ قُلُوبُنَا غُلۡفُۢۚ بَلۡ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَيۡهَا بِكُفۡرِهِمۡ فَلَا يُؤۡمِنُونَ إِلَّا قَلِيلٗا ﴿١٥٥﴾

(155) نو (دوی ته سزا ورکړی شوه) په سبب د دوی د ماتولو خپل لوظ لره او د الله په ایتونو د کفر کولو او د نبیانو د ناحقه وژلو (په سبب) او د دوی د دې خبرې په سبب چې زمونږ زړونه ''پرده بند'' دي (داسې نه ده) بلکې الله د دوی د کفر په وجه پر هغو (زړونو) مهر لګولی دی، نو دوی ایمان نه راوړي مګر ډېر لږ

وَبِكُفۡرِهِمۡ وَقَوۡلِهِمۡ عَلَىٰ مَرۡيَمَ بُهۡتَٰنًا عَظِيمٗا ﴿١٥٦﴾

(156) او په سبب د دوی د کفر کولو او پر مریم باندې د بېخي لوی تهمت ویلو

وَقَوۡلِهِمۡ إِنَّا قَتَلۡنَا ٱلۡمَسِيحَ عِيسَى ٱبۡنَ مَرۡيَمَ رَسُولَ ٱللَّهِ وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَٰكِن شُبِّهَ لَهُمۡۚ

(157) او د دوی د دې وینا په سبب چې بېشکه مونږه د مریمې زوی مسیح عیسیٰ، د الله رسول وژلی دی، حال دا چې دوی نه هغه وژلی دی او نه یې په دار کړی دی او لېکن

وَإِنَّ ٱلَّذِينَ ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِ لَفِي شَكّٖ مِّنۡهُۚ مَا لَهُم بِهِۦ مِنۡ عِلۡمٍ إِلَّا ٱتِّبَاعَ ٱلظَّنِّۚ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينَۢا ﴿١٥٧﴾

دوی ته هغه (وژل شوی کس له عیسٰی سره) مُشابِه کړی شوی و او بېشکه هغه کسان چې د عیسٰی په باره کې يې اختلاف کړی دی، خامخا د ده په هکله په شك کې دي، دوی ته د هغه په باره کې هېڅ علم نشته سِوا د (خپل) گمان له پيروی نه او دوی هغه یقینًا نه دی وژلی

بَل رَّفَعَهُ ٱللَّهُ إِلَيۡهِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمٗا ﴿١٥٨﴾

(158) بلکې الله هغه خپل طرف ته راپورته کړی دی او الله له ازله ډېر غالب، ښه حکمت والا دی

وَإِن مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ إِلَّا لَيُؤۡمِنَنَّ بِهِۦ قَبۡلَ مَوۡتِهِۦۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَكُونُ عَلَيۡهِمۡ شَهِيدٗا ﴿١٥٩﴾

(159) او نشته هيڅوك له اهلِ کتابو نه مگر چې هغه به خامخا لازمًا د ده له مرگ نه مخکې پر ده ایمان راوړي او د قیامت په ورځ به هغه (عیسٰی) په دوی باندې گواه وي

فَبِظُلۡمٖ مِّنَ ٱلَّذِينَ هَادُواْ حَرَّمۡنَا عَلَيۡهِمۡ طَيِّبَٰتٍ أُحِلَّتۡ لَهُمۡ وَبِصَدِّهِمۡ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ كَثِيرٗا ﴿١٦٠﴾

(160) نو د یهودیان شویو خلقو د ظلم کولو په سبب مونږ پر هغوی باندې هغه پاکيزه خيزونه حرام کړل، چې د دوی لپاره (مخکې) حلال گرځول شوي وو او په سبب د منع کولو د دوی ډېرو (خلقو) لره د الله له لارې نه

وَأَخۡذِهِمُ ٱلرِّبَوٰاْ وَقَدۡ نُهُواْ عَنۡهُ

(161) او (په سبب) د دوی د سود اخيستلو،

وَأَكۡلِهِمۡ أَمۡوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلۡبَٰطِلِۚ وَأَعۡتَدۡنَا لِلۡكَٰفِرِينَ مِنۡهُمۡ عَذَابًا أَلِيمٗا ١٦١

حال دا چې دوی له دې نه منع کړی شوي وو، او (په سبب) د دوی په ناحقه خوړلو د خلقو مالونو لره، او مونږه په دوی کې د کافرانو لپاره ډېر دردوونکی عذاب تيار کړی دی

لَّٰكِنِ ٱلرَّٰسِخُونَ فِي ٱلۡعِلۡمِ مِنۡهُمۡ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ يُؤۡمِنُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبۡلِكَۚ وَٱلۡمُقِيمِينَ ٱلصَّلَوٰةَۚ وَٱلۡمُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ أُوْلَٰٓئِكَ سَنُؤۡتِيهِمۡ أَجۡرًا عَظِيمًا ١٦٢

(162) خو په دوی کې په علم کې پاخه خلق او مومنان، هغوی ايمان رواړي پر هغه (کتاب) باندې چې تا ته نازل کړی شوی دی او پر هغو (کتابونو) باندې چې له تا نه مخکې نازل کړی شوي دي او خصوصًا چې لمونځ قايموونکي دي او زکات ورکوونکي دي او پر الله او پر ورځ د اخرت ايمان لرونکي دي، دغه خلق (چې دي) ، مونږ به خامخا دغو ته ډېر لوی اجر ورکړو

۞إِنَّآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ كَمَآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ نُوحٖ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعۡدِهِۦۚ وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَٱلۡأَسۡبَاطِ وَعِيسَىٰ وَأَيُّوبَ وَيُونُسَ وَهَٰرُونَ وَسُلَيۡمَٰنَۚ وَءَاتَيۡنَا دَاوُۥدَ زَبُورٗا ١٦٣

(163) بيشکه مونږ تا ته وحي کړې ده، لکه څنګه چې مونږ وحي کړې وه نوح ته او له هغه نه پس (نورو) نبيانو ته او مونږ وحي کړې وه ابراهيم او اسمعيل او اسحاق او يعقوب او د (هغوی) اولادې ته او عيسٰی او ايوب او يونس او هارون او سليمان ته او مونږ داود ته زبور ورکړی و

وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنَٰهُمْ عَلَيْكَ
مِن قَبْلُ وَرُسُلًا لَّمْ نَقْصُصْهُمْ
عَلَيْكَ ۚ وَكَلَّمَ ٱللَّهُ مُوسَىٰ
تَكْلِيمًا ١٦٤

**(164)** او (مونږ لېږلي وو) ډېر رسولان، چې يقينًا د هغوی احوال مونږ تا ته له دې نه مخکې بيان کړي دي او (نور) رسولان چې د هغوی احوال مونږ تا ته نه دي بيان کړي او الله له موسٰی سره خبرې کړي دي، واضحې خبرې

رُّسُلًا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلَّا
يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى ٱللَّهِ حُجَّةٌۢ
بَعْدَ ٱلرُّسُلِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا
حَكِيمًا ١٦٥

**(165)** او (مونږ لېږلي وو) رسولان، چې زېرى ورکوونکي او وېروونکي وو، د دې لپاره چې د خلقو لپاره په الله باندې څه حجت پاتې نشي او الله له ازله ډېر غالب، ښه حکمت والا دى

لَّٰكِنِ ٱللَّهُ يَشْهَدُ بِمَآ أَنزَلَ إِلَيْكَ ۖ
أَنزَلَهُۥ بِعِلْمِهِۦ ۖ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ
يَشْهَدُونَ ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا ١٦٦

**(166)** لیکن الله گواهي کوي پر هغه شي چې تا ته يې نازل کړی دی، چې دا يې په خپل علم سره نازل کړی دی، او ملايك (هم) گواهي کوي او الله ښه کافي دی (په حيث د گواه)

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَصَدُّوا۟ عَن
سَبِيلِ ٱللَّهِ قَدْ ضَلُّوا۟ ضَلَٰلًۢا
بَعِيدًا ١٦٧

**(167)** بېشکه هغه کسان چې کافر شوي دي او د الله له لارې نه يې بندول کړي دي، يقينًا هغوی گمراه شوي دي په ډېرې لرې گمراهۍ سره

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَظَلَمُوا۟ لَمْ

**(168)** بېشکه هغه کسان چې کفر يې کړی

| | |
|---|---|
| يَكُنِ ٱللَّهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ طَرِيقًا ﴿١٦٨﴾ | دی او ظلم يې کړی دی، الله داسې نه دی چې دوی به وبخښي او نه دا چې دوی به پر نېغه لار روان کړي |
| إِلَّا طَرِيقَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًاۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرًا ﴿١٦٩﴾ | (169) مگر پر لار د جهنم، چې دوی به په هغه کې تل ترتله وي او دا (کار) الله ته ډېر اسان دی |
| يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ ٱلرَّسُولُ بِٱلْحَقِّ مِن رَّبِّكُمْ فَـَٔامِنُواْ خَيْرًا لَّكُمْۚ وَإِن تَكْفُرُواْ فَإِنَّ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿١٧٠﴾ | (170) ای خلقو! یقینًا تاسو ته د خپل رب له جانبه په حقه سره رسول راغلی دی، نو تاسو ایمان راوړئ، (دا به) تاسو لپاره ډېر غوره وي او كه تاسو كفر كوئ، نو يقينًا خاص د الله لپاره دي هر هغه څه چې په اسمانونو او ځمکه کې دي او الله له ازله ښه پوه، ښه حکمت والا دی |
| يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لَا تَغْلُواْ فِي دِينِكُمْ وَلَا تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلْحَقَّۚ إِنَّمَا ٱلْمَسِيحُ عِيسَى ٱبْنُ مَرْيَمَ رَسُولُ ٱللَّهِ وَكَلِمَتُهُۥٓ أَلْقَىٰهَآ إِلَىٰ مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِّنْهُۖ فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦۖ وَلَا تَقُولُواْ ثَلَٰثَةٌۚ ٱنتَهُواْ خَيْرًا لَّكُمْۚ إِنَّمَا ٱللَّهُ إِلَٰهٌ | (171) ای اهلِ کتابو! تاسو په خپل دین کې غُلُوّ (زیاتی) مه کوئ او الله ته یواځې د حقې خبرې نسبت کوئ، یقینًا همدا خبره ده چې د مریمې زوی مسیح عیسیٰ خو بس د الله رسول دی او د هغه کلمه ده، چې هغه یې مریم ته غورځولې وه او د هغه (الله) له جانبه روح دی، نو تاسو پر الله او د هغه پر رسولانو ایمان راوړئ او تاسو مه وایئ چې (معبودان) |

وَٰحِدٞۖ سُبۡحَٰنَهُۥٓ أَن يَكُونَ لَهُۥ وَلَدٞۘ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلٗا ١٧١

درې دي، تاسو (له دې نه) منع شئ، تاسو لپاره به (دا) ډېره ښه وي، يقيناً همدا خبره ده چې الله يو معبود دی زه د هغه پاکي بيانوم له دې نه چې د هغه لپاره دې اولاد وي، خاص د هغه لپاره دي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي او الله ښه کافي دی (په حيث د) کار ساز

لَّن يَسۡتَنكِفَ ٱلۡمَسِيحُ أَن يَكُونَ عَبۡدٗا لِّلَّهِ وَلَا ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ ٱلۡمُقَرَّبُونَۚ وَمَن يَسۡتَنكِفۡ عَنۡ عِبَادَتِهِۦ وَيَسۡتَكۡبِرۡ فَسَيَحۡشُرُهُمۡ إِلَيۡهِ جَمِيعٗا ١٧٢

(172) هيڅکله به هم مسيح (دا د ځان لپاره) عار ونه ګڼي چې هغه دې د الله بنده وي او نه ملايک (دغه عار ګڼي) چې مقرب دي او څوک چې د هغه عبادت کول (د ځان لپاره) عار ګڼي او لويي کوي، نو ژر به هغه (الله) دوی خپل طرف ته ټول راجمع کړي

فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَيُوَفِّيهِمۡ أُجُورَهُمۡ وَيَزِيدُهُم مِّن فَضۡلِهِۦۖ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ ٱسۡتَنكَفُواْ وَٱسۡتَكۡبَرُواْ فَيُعَذِّبُهُمۡ عَذَابًا أَلِيمٗا وَلَا يَجِدُونَ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا ١٧٣

(173) نو هر چې هغه کسان دي چې ايمان يې راوړی دی او نيک عملونه يې کړي دي، نو هغه به دوی ته د دوی اجرونه پوره ورکړي او له خپل فضل نه به دوی ته (نور) زيات ورکړي او پاتې شول هغه کسان چې عار يې وکړو او لويي يې وکړه، نو هغه به دوی ته ډېر دردوونکی عذاب ورکړي او دوی به د خپلو ځانونو لپاره له الله نه سوا (بل) نه څوک

دوست وومومي او نه مدد کوونکی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدۡ جَآءَكُم بُرۡهَٰنٞ مِّن رَّبِّكُمۡ وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكُمۡ نُورٗا مُّبِينٗا ﴿١٧٤﴾

(174) اى خلقو! يقينًا تاسو ته د خپل رب له جانبه لوی دليل راغلی دی او مونږه تاسو ته واضحه رڼا نازله کړې ده

فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَٱعۡتَصَمُواْ بِهِۦ فَسَيُدۡخِلُهُمۡ فِي رَحۡمَةٖ مِّنۡهُ وَفَضۡلٖ وَيَهۡدِيهِمۡ إِلَيۡهِ صِرَٰطٗا مُّسۡتَقِيمٗا ﴿١٧٥﴾

(175) نو هر چې هغه کسان دي چې پر الله يې ايمان راوړو او پر (دين د) هغه يې منګولې ښخې کړې، نو خامخا به هغه دوی په خپل رحمت او فضل کې داخلوي او د خپل ځان په طرف به يې په نېغه لار روانوي

يَسۡتَفۡتُونَكَ قُلِ ٱللَّهُ يُفۡتِيكُمۡ فِي ٱلۡكَلَٰلَةِۚ إِنِ ٱمۡرُؤٌاْ هَلَكَ لَيۡسَ لَهُۥ وَلَدٞ وَلَهُۥٓ أُخۡتٞ فَلَهَا نِصۡفُ مَا تَرَكَۚ وَهُوَ يَرِثُهَآ إِن لَّمۡ يَكُن لَّهَا وَلَدٞۚ فَإِن كَانَتَا ٱثۡنَتَيۡنِ فَلَهُمَا ٱلثُّلُثَانِ مِمَّا تَرَكَۚ وَإِن كَانُوٓاْ إِخۡوَةٗ رِّجَالٗا وَنِسَآءٗ فَلِلذَّكَرِ مِثۡلُ حَظِّ ٱلۡأُنثَيَيۡنِۗ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمۡ أَن تَضِلُّواْۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمُۢ ﴿١٧٦﴾

(176) دوی له تا نه فتوی غواړي، ته (ورته) ووايه: الله تاسو ته د ''کَلَاله'' (بې پلاره او بې اولاده کس) په باره کې فتویٰ درکوي، که يو سړی وفات شي او د هغه هېڅ اولاد نه وي او د هغه يوه خور وي، نو د هغې لپاره د هغه مال نيمه (حصه) ده چې هغه (مړي) پرېښې دي او دا (سړی) د هغې (خور) (د ټول مال) وارث ګرځي که د هغې هېڅ اولاد نه وي، بيا که هغه دوه (خوېندې) وي، نو د هغوی لپاره (د ټول مال) دوه په درې برخې ده، له هغه (مال) نه چې هغه پرېښی وي او که چېرې هغوی څو وروڼه (خوېندې) وي، سړي او

ښځې، نو د نر لپاره د دوه ښځو د حصې په مثل (حصه) ده، الله تاسو ته ښه وضاحت کوي، چې تاسو گمراه نشئ او الله پر هر شي ښه عالم دی

## سُورَةُ المَائـِدَةِ

## سورة مائده

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَوۡفُواْ بِٱلۡعُقُودِۚ أُحِلَّتۡ لَكُم بَهِيمَةُ ٱلۡأَنۡعَٰمِ إِلَّا مَا يُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡ غَيۡرَ مُحِلِّي ٱلصَّيۡدِ وَأَنتُمۡ حُرُمٌۗ إِنَّ ٱللَّهَ يَحۡكُمُ مَا يُرِيدُ ١

(1) ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! (خپل) لوظونه پوره کړئ، تاسو لپاره اَنعام څاروي حلال کړی شوي دي، سوا له هغو نه چې تاسو ته به ولوستی شي، په دې حال کې چې تاسو د احرام په حالت کې ښکار لره حلال گڼونکي نه يئ، بېشکه الله فيصله کوي د څه چې اراده وکړي

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُحِلُّواْ شَعَٰٓئِرَ ٱللَّهِ وَلَا ٱلشَّهۡرَ ٱلۡحَرَامَ وَلَا ٱلۡهَدۡيَ وَلَا ٱلۡقَلَٰٓئِدَ وَلَآ ءَآمِّينَ ٱلۡبَيۡتَ ٱلۡحَرَامَ يَبۡتَغُونَ فَضۡلٗا مِّن رَّبِّهِمۡ وَرِضۡوَٰنٗاۚ وَإِذَا

(2) ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو د الله د شعايرو (د دين د نښو) بې حرمتي مه کوئ او نه د عزتمنې مياشتې، او نه د حرم د قربانۍ، او نه د حرم د غاړکۍ والا څارويو او نه عزتمن کور ته د اراده لرونکو خلقو، چې د خپل رب فضل او رضامندي

حَلَلْتُمْ فَٱصْطَادُوا۟ ۚ وَلَا
يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَـَٔانُ قَوْمٍ أَن
صَدُّوكُمْ عَنِ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ أَن
تَعْتَدُوا۟ ۘ وَتَعَاوَنُوا۟ عَلَى ٱلْبِرِّ
وَٱلتَّقْوَىٰ ۖ وَلَا تَعَاوَنُوا۟ عَلَى ٱلْإِثْمِ
وَٱلْعُدْوَٰنِ ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ
شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿٢﴾

لټوي او کله چې تاسو حلال (بې احرامه) شئ، نو بیا تاسو ښکار کوئ او له کوم قوم (سره) بغض دې تاسو زیاتي کولو ته راپورته نه کړي، له دې وجې چې تاسو یې له مسجد حرام نه منع کړي وئ او تاسو له یو بل سره په نېکۍ او پرهېزګارۍ کې مدد کوئ او د ګناه او ظلم په کار کې د یو بل مدد مه کوئ او له الله نه وېرېږئ، بېشکه الله ډېر سخت عذاب ورکوونکی دی

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ ٱلْمَيْتَةُ وَٱلدَّمُ
وَلَحْمُ ٱلْخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ لِغَيْرِ ٱللَّهِ
بِهِۦ وَٱلْمُنْخَنِقَةُ وَٱلْمَوْقُوذَةُ
وَٱلْمُتَرَدِّيَةُ وَٱلنَّطِيحَةُ وَمَآ أَكَلَ
ٱلسَّبُعُ إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ وَمَا ذُبِحَ
عَلَى ٱلنُّصُبِ وَأَن تَسْتَقْسِمُوا۟
بِٱلْأَزْلَٰمِ ۚ ذَٰلِكُمْ فِسْقٌ ۗ ٱلْيَوْمَ
يَئِسَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِن
دِينِكُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَٱخْشَوْنِ ۚ
ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ
وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِى
وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلْإِسْلَٰمَ دِينًا ۚ

**(3)** پر تاسو باندې حرامه کړی شوې ده مرداره، او وینه او د خنزیر غوښه او هغه چې په هغه د غیر الله لپاره اواز شوی وي او مری خپه کړی شوی (ژندی شوی) ځاروی، او په کوتك وهل شوی او له بره راغورځېدلی او په ښکر وهل شوی، او هغه چې لیوان یې مات کړي، سوا له هغه (ځاروي) نه چې تاسو یې حلال کړئ، او (حرام دی) هغه (ځاروی) چې په استانو (درګاګانو) باندې ذبح کړی شي او دا چې تاسو په غشو سره قسمت معلوموئ، دغه (ټول) کارونه فسق او نافرماني دي، نن ورځ کافر شوي خلق ستاسو د دین (له ختمولو) نه ناامېده شول، نو تاسو له دوی نه

فَمَنِ ٱضۡطُرَّ فِي مَخۡمَصَةٍ غَيۡرَ مُتَجَانِفٖ لِّإِثۡمٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٣

مه وېرېږئ او له ما نه وېرېږئ، نن ورځ ما تاسو لپاره ستاسو دين مكمل كړو او پر تاسو باندې مې خپل نعمتونه تمام كړل او ما تاسو لپاره اسلام د دين په توګه خوښ كړو، نو څوك چې په سخته لوږه كې مجبور شو، په دې حال كې چې ګناه ته مايل كېدونكى نه وي، بيا نو يقينًا الله ډېر بخښونكى، بې حده مهربان دى

يَسۡـَٔلُونَكَ مَاذَآ أُحِلَّ لَهُمۡۖ قُلۡ أُحِلَّ لَكُمُ ٱلطَّيِّبَٰتُ وَمَا عَلَّمۡتُم مِّنَ ٱلۡجَوَارِحِ مُكَلِّبِينَ تُعَلِّمُونَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ ٱللَّهُۖ فَكُلُواْ مِمَّآ أَمۡسَكۡنَ عَلَيۡكُمۡ وَٱذۡكُرُواْ ٱسۡمَ ٱللَّهِ عَلَيۡهِۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ٤

(4) دوى له تا نه تپوس كوي چې د دوى لپاره څه حلال كړى شوي دي، ته (ورته) ووايه: تاسو لپاره پاكيزه څيزونه حلال كړى شوي دي او هغه (ښكار د) ښكاري حيواناتو چې تاسو تربيه كړي وي، چې ښكاري جوړوونكي يئ، چې تاسو دوى ته له هغه علمه نه ښوونه كوئ چې الله تاسو ته ښوولى دى، نو تاسو خورئ له هغه (ښكار) نه چې دغو (ښكاري حيواناتو) تاسو لپاره نيولى وي او تاسو پر هغه د الله نوم يادوئ، او له الله نه وېرېږئ، بېشكه الله ډېر ژر حساب كوونكى دى

ٱلۡيَوۡمَ أُحِلَّ لَكُمُ ٱلطَّيِّبَٰتُۖ وَطَعَامُ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ حِلّٞ

(5) نن ورځ تاسو لپاره پاكيزه څيزونه حلال كړى شول او د هغو كسانو ذبيحه چې كتاب ورته وركړى شوى دى؛ تاسو لپاره حلاله ده او

لَّكُمۡ وَطَعَامُكُمۡ حِلّٞ لَّهُمۡۖ
وَٱلۡمُحۡصَنَٰتُ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ
وَٱلۡمُحۡصَنَٰتُ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ
ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِكُمۡ إِذَآ
ءَاتَيۡتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ مُحۡصِنِينَ
غَيۡرَ مُسَٰفِحِينَ وَلَا مُتَّخِذِيٓ
أَخۡدَانٖۗ وَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلۡإِيمَٰنِ
فَقَدۡ حَبِطَ عَمَلُهُۥ وَهُوَ فِي
ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٥

ستاسو طعام د هغوی لپاره حلال دی، او (تاسو لپاره حلالې دي) پاك لمنې مومنې ښځې او پاك لمنې ښځې له هغو خلقو څخه چې هغوی ته له تاسو نه مخكې كتاب وركړى شوى دى، كله چې تاسو دغو (ښځو) ته د هغوی مهرونه وركړئ، چې عفت غوښتونكي يئ، بدكاري كوونكي نه يئ او نه په پټه سره ياران نيونكي يئ او څوك چې له ايمان نه انكار وكړي، نو يقينًا د هغه عمل برباد شو او هغه به په اخرت كې له تاوانيانو څخه وي

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قُمۡتُمۡ إِلَى
ٱلصَّلَوٰةِ فَٱغۡسِلُواْ وُجُوهَكُمۡ
وَأَيۡدِيَكُمۡ إِلَى ٱلۡمَرَافِقِ وَٱمۡسَحُواْ
بِرُءُوسِكُمۡ وَأَرۡجُلَكُمۡ إِلَى
ٱلۡكَعۡبَيۡنِۚ وَإِن كُنتُمۡ جُنُبٗا
فَٱطَّهَّرُواْۚ وَإِن كُنتُم مَّرۡضَىٰٓ أَوۡ
عَلَىٰ سَفَرٍ أَوۡ جَآءَ أَحَدٞ مِّنكُم
مِّنَ ٱلۡغَآئِطِ أَوۡ لَٰمَسۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ
فَلَمۡ تَجِدُواْ مَآءٗ فَتَيَمَّمُواْ صَعِيدٗا
طَيِّبٗا فَٱمۡسَحُواْ بِوُجُوهِكُمۡ
وَأَيۡدِيكُم مِّنۡهُۚ مَا يُرِيدُ ٱللَّهُ

(6) اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى! كله چې تاسو لمانځه ته پاڅېږئ، نو تاسو خپل مخونه او خپل لاسونه تر څنګلو پورې ووينځئ او د خپلو سرونو مسح وكړئ او تر ګيټو (ښنګرو) پورې خپلې پښې (ووينځئ) او كه چېرې تاسو د جنابت په حالت كې يئ، نو ځان ښه پاك كړئ (غسل وكړئ) او كه چېرې تاسو بيماران يئ، يا په سفر كې يئ، يا په تاسو كې كوم يو له اودس ماتي نه راغى، يا تاسو له خپلو ښځو سره كوروالى وكړئ، بيا تاسو اوبه ونه موندلې، نو د پاكې ځمكې مخ ته قصد وكړئ (تيمم وكړئ)، نو خپل مخونه او

لِيَجۡعَلَ عَلَيۡكُم مِّنۡ حَرَجٖ وَلَٰكِن يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمۡ وَلِيُتِمَّ نِعۡمَتَهُۥ عَلَيۡكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ٦

خپل لاسونه (تر مروندونو پورې) په دې (خاورې، شګې) سره مسح کړئ، الله اراده نه لري چې پر تاسو باندې څه حرج (سختی) راولي، او لېکن غواړي چې تاسو ښه پاك كړي او پر تاسو باندې خپل نعمتونه پوره کړي، د دې لپاره چې تاسو شکر وباسئ

وَٱذۡكُرُواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَمِيثَٰقَهُ ٱلَّذِي وَاثَقَكُم بِهِۦٓ إِذۡ قُلۡتُمۡ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ٧

(7) او تاسو د الله نعمتونه یاد کړئ، چې پر تاسو باندې شوي دي او د هغۀ، هغه پخه وعده یاده کړئ چې له تاسو سره یې مضبوطه کړې وه، کله چې تاسو وویل: مونږ واورېدل او مونږ اطاعت وکړو، او تاسو له الله نه وېرېږئ، بېشکه الله د سینو په خبرو باندې (هم) ښه عالم دی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُونُواْ قَوَّٰمِينَ لِلَّهِ شُهَدَآءَ بِٱلۡقِسۡطِۖ وَلَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ شَنَـَٔانُ قَوۡمٍ عَلَىٰٓ أَلَّا تَعۡدِلُواْۚ ٱعۡدِلُواْ هُوَ أَقۡرَبُ لِلتَّقۡوَىٰۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ٨

(8) ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی ! تاسو د الله لپاره (په حق باندې) مضبوط ولاړ اوسئ، چې په انصاف سره ګواهي کوونکي یئ او د یو قوم بغض دې تاسو دې ته راپورته نه کړي چې تاسو عدل ونه کړئ، عدل کوئ، دا تقوا ته ډېر نژدې دی او له الله نهووېرېږئ، بیشکه الله ښه خبر دی پر هغو کارونو چې تاسو یې کوئ

| | |
|---|---|
| وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿٩﴾ | (9) الله له هغو كسانو سره وعده كړې ده چې ايمان يې راوړى دى او نېك عملونه يې كړي دي، چې د هغوى لپاره بخښنه او ډېر لوى اجر دى |
| وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلْجَحِيمِ ﴿١٠﴾ | (10) او هغه كسان چې كفر يې كړى دى او زمونږ ايتونه يې دروغ ګڼلي دي، دغه خلق د اور والا دي |
| يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذْكُرُواْ نِعْمَتَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ هَمَّ قَوْمٌ أَن يَبْسُطُوٓاْ إِلَيْكُمْ أَيْدِيَهُمْ فَكَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنكُمْۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿١١﴾ | (11) اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى! تاسو د الله هغه نعمتونه راياد كړئ چې پر تاسو باندې شوي دي، كله چې څه خلقو اراده وكړه چې تاسو ته خپل لاسونه در اوږده كړي، نو هغه (الله) د هغوى لاسونه له تاسو بند كړل او له الله نه ووېرېږئ او لازم ده چې مومنان خاص په الله باندې توكل وكړي |
| ۞وَلَقَدْ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ وَبَعَثْنَا مِنْهُمُ ٱثْنَيْ عَشَرَ نَقِيبًاۖ وَقَالَ ٱللَّهُ إِنِّي مَعَكُمْۖ لَئِنْ أَقَمْتُمُ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَيْتُمُ ٱلزَّكَوٰةَ وَءَامَنتُم بِرُسُلِي وَعَزَّرْتُمُوهُمْ وَأَقْرَضْتُمُ ٱللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا | (12) او يقينًا يقينًا، الله له بني اسرائيلو نه پخه وعده اخيستې وه او مونږ په دوى كې دولس تنه مشران مقرر كړل او الله وفرمايل: بېشكه زه له تاسو سره يم، يقينًا كه چېرې تاسو لمونځ قايم وساتئ او زكات ادا كړئ او زما پر رسولانو ايمان راوړئ او تاسو د هغوى مدد وكړئ او تاسو الله ته ډېر ښكلى قرض |

لَّأُكَفِّرَنَّ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَلَأُدۡخِلَنَّكُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۚ فَمَن كَفَرَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ مِنكُمۡ فَقَدۡ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ﴿١٢﴾

ورکړئ، نو خامخا لازمًا به زه له تاسو څخه ستاسو ګناهونه ختم کړم او خامخا لازمًا به تاسو داسې جنتونو ته ننباسم چې د هغو له لاندې ولې بهېږي، نو په تاسو کې چې چا له دې نه وروسته کفر وکړ، نو يقينًا هغه له نېغې لارې نه بې لارې شو

فَبِمَا نَقۡضِهِم مِّيثَٰقَهُمۡ لَعَنَّٰهُمۡ وَجَعَلۡنَا قُلُوبَهُمۡ قَٰسِيَةٗۖ يُحَرِّفُونَ ٱلۡكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِۦ وَنَسُواْ حَظّٗا مِّمَّا ذُكِّرُواْ بِهِۦۚ وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلَىٰ خَآئِنَةٖ مِّنۡهُمۡ إِلَّا قَلِيلٗا مِّنۡهُمۡۖ فَٱعۡفُ عَنۡهُمۡ وَٱصۡفَحۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿١٣﴾

**(13)** نو د خپلې کلکې وعدې د ماتولو په سبب مونږ پر دوی لعنت وکړ او مونږ د دوی زړونه سخت کړل، دوی (د تورات) کلمې له خپلو ځايونو نه اړوي او دوی ته چې څه نصيحت شوی و؛ د هغه (لويه) حصه يې هېره کړله او ته به هميشه د دوی په څه خيانت باندې اګاه ګېږې، مګر په دوی کې ډېر لږ خلق (داسې نه دي)، نو ته دوی ته معافي کوه او تېرېږه، بېشکه الله نېکي کوونکي خوښوي

وَمِنَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّا نَصَٰرَىٰٓ أَخَذۡنَا مِيثَٰقَهُمۡ فَنَسُواْ حَظّٗا مِّمَّا ذُكِّرُواْ بِهِۦ فَأَغۡرَيۡنَا بَيۡنَهُمُ ٱلۡعَدَاوَةَ وَٱلۡبَغۡضَآءَ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ وَسَوۡفَ يُنَبِّئُهُمُ ٱللَّهُ بِمَا

**(14)** او له هغو کسانو څخه چې وايي: بېشکه مونږ نصرانيان يو؛ مونږ له دوی نه پخه وعده اخيستې وه، نو دوی ته چې د څه نصيحت شوی و؛ د هغه لويه برخه يې هېره کړله، نو مونږ د دوی په مېنځ کې د قيامت د ورځې پورې دښمني او کينه واچوله او الله به ژر دوی

كَانُواْ يَصۡنَعُونَ ١٤

پر هغو عملونو خبر کړي چې دوی به کول

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ قَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمۡ كَثِيرٗا مِّمَّا كُنتُمۡ تُخۡفُونَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَيَعۡفُواْ عَن كَثِيرٖۚ قَدۡ جَآءَكُم مِّنَ ٱللَّهِ نُورٞ وَكِتَٰبٞ مُّبِينٞ ١٥

(15) ای اهل کتابو! يقيناً تاسو ته زمونږ رسول راغلی دی چې تاسو ته ډېر هغه څيزونه بيانوي چې تاسو به له کتابه پټول او له ډېرو څخه تېرېږي، يقيناً تاسو ته د الله له جانبه رڼا او روښانه کتاب راغلی دی

يَهۡدِي بِهِ ٱللَّهُ مَنِ ٱتَّبَعَ رِضۡوَٰنَهُۥ سُبُلَ ٱلسَّلَٰمِ وَيُخۡرِجُهُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ بِإِذۡنِهِۦ وَيَهۡدِيهِمۡ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ١٦

(16) چې په ده سره الله د سلامتۍ د لارو هدايت کوي هغه چا ته چې د هغه (الله) د رضا تابع وي او هغه په خپل حکم سره دوی لره له تيارو نه رڼا ته راوباسي او دوی ته د نيغې لارې هدايت کوي

لَّقَدۡ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ مَرۡيَمَۚ قُلۡ فَمَن يَمۡلِكُ مِنَ ٱللَّهِ شَيۡـًٔا إِنۡ أَرَادَ أَن يُهۡلِكَ ٱلۡمَسِيحَ ٱبۡنَ مَرۡيَمَ وَأُمَّهُۥ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗاۗ وَلِلَّهِ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَاۚ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ١٧

(17) يقيناً يقيناً هغه کسان کافر شول چې هغوی ويل: بېشکه الله هم دا د مريمې زوی مسيح دی، ته (ورته) ووايه: د الله په وړاندې به څوک د څه شي اختيار ولري که هغه اراده وکړي چې د مريمې زوی مسيح او د هغه مور او څوک چې په ځمکه کې دي ؛ هغه ټول هلاک کړي، او خاص د الله لپاره د اسمانونو او ځمکې بادشاهي ده او د هغه څه چې د دې دواړو په مينځ کې دي، هغه چې څه وغواړي

پیدا کوي يې او الله پر هر شي باندې ښه قادر دی

وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ وَٱلنَّصَٰرَىٰ نَحۡنُ أَبۡنَٰٓؤُاْ ٱللَّهِ وَأَحِبَّٰٓؤُهُۥۚ قُلۡ فَلِمَ يُعَذِّبُكُم بِذُنُوبِكُمۖ بَلۡ أَنتُم بَشَرٞ مِّمَّنۡ خَلَقَۚ يَغۡفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُۚ وَلِلَّهِ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَاۖ وَإِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ ١٨

**(18)** او یهودیانو او نصرانیانو وویل: مونږ د الله زامن او د هغه دوستان یو، ته (ورته) وواېه: نو بیا ولې هغه تاسو ته ستاسو د ګناهونو په وجه عذاب درکوي؟ بلکې تاسو د هغه په مخلوقاتو کې انسانان يئ، هغه چې چا ته وغواړي بخښنه کوي او چا ته چې وغواړي عذاب ورکوي او خاص د الله لپاره د اسمانونو او ځمکې بادشاهي ده او د هغه څه چې د دې دواړو په مینځ کې دي او خاص د هغه په طرف ورتلل دي

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ قَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمۡ عَلَىٰ فَتۡرَةٖ مِّنَ ٱلرُّسُلِ أَن تَقُولُواْ مَا جَآءَنَا مِنۢ بَشِيرٖ وَلَا نَذِيرٖۖ فَقَدۡ جَآءَكُم بَشِيرٞ وَنَذِيرٞۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ١٩

**(19)** ای اهل کتابو! یقینًا تاسو ته زمونږ رسول، د رسولانو له وقفې نه پس راغلی دی، چې تاسو ته احکام بیانوي چې تاسو (بیا) دا ونه وایئ چې مونږ ته خو نه څوك زېری ورکوونکی راغلی و او نه وېروونکی، نو (دا دی چې) بې له شکه تاسو ته زېری ورکوونکی او وېروونکی راغی او الله پر هر شي باندې ښه قادر دی

وَإِذۡ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِۦ يَٰقَوۡمِ

**(20)** او کله چې موسٰی خپل قوم ته وویل:

ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ جَعَلَ فِيكُمۡ أَنۢبِيَآءَ وَجَعَلَكُم مُّلُوكٗا وَءَاتَىٰكُم مَّا لَمۡ يُؤۡتِ أَحَدٗا مِّنَ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢٠

ای قومه! تاسو د الله نعمتونه یاد کړئ چې پر تاسو باندې (شوي) دي کله چې یې په تاسو کې پیغمبران پیدا کړل او تاسو یې ازاد (او خودمختاره) کړئ او تاسو ته یې هغه څه در کړل چې په عالمونو کې یې هیچا ته هم نه وو ورکړي

يَٰقَوۡمِ ٱدۡخُلُواْ ٱلۡأَرۡضَ ٱلۡمُقَدَّسَةَ ٱلَّتِي كَتَبَ ٱللَّهُ لَكُمۡ وَلَا تَرۡتَدُّواْ عَلَىٰٓ أَدۡبَارِكُمۡ فَتَنقَلِبُواْ خَٰسِرِينَ ٢١

(21) ای زما قومه! تاسو هغه پاکې ځمکې ته داخل شئ چې الله تاسو لپاره لیکلې ده او په خپلو شاګانو بیرته مه ګرځئ (ګنې) نو تاوانیان به شئ

قَالُواْ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّ فِيهَا قَوۡمٗا جَبَّارِينَ وَإِنَّا لَن نَّدۡخُلَهَا حَتَّىٰ يَخۡرُجُواْ مِنۡهَا فَإِن يَخۡرُجُواْ مِنۡهَا فَإِنَّا دَٰخِلُونَ ٢٢

(22) دوی وویل: ای موسٰی! بېشکه په دغې (پاکې ځمکه) کې ډېر زورور خلق دي او بېشکه مونږ به کله هم دغې ته داخل نشو تر هغه پورې چې دوی له هغې نه ووځي، نو که دوی له هغې نه ووتل، نو بېشکه مونږ (هغې ته) ننوتونکي یو

قَالَ رَجُلَانِ مِنَ ٱلَّذِينَ يَخَافُونَ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمَا ٱدۡخُلُواْ عَلَيۡهِمُ ٱلۡبَابَ فَإِذَا دَخَلۡتُمُوهُ فَإِنَّكُمۡ غَٰلِبُونَۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَتَوَكَّلُوٓاْ إِن

(23) وویل دوه سړیو له هغو کسانو نه چې (له الله نه) وېرېدل، (او) الله په هغو دواړو انعام کړی و: تاسو په دوی باندې په دروازه کې (حمله کوونکي) داخل شئ، نو کله چې تاسو هغې ته ننوتئ، نو بېشکه تاسو غالبه یئ

كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿٢٣﴾

او تاسو خاص په الله باندې توکل وکړئ که چېرې تاسو مومنان يئ

قَالُواْ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّا لَن نَّدۡخُلَهَآ أَبَدٗا مَّا دَامُواْ فِيهَا فَٱذۡهَبۡ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَٰتِلَآ إِنَّا هَٰهُنَا قَٰعِدُونَ ﴿٢٤﴾

(24) هغوی وويل: ای موسٰی! بېشکه مونږ دې (ښارېږ) ته له سره نه ننوځو هېڅکله هم، څو پورې چې دوی په هغې کې وي، نو ته او ستا رب لاړ شئ، نو تاسو دواړه وجنګېږئ، مونږ به همدلته ناست يو

قَالَ رَبِّ إِنِّي لَآ أَمۡلِكُ إِلَّا نَفۡسِي وَأَخِيۖ فَٱفۡرُقۡ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡفَٰسِقِينَ ﴿٢٥﴾

(25) وويل (موسٰی) ای زما ربه! بېشکه زه اختيار نه لرم مګر د خپل ځان او د خپل ورور، نو ته زمونږ په مينځ کې او د فاسق (نافرمان) قوم په مينځ کې جدايي راوله

قَالَ فَإِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيۡهِمۡۛ أَرۡبَعِينَ سَنَةٗۛ يَتِيهُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ فَلَا تَأۡسَ عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡفَٰسِقِينَ ﴿٢٦﴾

(26) وويل (الله) پس بېشکه هغه (مقدسه ځمکه) په دوی باندې څلوېښت کاله بنده (ممنوعه) ده، چې دوی به په ځمکه کې حيران سرګردان ګرځي، نو ته په فاسق (نافرمانه) قوم باندې مه خفه کېږه

۞وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ ٱبۡنَيۡ ءَادَمَ بِٱلۡحَقِّ إِذۡ قَرَّبَا قُرۡبَانٗا فَتُقُبِّلَ مِنۡ أَحَدِهِمَا وَلَمۡ يُتَقَبَّلۡ مِنَ ٱلۡأٓخَرِ قَالَ لَأَقۡتُلَنَّكَۖ قَالَ إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ

(27) او دوی ته د ادم د دوه زامنو خبر په حقه سره ولوله، کله چې هغو دواړو قرباني وړاندې کړه، نو په هغوی کې له يو څخه قبوله شوه او له بل څخه قبوله نشوه، هغه وويل: زه به خامخا لازمًا تا ووژنم، هغه (ورته) وويل:

| | |
|---|---|
| ٱللَّهُ مِنَ ٱلۡمُتَّقِينَ ٢٧ | بېشکه همدا خبره ده چې الله له پرهېزګارانو څخه (قرباني) قبلوي |
| لَئِنۢ بَسَطتَ إِلَيَّ يَدَكَ لِتَقۡتُلَنِي مَآ أَنَا۠ بِبَاسِطٖ يَدِيَ إِلَيۡكَ لِأَقۡتُلَكَۖ إِنِّيٓ أَخَافُ ٱللَّهَ رَبَّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢٨ | (28) که چېرې ته زما د وژلو لپاره خپل لاس را اوږد کړې (، نو) زه خپل لاس ستا د وژلو لپاره تا ته نه در اوږدوم، بېشکه زه له الله رب العلمين څخه وېرېږم |
| إِنِّيٓ أُرِيدُ أَن تَبُوٓأَ بِإِثۡمِي وَإِثۡمِكَ فَتَكُونَ مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلنَّارِۚ وَذَٰلِكَ جَزَٰٓؤُاْ ٱلظَّٰلِمِينَ ٢٩ | (29) بېشکه زه غواړم چې ته زما (د وژلو) په ګناه باندې او په خپلې (مخکېنۍ) ګناه باندې اخته شې، بیا چې د دوزخ په ملګرو کې شې او دا د ظالمانو جزا ده |
| فَطَوَّعَتۡ لَهُۥ نَفۡسُهُۥ قَتۡلَ أَخِيهِ فَقَتَلَهُۥ فَأَصۡبَحَ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٣٠ | (30) نو هغه ته خپل نفس د خپل ورور وژل ښکلي (او) اسان کړل، نو هغه يې قتل کړ، نو شو له تاوانیانو نه |
| فَبَعَثَ ٱللَّهُ غُرَابٗا يَبۡحَثُ فِي ٱلۡأَرۡضِ لِيُرِيَهُۥ كَيۡفَ يُوَٰرِي سَوۡءَةَ أَخِيهِۚ قَالَ يَٰوَيۡلَتَىٰٓ أَعَجَزۡتُ أَنۡ أَكُونَ مِثۡلَ هَٰذَا ٱلۡغُرَابِ فَأُوَٰرِيَ سَوۡءَةَ أَخِيۖ فَأَصۡبَحَ مِنَ ٱلنَّٰدِمِينَ ٣١ | (31) نو الله يو کارغه راولېږه، چې ځمکه يې کنستله، د دې لپاره چې هغه (قاتل) ته وښيي چې څنګه هغه د خپل ورور جثه (کالبوت) پټه کړي، هغه وويل: هی افسوس! ایا زه د دې کارغه په شان له کېدو نه هم عاجز شوم، چې د خپل ورور جثه مې پټه کړې وی، نو له پښېمانه کېدونکو څخه شو |

مِنۡ أَجۡلِ ذَٰلِكَ كَتَبۡنَا عَلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ أَنَّهُۥ مَن قَتَلَ نَفۡسَۢا بِغَيۡرِ نَفۡسٍ أَوۡ فَسَادٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ ٱلنَّاسَ جَمِيعٗا وَمَنۡ أَحۡيَاهَا فَكَأَنَّمَآ أَحۡيَا ٱلنَّاسَ جَمِيعٗاۚ وَلَقَدۡ جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُنَا بِٱلۡبَيِّنَٰتِ ثُمَّ إِنَّ كَثِيرٗا مِّنۡهُم بَعۡدَ ذَٰلِكَ فِي ٱلۡأَرۡضِ لَمُسۡرِفُونَ ﴿٣٢﴾

(32) له همدې وجې نه مونږ په بني اسرائيلو باندې لازم کړي وو چې ببشکه خبره دا ده چې چا هم يو نفس له بدلې نه بغير، يا په ځمکه کې له ورانکارۍ نه بغير ووژه، نو ګويا کې هغه ټول خلق ووژل او چا چې د دغه نفس ژوند بچ کړ، نو ګويا کې هغه د ټولو خلقو ژوند بچ کړ او يقينًا يقينًا دوی ته زمونږه رسولانو څرګندې نښې راوړې وې، يقينًا بيا له دې نه پس (هم) په دوی کې ډېر خلق په ځمکه کې خامخا زياتې کوونکي دي

إِنَّمَا جَزَٰٓؤُاْ ٱلَّذِينَ يُحَارِبُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَسۡعَوۡنَ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوٓاْ أَوۡ يُصَلَّبُوٓاْ أَوۡ تُقَطَّعَ أَيۡدِيهِمۡ وَأَرۡجُلُهُم مِّنۡ خِلَٰفٍ أَوۡ يُنفَوۡاْ مِنَ ٱلۡأَرۡضِۚ ذَٰلِكَ لَهُمۡ خِزۡيٞ فِي ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٣٣﴾

(33) ببشکه اصل خبره همدا ده چې څوك چې د الله او د هغه له رسول سره جنګ کوي او په ځمکه کې د ورانۍ کولو کوښښ کوي، د هغوی سزا دا ده چې دوی دې قتل کړی شي، يادې په دار کړی شي، يا دې د دوی لاسونه او پښې ادلې بدلې پرې کړی شي، يا دې دوی له (دغې) ځمکې نه وشړل شي، دا د دوی لپاره په دنيا کې رسوايي ده او د دوی لپاره په اخرت کې ببخې لوی عذاب دی

إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ مِن قَبۡلِ أَن تَقۡدِرُواْ عَلَيۡهِمۡۖ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ

(34) مګر هغه کسان چې توبه وباسي مخکې له دې نه چې تاسو په دوی باندې قابو

غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣٤﴾

ومومئ، نو پوه شئ چې يقينًا الله ډېر بخښونكى، بې حده مهربان دى

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱبْتَغُوٓاْ إِلَيْهِ ٱلْوَسِيلَةَ وَجَـٰهِدُواْ فِى سَبِيلِهِۦ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٣٥﴾

(35) اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى! تاسو له الله نه ووېرېږئ او هغه ته قرب (نژدې والى) ولټوئ او تاسو د هغه په لار كې جهاد كوئ، د دې لپاره چې تاسو كامياب شئ

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوْ أَنَّ لَهُم مَّا فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا وَمِثْلَهُۥ مَعَهُۥ لِيَفْتَدُواْ بِهِۦ مِنْ عَذَابِ يَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ مَا تُقُبِّلَ مِنْهُمْ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٣٦﴾

(36) ببشكه هغه كسان چې كفر يې كړى دى كه د ځمكې ټول دولت د دوى شي او له دغې (دولت) سره د ده هومره (نور هم)، د دې لپاره چې دا د قيامت د ورځې د عذاب په بدله كې وركړي (،نو) دا (فديه) به له دوى نه قبوله نه كړى شي او د دوى لپاره ډېر دردوونكى عذاب دى

يُرِيدُونَ أَن يَخْرُجُواْ مِنَ ٱلنَّارِ وَمَا هُم بِخَـٰرِجِينَ مِنْهَا ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴿٣٧﴾

(37) دوى به غواړي چې له اور نه ووځي، حال دا چې دوى له هغه نه وتونكي نه دي او د دوى لپاره دايمي (همېشنى) عذاب دى

وَٱلسَّارِقُ وَٱلسَّارِقَةُ فَٱقْطَعُوٓاْ أَيْدِيَهُمَا جَزَآءًۢ بِمَا كَسَبَا نَكَـٰلًا مِّنَ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٣٨﴾

(38) او غل او غله، نو تاسو د دوى لاسونه د دوى د كړي عمل په بدله كې پرې كړئ، چې د الله له جانبه عبرتناكه سزا ده او الله ډېر

غالب، ښه حکمت والا دی

فَمَن تَابَ مِنۢ بَعۡدِ ظُلۡمِهِۦ
وَأَصۡلَحَ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَتُوبُ عَلَيۡهِۚ إِنَّ
ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ٣٩

(39) نو چا چې له خپل ظلم نه پس توبه وکړه او (د ځان) اصلاح يې وکړه، نو ببشکه الله د ده توبه قبلوي، ببشکه الله ډېر بخښونکی، بې حده مهربان دی

أَلَمۡ تَعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلۡكُ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ يُعَذِّبُ مَن
يَشَآءُ وَيَغۡفِرُ لِمَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ
كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ٤٠

(40) ايا ته پوه نه يې چې ببشکه خاص د الله لپاره د اسمانونو او ځمکې بادشاهي ده، چا ته چې وغواړي عذاب ورکوي او چا ته چې وغواړي بخښنه کوي او الله پر هر شي باندې ښه قادر دی

۞يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ لَا يَحۡزُنكَ
ٱلَّذِينَ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡكُفۡرِ مِنَ
ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِأَفۡوَٰهِهِمۡ وَلَمۡ
تُؤۡمِن قُلُوبُهُمۡۛ وَمِنَ ٱلَّذِينَ هَادُواْۛ
سَمَّٰعُونَ لِلۡكَذِبِ سَمَّٰعُونَ لِقَوۡمٍ
ءَاخَرِينَ لَمۡ يَأۡتُوكَۖ يُحَرِّفُونَ ٱلۡكَلِمَ
مِنۢ بَعۡدِ مَوَاضِعِهِۦۖ يَقُولُونَ إِنۡ
أُوتِيتُمۡ هَٰذَا فَخُذُوهُ وَإِن لَّمۡ
تُؤۡتَوۡهُ فَٱحۡذَرُواْۚ وَمَن يُرِدِ ٱللَّهُ
فِتۡنَتَهُۥ فَلَن تَمۡلِكَ لَهُۥ مِنَ ٱللَّهِ

(41) اى رسوله! تا دې هغه کسان غمجن نه کړي چې په کفر کې له يو بل نه تلوار کوي، له هغو خلقو څخه چې په خپلو خولو وايي چې مونږ ايمان راوړى دى، حال دا چې د دوى زړونو ايمان نه دى راوړى او له هغو خلقو څخه چې يهوديان دي، دوى د دروغو ډېر اورېدونکي (قبلوونکي) دي، د هغو نورو خلقو لپاره ډېر اورېدونکي دي چې تا ته نه دي راغلي، دوى خبرې بدلوي وروسته له دې نه چې هغه په خپلو ځايونو کې (ثابتې) شي، دوى وايي که چېرې تاسو ته دا درکړې شي،

شَيۡـًٔاۚ أُوْلَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَمۡ يُـرِدِ ٱللَّهُ أَن يُطَهِّرَ قُلُوبَهُمۡۚ لَهُـمۡ فِي ٱلدُّنۡيَـا خِزۡيٞۖ وَلَهُـمۡ فِي ٱلۡأٓخِـرَةِ عَـذَابٌ عَظِيمٞ ﴿٤١﴾

نو هغه واخلئ، او که چېرې تاسو ته هغه در نه کړی شي، نو بیا ځان وساتئ او هغه څوك چې الله د هغه گمراه کول وغواړي، (بیا) نو ته د هغه لپاره د الله په وړاندې د هېڅ شي اختیار نه لرې، دا هغه کسان دي چې الله د دوی د زړونو د پاکولو اراده نه ده کړې، د همدوی لپاره په دنیا کې رسوایي ده او د همدوی لپاره په اخرت کې ښخې لوی عذاب دی

سَـمَّٰعُونَ لِلۡكَـذِبِ أَكَّـٰلُونَ لِلسُّحۡتِۚ فَإِن جَآءُوكَ فَـٱحۡكُم بَيۡـنَهُمۡ أَوۡ أَعۡـرِضۡ عَـنۡهُمۡۖ وَإِن تُعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ فَلَن يَضُرُّوكَ شَيۡـٔٗاۖ وَإِنۡ حَكَمۡتَ فَـٱحۡكُم بَيۡـنَهُم بِٱلۡقِسۡـطِۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِـبُّ ٱلۡمُقۡسِطِينَ ﴿٤٢﴾

(42) دوی د دروغو ډېر اورېدونکي دي او د حرامو ډېر خوړونکي دي، نو که چېرې دوی تا ته راشي، نو ته د دوی په مینځ کې فیصله وکړه، یا له دوی نه مخ واړوه او که چېرې ته له دوی نه مخ واړوې، نو دوی به تا ته هیڅکله هم هېڅ شی ضرر در ونه رسولی شي، او که چېرې ته فیصله کوې، نو د دوی په مینځ کې په انصاف سره فیصله وکړه، بېشکه الله له انصاف کوونکو سره مینه کوي

وَكَيۡـفَ يُحَكِّمُونَـكَ وَعِنـدَهُمُ ٱلتَّوۡرَىٰـةُ فِيهَـا حُكۡـمُ ٱللَّهِ ثُـمَّ يَتَوَلَّـوۡنَ مِـنۢ بَعۡـدِ ذَٰلِـكَۚ وَمَـآ

(43) او دوی (د زنا په باره کې) فیصله تا ته څنګه راوړي؟! حال دا چې له دوی سره تورات شته، چې په هغه کې (د دې په باره کې) د الله حکم دی، بیا دوی له دې (ستا له

أُوْلَٰٓئِكَ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٤٣﴾

فيصلې) نه بعد ببرته ګرځي او دغه خلق له سره مومنان نه دي

إِنَّآ أَنزَلۡنَا ٱلتَّوۡرَىٰةَ فِيهَا هُدٗى وَنُورٞۚ يَحۡكُمُ بِهَا ٱلنَّبِيُّونَ ٱلَّذِينَ أَسۡلَمُواْ لِلَّذِينَ هَادُواْ وَٱلرَّبَّٰنِيُّونَ وَٱلۡأَحۡبَارُ بِمَا ٱسۡتُحۡفِظُواْ مِن كِتَٰبِ ٱللَّهِ وَكَانُواْ عَلَيۡهِ شُهَدَآءَۚ فَلَا تَخۡشَوُاْ ٱلنَّاسَ وَٱخۡشَوۡنِ وَلَا تَشۡتَرُواْ بِـَٔايَٰتِي ثَمَنٗا قَلِيلٗاۚ وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴿٤٤﴾

(44) بېشکه مونږ تورات نازل کړی دی، چې په هغه کې هدایت او رڼا ده، په ده سره به نبیانو، چې حکم منونکي وو، د یهودیانو لپاره فیصلې کولې او الهي خلقو او عالمانو (به هم فیصلې کولې)، ځکه چې دوی د الله د کتاب ساتونکي ګرځول شوي وو او دوی په ده باندې ګواهان وو، نو تاسو له خلقو نه مه وېرېږئ او له ما نه وېرېږئ او زما د ایتونو په بدل کې لږ قیمت مه اخلئ او چا چې د الله په نازل کړي (کتاب، قانون) باندې فیصله ونه کړه، نو همدغه خلق کافران دي

وَكَتَبۡنَا عَلَيۡهِمۡ فِيهَآ أَنَّ ٱلنَّفۡسَ بِٱلنَّفۡسِ وَٱلۡعَيۡنَ بِٱلۡعَيۡنِ وَٱلۡأَنفَ بِٱلۡأَنفِ وَٱلۡأُذُنَ بِٱلۡأُذُنِ وَٱلسِّنَّ بِٱلسِّنِّ وَٱلۡجُرُوحَ قِصَاصٞۚ فَمَن تَصَدَّقَ بِهِۦ فَهُوَ كَفَّارَةٞ لَّهُۥۚ وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٤٥﴾

(45) او مونږ په دوی باندې په دې (تورات) کې فرض کړي وو چې بېشکه ځان د ځان په بدله کې دی او سترګه د سترګې په بدله کې او پوزه د پوزې په بدله کې او غوږ د غوږ په بدله کې او غاښ د غاښ په بدله کې دی او زخمونه (هم) قصاص (برابر) دي، نو چا چې د دې (قصاص) معافي وکړه، نو دا د دغه (مجرم) لپاره کفاره ده (په دې سره له دې ګناه څخه پاکېږي) او چا چې د الله په نازل

کړي (کتاب، قانون) باندې فیصله ونه کړه، نو همدغه خلق ظالمان دي

وَقَفَّيْنَا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم بِعِيسَى ٱبْنِ مَرْيَمَ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ ۖ وَءَاتَيْنَٰهُ ٱلْإِنجِيلَ فِيهِ هُدًى وَنُورٌ وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ وَهُدًى وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٤٦﴾

(46) او مونږه په هغوی پسې د دوی په نښو باندې د مریمې زوی عیسٰی ولېږه چې له ده نه د وړاندې (کتاب) تورات تصدیق کوونکی و او مونږ هغه ته انجیل ورکړ، چې په هغه کې هدایت او رڼا وه او چې له ده نه د مخکې (کتاب) تورات تصدیق کوونکی و او د پرهېزګارانو لپاره هدایت او نصیحت و

وَلْيَحْكُمْ أَهْلُ ٱلْإِنجِيلِ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فِيهِ ۚ وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ﴿٤٧﴾

(47) او لازم دي چې انجیل والا دې فیصله وکړي په هغه څه چې الله په دې (انجیل) کې نازل کړي دي (چې د قرآن او محمدﷺ تصدیق دی) او چا چې د الله په نازل کړي (کتاب، قانون) باندې فیصله ونه کړه، نو همدغه خلق فاسقان دي

وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ ۖ فَٱحْكُم بَيْنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ ۖ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ عَمَّا جَآءَكَ

(48) او (ای نبي!) مونږ تا ته کتاب په حقه سره نازل کړی دی، چې د هغو کتابونو تصدیق کوونکی دی چې له ده نه مخکې دي او د هغوی محافظ دی، نو ته د دوی په مینځ کې فیصله وکړه په هغه څه سره چې الله نازل کړي دي او ته د دوی د خواهشاتو پیروي مه

مِنَ ٱلۡحَقِّۚ لِكُلّٖ جَعَلۡنَا مِنكُمۡ
شِرۡعَةٗ وَمِنۡهَاجٗاۚ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ
لَجَعَلَكُمۡ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ وَلَٰكِن
لِّيَبۡلُوَكُمۡ فِي مَآ ءَاتَىٰكُمۡۖ
فَٱسۡتَبِقُواْ ٱلۡخَيۡرَٰتِۚ إِلَى ٱللَّهِ
مَرۡجِعُكُمۡ جَمِيعٗا فَيُنَبِّئُكُم بِمَا
كُنتُمۡ فِيهِ تَخۡتَلِفُونَ ﴿٤٨﴾

کوه، چې هغه حق پرېږدې چې تا ته راغلی دی، مونږ په تاسو کې د هر يو لپاره يو دستور او لاره مقرر کړې ده، او که الله غوښتلی، نو تاسو به يې يو امت ګرځولي وئ، او لېکن (بېل بېل يې کړئ) د دې لپاره چې تاسو وازمايي په هغه څه کې چې تاسو ته يې درکړي دي، نو تاسو نېکيو ته له يو بل نه مخکې کېږئ، خاص الله ته ستاسو د ټولو واپسي ده، نو هغه به تاسو ته د هغو کارونو خبر درکړي چې تاسو په هغو کې اختلاف کاوه

وَأَنِ ٱحۡكُم بَيۡنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ
وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَهُمۡ وَٱحۡذَرۡهُمۡ أَن
يَفۡتِنُوكَ عَنۢ بَعۡضِ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ
إِلَيۡكَۖ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَٱعۡلَمۡ أَنَّمَا
يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُصِيبَهُم بِبَعۡضِ
ذُنُوبِهِمۡۗ وَإِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلنَّاسِ
لَفَٰسِقُونَ ﴿٤٩﴾

(49) او دا چې ته د دوی په مينځ کې فيصله کوه په هغه څه سره چې الله نازل کړي دي او ته د دوی د خواهشاتو پیروي مه کوه او ته له دوی نه محتاط اوسه (هسې نه) چې دوی تا له ځينو (حکمونو) نه واړوي، چې تا ته الله نازل کړي دي، نو که چېرې دوی وګرځېدل، نو پوه شه چې بېشکه همدا خبره ده چې الله غواړي چې دوی ته د دوی د ځينو ګناهونو په وجه سزا ورسوي او بېشکه په خلقو کې ډېر يقينًا فاسقان دي

أَفَحُكۡمَ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِ يَبۡغُونَۚ وَمَنۡ

(50) ايا نو دوی د جاهليت فيصله غواړي؟ او

أَحۡسَنُ مِنَ ٱللَّهِ حُكۡمٗا لِّقَوۡمٖ يُوقِنُونَ ۝٥٠

په فيصله کولو کې له الله نه (بل) څوک ډېر ښه دی، د هغه قوم لپاره چې يقين کوي!

۞يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ ٱلۡيَهُودَ وَٱلنَّصَٰرَىٰٓ أَوۡلِيَآءَۘ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمۡ فَإِنَّهُۥ مِنۡهُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ۝٥١

(51) ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو يهوديان او نصرانيان دوستان مه جوړوئ، د دوی ځينې د ځينو نورو دوستان دي او په تاسو کې چې چا له دوی سره دوستي وکړه، نو يقيناً هغه له همدوی څخه دی، بېشکه الله ظالم قوم ته نېغه لار نه ښيي

فَتَرَى ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ يُسَٰرِعُونَ فِيهِمۡ يَقُولُونَ نَخۡشَىٰٓ أَن تُصِيبَنَا دَآئِرَةٞۚ فَعَسَى ٱللَّهُ أَن يَأۡتِيَ بِٱلۡفَتۡحِ أَوۡ أَمۡرٖ مِّنۡ عِندِهِۦ فَيُصۡبِحُواْ عَلَىٰ مَآ أَسَرُّواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ نَٰدِمِينَ ۝٥٢

(52) نو ته به هغه کسان وينې چې د هغوی په زړونو کې بيماري ده چې په (مينه د) دوی کې منډې وهي او دوی وايي: مونږ وېرېږو (له دې نه) چې مونږ ته څه مصيبت راورسي، نو قريب ده چې الله فتح راولي، يا له خپلې خوا نه کوم بل حکم (راولي) نو دوی به پښېمانه شي پر هغو خبرو چې دوی په خپلو نفسونو کې پټې ساتلې وې

وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَهَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ أَقۡسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهۡدَ أَيۡمَٰنِهِمۡ إِنَّهُمۡ لَمَعَكُمۡۚ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ

(53) او مومنان به (د حيرانتيا په سبب) وايي: ايا دا هغه خلق دي چې پر الله يې ډېر پاخه قسمونه خوړلي وو چې بېشکه دوی خامخا له تاسو سره دي، د دوی عملونه ضايع

فَأَصۡبَحُواْ خَٰسِرِينَ ﴿٥٣﴾

شوي دي، نو دوی تاوانیان شول

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَن يَرۡتَدَّ مِنكُمۡ عَن دِينِهِۦ فَسَوۡفَ يَأۡتِي ٱللَّهُ بِقَوۡمٖ يُحِبُّهُمۡ وَيُحِبُّونَهُۥٓ أَذِلَّةٍ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ يُجَٰهِدُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوۡمَةَ لَآئِمٖۚ ذَٰلِكَ فَضۡلُ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٥٤﴾

(54) ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! په تاسو کې چې څوك له خپل دین نه مرتد شو، نو ژر ده چې الله به داسې خلق راولي چې هغه (الله) به له دوی سره مینه کوي او دوی به له هغه (الله) سره مینه کوي، په مومنانو به ډېر نرمي کوونکي وي او په کافرانو باندې به ډېر سخت وي، د الله په لار کې به جهاد کوي او د هېڅ ملامت کوونکي له ملامتیا نه به نه وېرېږي، دا د الله فضل دی، چا ته چې وغواړي هغه ته یې ورکوي او الله ډېر د فراخۍ والا، ښه پوه دی

إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُمۡ رَٰكِعُونَ ﴿٥٥﴾

(55) ستاسو دوست یواځې (او یواځې) الله او د هغهٔ رسول دی او هغه کسان دي چې ایمان یې راوړی دی، (یعنې) هغه کسان چې لمونځ قایموي او زکات ورکوي او دوی رکوع کوونکي دي

وَمَن يَتَوَلَّ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فَإِنَّ حِزۡبَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلۡغَٰلِبُونَ ﴿٥٦﴾

(56) او څوك چې له الله او د هغه له رسول او مومنانو سره دوستي وکړي، نو یقینًا هم د الله ډله غالبه کېدونکې ده

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِـذُواْ
ٱلَّذِيـنَ ٱتَّخَـذُواْ دِيـنَـكُمۡ هُـزُوٗا
وَلَعِبٗا مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُـواْ ٱلۡكِتَـٰـبَ
مِـن قَـبۡلِكُمۡ وَٱلۡكُفَّـارَ أَوۡلِيَـآءَۚ
وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ٥٧

(57) اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى! تاسو هغه كسان دوستان مه جوړوئ چې ستاسو دين يې ټوقې او لوبې ګرځولى دى، له هغو كسانو نه چې له تاسو نه مخكې ورته كتاب وركړى شوى و او مه كفار (دوستان جوړوئ) او له الله نه ووېرېږئ كه چېرې تاسو مومنان يئ

وَإِذَا نَادَيۡتُمۡ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ ٱتَّخَـذُوهَا
هُزُوٗا وَلَعِبٗاۚ ذَٰلِكَ بِـأَنَّهُمۡ قَـوۡمٞ لَّا
يَعۡقِلُونَ ٥٨

(58) او كله چې تاسو لمانځه ته اواز كوئ (،نو) دوى هغه ټوقې او لوبې وګرځوي، دا ځكه چې بېشكه دوى داسې خلق دي چې هېڅ عقل نه لري

قُلۡ يَـٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَـٰبِ هَلۡ تَنقِمُونَ
مِنَّآ إِلَّآ أَنۡ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنـزِلَ
إِلَيۡنَا وَمَـآ أُنـزِلَ مِـن قَبۡـلُ وَأَنَّ
أَكۡثَرَكُمۡ فَـٰسِقُونَ ٥٩

(59) (اى نبي!) ته ورته ووايه: اى اهل كتابو! تاسو مونږه (په هېڅ وجه) د بدى (او) عيب والا نه ګڼئ، مګر په دې چې مونږ پر الله ايمان راوړى دى او پر هغه څه چې مونږ ته نازل كړى شوي دي او پر هغه څه چې له ده نه مخكې نازل كړى شوي دي او دا ځكه چې يقينًا ستاسو اكثره (خلق) فاسقان (له حده وتونكي) دي

قُلۡ هَلۡ أُنَبِّئُكُم بِشَرّٖ مِّن ذَٰلِـكَ
مَثُوبَةً عِندَ ٱللَّهِۚ مَـن لَّعَنَـهُ ٱللَّهُ

(60) ته ووايه! ايا زه تاسو ته د الله په نيز د جزا په لحاظ سره له دوى نه د بدترو خلقو

وَغَضِـبَ عَلَيۡـهِ وَجَعَـلَ مِـنۡهُمُ
ٱلۡقِــرَدَةَ وَٱلۡخَنَــازِيرَ وَعَبَــدَ
ٱلطَّٰغُـوتَۚ أُوْلَٰٓئِـكَ شَرّٞ مَّكَانٗـا
وَأَضَلُّ عَن سَوَآءِ ٱلسَّبِيلِ ٦٠

خبر در نه کړم؟ (دا) هغه څوك دي چې الله پر دوی لعنت کړی دی او پر دوی یې غضب کړی دی او له دوی نه یې بیزوګان او خنزیران جوړ کړي دي او دوی (هغه څوك دي چې یې) د طاغوت عبادت کړی دی، دغه کسان د ځای په لحاظ سره ډېر بدتره دي او له حقې لارې نه ډېر ګمراه دي

وَإِذَا جَآءُوكُمۡ قَـالُوٓاْ ءَامَنَّـا وَقَـد
دَّخَلُواْ بِٱلۡكُفۡرِ وَهُمۡ قَدۡ خَرَجُواْ
بِـهِۦۚ وَٱللَّهُ أَعۡلَـمُ بِمَـا كَانُـواْ
يَكۡتُمُونَ ٦١

(61) او کله چې دوی تاسو ته راشي (،نو) دوی وايي: مونږ ایمان راوړی دی، حال دا چې یقینًا دوی له کفر سره داخل شوي وو او یقینًا له هغه (کفر) سره ووتل او الله ډېر ښه پوه دی په هغو خبرو چې دوی پټولې

وَتَرَىٰ كَثِيرٗا مِّنۡهُمۡ يُسَٰرِعُونَ فِي
ٱلۡإِثۡـمِ وَٱلۡعُـدۡوَٰنِ وَأَكۡلِهِـمُ
ٱلسُّـحۡتَۚ لَبِئۡـسَ مَـا كَانُـواْ
يَعۡمَلُونَ ٦٢

(62) او ته به په دوی کې ډېر خلق وینې چې په ګناه او ظلم کې او په خپلې حرام خورۍ کې منډې وهي، خامخا بد دی هغه کار چې دوی کاوه

لَوۡلَا يَنۡهَىٰهُمُ ٱلرَّبَّٰنِيُّونَ وَٱلۡأَحۡبَارُ
عَـن قَـوۡلِهِمُ ٱلۡإِثۡـمَ وَأَكۡلِهِـمُ
ٱلسُّـحۡتَۚ لَبِئۡـسَ مَـا كَانُـواْ
يَصۡنَعُونَ ٦٣

(63) الهي خلق او عالمان دغو (یهودیانو) لره له خپلو د ګناه له ویناوو نه او له خپلې حرام خورۍ نه ولې نه منع کوي؟ خامخا بد دی هغه کار (د خاموشۍ) چې دوی کاوه

وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ يَدُ ٱللَّهِ مَغۡلُولَةٌۚ
غُلَّتۡ أَيۡدِيهِمۡ وَلُعِنُواْ بِمَا قَالُواْۘ
بَلۡ يَدَاهُ مَبۡسُوطَتَانِ يُنفِقُ كَيۡفَ
يَشَآءُۚ وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرٗا مِّنۡهُم مَّآ
أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ طُغۡيَٰنٗا
وَكُفۡرٗاۚ وَأَلۡقَيۡنَا بَيۡنَهُمُ ٱلۡعَدَٰوَةَ
وَٱلۡبَغۡضَآءَ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ كُلَّمَآ
أَوۡقَدُواْ نَارٗا لِّلۡحَرۡبِ أَطۡفَأَهَا ٱللَّهُۚ
وَيَسۡعَوۡنَ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَسَادٗاۚ وَٱللَّهُ
لَا يُحِبُّ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ٦٤

**(64)** وويل يهوديانو: د الله لاس تړل شوی دی، د دوی لاسونه دې وتړل شي او د دې وينا په سبب دې پر دوی لعنت وشي، بلکې د هغه دواړه لاسونه خلاص دي، څنګه چې وغواړي انفاق کوي او خامخا هغه (کتاب) به، چې تا ته ستا د رب له جانبه نازل کړی شوی دی؛ په دوی کې د ډېرو خلقو سرکشي او کفر خامخا ورزيات کړي او مونږه د دوی په مينځ کې د قيامت د ورځې پورې دښمني او بغض واچاوه، هر کله چې دوی د جنګ لپاره اور بلوي (،نو) الله هغه مړ کړي او دوی په ځمکه کې د وراني لپاره منډې وهي او الله وراني کوونکي نه خوښوي

وَلَوۡ أَنَّ أَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ ءَامَنُواْ
وَٱتَّقَوۡاْ لَكَفَّرۡنَا عَنۡهُمۡ سَيِّـَٔاتِهِمۡ
وَلَأَدۡخَلۡنَٰهُمۡ جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ٦٥

**(65)** او که يقينًا اهل کتابو ايمان راوړی وی او پرهېزګاره شوي وی (، نو) لازمًا به مونږه له دوی نه د دوی ګناهونه لرې کړي وی او خامخا به مونږه دوی د نعمتونو جنتونو ته داخل کړي وو

وَلَوۡ أَنَّهُمۡ أَقَامُواْ ٱلتَّوۡرَىٰةَ
وَٱلۡإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِم مِّن
رَّبِّهِمۡ لَأَكَلُواْ مِن فَوۡقِهِمۡ وَمِن

**(66)** او که يقينًا دوی (احکام د) تورات او انجيل قايم کړي وی او هغه چې دوی ته د دوی د رب له جانبه نازل کړی شوي دي (،نو)

تَحۡتِ أَرۡجُلِهِمۚ مِّنۡهُمۡ أُمَّةٞ مُّقۡتَصِدَةٞۖ وَكَثِيرٞ مِّنۡهُمۡ سَآءَ مَا يَعۡمَلُونَ ٦٦

دوی به خامخا خوراك كړی و د خپل له پاسه نه او د خپلو پښو له لاندې نه، په دوی كې یوه مینځلارې ډله ده او ډېر زیات په دوی كې (داسې) دي چې بد دي هغه چې دوی یې كوي

يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغۡ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَۖ وَإِن لَّمۡ تَفۡعَلۡ فَمَا بَلَّغۡتَ رِسَالَتَهُۥۚ وَٱللَّهُ يَعۡصِمُكَ مِنَ ٱلنَّاسِۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٦٧

(67) ای رسوله! ته ورسوه هغه څه چې تا ته د خپل رب له جانبه نازل كړی شوي دي او كه ته (دا كار) ونه كړې، نو تا د هغه (الله) پېغام نه دی رسولی او الله تا له خلقو نه بچ ساتي، بېشكه الله كافر قوم ته نېغه لار نه ښيي

قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لَسۡتُمۡ عَلَىٰ شَيۡءٍ حَتَّىٰ تُقِيمُواْ ٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُم مِّن رَّبِّكُمۡۗ وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرٗا مِّنۡهُم مَّآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ طُغۡيَٰنٗا وَكُفۡرٗاۖ فَلَا تَأۡسَ عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٦٨

(68) ته (ورته) ووایه: ای اهل كتابو! تاسو (د حق) په هېڅ شي باندې نه یئ تر دې چې تاسو تورات او انجیل قایم كړئ او هغه (تعلیمات) چې تاسو ته د خپل رب له جانبه نازل كړی شوي دي، خامخا به هغه (كتاب)، چې تا ته د خپل رب له جانبه نازل كړی شوی دی؛ په دوی كې د ډېرو خلقو سركشۍ او كفر یقینًا ورزیات كړي، نو ته په كافر قوم باندې مه خفه كېږه

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَٱلَّذِينَ هَادُواْ

(69) بېشكه هغه كسان چې ایمان یې راوړی

وَٱلصَّٰبِـُٔونَ وَٱلنَّصَٰرَىٰ مَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا فَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ٦٩

دی او هغه کسان چې یهودیان او صابیان او نصرانیان دي، هر چا چې پر الله او د اخرت پر ورځ ایمان راوړ او نېك عمل يې وکړ، نو په دوی باندې نه څه وېره شته او نه به دوی غمژن کېږي

لَقَدۡ أَخَذۡنَا مِيثَٰقَ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ وَأَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡهِمۡ رُسُلٗاۖ كُلَّمَا جَآءَهُمۡ رَسُولُۢ بِمَا لَا تَهۡوَىٰٓ أَنفُسُهُمۡ فَرِيقٗا كَذَّبُواْ وَفَرِيقٗا يَقۡتُلُونَ ٧٠

(70) خامخا یقینًا مونږ له بني اسرائیلو نه پخه وعده اخیستې وه او دوی ته مونږ ډېر رسولان لېږلي وو، هر کله چې به هم دوی ته کوم رسول هغه (حکمونه) راوړل چې د دوی نفسونو به نه خوښول (،نو) یوه ډله دوی دروغژنه وګڼله او بله ډله دوی وژله

وَحَسِبُوٓاْ أَلَّا تَكُونَ فِتۡنَةٞ فَعَمُواْ وَصَمُّواْ ثُمَّ تَابَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ ثُمَّ عَمُواْ وَصَمُّواْ كَثِيرٞ مِّنۡهُمۡۚ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِمَا يَعۡمَلُونَ ٧١

(71) او دوی دا ګڼله چې هېڅ ازمېښت به نه کېږي، نو ړانده شول او کاڼه شول، بیا الله دوی ته (په رحمت سره) توجه وکړه، بیا په دوی کې ډېر خلق ړانده شول او کاڼه شول او الله ښه لیدونکی دی هغه څه لره چې دوی يې کوي

لَقَدۡ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ مَرۡيَمَۖ وَقَالَ ٱلۡمَسِيحُ يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمۡۖ إِنَّهُۥ مَن يُشۡرِكۡ

(72) خامخا یقینًا کافر شول هغه خلق چې وېي ویل:بېشکه الله همدا د مریمې زوی مسیح دی، حال دا چې مسیح، بني اسرائیلو ته وویل: تاسو د الله عبادت کوئ، چې زما رب

بِٱللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِ ٱلْجَنَّةَ
وَمَأْوَىٰهُ ٱلنَّارُ ۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنْ
أَنصَارٍ ﴿٧٢﴾

دی او ستاسو رب دی، ببشکه خبره دا ده چې څوك له الله سره شريك نيسي، نو يقينًا په هغه باندې الله جنت حرام کړی دی او د هغه استوګنه اور دی او د ظالمانو لپاره هيڅوك مدد کوونکي نشته

لَّقَدْ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ
ثَالِثُ ثَلَٰثَةٍ ۘ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّآ إِلَٰهٌ
وَٰحِدٌ ۚ وَإِن لَّمْ يَنتَهُواْ عَمَّا
يَقُولُونَ لَيَمَسَّنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ
مِنْهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٣﴾

(73) خامخا يقينًا کافر شول هغه خلق چې ويې ويل:ببشکه الله د درېوو دريم دی، حال دا چې هېڅ لايق د عبادت نشته مګر يو معبود، او که چېرې دوی له هغو خبرو نه منع نشي چې دوی يې کوي، نو خامخا لازمًا به په دوی کې کافر شويو خلقو ته ډېر دردوونکی عذاب ورسېږي

أَفَلَا يَتُوبُونَ إِلَى ٱللَّهِ
وَيَسْتَغْفِرُونَهُۥ ۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ
رَّحِيمٌ ﴿٧٤﴾

(74) ايا ولې دوی الله ته توبه نه وباسي او له هغه نه بخښنه نه غواړي؟! حال دا چې الله ډېر بخښونکی، بې حده مهربان دی

مَّا ٱلْمَسِيحُ ٱبْنُ مَرْيَمَ إِلَّا رَسُولٌ
قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ ٱلرُّسُلُ وَأُمُّهُۥ
صِدِّيقَةٌ ۖ كَانَا يَأْكُلَانِ ٱلطَّعَامَ ۗ
ٱنظُرْ كَيْفَ نُبَيِّنُ لَهُمُ ٱلْءَايَٰتِ ثُمَّ
ٱنظُرْ أَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿٧٥﴾

(75) نه دی د مريمې زوی مسيح مګر يو رسول دی، يقينًا له ده نه مخکې رسولان تېر شوي دي او د ده مور صِديقه (ډېره زياته رښتينې) وه، دې دواړو به طعام خوړلو، ته وګوره مونږه څنګه دوی ته ايتونه بيانوو، بيا ته وګوره دوی کوم طرف اړولی شي

قُلۡ أَتَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَمۡلِكُ لَكُمۡ ضَرّٗا وَلَا نَفۡعٗاۚ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ٧٦

(76) ته ووایه: ایا تاسو له الله نه غیر د هغه شي عبادت کوئ چې تاسو لپاره نه د نقصان اختیار لري او نه د نفع او همدا الله ښه اورېدونکی، ښه پوه دی

قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لَا تَغۡلُواْ فِي دِينِكُمۡ غَيۡرَ ٱلۡحَقِّ وَلَا تَتَّبِعُوٓاْ أَهۡوَآءَ قَوۡمٖ قَدۡ ضَلُّواْ مِن قَبۡلُ وَأَضَلُّواْ كَثِيرٗا وَضَلُّواْ عَن سَوَآءِ ٱلسَّبِيلِ ٧٧

(77) ته (ورته) ووایه: ای اهلِ کتابو! تاسو په خپل دین کې ناحقه زیاتی مه کوئ او د هغه قوم د خواهشاتو پیروي مه کوئ چې له دې نه مخکې گمراه شوي دي او هغوی ډېر خلق گمراه کړي دي او له نېغې لارې نه بې لارې شوي دي

لُعِنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۢ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ عَلَىٰ لِسَانِ دَاوُۥدَ وَعِيسَى ٱبۡنِ مَرۡيَمَۚ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَواْ وَّكَانُواْ يَعۡتَدُونَ ٧٨

(78) په هغو کسانو باندې، چې په بني اسرائیلو کې کافر شوي دي، لعنت شوی دی د داود او د مریمې زوی عیسٰی په ژبه، ادا ځکه چې دوی نافرماني وکړه او دوی له حد نه تېرېدل

كَانُواْ لَا يَتَنَاهَوۡنَ عَن مُّنكَرٖ فَعَلُوهُۚ لَبِئۡسَ مَا كَانُواْ يَفۡعَلُونَ ٧٩

(79) دوی به له هغه ناروا کار نه یو بل نه منع کول چې دوی به هغه کاوه، خامخا بد دی هغه (کار) چې دوی به کاوه

تَرَىٰ كَثِيرٗا مِّنۡهُمۡ يَتَوَلَّوۡنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۚ لَبِئۡسَ مَا قَدَّمَتۡ لَهُمۡ

(80) ته به په دوی کې ډېر (داسې) وینې چې له هغو کسانو سره دوستي کوي چې

أَنفُسُهُمْ أَن سَخِطَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ
وَفِي ٱلْعَذَابِ هُمْ خَٰلِدُونَ ﴿٨٠﴾

کافر شوي دي، خامخا بد دی هغه شی چې د دوی لپاره د دوی نفسونو مخکې لېږلی دی، دا چې الله دوی ته په غصه شو او دوی به په عذاب کې همېشه وي

وَلَوْ كَانُواْ يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلنَّبِيِّ
وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِ مَا ٱتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَآءَ
وَلَٰكِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُمْ
فَٰسِقُونَ ﴿٨١﴾

(81) او که چېرې دوی پر الله او پر نبي او پر هغه څه چې ده ته نازل کړی شوي دي ایمان لرلی (،نو) دوی به هغه (کافران) دوستان نه وو جوړ کړي او لیکن په دوی کې ډېر خلق فاسقان دي

۞لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ ٱلنَّاسِ عَدَٰوَةً
لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱلْيَهُودَ وَٱلَّذِينَ
أَشْرَكُواْۖ وَلَتَجِدَنَّ أَقْرَبَهُم مَّوَدَّةً
لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّا
نَصَٰرَىٰۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّ مِنْهُمْ
قِسِّيسِينَ وَرُهْبَانًا وَأَنَّهُمْ لَا
يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٨٢﴾

(82) بې له شکه یقینًا چې ته به له مومنانو سره په دښمنۍ کې تر ټولو خلقو زیات سخت، یهودیان مومې او هغه کسان چې مشرکان دي او خامخا لازمًا به ته له مومنانو سره په دوستۍ کې تر ټولو خلقو زیات نژدې هغه کسان مومې چې ویلي دي: بیشکه مونږ نصرانیان یو، دا ځکه چې په دوی کې په رښتیا عبادت گذاره عالمان او راهبان (زاهدان) دي او دا ځکه چې واقعاً دوی تکبر نه کوي

وَإِذَا سَمِعُواْ مَآ أُنزِلَ إِلَى ٱلرَّسُولِ
تَرَىٰٓ أَعْيُنَهُمْ تَفِيضُ مِنَ ٱلدَّمْعِ

(83) او کله چې دوی هغه (قرآن) واوري چې رسول ته نازل کړی شوی دی (، نو) ته به د

| | |
|---|---|
| مِمَّا عَرَفُواْ مِنَ ٱلۡحَقِّۖ يَقُولُونَ رَبَّنَآ ءَامَنَّا فَٱكۡتُبۡنَا مَعَ ٱلشَّٰهِدِينَ ٨٣ | دوی سترګې وینې چې اوښکې به ترې بهېږي، په سبب د هغه حق چې دوی وپېژنده، دوی وايي: ای زمونږه ربه! مونږ ايمان راوړی دی، نو ته مونږ له ګواهي کوونکو سره وليکه |
| وَمَا لَنَا لَا نُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَمَا جَآءَنَا مِنَ ٱلۡحَقِّ وَنَطۡمَعُ أَن يُدۡخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلصَّٰلِحِينَ ٨٤ | (84) او مونږ لره څه دي چې پر الله به ايمان نه راوړو او پر هغه حق چې مونږ ته راغلی دی، حال دا چې مونږ د دې طمع لرو چې زمونږ رب به مونږ د نېکانو خلقو په ډله کې داخل کړي |
| فَأَثَٰبَهُمُ ٱللَّهُ بِمَا قَالُواْ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ وَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٨٥ | (85) نو الله دوی ته د دوی د وينا په بدل کې داسې جنتونه ورکړل چې د هغو له لاندې وَلې بهېږي، چې دوی به په هغو کې همېشه وي او دا د نېکي کوونکو بدله ده |
| وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَحِيمِ ٨٦ | (86) او هغه کسان چې کافر شوي دي او زمونږ ايتونه يې دروغ ګڼلي دي، دغه کسان د دوزخ ملګري (دوزخيان) دي |
| يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُحَرِّمُواْ طَيِّبَٰتِ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكُمۡ وَلَا تَعۡتَدُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ | (87) ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو هغه پاکيزه څيزونه مه حراموئ چې ستاسو لپاره الله حلال کړي دي او له حد نه مه تېرېږئ، بېشکه الله له حد نه تېرېدونکي نه |

ٱلۡمُعۡتَدِينَ ٨٧

خوښوي

وَكُلُواْ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ حَلَٰلٗا طَيِّبٗاۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِيٓ أَنتُم بِهِۦ مُؤۡمِنُونَ ٨٨

(88) او تاسو له هغه (رزق) نه، چې الله تاسو ته درکړی دی؛ حلال پاکیزه خوریځ او له هغه الله نه ووېرېږئ چې تاسو پر هغه ایمان لرونکي یئ

لَا يُؤَاخِذُكُمُ ٱللَّهُ بِٱللَّغۡوِ فِيٓ أَيۡمَٰنِكُمۡ وَلَٰكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا عَقَّدتُّمُ ٱلۡأَيۡمَٰنَۖ فَكَفَّٰرَتُهُۥٓ إِطۡعَامُ عَشَرَةِ مَسَٰكِينَ مِنۡ أَوۡسَطِ مَا تُطۡعِمُونَ أَهۡلِيكُمۡ أَوۡ كِسۡوَتُهُمۡ أَوۡ تَحۡرِيرُ رَقَبَةٖۖ فَمَن لَّمۡ يَجِدۡ فَصِيَامُ ثَلَٰثَةِ أَيَّامٖۚ ذَٰلِكَ كَفَّٰرَةُ أَيۡمَٰنِكُمۡ إِذَا حَلَفۡتُمۡۚ وَٱحۡفَظُوٓاْ أَيۡمَٰنَكُمۡۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ٨٩

(89) الله تاسو، ستاسو په قسمونو کې په لَغْو (مُهمَل قسم) سره نه نیسي، او لېکن تاسو پر هغو قسمونو نیسي چې تاسو په پخې ارادې سره خوړلي وي، نو د دغه (قسم) کفاره لسو مسکینانو ته خوراك ورکول دي له هغه درمیانه (خوراك) نه چې تاسو يې پر خپلو کورنیو خوریځ، یا د هغو (لسو مسکینانو) جامه ده، یا د یو څټ (غلام، یا وینځې) ازادول دي، نو چا چې (دغه) ونه موندل، نو (د هغه پر ذمه) دري ورځې روژې دي، دا ستاسو د قسمونو کفاره ده، کله چې تاسو قسم وخوریځ او تاسو د خپلو قسمونو حفاظت کوئ، همدارنګه الله تاسو ته خپل ایتونه بیانوي، د دې لپاره چې تاسو شکر وباسئ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡخَمۡرُ وَٱلۡمَيۡسِرُ وَٱلۡأَنصَابُ وَٱلۡأَزۡلَٰمُ

(90) ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی! بېشکه همدا خبره ده چې شراب او

رِجۡسٞ مِّنۡ عَمَلِ ٱلشَّيۡطَٰنِ فَٱجۡتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ٩٠

جواري او بتان او د فال غشي پليت دي، د شيطان له عمله دي، نو تاسو له دې نه ځان وساتئ، د دې لپاره چې تاسو کامياب شئ

إِنَّمَا يُرِيدُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَن يُوقِعَ بَيۡنَكُمُ ٱلۡعَدَٰوَةَ وَٱلۡبَغۡضَآءَ فِي ٱلۡخَمۡرِ وَٱلۡمَيۡسِرِ وَيَصُدَّكُمۡ عَن ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَعَنِ ٱلصَّلَوٰةِۖ فَهَلۡ أَنتُم مُّنتَهُونَ ٩١

(91) يقينًا همدا خبره ده چې شيطان غواړي چې ستاسو په مينځ کې د شرابو او جوارۍ په ذريعې سره دښمني او بغض واچوي او تاسو د الله له ذکر نه او له لمانځه نه بند کړي، نو ايا تاسو (له شرابو او جوارۍ نه) منع کېدونکي يئ؟

وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَٱحۡذَرُواْۚ فَإِن تَوَلَّيۡتُمۡ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَا عَلَىٰ رَسُولِنَا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ٩٢

(92) او تاسو د الله اطاعت کوئ او د (هغه د) رسول اطاعت کوئ او ځان بچ کړئ، نو که چېرې تاسو وګرځېدلئ، نو پوه شئ چې يقينًا زمونږ د رسُول پر ذمه خو بس ښکاره رسَول (تبليغ کول) دي

لَيۡسَ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جُنَاحٞ فِيمَا طَعِمُوٓاْ إِذَا مَا ٱتَّقَواْ وَّءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ثُمَّ ٱتَّقَواْ وَّءَامَنُواْ ثُمَّ ٱتَّقَواْ وَّأَحۡسَنُواْۚ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٩٣

(93) هېڅ ګناه نشته په هغو کسانو باندې چې ايمان يې راوړى دى او نېك عملونه يې کړي دي، په هغه (شرابو) کې چې هغوى (له دې حکم نه مخکې) خوړلي (څښلي) دي، کله چې هغوى پرهېزګاره شوي وو او ايمان يې راوړى و او نېك عملونه يې کړي وو، بيا پرهېزګاره شوي وو او ايمان يې راوړى و، بيا

پرهېزګاره شوي وو او نېکي يې کړې وه او الله نېکي کوونکي خوښوي

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَيَبۡلُوَنَّكُمُ ٱللَّهُ بِشَيۡءٖ مِّنَ ٱلصَّيۡدِ تَنَالُهُۥٓ أَيۡدِيكُمۡ وَرِمَاحُكُمۡ لِيَعۡلَمَ ٱللَّهُ مَن يَخَافُهُۥ بِٱلۡغَيۡبِۚ فَمَنِ ٱعۡتَدَىٰ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَلَهُۥ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٩٤﴾

(94) اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى! الله به خامخا لازمًا تاسو په يو شي سره ازمايي چې ښکار به وي، چې ستاسو لاسونه او ستاسو نېزې به هغه ته رسېږي، د دې لپاره چې الله معلوم (ښکاره) کړي هغه چا لره چې له هغه نه په ناليدلو وېرېږي، نو چا چې له دې نه بعد زياتى وكړ، نو د هغه لپاره ډېر دردوونكى عذاب دى

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَقۡتُلُواْ ٱلصَّيۡدَ وَأَنتُمۡ حُرُمٞۚ وَمَن قَتَلَهُۥ مِنكُم مُّتَعَمِّدٗا فَجَزَآءٞ مِّثۡلُ مَا قَتَلَ مِنَ ٱلنَّعَمِ يَحۡكُمُ بِهِۦ ذَوَا عَدۡلٖ مِّنكُمۡ هَدۡيَۢا بَٰلِغَ ٱلۡكَعۡبَةِ أَوۡ كَفَّـٰرَةٞ طَعَامُ مَسَٰكِينَ أَوۡ عَدۡلُ ذَٰلِكَ صِيَامٗا لِّيَذُوقَ وَبَالَ أَمۡرِهِۦۗ عَفَا ٱللَّهُ عَمَّا سَلَفَۚ وَمَنۡ عَادَ فَيَنتَقِمُ ٱللَّهُ مِنۡهُۚ وَٱللَّهُ عَزِيزٞ ذُو ٱنتِقَامٍ ﴿٩٥﴾

(95) اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى! تاسو ښکار مه وژنئ (ښکار مه کوئ)، په دې حال کې چې تاسو په احرام کې يئ، او په تاسو کې چې چا هغه قصدًا او عَمْدًا قتل کړ، نو (پر هغه) جزا (لازمه) ده د هغه څاروي په مثل (څاروى) چې ده وژلى دى، په تاسو کې دوه عدل والا کسان به د دې فيصله کوي، چې کعبې ته رسېدونکې قرباني به وي، يا (د ده پر ذمه) کفاره ده چې مسکينانو ته خوراك ورکول دي، يا د دې په برابر روژې نيول دي، د دې لپاره چې د خپل کار سزا وڅکي، الله د هغه څه معافي کړې ده چې

مخکې تېر شوي دي او څوك چې بيا راوګرځي، نو الله به له هغه نه انتقام واخلي او الله ډېر غالب دی، انتقام والا دی

أُحِلَّ لَكُمۡ صَيۡدُ ٱلۡبَحۡرِ وَطَعَامُهُۥ مَتَٰعٗا لَّكُمۡ وَلِلسَّيَّارَةِۖ وَحُرِّمَ عَلَيۡكُمۡ صَيۡدُ ٱلۡبَرِّ مَا دُمۡتُمۡ حُرُمٗاۗ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِيٓ إِلَيۡهِ تُحۡشَرُونَ ﴿٩٦﴾

(96) ستاسو لپاره د سمندر ښکار او د هغه طعام حلال کړی شوی دی، ستاسو او د (نورو) مسافرو د فايدې لپاره، او پر تاسو باندې د وچې ښکار حرام کړی شوی دی، څو پورې چې تاسو په احرام کې يئ او تاسو له هغه الله نه ووېرېږئ چې تاسو به خاص هغه ته ورجمع کولی شئ

۞جَعَلَ ٱللَّهُ ٱلۡكَعۡبَةَ ٱلۡبَيۡتَ ٱلۡحَرَامَ قِيَٰمٗا لِّلنَّاسِ وَٱلشَّهۡرَ ٱلۡحَرَامَ وَٱلۡهَدۡيَ وَٱلۡقَلَٰٓئِدَۚ ذَٰلِكَ لِتَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَأَنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٌ ﴿٩٧﴾

(97) کعبه، چې د عزت کور دی، الله د خلقو د قيام سبب ګرځولې ده او د عزت مياشت او د حرم قرباني او امېل والا خاروي، دا د دې لپاره چې تاسو پوه شئ چې يقينًا الله پوهېږي پر هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او پر (هر) هغه څه چې په ځمکه کې دي او دا چې يقينًا الله پر هر شي ښه پوه دی

ٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ وَأَنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٩٨﴾

(98) تاسو پوه شئ چې بېشکه الله سخت عذاب والا دی او دا چې بېشکه الله ډېر بخښونکی، بې حده مهربان دی

مَّا عَلَى ٱلرَّسُولِ إِلَّا ٱلْبَلَٰغُۗ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا تَكْتُمُونَ ﴿٩٩﴾

(99) د رسُول په ذمه نشته مگر يواځې (د حق) رسَول، او الله پوهېږي پر هغه څه چې تاسو يې ښکاره کوئ او پر هغه څه چې تاسو يې پټوئ

قُل لَّا يَسْتَوِى ٱلْخَبِيثُ وَٱلطَّيِّبُ وَلَوْ أَعْجَبَكَ كَثْرَةُ ٱلْخَبِيثِۚ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ يَٰٓأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٠٠﴾

(100) ته ووايه: ناپاك او پاك سره برابر نه دي اگر كه تا د ناپاكو ډېروالى په تعجب كې واچوي، نو اى د خالص عقل خاوندانو! تاسو له الله نه ووېرېږئ، د دې لپاره چې تاسو كامياب شئ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَسْـَٔلُوا۟ عَنْ أَشْيَآءَ إِن تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ وَإِن تَسْـَٔلُوا۟ عَنْهَا حِينَ يُنَزَّلُ ٱلْقُرْءَانُ تُبْدَ لَكُمْ عَفَا ٱللَّهُ عَنْهَاۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿١٠١﴾

(101) اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى! تاسو د داسې څيزونو په باره كې تپوس مه كوئ چې كه تاسو ته ظاهر كړى شي (،نو) تاسو به خفه كړي، او كه چېرې تاسو په هغه وخت كې تپوس وكړئ كله چې قرآن نازلولى شي (،نو) تاسو ته به ظاهر كړى شي، الله تاسو ته (د تېرو سوالونو) معافي كړې ده او الله ډېر بخښونكى، ډېر تحمل والا دى

قَدْ سَأَلَهَا قَوْمٌ مِّن قَبْلِكُمْ ثُمَّ أَصْبَحُوا۟ بِهَا كَٰفِرِينَ ﴿١٠٢﴾

(102) يقينًا له تاسو نه مخكې يو قوم دغه غوښتنې كړې وې (لكه نصاراوو دسترخوان او ثموديانو اوښه غوښتې وه)، بيا دوى په هغو (يا په سبب د هغو سره) كافر شول

مَـا جَعَـلَ ٱللَّهُ مِـنۢ بَحِـيرَةٖ وَلَا سَـآئِبَةٖ وَلَا وَصِـيلَةٖ وَلَا حَـامٖ وَلَٰكِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يَفۡـتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَۖ وَأَكۡـثَرُهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ ١٠٣

(103) الله نه ده مقرر کړي )د شرعي حکم په طور) هېڅ بَحيره او نه سايبه او نه وصيله او نه حام، او لېکن هغه کسان چې کافر شوي دي دوی په الله باندې دروغ تپي او د دوی اکثره نه پوهېږي

وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ مَآ أَنـزَلَ ٱللَّهُ وَإِلَى ٱلرَّسُولِ قَالُواْ حَسۡبُنَا مَا وَجَدۡنَا عَلَيۡـهِ ءَابَآءَنَـآۚ أَوَلَـوۡ كَانَ ءَابَـآؤُهُمۡ لَا يَعۡلَمُـونَ شَيۡـٔٗا وَلَا يَهۡتَدُونَ ١٠٤

(104) او کله چې دوی ته ووېل شي چې راشئ هغه شي ته چې الله نازل کړی دی او رسول ته (راشئ)، دوی وايي: مونږ ته هغه (لار) کافي ده چې په هغې باندې مونږ خپل پلرونه موندلي دي، ايا اگر که د دوی پلرونه داسې وو چې نه پر کوم شي پوهېدل او نه هدايت موندونکي وو

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِيـنَ ءَامَنُـواْ عَلَـيۡكُمۡ أَنفُسَكُمۡۖ لَا يَضُرُّكُم مَّن ضَـلَّ إِذَا ٱهۡتَدَيۡتُمۡۚ إِلَى ٱللَّهِ مَـرۡجِعُكُمۡ جَمِيعٗـا فَيُنَبِّـئُكُم بِمَـا كُنـتُمۡ تَعۡمَلُونَ ١٠٥

(105) ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! پر تاسو د خپل ځان بچ کول لازم دي، تاسو ته هغه څوک ضرر نشي دررسولی چې گمراه شوي دي، کله چې تاسو (پخپله) پر نېغه لار يئ، خاص الله ته ستاسو د ټولو واپس ورتلل دي، نو هغه به تاسو پر هغو عملونو خبر کړي چې تاسو به کول

يَـٰٓأَيُّهَـا ٱلَّذِيـنَ ءَامَنُـواْ شَـهَٰدَةُ

(106) ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی

بَيۡـنِكُمۡ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ
ٱلۡمَوۡتُ حِينَ ٱلۡوَصِيَّةِ ٱثۡنَانِ ذَوَا
عَدۡلٍ مِّنكُمۡ أَوۡ ءَاخَرَانِ مِنۡ
غَيۡرِكُمۡ إِنۡ أَنتُمۡ ضَرَبۡتُمۡ فِي
ٱلۡأَرۡضِ فَأَصَٰبَتۡكُم مُّصِيبَةُ
ٱلۡمَوۡتِۚ تَحۡبِسُونَهُمَا مِنۢ بَعۡدِ
ٱلصَّلَوٰةِ فَيُقۡسِمَانِ بِٱللَّهِ إِنِ
ٱرۡتَبۡتُمۡ لَا نَشۡتَرِي بِهِۦ ثَمَنٗا وَلَوۡ
كَانَ ذَا قُرۡبَىٰ وَلَا نَكۡتُمُ شَهَٰدَةَ
ٱللَّهِ إِنَّآ إِذٗا لَّمِنَ ٱلۡأٓثِمِينَ ١٠٦

دی! کله چې په تاسو کې یو تن ته مرگ راشي، (نو) د وصیت په وخت کې ستاسو په مینځ کې له خپلو (مومنانو) څخه د دوه عادلو کسانو گواه کول (لازم) دي، یا ستاسو له غیرو نه دوه نور کسان (گواهان پکار دي) که چېرې تاسو په ځمکه کې سفر کوئ، بیا تاسو ته د مرگ مصیبت ورسیږي، تاسو به دغه دواړه له لمانځه نه پس ایساروئ، نو هغه دواړه به پر الله قسم وخوري، که تاسو شك وکړئ، (او هغه دواړه به وايي:) مونږ په دې (قسم) سره څه قیمت نه اخلو، اگر که هغه خپلوان وي او مونږ د الله گواهي نه پټوو، (که مونږ قیمت واخیسته، یا مو گواهي پټه کړه) بېشکه مونږ به په دغه وخت کې خامخا له گناه کوونکو څخه یو

فَإِنۡ عُثِرَ عَلَىٰٓ أَنَّهُمَا ٱسۡتَحَقَّآ إِثۡمٗا
فَـَٔاخَرَانِ يَقُومَانِ مَقَامَهُمَا مِنَ
ٱلَّذِينَ ٱسۡتَحَقَّ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَوۡلَيَٰنِ
فَيُقۡسِمَانِ بِٱللَّهِ لَشَهَٰدَتُنَآ أَحَقُّ
مِن شَهَٰدَتِهِمَا وَمَا ٱعۡتَدَيۡنَآ إِنَّآ
إِذٗا لَّمِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٠٧

(107) نو که اطلاع حاصله شوه چې بېشکه هغه دواړه (د صحیح گواهۍ د پټولو په وجه) د گناه مستحق شوي دي، نو دوه نور (گواهان) به د هغو پر ځای ودرېږي چې پر هغوی (د ناسمې گواهۍ ورکولو په وجه) د حق دعوىٰ وشوه، چې دغه دواړه (مړي ته) ډېر قریب وي، نو دوی دواړه به په الله سره

قسم خوري، چې يقينًا د دوی گواهي د هغو دواړو له گواهۍ نه ښه حقه ده او مونږ زياتی نه دی کړی، (که مونږ وکړو) بېشکه مونږه به په دغه وخت کې خامخا له ظالمانو څخه يو

ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَن يَأۡتُواْ بِٱلشَّهَٰدَةِ عَلَىٰ وَجۡهِهَآ أَوۡ يَخَافُوٓاْ أَن تُرَدَّ أَيۡمَٰنُۢ بَعۡدَ أَيۡمَٰنِهِمۡۗ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱسۡمَعُواْۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ١٠٨

(108) دا (طريقه) ډېره نژدې ده دې ته چې دوی به گواهي په صحيح طريقې سره وکړي، يا به دوی ووېرېږي چې (د دوی) قسمونه به د هغو (نورو) له قسمونو نه پس رد کړی شي او تاسو له الله نه وېرېږئ او اَورئ، او الله فاسقو خلقو ته نېغه لار نه ښيي

۞يَوۡمَ يَجۡمَعُ ٱللَّهُ ٱلرُّسُلَ فَيَقُولُ مَاذَآ أُجِبۡتُمۡۖ قَالُواْ لَا عِلۡمَ لَنَآۖ إِنَّكَ أَنتَ عَلَّٰمُ ٱلۡغُيُوبِ ١٠٩

(109) هغه ورځ (ياده کړه) چې الله به رسولان راجمع کړي، نو (ورته) وايي به: تاسو ته څه جواب درکړی شوی و؟ هغوی به ووايي: مونږ ته هېڅ علم نشته، بېشکه هم ته پر غيبو ښه عالم يې

إِذۡ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَى ٱبۡنَ مَرۡيَمَ ٱذۡكُرۡ نِعۡمَتِي عَلَيۡكَ وَعَلَىٰ وَٰلِدَتِكَ إِذۡ أَيَّدتُّكَ بِرُوحِ ٱلۡقُدُسِ تُكَلِّمُ ٱلنَّاسَ فِي ٱلۡمَهۡدِ وَكَهۡلٗاۖ وَإِذۡ عَلَّمۡتُكَ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ

(110) کله چې الله به ووايي: ای عيسٰی د مريمې زويه! زما هغه نعمتونه ياد کړه چې په تا او ستا په مور باندې شوي دي، کله چې ته ما په پاك روح (جبريل) سره قوي کړې، تا به له خلقو سره په غېږ کې او په پاخه عمر کې خبرې کولې او کله چې ما تا ته کتاب او

وَٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَۖ وَإِذۡ تَخۡلُقُ مِنَ
ٱلطِّينِ كَهَيۡـَٔةِ ٱلطَّيۡرِ بِإِذۡنِي
فَتَنفُخُ فِيهَا فَتَكُونُ طَيۡرَۢا بِإِذۡنِيۖ
وَتُبۡرِئُ ٱلۡأَكۡمَهَ وَٱلۡأَبۡرَصَ بِإِذۡنِيۖ
وَإِذۡ تُخۡرِجُ ٱلۡمَوۡتَىٰ بِإِذۡنِيۖ وَإِذۡ
كَفَفۡتُ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ عَنكَ إِذۡ
جِئۡتَهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَقَالَ ٱلَّذِينَ
كَفَرُواْ مِنۡهُمۡ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا سِحۡرٞ
مُّبِينٞ ١١٠

حکمت او تورات او انجیل وښودل، او کله چې تا به زما په حکم سره له خټې نه د مرغۍ د شکل په شان شکل جوړاوه، بیا به تا په هغه کې پوکی وواهه، نو هغه به زما په حکم سره مرغۍ شوه او تا به زما په حکم سره مورزادي ړوند او برګي مرض والا روغاوه او کله چې تا زما په حکم سره مړي (له قبرونو نه ژوندي) راوښکل او کله چې ما له تا نه بني اسرائیل بند (ایسار) کړل، کله چې تا هغوی ته ښکاره دلیلونه راوړل، نو په هغوی کې کافر شویو خلقو وویل: نه دی دا مګر ښکاره جادو

وَإِذۡ أَوۡحَيۡتُ إِلَى ٱلۡحَوَارِيِّـۧنَ أَنۡ
ءَامِنُواْ بِي وَبِرَسُولِي قَالُوٓاْ ءَامَنَّا
وَٱشۡهَدۡ بِأَنَّنَا مُسۡلِمُونَ ١١١

(111) او کله چې مونږه حواریانو ته الهام وکړ چې پر ما او زما پر رسول ایمان راوړئ، هغوی وویل: مونږ ایمان راوړی دی او ته پر دې ګواه شه چې یقینًا مونږ مسلمانان یو

إِذۡ قَالَ ٱلۡحَوَارِيُّونَ يَٰعِيسَى ٱبۡنَ
مَرۡيَمَ هَلۡ يَسۡتَطِيعُ رَبُّكَ أَن
يُنَزِّلَ عَلَيۡنَا مَآئِدَةٗ مِّنَ ٱلسَّمَآءِۖ
قَالَ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ إِن كُنتُم
مُّؤۡمِنِينَ ١١٢

(112) کله چې حواریانو وویل: ای عیسٰی د مریمې زویه! ایا ستا رب د دې طاقت لري چې پر مونږ باندې له اسمانه دسترخوان نازل کړي؟ عیسٰی وویل: تاسو له الله نه ووېرېږئ که چېرې تاسو مومنان یئ

| | |
|---|---|
| قَـالُواْ نُرِيـدُ أَن نَّأۡكُـلَ مِنۡهَـا وَتَطۡمَئِنَّ قُلُوبُنَـا وَنَعۡلَـمَ أَن قَـدۡ صَدَقۡتَنَا وَنَكُـونَ عَلَيۡهَـا مِـنَ ٱلشَّـٰهِدِينَ ﴿١١٣﴾ | (113) هغوی وویل: مونږ غواړو چې له هغه نه خوراك وكړو او زمونږ زړونه مطمئن شي او پوه شو چې تا مونږ ته رښتيا ويلي دي او مونږ به په هغه باندې له گواهانو څخه شو |
| قَالَ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ ٱللَّهُمَّ رَبَّنَآ أَنزِلۡ عَلَيۡنَا مَآئِدَةً مِّنَ ٱلسَّـمَآءِ تَكُونُ لَنَا عِيدًا لِّأَوَّلِنَا وَءَاخِرِنَا وَءَايَةً مِّنكَۖ وَٱرۡزُقۡنَا وَأَنـتَ خَـيۡرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ﴿١١٤﴾ | (114) د مريمې زوی عيسٰی وويل: ای الله زمونږه ربه! ته پر مونږه له اسمانه دسترخوان نازل كړه چې زمونږ د ړومبنو او زمونږ د وروستنو لپاره اختر شي او ستا له جانبه يوه نښه او ته مونږ ته روزي راكړه او ته تر ټولو غوره رزق وركوونكی يې |
| قَـالَ ٱللَّهُ إِنِّي مُنَزِّلُهَـا عَلَـيۡكُمۡۖ فَمَن يَكۡفُرۡ بَعۡدُ مِـنكُمۡ فَـإِنِّيٓ أُعَذِّبُهُۥ عَذَابًا لَّآ أُعَذِّبُهُۥٓ أَحَـدًا مِّنَ ٱلۡعَـٰلَمِينَ ﴿١١٥﴾ | (115) الله وفرمايل: بېشكه زه پر تاسو باندې هغه نازلوونكی يم، بيا چې تاسو كې چا له دې نه بعد كفر وكړ، نو بېشكه زه به هغه ته عذاب وركوم، داسې عذاب، چې په مخلوقاتو كې هېڅ يو كس ته به هم هغه شان عذاب نه وركوم |
| وَإِذۡ قَالَ ٱللَّهُ يَـٰعِيسَى ٱبۡنَ مَـرۡيَمَ ءَأَنـتَ قُلۡـتَ لِلنَّـاسِ ٱتَّخِـذُونِي وَأُمِّيَ إِلَـٰهَيۡنِ مِـن دُونِ ٱللَّهِۖ قَـالَ سُبۡحَـٰنَكَ مَا يَكُونُ لِيٓ أَنۡ أَقُولَ | (116) او كله چې الله وفرمايل: ای عيسٰی د مريمې زويه! ايا تا خلقو ته ويلي وو چې له الله نه غير ما او زما مور دوه معبودان ونيسئ؟ عيسٰی وويل زه ستا پاكي بيانوم، زما لپاره |

مَا لَيۡسَ لِي بِحَقٍّۚ إِن كُنتُ قُلۡتُهُۥ فَقَدۡ عَلِمۡتَهُۥۚ تَعۡلَمُ مَا فِي نَفۡسِي وَلَآ أَعۡلَمُ مَا فِي نَفۡسِكَۚ إِنَّكَ أَنتَ عَلَّٰمُ ٱلۡغُيُوبِ ١١٦

جايز نه دي چې زه هغه خبره وکړم چې د هغې حق ما ته نشته، که چېرې ما دا خبره کړې وَی، نو يقيناً تا ته به معلومه وَی، ته عالم يې پر هر هغه څه چې زما په نفس کې دي او زه نه پوهېږم پر هغه څه چې ستا په نفس کې دي، بېشکه هم ته پر غيبو ښه عالم يې

مَا قُلۡتُ لَهُمۡ إِلَّا مَآ أَمَرۡتَنِي بِهِۦٓ أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمۡۚ وَكُنتُ عَلَيۡهِمۡ شَهِيدٗا مَّا دُمۡتُ فِيهِمۡۖ فَلَمَّا تَوَفَّيۡتَنِي كُنتَ أَنتَ ٱلرَّقِيبَ عَلَيۡهِمۡۚ وَأَنتَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ ١١٧

(117) ما دوی ته يواځې هغه خبره کړې ده چې تا ما ته د هغې حکم راکړی و، دا چې تاسو د الله عبادت کوئ، چې زما رب دی او ستاسو رب دی، او زه په دوی باندې ګواه وم تر څو پورې چې زه په دوی کې موجود وم، نو کله چې تا زه واخيستلم ()، نو) هم ته له هميشه پر دوی نګهبان وې او ته په هر شي باندې ګواه يې

إِن تُعَذِّبۡهُمۡ فَإِنَّهُمۡ عِبَادُكَۖ وَإِن تَغۡفِرۡ لَهُمۡ فَإِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ١١٨

(118) که چېرې ته دوی ته عذاب ورکوې، نو يقيناً دوی ستا بنده ګان دي او که چېرې ته دوی ته بخښنه کوې، نو بېشکه هم ته ډېر غالب، ښه حکمت والا يې

قَالَ ٱللَّهُ هَٰذَا يَوۡمُ يَنفَعُ ٱلصَّٰدِقِينَ صِدۡقُهُمۡۚ لَهُمۡ جَنَّٰتٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ

(119) الله وفرمايل: دا ورځ ده چې رښتينو ته به د هغوی رښتيا ويل فايده ورکوي، د دوی لپاره داسې جنتونه دي چې د هغو له لاندې

فِيهَآ أَبَدٗاۖ رَّضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ١١٩

ولې بهېږي، دوی به په هغو کې تل ترتله وي، الله له دوی نه راضي دی او دوی له هغه نه راضي دي، همدا ډېره لويه کاميابي ده

لِلَّهِ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا فِيهِنَّۚ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرُۢ ١٢٠

(120) خاص د الله لپاره ده بادشاهي د اسمانونو او د ځمکې او د هغه څه چې په دغو کې دي او هغه په هر شي باندې ښه قادر دی

## سُورَةُ الأَنۡعَامِ

## سورة انعام

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَجَعَلَ ٱلظُّلُمَٰتِ وَٱلنُّورَۖ ثُمَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِرَبِّهِمۡ يَعۡدِلُونَ ١

(1) ټول د کمال صفتونه خاص هغه الله لره دي چې اسمانونه او ځمکه يې پيدا کړي دي، او پيدا کړي يې دي تيارې او رڼا، بيا (هم) هغه خلق چې کافر دي، له خپل رب سره (نور څيزونه) برابروي

هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن طِينٖ ثُمَّ قَضَىٰٓ أَجَلٗاۖ وَأَجَلٞ مُّسَمًّى عِندَهُۥۖ ثُمَّ أَنتُمۡ تَمۡتَرُونَ ٢

(2) دی همغه ذات دی چې تاسو يې له خټې نه پيدا کړئ، بيا يې يو وخت مقرر کړ او مقرر وخت له هغه سره (ليك) دی، بيا (هم) تاسو شك کوئ

وَهُوَ ٱللَّهُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَفِي ٱلۡأَرۡضِ يَعۡلَمُ سِرَّكُمۡ وَجَهۡرَكُمۡ وَيَعۡلَمُ مَا تَكۡسِبُونَ ٣

(3) او په اسمانونو کې او په ځمکه کې همغه الله دی، هغه ستاسو پر پټو (حالاتو) او ستاسو پر ښکاره (حالاتو) پوهېږي او پوهېږي پر هغه څه چې تاسو يې کوئ

وَمَا تَأۡتِيهِم مِّنۡ ءَايَةٖ مِّنۡ ءَايَٰتِ رَبِّهِمۡ إِلَّا كَانُواْ عَنۡهَا مُعۡرِضِينَ ٤

(4) او دوی ته د خپل رب له ايتونو څخه هېڅ يو ايت نه راځي مګر دا چې دوی له هغه نه مخ اړوونکي وي

فَقَدۡ كَذَّبُواْ بِٱلۡحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمۡ فَسَوۡفَ يَأۡتِيهِمۡ أَنۢبَٰٓؤُاْ مَا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ٥

(5) پس يقينًا دوی د حق تکذيب وکړ، کله چې دوی ته راغی، نو ژر به دوی ته د هغه شيز خبرونه راشي چې دوی به په هغه پورې استهزا کوله

أَلَمۡ يَرَوۡاْ كَمۡ أَهۡلَكۡنَا مِن قَبۡلِهِم مِّن قَرۡنٖ مَّكَّنَّٰهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَا لَمۡ نُمَكِّن لَّكُمۡ وَأَرۡسَلۡنَا ٱلسَّمَآءَ عَلَيۡهِم مِّدۡرَارٗا وَجَعَلۡنَا ٱلۡأَنۡهَٰرَ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهِمۡ فَأَهۡلَكۡنَٰهُم بِذُنُوبِهِمۡ وَأَنشَأۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِمۡ قَرۡنًا ءَاخَرِينَ ٦

(6) ايا دوی نه دي کتلي(نه دي خبر شوي) چې مونږ له دوی نه مخکې څومره (ډېر) امتونه هلاك كړي دي، چې مونږ هغوی ته په ځمکه کې ښه قوت ورکړی و، دومره (قوت) چې تاسو ته مو (هومره) نه دی درکړی او مونږ پر هغوی باندې پرله پسې وربدونکی باران ورولی و او داسې وَلې مو جاري کړي وې چې له هغوی نه ښکته بهېدلې، نو مونږ هغوی د خپلو ګناهونو په سبب هلاك كړل او له هغوی

نه بعد مونږه نور خلق پيدا كړل

وَلَوۡ نَزَّلۡنَا عَلَيۡكَ كِتَٰبٗا فِي قِرۡطَاسٖ فَلَمَسُوهُ بِأَيۡدِيهِمۡ لَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا سِحۡرٞ مُّبِينٞ ۝٧

(7) او كه چېرې مونږه په تا باندې په كاغذ كې (ليكلى) كتاب نازل كړى وى، بيا دوى پر هغه، خپل لاسونه هم لګولي وى، (نو) كافر شويو كسانو به خامخا ويل: نه دى دا مګر ښكاره جادو

وَقَالُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ مَلَكٞۖ وَلَوۡ أَنزَلۡنَا مَلَكٗا لَّقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ ثُمَّ لَا يُنظَرُونَ ۝٨

(8) او دوى ووېل: په ده باندې مَلَك ولې نه دى نازل كړى شوى؟ او كه مونږه مَلَك نازل كړى وى (نو) معامله به ضرور فيصله كړى شوې وه، بيا به دوى ته مهلت نه وركول كېدى

وَلَوۡ جَعَلۡنَٰهُ مَلَكٗا لَّجَعَلۡنَٰهُ رَجُلٗا وَلَلَبَسۡنَا عَلَيۡهِم مَّا يَلۡبِسُونَ ۝٩

(9) او كه چېرې مونږ دا (رسول) مَلَك ګرځولى وَى ()، نو مونږ به هغه خامخا سړى جوړ كړى و او مونږه به دوى خامخا په هغه شبه كې اچولى، په كومه شبه كې چې(اوس) پراته دي

وَلَقَدِ ٱسۡتُهۡزِئَ بِرُسُلٖ مِّن قَبۡلِكَ فَحَاقَ بِٱلَّذِينَ سَخِرُواْ مِنۡهُم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ۝١٠

(10) او يقينًا يقينًا له تا نه په مخكې رسولانو پورې استهزا ګانې شوې دي، نو هغو كسانو لره چې په دوى پورې يې مسخري كړې وې؛ هغه شي راګېر كړل چې دوى به په هغه پورې

استهزا کوله

قُلۡ سِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ ثُمَّ ٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ١١

(11) ته ووایه: تاسو په ځمکه کې وګرځئ، بیا تاسو وګورئ چې د دروغ ګڼونکو انجام څنګه و؟

قُل لِّمَن مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ قُل لِّلَّهِۚ كَتَبَ عَلَىٰ نَفۡسِهِ ٱلرَّحۡمَةَۚ لَيَجۡمَعَنَّكُمۡ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ لَا رَيۡبَ فِيهِۚ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ فَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ١٢

(12) ته ووایه: هغه څه د چا دي چې په اسمانونو او ځمکه کې دي؟ ته ووایه: د الله دي، هغه په خپل ځان باندې رحمت لازم کړی دی، هغه به تاسو خامخا لازمًا د قیامت په ورځ راجمع کوي، چې په هغې کې هېڅ شك نشته، هغه کسان چې خپلو ځانونو ته یې تاوان رسولی دی، نو هغوی ایمان نه راوړي

۞وَلَهُۥ مَا سَكَنَ فِي ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ١٣

(13) او خاص د هغه لپاره دي هغه څه چې ارام کوي په شپه کې او په ورځ کې او هم هغه ښه اورېدونکی، ښه عالم دی

قُلۡ أَغَيۡرَ ٱللَّهِ أَتَّخِذُ وَلِيّٗا فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَهُوَ يُطۡعِمُ وَلَا يُطۡعَمُۗ قُلۡ إِنِّيٓ أُمِرۡتُ أَنۡ أَكُونَ أَوَّلَ مَنۡ أَسۡلَمَۖ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ١٤

(14) ته ووایه: ایا زه (بل) ولي (مددګار) ونیسم، له الله نه غیر چې د اسمانونو او ځمکې پیدا کوونکی دی او هغه خوراك ورکوي او هغه ته خوراك نشي ورکولی؟ ته ووایه: بېشکه ما ته خو حکم شوی دی چې زه په اسلام راوړونکو کې اول شم او (ما ته ویل

شوي دي چې) ته هېڅکله هم له مشرکانو څخه مه کېږه

قُلۡ إِنِّيٓ أَخَافُ إِنۡ عَصَيۡتُ رَبِّي عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيمٖ ١٥

(15) ته ووایه: بېشکه زه د لویې ورځې له عذاب نه وېرېږم، که د خپل رب نافرماني وکړم

مَّن يُصۡرَفۡ عَنۡهُ يَوۡمَئِذٖ فَقَدۡ رَحِمَهُۥۚ وَذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡمُبِينُ ١٦

(16) هغه څوك چې له هغه نه په دغې ورځ کې دغه (عذاب) واړول شو، نو یقینًا پر هغه یې رحم وکړ او همدا څرګنده کامیابي ده

وَإِن يَمۡسَسۡكَ ٱللَّهُ بِضُرّٖ فَلَا كَاشِفَ لَهُۥٓ إِلَّا هُوَۖ وَإِن يَمۡسَسۡكَ بِخَيۡرٖ فَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ١٧

(17) او که الله تا ته تکلیف درورسوي، نو د هغه (تکلیف) لرې کوونکی له هغه نه سِوا بل هیڅوك نشته او که هغه تا ته خیر درورسوي، نو هغه په هر شي باندې ښه قادر دی

وَهُوَ ٱلۡقَاهِرُ فَوۡقَ عِبَادِهِۦۚ وَهُوَ ٱلۡحَكِيمُ ٱلۡخَبِيرُ ١٨

(18) او همدی غالب دی، د خپلو بنده ګانو له پاسه دی او همدی ښه حکمت والا، ښه خبردار دی

قُلۡ أَيُّ شَيۡءٍ أَكۡبَرُ شَهَٰدَةٗۖ قُلِ ٱللَّهُۖ شَهِيدُۢ بَيۡنِي وَبَيۡنَكُمۡۚ وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانُ لِأُنذِرَكُم بِهِۦ وَمَنۢ بَلَغَۚ أَئِنَّكُمۡ لَتَشۡهَدُونَ أَنَّ مَعَ ٱللَّهِ ءَالِهَةً أُخۡرَىٰۚ قُل لَّآ

(19) ته ووایه: د ګواهۍ په لحاظ کوم شی تر ټولو لوی دی؟ ته ووایه: الله دی، (هغه) زما په مینځ کې او ستاسو په مینځ کې ګواه دی او ما ته دا قرآن وحي شوی دی، د دې لپاره چې په دې (قرآن) سره زه تاسو ووېروم او هغه څوك چې دا ورته رسي، ایا تاسو په رښتیا (د

أَشۡهَدُۚ قُلۡ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ وَإِنَّنِي بَرِيٓءٞ مِّمَّا تُشۡرِكُونَ ١٩

دي خبري) گواهي كوئ چې يقيناً له الله سره نور معبودان (هم) شته؟ ته ووايه: زه (د دې) شاهدي نه كوم، ته ووايه: بېشكه همدا خبره ده چې همغه يو حق معبود دى او بېشكه زه له هغه څه نه بېزاره يم چې تاسو يې شريكوئ

ٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ يَعۡرِفُونَهُۥ كَمَا يَعۡرِفُونَ أَبۡنَآءَهُمُۘ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ فَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ٢٠

(20) هغه كسان چې هغوى ته مونږ كتاب وركړى دى، هغوى دى (داسې) پېژني لكه څنگه چې خپل زامن پېژني، هغه كسان چې خپلو ځانونو ته يې تاوان رسولى دى، نو هغوى ايمان نه راوړي

وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوۡ كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ ٢١

(21) او له هغه كس نه (بل) زيات ظالم څوك دى چې په الله باندې دروغ تپي (اړوي)، يا د هغه ايتونه دروغ گڼي، بېشكه حقيقت دا دى چې ظالمان نشي كامياببدلى

وَيَوۡمَ نَحۡشُرُهُمۡ جَمِيعٗا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشۡرَكُوٓاْ أَيۡنَ شُرَكَآؤُكُمُ ٱلَّذِينَ كُنتُمۡ تَزۡعُمُونَ ٢٢

(22) او په هغې ورځ كې چې مونږ به دوى ټول راجمع كوو، بيا به مونږه هغو كسانو ته چې شرك يې كړى دى ؛ وايو: ستاسو هغه شريكان چېرته دي چې تاسو به (له الله سره شريكان) گڼل؟

ثُمَّ لَمۡ تَكُن فِتۡنَتُهُمۡ إِلَّآ أَن قَالُواْ

(23) بيا به نه وي (بله) بهانه د دوى مگر دا چې دوى به ووايي: قسم پر الله چې زمونږ رب

وَٱللَّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ ﴿٢٣﴾

دی! مونږ مشركان نه وو

ٱنظُرْ كَيْفَ كَذَبُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْۚ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُواْ يَفْتَرُونَ ﴿٢٤﴾

(24) ته وګوره څنګه دوی په خپلو ځانونو باندې دروغ وويل او له دوی نه هغه څه ورك شول چې دوی به په دروغه جوړول

وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُ إِلَيْكَۖ وَجَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ وَفِىٓ ءَاذَانِهِمْ وَقْرًاۚ وَإِن يَرَوْاْ كُلَّ ءَايَةٍ لَّا يُؤْمِنُواْ بِهَاۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوكَ يُجَٰدِلُونَكَ يَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنْ هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٢٥﴾

(25) او په دوی کې ځینې هغه څوك دي چې تا ته غوږ نيسي او مونږ د هغوی په زړونو باندې پردې اچولې دي چې پر دې (قرآن) پوه (نه) شي او د دوی په غوږونو کې مو کوڼ والی (اچولی دی) او که دوی هره نښه ووینې، (بیا هم) دوی په هغې ایمان نه راوړي، تر دې چې کله دوی تا ته راشي، چې له تا سره جګړه کوي (، نو) هغه کسان چې کافر شوي دي؛ وايي: نه دی دا (قرآن) مګر د مخکېنو خلقو باطلې قصې

وَهُمْ يَنْهَوْنَ عَنْهُ وَيَنْـَٔوْنَ عَنْهُۖ وَإِن يُهْلِكُونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٦﴾

(26) او دوی له ده نه منع کول کوي او )پخپله هم) ترې لرې کېږي او دوی يواځې خپل ځانونه هلاکوي او دوی شعور نه لري

وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذْ وُقِفُواْ عَلَى ٱلنَّارِ فَقَالُواْ يَٰلَيْتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِـَٔايَٰتِ رَبِّنَا وَنَكُونَ مِنَ

(27) او که ته ووينې کله چې دوی پر (غاړه د) اور ودرول شي، نو دوی به وايي: ای کاشکې! مونږ بيا (دنيا ته) واپس کړی شو، له

ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٢٧﴾

دي (عقيدې او عمل) سره چې د خپل رب د ایتونو (بیا) تکذیب ونه کړو او مونږ شو له مومنانو څخه

بَلۡ بَدَا لَهُم مَّا كَانُواْ يُخۡفُونَ مِن قَبۡلُۖ وَلَوۡ رُدُّواْ لَعَادُواْ لِمَا نُهُواْ عَنۡهُ وَإِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ﴿٢٨﴾

(28) بلکې دوی ته هغه څه ظاهر شول چې دوی له دې نه مخکې پټول او که چیرې دوی (دنیا ته) واپس کړی شي (، نو) دوی به هغه شي ته خامخا بیا وروګرځي، له څه نه چې دوی منع کړی شوي وو، او بېشکه دوی یقینًا دروغجن دي

وَقَالُوٓاْ إِنۡ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنۡيَا وَمَا نَحۡنُ بِمَبۡعُوثِينَ ﴿٢٩﴾

(29) او دوی وایي: نه دی دا (ژوند) مګر همدغه زمونږ دنیایي ژوند دی او مونږ به کله هم بیا راژوندي نه کړی شو

وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذۡ وُقِفُواْ عَلَىٰ رَبِّهِمۡۚ قَالَ أَلَيۡسَ هَٰذَا بِٱلۡحَقِّۚ قَالُواْ بَلَىٰ وَرَبِّنَاۚ قَالَ فَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَ بِمَا كُنتُمۡ تَكۡفُرُونَ ﴿٣٠﴾

(30) او که چیرې ته ووینې کله چې دوی د خپل رب په وړاندې ودرول شي (، نو) هغه به وفرمایي: ایا دا (ژوند) رښتیا نه دی؟ دوی به ووایي: ولې نه! زمونږ دې پر خپل رب قسم وي، رب به وفرمایي: نو تاسو عذاب وڅکئ د هغه کفر په سبب چې تاسو به کاوه

قَدۡ خَسِرَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِلِقَآءِ ٱللَّهِۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَتۡهُمُ ٱلسَّاعَةُ بَغۡتَةً

(31) هغه کسان یقینًا تاوانیان شوي دي چې له الله سره ملاقات یې دروغ ګڼلی دی، تر دې چې کله دوی ته قیامت ناڅاپه راشي، دوی به

قَالُواْ يَٰحَسۡرَتَنَا عَلَىٰ مَا فَرَّطۡنَا
فِيهَا وَهُمۡ يَحۡمِلُونَ أَوۡزَارَهُمۡ عَلَىٰ
ظُهُورِهِمۡۚ أَلَا سَآءَ مَا يَزِرُونَ ٣١

وايي: هى افسوس! په هغې كوتاهى باندې چې مونږ د دې (قيامت) په باره كې كړې ده، او دوى به خپل پېټي په خپلو شاګانو پورته كوي، اګاه شئ! بد دى هغه شى چې دوى يې (بوج) پورته كوي

وَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا لَعِبٞ وَلَهۡوٞۖ
وَلَلدَّارُ ٱلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ يَتَّقُونَۚ
أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ٣٢

(32) او دنيايي ژوند نه دى مګر لوبه او تماشه، او يقينًا د اخرت كور د هغو كسانو لپار ډېر غوره دى چې پرهېزګاره دي، نو ولې تاسو عقل نه كاروئ!

قَدۡ نَعۡلَمُ إِنَّهُۥ لَيَحۡزُنُكَ ٱلَّذِي
يَقُولُونَۖ فَإِنَّهُمۡ لَا يُكَذِّبُونَكَ
وَلَٰكِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ
يَجۡحَدُونَ ٣٣

(33) ببشكه مونږ پوهېږو چې يقينًا حقيقت دا دى چې تا هغه خبره خامخا غمجنوي، چې دوى يې وايي، نو يقينًا دوى تا دورغژن نه ګڼي او لېكن دغه ظالمان د الله له ايتونو نه انكار كوي

وَلَقَدۡ كُذِّبَتۡ رُسُلٞ مِّن قَبۡلِكَ
فَصَبَرُواْ عَلَىٰ مَا كُذِّبُواْ وَأُوذُواْ
حَتَّىٰٓ أَتَىٰهُمۡ نَصۡرُنَاۚ وَلَا مُبَدِّلَ
لِكَلِمَٰتِ ٱللَّهِۚ وَلَقَدۡ جَآءَكَ مِن
نَّبَإِيْ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٣٤

(34) او يقينًا يقينًا له تا نه مخكې رسولان دروغژن بلل شوي وو، نو هغوى په دروغژن بلل كېدلو او ضرر رسېدلو صبر وكړ تر دې چې هغوى ته زمونږ مدد راغى، او د الله كلماتو لره هيڅوك اړوونكى نشته، او يقينًا تا ته د رسولانو څه خبرونه خو راغلي دي

وَإِن كَانَ كَبُرَ عَلَيۡكَ إِعۡرَاضُهُمۡ
فَإِنِ ٱسۡتَطَعۡتَ أَن تَبۡتَغِيَ نَفَقٗا فِي
ٱلۡأَرۡضِ أَوۡ سُلَّمٗا فِي ٱلسَّمَآءِ
فَتَأۡتِيَهُم بِـَٔايَةٖۚ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ
لَجَمَعَهُمۡ عَلَى ٱلۡهُدَىٰۚ فَلَا
تَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡجَٰهِلِينَ ٣٥

(35) او كه چېرې په تا باندې د دوی مخ اړول ګران وي، نو كه ته طاقت لرې د دې چې په ځمكه كې سُرنګ ولټوې، يا اسمان ته كومه زينه، بيا ته دوی ته څه نښه (مُعجِزه) راوړې، (نو همدغسې وكړه) او كه الله غوښتلی دوی به يې په نېغه لار باندې لازمًا جمع كړي وو، نو ته له ناپوهانو څخه مه كېږه

۞إِنَّمَا يَسۡتَجِيبُ ٱلَّذِينَ يَسۡمَعُونَۘ
وَٱلۡمَوۡتَىٰ يَبۡعَثُهُمُ ٱللَّهُ ثُمَّ إِلَيۡهِ
يُرۡجَعُونَ ٣٦

(36) يقينًا همدا خبره ده چې (حق) هغه كسان قبلوي چې خبره اوري، او مړي به الله راژوندي كوي، بيا به خاص د هغه په طرف ورګرځولی شي

وَقَالُواْ لَوۡلَا نُزِّلَ عَلَيۡهِ ءَايَةٞ مِّن
رَّبِّهِۦۚ قُلۡ إِنَّ ٱللَّهَ قَادِرٌ عَلَىٰٓ أَن
يُنَزِّلَ ءَايَةٗ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا
يَعۡلَمُونَ ٣٧

(37) او دوی وايي: ولې په ده باندې د خپل رب له جانبه كومه معجزه نه نازلولی شي؟ ته (دوی ته) ووايه: بېشكه الله پر دې قادر دی چې معجزه نازله كړي او لېكن د دوی اكثره خلق نه پوهېږي

وَمَا مِن دَآبَّةٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا
طَٰٓئِرٖ يَطِيرُ بِجَنَاحَيۡهِ إِلَّآ أُمَمٌ
أَمۡثَالُكُمۚ مَّا فَرَّطۡنَا فِي ٱلۡكِتَٰبِ
مِن شَيۡءٖۚ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ

(38) او نشته په ځمكه كې هېڅ يو خوځنده او نه هېڅ مارغه چې په خپلو دواړو وزرونو الوزي مګر (دوی) ستاسو په شان امتونه دي، مونږ په كتاب )لوحِ محفوظ) كې هېڅ شی (بې ليكلو) نه دی پرېښی، بيا به دوی د خپل

| | |
|---|---|
| يُحۡشَرُونَ ﴿٣٨﴾ | رب په طرف ورجمع کولی شي |
| وَٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا صُمّٞ وَبُكۡمٞ فِي ٱلظُّلُمَٰتِۗ مَن يَشَإِ ٱللَّهُ يُضۡلِلۡهُ وَمَن يَشَأۡ يَجۡعَلۡهُ عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٣٩﴾ | (39) او هغه کسان چې زمونږ د ایتونو تکذیب یې کړی دی (دوی) کاڼه او ګونګیان دي، په تیارو کې دي، چا ته چې الله وغواړي هغه ګمراه کوي او چا ته چې وغواړي هغه په نېغه لار روانوي |
| قُلۡ أَرَءَيۡتَكُمۡ إِنۡ أَتَىٰكُمۡ عَذَابُ ٱللَّهِ أَوۡ أَتَتۡكُمُ ٱلسَّاعَةُ أَغَيۡرَ ٱللَّهِ تَدۡعُونَ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٤٠﴾ | (40) ته (دوی ته) ووایه: ما ته خبر راکړئ: که چېرې پر تاسو د الله عذاب راشي، یا پر تاسو قیامت راشي، ایا تاسو به له الله نه غیر نور څوك بلئ، که چېرې تاسو رښتیني یئ؟ |
| بَلۡ إِيَّاهُ تَدۡعُونَ فَيَكۡشِفُ مَا تَدۡعُونَ إِلَيۡهِ إِن شَآءَ وَتَنسَوۡنَ مَا تُشۡرِكُونَ ﴿٤١﴾ | (41) (نه) بلکې تاسو به (په دغه وخت کې) خاص هغه بلئ، نو که هغه بیا وغواړي هغه (تکلیف) به لرې کړي د څه لپاره چې تاسو هغه بلئ او تاسو به هغه هېر کړئ چې تاسو یې (له الله سره) شریکوئ |
| وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَآ إِلَىٰٓ أُمَمٖ مِّن قَبۡلِكَ فَأَخَذۡنَٰهُم بِٱلۡبَأۡسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمۡ يَتَضَرَّعُونَ ﴿٤٢﴾ | (42) او یقینًا یقینًا مونږ پیغام لېږلی و له تا نه مخکې امتونو ته، بیا مونږ هغوی په سختیو او تکلیفونو کې واچول، د دې لپاره چې هغوی عاجزي وکړي |

فَلَوۡلَآ إِذۡ جَآءَهُم بَأۡسُنَا تَضَرَّعُواْ وَلَٰكِن قَسَتۡ قُلُوبُهُمۡ وَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿٤٣﴾

(43) نو كله چې دوى ته زمونږ عذاب راغى، دوى ولې عاجزي ونه كړه او لېكن د دوى زړونه سخت شوي وو او شيطان دوى ته د دوى هغه عملونه ښايسته كړي وو چې دوى به كول

فَلَمَّا نَسُواْ مَا ذُكِّرُواْ بِهِۦ فَتَحۡنَا عَلَيۡهِمۡ أَبۡوَٰبَ كُلِّ شَيۡءٍ حَتَّىٰٓ إِذَا فَرِحُواْ بِمَآ أُوتُوٓاْ أَخَذۡنَٰهُم بَغۡتَةً فَإِذَا هُم مُّبۡلِسُونَ ﴿٤٤﴾

(44) نو كله چې دوى هغه شى هېر كړ په څه سره چې دوى ته نصيحت شوى و، بيا نو مونږ په دوى باندې د هر شي دروازې پرانستلې تر دې چې دوى لويې وكړه، په سبب د هغه څه چې دوى ته وركړل شوي وو (،نو) مونږه دوى ناڅاپه ونيول، بيا نو دوى ناګهانه نااميده وو

فَقُطِعَ دَابِرُ ٱلۡقَوۡمِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْۚ وَٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٤٥﴾

(45) نو د هغه قوم ببخ پرې كړى شو چې ظلم يې كړى و او ټولې ستاينې خاص الله لره دي، چې د عالَمونو ښه پالونكى دى

قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ إِنۡ أَخَذَ ٱللَّهُ سَمۡعَكُمۡ وَأَبۡصَٰرَكُمۡ وَخَتَمَ عَلَىٰ قُلُوبِكُم مَّنۡ إِلَٰهٌ غَيۡرُ ٱللَّهِ يَأۡتِيكُم بِهِۗ ٱنظُرۡ كَيۡفَ نُصَرِّفُ ٱلۡأٓيَٰتِ ثُمَّ هُمۡ يَصۡدِفُونَ ﴿٤٦﴾

(46) ته (دوى ته) ووايه: تاسو ما خبر كړئ كه چېرې الله ستاسو غوږونه او ستاسو سترګې واخلي او ستاسو په زړونو باندې مهر ولګوي (، نو) له الله نه غير (بل څوك حق) معبود دى، چې دا تاسو ته واپس راوړي؟ ته وګوره، مونږه ايتونه په څنګه قسما قسم (انداز كې) بيانوو،

بیا (هم) دوی مخ اړوي

قُــلۡ أَرَءَيۡــتَكُمۡ إِنۡ أَتَىٰكُــمۡ عَذَابُ ٱللَّهِ بَغۡتَةً أَوۡ جَهۡـرَةً هَـلۡ يُهۡلَكُ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٤٧﴾

(47) ته ووایه: تاسو ما خبر کړئ که چېرې پر تاسو باندې د الله عذاب ناڅاپه راشي، یا ښه ښکاره، (، نو) نه به شي هلاکولی مګر ظالمان خلق

وَمَــا نُرۡسِــلُ ٱلۡمُرۡسَــلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَۖ فَمَنۡ ءَامَنَ وَأَصۡلَحَ فَلَا خَـوۡفٌ عَلَـيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ﴿٤٨﴾

(48) او مونږ رسولان نه لېږو مګر زېرې ورکوونکي او وېروونکي، نو چا چې ایمان راوړ او )د ځان) اصلاح یې وکړه، نو په دوی باندې به نه څه وېره وي او نه به دوی غمجن کېږي

وَٱلَّذِينَ كَـذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَـا يَمَسُّـهُمُ ٱلۡعَذَابُ بِمَا كَانُواْ يَفۡسُقُونَ ﴿٤٩﴾

(49) او هغه کسان چې زمونږ د ایتونو تکذیب یې وکړ، دوی ته به د هغې نافرمانۍ په سبب عذاب رسېږي چې دوی کوله

قُل لَّآ أَقُولُ لَكُمۡ عِندِي خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ وَلَآ أَقُـولُ لَكُمۡ إِنِّي مَلَكٌۖ إِنۡ أَتَّبِـعُ إِلَّا مَـا يُـوحَىٰٓ إِلَيَّۚ قُـلۡ هَـلۡ يَسۡـتَوِي ٱلۡأَعۡـمَىٰ وَٱلۡبَصِـيرُۚ أَفَــلَا تَتَفَكَّرُونَ ﴿٥٠﴾

(50) ته ووایه: زه تاسو ته نه وایم چې ما سره د الله خزانې دي او نه زه عالم الغیب یم او نه زه تاسو ته دا وایم چې بېشکه زه مَلَك یم، زه پَیروي نه کوم مګر د هغه شي چې ما ته وحي کولی شي، ته ووایه: ایا ړوند او بینا سره برابر دي؟ نو ولې تاسو سوچ او فکر نه کوئ!

وَأَنذِرۡ بِهِ ٱلَّذِينَ يَخَافُونَ أَن

(51) او ته په دې (وحي) سره هغه کسان

يُحۡشَرُوٓاْ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ لَيۡسَ لَهُم مِّن
دُونِهِۦ وَلِيّٞ وَلَا شَفِيعٞ لَّعَلَّهُمۡ
يَتَّقُونَ ٥١

ووېروه چې د خپل رب په وړاندې له ورټولول كېدو نه وېرېږي، په دې حال كې چې د دوى لپاره به له هغه نه غير نه څوك دوست وي او نه څوك سفارشي، لپاره د دې چې دوى پرهېزګاره شي

وَلَا تَطۡرُدِ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ رَبَّهُم
بِٱلۡغَدَوٰةِ وَٱلۡعَشِيِّ يُرِيدُونَ
وَجۡهَهُۥۖ مَا عَلَيۡكَ مِنۡ حِسَابِهِم
مِّن شَيۡءٖ وَمَا مِنۡ حِسَابِكَ
عَلَيۡهِم مِّن شَيۡءٖ فَتَطۡرُدَهُمۡ
فَتَكُونَ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ٥٢

(52) او ته هغه كسان (له ځانه) مه شړه چې خپل رب سبا او بېګاه بلي، چې د الله مخ (او رضا) غواړي، په تا باندې د هغوى له حساب نه هېڅ شى نشته او نه پر هغوى باندې ستا له حسابه څه شى شته، نو كه ته دوى وشړې، نو شې به ته له ظالمانو ځني

وَكَذَٰلِكَ فَتَنَّا بَعۡضَهُم بِبَعۡضٖ
لِّيَقُولُوٓاْ أَهَٰٓؤُلَآءِ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم
مِّنۢ بَيۡنِنَآۗ أَلَيۡسَ ٱللَّهُ بِأَعۡلَمَ
بِٱلشَّٰكِرِينَ ٥٣

(53) او همدارنګه مونږ د دوى ځينې په ځينو (نورو) سره ازمايلي دي، د دې لپاره چې دوى ووايي: ايا دا خلق دي چې الله په دوى باندې زمونږ له مينځه احسان كړى دى، ايا الله په شكر ګذارو باندې ښه پوه نه دى!

وَإِذَا جَآءَكَ ٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ
بِـَٔايَٰتِنَا فَقُلۡ سَلَٰمٌ عَلَيۡكُمۡۖ
كَتَبَ رَبُّكُمۡ عَلَىٰ نَفۡسِهِ ٱلرَّحۡمَةَ
أَنَّهُۥ مَنۡ عَمِلَ مِنكُمۡ سُوٓءَۢا

(54) او كله چې تا ته هغه كسان راشي چې زمونږ پر ايتونو ايمان لري، نو ته ووايه: پر تاسو دې سلام وي، ستاسو رب په خپل ځان باندې مهرباني كول ليكلي (لازم كړي) دي، چې

| | |
|---|---|
| بِجَهَٰلَةٖ ثُمَّ تَابَ مِنۢ بَعۡدِهِۦ وَأَصۡلَحَ فَأَنَّهُۥ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٥٤ | يقينًا شان دا دی څوك چې په تاسو کې په ناپوهۍ سره بدي وکړي، بيا له هغې نه پس توبه وباسي او اصلاح وکړي، نو بېشکه هغه ډېر بخښونکی، بې حده مهربان دی |
| وَكَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ وَلِتَسۡتَبِينَ سَبِيلُ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ٥٥ | (55) او همدارنګه مونږ ایتونه په تفصیل سره بیانوو، او د دې لپاره چې د مجرمانو لاره ښه واضحه شي |
| قُلۡ إِنِّي نُهِيتُ أَنۡ أَعۡبُدَ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِۚ قُل لَّآ أَتَّبِعُ أَهۡوَآءَكُمۡ قَدۡ ضَلَلۡتُ إِذٗا وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُهۡتَدِينَ ٥٦ | (56) ته (دوی ته) ووایه: بېشکه زه منع کړی شوی یم له دې نه چې زه د هغو (څیزونو) عبادت وکړم چې تاسو یې له الله نه غیر بلئ، ته ووایه: زه ستاسو د خواهشاتو پیروي نه کوم، (که ومې کړه، نو) یقینًا زه به په دغه وخت کې ګمراه شوی یم او نه به یم زه له نېغه لار موندونکو نه |
| قُلۡ إِنِّي عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّي وَكَذَّبۡتُم بِهِۦۚ مَا عِندِي مَا تَسۡتَعۡجِلُونَ بِهِۦٓۚ إِنِ ٱلۡحُكۡمُ إِلَّا لِلَّهِۖ يَقُصُّ ٱلۡحَقَّۖ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلۡفَٰصِلِينَ ٥٧ | (57) ته ووایه: بېشکه زه په ښکاره دلیل باندې ولاړ یم چې زما د رب له جانبه دی او تاسو د هغۀ تکذیب کړی دی، ما سره هغه شی نشته چې تاسو یې په تلوار سره غواړئ، حکم (د فیصلې اختیار) یواځې له الله سره دی، هغه حق بیانوي او هغه ډېر غوره فیصله کوونکی دی |

قُل لَّوْ أَنَّ عِندِى مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِۦ لَقُضِىَ ٱلْأَمْرُ بَيْنِى وَبَيْنَكُمْ ۗ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِٱلظَّـٰلِمِينَ ﴿٥٨﴾

(58) ته ووايه: يقينًا كه ما سره هغه شی وَی چې تاسو يې په تلوار سره غواړئ (، نو) زما او ستاسو په مينځ کې به خبره خامخا فيصله کړی شوې وه او الله په ظالمانو باندې ښه عالم دی

۞ وَعِندَهُۥ مَفَاتِحُ ٱلْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَآ إِلَّا هُوَ ۚ وَيَعْلَمُ مَا فِى ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ ۚ وَمَا تَسْقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِى ظُلُمَـٰتِ ٱلْأَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِى كِتَـٰبٍ مُّبِينٍ ﴿٥٩﴾

(59) او خاص له الله سره د غيبو چابیاني دي، يواځې هغه پر دغو عالم دی او هغه عالم دی پر هغه څه چې په وچه او سمندر کې دي، او هېڅ يوه پاڼه نه غورځېږي مگر هغه پرې عالم دی او د ځمکې په تیارو کې نه يوه دانه (پرېوځي) او نه لوند ښيز او نه وچ مگر (دا ټول) په ښکاره کتاب (لوح محفوظ) کې دي

وَهُوَ ٱلَّذِى يَتَوَفَّىٰكُم بِٱلَّيْلِ وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُم بِٱلنَّهَارِ ثُمَّ يَبْعَثُكُمْ فِيهِ لِيُقْضَىٰٓ أَجَلٌ مُّسَمًّى ۖ ثُمَّ إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ ثُمَّ يُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٦٠﴾

(60) او دی همغه ذات دی چې تاسو په شپه کې وفات کوي (ویده کوي) او هغه پوهېږي پر هغه څه چې تاسو يې د ورځې کوئ، بیا به هغه تاسو په هغې (ورځې) کې راژوندي کوي، د دې لپاره چې ټاکلی وخت پوره کړی شي، بیا به خاص د هغه په طرف ستاسو واپسي وي، بیا به هغه تاسو پر هغو عملونو خبر کړي چې تاسو به کول

وَهُوَ ٱلْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِۦۖ وَيُرْسِلُ
عَلَيْكُمْ حَفَظَةً حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ
أَحَدَكُمُ ٱلْمَوْتُ تَوَفَّتْهُ رُسُلُنَا
وَهُمْ لَا يُفَرِّطُونَ ﴿٦١﴾

(61) او همغه غالب دی، د خپلو بنده ګانو له پاسه دی، او پر تاسو باندې ساتونکي (ملایك) رالېږي، تر دې چې کله په تاسو کې یو کس ته مرګ راشي (، نو) زمونږ استازي یې وفات کړي او هغوی هېڅ تقصیر (کمی) نه کوي

ثُمَّ رُدُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ مَوْلَىٰهُمُ ٱلْحَقِّۚ
أَلَا لَهُ ٱلْحُكْمُ وَهُوَ أَسْرَعُ
ٱلْحَٰسِبِينَ ﴿٦٢﴾

(62) بیا به دوی ورګرځولی شي الله ته چې د دوی حق مالك دی، اګاه شئ! د حکم (او فیصلې کولو) ټول اختیار خاص د هغه دی، او هغه تر ټولو ژر حساب کوونکی دی

قُلْ مَن يُنَجِّيكُم مِّن ظُلُمَٰتِ
ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ تَدْعُونَهُۥ تَضَرُّعًا
وَخُفْيَةً لَّئِنْ أَنجَىٰنَا مِنْ هَٰذِهِۦ
لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿٦٣﴾

(63) ته (دوی ته) ووایه: تاسو ته د وچې او سمندر له تیارو نه څوك خلاصی درکوي، چې تاسو هغه بلئ په زارۍ سره او په پټه سره، (او وایئ) که چېرې الله مونږ ته له دې (مصیبت) نه خلاصی راکړ (، نو) مونږ به خامخا ارومرو له شکر کوونکو څخه شو

قُلِ ٱللَّهُ يُنَجِّيكُم مِّنْهَا وَمِن كُلِّ
كَرْبٍ ثُمَّ أَنتُمْ تُشْرِكُونَ ﴿٦٤﴾

(64) ته (ورته) ووایه: الله تاسو ته له دغه (مصیبت) نه نجات درکوي او له هر غم نه هم، بیا (هم) تاسو شرك کوئ

قُلْ هُوَ ٱلْقَادِرُ عَلَىٰٓ أَن يَبْعَثَ
عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِّن فَوْقِكُمْ أَوْ

(65) ته (دوی ته) ووایه: همغه قادر دی په دې باندې چې پر تاسو باندې ستاسو له پاسه

مِـــن تَحۡـــتِ أَرۡجُلِكُـــمۡ أَوۡ يَلۡبِسَـــكُمۡ شِـــيَعٗا وَيُـــذِيقَ بَعۡضَـكُم بَـأۡسَ بَعۡـضٍۗ ٱنظُـرۡ كَيۡفَ نُصَرِّـفُ ٱلۡأٓيَـٰتِ لَعَلَّهُـمۡ يَفۡقَهُونَ ٦٥

نه عذاب راولېږي، یا ستاسو د پښو له لاندې طرف نه، یا تاسو د ببلو، ببلو ډلو په جوړولو سره ګډوډ کړي او په ځينو باندې د ځينو نورو (د) جنګ (مزه) وڅکي، ته وګوره مونږ ايتونه په څنګه انداز کې بيانوو، د دې لپاره چې دوی پوه شي

وَكَذَّبَ بِهِۦ قَوۡمُكَ وَهُوَ ٱلۡحَقُّۚ قُل لَّسۡتُ عَلَيۡكُم بِوَكِيلٖ ٦٦

(66) او ستا قوم د دې (قرآن) تکذيب وکړ، حال دا چې همدا حق دی، ته (ورته) ووایه: زه پر تاسو باندې نګهبان نه یم

لِّــكُلِّ نَبَــإٖ مُّسۡــتَقَرّٞۚ وَسَــوۡفَ تَعۡلَمُونَ ٦٧

(67) د هر یو خبر لپاره مقرر وخت دی او ژر به تاسو پوه شئ

وَإِذَا رَأَيۡـتَ ٱلَّذِيـنَ يَخُوضُـونَ فِيٓ ءَايَٰتِنَـا فَـأَعۡرِضۡ عَـنۡهُمۡ حَـتَّىٰ يَخُوضُواْ فِي حَدِيثٍ غَـيۡرِهِۦۚ وَإِمَّـا يُنسِيَنَّكَ ٱلشَّـيۡطَٰنُ فَـلَا تَقۡعُـدۡ بَعۡـدَ ٱلذِّكۡـرَىٰ مَــعَ ٱلۡقَـوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ٦٨

(68) او کله چې ته هغه کسان ووينې چې زمونږ په ايتونو کې عبث بحثونه کوي، نو ته له هغوی نه مخ واړوه، تر دې چې دوی له دې نه په علاوه خبرو کې مشغول شي، او که چېرې شيطان له تا نه (دا حکم) هېر کړي، نو له يادېدلو نه پس له دغو ظالمانو سره مه کېنه

وَمَـا عَلَى ٱلَّذِيـنَ يَتَّقُـونَ مِـنۡ حِسَـابِهِم مِّـن شَيۡءٖ وَلَٰكِـن

(69) او په پرهېزګاره کسانو باندې د دغو (عبث بحث کوونکو) خلکو له حسابه څخه د هېڅ شي ذمه واري نشته او لېکن (د هغوی

ذِكْرَىٰ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿٦٩﴾

پر ذمه بس) نصيحت كول دي، د دې لپاره چې دوی (هم)پرهېزګار شي

وَذَرِ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ دِينَهُمْ لَعِبًا وَلَهْوًا وَغَرَّتْهُمُ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا ۚ وَذَكِّرْ بِهِۦٓ أَن تُبْسَلَ نَفْسٌۢ بِمَا كَسَبَتْ لَيْسَ لَهَا مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيٌّ وَلَا شَفِيعٌ وَإِن تَعْدِلْ كُلَّ عَدْلٍ لَّا يُؤْخَذْ مِنْهَآ ۗ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ أُبْسِلُواْ بِمَا كَسَبُواْ ۖ لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيمٍ وَعَذَابٌ أَلِيمٌۢ بِمَا كَانُواْ يَكْفُرُونَ ﴿٧٠﴾

(70) او ته هغه كسان پرېږده چې خپل دين يې لوبه او تماشه ګرځولی دی او دنيايي ژوند دوكه كړي (غولولي) دي او ته په دې (قرآن) سره نصيحت كوه، چې كوم نفس د خپلو كړو عملونو په سبب هلاك (نه) كړی شي، په داسې حال كې چې د هغه (نفس) لپاره له الله نه پرته نه څوك دوست وي او نه سفارشي او كه دا (نفس) د ځان د خلاصون لپاره فديه وركړي، هر قسمه فديه (،نو) دا به له هغه نه قبوله نه كړی شي، دا هغه كسان دي چې د خپلو كړو عملونو په سبب هلاك كړی شوي دي، د دوی لپاره ډېرې ګرمې اوبه ځښاك دی او ډېر دردوونكی عذاب دی، په سبب د هغه كفر چې دوی به كاوه

قُلْ أَنَدْعُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُنَا وَلَا يَضُرُّنَا وَنُرَدُّ عَلَىٰٓ أَعْقَابِنَا بَعْدَ إِذْ هَدَىٰنَا ٱللَّهُ كَٱلَّذِى ٱسْتَهْوَتْهُ ٱلشَّيَٰطِينُ فِى ٱلْأَرْضِ حَيْرَانَ لَهُۥٓ أَصْحَٰبٌ

(71) ته (ورته) ووايه: ايا مونږه له الله نه سوا د هغه شي عبادت وكړو چې مونږ ته هغه نه فايده رارسولی شي او نه مونږ ته ضرر رارسولی شي؟ او (ايا) مونږه بېرته په شا وګرځول شو وروسته له دې چې الله مونږ ته نېغه لار ښودلې، د هغه كس په شان چې شيطانانو په

يَدۡعُونَهُۥٓ إِلَى ٱلۡهُدَى ٱئۡتِنَاۗ قُلۡ إِنَّ
هُدَى ٱللَّهِ هُوَ ٱلۡهُدَىٰۖ وَأُمِرۡنَا
لِنُسۡلِمَ لِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٧١

ځمکه کې ژوري کندې ته ببولی وي، چې حیران وي، د هغه ملګري وي چې دی نېغې لارې ته رابلي، (چې) مونږ ته راشه، (ای نبي!) ته ووایه: بېشکه د الله هدایت، همغه اصل هدایت دی او مونږ ته حکم شوی دی چې د رب العلمین اطاعت کوونکي شو

وَأَنۡ أَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَٱتَّقُوهُۚ وَهُوَ
ٱلَّذِيٓ إِلَيۡهِ تُحۡشَرُونَ ٧٢

(72) او دا چې تاسو لمونځ قایموئ او له الله نه وېرېږئ او دی همغه ذات دی چې خاص هغه ته به تاسو ورټولولی شئ

وَهُوَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّۖ وَيَوۡمَ يَقُولُ كُن
فَيَكُونُۚ قَوۡلُهُ ٱلۡحَقُّۚ وَلَهُ ٱلۡمُلۡكُ
يَوۡمَ يُنفَخُ فِي ٱلصُّورِۚ عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ
وَٱلشَّهَٰدَةِۚ وَهُوَ ٱلۡحَكِيمُ
ٱلۡخَبِيرُ ٧٣

(73) او دی همغه ذات دی چې اسمانونه او ځمکه یې په حقه سره پیدا کړي دي او (یاده کړئ) هغه ورځ چې وبه وایي: موجود شه! نو هغه به موجود شي، هم د هغه وینا حقه ده، او خاص د هغه لپاره حکومت دی په هغې ورځ کې چې په شپېلۍ کې به پوکی وکړی شي، (هغه) د پټو او ښکاره څیزونو عالم دی او همغه ښه حکمت والا، ښه خبردار دی

۞وَإِذۡ قَالَ إِبۡرَٰهِيمُ لِأَبِيهِ ءَازَرَ
أَتَتَّخِذُ أَصۡنَامًا ءَالِهَةً إِنِّيٓ أَرَىٰكَ
وَقَوۡمَكَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ٧٤

(74) او کله چې ابراهیم خپل پلار ازر ته وویل: ایا ته بتان، معبودان نیسې، یقینًا زه تا او ستا قوم په ښکاره ګمراهۍ کې وینم

وَكَذَٰلِكَ نُرِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ مَلَكُوتَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلِيَكُونَ مِنَ ٱلۡمُوقِنِينَ ٧٥

(75) او همدارنګه مونږ ابراهیم ته د اسمانونو او ځمکې بادشاهي ښودله او د دې لپاره چې هغه له یقین کوونکو ځنې شي

فَلَمَّا جَنَّ عَلَيۡهِ ٱلَّيۡلُ رَءَا كَوۡكَبٗاۖ قَالَ هَٰذَا رَبِّيۖ فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَآ أُحِبُّ ٱلۡأٓفِلِينَ ٧٦

(76) بیا کله چې په هغه باندې شپه تیاره شوه (، نو) یو ستوری یې ولیده، ویې ویل:دا زما رب دی؟ نو کله چې هغه پټ شو، ویې ویل: زه پټېدونکي (غایبېدونکي) نه خوښوم

فَلَمَّا رَءَا ٱلۡقَمَرَ بَازِغٗا قَالَ هَٰذَا رَبِّيۖ فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَئِن لَّمۡ يَهۡدِنِي رَبِّي لَأَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلضَّآلِّينَ ٧٧

(77) بیا کله چې یې سپوږمۍ ولیده، ځلېدونکې، ویې ویل:دا زما رب دی؟ نو کله چې هغه پرېوتله (،نو) ویې ویل:یقیناً که چېرې ما ته زما رب نېغه لار ونه ښیي (، نو) زه به خامخا له ګمراه خلقو ځنې شم

فَلَمَّا رَءَا ٱلشَّمۡسَ بَازِغَةٗ قَالَ هَٰذَا رَبِّي هَٰذَآ أَكۡبَرُۖ فَلَمَّآ أَفَلَتۡ قَالَ يَٰقَوۡمِ إِنِّي بَرِيٓءٞ مِّمَّا تُشۡرِكُونَ ٧٨

(78) نو کله چې هغهٔ، لمرسترګه ولیدله، ځلېدونکې، ویې ویل:دا زما رب دی؟ دا خو تر ټولو لوی دی، نو کله چې هغه پرېوتله، ویې ویل:ای زما قومه! بېشکه زه بېزاره یم له هغه څه نه چې تاسو یې شریکان جوړوئ

إِنِّي وَجَّهۡتُ وَجۡهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ حَنِيفٗاۖ وَمَآ أَنَا۠

(79) بېشکه ما خپل مخ هغه ذات ته اړولی دی چې اسمانونه او ځمکه یې پیدا کړې دي، یواځې په حق پسې تلونکی یم او نه یم له

مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ٧٩

مشركانو څخه

وَحَآجَّهُۥ قَوۡمُهُۥۚ قَالَ أَتُحَٰٓجُّوٓنِّي فِي ٱللَّهِ وَقَدۡ هَدَىٰنِۚ وَلَآ أَخَافُ مَا تُشۡرِكُونَ بِهِۦٓ إِلَّآ أَن يَشَآءَ رَبِّي شَيۡـٔٗاۚ وَسِعَ رَبِّي كُلَّ شَيۡءٍ عِلۡمًاۚ أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ ٨٠

(80) او له هغه سره خپل قوم جګړه وکړه، ویې ویل:ایا تاسو زما سره د الله په باره کې جګړه کوئ، حال دا چې هغهٔ ما ته نېغه لار راښودلې ده، او زه له هغو شیانو نه نه وېرېږم چې تاسو یې له الله سره شریکوئ، مګر دا چې زما رب څه شی وغواړي، زما رب د علم په لحاظ سره هر شی راګېر کړی دی، نو ولې تاسو نصیحت نه منئ!

وَكَيۡفَ أَخَافُ مَآ أَشۡرَكۡتُمۡ وَلَا تَخَافُونَ أَنَّكُمۡ أَشۡرَكۡتُم بِٱللَّهِ مَا لَمۡ يُنَزِّلۡ بِهِۦ عَلَيۡكُمۡ سُلۡطَٰنٗاۚ فَأَيُّ ٱلۡفَرِيقَيۡنِ أَحَقُّ بِٱلۡأَمۡنِۖ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٨١

(81) او زه له هغو څیزونو نه څنګه ووېرېږم چې تاسو له الله سره شریك كړي دي، حال دا چې تاسو له دې څخه نه وېرېږئ چې واقعًا تاسو له الله سره هغه څه شریك كړي دي چې د هغو په باره کې یې پر تاسو باندې هېڅ دلیل نه دی نازل کړی، نو په دواړو ډلو کې کومه یوه د امن (له عذاب نه د بچ کېدو) زیاته حقداره ده؟ که چېرې تاسو پوهېږئ

ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَمۡ يَلۡبِسُوٓاْ إِيمَٰنَهُم بِظُلۡمٍ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلۡأَمۡنُ وَهُم مُّهۡتَدُونَ ٨٢

(82) هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او له خپل ایمان سره یې ظلم )شرك) نه دی ګډ کړی ()، نو) دغه کسان دي چې د همدوی لپاره (له عذاب نه) امن (بچاو) دی او دغه

کسان هدايت موندونکي دي

وَتِلْكَ حُجَّتُنَآ ءَاتَيْنَٰهَآ إِبْرَٰهِيمَ عَلَىٰ قَوْمِهِۦۚ نَرْفَعُ دَرَجَٰتٍ مَّن نَّشَآءُۗ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿٨٣﴾

(83) او دا زموږ دليل دی چې موږه ابراهيم ته ورکړی و د هغه د قوم په مقابله کې، موږ درجې اوچتوو چا لره چې موږ وغواړو، بېشکه ستا رب، ښه حکمت والا، ښه پوه دی

وَوَهَبْنَا لَهُۥٓ إِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَۚ كُلًّا هَدَيْنَاۚ وَنُوحًا هَدَيْنَا مِن قَبْلُۖ وَمِن ذُرِّيَّتِهِۦ دَاوُۥدَ وَسُلَيْمَٰنَ وَأَيُّوبَ وَيُوسُفَ وَمُوسَىٰ وَهَٰرُونَۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٨٤﴾

(84) او موږ هغه ته اسحٰق او يعقوب عطا کړ، موږ هر يو ته هدايت کړی و، او له ده نه مخکې نوح ته موږ هدايت کړی و او د هغه په اولاد کې داود او سليمان، او ايوب او يوسف او موسٰی او هارون ته (هم) او همدارنګه موږ نېکي کوونکو ته بدله ورکوو

وَزَكَرِيَّا وَيَحْيَىٰ وَعِيسَىٰ وَإِلْيَاسَۖ كُلٌّ مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٨٥﴾

(85) (او هدايت کړی و موږ) زکريا، او يحيٰی او عيسٰی او الياس ته، (دوی) هر يو له صالحانو څخه دي

وَإِسْمَٰعِيلَ وَٱلْيَسَعَ وَيُونُسَ وَلُوطًاۚ وَكُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٨٦﴾

(86) او اسمٰعيل، او اَلْيسَع او يونس او لوط ته، او (دوی) هر يو موږه په ټولو عالَمونو باندې غوره کړي دي

وَمِنْ ءَابَآئِهِمْ وَذُرِّيَّٰتِهِمْ وَإِخْوَٰنِهِمْۖ وَٱجْتَبَيْنَٰهُمْ وَهَدَيْنَٰهُمْ إِلَىٰ صِرَٰطٍ

(87) او (فضيلت مو ورکړی و) د دوی په پلرونو کې ځينو ته او د دوی په اولاد کې او د دوی په ورونو کې (ځينو ته) او موږ هغوی

مُّسْتَقِيمٍ ﴿٨٧﴾

غوره کړي وو او مونږ هغوی ته د نېغې لارې هدايت کړی و

ذَٰلِكَ هُدَى ٱللَّهِ يَهْدِي بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦۚ وَلَوْ أَشْرَكُواْ لَحَبِطَ عَنْهُم مَّا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ﴿٨٨﴾

(88) دغه د الله هدايت دی، په دې سره هدايت کوي په خپلو بنده ګانو کې چا ته چې وغواړي او که چېرې هغوی شرك کړی وَی (، نو) له هغوی نه خامخا به ضايع شوي وو هغه عملونه چې دوی به کول

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَٰهُمُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحُكْمَ وَٱلنُّبُوَّةَۚ فَإِن يَكْفُرْ بِهَا هَٰٓؤُلَآءِ فَقَدْ وَكَّلْنَا بِهَا قَوْمًا لَّيْسُواْ بِهَا بِكَٰفِرِينَ ﴿٨٩﴾

(89) دا هغه کسان دي چې دوی ته مونږ کتاب او حُکم او نبوت ورکړی و، نو که دا خلق په دغو سره کفر وکړي، نو يقينًا مونږ د دې لپاره داسې خلق مقرر کړي دي چې په دغو سره کفر کوونکي نه دي

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ هَدَى ٱللَّهُۖ فَبِهُدَىٰهُمُ ٱقْتَدِهْۗ قُل لَّآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًاۖ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرَىٰ لِلْعَٰلَمِينَ ﴿٩٠﴾

(90) دا هغه کسان دي چې الله ورته هدايت کړی دی، نو ته د دوی د طريقې اتباع کوه، ته ووايه: زه له تاسو نه په دې (تبليغ) باندې مزدوري نه غواړم، نه دی دا مګر د ټولو عالَمونو لپاره نصيحت

وَمَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِۦٓ إِذْ قَالُواْ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَىٰ بَشَرٍ مِّن شَيْءٍۗ قُلْ مَنْ أَنزَلَ ٱلْكِتَٰبَ

(91) او دوی د الله قدر ونه کړ، څنګه چې د هغه د قدر کولو حق دی! کله چې دوی وويل: الله په انسان باندې هيڅ شی نه دی نازل کړی، ته (ورته) ووايه: هغه کتاب چا نازل

ٱلَّذِي جَآءَ بِهِۦ مُوسَىٰ نُورٗا
وَهُدٗى لِّلنَّاسِۖ تَجۡعَلُونَهُۥ
قَرَاطِيسَ تُبۡدُونَهَا وَتُخۡفُونَ
كَثِيرٗاۖ وَعُلِّمۡتُم مَّا لَمۡ تَعۡلَمُوٓاْ أَنتُمۡ
وَلَآ ءَابَآؤُكُمۡۖ قُلِ ٱللَّهُۖ ثُمَّ ذَرۡهُمۡ
فِي خَوۡضِهِمۡ يَلۡعَبُونَ ﴿٩١﴾

کړې دی چې موسٰی راوړی و، چې رڼا او هدایت دی د خلقو لپاره؟ چې تاسو یې پاڼه پاڼه کوئ، چې (ځینې) ښکاره کوئ او ډېرې پټوئ، او تاسو ته هغه علم درکړی شو چې نه پرې تاسو پوهېدلئ او نه ستاسو پلرونه، ته ووایه: الله (نازل کړې دی) بیا ته دوی په خپلو باطلو بحثونو کې پرېږده چې لوبې کوي

وَهَٰذَا كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ مُبَارَكٞ
مُّصَدِّقُ ٱلَّذِي بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَلِتُنذِرَ
أُمَّ ٱلۡقُرَىٰ وَمَنۡ حَوۡلَهَاۚ وَٱلَّذِينَ
يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ يُؤۡمِنُونَ بِهِۦۖ
وَهُمۡ عَلَىٰ صَلَاتِهِمۡ يُحَافِظُونَ ﴿٩٢﴾

(92) او دا کتاب دی، چې مونږ نازل کړی دی، برکتي دی او د هغو (کتابونو) تصدیق کوونکی دی چې له ده نه مخکې وو او د دې لپاره چې ته د مکې خلق او د هغې ګېرچاپېره خلق ووېروې او هغه کسان چې پر اخرت ایمان لري، دوی پر ده ایمان راوړي، په داسې حال کې چې همدوی د خپلو لمونځونو ساتنه کوي

وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ
كَذِبًا أَوۡ قَالَ أُوحِيَ إِلَيَّ وَلَمۡ يُوحَ
إِلَيۡهِ شَيۡءٞ وَمَن قَالَ سَأُنزِلُ مِثۡلَ
مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُۗ وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذِ
ٱلظَّٰلِمُونَ فِي غَمَرَٰتِ ٱلۡمَوۡتِ
وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ بَاسِطُوٓاْ أَيۡدِيهِمۡ

(93) او له هغه کس نه لوی ظالم څوك دی چې په الله باندې دروغ تړي، یا وایي چې ما ته وحې شوې ده ! حال دا چې هغه ته هېڅ شی نه وي وحې شوی او له هغه چا نه (بل لوی ظالم څوك دی) چې وایي: ژر دی زه به (هم) نازل کړم د هغه په مثل چې الله نازل کړې دی ! او که چېرې ته ووینې کله چې

أَخۡرِجُوٓاْ أَنفُسَكُمُۖ ٱلۡيَوۡمَ تُجۡزَوۡنَ عَذَابَ ٱلۡهُونِ بِمَا كُنتُمۡ تَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ غَيۡرَ ٱلۡحَقِّ وَكُنتُمۡ عَنۡ ءَايَٰتِهِۦ تَسۡتَكۡبِرُونَ ﴿٩٣﴾

ظالمان د مرگ په سختيو کې (گېر) وي او ملايکو خپل لاسونه وراوږده کړي وي (او ورته وايي) تاسو خپلې ساه گانې راوباسئ، نن ورځ به تاسو ته د سپکوونکي عذاب سزا درکولی شي، په سبب د هغې ناحقه وينا چې تاسو به په الله باندې تپله، او تاسو به د ده د ايتونو له قبلولو نه انکار او تکبر کاوه

وَلَقَدۡ جِئۡتُمُونَا فُرَٰدَىٰ كَمَا خَلَقۡنَٰكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةٖ وَتَرَكۡتُم مَّا خَوَّلۡنَٰكُمۡ وَرَآءَ ظُهُورِكُمۡۖ وَمَا نَرَىٰ مَعَكُمۡ شُفَعَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُمۡ أَنَّهُمۡ فِيكُمۡ شُرَكَٰٓؤُاْۚ لَقَد تَّقَطَّعَ بَيۡنَكُمۡ وَضَلَّ عَنكُم مَّا كُنتُمۡ تَزۡعُمُونَ ﴿٩٤﴾

(94) او يقينًا يقينًا تاسو مونږ ته يواځې يواځې (ځانله، ځانله) راغلئ، لکه څنګه چې مونږ تاسو اول ځلي پيدا کړي وئ، او تاسو هغه څه د خپلو شاګانو شا ته پرېښودل چې مونږ تاسو ته درکړي وو او مونږ له تاسو سره ستاسو هغه سفارشيان نه وينو چې تاسو به دعوا کوله چې بې له شکه دغه په تاسو کې شريك دي، يقينًا يقينًا ستاسو خپل مينځي تعلق پرې شو او له تاسو نه هغه څه ورك شول چې تاسو به (سفارشيان) ګڼل

۞إِنَّ ٱللَّهَ فَالِقُ ٱلۡحَبِّ وَٱلنَّوَىٰۖ يُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ وَمُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتِ مِنَ ٱلۡحَيِّۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ تُؤۡفَكُونَ ﴿٩٥﴾

(95) بېشکه الله د دانې او زړي چوونکی دی، ژوندی له مړي څخه راوباسي او له ژوندي څخه د مړي راوېستونکی دی، همدغه الله دی، نو کوم طرف ته تاسو ګرځولی شئ!

فَالِقُ ٱلۡإِصۡبَاحِ وَجَعَلَ ٱلَّيۡلَ سَكَنٗا وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ حُسۡبَانٗاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ٩٦

(96) د سبا (د رڼا) چوونکی دی او شپه یې د ارام ذریعه ګرځولې ده او لمرسترګه او سپوږمی یې د حساب ذریعې ګرځولي دي، دا د ښه غالب، ښه پوه ذات اندازه کول دي

وَهُوَ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلنُّجُومَ لِتَهۡتَدُواْ بِهَا فِي ظُلُمَٰتِ ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِۗ قَدۡ فَصَّلۡنَا ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ٩٧

(97) او دی همغه ذات دی چې ستاسو لپاره یې ستوري پیدا کړي دي، د دې لپاره چې تاسو د هغو په ذریعې سره د وچې او سمندر په تیارو کې لار ومومئ، یقیناً مونږ ایتونه ښه واضحه بیان کړي دي د هغه قوم لپاره چې پوهیږي

وَهُوَ ٱلَّذِيٓ أَنشَأَكُم مِّن نَّفۡسٖ وَٰحِدَةٖ فَمُسۡتَقَرّٞ وَمُسۡتَوۡدَعٞۗ قَدۡ فَصَّلۡنَا ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَفۡقَهُونَ ٩٨

(98) او دی همغه ذات دی چې تاسو یې له یو نفس څخه پیدا کړئ، نو (تاسو لپاره) یو قرارځای او یو امانتځای دی، یقیناً مونږ ایتونه ښه واضحه بیان کړي دي د هغه قوم لپاره چې ښه پوهیږي

وَهُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَخۡرَجۡنَا بِهِۦ نَبَاتَ كُلِّ شَيۡءٖ فَأَخۡرَجۡنَا مِنۡهُ خَضِرٗا نُّخۡرِجُ مِنۡهُ حَبّٗا مُّتَرَاكِبٗا وَمِنَ ٱلنَّخۡلِ مِن طَلۡعِهَا قِنۡوَانٞ دَانِيَةٞ وَجَنَّٰتٖ مِّنۡ

(99) او دی همغه ذات دی چې له بره نه یې اوبه نازلې کړې دي، بیا مونږ په هغو سره د هر شي زرغونه راوښکلې ده، بیا مونږ له هغې (زرغونې) څخه شینکی راوښکلی دی، چې له دې (شینکي) نه مونږ پر یو بل سَوري داني راوباسو او له کجورې څخه د هغې له کڅوړو

أَعۡنَابٖ وَٱلزَّيۡتُونَ وَٱلرُّمَّانَ مُشۡتَبِهٗا وَغَيۡرَ مُتَشَٰبِهٍۗ ٱنظُرُوٓاْ إِلَىٰ ثَمَرِهِۦٓ إِذَآ أَثۡمَرَ وَيَنۡعِهِۦٓۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكُمۡ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿٩٩﴾

نه جوخت او نژدې وړي، او د انګورو باغونه او زيتون او انار چې له يو بل سره څه مشابه وي او څه مشابه نه وي، تاسو د هغې مېوې ته وګورئ کله چې مېوه ونيسي او د هغې پخوالي ته، بېشکه په دې کې خامخا د هغه قوم لپاره نښې دي چې ايمان لري

وَجَعَلُواْ لِلَّهِ شُرَكَآءَ ٱلۡجِنَّ وَخَلَقَهُمۡۖ وَخَرَقُواْ لَهُۥ بَنِينَ وَبَنَٰتِۭ بِغَيۡرِ عِلۡمٖۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٠٠﴾

(100) او دوی له الله سره پېريان شريکان جوړ کړي دي، حال دا چې الله دوی پيدا کړي دي، او دوی بې له پوهې له ځانه، د هغهٔ لپاره زامن او لوڼه راپيداکړې، هغه لره پاکي ده او هغه (الله) له هغو خبرو نه ډېر اوچت دی چې دوی يې بيانوي

بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُۥ وَلَدٞ وَلَمۡ تَكُن لَّهُۥ صَٰحِبَةٞۖ وَخَلَقَ كُلَّ شَيۡءٖۖ وَهُوَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ﴿١٠١﴾

(101) د اسمانونو او ځمکې بې له نمونې پيدا کوونکی دی، د هغه لپاره به اولاد څرنګه وي؟ حال دا چې د هغه لپاره هېڅ ښځه نشته، او هغهٔ، هر شی پيدا کړی دی او هغه په هر شي باندې ښه عالم دی

ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖ فَٱعۡبُدُوهُۚ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٞ ﴿١٠٢﴾

(102) همدغه الله، ستاسو رب دی، له ده نه غير هېڅ لايق د عبادت نشته، د هر شي پيدا کوونکی دی، نو تاسو د هغه عبادت کوئ او هغه په هر شي باندې نګران دی

| | |
|---|---|
| لَّا تُدْرِكُهُ ٱلْأَبْصَـٰرُ وَهُوَ يُدْرِكُ ٱلْأَبْصَـٰرَ ۖ وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلْخَبِيرُ ﴿١٠٣﴾ | (103) سترګې د هغهٔ ادراك نشي كولى او هغه د سترګو ادراك كوي او هغه ډېر باريكبين، ښه خبردار دى |
| قَدْ جَآءَكُم بَصَآئِرُ مِن رَّبِّكُمْ ۖ فَمَنْ أَبْصَرَ فَلِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَنْ عَمِىَ فَعَلَيْهَا ۚ وَمَآ أَنَا۠ عَلَيْكُم بِحَفِيظٍ ﴿١٠٤﴾ | (104) يقينًا تاسو ته د خپل رب له جانبه څرګند دليلونه راغلي دي، نو چا چې بصيرت حاصل كړ، نو د خپل ځان لپاره يې حاصل كړ او څوك چې ړوند شو، نو ضرر يې په همدې نفس باندې دى او زه پر تاسو باندې نګهبان نه يم |
| وَكَذَٰلِكَ نُصَرِّفُ ٱلْـَٔايَـٰتِ وَلِيَقُولُوا۟ دَرَسْتَ وَلِنُبَيِّنَهُۥ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿١٠٥﴾ | (105) او همدارنګه مونږ ايتونه بيانوو او د دې لپاره چې دوى ووايي: تا لوستل زده كړي دي او د دې لپاره چې مونږه دا ښه بيان كړو د هغه قوم لپاره چې پوهېږي |
| ٱتَّبِعْ مَآ أُوحِىَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ ۖ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ وَأَعْرِضْ عَنِ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٠٦﴾ | (106) ته پيروي كوه د هغه شي چې تا ته د خپل رب له جانبه وحي كولى شي، نشته حق معبود مګر همغه دى او ته له مشركانو څخه مخ واړوه |
| وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَآ أَشْرَكُوا۟ ۗ وَمَا جَعَلْنَـٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا ۖ وَمَآ أَنتَ عَلَيْهِم بِوَكِيلٍ ﴿١٠٧﴾ | (107) او كه چېرې الله غوښتلى (،) نو دوى به شرك نه و كړى او ته مونږ په دوى باندې ساتونكى (نګران) نه يې ګرځولى او نه ته يې |

په دوی باندې نګران

وَلَا تَسُبُّواْ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ فَيَسُبُّواْ ٱللَّهَ عَدۡوَۢا بِغَيۡرِ عِلۡمٖۗ كَذَٰلِكَ زَيَّنَّا لِكُلِّ أُمَّةٍ عَمَلَهُمۡ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِم مَّرۡجِعُهُمۡ فَيُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٠٨

**(108)** او (ای مومنانو!) تاسو هغو (معبودانو) ته کنځلې مه کوئ چې دغه خلق یې له الله نه غیر بلي، نو دوی به په ناحقه سره، بې له پوهې، الله ته کنځل وکړي، همدارنګه مونږ د هر امت لپاره د هغوی عملونه ښایسته کړي دي، بیا خاص خپل رب ته د دوی واپسي ده، نو هغه به دوی ته د هغو عملونو خبر ورکړي چې دوی به کول

وَأَقۡسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهۡدَ أَيۡمَٰنِهِمۡ لَئِن جَآءَتۡهُمۡ ءَايَةٞ لَّيُؤۡمِنُنَّ بِهَاۚ قُلۡ إِنَّمَا ٱلۡأٓيَٰتُ عِندَ ٱللَّهِۖ وَمَا يُشۡعِرُكُمۡ أَنَّهَآ إِذَا جَآءَتۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ١٠٩

**(109)** او دوی د الله قسمونه وخوړل، پاخه قسمونه چې که چېرې دوی ته مُعجِزه راشي، نو پر هغې به خامخا لازمًا ایمان راوړي، ته (ورته) ووایه: بېشکه همدا خبره ده چې مُعجِزې له الله سره دي او تاسو پر دې څه شي پوه کړئ چې بېشکه دغه مُعْجِزه چې کله راشي (بیا به هم) دوی ایمان نه راوړي

وَنُقَلِّبُ أَفۡـِٔدَتَهُمۡ وَأَبۡصَٰرَهُمۡ كَمَا لَمۡ يُؤۡمِنُواْ بِهِۦٓ أَوَّلَ مَرَّةٖ وَنَذَرُهُمۡ فِي طُغۡيَٰنِهِمۡ يَعۡمَهُونَ ١١٠

**(110)** او مونږ د دوی زړونه او د دوی سترګې اړوو، لکه څنګه چې دوی په اول وارې په دې (نورو معجزاتو) باندې ایمان رانه وړ، او مونږ دوی په خپله سرکشۍ کې پرېږدو، چې سرګردانه دي

۞وَلَوۡ أَنَّنَا نَزَّلۡنَآ إِلَيۡهِمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ
وَكَلَّمَهُمُ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَحَشَرۡنَا عَلَيۡهِمۡ
كُلَّ شَيۡءٖ قُبُلٗا مَّا كَانُواْ لِيُؤۡمِنُوٓاْ
إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ وَلَٰكِنَّ
أَكۡثَرَهُمۡ يَجۡهَلُونَ ١١١

**(111)** او كه مونږ دوى ته ملايك واقعاً نازل كړي وى او له دوى سره مړيو خبري كړي وى او مونږ هر شى دوى ته مخامخ راجمع كړى وى، (بيا هم) دوى (داسې) نه وو چې ايمان يې راوړى وى مگر دا چې كه الله وغواړي، او لېكن د دوى زياتره خلق جهالت كوي

وَكَذَٰلِكَ جَعَلۡنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوّٗا
شَيَٰطِينَ ٱلۡإِنسِ وَٱلۡجِنِّ يُوحِي
بَعۡضُهُمۡ إِلَىٰ بَعۡضٖ زُخۡرُفَ ٱلۡقَوۡلِ
غُرُورٗاۚ وَلَوۡ شَآءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوهُۖ
فَذَرۡهُمۡ وَمَا يَفۡتَرُونَ ١١٢

**(112)** او همدارنگه مونږ د هر نبي لپاره انساني او جني شيطانان، دښمنان گرځولي وو، چې د دغو ځينو به ځينو نورو ته ښايسته كړى شوي خبري د دوكه كولو (غولولو) لپاره ور اچولي او كه چېري ستا رب، غوښتلى (، نو) دوى به دا (كار) نه و كړى، نو ته دوى پرېږده او هغه هم چې دوى له خپله ځانه څه دروغ جوړوي

وَلِتَصۡغَىٰٓ إِلَيۡهِ أَفۡـِٔدَةُ ٱلَّذِينَ لَا
يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ وَلِيَرۡضَوۡهُ
وَلِيَقۡتَرِفُواْ مَا هُم مُّقۡتَرِفُونَ ١١٣

**(113)** او دا د دې لپاره چې دې (دروغو) ته د هغو خلقو زړونه مايل شي چې پر اخرت ايمان نه راوړي او د دې لپاره چې دوى دا خوښ كړي او د دې لپاره چې دوى هغه (گناهونه) وكړي چې دوى يې كوونكي دي

أَفَغَيۡرَ ٱللَّهِ أَبۡتَغِي حَكَمٗا وَهُوَ
ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ إِلَيۡكُمُ ٱلۡكِتَٰبَ

**(114)** ايا نو زه له الله نه سِوا بل كوم حَكم (عادل قاضي) ولټوم، حال دا چې همغه دى

مُفَصَّلٗاۚ وَٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ يَعۡلَمُونَ أَنَّهُۥ مُنَزَّلٞ مِّن رَّبِّكَ بِٱلۡحَقِّۖ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمُمۡتَرِينَ ١١٤

چې تاسو ته يې كتاب نازل كړى دى، چې ښه تفصيل يې شوى دى او هغه كسان چې مونږ هغوى ته (له ده نه مخكې) كتاب وركړى دى؛ هغوى پوهېږي چې بېشكه دا ستا د رب له جانبه په حقه سره نازل كړى شوى دى، نو ته هېڅ كله هم له شك كوونكو ځنې مه كېږه

وَتَمَّتۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدۡقٗا وَعَدۡلٗاۚ لَّا مُبَدِّلَ لِكَلِمَٰتِهِۦۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ١١٥

(115) او د رښتينولى او عدل له لحاظه ستا د رب خبره كمال ته رسېدلې ده، د هغهٔ كلماتو لره هيڅوك بدلوونكى نشته،او همغه ښه اورېدونكى، ښه عالم دى

وَإِن تُطِعۡ أَكۡثَرَ مَن فِي ٱلۡأَرۡضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَإِنۡ هُمۡ إِلَّا يَخۡرُصُونَ ١١٦

(116) او كه چېرې ته اطاعت وكړې د هغو كسانو د اكثريت چې په ځمكه كې دي (، نو) دوى به تا د الله له لارې نه واړوي، دوى يواځې د گمان پيروي كوي او دوى يواځې اټكل چلوي

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ مَن يَضِلُّ عَن سَبِيلِهِۦۖ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ ١١٧

(117) بېشكه ستا رب پر هغه چا ښه پوه دى چې د هغه له لارې نه گمراه كېږي او هغه په هدايت موندونكو (هم) ښه پوه دى

فَكُلُواْ مِمَّا ذُكِرَ ٱسۡمُ ٱللَّهِ عَلَيۡهِ إِن كُنتُم بِـَٔايَٰتِهِۦ مُؤۡمِنِينَ ١١٨

(118) نو تاسو له هغې (مذبوحې) څخه خورئ چې پر هغې د الله نوم ياد كړى شوى

وي، كه چېرې تاسو يئ چې د هغه پر ايتونو ايمان لرونكي يئ

وَمَا لَكُمۡ أَلَّا تَأۡكُلُواْ مِمَّا ذُكِرَ ٱسۡمُ ٱللَّهِ عَلَيۡهِ وَقَدۡ فَصَّلَ لَكُم مَّا حَرَّمَ عَلَيۡكُمۡ إِلَّا مَا ٱضۡطُرِرۡتُمۡ إِلَيۡهِۗ وَإِنَّ كَثِيرٗا لَّيُضِلُّونَ بِأَهۡوَآئِهِم بِغَيۡرِ عِلۡمٍۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُعۡتَدِينَ ١١٩

(119) او پر تاسو څه شوي دي چې له هغې (مذبوحې) څخه به خوراك نه كوئ چې پر هغې د الله نوم ياد كړى شوى وي او يقينًا الله تاسو ته هغه څه واضح كړي دي چې پر تاسو يې حرام كړي دي، سِوا له هغو (څيزونو) نه چې تاسو هغو ته مجبور كړى شئ، او بېشكه ډېر خلق، خامخا د خپلو خواهشاتو په ذريعې سره، بې له پوهې نه (خلقو لره) گمراه كوي، بېشكه ستا رب، هغه پر زياتي كوونكو ښه پوه دى

وَذَرُواْ ظَٰهِرَ ٱلۡإِثۡمِ وَبَاطِنَهُۥٓۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡسِبُونَ ٱلۡإِثۡمَ سَيُجۡزَوۡنَ بِمَا كَانُواْ يَقۡتَرِفُونَ ١٢٠

(120) او تاسو ښكاره او پټ ټول گناهونه پرېږدئ، بېشكه هغه كسان چې گناه كوي، ژر ده چې دوى ته به سزا وركړى شي د هغو (گناهونو) په سبب چې دوى به كولې

وَلَا تَأۡكُلُواْ مِمَّا لَمۡ يُذۡكَرِ ٱسۡمُ ٱللَّهِ عَلَيۡهِ وَإِنَّهُۥ لَفِسۡقٞۗ وَإِنَّ ٱلشَّيَٰطِينَ لَيُوحُونَ إِلَىٰٓ أَوۡلِيَآئِهِمۡ لِيُجَٰدِلُوكُمۡۖ وَإِنۡ أَطَعۡتُمُوهُمۡ

(121) او تاسو له هغې (مذبوحې) څخه خوراك مه كوئ چې پر هغې باندې د الله نوم نه وي ياد كړى شوى او بېشكه دا (خوراك كول) خامخا فسق او نافرماني ده او بېشكه يقينًا شيطانان خپلو دوستانو ته وسوسې

إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ ﴿١٢١﴾

اچوي، د دې لپاره چې له تاسو سره جګړه وکړي او که چېرې تاسو د هغوی اطاعت وکړئ، (بیا نو) ببشکه تاسو (هم) خامخا مشرکان یئ

أَوَمَن كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَٰهُ وَجَعَلْنَا لَهُۥ نُورًا يَمْشِي بِهِۦ فِي ٱلنَّاسِ كَمَن مَّثَلُهُۥ فِي ٱلظُّلُمَٰتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَاۚ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلْكَٰفِرِينَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٢٢﴾

(122) ایا هغه څوك چې(مخكې) مړ و، بیا مونږ هغه ته ژوند وركړ او مونږ هغه ته رڼا عطا كړه چې د هغې په رڼا سره به هغه په خلقو كې ګرځي راګرځي؛ د هغه كس په شان دى چې د هغه حال داسې وي چې هغه په تیارو كې پروت وي، له هغو نه كله هم وتونكى نه وي، همدارنګه د كافرانو لپاره هغه عملونه ښایسته كړى شوي دي چې دوى یې كوي

وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا فِي كُلِّ قَرْيَةٍ أَكَٰبِرَ مُجْرِمِيهَا لِيَمْكُرُوا۟ فِيهَاۖ وَمَا يَمْكُرُونَ إِلَّا بِأَنفُسِهِمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿١٢٣﴾

(123) او همدارنګه مونږ په هر كلي كې د هغه (كلي) مجرمان، مشران ګرځولي دي، د دې لپاره چې دوى په هغه (كلي) كې مكر (فریب) وكړي او دوى یوائې له خپلو ځانونو سره مكر كوي، په دې حال كې چې دوى شعور نه لري

وَإِذَا جَآءَتْهُمْ ءَايَةٌ قَالُوا۟ لَن نُّؤْمِنَ حَتَّىٰ نُؤْتَىٰ مِثْلَ مَآ أُوتِيَ رُسُلُ ٱللَّهِ ٱللَّهُ أَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ

(124) او كله چې دوى ته كومه نښه راشي، دوى وایي: هیڅكله به مونږ ایمان رانه وړو تر هغه پورې چې مونږ ته راكړى شي په شان د

رِسَالَتَهُۥۗ سَيُصِيبُ ٱلَّذِينَ أَجْرَمُواْ صَغَارٌ عِندَ ٱللَّهِ وَعَذَابٌ شَدِيدُۢ بِمَا كَانُواْ يَمْكُرُونَ ﴿١٢٤﴾

هغو (نبنو) چې د الله رسولانو ته ورکړی شوي دي، الله ښه عالم دی پر هغه ځای چې (هلته) خپل رسالت ږدي، ژر به هغو کسانو ته چې جرم يې کړی دی د الله په نيز ذلت ورسېږي او ډېر سخت عذاب، په سبب د هغه مکر چې دوی به کاوه

فَمَن يُرِدِ ٱللَّهُ أَن يَهْدِيَهُۥ يَشْرَحْ صَدْرَهُۥ لِلْإِسْلَٰمِۖ وَمَن يُرِدْ أَن يُضِلَّهُۥ يَجْعَلْ صَدْرَهُۥ ضَيِّقًا حَرَجًا كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي ٱلسَّمَآءِۚ كَذَٰلِكَ يَجْعَلُ ٱللَّهُ ٱلرِّجْسَ عَلَى ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٢٥﴾

(125) نو هغه څوك چې الله هغهٔ ته د هدايت کولو اراده وکړي، (نو) د هغهٔ سينه د اسلام لپاره فراخه کړي او هغه څوك چې هغه يې د گمراه کولو اراده وکړي ()، نو) د هغهٔ سينه تنگه کړي، ښخي تنگه، گويا کې هغه پورته اسمان ته په سختۍ سره خېژي، همدارنگه الله پليتي (عذاب) اچوي په هغو کسانو باندې چې ايمان نه راوړي

وَهَٰذَا صِرَٰطُ رَبِّكَ مُسْتَقِيمًاۗ قَدْ فَصَّلْنَا ٱلْأٓيَٰتِ لِقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٢٦﴾

(126) او دا ستا د رب لار ده، چې نېغه ده، يقينًا مونږ ايتونه واضحه بيان کړي دي، د هغه قوم لپاره چې نصيحت اخلي

۞لَهُمْ دَارُ ٱلسَّلَٰمِ عِندَ رَبِّهِمْۖ وَهُوَ وَلِيُّهُم بِمَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ﴿١٢٧﴾

(127) د دوی لپاره د خپل رب په نيز د سلامتۍ کور دی او هغه د دوی مددگار دی، په سبب د هغو عملونو چې دوی به کول

وَيَوۡمَ يَحۡشُرُهُمۡ جَمِيعٗا يَٰمَعۡشَرَ
ٱلۡجِنِّ قَدِ ٱسۡتَكۡثَرۡتُم مِّنَ ٱلۡإِنسِۖ
وَقَالَ أَوۡلِيَآؤُهُم مِّنَ ٱلۡإِنسِ رَبَّنَا
ٱسۡتَمۡتَعَ بَعۡضُنَا بِبَعۡضٖ وَبَلَغۡنَآ
أَجَلَنَا ٱلَّذِيٓ أَجَّلۡتَ لَنَاۚ قَالَ ٱلنَّارُ
مَثۡوَىٰكُمۡ خَٰلِدِينَ فِيهَآ إِلَّا مَا
شَآءَ ٱللَّهُۚ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ
عَلِيمٞ ١٢٨

**(128)** او په هغې ورځ کې چې هغه به دوی ټول راجمع کړي (او ورته وبه وايي:) ای د پېريانو ډلې! تاسو له انسانانو څخه يقيناً ډېر راخپل (او بې لارې) کړل او د دوی هغه دوستان به، چې له انسانانو څخه دي؛ ووايي: ای زمونږ ربه! زمونږ ځينو له ځينو نورو نه فايده واخيسته او مونږ هغې نېټې ته ورسېدو کومه چې تا زمونږ لپاره مقرر کړې وه، الله به (دوی ته) ووايي: ستاسو ځای اور دی، چې په هغه کې به همېشه يئ مگر هغه چې الله وغواړي، بېشکه ستا رب ښه حکمت والا، ښه پوه دی

وَكَذَٰلِكَ نُوَلِّي بَعۡضَ ٱلظَّٰلِمِينَ
بَعۡضَۢا بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ١٢٩

**(129)** او همدارنگه مونږ ځينې ظالمان پر ځينو نورو مسلط کوو، په سبب د هغو عملونو چې دوی به کول

يَٰمَعۡشَرَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ أَلَمۡ
يَأۡتِكُمۡ رُسُلٞ مِّنكُمۡ يَقُصُّونَ
عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتِي وَيُنذِرُونَكُمۡ
لِقَآءَ يَوۡمِكُمۡ هَٰذَاۚ قَالُواْ شَهِدۡنَا
عَلَىٰٓ أَنفُسِنَاۖ وَغَرَّتۡهُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ
ٱلدُّنۡيَا وَشَهِدُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ أَنَّهُمۡ

**(130)** ای د پېريانو او انسانانو ډلې! ايا تاسو ته له هم تاسو نه رسولان نه وو راغلي چې تاسو ته به يې زما ايتونه بيانول او تاسو به يې د خپلې دې ورځې له ملاقات نه وېرولئ؟ دوی به ووايي: مونږ د خپلو ځانونو په خلاف گواهي کوو او دوی دنيايي ژوند دوکه کړي وو

كَانُواْ كَٰفِرِينَ ﴿١٣٠﴾

او دوی به د خپلو ځانونو په خلاف ګواهي ورکړي چې ببشکه دوی کافران وو

ذَٰلِكَ أَن لَّمۡ يَكُن رَّبُّكَ مُهۡلِكَ ٱلۡقُرَىٰ بِظُلۡمٍ وَأَهۡلُهَا غَٰفِلُونَ ﴿١٣١﴾

(131) دا (د رسولانو لېږل) د دې لپاره (دي) چې ستا رب د ظلم په وجه د کليو هلاکوونکی نه دی، په دې حال کې چې د هغو اوسېدونکي ناخبره وي

وَلِكُلّٖ دَرَجَٰتٞ مِّمَّا عَمِلُواْۚ وَمَا رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ عَمَّا يَعۡمَلُونَ ﴿١٣٢﴾

(132) او د هر چا لپاره درجې دي له هغو اعمالو نه چې دوی کړي دي، او ستا رب له هغو عملونو نه چې دوی يې کوي؛ کله هم غافل نه دی

وَرَبُّكَ ٱلۡغَنِيُّ ذُو ٱلرَّحۡمَةِۚ إِن يَشَأۡ يُذۡهِبۡكُمۡ وَيَسۡتَخۡلِفۡ مِنۢ بَعۡدِكُم مَّا يَشَآءُ كَمَآ أَنشَأَكُم مِّن ذُرِّيَّةِ قَوۡمٍ ءَاخَرِينَ ﴿١٣٣﴾

(133) او هم ستا رب ښه بې پروا، (او) رحمت والا دی، که چېرې هغه وغواړي (، نو) تاسو به بوځي او له تاسو وروسته به هغه (خلق) ځای نيوونکي کړي چې يې وغواړي، لکه څنګه چې يې تاسو د بل قوم له اولادې نه پيدا کړئ

إِنَّ مَا تُوعَدُونَ لَأٓتٖۖ وَمَآ أَنتُم بِمُعۡجِزِينَ ﴿١٣٤﴾

(134) ببشکه هغه چې له تاسو سره يې وعده کولی شي، يقيناً راتلونکی دی او تاسو کله هم (الله لره) عاجزه کوونکي نه يئ

قُلۡ يَٰقَوۡمِ ٱعۡمَلُواْ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمۡ إِنِّي عَامِلٞۖ فَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ مَن

(135) ته ووايه: ای زما قومه! تاسو په خپل حالت باندې عمل کوئ، ببشکه زه (هم) عمل

تَكُونُ لَهُۥ عَٰقِبَةُ ٱلدَّارِۚ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ ١٣٥

كوونكى يم، پس تاسو به ژر پوه شئ چې څوك دى چې د هغه لپاره به د اخرت (ښه) انجام وي، بېشكه حقيقت دا دى چې ظالمان برى نه مومي

وَجَعَلُواْ لِلَّهِ مِمَّا ذَرَأَ مِنَ ٱلۡحَرۡثِ وَٱلۡأَنۡعَٰمِ نَصِيبٗا فَقَالُواْ هَٰذَا لِلَّهِ بِزَعۡمِهِمۡ وَهَٰذَا لِشُرَكَآئِنَاۖ فَمَا كَانَ لِشُرَكَآئِهِمۡ فَلَا يَصِلُ إِلَى ٱللَّهِۖ وَمَا كَانَ لِلَّهِ فَهُوَ يَصِلُ إِلَىٰ شُرَكَآئِهِمۡۗ سَآءَ مَا يَحۡكُمُونَ ١٣٦

(136) او دغو د الله لپاره په هغو څيزونو كې برخه مقرر كړه چې هغه پيدا كړي دي، چې فصل او څاروي دي، نو وايي: دا د الله لپاره دي، د دوى په عقيده، او دا زمونږ د شريكانو لپاره دي، نو هغه چې د دوى د شريكانو لپاره وي، نو هغه خو الله ته نه رسېږي او هغه چې د الله لپاره وي، نو هغه د دوى شريكانو ته رسېږي، بده ده هغه فيصله چې دوى يې كوي

وَكَذَٰلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيرٖ مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ قَتۡلَ أَوۡلَٰدِهِمۡ شُرَكَآؤُهُمۡ لِيُرۡدُوهُمۡ وَلِيَلۡبِسُواْ عَلَيۡهِمۡ دِينَهُمۡۖ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا فَعَلُوهُۖ فَذَرۡهُمۡ وَمَا يَفۡتَرُونَ ١٣٧

(137) او همدارنگه د ډېرو مشركانو لپاره د هغوى شريكانو د خپل اولاد وژل ښايسته كړي دي، د دې لپاره چې هغوى (شريكان)دوى هلاك كړي او د دې لپاره چې په دوى باندې خپل دين گډوډ كړي او كه چېرې الله غوښتلى (،نو) دوى به دا (كار) نه و كړى، نو ته پرېږده دوى او هغه چې دوى دروغ جوړوي

وَقَالُواْ هَٰذِهِۦٓ أَنۡعَٰمٞ وَحَرۡثٌ حِجۡرٞ
لَّا يَطۡعَمُهَآ إِلَّا مَن نَّشَآءُ بِزَعۡمِهِمۡ
وَأَنۡعَٰمٌ حُرِّمَتۡ ظُهُورُهَا وَأَنۡعَٰمٞ لَّا
يَذۡكُرُونَ ٱسۡمَ ٱللَّهِ عَلَيۡهَا ٱفۡتِرَآءً
عَلَيۡهِۚ سَيَجۡزِيهِم بِمَا كَانُواْ
يَفۡتَرُونَ ١٣٨

(138) او دوی وايي: دا ځينې څاروي او فصلونه دي، چې ممنوع دي، دا به نه خوري مگر هغه څوک چې مونږ يې وغواړو، د دوی په عقيده، او څه څاروي دي چې د هغو شاګاني منع کړی شوي دي (سوربېدل او بار وړل پرې بند دي)، او څه څاروي دي چې دوی په هغو باندې د الله نوم نه يادوي،(او دا) په الله باندې د دروغو تپلو لپاره(کوي)، ضرور به الله دوی ته سزا ورکړي، په سبب د هغو دروغو چې دوی به جوړول

وَقَالُواْ مَا فِي بُطُونِ هَٰذِهِ ٱلۡأَنۡعَٰمِ
خَالِصَةٞ لِّذُكُورِنَا وَمُحَرَّمٌ عَلَىٰٓ
أَزۡوَٰجِنَاۖ وَإِن يَكُن مَّيۡتَةٗ فَهُمۡ
فِيهِ شُرَكَآءُۚ سَيَجۡزِيهِمۡ وَصۡفَهُمۡۚ
إِنَّهُۥ حَكِيمٌ عَلِيمٞ ١٣٩

(139) او دوی وايي: هغه چې د دې څارويو په ګېډو کې دي (هغه) زمونږ د نرانو لپاره خالص دي او زمونږ پر ښځو باندې حرام دي او که چېرې هغه مردار وي، نو دوی (نر او ښځه) په هغه کې شريکان دي، ژر به الله دوی ته د خپل دې بيان سزا ورکړي، بېشکه هغه ښه حکمت والا، ښه عالم دی

قَدۡ خَسِرَ ٱلَّذِينَ قَتَلُوٓاْ أَوۡلَٰدَهُمۡ
سَفَهَۢا بِغَيۡرِ عِلۡمٖ وَحَرَّمُواْ مَا
رَزَقَهُمُ ٱللَّهُ ٱفۡتِرَآءً عَلَى ٱللَّهِۚ قَدۡ
ضَلُّواْ وَمَا كَانُواْ مُهۡتَدِينَ ١٤٠

(140) هغه کسان يقينًا تاوانيان شول چې خپل اولادونه يې قتل کړل، په دې حال کې چې بېوقوفان وو (او) بې پوهې وو او حرام يې کړل هغه څه چې الله دوی ته ورکړي وو، په

الله باندې يې دروغ وتړل، يقيناً دوی گمراه
شول او دوی هدايت موندونکي نه وو

۞وَهُوَ ٱلَّذِيٓ أَنشَأَ جَنَّٰتٖ
مَّعۡرُوشَٰتٖ وَغَيۡرَ مَعۡرُوشَٰتٖ
وَٱلنَّخۡلَ وَٱلزَّرۡعَ مُخۡتَلِفًا أُكُلُهُۥ
وَٱلزَّيۡتُونَ وَٱلرُّمَّانَ مُتَشَٰبِهٗا وَغَيۡرَ
مُتَشَٰبِهٖۚ كُلُواْ مِن ثَمَرِهِۦٓ إِذَآ أَثۡمَرَ
وَءَاتُواْ حَقَّهُۥ يَوۡمَ حَصَادِهِۦۖ وَلَا
تُسۡرِفُوٓاْۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ
ٱلۡمُسۡرِفِينَ ١٤١

**(141)** او دی همغه ذات دی چې باغونه يې
پيدا کړي دي، چې په څپرونو خپژول شوي
دي او چې په څپرونو نه دي خپژول شوي او د
کجورو ونې او فصل (يې پيدا کړي دي) چې
د هغو مېوې مختلفې وي او زيتون او انار (يې
پيدا کړي دي) چې(ځينې) په خپلو کې يو
شان وي او ځينې غير مُشابه هم وي، تاسو د
هغو(ونو) له مېوو څخه خورئ! کله چې مېوه
وکړي او د هغۀ حق (عشر، زکات) د رېبلو په
ورځ ورکړئ، او تاسو اسراف مه کوئ، بېشکه
الله اسراف کوونکي نه خوښوي

وَمِنَ ٱلۡأَنۡعَٰمِ حَمُولَةٗ وَفَرۡشٗاۚ كُلُواْ
مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ وَلَا تَتَّبِعُواْ
خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ إِنَّهُۥ لَكُمۡ
عَدُوّٞ مُّبِينٞ ١٤٢

**(142)** او (پيدا کړي يې دي) په څارويو کې
بار وړونکي او وړوکي (څاروي، نو) تاسو له
هغو څني خورئ چې الله تاسو ته درکړي دي
او تاسو د شيطان د قدمونو پيروي مه کوئ،
بېشکه هغه ستاسو ښکاره دښمن دی

ثَمَٰنِيَةَ أَزۡوَٰجٖۖ مِّنَ ٱلضَّأۡنِ ٱثۡنَيۡنِ
وَمِنَ ٱلۡمَعۡزِ ٱثۡنَيۡنِۗ قُلۡ ءَآلذَّكَرَيۡنِ
حَرَّمَ أَمِ ٱلۡأُنثَيَيۡنِ أَمَّا ٱشۡتَمَلَتۡ

**(143)** (الله پيدا کړي دي حلال څاروي) اته
جوړې (قسمونه)، له گډو نه دوه (نر او ښځه)
او له چېلو (بزو) نه دوه (نر او ښځه)، ته (دوی

عَلَيۡهِ أَرۡحَامُ ٱلۡأُنثَيَيۡنِۖ نَبِّـُٔونِي بِعِلۡمٍ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ١٤٣

ته) وواېه: ايا الله دواړه نران حرام کړي دي، يا دواړه ښځې، يا هغه (بچي) چې د دواړو ښځو (ګډې او چېلۍ) رحمونه په هغو مشتمل وي، تاسو ما ته په علم سره خبر راکړئ، که چېرې تاسو رښتيني يئ

وَمِنَ ٱلۡإِبِلِ ٱثۡنَيۡنِ وَمِنَ ٱلۡبَقَرِ ٱثۡنَيۡنِۗ قُلۡ ءَآلذَّكَرَيۡنِ حَرَّمَ أَمِ ٱلۡأُنثَيَيۡنِ أَمَّا ٱشۡتَمَلَتۡ عَلَيۡهِ أَرۡحَامُ ٱلۡأُنثَيَيۡنِۖ أَمۡ كُنتُمۡ شُهَدَآءَ إِذۡ وَصَّىٰكُمُ ٱللَّهُ بِهَٰذَاۚ فَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗا لِّيُضِلَّ ٱلنَّاسَ بِغَيۡرِ عِلۡمٍۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٤٤

(144) او (پیدا کړي يې دي) له اوښانو نه دوه (نر او ښځه) او له غوايانو نه دوه (نر او ښځه) ته وواېه: ايا الله دواړه نران حرام کړي دي، يا دواړه ښځې، يا هغه (بچي) چې د دواړو ښځو (اوښې او غوا) رحمونه په هغو مشتمل وي، ايا تاسو حاضر وَئ کله چې الله تاسو ته د دې وصيت کاوه، نو له هغه چا نه لوی ظالم (بل) څوك دی چې په الله باندې دروغ تړي، د دې لپاره چې بې له علمه خلق ګمراه کړي، بېشکه الله ظالم قوم ته نېغه لار نه ښيي

قُل لَّآ أَجِدُ فِي مَآ أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَىٰ طَاعِمٖ يَطۡعَمُهُۥٓ إِلَّآ أَن يَكُونَ مَيۡتَةً أَوۡ دَمٗا مَّسۡفُوحًا أَوۡ لَحۡمَ خِنزِيرٖ فَإِنَّهُۥ رِجۡسٌ أَوۡ فِسۡقًا أُهِلَّ لِغَيۡرِ ٱللَّهِ بِهِۦۚ فَمَنِ

(145) (ای نبي!) دوی ته وواېه: زه نه مومم (هېڅ څيز) په هغه (شريعت) کې چې ما ته وحي کړی شوی دی په کوم خوړونکي باندې حرام کړی شوی، چې هغه يې خوري مګر دا چې هغه (څيز) مرداره وي، يا بهَول شوي وينه، يا د خنزير غوښه، نو هغه خو پليتي ده،

ٱضۡطُرَّ غَيۡرَ بَاغٖ وَلَا عَادٖ فَإِنَّ
رَبَّكَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿١٤٥﴾

يا (هغه څيز) نافرماني وي چې پر هغې د غير الله لپاره اواز اوچت کړی شوی وي، نو هغه څوك چې ناچاره شي، چې نه زياتي کوونکی وي او نه له حده تېرېدونکی وي، (نو د هغه لپاره يې خوړل حلال دي) نو بېشکه ستا رب ډېر بخښونکی، بې حده مهربان دی

وَعَلَى ٱلَّذِينَ هَادُواْ حَرَّمۡنَا كُلَّ ذِي
ظُفُرٖۖ وَمِنَ ٱلۡبَقَرِ وَٱلۡغَنَمِ حَرَّمۡنَا
عَلَيۡهِمۡ شُحُومَهُمَآ إِلَّا مَا حَمَلَتۡ
ظُهُورُهُمَآ أَوِ ٱلۡحَوَايَآ أَوۡ مَا
ٱخۡتَلَطَ بِعَظۡمٖۚ ذَٰلِكَ جَزَيۡنَٰهُم
بِبَغۡيِهِمۡۖ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ﴿١٤٦﴾

**(146)** او پر هغو کسانو باندې چې يهوديان دي، مونږ ټول نوکداره ځاروي حرام کړي وو او له غوايانو او ګډو چېلو نه مونږه پر هغوی باندې د هغو دواړو وازدې حرامې کړې وې، سِوا له هغو نه چې د هغو شاګانو پورته کړې وي، يا کُلمو، يا هغه چې له هډوکو سره لګېدلې وي، دا مونږ هغوی ته د خپلې سرکشۍ سزا ورکړه او بېشکه مونږ خامخا رښتيا ويونکي يو

فَإِن كَذَّبُوكَ فَقُل رَّبُّكُمۡ ذُو
رَحۡمَةٖ وَٰسِعَةٖ وَلَا يُرَدُّ بَأۡسُهُۥ عَنِ
ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿١٤٧﴾

**(147)** نو که چېرې دوی ستا تکذيب وکړي، نو ته ووايه: ستاسو رب د فراخه رحمت والا دی او د هغه عذاب له مجرم قوم نه بېرته نه ګرځول کېږي

سَيَقُولُ ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُواْ لَوۡ شَآءَ
ٱللَّهُ مَآ أَشۡرَكۡنَا وَلَآ ءَابَآؤُنَا وَلَا

**(148)** ژر به هغه کسان ووايي چې شرك يې کړی دی، که چېرې الله غوښتلی (نو) نه به

حَرَّمۡنَا مِن شَيۡءٖۚ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ حَتَّىٰ ذَاقُواْ بَأۡسَنَاۗ قُلۡ هَلۡ عِندَكُم مِّنۡ عِلۡمٖ فَتُخۡرِجُوهُ لَنَآۖ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَإِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا تَخۡرُصُونَ ١٤٨

مونږ شرك كړى و او نه زمونږ پلرونو او نه به مونږ څه شى حرام ګرځولى و، همدارنګه هغو كسانو (هم) تكذيب كړى و چې له دوى نه مخكې وو، تر دې چې هغوى زمونږ عذاب وڅاكه، ته ووايه: ايا تاسو سره څه علم شته چې پس مونږ ته يې راوباسئ، تاسو يواځې د ګمان پيروي كوئ او تاسو يواځې اټكل چلوونكي يئ

قُلۡ فَلِلَّهِ ٱلۡحُجَّةُ ٱلۡبَٰلِغَةُۖ فَلَوۡ شَآءَ لَهَدَىٰكُمۡ أَجۡمَعِينَ ١٤٩

(149) ته ووايه: نو خاص الله لره كامل دليل دى، نو كه هغه غوښتلى تاسو ټول به يې لازمًا پر نېغه لار روان كړي وى

قُلۡ هَلُمَّ شُهَدَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ يَشۡهَدُونَ أَنَّ ٱللَّهَ حَرَّمَ هَٰذَاۖ فَإِن شَهِدُواْ فَلَا تَشۡهَدۡ مَعَهُمۡۚ وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ وَهُم بِرَبِّهِمۡ يَعۡدِلُونَ ١٥٠

(150) ته ووايه: تاسو خپل هغه ګواهان راولئ چې د دې خبرې ګواهي كوي چې بېشكه الله دغه (شيزونه) حرام كړي دي، نو كه هغوى ګواهي وركړي، نو ته له دوى سره ګواهي مه وركوه او ته د هغو خلقو په خواهشاتو پسې مه ځه چې زمونږ ايتونه يې دروغ ګڼلي دي او هغه كسان چې پر اخرت ايمان نه راوړي او هغوى له خپل رب سره (نور شيزونه) برابروي

۞قُلۡ تَعَالَوۡاْ أَتۡلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمۡ عَلَيۡكُمۡۖ أَلَّا تُشۡرِكُواْ بِهِۦ شَيۡـٔٗاۖ

(151) ته ووايه: تاسو راشئ چې زه ولولم هغه څه چې ستاسو رب پر تاسو باندې حرام كړي

وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ إِحۡسَٰنٗاۖ وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ
أَوۡلَٰدَكُم مِّنۡ إِمۡلَٰقٖ نَّحۡنُ
نَرۡزُقُكُمۡ وَإِيَّاهُمۡۖ وَلَا تَقۡرَبُواْ
ٱلۡفَوَٰحِشَ مَا ظَهَرَ مِنۡهَا وَمَا
بَطَنَۖ وَلَا تَقۡتُلُواْ ٱلنَّفۡسَ ٱلَّتِي
حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلۡحَقِّۚ ذَٰلِكُمۡ
وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمۡ
تَعۡقِلُونَ ١٥١

دي، دا چې تاسو له هغه سره هېڅ شی مه شريکوئ او له مور و پلار سره ښېګڼه کوئ، او تاسو خپل اولاد د غريبۍ له وجې مه وژنئ، مونږ تاسو ته روزي درکوو او هغوی ته (هم) او تاسو د بې حيايۍ کارونو ته مه نژدې کېږئ، هغه چې په دغو کې ظاهر دي او هغه چې پټ دي او تاسو هغه نفس مه وژنئ چې الله حرام کړی دی مګر په حقه سره، دا (حکم) چې دی، هغه (الله) تاسو ته د دې کلک حکم درکړی دی، د دې لپاره چې تاسو له عقل نه کار واخلئ

وَلَا تَقۡرَبُواْ مَالَ ٱلۡيَتِيمِ إِلَّا بِٱلَّتِي
هِيَ أَحۡسَنُ حَتَّىٰ يَبۡلُغَ أَشُدَّهُۥۚ
وَأَوۡفُواْ ٱلۡكَيۡلَ وَٱلۡمِيزَانَ بِٱلۡقِسۡطِۖ
لَا نُكَلِّفُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَاۖ وَإِذَا
قُلۡتُمۡ فَٱعۡدِلُواْ وَلَوۡ كَانَ ذَا قُرۡبَىٰۖ
وَبِعَهۡدِ ٱللَّهِ أَوۡفُواْۚ ذَٰلِكُمۡ
وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمۡ
تَذَكَّرُونَ ١٥٢

**(152)** او تاسو د يتيم مال ته نژدې (هم) مه ورځئ مګر په هغې طريقې سره چې تر ټولو ښه وي تر دې چې هغه (يتيم) خپل پوخ والي ته ورسېږي او تاسو پېمانه او تول په انصاف سره پوره ورکوئ، مونږ هېڅ يو نفس د هغه له طاقت نه زيات نه مکلف کوو او کله چې تاسو خبره کوئ، نو عدل کوئ، اګر چې هغه د خپلولۍ والا وي او د الله عهد پوره کوئ، دا (حکم) دی چې الله تاسو ته د دې کلک حکم کړی دی، د دې لپاره چې تاسو نصيحت ومنئ

وَأَنَّ هَٰذَا صِرَٰطِي مُسۡتَقِيمٗا فَٱتَّبِعُوهُۖ وَلَا تَتَّبِعُواْ ٱلسُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمۡ عَن سَبِيلِهِۦۚ ذَٰلِكُمۡ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ﴿١٥٣﴾

(153) او دا چې بېشکه دا زما لار ده، چې نېغه ده، نو تاسو د دې پيروي وکړئ او د (نورو) لارو پيروي مه کوئ، ګنې نو تاسو به (د نورو لارو پيروي) د هغهٔ له لارې نه تار په تار کړي، دا (حکم) دی چې هغه (الله) تاسو ته د دې کلك حکم کړی دی، د دې لپاره چې تاسو پرهېزګاره شئ

ثُمَّ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ تَمَامًا عَلَى ٱلَّذِيٓ أَحۡسَنَ وَتَفۡصِيلٗا لِّكُلِّ شَيۡءٖ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٗ لَّعَلَّهُم بِلِقَآءِ رَبِّهِمۡ يُؤۡمِنُونَ ﴿١٥٤﴾

(154) بیا مونږ موسٰی ته کتاب ورکړ، د نعمت د پوره کولو لپاره پر هغه کس باندې چې نېکي يې وکړه او لپاره د هر شي د تفصيل او هدايت او رحمت، د دې لپاره چې دوی د خپل رب پر ملاقات ايمان راوړي

وَهَٰذَا كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ مُبَارَكٞ فَٱتَّبِعُوهُ وَٱتَّقُواْ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ﴿١٥٥﴾

(155) او دا كتاب دی چې مونږ نازل کړی دی، نو تاسو د ده پيروي وکړئ او پرهېزګاره شئ، د دې لپاره چې پر تاسو رحم وکړی شي

أَن تَقُولُوٓاْ إِنَّمَآ أُنزِلَ ٱلۡكِتَٰبُ عَلَىٰ طَآئِفَتَيۡنِ مِن قَبۡلِنَا وَإِن كُنَّا عَن دِرَاسَتِهِمۡ لَغَٰفِلِينَ ﴿١٥٦﴾

(156) دا چې تاسو ونه وايئ چې همدا خبره ده چې زمونږ نه په مخکېنو دوه ډلو باندې كتاب نازل کړی شوی و، او بېشکه مونږ د هغوی له لوستلو نه يقينًا ناخبره وو

أَوۡ تَقُولُواْ لَوۡ أَنَّآ أُنزِلَ عَلَيۡنَا

(157) يا چې تاسو ونه وايئ: يقينًا كه چېرې

ٱلْكِتَٰبُ لَكُنَّآ أَهْدَىٰ مِنْهُمْ ۚ فَقَدْ جَآءَكُم بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ ۚ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَصَدَفَ عَنْهَا ۗ سَنَجْزِى ٱلَّذِينَ يَصْدِفُونَ عَنْ ءَايَٰتِنَا سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ بِمَا كَانُوا۟ يَصْدِفُونَ ﴿١٥٧﴾

پر مونږه کتاب نازل کړی شوی وَی نو مونږ به لازمًا له دوی نه ښه لارموندونکي وو، نو یقینًا تاسو ته د خپل رب له جانبه ښکاره دلیل راغلی دی او هدایت او رحمت، نو له هغه چا نه لوی ظالم څوك دی چې د الله ایتونه دروغ ګڼي او له هغو نه مخ اړوي؟ عنقریب به مونږ هغو کسانو ته د سخت عذاب سزا ورکړو چې زمونږ له ایتونو نه مخ اړوي، په سبب د هغه چې دوی به اعراض کاوه

هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن تَأْتِيَهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ أَوْ يَأْتِىَ رَبُّكَ أَوْ يَأْتِىَ بَعْضُ ءَايَٰتِ رَبِّكَ ۗ يَوْمَ يَأْتِى بَعْضُ ءَايَٰتِ رَبِّكَ لَا يَنفَعُ نَفْسًا إِيمَٰنُهَا لَمْ تَكُنْ ءَامَنَتْ مِن قَبْلُ أَوْ كَسَبَتْ فِىٓ إِيمَٰنِهَا خَيْرًا ۗ قُلِ ٱنتَظِرُوٓا۟ إِنَّا مُنتَظِرُونَ ﴿١٥٨﴾

(158) دوی انتظار نه کوي مګر د دې چې دوی ته ملایك راشي، یا ستا رب راشي، یا ستا د رب ځینې نښې راشي، په کومه ورځ کې چې ستا د رب ځینې نښې راشي (نو) هېڅ یو نفس ته به د هغه ایمان راوړل فایده ورنه کړي چې له مخکې نه یې ایمان نه وي راوړی، یا یې په خپل ایمان کې څه خیر نه وي ګټلی، ته (دوی ته) ووایه: تاسو انتظار کوئ، بېشکه مونږ (هم) انتظار کوونکي یو

إِنَّ ٱلَّذِينَ فَرَّقُوا۟ دِينَهُمْ وَكَانُوا۟ شِيَعًا لَّسْتَ مِنْهُمْ فِى شَىْءٍ ۚ إِنَّمَآ أَمْرُهُمْ إِلَى ٱللَّهِ ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا

(159) بېشکه هغه کسان چې خپل دین یې تار په تار کړی دی، او دوی فرقي فرقي شول، ته له دوی نه په هېڅ شي کې نه یې، یقینًا خبره همدا ده چې د دوی معامله الله ته

كَانُواْ يَفْعَلُونَ ﴿١٥٩﴾

(سپارل شوې) ده، بیا به هغه دوی ته د هغو کارونو خبر ورکوي چې دوی به کول

مَن جَآءَ بِٱلْحَسَنَةِ فَلَهُۥ عَشْرُ أَمْثَالِهَا ۖ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَىٰٓ إِلَّا مِثْلَهَا وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١٦٠﴾

(160) څوك چې يوه نيكي راوړي، نو د هغه لپاره د هغې لس چنده دي او څوك چې يوه بدي راوړي، نو هغه ته به يوازې د هغې په مثل سزا وركولی شي او پر دوی به ظلم نه كيږي

قُلْ إِنَّنِى هَدَىٰنِى رَبِّىٓ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ دِينًا قِيَمًا مِّلَّةَ إِبْرَٰهِيمَ حَنِيفًا ۚ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٦١﴾

(161) ته ووايه: بېشكه زه (چې يم) ما ته زما رب د نيغې لارې هدايت كړى دى، چې ببخي سم دين دى، د ابراهيم ملت دى، چې يواځې په حق پسې تلونكى و او له مشركانو څخه نه و

قُلْ إِنَّ صَلَاتِى وَنُسُكِى وَمَحْيَاىَ وَمَمَاتِى لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦٢﴾

(162) ته ووايه: بېشكه زما لمونځ او زما قرباني او زما ژوند او زما مرگ خاص د الله رب العلمين لپاره دي

لَا شَرِيكَ لَهُۥ ۖ وَبِذَٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿١٦٣﴾

(163) د هغه هېڅ شريك نشته او ما ته د همدې (توحيد) حكم شوى دى او زه تر ټولو مسلمانانو اول يم

قُلْ أَغَيْرَ ٱللَّهِ أَبْغِى رَبًّا وَهُوَ رَبُّ كُلِّ شَىْءٍ ۚ وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ

(164) ته ووايه: ايا زه له الله نه غير (بل) رب ولټوم، حال دا چې هغه د هر شي رب دى، او

نَفۡسٍ إِلَّا عَلَيۡهَاۚ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ أُخۡرَىٰۚ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُم مَّرۡجِعُكُمۡ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ فِيهِ تَخۡتَلِفُونَ ١٦٤

هېڅ يو نفس (د ګناه) کسب نه کوي مګر د خپل (ځان) په ضرر يې کوي او هېڅ بار وړونکی د بل بار نه پورته کوي، بيا خاص خپل رب ته ستاسو واپس تلل دي، نو هغه به تاسو خبر کړي په هغو کارونو چې تاسو به په هغو کې اختلاف کاوه

وَهُوَ ٱلَّذِي جَعَلَكُمۡ خَلَٰٓئِفَ ٱلۡأَرۡضِ وَرَفَعَ بَعۡضَكُمۡ فَوۡقَ بَعۡضٖ دَرَجَٰتٖ لِّيَبۡلُوَكُمۡ فِي مَآ ءَاتَىٰكُمۡۗ إِنَّ رَبَّكَ سَرِيعُ ٱلۡعِقَابِ وَإِنَّهُۥ لَغَفُورٞ رَّحِيمُۢ ١٦٥

**(165)** او دی همغه ذات دی چې تاسو يې په ځمکه کې خليفګان( ځای ناستي) جوړ کړئ او ستاسو ځينې يې د ځينو (نورو) له پاسه په درجو کې پورته کړل، د دې لپاره چې تاسو وازمايي په هغه څه کې چې تاسو ته يې درکړي دي، بېشکه ستا رب ډېر ژر سزا ورکوونکی دی او بېشکه هغه خامخا ښه بخښونکی، بې حده مهربان دی

## سُورَةُ الأَعۡرَافِ

## سورۀ اعراف

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

الٓمٓصٓ ١

**(1)** الف، لام، ميم، صاد

كِتَٰبٌ أُنزِلَ إِلَيۡكَ فَلَا يَكُن فِي

**(2)** (دا) کتاب دی چې تا ته نازل کړی شوی

صَدۡرِكَ حَرَجٞ مِّنۡهُ لِتُنذِرَ بِهِۦ وَذِكۡرَىٰ لِلۡمُؤۡمِنِينَ ٢

دی، نو د ده په وجه دې ستا په سینه کې څه تنګي نه وي، د دې لپاره (نازل کړی شوی دی) چې ته د ده په ذریعې سره (خلق) وویروې او د مومنانو لپاره نصیحت دی

ٱتَّبِعُواْ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُم مِّن رَّبِّكُمۡ وَلَا تَتَّبِعُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَۗ قَلِيلٗا مَّا تَذَكَّرُونَ ٣

(3) تاسو پیروي کوئ د هغه (دین) چې تاسو ته د خپل رب له جانبه نازل کړی شوی دی او تاسو له ده نه سِوا (د نورو) دوستانو پیروي مه کوئ، (خو) تاسو ډېر کم نصیحت اخلئ!

وَكَم مِّن قَرۡيَةٍ أَهۡلَكۡنَٰهَا فَجَآءَهَا بَأۡسُنَا بَيَٰتًا أَوۡ هُمۡ قَآئِلُونَ ٤

(4) او څومره ډېر کلي دي چې مونږ هغه هلاك كړي دي، نو زمونږ عذاب هغو ته راغی، په دې حال کې چې دوی به د شپې ویده وو، یا به په غرمه کې ارام کوونکي وو

فَمَا كَانَ دَعۡوَىٰهُمۡ إِذۡ جَآءَهُم بَأۡسُنَآ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ٥

(5) نو نه وه د دوی دعوٰی (بلنه) کله چې پر دوی زمونږ عذاب راغی، مګر دا چې دوی به ویل: بېشکه مونږ ظالمان وو

فَلَنَسۡـَٔلَنَّ ٱلَّذِينَ أُرۡسِلَ إِلَيۡهِمۡ وَلَنَسۡـَٔلَنَّ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٦

(6) نو مونږ به له هغو خلقو نه خامخا لازمًا تپوس وکړو چې رسولان ورته استول شوي وو او خامخا لازمًا به مونږ له رسولانو نه (هم) تپوس وکړو

فَلَنَقُصَّنَّ عَلَيۡهِم بِعِلۡمٖۖ وَمَا كُنَّا

(7) نو خامخا او یقیناً به مونږ دوی ته په علم

غَآئِبِينَ ٧

سره بيان وكړو او مونږ (څه) غايب خو نه وو

وَٱلۡوَزۡنُ يَوۡمَئِذٍ ٱلۡحَقُّۚ فَمَن ثَقُلَتۡ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ٨

(8) او په دغه ورځ (د عملونو) تول ښېخي حق دى، نو هغه څوك چې تولونه (يا ميزانونه) يې درانه وختل، نو همدغه خلق كامياب دي

وَمَنۡ خَفَّتۡ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُم بِمَا كَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يَظۡلِمُونَ ٩

(9) او هغه څوك چې تولونه (يا ميزانونه) يې سپك وختل، نو دغه خلق هغه دي چې دوى خپلو ځانونو ته تاوان رسولى دى، په سبب د دي چې دوى به زمونږ له ايتونو سره ظلم كاوه

وَلَقَدۡ مَكَّنَّٰكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَجَعَلۡنَا لَكُمۡ فِيهَا مَعَٰيِشَۗ قَلِيلٗا مَّا تَشۡكُرُونَ ١٠

(10) او يقينًا يقينًا مونږ تاسو ته په ځمكه كې قدرت دركړى دى او تاسو لپاره مو په هغې كې د ژوند اسباب پيدا كړي دي،(خو) تاسو ښېخي ډېر لږ شكر وباسئ!

وَلَقَدۡ خَلَقۡنَٰكُمۡ ثُمَّ صَوَّرۡنَٰكُمۡ ثُمَّ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبۡلِيسَ لَمۡ يَكُن مِّنَ ٱلسَّٰجِدِينَ ١١

(11) او يقينًا يقينًا مونږ تاسو پيدا كړئ، بيا مو ستاسو صورتونه جوړ كړل، بيا مونږ ملايكو ته ووېل: ادم ته سجده وكړئ، نو هغوى سجده وكړه سِوا له ابليس نه، هغه له سجده كوونكو څخني نه و

قَالَ مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسۡجُدَ إِذۡ أَمَرۡتُكَۖ قَالَ أَنَا۠ خَيۡرٞ مِّنۡهُ

(12) ووېل (الله): ته څه شي منع كړې، چې سجده دې ونه كړه كله چې ما تا ته حكم وكړ؟ ووېل (شيطان): زه له هغه نه غوره يم، تا

خَلَقۡتَنِي مِن نَّارٖ وَخَلَقۡتَهُۥ مِن طِينٖ ١٢

زه له اوره پیدا کړی یم او هغه دې له خَټې پیدا کړی دی

قَالَ فَٱهۡبِطۡ مِنۡهَا فَمَا يَكُونُ لَكَ أَن تَتَكَبَّرَ فِيهَا فَٱخۡرُجۡ إِنَّكَ مِنَ ٱلصَّٰغِرِينَ ١٣

(13) (الله) وويل: نو ته له دې (جنت) نه کوز شه، پس تا ته دا حق نشته چې ته په دې (جنت) کې تکبر وکړې، نو ته وځه، بېشکه ته له ذليلو څخه يې

قَالَ أَنظِرۡنِيٓ إِلَىٰ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ ١٤

(14) وويل (ابليس چې ای الله!) ته ما ته مهلت راکړه، تر هغې ورځې پورې چې خلق به بيا راژوندي کولی شي

قَالَ إِنَّكَ مِنَ ٱلۡمُنظَرِينَ ١٥

(15) وويل (الله): بېشکه ته له مهلت ورکړی شويو څخه يې

قَالَ فَبِمَآ أَغۡوَيۡتَنِي لَأَقۡعُدَنَّ لَهُمۡ صِرَٰطَكَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ١٦

(16) (ابليس) وويل: نو په سبب د هغه چې تا زه گمراه کړم، زه به خامخا ضرور دوی ته ستا په نېغه لار کې کېنم

ثُمَّ لَأٓتِيَنَّهُم مِّنۢ بَيۡنِ أَيۡدِيهِمۡ وَمِنۡ خَلۡفِهِمۡ وَعَنۡ أَيۡمَٰنِهِمۡ وَعَن شَمَآئِلِهِمۡۖ وَلَا تَجِدُ أَكۡثَرَهُمۡ شَٰكِرِينَ ١٧

(17) بيا به خامخا لازمًا زه دوی ته راځم د دوی له مخې نه او د دوی له شا نه او د دوی له ښيو اړخونو نه او چپو اړخونو نه او ته به د دوی اکثره شکر گذاره ونه مومې

قَالَ ٱخۡرُجۡ مِنۡهَا مَذۡءُومٗا

(18) وويل (الله): وُځه ته له دې ځای نه،

مَّدۡحُورٗاۖ لَّمَن تَبِعَكَ مِنۡهُمۡ لَأَمۡلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنكُمۡ أَجۡمَعِينَ ١٨

چې بدحاله غمجن کړی شوی، رټل شوی يې، يقينًا په دوی کې چې چا ستا پيروي وکړه (، نو) خامخا لازمًا به زه له تاسو ټولو نه جهنم ډکوم

وَيَٰٓـَٔادَمُ ٱسۡكُنۡ أَنتَ وَزَوۡجُكَ ٱلۡجَنَّةَ فَكُلَا مِنۡ حَيۡثُ شِئۡتُمَا وَلَا تَقۡرَبَا هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٩

(19) او ای ادمه! ته او ستا ښځه په جنت کې اوسئ، نو تاسو خوراك کوئ له کوم ځای نه چې مو خوښه شي، او دې ونې ته مه نژدې کېږئ (،ګني) نو له ظالمانو نه به شئ

فَوَسۡوَسَ لَهُمَا ٱلشَّيۡطَٰنُ لِيُبۡدِيَ لَهُمَا مَا وُۥرِيَ عَنۡهُمَا مِن سَوۡءَٰتِهِمَا وَقَالَ مَا نَهَىٰكُمَا رَبُّكُمَا عَنۡ هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةِ إِلَّآ أَن تَكُونَا مَلَكَيۡنِ أَوۡ تَكُونَا مِنَ ٱلۡخَٰلِدِينَ ٢٠

(20) نو دوی دواړو ته شیطان وسوسه واچوله، د دې لپاره چې هغه (شیطان) دوی دواړو ته هغه څه ورښکاره کړي چې له دوی نه پټ وو، چې د دوی د شرم ځایونه دي او (ورته) ويې ويل: تاسو دواړه ستاسو رب له دې ونې نه نه يئ منع کړي مګر له دې وجې چې تاسو دواړه به ملايك شئ، یا چې شئ به له تل پاتې کېدونکو نه

وَقَاسَمَهُمَآ إِنِّي لَكُمَا لَمِنَ ٱلنَّٰصِحِينَ ٢١

(21) او هغه دوی ته پوخ قسم وخوړ چې بېشکه زه تاسو لپاره یقینًا له خیر خواهي کوونکو څخې یم

فَدَلَّىٰهُمَا بِغُرُورٖۚ فَلَمَّا ذَاقَا

(22) نو هغه دوی دواړو ته په دوکې سره تمه

ٱلشَّجَرَةَ بَدَتۡ لَهُمَا سَوۡءَٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخۡصِفَانِ عَلَيۡهِمَا مِن وَرَقِ ٱلۡجَنَّةِۖ وَنَادَىٰهُمَا رَبُّهُمَآ أَلَمۡ أَنۡهَكُمَا عَن تِلۡكُمَا ٱلشَّجَرَةِ وَأَقُل لَّكُمَآ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ لَكُمَا عَدُوّٞ مُّبِينٞ ﴿٢٢﴾

ورکړه، نو کله چې دوی هغه ونه وڅکله، دوی ته خپل شرم ځایونه ښکاره شول او دواړه لګیا شول چې پر خپلو ځانونو يې د جنت پاڼې نښلولې او دوی ته خپل رب اواز وکړ چې ایا ما تاسو دواړه له دې ونې نه نه وئ منع کړې او تاسو ته مې نه وو ویلي چې ببشکه شیطان ستاسو د دواړو ښکاره دښمن دی؟

قَالَا رَبَّنَا ظَلَمۡنَآ أَنفُسَنَا وَإِن لَّمۡ تَغۡفِرۡ لَنَا وَتَرۡحَمۡنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴿٢٣﴾

(23) دوی وویل: ای زمونږه ربه! مونږ پر خپلو ځانونو ظلم کړی دی او که چېرې ته مونږ ونه بخښې او پر مونږ رحم ونه کړې (، نو) مونږ به خامخا لازمًا له تاوانیانو څخه شو

قَالَ ٱهۡبِطُواْ بَعۡضُكُمۡ لِبَعۡضٍ عَدُوّٞۖ وَلَكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُسۡتَقَرّٞ وَمَتَٰعٌ إِلَىٰ حِينٖ ﴿٢٤﴾

(24) وویل (الله): تاسو کوز شئ، ستاسو ځینې به د ځینو نورو لپاره دښمنان وي او تاسو لپاره په ځمکه کې استوګنه ده او تر یو وخته پورې فایده اخیستل دي

قَالَ فِيهَا تَحۡيَوۡنَ وَفِيهَا تَمُوتُونَ وَمِنۡهَا تُخۡرَجُونَ ﴿٢٥﴾

(25) (الله) وویل: په همدې (ځمکه) کې به تاسو ژوندون کوئ او په همدې کې به تاسو مرئ او له همدې نه به تاسو راوښکل کېږئ

يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ قَدۡ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكُمۡ لِبَاسٗا يُوَٰرِي سَوۡءَٰتِكُمۡ وَرِيشٗاۖ

(26) ای د ادم اولاده! یقینًا مونږ پر تاسو باندې لباس نازل کړی دی چې ستاسو د شرم ځایونه پټوي او د زینت جامې (مو نازلې

وَلِبَاسُ ٱلتَّقۡوَىٰ ذَٰلِكَ خَيۡرٞۚ ذَٰلِكَ مِنۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ لَعَلَّهُمۡ يَذَّكَّرُونَ ﴿٢٦﴾

کړي دي) او د پرهېزګارۍ لباس؛ دغه ډېر غوره دي، دا د الله له ايتونو څخه دي، د دې لپاره چې دوی نصيحت حاصل کړي

يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ لَا يَفۡتِنَنَّكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ كَمَآ أَخۡرَجَ أَبَوَيۡكُم مِّنَ ٱلۡجَنَّةِ يَنزِعُ عَنۡهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوۡءَٰتِهِمَآۚ إِنَّهُۥ يَرَىٰكُمۡ هُوَ وَقَبِيلُهُۥ مِنۡ حَيۡثُ لَا تَرَوۡنَهُمۡۗ إِنَّا جَعَلۡنَا ٱلشَّيَٰطِينَ أَوۡلِيَآءَ لِلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٢٧﴾

(27) ای د ادم اولاده! تاسو لره دې شيطان هيڅکله هم په فتنه کې وانه چوي، لکه څنګه چې يې ستاسو مور وپلار له جنت نه وويستل، چې له هغوی نه يې د هغوی لباس وښکلو، د دې لپاره چې هغوی ته خپل شرم ځايونه وښيي، بېشکه هغه او د هغهٔ قبيله تاسو له هغه ځايه ويني چې تاسو يې نه وينئ، بېشکه مونږ شيطانان د هغو خلقو لپاره دوستان جوړ کړي دي چې ايمان نه راوړي

وَإِذَا فَعَلُواْ فَٰحِشَةٗ قَالُواْ وَجَدۡنَا عَلَيۡهَآ ءَابَآءَنَا وَٱللَّهُ أَمَرَنَا بِهَاۗ قُلۡ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَأۡمُرُ بِٱلۡفَحۡشَآءِۖ أَتَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٢٨﴾

(28) او کله چې دوی څه بې حيايي وکړي (نو) وايي: مونږ په دې باندې خپل پلرونه موندلي دي او الله مونږ ته د دې حکم کړی دی، ته (ورته) ووايه: بېشکه الله د بې حيايۍ حکم نه کوي، ايا تاسو په الله باندې هغه دروغ تپئ چې تاسو پرې نه پوهېږئ

قُلۡ أَمَرَ رَبِّي بِٱلۡقِسۡطِۖ وَأَقِيمُواْ وُجُوهَكُمۡ عِندَ كُلِّ مَسۡجِدٖ

(29) ته ووايه: زما رب د انصاف حکم کړی دی او (دا چې) تاسو خپل مخونه د هر لمانځه په وخت کې نېغ (سيده) کړئ او تاسو

وَٱدۡعُوهُ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَۚ كَمَا بَدَأَكُمۡ تَعُودُونَ ٢٩

هغه بلئ، چې د هغه لپاره د دین (عبادت) خالص کوونکي يئ، لکه څنګه چې يې تاسو اول ځل پیدا کړي يئ (هماغه شان به) تاسو راګرځئ

فَرِيقًا هَدَىٰ وَفَرِيقًا حَقَّ عَلَيۡهِمُ ٱلضَّلَٰلَةُۚ إِنَّهُمُ ٱتَّخَذُواْ ٱلشَّيَٰطِينَ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَيَحۡسَبُونَ أَنَّهُم مُّهۡتَدُونَ ٣٠

(30) یوې ډلې ته يې هدايت کړی دی او بله ډله (يې ګمراه کړې ده) چې په هغو باندې ګمراهي ثابته شوې ده، بېشکه دوی له الله نه سِوا شيطانان (د ځان) دوستان نيولي وو او دوی دا ګمان کاوه چې بېشکه همدوی نېغه لار موندونکي دي

۞يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ خُذُواْ زِينَتَكُمۡ عِندَ كُلِّ مَسۡجِدٖ وَكُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ وَلَا تُسۡرِفُوٓاْۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُسۡرِفِينَ ٣١

(31) ای د ادم اولاده! تاسو خپل زينت (لباس) راواخلئ د هر لمانځه په وخت کې او خوراك کوئ او څښاك کوئ او تاسو اسراف مه کوئ، بېشکه هغه (الله) اسراف کوونکي نه خوښوي

قُلۡ مَنۡ حَرَّمَ زِينَةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِيٓ أَخۡرَجَ لِعِبَادِهِۦ وَٱلطَّيِّبَٰتِ مِنَ ٱلرِّزۡقِۚ قُلۡ هِيَ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا خَالِصَةٗ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ

(32) ته ووايه: هغه زينت چا حرام کړی دی چې الله د خپلو بنده ګانو لپاره راوېستلی دی او له رزقه څخه پاکيزه شيان (چا حرام کړي دي؟) ته ووايه: دا (نعمتونه) په دنيايي ژوند کې د هغو کسانو لپاره دي چې ايمان يې راوړی دی، چې (د دوی لپاره به) د قيامت په

لِقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ٣٢

ورځ ببخي خالص وي، همدارنګه مونږ ایتونه په تفصیل سره بیانوو د هغه قوم لپاره چې پوهېږي

قُلۡ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ ٱلۡفَوَٰحِشَ مَا ظَهَرَ مِنۡهَا وَمَا بَطَنَ وَٱلۡإِثۡمَ وَٱلۡبَغۡيَ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَأَن تُشۡرِكُواْ بِٱللَّهِ مَا لَمۡ يُنَزِّلۡ بِهِۦ سُلۡطَٰنٗا وَأَن تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ٣٣

(33) ته ووایه: یقینًا همدا خبره ده چې زما رب د بې حیایۍ کارونه حرام کړي دي، هغه چې له هغو څخه ظاهِر وي او هغه چې باطن وي او (حرامه کړې يې ده) ګناه او ناحقه ظلم کول او دا چې تاسو له الله سره هغه شی شریك کړئ چې د هغه په هکله الله هېڅ دلیل نه وي نازل کړی، او دا چې تاسو په الله باندې هغه دروغ وتپئ چې تاسو پرې نه پوهېږئ

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٞۖ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمۡ لَا يَسۡتَأۡخِرُونَ سَاعَةٗ وَلَا يَسۡتَقۡدِمُونَ ٣٤

(34) او د هر امت لپاره يوه نېټه ده، نو کله چې د دوی نېټه راشي، دوی به نه يوه ګړۍ تاخیر کوي او نه به دوی وړومبی کېږي

يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ إِمَّا يَأۡتِيَنَّكُمۡ رُسُلٞ مِّنكُمۡ يَقُصُّونَ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتِي فَمَنِ ٱتَّقَىٰ وَأَصۡلَحَ فَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ٣٥

(35) ای د ادم اولاده! که تاسو ته له هم ستاسو نه واقعًا رسولان راشي، چې تاسو ته زما ایتونه بیانوي، نو هغه څوك چې پرهېزګاره شو او (د ځان) اصلاح يې وکړه، نو په دوی باندې به نه څه وېره وي او نه به دوی غمجن کېږي

وَٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَٱسۡتَكۡبَرُواْ عَنۡهَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٣٦

(36) او هغه کسان چې زمونږ د ایتونو تکذیب یې کړی دی او له هغو نه یې سرکشي (لویي) کړې ده، دغه کسان د اور ملګري دي، دوی به په هغه کې همېشه وي

فَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوۡ كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِهِۦٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ يَنَالُهُمۡ نَصِيبُهُم مِّنَ ٱلۡكِتَٰبِۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُنَا يَتَوَفَّوۡنَهُمۡ قَالُوٓاْ أَيۡنَ مَا كُنتُمۡ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِۖ قَالُواْ ضَلُّواْ عَنَّا وَشَهِدُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ أَنَّهُمۡ كَانُواْ كَٰفِرِينَ ٣٧

(37) نو له هغه کس نه لوی ظالم څوك دی چې په الله باندې دروغ تړي، یا د هغه د ایتونو تکذیب کوي؟ دغه کسان دي چې دوی ته به له لیکل شوي (عمر، رزق وغیره) نه خپله برخه ورسېږي، تر دې چې کله دوی ته زمونږ استازي راشي، چې دوی مړه کوي (، نو ورته) وایي به: چېرته دي هغه معبودان چې تاسو به له الله نه غیر بلل؟ هغوی به ووایي: هغه له مونږ نه ورك شول، او دوی به د خپلو ځانونو په خلاف ګواهي وکړي ادا چې بېشکه دوی کافران وو

قَالَ ٱدۡخُلُواْ فِيٓ أُمَمٖ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِكُم مِّنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ فِي ٱلنَّارِۖ كُلَّمَا دَخَلَتۡ أُمَّةٞ لَّعَنَتۡ أُخۡتَهَاۖ حَتَّىٰٓ إِذَا ٱدَّارَكُواْ فِيهَا جَمِيعٗا قَالَتۡ أُخۡرَىٰهُمۡ لِأُولَىٰهُمۡ رَبَّنَا هَٰٓؤُلَآءِ أَضَلُّونَا فَـَٔاتِهِمۡ

(38) (ورته) وبه وایي: تاسو له هغو امتونو سره یو ځای اور ته داخل شئ چې له تاسو نه مخکې په پېریانو او انسانانو کې تېر شوي دي، هر کله چې یوه ډله ننوځي (، نو) د خپل ځان په مثل ډلې باندې به لعنت وایي، تر دې چې کله دوی ټول په دې (اور) کې

عَذَابٗا ضِعۡفٗا مِّنَ ٱلنَّارِۖ قَالَ لِكُلّٖ ضِعۡفٞ وَلَٰكِن لَّا تَعۡلَمُونَ ٣٨

راجمع شي، د دوی وروستنی به د خپلو ړومبنو په هکله وايي: ای زمونږه ربه! دغه هغه کسان دي، چې مونږ يې گمراه کړي وو، نو دوی ته د اور دوه چنده عذاب ورکړه، وبه وايي (الله) د هر يو لپاره دوه چنده (عذاب) دی او لېکن تاسو نه پوهېږئ

وَقَالَتۡ أُولَىٰهُمۡ لِأُخۡرَىٰهُمۡ فَمَا كَانَ لَكُمۡ عَلَيۡنَا مِن فَضۡلٖ فَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَ بِمَا كُنتُمۡ تَكۡسِبُونَ ٣٩

(39) د دوی ړومبني به خپلو وروستنو ته ووايي: نو تاسو لپاره پر مونږ باندې هېڅ فضيلت نشته، پس تاسو عذاب وڅکئ د هغو عملونو په سبب چې تاسو به کول

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَٱسۡتَكۡبَرُواْ عَنۡهَا لَا تُفَتَّحُ لَهُمۡ أَبۡوَٰبُ ٱلسَّمَآءِ وَلَا يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ حَتَّىٰ يَلِجَ ٱلۡجَمَلُ فِي سَمِّ ٱلۡخِيَاطِۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُجۡرِمِينَ ٤٠

(40) ببشکه هغه کسان چې زمونږ ايتونه يې دروغ گڼلي دي او له هغو نه يې تکبر کړی دی، د دوی لپاره به د اسمان دروازې نه پرانستل کېږي او نه به دوی جنت ته داخلېږي تر هغه پورې چې اوښ د ستنې په سورې کې ننوځي او همدارنګه مونږ مجرمانو ته سزا ورکوو

لَهُم مِّن جَهَنَّمَ مِهَادٞ وَمِن فَوۡقِهِمۡ غَوَاشٖۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلظَّٰلِمِينَ ٤١

(41) د دوی لپاره له جهنم څخه فرش دی او د دوی له پاسه به (د اور) اغوستنی وي او همدارنګه مونږ ظالمانو ته سزا ورکوو

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ
ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَا نُكَلِّفُ نَفۡسًا
إِلَّا وُسۡعَهَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ
ٱلۡجَنَّةِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٤٢﴾

(42) او هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او نېک عملونه يې کړي دي، مونږ هېڅ يو نفس نه مکلف کوو مګر د هغه د وَس مطابق، دغه کسان د جنت ملګري دي، دوی به په هغه کې همېشه وي

وَنَزَعۡنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنۡ غِلّٖ
تَجۡرِي مِن تَحۡتِهِمُ ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ وَقَالُواْ
ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي هَدَىٰنَا لِهَٰذَا وَمَا
كُنَّا لِنَهۡتَدِيَ لَوۡلَآ أَنۡ هَدَىٰنَا ٱللَّهُۖ
لَقَدۡ جَآءَتۡ رُسُلُ رَبِّنَا بِٱلۡحَقِّۖ
وَنُودُوٓاْ أَن تِلۡكُمُ ٱلۡجَنَّةُ
أُورِثۡتُمُوهَا بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٤٣﴾

(43) او مونږ به د دوی په سينو کې پرته کينه راوباسو، د دوی له لاندې به ولې بهېږي، او دوی به وايي: ټولې ستايينې هغه الله لره دي؛ هغه چې مونږ ته يې د دې هدايت وکړ او مونږ پخپله (داسې) نه وو چې دا لار مو موندلې وی، که چېرې الله مونږ ته دا لار نه وه راښودلې، يقينًا يقينًا زمونږ د رب رسولان په حقه سره راغلي وو او دوی ته به اواز وکړی شي چې دا جنت دی چې تاسو د ده وارثان ګرځول شوي يئ، په سبب د هغو عملونو چې تاسو به کول

وَنَادَىٰٓ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِ أَصۡحَٰبَ
ٱلنَّارِ أَن قَدۡ وَجَدۡنَا مَا وَعَدَنَا
رَبُّنَا حَقّٗا فَهَلۡ وَجَدتُّم مَّا وَعَدَ
رَبُّكُمۡ حَقّٗاۖ قَالُواْ نَعَمۡۚ فَأَذَّنَ
مُؤَذِّنُۢ بَيۡنَهُمۡ أَن لَّعۡنَةُ ٱللَّهِ عَلَى

(44) او جنتيان به دوزخيانو ته اواز وکړي چې يقينًا مونږ هغه وعده چې زمونږ رب له مونږ سره کړې وه حقه وموندله، نو ايا تاسو (هم) هغه وعده حقه وموندله چې ستاسو رب (له تاسو سره) کړې وه؟ هغوی به ووايي: هو!

ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٤﴾

نو د دوی په مینځ کې به یو اعلان کوونکی اعلان وکړي چې د الله لعنت په ظالمانو باندې دی

ٱلَّذِينَ يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا وَهُم بِٱلْأٓخِرَةِ كَٰفِرُونَ ﴿٤٥﴾

(45) هغه کسان چې د الله له لارې نه منع کول کوي او په دې کې کوږوالی لټوي او هم دوی د اخرت منکر دي

وَبَيْنَهُمَا حِجَابٌۚ وَعَلَى ٱلْأَعْرَافِ رِجَالٌ يَعْرِفُونَ كُلَّۢا بِسِيمَىٰهُمْۚ وَنَادَوْاْ أَصْحَٰبَ ٱلْجَنَّةِ أَن سَلَٰمٌ عَلَيْكُمْۚ لَمْ يَدْخُلُوهَا وَهُمْ يَطْمَعُونَ ﴿٤٦﴾

(46) او د دواړو په مینځ کې پرده ده او د اَعراف له پاسه به څه نور کسان وي چې دوی به هر یو (له جنتیانو او دوزخیانو نه) په خپلو علامو سره پېژني او دوی به جنتیانو ته اواز وکړي چې پر تاسو دې سلام وي، دوی لا جنت ته داخل شوي نه دي او دوی (جنت ته د ننوتلو) طمع لري

۞وَإِذَا صُرِفَتْ أَبْصَٰرُهُمْ تِلْقَآءَ أَصْحَٰبِ ٱلنَّارِ قَالُواْ رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا مَعَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٧﴾

(47) او کله چې د دوی سترګې د دوزخیانو په طرف واړول شي، دوی به وایي: ای زمونږه ربه! مونږ له ظالم قوم سره مه یو ځای کوه

وَنَادَىٰٓ أَصْحَٰبُ ٱلْأَعْرَافِ رِجَالًا يَعْرِفُونَهُم بِسِيمَىٰهُمْ قَالُواْ مَآ أَغْنَىٰ عَنكُمْ جَمْعُكُمْ وَمَا

(48) او د اَعراف ملګري به داسې سړیو ته اواز وکړي چې دوی به یې په خپلو نښو سره پېژني، دوی به (ورته) وایي: تاسو ته نه خو ستاسو ډلې فایده دروروسوله او (نه) هغه چې

كُنتُمۡ تَسۡتَكۡبِرُونَ ﴿٤٨﴾

تاسو به تکبر کاوه

أَهَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ أَقۡسَمۡتُمۡ لَا يَنَالُهُمُ ٱللَّهُ بِرَحۡمَةٍۚ ٱدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡكُمۡ وَلَآ أَنتُمۡ تَحۡزَنُونَ ﴿٤٩﴾

(49) ايا دا هغه كسان دي چې تاسو به قسمونه خوړل چې الله به دوی ته رحمت ونه رسوي (دوی ته خو ويل شوي دي چې) تاسو جنت ته داخل شئ، پر تاسو باندې هيڅ ويره نشته او نه به تاسو غمجن کېږئ

وَنَادَىٰٓ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِ أَصۡحَٰبَ ٱلۡجَنَّةِ أَنۡ أَفِيضُواْ عَلَيۡنَا مِنَ ٱلۡمَآءِ أَوۡ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُۚ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ حَرَّمَهُمَا عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٥٠﴾

(50) او دوزخيان به جنتيانو ته اواز وكړي چې تاسو پر مونږ باندې څه اوبه راتوی کړئ، يا له هغه څه نه چې الله تاسو ته دركړي دي (څه راكړئ)، وبه وايي (جنتيان) بېشكه الله دا دواړه په كافرانو باندې حرام كړي دي

ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ دِينَهُمۡ لَهۡوٗا وَلَعِبٗا وَغَرَّتۡهُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَاۚ فَٱلۡيَوۡمَ نَنسَىٰهُمۡ كَمَا نَسُواْ لِقَآءَ يَوۡمِهِمۡ هَٰذَا وَمَا كَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يَجۡحَدُونَ ﴿٥١﴾

(51) هغه كسان چې خپل دين يې تماشه او لوبه گرځولی دی او دوی دنيايي ژوند دوكه كړي (غولولي) دي، نو نن ورځ به يې مونږ (په سخت عذاب كې) پرېږدو، لكه څنگه چې هغوی د خپلې دې ورځې ملاقات هېر كړی (او عمل يې پرېښی) و او هغه چې دوی به زمونږ له ايتونو نه انكار كاوه

وَلَقَدۡ جِئۡنَٰهُم بِكِتَٰبٖ فَصَّلۡنَٰهُ عَلَىٰ عِلۡمٍ هُدٗى وَرَحۡمَةٗ لِّقَوۡمٖ

(52) او يقينًا يقينًا مونږ دوی ته كتاب راوړی دی چې مونږ د علم له مخې په تفصيل سره

يُؤۡمِنُونَ ٥٢

بیان کړی دی، چې هدایت او رحمت دی د
هغه قوم لپاره چې ایمان راوړي

هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّا تَأۡوِيلَهُۥۚ يَوۡمَ
يَأۡتِي تَأۡوِيلُهُۥ يَقُولُ ٱلَّذِينَ نَسُوهُ
مِن قَبۡلُ قَدۡ جَآءَتۡ رُسُلُ رَبِّنَا
بِٱلۡحَقِّ فَهَل لَّنَا مِن شُفَعَآءَ
فَيَشۡفَعُواْ لَنَآ أَوۡ نُرَدُّ فَنَعۡمَلَ غَيۡرَ
ٱلَّذِي كُنَّا نَعۡمَلُۚ قَدۡ خَسِرُوٓاْ
أَنفُسَهُمۡ وَضَلَّ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ
يَفۡتَرُونَ ٥٣

(53) دوی انتظار نه کوي مگر د هغه
(قیامت) د انجام، په هغې ورځ چې د هغه
انجام راشي؛ (نو) هغه کسان به وايي چې دا
یې مخکې هېر کړی و: یقینًا زمونږ د رب
رسولان په حقه سره راغلي وو، نو ایا زمونږ
لپاره څه سفارشیان شته چې زمونږ لپاره
سفارش وکړي؟ یا مونږ واپس کړی شو، نو
(بیا) له هغه عمل نه سِوا نور عمل وکړو چې
مونږه کاوه، یقینًا دوی خپلو ځانونو ته نقصان
رسولی دی او له دوی څخه هغه دروغ ورك
شول چې دوی به جوړول

إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ
ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ يُغۡشِي
ٱلَّيۡلَ ٱلنَّهَارَ يَطۡلُبُهُۥ حَثِيثٗا
وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ وَٱلنُّجُومَ
مُسَخَّرَٰتِۭ بِأَمۡرِهِۦٓۗ أَلَا لَهُ ٱلۡخَلۡقُ
وَٱلۡأَمۡرُۗ تَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ

(54) بېشکه ستاسو رب هغه الله دی چې
اسمانونه او ځمکه یې په شپږو ورځو کې پیدا
کړي دي، بیا د عرش له پاسه برقراره شو، هغه
په شپې سره ورځ پټوي، په دې حال کې چې
دا (شپه) هغې (ورځ) لره په تلوار سره طلب
کوي او (پیدا کړي یې ده) لمرسترګه، او
سپوږمۍ او ستوري، چې د هغه په حکم سره
مسخر کړی شوي دي، اګاه شئ! خاص هغه
لره دي پیدا کول او حکم کول، ډېر برکت والا

ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٥٤﴾

دی الله چې رب العلمین دی

ٱدۡعُواْ رَبَّكُمۡ تَضَرُّعٗا وَخُفۡيَةًۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُعۡتَدِينَ ﴿٥٥﴾

(55) تاسو خپل رب وبلئ په عاجزۍ سره او په پټه سره، بېشکه هغه له حد نه تېرېدونکي نه خوښوي

وَلَا تُفۡسِدُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ بَعۡدَ إِصۡلَٰحِهَا وَٱدۡعُوهُ خَوۡفٗا وَطَمَعًاۚ إِنَّ رَحۡمَتَ ٱللَّهِ قَرِيبٞ مِّنَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٥٦﴾

(56) او تاسو په ځمکه کې ورانی مه کوئ، د هغې له اصلاح نه پس، او تاسو هغه (الله) رابلئ په وېرې سره او په طمع سره، بېشکه د الله رحمت نېکي کوونکو ته ډېر نژدې دی

وَهُوَ ٱلَّذِي يُرۡسِلُ ٱلرِّيَٰحَ بُشۡرَۢا بَيۡنَ يَدَيۡ رَحۡمَتِهِۦۖ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَقَلَّتۡ سَحَابٗا ثِقَالٗا سُقۡنَٰهُ لِبَلَدٖ مَّيِّتٖ فَأَنزَلۡنَا بِهِ ٱلۡمَآءَ فَأَخۡرَجۡنَا بِهِۦ مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِۚ كَذَٰلِكَ نُخۡرِجُ ٱلۡمَوۡتَىٰ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ﴿٥٧﴾

(57) او دی همغه ذات دی چې هواګانې لېږي، چې د هغه له رحمت نه وړاندې زېرې ورکوونکې وي، تر دې چې کله دا (هواګانې) درنې ورېځې راپورته کړي (، نو) مونږ هغه مړ ښار ته روانوو، نو مونږ په دې سره اوبه نازلوو، نو په هغو سره هر قسمه مېوې راوباسو، همدارنګه به مونږ مړي راوباسو (راژوندي کوو)، د دې لپاره چې تاسو نصیحت ومنئ

وَٱلۡبَلَدُ ٱلطَّيِّبُ يَخۡرُجُ نَبَاتُهُۥ بِإِذۡنِ رَبِّهِۦۖ وَٱلَّذِي خَبُثَ لَا يَخۡرُجُ إِلَّا نَكِدٗاۚ كَذَٰلِكَ نُصَرِّفُ

(58) او پاکیزه ښار، د هغې زرغونه د خپل رب په حکم سره راوځي او هغه (ځمکه) چې خرابه (ښوره) وي (د هغې زرغونه) نه راوځي مګر ناقصه، همدارنګه مونږ ایتونه بیا، بیا

ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَشۡكُرُونَ ٥٨

بیانوو د هغه قوم لپاره چې شکر وباسي

لَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ فَقَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيمٖ ٥٩

(59) یقینًا یقینًا مونږ نوح خپل قوم ته ولېږلی و، نو هغه وویل: ای زما قومه! تاسو د الله عبادت کوئ، تاسو لپاره له هغه نه سِوا (بل) هیڅ برحق معبود نشته، بېشکه زه پر تاسو د لویې ورځې له عذاب نه وېرېږم

قَالَ ٱلۡمَلَأُ مِن قَوۡمِهِۦٓ إِنَّا لَنَرَىٰكَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ٦٠

(60) د هغه د قوم سردارانو وویل: بېشکه مونږ تا لازمًا په ښکاره ګمراهۍ کې وینو

قَالَ يَٰقَوۡمِ لَيۡسَ بِي ضَلَٰلَةٞ وَلَٰكِنِّي رَسُولٞ مِّن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٦١

(61) هغه وویل: ای زما قومه! په ما کې هیڅ ګمراهي نشته او لېکن زه د رب العلمین رسول یم

أُبَلِّغُكُمۡ رِسَٰلَٰتِ رَبِّي وَأَنصَحُ لَكُمۡ وَأَعۡلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ٦٢

(62) زه تاسو ته د خپل رب پیغامونه دررسوم او ستاسو خیرخواهي کوم او زه د الله له جانبه پر هغه څه پوهېږم چې تاسو پرې نه پوهېږئ

أَوَعَجِبۡتُمۡ أَن جَآءَكُمۡ ذِكۡرٞ مِّن رَّبِّكُمۡ عَلَىٰ رَجُلٖ مِّنكُمۡ لِيُنذِرَكُمۡ وَلِتَتَّقُواْ وَلَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ٦٣

(63) ایا تاسو په دې تعجب کوئ چې تاسو ته د خپل رب له جانبه نصیحت راغی پر داسې سړي چې له هم ستاسو څخه دی، د دې لپاره چې تاسوووېروي او د دې لپاره چې تاسو پرهېزګاره شئ او د دې لپاره چې پر

تاسو رحم وکړی شي

فَكَذَّبُوهُ فَأَنجَيۡنَٰهُ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥ فِي ٱلۡفُلۡكِ وَأَغۡرَقۡنَا ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَوۡمًا عَمِينَ ﴿٦٤﴾

(64) نو هغوی دا دروغژن وګاڼه، نو مونږ هغه ته او هغو کسانو ته چې له ده سره په کشتۍ کې وو، نجات ورکړ او هغه کسان مو غرق کړل چې زمونږ ایتونه یې دروغ ګڼلي وو، بېشکه هغوی ړانده خلق وو

۞وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمۡ هُودٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓۚ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٦٥﴾

(65) او (مونږ لېږلی و) عاد (قوم) ته د هغوی ورور هود، هغه ووېل: ای زما قومه! تاسو د الله عبادت کوئ، تاسو لپاره له هغه نه سِوا (بل) هېڅ برحق معبود نشته، ایا نو تاسو نه وېرېږئ!

قَالَ ٱلۡمَلَأُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦٓ إِنَّا لَنَرَىٰكَ فِي سَفَاهَةٖ وَإِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ﴿٦٦﴾

(66) د هغه د قوم کافرو سردارانو ووېل: بېشکه مونږ خامخا تا په بېوقوفۍ کې وینو او بېشکه مونږ خامخا پر تا ګمان کوو له دروغجنو څخه

قَالَ يَٰقَوۡمِ لَيۡسَ بِي سَفَاهَةٞ وَلَٰكِنِّي رَسُولٞ مِّن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٦٧﴾

(67) هغه ووېل: ای زما قومه! په ما کې هېڅ بېوقوفي نشته او لیکن زه د رب العلمین رسول یم

أُبَلِّغُكُمۡ رِسَٰلَٰتِ رَبِّي وَأَنَا۠

(68) زه تاسو ته د خپل رب پېغامونه دررسوم

لَكُمۡ نَاصِحٌ أَمِينٌ ۝٦٨

او زه ستاسو لپاره خیرخواه، امانت دار یم

أَوَعَجِبۡتُمۡ أَن جَآءَكُمۡ ذِكۡرٞ مِّن رَّبِّكُمۡ عَلَىٰ رَجُلٖ مِّنكُمۡ لِيُنذِرَكُمۡۚ وَٱذۡكُرُوٓاْ إِذۡ جَعَلَكُمۡ خُلَفَآءَ مِنۢ بَعۡدِ قَوۡمِ نُوحٖ وَزَادَكُمۡ فِي ٱلۡخَلۡقِ بَصۜۡطَةٗۖ فَٱذۡكُرُوٓاْ ءَالَآءَ ٱللَّهِ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ۝٦٩

(69) ایا تاسو پر دې تعجب کوئ چې تاسو ته د خپل رب له جانبه نصیحت راغی پر داسې سړي باندې چې له هم ستاسو څخه دی، د دې لپاره چې تاسو ووېروي، او تاسو هغه وخت رایاد کړئ کله چې یې تاسو له نوح نه پس خلیفګان (ځای ناستي) جوړ کړئ او تاسو ته یې په تخلیق کې زیات فراخ والی درکړ، نو تاسو د الله نعمتونه یادوئ، د دې لپاره چې تاسو کامیاب شئ

قَالُوٓاْ أَجِئۡتَنَا لِنَعۡبُدَ ٱللَّهَ وَحۡدَهُۥ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَا فَأۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ۝٧٠

(70) هغوی وویل: ایا ته د دې لپاره موږ ته راغلی یې چې موږ د یو الله عبادت وکړو او هغه معبودان پرېږدو چې زموږ پلرونو یې عبادت کاوه، نو هغه (عذاب) راوله چې ته موږ په هغه سره وېروې، که چېرې ته له رښتینو څخه یې

قَالَ قَدۡ وَقَعَ عَلَيۡكُم مِّن رَّبِّكُمۡ رِجۡسٞ وَغَضَبٌۖ أَتُجَٰدِلُونَنِي فِيٓ أَسۡمَآءٖ سَمَّيۡتُمُوهَآ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُم مَّا نَزَّلَ ٱللَّهُ بِهَا

(71) هغه وویل: یقیناً پر تاسو باندې د خپل رب له جانبه عذاب او غضب ثابت شو، ایا تاسو زما سره په هغو نومونو کې جګړه کوئ چې هغه تاسو پخپله او ستاسو پلرونو نومولي دي، الله د هغو په باره کې هېڅ دلیل نه دی

مِــن سُــلۡطَٰنٖۚ فَــٱنتَظِرُوٓاْ إِنِّي
مَعَكُم مِّنَ ٱلۡمُنتَظِرِينَ ٧١

نازل کړی، نو تاسو انتظار کوئ، بېشکه زه تاسو سره له انتظار کوونکو څخه يم

فَأَنجَيۡنَٰهُ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥ بِرَحۡمَةٖ مِّنَّا
وَقَطَعۡنَا دَابِرَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَاۖ
وَمَا كَانُواْ مُؤۡمِنِينَ ٧٢

(72) نو مونږ هغه (هود) ته او هغو کسانو ته چې له ده سره يې ايمان راوړی و، په خپل رحمت سره نجات ورکړ او د هغو کسانو جرړه (بېخ) مو غوڅه کړه چا چې زمونږ ايتونه دروغ ګڼلي وو او هغوی له سره مومنان نه وو

وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمۡ صَٰلِحٗاۚ قَالَ
يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ
إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥۖ قَدۡ جَآءَتۡكُم بَيِّنَةٞ
مِّن رَّبِّكُمۡۖ هَٰذِهِۦ نَاقَةُ ٱللَّهِ
لَكُمۡ ءَايَةٗۖ فَذَرُوهَا تَأۡكُلۡ فِيٓ
أَرۡضِ ٱللَّهِۖ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٖ
فَيَأۡخُذَكُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ٧٣

(73) او ثموديانو ته مو د هغوی ورور صالح (لېږلی و)، هغه ووېل: ای زما قومه! تاسو د الله عبادت کوئ، تاسو لپاره له هغه نه سِوا (بل) هېڅ حق معبود نشته، يقيناً تاسو ته د خپل رب له جانبه ښکاره معجزه راغلې ده، ادا د الله اوښه ده ستاسو لپاره، چې نښه ده، نو تاسو دا پرېږدئ چې د الله په ځمکه کې خوراك کوي او دې ته تکليف مه رسوئ (ګڼې) نو تاسو لره به ډېر دردوونکی عذاب ونيسي

وَٱذۡكُرُوٓاْ إِذۡ جَعَلَكُمۡ خُلَفَآءَ مِنۢ
بَعۡدِ عَادٖ وَبَوَّأَكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ
تَتَّخِذُونَ مِن سُهُولِهَا قُصُورٗا

(74) او تاسو هغه وخت ياد کړئ چې هغه (الله) تاسو له عاديانو نه پس خليفګان (ځای ناستي، نايبان) جوړ کړئ او تاسو ته يې په ځمکه کې ځای درکړ، چې تاسو د دې

وَتَنۡحِتُونَ ٱلۡجِبَالَ بُيُوتٗاۖ فَٱذۡكُرُوٓاْ
ءَالَآءَ ٱللَّهِ وَلَا تَعۡثَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ
مُفۡسِدِينَ ٧٤

(ځمكې) په نرمو هوارو ځايونو كې هسكې
ماڼۍ جوړوئ او تاسو غرونه د كورونو لپاره
توروئ (كنئ)، نو تاسو د الله نعمتونه ياد كړئ
او په ځمكه كې وراني كوونكي مه ګرځئ،
چې فساديان شئ

قَالَ ٱلۡمَلَأُ ٱلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُواْ مِن
قَوۡمِهِۦ لِلَّذِينَ ٱسۡتُضۡعِفُواْ لِمَنۡ
ءَامَنَ مِنۡهُمۡ أَتَعۡلَمُونَ أَنَّ صَٰلِحٗا
مُّرۡسَلٞ مِّن رَّبِّهِۦۚ قَالُوٓاْ إِنَّا بِمَآ
أُرۡسِلَ بِهِۦ مُؤۡمِنُونَ ٧٥

(75) د هغه په قوم كې تكبر كوونكو مشرانو
هغو كسانو ته وويل چې كمزوري كړی شوي
وو، هغه چا ته چې له دوی څخه يې ايمان
راوړی و: ايا تاسو پوهېږئ چې بېشكه صالح د
خپل رب له جانبه رالېږل شوی (رسول) دی؟
هغو (كمزورو) وويل: بېشكه موږ پر هغه څه
ايمان لرونكي يو چې په هغه سره هغه
(صالح) رالېږل شوی دی

قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُوٓاْ إِنَّا بِٱلَّذِيٓ
ءَامَنتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ٧٦

(76) تكبر كوونكو كسانو وويل: بېشكه موږ
په هغه څه چې تاسو پرې ايمان راوړی دی،
كفركوونكي يو

فَعَقَرُواْ ٱلنَّاقَةَ وَعَتَوۡاْ عَنۡ أَمۡرِ
رَبِّهِمۡ وَقَالُواْ يَٰصَٰلِحُ ٱئۡتِنَا بِمَا
تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ
ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٧٧

(77) نو هغوی اوښه ووژله او د خپل رب له
حكم نه يې سركشي وكړه او ويې ويل:ای
صالحه! پر موږ راوله هغه (عذاب) چې ته
موږ په هغه سره وېروې، كه چېرې ته له
رسولانو څخه يې

| | |
|---|---|
| فَأَخَذَتْهُمُ ٱلرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُواْ فِي دَارِهِمْ جَٰثِمِينَ ﴿٧٨﴾ | (78) نو دوی سختې زلزلې ونیول، نو شول دوی په خپلو کورونوکې پرمخې مړه پراته |
| فَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ يَٰقَوْمِ لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَةَ رَبِّي وَنَصَحْتُ لَكُمْ وَلَٰكِن لَّا تُحِبُّونَ ٱلنَّٰصِحِينَ ﴿٧٩﴾ | (79) نو هغه، له دوی نه وګرځېده، او ويې ويل:ای زما قومه! يقيناً يقيناً ما تاسو ته د خپل رب پيغام دروساوه او ستاسو خيرخواهي مې وکړه او لېکن تاسو نصيحت (خيرخواهي) کوونکي نه خوښوئ |
| وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ أَتَأْتُونَ ٱلْفَٰحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّنَ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٨٠﴾ | (80) او (لېږلی و مونږ) لوط کله چې هغه خپل قوم ته وويل: ايا تاسو داسې بد کار کوئ چې په مخلوقاتو کې هېڅ يو کس له تاسو نه دغه (بد کار) ته ړومبـی شوی نه دی |
| إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ شَهْوَةً مِّن دُونِ ٱلنِّسَآءِۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُونَ ﴿٨١﴾ | (81) بېشکه تاسو د شهوت (پوره کولو) لپاره سړيو ته ورځئ، په دې حال کې چې له ښځو بېلېږئ، بلکې تاسو له حد نه تېرېدونکی قوم يئ |
| وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَخْرِجُوهُم مِّن قَرْيَتِكُمْۖ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ ﴿٨٢﴾ | (82) او د هغه د قوم (بل) جواب نه و سِوا له دې نه چې (ويې ويل:) دا خلق له خپل کلي نه وباسئ، بېشکه دوی داسې خلق دي چې ځان ډېر پاك ساتي |

فَأَنجَيۡنَٰهُ وَأَهۡلَهُۥٓ إِلَّا ٱمۡرَأَتَهُۥ كَانَتۡ مِنَ ٱلۡغَٰبِرِينَ ﴿٨٣﴾

(83) نو مونږ هغهٔ ته او د هغهٔ خاندان ته نجات ورکړ؛ د هغهٔ له ښځې نه سِوا، هغه په پاتې کېدونکو کې وه

وَأَمۡطَرۡنَا عَلَيۡهِم مَّطَرٗاۖ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿٨٤﴾

(84) او مونږ پر هغوی باندې ناشنا باران ووراوه، نو ته وګوره چې د مجرمانو انجام څنګه و ؟

وَإِلَىٰ مَدۡيَنَ أَخَاهُمۡ شُعَيۡبٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥۖ قَدۡ جَآءَتۡكُم بَيِّنَةٞ مِّن رَّبِّكُمۡۖ فَأَوۡفُواْ ٱلۡكَيۡلَ وَٱلۡمِيزَانَ وَلَا تَبۡخَسُواْ ٱلنَّاسَ أَشۡيَآءَهُمۡ وَلَا تُفۡسِدُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ بَعۡدَ إِصۡلَٰحِهَاۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿٨٥﴾

(85) او (لېږلی و مونږ) مدین ته د هغوی ورور شعیب، هغه وویل: ای زما قومه! تاسو د الله عبادت کوئ، تاسو لپاره له هغه نه سِوا (بل) هېڅ حق معبود نشته، یقینًا تاسو ته د خپل رب له جانبه ښکاره دلیل راغلی دی، نو تاسو پیمانه او وزن پوره کوئ او خلقو ته د هغوی شیان کم مه ورکوئ او په ځمکه کې ورانی مه کوئ، د هغې له اصلاح نه پس، دا تاسو لپاره ډېر غوره دي، که چېرې تاسو ایمان راوړونکي یئ

وَلَا تَقۡعُدُواْ بِكُلِّ صِرَٰطٖ تُوعِدُونَ وَتَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ مَنۡ ءَامَنَ بِهِۦ وَتَبۡغُونَهَا عِوَجٗاۚ وَٱذۡكُرُوٓاْ إِذۡ كُنتُمۡ قَلِيلٗا

(86) او تاسو په هره لار کې مه کېنئ، چې تاسو (خلق) وېروئ او تاسو د الله له لارې نه هغه څوك منع كوئ چې پر الله ايمان راوړي او تاسو په هغې (لاره د الله کې) کې کوږوالی لټوئ او تاسو هغه وخت یاد کړئ کله چې

فَكَثَّرَكُمۡۖ وَٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ٨٦

تاسو ډېر لږ وئ، نو هغهٔ تاسو ډېر کړئ او تاسو وګورئ چې د ورانکارو انجام څنګه و؟

وَإِن كَانَ طَآئِفَةٞ مِّنكُمۡ ءَامَنُواْ بِٱلَّذِيٓ أُرۡسِلۡتُ بِهِۦ وَطَآئِفَةٞ لَّمۡ يُؤۡمِنُواْ فَٱصۡبِرُواْ حَتَّىٰ يَحۡكُمَ ٱللَّهُ بَيۡنَنَاۚ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلۡحَٰكِمِينَ ٨٧

(87) او که په تاسو کې یوه ډله داسې ده چې پر هغه شي يې ایمان راوړی دی چې زه ورسره رالېږل شوی یم او بلې ډلې ایمان نه دی راوړی، نو تاسو صبر کوئ تر دې چې الله زمونږ په مینځ کې فیصله وکړي او هغه تر ټولو بهتر فیصله کوونکی دی

۞قَالَ ٱلۡمَلَأُ ٱلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦ لَنُخۡرِجَنَّكَ يَٰشُعَيۡبُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَكَ مِن قَرۡيَتِنَآ أَوۡ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَاۚ قَالَ أَوَلَوۡ كُنَّا كَٰرِهِينَ ٨٨

(88) د هغه له قوم څخه کبرجنو مشرانو وویل: ای شعیبه! مونږ به تا او هغه کسان چې له تا سره يې ایمان راوړی دی؛ له خپل کلي نه خامخا لازمًا وباسو، یا به تاسو زمونږ دین ته خامخا لازمًا راګرځئ، هغه وویل: ایا اګر که مونږ (دا) بدګڼونکي یو

قَدِ ٱفۡتَرَيۡنَا عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا إِنۡ عُدۡنَا فِي مِلَّتِكُم بَعۡدَ إِذۡ نَجَّىٰنَا ٱللَّهُ مِنۡهَاۚ وَمَا يَكُونُ لَنَآ أَن نَّعُودَ فِيهَآ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّنَاۚ وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ شَيۡءٍ عِلۡمًاۚ عَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلۡنَاۚ رَبَّنَا ٱفۡتَحۡ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَ

(89) یقینًا مونږ به په الله باندې سخت دروغ تپلي وي که مونږ ستاسو دین ته در وګرځو وروسته له دې چې مونږ ته الله له هغه نه خلاصی راکړ، او مونږ ته دا حق نشته چې هغه ته وګرځو مګر دا چې زمونږ رب الله (څه) وغواړي، زمونږ رب هر شی په (خپل) علم کې راګېر کړی دی، خاص په الله باندې مونږ

قَوۡمِنَا بِٱلۡحَقِّ وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلۡفَٰتِحِينَ ﴿٨٩﴾

توکل کړی دی، ای زمونږه ربه! ته زمونږ په مینځ کې او زمونږ د قوم په مینځ کې په حقه سره فیصله وکړه او ته تر ټولو غوره فیصله کوونکی یې

وَقَالَ ٱلۡمَلَأُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦ لَئِنِ ٱتَّبَعۡتُمۡ شُعَيۡبًا إِنَّكُمۡ إِذٗا لَّخَٰسِرُونَ ﴿٩٠﴾

(90) او د هغه له قومه کافرو مشرانو وویل: یقینًا که چېرې تاسو د شعیب تابعداري وکړه، بېشکه تاسو به په دغه وخت کې خامخا له تاوانیانو څخه یئ

فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلرَّجۡفَةُ فَأَصۡبَحُواْ فِي دَارِهِمۡ جَٰثِمِينَ ﴿٩١﴾

(91) نو دوی زلزلې ونیول، نو دوی شول په خپلو کورونو کې پرمخې (مړه) پراته

ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ شُعَيۡبٗا كَأَن لَّمۡ يَغۡنَوۡاْ فِيهَاۚ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ شُعَيۡبٗا كَانُواْ هُمُ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴿٩٢﴾

(92) هغه کسان چې شعیب یې دروغجن ګڼلی و، (داسې هلاك شول) لکه چې دوی په دغو (کورونو) کې ېبخي اباد نه وو، هغه کسان چې شعیب یې دورغجن ګڼلی و، همغوی تاوانیان وو

فَتَوَلَّىٰ عَنۡهُمۡ وَقَالَ يَٰقَوۡمِ لَقَدۡ أَبۡلَغۡتُكُمۡ رِسَٰلَٰتِ رَبِّي وَنَصَحۡتُ لَكُمۡۖ فَكَيۡفَ ءَاسَىٰ عَلَىٰ قَوۡمٖ كَٰفِرِينَ ﴿٩٣﴾

(93) نو دی له هغوی نه وګرځېده او ویې ویل:ای زما قومه! یقینًا یقینًا ما تاسو ته د خپل رب پیغامونه دررسول او ستاسو خیرخواهي مې وکړه، نو زه څنګه په کافر قوم باندې افسوس وکړم

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا فِي قَرۡيَةٖ مِّن نَّبِيٍّ إِلَّآ أَخَذۡنَآ أَهۡلَهَا بِٱلۡبَأۡسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمۡ يَضَّرَّعُونَ ٩٤

(94) او مونږ په هېڅ يو كلي كې هېڅ يو نبي نه و لېږلی مگر دا چې مونږ به د هغه (كلي) اوسېدونكي په سختئ او تكليف كې ونيول، د دي لپاره چې دوی (الله ته) عاجزي او زاري وكړي

ثُمَّ بَدَّلۡنَا مَكَانَ ٱلسَّيِّئَةِ ٱلۡحَسَنَةَ حَتَّىٰ عَفَواْ وَّقَالُواْ قَدۡ مَسَّ ءَابَآءَنَا ٱلضَّرَّآءُ وَٱلسَّرَّآءُ فَأَخَذۡنَٰهُم بَغۡتَةٗ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ٩٥

(95) بيا مونږ (هغوی ته) د بدی په ځای خوشحالي په بدل كې وركړه، تر دې چې دوی ډېر شول او وېې ويل: يقينًا زمونږ پلرونو ته (هم) زمونږ په شان تكليف او خوشحالي رسېدلي وه، نو مونږه دوی ناڅاپه راونيول او دوی شعور نه لاره

وَلَوۡ أَنَّ أَهۡلَ ٱلۡقُرَىٰٓ ءَامَنُواْ وَٱتَّقَوۡاْ لَفَتَحۡنَا عَلَيۡهِم بَرَكَٰتٖ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَٰكِن كَذَّبُواْ فَأَخَذۡنَٰهُم بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ٩٦

(96) او كه چېرې د كليو اوسېدونكو ايمان راوړی وی او پرهېزگاره شوي وی ()، نو) مونږ به خامخا په دوي باندې له اسمان او ځمكې نه بركتونه پرانستلي وی او لېكن دوی تكذيب وكړ، نو مونږ دوی د هغو عملونو په سبب ونيول چې دوی كول

أَفَأَمِنَ أَهۡلُ ٱلۡقُرَىٰٓ أَن يَأۡتِيَهُم بَأۡسُنَا بَيَٰتٗا وَهُمۡ نَآئِمُونَ ٩٧

(97) ايا د كليو اوسېدونكي له دې نه بې غمه شوي دي چې په دوی باندې زمونږ عذاب د شپې راشي، په داسې حال كې چې دوی به ويده وي

أَوَأَمِنَ أَهۡلُ ٱلۡقُرَىٰٓ أَن يَأۡتِيَهُم بَأۡسُنَا ضُحٗى وَهُمۡ يَلۡعَبُونَ ٩٨

(98) ايا د کليو اوسېدونکي له دې نه بې غمه شوي دي چې په دوی باندې زموږ عذاب په څاښت کې راشي، په داسې حال کې چې دوی به لوبې کوي

أَفَأَمِنُواْ مَكۡرَ ٱللَّهِۚ فَلَا يَأۡمَنُ مَكۡرَ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ٩٩

(99) ايا نو دوی د الله له مکر (پټ تدبير) نه بې وېرې دي، پس د الله له مکر نه يواځې تاواني خلق بې وېرې کېږي

أَوَلَمۡ يَهۡدِ لِلَّذِينَ يَرِثُونَ ٱلۡأَرۡضَ مِنۢ بَعۡدِ أَهۡلِهَآ أَن لَّوۡ نَشَآءُ أَصَبۡنَٰهُم بِذُنُوبِهِمۡۚ وَنَطۡبَعُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَهُمۡ لَا يَسۡمَعُونَ ١٠٠

(100) او ايا څرګنده شوې نه ده هغو کسانو ته چې د ځمکې له (مخکينو) اوسېدونکو نه وروسته دوی د هغې وارثان ګرځي دا چې که موږ غوښتلی (، نو) موږ به دوی ته د دوی د ګناهونو په وجه سزا ورکړې وَی او موږ به د دوی په زړونو باندې مهر ولګوو، بيا به دوی (هېڅ) نه ويني

تِلۡكَ ٱلۡقُرَىٰ نَقُصُّ عَلَيۡكَ مِنۡ أَنۢبَآئِهَاۚ وَلَقَدۡ جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَمَا كَانُواْ لِيُؤۡمِنُواْ بِمَا كَذَّبُواْ مِن قَبۡلُۚ كَذَٰلِكَ يَطۡبَعُ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ١٠١

(101) دغه کلي دي چې موږ يې تا ته څه خبرونه بيانوو، او يقينًا يقينًا دوی ته خپلو رسولانو ښکاره معجزې راوړې وې، نو دوی کله هم داسې نه وو چې پر هغه څه ايمان راوړي د څه چې يې مخکې تکذيب کړی و، همدارنګه الله د کافرانو په زړونو باندې مهر لګوي

وَمَا وَجَدۡنَا لِأَكۡثَرِهِم مِّنۡ عَهۡدٖۖ وَإِن وَجَدۡنَآ أَكۡثَرَهُمۡ لَفَٰسِقِينَ ١٠٢

(102) او مونږ په دوی کې د زیاترو هېڅ وعده نه ده موندلې (چې دوی پرې وفا کړې وي) او بېشکه مونږ د دوی زیاتره لازمًا نافرمان (وعده ماتوونکي) موندلي دي

ثُمَّ بَعَثۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِم مُّوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِۦ فَظَلَمُواْ بِهَاۖ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ١٠٣

(103) بیا وروسته له دوی نه مونږ فرعون او د هغۀ سردارانو ته موسٰی ولېږه له خپلو ایتونو (معجزو) سره، نو هغوی له دغو (ایتونو) سره ظلم وکړ، نو ته وګوره د ورانکارو انجام څنګه شو؟

وَقَالَ مُوسَىٰ يَٰفِرۡعَوۡنُ إِنِّي رَسُولٞ مِّن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٠٤

(104) او موسٰی وویل: ای فرعونه! بېشکه زه د رب العلمین له جانبه رسول یم

حَقِيقٌ عَلَىٰٓ أَن لَّآ أَقُولَ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡحَقَّۚ قَدۡ جِئۡتُكُم بِبَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ فَأَرۡسِلۡ مَعِيَ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ١٠٥

(105) ټینګ ولاړ (یم) په دې خبره چې نه وایم پر الله مګر حقه خبره، یقینًا ما تاسو ته د خپل رب له جانبه ښکاره معجزه راوړې ده، نو ته زما سره بني اسرائیل خوشې کړه (ویې لېږه)

قَالَ إِن كُنتَ جِئۡتَ بِـَٔايَةٖ فَأۡتِ بِهَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ١٠٦

(106) فرعون وویل: که چېرې تا کومه نښه راوړې وي، نو هغه راوړاندې کړه، که چېرې ته له رښتینو څخه یې

| | |
|---|---|
| فَأَلۡقَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ ثُعۡبَانٞ مُّبِينٞ ﴿١٠٧﴾ | (107) نو هغه خپله اَمسا وغورځوله، نو ناڅاپه هغه ښکاره اژدها وه |
| وَنَزَعَ يَدَهُۥ فَإِذَا هِيَ بَيۡضَآءُ لِلنَّٰظِرِينَ ﴿١٠٨﴾ | (108) او خپل لاس يې راوښکه، نو ناڅاپه هغه د کتونکو لپاره تك سپين و |
| قَالَ ٱلۡمَلَأُ مِن قَوۡمِ فِرۡعَوۡنَ إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٌ عَلِيمٞ ﴿١٠٩﴾ | (109) د فرعون د قوم مشرانو وويل: بېشکه دا خامخا ډېر پوه جادوګر دی |
| يُرِيدُ أَن يُخۡرِجَكُم مِّنۡ أَرۡضِكُمۡۖ فَمَاذَا تَأۡمُرُونَ ﴿١١٠﴾ | (110) دی غواړي چې تاسو له خپلې ځمکې (وطن) نه وباسي، نو تاسو څه حکم کوئ؟ |
| قَالُوٓاْ أَرۡجِهۡ وَأَخَاهُ وَأَرۡسِلۡ فِي ٱلۡمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ﴿١١١﴾ | (111) خلقو وويل: ته ده ته او د ده ورور ته مهلت ورکړه او په ښارونو کې راټولوونکي ولېږه |
| يَأۡتُوكَ بِكُلِّ سَٰحِرٍ عَلِيمٖ ﴿١١٢﴾ | (112) چې تا ته هر ښه پوه جادوګر راولي |
| وَجَآءَ ٱلسَّحَرَةُ فِرۡعَوۡنَ قَالُوٓاْ إِنَّ لَنَا لَأَجۡرًا إِن كُنَّا نَحۡنُ ٱلۡغَٰلِبِينَ ﴿١١٣﴾ | (113) او جادوګر فرعون ته راغلل، ويې ويل:بېشکه زمونږ لپاره به لازمًا اجرت وي كه چېرې همدا مونږ غلبه موندونکي شو |
| قَالَ نَعَمۡ وَإِنَّكُمۡ لَمِنَ ٱلۡمُقَرَّبِينَ ﴿١١٤﴾ | (114) (فرعون) وويل: هو! يقينًا لازمًا تاسو به له مقربينو څخه يئ |

قَالُواْ يَٰمُوسَىٰٓ إِمَّآ أَن تُلۡقِيَ وَإِمَّآ أَن نَّكُونَ نَحۡنُ ٱلۡمُلۡقِينَ ١١٥

(115) (جادوگرو) وویل: ای موسیٰ! یا ته (امسا) وغورځوه او یا به همدا مونږ (خپلو رسیو او امساګانو لره) غورځوونکي یو

قَالَ أَلۡقُواْۖ فَلَمَّآ أَلۡقَوۡاْ سَحَرُوٓاْ أَعۡيُنَ ٱلنَّاسِ وَٱسۡتَرۡهَبُوهُمۡ وَجَآءُو بِسِحۡرٍ عَظِيمٖ ١١٦

(116) ویې ویل: تاسو یې وغورځوئ، نو کله چې هغوی وغورځولې (، نو) د خلقو پر سترګو یې جادو وکړ او هغوی یې ښه ووېرول او ډېر لوی جادو یې وکړ

۞وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنۡ أَلۡقِ عَصَاكَۖ فَإِذَا هِيَ تَلۡقَفُ مَا يَأۡفِكُونَ ١١٧

(117) او مونږ موسیٰ ته وحي وکړه چې خپله امسا وغورځوه، نو ناڅاپه هغې هغه څه ښوی تېرول چې هغوی به جوړول

فَوَقَعَ ٱلۡحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١١٨

(118) نو حق ثابت شو او هغه څه باطل شول چې هغوی به کول

فَغُلِبُواْ هُنَالِكَ وَٱنقَلَبُواْ صَٰغِرِينَ ١١٩

(119) نو هغه ساحران په دغه ځای کې مغلوب شول او دوی ذلیله سپك وګرځېدل

وَأُلۡقِيَ ٱلسَّحَرَةُ سَٰجِدِينَ ١٢٠

(120) او (جادوګر) وغورځول شول، چې سجده کوونکي وو

قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٢١

(121) ویې ویل:مونږ پر رب العلمین ایمان راوړ

رَبِّ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ١٢٢

(122) د موسٰی او د هارون پر رب

قَالَ فِرۡعَوۡنُ ءَامَنتُم بِهِۦ قَبۡلَ أَنۡ
ءَاذَنَ لَكُمۡۖ إِنَّ هَٰذَا لَمَكۡرٞ
مَّكَرۡتُمُوهُ فِي ٱلۡمَدِينَةِ لِتُخۡرِجُواْ
مِنۡهَآ أَهۡلَهَاۖ فَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ١٢٣

(123) فرعون وویل: تاسو پر ده ایمان راوړ مخکې له دې چې زه تاسو ته اجازت درکړم، بېشکه دا یقینًا یو مکر (سازش) دی چې تاسو دغه په دې ښار کې ترسره کړی دی، د دې لپاره چې تاسو له دې (ښار) نه د هغهٔ اوسېدونکي وباسئ، نو ژر به تاسو پوه شئ

لَأُقَطِّعَنَّ أَيۡدِيَكُمۡ وَأَرۡجُلَكُم
مِّنۡ خِلَٰفٖ ثُمَّ لَأُصَلِّبَنَّكُمۡ
أَجۡمَعِينَ ١٢٤

(124) زه به ستاسو لاسونه او ستاسو پښې ادلې بدلې خامخا لازمًا غوڅې کړم، بیا به خامخا لازمًا تاسو ټول په دار کړم

قَالُوٓاْ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ١٢٥

(125) وویل (جادوګرو): بېشکه مونږ د خپل رب په طرف بېرته ورتلونکي یو

وَمَا تَنقِمُ مِنَّآ إِلَّآ أَنۡ ءَامَنَّا بِـَٔايَٰتِ
رَبِّنَا لَمَّا جَآءَتۡنَاۚ رَبَّنَآ أَفۡرِغۡ
عَلَيۡنَا صَبۡرٗا وَتَوَفَّنَا مُسۡلِمِينَ ١٢٦

(126) او ته بدې نه ګڼې زمونږ نه (هېڅ عمل) سوا له دې نه چې مونږ د خپل رب پر ایتونو ایمان راوړی دی، کله چې دغه (ایتونه) مونږ ته راغلل، ای زمونږه ربه! ته پر مونږ باندې صبر راتوی کړه او مونږ ته وفات راکړه، په داسې حال کې چې مسلمانان یو

وَقَالَ ٱلۡمَلَأُ مِن قَوۡمِ فِرۡعَوۡنَ أَتَذَرُ

(127) او د فرعون د قوم مشرانو (فرعون ته)

مُــوسَىٰ وَقَوۡمَــهُۥ لِيُفۡسِــدُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَيَــذَرَكَ وَءَالِهَتَــكَۚ قَــالَ سَــنُقَتِّلُ أَبۡنَــآءَهُمۡ وَنَسۡــتَحۡيِۦ نِسَآءَهُمۡ وَإِنَّا فَوۡقَهُمۡ قَٰهِرُونَ ﴿١٢٧﴾

وويل: ايا ته موسٰی او د هغه قوم د دې لپاره (ازاد) پرېږدې چې په ځمکه کې ورانی وکړي او تا او ستا معبودان پرېږدي، وويل (فرعون): ژر به مونږ د دوی زامن ووژنو او د دوی ښځې (جينکۍ) به ژوندۍ پرېږدو او بېشکه مونږ د دوی له پاسه زورور يو

قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِ ٱسۡتَعِينُواْ بِٱللَّهِ وَٱصۡبِرُوٓاْۖ إِنَّ ٱلۡأَرۡضَ لِلَّهِ يُورِثُهَــا مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَــادِهِۦۖ وَٱلۡعَٰقِبَــةُ لِلۡمُتَّقِينَ ﴿١٢٨﴾

(128) موسٰی خپل قوم ته وويل: تاسو له الله نه مدد وغواړئ او صبر کوئ، بېشکه ځمکه د الله لپاره ده، هغه په خپلو بنده ګانو کې هغه څوك د دې وارث ګرځوي چې يې وغواړي او ښه انجام د پرهېزګارانو لپاره دی

قَالُوٓاْ أُوذِينَا مِــنۡ قَبۡــلِ أَن تَأۡتِيَنَــا وَمِنۢ بَعۡدِ مَا جِئۡتَنَاۚ قَــالَ عَسَىٰـ رَبُّكُــمۡ أَن يُهۡلِــكَ عَــدُوَّكُمۡ وَيَسۡتَخۡلِفَكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرَ كَيۡفَ تَعۡمَلُونَ ﴿١٢٩﴾

(129) (بني اسرائيلو) وويل: مونږ ته تکليف رسول شوی دی، مخکې له دې چې ته مونږ ته راشې او وروسته له دې چې ته مونږ ته راغلې. (موسٰی) وويل: امید دی چې ستاسو رب به ستاسو دښمن هلاك کړي او تاسو به په ځمکه کې خليفګان (ځای ناستي) جوړ کړي، بيا به هغه ګوري چې تاسو څنګه عمل کوئ؟

وَلَقَــدۡ أَخَــذۡنَآ ءَالَ فِرۡعَــوۡنَ بِٱلسِّنِينَ وَنَقۡــصٍ مِّــنَ ٱلثَّمَــرَٰتِ

(130) او يقينًا يقينًا مونږه فرعونيان په وچکالۍ سره او د مېوو په کم والي سره نيولي

| | |
|---|---|
| لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٣٠﴾ | (مبتلا کړي) وو، د دې لپاره چې دوی نصيحت ومني |
| فَإِذَا جَآءَتْهُمُ ٱلْحَسَنَةُ قَالُواْ لَنَا هَٰذِهِۦۖ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَطَّيَّرُواْ بِمُوسَىٰ وَمَن مَّعَهُۥٓۗ أَلَآ إِنَّمَا طَٰٓئِرُهُمْ عِندَ ٱللَّهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٣١﴾ | (131) نو کله چې به پر دوی خوشحالي راغله، ویل به يې: مونږ د همدې حقدار یو او که چېرې پر دوی به څه تکليف راغی، نو بدفالي به يې نيوله، په موسٰی او په هغه چا چې له هغه سره وو، خبردار! ببشکه خبره همدا ده چې د دوی بدفالي له الله سره ده او لېکن د دوی زیاتره نه پوهېږي |
| وَقَالُواْ مَهْمَا تَأْتِنَا بِهِۦ مِنْ ءَايَةٍ لِّتَسْحَرَنَا بِهَا فَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِينَ ﴿١٣٢﴾ | (132) او دوی به (موسٰی ته) ویل: ته چې مونږ ته هر قسمه نښه راوړې؛ د دې لپاره چې په هغې سره ته پر مونږه جادو وکړې، نو مونږ په تا باندې کله هم ايمان راوړونکي نه يو |
| فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ ٱلطُّوفَانَ وَٱلْجَرَادَ وَٱلْقُمَّلَ وَٱلضَّفَادِعَ وَٱلدَّمَ ءَايَٰتٍ مُّفَصَّلَٰتٍ فَٱسْتَكْبَرُواْ وَكَانُواْ قَوْمًا مُّجْرِمِينَ ﴿١٣٣﴾ | (133) نو مونږه په دوی باندې (وار په وار) طوفان، او ملخان او سپږې او چينډخې او وينه راولېږل، چې بېلې بېلې نښې وې، بيا هم هغوی تکبر وکړ او هغوی مجرم خلق وو |
| وَلَمَّا وَقَعَ عَلَيْهِمُ ٱلرِّجْزُ قَالُواْ يَٰمُوسَى ٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِندَكَۖ لَئِن كَشَفْتَ عَنَّا ٱلرِّجْزَ | (134) او کله چې په دوی باندې عذاب راپرېوتلو (، نو) ويې ويل: ای موسٰی: ته زمونږ لپاره له خپل رب نه دعا وغواړه په هغه څه |

لَنُؤۡمِنَنَّ لَكَ وَلَنُرۡسِلَنَّ مَعَكَ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ١٣٤

سره چې له تا سره يې وعده کړې ده، يقيناً که ته زمونږ نه عذاب لرې کړې، مونږ به خامخا لازماً پر تا ايمان راوړو او خامخا لازماً به له تا سره بني اسرائيل ولېږو (خوشې کړو)

فَلَمَّا كَشَفۡنَا عَنۡهُمُ ٱلرِّجۡزَ إِلَىٰٓ أَجَلٍ هُم بَٰلِغُوهُ إِذَا هُمۡ يَنكُثُونَ ١٣٥

(135) نو کله چې به مونږ له دوی نه عذاب لرې کړ تر هغې مودې پورې چې دوی هغې ته رسېدونکي وو، ناڅاپه به دوی وعده ماته کړه

فَٱنتَقَمۡنَا مِنۡهُمۡ فَأَغۡرَقۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡيَمِّ بِأَنَّهُمۡ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَكَانُواْ عَنۡهَا غَٰفِلِينَ ١٣٦

(136) بيا مونږ له دوی نه انتقام واخيست، نو په سمندر کې مو غرق کړل، ځکه چې يقيناً هغوی زمونږ د ايتونو تکذيب کړی و او له هغو نه غافله وو

وَأَوۡرَثۡنَا ٱلۡقَوۡمَ ٱلَّذِينَ كَانُواْ يُسۡتَضۡعَفُونَ مَشَٰرِقَ ٱلۡأَرۡضِ وَمَغَٰرِبَهَا ٱلَّتِي بَٰرَكۡنَا فِيهَاۖ وَتَمَّتۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ ٱلۡحُسۡنَىٰ عَلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ بِمَا صَبَرُواْۖ وَدَمَّرۡنَا مَا كَانَ يَصۡنَعُ فِرۡعَوۡنُ وَقَوۡمُهُۥ وَمَا كَانُواْ يَعۡرِشُونَ ١٣٧

(137) او مونږه هغه خلق چې ضعيفه کولی شول د ځمکې د مشرقي اړخونو او د هغې د مغربي اړخونو وارثان وګرځول، هغه (اړخونه) چې مونږ په هغو کې برکت اچولی دی، او ستا د رب ډېره ښه کلمه په بني اسرائيلو باندې تمامه شوه، د دوی د صبر کولو په سبب او مونږه تباه کړې هغه (ودانۍ) چې فرعون او د هغه قوم به جوړولې او هغه چې دوی به لوړولې

وَجَٰوَزۡنَا بِبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱلۡبَحۡرَ
فَأَتَوۡاْ عَلَىٰ قَوۡمٖ يَعۡكُفُونَ عَلَىٰٓ
أَصۡنَامٖ لَّهُمۡۚ قَالُواْ يَٰمُوسَى ٱجۡعَل
لَّنَآ إِلَٰهٗا كَمَا لَهُمۡ ءَالِهَةٞۚ قَالَ
إِنَّكُمۡ قَوۡمٞ تَجۡهَلُونَ ١٣٨

**(138)** او مونږه بني اسرائيل پر سمندر پورې ابستل، نو دوی پر داسې قوم راغلل چې د خپلو بتانو پر عبادت قايم وو، بني اسرائيلو وويل: ای موسٰی! زمونږ لپاره (هم) داسې معبود جوړ کړه، لکه څنګه چې د دوی لپاره معبودان دي، (موسٰی) وويل: بېشکه تاسو داسې قوم يئ چې جهالت کوئ

إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ مُتَبَّرٞ مَّا هُمۡ فِيهِ
وَبَٰطِلٞ مَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٣٩

**(139)** بېشکه دا خلق (چې دي) تباه ده هغه (تګلاره) چې دوی په هغې کې دي او باطل دي هغه عملونه چې دوی يې کوي

قَالَ أَغَيۡرَ ٱللَّهِ أَبۡغِيكُمۡ إِلَٰهٗا
وَهُوَ فَضَّلَكُمۡ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٤٠

**(140)** (موسٰی) وويل: ايا زه تاسو ته له الله نه سِوا معبود ولټوم، حال دا چې هغه (الله) تاسو په عالمونو باندې غوره کړي يئ

وَإِذۡ أَنجَيۡنَٰكُم مِّنۡ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ
يَسُومُونَكُمۡ سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِ
يُقَتِّلُونَ أَبۡنَآءَكُمۡ وَيَسۡتَحۡيُونَ
نِسَآءَكُمۡۚ وَفِي ذَٰلِكُم بَلَآءٞ مِّن
رَّبِّكُمۡ عَظِيمٞ ١٤١

**(141)** او کله چې مونږ تاسو ته له فرعونيانو نه نجات درکړ، چې تاسو ته به يې سخت عذاب دررساوه، چې ستاسو زامن به يې وژل او ستاسو ښځې (لوڼه) به يې ژوندۍ پرېښودلې او په دې کې ستاسو د رب له جانبه ډېر لوی ازمېښت و

۞وَوَٰعَدۡنَا مُوسَىٰ ثَلَٰثِينَ لَيۡلَةٗ

**(142)** او مونږ له موسٰی سره د دېرشو شپو

وَأَتۡمَمۡنَٰهَا بِعَشۡرٖ فَتَمَّ مِيقَٰتُ رَبِّهِۦٓ أَرۡبَعِينَ لَيۡلَةٗۚ وَقَالَ مُوسَىٰ لِأَخِيهِ هَٰرُونَ ٱخۡلُفۡنِي فِي قَوۡمِي وَأَصۡلِحۡ وَلَا تَتَّبِعۡ سَبِيلَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿١٤٢﴾

وعده وکړه او مونږ هغه په لسو(نورو) سره پوره کړې، نو ستا د رب ټاکلې موده څلوېښت ورځې پوره شوه، او موسٰی خپل ورور هارون ته وویل: ته زما په قوم کې زما نایب جوړ شه او اصلاح کوه او د ورانکارو د لارې پیروي مه کوه

وَلَمَّا جَآءَ مُوسَىٰ لِمِيقَٰتِنَا وَكَلَّمَهُۥ رَبُّهُۥ قَالَ رَبِّ أَرِنِيٓ أَنظُرۡ إِلَيۡكَۚ قَالَ لَن تَرَىٰنِي وَلَٰكِنِ ٱنظُرۡ إِلَى ٱلۡجَبَلِ فَإِنِ ٱسۡتَقَرَّ مَكَانَهُۥ فَسَوۡفَ تَرَىٰنِيۚ فَلَمَّا تَجَلَّىٰ رَبُّهُۥ لِلۡجَبَلِ جَعَلَهُۥ دَكّٗا وَخَرَّ مُوسَىٰ صَعِقٗاۚ فَلَمَّآ أَفَاقَ قَالَ سُبۡحَٰنَكَ تُبۡتُ إِلَيۡكَ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١٤٣﴾

(143) او کله چې موسٰی زمونږ ټاکلي وخت ته راغی او خپل رب یې ورسره خبرې وکړې، ویې ویل: ای زما ربه! ته ما ته (خپل ځان) وښیه چې زه تا ووینم، رب وویل: ته به ما (په دنیا کې ) له سره ونه وینې او لیکن ته غر ته وګوره، نو که چېرې هغه پر خپل ځای ثابت پاتې شو، نو بیا به ته ما خامخا ووینې، نو کله چې د هغهٔ رب غر ته تجلي وکړه (، نو) هغه یې ذرې ذرې وګرځاوه او موسٰی بېخوده پرېوتلو، نو کله چې په خود شو، ویې ویل: زه ستا پاکي بیانوم، زه تا ته توبې وباسم او زه تر ټولو اول ایمان راوړونکی یم

قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ إِنِّي ٱصۡطَفَيۡتُكَ عَلَى ٱلنَّاسِ بِرِسَٰلَٰتِي وَبِكَلَٰمِي فَخُذۡ مَآ ءَاتَيۡتُكَ وَكُن مِّنَ

(144) الله وویل: ای موسٰی! بېشکه ما تا ته په ټولو خلقو باندې په خپلو پیغامونو سره او په خپل کلام سره غوره والی درکړی دی، نو ته هغه څه ونیسه چې ما تا ته درکړي دي، او له

ٱلشَّٰكِرِينَ ١٤٤

شكر كوونكو څخه شه

وَكَتَبۡنَا لَهُۥ فِي ٱلۡأَلۡوَاحِ مِن كُلِّ شَيۡءٖ مَّوۡعِظَةٗ وَتَفۡصِيلٗا لِّكُلِّ شَيۡءٖ فَخُذۡهَا بِقُوَّةٖ وَأۡمُرۡ قَوۡمَكَ يَأۡخُذُواْ بِأَحۡسَنِهَاۚ سَأُوْرِيكُمۡ دَارَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ١٤٥

**(145)** او مونږ د هغه لپاره په تختيو کې د هر شي باره کې نصيحت او د هر شي تفصيل وليکه، نو ورته ومو ويل: ته دغه په قوت سره ونيسه او خپل قوم ته حکم وکړه چې د دې په غوره (احکامو) عمل وکړي، ژر به زه تاسو ته د فاسقانو استوګنه وښيم

سَأَصۡرِفُ عَنۡ ءَايَٰتِيَ ٱلَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَإِن يَرَوۡاْ كُلَّ ءَايَةٖ لَّا يُؤۡمِنُواْ بِهَا وَإِن يَرَوۡاْ سَبِيلَ ٱلرُّشۡدِ لَا يَتَّخِذُوهُ سَبِيلٗا وَإِن يَرَوۡاْ سَبِيلَ ٱلۡغَيِّ يَتَّخِذُوهُ سَبِيلٗاۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَكَانُواْ عَنۡهَا غَٰفِلِينَ ١٤٦

**(146)** زه به له خپلو ايتونو نه هغه کسان لازمًا واړوم چې په ځمکه کې ناحقه تکبر کوي او که دوی هره نښه ووينې (، بيا هم) پر هغې ايمان نه راوړي او که چېرې دوی د هدايت لار ووينې (، نو) هغه خپله لار نه غوره کوي، او که چېرې د ګمراهۍ لار ووينې (، نو) هغه خپله لار ګرځوي، دا ځکه چې يقينًا دوی زمونږ د ايتونو تکذيب کړی دی، او دوی له هغو نه غافله وو

وَٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَلِقَآءِ ٱلۡأٓخِرَةِ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡۚ هَلۡ يُجۡزَوۡنَ إِلَّا مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٤٧

**(147)** او هغه کسان چې زمونږ د ايتونو او د اخرت د ملاقات تکذيب يې کړی دی، د هغوی عملونه برباد شول، دوی ته به بدله نه ورکول کېږي مګر د هغو کارونو چې دوی به کول

وَٱتَّخَذَ قَوۡمُ مُوسَىٰ مِنۢ بَعۡدِهِۦ مِنۡ
حُلِيِّهِمۡ عِجۡلٗا جَسَدٗا لَّهُۥ خُوَارٌۚ
أَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّهُۥ لَا يُكَلِّمُهُمۡ وَلَا
يَهۡدِيهِمۡ سَبِيلًاۘ ٱتَّخَذُوهُ وَكَانُواْ
ظَٰلِمِينَ ١٤٨

(148) او د موسٰی قوم (طور ته) د هغه (له
تلو) نه پس له خپلو زېوراتو نه مجسم سخی
جوړکړ چې د هغه اواز د سخي و، ايا دوی نه
دي کتلي چې بېشکه دا (مجسم سخی) نه له
دوی سره خبرې کولی شي او نه دوی ته څه
لار ښودلی شي، دوی دغه (معبود) جوړ کړی
دی او دوی ظالمان وو

وَلَمَّا سُقِطَ فِيٓ أَيۡدِيهِمۡ وَرَأَوۡاْ أَنَّهُمۡ
قَدۡ ضَلُّواْ قَالُواْ لَئِن لَّمۡ يَرۡحَمۡنَا
رَبُّنَا وَيَغۡفِرۡ لَنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ
ٱلۡخَٰسِرِينَ ١٤٩

(149) او کله چې دوی پښېمانه شول او پوه
شول چې يقيناً دوی ګمراه شوي دي، ويې
ويل: که چېرې زموږ رب پر موږ رحم ونه
کړي او موږ ته بخښنه ونه کړي (، نو) موږ به
خامخا ضرور له تاوانيانو څخه شو

وَلَمَّا رَجَعَ مُوسَىٰٓ إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ
غَضۡبَٰنَ أَسِفٗا قَالَ بِئۡسَمَا
خَلَفۡتُمُونِي مِنۢ بَعۡدِيٓۖ أَعَجِلۡتُمۡ
أَمۡرَ رَبِّكُمۡۖ وَأَلۡقَى ٱلۡأَلۡوَاحَ وَأَخَذَ
بِرَأۡسِ أَخِيهِ يَجُرُّهُۥٓ إِلَيۡهِۚ قَالَ ٱبۡنَ
أُمَّ إِنَّ ٱلۡقَوۡمَ ٱسۡتَضۡعَفُونِي وَكَادُواْ
يَقۡتُلُونَنِي فَلَا تُشۡمِتۡ بِيَ ٱلۡأَعۡدَآءَ
وَلَا تَجۡعَلۡنِي مَعَ ٱلۡقَوۡمِ

(150) او کله چې موسٰی خپل قوم ته بېرته
راغی، چې ډېر غصّه، افسوس کوونکی و، ويې
ويل: تاسو له ما نه وروسته زما بد (او خراب)
نيابت کړی دی، ايا تاسو د خپل رب له حکم
نه تلوار وکړ؟ او تختې يې وغورځولې او د
خپل ورور سر يې راونيوه، چې هغه يې خپل
ځان ته راښکه، هغه وويل: ای زما د مور زويه!
بېشکه دې قوم زه کمزوری کړی وم او نژدې
وو چې ما ووژني، نو ته په ما باندې دښمنان

ٱلظَّٰلِمِينَ ١٥٠

مه خوشحالوه او ما له ظالم قوم سره مه ملګرى کوه

قَالَ رَبِّ ٱغۡفِرۡ لِي وَلِأَخِي وَأَدۡخِلۡنَا فِي رَحۡمَتِكَۖ وَأَنتَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ١٥١

(151) (موسٰى) وويل: اى زما ربه! ته ما ته بخښنه وکړه او زما ورور ته او مونږ په خپل رحمت کې داخل کړه او ته تر ټولو لوى مهربان يې

إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ ٱلۡعِجۡلَ سَيَنَالُهُمۡ غَضَبٞ مِّن رَّبِّهِمۡ وَذِلَّةٞ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُفۡتَرِينَ ١٥٢

(152) بېشکه هغه کسان چې سخى يې (معبود) نيولى دى، ژر به دوى ته د خپل رب له جانبه غضب ورسېږي او په دنيايي ژوند کې ذلت او همدارنګه مونږ بهتان تړونکو ته سزا ورکوو

وَٱلَّذِينَ عَمِلُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ثُمَّ تَابُواْ مِنۢ بَعۡدِهَا وَءَامَنُوٓاْ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعۡدِهَا لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ ١٥٣

(153) او هغه کسان چې بد کارونه يې کړي دي، بيا يې له هغو نه وروسته توبه وېستلې ده او ايمان يې راوړى دى، بېشکه ستا رب له دې (توبې) نه پس خامخا ډېر بخښونکى، بې حده مهربان دى

وَلَمَّا سَكَتَ عَن مُّوسَى ٱلۡغَضَبُ أَخَذَ ٱلۡأَلۡوَاحَۖ وَفِي نُسۡخَتِهَا هُدٗى وَرَحۡمَةٞ لِّلَّذِينَ هُمۡ لِرَبِّهِمۡ يَرۡهَبُونَ ١٥٤

(154) او کله چې د موسٰى غصه سړه شوه، تختى يې راواخيستلې او د هغو په ليک کې هدايت او رحمت و د هغو کسانو لپاره چې هغوى يواځې له خپل رب نه وېرېږي

وَٱخۡتَارَ مُوسَىٰ قَوۡمَهُۥ سَبۡعِينَ رَجُلٗا لِّمِيقَٰتِنَاۖ فَلَمَّآ أَخَذَتۡهُمُ ٱلرَّجۡفَةُ قَالَ رَبِّ لَوۡ شِئۡتَ أَهۡلَكۡتَهُم مِّن قَبۡلُ وَإِيَّٰيَۖ أَتُهۡلِكُنَا بِمَا فَعَلَ ٱلسُّفَهَآءُ مِنَّآۖ إِنۡ هِيَ إِلَّا فِتۡنَتُكَ تُضِلُّ بِهَا مَن تَشَآءُ وَتَهۡدِي مَن تَشَآءُۖ أَنتَ وَلِيُّنَا فَٱغۡفِرۡ لَنَا وَٱرۡحَمۡنَاۖ وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلۡغَٰفِرِينَ ١٥٥

(155) او موسٰی له خپل قوم نه اویا کسان زمونږ د مقرر کړي وخت لپاره غوره کړل، نو کله چې هغوی زلزلې ونیول، موسٰی وویل: ای زما ربه! که چېرې تا غوښتلی، نو تا به دوی مخکې هلاك کړي وو او زه (هم)، ایا ته مونږه د هغه کار په وجه هلاکوې چې په مونږ کې بېوقوفو کړی دی؟ نه دي دا مګر ستا ازمایل، ته په دې سره ګمراه کوې چا لره چې ته وغواړې او پر نبغه لار روانوې چا لره چې وغواړې، ته زمونږ کارساز یې، نو ته مونږ ته بخښنه وکړه او پر مونږ رحم وکړه او ته تر ټولو غوره بخښونکی یې

۞وَٱكۡتُبۡ لَنَا فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗ وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِنَّا هُدۡنَآ إِلَيۡكَۚ قَالَ عَذَابِيٓ أُصِيبُ بِهِۦ مَنۡ أَشَآءُۖ وَرَحۡمَتِي وَسِعَتۡ كُلَّ شَيۡءٖۚ فَسَأَكۡتُبُهَا لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلَّذِينَ هُم بِـَٔايَٰتِنَا يُؤۡمِنُونَ ١٥٦

(156) او ته زمونږ لپاره په دې دنیا کې نېګڼه ولیکه او په اخرت کې هم، بېشکه مونږه تا ته رجوع کړې ده، الله وویل: زه خپل عذاب رسوم چا ته چې وغواړم او زما رحمت هر شی راګیر کړی دی، نو ژر به زه ولیکم دا (رحمت) د هغو کسانو لپاره چې پرهېزګاره دي او زکات ادا کوي او هغه کسان چې هغوی زمونږ پر ایتونو ایمان لري

ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلرَّسُولَ ٱلنَّبِيَّ

(157) هغه کسان چې د اُمي رسول (او) نبي

ٱلۡأُمِّيَّ ٱلَّذِي يَجِدُونَهُۥ مَكۡتُوبًا
عِندَهُمۡ فِي ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَٱلۡإِنجِيلِ
يَأۡمُرُهُم بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَىٰهُمۡ عَنِ
ٱلۡمُنكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ ٱلطَّيِّبَٰتِ
وَيُحَرِّمُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡخَبَٰٓئِثَ وَيَضَعُ
عَنۡهُمۡ إِصۡرَهُمۡ وَٱلۡأَغۡلَٰلَ ٱلَّتِي
كَانَتۡ عَلَيۡهِمۡۚ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِهِۦ
وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَٱتَّبَعُواْ ٱلنُّورَ
ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ مَعَهُۥٓ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ
ٱلۡمُفۡلِحُونَ ١٥٧

پیروي کوي هغه چې دوی يې له خپل ځان سره په تورات او انجيل کې ليکلی مومي، دوی ته د نېکۍ حکم کوي او دوی له بدۍ نه منع کوي او دوی ته پاکيزه څيزونه حلالوي او په دوی باندې خبيث څيزونه حراموي او له دوی نه د دوی درانه بارونه لرې کوي او هغه قيدونه هم چې پر دوی وو، نو هغه کسان چې پر ده يې ايمان راوړ او د ده ادب يې وکړ او د ده مدد يې وکړ او د هغې رڼا پيروي يې وکړه چې له ده سره نازل کړې شوې ده، همدغه کسان کامياب دي

قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ
إِلَيۡكُمۡ جَمِيعًا ٱلَّذِي لَهُۥ مُلۡكُ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ
يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۖ فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ
وَرَسُولِهِ ٱلنَّبِيِّ ٱلۡأُمِّيِّ ٱلَّذِي يُؤۡمِنُ
بِٱللَّهِ وَكَلِمَٰتِهِۦ وَٱتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمۡ
تَهۡتَدُونَ ١٥٨

**(158)** ته ووايه: ای خلقو! بېشکه زه ستاسو د ټولو په طرف د هغه الله (رالېږل شوی) رسول يم چې خاص د هغهٔ لپاره د اسمانونو او ځمکې بادشاهي ده، نشته هېڅ حق معبود مګر همدی دی، همدغه ژوند ورکوي او مرګ ورکوي، نو تاسو پر الله او د هغه پر رسول ايمان راوړئ چې نبي دی، امي دی، هغه چې پر الله او د هغه پر کلماتو ايمان لري او تاسو د هغه پيروي وکړئ، د دې لپاره چې تاسو هدايت وموموئ

وَمِن قَوۡمِ مُوسَىٰٓ أُمَّةٞ يَهۡدُونَ بِٱلۡحَقِّ وَبِهِۦ يَعۡدِلُونَ ١٥٩

(159) او د موسٰى په قوم کې يوه ډله داسې هم ده چې په حقه سره لار ښيي او په همدې (حق) سره انصاف کوي

وَقَطَّعۡنَٰهُمُ ٱثۡنَتَيۡ عَشۡرَةَ أَسۡبَاطًا أُمَمٗاۚ وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ إِذِ ٱسۡتَسۡقَىٰهُ قَوۡمُهُۥٓ أَنِ ٱضۡرِب بِّعَصَاكَ ٱلۡحَجَرَۖ فَٱنۢبَجَسَتۡ مِنۡهُ ٱثۡنَتَا عَشۡرَةَ عَيۡنٗاۖ قَدۡ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٖ مَّشۡرَبَهُمۡۚ وَظَلَّلۡنَا عَلَيۡهِمُ ٱلۡغَمَٰمَ وَأَنزَلۡنَا عَلَيۡهِمُ ٱلۡمَنَّ وَٱلسَّلۡوَىٰۖ كُلُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقۡنَٰكُمۡۚ وَمَا ظَلَمُونَا وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ١٦٠

(160) او مونږ دغه بني اسرائيل بېل بېل کړل دولس قبيلې، ډلې ډلې او مونږ موسٰى ته وحي وکړه، کله چې له هغه نه خپل قوم اوبه وغوښتې، چې ته په خپلې امسا سره کاڼي ووهه، نو له هغه نه دولس چينې جاري شوې، ټولو خلقو په يقيني ډول خپل خپل گودر وپېژنده او مونږه پر هغوى باندې وريځ سيورى کړه او پر هغوى باندې مو ”مَنْ“ او ”سَلْوٰى“ نازل کړل، تاسو هغه پاکيزه څيزونه خورئ چې مونږ تاسو ته درکړي دي او دوى پر مونږ ظلم نه و کړى او لېکن دوى خاص پر خپلو ځانونو ظلم کاوه

وَإِذۡ قِيلَ لَهُمُ ٱسۡكُنُواْ هَٰذِهِ ٱلۡقَرۡيَةَ وَكُلُواْ مِنۡهَا حَيۡثُ شِئۡتُمۡ وَقُولُواْ حِطَّةٞ وَٱدۡخُلُواْ ٱلۡبَابَ سُجَّدٗا نَّغۡفِرۡ لَكُمۡ خَطِيٓـَٰٔتِكُمۡۚ سَنَزِيدُ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١٦١

(161) او کله چې دوى ته وويل شول چې تاسو په دې کلي کې اوسئ او د دې له پيداوار نه خوراك کوئ کوم ځاى چې مو خوښه شي، او تاسو وايئ: وبخښه (زمونږ گناهونه) او په دروازه کې سجده کوونکي داخل شئ، مونږ به ستاسو گناهونه وبخښو،

نېکي کوونکي به خامخا په نور زيات فضل سره ونازوو.

فَبَدَّلَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنۡهُمۡ قَوۡلًا غَيۡرَ ٱلَّذِي قِيلَ لَهُمۡ فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ رِجۡزٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ بِمَا كَانُواْ يَظۡلِمُونَ ﴿١٦٢﴾

(162) نو هغو کسانو چې ظلم يې کړی و، هغه خبره چې دوی ته ويل شوې وه په بل شان بدله کړه، نو مونږه پر هغوی باندې له اسمان نه عذاب راولېږه، په سبب د هغه ظلم چې دوی به کاوه

وَسۡـَٔلۡهُمۡ عَنِ ٱلۡقَرۡيَةِ ٱلَّتِي كَانَتۡ حَاضِرَةَ ٱلۡبَحۡرِ إِذۡ يَعۡدُونَ فِي ٱلسَّبۡتِ إِذۡ تَأۡتِيهِمۡ حِيتَانُهُمۡ يَوۡمَ سَبۡتِهِمۡ شُرَّعٗا وَيَوۡمَ لَا يَسۡبِتُونَ لَا تَأۡتِيهِمۡۚ كَذَٰلِكَ نَبۡلُوهُم بِمَا كَانُواْ يَفۡسُقُونَ ﴿١٦٣﴾

(163) او ته له دوی نه د هغه کلي په باره کې تپوس وکړه چې د سمندر پر غاړه پروت و، کله چې به هغوی د خالي په ورځ له حد نه تېربدل، کله چې به هغوی ته د هغوی د خالي په ورځ خپل کبان ښکاره راتلل، او په هغې ورځ کې چې دوی به په خالي کې نه وو داخل (، نو) دوی ته به نه راتلل، همدارنګه مونږه دوی ازمايو، په سبب د هغې نافرمانۍ چې دوی به کوله

وَإِذۡ قَالَتۡ أُمَّةٞ مِّنۡهُمۡ لِمَ تَعِظُونَ قَوۡمًا ٱللَّهُ مُهۡلِكُهُمۡ أَوۡ مُعَذِّبُهُمۡ عَذَابٗا شَدِيدٗاۖ قَالُواْ مَعۡذِرَةً إِلَىٰ رَبِّكُمۡ وَلَعَلَّهُمۡ يَتَّقُونَ ﴿١٦٤﴾

(164) او کله چې په دوی کې يوې ډلې وويل: ولې تاسو داسې خلقو ته نصيحت کوئ چې الله د هغو هلاکوونکی دی، يا هغو ته ډېر سخت عذاب ورکوونکی دی؟ هغوی وويل: خپل رب ته د عذر وړاندې کولو لپاره او د دې

لپاره چې دوی پرهېزګاره شي

فَلَمَّا نَسُواْ مَا ذُكِّرُواْ بِهِۦٓ أَنجَيۡنَا ٱلَّذِينَ يَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلسُّوٓءِ وَأَخَذۡنَا ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ بِعَذَابِۭ بَـِٔيسِۭ بِمَا كَانُواْ يَفۡسُقُونَ ١٦٥

(165) نو کله چې دوی هغه (دین) پرېښووده چې په هغه سره ورته نصیحت شوی و، مونږ هغو کسانو ته نجات ورکړ چې له بدی نه یې منع کوله او په ډېر سخت عذاب سره مو هغه کسان راونیول چې ظلم یې کړی و، په سبب د هغې نافرمانۍ چې دوی به کوله

فَلَمَّا عَتَوۡاْ عَن مَّا نُهُواْ عَنۡهُ قُلۡنَا لَهُمۡ كُونُواْ قِرَدَةً خَٰسِـِٔينَ ١٦٦

(166) نو کله چې دوی سرکشي وکړه د هغه څه باره کې چې ترې منع شوي وو، مونږ دوی ته وویل: تاسو ذلیله شادوګان شئ

وَإِذۡ تَأَذَّنَ رَبُّكَ لَيَبۡعَثَنَّ عَلَيۡهِمۡ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ مَن يَسُومُهُمۡ سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِۗ إِنَّ رَبَّكَ لَسَرِيعُ ٱلۡعِقَابِ وَإِنَّهُۥ لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ ١٦٧

(167) او کله چې ستا رب اعلان وکړ چې خامخا ضرور به په دوی باندې د قیامت د ورځې پورې داسې څوک مسلط کوي چې دوی ته به سخت عذاب رسوي، بېشکه ستا رب خامخا ډېر تېز عذاب والا دی او بېشکه هغه خامخا ډېر بخښونکی، بې حده مهربان دی

وَقَطَّعۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ أُمَمٗاۖ مِّنۡهُمُ ٱلصَّٰلِحُونَ وَمِنۡهُمۡ دُونَ ذَٰلِكَۖ وَبَلَوۡنَٰهُم بِٱلۡحَسَنَٰتِ وَٱلسَّيِّـَٔاتِ

(168) او مونږه دوی په ځمکه کې ټکړې ټکړې کړل (ووېشل)، ډلې ډلې، په دوی کې ځینې نېکان دي او ځینې په کې راکم (لاندې) دي، او مونږ دوی په نعمتونو او

لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ١٦٨

تکلیفونو سره وازمایل، د دې لپاره چې دوی (الله ته) راوګرځي.

فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٞ وَرِثُواْ ٱلۡكِتَٰبَ يَأۡخُذُونَ عَرَضَ هَٰذَا ٱلۡأَدۡنَىٰ وَيَقُولُونَ سَيُغۡفَرُ لَنَا وَإِن يَأۡتِهِمۡ عَرَضٞ مِّثۡلُهُۥ يَأۡخُذُوهُۚ أَلَمۡ يُؤۡخَذۡ عَلَيۡهِم مِّيثَٰقُ ٱلۡكِتَٰبِ أَن لَّا يَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡحَقَّ وَدَرَسُواْ مَا فِيهِۗ وَٱلدَّارُ ٱلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ يَتَّقُونَۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ١٦٩

(169) نو له دوی نه وروسته داسې نالایقه خلق د دوی ځای ناستي شول، چې د کتاب وارثان وګرځېدل، چې د دې ډېرې خسیسې دنیا سامان اخلي او (بیا هم) وایي: مونږ ته به ضرور بخښنه وشي او که چېرې دوی ته د دې په مثل سامان راشي (، نو) هغه (هم) اخلي، ایا له دوی نه په کتاب کې پخه وعده نه وه اخیستل شوې چې دوی به پر الله باندې نه وایي مګر حقه خبره او دوی هغه (احکام) لوستي وو چې په هغه (کتاب) کې لیك وو، او د اخرت کور د هغو کسانو لپاره ډېر غوره دی چې پرهېزګاره دي، ایا نو تاسو ولې له عقل نه کار نه اخلئ!

وَٱلَّذِينَ يُمَسِّكُونَ بِٱلۡكِتَٰبِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُصۡلِحِينَ ١٧٠

(170) او هغه کسان چې (د الله) کتاب ښه ټینګ نیسي او لمونځ قایموي، بېشکه مونږ د نېکي کوونکو اجر نه ضایع کوو

۞وَإِذۡ نَتَقۡنَا ٱلۡجَبَلَ فَوۡقَهُمۡ كَأَنَّهُۥ ظُلَّةٞ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُۥ وَاقِعُۢ بِهِمۡ خُذُواْ

(171) او کله چې مونږ د دوی له پاسه غر راپورته کړ، ګویا کې هغه سایبان دی، او دوی یقین وکړ چې بېشکه دا پر دوی راپرېوتونکی

مَآ ءَاتَيۡنَٰكُم بِقُوَّةٖ وَٱذۡكُرُواْ مَا
فِيهِ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ١٧١

دی، تاسو په قوت سره ونیسئ هغه (تورات) چې مونږ تاسو ته درکړی دی او یاد کړئ هغه څه چې په هغه کې دي، د دې لپاره چې تاسو پرهېزګاره شئ

وَإِذۡ أَخَذَ رَبُّكَ مِنۢ بَنِيٓ ءَادَمَ مِن
ظُهُورِهِمۡ ذُرِّيَّتَهُمۡ وَأَشۡهَدَهُمۡ عَلَىٰٓ
أَنفُسِهِمۡ أَلَسۡتُ بِرَبِّكُمۡۖ قَالُواْ بَلَىٰ
شَهِدۡنَآۚ أَن تَقُولُواْ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ إِنَّا
كُنَّا عَنۡ هَٰذَا غَٰفِلِينَ ١٧٢

**(172)** او کله چې ستا رب د ادم له اولادې نه د هغو له شاګانو نه د هغوی اولاد راواخیست او دوی یې په خپلو ځانونو باندې ګواه جوړ کړل، (او ورته ویې ویل:) ایا زه ستاسو رب نه یم؟ دوی وویل: ولې نه! مونږ (د دې) ګواهي کوو، (دا د دې لپاره) چې تاسو د قیامت په ورځ و (نه) وایئ چې ببشکه مونږ له دې نه غافله وو

أَوۡ تَقُولُوٓاْ إِنَّمَآ أَشۡرَكَ ءَابَآؤُنَا مِن
قَبۡلُ وَكُنَّا ذُرِّيَّةٗ مِّنۢ بَعۡدِهِمۡۖ
أَفَتُهۡلِكُنَا بِمَا فَعَلَ ٱلۡمُبۡطِلُونَ ١٧٣

**(173)** یا دا و(نه) وایئ چې ببشکه خبره دا ده چې شرك زمونږ پلرونو کړی و مخکې، او مونږ له هغوی نه وروسته (د هغوی) اولاد وو، ایا ته به مونږ په هغه جرم سره هلاکوې چې باطل پرستو ترسره کړی دی؟

وَكَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ وَلَعَلَّهُمۡ
يَرۡجِعُونَ ١٧٤

**(174)** او همدارنګه مونږ په تفصیل سره ایتونه بیانوو او د دې لپاره چې دوی (له تقلیده) راوګرځي

وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ ٱلَّذِيٓ ءَاتَيۡنَٰهُ
ءَايَٰتِنَا فَٱنسَلَخَ مِنۡهَا فَأَتۡبَعَهُ
ٱلشَّيۡطَٰنُ فَكَانَ مِنَ ٱلۡغَاوِينَ ١٧٥

(175) او ته دوی ته د هغه کس خبر ولوله چې مونږ هغه ته خپل ایتونه ورکړي وو، نو دی له هغو نه ووتلو، نو شیطان په هغه پسې شو، نو هغه له ګمراهانو څخه شو

وَلَوۡ شِئۡنَا لَرَفَعۡنَٰهُ بِهَا وَلَٰكِنَّهُۥٓ
أَخۡلَدَ إِلَى ٱلۡأَرۡضِ وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُۚ
فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ ٱلۡكَلۡبِ إِن تَحۡمِلۡ
عَلَيۡهِ يَلۡهَثۡ أَوۡ تَتۡرُكۡهُ يَلۡهَثۚ
ذَّٰلِكَ مَثَلُ ٱلۡقَوۡمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ
بِـَٔايَٰتِنَاۚ فَٱقۡصُصِ ٱلۡقَصَصَ لَعَلَّهُمۡ
يَتَفَكَّرُونَ ١٧٦

(176) او که چېرې مونږ غوښتلی (، نو خامخا به مو هغه په دغو (ایتونو) سره پورته کړی و او لیکن هغه ځمکې ته پوخ مایله شو (هغه ځمکې ته مینه وکړه) او د خپل خواهش پیروي یې شروع کړه، نو د هغه مثال د سپي په شان دی، که ته په هغه حمله وکړې، (نو هغه) ژبه راوباسي او تیګاه وهي او که ته یې پرېږدې (بیا هم) ژبه راوباسي او تیګاه وهي، دا د هغو خلقو مثال دی چې زمونږ د ایتونو تکذیب یې کړی دی، نو ته (دا) قصې بیان کړه، د دې لپاره چې دوی ښه فکر وکړي

سَآءَ مَثَلًا ٱلۡقَوۡمُ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ
بِـَٔايَٰتِنَا وَأَنفُسَهُمۡ كَانُواْ
يَظۡلِمُونَ ١٧٧

(177) د مثال له مخې هغه قوم بد دی چې زمونږ د ایتونو تکذیب یې کړی دی او دوی به خاص پر خپلو ځانونو ظلم کاوه

مَن يَهۡدِ ٱللَّهُ فَهُوَ ٱلۡمُهۡتَدِيۖ وَمَن
يُضۡلِلۡ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ

(178) چا ته چې الله هدایت په نصیب کړي، نو همغه هدایت موندونکی دی او هغه څوک چې الله یې ګمراه کړي، نو همدغه خلق

ٱلۡخَٰسِرُونَ ﴿١٧٨﴾

تاوانیان دي

وَلَقَدۡ ذَرَأۡنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِۖ لَهُمۡ قُلُوبٞ لَّا يَفۡقَهُونَ بِهَا وَلَهُمۡ أَعۡيُنٞ لَّا يُبۡصِرُونَ بِهَا وَلَهُمۡ ءَاذَانٞ لَّا يَسۡمَعُونَ بِهَآۚ أُوْلَٰٓئِكَ كَٱلۡأَنۡعَٰمِ بَلۡ هُمۡ أَضَلُّۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡغَٰفِلُونَ ﴿١٧٩﴾

(179) او یقینًا یقینًا مونږ د جهنم لپاره ډېر زیات داسي پېریان او انسانان پیدا کړي دي چي د هغوی زړونه شته (خو) په هغو سره هغوی نه پوهېږي او د هغوی سترګي شته (خو) لیدل پرې نه کوي او د هغوی غوږونه شته (خو) اورېدل پرې نه کوي، دغه خلق د څارویو په شان دي، بلکي دوی (له دغو نه هم) زیات ګمراه دي، همدغه خلق غافله دي

وَلِلَّهِ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ فَٱدۡعُوهُ بِهَاۖ وَذَرُواْ ٱلَّذِينَ يُلۡحِدُونَ فِيٓ أَسۡمَٰٓئِهِۦۚ سَيُجۡزَوۡنَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١٨٠﴾

(180) او خاص د الله لپاره تر ټولو ښکلي نومونه دي، نو تاسو الله په دغو (نومونو) سره بلئ او هغه کسان پرېږدئ چي د هغهٔ په نومونو کي الحاد (کوږوالی) کوي، ژر به هغوی ته د هغو عملونو بدله (سزا) ورکړی شي چي هغوی به کول

وَمِمَّنۡ خَلَقۡنَآ أُمَّةٞ يَهۡدُونَ بِٱلۡحَقِّ وَبِهِۦ يَعۡدِلُونَ ﴿١٨١﴾

(181) او په هغو کسانو کي چي مونږ پیدا کړي دي؟ یوه ډله داسي هم شته چي د حق مطابق نېغه لار ښيي او په دې (حق) سره انصاف کوي

وَٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا

(182) او هغه کسان چي زمونږ د ایتونو یې

| | |
|---|---|
| سَنَسۡتَدۡرِجُهُم مِّنۡ حَيۡثُ لَا يَعۡلَمُونَ ١٨٢ | تکذيب کړی دی؛ ژر به مونږ دوی له داسې لوري په تدريج سره راونيسو چې دوی به نه پوهېږي |
| وَأُمۡلِي لَهُمۡۚ إِنَّ كَيۡدِي مَتِينٌ ١٨٣ | (183) او زه دوی ته مهلت ورکوم، بېشکه زما تدبير (چل) ډېر مضبوط دی |
| أَوَلَمۡ يَتَفَكَّرُواْۗ مَا بِصَاحِبِهِم مِّن جِنَّةٍۚ إِنۡ هُوَ إِلَّا نَذِيرٞ مُّبِينٌ ١٨٤ | (184) ايا دوی هېڅ فکر نه دی کړی، چې د دوی په ملګري پورې هېڅ ليونتوب نشته، نه دی هغه مګر يو ښکاره وېروونکی |
| أَوَلَمۡ يَنظُرُواْ فِي مَلَكُوتِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا خَلَقَ ٱللَّهُ مِن شَيۡءٖ وَأَنۡ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ قَدِ ٱقۡتَرَبَ أَجَلُهُمۡۖ فَبِأَيِّ حَدِيثِۭ بَعۡدَهُۥ يُؤۡمِنُونَ ١٨٥ | (185) ايا دوی د اسمانونو او ځمکې په سلطنت (او انتظام) کې غور نه دی کړی او په هغو شيانو کې چې الله پيدا کړي دي او په دې کې چې کېدای شي چې د دوی اجل ډېر نژدې شوی وي، نو له دې (قرآن) نه وروسته به دوی پر کومه خبره ايمان راوړي؟ |
| مَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَلَا هَادِيَ لَهُۥۚ وَيَذَرُهُمۡ فِي طُغۡيَٰنِهِمۡ يَعۡمَهُونَ ١٨٦ | (186) هغه څوک چې الله يې ګمراه کړي، نو د هغهٔ لپاره هېڅ هدايت ورکوونکی نشته او الله دوی په خپلې سرکشۍ کې پرېږدي، په دې حال کې چې سرګردان وي |
| يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلسَّاعَةِ أَيَّانَ مُرۡسَىٰهَاۖ قُلۡ إِنَّمَا عِلۡمُهَا عِندَ رَبِّيۖ | (187) دوی له تا نه د قيامت په باره کې پوښتنه کوي چې د دې (قيامت) پېښېدل |

لَا يُجَلِّيهَا لِوَقۡتِهَآ إِلَّا هُوَۚ ثَقُلَتۡ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ لَا تَأۡتِيكُمۡ إِلَّا بَغۡتَةٗۗ يَسۡـَٔلُونَكَ كَأَنَّكَ حَفِيٌّ عَنۡهَاۖ قُلۡ إِنَّمَا عِلۡمُهَا عِندَ ٱللَّهِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ١٨٧

كله دي؟ ته ووايه: بېشكه خبره همدا ده چې د هغهٔ علم زما له رب سره دی، پر خپل وخت به يې يوائې هغه ظاهروي، دغه (پېښه) په اسمانونو او ځمکه کې درنه ده، پر تاسو به نه راځي مگر ناڅاپه، دوی له تا نه (په داسې انداز کې ) تپوس کوي گويا کې ته د ده په باره کې پوره تحقيق ته رسېدلی يې، ته ووايه: بېشکه خبره همدا ده چې د ده علم له الله سره دی او لېکن زياتره خلق نه پوهېږي

قُل لَّآ أَمۡلِكُ لِنَفۡسِي نَفۡعٗا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۚ وَلَوۡ كُنتُ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ لَٱسۡتَكۡثَرۡتُ مِنَ ٱلۡخَيۡرِ وَمَا مَسَّنِيَ ٱلسُّوٓءُۚ إِنۡ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٞ وَبَشِيرٞ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ١٨٨

(188) ته ووايه: زه د خپل ځان لپاره نه د نفعې مالك يم او نه د نقصان مگر هغه چې الله يې وغواړي او که چېرې زه پر غيبو عالم وی ()، نو) ما به خامخا ډېر خير حاصل کړی و او ما ته به هېڅ تکليف نه و رارسېدلی، زه نه يم مگر وېروونکی او زېری ورکوونکی د هغه قوم لپاره چې ايمان راوړي

۞هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٖ وَٰحِدَةٖ وَجَعَلَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا لِيَسۡكُنَ إِلَيۡهَاۖ فَلَمَّا تَغَشَّىٰهَا حَمَلَتۡ حَمۡلًا خَفِيفٗا فَمَرَّتۡ بِهِۦۖ فَلَمَّآ أَثۡقَلَت دَّعَوَا ٱللَّهَ رَبَّهُمَا

(189) دی همغه ذات دی چې تاسو يې له يو ځان نه پيدا کړي يئ او له هغه نه يې د هغه جوړه پيدا کړه، د دې لپاره چې د هغې ترځنگ ارام او سکون حاصل کړي، بيا کله چې سړي (خپله جوړه) پټه کړه (جماع يې ورسره وکړه، نو) هغه حامله شوه په سپك

لَئِنْ ءَاتَيْتَنَا صَٰلِحًا لَّنَكُونَنَّ مِنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿١٨٩﴾

حمل سره، نو هغه به يې ګرځاوه، نو کله چې درنه شوه، دواړو له خپل پالونکي الله نه دعا وغوښتله، (چې) که چېرې تا مونږ ته روغ بچـی راکړ (، نو) مونږ به خامخا ضرور له شکر کوونکو څخه شو

فَلَمَّآ ءَاتَىٰهُمَا صَٰلِحًا جَعَلَا لَهُۥ شُرَكَآءَ فِيمَآ ءَاتَىٰهُمَاۚ فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿١٩٠﴾

(190) نو کله چې الله دوی ته روغ بچی ورکړ، دوی له الله سره په هغه څه کې شریکان جوړ کړل چې دوی ته يې ورکړی و، نو الله ډېر اوچت دی له هغه څه نه چې دوی يې (ورسره) شریکوي

أَيُشْرِكُونَ مَا لَا يَخْلُقُ شَيْـًٔا وَهُمْ يُخْلَقُونَ ﴿١٩١﴾

(191) ایا دوی (له الله سره) هغه شيان شریکوي چې هېڅ شی نشي پیدا کولی، حال دا چې دوی پخپله پیدا کاوه شي

وَلَا يَسْتَطِيعُونَ لَهُمْ نَصْرًا وَلَآ أَنفُسَهُمْ يَنصُرُونَ ﴿١٩٢﴾

(192) او نه له دوی سره د څه مدد کولو طاقت لري او نه هم له خپلو ځانونو سره مدد کولی شي

وَإِن تَدْعُوهُمْ إِلَى ٱلْهُدَىٰ لَا يَتَّبِعُوكُمْۚ سَوَآءٌ عَلَيْكُمْ أَدَعَوْتُمُوهُمْ أَمْ أَنتُمْ صَٰمِتُونَ ﴿١٩٣﴾

(193) او که چېرې تهٔ دوی هدایت ته راوبلي، دوی به ستاسو پیروي ونه کړي، ستاسو لپاره يو شان ده که تاسو دوی راوبلئ، یا تاسو خاموشه واوسئ

إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ
عِبَادٌ أَمۡثَالُكُمۡۖ فَٱدۡعُوهُمۡ
فَلۡيَسۡتَجِيبُواْ لَكُمۡ إِن كُنتُمۡ
صَٰدِقِينَ ١٩٤

(194) ببشکه هغه خلق چې تاسو يې له الله نه غير بلئ، (هغوی) ستاسو په شان بنده ګان دي، نو هغوی راوبلئ، پس هغوی دې ستاسو بلنه قبوله کړي، که چېرې تاسو رښتيني يئ

أَلَهُمۡ أَرۡجُلٞ يَمۡشُونَ بِهَآۖ أَمۡ لَهُمۡ
أَيۡدٖ يَبۡطِشُونَ بِهَآۖ أَمۡ لَهُمۡ أَعۡيُنٞ
يُبۡصِرُونَ بِهَآۖ أَمۡ لَهُمۡ ءَاذَانٞ
يَسۡمَعُونَ بِهَاۗ قُلِ ٱدۡعُواْ
شُرَكَآءَكُمۡ ثُمَّ كِيدُونِ فَلَا
تُنظِرُونِ ١٩٥

(195) ايا د هغوی لپاره پښې دي چې په هغو سره تلل کوي، يا د هغوی لپاره لاسونه دي چې په هغو سره نيول کوي، يا د هغوی لپاره سترګې دي چې په هغو سره ليدل کوي، يا د هغوی لپاره غوږونه دي چې په هغو سره اورېدل کوي؟ ته ووايه: تاسو خپل شريکان راوبلئ، بيا زما په خلاف څه چل (او تدبير) وکړئ، بيا ما ته (هېڅ) مهلت مه راکوئ

إِنَّ وَلِـِّۧيَ ٱللَّهُ ٱلَّذِي نَزَّلَ ٱلۡكِتَٰبَۖ
وَهُوَ يَتَوَلَّى ٱلصَّٰلِحِينَ ١٩٦

(196) ببشکه زما مددګار هغه الله دی چې کتاب يې نازل کړی دی او هغه د نېکانو مدد او ملګرتيا کوي

وَٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا
يَسۡتَطِيعُونَ نَصۡرَكُمۡ وَلَآ أَنفُسَهُمۡ
يَنصُرُونَ ١٩٧

(197) او هغه خلق چې تاسو يې له الله نه غير بلئ، دوی ستاسو د مدد کولو هېڅ وَس نه لري او نه له خپلو ځانونو سره مدد کولی شي

وَإِن تَدۡعُوهُمۡ إِلَى ٱلۡهُدَىٰ لَا

(198) او که چېرې ته دوی هدايت ته راوبلې

يَسۡمَعُواْۖ وَتَرَىٰهُمۡ يَنظُرُونَ إِلَيۡكَ وَهُمۡ لَا يُبۡصِرُونَ ١٩٨

(، نو) دوی (ستا بلنه) نه اوري (نه يې قبلوي) او ته به دوی وينې چې (ګويا کې) تا ته ګوري، په داسې حال کې چې دوی ليدل نه کوي

خُذِ ٱلۡعَفۡوَ وَأۡمُرۡ بِٱلۡعُرۡفِ وَأَعۡرِضۡ عَنِ ٱلۡجَٰهِلِينَ ١٩٩

(199) ته معاف کول راونيسه (د عفوه کولو طريقه راخپله کړه) او د نېکۍ حکم کوه او له جاهلانو نه مخ وګرځوه

وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ نَزۡغٞ فَٱسۡتَعِذۡ بِٱللَّهِۚ إِنَّهُۥ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ٢٠٠

(200) او که چېرې د شيطان له طرفه کومه وسوسه تا (په ګناه کولو) ورتېز کړي، نو په الله پورې پناه ونيسه، بېشکه هغه ښه اورېدونکی، ښه پوه دی

إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ إِذَا مَسَّهُمۡ طَٰٓئِفٞ مِّنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ تَذَكَّرُواْ فَإِذَا هُم مُّبۡصِرُونَ ٢٠١

(201) بېشکه هغه کسان چې پرهېزګاره شوي دي؛ کله چې هغوی ته د شيطان له طرف نه څه وسوسه ورسېږي (، نو) دوی (د الله حکم) رایاد کړي، بيا نو ناڅاپه دوی لېدونکي (او بينا) وي

وَإِخۡوَٰنُهُمۡ يَمُدُّونَهُمۡ فِي ٱلۡغَيِّ ثُمَّ لَا يُقۡصِرُونَ ٢٠٢

(202) او د دوی ورونه دوی لره ګمراهۍ ته راکاږي، بيا نو هغوی هېڅ کمی نه کوي

وَإِذَا لَمۡ تَأۡتِهِم بِـَٔايَةٖ قَالُواْ لَوۡلَا ٱجۡتَبَيۡتَهَاۚ قُلۡ إِنَّمَآ أَتَّبِعُ مَا يُوحَىٰٓ

(203) او کله چې ته دوی ته څه نښه رانه وړې، دوی وايي: ولې دې له خپله ځانه غوره

إِلَيَّ مِن رَّبِّيۚ هَٰذَا بَصَآئِرُ مِن رَّبِّكُمۡ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٞ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ٢٠٣

نه کړه، ته ووايه: بېشکه خبره همدا ده چې زه د هغه څه پيروي کوم چې ما ته د خپل رب له جانبه وحي کېږي، دا ستاسو د رب له جانبه د پوهنې دلايل دي او هدايت او رحمت دی د هغه قوم لپاره چې ايمان لري

وَإِذَا قُرِئَ ٱلۡقُرۡءَانُ فَٱسۡتَمِعُواْ لَهُۥ وَأَنصِتُواْ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ٢٠٤

**(204)** او کله چې قرآن لوستل کېږي، نو تاسو هغه په غور سره اورئ او خاموشه اوسئ، د دې لپاره چې پر تاسو رحم وکړی شي

وَٱذۡكُر رَّبَّكَ فِي نَفۡسِكَ تَضَرُّعٗا وَخِيفَةٗ وَدُونَ ٱلۡجَهۡرِ مِنَ ٱلۡقَوۡلِ بِٱلۡغُدُوِّ وَٱلۡأٓصَالِ وَلَا تَكُن مِّنَ ٱلۡغَٰفِلِينَ ٢٠٥

**(205)** او ته خپل رب سبا او بېگاه په خپل زړه کې يادوه په عاجزی او وېرې سره او له اوچت اواز نه ټيټ د خبرو (په انداز) کې او له غافلانو څخه مه کېږه

إِنَّ ٱلَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ عَنۡ عِبَادَتِهِۦ وَيُسَبِّحُونَهُۥ وَلَهُۥ يَسۡجُدُونَ۩ ٢٠٦

**(206)** بېشکه هغه مخلوق چې خپل رب ته نږدې دي، هغوی د هغه له عبادت نه تکبر نه کوي او د هغه پاکي بيانوي او خاص هغهٔ ته سجده کوي

## سُورَةُ الأَنفَالِ

## سورة انفال

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡأَنفَالِۖ قُلِ ٱلۡأَنفَالُ لِلَّهِ وَٱلرَّسُولِۖ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَصۡلِحُواْ ذَاتَ بَيۡنِكُمۡۖ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ١

**(1)** دوی له تا نه د غنیمتونو په باره کې تپوس کوي، ته ووایه: غنیمتونه خاص د الله او رسول لپاره دي، نو تاسو له الله نه ووېرېږئ او تاسو د خپل مینځي حال اصلاح وکړئ او د الله او د هغه د رسول حکم ومنئ که چېرې تاسو مومنان یئ

إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَجِلَتۡ قُلُوبُهُمۡ وَإِذَا تُلِيَتۡ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُهُۥ زَادَتۡهُمۡ إِيمَٰنٗا وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ٢

**(2)** بېشکه خبره همدا ده چې مومنان هغه خلق دي، چې کله الله یاد کړی شي، نو د دوی زړونه ووېرېږي او کله چې دوی ته د هغه (الله) ایتونه تلاوت کړی شي ()، نو دغه (ایتونه) دوی ته ایمان ورزیات کړي او خاص په خپل رب باندې دوی توکل کوي

ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ٣

**(3)** هغه کسان چې لمونځ قایموي او له هغه (مال) نه چې مونږ دوی ته ورکړی دی، څه حصه خرچ کوي

أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ حَقّٗاۚ لَّهُمۡ

**(4)** همدغه خلق په حقه مومنان دي، د دوی لپاره د خپل رب په نېز درجې دي او بخښنه

دَرَجَٰتٌ عِندَ رَبِّهِمۡ وَمَغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ٤

او عزتمن رزق دى

كَمَآ أَخۡرَجَكَ رَبُّكَ مِنۢ بَيۡتِكَ بِٱلۡحَقِّ وَإِنَّ فَرِيقٗا مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ لَكَٰرِهُونَ ٥

(5) (د غنیمت په باره کې هم هغه شان خبره پېښه شوه) لکه څنګه (چې مخکې پېښه شوې وه کله) چې ته خپل رب له خپله کوره په حقه سره راوېستلی وې، او بېشکه یوه ډله له مومنانو څخه خامخا بد ګڼونکې وه (هغوی په دې کار ناخوښه وو)

يُجَٰدِلُونَكَ فِي ٱلۡحَقِّ بَعۡدَ مَا تَبَيَّنَ كَأَنَّمَا يُسَاقُونَ إِلَى ٱلۡمَوۡتِ وَهُمۡ يَنظُرُونَ ٦

(6) دوی له تا سره په حقه خبره کې جګړه کوله وروسته له هغې چې ښه واضحه شوه، د هغوی حال داسې و ګویاکې دوی مرګ ته بېول کېږي، چې دوی یې ویني

وَإِذۡ يَعِدُكُمُ ٱللَّهُ إِحۡدَى ٱلطَّآئِفَتَيۡنِ أَنَّهَا لَكُمۡ وَتَوَدُّونَ أَنَّ غَيۡرَ ذَاتِ ٱلشَّوۡكَةِ تَكُونُ لَكُمۡ وَيُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُحِقَّ ٱلۡحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦ وَيَقۡطَعَ دَابِرَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٧

(7) او کله چې الله له تاسو سره په دوه ډلو کې د یوې وعده کوله چې بېشکه دغه تاسو لپاره ده او تاسو خوښوله چې بېشکه دغه بې وسلې ډله دې تاسو لپاره شي او الله اراده کوي چې په خپلو کلماتو سره حق ثابت کړي او د کافرانو بېخ غوڅ کړي

لِيُحِقَّ ٱلۡحَقَّ وَيُبۡطِلَ ٱلۡبَٰطِلَ وَلَوۡ

(8) د دې لپاره چې حق ښه واضحه ثابت کړي او باطل ښه ښکاره باطل کړي (د باطل

كَرِهَ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿٨﴾

باطلوالی ښکاره کړي) اګر چې مجرمان (دا کار) بد هم وګڼي

إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَٱسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّي مُمِدُّكُم بِأَلْفٍ مِّنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ مُرْدِفِينَ ﴿٩﴾

(9) کله چې تاسو له خپل رب نه مدد غوښتلو، نو هغه ستاسو دعا قبوله کړه چې بېشکه زه ستاسو مدد کوونکی یم په زرو ملایکو سره، چې په یو بل پسې به راتلونکي وي

وَمَا جَعَلَهُ ٱللَّهُ إِلَّا بُشْرَىٰ وَلِتَطْمَئِنَّ بِهِۦ قُلُوبُكُمْ ۚ وَمَا ٱلنَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿١٠﴾

(10) او الله دا (مرسته) نه وه ګرځولې مګر زېرى او د دې لپاره چې په دې سره ستاسو زړونه مطمئن شي او مدد يواځې د الله له جانبه دى، بېشکه الله ډېر غالب، ښه حکمت والا دى

إِذْ يُغَشِّيكُمُ ٱلنُّعَاسَ أَمَنَةً مِّنْهُ وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً لِّيُطَهِّرَكُم بِهِۦ وَيُذْهِبَ عَنكُمْ رِجْزَ ٱلشَّيْطَٰنِ وَلِيَرْبِطَ عَلَىٰ قُلُوبِكُمْ وَيُثَبِّتَ بِهِ ٱلْأَقْدَامَ ﴿١١﴾

(11) کله چې هغه (الله) پر تاسو باندې له خپل طرف نه پرکالي اچوله د امن( او اطمينان) لپاره، او پر تاسو باندې يې له بره نه اوبه نازلولې، د دې لپاره چې تاسو په دې سره ښه پاك کړي او له تاسو نه د شيطان پليتي لرې کړي او د دې لپاره چې ستاسو زړونه مضبوط کړي او په دې سره (ستاسو) قدمونه کلك کړي

إِذۡ يُوحِي رَبُّكَ إِلَى ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ أَنِّي مَعَكُمۡ فَثَبِّتُواْ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْۚ سَأُلۡقِي فِي قُلُوبِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلرُّعۡبَ فَٱضۡرِبُواْ فَوۡقَ ٱلۡأَعۡنَاقِ وَٱضۡرِبُواْ مِنۡهُمۡ كُلَّ بَنَانٖ ١٢

(12) کله چې ستا رب ملايکو ته وحي کوله چې بېشکه زه له تاسو سره يم، نو تاسو هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی ثابت قدم کړئ، ژر به زه د هغو کسانو په زړونو کې رعب واچوم چې کافران شوي دي، نو تاسو (د هغوی) د څټونو له پاسه وهل وکړئ، او تاسو د دوی پر (هر بند او) ټولو ګوتو باندې ګوزارونه وکړئ

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ شَآقُّواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥۚ وَمَن يُشَاقِقِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَإِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ١٣

(13) دا ځکه چې بېشکه دوی د الله او د هغه د رسول مخالفت کړی دی او څوک چې د الله او د هغه د رسول مخالفت کوي، نو يقينًا الله ډېر سخت عذاب والا دی

ذَٰلِكُمۡ فَذُوقُوهُ وَأَنَّ لِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابَ ٱلنَّارِ ١٤

(14) دا (دنيايي سزا ده) نو تاسو دا وڅکئ او دا چې بېشکه د کافرانو لپاره د اور عذاب دی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا لَقِيتُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ زَحۡفٗا فَلَا تُوَلُّوهُمُ ٱلۡأَدۡبَارَ ١٥

(15) ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! کله چې تاسو له کافرانو سره مخامخ شئ، چې تاسو (ټول) يو لښکر وئ، نو تاسو هغوی ته (خپلې) شاګانې مه وراړوئ

وَمَن يُوَلِّهِمۡ يَوۡمَئِذٖ دُبُرَهُۥٓ إِلَّا مُتَحَرِّفٗا لِّقِتَالٍ أَوۡ مُتَحَيِّزًا إِلَىٰ

(16) او هغه څوک چې دوی ته په دغه ورځ کې خپله شا وروړوي، سوا له هغه نه چې د

فِئَةٖ فَقَدۡ بَآءَ بِغَضَبٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَمَأۡوَىٰهُ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ١٦

جنگ لپاره ښېرته ورگرځېدونکی وي، یا له (خپلې) ډلې سره یو ځای کېدونکی وي، نو یقینًا هغه د الله له جانبه په غضب سره راوگرځېده او د هغه استوگنه جهنم دی او هغه د ورتلو بد ځای دی

فَلَمۡ تَقۡتُلُوهُمۡ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ قَتَلَهُمۡۚ وَمَا رَمَيۡتَ إِذۡ رَمَيۡتَ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ رَمَىٰ وَلِيُبۡلِيَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ مِنۡهُ بَلَآءً حَسَنًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ١٧

(17) نو تاسو هغوی نه دي وژلي او لیکن الله هغوی وژلي دي او تا ویشتل نه دي کړي کله چې تا ویشتل وکړل او لیکن الله (دغه) ویشتل کړي دي او د دې لپاره چې هغه له خپل جانب نه په مومنانو باندې احسان وکړي، ښه احسان، بېشکه الله ښه اورېدونکی، ښه پوه دی

ذَٰلِكُمۡ وَأَنَّ ٱللَّهَ مُوهِنُ كَيۡدِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ١٨

(18) دا (احسان لازم و) او دا چې بېشکه الله د کافرانو چلونو (او سازشونو) لره ضعیفه کوونکی دی

إِن تَسۡتَفۡتِحُواْ فَقَدۡ جَآءَكُمُ ٱلۡفَتۡحُۖ وَإِن تَنتَهُواْ فَهُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡۖ وَإِن تَعُودُواْ نَعُدۡ وَلَن تُغۡنِيَ عَنكُمۡ فِئَتُكُمۡ شَيۡـٔٗا وَلَوۡ كَثُرَتۡ وَأَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٩

(19) که چېرې تاسو فتح غواړئ، نو یقینًا تاسو ته فتح راغله، او که چېرې تاسو (له کفر نه) منع شئ، نو دا تاسو لپاره ډېر غوره دي او که چېرې تاسو راوگرځېدئ (جنگ/کفر ته) مونږ به (هم د مومنانو مدد ته) راوگرځو او تاسو ته به ستاسو ډله د هېڅ شي فایده درونه

رسولی شي اگر که ډېره لویه هم وي او دا
چې بېشکه الله د مومنانو ملگری دی

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَا تَوَلَّوْاْ عَنْهُ وَأَنتُمْ تَسْمَعُونَ ﴿٢٠﴾

(20) ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو د الله او د هغه د رسول حکم منئ او له دې (اطاعت) نه مه گرځئ، حال دا چې تاسو یې اورئ

وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ قَالُواْ سَمِعْنَا وَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ ﴿٢١﴾

(21) او تاسو د هغو خلقو په شان مه کېږئ چې ویل یې: مونږ واورېدل، حال دا چې دوی به نه اورېدل (فایده من اورېدل)

۞إِنَّ شَرَّ ٱلدَّوَآبِّ عِندَ ٱللَّهِ ٱلصُّمُّ ٱلْبُكْمُ ٱلَّذِينَ لَا يَعْقِلُونَ ﴿٢٢﴾

(22) بېشکه د الله په نیز په حیواناتو کې تر ټولو بدتر هغه کاڼه او گونگیان خلق دي، چې له عقل نه کار نه اخلي

وَلَوْ عَلِمَ ٱللَّهُ فِيهِمْ خَيْرًا لَّأَسْمَعَهُمْ ۖ وَلَوْ أَسْمَعَهُمْ لَتَوَلَّواْ وَّهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٢٣﴾

(23) او که چېرې الله ته په دوی کې څه خیر (اِنابت او د حق د اورېدلو صلاحیت) معلوم وَی (، نو) خامخا به یې دوی ته اورولي وَی او که چېرې دوی ته یې (له انابته بغیر) اورولي وَی، نو دوی به خامخا گرځېدلي وو، په دې حال کې چې دوي به اعراض کوونکي وو

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱسْتَجِيبُواْ لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا

(24) ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو د الله او د هغه د رسول بلنه منئ

| | |
|---|---|
| يُحۡيِيكُمۡۖ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَحُولُ بَيۡنَ ٱلۡمَرۡءِ وَقَلۡبِهِۦ وَأَنَّهُۥٓ إِلَيۡهِ تُحۡشَرُونَ ٢٤ | كله چې دی تاسو د هغه کار لپاره راوبلي چې تاسو ته ژوند درکوي، او پوه شئ چې بېشکه الله د انسان او د هغه د زړه تر مینځ حایل کېږي (رکاوټ جوړېږي) او دا چې بېشکه خاص د هغه په طرف به تاسو ورجمع کولی شئ |
| وَٱتَّقُواْ فِتۡنَةٗ لَّا تُصِيبَنَّ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنكُمۡ خَآصَّةٗۖ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ٢٥ | (25) او تاسو له هغې فتنې نه ځان وساتئ چې په تاسو کې به یواځې خاص ظالمانو ته نه رسېږي او پوه شئ چې بېشکه الله ډېر سخت عذاب وا لا دی |
| وَٱذۡكُرُوٓاْ إِذۡ أَنتُمۡ قَلِيلٞ مُّسۡتَضۡعَفُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ تَخَافُونَ أَن يَتَخَطَّفَكُمُ ٱلنَّاسُ فَـَٔاوَىٰكُمۡ وَأَيَّدَكُم بِنَصۡرِهِۦ وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ٢٦ | (26) او تاسو یاد کړئ (هغه وخت) کله چې تاسو ډېر لږ وئ، په ځمکه کې ضعیفه کړی شوي وئ، چې تاسو به وېرېدلئ له دې نه چې خلق به مو په جلتۍ سره وتښتوي، نو هغه تاسو ته ځای درکړ او په خپل مدد سره یې تاسو مضبوط کړئ او تاسو ته یې له پاکیزه څیزونو نه رزق درکړ، د دې لپاره چې تاسو شکر وباسئ |
| يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَخُونُواْ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ وَتَخُونُوٓاْ أَمَٰنَٰتِكُمۡ وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٢٧ | (27) ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو له الله سره او له رسول سره خیانت مه کوئ او په خپلو امانتونو کې (هم) خیانت |

مه کوئ، په دې حال کې چې تاسو پوهېږئ

وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَآ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَأَوۡلَٰدُكُمۡ فِتۡنَةٞ وَأَنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥٓ أَجۡرٌ عَظِيمٞ ٢٨

(28) او تاسو پوه شئ چې بېشکه خبره همدا ده چې ستاسو مالونه او ستاسو اولادونه ازمایش دي او بېشکه الله (چې دی) له هغه سره ډېر لوی اجر دی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَتَّقُواْ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّكُمۡ فُرۡقَانٗا وَيُكَفِّرۡ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡۗ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ٢٩

(29) ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی! که چېرې تاسو له الله نه ووېرېږئ، هغه به تاسو لپاره فرقان (د حق او باطل په مینځ کې فرق کوونکی) مقرر کړي او له تاسو نه به ستاسو ګناهونه ختم کړي او تاسو ته به بخښنه وکړي او الله د ډېر لوی فضل والا دی

وَإِذۡ يَمۡكُرُ بِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِيُثۡبِتُوكَ أَوۡ يَقۡتُلُوكَ أَوۡ يُخۡرِجُوكَۚ وَيَمۡكُرُونَ وَيَمۡكُرُ ٱللَّهُۖ وَٱللَّهُ خَيۡرُ ٱلۡمَٰكِرِينَ ٣٠

(30) او كله چې له تا سره كافرانو مكر (فريب) كاوه، د دې لپاره چې تا بندي كړي، يا تا قتل كړي، يا تا وباسي، او هغوى چلونه كول او الله (هم) پټ تدبير كاوه او الله تر ټولو بهتر تدبير كوونكى دى

وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُنَا قَالُواْ قَدۡ سَمِعۡنَا لَوۡ نَشَآءُ لَقُلۡنَا مِثۡلَ هَٰذَآ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ٣١

(31) او كله چې دوى ته زمونږ ایتونه تلاوت كولى شي، دوى وايي: يقيناً مونږ واورېدل، كه چېرې مونږ وغواړو خامخا مونږ به هم د دې (قرآن) په مثل وواېو، نه دي دا مګر د

ړومبنو خلقو باطل داستانونه

وَإِذۡ قَالُواْ ٱللَّهُمَّ إِن كَانَ هَٰذَا هُوَ ٱلۡحَقَّ مِنۡ عِندِكَ فَأَمۡطِرۡ عَلَيۡنَا حِجَارَةٗ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ أَوِ ٱئۡتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٖ ۝٣٢

(32) او كله چې دوی وويل: ای الله! كه چېرې همدا، ستا له جانبه حق دی، نو ته پر مونږ باندې له اسمان نه كاڼي راووروه، يا مونږ ته ډېر دردوونكی عذاب راولېږه

وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمۡ وَأَنتَ فِيهِمۡۚ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ مُعَذِّبَهُمۡ وَهُمۡ يَسۡتَغۡفِرُونَ ۝٣٣

(33) او الله داسې نه دی چې دوی ته عذاب وركړي، په دې حال كې چې ته په دوی كې يې او الله دوی ته عذاب وركوونكی نه دی، په داسې حال كې چې دوی بخښنه (استغفار) غواړي

وَمَا لَهُمۡ أَلَّا يُعَذِّبَهُمُ ٱللَّهُ وَهُمۡ يَصُدُّونَ عَنِ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ وَمَا كَانُوٓاْ أَوۡلِيَآءَهُۥٓۚ إِنۡ أَوۡلِيَآؤُهُۥٓ إِلَّا ٱلۡمُتَّقُونَ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ۝٣٤

(34) او دوی ته څه (امتياز حاصل) دی چې الله به دوی ته عذاب نه وركوي، حال دا چې دوی له مسجد حرام نه (خلق) منع كوي، په دې حال كې چې دوی د دې (مسجد) جايز واكداران هم نه دي، نه دي واكداران د دې (مسجد) مگر پرهېزگاره خلق او لېكن د دغو خلقو زياتره نه پوهېږي

وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمۡ عِندَ ٱلۡبَيۡتِ إِلَّا مُكَآءٗ وَتَصۡدِيَةٗۚ فَذُوقُواْ

(35) او د بيت الله په خوا كې د دوی لمونځ نه و مگر شپېلې وهل او لاسونه ټكول (پړقول)، نو تاسو عذاب وڅكئ په سبب د

ٱلۡعَذَابَ بِمَا كُنتُمۡ تَكۡفُرُونَ ٣٥

هغه كفر چې تاسو به كاوه

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُنفِقُونَ أَمۡوَٰلَهُمۡ لِيَصُدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيۡهِمۡ حَسۡرَةٗ ثُمَّ يُغۡلَبُونَۗ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحۡشَرُونَ ٣٦

(36) ببشكه هغه كسان چې كفر يې كړى دى، دوى خپل مالونه د دې لپاره خرچ كوي چې د الله له لارې نه (خلق) منع كړي، نو ژر به دوى دا (مالونه) ولګوي، بيا به دغه په دوى باندې (د) حسرت (او پښېمانتيا باعث) وي، بيا به دوى مغلوب كړى شي او هغه كسان چې كفر يې كړى دى، هغوى به جهنم ته ورجمع كولى شي

لِيَمِيزَ ٱللَّهُ ٱلۡخَبِيثَ مِنَ ٱلطَّيِّبِ وَيَجۡعَلَ ٱلۡخَبِيثَ بَعۡضَهُۥ عَلَىٰ بَعۡضٖ فَيَرۡكُمَهُۥ جَمِيعٗا فَيَجۡعَلَهُۥ فِي جَهَنَّمَۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ٣٧

(37) د دې لپاره چې الله خبيث له پاك نه جدا كړي او (بيا) خبيث كېږدي ځينې يې د ځينو له پاسه، بيا يې يو د بل له پاسه ټول راجمع كړي، بيا به يې جهنم ته وغورځوي، همدغه خلق تاوانيان دي

قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِن يَنتَهُواْ يُغۡفَرۡ لَهُم مَّا قَدۡ سَلَفَ وَإِن يَعُودُواْ فَقَدۡ مَضَتۡ سُنَّتُ ٱلۡأَوَّلِينَ ٣٨

(38) ته هغو كسانو ته ووايه چې كفر يې كړى دى: كه چېرې دوى منع شي (،) نو دوى ته به د هغو (ګناهونو) بخښنه وشي چې مخكې تېرې شوې دي او كه چېرې دوى (كفر ته بيا) راوګرځي، نو تحقيق د ړومبنو خلقو طريقه (قانون) تېره شوې ده. (له هغوى سره

شوی عمل له دوی سره هم کېدونکی دی)

وَقَٰتِلُوهُمۡ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتۡنَةٞ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ كُلُّهُۥ لِلَّهِۚ فَإِنِ ٱنتَهَوۡاْ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِمَا يَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ﴿٣٩﴾

(39) او تاسو له دوی سره وجنگېږئ تر هغه پورې چې فتنه (له دين نه اړول) پاتې نشي او دين ټول خاص د الله لپاره شي، نو که چېرې دوی (له کفر او جنگ نه) منع شي، نو بېشکه الله د هغو عملونو چې دوی يې کوي ښه ليدونکی دی

وَإِن تَوَلَّوۡاْ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَوۡلَىٰكُمۡۚ نِعۡمَ ٱلۡمَوۡلَىٰ وَنِعۡمَ ٱلنَّصِيرُ ﴿٤٠﴾

(40) او که چېرې دوی (له ايمان نه) وگرځي، نو تاسو پوه شئ چې بېشکه الله ستاسو مولٰی (ساتونکی) دی، هغه ښه مولٰی دی او ښه مدد کوونکی دی

۞وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَا غَنِمۡتُم مِّن شَيۡءٖ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُۥ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِ إِن كُنتُمۡ ءَامَنتُم بِٱللَّهِ وَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَىٰ عَبۡدِنَا يَوۡمَ ٱلۡفُرۡقَانِ يَوۡمَ ٱلۡتَقَى ٱلۡجَمۡعَانِۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ﴿٤١﴾

(41) او تاسو پوه شئ چې بېشکه هر هغه شی چې تاسو يې په غنيمت کې حاصل کړئ، نو بېشکه د الله لپاره د هغه (غنيمت) پنځمه برخه ده او د رسول لپاره او د خپلوانو او يتيمانو او مسکينانو او مسافرو لپاره، که چېرې يئ تاسو چې پر الله ايمان لرئ او پر هغه شي چې مونږ پر خپل بنده باندې د فيصلې په ورځ نازل کړ، هغه ورځ چې دوه ډلې يو تربله (د جنگ لپاره) مخامخ شوې او الله په هر شي باندې ښه قادر دی

إِذۡ أَنتُم بِٱلۡعُدۡوَةِ ٱلدُّنۡيَا وَهُم
بِٱلۡعُدۡوَةِ ٱلۡقُصۡوَىٰ وَٱلرَّكۡبُ
أَسۡفَلَ مِنكُمۡۚ وَلَوۡ تَوَاعَدتُّمۡ
لَٱخۡتَلَفۡتُمۡ فِي ٱلۡمِيعَٰدِ وَلَٰكِن
لِّيَقۡضِيَ ٱللَّهُ أَمۡرٗا كَانَ مَفۡعُولٗا
لِّيَهۡلِكَ مَنۡ هَلَكَ عَنۢ بَيِّنَةٖ
وَيَحۡيَىٰ مَنۡ حَيَّ عَنۢ بَيِّنَةٖۗ وَإِنَّ
ٱللَّهَ لَسَمِيعٌ عَلِيمٌ ٤٢

(42) كله چې تاسو په ډېرې نژدې غاړه کې وئ او هغوی په ډېرې لرې غاړه کې وو او قافله له تاسو نه لاندې وه او که چېرې تاسو يو له بل سره وعده کړې وَی، نو تاسو به خامخا په وعده کې مختلف شوي وَی او لېکن د دې لپاره چې الله هغه کار پوره کړي چې مقرر شوی و، د دې لپاره چې هلاکېدونکی د روښانه دليل (له قايمېدو) نه (پس) هلاک شي، او ژوندی پاتې کېدونکی د روښانه دليل (له قايمېدو) نه (پس) ژوندی واوسي او بېشکه الله يقينًا ښه اورېدونکی، ښه پوه دی

إِذۡ يُرِيكَهُمُ ٱللَّهُ فِي مَنَامِكَ
قَلِيلٗاۖ وَلَوۡ أَرَىٰكَهُمۡ كَثِيرٗا
لَّفَشِلۡتُمۡ وَلَتَنَٰزَعۡتُمۡ فِي ٱلۡأَمۡرِ
وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ سَلَّمَۚ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ
بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ٤٣

(43) كله چې الله تا ته ستا په خوب کې هغوی ډېر لږ ښودل او که چېرې تا ته يې هغوی ډېر زيات ښودلي وَی، (نو) تاسو به خامخا بې زړه شوي وی او تاسو به په خپل مينځ کې په دې کار کې خامخا اختلاف او جګړه کړې وَی او لېکن الله (ستاسو) ساتنه وکړه، بېشکه هغه د سينو پر خبرو ښه عالم دی

وَإِذۡ يُرِيكُمُوهُمۡ إِذِ ٱلۡتَقَيۡتُمۡ فِيٓ
أَعۡيُنِكُمۡ قَلِيلٗا وَيُقَلِّلُكُمۡ فِيٓ

(44) او كله چې يې تاسو ته هغوی، له يو بل سره د مخامخ کېدلو په وخت کې، ستاسو په

أَعۡيُنِهِمۡ لِيَقۡضِيَ ٱللَّهُ أَمۡرٗا كَانَ
مَفۡعُولٗاۗ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ
ٱلۡأُمُورُ ﴿٤٤﴾

سترګو کې ډېر لږ ښودل او تاسو يې د هغوی
په سترګو کې لږ ښودلئ، د دې لپاره چې الله
هغه کار پوره کړي چې مقرر شوی و او خاص
د الله په طرف ټول کارونه بېرته ګرځولی شي

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا لَقِيتُمۡ
فِئَةٗ فَٱثۡبُتُواْ وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرٗا
لَّعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴿٤٥﴾

(45) ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی
دی! کله چې تاسو د کومې (کافري) ډلې
سره مخامخ شئ، نو ثابت قدم اوسئ او الله
ډېر زيات یادوئ، د دې لپاره چې تاسو
کامیاب شئ

وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَا
تَنَٰزَعُواْ فَتَفۡشَلُواْ وَتَذۡهَبَ
رِيحُكُمۡۖ وَٱصۡبِرُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ
ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿٤٦﴾

(46) او تاسو د الله او د هغه د رسول اطاعت
کوئ او په خپل مینځ کې جګړه (او اختلاف)
مه کوئ (ګنې) نو بې زړه به شئ او ستاسو
زور به لاړ شي او صبر کوئ، بېشکه الله د صبر
کوونکو ملګری دی

وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ خَرَجُواْ مِن
دِيَٰرِهِم بَطَرٗا وَرِئَآءَ ٱلنَّاسِ
وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ
بِمَا يَعۡمَلُونَ مُحِيطٞ ﴿٤٧﴾

(47) او تاسو د هغه خلقو په شان مه کېږئ
چې له خپلو کورونو نه ووتل، په دې حال کې
چې تکبر کوونکي او خلقو ته ځان ښودونکي
وو او دوی د الله له لارې نه (خلق) منع کوي
او الله د هغو کارونو احاطه کوونکی دی چې
دوی يې کوي

وَإِذۡ زَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَعۡمَٰلَهُمۡ
وَقَالَ لَا غَالِبَ لَكُمُ ٱلۡيَوۡمَ مِنَ
ٱلنَّاسِ وَإِنِّي جَارٞ لَّكُمۡۖ فَلَمَّا
تَرَآءَتِ ٱلۡفِئَتَانِ نَكَصَ عَلَىٰ
عَقِبَيۡهِ وَقَالَ إِنِّي بَرِيٓءٞ مِّنكُمۡ
إِنِّيٓ أَرَىٰ مَا لَا تَرَوۡنَ إِنِّيٓ أَخَافُ
ٱللَّهَۚ وَٱللَّهُ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ٤٨

(48) او (یاد کړئ) هغه وخت چې شیطان دوی ته د دوی عملونه ښایسته کړل او ویې ویل:نن ورځ پر تاسو باندې له خلقو څخه هیڅوك غالب راتلونکی نشته او بېشکه زه ستاسو ساتونکی یم، نو کله چې دواړه ډلې یو تربله مخامخ شوې، بېرته په منډه په شا لاړ او ویې ویل:بېشکه زه له تاسو بېزاره یم، بېشکه زه هغه څه وینم چې تاسو یې نه وینئ، بېشکه زه له الله څخه وېرېږم او الله ډېر سخت عذاب والا دی

إِذۡ يَقُولُ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِي
قُلُوبِهِم مَّرَضٌ غَرَّ هَٰٓؤُلَآءِ دِينُهُمۡۗ
وَمَن يَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ
عَزِيزٌ حَكِيمٞ ٤٩

(49) کله چې منافقانو ویل او هغو کسانو چې د هغوی په زړونو کې مرض و: دا خلق خپل دین دوکه کړي دي او څوك چې په الله باندې توکل وکړي، نو یقینًا الله ښه غالب، ښه حکمت والا دی

وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذۡ يَتَوَفَّى ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ
ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَضۡرِبُونَ وُجُوهَهُمۡ
وَأَدۡبَٰرَهُمۡ وَذُوقُواْ عَذَابَ
ٱلۡحَرِيقِ ٥٠

(50) او که چېرې ته ووینې هغه وخت چې ملایك د کافر شویو کسانو ساګانې قبض کوي، چې د هغوی مخونه او د هغوی شاګانې وهي او (ورته وايي:) سخت سوزونکی عذاب وڅکئ

ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيكُمۡ وَأَنَّ

(51) دا په سبب د هغو (بدو عملونو) چې

ٱللَّهَ لَيۡسَ بِظَلَّٰمٖ لِّلۡعَبِيدِ ٥١

ستاسو لاسونو مخکې لیږلي دي او په دې چې یقینًا الله پر بنده ګانو هېڅ ظلم کوونکی نه دی

كَدَأۡبِ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُ بِذُنُوبِهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِيّٞ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ٥٢

(52) (د دې کافرانو حال هم هغه شان دی) لکه حال د فرعونیانو او د هغو کسانو چې له دوی نه مخکې وو، د الله په ایتونو کافر شول، نو الله هغوی د خپلو ګناهونو په سبب ونیول، بېشکه الله قوي، (او) ډېر سخت عذاب والا دی

ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ لَمۡ يَكُ مُغَيِّرٗا نِّعۡمَةً أَنۡعَمَهَا عَلَىٰ قَوۡمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنفُسِهِمۡ وَأَنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ٥٣

(53) دا په دې چې یقینًا الله د هغه نعمت بدلوونکی نه دی چې پر کوم قوم یې پېرزو کړی وي تر هغه چې هغوی هغه (حالت) بدل کړي چې د هغوی په نفسونو کې دی او دا په دې چې یقینًا الله ښه اورېدونکی، ښه پوه دی

كَدَأۡبِ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ فَأَهۡلَكۡنَٰهُم بِذُنُوبِهِمۡ وَأَغۡرَقۡنَآ ءَالَ فِرۡعَوۡنَۚ وَكُلّٞ كَانُواْ ظَٰلِمِينَ ٥٤

(54) لکه حال د فرعونیانو او د هغو کسانو چې له دوی نه مخکې وو، د خپل رب د ایتونو تکذیب یې وکړ، نو مونږ هغوی د خپلو ګناهونو په وجه هلاك کړل او فرعونیان مو غرق کړل او هغوی ټول ظالمان وو

إِنَّ شَرَّ ٱلدَّوَآبِّ عِندَ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ

(55) بېشکه د الله په نیز په ځمکه باندې په

كَفَرُواْ فَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٥٥﴾

گرځېدونکو کې تر ټولو بدتر هغه کسان دي چې کفر يې کړی دی، نو هغوی ايمان نه راوړي

ٱلَّذِينَ عَٰهَدتَّ مِنۡهُمۡ ثُمَّ يَنقُضُونَ عَهۡدَهُمۡ فِي كُلِّ مَرَّةٖ وَهُمۡ لَا يَتَّقُونَ ﴿٥٦﴾

(56) هغه کسان چې تا له هغوی سره مُعَاهَده کړې وه، بيا هر ځله دوی خپل عهد (تړون) ماتوي او دوی (له الله نه) نه وېرېږي

فَإِمَّا تَثۡقَفَنَّهُمۡ فِي ٱلۡحَرۡبِ فَشَرِّدۡ بِهِم مَّنۡ خَلۡفَهُمۡ لَعَلَّهُمۡ يَذَّكَّرُونَ ﴿٥٧﴾

(57) نو که کله هم ته دوی په جنگ کې ومومې، نو دوی ته په سزا ورکولو سره هغه کسان تيت او پرك کړه چې د دوی وروسته دي، لپاره د دې چې دغه (وروستني خلق) نصيحت ومومي

وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِن قَوۡمٍ خِيَانَةٗ فَٱنۢبِذۡ إِلَيۡهِمۡ عَلَىٰ سَوَآءٍۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡخَآئِنِينَ ﴿٥٨﴾

(58) او که چېرې کله هم ته له کوم قوم نه د خيانت (وعده خلافۍ) اندېښنه ولرې، نو ته دوی ته په برابرۍ سره (دغه عهد) وغورځوه (تړون على الإعلان ختم کړه)، بېشکه الله خيانت کوونکي (وعده ماتوونکي) نه خوښوي

وَلَا يَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ سَبَقُوٓاْۚ إِنَّهُمۡ لَا يُعۡجِزُونَ ﴿٥٩﴾

(59) او کافر شوي کسان دې کله هم (دا) گمان ونه کړي چې دوی بچ شول، بېشکه دوی (الله لره) نشي عاجزه کولی

وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن قُوَّةٖ

(60) او تاسو قوت او ترلې اسونه تيار کړئ

وَمِن رِّبَاطِ ٱلۡخَيۡلِ تُرۡهِبُونَ بِهِۦ عَدُوَّ ٱللَّهِ وَعَدُوَّكُمۡ وَءَاخَرِينَ مِن دُونِهِمۡ لَا تَعۡلَمُونَهُمُ ٱللَّهُ يَعۡلَمُهُمۡۚ وَمَا تُنفِقُواْ مِن شَيۡءٖ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ يُوَفَّ إِلَيۡكُمۡ وَأَنتُمۡ لَا تُظۡلَمُونَ ﴿٦٠﴾

خومره چې استطاعت لرئ، چې په دې سره به تاسو د الله دښمنان او خپل دښمنان وېروئ او له دوی نه سوا نور خلق (هم) چې تاسو هغوی نه پېژنئ، الله هغوی پېژني او تاسو چې د الله په لاره کې څه شی هم خرچ کوئ، تاسو ته به پوره (بدله) درکړی شي او پر تاسو به ظلم نه کېږي

۞وَإِن جَنَحُواْ لِلسَّلۡمِ فَٱجۡنَحۡ لَهَا وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٦١﴾

(61) او که دغه (کفار) سولې ته مايل شي، نو ته هم دې ته مايل شه او په الله باندې توکل وکړه، بېشکه هم هغه، ښه اورېدونکی، ښه پوه دی

وَإِن يُرِيدُوٓاْ أَن يَخۡدَعُوكَ فَإِنَّ حَسۡبَكَ ٱللَّهُۚ هُوَ ٱلَّذِيٓ أَيَّدَكَ بِنَصۡرِهِۦ وَبِٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٦٢﴾

(62) او که دوی له تا سره د دوکې کولو اراده وکړي، نو بېشکه تا لپاره الله کافي دی، دی همغه ذات دی چې ته يې په خپل مدد سره او په مومنانو سره مضبوط کړی يې

وَأَلَّفَ بَيۡنَ قُلُوبِهِمۡۚ لَوۡ أَنفَقۡتَ مَا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا مَّآ أَلَّفۡتَ بَيۡنَ قُلُوبِهِمۡ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ أَلَّفَ بَيۡنَهُمۡۚ إِنَّهُۥ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ﴿٦٣﴾

(63) او د دوی د زړونو په مینځ کې يې محبت واچاوه، که چېرې تا هغه ټول څه لګولي وی چې په ځمکه کې دي (، نو) تا به د دوی د زړونو په مینځ کې محبت نه و اچولی او لېکن الله د دوی په مینځ کې محبت واچاوه، بېشکه هغه ډېر غالب، ښه

حکمت والا دی

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ حَسۡبُكَ ٱللَّهُ وَمَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٦٤﴾

(64) ای نبي! تا لپاره او ستا پیروي کوونکو مومنانو لپاره الله کافي دی

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ حَرِّضِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ عَلَى ٱلۡقِتَالِۚ إِن يَكُن مِّنكُمۡ عِشۡرُونَ صَٰبِرُونَ يَغۡلِبُواْ مِاْئَتَيۡنِۚ وَإِن يَكُن مِّنكُم مِّاْئَةٞ يَغۡلِبُوٓاْ أَلۡفٗا مِّنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ لَّا يَفۡقَهُونَ ﴿٦٥﴾

(65) ای نبي! ته مومنان (له دغو کفارو سره) په جنګ کولو باندې تېز کړه، که چېرې په تاسو کې شل تنه صبر کوونکي وي، نو پر دوه سوه کسانو به غالبه شي او که چېرې په تاسو کې سل تنه صبر کوونکي وي (،نو) پر هغو زرو کسانو به غالبه شي چې کافر شوي دي، ځکه چې یقینًا هغوی داسې قوم دی چې نه پوهېږي

ٱلۡـَٰٔنَ خَفَّفَ ٱللَّهُ عَنكُمۡ وَعَلِمَ أَنَّ فِيكُمۡ ضَعۡفٗاۚ فَإِن يَكُن مِّنكُم مِّاْئَةٞ صَابِرَةٞ يَغۡلِبُواْ مِاْئَتَيۡنِۚ وَإِن يَكُن مِّنكُمۡ أَلۡفٞ يَغۡلِبُوٓاْ أَلۡفَيۡنِ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿٦٦﴾

(66) اوس الله پر تاسو اساني راوستله او معلومه (څرګنده) يې کړه چې بېشکه په تاسو کې کمزوري ده، نو که چېرې په تاسو کې سل تنه صبر کوونکي وي، (،نو) پر دوه سوه به غالبه شي او که په تاسو کې زر تنه (صبر کوونکي) وي (،نو) پر دوه زره به غالبه شي، د الله په حکم سره، او الله د صبر کوونکو ملګری دی

مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَكُونَ لَهُۥٓ

(67) د نبي لپاره لایق نه دي چې د هغه دې

أَسۡرَىٰ حَتَّىٰ يُثۡخِنَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ تُرِيدُونَ عَرَضَ ٱلدُّنۡيَا وَٱللَّهُ يُرِيدُ ٱلۡأٓخِرَةَۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ٦٧

بندیان (قیدیان) وي، تر هغه چې وینې توی کړي، تاسو د دنیا اسباب غواړئ او الله (تاسو لپاره) د اخرت (د ثواب) اراده لري او الله بنه غالب، بنه حکمت والا دی

لَّوۡلَا كِتَٰبٞ مِّنَ ٱللَّهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمۡ فِيمَآ أَخَذۡتُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ٦٨

(68) که د الله له جانبه مخکینی لیك نه وی (،نو) تاسو ته به د هغې (فدیې) په بدل کې چې تاسو واخیستله، خامخا ډېر لوی عذاب دررسیدلی و

فَكُلُواْ مِمَّا غَنِمۡتُمۡ حَلَٰلٗا طَيِّبٗاۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٦٩

(69) نو تاسو خورئ له هغه (ماله) چې تاسو په غنیمت حاصل کړی دی، چې حلال پاکیزه دی، او له الله نه ووېرېږئ، بېشکه الله ډېر بخښونکی، بې حده مهربان دی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّمَن فِيٓ أَيۡدِيكُم مِّنَ ٱلۡأَسۡرَىٰٓ إِن يَعۡلَمِ ٱللَّهُ فِي قُلُوبِكُمۡ خَيۡرٗا يُؤۡتِكُمۡ خَيۡرٗا مِّمَّآ أُخِذَ مِنكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٧٠

(70) ای نبي! ته هغو بندیانو (قیدیانو) ته ووایه چې ستاسو په لاس کې دي: که چېرې الله ستاسو په زړونو کې خیر (ایمان) معلوم کړي (،نو) تاسو ته به له هغه (مال) نه غوره درکړي چې له تاسو اخیستل شوی دی او تاسو ته به بخښنه وکړي او الله ډېر بخښونکی، بې حده مهربان دی

وَإِن يُرِيدُواْ خِيَانَتَكَ فَقَدۡ خَانُواْ

(71) او که دوی له تا سره د خیانت کولو اراده لري، نو یقینًا دوی له دې نه مخکې له

ٱللَّهَ مِن قَبۡلُ فَأَمۡكَنَ مِنۡهُمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٧١﴾

الله سره خيانت کړی دی، نو هغه پر دوی باندې (د مومنانو) قابو (او غلبه) راوستله، او الله ښه پوه، ښه حکمت والا دی

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلَّذِينَ ءَاوَواْ وَّنَصَرُوٓاْ أُوْلَٰٓئِكَ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۚ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَمۡ يُهَاجِرُواْ مَا لَكُم مِّن وَلَٰيَتِهِم مِّن شَيۡءٍ حَتَّىٰ يُهَاجِرُواْۚ وَإِنِ ٱسۡتَنصَرُوكُمۡ فِي ٱلدِّينِ فَعَلَيۡكُمُ ٱلنَّصۡرُ إِلَّا عَلَىٰ قَوۡمِۭ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهُم مِّيثَٰقٞۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ﴿٧٢﴾

(72) بېشکه هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او هجرت يې کړی دی او د الله په لاره کې يې په خپلو ځانونو سره جهاد کړی دی او هغه کسان چې ځای يې ورکړی دی (دوی ته) او مرسته يې ورسره کړې ده، دغه کسان يو تر بله دوستان دي او هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او هجرت يې نه دی کړی (دار الاسلام ته) (، نو) ستاسو له هغوی سره د دوستۍ هېڅ شی (تعلق) نشته تر هغه پورې چې دوی هجرت وکړي او که چېرې دوی له تاسو نه په دين کې مرسته وغواړي، نو پر تاسو باندې مدد کول لازم دي، مگر د هغه (کافر) قوم په خلاف نه چې ستاسو او د هغوی په مينځ کې معاهده وي او الله هغو کارونو لره چې تاسو يې کوئ ؛ ښه ليدونکی دی

وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٍۚ إِلَّا تَفۡعَلُوهُ تَكُن فِتۡنَةٞ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَفَسَادٞ كَبِيرٞ ﴿٧٣﴾

(73) او هغه کسان چې کفر يې کړی دی؛ دوی يو تر بله دوستان (حمايتيان) دي، که تاسو دا (کارونه، يعني له مومنانو سره دوستي او د دغو کفارو سرکوبي) ونه کړئ (،نو) په

ځمکه کې به لویه فتنه او ډېر لوی ورانی جوړ شي

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلَّذِينَ ءَاوَواْ وَّنَصَرُوٓاْ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ حَقّٗاۚ لَّهُم مَّغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ٧٤

(74) او هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او هجرت یې کړی دی او د الله په لاره کې یې جهاد کړی دی او هغه کسان چې ځای یې ورکړی دی او مدد یې کړی دی، همدغه کسان په حقه مومنان دي، د دوی لپاره بخښنه او ډېر د عزت رزق دی

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنۢ بَعۡدُ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ مَعَكُمۡ فَأُوْلَٰٓئِكَ مِنكُمۡۚ وَأُوْلُواْ ٱلۡأَرۡحَامِ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلَىٰ بِبَعۡضٖ فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمُۢ ٧٥

(75) او هغه کسان چې له دې نه پس یې ایمان راوړ او هجرت یې وکړ او ستاسو په ملګرتیا کې یې جهاد وکړ، نو دغه کسان له هم ستاسو څخه دي او د خپلولۍ والا د الله په کتاب کې د یو بل زیات حقدار دي، بېشکه الله پر هر شي ښه پوه دی

## سُورَةُ التَّوۡبَةِ

## سورۀ توبه

بَرَآءَةٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦٓ إِلَى ٱلَّذِينَ عَٰهَدتُّم مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ١

(1) (دا) د الله او د هغه د رسول له جانبه بیزاري او صاف ځواب دی، په مشرکانو کې هغو کسانو ته چې تاسو ورسره عهد کړی و

فَسِيحُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَرۡبَعَةَ أَشۡهُرٖ

(2) نو (ای مشرکانو!) تاسو په دغه ځمکه کې

| | |
|---|---|
| وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّكُمۡ غَيۡرُ مُعۡجِزِي ٱللَّهِ وَأَنَّ ٱللَّهَ مُخۡزِي ٱلۡكَٰفِرِينَ ٢ | څلور میاشتې (په امن سره) ګرځئ او پوه شئ چې یقینًا تاسو الله لره عاجزه کوونکي نه یئ او دا چې یقینًا الله کافرانو لره رسوا کوونکی دی |
| وَأَذَٰنٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦٓ إِلَى ٱلنَّاسِ يَوۡمَ ٱلۡحَجِّ ٱلۡأَكۡبَرِ أَنَّ ٱللَّهَ بَرِيٓءٞ مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ وَرَسُولُهُۥۚ فَإِن تُبۡتُمۡ فَهُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡۖ وَإِن تَوَلَّيۡتُمۡ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّكُمۡ غَيۡرُ مُعۡجِزِي ٱللَّهِۗ وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ٣ | (3) او د حج اکبر په ورځ د الله او د هغه د رسول له جانبه ټولو خلقو ته (دا) اعلان (او خبرتیا) دی چې بېشکه الله او د هغه رسول له مشرکانو نه بیزاره دی، نو که تاسو توبه وباسئ، نو دا تاسو لپاره ډېر غوره دي او که تاسو مخ وګرځوئ، نو پوه شئ چې یقینًا تاسو الله لره عاجزه کوونکي نه یئ او هغو کسانو ته چې کافران شوي دي؛ د ډېر دردوونکي عذاب زېرى ورکړه |
| إِلَّا ٱلَّذِينَ عَٰهَدتُّم مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ثُمَّ لَمۡ يَنقُصُوكُمۡ شَيۡـٔٗا وَلَمۡ يُظَٰهِرُواْ عَلَيۡكُمۡ أَحَدٗا فَأَتِمُّوٓاْ إِلَيۡهِمۡ عَهۡدَهُمۡ إِلَىٰ مُدَّتِهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُتَّقِينَ ٤ | (4) مګر په مشرکانو کې هغه کسان چې تاسو ورسره عهد کړى دى، بیا هغوى تاسو ته هېڅ شى نقصان نه دى دررسولى او نه یې ستاسو په مقابل کې د هیچا مدد کړى دى، نو هغوى ته خپل عهد د هغوى د مودې پورې پوره کړئ، بېشکه الله (له بدعهدۍ نه) ځان ساتونکي خوښوي |
| فَإِذَا ٱنسَلَخَ ٱلۡأَشۡهُرُ ٱلۡحُرُمُ | (5) نو کله چې حرامې میاشتې تېرې شي، |

فَٱقۡتُلُواْ ٱلۡمُشۡرِكِينَ حَيۡثُ وَجَدتُّمُوهُمۡ وَخُذُوهُمۡ وَٱحۡصُرُوهُمۡ وَٱقۡعُدُواْ لَهُمۡ كُلَّ مَرۡصَدٖۚ فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ فَخَلُّواْ سَبِيلَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٥

بیا نو تاسو دغه مشرکان وژنئ چېرته چې تاسو هغوی وموموئ او دوی نیسئ او د دوی محاصَره کوئ او د دوی لپاره په هر کمین ځای کې کېنئ، نو که دوی توبه وباسي او لمونځ قایم کړي او زکات ادا کړي، بیا نو تاسو د دوی لاره خوشې کړئ، بېشکه الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی

وَإِنۡ أَحَدٞ مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ٱسۡتَجَارَكَ فَأَجِرۡهُ حَتَّىٰ يَسۡمَعَ كَلَٰمَ ٱللَّهِ ثُمَّ أَبۡلِغۡهُ مَأۡمَنَهُۥۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ لَّا يَعۡلَمُونَ ٦

(6) او که په مشرکانو کې یو تن له تا نه امان (پناه) وغواړي، نو هغه ته امان ورکړه تر هغه پورې چې هغه د الله کلام واوري، بیا هغه خپل د امن ځای (د هغهٔ وطن) ته ورسوه، دا په سبب د دې چې یقینًا دوی داسې قوم دی چې نه پوهېږي

كَيۡفَ يَكُونُ لِلۡمُشۡرِكِينَ عَهۡدٌ عِندَ ٱللَّهِ وَعِندَ رَسُولِهِۦٓ إِلَّا ٱلَّذِينَ عَٰهَدتُّمۡ عِندَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِۖ فَمَا ٱسۡتَقَٰمُواْ لَكُمۡ فَٱسۡتَقِيمُواْ لَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُتَّقِينَ ٧

(7) د الله په نیز او د هغه د رسول په نیز به د مشرکانو لپاره څنګه عهد وي، غیر له هغو کسانو نه چې تاسو ورسره د مسجد حرام په خوا کې عهد کړی دی، نو تر څو پورې چې هغوی تاسو لپاره (پر عهد) پوره قایم وي، نو تاسو هم د هغوی لپاره (پر عهد) کلک قایم اوسئ، بېشکه الله (له بد عهدۍ نه) ځان ساتونکي خوښوي

كَيۡفَ وَإِن يَظۡهَرُواْ عَلَيۡكُمۡ لَا
يَرۡقُبُواْ فِيكُمۡ إِلّٗا وَلَا ذِمَّةٗۚ
يُرۡضُونَكُم بِأَفۡوَٰهِهِمۡ وَتَأۡبَىٰ
قُلُوبُهُمۡ وَأَكۡثَرُهُمۡ فَٰسِقُونَ ٨

(8) څنګه (کېدی شي د دوی لپاره عهد!) حال دا چې که دوی پر تاسو باندې لاس بري شي (،نو بیا) دوی ستاسو په حق کې نه خپلولۍ ته ګوري او نه عهد ته، دوی تاسو په خپلو خولو سره راضي کوي او د دوی زړونه انکار کوي او د دوی اکثره فاسقان دي

ٱشۡتَرَوۡاْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ثَمَنٗا قَلِيلٗا
فَصَدُّواْ عَن سَبِيلِهِۦٓۚ إِنَّهُمۡ سَآءَ
مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٩

(9) دوی د الله د ایتونو (د پرېښودلو) په بدل کې لږ قیمت اخیستی دی، نو منع شوي دي د هغهٔ له لارې نه، بېشکه دوی (چې دي) بد دی هغه عمل چې دوی به کاوه

لَا يَرۡقُبُونَ فِي مُؤۡمِنٍ إِلّٗا وَلَا ذِمَّةٗۚ
وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُعۡتَدُونَ ١٠

(10) دوی د مومن په باره کې نه د خپلولۍ لحاظ کوي او نه د عهد، او همدغه کسان (له حد نه) تېرېدونکي دي

فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ
ٱلزَّكَوٰةَ فَإِخۡوَٰنُكُمۡ فِي ٱلدِّينِۗ
وَنُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ
يَعۡلَمُونَ ١١

(11) نو که دوی توبه وباسي او لمونځ قایم کړي او زکات ادا کړي، نو بیا ستاسو ورونه دي په دین کې او مونږ په تفصیل سره بیانوو ایتونه د هغه قوم لپاره چې پوهېږي

وَإِن نَّكَثُوٓاْ أَيۡمَٰنَهُم مِّنۢ بَعۡدِ
عَهۡدِهِمۡ وَطَعَنُواْ فِي دِينِكُمۡ

(12) او که دوی خپل قسمونه له خپل عهد نه پس مات کړل او ستاسو په دین کښې یې عیبونه راوېستل شروع کړل، بیا نو د کفر له

فَقَٰتِلُوٓاْ أَئِمَّةَ ٱلۡكُفۡرِ إِنَّهُمۡ لَآ
أَيۡمَٰنَ لَهُمۡ لَعَلَّهُمۡ يَنتَهُونَ ١٢

امامانو (مشرانو) سره جنگ کوئ، بېشکه دوی (چې دي) د دوی لپاره هېڅ (د اعتبار وړ) قسمونه نشته، د دې لپاره چې دوی منع شي

أَلَا تُقَٰتِلُونَ قَوۡمٗا نَّكَثُوٓاْ أَيۡمَٰنَهُمۡ
وَهَمُّواْ بِإِخۡرَاجِ ٱلرَّسُولِ وَهُم
بَدَءُوكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةٍۚ أَتَخۡشَوۡنَهُمۡۚ
فَٱللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخۡشَوۡهُ إِن كُنتُم
مُّؤۡمِنِينَ ١٣

(13) ولې تاسو له داسې قوم سره نه جنگېږئ چې هغوی خپل قسمونه مات کړي دي او د رسول د وېستلو اراده يې کړې ده، حال دا چې هم دوی پر تاسو شروع کړې ده اول ځلې! ايا تاسو له دوی نه وېرېږئ، نو الله تر ټولو زيات حقدار دی د دې چې له هغه نه ووېرېږئ، که تاسو مومنان يئ

قَٰتِلُوهُمۡ يُعَذِّبۡهُمُ ٱللَّهُ بِأَيۡدِيكُمۡ
وَيُخۡزِهِمۡ وَيَنصُرۡكُمۡ عَلَيۡهِمۡ
وَيَشۡفِ صُدُورَ قَوۡمٖ مُّؤۡمِنِينَ ١٤

(14) له دوی سره وجنگيږئ، الله به دوی ته ستاسو په لاسونو عذاب ورکړي او دوی به رسوا کړي او د دوی په مقابل کې به ستاسو مدد وکړي او د مومنو خلقو سينو ته به شفا (او يخ والی) ورکړي

وَيُذۡهِبۡ غَيۡظَ قُلُوبِهِمۡۗ وَيَتُوبُ
ٱللَّهُ عَلَىٰ مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ
حَكِيمٌ ١٥

(15) او د هغوی د زړونو غصه به لرې کړي او الله چې پر چا وغواړي په رحمت سره رجوع کوي او الله ښه پوه، ښه حکمت والا دی

أَمۡ حَسِبۡتُمۡ أَن تُتۡرَكُواْ وَلَمَّا يَعۡلَمِ
ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ مِنكُمۡ وَلَمۡ

(16) ايا تاسو دا گمان کړی دی چې تاسو به (همداسې) پرېښودی شئ، حال دا چې لا تر

يَتَّخِذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَا رَسُولِهِۦ وَلَا ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَلِيجَةٗۚ وَٱللَّهُ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ﴿١٦﴾

اوسه الله هغه کسان نه دي معلوم (ظاهر) کړي چې جهاد يې کړی دی له تاسو نه، او له الله او د هغه له رسول او مومنانو نه غير يې بل هېڅ رازدار نه دی نيولی او الله ښه خبردار دی پر هغو عملونو چې تاسو يې کوئ

مَا كَانَ لِلۡمُشۡرِكِينَ أَن يَعۡمُرُواْ مَسَٰجِدَ ٱللَّهِ شَٰهِدِينَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِم بِٱلۡكُفۡرِۚ أُوْلَٰٓئِكَ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ وَفِي ٱلنَّارِ هُمۡ خَٰلِدُونَ ﴿١٧﴾

(17) د مشرکانو لپاره دا حق نشته چې د الله جوماتونه اباد کړي، په داسي حال کې چې په خپلو ځانونو باندې د کفر ګواهي کوونکي دي، دغه خلق (چې دي) د دوی عملونه ضايع شوي دي او دوی به په اور کې تل ترتله وي

إِنَّمَا يَعۡمُرُ مَسَٰجِدَ ٱللَّهِ مَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَأَقَامَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَى ٱلزَّكَوٰةَ وَلَمۡ يَخۡشَ إِلَّا ٱللَّهَۖ فَعَسَىٰٓ أُوْلَٰٓئِكَ أَن يَكُونُواْ مِنَ ٱلۡمُهۡتَدِينَ ﴿١٨﴾

(18) د الله جوماتونه خو يوازې هغه څوک ابادوي چې پر الله او د اخرت پر ورځ يې ايمان راوړی وي او لمونځ قايموي او زکات ورکوي او نه وېرېږي غير له الله نه، نو اميد دی چې دغه کسان به له هدايت موندونکو څني وي

۞أَجَعَلۡتُمۡ سِقَايَةَ ٱلۡحَآجِّ وَعِمَارَةَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ كَمَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَجَٰهَدَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ لَا يَسۡتَوُۥنَ عِندَ ٱللَّهِۗ

(19) ايا تاسو حاجيانو ته اوبه ورکول او د مسجد حرام ابادول د هغه چا (د ايمان) په شان ګرځولي دي چې پر الله او پر ورځ د اخرت يې ايمان راوړی دی او د الله په لاره

وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٩

کې يې جهاد کړی دی، دوی د الله په نيز برابر نه دي او الله ظالم قوم ته هدايت نه کوي

ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ أَعۡظَمُ دَرَجَةً عِندَ ٱللَّهِۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَآئِزُونَ ٢٠

**(20)** هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او هجرت يې کړی دی او د الله په لاره کې يې په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد کړی دی، د الله په نيز په درجه کې تر ټولو لوی دي، اوهمدغه کسان کامياب دي

يُبَشِّرُهُمۡ رَبُّهُم بِرَحۡمَةٖ مِّنۡهُ وَرِضۡوَٰنٖ وَجَنَّٰتٖ لَّهُمۡ فِيهَا نَعِيمٞ مُّقِيمٌ ٢١

**(21)** دوی ته خپل رب له خپل جانب نه د رحمت او رضامندۍ او د داسې جنتونو زېری ورکوي چې د دوی لپاره به په هغو کې همېشني نعمتونه وي

خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥٓ أَجۡرٌ عَظِيمٞ ٢٢

**(22)** په دې حال کې چې په هغو کې به تل ترتله همېشه وي، بېشکه الله (چې دی) له هغه سره ډېر لوی اجر دی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُوٓاْ ءَابَآءَكُمۡ وَإِخۡوَٰنَكُمۡ أَوۡلِيَآءَ إِنِ ٱسۡتَحَبُّواْ ٱلۡكُفۡرَ عَلَى ٱلۡإِيمَٰنِۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمۡ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ٢٣

**(23)** ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو خپل پلرونه او خپل ورونه دوستان مه نيسئ که دوی کفر محبوب (او غوره) وګڼي په ايمان باندې، او په تاسو کې چې چا له دغو (کفارو) سره دوستي وکړه، نو همدغه کسان ظالمان دي

قُلۡ إِن كَانَ ءَابَآؤُكُمۡ وَأَبۡنَآؤُكُمۡ
وَإِخۡوَٰنُكُمۡ وَأَزۡوَٰجُكُمۡ
وَعَشِيرَتُكُمۡ وَأَمۡوَٰلٌ ٱقۡتَرَفۡتُمُوهَا
وَتِجَٰرَةٞ تَخۡشَوۡنَ كَسَادَهَا
وَمَسَٰكِنُ تَرۡضَوۡنَهَآ أَحَبَّ
إِلَيۡكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَجِهَادٖ
فِي سَبِيلِهِۦ فَتَرَبَّصُواْ حَتَّىٰ يَأۡتِيَ
ٱللَّهُ بِأَمۡرِهِۦۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ
ٱلۡفَٰسِقِينَ ٢٤

(24) (اى پیغمبره!) ته (دوى ته) ووايه: که چېرې وي ستاسو پلرونه او ستاسو زامن او ستاسو ورونه او ستاسو ښځې او ستاسو قبيله او هغه مالونه چې تاسو هغه ګټلي دي او هغه تجارت چې تاسو د هغه د بندېدو وېره کوئ او هغه استوګنې چې تاسو هغه خوښوئ، تاسو ته ډېر محبوب دي له الله او د هغه له رسول او د هغه په لاره کې له جهاد کولو نه، نو بيا انتظار کوئ، تر هغه پورې چې الله خپل حکم راولي او الله فاسقو خلقو ته هدايت نه کوي

لَقَدۡ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ فِي مَوَاطِنَ
كَثِيرَةٖ وَيَوۡمَ حُنَيۡنٍ إِذۡ
أَعۡجَبَتۡكُمۡ كَثۡرَتُكُمۡ فَلَمۡ تُغۡنِ
عَنكُمۡ شَيۡـٔٗا وَضَاقَتۡ عَلَيۡكُمُ
ٱلۡأَرۡضُ بِمَا رَحُبَتۡ ثُمَّ وَلَّيۡتُم
مُّدۡبِرِينَ ٢٥

(25) يقينًا يقينًا الله په ډېرو ځايونو کې ستاسو مدد کړى دى او د حُنين په ورځ هم، کله چې خپل ډېر والي تاسو په تعجب (او غرور) کې اچولي وئ، بيا دا (ډېر والى) ستاسو هېڅ په کار رانغى او پر تاسو باندې ځمکه د هغې د ارتوالي باوجود تنګه شوه، بيا تاسو وګرځېدئ، په داسې حال کې چې شا کوونکي وئ

ثُمَّ أَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَىٰ
رَسُولِهِۦ وَعَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَأَنزَلَ
جُنُودٗا لَّمۡ تَرَوۡهَا وَعَذَّبَ ٱلَّذِينَ

(26) بيا الله خپل تسکين (او اطمينان) پر خپل رسول او په مومنانو باندې نازل کړ او داسې لښکرې يې نازلې کړې چې تاسو هغه

كَفَرُواْۚ وَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٢٦

نه وي ليدلي او كافر شويو خلقو ته يې عذاب وركړ او دا د كافرانو جزا ده

ثُمَّ يَتُوبُ ٱللَّهُ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ عَلَىٰ مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٢٧

(27) بيا به الله له دې نه پس (په رحمت سره) رجوع وكړي پر هغه چا چې يې وغواړي او الله ډېر بخښونكى، ښه حكمت والا دى

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡمُشۡرِكُونَ نَجَسٞ فَلَا يَقۡرَبُواْ ٱلۡمَسۡجِدَ ٱلۡحَرَامَ بَعۡدَ عَامِهِمۡ هَٰذَاۚ وَإِنۡ خِفۡتُمۡ عَيۡلَةٗ فَسَوۡفَ يُغۡنِيكُمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦٓ إِن شَآءَۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ٢٨

(28) اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى! په رښتيا همدا خبره ده چې مشركان نجس دي، نو مسجد حرام ته دې له خپل دې كال نه وروسته نه نژدې كېږي او كه تاسو له كومې غريبۍ (او تنګۍ) نه وېرېږئ، نو ژر به الله تاسو له خپله فضله غنيان كړي، كه هغه وغواړي، بېشكه الله ښه پوه، ښه حكمت والا دى

قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَلَا بِٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ ٱلۡحَقِّ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ حَتَّىٰ يُعۡطُواْ ٱلۡجِزۡيَةَ عَن يَدٖ وَهُمۡ صَٰغِرُونَ ٢٩

(29) تاسو له هغو كسانو سره وجنګېږئ چې نه پر الله ايمان راوړي او نه د اخرت پر ورځ، او هغه څه ته حرام نه وايي چې الله او د هغه رسول حرام كړي دي او نه دينِ حق قبلوي، له هغو كسانو څخه چې كتاب ورته وركړى شوى دى، تر دې چې دوى په خپل لاس په داسې حال كې جزيه وركړي، چې دوى ذليل (محكوم) وي

وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ عُزَيۡرٌ ٱبۡنُ ٱللَّهِ وَقَالَتِ ٱلنَّصَٰرَى ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ ٱللَّهِۖ ذَٰلِكَ قَوۡلُهُم بِأَفۡوَٰهِهِمۡۖ يُضَٰهِـُٔونَ قَوۡلَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَبۡلُۚ قَٰتَلَهُمُ ٱللَّهُۖ أَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ٣٠

(30) او يهوديانو وويل: عُزير د الله زوی دی او نصرانيانو وويل: مسيح د الله زوی دی، دا د دوی په خپلو خولو سره وينا ده، دوی د هغو کسانو له خبرې سره مشابهت کوي چې له دوی نه مخکې کافران وو، الله دې دوی هلاك کړي، څنګه (له سمې لارې نه) ګرځولی شي!

ٱتَّخَذُوٓاْ أَحۡبَارَهُمۡ وَرُهۡبَٰنَهُمۡ أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَٱلۡمَسِيحَ ٱبۡنَ مَرۡيَمَ وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُوٓاْ إِلَٰهٗا وَٰحِدٗاۖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ سُبۡحَٰنَهُۥ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٣١

(31) دوی خپل عالمان او خپل عابدان له الله نه غير خدايان نيولي دي او د مريمې زوی مسيح (يې هم)، حال داچې دوی ته حکم نه و شوی مګر د دې چې دوی دې د يو حق معبود عبادت کوي چې نشته هېڅ حق معبود مګر همدی دی، هغه پاك دی له هغه څه نه چې دوی يې (ورسره) شريکوي

يُرِيدُونَ أَن يُطۡفِـُٔواْ نُورَ ٱللَّهِ بِأَفۡوَٰهِهِمۡ وَيَأۡبَى ٱللَّهُ إِلَّآ أَن يُتِمَّ نُورَهُۥ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡكَٰفِرُونَ ٣٢

(32) دوی غواړي چې د الله رڼا په (پوکو د) خپلو خولو سره مړه کړي او الله انکار کوي مګر دا چې خپله رڼا پوره کړي اګر که کافران (دا کار) بد ګڼي

هُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُشۡرِكُونَ ٣٣

(33) دی همغه ذات دی چې خپل رسول يې په هدايت او حق دين سره رالبږلی دی، د دې لپاره چې هغه (الله) دا (دين) په نورو ټولو

دینونو باندې غالب کړي اگر که مشرکان (دا کار) بد گڼي

۞يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ كَثِيرًا مِّنَ ٱلْأَحْبَارِ وَٱلرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلْبَٰطِلِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۗ وَٱلَّذِينَ يَكْنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلْفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ٣٤

(34) ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! بېشکه ډېر عالمان (د یهودیانو) او عابدان (د نصرانیانو) د خلقو مالونه په یقیني ډول په باطلې طریقې سره خوري او د الله له لارې نه (خلق) منع کوي، او هغه کسان چې سره زر اوسپین زر خزانه کوي او هغه د الله په لاره کې نه لگوي، نو دوی ته د ډېر دردوونکي عذاب زېری ورکړه

يَوْمَ يُحْمَىٰ عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْۖ هَٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنفُسِكُمْ فَذُوقُواْ مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ ٣٥

(35) په هغې ورځ چې د جهنم په اور کې به دغه (خزانې) ښې گرمې کړی شي، بیا به په هغې سره د دوی تندي او د دوی اړخونه او د دوی شاگانې داغلی شي (او دوی ته به ویلی شي:) دا هغه څه دي چې تاسو د خپلو ځانونو لپاره خزانه کړي وو، نو تاسو وڅکئ هغه څه چې تاسو خزانه کول

إِنَّ عِدَّةَ ٱلشُّهُورِ عِندَ ٱللَّهِ ٱثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِ يَوْمَ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ مِنْهَآ أَرْبَعَةٌ حُرُمٌۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلْقَيِّمُۚ

(36) بېشکه د الله په نیز د میاشتو (معتبر) شمېر دولس میاشتې دی، د الله په کتاب کې، په هغه ورځ چې هغه پیدا کړل اسمانونه او ځمکه، له هغو نه څلور (میاشتی) د حرمت

فَلَا تَظۡلِمُواْ فِيهِنَّ أَنفُسَكُمۡۚ وَقَٰتِلُواْ ٱلۡمُشۡرِكِينَ كَآفَّةٗ كَمَا يُقَٰتِلُونَكُمۡ كَآفَّةٗۚ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴿٣٦﴾

والا دي، همدغه سم (نېغ) دين دی، نو تاسو په دغو کې په خپلو ځانونو ظلم مه کوئ او تاسو ټول له دغو مشرکانو سره جنګ کوئ، لکه څنګه چې دوی له تاسو سره جنګ کوي ټول او پوه شئ چې یقینًا الله د پرهېزګارانو مل دی

إِنَّمَا ٱلنَّسِيٓءُ زِيَادَةٞ فِي ٱلۡكُفۡرِۖ يُضَلُّ بِهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُحِلُّونَهُۥ عَامٗا وَيُحَرِّمُونَهُۥ عَامٗا لِّيُوَاطِـُٔواْ عِدَّةَ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُ فَيُحِلُّواْ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُۚ زُيِّنَ لَهُمۡ سُوٓءُ أَعۡمَٰلِهِمۡۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٣٧﴾

**(37)** اصل خبره دا ده چې تاخیر کول (د یوې میاشتې حرمت بلې میاشتې ته وروسته کول) یواځې په کفر کې ډېر والی دی، په دې سره هغه کسان ګمراه کولی شي چې کافران شوي دي، دوی دغه (حرامه میاشت) یو کال حلاله ګڼي او یو کال هغه حرامه، د دې لپاره چې دوی د هغو (میاشتو) شمېر پوره کړي چې الله حرامې کړې دي، بیا حلالې کړي هغه (میاشتې) چې الله حرامې کړې دي، دوی ته خپل ناکاره عملونه ښایسته کړی شوي دي او الله کافر قوم ته هدایت نه کوي

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَا لَكُمۡ إِذَا قِيلَ لَكُمُ ٱنفِرُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱثَّاقَلۡتُمۡ إِلَى ٱلۡأَرۡضِۚ أَرَضِيتُم بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا مِنَ ٱلۡأٓخِرَةِۚ فَمَا

**(38)** ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! پر تاسو څه شوي دي چې کله تاسو ته وویل شي: د الله په لاره کې د غزا لپاره ووځئ (،نو) تاسو ځمکې ته درانه (او مایل) شئ؟ ایا تاسو د اخرت په مقابله کې پر دې دنیایي

مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ ٣٨

ژوند راضي شوي يئ؟ نو د اخرت په مقابله کې د دنياوي ژوند فايده نه ده مگر ډېره لږه

إِلَّا تَنفِرُواْ يُعَذِّبۡكُمۡ عَذَابًا أَلِيمٗا وَيَسۡتَبۡدِلۡ قَوۡمًا غَيۡرَكُمۡ وَلَا تَضُرُّوهُ شَيۡـٔٗاۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ٣٩

(39) که تاسو ونه وځئ (نو) هغه (الله) به تاسو ته ډېر دردوونکی عذاب درکړي او له تاسو نه غير به بل قوم په بدل کې راولي او تاسو به هغه ته هېڅ شی ضرر ونه رسولی شئ او الله په هر شي باندې ښه قادر دی

إِلَّا تَنصُرُوهُ فَقَدۡ نَصَرَهُ ٱللَّهُ إِذۡ أَخۡرَجَهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ثَانِيَ ٱثۡنَيۡنِ إِذۡ هُمَا فِي ٱلۡغَارِ إِذۡ يَقُولُ لِصَٰحِبِهِۦ لَا تَحۡزَنۡ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَنَاۖ فَأَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَيۡهِ وَأَيَّدَهُۥ بِجُنُودٖ لَّمۡ تَرَوۡهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلسُّفۡلَىٰۗ وَكَلِمَةُ ٱللَّهِ هِيَ ٱلۡعُلۡيَاۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ٤٠

(40) که تاسو د دغه (رسول) مرسته ونه وکړئ، نو )هېڅ پروا نشته) يقينًا الله د هغه مدد کړی دی کله چې هغه دې کافران شويو خلقو په داسې حال کې وويست چې دويم د دوو و، کله چې هغوی دواړه په غار کې وو، کله چې هغه خپل ملگري ته ويل: غم مه کوه، ېښشکه الله زمونږ سره دی، نو الله په هغه باندې خپل تسکين نازل کړ او هغه يې په داسې لښکرو سره مضبوط کړ چې تاسو هغه نه دي ليدلي، او د کافران شويو خلقو کلمه يې تر ټولو ښکته کړه او د الله کلمه، همغه تر ټولو لوړه ده، او الله ښه غالب، ښه حکمت والا دی

ٱنفِرُواْ خِفَافٗا وَثِقَالٗا وَجَٰهِدُواْ

(41) تاسو غزا ته وځئ، په داسې حال کې

بِأَمۡوَٰلِكُمۡ وَأَنفُسِكُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٤١

چې سپك يئ او درانه او په خپلو مالونو او ځانونو سره د الله په لار كې جهاد كوئ، دا تاسو لپاره ډېر غوره دي، كه تاسو پوهېږئ

لَوۡ كَانَ عَرَضٗا قَرِيبٗا وَسَفَرٗا قَاصِدٗا لَّٱتَّبَعُوكَ وَلَٰكِنۢ بَعُدَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلشُّقَّةُۚ وَسَيَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ لَوِ ٱسۡتَطَعۡنَا لَخَرَجۡنَا مَعَكُمۡ يُهۡلِكُونَ أَنفُسَهُمۡ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ إِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ٤٢

(42) كه هغه، نژدې سامان او منځنى سفر وى (، نو) دوى به لازمًا ستا متابَعت كړى و او لېكن په دوى باندې فاصله لرې پرېوته (نو ځكه يې نافرماني وكړه) او ژر به دوى پر الله قسمونه خوري چې كه زمونږ طاقت وى (،نو) مونږ به ضرور له تاسو سره وتلي وو، دوى خپل ځانونه هلاكوي او الله پوهېږي چې بېشكه دوى يقيني دروغجن دي

عَفَا ٱللَّهُ عَنكَ لِمَ أَذِنتَ لَهُمۡ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكَ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْ وَتَعۡلَمَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ٤٣

(43) (اى نبي!) الله ته معاف كړې، د څه لپاره (او ولې) دې دوى ته (د پاتې كېدو) اجازت وركړ؟ تر هغه پورې چې تا ته هغه كسان ښه څرګند شوي وى چې رښتيا يې ويلي او تا دروغجن (هم) معلوم كړي وى

لَا يَسۡتَـٔۡذِنُكَ ٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ أَن يُجَٰهِدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِٱلۡمُتَّقِينَ ٤٤

(44) له تا نه هغه كسان اجازت نه غواړي چې پر الله او د اخرت پر ورځ ايمان لري له دې نه چې په خپلو مالونو او خپلو ځانونو سره جهاد وكړي او الله پر پرهېزګارانو ښه عالم دى

إِنَّمَا يَسۡتَـٔۡذِنُكَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَٱرۡتَابَتۡ قُلُوبُهُمۡ فَهُمۡ فِي رَيۡبِهِمۡ يَتَرَدَّدُونَ ﴿٤٥﴾

(45) له تا نه اجازت يواځې هغه کسان غواړي چې پر الله او د اخرت پر ورځ ايمان نه لري او د هغوی زړونه په شك كې پرېوتي دي، نو دوی په خپل شك كې حيرانه سرګردانه دي

۞وَلَوۡ أَرَادُواْ ٱلۡخُرُوجَ لَأَعَدُّواْ لَهُۥ عُدَّةٗ وَلَٰكِن كَرِهَ ٱللَّهُ ٱنۢبِعَاثَهُمۡ فَثَبَّطَهُمۡ وَقِيلَ ٱقۡعُدُواْ مَعَ ٱلۡقَٰعِدِينَ ﴿٤٦﴾

(46) او كه دوی (غزا ته) د وتلو اراده لرلی، نو ارومرو به دوی د دي (وتلو) لپاره د تیاری څه اسباب تيار كړي وو او لېكن الله (د جهاد لپاره) د دوی پورته کېدل نه وو خوښ کړي، نو دوی يې په سست ساتلو سره بند کړل او وويل شو: تاسو کېنئ له کېناستونکو سره

لَوۡ خَرَجُواْ فِيكُم مَّا زَادُوكُمۡ إِلَّا خَبَالٗا وَلَأَوۡضَعُواْ خِلَٰلَكُمۡ يَبۡغُونَكُمُ ٱلۡفِتۡنَةَ وَفِيكُمۡ سَمَّٰعُونَ لَهُمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٧﴾

(47) كه دوی ستاسو په لښكر كې وتلي وی (،نو) دوی به تاسو ته نه و زيات كړی (هيڅ شی) مګر شر او ضرور به دوی ستاسو په مينځ كې (د خرابی او چغلی لپاره) چابكي كړې وه، په داسې حال كې چې دوی به تاسو لپاره فتنه لټوله او په تاسو كې د هغوی لپاره څه جاسوسان هم شته او الله پر ظالمانو ښه پوه دی

لَقَدِ ٱبۡتَغَوُاْ ٱلۡفِتۡنَةَ مِن قَبۡلُ وَقَلَّبُواْ لَكَ ٱلۡأُمُورَ حَتَّىٰ جَآءَ

(48) يقينًا يقينًا دوی له دې نه مخكې فتنه (خرابي) لټولې وه او تا ته يې ټول كارونه (په

ٱلۡحَقُّ وَظَهَرَ أَمۡرُ ٱللَّهِ وَهُمۡ كَٰرِهُونَ ﴿٤٨﴾

حيلو او دسيسو سره) اړولي وو، تر دې چې حق راغی او د الله حكم څرګند (او غالب) شو، په داسې حال كې چې دوى بد ګڼونكي وو

وَمِنۡهُم مَّن يَقُولُ ٱئۡذَن لِّي وَلَا تَفۡتِنِّيٓۚ أَلَا فِي ٱلۡفِتۡنَةِ سَقَطُواْۗ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةُۢ بِٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٤٩﴾

(49) په دوى كې ځيني هغه څوك دي چې وايي: ما ته اجازت راكړه او ما په فتنه (ګمراهۍ) كې مه اچوه، خبردار شئ! هم دوى په فتنه كې غورځيدلي دي او بېشكه جهنم يقيناً كافرانو لره راګېرووونكى دى

إِن تُصِبۡكَ حَسَنَةٞ تَسُؤۡهُمۡۖ وَإِن تُصِبۡكَ مُصِيبَةٞ يَقُولُواْ قَدۡ أَخَذۡنَآ أَمۡرَنَا مِن قَبۡلُ وَيَتَوَلَّواْ وَّهُمۡ فَرِحُونَ ﴿٥٠﴾

(50) كه تا ته څه ښېګڼه (او برى) دروررسيږي ، نو) هغه دوى خفه كوي، او كه چېرې تا ته څه مصيبت در ورسيږي (نو) دوى وايي: يقيناً مونږ خپل كار ( د احتياط) له مخكې نه نيولى و او واپس كېږي، په داسې حال كې چې دوى (ستا په مصيبت) ډېر خوشحاله وي

قُل لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَنَا هُوَ مَوۡلَىٰنَاۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ﴿٥١﴾

(51) ته ( دوى ته) ووايه: مونږ ته به له سره مصيبت راونه رسېږي مګر هغه چې الله زمونږ لپاره ليكلى دى، همغه زمونږ كارساز دى او پس لازم ده چې مومنان خاص په الله باندي توكل وكړي

قُلۡ هَلۡ تَرَبَّصُونَ بِنَآ إِلَّآ إِحۡدَى ٱلۡحُسۡنَيَيۡنِۖ وَنَحۡنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمۡ أَن يُصِيبَكُمُ ٱللَّهُ بِعَذَابٖ مِّنۡ عِندِهِۦٓ أَوۡ بِأَيۡدِينَاۖ فَتَرَبَّصُوٓاْ إِنَّا مَعَكُم مُّتَرَبِّصُونَ ﴿٥٢﴾

(52) ته (دوی ته) ووایه: تاسو زمونږ په باره کې انتظار نه کوئ مګر په دوو تر ټولو غوره ځیزونو کې د یو څیز، او مونږ ستاسو په باره کې انتظار کوو د دې چې الله تاسو ته عذاب دررسوي له خپل جانب نه، یا زمونږ په لاسونو سره، پس تاسو انتظار کوئ، بېشکه مونږ هم له تاسو سره انتظار کوونکي یو

قُلۡ أَنفِقُواْ طَوۡعًا أَوۡ كَرۡهٗا لَّن يُتَقَبَّلَ مِنكُمۡ إِنَّكُمۡ كُنتُمۡ قَوۡمٗا فَٰسِقِينَ ﴿٥٣﴾

(53) ته (دې منافقانو ته) ووایه: تاسو مالونه لګوئ په رضا سره، یا (د اسلام) په زور سره، له سره به له تاسو نه قبول نه کړی شي، بېشکه تاسو له شروع نه فاسقان(کافران) یئ

وَمَا مَنَعَهُمۡ أَن تُقۡبَلَ مِنۡهُمۡ نَفَقَٰتُهُمۡ إِلَّآ أَنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِٱللَّهِ وَبِرَسُولِهِۦ وَلَا يَأۡتُونَ ٱلصَّلَوٰةَ إِلَّا وَهُمۡ كُسَالَىٰ وَلَا يُنفِقُونَ إِلَّا وَهُمۡ كَٰرِهُونَ ﴿٥٤﴾

(54) او دوی لره نه دي منع کړي چې له دوی نه دې د دوی لګولي مالونه قبول کړی شي مګر دې (خبرې) چې یقینًا دوی په الله او د هغه په رسول کافران شوي دي او لمانځه ته نه راځي مګر په داسې حال کې چې سست وي او انفاق نه کوي مګر په داسې حال کې چې ناخوښه وي

فَلَا تُعۡجِبۡكَ أَمۡوَٰلُهُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُهُمۡۚ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُم بِهَا فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَتَزۡهَقَ

(55) نو تا دې په تعجب کې وانه چوي د دوی مالونه او نه د دوی اولادونه، همدا خبره ده چې الله غواړي چې دوی ته په دغو

أَنفُسُهُمۡ وَهُمۡ كَٰفِرُونَ ٥٥

(ځيزونو) سره په دنيايي ژوند کې عذاب ورکړي او د دوی روحونه په داسې حال کې ووځي چې دوی کافران وي

وَيَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ إِنَّهُمۡ لَمِنكُمۡ وَمَا هُم مِّنكُمۡ وَلَٰكِنَّهُمۡ قَوۡمٞ يَفۡرَقُونَ ٥٦

(56) او دوی پر الله قسمونه خوري چې بېشکه دوی يقيناً له تاسو ځني دي، حال دا چې دوی له تاسو څخه نه دي او لېکن دوی داسې قوم دی چې وېرېږي

لَوۡ يَجِدُونَ مَلۡجَـًٔا أَوۡ مَغَٰرَٰتٍ أَوۡ مُدَّخَلٗا لَّوَلَّوۡاْ إِلَيۡهِ وَهُمۡ يَجۡمَحُونَ ٥٧

(57) که دوی څه د پناه ځای ومومي، يا غارونه، يا بل د ننوتلو ځای (، نو) خامخا به دوی هغه ته وګرځي، په داسې حال کې چې دوی به منډې وهي

وَمِنۡهُم مَّن يَلۡمِزُكَ فِي ٱلصَّدَقَٰتِ فَإِنۡ أُعۡطُواْ مِنۡهَا رَضُواْ وَإِن لَّمۡ يُعۡطَوۡاْ مِنۡهَآ إِذَا هُمۡ يَسۡخَطُونَ ٥٨

(58) او په دوی کې ځينې هغه څوك دي چې د صدقاتو (د تقسيم) په باره کې پر تا عيب لګوي، نو که دوی ته له دې (صدقاتو) نه (څه) ورکړې شي (نو) راضي کېږي او که له دې نه ورته څه ورنه کړې شي (نو) سمدستي هماغه وخت غصه کېږي

وَلَوۡ أَنَّهُمۡ رَضُواْ مَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَقَالُواْ حَسۡبُنَا ٱللَّهُ سَيُؤۡتِينَا ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦ

(59) او که حقيقتاً دوی په هغه څه راضي شوي وی چې الله او د هغه رسول دوی ته ورکړي دي او ويلي يې وی: زمونږ لپاره الله کافي دی، ژر به الله مونږ ته له خپله فضله

وَرَسُولُهُۥٓ إِنَّآ إِلَى ٱللَّهِ رَٰغِبُونَ ٥٩

راکړي او د هغه رسول (هم له بل غنیمت نه) بېشکه مونږ خاص الله ته رغبت کوونکي یو

۞إِنَّمَا ٱلصَّدَقَٰتُ لِلۡفُقَرَآءِ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱلۡعَٰمِلِينَ عَلَيۡهَا وَٱلۡمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمۡ وَفِي ٱلرِّقَابِ وَٱلۡغَٰرِمِينَ وَفِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِۖ فَرِيضَةٗ مِّنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ٦٠

(60) بېشکه همدا خبره ده چې صدقې (زکاتونه) یواځې د فقیرانو او مسکینانو لپاره دي او د هغو کسانو لپاره دي چې پر دغو باندې عامل (راټولوونکي) مقرر وي او د هغو لپاره دي د چا په زړونو کې چې الفت (مینه او اسلام ته رغبت) اچولی شي او په (ازادولو د) څټونو (د مریانو مکاتبانو) کې ( به صرف کولی شي) او تاوان موندونکو لپاره دي او د الله په لار کې او د مسافرو لپاره (به صرف کولی شي) دغه مقرره فریضه ده د الله له جانبه او الله ښه عالم، ښه حکمت والا دی

وَمِنۡهُمُ ٱلَّذِينَ يُؤۡذُونَ ٱلنَّبِيَّ وَيَقُولُونَ هُوَ أُذُنٞۚ قُلۡ أُذُنُ خَيۡرٖ لَّكُمۡ يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَيُؤۡمِنُ لِلۡمُؤۡمِنِينَ وَرَحۡمَةٞ لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡۚ وَٱلَّذِينَ يُؤۡذُونَ رَسُولَ ٱللَّهِ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ٦١

(61) او په دوی کې ځینې هغه کسان دي چې نبي ته تکلیف رسوي او وایي: هغه (اوریدونکی) غوږ دی (د هر چا هر څه اوري او مني یې) ته ووایه: تاسو لپاره د خیر غوږ دی، پر الله ایمان لري او پر مومنانو باور کوي او په تاسو کې د هغو کسانو لپاره رحمت دی چې ایمان یې راوړی دی، او هغه کسان چې د الله رسول ته تکلیف رسوي؛ د هغوی لپاره

ډېر دردوونکی عذاب دی

يَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ لَكُمۡ لِيُرۡضُوكُمۡ وَٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَحَقُّ أَن يُرۡضُوهُ إِن كَانُواْ مُؤۡمِنِينَ ٦٢

(62) تاسو لپاره دوی پر الله قسمونه خوري، د دې لپاره چې تاسو راضي کړي او الله او د هغه رسول زيات حقدار دي د دې چې دوی هغه راضي کړي، که دوی ايمان راوړونکي وي

أَلَمۡ يَعۡلَمُوٓاْ أَنَّهُۥ مَن يُحَادِدِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَأَنَّ لَهُۥ نَارَ جَهَنَّمَ خَٰلِدٗا فِيهَاۚ ذَٰلِكَ ٱلۡخِزۡيُ ٱلۡعَظِيمُ ٦٣

(63) ايا دوی پر دې نه دي پوه شوي چې ببشکه شان دا دی چې څوك د الله او د هغه د رسول مخالفت کوي، نو (جزا د هغه دا ده چې) يقيناً هم د هغه لپاره د جهنم اور دی، چې په هغه کې به همېشه وي او همدغه ډېره لويه رسوايي ده

يَحۡذَرُ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ أَن تُنَزَّلَ عَلَيۡهِمۡ سُورَةٞ تُنَبِّئُهُم بِمَا فِي قُلُوبِهِمۡۚ قُلِ ٱسۡتَهۡزِءُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ مُخۡرِجٞ مَّا تَحۡذَرُونَ ٦٤

(64) منافقان له دې نه وېرېږي چې په دوی باندې داسې سورت نازل کړی شي چې دې (مومنانو) ته د هغه څه خبر ورکوي چې د دغو (منافقانو) په زړونو کې دي، ته (ورته) ووايه: تاسو (دغه) استهزا او مسخري کوئ، ببشکه الله د هغه څه ښکاره کوونکی دی چې تاسو (ترې) وېرېږئ

وَلَئِن سَأَلۡتَهُمۡ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلۡعَبُۚ قُلۡ أَبِٱللَّهِ

(65) او قسم دی که ته له دوی نه پوښتنه وکړې ()، نو) خامخا به وايي: مونږ خو يواځې مشغولتيا او لوبې کولې، ته (ورته) ووايه: ايا

وَءَايَٰتِهِۦ وَرَسُولِهِۦ كُنتُمۡ
تَسۡتَهۡزِءُونَ ٦٥

تاسو په الله او د هغه په ايتونو او د هغه په
رسول پورې استهزا او مسخرې کولې؟

لَا تَعۡتَذِرُواْ قَدۡ كَفَرۡتُم بَعۡدَ
إِيمَٰنِكُمۡۚ إِن نَّعۡفُ عَن طَآئِفَةٖ
مِّنكُمۡ نُعَذِّبۡ طَآئِفَةَۢ بِأَنَّهُمۡ
كَانُواْ مُجۡرِمِينَ ٦٦

(66) عذرونه (بهانې) مه جوړوئ، يقينًا تاسو
له خپل ايمان راوړو نه وروسته کافران شوي
يئ، که مونږ په تاسو کې يوې ډلې ته معافي
وکړو (،نو) بلې ډلې ته به عذاب ورکړو، په
سبب د دې چې هغوی په رښتيا مجرمان وو

ٱلۡمُنَٰفِقُونَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتُ بَعۡضُهُم
مِّنۢ بَعۡضٖۚ يَأۡمُرُونَ بِٱلۡمُنكَرِ
وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمَعۡرُوفِ
وَيَقۡبِضُونَ أَيۡدِيَهُمۡۚ نَسُواْ ٱللَّهَ
فَنَسِيَهُمۡۚ إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ هُمُ
ٱلۡفَٰسِقُونَ ٦٧

(67) منافق سړي او منافقې ښځې د دوی
ځينې له ځينو (نورو) څخه دي، دوی د ناروا
حکم کوي او له نېکۍ نه منع کوي او خپل
لاسونه (له انفاق کولو نه) کلك بند ساتي،
دوی الله پرېښوده، نو هغه (الله) دوی
پرېښودل، بېشکه همدا منافقان فاسقان (د
ايمان له دايرې نه وتونکي) دي

وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتِ
وَٱلۡكُفَّارَ نَارَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ
هِيَ حَسۡبُهُمۡۚ وَلَعَنَهُمُ ٱللَّهُۖ وَلَهُمۡ
عَذَابٞ مُّقِيمٞ ٦٨

(68) الله له منافقو سړيو او منافقو ښځو او
(ټولو) کفارو سره د جهنم د اور وعده کړې ده،
په داسې حال کې چې دوی به په هغه کې
تل ترتله وي، همدغه د دوی لپاره بس دی او
الله پر دوی لعنت کړی دی او د دوی لپاره تل
(دايمي) عذاب دی

كَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ كَانُوٓاْ أَشَدَّ مِنكُمۡ قُوَّةٗ وَأَكۡثَرَ أَمۡوَٰلٗا وَأَوۡلَٰدٗا فَٱسۡتَمۡتَعُواْ بِخَلَٰقِهِمۡ فَٱسۡتَمۡتَعۡتُم بِخَلَٰقِكُمۡ كَمَا ٱسۡتَمۡتَعَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُم بِخَلَٰقِهِمۡ وَخُضۡتُمۡ كَٱلَّذِي خَاضُوٓاْۚ أُوْلَٰٓئِكَ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ٦٩

(69) (اى منافقانو! تاسو يئ) په شان د هغو كسانو چې له تاسو نه مخكې وو، هغوى له تاسو نه د قوت په لحاظ ډېر سخت او كلك وو او د مالونو او اولادونو په لحاظ سره ډېر زيات وو، نو هغوى له خپلې برخې نه فايده واخيستله، بيا تاسو له خپلې برخې نه فايده واخيستله، لكه څنګه چې هغو كسانو له خپلې برخې نه فايده اخيستې وه چې له تاسو نه مخكې وو او تاسو هم په باطلو خبرو كې ننه داخل شوئ په شان د هغه (داخلېدلو) چې هغوى داخل شوي وو، دغه كسان (چې دي) د دوى عملونه په دنيا او اخرت كې برباد شول او همدغه كسان تاوانيان دي

أَلَمۡ يَأۡتِهِمۡ نَبَأُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ قَوۡمِ نُوحٖ وَعَادٖ وَثَمُودَ وَقَوۡمِ إِبۡرَٰهِيمَ وَأَصۡحَٰبِ مَدۡيَنَ وَٱلۡمُؤۡتَفِكَٰتِۚ أَتَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِۖ فَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظۡلِمَهُمۡ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ٧٠

(70) ايا دوى ته د هغو كسانو (د عذاب) خبر نه دى راغلى چې له دوى نه مخكې وو (يعني) د نوح قوم او عاد او ثمود او د ابراهيم قوم او د مدين والا او د چپه شويو كليو (د قومِ لوط)، دوى ته خپلو رسولانو ښكاره معجزې راوړې وې، نو الله له سره داسې نه و چې پر دوى يې ظلم كړى وى او لېكن هغوى پخپله پر خپلو ځانونو ظلم كاوه

وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتُ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۚ يَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَيُطِيعُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ سَيَرۡحَمُهُمُ ٱللَّهُۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ﴿٧١﴾

(71) او مومن سړي او مومنې ښځې، د دوی ځينې د ځينو نورو دوستان دي، دوی د نېکۍ حکم کوي او له بدۍ نه منع کوي او لمونځ قايموي او زکات ورکوي او د الله او د هغه د رسول اطاعت کوي، دغه کسان (چې دي) ضرور به الله پر دوی رحم وکړي، بېشکه الله ډېر غالب، ښه حکمت والا دی

وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا وَمَسَٰكِنَ طَيِّبَةٗ فِي جَنَّٰتِ عَدۡنٖۚ وَرِضۡوَٰنٞ مِّنَ ٱللَّهِ أَكۡبَرُۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴿٧٢﴾

(72) الله د مومنو سړيو او مومنو ښځو سره د داسې جنتونو وعده کړې ده چې د هغو له لاندې ولې بهېږي، چې دوی به په هغو کې همېشه وي او د داسې پاکيزه اوسېدنځايونو چې د عدن (تل اوسېدنې) په جنتونو کې به وي او د الله له جانبه رضامندي تر ټولو لويه ده، همدغه ډېره لويه کاميابي ده

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ جَٰهِدِ ٱلۡكُفَّارَ وَٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱغۡلُظۡ عَلَيۡهِمۡۚ وَمَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ﴿٧٣﴾

(73) ای نبي! ته له کفارو او منافقانو سره جهاد کوه او پر دوی سختي کوه او د دوی ورتلو ځای جهنم دی او (هغه) د ورتلو بد ځای دی

يَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ مَا قَالُواْ وَلَقَدۡ قَالُواْ

(74) دوی پر الله قسمونه خوري چې دوی (څه) نه دي ويلي او يقينًا يقينًا دوی د کفر

كَلِمَةَ ٱلۡكُفۡرِ وَكَفَرُواْ بَعۡدَ إِسۡلَٰمِهِمۡ وَهَمُّواْ بِمَا لَمۡ يَنَالُواْۚ وَمَا نَقَمُوٓاْ إِلَّآ أَنۡ أَغۡنَىٰهُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ مِن فَضۡلِهِۦۚ فَإِن يَتُوبُواْ يَكُ خَيۡرٗا لَّهُمۡۖ وَإِن يَتَوَلَّوۡاْ يُعَذِّبۡهُمُ ٱللَّهُ عَذَابًا أَلِيمٗا فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۚ وَمَا لَهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٖ ﴿٧٤﴾

الفاظ ویلي دي او له خپل اسلام راوړو نه بعد کافر شوي دي او دوی د هغه څه اراده کړې ده چې دوی (هغه ته) ونه رسېدل او دوی (پر الله او د هغه پر رسول) عیب ونه لګاوه مګر ځکه چې الله له خپله فضله دوی غنیان کړل او د هغهٔ رسول (د غنیمتونو په تقسیم سره) نو که دوی (له نفاقه) توبه وباسي دا به د دوی لپاره ډېر غوره وي او که دوی (له حقه) وګرځي (نو) الله به دوی ته په دنیا او اخرت (دواړو) کې ډېر دردوونکی عذاب ورکړي، په دې حال کې چې د دوی لپاره به په ځمکه کې هېڅ کارساز او مددګار نه وي

۞وَمِنۡهُم مَّنۡ عَٰهَدَ ٱللَّهَ لَئِنۡ ءَاتَىٰنَا مِن فَضۡلِهِۦ لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٧٥﴾

(75) او په دوی کې ځینې هغه څوك دي چې له الله سره یې عهد کړی دی چې قسم دی که هغه مونږ ته له خپله فضله څه راکړل (،نو) خامخا ضرور به خیراتونه کوو او هرو مرو لازمًا به له نېکانو څخه کېږو

فَلَمَّآ ءَاتَىٰهُم مِّن فَضۡلِهِۦ بَخِلُواْ بِهِۦ وَتَوَلَّواْ وَّهُم مُّعۡرِضُونَ ﴿٧٦﴾

(76) نو کله چې هغه (الله) دوی ته له خپله فضله (مال) ورکړ (، نو) په هغه (مال) سره یې بخل وکړ او وګرځېدل، په داسې حال چې اعراض کوونکي وو

فَأَعۡقَبَهُمۡ نِفَاقٗا فِي قُلُوبِهِمۡ إِلَىٰ يَوۡمِ يَلۡقَوۡنَهُۥ بِمَآ أَخۡلَفُواْ ٱللَّهَ مَا وَعَدُوهُ وَبِمَا كَانُواْ يَكۡذِبُونَ ﴿٧٧﴾

(77) نو هغه (الله) دوی ته د دې په نتیجه کې د دوی په زړونو کې داسې نفاق کېښود چې تر هغې ورځې پورې به په دوی کې وي چې له هغه (الله) سره به ملاقات وکړي، په سبب د هغه چې دوی له الله سره د کړې وعدې مخالفت وکړ چې دوی له هغه سره کړې وه او په سبب د دې چې دوی به دروغ ویل

أَلَمۡ يَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ سِرَّهُمۡ وَنَجۡوَىٰهُمۡ وَأَنَّ ٱللَّهَ عَلَّٰمُ ٱلۡغُيُوبِ ﴿٧٨﴾

(78) ایا دوی پر دې نه دي پوه شوي چې بېشکه الله د دوی پر پټو (نیتونو) او د دوی پر پټو مشورو عالم دی او (دوی پر دې نه دي پوه شوي) چې بېشکه الله پر ټولو پټو خبرو ښه عالم دی

ٱلَّذِينَ يَلۡمِزُونَ ٱلۡمُطَّوِّعِينَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ فِي ٱلصَّدَقَٰتِ وَٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ إِلَّا جُهۡدَهُمۡ فَيَسۡخَرُونَ مِنۡهُمۡ سَخِرَ ٱللَّهُ مِنۡهُمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٩﴾

(79) هغه کسان چې پر نفلي خیرات کوونکو مومنانو باندې د صدقاتو په باره کې عیب لګوي او پر هغو کسانو باندې (عیب لګوي) چې هغوی نه مومي مګر خپل وس او محنت، نو دغه (منافقان) په دوی پورې مسخرې کوي، الله به په دوی پورې مسخرې وکړي او د دوی لپاره ډېر دردوونکی عذاب دی

ٱسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ أَوۡ لَا تَسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ

(80) ته د دوی لپاره استغفار وغواړه، یا د

إِن تَسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ سَبۡعِينَ مَرَّةٗ فَلَن
يَغۡفِرَ ٱللَّهُ لَهُمۡۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ
كَفَرُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۗ وَٱللَّهُ لَا
يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ٨٠

دوی لپاره استغفار مه غواړه، که ته د دوی لپاره اویا ځله هم استغفار وغواړې، نو الله به له سره دوی ته بخښنه ونه کړي، دا ځکه چې یقینًا دوی په الله او د هغه په رسول کافران شوي دي او الله فاسق (له حد نه وتونکي) قوم ته هدایت نه کوي

فَرِحَ ٱلۡمُخَلَّفُونَ بِمَقۡعَدِهِمۡ
خِلَٰفَ رَسُولِ ٱللَّهِ وَكَرِهُوٓاْ أَن
يُجَٰهِدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ فِي
سَبِيلِ ٱللَّهِ وَقَالُواْ لَا تَنفِرُواْ فِي
ٱلۡحَرِّۗ قُلۡ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرّٗاۚ لَّوۡ
كَانُواْ يَفۡقَهُونَ ٨١

(81) وروسته پاتې کړی شوي خلق، له رسول الله نه شا ته، په خپلو کېناستو باندې خوشحاله شول او دوی بد وګڼل دا چې په خپلو مالونو او ځانونو سره د الله په لاره کې جهاد وکړي او وېې ویل: تاسو په ګرمۍ کې (دې غزا ته) مه وځئ، ته ووایه: بېشکه د جهنم اور د ګرمۍ په لحاظ ډېر سخت دی، که چېرې دوی پوهېدلی

فَلۡيَضۡحَكُواْ قَلِيلٗا وَلۡيَبۡكُواْ
كَثِيرٗا جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ
يَكۡسِبُونَ ٨٢

(82) نو دوی دې وخاندې (په دنیا کې) لږ او ودې ژاړي ډېر (په اخرت کې) (دا) جزا ده په سبب د هغو عملونو چې دوی به کول

فَإِن رَّجَعَكَ ٱللَّهُ إِلَىٰ طَآئِفَةٖ مِّنۡهُمۡ
فَٱسۡتَـٔۡذَنُوكَ لِلۡخُرُوجِ فَقُل لَّن
تَخۡرُجُواْ مَعِيَ أَبَدٗا وَلَن تُقَٰتِلُواْ

(83) نو که الله ته بېرته راوستې په دوی کې یوې ډلې ته، بیا دوی له تا نه (بلې غزا ته) د وتلو اجازت وغواړي، نو ته (ورته) ووایه: تاسو به له سره ونه وځئ (جهاد ته) زما سره،

مَعِيَ عَدُوًّاۖ إِنَّكُمۡ رَضِيتُم بِٱلۡقُعُودِ أَوَّلَ مَرَّةٖ فَٱقۡعُدُواْ مَعَ ٱلۡخَٰلِفِينَ ٨٣

هېڅکله، او له سره به زما په ملګرتیا کې د کوم دښمن سره جنګ ونه کړئ، هېڅکله، بېشکه تاسو مخکې ځلې پر ناسته راضي شوي وئ، نو (اوس) ناست اوسئ د وروسته پاتې کېدونکو (ښځو، ماشومانو او عاجزو سړیو) سره

وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰٓ أَحَدٖ مِّنۡهُم مَّاتَ أَبَدٗا وَلَا تَقُمۡ عَلَىٰ قَبۡرِهِۦٓۖ إِنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَمَاتُواْ وَهُمۡ فَٰسِقُونَ ٨٤

(84) او په دوی کې چې کوم یو مړ شي، نو ته د هغه هیڅکله هم جنازه مه کوه او مه یې (د دعا او تدفین لپاره) پر قبر ودرېږه، بېشکه دوی په الله او د هغه په رسول کافران شوي دي او مړه شوي دي، په داسې حال کې چې فاسقان وو

وَلَا تُعۡجِبۡكَ أَمۡوَٰلُهُمۡ وَأَوۡلَٰدُهُمۡۚ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُعَذِّبَهُم بِهَا فِي ٱلدُّنۡيَا وَتَزۡهَقَ أَنفُسُهُمۡ وَهُمۡ كَٰفِرُونَ ٨٥

(85) او تا دې په تعجب کې وانه چوي د دوی مالونه او نه د دوی اولادونه، یقینًا الله همدا اراده لري چې دوی ته په دغو (مالونو او اولادونو) سره عذاب ورکړي او روحونه یې ووځي، په داسې حال کې چې کافران وي

وَإِذَآ أُنزِلَتۡ سُورَةٌ أَنۡ ءَامِنُواْ بِٱللَّهِ وَجَٰهِدُواْ مَعَ رَسُولِهِ ٱسۡتَـٔۡذَنَكَ أُوْلُواْ ٱلطَّوۡلِ مِنۡهُمۡ وَقَالُواْ ذَرۡنَا نَكُن مَّعَ

(86) او کله چې کوم سورت نازل کړی شي (او دا حکم په کې وي) چې پر الله ایمان راوړئ او د هغه د رسول په ملګرتیا کې جهاد وکړئ، (نو) له تا نه په دغو کې د (مالي)

ٱلۡقَٰعِدِينَ ﴿٨٦﴾

طاقت والا د پاتې کېدو) اجازت غواړي او وايي: ته مونږ پرېږده چې اوسو (په کورونو کې) له کېناستونکو (ښځو، ماشومانو) سره

رَضُواْ بِأَن يَكُونُواْ مَعَ ٱلۡخَوَالِفِ وَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَهُمۡ لَا يَفۡقَهُونَ ﴿٨٧﴾

**(87)** دوی په دې راضي شول چې د پاتې شویو (ښځو، ماشومانو) سره وي او د دوی پر زړونو مهر لګول شوی دی، ځکه نو دوی نه پوهېږي

لَٰكِنِ ٱلرَّسُولُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ جَٰهَدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلۡخَيۡرَٰتُۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ﴿٨٨﴾

**(88)** لېکن رسول او هغو کسانو چې له ده سره يې ايمان راوړی دی، هغوی په خپلو مالونو او خپلو ځانونو سره جهاد وکړ او خاص د همدغو کسانو لپاره ښېګڼې دي او همدغه کسان کامياب دي

أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴿٨٩﴾

**(89)** الله د دوی لپاره داسې جنتونه تيار کړي دي چې د هغو له لاندې ولې بهېږي، په دې حال کې چې همېشه اوسېدونکي به وي په هغو کې، همدغه ډېر لوی بری دی

وَجَآءَ ٱلۡمُعَذِّرُونَ مِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ لِيُؤۡذَنَ لَهُمۡ وَقَعَدَ ٱلَّذِينَ كَذَبُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥۚ سَيُصِيبُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٩٠﴾

**(90)** او له اَعرابو (باندېسيانو) څخه عذر جوړوونکي راغلل، د دې لپاره چې دوی ته (د پاتې کېدو) اجازت ورکړی شي او هغه کسان کېناستل چې الله او د هغه رسول ته يې دروغ ويلي وو، ژر به هغو کسانو ته، چې په دوی

کې کافران شوي دي ؛ ډېر دردوونکی عذاب ورسېږي

لَّيۡسَ عَلَى ٱلضُّعَفَآءِ وَلَا عَلَى ٱلۡمَرۡضَىٰ وَلَا عَلَى ٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ مَا يُنفِقُونَ حَرَجٌ إِذَا نَصَحُواْ لِلَّهِ وَرَسُولِهِۦۚ مَا عَلَى ٱلۡمُحۡسِنِينَ مِن سَبِيلٖۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٩١﴾

(91) هېڅ ګناه او جرم نشته پر کمزورو او نه پر مریضانو او نه پر هغو کسانو چې نه مومي هغه (مال) چې یې ولګوي، کله چې دوی د الله او د هغه د رسول لپاره اخلاص کوي، په نېکي کوونکو باندې هېڅ (د الزام) لار نشته او الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی

وَلَا عَلَى ٱلَّذِينَ إِذَا مَآ أَتَوۡكَ لِتَحۡمِلَهُمۡ قُلۡتَ لَآ أَجِدُ مَآ أَحۡمِلُكُمۡ عَلَيۡهِ تَوَلَّواْ وَّأَعۡيُنُهُمۡ تَفِيضُ مِنَ ٱلدَّمۡعِ حَزَنًا أَلَّا يَجِدُواْ مَا يُنفِقُونَ ﴿٩٢﴾

(92) او نه پر هغو کسانو (څه حرج شته) چې هر کله تا ته راغلي دي، د دې لپاره چې ته هغوی ته سورلۍ ورکړې، تا وویل: زه نه مومم هغه (سورلي) چې تاسو پر هغې سواره کړم، نو هغوی وګرځېدل، په داسې حال کې چې د هغوی له سترګو اوښکې بهېږي، د دې غم په سبب چې دوی هغه (مال) نه مومي چې دوی یې ولګوي

۞إِنَّمَا ٱلسَّبِيلُ عَلَى ٱلَّذِينَ يَسۡتَـٔۡذِنُونَكَ وَهُمۡ أَغۡنِيَآءُۚ رَضُواْ بِأَن يَكُونُواْ مَعَ ٱلۡخَوَالِفِ وَطَبَعَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَهُمۡ لَا

(93) یقینا همدا خبره ده چې لار (د ملامتۍ) خو پر هغو کسانو ده چې هغوی له تا نه (د پاتې کېدلو) اجازت غواړي، حال دا چې دوی غنیان دي، دوی راضي شوي دي

يَعۡلَمُونَ ﴿٩٣﴾

پر دي چې دوی پاتې شي له وروسته پاتې کېدونکو (ښځو، جینکو) سره او الله د دوی پر زړونو مهر لګولی دی، نو دوی نه پوهېږي

يَعۡتَذِرُونَ إِلَيۡكُمۡ إِذَا رَجَعۡتُمۡ إِلَيۡهِمۡۚ قُل لَّا تَعۡتَذِرُواْ لَن نُّؤۡمِنَ لَكُمۡ قَدۡ نَبَّأَنَا ٱللَّهُ مِنۡ أَخۡبَارِكُمۡۚ وَسَيَرَى ٱللَّهُ عَمَلَكُمۡ وَرَسُولُهُۥ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَىٰ عَٰلِمِ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٩٤﴾

(94) دوی به تاسو ته عذرونه وړاندې کوي کله چې تاسو دوی ته بېرته راوګرځئ، ته (ورته) ووایه: تاسو عذرونه مه وړاندې کوئ، مونږ به له سره پر تاسو باور ونه کړو، یقینًا الله، مونږ ستاسو له ځینو احوالو نه خبر کړي یو او ژر ده چې الله او د هغه رسول به ستاسو عملونه ویني، بیا به تاسو د پټو او ښکاره وو عالِم (الله) ته ورګرځولی شئ، نو هغه به تاسو پر هغو عملونو خبر کړي چې تاسو به کول

سَيَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ لَكُمۡ إِذَا ٱنقَلَبۡتُمۡ إِلَيۡهِمۡ لِتُعۡرِضُواْ عَنۡهُمۡۖ فَأَعۡرِضُواْ عَنۡهُمۡۖ إِنَّهُمۡ رِجۡسٞۖ وَمَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُ جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴿٩٥﴾

(95) یقینًا دوی به تاسو ته پر الله قسمونه خوري، کله چې تاسو دوی ته واپس راشئ، د دې لپاره چې تاسو له دوی نه اعراض وکړئ، نو تاسو له دوی نه اعراض وکړئ، بېشکه دوی پلیت دي، او د دوی د ورتلو ځای جهنم دی، لپاره د بدلې د هغو عملونو چې دوی به کول

يَحۡلِفُونَ لَكُمۡ لِتَرۡضَوۡاْ عَنۡهُمۡۖ فَإِن تَرۡضَوۡاْ عَنۡهُمۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يَرۡضَىٰ عَنِ ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡفَٰسِقِينَ ﴿٩٦﴾

(96) دوی تاسو ته قسمونه خوري، د دې لپاره چې تاسو له دوی نه راضي شئ، نو که تاسو له دوی نه راضي شئ، پس یقینًا الله له

فاسق قوم نه نه راضي کېږي

ٱلۡأَعۡرَابُ أَشَدُّ كُفۡرٗا وَنِفَاقٗا وَأَجۡدَرُ أَلَّا يَعۡلَمُواْ حُدُودَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ﴿٩٧﴾

(97) اَعرابيان په کفر او نفاق کې ډېر سخت دي او ډېر لايق دي د دې چې د هغو (احکامو) په حدودو پوه نشي چې الله پر خپل رسول نازل کړي دي او الله ډېر پوه، ښه حکمت والا دی

وَمِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ مَن يَتَّخِذُ مَا يُنفِقُ مَغۡرَمٗا وَيَتَرَبَّصُ بِكُمُ ٱلدَّوَآئِرَۚ عَلَيۡهِمۡ دَآئِرَةُ ٱلسَّوۡءِۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ﴿٩٨﴾

(98) او په اَعرابيانو کې ځينې هغه دي چې (د الله په لار کې) څه چې خرچ کوي (هغه) تاوان ګڼي او ستاسو په باره کې د زماني د ګردشونو انتظار کوي، په همدوی باندې دې د بدۍ ګردش وي او الله ښه اورېدونکی، ښه عالم دی

وَمِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ مَن يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَيَتَّخِذُ مَا يُنفِقُ قُرُبَٰتٍ عِندَ ٱللَّهِ وَصَلَوَٰتِ ٱلرَّسُولِۚ أَلَآ إِنَّهَا قُرۡبَةٞ لَّهُمۡۚ سَيُدۡخِلُهُمُ ٱللَّهُ فِي رَحۡمَتِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٩٩﴾

(99) او په اَعرابيانو کې ځينې هغه دي چې پر الله او پر ورځ د اخرت ايمان لري او هغه څه چې (د الله په لار کې يې) لګوي، الله ته د نږدې والي او د رسول د دعاګانو اسباب ګڼي، خبردار شئ! بېشکه دا د دوی لپاره د نږدې والي سبب دی، الله به ژر دوی په خپل رحمت کې داخل کړي، بېشکه الله ډېر بخښونکی، بې حده مهربان دی

وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلۡأَوَّلُونَ مِنَ ٱلۡمُهَٰجِرِينَ وَٱلۡأَنصَارِ وَٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُم بِإِحۡسَٰنٖ رَّضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُ وَأَعَدَّ لَهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي تَحۡتَهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ١٠٠

**(100)** او له مهاجرينو او انصارو نه هغه وړاندیني اولني (ایمان لرونکي) او هغه کسان چې په نېکۍ سره يې د دوی پيروي کړې ده، الله له دوی نه راضي شوی دی او دوی له هغه نه راضي شوي دي او هغهٔ، د دوی لپاره داسې جنتونه تيار کړي دي چې د هغو له لاندې وَلې بهېږي، چې دوی به په هغو کې تل ترتله وي، همدا ډېره لويه کاميابي ده

وَمِمَّنۡ حَوۡلَكُم مِّنَ ٱلۡأَعۡرَابِ مُنَٰفِقُونَۖ وَمِنۡ أَهۡلِ ٱلۡمَدِينَةِ مَرَدُواْ عَلَى ٱلنِّفَاقِ لَا تَعۡلَمُهُمۡۖ نَحۡنُ نَعۡلَمُهُمۡۚ سَنُعَذِّبُهُم مَّرَّتَيۡنِ ثُمَّ يُرَدُّونَ إِلَىٰ عَذَابٍ عَظِيمٖ ١٠١

**(101)** او ستاسو په شاو خوا کې چې اعرابيان دي، په هغو کې ځينې منافقان دي او ځينې د مدينې له اوسېدونکو نه هم، چې په نفاق باندې ټينګ شوي دي، ته (ای نبي!) هغوی نه پېژنې، مونږ يې پېژنو، ژر به مونږ هغوی ته دوه ځله عذاب ورکړو، بيا به هغوی ډېر لوی عذاب ته ورګرځولی شي

وَءَاخَرُونَ ٱعۡتَرَفُواْ بِذُنُوبِهِمۡ خَلَطُواْ عَمَلٗا صَٰلِحٗا وَءَاخَرَ سَيِّئًا عَسَى ٱللَّهُ أَن يَتُوبَ عَلَيۡهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ١٠٢

**(102)** او (ځينې) نور (خلق) دي چې پر خپلو ګناهونو قايله شوي دي، دوی نېك عمل او بل بد عمل سره ګډ (او ميلاو) کړي دي، امید دی چې الله به پر دوی رجوع وکړي، بېشکه الله ډېر بخښونکی، بې حده مهربان دی

خُذۡ مِنۡ أَمۡوَٰلِهِمۡ صَدَقَةٗ تُطَهِّرُهُمۡ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيۡهِمۡۖ إِنَّ صَلَوٰتَكَ سَكَنٞ لَّهُمۡۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ١٠٣

(103) (اى نبي!) ته د دوى له مالونو نه صدقه واخله، چې ته دوى پاك كړې او په دې سره يې تزكيه وكړې او دوى ته دعا وكړه، بېشكه ستا دعا د دوى لپاره د تسكين ذريعه ده او الله ښه اورېدونكى، ښه عالم دى

أَلَمۡ يَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ هُوَ يَقۡبَلُ ٱلتَّوۡبَةَ عَنۡ عِبَادِهِۦ وَيَأۡخُذُ ٱلصَّدَقَٰتِ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ١٠٤

(104) ايا دوى نه پوهېدل چې يقينًا الله دى چې هغه د خپلو بنده ګانو توبه قبلوي او صدقې اخلي او دا چې بېشكه الله، هم دى ښه توبه قبلوونكى، بې حده مهربان دى

وَقُلِ ٱعۡمَلُواْ فَسَيَرَى ٱللَّهُ عَمَلَكُمۡ وَرَسُولُهُۥ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۖ وَسَتُرَدُّونَ إِلَىٰ عَٰلِمِ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ١٠٥

(105) او (اى نبي!) ته ووايه: تاسو عمل كوئ، پس ضرور به الله ستاسو عمل ويني او د ده رسول او مومنان (هم) او ژر به تاسو بيا بوتلى شئ د پټو او ښكاره وو عالِم (الله) ته، نو هغه به تاسو پر هغو كارونو خبر كړي چې تاسو به كول

وَءَاخَرُونَ مُرۡجَوۡنَ لِأَمۡرِ ٱللَّهِ إِمَّا يُعَذِّبُهُمۡ وَإِمَّا يَتُوبُ عَلَيۡهِمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ١٠٦

(106) او نور كسان دي چې د الله د حكم لپاره وروسته كړى شوي دي، يا به دوى ته عذاب وركړي او يا به په دوى باندې مهرباني وكړي او الله ښه عالم، ښه حكمت والا دى

وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مَسۡجِدٗا ضِرَارٗا

(107) او هغه خلق چې يو جومات يې جوړ

وَكُفۡرٗا وَتَفۡرِيقَۢا بَيۡنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَإِرۡصَادٗا لِّمَنۡ حَارَبَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ مِن قَبۡلُۚ وَلَيَحۡلِفُنَّ إِنۡ أَرَدۡنَآ إِلَّا ٱلۡحُسۡنَىٰۖ وَٱللَّهُ يَشۡهَدُ إِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ﴿١٠٧﴾

کړی دی د ضرر رسولو لپاره او د کفر کولو لپاره او د مومنانو په مینځ کې د بېلتون راوستلو لپاره او د هغو کسانو د انتظار (او کمین) لپاره چا چې له دې نه مخکې (هم) له الله او د هغه له رسول سره جنګ کړی دی او دوی به یقینًا هرومرو قسمونه خوري چې مونږ اراده نه ده کړې مګر د نېکۍ او الله شاهدي وايي چې بېشکه دوی یقینًا دروغجن دي

لَا تَقُمۡ فِيهِ أَبَدٗاۚ لَّمَسۡجِدٌ أُسِّسَ عَلَى ٱلتَّقۡوَىٰ مِنۡ أَوَّلِ يَوۡمٍ أَحَقُّ أَن تَقُومَ فِيهِۚ فِيهِ رِجَالٞ يُحِبُّونَ أَن يَتَطَهَّرُواْۚ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلۡمُطَّهِّرِينَ ﴿١٠٨﴾

(108) ته په دغه (جومات) کې هیڅکله هم مه ودرېږه، یقینًا هغه جومات چې بنیاد یې له اولې ورځې نه پر تقویٰ ایښودل شوی دی؛ ډېر لایق دی د دې چې ته په کې ودرېږې، په دې (جومات) کې داسې سړي دي چې ښه پاك اوسېدل خوښوي او الله ښه پاك اوسېدونکي خوښوي

أَفَمَنۡ أَسَّسَ بُنۡيَٰنَهُۥ عَلَىٰ تَقۡوَىٰ مِنَ ٱللَّهِ وَرِضۡوَٰنٍ خَيۡرٌ أَم مَّنۡ أَسَّسَ بُنۡيَٰنَهُۥ عَلَىٰ شَفَا جُرُفٍ هَارٖ فَٱنۡهَارَ بِهِۦ فِي نَارِ جَهَنَّمَۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ

(109) ایا نو هغه څوك چې د خپلې ابادۍ بنیاد یې د الله په تقویٰ او رضامندۍ باندې ایښی دی، غوره دی، یا هغه څوك چې د خپلې ابادۍ بنیاد یې د نړېدونکې کندې (پاند) په غاړه ایښی دی، بیا هغه د جهنم په اور کې له هغه سره ونړېږي او الله ظالم قوم ته

ٱلظَّٰلِمِينَ ١٠٩

هدايت نه کوي

لَا يَزَالُ بُنۡيَٰنُهُمُ ٱلَّذِي بَنَوۡاْ رِيبَةٗ فِي قُلُوبِهِمۡ إِلَّآ أَن تَقَطَّعَ قُلُوبُهُمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ١١٠

(110) د دوی هغه ابادي چې دوی جوړه کړې ده ؛ همېشه به د دوی په زړونو کې د شك سبب وي مگر دا چې د دوی زړونه ټوټې ټوټې شي او الله ښه پوه، ښه حکمت والا دی

۞إِنَّ ٱللَّهَ ٱشۡتَرَىٰ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَنفُسَهُمۡ وَأَمۡوَٰلَهُم بِأَنَّ لَهُمُ ٱلۡجَنَّةَۚ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيَقۡتُلُونَ وَيُقۡتَلُونَۖ وَعۡدًا عَلَيۡهِ حَقّٗا فِي ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَٱلۡإِنجِيلِ وَٱلۡقُرۡءَانِۚ وَمَنۡ أَوۡفَىٰ بِعَهۡدِهِۦ مِنَ ٱللَّهِۚ فَٱسۡتَبۡشِرُواْ بِبَيۡعِكُمُ ٱلَّذِي بَايَعۡتُم بِهِۦۚ وَذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ١١١

(111) بېشکه الله له مومنانو نه د هغوی ځانونه او د هغوی مالونه اخیستي دي په بدل د دې کې چې یقینًا د دوی لپاره جنت دی، دوی د الله په لاره کې جنگ کوي، نو وژل کوي او وژلی شي، دا په تورات او انجیل او قرآن کې د هغه په ذمه حقه وعده ده او له الله نه په خپلې وعدې باندې زیات ښه وفا کوونکی (بل) څوك دی؟ نو تاسو په خپلې هغې سودا باندې ښه خوشاله شئ چې تاسو له هغه (الله) سره کړې ده او همدغه ډېر لوی بری دی

ٱلتَّٰٓئِبُونَ ٱلۡعَٰبِدُونَ ٱلۡحَٰمِدُونَ ٱلسَّٰٓئِحُونَ ٱلرَّٰكِعُونَ ٱلسَّٰجِدُونَ ٱلۡأٓمِرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَٱلنَّاهُونَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ

(112) (دوی) توبه کوونکي دي، عبادت کوونکي، ثنا ویونکي، روژه نیونکي، رکوع کوونکي، سجده کوونکي، د نیکۍ حکم کوونکي او له بدو کارونو څخه منع کوونکي دي او د الله د حدودو حفاظت کوونکي دي او

وَٱلۡحَٰفِظُونَ لِحُدُودِ ٱللَّهِۗ وَبَشِّرِ
ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١١٢

ته مومنانو ته زېرى وركړه

مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَن
يَسۡتَغۡفِرُواْ لِلۡمُشۡرِكِينَ وَلَوۡ كَانُوٓاْ
أُوْلِي قُرۡبَىٰ مِنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمۡ
أَنَّهُمۡ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَحِيمِ ١١٣

**(113)** د نبي او هغو كسانو لپاره چې ايمان يې راوړى دى؛ روا نه دي چې د مشركانو لپاره مغفرت وغواړي اگر كه دغه (مشركان) رشته داران هم وي، وروسته له دې نه چې دوى ته دا ښه ښكاره شوه چې يقينًا دوى د دوزخ والا دي

وَمَا كَانَ ٱسۡتِغۡفَارُ إِبۡرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ
إِلَّا عَن مَّوۡعِدَةٖ وَعَدَهَآ إِيَّاهُ فَلَمَّا
تَبَيَّنَ لَهُۥٓ أَنَّهُۥ عَدُوّٞ لِّلَّهِ تَبَرَّأَ مِنۡهُۚ
إِنَّ إِبۡرَٰهِيمَ لَأَوَّٰهٌ حَلِيمٞ ١١٤

**(114)** او د خپل پلار لپاره د ابراهيم مغفرت غوښتل نه و مگر د يوې وعدې له وجې نه چې د هغې وعده يې له هغه (خپل پلار) سره كړې وه، نو كله چې هغه ته ښه څرگنده شوه چې يقينًا هغه د الله دښمن دى (، نو) له هغه نه بېزاره شو، بېشكه ابراهيم خامخا ډېر نرم زړى، ډېر حِلم والا و

وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُضِلَّ قَوۡمَۢا بَعۡدَ إِذۡ
هَدَىٰهُمۡ حَتَّىٰ يُبَيِّنَ لَهُم مَّا يَتَّقُونَۚ
إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ١١٥

**(115)** او الله هيڅكله هم داسې نه دى چې يو قوم بې لارې كړي وروسته له دې چې دوى ته يې لاره ښودلې وي تر هغه پورې چې دوى ته هغه څه بيان كړي چې دوى ترې ځان وساتي، بېشكه الله په هر شي باندې ښه پوه دى

إِنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۚ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٖ ١١٦

(116) بېشکه الله چې دی، د اسمانونو او ځمکې سلطنت خاص د هغه لپاره دی، هغه ژوند ورکوي او هغه مرگ ورکوي او تاسو لپاره له الله نه غیر نه هېڅ کار ساز شته او نه هېڅ مددگار

لَّقَد تَّابَ ٱللَّهُ عَلَى ٱلنَّبِيِّ وَٱلۡمُهَٰجِرِينَ وَٱلۡأَنصَارِ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ ٱلۡعُسۡرَةِ مِنۢ بَعۡدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٖ مِّنۡهُمۡ ثُمَّ تَابَ عَلَيۡهِمۡۚ إِنَّهُۥ بِهِمۡ رَءُوفٞ رَّحِيمٞ ١١٧

(117) یقینًا یقینًا الله په مهربانۍ سره رجوع وکړه په خپل نبي او مهاجرو او انصارو باندې، په هغو کسانو باندې چې د تنگۍ په وخت کې یې د هغهٔ متابعت او ملگرتیا وکړه، وروسته له دې چې قریب وه چې په هغو کې د یوې ډلې زړونه کاږه شي، بیا هغه (الله) په دوی باندې مهرباني وکړه، یقینًا هغه پر دوی ډېر نرمي کوونکی، بې حده مهربان دی

وَعَلَى ٱلثَّلَٰثَةِ ٱلَّذِينَ خُلِّفُواْ حَتَّىٰٓ إِذَا ضَاقَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَرۡضُ بِمَا رَحُبَتۡ وَضَاقَتۡ عَلَيۡهِمۡ أَنفُسُهُمۡ وَظَنُّوٓاْ أَن لَّا مَلۡجَأَ مِنَ ٱللَّهِ إِلَّآ إِلَيۡهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيۡهِمۡ لِيَتُوبُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ١١٨

(118) او په هغو درې کسانو باندې چې وروسته کړی شوي وو، تر دې چې په هغوی باندې ځمکه، سره د هغې له ارت والي تنگه شوه او هغوی پر خپلو ځانونو (هم) تنگ شول (خپل ځانونه پرې بوج شول) او هغوی یقین وکړ چې د الله (له عذاب) نه د پناه هېڅ ځای نشته مگر هم له هغهٔ سره دی، بیا هغه (الله) پر دوی مهرباني وکړه، د دې لپاره چې دوی

توبه وباسي، ببشکه چې الله، هم دی ښه توبه قبلوونکی، بې حده مهربان دی

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَكُونُواْ مَعَ ٱلصَّـٰدِقِينَ ﴿١١٩﴾

(119) ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی! تاسو له الله نه ووېرېږئ او له رښتينو سره ملګري شئ

مَا كَانَ لِأَهۡلِ ٱلۡمَدِينَةِ وَمَنۡ حَوۡلَهُم مِّنَ ٱلۡأَعۡرَابِ أَن يَتَخَلَّفُواْ عَن رَّسُولِ ٱللَّهِ وَلَا يَرۡغَبُواْ بِأَنفُسِهِمۡ عَن نَّفۡسِهِۦۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ لَا يُصِيبُهُمۡ ظَمَأٞ وَلَا نَصَبٞ وَلَا مَخۡمَصَةٞ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا يَطَـُٔونَ مَوۡطِئٗا يَغِيظُ ٱلۡكُفَّارَ وَلَا يَنَالُونَ مِنۡ عَدُوّٖ نَّيۡلًا إِلَّا كُتِبَ لَهُم بِهِۦ عَمَلٞ صَٰلِحٌۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿١٢٠﴾

(120) د مديني د خلقو لپاره او د دوی چاپېره د هغه چا لپاره چې اعرابيان دي، روا نه دي چې له رسول الله(ﷺ) نه شا ته پاتې شي او نه دا چې خپل ځانونه د هغه له ځان نه ښه او غوره وګڼي، دا ځکه چې يقينًا دوی چې دي، دوی ته نه څه تنده رسي او نه ستړي والی او نه لوږه د الله په لاره کې او نه دوی پر کوم داسې ځای قدمونه ږدي چې کفار په غصه کوي او نه رسي دوی دښمن ته په (هېڅ) رسېدلو سره (چې د هغوی وژل، بنديان کول او ترې غنيمت اخيستل دي) مګر دوی ته په دې سره نېك عمل ليکلی شي، ببشکه الله د نېکي کوونکو اجر نه ضايع کوي

وَلَا يُنفِقُونَ نَفَقَةٗ صَغِيرَةٗ وَلَا كَبِيرَةٗ وَلَا يَقۡطَعُونَ وَادِيًا إِلَّا

(121) او نه دوی څه نفقه لګوي، نه وړه او نه لويه او نه څه ميدان قطع کوي مګر د دوی

كُتِبَ لَهُمۡ لِيَجۡزِيَهُمُ ٱللَّهُ أَحۡسَنَ
مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٢١

لپاره (يې ثواب) ليکلی شي، د دې لپاره چې
الله دوی ته د هغو بهترينو عملونو بدله ورکړي
چې دوی به کول

۞وَمَا كَانَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ لِيَنفِرُواْ
كَآفَّةٗۚ فَلَوۡلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرۡقَةٖ
مِّنۡهُمۡ طَآئِفَةٞ لِّيَتَفَقَّهُواْ فِي ٱلدِّينِ
وَلِيُنذِرُواْ قَوۡمَهُمۡ إِذَا رَجَعُوٓاْ إِلَيۡهِمۡ
لَعَلَّهُمۡ يَحۡذَرُونَ ١٢٢

(122) او مومنان داسې نه دي چې ټول له
ځېرمې ووځي، نو ولې نه وځي د دوی له
هرې ډلې نه يو ټولګی؟ د دې لپاره چې دوی
په دين کې ژوره پوهه پيدا کړي او خپل قوم
ته اِنذار ورکړي کله چې دوی ته راواپس شي،
د دې لپاره چې دوی ووېرېږي

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ
يَلُونَكُم مِّنَ ٱلۡكُفَّارِ وَلۡيَجِدُواْ
فِيكُمۡ غِلۡظَةٗۚ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ
مَعَ ٱلۡمُتَّقِينَ ١٢٣

(123) اې هغو کسانو چې ايمان يې راوړی
دی! تاسو له هغو کفارو سره وجنګېږئ چې
تاسو ته نژدې دي او لازم ده چې دوی په
تاسو کې سختي ومومي او تاسو پوه شئ چې
يقينًا الله د پرهېزګارو ملګری دی

وَإِذَا مَآ أُنزِلَتۡ سُورَةٞ فَمِنۡهُم مَّن
يَقُولُ أَيُّكُمۡ زَادَتۡهُ هَٰذِهِۦٓ إِيمَٰنٗاۚ
فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فَزَادَتۡهُمۡ إِيمَٰنٗا
وَهُمۡ يَسۡتَبۡشِرُونَ ١٢٤

(124) او کله چې هم کوم سورت نازل کړی
شي، نو په دوی کې ځينې هغه څوك دي
چې وايي: په تاسو کې کوم يو دی چې دې
(سورت) د هغه ايمان زيات کړ؟ نو هر چې
مومنان دي، نو دې (سورت) د هغوی ايمان
ورزيات کړ، په داسې حال کې چې هغوی ښه
خوشالېږي

وَأَمَّا ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ فَزَادَتۡهُمۡ رِجۡسًا إِلَىٰ رِجۡسِهِمۡ وَمَاتُواْ وَهُمۡ كَٰفِرُونَ ١٢٥

(125) او پاتې شو هغه کسان چې د هغوی په زړونو کې مرض دی، نو دې (سورت) هغوی ته د هغوی له ګندګۍ سره ګندګي ور زیاته کړه او دوی مړه شول، په دې حال کې چې هغوی کافران وو

أَوَلَا يَرَوۡنَ أَنَّهُمۡ يُفۡتَنُونَ فِي كُلِّ عَامٖ مَّرَّةً أَوۡ مَرَّتَيۡنِ ثُمَّ لَا يَتُوبُونَ وَلَا هُمۡ يَذَّكَّرُونَ ١٢٦

(126) او ایا دوی نه ګوري چې یقینًا دوی هر کال یو ځله، یا دوه ځله ازمایلی شي، بیا نه دوی توبه وباسي او نه دوی نصیحت اخلي

وَإِذَا مَآ أُنزِلَتۡ سُورَةٞ نَّظَرَ بَعۡضُهُمۡ إِلَىٰ بَعۡضٍ هَلۡ يَرَىٰكُم مِّنۡ أَحَدٖ ثُمَّ ٱنصَرَفُواْۚ صَرَفَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُم بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ لَّا يَفۡقَهُونَ ١٢٧

(127) او کله چې هم کوم سورت نازل کړی شي د دوی ځینې ځینو (نورو) ته وګوري چې ایا تاسو څوكویني؟ بیا واپس شي، الله د دوی زړونه ګرځولي دي، په سبب د دې چې یقینًا دوی داسې قوم دی چې نه پوهېږي

لَقَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولٞ مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ عَزِيزٌ عَلَيۡهِ مَا عَنِتُّمۡ حَرِيصٌ عَلَيۡكُم بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ رَءُوفٞ رَّحِيمٞ ١٢٨

(128) یقینًا یقینًا تاسو ته له هم ستاسو له جنسه نه رسول راغلی دی، هغه څه چې تاسو په تکلیف کې اچوي؛ پر ده ډېر سخت (او درانه) دي، ستاسو (د هدایت) لپاره پر تاسو باندې ډېر حرصناك دی، په مومنانو باندې ډېر نرمي کوونکی، ډېر مهربان دی

فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَقُلۡ حَسۡبِيَ ٱللَّهُ لَآ
إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُۖ وَهُوَ
رَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡعَظِيمِ ١٢٩

(129) نو كه چېرې دوی (د حق له قبلولو نه) وګرځي، نو ته ووايه: ما ته الله كافي دی، نشته دی هېڅ لايق د عبادت مګر هغه دی، خاص په هغه باندې ما توكل كړی دی او هم هغه د عظيم عرش مالك دی

## سُورَةُ يُونُسَ

## سورة يونس

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

**د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكی دی**

الٓرۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ
ٱلۡحَكِيمِ ١

(1) الف، لام، را، دا له حكمت نه د ډك كتاب ايتونه دي

أَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا أَنۡ أَوۡحَيۡنَآ
إِلَىٰ رَجُلٖ مِّنۡهُمۡ أَنۡ أَنذِرِ ٱلنَّاسَ
وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنَّ لَهُمۡ قَدَمَ
صِدۡقٍ عِندَ رَبِّهِمۡۗ قَالَ ٱلۡكَٰفِرُونَ
إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٞ مُّبِينٌ ٢

(2) ايا د خلقو لپاره دا د تعجب خبره ده چې مونږ په دوی كې يو سړي ته دا وحي وكړه چې ته خلق ووېروه او هغو كسانو ته زېری وركړه چې ايمان يې راوړی دی چې يقينًا د دوی لپاره د خپل رب په نيز لويه رښتينې مرتبه ده (نو) كافرانو وويل: بېشكه دا يقينًا ښكاره جادوګر دی

إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ

(3) بېشكه چې ستاسو رب هم هغه الله دی چې پيدا كړې يې دي اسمانونه او ځمكه په

ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ
ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ يُدَبِّرُ
ٱلۡأَمۡرَۖ مَا مِن شَفِيعٍ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ
إِذۡنِهِۦۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡ
فَٱعۡبُدُوهُۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ٣

شپږو ورځو کې، بیا دی په عرش باندې برقرار شو، دی د ټولو کارونو تدبیر کوي، هېڅ سفارشي نشته مګر د هغه له اجازت نه وروسته، دغه الله ستاسو رب دی، نو تاسو د ده عبادت کوئ، ایا نو تاسو نصیحت نه اخلئ!

إِلَيۡهِ مَرۡجِعُكُمۡ جَمِيعٗاۖ وَعۡدَ ٱللَّهِ
حَقًّاۚ إِنَّهُۥ يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ
يُعِيدُهُۥ لِيَجۡزِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ بِٱلۡقِسۡطِۚ
وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَهُمۡ شَرَابٞ مِّنۡ
حَمِيمٖ وَعَذَابٌ أَلِيمُۢ بِمَا كَانُواْ
يَكۡفُرُونَ ٤

(4) خاص هم ده ته ستاسو د ټولو واپسي ده، الله حقه وعده کړې ده، بېشکه دی مخلوق لره اول ځل پیدا کوي، بیا یې دوباره ژوندي کوي، د دې لپاره چې هغو خلقو ته چې ایمان یې راوړی دی او نېك عملونه یې کړي دي په انصاف سره بدله ورکړي، او هغه کسان چې کفر یې کړی دی، د دوی لپاره ایشېدلې ګرمې اوبه دي او بېخي دردناك عذاب دی، په دې سبب چې دوی به کفر کاوه

هُوَ ٱلَّذِي جَعَلَ ٱلشَّمۡسَ ضِيَآءٗ
وَٱلۡقَمَرَ نُورٗا وَقَدَّرَهُۥ مَنَازِلَ
لِتَعۡلَمُواْ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ وَٱلۡحِسَابَۚ
مَا خَلَقَ ٱللَّهُ ذَٰلِكَ إِلَّا بِٱلۡحَقِّۚ
يُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ٥

(5) هم هغه (الله) دی چې (ټیکلی د) لمر یې تېز ځلېدونکی ګرځولی دی او (ټیکلی د) سپوږمۍ یې روښانه او هغه یې منزلونه منزلونه مقرر کړه (او منزلونه یې مقرر کړل)، د دې لپاره چې تاسو د کلونو شمېره او حساب معلوم کړئ ، الله دغه (څیزونه) نه دي پیدا کړي مګر په حقه سره، هغه ایتونه (دلیلونه)

په تفصیل سره بیانوي، د هغو خلقو لپاره چې پوهېږي

إِنَّ فِي ٱخۡتِلَٰفِ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ وَمَا خَلَقَ ٱللَّهُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَّقُونَ ٦

(6) بېشکه د شپې او ورځې په اختلاف (بدلېدو رابدلېدو) کې او په هغو (شیانو) کې چې الله په اسمانونو او ځمکه کې پیدا کړي دي، خامخا نښې دي د هغو خلقو لپاره چې وېرېږي

إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يَرۡجُونَ لِقَآءَنَا وَرَضُواْ بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَٱطۡمَأَنُّواْ بِهَا وَٱلَّذِينَ هُمۡ عَنۡ ءَايَٰتِنَا غَٰفِلُونَ ٧

(7) بېشکه هغه کسان چې زموږ د ملاقات امید نه لري او پر دنیایي ژوند راضي شوي دي او پر دې (ژوند) مطمئن دي او هغه کسان چې دوی زموږ له ایتونو نه غافلان دي

أُوْلَٰٓئِكَ مَأۡوَىٰهُمُ ٱلنَّارُ بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ٨

(8) دغه کسان، د دوی استوګنه اور دی، په سبب د هغو کارونو چې دوی به کول

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ يَهۡدِيهِمۡ رَبُّهُم بِإِيمَٰنِهِمۡۖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهِمُ ٱلۡأَنۡهَٰرُ فِي جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ٩

(9) بېشکه هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او نېك عملونه یې کړي دي، د دوی رب به دوی ته د خپل ایمان په سبب لارښوونه کوي، د نعمتونو په باغونو کې به د دوی له لاندې نهرونه بهېږي

دَعۡوَىٰهُمۡ فِيهَا سُبۡحَٰنَكَ ٱللَّهُمَّ

(10) د دوی وینا به په دغو (جنتونو) کې

وَتَحِيَّتُهُمۡ فِيهَا سَلَٰمٞۚ وَءَاخِرُ دَعۡوَىٰهُمۡ أَنِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٠

سُبْحَانَكَ اللهم (ای الله! ستا پاکي بیانوو) وي او په دغو (باغونو) کې به د دوی ډالۍ سلام وي او د دوی د وینا اخر به دا وي چې ټول صفتونه خاص الله لره دي چې د ټولو عالمونو ښه پالونکی دی

۞وَلَوۡ يُعَجِّلُ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ ٱلشَّرَّ ٱسۡتِعۡجَالَهُم بِٱلۡخَيۡرِ لَقُضِيَ إِلَيۡهِمۡ أَجَلُهُمۡۖ فَنَذَرُ ٱلَّذِينَ لَا يَرۡجُونَ لِقَآءَنَا فِي طُغۡيَٰنِهِمۡ يَعۡمَهُونَ ١١

(11) او که چیرې الله خلقو ته بدي (تکلیف) جلت ورسوي، په شان د جلت غوښتلو د دوی خیر لره (، نو) خامخا دوی ته به د دوی موده پوره کړی شوې وی، نو مونږه هغه کسان چې زمونږ د ملاقات امید نه لري په خپلې سرکشۍ کې پرېږدو، چې سرګردانه وي

وَإِذَا مَسَّ ٱلۡإِنسَٰنَ ٱلضُّرُّ دَعَانَا لِجَنۢبِهِۦٓ أَوۡ قَاعِدًا أَوۡ قَآئِمٗا فَلَمَّا كَشَفۡنَا عَنۡهُ ضُرَّهُۥ مَرَّ كَأَن لَّمۡ يَدۡعُنَآ إِلَىٰ ضُرّٖ مَّسَّهُۥۚ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلۡمُسۡرِفِينَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٢

(12) او کله چې انسان ته تکلیف ورسېږي (نو) په خپل اړخ باندې (پروت)، یا ناست، یا په ولاړه مونږ بللي، نو کله چې مونږ له هغه نه د هغه تکلیف لرې کړو (نو داسې) تېرېږي لکه چې ده مونږ نه وو بللي (د) هغه تکلیف (لرې کولو) ته چې ده ته رسېدلی و، همدارنګه له حد نه تېرېدونکو ته هغه عملونه ښایسته کړی شول چې دوی به کول

وَلَقَدۡ أَهۡلَكۡنَا ٱلۡقُرُونَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَمَّا ظَلَمُواْ وَجَآءَتۡهُمۡ

(13) او یقینًا یقینًا ستاسو نه مخکې قومونه (مخکیني نسلونه) مونږ هلاك کړل کله چې

رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَمَا كَانُواْ لِيُؤۡمِنُواْۚ كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿١٣﴾

هغوی ظلم وکړ او هغوی ته خپلو رسولانو ښکاره معجزې راوړې وې او هغوی له سره داسې نه وو چې ایمان یې راوړی وی، همدارنګه مونږ مجرمو خلقو ته سزا ورکوو

ثُمَّ جَعَلۡنَٰكُمۡ خَلَٰٓئِفَ فِي ٱلۡأَرۡضِ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ لِنَنظُرَ كَيۡفَ تَعۡمَلُونَ ﴿١٤﴾

**(14)** بیا مونږه له هغوی نه وروسته تاسو په ځمکه کې ځای ناستي جوړ کړئ، د دې لپاره چې مونږ وګورو تاسو څنګه عمل کوئ

وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَاتُنَا بَيِّنَٰتٖ قَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَرۡجُونَ لِقَآءَنَا ٱئۡتِ بِقُرۡءَانٍ غَيۡرِ هَٰذَآ أَوۡ بَدِّلۡهُۚ قُلۡ مَا يَكُونُ لِيٓ أَنۡ أُبَدِّلَهُۥ مِن تِلۡقَآيِٕ نَفۡسِيٓۖ إِنۡ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّۖ إِنِّيٓ أَخَافُ إِنۡ عَصَيۡتُ رَبِّي عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيمٖ ﴿١٥﴾

**(15)** او کله چې په دوی باندې زمونږ ایتونه، چې واضح دي، ولوستل شي، هغه کسان وایي چې زمونږ د ملاقات امېد نه لري: ته له ده نه غیر قرآن راوړه، یا په ده کې تبدیلي وکړه، ته (ورته) ووایه: ما ته دا حق نشته چې زه په ده کې له خپله ځانه تبدیلي وکړم، زه پیروي نه کوم مګر د هغه چې ما ته وحي کولی شي، بېشکه زه د ډېرې سترې ورځې له عذاب نه وېرېږم که د خپل رب نافرماني وکړم

قُل لَّوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا تَلَوۡتُهُۥ عَلَيۡكُمۡ وَلَآ أَدۡرَىٰكُم بِهِۦۖ فَقَدۡ لَبِثۡتُ فِيكُمۡ عُمُرٗا مِّن قَبۡلِهِۦٓۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴿١٦﴾

**(16)** ته ووایه: که چېرې الله غوښتلی (،نو) ما به دا (قرآن) پر تاسو باندې نه و لوستی او نه به هغهٔ، تاسو پر ده عالمان کړي وی، پس یقینًا ما له ده نه مخکې په تاسو کې ډېر عمر تېر کړی دی، ایا نو تاسو له عقل نه کار نه

اخلئ!

فَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوۡ كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ١٧

(17) نو له هغه چا نه لوی ظالم څوك دی چې په الله باندې دروغ تپي، يا د هغه د ايتونو تكذيب كوي، بېشكه شان دا دی چې مجرمان به خلاصی ونه مومي

وَيَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمۡ وَلَا يَنفَعُهُمۡ وَيَقُولُونَ هَٰٓؤُلَآءِ شُفَعَٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِۚ قُلۡ أَتُنَبِّـُٔونَ ٱللَّهَ بِمَا لَا يَعۡلَمُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ١٨

(18) او دوی له الله نه غير د هغو څيزونو عبادت كوي چې نه دوی ته ضرر رسولی شي او نه دوی ته نفع رسولی شي او دوی وايي: دا د الله په وړاندې زمونږ سفارشيان دي، ته ووايه: ايا تاسو الله پر هغه څه خبروئ چې هغه يې نه په اسمانونو كې پېژني او نه يې په ځمكه كې، هغه ډېر پاك دی او ډېر اوچت دی له هغو څيزونو نه چې دوی يې ورسره شريكوي

وَمَا كَانَ ٱلنَّاسُ إِلَّآ أُمَّةً وَٰحِدَةً فَٱخۡتَلَفُواْۚ وَلَوۡلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتۡ مِن رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيۡنَهُمۡ فِيمَا فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ١٩

(19) او (په شروع كې) ټول خلق يو امت وو، بيا دوی سره مختلفه شول او كه چېرې نه وی هغه خبره چې ستا د رب له خوا مخكې ثابته شوې ده (، نو) خامخا د دوی په مينځ كې به د هغو خبرو فيصله شوې وی چې دوی په كې اختلاف كوي

وَيَقُولُونَ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ ءَايَةٞ
مِّن رَّبِّهِۦۖ فَقُلۡ إِنَّمَا ٱلۡغَيۡبُ لِلَّهِ
فَٱنتَظِرُوٓاْ إِنِّي مَعَكُم مِّنَ
ٱلۡمُنتَظِرِينَ ٢٠

(20) او دوی وايي: ولې په ده باندې د خپل رب له جانبه معجزه نه ده نازله کړی شوې؟ نو ته (ورته) ووایه: بېشکه همدا خبره ده چې (علم د) غيب د الله لپاره خاص دی، نو تاسو انتظار کوئ، بېشکه زه له تاسو سره له انتظار کوونکو څخه یم

وَإِذَآ أَذَقۡنَا ٱلنَّاسَ رَحۡمَةٗ مِّنۢ بَعۡدِ
ضَرَّآءَ مَسَّتۡهُمۡ إِذَا لَهُم مَّكۡرٞ فِيٓ
ءَايَاتِنَاۚ قُلِ ٱللَّهُ أَسۡرَعُ مَكۡرًاۚ إِنَّ
رُسُلَنَا يَكۡتُبُونَ مَا تَمۡكُرُونَ ٢١

(21) او کله چې مونږ په خلقو باندې څه رحمت وڅکو، وروسته له هغه تکلیف نه چې دوی ته رسېدلی وي (، نو) ناڅاپه دوی زمونږ په ایتونو کې مکرونه (او سازشونه) شروع کړي، ته ووایه: الله د مکر په لحاظ سره تر ټولو جلت دی، بېشکه زمونږ رسولان (ملایك) لیکي هغه څه چې تاسو کوم مکر کوئ

هُوَ ٱلَّذِي يُسَيِّرُكُمۡ فِي ٱلۡبَرِّ
وَٱلۡبَحۡرِۖ حَتَّىٰٓ إِذَا كُنتُمۡ فِي ٱلۡفُلۡكِ
وَجَرَيۡنَ بِهِم بِرِيحٖ طَيِّبَةٖ وَفَرِحُواْ
بِهَا جَآءَتۡهَا رِيحٌ عَاصِفٞ
وَجَآءَهُمُ ٱلۡمَوۡجُ مِن كُلِّ مَكَانٖ
وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُمۡ أُحِيطَ بِهِمۡ دَعَوُاْ ٱللَّهَ
مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ لَئِنۡ أَنجَيۡتَنَا

(22) هم هغه دی چې تاسو په وچه او بحر کې ګرځوي، تر دې چې کله تاسو په کښتیو کې (سواره) شئ، او دا (کښتۍ) له دوی سره په ښې (موافِقې) هوا سره رواني شي او په دې سره دوی خوشحاله شي (،نو) په دې (کښتیو) باندې سخت تېز باد راشي او په دې (خلقو) باندې له هر ځایه چپې راشي او دوی یقین وکړي چې بېشکه دوی ګېر کړی شول

مِنۡ هَٰذِهِۦ لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ٢٢

(بيا) دوی الله بلي، په داسې حال کې چې خاص هغه لره دين (عبادت) خالص کوونکي وي (او وايي) يقينًا که چېرې تا مونږ ته له دې (مصيبت) نه خلاصی راکړ(،نو) مونږ به هرومرو لازمًا له شکر کوونکو څخه شو

فَلَمَّآ أَنجَىٰهُمۡ إِذَا هُمۡ يَبۡغُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّۗ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّمَا بَغۡيُكُمۡ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمۖ مَّتَٰعَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ ثُمَّ إِلَيۡنَا مَرۡجِعُكُمۡ فَنُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٢٣

(23) نو کله چې هغه، دوی ته نجات ورکړي ناڅاپه دوی په ځمکه کې ناحقه ظلم فساد شروع کړي، اې خلقو! بېشکه همدا خبره ده چې ستاسو ظلم او سرکشي د خپلو ځانونو په ضرر ده. د دنيايي ژوند فايده (واخلئ) بيا خاص مونږ ته ستاسو واپس راتله دي، نو مونږ به تاسو پر هغو عملونو خبر کړو چې تاسو به کول

إِنَّمَا مَثَلُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا كَمَآءٍ أَنزَلۡنَٰهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَٱخۡتَلَطَ بِهِۦ نَبَاتُ ٱلۡأَرۡضِ مِمَّا يَأۡكُلُ ٱلنَّاسُ وَٱلۡأَنۡعَٰمُ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَخَذَتِ ٱلۡأَرۡضُ زُخۡرُفَهَا وَٱزَّيَّنَتۡ وَظَنَّ أَهۡلُهَآ أَنَّهُمۡ قَٰدِرُونَ عَلَيۡهَآ أَتَىٰهَآ أَمۡرُنَا لَيۡلًا أَوۡ نَهَارٗا فَجَعَلۡنَٰهَا حَصِيدٗا كَأَن لَّمۡ تَغۡنَ بِٱلۡأَمۡسِۚ كَذَٰلِكَ

(24) بېشکه همدا خبره ده چې د دنيايي ژوند مثال د هغو اوبو په شان دی چې مونږ له بره نازلې کړې، بيا په (سبب د) هغو سره د ځمکې زرغونه ښه ګډه وډه شي له هغو ځيزونو ځنې چې خلق او څاروي يې خوري، تر دې چې کله ځمکه خپل زينت واخلي او ښه ښکلې شي او د هغې خاوندان يقين وکړي چې يقينًا دوی پر دې قادر دي (، نو) هغې ته زمونږ حکم د شپې راشي، يا د ورځې،

نُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ٢٤

نو مونږ هغه ربيل شوي كړو، ګويا كې دغه (اباده زرغونه ځمكه) پرون له سره موجود نه وه، همدارنګه مونږه ايتونه په تفصيل سره بيانوو د هغو خلقو لپاره چې ښه فكر كوي

وَٱللَّهُ يَدۡعُوٓاْ إِلَىٰ دَارِ ٱلسَّلَٰمِ وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ٢٥

**(25)** او الله د سلامتۍ كور ته بلنه كوي او چا ته چې وغواړي هغه ته د نېغې لارې هدايت كوي

۞لِّلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ ٱلۡحُسۡنَىٰ وَزِيَادَةٞۖ وَلَا يَرۡهَقُ وُجُوهَهُمۡ قَتَرٞ وَلَا ذِلَّةٌۚ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٢٦

**(26)** د هغو كسانو لپاره چې نېكي يې كړې ده ډېره نېكه بدله ده او زيادت (د اجر هم شته) او د دوی مخونه به نه هېڅ تور ګرد او غبار پټوي او نه څه ذلت، دغه كسان د جنت والا دي دوی به په هغه كې همېشه وي

وَٱلَّذِينَ كَسَبُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ جَزَآءُ سَيِّئَةِۢ بِمِثۡلِهَا وَتَرۡهَقُهُمۡ ذِلَّةٞۖ مَّا لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مِنۡ عَاصِمٖۖ كَأَنَّمَآ أُغۡشِيَتۡ وُجُوهُهُمۡ قِطَعٗا مِّنَ ٱلَّيۡلِ مُظۡلِمًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٢٧

**(27)** او هغه كسان چې بد كارونه يې كړي دي (د دوی) د بدۍ جزا د هغې په مثل ده او ذلت به دوی لره پټوي، د دوی لپاره به د الله (له عذاب) نه هېڅ ساتونكى نه وي، ګوياكې د دوی مخونه د تكې تيارې شپې په ټكړو پټ كړې شوي دي، دغه كسان د اور والا دي، دوی به په هغه كې همېشه وي

وَيَوۡمَ نَحۡشُرُهُمۡ جَمِيعٗا ثُمَّ نَقُولُ

**(28)** او هغه ورځ چې مونږ به دوی ټول

| | |
|---|---|
| لِلَّذِينَ أَشْرَكُواْ مَكَانَكُمْ أَنتُمْ وَشُرَكَآؤُكُمْۚ فَزَيَّلْنَا بَيْنَهُمْۖ وَقَالَ شُرَكَآؤُهُم مَّا كُنتُمْ إِيَّانَا تَعْبُدُونَ ﴿٢٨﴾ | راجمع كړو، بیا به مونږ هغو كسانو ته چې شرك يې كړى دى، ووايو: تاسو او ستاسو شريكان پر خپل ځاى تينگ ودرېږئ، نو مونږ به د دوى په مينځ كې بېلتون راولو او د دوى شريكان به ووايي: تاسو خو زمونږ عبادت نه كاوه |
| فَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًۢا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ إِن كُنَّا عَنْ عِبَادَتِكُمْ لَغَٰفِلِينَ ﴿٢٩﴾ | (29) نو الله بس كافي گواه دى زمونږ په مينځ كې او ستاسو په مينځ كې، بېشكه شان دا دى چې مونږ ستاسو له عبادته يقينًا ناخبره وو |
| هُنَالِكَ تَبْلُواْ كُلُّ نَفْسٍ مَّآ أَسْلَفَتْۚ وَرُدُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ مَوْلَىٰهُمُ ٱلْحَقِّۖ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُواْ يَفْتَرُونَ ﴿٣٠﴾ | (30) په دغه ځاى كې به هر نفس وازمايي هغه څه چې ده مخكې لېږلي دي او دوى به خپل حق مولٰى (مالك ) ته واپس بوتلى شي او له دوى نه به هغه څه ورك شي چې دوى به له ځانه دروغ جوړول |
| قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ أَمَّن يَمْلِكُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ وَمَن يُخْرِجُ ٱلْحَيَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ ٱلْمَيِّتَ مِنَ ٱلْحَيِّ وَمَن يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَۚ فَسَيَقُولُونَ ٱللَّهُۚ | (31) ته ووايه: تاسو ته له اسمان او ځمكې نه روزي څوك دركوي؟ يا د غوږونو او سترگو مالك څوك دى اوڅوك ژوندى له مړي راوباسي او مړى له ژوندي راوباسي او څوك د كارونو تدبير كوي؟ نو يقينًا دوى به وايي چې الله دى، (نو ته ووايه:) ايا نو تاسو نه وېرېږئ! |

فَقُلۡ أَفَلَا تَتَّقُونَ ٣١

فَذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمُ ٱلۡحَقُّۖ فَمَاذَا بَعۡدَ ٱلۡحَقِّ إِلَّا ٱلضَّلَٰلُۖ فَأَنَّىٰ تُصۡرَفُونَ ٣٢

**(32)** نو دغه الله ستاسو په حقه رب دی، نو له حق نه بعد نشته مگر گمراهي، نو تاسو كوم طرف ته گرځولی شئ؟

كَذَٰلِكَ حَقَّتۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى ٱلَّذِينَ فَسَقُوٓاْ أَنَّهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ٣٣

**(33)** همدارنگه ستا د رب كلمه په هغو كسانو باندې چې فسق يې كړی دی، ثابته شوه چې يقينًا دوی ايمان نه راوړي

قُلۡ هَلۡ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥۚ قُلِ ٱللَّهُ يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥۖ فَأَنَّىٰ تُؤۡفَكُونَ ٣٤

**(34)** ته (دوی ته) ووايه: ايا ستاسو په شريكانو كې داسې څوك شته چې مخلوق لره اول ځل پيدا كوي، بيا يې دوباره ژوندي كوي؟ ته ووايه: الله مخلوق لره اول ځل پيدا كوي، بيا به يې دوباره ژوندي كوي، نو تاسو كوم اړخ ته اړول كېږئ؟

قُلۡ هَلۡ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلۡحَقِّۚ قُلِ ٱللَّهُ يَهۡدِي لِلۡحَقِّۗ أَفَمَن يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلۡحَقِّ أَحَقُّ أَن يُتَّبَعَ أَمَّن لَّا يَهِدِّيٓ إِلَّآ أَن يُهۡدَىٰۖ فَمَا لَكُمۡ كَيۡفَ تَحۡكُمُونَ ٣٥

**(35)** ته (دوی ته) ووايه: ايا ستاسو په شريكانو كې داسې څوك شته چې د حق طرف ته هدايت كوي؟ ته ووايه: الله حق ته لار ښوونه كوي، ايا نو هغه څوك چې حق ته لار ښوونه كوي زيات حقدار دی چې متابعت يې وكړی شي، يا كه هغه څوك چې (پخپله هم) لاره نشي موندلی مگر دا چې لار ورته وښودلی

شي؟ نو پر تاسو څه شوي دي، تاسو څنګه فيصله کوئ؟

وَمَا يَتَّبِعُ أَكۡثَرُهُمۡ إِلَّا ظَنًّاۚ إِنَّ ٱلظَّنَّ لَا يُغۡنِي مِنَ ٱلۡحَقِّ شَيۡـًٔاۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِمَا يَفۡعَلُونَ ٣٦

(36) او د دوی زياتره پيروي نه کوي مګر د ګمان، ببشکه ګمان د حق په مقابله کې هېڅ فايده نه ورکوي، ببشکه الله ښه پوه دی پر هغو کارونو چې دوی يې کوي

وَمَا كَانَ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانُ أَن يُفۡتَرَىٰ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَٰكِن تَصۡدِيقَ ٱلَّذِي بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَتَفۡصِيلَ ٱلۡكِتَٰبِ لَا رَيۡبَ فِيهِ مِن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٣٧

(37) او دا قرآن هيڅکله هم داسې نه دی چې له الله نه غير دې په دروغو جوړ کړی شي او لېکن دا تصديق دی د هغو (کتابونو) چې له ده نه مخکې دي او د رب العلمين له جانبه د کتاب تفصيل دی چې هېڅ شك په کې نشته

أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰهُۖ قُلۡ فَأۡتُواْ بِسُورَةٖ مِّثۡلِهِۦ وَٱدۡعُواْ مَنِ ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٣٨

(38) ايا دوی وايي چې ده دا له ځانه جوړ کړی دی، ته (دوی ته) ووايه: نو تاسو يو وړوکی سورت د ده په مثل راوړئ او له الله نه پرته چې څوك کولی شئ راوبلئ، که چېرې تاسو رښتيني يئ

بَلۡ كَذَّبُواْ بِمَا لَمۡ يُحِيطُواْ بِعِلۡمِهِۦ وَلَمَّا يَأۡتِهِمۡ تَأۡوِيلُهُۥۚ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۖ فَٱنظُرۡ

(39) بلکې دوی د هغه (قرآن) تکذيب وکړ چې دوی د هغه د علم احاطه نه وه کړې، او دوی ته لا د ده حقيقت نه و راغلی، همدارنګه تکذيب کړی و هغو کسانو چې له دوی نه

كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٣٩﴾

مخكې وو، نو ته وګوره د ظالمانو انجام څنګه و؟

وَمِنۡهُم مَّن يُؤۡمِنُ بِهِۦ وَمِنۡهُم مَّن لَّا يُؤۡمِنُ بِهِۦۚ وَرَبُّكَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿٤٠﴾

(40) او ځینې په دوی کې هغه څوك دي چې پر ده ایمان راوړي او ځینې په دوی کې هغه څوك دي چې پر ده ایمان نه راوړي، او ستا رب پر فساد کوونکو تر ټولو ښه پوه دی

وَإِن كَذَّبُوكَ فَقُل لِّي عَمَلِي وَلَكُمۡ عَمَلُكُمۡۖ أَنتُم بَرِيٓـُٔونَ مِمَّآ أَعۡمَلُ وَأَنَا۠ بَرِيٓءٞ مِّمَّا تَعۡمَلُونَ ﴿٤١﴾

(41) او که چېرې دوی ستا تکذیب وکړي، نو ته (دوی ته) ووایه: زما لپاره زما عمل دی او ستاسو لپاره ستاسو عمل دی، او تاسو له هغه عمل نه بېزاره یئ چې زه یې کوم او زه له هغه عمل نه بېزاره یم چې تاسو یې کوئ

وَمِنۡهُم مَّن يَسۡتَمِعُونَ إِلَيۡكَۚ أَفَأَنتَ تُسۡمِعُ ٱلصُّمَّ وَلَوۡ كَانُواْ لَا يَعۡقِلُونَ ﴿٤٢﴾

(42) او ځینې په دوی کې هغه کسان دي چې تا ته په غور سره غوږ نیسي، ایا نو ته کڼو ته اورول کولی شې اګر که دوی عقل هم ونه لري؟

وَمِنۡهُم مَّن يَنظُرُ إِلَيۡكَۚ أَفَأَنتَ تَهۡدِي ٱلۡعُمۡيَ وَلَوۡ كَانُواْ لَا يُبۡصِرُونَ ﴿٤٣﴾

(43) او ځینې په دوی کې هغه کسان دي چې تا ته ګوري، ایا نو ته ړندو ته لار ښودلی شې اګر که هغوی لیدل هم نه کوي

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَظۡلِمُ ٱلنَّاسَ شَيۡـٔٗا

(44) ببشکه الله په خلقو باندې هېڅ شی ظلم نه کوي او لېکن همدا خلق پر خپلو

وَلَٰكِنَّ ٱلنَّاسَ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ٤٤

ځانونو ظلم کوي

وَيَوۡمَ يَحۡشُرُهُمۡ كَأَن لَّمۡ يَلۡبَثُوٓاْ إِلَّا سَاعَةٗ مِّنَ ٱلنَّهَارِ يَتَعَارَفُونَ بَيۡنَهُمۡۚ قَدۡ خَسِرَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِلِقَآءِ ٱللَّهِ وَمَا كَانُواْ مُهۡتَدِينَ ٤٥

(45) او هغه ورځ چې هغه (الله) به دوی راجمع کړي، په دې حال کې چې لکه دوی (په دنیا کې) نه وو اوسېدلي مګر د ورځې یوه ګړی، دوی به په خپل مینځ کې یو بل پېژني، یقینًا هغه کسان تاوانیان شول چې د الله د ملاقات تکذیب یې کړی و او دوی هدایت موندونکي نه وو

وَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعۡضَ ٱلَّذِي نَعِدُهُمۡ أَوۡ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيۡنَا مَرۡجِعُهُمۡ ثُمَّ ٱللَّهُ شَهِيدٌ عَلَىٰ مَا يَفۡعَلُونَ ٤٦

(46) او که کله هم مونږ تا ته ځینې هغه څه وښیو چې مونږ یې له دوی سره وعده کوو، یا تا وفات کړو، نو خاص زمونږ طرف ته د دوی واپس راتلل دي، بیا الله ښه ګواه دی پر هغو کارونو چې دوی یې کوي

وَلِكُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولٞۖ فَإِذَا جَآءَ رَسُولُهُمۡ قُضِيَ بَيۡنَهُم بِٱلۡقِسۡطِ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ٤٧

(47) او د هر امت لپاره یو رسول و، نو کله چې به د هغوی رسول راغی د هغوی په مینځ کې به په انصاف سره فیصله وکړی شوه، په داسې حال کې چې پر هغوی به ظلم نه کېده

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلۡوَعۡدُ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٤٨

(48) او دوی وایي: دا وعده کله ده که چېرې تاسو رښتیني یئ؟

قُل لَّآ أَمۡلِكُ لِنَفۡسِي ضَرّٗا وَلَا نَفۡعًا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۗ لِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌۚ إِذَا جَآءَ أَجَلُهُمۡ فَلَا يَسۡتَـٔۡخِرُونَ سَاعَةٗ وَلَا يَسۡتَقۡدِمُونَ ﴿٤٩﴾

(49) ته (دوی ته) ووایه: زه د خپل ځان لپاره نه د هيڅ ضرر او نه د هيڅ فايدې مالك يم مګر هغه چې الله يې وغواړي، د هر امت لپاره يوه نيټه ده (،نو) کله چې د دوی نيټه راشي، نو دوی به نه يوه ګړۍ وروسته کېږي او نه مخکې کېږي

قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ إِنۡ أَتَىٰكُمۡ عَذَابُهُۥ بَيَٰتًا أَوۡ نَهَارٗا مَّاذَا يَسۡتَعۡجِلُ مِنۡهُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ﴿٥٠﴾

(50) ته (دوی ته) ووایه: تاسو خبر راکړئ! که چېرې پر تاسو د هغه عذاب د شپې راشي، يا د ورځې، (نو) څه دی هغه (عذاب) چې مجرمان يې په تلوار غواړي؟

أَثُمَّ إِذَا مَا وَقَعَ ءَامَنتُم بِهِۦٓۚ ءَآلۡـَٰٔنَ وَقَدۡ كُنتُم بِهِۦ تَسۡتَعۡجِلُونَ ﴿٥١﴾

(51) ايا بيا به تاسو پر دې (عذاب) ايمان راوړئ کله چې واقع شي؟ ايا اوس (ايمان راوړئ چې عذاب نازل شو؟)!، حال دا چې يقينًا تاسو وئ چې د دغه (عذاب) به مو جلتي کوله

ثُمَّ قِيلَ لِلَّذِينَ ظَلَمُواْ ذُوقُواْ عَذَابَ ٱلۡخُلۡدِ هَلۡ تُجۡزَوۡنَ إِلَّا بِمَا كُنتُمۡ تَكۡسِبُونَ ﴿٥٢﴾

(52) بيا به ظالمانو ته وويل شي: تاسو د همېشه والي عذاب وڅکئ، تاسو ته سزا نه درکولی شي مګر په سبب د هغه (عمل) چې تاسو به کاوه

۞وَيَسۡتَنۢبِـُٔونَكَ أَحَقٌّ هُوَۖ قُلۡ إِي

(53) او دوی له تا نه پوښتنه کوي چې ايا دا

وَرَبِّيٓ إِنَّهُۥ لَحَقّٞۖ وَمَآ أَنتُم
بِمُعۡجِزِينَ ٥٣

حق دی؟ ته (ورته) ووایه: هو! پر خپل رب مې
دې قسم وي چې بېشکه دغه خامخا حق دی
او تاسو (الله لره) عاجزه کوونکي نه يئ

وَلَوۡ أَنَّ لِكُلِّ نَفۡسٖ ظَلَمَتۡ مَا فِي
ٱلۡأَرۡضِ لَٱفۡتَدَتۡ بِهِۦۗ وَأَسَرُّواْ
ٱلنَّدَامَةَ لَمَّا رَأَوُاْ ٱلۡعَذَابَۖ وَقُضِيَ
بَيۡنَهُم بِٱلۡقِسۡطِ وَهُمۡ لَا
يُظۡلَمُونَ ٥٤

(54) او که چېرې حقیقتًا د هر هغه نفس
لپاره چې ظلم يې کړی دی، هغه څه وي چې
په ځمکه کې دي، نو خامخا به يې فدیه کړي
او دوی به پښېماني پټه کړي کله چې دوی
عذاب ووینې او د دوی په مېنځ کې به فیصله
په انصاف سره وکړی شي، په دې حال کې
چې پر دوی به ظلم نه کېږي

أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضِۗ أَلَآ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ
وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا
يَعۡلَمُونَ ٥٥

(55) اګاه شئ! بېشکه خاص د الله لپاره دي
هغه څه چې په اسمانونو او ځمکه کې دي،
اګاه شئ! بېشکه د الله وعده حقه ده او لېکن
د دوی اکثره نه پوهېږي

هُوَ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُ وَإِلَيۡهِ
تُرۡجَعُونَ ٥٦

(56) هغه ژوند ورکوي او مرګ ورکوي او
خاص د هغهٔ په طرف به تاسو ورګرځولی شئ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدۡ جَآءَتۡكُم
مَّوۡعِظَةٞ مِّن رَّبِّكُمۡ وَشِفَآءٞ لِّمَا
فِي ٱلصُّدُورِ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٞ

(57) ای خلقو! یقینًا تاسو ته د خپل رب له
جانبه نصیحت راغلی دی او په سینو کې چې
څه (مرضونه) دي د هغو لپاره ستره شفا ده او
د مومنانو لپاره هدایت او رحمت دی

لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٥٧﴾

قُلۡ بِفَضۡلِ ٱللَّهِ وَبِرَحۡمَتِهِۦ فَبِذَٰلِكَ فَلۡيَفۡرَحُواْ هُوَ خَيۡرٞ مِّمَّا يَجۡمَعُونَ ﴿٥٨﴾

(58) ته ووايه: د الله په فضل سره او د هغه په رحمت سره، لهذا په دې سره دې دوی خوشحاله شي، دا ډېر غوره دی له هغه نه چې دوی يې جمع کوي

قُلۡ أَرَءَيۡتُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ لَكُم مِّن رِّزۡقٖ فَجَعَلۡتُم مِّنۡهُ حَرَامٗا وَحَلَٰلٗا قُلۡ ءَآللَّهُ أَذِنَ لَكُمۡۖ أَمۡ عَلَى ٱللَّهِ تَفۡتَرُونَ ﴿٥٩﴾

(59) ته (دوی ته) ووايه: تاسو ما ته خبر راکړئ! هغه رزق چې الله تاسو لپاره نازل کړی دی، نو تاسو له هغه نه څه حرام او څه حلال ګرځولی دی، ته (ورته) ووايه: ايا الله تاسو ته د دې اجازت (خبر) درکړی دی، يا تاسو په الله پورې دروغ تړئ ؟

وَمَا ظَنُّ ٱلَّذِينَ يَفۡتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَشۡكُرُونَ ﴿٦٠﴾

(60) او د هغو کسانو، چې په الله باندې له ځانه دروغ تړي، څه ګمان دی، د قيامت په ورځ کې (به ورسره څه کېږي) بېشکه الله په خلقو باندې خامخا د فضل کولو والا دی او لېکن د دوی زياتره شکر نه وباسي

وَمَا تَكُونُ فِي شَأۡنٖ وَمَا تَتۡلُواْ مِنۡهُ مِن قُرۡءَانٖ وَلَا تَعۡمَلُونَ مِنۡ عَمَلٍ إِلَّا كُنَّا عَلَيۡكُمۡ شُهُودًا إِذۡ تُفِيضُونَ فِيهِۚ وَمَا يَعۡزُبُ عَن

(61) او ته نه يې په کوم کار کې (مشغوله) او نه ته لولې له دې نه، يعني له قرآنه او نه تاسو څه عمل کوئ مګر مونږ پر تاسو باندې شاهدان يو کله چې تاسو په هغه کې

رَّبِّكَ مِن مِّثْقَالِ ذَرَّةٍ فِي ٱلْأَرْضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ وَلَآ أَصْغَرَ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكْبَرَ إِلَّا فِي كِتَٰبٍ مُّبِينٍ ﴿٦١﴾

بوختېږئ او ستا له رب نه په ځمکه کې او نه په اسمان کې د ذرې په اندازه (شی) هم نه پټېږي او نه له دې نه زيات وړوکی شی او نه له دې نه زيات غټ مگر په واضحه کتاب کې دي

أَلَآ إِنَّ أَوْلِيَآءَ ٱللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦٢﴾

(62) اگاه شئ! بېشکه د الله دوستان چې دي؛ پر هغوی باندې نه څه وېره شته او نه دوی غمژن کېږي

ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَكَانُوا۟ يَتَّقُونَ ﴿٦٣﴾

(63) هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او ځان (له نافرمانيو) ساتي

لَهُمُ ٱلْبُشْرَىٰ فِي ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَفِي ٱلْـَٔاخِرَةِ ۚ لَا تَبْدِيلَ لِكَلِمَٰتِ ٱللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴿٦٤﴾

(64) د همدوی لپاره په دنيايي ژوند کې زېری دی او په اخرت کې (هم). د الله کلماتو لره هېڅ تبديلي نشته، همدغه ډېر ستر بری دی

وَلَا يَحْزُنكَ قَوْلُهُمْ ۘ إِنَّ ٱلْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا ۚ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٦٥﴾

(65) او د دوی وينا دې تا غمژن نه کړي، بېشکه عزت ټول خاص د الله لپاره دی، هم هغه ښه اورېدونکی، ښه پوه دی

أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلْأَرْضِ ۗ وَمَا يَتَّبِعُ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ شُرَكَآءَ ۚ إِن

(66) خبردار شئ! بېشکه خاص د الله مملوک دي هغه څوک چې په اسمانونو کې دي او هغه څوک چې په ځمکه کې دي او پيروي نه

يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَإِنۡ هُمۡ إِلَّا يَخۡرُصُونَ ٦٦

کوي هغه کسان چې له الله نه پرته شريکان بلي، دوی پيروي نه کوي مگر د گمان او نه دي دوی مگر دا چې اټکل چلوي

هُوَ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ لِتَسۡكُنُواْ فِيهِ وَٱلنَّهَارَ مُبۡصِرًاۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَسۡمَعُونَ ٦٧

(67) دی همغه ذات دی چې تاسو لپاره يې شپه جوړه کړې ده، د دې لپاره چې تاسو په دې کې په ارام شئ او ورځ يې روښانه (ګرځولې ده)، بېشکه په دې کې خامخا نښې دي د هغه قوم لپاره چې اوري

قَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدٗاۗ سُبۡحَٰنَهُۥۖ هُوَ ٱلۡغَنِيُّۖ لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ إِنۡ عِندَكُم مِّن سُلۡطَٰنِۭ بِهَٰذَآۚ أَتَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ٦٨

(68) دوی وايي: الله (د ځان لپاره) اولاد نيولی دی، هغه پاك دی، هم دی غني (بې پروا) دی، خاص ده لره دي هغه څه چې اسمانونو کې دي او هغه څه چې په ځمکه کې دي تاسو سره په دې خبره هېڅ دليل نشته، ايا تاسو په الله باندې هغه خبره ورتپئ چې پرې نه پوهېږئ؟

قُلۡ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَفۡتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ لَا يُفۡلِحُونَ ٦٩

(69) ته ووايه: بېشکه هغه کسان چې په الله باندې له ځانه دروغ تړي؛ دوی به خلاصی ونه مومي

مَتَٰعٞ فِي ٱلدُّنۡيَا ثُمَّ إِلَيۡنَا مَرۡجِعُهُمۡ ثُمَّ نُذِيقُهُمُ ٱلۡعَذَابَ ٱلشَّدِيدَ بِمَا

(70) په دنيا کې لږه فايده اخيستل دي، بيا خاص مونږ ته د دوی واپس راتلل دي، بيا به مونږ پر دوی د ډېر سخت عذاب مزه وڅکو، په

كَانُواْ يَكۡفُرُونَ ٧٠

سبب د دي چې دوی کفر کاوه

۞وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ نُوحٍ إِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهِۦ يَٰقَوۡمِ إِن كَانَ كَبُرَ عَلَيۡكُم مَّقَامِي وَتَذۡكِيرِي بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَعَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلۡتُ فَأَجۡمِعُوٓاْ أَمۡرَكُمۡ وَشُرَكَآءَكُمۡ ثُمَّ لَا يَكُنۡ أَمۡرُكُمۡ عَلَيۡكُمۡ غُمَّةٗ ثُمَّ ٱقۡضُوٓاْ إِلَيَّ وَلَا تُنظِرُونِ ٧١

(71) او ته دوی ته د نوح خبر ولوله، کله چې هغه خپل قوم ته وویل: ای زما قومه! که چېرې پر تاسو باندې زما اوسېدل او د الله په ایتونو سره (تاسو ته) زما نصیحت کول سخت (او ګران) وي، نو ما خاص په الله باندې توکل کړی دی، نو تاسو له خپلو شریکانو سره د خپل کار پخه اراده وکړئ، بیا دې پر تاسو باندې خپله معامله پټه نه وي، بیا ما ته ضرر راورسوئ او ما ته مهلت (هم) مه راکوئ

فَإِن تَوَلَّيۡتُمۡ فَمَا سَأَلۡتُكُم مِّنۡ أَجۡرٍۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِۖ وَأُمِرۡتُ أَنۡ أَكُونَ مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ٧٢

(72) نو که تاسو (زما له نصیحت نه) وګرځېدئ، پس ما له تاسو نه هېڅ مزدوري نه ده غوښتې، زما اجر یواځې پر الله دی او ما ته حکم شوی دی چې زه شم له مسلمانانو څخه

فَكَذَّبُوهُ فَنَجَّيۡنَٰهُ وَمَن مَّعَهُۥ فِي ٱلۡفُلۡكِ وَجَعَلۡنَٰهُمۡ خَلَٰٓئِفَ وَأَغۡرَقۡنَا ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَاۖ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُنذَرِينَ ٧٣

(73) پس هغوی د ده تکذیب وکړ، نو مونږ ده ته او هغه چا ته چې له ده سره په بېړۍ کې (سواره) وو، نجات ورکړ او مونږ دوی خلیفګان (ځای ناستي) جوړ کړل او هغه کسان مو غرق کړل چا چې زمونږ د ایتونو تکذیب کړی و، نو ته وګوره د وېرول شویو انجام څنګه و؟

ثُمَّ بَعَثْنَا مِنۢ بَعْدِهِۦ رُسُلًا إِلَىٰ قَوْمِهِمْ فَجَآءُوهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَمَا كَانُوا۟ لِيُؤْمِنُوا۟ بِمَا كَذَّبُوا۟ بِهِۦ مِن قَبْلُ ۚ كَذَٰلِكَ نَطْبَعُ عَلَىٰ قُلُوبِ ٱلْمُعْتَدِينَ ﴿٧٤﴾

(74) بیا مونږ له ده نه بعد خپلو قومونو ته نور رسولان ولېږل، نو هغوی ته یې څرګند دلیلونه راوړل، پس دوی داسې نه وو چې پر هغه څه یې ایمان راوړی وی چې له دې نه مخکې یې د هغه تکذیب کړی و، همدارنګه (په دې وجه) مونږ د زیاتي کوونکو پر زړونو مهر لګوو

ثُمَّ بَعَثْنَا مِنۢ بَعْدِهِم مُّوسَىٰ وَهَٰرُونَ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِي۟هِۦ بِـَٔايَٰتِنَا فَٱسْتَكْبَرُوا۟ وَكَانُوا۟ قَوْمًا مُّجْرِمِينَ ﴿٧٥﴾

(75) بیا مونږ له دوی نه بعد موسٰی او هارون ولېږل په ښکاره معجزو سره فرعون او د هغه سردارانو ته، نو هغوی تکبر وکړ او هغوی مجرمان خلق وو

فَلَمَّا جَآءَهُمُ ٱلْحَقُّ مِنْ عِندِنَا قَالُوٓا۟ إِنَّ هَٰذَا لَسِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿٧٦﴾

(76) پس کله چې زمونږ له خوا نه دوی ته حق راغی، دوی وویل: بېشکه دا یقینًا ښکاره جادو دی

قَالَ مُوسَىٰٓ أَتَقُولُونَ لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَكُمْ ۖ أَسِحْرٌ هَٰذَا وَلَا يُفْلِحُ ٱلسَّٰحِرُونَ ﴿٧٧﴾

(77) موسٰی وویل: ایا تاسو حق ته (جادو) وایئ کله چې تاسو ته راغی، ایا جادو دا دی؟، حال دا چې جادوګر خو بری نه مومي

قَالُوٓا۟ أَجِئْتَنَا لِتَلْفِتَنَا عَمَّا وَجَدْنَا عَلَيْهِ ءَابَآءَنَا وَتَكُونَ لَكُمَا ٱلْكِبْرِيَآءُ فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا نَحْنُ

(78) دوی وویل: ایا ته مونږ ته د دې لپاره راغلی یې چې مونږ له هغې (لارې) نه واړوې چې پر هغې مونږ خپل پلرونه موندلي دي او

لَكُمَا بِمُؤۡمِنِينَ ٧٨

په ځمکه کې تاسو دواړو ته لویي (غلبه) حاصله شي؟ او مونږ پر تاسو دواړو ایمان راوړونکي نه یو

وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ ٱئۡتُونِي بِكُلِّ
سَٰحِرٍ عَلِيمٖ ٧٩

(79) او فرعون وویل: تاسو ما ته هر ښه پوه (ماهر)جادوګر راولئ

فَلَمَّا جَآءَ ٱلسَّحَرَةُ قَالَ لَهُم
مُّوسَىٰٓ أَلۡقُواْ مَآ أَنتُم مُّلۡقُونَ ٨٠

(80) نو کله چې جادوګر راغلل، موسیٰ دوی ته وویل: وغورځوئ هغه څه چې تاسو یې غورځوونکي یئ

فَلَمَّآ أَلۡقَوۡاْ قَالَ مُوسَىٰ مَا جِئۡتُم
بِهِ ٱلسِّحۡرُۖ إِنَّ ٱللَّهَ سَيُبۡطِلُهُۥٓ إِنَّ
ٱللَّهَ لَا يُصۡلِحُ عَمَلَ
ٱلۡمُفۡسِدِينَ ٨١

(81) پس کله چې دوی (امساګانې او پړې) وغورځول، موسیٰ وویل: هغه څه چې تاسو راوړي دي، واقعي جادو دی، بېشکه الله به یې ژر تباه (بې اثره) کړي، بېشکه الله د فساد کوونکو کار نه جوړوي

وَيُحِقُّ ٱللَّهُ ٱلۡحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦ وَلَوۡ
كَرِهَ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ٨٢

(82) او الله په خپلو کَلِمو سره حق ثابتوي اګر که مجرمان یې بد ګڼي

فَمَآ ءَامَنَ لِمُوسَىٰٓ إِلَّا ذُرِّيَّةٞ مِّن
قَوۡمِهِۦ عَلَىٰ خَوۡفٖ مِّن فِرۡعَوۡنَ
وَمَلَإِيْهِمۡ أَن يَفۡتِنَهُمۡۚ وَإِنَّ فِرۡعَوۡنَ
لَعَالٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَإِنَّهُۥ لَمِنَ

(83) نو پر موسیٰ ایمان رانه وړ مګر د هغه له قومه څو ځلمیانو، د فرعون او د هغوی د سردارانو څخه په دې وېره کې چې دوی به یې په فتنه کې واچوي او بېشکه فرعون په ځمکه کې سرکشي کوونکی و او بېشکه هغه

ٱلْمُسْرِفِينَ ﴿٨٣﴾

له حده تېرېدونکو څخه و

وَقَالَ مُوسَىٰ يَٰقَوْمِ إِن كُنتُمْ ءَامَنتُم بِٱللَّهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوٓاْ إِن كُنتُم مُّسْلِمِينَ ﴿٨٤﴾

(84) او موسٰی وويل: ای زما قومه! که چېرې تاسو (داسې) يئ چې پر الله مو ايمان راوړی دی، نو خاص په هغه باندې توکل وکړئ که چېرې تاسو مسلمانان يئ

فَقَالُواْ عَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلْنَا رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٨٥﴾

(85) پس دوی وويل: خاص په الله باندې مونږ توکل کړی دی، ای زمونږه ربه! مونږ د ظالمو خلقو لپاره فتنه مه جوړوه

وَنَجِّنَا بِرَحْمَتِكَ مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٨٦﴾

(86) او په خپل رحمت سره مونږ ته له کافرو خلقو نه نجات راکړه

وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰ وَأَخِيهِ أَن تَبَوَّءَا لِقَوْمِكُمَا بِمِصْرَ بُيُوتًا وَٱجْعَلُواْ بُيُوتَكُمْ قِبْلَةً وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَۗ وَبَشِّرِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٨٧﴾

(87) او مونږ موسٰی او د هغه ورور ته وحي وکړه دا چې تاسو د خپل قوم لپاره په مصر کې څه کوټې مقررې کړئ او خپلې کوټې قبله وګرځوئ او تاسو لمونځ قايموئ او ته مومنانو ته زېری ورکړه

وَقَالَ مُوسَىٰ رَبَّنَآ إِنَّكَ ءَاتَيْتَ فِرْعَوْنَ وَمَلَأَهُۥ زِينَةً وَأَمْوَٰلًا فِي ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا رَبَّنَا لِيُضِلُّواْ عَن سَبِيلِكَۖ رَبَّنَا ٱطْمِسْ عَلَىٰٓ أَمْوَٰلِهِمْ

(88) او موسٰی وويل: ای زمونږ ربه! بېشکه هم تا فرعون او د هغه سردارانو ته په دنيايي ژوند کې زينت او مالونه ورکړي دي، ای زمونږ ربه! د دې لپاره چې دوی ستا له لارې نه (خلق) بې لارې کړي، ای زمونږ ربه! ته د

وَٱشۡدُدۡ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَلَا يُؤۡمِنُواْ حَتَّىٰ يَرَوُاْ ٱلۡعَذَابَ ٱلۡأَلِيمَ ﴿٨٨﴾

دوی مالونه محوه کړه او د دوی پر زړونو سختي راوله، پس چې دوی ایمان رانه وړي تر هغه چې ډېر دردناك عذاب وويني

قَالَ قَدۡ أُجِيبَت دَّعۡوَتُكُمَا فَٱسۡتَقِيمَا وَلَا تَتَّبِعَآنِّ سَبِيلَ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٨٩﴾

(89) ويې ويل: يقيناً ستاسو د دواړو دعا قبوله کړې شوه، لهذا سم ولاړ اوسئ او هيڅکله هم د هغو خلقو د لارې پيروي مه کوئ چې نه پوهيږي

۞وَجَٰوَزۡنَا بِبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱلۡبَحۡرَ فَأَتۡبَعَهُمۡ فِرۡعَوۡنُ وَجُنُودُهُۥ بَغۡيٗا وَعَدۡوًاۖ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَدۡرَكَهُ ٱلۡغَرَقُ قَالَ ءَامَنتُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱلَّذِيٓ ءَامَنَتۡ بِهِۦ بَنُوٓاْ إِسۡرَٰٓءِيلَ وَأَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ﴿٩٠﴾

(90) اومونږه بني اسرائيل له سمندر نه پورې ويستل، نو فرعون او د هغه لښکر د ظلم او زياتي کولو لپاره په دوی پسې شول، تر دې چې کله دی غرقېدو راونيوه (په ډوبېدو شو)، ده وويل: ما ايمان راوړ پر دې (خبره) چې يقيناً شان دا دی چې نشته هيڅ لايق د عبادت مگر هغه ذات چې بني اسرائيلو پر هغه ايمان راوړی دی او زه له مسلمانانو څخه يم

ءَآلۡـَٰٔنَ وَقَدۡ عَصَيۡتَ قَبۡلُ وَكُنتَ مِنَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿٩١﴾

(91) ايا اوس (ته ايمان راوړې)؟! حال دا چې يقيناً له دې نه مخکې تا نافرماني کوله او ته له فساد کوونکو څخه وې

فَٱلۡيَوۡمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُونَ

(92) پس نن ورځ به مونږ ستا بدن پر لوړ ځای واچوو، د دې لپاره چې ته د هغه چا

لِمَنْ خَلْفَكَ ءَايَةًۚ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ
ٱلنَّاسِ عَنْ ءَايَٰتِنَا لَغَٰفِلُونَ ٩٢

لپاره چې له تا نه وروسته دي، نښه جوړ شې او بېشکه په خلقو کې ډېر زمونږ له ایتونو څخه یقینًا غافلان دي

وَلَقَدْ بَوَّأْنَا بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ مُبَوَّأَ
صِدْقٍ وَرَزَقْنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ
فَمَا ٱخْتَلَفُواْ حَتَّىٰ جَآءَهُمُ ٱلْعِلْمُۚ
إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِي بَيْنَهُمْ يَوْمَ
ٱلْقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ فِيهِ
يَخْتَلِفُونَ ٩٣

**(93)** او یقینًا یقینًا مونږه بني اسرائیلو ته د عزت استوګنه ورکړه او مونږه دوی ته له پاکیزه خیزونو څخه روزي ورکړه، نو دوی اختلاف ونه کړ تر هغه پورې چې دوی ته علم راغی، بېشکه ستا رب به د دوی په مینځ کې د قیامت په ورځ فیصله کوي په هغه څیز کې چې دوی په هغه کې اختلاف کاوه

فَإِن كُنتَ فِي شَكٍّ مِّمَّآ أَنزَلْنَآ
إِلَيْكَ فَسْـَٔلِ ٱلَّذِينَ يَقْرَءُونَ
ٱلْكِتَٰبَ مِن قَبْلِكَۚ لَقَدْ جَآءَكَ
ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ
ٱلْمُمْتَرِينَ ٩٤

**(94)** نو که چېرې ته د هغه (قرآن) په باره کې په شك کې يې چې مونږ تا ته نازل کړی دی، نو ته له هغو کسانو څخه پوښتنه وکړه چې له تا نه مخکې کتاب لولي، یقینًا یقینًا ستا د رب له جانبه تا ته حق راغلی دی، نو ته هیڅکله هم له شك کوونکو څخه مه کېږه

وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ
بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَتَكُونَ مِنَ
ٱلْخَٰسِرِينَ ٩٥

**(95)** او هیڅکله هم مه کېږه له هغو کسانو څخه چې د الله د ایتونو تکذیب يې کړی دی، نو ګنې شې به ته له تاوانیانو څخه

إِنَّ ٱلَّذِينَ حَقَّتْ عَلَيْهِمْ كَلِمَتُ

**(96)** بېشکه هغه کسان چې ستا د رب خبره

رَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٩٦﴾

پرې ثابته شوې ده، دوی ایمان نه راوړي

وَلَوْ جَآءَتْهُمْ كُلُّ ءَايَةٍ حَتَّىٰ يَرَوُا۟ ٱلْعَذَابَ ٱلْأَلِيمَ ﴿٩٧﴾

(97) اګر که دوی ته هره نښه راشي تر هغه پورې چې دوی ډېر دردناك عذاب وويني

فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ ءَامَنَتْ فَنَفَعَهَآ إِيمَـٰنُهَآ إِلَّا قَوْمَ يُونُسَ لَمَّآ ءَامَنُوا۟ كَشَفْنَا عَنْهُمْ عَذَابَ ٱلْخِزْىِ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَمَتَّعْنَـٰهُمْ إِلَىٰ حِينٍ ﴿٩٨﴾

(98) نو ولې یو داسې کلی نه و چې ایمان یې راوړی وی، بیا هغه ته د هغه ایمان فایده رسولې وی غیر د یونس له قوم نه، کله چې دوی ایمان راوړ (،نو) مونږ له دوی نه په دنیایي ژوند کې د رسوایۍ عذاب لرې کړ او دوی ته مونږ تر یو وخته پورې فایده ورکړه

وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ لَـَٔامَنَ مَن فِى ٱلْأَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيعًا ۚ أَفَأَنتَ تُكْرِهُ ٱلنَّاسَ حَتَّىٰ يَكُونُوا۟ مُؤْمِنِينَ ﴿٩٩﴾

(99) او که چېرې ستا رب غوښتلی (، نو) خامخا ایمان به راوړی و هغه ټول چې په ځمکه کې دي ټول په ټولو، ایا نو ته خلق مجبوروې تر هغه چې دوی مومنان شي؟

وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَن تُؤْمِنَ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ وَيَجْعَلُ ٱلرِّجْسَ عَلَى ٱلَّذِينَ لَا يَعْقِلُونَ ﴿١٠٠﴾

(100) او د هېڅ نفس لپاره ممکن نه دي چې ایمان راوړي مګر په اذن (ارادې) د الله سره او هغه ( الله) عذاب پر هغو کسانو اچوي چې له عقل نه کار نه اخلي

قُلِ ٱنظُرُوا۟ مَاذَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَمَا تُغْنِى ٱلْـَٔايَـٰتُ

(101) ته (ورته) ووایه: تاسو وګورئ په اسمانونو او ځمکه کې څه (څه دلیلونه) دي

وَٱلنُّذُرُ عَن قَوۡمٖ لَّا يُؤۡمِنُونَ ١٠١

او هغه قوم ته له ايتونو او وېروونكيو څخه فايده نه رسي چې ايمان نه راوړي

فَهَلۡ يَنتَظِرُونَ إِلَّا مِثۡلَ أَيَّامِ ٱلَّذِينَ خَلَوۡاْ مِن قَبۡلِهِمۡۚ قُلۡ فَٱنتَظِرُوٓاْ إِنِّي مَعَكُم مِّنَ ٱلۡمُنتَظِرِينَ ١٠٢

(102) پس دوى انتظار نه كوي مگر په شان د هغو خلقو د بدو ورځو چې له دوى نه مخكې تېر شوي دي، ته (ورته) ووايه: پس تاسو انتظار كوئ، بېشكه زه (هم) له تاسو سره له انتظار كوونكو څخه يم

ثُمَّ نُنَجِّي رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْۚ كَذَٰلِكَ حَقًّا عَلَيۡنَا نُنجِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٠٣

(103) بيا مونږ خپلو رسولانو ته نجات وركوو او همدارنگه هغو كسانو ته چې ايمان يې راوړى دى، پر مونږ ثابته ده دا چې مونږ به مومنانو ته نجات وركوو

قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمۡ فِي شَكّٖ مِّن دِينِي فَلَآ أَعۡبُدُ ٱلَّذِينَ تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَٰكِنۡ أَعۡبُدُ ٱللَّهَ ٱلَّذِي يَتَوَفَّىٰكُمۡۖ وَأُمِرۡتُ أَنۡ أَكُونَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٠٤

(104) ته ووايه: اى خلقو! كه چېرې تاسو زما د دين په باره كې په شك كې يئ، نو زه خو د هغو څيزونو عبادت نه كوم چې تاسو يې له الله نه غير عبادت كوئ او لېكن زه د هغه الله عبادت كوم چې تاسو وفات كوي او ما ته حكم شوى دى چې زه شم له مومنانو څخه

وَأَنۡ أَقِمۡ وَجۡهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفٗا وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ١٠٥

(105) او دا چې ته خپل مخ دين ته سم ودروه، په دې حال كې چې له باطله حق ته مايله يې او ته هيڅكله هم له مشركانو څخه

مه کېږه

وَلَا تَدۡعُ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَۖ فَإِن فَعَلۡتَ فَإِنَّكَ إِذٗا مِّنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٠٦

**(106)** او له الله نه غیر هغه شی مه رابله چې تا ته نه فایده دررسولی شي او نه تا ته ضرر دررسولی شي، نو که چېرې ته دغه (کار) وکړې، نو بېشکه ته به په دغه وخت کې له ظالمانو څخه یې

وَإِن يَمۡسَسۡكَ ٱللَّهُ بِضُرّٖ فَلَا كَاشِفَ لَهُۥٓ إِلَّا هُوَۖ وَإِن يُرِدۡكَ بِخَيۡرٖ فَلَا رَآدَّ لِفَضۡلِهِۦۚ يُصِيبُ بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۚ وَهُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ١٠٧

**(107)** او که چېرې الله تا ته څه تکلیف دررسوي، نو له هغه نه غیر هیڅوک هغه (تکلیف) لره لرې کوونکی نشته او که چېرې هغه له تا سره د خیر اراده وکړي، نو د هغه فضل لره هېڅ منع کوونکی نشته، په خپلو بنده ګانو کې چا ته چې وغواړي وررسوي یې او هماغه ښه بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی

قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدۡ جَآءَكُمُ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكُمۡۖ فَمَنِ ٱهۡتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهۡتَدِي لِنَفۡسِهِۦۖ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيۡهَاۖ وَمَآ أَنَا۠ عَلَيۡكُم بِوَكِيلٖ ١٠٨

**(108)** ته ووایه: ای خلقو! یقینًا تاسو ته د خپل رب له جانبه حق راغی، نو هغه چا چې هدایت اختیار کړ، نو بېشکه همدا خبره ده چې هغه د خپل ځان لپاره هدایت حاصلوي اوڅوك چې بې لارې شي، نو بېشکه همدا خبره ده چې هغه د خپل ځان په ضرر ګمراه کېږي او زه پر تاسو باندې نګران نه یم

وَٱتَّبِعۡ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيۡكَ وَٱصۡبِرۡ حَتَّىٰ يَحۡكُمَ ٱللَّهُۚ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلۡحَٰكِمِينَ ١٠٩

(109) او ته متابعت کوه د هغه څه چې تا ته وحي کولی شي او صبر کوه تر هغه پورې چې الله فيصله وکړي او هغه تر ټولو غوره فيصله کوونکی دی

## سُورَةُ هُودٍ

## سورة هود

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

الٓرۚ كِتَٰبٌ أُحۡكِمَتۡ ءَايَٰتُهُۥ ثُمَّ فُصِّلَتۡ مِن لَّدُنۡ حَكِيمٍ خَبِيرٍ ١

(1) الف، لام، را، (دا) کتاب دی چې ايتونه يې محکم کړی شوي دي، بيا د ښه حکمت والا، پوره خبردار ذات له خوا نه په تفصيل سره بيان شوي دي

أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَۚ إِنَّنِي لَكُم مِّنۡهُ نَذِيرٞ وَبَشِيرٞ ٢

(2) دا چې تاسو عبادت مه کوئ مګر يواځې د الله، بېشکه زه تاسو لپاره د هغه له جانبه (رالېږل شوی) وېروونکی او زېرى ورکوونکی يم

وَأَنِ ٱسۡتَغۡفِرُواْ رَبَّكُمۡ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيۡهِ يُمَتِّعۡكُم مَّتَٰعًا حَسَنًا إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى وَيُؤۡتِ كُلَّ ذِي

(3) او دا چې تاسو له خپل رب نه مغفرت وغواړئ، بيا هغه ته توبه وباسئ (، نو) هغه به تاسو ته د يوي مقررې نېټې پورې ډېره ښکلې فايده درکړي او هر فضل والا ته به د هغه

فَضۡلٍ فَضۡلَهُۥۖ وَإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٖ كَبِيرٍ ٣

فضل ورکړي او که چېرې تاسو وګرځېدئ، نو بېشکه زه پر تاسو باندې د ډېرې سترې ورځې د عذاب وېره لرم

إِلَى ٱللَّهِ مَرۡجِعُكُمۡۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ٤

(4) خاص الله ته ستاسو واپس ورتله دي او هغه په هر شي باندې ښه قادر دی

أَلَآ إِنَّهُمۡ يَثۡنُونَ صُدُورَهُمۡ لِيَسۡتَخۡفُواْ مِنۡهُۚ أَلَا حِينَ يَسۡتَغۡشُونَ ثِيَابَهُمۡ يَعۡلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعۡلِنُونَۚ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ٥

(5) خبردار شئ! بېشکه دوی خپلې سینې دوه قته کوي، د دې لپاره چې له هغه نه پټ شي، خبردار شئ! کله چې دوی خپلې جامې اغوندي، هغه (الله) پوهېږي پر هغه څه چې دوی (یې) پټوي او پر هغه څه چې دوی (یې) څرګندوي، بېشکه هغه د سینو پر پټو خبرو (هم) ښه پوه دی

۞وَمَا مِن دَآبَّةٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِ رِزۡقُهَا وَيَعۡلَمُ مُسۡتَقَرَّهَا وَمُسۡتَوۡدَعَهَاۚ كُلّٞ فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٖ ٦

(6) او په ځمکه کې هېڅ خوځنده (ذي روح) نشته مګر د هغه رزق خاص په الله باندې دی، او هغه د هغهٔ د اوسېدلو ځای او د هغهٔ د سپارېدلو ځای پېژني (دا) هر څه په واضح کتاب کې (لیك) دي

وَهُوَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ وَكَانَ عَرۡشُهُۥ عَلَى ٱلۡمَآءِ لِيَبۡلُوَكُمۡ

(7) او دی هماغه ذات دی چې اسمانونه او ځمکه یې په شپږو ورځو کې پیدا کړي دي، په دې حال کې چې د هغه عرش په اوبو

أَيُّكُمۡ أَحۡسَنُ عَمَلٗاۗ وَلَئِن قُلۡتَ
إِنَّكُم مَّبۡعُوثُونَ مِنۢ بَعۡدِ ٱلۡمَوۡتِ
لَيَقُولَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنۡ هَٰذَآ
إِلَّا سِحۡرٞ مُّبِينٞ ٧

باندې و، د دې لپاره چې هغه تاسو وازمايي چې په تاسو کې د عمل په لحاظ ښوك ډېر ښه دی او يقينًا كه ته (دې خلقو) ووايې چې بېشكه تاسو به له مرگ نه پس ژوندي كولی شئ (نو) هغه كسان به چې كافران شوي دي هرومرو لازمًا ووايي: نه دی دا مگر ښكاره جادو (باطل)

وَلَئِنۡ أَخَّرۡنَا عَنۡهُمُ ٱلۡعَذَابَ إِلَىٰٓ
أُمَّةٖ مَّعۡدُودَةٖ لَّيَقُولُنَّ مَا يَحۡبِسُهُۥٓۗ
أَلَا يَوۡمَ يَأۡتِيهِمۡ لَيۡسَ مَصۡرُوفًا
عَنۡهُمۡ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ
يَسۡتَهۡزِءُونَ ٨

(8) او يقينًا كه چېرې مونږ له دوی نه عذاب تر يو شمېرل شوې مودې پورې وروسته كړو (،نو) دوی به اورومرو لازمًا وايي: څه شی دغه (عذاب) ايساروي؟ خبردار شئ! په هغې ورځ كې چې دوی ته هغه (عذاب) راشي (،نو) هغه به له دوی څخه گرځولی نشي او له دوی نه به هغه څه چاپېره شي چې دوی به په هغه پورې استهزا كولې

وَلَئِنۡ أَذَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِنَّا رَحۡمَةٗ ثُمَّ
نَزَعۡنَٰهَا مِنۡهُ إِنَّهُۥ لَيَـُٔوسٞ
كَفُورٞ ٩

(9) او يقينًا كه چېرې مونږ پر انسان له خپل جانبه رحمت وڅكو، بيا مونږ هغه له ده نه راكش كړو (ترې محروم يې كړو، نو) بېشكه هغه (بيا) يقينًا ډېر نا امېده، ډېر ناشكره شي

وَلَئِنۡ أَذَقۡنَٰهُ نَعۡمَآءَ بَعۡدَ ضَرَّآءَ
مَسَّتۡهُ لَيَقُولَنَّ ذَهَبَ ٱلسَّيِّـَٔاتُ

(10) او يقينًا كه چېرې مونږ په ده باندې نعمت وڅكو له هغه تكليف نه وروسته چې ده

عَنِّيٓۚ إِنَّهُۥ لَفَرِحٞ فَخُورٌ ١٠

ته رسېدلې و (،نو) ارومرو لازمًا به هغه وايي: زما څخه ټولې سختۍ لاړې، (بیا نو هغه یقینًا (او) بې شکه ډېر خوشالېدونکی وي، ډېر فخر کوونکی وي

إِلَّا ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَأَجۡرٞ كَبِيرٞ ١١

(11) مګر هغه کسان چې صبر یې وکړ او نېك عملونه یې وکړل، دغه کسان (چې دي) د همدوی لپاره مغفرت او ډېر لوی اجر دی

فَلَعَلَّكَ تَارِكُۢ بَعۡضَ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيۡكَ وَضَآئِقُۢ بِهِۦ صَدۡرُكَ أَن يَقُولُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ كَنزٌ أَوۡ جَآءَ مَعَهُۥ مَلَكٌۚ إِنَّمَآ أَنتَ نَذِيرٞۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٌ ١٢

(12) نو ښایي چې ته پرېښودونکی یې ځینې برخې د هغه (قرآن) لره چې تا ته وحي کولی شي او په ده سره دې خپله سینه تنګېدونکې ده (له دې وېرې) چې دوی به وایي: په ده باندې خزانه ولې نه ده نازله کړی شوې، یا له ده سره مَلَك (ولې نه دی) راغلی؟ بېشکه همدا خبره ده چې ته (یواځې) وېروونکی (او خبردار کوونکی) یې او الله په هر شي باندې نګران دی

أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰهُۖ قُلۡ فَأۡتُواْ بِعَشۡرِ سُوَرٖ مِّثۡلِهِۦ مُفۡتَرَيَٰتٖ وَٱدۡعُواْ مَنِ ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ١٣

(13) ایا دوی وایي چې دا یې له خپله ځانه جوړ کړی دی؟ ته (ورته) ووایه: نو تاسو د ده په مثل لس سورتونه راوړئ، چې له خپله ځانه جوړ کړی شوي وي او له الله نه غیر چې څوك کولی شئ راوغواړئ، که چېرې تاسو رښتیني

يئ

فَإِلَّمۡ يَسۡتَجِيبُواْ لَكُمۡ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَآ أُنزِلَ بِعِلۡمِ ٱللَّهِ وَأَن لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ فَهَلۡ أَنتُم مُّسۡلِمُونَ ١٤

(14) نو كه چېرې دوی تاسو ته جواب درنه کړي (ستاسو دعا قبوله نه کړي)، نو تاسو پوه شئ چې يقينًا هغه د الله په علم سره نازل کړی شوی دی او دا چې نشته هېڅ لايق د عبادت مگر هم دی دی، نو ايا تاسو اسلام راوړونکي يئ؟

مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيۡهِمۡ أَعۡمَٰلَهُمۡ فِيهَا وَهُمۡ فِيهَا لَا يُبۡخَسُونَ ١٥

(15) هر څوك چې (داسې) وي چې دنيايي ژوند او د ده ښايست غواړي (،نو) مونږ به په همدې (دنيا) کې هغو ته د خپلو عملونو بدله پوره ورکړو، په داسې حال کې چې له دوی نه به په دې (دنيا) کې څه کمولی نشي

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَيۡسَ لَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا ٱلنَّارُۖ وَحَبِطَ مَا صَنَعُواْ فِيهَا وَبَٰطِلٞ مَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٦

(16) دا هغه کسان دي چې د دوی لپاره په اخرت کې نشته مگر اور او هغه څه برباد شول چې دوی په دې (دنيا) کې کړي وو او باطل دي هغه عملونه چې دوی به کول

أَفَمَن كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّهِۦ وَيَتۡلُوهُ شَاهِدٞ مِّنۡهُ وَمِن قَبۡلِهِۦ كِتَٰبُ مُوسَىٰٓ إِمَامٗا وَرَحۡمَةًۚ أُوْلَٰٓئِكَ يُؤۡمِنُونَ بِهِۦۚ وَمَن

(17) ايا نو هغه څوك چې د خپل رب له جانبه په څرگند دليل باندې وي او د هغه له جانبه (د ده په تاييد کې) په ده پسې يو شاهد هم راغلی وي، او له ده نه مخکې د

يَكۡفُرۡ بِهِۦ مِنَ ٱلۡأَحۡزَابِ فَٱلنَّارُ مَوۡعِدُهُۥۚ فَلَا تَكُ فِي مِرۡيَةٖ مِّنۡهُۚ إِنَّهُ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يُؤۡمِنُونَ ١٧

موسیٰ کتاب و، چې پیشوا او رحمت و، دغه کسان پر ده ایمان لري او له ډلو څخه چې څوك په ده سره کافر شو، نو اور د هغه د وعدې ځای دی، نو ته د ده په باره کې په هېڅ شك کې مه کېږه، بېشکه هم دا ستا د رب له جانبه حق دی او لېکن اکثره خلق ایمان نه راوړي

وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ يُعۡرَضُونَ عَلَىٰ رَبِّهِمۡ وَيَقُولُ ٱلۡأَشۡهَٰدُ هَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ كَذَبُواْ عَلَىٰ رَبِّهِمۡۚ أَلَا لَعۡنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ ١٨

(18) او له هغه کس نه لوی ظالم څوك دی چې په الله باندې دروغ تپي، دغه کسان به د خپل رب په وړاندې پیش کړی شي، او ګواهان به ووايي: دا هغه کسان دي چې پر خپل رب يې دروغ تړلي وو، خبردار شئ! د الله لعنت په ظالمانو باندې دی

ٱلَّذِينَ يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبۡغُونَهَا عِوَجٗا وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ كَٰفِرُونَ ١٩

(19) هغه کسان چې د الله له لارې نه منع کول کوي او په هغې (لاره) کې کوږوالی لټوي او له اخرت نه انکار کوونکي (هم) همدوی دي

أُوْلَٰٓئِكَ لَمۡ يَكُونُواْ مُعۡجِزِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا كَانَ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِنۡ أَوۡلِيَآءَۘ يُضَٰعَفُ لَهُمُ ٱلۡعَذَابُۚ مَا كَانُواْ يَسۡتَطِيعُونَ

(20) دغه کسان کله هم په ځمکه کې (الله لره) عاجزه کوونکي نه دي، او د دوی لپاره له الله نه سوا هیڅوك مدد کوونکي نشته، دوی ته به دوه چنده عذاب ورکولی شي، نه دوی

| | |
|---|---|
| ٱلسَّمۡعَ وَمَا كَانُواْ يُبۡصِرُونَ ٢٠ | اورېدل کولی شول او نه دوی لیدل کول |
| أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ وَضَلَّ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ٢١ | (21) دا هغه کسان دي چې خپلو ځانونو ته يې تاوان رسولی دی او له دوی نه هغه څه ورك شول چې دوی به دروغ تړل |
| لَا جَرَمَ أَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ هُمُ ٱلۡأَخۡسَرُونَ ٢٢ | (22) حقه خبره دا ده چې يقيناً هم دوی په اخرت کې تر ټولو زيات زيان کاران دي |
| إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَأَخۡبَتُوٓاْ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٢٣ | (23) بېشکه هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او نېك عملونه يې کړي دي او خپل رب ته يې عاجزي کړې ده، دغه کسان د جنت صاحبان دي، دوی به په هغه کې همېشه وي |
| ۞مَثَلُ ٱلۡفَرِيقَيۡنِ كَٱلۡأَعۡمَىٰ وَٱلۡأَصَمِّ وَٱلۡبَصِيرِ وَٱلسَّمِيعِۚ هَلۡ يَسۡتَوِيَانِ مَثَلًاۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ٢٤ | (24) د دواړو ډلو مثال د ړانده او کاڼه او (په مقابل کې د) لیدونکي او اورېدونکي دی، ايا دغه دواړه ډلې د حال په لحاظ سره برابرېدی شي؟ ايا نو تاسو پند نه اخلئ؟ |
| وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوۡمِهِۦٓ إِنِّي لَكُمۡ نَذِيرٞ مُّبِينٌ ٢٥ | (25) او يقيناً يقيناً مونږ نوح خپل قوم ته لېږلی و، (ورته ويې ويل) بېشکه زه تاسو لپاره ښکاره وېروونکی (راغلی) يم |
| أَن لَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَۖ إِنِّيٓ أَخَافُ | (26) چې تاسو له الله نه غير (د هيچا) عبادت مه کوئ، بېشکه زه پر تاسو باندې د ډېرې |

عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٍ أَلِيمٖ ٢٦

دردوونکې ورځې له عذاب نه وېرېږم

فَقَالَ ٱلۡمَلَأُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦ مَا نَرَىٰكَ إِلَّا بَشَرٗا مِّثۡلَنَا وَمَا نَرَىٰكَ ٱتَّبَعَكَ إِلَّا ٱلَّذِينَ هُمۡ أَرَاذِلُنَا بَادِيَ ٱلرَّأۡيِ وَمَا نَرَىٰ لَكُمۡ عَلَيۡنَا مِن فَضۡلِۭ بَلۡ نَظُنُّكُمۡ كَٰذِبِينَ ٢٧

(27) نو د هغه له قومه کافر شویو مشرانو وویل: مونږ تا نه وینو مګر زمونږ په شان یو بشر او مونږ نه وینو تا چې ستا پیروي کړې ده مګر هغو کسانو چې دوی زمونږ تر ټولو لاندې خلق دي، په سرسري فکر سره، تاسو لپاره مونږ په خپل ځان باندې هېڅ بهتري (غوره والی) نه وینو، بلکې مونږ پر تاسو باندې د دروغجنو ګمان کوو

قَالَ يَٰقَوۡمِ أَرَءَيۡتُمۡ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّي وَءَاتَىٰنِي رَحۡمَةٗ مِّنۡ عِندِهِۦ فَعُمِّيَتۡ عَلَيۡكُمۡ أَنُلۡزِمُكُمُوهَا وَأَنتُمۡ لَهَا كَٰرِهُونَ ٢٨

(28) هغه وویل: ای زما قومه! تاسو ما ته خبر راکړئ که زه یم پر هغه څرګند دلیل باندې چې زما د رب له جانبه دی او هغه ما ته له خپل جانبه رحمت راکړی وي، بیا پر تاسو باندې هغه پټ کړی شوی وي، ایا مونږه په هغه باندې تاسو مجبوره کولی شو، په دې حال کې چې تاسو هغه لره بد ګڼونکي یئ

وَيَٰقَوۡمِ لَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مَالًاۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِۚ وَمَآ أَنَا۠ بِطَارِدِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْۚ إِنَّهُم مُّلَٰقُواْ رَبِّهِمۡ وَلَٰكِنِّيٓ أَرَىٰكُمۡ قَوۡمٗا

(29) او ای زما قومه! زه له تاسو نه په دغه (تبلیغ) باندې مال نه غواړم، زما اجر یواځې په الله باندې دی او زه د هغو کسانو شړونکی نه یم چې ایمان یې راوړی دی، بېشکه دوی له خپل رب سره ملاقات کوونکي دي او لېکن

تَجۡهَلُونَ ﴿٢٩﴾

زه تاسو وينم داسې قوم چې جهالت کوئ

وَيَٰقَوۡمِ مَن يَنصُرُنِي مِنَ ٱللَّهِ إِن طَرَدتُّهُمۡۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٣٠﴾

(30) او اى زما قومه! له الله نه به ما څوك بچ کړي که زه دوی وشړم؟ ايا نو تاسو نصيحت نه قبلوئ!

وَلَآ أَقُولُ لَكُمۡ عِندِي خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ وَلَآ أَقُولُ إِنِّي مَلَكٞ وَلَآ أَقُولُ لِلَّذِينَ تَزۡدَرِيٓ أَعۡيُنُكُمۡ لَن يُؤۡتِيَهُمُ ٱللَّهُ خَيۡرًاۖ ٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا فِيٓ أَنفُسِهِمۡ إِنِّيٓ إِذٗا لَّمِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٣١﴾

(31) او زه تاسو ته (دا) نه وايم چې زما سره د الله خزانې دي او نه دا (وايم) چې زه پر غيبو پوهېږم او نه (دا) وايم چې بېشکه زه مَلَك يم او نه زه د هغو کسانو په حق کې چې ستاسو سترګې يې سپك ګڼي دا وايم چې الله به دوی ته له سره څه خير ورنه کړي، الله ښه عالم دی پر هغو (خبرو) چې د دوی په نفسونو کې دي، بېشکه زه به په دغه وخت کې خامخا له ظالمانو څخه يم

قَالُواْ يَٰنُوحُ قَدۡ جَٰدَلۡتَنَا فَأَكۡثَرۡتَ جِدَٰلَنَا فَأۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٣٢﴾

(32) دوی وويل: اى نوحه! يقينًا تا زمونږ سره جګړه وکړه، نو زمونږ (سره) جګړه دې ډېره زياته کړه، لهذا ته مونږ ته هغه (عذاب) راوله چې ته يې زمونږ سره وعده کوې (او مونږ پرې وېروې)، که ته له صادقانو څخه يې

قَالَ إِنَّمَا يَأۡتِيكُم بِهِ ٱللَّهُ إِن شَآءَ وَمَآ أَنتُم بِمُعۡجِزِينَ ﴿٣٣﴾

(33) هغه وويل: يواځې الله هغه (عذاب) راولي که ويې غواړي او تاسو عاجزه کوونکي

نه يئ (الله لره)

وَلَا يَنفَعُكُمۡ نُصۡحِيٓ إِنۡ أَرَدتُّ أَنۡ أَنصَحَ لَكُمۡ إِن كَانَ ٱللَّهُ يُرِيدُ أَن يُغۡوِيَكُمۡۚ هُوَ رَبُّكُمۡ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ٣٤

(34) او زما نصيحت (او خير خواهي) تاسو ته نفع نه دررسوي که زه تاسو ته د نصيحت (او خير خواهي) کولو اراده هم وکړم، که چېرې الله ستاسو د ګمراه کولو اراده لري، هم هغه ستاسو رب دی او خاص هغه ته به ورګرځولی شئ

أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰهُۖ قُلۡ إِنِ ٱفۡتَرَيۡتُهُۥ فَعَلَيَّ إِجۡرَامِي وَأَنَا۠ بَرِيٓءٞ مِّمَّا تُجۡرِمُونَ ٣٥

(35) بلکې دوی وايي: ده له ځانه دا (قرآن) جوړ کړی دی، ته ووايه: که ما دا له ځانه جوړ کړی وي، نو خاص په ما باندې دی (انجام) زما (د) جرم او زه بري يم له هغو جرمونو نه چې تاسو يې کوئ

وَأُوحِيَ إِلَىٰ نُوحٍ أَنَّهُۥ لَن يُؤۡمِنَ مِن قَوۡمِكَ إِلَّا مَن قَدۡ ءَامَنَ فَلَا تَبۡتَئِسۡ بِمَا كَانُواْ يَفۡعَلُونَ ٣٦

(36) او نوح ته وحي وکړی شوه چې بېشکه شان دا دی چې ستا له قومه به (څوك هم) ايمان رانه وړي غير له هغو نه چې ايمان يې راوړی دی، نو مه غمجن کېږه پر هغو کارونو چې دوی يې کوي

وَٱصۡنَعِ ٱلۡفُلۡكَ بِأَعۡيُنِنَا وَوَحۡيِنَا وَلَا تُخَٰطِبۡنِي فِي ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓاْ إِنَّهُم مُّغۡرَقُونَ ٣٧

(37) او زمونږ د سترګو په وړاندې او زمونږ د وحي مطابق بېړۍ جوړه کړه او د هغو کسانو په باره کې له ما سره خبرې مه کوه چې ظلم (شرك) يې کړی دی، بېشکه دوی غرقېدونکي

دي

وَيَصۡنَعُ ٱلۡفُلۡكَ وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيۡهِ مَلَأٞ مِّن قَوۡمِهِۦ سَخِرُواْ مِنۡهُۚ قَالَ إِن تَسۡخَرُواْ مِنَّا فَإِنَّا نَسۡخَرُ مِنكُمۡ كَمَا تَسۡخَرُونَ ﴿٣٨﴾

**(38)** او هغه (نوح) بېړۍ جوړوله، په داسې حال کې چې کله به هم په ده باندې د ده له قومه څه مشران تېرېدل (نو) په ده پورې به يې مسخرې کولې، هغه وويل: كه تاسو په مونږ پورې مسخرې کوئ، نو بېشکه مونږ به هم په تاسو پورې مسخرې وکړو، لکه څنګه چې تاسو مسخرې کوئ

فَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ مَن يَأۡتِيهِ عَذَابٞ يُخۡزِيهِ وَيَحِلُّ عَلَيۡهِ عَذَابٞ مُّقِيمٌ ﴿٣٩﴾

**(39)** نو ژر به تاسو هغه څوك وپېژنئ چې ورته به داسې عذاب راشي چې هغه به رسوا کړي او (هغه چې) پر هغه به دايمي عذاب راکوز شي

حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَمۡرُنَا وَفَارَ ٱلتَّنُّورُ قُلۡنَا ٱحۡمِلۡ فِيهَا مِن كُلّٖ زَوۡجَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِ وَأَهۡلَكَ إِلَّا مَن سَبَقَ عَلَيۡهِ ٱلۡقَوۡلُ وَمَنۡ ءَامَنَۚ وَمَآ ءَامَنَ مَعَهُۥٓ إِلَّا قَلِيلٞ ﴿٤٠﴾

**(40)** تر هغه پورې چې کله زمونږ حکم راغی او تنور راوخوټېده، مونږ وويل: په دې (بېړۍ) کې له هر قسمه (حيواناتو) نه (نر او ښځه) جوړه د دوو په شمېر کې سوره کړه او خپل اهل هم، (خو) غير له هغه چا نه چې پر هغه باندې خبرې سبقت کړی دی او هغه څوك هم (سواره کړه) چې ايمان يې راوړی دی او له ده سره ايمان نه و راوړی مګر ډېرو لږو (خلقو)

۞وَقَالَ ٱرۡكَبُواْ فِيهَا بِسۡمِ ٱللَّهِ مَجۡرٜىٰهَا وَمُرۡسَىٰهَآۚ إِنَّ رَبِّي لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ ٤١

**(41)** او هغهٔ وویل: په دې کې سواره شئ (او وایئ:) د الله په نامه سره د دې روانېدل او د دې ودرېدل دي، بېشکه زما رب یقینًا ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی

وَهِيَ تَجۡرِي بِهِمۡ فِي مَوۡجٖ كَٱلۡجِبَالِ وَنَادَىٰ نُوحٌ ٱبۡنَهُۥ وَكَانَ فِي مَعۡزِلٖ يَٰبُنَيَّ ٱرۡكَب مَّعَنَا وَلَا تَكُن مَّعَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٤٢

**(42)** دې به دوی په داسې چپو کې وړل لکه غرونه، او نوح خپل زوی ته اواز وکړ، په داسې حال کې چې هغه په یوې غاړه کې (له دوی نه) جدا (ولاړ) و: ای زما بچوړیه! زمونږ سره راسور شه او له کافرانو سره مه کېږه

قَالَ سَـَٔاوِيٓ إِلَىٰ جَبَلٖ يَعۡصِمُنِي مِنَ ٱلۡمَآءِۚ قَالَ لَا عَاصِمَ ٱلۡيَوۡمَ مِنۡ أَمۡرِ ٱللَّهِ إِلَّا مَن رَّحِمَۚ وَحَالَ بَيۡنَهُمَا ٱلۡمَوۡجُ فَكَانَ مِنَ ٱلۡمُغۡرَقِينَ ٤٣

**(43)** هغه وویل: ژر به زه د داسې غره په سر کې ځای ونیسم چې ما به له اوبو نه بچ کړي، هغه (نوح) وویل: نن ورځ د الله له حکم نه هیڅوك ساتونکی (بچ کوونکی) نشته مګر هغه چې دغه (الله) پرې رحم وکړي، او د دواړو په مینځ کې چپه حایله شوه، نو دی شه له غرق کړی شویو نه

وَقِيلَ يَٰٓأَرۡضُ ٱبۡلَعِي مَآءَكِ وَيَٰسَمَآءُ أَقۡلِعِي وَغِيضَ ٱلۡمَآءُ وَقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ وَٱسۡتَوَتۡ عَلَى ٱلۡجُودِيِّۖ وَقِيلَ بُعۡدٗا لِّلۡقَوۡمِ

**(44)** او وویل شول: ای ځمکې! خپلې اوبه ونغره (جذب کړه) او ای اسمانه! اوبه ورول بند کړه او اوبه کمې کړی شوې او کار پوره کړی شو او هغه (بېړۍ) پر جودي غر ودرېده او وویل شول: لرې والی دې وي (له رحمت

ٱلظَّٰلِمِينَ ٤٤

نه) د ظلم كوونكو خلقو لپاره

وَنَادَىٰ نُوحٞ رَّبَّهُۥ فَقَالَ رَبِّ إِنَّ ٱبۡنِي مِنۡ أَهۡلِي وَإِنَّ وَعۡدَكَ ٱلۡحَقُّ وَأَنتَ أَحۡكَمُ ٱلۡحَٰكِمِينَ ٤٥

(45) او نوح خپل رب ته اواز (سوال) وكړ، نو ويې ويل:اى زما ربه! بېشكه زما زوى زما له اهله دى او بېشكه هم ستا وعده حقه ده او ته تر ټولو ښه فيصله كوونكى يې

قَالَ يَٰنُوحُ إِنَّهُۥ لَيۡسَ مِنۡ أَهۡلِكَۖ إِنَّهُۥ عَمَلٌ غَيۡرُ صَٰلِحٖۖ فَلَا تَسۡـَٔلۡنِ مَا لَيۡسَ لَكَ بِهِۦ عِلۡمٌۖ إِنِّيٓ أَعِظُكَ أَن تَكُونَ مِنَ ٱلۡجَٰهِلِينَ ٤٦

(46) ويې ويل:اى نوحه! بېشكه هغه (ستا زوى) ستا له (مومن) اهله څنې نه دى، بېشكه هغه (خاوند د) ناكاره عمل دى، نو له ما نه د هغه څيز سوال مه كوه چې تا ته د هغه په باره كې څه علم نه وي، بېشكه زه تا ته نصيحت كوم (او تا منع كوم) له دې نه چې ته شې له جاهلانو نه

قَالَ رَبِّ إِنِّيٓ أَعُوذُ بِكَ أَنۡ أَسۡـَٔلَكَ مَا لَيۡسَ لِي بِهِۦ عِلۡمٞۖ وَإِلَّا تَغۡفِرۡ لِي وَتَرۡحَمۡنِيٓ أَكُن مِّنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٤٧

(47) هغه وويل: اى زما ربه! بېشكه زه په تا پورې پناه نيسم له دې نه چې له تا نه د هغه څه سوال وكړم چې ما ته د هغه په باره كې څه علم نه وي او كه ته ما ته بخښنه ونه كړې او پر ما رحم ونه كړې (،نو) شم به زه له تاوانيانو نه

قِيلَ يَٰنُوحُ ٱهۡبِطۡ بِسَلَٰمٖ مِّنَّا وَبَرَكَٰتٍ عَلَيۡكَ وَعَلَىٰٓ أُمَمٖ مِّمَّن

(48) وويل شو: اى نوحه! كوز شه په سلامتى سره زمونږ له جانبه او سره د هغو بركتونو چې

مَّعَكَۚ وَأُمَمٌ سَنُمَتِّعُهُمۡ ثُمَّ يَمَسُّهُم مِّنَّا عَذَابٌ أَلِيمٌ ٤٨

پر تا باندې شوي دي او پر ځو هغو ډلو باندې شوي دي له هغو ځنې چې له تا سره دي او نورې ډلې دي چې ژر به مونږ هغوی ته نفع ورکړو، بیا به هغوی ته زمونږ له جانبه ډېر دردوونکی عذاب ورسېږي

تِلۡكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلۡغَيۡبِ نُوحِيهَآ إِلَيۡكَۖ مَا كُنتَ تَعۡلَمُهَآ أَنتَ وَلَا قَوۡمُكَ مِن قَبۡلِ هَٰذَاۖ فَٱصۡبِرۡۖ إِنَّ ٱلۡعَٰقِبَةَ لِلۡمُتَّقِينَ ٤٩

(49) دغه د غیبو له خبرونو ځنې دي چې مونږ یې تا ته وحي کوو، له دې نه مخکې نه ته پر دې عالِم وې او نه ستا قوم، نو صبر کوه، بېشکه ښه انجام د پرهېزګارانو لپاره دی

وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمۡ هُودٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓۖ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا مُفۡتَرُونَ ٥٠

(50) او (مونږ لېږلی و) قوم عاد ته د هغوی ورور هود، هغهٔ وویل: ای زما قومه! تاسو د الله عبادت کوئ، تاسو لپاره له هغه نه غیر هېڅ حق معبود نشته، نه یئ تاسو مګر دروغ تړونکي

يَٰقَوۡمِ لَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ أَجۡرًاۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَى ٱلَّذِي فَطَرَنِيٓۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ٥١

(51) ای زما قومه! زه له تاسو نه په دې (تبلیغ) باندې څه مزدوري نه غواړم، زما اجر نه دی مګر پر هغه ذات چې زه یې پیداکړی یم، ایا نو تاسو له عقل نه کار نه اخلئ!

وَيَٰقَوۡمِ ٱسۡتَغۡفِرُواْ رَبَّكُمۡ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيۡهِ يُرۡسِلِ ٱلسَّمَآءَ

(52) او ای زما قومه! له خپل رب نه مغفرت وغواړئ، بیا هغه ته رجوع وکړئ، هغه به پر

عَلَيۡكُم مِّدۡرَارٗا وَيَزِدۡكُمۡ قُوَّةً إِلَىٰ قُوَّتِكُمۡ وَلَا تَتَوَلَّوۡاْ مُجۡرِمِينَ ٥٢

تاسو باندې باران راخوشې کړي، چې په شېبو شېبو به ورېدونکی وي او ستاسو قوت ته به (نور) قوت ورزيات کړي او تاسو (له ايمان او توبې نه) مخ مه گرځوئ، په دې حال کې چې مجرمان يئ

قَالُواْ يَٰهُودُ مَا جِئۡتَنَا بِبَيِّنَةٖ وَمَا نَحۡنُ بِتَارِكِيٓ ءَالِهَتِنَا عَن قَوۡلِكَ وَمَا نَحۡنُ لَكَ بِمُؤۡمِنِينَ ٥٣

(53) هغوی وويل: ای هوده! تا مونږ ته څه واضح دليل نه دی راوړی او ستا د وينا له وجې مونږ هېڅ کله هم خپل خدايان پرېښودونکي نه يو او هېڅ کله هم مونږ پر تا ايمان راوړونکي نه يو

إِن نَّقُولُ إِلَّا ٱعۡتَرَىٰكَ بَعۡضُ ءَالِهَتِنَا بِسُوٓءٖۗ قَالَ إِنِّيٓ أُشۡهِدُ ٱللَّهَ وَٱشۡهَدُوٓاْ أَنِّي بَرِيٓءٞ مِّمَّا تُشۡرِكُونَ ٥٤

(54) (ستا په باره کې) مونږ يوازې همدا وايو چې تا ته زمونږ په خدايانو کې چا څه ضرر دررسولی دی، هغهٔ وويل: بېشکه زه الله گواه کوم او تاسو (هم) گواه شئ چې يقينًا زه له هغو (خدايانو) نه بېزاره يم چې تاسو يې (له الله سره) شريکوئ

مِن دُونِهِۦۖ فَكِيدُونِي جَمِيعٗا ثُمَّ لَا تُنظِرُونِ ٥٥

(55) غير له هغه (الله) نه، نو تاسو ټول ما ته تدبيرونه جوړ کړئ، بيا ما ته مهلت مه راکوئ

إِنِّي تَوَكَّلۡتُ عَلَى ٱللَّهِ رَبِّي وَرَبِّكُمۚ مَّا مِن دَآبَّةٍ إِلَّا هُوَ ءَاخِذُۢ

(56) بېشکه ما پر الله باندې توکل کړی دی چې زما رب دی او ستاسو رب دی، نشته هېڅ

بِنَاصِيَتِهَآۚ إِنَّ رَبِّي عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ٥٦

يو خوځنده مگر هم دغه (الله) د هغه وچولي (د تندي وېښتانو) لره نيوونکی دی، بېشکه زما رب پر نېغه لار دی

فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَقَدۡ أَبۡلَغۡتُكُم مَّآ أُرۡسِلۡتُ بِهِۦٓ إِلَيۡكُمۡۚ وَيَسۡتَخۡلِفُ رَبِّي قَوۡمًا غَيۡرَكُمۡ وَلَا تَضُرُّونَهُۥ شَيۡـًٔاۚ إِنَّ رَبِّي عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٍ حَفِيظٞ ٥٧

(57) نو كه تاسو مخ واړوئ، نو يقينًا ما تاسو ته هغه (پیغام) دررسولاوه چې زه په هغه سره تاسو ته رالېږل شوی وم او زما رب به له تاسو نه غير بل قوم ستاسو پر ځای راولي او تاسو به هغه (الله) ته هېڅ ضرر ونه رسولی شئ، بېشكه زما رب په هر شي باندې ښه نگران او ساتونكی دی

وَلَمَّا جَآءَ أَمۡرُنَا نَجَّيۡنَا هُودٗا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ بِرَحۡمَةٖ مِّنَّا وَنَجَّيۡنَٰهُم مِّنۡ عَذَابٍ غَلِيظٖ ٥٨

(58) او كله چې زمونږ حكم (عذاب) راغی (،نو) مونږ هود ته او هغو كسانو ته چې له هغه سره يې ايمان راوړی و؛ له خپل جانب نه په رحمت سره نجات وركړ او مونږ هغوی له ډېر سخت عذاب نه خلاص كړل

وَتِلۡكَ عَادٞۖ جَحَدُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ وَعَصَوۡاْ رُسُلَهُۥ وَٱتَّبَعُوٓاْ أَمۡرَ كُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٖ ٥٩

(59) او دغه عاديان دي چې د خپل رب له ايتونو نه يې انكار كړی و او د هغه (الله) د رسولانو نافرماني يې كړې وه او د هر سركشه عنادي د حكم تابع شوي وو

وَأُتۡبِعُواْ فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا لَعۡنَةٗ وَيَوۡمَ

(60) او په دوی پسې په دې دنيا كې لعنت ولګول شو او د قيامت په ورځ هم، خبردار

ٱلْقِيَـٰمَةِۗ أَلَآ إِنَّ عَادًا كَفَـرُواْ رَبَّهُمْۗ أَلَا بُعْدًا لِّعَادٍ قَوْمِ هُودٍ ﴿٦٠﴾

شئ! بېشكه عاديان په خپل رب سره كافران شوي دي، خبردار شئ چې (د الله له رحمت نه) لرې والی دی، عاديانو ته چې د هود قوم دی

۞وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَٰلِحًاۚ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥۖ هُوَ أَنشَأَكُم مِّنَ ٱلْأَرْضِ وَٱسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا فَٱسْتَغْفِرُوهُ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيْهِۚ إِنَّ رَبِّى قَرِيبٌ مُّجِيبٌ ﴿٦١﴾

(61) او (مونږ لېږلی و) ثموديانو ته د هغوی ورور صالح، هغه (دوی ته) وويل: ای زما قومه! تاسو د الله عبادت كوئ، ستاسو لپاره له هغه نه غير (بل) هېڅ حق معبود نشته، هم هغه تاسو له ځمكې نه پيدا كړي يئ او په دې كې يې تاسو اوسولي يئ، نو تاسو له ده نه مغفرت وغواړئ، بيا تاسو ده ته رجوع وكړئ، بېشكه زما رب ډېر نژدې دی، د دعا قبلوونكی دی

قَالُواْ يَٰصَٰلِحُ قَدْ كُنتَ فِينَا مَرْجُوًّا قَبْلَ هَٰذَآۖ أَتَنْهَىٰنَآ أَن نَّعْبُدَ مَا يَعْبُدُ ءَابَآؤُنَا وَإِنَّنَا لَفِى شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُونَآ إِلَيْهِ مُرِيبٍ ﴿٦٢﴾

(62) دوی وويل: ای صالحه، ته په مونږ كې مخكې له دې (دعوې د نبوت) نه اميد كړی شوی وې، (تا ته زمونږ هيلې وې) ايا ته مونږ د هغو (بتانو) له عبادت نه منع كوې چې زمونږ پلرونو به يې عبادت كاوه او بېشكه مونږ د هغه (توحيد) په باره كې چې ته مونږ هغهٔ ته بلې يقينًا په اضطراب اچوونكي (پريشانه كوونكي) شك كې يو

قَالَ يَٰقَوْمِ أَرَءَيْتُمْ إِن كُنتُ عَلَىٰ

(63) هغه وويل: ای زما قومه! تاسو ما ته خبر

بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّي وَءَاتَىٰنِي مِنۡهُ رَحۡمَةً فَمَن يَنصُرُنِي مِنَ ٱللَّهِ إِنۡ عَصَيۡتُهُۥۖ فَمَا تَزِيدُونَنِي غَيۡرَ تَخۡسِيرٖ ﴿٦٣﴾

راکړئ! که زه د خپل رب له جانبه په ښکاره دلیل باندې یم او هغهٔ له خپله جانبه ما ته رحمت (نبوت) راکړی وي، نو له الله نه به ما څوك خلاص کړي که زه د هغه نافرماني وکړم، نو تاسو خو ما ته له نقصان نه غیر (بل څه) نه زیاتوئ

وَيَٰقَوۡمِ هَٰذِهِۦ نَاقَةُ ٱللَّهِ لَكُمۡ ءَايَةٗۖ فَذَرُوهَا تَأۡكُلۡ فِيٓ أَرۡضِ ٱللَّهِۖ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٖ فَيَأۡخُذَكُمۡ عَذَابٞ قَرِيبٞ ﴿٦٤﴾

(64) اې زما قومه! دا د الله اوښه ده چې ستاسو لپاره لویه نښه ده، نو تاسو دا پرېږدئ چې د الله په ځمکه کې خوراك (څر) کوي او دې ته هېڅ تکلیف مه رسوئ (ګنې) نو تاسو به ډېر نژدې عذاب راګېر کړي

فَعَقَرُوهَا فَقَالَ تَمَتَّعُواْ فِي دَارِكُمۡ ثَلَٰثَةَ أَيَّامٖۖ ذَٰلِكَ وَعۡدٌ غَيۡرُ مَكۡذُوبٖ ﴿٦٥﴾

(65) نو دوی د هغې پرکې پرې کړل (او ویې وژله) نو هغه (ورته) وویل: تاسو په خپلو کورونو کې درې ورځې فایده واخلئ، دا داسې وعده ده چې هېڅ دروغ په کې نشته

فَلَمَّا جَآءَ أَمۡرُنَا نَجَّيۡنَا صَٰلِحٗا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ بِرَحۡمَةٖ مِّنَّا وَمِنۡ خِزۡيِ يَوۡمِئِذٍۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ ٱلۡقَوِيُّ ٱلۡعَزِيزُ ﴿٦٦﴾

(66) نو کله چې زمونږ (د عذاب) حکم راغی، مونږ صالح ته او هغو کسانو ته چې له هغهٔ سره یې ایمان راوړی و؛ په خپل رحمت سره خلاصی ورکړ او د هغې ورځې له رسوایۍ نه هم، بېشکه ستا رب، همغه ډېر قوت والا، ډېر غالب دی

وَأَخَذَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ ٱلصَّيۡحَةُ فَأَصۡبَحُواْ فِي دِيَٰرِهِمۡ جَٰثِمِينَ ٦٧

(67) او هغه کسان چې ظلم يې کړی و؛ خطرناکې چغې راونيول، نو سهار مهال په خپلو کورونو کې پرمخې مړه پراته وو

كَأَن لَّمۡ يَغۡنَوۡاْ فِيهَآۗ أَلَآ إِنَّ ثَمُودَاْ كَفَرُواْ رَبَّهُمۡۗ أَلَا بُعۡدٗا لِّثَمُودَ ٦٨

(68) ګوياکې دوی په دې (کورونو) کې له سره اوسېدلي نه وو، خبردار شئ! بېشکه ثموديان په خپل رب سره کافران شوي وو، اګاه شئ! د ثموديانو لپاره (له رحمت نه) لرې والی دی

وَلَقَدۡ جَآءَتۡ رُسُلُنَآ إِبۡرَٰهِيمَ بِٱلۡبُشۡرَىٰ قَالُواْ سَلَٰمٗاۖ قَالَ سَلَٰمٞۖ فَمَا لَبِثَ أَن جَآءَ بِعِجۡلٍ حَنِيذٖ ٦٩

(69) او يقينًا يقينًا زمونږ استازو ابراهيم ته زېرې راوړ، ويې ويل:(پر تا) سلام (اچوو) ابراهيم وويل: (پر تاسو) سلام، نو درنګ (وخت) يې تېر نه کړ چې رايې وړ وريت (سلامت کباب شوی) سخی

فَلَمَّا رَءَآ أَيۡدِيَهُمۡ لَا تَصِلُ إِلَيۡهِ نَكِرَهُمۡ وَأَوۡجَسَ مِنۡهُمۡ خِيفَةٗۚ قَالُواْ لَا تَخَفۡ إِنَّآ أُرۡسِلۡنَآ إِلَىٰ قَوۡمِ لُوطٖ ٧٠

(70) نو کله چې يې د هغوی لاسونه وليدل چې دې (وريتې غوښې) ته نه اوږده کېږي، نو دوی يې نا اشنا (اجنبيان) وګڼل او له دوی نه يې په زړه کې وېره محسوس کړه، دوی وويل: ته مه وېرېږه، بېشکه مونږ د لوط قوم ته رالېږل شوي يو (چې هلاك يې کړو)

وَٱمۡرَأَتُهُۥ قَآئِمَةٞ فَضَحِكَتۡ

(71) او د ده ښځه ولاړه وه، نو ويې خندل، نو

فَبَشَّرۡنَٰهَا بِإِسۡحَٰقَ وَمِن وَرَآءِ إِسۡحَٰقَ يَعۡقُوبَ ٧١

موږ دې ته د اسحق زېرى وركړ او له اسحق نه پس د (لمسي) يعقوب (زېرى مو هم وركړ)

قَالَتۡ يَٰوَيۡلَتَىٰٓ ءَأَلِدُ وَأَنَا۠ عَجُوزٞ وَهَٰذَا بَعۡلِي شَيۡخًاۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَيۡءٌ عَجِيبٞ ٧٢

(72) هغې وويل: اى زما تعجبه (او حيرانى)! ايا زه به بچى راوړم، حال دا چې زه زړه (بوډۍ) يم او دا زما خاوند دى زوړ، بېشكه دا خو ډېره عجيبه خبره ده

قَالُوٓاْ أَتَعۡجَبِينَ مِنۡ أَمۡرِ ٱللَّهِۖ رَحۡمَتُ ٱللَّهِ وَبَرَكَٰتُهُۥ عَلَيۡكُمۡ أَهۡلَ ٱلۡبَيۡتِۚ إِنَّهُۥ حَمِيدٞ مَّجِيدٞ ٧٣

(73) هغوى وويل: ايا ته د الله په امر تعجب كوې؟ د الله رحمت او د هغهٔ بركتونه دې پر تاسو وي اى اهلِ بيتو، بېشكه هغه (الله) ډېر ستايل شوى، د ډېرې لويي والا دى

فَلَمَّا ذَهَبَ عَنۡ إِبۡرَٰهِيمَ ٱلرَّوۡعُ وَجَآءَتۡهُ ٱلۡبُشۡرَىٰ يُجَٰدِلُنَا فِي قَوۡمِ لُوطٍ ٧٤

(74) نو كله چې له ابراهيم نه وېره لاړه او زېرى ورته راغى، (نو بيا يې) د لوط د قوم په حق كې زموږ (له رسولانو) سره بحث كاوه

إِنَّ إِبۡرَٰهِيمَ لَحَلِيمٌ أَوَّٰهٞ مُّنِيبٞ ٧٥

(75) بېشكه ابراهيم يقينًا ډېر حلم والا، ډېر نرم زړى (او الله ته) رجوع كوونكى و

يَٰٓإِبۡرَٰهِيمُ أَعۡرِضۡ عَنۡ هَٰذَآۖ إِنَّهُۥ قَدۡ جَآءَ أَمۡرُ رَبِّكَۖ وَإِنَّهُمۡ ءَاتِيهِمۡ عَذَابٌ غَيۡرُ مَرۡدُودٖ ٧٦

(76) اى ابراهيمه! له دې نه تېر شه، بېشكه شان دا دى چې يقينًا ستا د رب حكم راغلى دى او بېشكه دوى چې دي، پر دوى داسې عذاب راتلونكى دى چې بېرته به گرځولى

نشي

وَلَمَّا جَآءَتۡ رُسُلُنَا لُوطٗا سِيٓءَ بِهِمۡ وَضَاقَ بِهِمۡ ذَرۡعٗا وَقَالَ هَٰذَا يَوۡمٌ عَصِيبٞ ٧٧

(77) او كله چې زمونږ استازي (ملايك) لوط ته راغلل، نو دی پر هغوی غمجن شو او د دوی (د راتلو) په وجه يې سينه تنگه شوه او ويې ويل: دا ډېره سخته ورځ ده

وَجَآءَهُۥ قَوۡمُهُۥ يُهۡرَعُونَ إِلَيۡهِ وَمِن قَبۡلُ كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ هَٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِي هُنَّ أَطۡهَرُ لَكُمۡۖ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُخۡزُونِ فِي ضَيۡفِيٓۖ أَلَيۡسَ مِنكُمۡ رَجُلٞ رَّشِيدٞ ٧٨

(78) او ده ته يې خپل قوم راغی، چې د ده په طرف يې بې اختياره منډې وهلې او دوی مخكې له دې نه (هم) د بدو كارونو كوونكي وو، ده وويل: ای زما قومه! دا زما لوڼه دي (په نكاح يې واخلئ) دا تاسو لپاره ښخې پاكې (او حلالې) دي، نو تاسو له الله نه وويرېږئ او زما د مېلمنو په حق كې ما مه شرموئ، ايا په تاسو كې كوم يو پوه سړی نشته؟

قَالُواْ لَقَدۡ عَلِمۡتَ مَا لَنَا فِي بَنَاتِكَ مِنۡ حَقّٖ وَإِنَّكَ لَتَعۡلَمُ مَا نُرِيدُ ٧٩

(79) دوی وويل: يقينًا يقينًا تا ته معلومه ده چې مونږ ته ستا په لوڼو كې هېڅ حق (رغبت) نشته او بېشكه تا ته خامخا هغه څه معلوم دي چې مونږ يې غواړو

قَالَ لَوۡ أَنَّ لِي بِكُمۡ قُوَّةً أَوۡ ءَاوِيٓ إِلَىٰ رُكۡنٖ شَدِيدٖ ٨٠

(80) ويې ويل:كاشكې واقعي ما ته ستاسو په مقابله كې قوت حاصل وی يا مې ډېر مستحكم پناه ځای (خپل قوي قوم) ته پناه

وړی شوی

قَالُواْ يَٰلُوطُ إِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ لَن يَصِلُوٓاْ إِلَيۡكَۖ فَأَسۡرِ بِأَهۡلِكَ بِقِطۡعٖ مِّنَ ٱلَّيۡلِ وَلَا يَلۡتَفِتۡ مِنكُمۡ أَحَدٌ إِلَّا ٱمۡرَأَتَكَۖ إِنَّهُۥ مُصِيبُهَا مَآ أَصَابَهُمۡۚ إِنَّ مَوۡعِدَهُمُ ٱلصُّبۡحُۚ أَلَيۡسَ ٱلصُّبۡحُ بِقَرِيبٖ ﴿٨١﴾

(81) (ملايكو) وويل: ای لوطه! مونږ ستا د رب استازي يو، دوی به تا ته له سره در ونه رسي، نو ته خپل اهل (كورنی) د شپې په يوه حصه كې بوځه او په تاسو كې دې هيڅوك هم بېرته (شا ته) نه ګوري، خو ستا له ښځې نه غير، بېشكه شان دا دی چې هغې ته هغه عذاب رسېدونكی دی چې هغوی ته رسېږي، بېشكه د دوی د وعدې وخت سهار دی، ايا سهار ډېر نژدې نه دی؟

فَلَمَّا جَآءَ أَمۡرُنَا جَعَلۡنَا عَٰلِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمۡطَرۡنَا عَلَيۡهَا حِجَارَةٗ مِّن سِجِّيلٖ مَّنضُودٖ ﴿٨٢﴾

(82) نو كله چې زمونږ حكم راغی (نو) مونږ د هغه (كلي) برنی اړخ د هغهٔ لاندې اړخ وګرځاوه او پر هغه (كلي) مو د داسې كاڼو باران ووراوه چې له خټو جوړ، په اور پخ شوي وو، لاندې باندې (پرله پسې) وو

مُّسَوَّمَةً عِندَ رَبِّكَۖ وَمَا هِيَ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ بِبَعِيدٖ ﴿٨٣﴾

(83) ستا د رب په نيز په نښه شوي وو، او له ظالمانو (د مكې له مشركانو) نه هغه (كاڼي يا ښارونه) ډېر لرې نه دي

۞وَإِلَىٰ مَدۡيَنَ أَخَاهُمۡ شُعَيۡبٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ

(84) او (لېږلی و مونږ) مدين ته د هغوی ورور شعيب، هغه وويل: ای زما قومه! تاسو د الله عبادت كوئ، تاسو لپاره له هغه نه غير (بل)

إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥۖ وَلَا تَنقُصُواْ ٱلۡمِكۡيَالَ وَٱلۡمِيزَانَۖ إِنِّيٓ أَرَىٰكُم بِخَيۡرٖ وَإِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٖ مُّحِيطٖ ﴿٨٤﴾

هېڅ حق معبود نشته او تاسو پېمانه او تله مه كموئ، بېشكه زه تاسو په خير (ښه حال) وينم او بېشكه زه پر تاسو باندې د چا پېرېدونكې ورځې له عذاب نه وېرېږم

وَيَٰقَوۡمِ أَوۡفُواْ ٱلۡمِكۡيَالَ وَٱلۡمِيزَانَ بِٱلۡقِسۡطِۖ وَلَا تَبۡخَسُواْ ٱلنَّاسَ أَشۡيَآءَهُمۡ وَلَا تَعۡثَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُفۡسِدِينَ ﴿٨٥﴾

(85) او اى زما قومه! تاسو پېمانه او تله په انصاف سره پوره وركوئ او خلقو ته د هغوى څيزونه مه كموئ او په ځمكه كې ورانى كوونكي مه ګرځئ، فساد كوونكي

بَقِيَّتُ ٱللَّهِ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَۚ وَمَآ أَنَا۠ عَلَيۡكُم بِحَفِيظٖ ﴿٨٦﴾

(86) د الله باقي پاتې كړى (رزق) تاسو لپاره ډېر غوره دى كه تاسو مومنان يئ او زه پر تاسو باندې څه نګران خو نه يم

قَالُواْ يَٰشُعَيۡبُ أَصَلَوٰتُكَ تَأۡمُرُكَ أَن نَّتۡرُكَ مَا يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَآ أَوۡ أَن نَّفۡعَلَ فِيٓ أَمۡوَٰلِنَا مَا نَشَٰٓؤُاْۖ إِنَّكَ لَأَنتَ ٱلۡحَلِيمُ ٱلرَّشِيدُ ﴿٨٧﴾

(87) هغوى وويل: اى شعيبه! ايا ستا لمونځ تا ته د دې حكم كوي چې مونږ هغه (څيزونه) پرېږدو چې زمونږ پلرونو به يې عبادت كاوه يا دا چې په خپلو مالونو كې چې مونږ څه كول غواړو (هغه پرېږدو)، بېشكه هم ته يقينًا ډېر حِلم والا، ډېر پوه يې

قَالَ يَٰقَوۡمِ أَرَءَيۡتُمۡ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّي وَرَزَقَنِي مِنۡهُ رِزۡقًا

(88) هغۀ وويل: اى زما قومه! تاسو ما ته خبر راكړئ! كه زه يم پر ښكاره دليل باندې د

حَسَنًاۚ وَمَآ أُرِيدُ أَنۡ أُخَالِفَكُمۡ
إِلَىٰ مَآ أَنۡهَىٰكُمۡ عَنۡهُۚ إِنۡ أُرِيدُ
إِلَّا ٱلۡإِصۡلَٰحَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُۚ وَمَا
تَوۡفِيقِيٓ إِلَّا بِٱللَّهِۚ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ
وَإِلَيۡهِ أُنِيبُ ﴿٨٨﴾

خپل رب له جانبه او ما ته يې له خپله جانبه ډېر ښکلی رزق راکړی وي (نو زه يې ولې نافرماني وکړم) او زه نه غواړم چې ستاسو مخالفت وکړم (او راشم) هغه کار ته چې تاسو له هغهٔ نه منع کوم، زه يواځې اصلاح کول غواړم، څومره چې زما وس وي او زما توفيق يواځې دالله په مدد سره دی، خاص په هغه باندې ما توکل کړی دی او خاص هغه ته رجوع کوم

وَيَٰقَوۡمِ لَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ شِقَاقِيٓ أَن
يُصِيبَكُم مِّثۡلُ مَآ أَصَابَ قَوۡمَ
نُوحٍ أَوۡ قَوۡمَ هُودٍ أَوۡ قَوۡمَ صَٰلِحٖۚ
وَمَا قَوۡمُ لُوطٖ مِّنكُم بِبَعِيدٖ ﴿٨٩﴾

**(89)** او ای زما قومه! زما سره دښمني دې تاسو د دې حقدار ونه ګرځوي چې پر تاسو په مثل د هغه (عذاب) راشي چې د نوح پر قوم يا د هود پر قوم يا د صالح پر قوم راغلی و او له تاسو نه د لوط قوم ډېر لرې نه دی

وَٱسۡتَغۡفِرُواْ رَبَّكُمۡ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيۡهِۚ
إِنَّ رَبِّي رَحِيمٞ وَدُودٞ ﴿٩٠﴾

**(90)** او تاسو له خپل رب نه مغفرت وغواړئ، بيا هغه ته رجوع وکړئ، بېشکه زما رب ډېر مهربان، بې حده مينه کوونکی دی

قَالُواْ يَٰشُعَيۡبُ مَا نَفۡقَهُ كَثِيرٗا
مِّمَّا تَقُولُ وَإِنَّا لَنَرَىٰكَ فِينَا
ضَعِيفٗاۖ وَلَوۡلَا رَهۡطُكَ لَرَجَمۡنَٰكَۖ

**(91)** دوی وويل: ای شعيبه! مونږ پر ډېرو هغو خبرو نه پوهېږو چې ته يې وايې او بېشکه مونږ خو تا په مونږ کې کمزوری وينو او که چېرې ستا دا خپلوان نه وی ) چې مونږ سره

وَمَآ أَنتَ عَلَيۡنَا بِعَزِيزٖ ﴿٩١﴾

په كفر كې شريكان دي) نو مونږ به تهٔ خامخا سنګسار كړی وی او ته پر مونږ باندې هېڅ عزتناك نه يې

قَالَ يَٰقَوۡمِ أَرَهۡطِيٓ أَعَزُّ عَلَيۡكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَٱتَّخَذۡتُمُوهُ وَرَآءَكُمۡ ظِهۡرِيًّاۖ إِنَّ رَبِّي بِمَا تَعۡمَلُونَ مُحِيطٞ ﴿٩٢﴾

(92) هغه وويل: ای زما قومه! ايا زما خپلوان پر تاسو باندې له الله نه ډېر عزتناك (او مخور) دي او تاسو دا (الله) ګرځولی دی خپل وروسته، شا ته غورځول شوی، بېشكه زما رب د هغو كارونو چې تاسو يې كوئ؛ راګېرووونكی دی

وَيَٰقَوۡمِ ٱعۡمَلُواْ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمۡ إِنِّي عَٰمِلٞۖ سَوۡفَ تَعۡلَمُونَ مَن يَأۡتِيهِ عَذَابٞ يُخۡزِيهِ وَمَنۡ هُوَ كَٰذِبٞۖ وَٱرۡتَقِبُوٓاْ إِنِّي مَعَكُمۡ رَقِيبٞ ﴿٩٣﴾

(93) او ای زما قومه! تاسو پر خپل ځای (او طريقې) عمل كوئ، يقينًا زه هم عمل كوونكی يم، ژر به تاسو وپېژنئ هغه څوك چې پر هغه به داسې عذاب راځي چې هغه به رسواكوي او هغه څوك (به هم وپېژنئ) چې دروغجن دی، او تاسو انتظار كوئ بېشكه زه (هم) له تاسو سره انتظار كوونكی يم

وَلَمَّا جَآءَ أَمۡرُنَا نَجَّيۡنَا شُعَيۡبٗا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ بِرَحۡمَةٖ مِّنَّا وَأَخَذَتِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ ٱلصَّيۡحَةُ فَأَصۡبَحُواْ فِي دِيَٰرِهِمۡ جَٰثِمِينَ ﴿٩٤﴾

(94) او كله چې زمونږ حكم (د عذاب) راغی (،نو) مونږ شعيب ته او هغو كسانو ته چې له هغه سره يې ايمان راوړی و؛ خلاصی وركړ په رحمت سره له خپل جانب نه او هغه كسان چې ظلم يې كړی و؛ خطرناكې چغې ونيول،

نو شول په خپلو کورونو کې پړمخې مړه پراته

كَأَن لَّمۡ يَغۡنَوۡاْ فِيهَآۗ أَلَا بُعۡدٗا لِّمَدۡيَنَ كَمَا بَعِدَتۡ ثَمُودُ ٩٥

(95) ګوياکې دوی په دې (کورونو) کې نه وو اوسېدلي، اګاه شئ (د الله له رحمت نه) لرې والی دی مدين ته لکه څنګه چې ثموديان لرې (او هلاك) شول

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَا وَسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٍ ٩٦

(96) او يقيناً يقيناً مونږ موسیٰ په خپلو(نهو) معجزو او ښكاره دليل سره لېږلی و

إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِۦ فَٱتَّبَعُوٓاْ أَمۡرَ فِرۡعَوۡنَۖ وَمَآ أَمۡرُ فِرۡعَوۡنَ بِرَشِيدٖ ٩٧

(97) فرعون او د هغهٔ سردارانو ته، نو دغه (سرداران) د فرعون د حکم تابع شول، حال دا چې د فرعون حکم له سره درست نه و

يَقۡدُمُ قَوۡمَهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فَأَوۡرَدَهُمُ ٱلنَّارَۖ وَبِئۡسَ ٱلۡوِرۡدُ ٱلۡمَوۡرُودُ ٩٨

(98) د قيامت په ورځ به د خپل قوم په مخکې شي، نو اور ته به يې داخل کړي او بد ځای د ورتلو دی چې (دوی هغه ته) ورروستلی شي

وَأُتۡبِعُواْ فِي هَٰذِهِۦ لَعۡنَةٗ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ بِئۡسَ ٱلرِّفۡدُ ٱلۡمَرۡفُودُ ٩٩

(99) او په دوی پسې په دې دنيا کې لعنت ولګول شو او د قيامت په ورځ (به هم ورپسې وي)، بد دی هغه انعام چې (دوی ته) ورکولی شي

ذَٰلِكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلۡقُرَىٰ نَقُصُّهُۥ

(100) دا د کليو ځينې خبرونه (او احوال)

عَلَيْكَۖ مِنْهَا قَآئِمٌ وَحَصِيدٌ ١٠٠

دي چې مونږ يې تا ته بيانوو، ځينې په دغو (كليو) كې ولاړ دي او (ځينې يې) ربېل شوي دي

وَمَا ظَلَمْنَٰهُمْ وَلَٰكِن ظَلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمْۖ فَمَآ أَغْنَتْ عَنْهُمْ ءَالِهَتُهُمُ ٱلَّتِي يَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مِن شَيْءٍ لَّمَّا جَآءَ أَمْرُ رَبِّكَۖ وَمَا زَادُوهُمْ غَيْرَ تَتْبِيبٍ ١٠١

(101) او مونږ پر دوى ظلم نه و كړى او لېكن دوى (پخپله) پر خپلو ځانونو ظلم وكړ، نو د دوى هغه خدايان چې دوى به له الله نه غير بلل هېڅ شى په كار رانغلل، كله چې ستا د رب حكم راغى او دغو (خدايانو) دوى ته له هلاكت نه غير (نور څه) ورزيات نه كړل

وَكَذَٰلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَآ أَخَذَ ٱلْقُرَىٰ وَهِيَ ظَٰلِمَةٌۚ إِنَّ أَخْذَهُۥٓ أَلِيمٌ شَدِيدٌ ١٠٢

(102) او په شان د دغو (نيولو) نيول د رب ستا دي كله چې هغه كلي نيسي، په داسې حال كې چې هغه (كلي) ظالم وي، بېشكه د هغهٔ (الله) نيول ډېر دردوونكي، ډېر سخت دي‰

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةً لِّمَنْ خَافَ عَذَابَ ٱلْأٓخِرَةِۚ ذَٰلِكَ يَوْمٌ مَّجْمُوعٌ لَّهُ ٱلنَّاسُ وَذَٰلِكَ يَوْمٌ مَّشْهُودٌ ١٠٣

(103) بېشكه په دغو (ذكر شويو قصو) كې خامخا (د عبرت) لويه نښه ده د هغه چا لپاره چې د اخرت له عذاب نه وېرېږي، دا داسې ورځ ده چې په دې كې به خلق جمع كولى شي او دا داسې ورځ ده چې حاضري به ورته وشي

وَمَا نُؤَخِّرُهُۥٓ إِلَّا لِأَجَلٖ مَّعۡدُودٖ ١٠٤

(104) او مونږ دا (ورځ) نه وروسته کوو مګر د معلومې نېټې (د پوره کېدلو) لپاره

يَوۡمَ يَأۡتِ لَا تَكَلَّمُ نَفۡسٌ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ فَمِنۡهُمۡ شَقِيّٞ وَسَعِيدٞ ١٠٥

(105) په کومه ورځ چې هغه (د قیامت هیبت) راشي (نو) هېڅ نفس به د هغه (الله) له اجازت نه پرته خبرې نه کوي، نو ځینې به په دوی کې بدبخته وي او (ځینې به) نېک بخته وي

فَأَمَّا ٱلَّذِينَ شَقُواْ فَفِي ٱلنَّارِ لَهُمۡ فِيهَا زَفِيرٞ وَشَهِيقٌ ١٠٦

(106) نو هر چې هغه کسان دي چې بدبخته شوي دي، نو هغوی به (د جهنم) په اور کې وي، د دوی لپاره به په هغه کې (د خره په شان) سختې اوچتې رمباړې او ټیټې رمباړې وي

خَٰلِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَۚ إِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٞ لِّمَا يُرِيدُ ١٠٧

(107) په داسې حال کې چې دوی به په هغه کې تل ترتله وي، څو چې اسمانونه او ځمکه وي مګر هغه چې ستا رب (څه) وغواړي (او زَمْهَریر ته یې بوځي)، بېشکه ستا رب د هغه کار کوونکی دی چې اراده یې وکړي

۞وَأَمَّا ٱلَّذِينَ سُعِدُواْ فَفِي ٱلۡجَنَّةِ خَٰلِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَۖ عَطَآءً

(108) او پاتې شو هغه کسان چې نېکبخته شوي دي، نو په جنت کې به وي، چې تل ترتله به وي، څو چې اسمانونه او ځمکه وي

غَيۡرَ مَجۡذُوذٖ ١٠٨

مګر هغه چې ستا رب اراده وکړي (چې رضوان ته او د ځان ملاقات ته يې بوځي) (دغه) نه ختمېدونکې عطا ده

فَلَا تَكُ فِي مِرۡيَةٖ مِّمَّا يَعۡبُدُ هَٰٓؤُلَآءِۚ مَا يَعۡبُدُونَ إِلَّا كَمَا يَعۡبُدُ ءَابَآؤُهُم مِّن قَبۡلُۚ وَإِنَّا لَمُوَفُّوهُمۡ نَصِيبَهُمۡ غَيۡرَ مَنقُوصٖ ١٠٩

**(109)** نو ته په هېڅ شك كې مه كېږه د هغو په باره كې چې دا خلق يې عبادت كوي، دوى عبادت نه كوي مګر لكه څنګه چې پخوا د دوى پلرونو عبادت كاوه او ببشكه مونږ هرومرو دوى ته د دوى برخه كامله، بې له نقصانه پوره وركوونكي يو

وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ فَٱخۡتُلِفَ فِيهِۚ وَلَوۡلَا كَلِمَةٞ سَبَقَتۡ مِن رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيۡنَهُمۡۚ وَإِنَّهُمۡ لَفِي شَكّٖ مِّنۡهُ مُرِيبٖ ١١٠

**(110)** او يقينًا يقينًا مونږ موسىٰ ته كتاب وركړى و، نو (د خلقو له خوا نه) په ده كې اختلاف وكړى شو، او كه هغه كلمه (حكم) نه وى چې ستا د رب له جانبه ړومبى (ليكل) شوې ده (نو) خامخا به د دوى په مينځ كې فيصله شوې وى او يقينًا دوى د دې (قرآن) په باره كې خامخا په اضطراب اچوونكي شك كې دي

وَإِنَّ كُلّٗا لَّمَّا لَيُوَفِّيَنَّهُمۡ رَبُّكَ أَعۡمَٰلَهُمۡۚ إِنَّهُۥ بِمَا يَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ١١١

**(111)** او ببشكه هره ډله (د مومنانو او كافرانو) كله چې وخت راشي (په قيامت كې، نو) خامخا لازماً به دوى ته د دوى رب د خپلو عملونو پوره پوره جزا (بدله) وركړي، ببشكه

هغه (الله) پر هغو كارونو چې دوی يې كوي ښه خبردار دی

فَٱسۡتَقِمۡ كَمَآ أُمِرۡتَ وَمَن تَابَ مَعَكَ وَلَا تَطۡغَوۡاْۚ إِنَّهُۥ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ١١٢

(112) نو ته ثابت قدم اوسه لكه څنګه چې تا ته حكم شوی دی او هغه څوك دې هم (ثابت قدم اوسي) چې ستا په ملګرتيا كې يې (الله ته) رجوع كړې ده او (ای خلقو) تاسو سركشي مه كوئ، بېشكه هغه (الله) د هغو كارونو چې تاسو يې كوئ؛ ښه ليدونكی دی

وَلَا تَرۡكَنُوٓاْ إِلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ فَتَمَسَّكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِنۡ أَوۡلِيَآءَ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ ١١٣

(113) او تاسو د هغو كسانو په طرف مه مايله كېږئ چې ظلم يې كړی دی، (ګنې) نو (د دوزخ) اور به تاسو ته دروررسېږي، په داسې حال كې چې تاسو لپاره به له الله نه غير هېڅ كارسازي (دوستان) نه وي، بيا به له تاسو سره مدد نه كولی شي

وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ طَرَفَيِ ٱلنَّهَارِ وَزُلَفٗا مِّنَ ٱلَّيۡلِۚ إِنَّ ٱلۡحَسَنَٰتِ يُذۡهِبۡنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ ذَٰلِكَ ذِكۡرَىٰ لِلذَّٰكِرِينَ ١١٤

(114) او ته لمونځ قايموه د ورځې په دوه طرفونو كې او د شپې په څه ګړيو كې، بېشكه نېكيانې بديانې لرې كوي، دا د ذكر كوونكو (نصيحت قبلوونكو) لپاره نصيحت دی

وَٱصۡبِرۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١١٥

(115) او ته صبر كوه، پس بېشكه الله د نېكي كوونكو اجر نه ضايع كوي

فَلَوۡلَا كَانَ مِنَ ٱلۡقُرُونِ مِن
قَبۡلِكُمۡ أُوْلُواْ بَقِيَّةٖ يَنۡهَوۡنَ عَنِ
ٱلۡفَسَادِ فِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا قَلِيلٗا
مِّمَّنۡ أَنجَيۡنَا مِنۡهُمۡۗ وَٱتَّبَعَ ٱلَّذِينَ
ظَلَمُواْ مَآ أُتۡرِفُواْ فِيهِ وَكَانُواْ
مُجۡرِمِينَ ١١٦

**(116)** نو له تاسو نه مخکې په تېر شویو امتونو کې ولې داسې د عقل او فکر خاوندان نه وو چې یې (خلق) په ځمکه کې له فساد کولو نه منع کولی (چې عذاب پرې نه وی راغلی) خو (منع کوله) لږو خلقو له هغه چا نه چې په دغو (خلقو) کې مونږ (هغو ته) نجات ورکړ، او پیروي وکړه هغو کسانو چې ظلم یې کړی و د هغې (لارې) چې په هغې کې اسوده کړی شوي وو او هغوی مجرمان وو

وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهۡلِكَ ٱلۡقُرَىٰ
بِظُلۡمٖ وَأَهۡلُهَا مُصۡلِحُونَ ١١٧

**(117)** او ستا رب له سره داسې نه دی چې کلي په ظلم سره (ناحقه) هلاك کړي، په دې حال کې چې د هغو اوسېدونکي اصلاح کوونکي (مومنان) وي

وَلَوۡ شَآءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ ٱلنَّاسَ أُمَّةٗ
وَٰحِدَةٗۖ وَلَا يَزَالُونَ مُخۡتَلِفِينَ ١١٨

**(118)** او که ستا رب غوښتلی خامخا به یې خلق ټول یو امت ګرځولي وو او دوی به همېشه اختلاف کوونکي وي

إِلَّا مَن رَّحِمَ رَبُّكَۚ وَلِذَٰلِكَ
خَلَقَهُمۡۗ وَتَمَّتۡ كَلِمَةُ رَبِّكَ
لَأَمۡلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ ٱلۡجِنَّةِ
وَٱلنَّاسِ أَجۡمَعِينَ ١١٩

**(119)** مګر هغه څوك چې ستا رب پرې رحم وکړي او د دغه (اختلاف او رحمت) لپاره یې دوی پیدا کړي دي او ستا د رب خبره پوره شوې ده چې خامخا هرومرو به زه جهنم له پېریانو او انسانانو ټولو نه ضرور ډکوم

وَكُلّٗا نَّقُصُّ عَلَيۡكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ
ٱلرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهِۦ فُؤَادَكَۚ
وَجَآءَكَ فِي هَٰذِهِ ٱلۡحَقُّ وَمَوۡعِظَةٞ
وَذِكۡرَىٰ لِلۡمُؤۡمِنِينَ ١٢٠

**(120)** او مونږ تا ته د رسولانو له خبرونو څني ټول هغه څه بیانوو چې په هغو سره مونږ ستا زړه کلکوو او تا ته په دې (خبرونو) کې راغلی دی حق او نصیحت او یادونه لپاره د مومنانو

وَقُل لِّلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ ٱعۡمَلُواْ
عَلَىٰ مَكَانَتِكُمۡ إِنَّا عَٰمِلُونَ ١٢١

**(121)** او ته هغو کسانو ته چې ایمان نه راوړي، ووایه: تاسو پر خپل ځای (او حال) عمل کوئ، بېشکه مونږ هم عمل کوونکي یو

وَٱنتَظِرُوٓاْ إِنَّا مُنتَظِرُونَ ١٢٢

**(122)** او تاسو انتظار کوئ، بېشکه مونږ هم انتظار کوونکي یو

وَلِلَّهِ غَيۡبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ
وَإِلَيۡهِ يُرۡجَعُ ٱلۡأَمۡرُ كُلُّهُۥ فَٱعۡبُدۡهُ
وَتَوَكَّلۡ عَلَيۡهِۚ وَمَا رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ
عَمَّا تَعۡمَلُونَ ١٢٣

**(123)** او خاص الله لره دی د اسمانونو او ځمکې (علمِ) غیب او خاص هم ده ته (د بنده ګانو) ټول کارونه بیرته ورګرځولی شي، نو تهٔ د ده عبادت کوه او پر ده توکل کوه او ستا رب له سره غافله نه دی له هغو کارونو نه چې تاسو یې کوئ

## سُورَةُ يُوسُفَ

## سورة يوسف

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

الٓرۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ١

(1) الف، لام، را، دا د واضح کتاب ايتونه دي

إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ قُرۡءَٰنًا عَرَبِيّٗا لَّعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ٢

(2) ببشکه مونږ دا نازل کړی دی، په داسې حال کې چې عربي قرآن دی، د دې لپاره چې تاسو پوه شئ

نَحۡنُ نَقُصُّ عَلَيۡكَ أَحۡسَنَ ٱلۡقَصَصِ بِمَآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانَ وَإِن كُنتَ مِن قَبۡلِهِۦ لَمِنَ ٱلۡغَٰفِلِينَ ٣

(3) (ای نبي!) مونږ تا ته تر ټولو ښه بيان (قصه) اوروو، د دې قرآن په ذريعې سره چې مونږ تا ته وحي کړی دی، او ببشکه شان دا دی چې ته د دې (قرآن له نازلېدلو نه مخکې خامخا له ناخبرو څخه وې

إِذۡ قَالَ يُوسُفُ لِأَبِيهِ يَٰٓأَبَتِ إِنِّي رَأَيۡتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوۡكَبٗا وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ رَأَيۡتُهُمۡ لِي سَٰجِدِينَ ٤

(4) (ياد کړه هغه وخت) کله چې يوسف خپل پلار ته وويل: ای زما پلار جانه! ببشکه ما (په خوب کې) يوولس ستوري او لمر او سپوږمی وليدل، ما دوی ولېدل چې ما ته سجده کوونکي وو

قَالَ يَٰبُنَيَّ لَا تَقۡصُصۡ رُءۡيَاكَ عَلَىٰٓ إِخۡوَتِكَ فَيَكِيدُواْ لَكَ كَيۡدًاۖ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ لِلۡإِنسَٰنِ عَدُوّٞ مُّبِينٞ ٥

(5) (یعقوب) وویل: ای زما خوږه بچیه! خپل (دا) خوب خپلو ورونو ته مه بیانوه، (ګنې) بیا به دوی تا ته څه چل جوړ کړي، څه چل جوړول، ببشکه شیطان د انسان لپاره ښکاره دښمن دی

وَكَذَٰلِكَ يَجۡتَبِيكَ رَبُّكَ وَيُعَلِّمُكَ مِن تَأۡوِيلِ ٱلۡأَحَادِيثِ وَيُتِمُّ نِعۡمَتَهُۥ عَلَيۡكَ وَعَلَىٰٓ ءَالِ يَعۡقُوبَ كَمَآ أَتَمَّهَا عَلَىٰٓ أَبَوَيۡكَ مِن قَبۡلُ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡحَٰقَۚ إِنَّ رَبَّكَ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ٦

(6) او همدارنګه ستا رب به تا غوره کړي او تا ته به د خبرو(خوبونو) څه اصل حقیقت (تعبیر کول) وښیي او په تا باندي او د یعقوب په کورنۍ به خپل نعمت پوره کړي لکه چې هغه پوره کړی و دا (نعمت) له تا نه مخکې ستا په دوو پلرونو (نیکه او ورنیکه) ابراهیم او اسحق باندي، ببشکه ستا رب ښه پوه، ښه حکمت والا دی

۞لَّقَدۡ كَانَ فِي يُوسُفَ وَإِخۡوَتِهِۦٓ ءَايَٰتٞ لِّلسَّآئِلِينَ ٧

(7) یقینًا یقینًا په یوسف او د هغه په ورونو کې د تپوس کوونکو لپاره ډېرې نښې دي

إِذۡ قَالُواْ لَيُوسُفُ وَأَخُوهُ أَحَبُّ إِلَىٰٓ أَبِينَا مِنَّا وَنَحۡنُ عُصۡبَةٌ إِنَّ أَبَانَا لَفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ٨

(8) کله چې هغوی (په خپل مینځ کې) وویل: خامخا یوسف او د هغه سکنی ورور زمونږ پلار ته زمونږ نه زیات محبوب دي، حال دا چې مونږ یوه قوتناکه ډله یو، ببشکه زمونږ پلار خامخا په ښکاره خطا کې (پروت) دی

ٱقۡتُلُواْ يُوسُفَ أَوِ ٱطۡرَحُوهُ أَرۡضٗا
يَخۡلُ لَكُمۡ وَجۡهُ أَبِيكُمۡ
وَتَكُونُواْ مِنۢ بَعۡدِهِۦ قَوۡمٗا
صَٰلِحِينَ ٩

(9) تاسو یوسف قتل کړئ یا هغه په کومې (لرې نامعلومه) ځمکه کې وغورځوئ چې ستاسو د پلار توجه یواځې تاسو ته خالصه شي او له دې (کاره) وروسته به تاسو نېك خلق شئ

قَالَ قَآئِلٞ مِّنۡهُمۡ لَا تَقۡتُلُواْ يُوسُفَ
وَأَلۡقُوهُ فِي غَيَٰبَتِ ٱلۡجُبِّ يَلۡتَقِطۡهُ
بَعۡضُ ٱلسَّيَّارَةِ إِن كُنتُمۡ
فَٰعِلِينَ ١٠

(10) په دوی کې یو ویونکي وویل: تاسو یوسف مه وژنئ او (بلکې) هغه د ګمنامي کوهي په تیاره ببخ کې وغورځوئ چې په تېرېدونکو (لارویانو) کې به یې ځینې (څوك) واخلي که تاسو کوونکي یئ (د هغه کار چې ستاسو مقصد پرې پوره کېږي)

قَالُواْ يَٰٓأَبَانَا مَا لَكَ لَا تَأۡمَ۫نَّا عَلَىٰ
يُوسُفَ وَإِنَّا لَهُۥ لَنَٰصِحُونَ ١١

(11) دوی وویل: ای زمونږ پلاره! څه باعث (او سبب) دی تا لره چې ته پر مونږ د یوسف باره کې اعتبار نه کوې، حال دا چې مونږ د ده یقینًا خیر غوښتونکي یو

أَرۡسِلۡهُ مَعَنَا غَدٗا يَرۡتَعۡ وَيَلۡعَبۡ
وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ١٢

(12) ته دی له مونږ سره سبا ولېږه چې ښې ډېرې مېوې وخوري (مزې وکړي) او لوبې وکړي او بېشکه مونږ د ده خامخا ساتونکي یو

قَالَ إِنِّي لَيَحۡزُنُنِيٓ أَن تَذۡهَبُواْ بِهِۦ
وَأَخَافُ أَن يَأۡكُلَهُ ٱلذِّئۡبُ

(13) هغه وویل: بېشکه زه چې یم، یقینًا ما ادا خبره غمجنوي چې تاسو دی بوځئ او زه له

وَأَنتُمۡ عَنۡهُ غَٰفِلُونَ ﴿١٣﴾

دي نه وېرېږم چې دا (یوسف) به لیوه (شرمښ) وخوري، په داسې حال کې چې تاسو به له ده نه غافلان یئ

قَالُواْ لَئِنۡ أَكَلَهُ ٱلذِّئۡبُ وَنَحۡنُ عُصۡبَةٌ إِنَّآ إِذٗا لَّخَٰسِرُونَ ﴿١٤﴾

**(14)** هغوی وویل: قسم دی که دی (رانه) لیوه وخوري، حال دا چې مونږ یوه قوتناکه ډله یو (،نو) بېشکه مونږ به په دغه وخت کې خامخا تاوانیان (او هلاکېدونکي) یو

فَلَمَّا ذَهَبُواْ بِهِۦ وَأَجۡمَعُوٓاْ أَن يَجۡعَلُوهُ فِي غَيَٰبَتِ ٱلۡجُبِّۚ وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡهِ لَتُنَبِّئَنَّهُم بِأَمۡرِهِمۡ هَٰذَا وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ﴿١٥﴾

**(15)** نو کله چې دوی هغه بوته او پر دې خبره یې اتفاق وکړ چې دی د (ګمنامي) کوهي په تیاره ښخ کې وغورځوي او مونږ ده ته (یوسف ته) وحي وکړه چې قسم دی چې ته به خامخا ضرور دوی ته د دوی د دې کار خبر ورکړې، په دې حال کې چې دوی به نه پوهېږي (چې ته یوسف یې)

وَجَآءُوٓ أَبَاهُمۡ عِشَآءٗ يَبۡكُونَ ﴿١٦﴾

**(16)** او دوی خپل پلار ته بېګاه ته (په تیاره کې) راغلل چې ژړل یې (په دروغو سره)

قَالُواْ يَٰٓأَبَانَآ إِنَّا ذَهَبۡنَا نَسۡتَبِقُ وَتَرَكۡنَا يُوسُفَ عِندَ مَتَٰعِنَا فَأَكَلَهُ ٱلذِّئۡبُۖ وَمَآ أَنتَ بِمُؤۡمِنٖ لَّنَا وَلَوۡ كُنَّا صَٰدِقِينَ ﴿١٧﴾

**(17)** ویې ویل: ای زمونږ پلاره! بېشکه مونږ لاړو مسابقه مو سره کوله او مونږ یوسف له خپلو اسبابو سره پرېښی و، نو هغه شرمښ وخوړ او ته پر مونږ باندې باور کوونکی نه یې

اگر که مونږ رښتيني يو

وَجَآءُو عَلَىٰ قَمِيصِهِۦ بِدَمٍ كَذِبٍۚ قَالَ بَلۡ سَوَّلَتۡ لَكُمۡ أَنفُسُكُمۡ أَمۡرٗاۖ فَصَبۡرٞ جَمِيلٞۖ وَٱللَّهُ ٱلۡمُسۡتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ ١٨

(18) او دوی د هغه د کميس له پاسه دروغجنه وينه لګولې راوړه، يعقوب وويل: (دا دروغ دي) بلکې تاسو ته ستاسو نفسونو (دا بد) کار ښايسته کړی دی، نو (زما کار) صبر جميل دی او د هغو خبرو په هکله خاص له الله نه مدد غوښتلی شي چې تاسو يې بيانوئ

وَجَآءَتۡ سَيَّارَةٞ فَأَرۡسَلُواْ وَارِدَهُمۡ فَأَدۡلَىٰ دَلۡوَهُۥۖ قَالَ يَٰبُشۡرَىٰ هَٰذَا غُلَٰمٞۚ وَأَسَرُّوهُ بِضَٰعَةٗۚ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِمَا يَعۡمَلُونَ ١٩

(19) او قافله راغله، نو دوی خپل اوبه راوړونکی ولېږه، نو هغه خپله بوکه (په کوهي کې) ورخوشې کړه (نو يوسف دغې بوکې پورې ونښت، چې يې وليده، نو) ويې ويل:ای زما خوشحالی! دا خو (ډېر ښکلی) هلك دی او دوی هغه د تجارت د مال په توګه پټ کړ او الله پر هغو کارونو ښه عالم دی چې دوی کول

وَشَرَوۡهُ بِثَمَنِۭ بَخۡسٖ دَرَٰهِمَ مَعۡدُودَةٖ وَكَانُواْ فِيهِ مِنَ ٱلزَّٰهِدِينَ ٢٠

(20) او دوی هغه په ډېر کم قيمت خرڅ کړ، چې څو شمېرل شوې روپۍ وې او دوی د هغه په حق کې له بې رغبتو څخه وو

وَقَالَ ٱلَّذِي ٱشۡتَرَىٰهُ مِن مِّصۡرَ لِٱمۡرَأَتِهِۦٓ أَكۡرِمِي مَثۡوَىٰهُ عَسَىٰٓ أَن يَنفَعَنَآ أَوۡ نَتَّخِذَهُۥ وَلَدٗاۚ

(21) او هغه سړي چې دی يې له مصره اخيستی و، خپلې ښځې ته وويل: د ده استوګنه عزتمنه ساته (دی په عزت سره

وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلِنُعَلِّمَهُۥ مِن تَأۡوِيلِ ٱلۡأَحَادِيثِۚ وَٱللَّهُ غَالِبٌ عَلَىٰٓ أَمۡرِهِۦ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٢١﴾

ساته)، امېد دی چې دی به مونږ ته فایده راورسوي یا به دی مونږ زوی ونیسو او همدارنګه مونږ یوسف ته په ځمکه کې ځای (او قدرت) ورکړ او د دې لپاره چې مونږ هغه ته د خبرو څه تاویل (او تعبیر) وښیو او الله پر خپل کار غالب دی او لېکن اکثره خلق نه پوهېږي

وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُۥٓ ءَاتَيۡنَٰهُ حُكۡمًا وَعِلۡمًاۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٢٢﴾

(22) او کله چې هغه خپل قوت ته ورسېده (، نو) مونږ هغهٔ ته حکم او علم ورکړ او همداسې مونږ نېکي کوونکو ته بدله ورکوو

وَرَٰوَدَتۡهُ ٱلَّتِي هُوَ فِي بَيۡتِهَا عَن نَّفۡسِهِۦ وَغَلَّقَتِ ٱلۡأَبۡوَٰبَ وَقَالَتۡ هَيۡتَ لَكَۚ قَالَ مَعَاذَ ٱللَّهِۖ إِنَّهُۥ رَبِّيٓ أَحۡسَنَ مَثۡوَايَۖ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٢٣﴾

(23) او هغې ښځې، چې دا د هغې په کور کې و، هغې له ده نه له هغې سره د بدکارۍ مطالبه وکړه او (ټولې) دروازې یې کلکې پورې کړې او ویې ویل:هله، ته زر راشه! هغهٔ وویل: زه په الله پورې پناه نیسم، بېشکه ادا (عزیز) زما مالك دی، هغه زما استوګنه ښه کړې ده، بېشکه شان دا دی چې ظالمان فلاح (او خلاصی) نه مومي

وَلَقَدۡ هَمَّتۡ بِهِۦۖ وَهَمَّ بِهَا لَوۡلَآ أَن رَّءَا بُرۡهَٰنَ رَبِّهِۦۚ كَذَٰلِكَ لِنَصۡرِفَ

(24) او یقینًا یقینًا هغې دهٔ ته قصد کړی و، او ده به هغې ته قصد کړی و که چېرې ده د خپل رب دلیل نه وی لیدلی، همداسې (مونږ

عَنۡهُ ٱلسُّوٓءَ وَٱلۡفَحۡشَآءَۚ إِنَّهُۥ مِنۡ عِبَادِنَا ٱلۡمُخۡلَصِينَ ﴿٢٤﴾

يوسف وساته) د دي لپاره چې مونږ له هغه نه بد او ناکاره (بې حيا) فعل وګرځوو (واړوو)، بېشکه دغه (يوسف) زمونږ له غوره کړې شويو بنده ګانو څخه دی

وَٱسۡتَبَقَا ٱلۡبَابَ وَقَدَّتۡ قَمِيصَهُۥ مِن دُبُرٖ وَأَلۡفَيَا سَيِّدَهَا لَدَا ٱلۡبَابِۚ قَالَتۡ مَا جَزَآءُ مَنۡ أَرَادَ بِأَهۡلِكَ سُوٓءًا إِلَّآ أَن يُسۡجَنَ أَوۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٢٥﴾

**(25)** او دواړو دروازې ته سره منډې شروع کړې او هغې د ده کميس له شا طرف نه څيرې کړ او دواړه د هغې له خاوند سره دروازې ته نژدې مخامخ شول، هغې ووېل: نه ده سزا د هغه چا چې ستا له اهل سره يې د بدۍ اراده وکړه مګر دا چې هغه بندي (قيد) کړی شي يا ( د هغهٔ لپاره) ډېر دردوونکی عذاب دی

قَالَ هِيَ رَٰوَدَتۡنِي عَن نَّفۡسِيۚ وَشَهِدَ شَاهِدٞ مِّنۡ أَهۡلِهَآ إِن كَانَ قَمِيصُهُۥ قُدَّ مِن قُبُلٖ فَصَدَقَتۡ وَهُوَ مِنَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ﴿٢٦﴾

**(26)** هغهٔ ووېل: هم دې له ما نه د بدکارۍ غوښتنه کړې ده، او د هغې د کورنۍ يو شاهد شاهدي ورکړه (داسې چې) که د ده کميس له مخامخ اړخ نه څيرې شوی وي، نو هغې رښتيا ويلي دي او دا له دروغجنانو څخه دی

وَإِن كَانَ قَمِيصُهُۥ قُدَّ مِن دُبُرٖ فَكَذَبَتۡ وَهُوَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٢٧﴾

**(27)** او که د ده کميس له شا اړخ نه څيرې شوی وي، نو دې دروغ ويلي دي او هغه (يوسف) له رښتينو څخه دی

فَلَمَّا رَءَا قَمِيصَهُۥ قُدَّ مِن دُبُرٖ قَالَ إِنَّهُۥ مِن كَيۡدِكُنَّۖ إِنَّ كَيۡدَكُنَّ عَظِيمٞ ٢٨

(28) نو كله چې هغه (عزيز) د ده كميس وليده چې له شا اړخ نه څيرې شوی دی، ويې ويل: بېشكه (ای ښځو) دا ستاسو له فريبونو څخه دی، بېشكه ستاسو فريب (او چل) ډېر لوی دی

يُوسُفُ أَعۡرِضۡ عَنۡ هَٰذَاۚ وَٱسۡتَغۡفِرِي لِذَنۢبِكِۖ إِنَّكِ كُنتِ مِنَ ٱلۡخَاطِـِٔينَ ٢٩

(29) ای يوسفه! له دې خبرې نه مخ واړوه او (ای ښځې) ته د خپلې ګناه لپاره مغفرت وغواړه، بېشكه هم تهٔ له خطا كارانو څخه وې

۞وَقَالَ نِسۡوَةٞ فِي ٱلۡمَدِينَةِ ٱمۡرَأَتُ ٱلۡعَزِيزِ تُرَٰوِدُ فَتَىٰهَا عَن نَّفۡسِهِۦۖ قَدۡ شَغَفَهَا حُبًّاۖ إِنَّا لَنَرَىٰهَا فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ٣٠

(30) او په ښار كې ښځو وويل: د عزيز ښځه له خپل غلام نه د بدكارۍ مطالبه كوي، يقيناً د مينې په لحاظ سره هغهٔ، د دې د زړه پرده څيرې كړې ده (د دې ورسره سخته مينه ده)، بېشكه مونږ هغه خامخا په ښكاره ګمراهۍ كې وينو

فَلَمَّا سَمِعَتۡ بِمَكۡرِهِنَّ أَرۡسَلَتۡ إِلَيۡهِنَّ وَأَعۡتَدَتۡ لَهُنَّ مُتَّكَـٔٗا وَءَاتَتۡ كُلَّ وَٰحِدَةٖ مِّنۡهُنَّ سِكِّينٗا وَقَالَتِ ٱخۡرُجۡ عَلَيۡهِنَّۖ فَلَمَّا رَأَيۡنَهُۥٓ أَكۡبَرۡنَهُۥ وَقَطَّعۡنَ أَيۡدِيَهُنَّ وَقُلۡنَ حَٰشَ لِلَّهِ مَا هَٰذَا

(31) نو كله چې هغې د دوی مكر واورېده (، نو) دوی ته يې پېغام ولېږه او د دوی لپاره يې مجلس تيار كړ او په دوی كې يې هرې يوې ته چاړه وركړه او هغې (ده ته) وويل: دوی ته راووځه، نو كله چې دوی هغه وليده (،نو) ډېر لوی ښايسته يې ومونده او خپل لاسونه يې پرې كړل او وېې ويل الله ته پاكي ده، دا خو

بَشَرًا إِنْ هَٰذَآ إِلَّا مَلَكٌ كَرِيمٌ ﴿٣١﴾

بشر نه دی، دا نه دی مګر ډېر عزتمن مَلك

قَالَتْ فَذَٰلِكُنَّ ٱلَّذِى لُمْتُنَّنِى فِيهِ ۖ وَلَقَدْ رَٰوَدتُّهُۥ عَن نَّفْسِهِۦ فَٱسْتَعْصَمَ ۖ وَلَئِن لَّمْ يَفْعَلْ مَآ ءَامُرُهُۥ لَيُسْجَنَنَّ وَلَيَكُونًا مِّنَ ٱلصَّٰغِرِينَ ﴿٣٢﴾

(32) هغې وویل: دا هماغه (زلمی) دی چې تاسو زه د ده (له ده سره د مینې) په باره کې ملامته کړې ومه او یقینًا یقینًا ما له ده نه د ده د ځان غوښتنه کړې وه، نو ده ځان وساته او قسم دی که ده هغه کار ونه کړ چې زه يې ده ته حکم کوم (، نو) خامخا هرومرو به دی بندي کړی شي او خامخا هرومرو به دی شي له ذلیلانو نه

قَالَ رَبِّ ٱلسِّجْنُ أَحَبُّ إِلَىَّ مِمَّا يَدْعُونَنِىٓ إِلَيْهِ ۖ وَإِلَّا تَصْرِفْ عَنِّى كَيْدَهُنَّ أَصْبُ إِلَيْهِنَّ وَأَكُن مِّنَ ٱلْجَٰهِلِينَ ﴿٣٣﴾

(33) هغهٔ وویل: ای زما ربه! بندي خانه ما ته ډېره خوښه ده له هغه کار نه چې دوی ما هغه ته بلي او که ته زما څخه د دوی مکر و فریب وانهړوې (، نو) زه به دوی ته مایله شم او شم به له جاهلانو نه

فَٱسْتَجَابَ لَهُۥ رَبُّهُۥ فَصَرَفَ عَنْهُ كَيْدَهُنَّ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٣٤﴾

(34) نو خپل رب يې د ده دعا قبوله کړه، نو له ده نه يې د دوی مکر و فریب وګرځاوه، بېشکه هغه، هم هغه ښه اورېدونکی، ښه پوه دی

ثُمَّ بَدَا لَهُم مِّنۢ بَعْدِ مَا رَأَوُا۟ ٱلْءَايَٰتِ لَيَسْجُنُنَّهُۥ حَتَّىٰ

(35) بیا دوی (عزیز او د هغه کسانو) ته ښکاره شوه (صلاح يې وکړه)، وروسته له دې

حِينٍ ﴿٣٥﴾

چې دوی (د يوسف د پاکۍ) نښې ولېدې، چې دوی به دی خامخا هرومرو تر يو وخته پورې بندي کړي

وَدَخَلَ مَعَهُ ٱلسِّجۡنَ فَتَيَانِۖ قَالَ أَحَدُهُمَآ إِنِّيٓ أَرَىٰنِيٓ أَعۡصِرُ خَمۡرٗاۖ وَقَالَ ٱلۡأٓخَرُ إِنِّيٓ أَرَىٰنِيٓ أَحۡمِلُ فَوۡقَ رَأۡسِي خُبۡزٗا تَأۡكُلُ ٱلطَّيۡرُ مِنۡهُۖ نَبِّئۡنَا بِتَأۡوِيلِهِۦٓۖ إِنَّا نَرَىٰكَ مِنَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٣٦﴾

(36) او له ده سره زندان ته دوه زلمي ننوتل، په دې دواړو کې يو وويل: بېشکه زه چې يم، زه ځان (په خوب کې) وينم، چې د شرابو لپاره انګور نچوړوم او بل وويل: بېشکه زه چې يم، ځان وينم، په دې حال کې چې د خپل سر له پاسه مې ډوډۍ بار کړې ده، چې له هغې نه مرغان خوراك کوي، مونږ د دې (خوبونو) پر تعبير خبر کړه، بېشکه مونږ تا له نيکوکارانو څخه وينو

قَالَ لَا يَأۡتِيكُمَا طَعَامٞ تُرۡزَقَانِهِۦٓ إِلَّا نَبَّأۡتُكُمَا بِتَأۡوِيلِهِۦ قَبۡلَ أَن يَأۡتِيَكُمَاۚ ذَٰلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِي رَبِّيٓۚ إِنِّي تَرَكۡتُ مِلَّةَ قَوۡمٖ لَّا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ كَٰفِرُونَ ﴿٣٧﴾

(37) (يوسف) وويل: چې تاسو ته به هغه طعام لا نه وي راغلی چې تاسو ته هغه درکاوه شي مګر چې تاسو به د دې (خوبونو) پر تعبير خبر کړم، مخکې له دې نه چې تاسو ته هغه راشي، دا (تعبير) له هغه علم څخه دی چې زما رب ما ته ښودلی دی، بېشکه ما د هغه قوم دين پرېښی دی چې په الله ايمان نه لري او په اخرت هم کافران دي

وَٱتَّبَعۡتُ مِلَّةَ ءَابَآءِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ

(38) او ما د خپلو پلرونو د ملت پيروي کړې

وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَۚ مَا كَانَ لَنَآ أَن نُّشۡرِكَ بِٱللَّهِ مِن شَيۡءٖۚ ذَٰلِكَ مِن فَضۡلِ ٱللَّهِ عَلَيۡنَا وَعَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَشۡكُرُونَ ٣٨

ده چې ابراهيم او اسحق او يعقوب دی، زمونږ لپاره له سره جايز نه دي چې له الله سره څه شی شريک کړو، دا د الله له فضله څخه دي پر مونږ باندې او په (نورو) خلقو باندې او لېکن زياتره خلق شکر نه وباسي

يَٰصَٰحِبَيِ ٱلسِّجۡنِ ءَأَرۡبَابٞ مُّتَفَرِّقُونَ خَيۡرٌ أَمِ ٱللَّهُ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّارُ ٣٩

(39) ای د زندان دواړو ملګرو! ايا ګڼ او متفرق خدايان غوره دي يا که هغه الله چې يو دی، ډېر قوي او غالب دی

مَا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ أَسۡمَآءٗ سَمَّيۡتُمُوهَآ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلۡطَٰنٍۚ إِنِ ٱلۡحُكۡمُ إِلَّا لِلَّهِ أَمَرَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلۡقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ٤٠

(40) تاسو له الله نه غير عبادت نه کوئ مګر د داسې نومونو چې تاسو او ستاسو پلرونو ايښي (او نومولي) دي (او) الله د دوی (د الوهيت) په باره کې هېڅ دليل نه دی نازل کړی، حکم يواځې الله ته خاص دی، هغه حکم کړی دی چې تاسو يواځې د هغه عبادت کوئ، همدا سم دين دی او لېکن زياتره خلق نه پوهېږي

يَٰصَٰحِبَيِ ٱلسِّجۡنِ أَمَّآ أَحَدُكُمَا فَيَسۡقِي رَبَّهُۥ خَمۡرٗاۖ وَأَمَّا ٱلۡأٓخَرُ فَيُصۡلَبُ فَتَأۡكُلُ ٱلطَّيۡرُ مِن رَّأۡسِهِۦۚ قُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ ٱلَّذِي فِيهِ

(41) ای د زندان دواړو ملګرو! هر چې په تاسو کې يو دی، نو هغه خو به پر خپل مالک شراب څښوي او پاتې شو بل، نو هغه به په دار کولی شي، نو مرغان به د ده له سر نه

تَسۡتَفۡتِيَانِ ﴿٤١﴾

(غوښې) خوري، هغه کار فیصله شوی دی چې تاسو د هغه په باره کې (له ما نه) تعبیر پوښتئ

وَقَالَ لِلَّذِي ظَنَّ أَنَّهُۥ نَاجٖ مِّنۡهُمَا ٱذۡكُرۡنِي عِندَ رَبِّكَ فَأَنسَىٰهُ ٱلشَّيۡطَٰنُ ذِكۡرَ رَبِّهِۦ فَلَبِثَ فِي ٱلسِّجۡنِ بِضۡعَ سِنِينَ ﴿٤٢﴾

(42) او هغه کس ته يې وويل چې پر هغه يې دا يقين و چې يقينًا دی په دې دواړو کې خلاصی موندونکی دی: د خپل مالك په وړاندې ما ياد کړه، نو شيطان له هغه نه خپل مالك ته (د يوسف) يادول هېر کړل، نو هغه په زندان کې څو کاله پاتې شو

وَقَالَ ٱلۡمَلِكُ إِنِّيٓ أَرَىٰ سَبۡعَ بَقَرَٰتٖ سِمَانٖ يَأۡكُلُهُنَّ سَبۡعٌ عِجَافٞ وَسَبۡعَ سُنۢبُلَٰتٍ خُضۡرٖ وَأُخَرَ يَابِسَٰتٖۖ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمَلَأُ أَفۡتُونِي فِي رُءۡيَٰيَ إِن كُنتُمۡ لِلرُّءۡيَا تَعۡبُرُونَ ﴿٤٣﴾

(43) او بادشاه وويل: بېشکه زه چې يم، زه اوه چاغې ثربه غواګانې وينم، چې اوه خوارې غواګانې يې خوري او اوه شنه وږي او نور وچ (اوه وږي وينم) ای سردارانو! تاسو ما ته زما د خوب تعبير ووايئ، که چېرې تاسو د خوب تعبير کولی شئ

قَالُوٓاْ أَضۡغَٰثُ أَحۡلَٰمٖۖ وَمَا نَحۡنُ بِتَأۡوِيلِ ٱلۡأَحۡلَٰمِ بِعَٰلِمِينَ ﴿٤٤﴾

(44) هغوی وويل: (دا) ګډوډ (تَخَيُّلي) خوبونه دي او موږ د خيالي ګډو وډو خوبونو په تعبير باندې عالمان نه يو

وَقَالَ ٱلَّذِي نَجَا مِنۡهُمَا وَٱدَّكَرَ بَعۡدَ أُمَّةٍ أَنَا۠ أُنَبِّئُكُم بِتَأۡوِيلِهِۦ

(45) او هغه کس وويل چې په هغو دواړو کې هغه نجات موندلی و او له ډېرې مودې نه پس

فَأَرۡسِلُونِ ﴿٤٥﴾

يې ياد شو: زه تاسو د دې (خوب) پر تعبير خبروم، نو تاسو ما (يوسف ته) ولېږئ

يُوسُفُ أَيُّهَا ٱلصِّدِّيقُ أَفۡتِنَا فِي سَبۡعِ بَقَرَٰتٖ سِمَانٖ يَأۡكُلُهُنَّ سَبۡعٌ عِجَافٞ وَسَبۡعِ سُنۢبُلَٰتٍ خُضۡرٖ وَأُخَرَ يَابِسَٰتٖ لَّعَلِّيٓ أَرۡجِعُ إِلَى ٱلنَّاسِ لَعَلَّهُمۡ يَعۡلَمُونَ ﴿٤٦﴾

**(46)** اى يوسفه! اى ډېره رښتينه! ته مونږ ته تعبير بيان كړه د اوو څربو غواګانو په باره كې چې اوه خوارې يې خوري او د اوو شنو وږو او نورو (اوو) وچو (وږو) په باره كې، د دې لپاره چې زه خلقو ته واپس لاړشم، د دې لپاره چې هغوى پوه شي

قَالَ تَزۡرَعُونَ سَبۡعَ سِنِينَ دَأَبٗا فَمَا حَصَدتُّمۡ فَذَرُوهُ فِي سُنۢبُلِهِۦٓ إِلَّا قَلِيلٗا مِّمَّا تَأۡكُلُونَ ﴿٤٧﴾

**(47)** هغهٔ وويل: تاسو به اوه كاله پرله پسې په ډېر كوښښ سره كر كيله كوئ، نو څه چې تاسو وريبئ هغه (غله) په خپلو وږو كې پرېږدئ، خو لږ له هغو نه چې تاسو يې خورئ

ثُمَّ يَأۡتِي مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ سَبۡعٞ شِدَادٞ يَأۡكُلۡنَ مَا قَدَّمۡتُمۡ لَهُنَّ إِلَّا قَلِيلٗا مِّمَّا تُحۡصِنُونَ ﴿٤٨﴾

**(48)** بيا به له دې (كلونو) نه پس ډېر سخت اوه (كاله) راځي چې هغه (غلې) به وخوري چې تاسو مخكې د دغو (كلونو) لپاره ذخيره كړې دي مګر لږ شان له هغه نه چې تاسو يې ساتئ

ثُمَّ يَأۡتِي مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ عَامٞ فِيهِ يُغَاثُ ٱلنَّاسُ وَفِيهِ يَعۡصِرُونَ ﴿٤٩﴾

**(49)** بيا به له دې (كلونو) نه پس يو كال راځي چې په هغه كې به (په باران سره) د خلقو فرياد رسي وشي او په ده كې به دوى

(مبوي) نچوړي

وَقَالَ ٱلۡمَلِكُ ٱئۡتُونِي بِهِۦۖ فَلَمَّا جَآءَهُ ٱلرَّسُولُ قَالَ ٱرۡجِعۡ إِلَىٰ رَبِّكَ فَسۡـَٔلۡهُ مَا بَالُ ٱلنِّسۡوَةِ ٱلَّٰتِي قَطَّعۡنَ أَيۡدِيَهُنَّۚ إِنَّ رَبِّي بِكَيۡدِهِنَّ عَلِيمٞ ٥٠

(50) او بادشاه وویل: تاسو هغه (یوسف) ما ته راولئ، نو کله چې ده ته استازی راغی، (نو ده (ورته) وویل: خپل مالك ته بېرته لاړ شه، نو له هغه نه تپوس وکړه چې د هغو ښځو څه حال و چې خپل لاسونه یې پرې کړي وو، بېشکه زما رب د هغوی پر مکر او چل ښه پوه دی

قَالَ مَا خَطۡبُكُنَّ إِذۡ رَٰوَدتُّنَّ يُوسُفَ عَن نَّفۡسِهِۦۚ قُلۡنَ حَٰشَ لِلَّهِ مَا عَلِمۡنَا عَلَيۡهِ مِن سُوٓءٖۚ قَالَتِ ٱمۡرَأَتُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡـَٰٔنَ حَصۡحَصَ ٱلۡحَقُّ أَنَا۠ رَٰوَدتُّهُۥ عَن نَّفۡسِهِۦ وَإِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ٥١

(51) هغه وویل: ستاسو څه حال (معامله) وه کله چې تاسو له یوسف نه د هغه د نفس غوښتنه کوله؟ هغوی وویل: الله ته پاکي ده، مونږ په هغه کې هېڅ بدي نه وه معلومه کړې، د عزیز ښځې وویل: اوس حقه (او رښتیا) خبره ظاهره شوه، ما له هغه نه مطالبه کړې وه او بېشکه هغه یقینًا له رښتینو څخه دی

ذَٰلِكَ لِيَعۡلَمَ أَنِّي لَمۡ أَخُنۡهُ بِٱلۡغَيۡبِ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي كَيۡدَ ٱلۡخَآئِنِينَ ٥٢

(52) دا د دې لپاره چې هغه (عزیز) پوه شي چې ما پسې شا له هغه سره خیانت نه دی کړی، او دا چې یقینًا الله د خیانتګرو مکر نه برابروي (سر ته یې نه رسوي)

۞وَمَآ أُبَرِّئُ نَفۡسِيٓۚ إِنَّ ٱلنَّفۡسَ

(53) او زه خپل نفس نه بري کوم(پاك ورته نه وایم)، یقینًا نفس خو په بدی سره ډېر حکم

| | |
|---|---|
| لَأَمَّارَةُۢ بِٱلسُّوٓءِ إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّيٓۚ إِنَّ رَبِّي غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٥٣ | کوونکی دی، مګر هغه چې زما رب پرې رحم وکړي، يقيناً زما رب ښه، مغفرت کوونکی، بې حده رحم کوونکی دی |
| وَقَالَ ٱلۡمَلِكُ ٱئۡتُونِي بِهِۦٓ أَسۡتَخۡلِصۡهُ لِنَفۡسِيۖ فَلَمَّا كَلَّمَهُۥ قَالَ إِنَّكَ ٱلۡيَوۡمَ لَدَيۡنَا مَكِينٌ أَمِينٞ ٥٤ | (54) او باچا وويل: هغه ما ته راولئ چې زه يې د خپل ځان لپاره خاص مُصاحب کړم، نو کله چې يې له هغه سره خبرې وکړې، ويې ويل:بېشکه تهٔ همدا له نن ورځې نه زمونږ په نيز د مرتبې خاوند، (او) د اعتبار وړ يې |
| قَالَ ٱجۡعَلۡنِي عَلَىٰ خَزَآئِنِ ٱلۡأَرۡضِۖ إِنِّي حَفِيظٌ عَلِيمٞ ٥٥ | (55) هغه وويل: تهٔ ما د دې ملك پر خزانو باندې مقرر کړه، بېشکه زه ښه ساتونکی، ښه پوه يم |
| وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي ٱلۡأَرۡضِ يَتَبَوَّأُ مِنۡهَا حَيۡثُ يَشَآءُۚ نُصِيبُ بِرَحۡمَتِنَا مَن نَّشَآءُۖ وَلَا نُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٥٦ | (56) او همدارنګه مونږ يوسف ته په ځمکه (د مصر) کې اقتدارورکړ، چې په دې (ملك) کې به يې چېرې چې غوښتل؛ ځای نيوه (اوسېدلو)، مونږ خپل رحمت کوو پر چا چې مونږ وغواړو او مونږ د نېکي کوونکو اجر نه ضايع کوو |
| وَلَأَجۡرُ ٱلۡأٓخِرَةِ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ ٥٧ | (57) او يقيناً د اخرت اجر د هغو کسانو لپاره ډېر غوره دی چې ايمان يې راوړی دی او پرهېزګاري يې کوله |

وَجَآءَ إِخۡوَةُ يُوسُفَ فَدَخَلُواْ عَلَيۡهِ فَعَرَفَهُمۡ وَهُمۡ لَهُۥ مُنكِرُونَ ﴿٥٨﴾

(58) او د يوسف ورونه (له كِنعانه مصر ته د غلې دانې اخيستلو لپاره) راغلل، نو په ده باندې ورننوتل، نو ده هغوی وپېژندل او هغوی ده لره ناپېژندونكي وو

وَلَمَّا جَهَّزَهُم بِجَهَازِهِمۡ قَالَ ٱئۡتُونِي بِأَخٖ لَّكُم مِّنۡ أَبِيكُمۡۚ أَلَا تَرَوۡنَ أَنِّيٓ أُوفِي ٱلۡكَيۡلَ وَأَنَا۠ خَيۡرُ ٱلۡمُنزِلِينَ ﴿٥٩﴾

(59) او كله چې هغهٔ دوی ته د دوی د سفر اسباب تیار كړل، ویې ویل:تاسو ما ته خپل هغه ورور راولئ چې ستاسو له پلاره دی، ایا تاسو نه وینئ چې ببشكه زه پیمانه (دانې) پوره وركوم او زه تر ټولو غوره مېلمه پال یم

فَإِن لَّمۡ تَأۡتُونِي بِهِۦ فَلَا كَيۡلَ لَكُمۡ عِندِي وَلَا تَقۡرَبُونِ ﴿٦٠﴾

(60) نو كه چېرې تاسو هغه ما ته رانه وسته، بیا نو ستاسو لپاره زما سره هېڅ پیمانه نشته او (بیا) تاسو ما ته مه رانژدې كېږئ

قَالُواْ سَنُرَٰوِدُ عَنۡهُ أَبَاهُ وَإِنَّا لَفَٰعِلُونَ ﴿٦١﴾

(61) هغوی وویل: مونږ به د هغهٔ په هكله د هغه له پلاره په كوښښ سره غوښتنه كوو او ببشكه مونږ خامخا (دا كار) كوونكي یو

وَقَالَ لِفِتۡيَٰنِهِ ٱجۡعَلُواْ بِضَٰعَتَهُمۡ فِي رِحَالِهِمۡ لَعَلَّهُمۡ يَعۡرِفُونَهَآ إِذَا ٱنقَلَبُوٓاْ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِمۡ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ﴿٦٢﴾

(62) او هغه خپلو ځلمیو ته وویل: د هغوی پنګه (سرمایه) د هغوی په بارونو كې كېږدئ، د دې لپاره چې دوی هغه وپېژني، كله چې دوی خپل اهل ته واپس لاړ شي، د دې لپاره چې دوی واپس راشي

فَلَمَّا رَجَعُوٓاْ إِلَىٰٓ أَبِيهِمۡ قَالُواْ يَٰٓأَبَانَا مُنِعَ مِنَّا ٱلۡكَيۡلُ فَأَرۡسِلۡ مَعَنَآ أَخَانَا نَكۡتَلۡ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ٦٣

(63) نو کله چې دوی خپل پلار ته بېرته وګرځېدل، ويې ويل:ای زمونږ پلاره! زمونږ نه پېمانه (د بنيامين) منع کړی شوې ده، نو ته زمونږ سره زمونږ ورور ولېږه چې پېمانه راواخلو او بېشکه مونږ خامخا د ده حفاظت کوونکي يو

قَالَ هَلۡ ءَامَنُكُمۡ عَلَيۡهِ إِلَّا كَمَآ أَمِنتُكُمۡ عَلَىٰٓ أَخِيهِ مِن قَبۡلُ فَٱللَّهُ خَيۡرٌ حَٰفِظٗاۖ وَهُوَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ٦٤

(64) هغه ووېل: ايا زه تاسو د ده باره کې پر تاسو اعتماد وکړم مګر په شان د هغه اعتماد چې ما پر تاسو له دې نه مخکې د ده د ورور باره کې کړی و، نو الله ډېر غوره ساتونکی دی او هغه تر ټولو زيات رحم کوونکی دی

وَلَمَّا فَتَحُواْ مَتَٰعَهُمۡ وَجَدُواْ بِضَٰعَتَهُمۡ رُدَّتۡ إِلَيۡهِمۡۖ قَالُواْ يَٰٓأَبَانَا مَا نَبۡغِيۖ هَٰذِهِۦ بِضَٰعَتُنَا رُدَّتۡ إِلَيۡنَاۖ وَنَمِيرُ أَهۡلَنَا وَنَحۡفَظُ أَخَانَا وَنَزۡدَادُ كَيۡلَ بَعِيرٖۖ ذَٰلِكَ كَيۡلٞ يَسِيرٞ ٦٥

(65) او کله چې دوی خپل سامان پرانسته، دوی خپله پنګه ومونده چې دوی ته بېرته واپس کړی شوې ده، دوی ووېل: ای زمونږ پلاره! مونږ (نور) څه غواړو؟، دا زمونږ پنګه ده چې مونږ ته بېرته واپس کړی شوې ده، او مونږ به د خپل اهل لپاره غله راوړو او خپل ورور به ساتو او د يو اوښ بار به زيات راوړو، دغه (ورکړه د بادشاه لپاره يا دغه اضافي پيمانه) ډېره اسانه پيمانه ده

قَالَ لَنۡ أُرۡسِلَهُۥ مَعَكُمۡ حَتَّىٰ

(66) هغه ووېل: هيڅکله به هم زه له تاسو

تُؤْتُونِ مَوْثِقًا مِّنَ ٱللَّهِ لَتَأْتُنَّنِي
بِهِۦٓ إِلَّآ أَن يُحَاطَ بِكُمْۖ فَلَمَّآ
ءَاتَوْهُ مَوْثِقَهُمْ قَالَ ٱللَّهُ عَلَىٰ مَا
نَقُولُ وَكِيلٞ ٦٦

سره هغه ونه لېږم تر هغه پورې چې تاسو ما ته د الله پخه وعده راکړئ چې تاسو به هغه خامخا لازمًا ما ته بېرته راولئ، مګر دا چې تاسو له هر جانب نه ګېر کړی شئ، نو کله چې هغوی ده ته خپله پخه وعده ورکړه، هغه وویل: الله وکیل (او شاهد) دی پر هغه څه چې مونږ يې وايو

وَقَالَ يَٰبَنِيَّ لَا تَدْخُلُواْ مِنۢ بَابٖ
وَٰحِدٖ وَٱدْخُلُواْ مِنْ أَبْوَٰبٖ مُّتَفَرِّقَةٖۖ
وَمَآ أُغْنِي عَنكُم مِّنَ ٱللَّهِ مِن
شَيْءٍۖ إِنِ ٱلْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِۖ عَلَيْهِ
تَوَكَّلْتُۖ وَعَلَيْهِ فَلْيَتَوَكَّلِ
ٱلْمُتَوَكِّلُونَ ٦٧

**(67)** او هغه وویل: ای زما زامنو! تاسو (ټول) له یوې دروازې نه مه ورننوځئ او له بېلو بېلو دروازو نه ورننوځئ او زه له تاسو نه د الله (له فیصلې) نه هېڅ شی نشم لرې کولی، حکم نشته مګر خاص الله لره دی، خاص په هغه باندې ما توکل کړی دی اولازم دي چې توکل کوونکي يواځې په هغه باندې توکل وکړي

وَلَمَّا دَخَلُواْ مِنْ حَيْثُ أَمَرَهُمْ
أَبُوهُم مَّا كَانَ يُغْنِي عَنْهُم مِّنَ
ٱللَّهِ مِن شَيْءٍ إِلَّا حَاجَةٗ فِي
نَفْسِ يَعْقُوبَ قَضَىٰهَاۚ وَإِنَّهُۥ لَذُو
عِلْمٖ لِّمَا عَلَّمْنَٰهُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ
ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ٦٨

**(68)** او کله چې دوی ننوتل له هغه ځایه چې دوی ته يې خپل پلار حکم کړی و، هغهٔ له دوی نه د الله (له فیصلې) نه هېڅ شی نشو لرې کولی، مګر دا د یعقوب په زړه کې یو حاجت و چې هغه يې ادا کړ، او بېشکه هغه یقینًا د علم خاوند و، په سبب د دې چې مونږ هغه ته تعلیم ورکړی و او لیکن د خلقو

اکثريت نه پوهېږي

وَلَمَّا دَخَلُواْ عَلَىٰ يُوسُفَ ءَاوَىٰٓ إِلَيۡهِ أَخَاهُۖ قَالَ إِنِّيٓ أَنَا۠ أَخُوكَ فَلَا تَبۡتَئِسۡ بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٦٩

(69) او کله چې دوی په يوسف باندې ورننوتل، (نو) هغه خپل ورور خپل ځان ته رانژدې کړ، ويې ويل:بېشکه زه چې يم، هم دا زه ستا ورور يم، نو ته پر هغو کارونو مه خفه کېږه چې دوی به کول

فَلَمَّا جَهَّزَهُم بِجَهَازِهِمۡ جَعَلَ ٱلسِّقَايَةَ فِي رَحۡلِ أَخِيهِ ثُمَّ أَذَّنَ مُؤَذِّنٌ أَيَّتُهَا ٱلۡعِيرُ إِنَّكُمۡ لَسَٰرِقُونَ ٧٠

(70) نو کله چې هغه، دوی ته د دوی سامانونه تيار کړل ()، نو) د څښلو جام يې د خپل ورور په بار کې کېښود، بيا غږ کوونکي غږ وکړ! ای قافلې! بېشکه تاسو يقينًا غله يئ

قَالُواْ وَأَقۡبَلُواْ عَلَيۡهِم مَّاذَا تَفۡقِدُونَ ٧١

(71) هغوی وويل او دوی ته يې مخ راواړوه: تاسو څه شی ورك کړی دی؟

قَالُواْ نَفۡقِدُ صُوَاعَ ٱلۡمَلِكِ وَلِمَن جَآءَ بِهِۦ حِمۡلُ بَعِيرٖ وَأَنَا۠ بِهِۦ زَعِيمٞ ٧٢

(72) هغوی وويل: مونږ د بادشاه پيمانه ورکه کړې ده، او د هغه چا لپاره چې دغه راوړي، د يو اوښ بار دی، او زه د دې ضامن يم

قَالُواْ تَٱللَّهِ لَقَدۡ عَلِمۡتُم مَّا جِئۡنَا لِنُفۡسِدَ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا كُنَّا سَٰرِقِينَ ٧٣

(73) هغوی وويل: قسم پر الله، يقينًا يقينًا تاسو پوه شوي يئ چې مونږ د دې لپاره نه يو راغلي چې په دې ځمکه کې فساد وکړو، او مونږ خو کله هم غله نه يو تېر شوي

قَالُواْ فَمَا جَزَٰٓؤُهُۥٓ إِن كُنتُمۡ كَٰذِبِينَ ٧٤

(74) هغوی وویل: نو د هغه جزا به څه وي که تاسو دروغجن وئ؟

قَالُواْ جَزَٰٓؤُهُۥ مَن وُجِدَ فِي رَحۡلِهِۦ فَهُوَ جَزَٰٓؤُهُۥۚ كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلظَّٰلِمِينَ ٧٥

(75) دوی وویل: د هغهٔ جزا هغه کس دی د چا په بار کې چې دغه وموندل شي، نو هم دغه کس د هغه جزا دی (هغه به په کې نیولی شي)، همدارنګه مونږ ظالمانو ته جزا ورکوو

فَبَدَأَ بِأَوۡعِيَتِهِمۡ قَبۡلَ وِعَآءِ أَخِيهِ ثُمَّ ٱسۡتَخۡرَجَهَا مِن وِعَآءِ أَخِيهِۚ كَذَٰلِكَ كِدۡنَا لِيُوسُفَۖ مَا كَانَ لِيَأۡخُذَ أَخَاهُ فِي دِينِ ٱلۡمَلِكِ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُۚ نَرۡفَعُ دَرَجَٰتٖ مَّن نَّشَآءُۗ وَفَوۡقَ كُلِّ ذِي عِلۡمٍ عَلِيمٞ ٧٦

(76) نو د خپل ورور له بار نه مخکې یې د هغوی پر بارونو شروع وکړه، بیا یې دغه پیمانه د خپل ورور له بار نه راوښکله، همدارنګه مونږ د یوسف لپاره تدبیر وکړ، هغه (یوسف د دې حقدار) نه و چې د بادشاه په قانون کې خپل ورور راونیسي (او بندي یې کړي)، مګر دا چې الله وغواړي، چا ته چې مونږ وغواړو په درجو کې یې اوچتوو او د هر علم والا له پاسه لوی عالم دی

۞قَالُوٓاْ إِن يَسۡرِقۡ فَقَدۡ سَرَقَ أَخٞ لَّهُۥ مِن قَبۡلُۚ فَأَسَرَّهَا يُوسُفُ فِي نَفۡسِهِۦ وَلَمۡ يُبۡدِهَا لَهُمۡۚ قَالَ أَنتُمۡ شَرّٞ مَّكَانٗاۖ وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا

(77) هغوی وویل: که دا غلا کوي، نو (د حرانتیا خبره نه ده) یقینًا له ده نه مخکې د ده ورور (یوسف) هم غلا کړې ده، نو یوسف دا په خپل نفس کې پټه وساتله او دایې دوی ته ښکاره نه کړه، ویې ویل: ستاسو حال ډېر بد

تَصِفُونَ ﴿٧٧﴾

دی، او الله ښه عالم دی پر هغې خبره چې تاسو يې بيانوئ

قَالُواْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡعَزِيزُ إِنَّ لَهُۥٓ أَبٗا شَيۡخٗا كَبِيرٗا فَخُذۡ أَحَدَنَا مَكَانَهُۥٓۖ إِنَّا نَرَىٰكَ مِنَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٧٨﴾

(78) دوی وويل: ای عزيزه! بېشکه د ده ډېر زوړ عمرخوړلی پلار دی، نو ته د ده پر ځای په مونږ کې يو تن ونيسه، بېشکه مونږ تا له احسان کوونکو څخه وينو

قَالَ مَعَاذَ ٱللَّهِ أَن نَّأۡخُذَ إِلَّا مَن وَجَدۡنَا مَتَٰعَنَا عِندَهُۥٓ إِنَّآ إِذٗا لَّظَٰلِمُونَ ﴿٧٩﴾

(79) هغه وويل: د الله پناه غواړو (له دې خبرې نه) چې مونږ له هغه کس نه غير څوک ونيسو چې مونږ له هغه سره خپل سامان موندلی دی، بېشکه مونږ به په دغه وخت کې خامخا ظالمان يو

فَلَمَّا ٱسۡتَيۡـَٔسُواْ مِنۡهُ خَلَصُواْ نَجِيّٗاۖ قَالَ كَبِيرُهُمۡ أَلَمۡ تَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ أَبَاكُمۡ قَدۡ أَخَذَ عَلَيۡكُم مَّوۡثِقٗا مِّنَ ٱللَّهِ وَمِن قَبۡلُ مَا فَرَّطتُمۡ فِي يُوسُفَۖ فَلَنۡ أَبۡرَحَ ٱلۡأَرۡضَ حَتَّىٰ يَأۡذَنَ لِيٓ أَبِيٓ أَوۡ يَحۡكُمَ ٱللَّهُ لِيۖ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلۡحَٰكِمِينَ ﴿٨٠﴾

(80) نو کله چې دوی له هغه (يوسف) نه نا امېده شول (، نو يوې خوا ته) بېل شول، په دې حال کې چې مشوره کوونکي وو، د دوی مشر وويل: ايا تاسو پر دې پوه نه يئ چې يقيناً ستاسو پلار له تاسو نه د الله پخه وعده اخيستې ده او له دې نه مخکې چې تاسو د يوسف په باره کې څه تقصير کړی دی، نو زه خو به هېڅکله هم له دې ځمکې ونه خوځم تر هغه پورې چې ما ته زما پلار اجازت راکړي، يا الله زما لپاره فيصله وکړي او هغه تر ټولو

غوره فيصله كوونكى دى

ٱرۡجِعُوٓاْ إِلَىٰٓ أَبِيكُمۡ فَقُولُواْ يَٰٓأَبَانَآ إِنَّ ٱبۡنَكَ سَرَقَ وَمَا شَهِدۡنَآ إِلَّا بِمَا عَلِمۡنَا وَمَا كُنَّا لِلۡغَيۡبِ حَٰفِظِينَ ٨١

(81) تاسو خپل پلار ته ببرته لاړ شئ، نو (ورته) ووايئ، اى زموږ پلاره! ببشكه ستا زوى غلا كړې ده (ځكه نو هغه ونيول شو) او موږ يواځې هغه څه بيانوو چې موږ ته يې علم شوى دى او موږ د غيبو ساتونكي (نگهبانان) خو نه وو

وَسۡـَٔلِ ٱلۡقَرۡيَةَ ٱلَّتِي كُنَّا فِيهَا وَٱلۡعِيرَ ٱلَّتِيٓ أَقۡبَلۡنَا فِيهَاۖ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ٨٢

(82) او ته له هغه كلي (والو) نه تپوس وكړه، چې موږ په كې وو او له هغې قافلې نه (هم) چې موږ په هغې كې راغلو او ببشكه موږ لازمًا رښتيا ويونكي يو

قَالَ بَلۡ سَوَّلَتۡ لَكُمۡ أَنفُسُكُمۡ أَمۡرٗاۖ فَصَبۡرٞ جَمِيلٌۖ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَأۡتِيَنِي بِهِمۡ جَمِيعًاۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡحَكِيمُ ٨٣

(83) هغه وويل: بلكې تاسو لپاره ستاسو نفسونو يو كار ښايسته كړى دى، نو (زما كار) صبر جميل دى، اميد دى چې الله به ما ته هغوى ټول راولي، ببشكه هغه، هم هغه ښه پوه، ښه حكمت والا دى

وَتَوَلَّىٰ عَنۡهُمۡ وَقَالَ يَٰٓأَسَفَىٰ عَلَىٰ يُوسُفَ وَٱبۡيَضَّتۡ عَيۡنَاهُ مِنَ ٱلۡحُزۡنِ فَهُوَ كَظِيمٞ ٨٤

(84) او له هغوى نه يې مخ وگرځاوه او ويې ويل: اى زما غمه په (جدايۍ د) يوسف باندې! او د هغه دواړه سترگې له غمه تكې سپينې شوې، نو هغه (له غمه) ډك و

قَالُواْ تَٱللَّهِ تَفۡتَؤُاْ تَذۡكُرُ يُوسُفَ
حَتَّىٰ تَكُونَ حَرَضًا أَوۡ تَكُونَ
مِنَ ٱلۡهَٰلِكِينَ ٨٥

(85) هغوی وویل: پر الله قسم دی چې ته به همېشه يوسف يادوې، تر هغه پورې چې ته په وېلې کېدو سره مرگ ته قريب شې يا ته له هلاکېدونکو نه شې

قَالَ إِنَّمَآ أَشۡكُواْ بَثِّي وَحُزۡنِيٓ إِلَى
ٱللَّهِ وَأَعۡلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا
تَعۡلَمُونَ ٨٦

(86) هغه وویل: بېشکه همدا خبره ده چې زه د خپلې پرېشانۍ او غم فرياد الله ته کوم، او زه د الله له جانبه پر هغه څه پوهېږم چې تاسو پرې نه پوهېږئ

يَٰبَنِيَّ ٱذۡهَبُواْ فَتَحَسَّسُواْ مِن
يُوسُفَ وَأَخِيهِ وَلَا تَاْيۡـَٔسُواْ مِن
رَّوۡحِ ٱللَّهِۖ إِنَّهُۥ لَا يَاْيۡـَٔسُ مِن
رَّوۡحِ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ
ٱلۡكَٰفِرُونَ ٨٧

(87) ای زما زامنو! تاسو لاړ شئ، نو د يوسف او د هغه د ورور لټون وکړئ او د الله له رحمت نه مه نا امېده کېږئ، بېشکه حقيقت دا دی چې د الله له رحمت نه کافر خو يواځې نا امېده کېږي

فَلَمَّا دَخَلُواْ عَلَيۡهِ قَالُواْ يَٰٓأَيُّهَا
ٱلۡعَزِيزُ مَسَّنَا وَأَهۡلَنَا ٱلضُّرُّ وَجِئۡنَا
بِبِضَٰعَةٖ مُّزۡجَىٰةٖ فَأَوۡفِ لَنَا ٱلۡكَيۡلَ
وَتَصَدَّقۡ عَلَيۡنَآۖ إِنَّ ٱللَّهَ يَجۡزِي
ٱلۡمُتَصَدِّقِينَ ٨٨

(88) نو کله چې دوی پر هغه ورننوتل، دوی وویل: ای عزيزه! مونږ ته او زمونږ کورنۍ ته سختۍ رسېدلې ده او مونږ ناقصه (کمه) پنگه راوړې ده، نو ته مونږ ته پوره پېمانه راکړه او پر مونږ صدقه وکړه، بېشکه الله خيرات کوونکو ته بدلهورکوي

قَالَ هَلۡ عَلِمۡتُم مَّا فَعَلۡتُم

(89) ويې ويل: ايا تاسو پر هغه فعل عالمان

بِيُوسُفَ وَأَخِيهِ إِذۡ أَنتُمۡ جَٰهِلُونَ ﴿٨٩﴾

يئ چې تاسو له يوسف او د هغه له ورور سره کړې و، کله چې تاسو ناپوهان وئ؟

قَالُوٓاْ أَءِنَّكَ لَأَنتَ يُوسُفُۖ قَالَ أَنَا۠ يُوسُفُ وَهَٰذَآ أَخِيۖ قَدۡ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَيۡنَآۖ إِنَّهُۥ مَن يَتَّقِ وَيَصۡبِرۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٩٠﴾

(90) وېي وويل: ايا يقينًا (او) واقعًا همدا ته يوسف يې؟ هغه وويل: هم زه يوسف يم او دغه مې سکه ورور دی، يقينًا الله پر مونږ احسان وکړ، ببشکه حقيقت دا دی چې څوك تقوىٰ اختيار کړي او صبر وکړي، نو ببشکه الله د نېکي کوونکو اجر نه ضايع کوي

قَالُواْ تَٱللَّهِ لَقَدۡ ءَاثَرَكَ ٱللَّهُ عَلَيۡنَا وَإِن كُنَّا لَخَٰطِـِٔينَ ﴿٩١﴾

(91) هغوی وويل: قسم پر الله چې يقينًا په رښتيا سره الله ته پر مونږ باندې غوره کړی يې او ببشکه مونږ خامخا خطا کار وو

قَالَ لَا تَثۡرِيبَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡيَوۡمَۖ يَغۡفِرُ ٱللَّهُ لَكُمۡۖ وَهُوَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿٩٢﴾

(92) هغه وويل: نن ورځ پر تاسو باندې هېڅ ملامتي نشته، الله دې تاسو وبخښي او هغه تر ټولو زيات رحم کوونکی دی

ٱذۡهَبُواْ بِقَمِيصِي هَٰذَا فَأَلۡقُوهُ عَلَىٰ وَجۡهِ أَبِي يَأۡتِ بَصِيرٗا وَأۡتُونِي بِأَهۡلِكُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٩٣﴾

(93) تاسو زما دا کميس يوسئ، نو دا زما د پلار پر مخ واچوئ، هغه به ببرته بينا شي او تاسو، سره له خپل اهله ټول ما ته راشئ

وَلَمَّا فَصَلَتِ ٱلۡعِيرُ قَالَ أَبُوهُمۡ إِنِّي لَأَجِدُ رِيحَ يُوسُفَۖ لَوۡلَآ أَن

(94) او کله چې قافله (د مصر له حدودو) ووتله، د هغوی پلار وويل: ببشکه زه چې يم

تُفَنِّدُونِ ﴿٩٤﴾

يقينًا د يوسف خوشبويي محسوسوم که چېرې تاسو ما ته د بوډاوالي د کم عقلۍ نسبت ونه کړئ (نو زما تصديق به وکړئ)

قَالُواْ تَٱللَّهِ إِنَّكَ لَفِي ضَلَٰلِكَ ٱلۡقَدِيمِ ﴿٩٥﴾

(95) (ده ته حاضرينو) وويل: بېشکه ته چې يې، خامخا په خپلې پخوانۍ خطا کې پروت يې

فَلَمَّآ أَن جَآءَ ٱلۡبَشِيرُ أَلۡقَىٰهُ عَلَىٰ وَجۡهِهِۦ فَٱرۡتَدَّ بَصِيرٗاۖ قَالَ أَلَمۡ أَقُل لَّكُمۡ إِنِّيٓ أَعۡلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٩٦﴾

(96) نو هغه وخت چې زېرى کوونکى ثنګه راغى، نو د ده پر مخ يې هغه (کميس) واچوه، نو دى بينا وګرځېده، هغه (يعقوب) وويل: ايا ما تاسو ته نه وو ويلي؟ بېشکه زه ( د الله په ښودني سره) پر هغه څه پوهېږم چې تاسو پرې نه پوهېږئ

قَالُواْ يَٰٓأَبَانَا ٱسۡتَغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَآ إِنَّا كُنَّا خَٰطِـِٔينَ ﴿٩٧﴾

(97) هغوى وويل: اى زمونږ پلاره! زمونږ لپاره (له الله نه) زمونږ د ګناهونو بخښنه وغواړه، بېشکه مونږ خطا کار وو

قَالَ سَوۡفَ أَسۡتَغۡفِرُ لَكُمۡ رَبِّيٓۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٩٨﴾

(98) هغه وويل: عنقريب به زه تاسو لپاره له خپل رب نه بخښنه وغواړم، بېشکه هغه، هم هغه، ښه بخښونکى، بې حده رحم کوونکى دى

فَلَمَّا دَخَلُواْ عَلَىٰ يُوسُفَ ءَاوَىٰٓ

(99) نو کله چې دوى پر يوسف ورننوتل، نو

إِلَيۡهِ أَبَوَيۡهِ وَقَالَ ٱدۡخُلُواْ مِصۡرَ إِن
شَآءَ ٱللَّهُ ءَامِنِينَ ﴿٩٩﴾

خپل مور و پلار يې خپل ځان ته رانژدې کړل او ويې ويل: تاسو مصر ته داخل شئ، په داسې حال کې چې په امن کې به يئ که الله وغواړي

وَرَفَعَ أَبَوَيۡهِ عَلَى ٱلۡعَرۡشِ وَخَرُّواْ
لَهُۥ سُجَّدٗاۖ وَقَالَ يَٰٓأَبَتِ هَٰذَا
تَأۡوِيلُ رُءۡيَٰيَ مِن قَبۡلُ قَدۡ جَعَلَهَا
رَبِّي حَقّٗاۖ وَقَدۡ أَحۡسَنَ بِيٓ إِذۡ
أَخۡرَجَنِي مِنَ ٱلسِّجۡنِ وَجَآءَ
بِكُم مِّنَ ٱلۡبَدۡوِ مِنۢ بَعۡدِ أَن
نَّزَغَ ٱلشَّيۡطَٰنُ بَيۡنِي وَبَيۡنَ إِخۡوَتِيٓۚ
إِنَّ رَبِّي لَطِيفٞ لِّمَا يَشَآءُۚ إِنَّهُۥ هُوَ
ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿١٠٠﴾

(100) او خپل مور و پلار يې (له ځان سره) په تخت باندې پورته کړل، او دوی (ټول) ده ته پرېوتل سجده کوونکي او ده وويل: ای زما پلار جانه! دا زما د هغه خوب تعبير دی چې مخکې مالېدلی و، يقينًا هغه زما رب رښتيا وګرځاوه، او يقينًا هغه پر ما احسان وکړ کله چې يې زه له جېل نه راووېستم او تاسو يې له ميرې (صحرا) نه راوستئ، وروسته له دې چې شيطان زما او زما د وروڼو په مينځ کې جګړه غورځولې وه، بېشکه زما رب باريک تدبير والا دی، د هغه (شي) لپاره چې اراده يې وکړي، بېشکه هغه، هم هغه، ښه عالم، ښه حکمت والا دی

۞رَبِّ قَدۡ ءَاتَيۡتَنِي مِنَ ٱلۡمُلۡكِ
وَعَلَّمۡتَنِي مِن تَأۡوِيلِ ٱلۡأَحَادِيثِۚ
فَاطِرَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ أَنتَ
وَلِيِّۦ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۖ تَوَفَّنِي

(101) ای زما ربه! يقينًا تا ما ته (د) څه (علاقې) بادشاهي راکړې ده، او تا ما ته د خوبونو د تعبير علم راکړی دی، ای د اسمانونو او ځمکې پيدا کوونکيه! په دنيا او اخرت کې هم ته زما کارساز يې، ته ما ته

مُسۡلِمٗا وَأَلۡحِقۡنِي بِٱلصَّٰلِحِينَ ١٠١

وفات راکړه، په داسې حال کې چې مسلمان يم او ته ما له نېکانو صالحانو سره يو ځای کړه

ذَٰلِكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلۡغَيۡبِ نُوحِيهِ إِلَيۡكَۖ وَمَا كُنتَ لَدَيۡهِمۡ إِذۡ أَجۡمَعُوٓاْ أَمۡرَهُمۡ وَهُمۡ يَمۡكُرُونَ ١٠٢

**(102)** دا د غيب له خبرونو څني دي چې هغه مونږ تا ته وحي کوو او ته له هغوی سره نه وې کله چې هغوی د خپل کار پخه اراده وکړه، په داسې حال کې چې دوی مکر (او فريب) کاوه

وَمَآ أَكۡثَرُ ٱلنَّاسِ وَلَوۡ حَرَصۡتَ بِمُؤۡمِنِينَ ١٠٣

**(103)** او زياتره خلق، اگر که ته (د دوی پر ايمان راوړلو) حرص وکړې (بيا هم) هېڅکله ايمان راوړونکي نه دي

وَمَا تَسۡـَٔلُهُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍۚ إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ لِّلۡعَٰلَمِينَ ١٠٤

**(104)** او ته له دوی نه په دې (تبليغ د قرآن) باندې هېڅ اجر نه غواړې، نه دی دا مگر د ټولو خلقو لپاره (د الله له جانبه) نصيحت

وَكَأَيِّن مِّنۡ ءَايَةٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ يَمُرُّونَ عَلَيۡهَا وَهُمۡ عَنۡهَا مُعۡرِضُونَ ١٠٥

**(105)** او څومره ډېر دليلونه دي په اسمانونو او ځمکه کې، چې دوی پرې تېرېږي، په داسې حال کې چې دوی له هغو نه مخ اړوونکي وي

وَمَا يُؤۡمِنُ أَكۡثَرُهُم بِٱللَّهِ إِلَّا وَهُم مُّشۡرِكُونَ ١٠٦

**(106)** او د دوی زياتره پر الله ايمان نه لري، مگر په داسې حال کې چې دوی شرک کوونکي وي

أَفَأَمِنُوٓاْ أَن تَـأۡتِيَهُمۡ غَٰشِيَةٞ مِّنۡ عَذَابِ ٱللَّهِ أَوۡ تَـأۡتِيَهُمُ ٱلسَّاعَةُ بَغۡتَةٗ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ١٠٧

(107) ايا نو دوی په امن کې شوي دي له دي نه چې په دوی باندې د الله له عذاب نه پټوونکې (راګېروونکې) برخه راشي، یا په دوی باندې ناڅاپه قیامت راشي، په داسې حال کې چې دوی به نه پوهېږي

قُلۡ هَٰذِهِۦ سَبِيلِيٓ أَدۡعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِۚ عَلَىٰ بَصِيرَةٍ أَنَا۠ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِيۖ وَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ١٠٨

(108) ته ووایه: دا زما لاره ده، د الله په طرف بلنه کوم، په ښه بیان او بصیرت سره، زه او هغه څوك چې زما پیروي کوي، او الله پاك دی، او زه له شرك کوونکو څخه نه یم

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ إِلَّا رِجَالٗا نُّوحِيٓ إِلَيۡهِم مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡقُرَىٰٓۗ أَفَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۗ وَلَدَارُ ٱلۡأٓخِرَةِ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ١٠٩

(109) او مونږ له تا نه مخکې (د رسولانو په طور) نه دي لېږلي مګر سړي چې مونږ به هغوی ته وحی کوله، چې د کلیو (ښارونو) اوسېدونکي وو، ایا نو دوی په ځمکه کې نه دي ګرځېدلي، پس چې لیدلي یې وی چې د هغو (مجرمو) کسانو انجام څنګه و چې له دوی نه مخکې وو، او یقینًا د اخرت کور د هغو کسانو لپاره ډېر غوره دی چې (له شرك او کفر نه) ځان ساتي، ایا نو تاسو له عقل نه کار نه اخلئ؟

حَتَّىٰٓ إِذَا ٱسۡتَيۡـَٔسَ ٱلرُّسُلُ وَظَنُّوٓاْ

(110) تر هغه پورې چې رسولان به (د خلکو

أَنَّهُمۡ قَدۡ كُذِبُواْ جَآءَهُمۡ نَصۡرُنَا فَنُجِّيَ مَن نَّشَآءُۖ وَلَا يُرَدُّ بَأۡسُنَا عَنِ ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ١١٠

له ايمان راوړو نه) نا امېده شول او هغو (كافرو خلقو) به دا يقين وكړ چې بېشكه دغو (رسولان) چې دي، يقينًا دوی ته دروغ ويل شوي دي (،نو) دوی (رسولانو) ته به زمونږ مدد راغی، بيا به هغه چا ته نجات وركړی شو چې مونږ به غوښتل او زمونږ عذاب له مجرمو (كافرو) خلقو نه نشي دفع كېدلی

لَقَدۡ كَانَ فِي قَصَصِهِمۡ عِبۡرَةٞ لِّأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِۗ مَا كَانَ حَدِيثٗا يُفۡتَرَىٰ وَلَٰكِن تَصۡدِيقَ ٱلَّذِي بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَتَفۡصِيلَ كُلِّ شَيۡءٖ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٗ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ١١١

(111) يقينًا يقينًا د دوی (د قصې) په بيان كې د خالصو عقلونو والاوو لپاره ښه عبرت دی، دغه (قرآن) داسې خبره ښېخې نه ده چې له ځانه په دروغو جوړه كړی شوې وي او لېكن (دغه قرآن) د هغو (كتابونو) تصديق دی چې له ده نه مخكې وو او د هر شي تفصيل (بيان) دی او هدايت او رحمت دی د هغه قوم لپاره چې (پر الله او د هغه پر رسول) ايمان لري

## سُورَةُ الرَّعْدِ

## سورۀ رعد

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكی دی**

الٓمٓرۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِۗ وَٱلَّذِيٓ

(1) الف، لام، ميم، را، دا د كتاب ايتونه دي او

أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ ٱلۡحَقُّ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يُؤۡمِنُونَ ١

هغه (کتاب) چې تا ته د خپل رب له جانبه نازل کړی شوی دی، حق دی او لېکن زیاتره خلق ایمان نه راوړي

ٱللَّهُ ٱلَّذِي رَفَعَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ بِغَيۡرِ عَمَدٖ تَرَوۡنَهَاۖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ كُلّٞ يَجۡرِي لِأَجَلٖ مُّسَمّٗىۚ يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَ يُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لَعَلَّكُم بِلِقَآءِ رَبِّكُمۡ تُوقِنُونَ ٢

(2) الله هغه ذات دی چې اسمانونه یې اوچت کړي دي، بې له ستنو، چې تاسو هغه وینئ، بیا یې په عرش باندې برقرار شو، او ده لمر او سپوږمۍ مسخر کړي دي، هر یو یې تر مقررې نېټې پورې روان دی، هغه، د هر کار تدبیر کوي، دلیلونه ښه په تفصیل سره بیانوي، د دې لپاره چې تاسو د خپل رب پر ملاقات یقین وکړئ

وَهُوَ ٱلَّذِي مَدَّ ٱلۡأَرۡضَ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَٰسِيَ وَأَنۡهَٰرٗاۖ وَمِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ جَعَلَ فِيهَا زَوۡجَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِۖ يُغۡشِي ٱلَّيۡلَ ٱلنَّهَارَۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ٣

(3) او دی همغه ذات دی چې ځمکه یې غوړولې ده او په هغې کې یې پاخه غرونه ایښي او نهرونه یې روان کړي دي او له هر قسمه مېوو نه یې په دغې کې دوه دوه جوړې پیدا کړي دي، هغه په شپې سره ورځ پټوي، بېشکه په دې کې د هغو خلقو لپاره یقینًا نښې دي چې فکر (او غور) کوي

وَفِي ٱلۡأَرۡضِ قِطَعٞ مُّتَجَٰوِرَٰتٞ وَجَنَّٰتٞ مِّنۡ أَعۡنَٰبٖ وَزَرۡعٞ

(4) او په ځمکه کې څنګ په څنګ پیوستې ټوټې دي او د انګورو باغونه دي او فصلونه دي او د کجورو ونې دي چې له یوه بېخه

وَنَخِيلٞ صِنۡوَانٞ وَغَيۡرُ صِنۡوَانٖ يُسۡقَىٰ بِمَآءٖ وَٰحِدٖ وَنُفَضِّلُ بَعۡضَهَا عَلَىٰ بَعۡضٖ فِي ٱلۡأُكُلِۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ٤

پورته شوي دي او ځينې ځان ته (جدا) ببخ لري، چې په يوۀ قسم اوبو سره اوبه كولی شي او مونږ په هغو كې ځينو ته په نورو باندې په مېوه (او خوند) كې فضيلت وركوو، بېشكه په دې كې د هغو خلقو لپاره يقينًا نښې دي چې له عقل نه كار اخلي

۞وَإِن تَعۡجَبۡ فَعَجَبٞ قَوۡلُهُمۡ أَءِذَا كُنَّا تُرَٰبًا أَءِنَّا لَفِي خَلۡقٖ جَدِيدٍۗ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِرَبِّهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ ٱلۡأَغۡلَٰلُ فِيٓ أَعۡنَاقِهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٥

(5) او كه ته تعجب كوې، نو د دوی (دا) خبره ډېره عجيبه ده چې(وايي:) ايا چې كله مونږ خاورې شو، ايا نو مونږ به په رښتيا نوي تخليق كې يو (بيا به له نوي سره پيدا كولی شو)؟ دوی همغه كسان دي چې په خپل رب سره كافران شوي دي او دغه كسان دي چې طوقونه به يې په غاړو كې وي او دغه كسان د اور ملګري دي، دوی به په هغه كې تل ترتله وي

وَيَسۡتَعۡجِلُونَكَ بِٱلسَّيِّئَةِ قَبۡلَ ٱلۡحَسَنَةِ وَقَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهِمُ ٱلۡمَثُلَٰتُۗ وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغۡفِرَةٖ لِّلنَّاسِ عَلَىٰ ظُلۡمِهِمۡۖ وَإِنَّ رَبَّكَ لَشَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ٦

(6) او دوی له تا نه له نېكۍ (رحمت) نه مخكې بدۍ ژر غواړي او يقينًا له دوی نه مخكې (له عبرته ډك) عذابونه تېر شوي دي او بېشكه ستا رب د خلقو لپاره د هغوی د ظلم باوجود يقينًا د لوی مغفرت والا دی او بېشكه ستا رب يقينًا ډېر سخت عذاب والا دی

وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ
عَلَيۡهِ ءَايَةٞ مِّن رَّبِّهِۦٓۗ إِنَّمَآ أَنتَ
مُنذِرٞۖ وَلِكُلِّ قَوۡمٍ هَادٍ ٧

(7) او هغه کسان چې کفر یې کړی دی، وايي: ولې په ده باندې د خپل رب له جانبه کومه نښه نه ده نازل کړی شوې؟ یقینًا همدا خبره ده چې ته وېروونکی یې او د هر قوم لپاره یو لار ښودونکی دی

ٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا تَحۡمِلُ كُلُّ أُنثَىٰ وَمَا
تَغِيضُ ٱلۡأَرۡحَامُ وَمَا تَزۡدَادُۖ وَكُلُّ
شَيۡءٍ عِندَهُۥ بِمِقۡدَارٍ ٨

(8) الله پوهېږي پر هغه څه چې هره ښځه یې (په خپله خېټه کې) اوچتوي او پر هغه څه چې رحمونه یې کموي او پر هغه څه چې زیاتوي یې او هر شی له هغه سره په اندازې سره دی

عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ٱلۡكَبِيرُ
ٱلۡمُتَعَالِ ٩

(9) د غیبو او د ښکاره و عالم دی، ډېر لوی، لوړ برتر دی

سَوَآءٞ مِّنكُم مَّنۡ أَسَرَّ ٱلۡقَوۡلَ
وَمَن جَهَرَ بِهِۦ وَمَنۡ هُوَ
مُسۡتَخۡفِۭ بِٱلَّيۡلِ وَسَارِبُۢ
بِٱلنَّهَارِ ١٠

(10) (د هغۀ په وړاندې ټول) یو برابر دي، څوك چې په تاسو کې خبره ورو وکړي او څوك چې یې څرګنده وکړي او هغه څوك چې هغه په شپه کې پټېدونکی دی او په ورځ کې ظاهرېدونکی دی

لَهُۥ مُعَقِّبَٰتٞ مِّنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَمِنۡ
خَلۡفِهِۦ يَحۡفَظُونَهُۥ مِنۡ أَمۡرِ ٱللَّهِۗ
إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوۡمٍ حَتَّىٰ

(11) د دغه (انسان) لپاره د ده له مخې او د ده له شا نه نوبت په نوبت په یو بل پسې راتلونکي (ملایك) دي چې د الله په امر سره د

| | |
|---|---|
| يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنفُسِهِمۡۗ وَإِذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِقَوۡمٖ سُوٓءٗا فَلَا مَرَدَّ لَهُۥۚ وَمَا لَهُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَالٍ ﴿١١﴾ | ده ساتنه کوي، ببشکه الله د هېڅ قوم حالت نه بدلوي تر هغه پورې چې هغوی (پخپله) د خپلو نفسونو حالت بدل کړي او کله چې الله يو قوم ته د بدی (او تکليف رسولو) اراده وکړي، نو د هغې لپاره هېڅ بېرته ګرځېدل نشته او د دوی لپاره له هغه نه غير هيڅوک مددګار نشته |
| هُوَ ٱلَّذِي يُرِيكُمُ ٱلۡبَرۡقَ خَوۡفٗا وَطَمَعٗا وَيُنشِئُ ٱلسَّحَابَ ٱلثِّقَالَ ﴿١٢﴾ | (12) دی همغه ذات دی چې تاسو ته برېښنا د وېرولو او طمع درکولو لپاره درښيي او درنې ورېځې پيدا کوي |
| وَيُسَبِّحُ ٱلرَّعۡدُ بِحَمۡدِهِۦ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ مِنۡ خِيفَتِهِۦ وَيُرۡسِلُ ٱلصَّوَٰعِقَ فَيُصِيبُ بِهَا مَن يَشَآءُ وَهُمۡ يُجَٰدِلُونَ فِي ٱللَّهِ وَهُوَ شَدِيدُ ٱلۡمِحَالِ ﴿١٣﴾ | (13) او رعد د هغه له حمد سره تسبيح وايي او ملايك (هم) د هغه له وېرې نه او هغه تندرونه لېږي، نو چا ته چې وغواړي دا ورته رسوي، په داسې حال کې چې دوی د الله په باره کې جګړه کوي او هغه ډېر سخت سزا والا دی |
| لَهُۥ دَعۡوَةُ ٱلۡحَقِّۚ وَٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَسۡتَجِيبُونَ لَهُم بِشَيۡءٍ إِلَّا كَبَٰسِطِ كَفَّيۡهِ إِلَى ٱلۡمَآءِ لِيَبۡلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَٰلِغِهِۦۚ | (14) خاص د هغه لپاره حق بلل دي او هغه (معبودان) چې دوی يې له هغه نه پرته بلي؛ هغه د دوی هېڅ دعا نشي قبلولی مګر په شان د هغه کس چې اوبو ته خپل دواړه ورغوي (لاسونه) غځوونکی وي، د دې لپاره |

وَمَا دُعَآءُ ٱلۡكَٰفِرِينَ إِلَّا فِي
ضَلَٰلٖ ١٤

چې هغه د ده خولې ته راورسي، حال دا چې
دغه (اوبه خولې د) ده ته رسېدونکې نه دي او
د کافرانو دعا نه ده مګر ببخي په تاوان کې
ده

وَلِلَّهِ يَسۡجُدُ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضِ طَوۡعٗا وَكَرۡهٗا وَظِلَٰلُهُم
بِٱلۡغُدُوِّ وَٱلۡأٓصَالِ۩ ١٥

**(15)** او خاص الله ته سجده کوي هغه څوك
چې په اسمانونو او ځمکه کې دي په خوښه او
په زور او د هغوی سيوري (هم سجده کوي)
سبا او بېګاه

قُلۡ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ
قُلِ ٱللَّهُۚ قُلۡ أَفَٱتَّخَذۡتُم مِّن دُونِهِۦٓ
أَوۡلِيَآءَ لَا يَمۡلِكُونَ لِأَنفُسِهِمۡ
نَفۡعٗا وَلَا ضَرّٗاۚ قُلۡ هَلۡ يَسۡتَوِي
ٱلۡأَعۡمَىٰ وَٱلۡبَصِيرُ أَمۡ هَلۡ تَسۡتَوِي
ٱلظُّلُمَٰتُ وَٱلنُّورُۗ أَمۡ جَعَلُواْ لِلَّهِ
شُرَكَآءَ خَلَقُواْ كَخَلۡقِهِۦ فَتَشَٰبَهَ
ٱلۡخَلۡقُ عَلَيۡهِمۡۚ قُلِ ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ
شَيۡءٖ وَهُوَ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّٰرُ ١٦

**(16)** ته (دوی ته) ووايه: د اسمانونو او ځمکې
رب څوك دی؟ ته ووايه: الله دی، (نو ورته)
ووايه: ايا نو تاسو له هغه نه غير نور کار سازان
(دوستان) جوړ کړي دي چې د خپلو ځانونو
لپاره نه د نفعې اختيار لري او نه د ضرر (لري
کولو) ته ووايه: ايا ړوند او بينا سره برابر دي؟
بلکې (دا ورته ووايه:) ايا سره برابرې دي
تيارې او رڼا، يا دوی د الله لپاره داسې
شريکان مقرر کړي دي چې د هغه د پيدا
کولو په شان پيدا کول يې کړي دي، بيا په
دوی باندې پيدا کول مشتبه شوي دي؟ ته
ووايه: الله د هر شي پيدا کوونکی دی او هم
هغه يو دی، ډېر غالب دی

أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَسَالَتۡ أَوۡدِيَةُۢ بِقَدَرِهَا فَٱحۡتَمَلَ ٱلسَّيۡلُ زَبَدٗا رَّابِيٗاۖ وَمِمَّا يُوقِدُونَ عَلَيۡهِ فِي ٱلنَّارِ ٱبۡتِغَآءَ حِلۡيَةٍ أَوۡ مَتَٰعٖ زَبَدٞ مِّثۡلُهُۥۚ كَذَٰلِكَ يَضۡرِبُ ٱللَّهُ ٱلۡحَقَّ وَٱلۡبَٰطِلَۚ فَأَمَّا ٱلزَّبَدُ فَيَذۡهَبُ جُفَآءٗۖ وَأَمَّا مَا يَنفَعُ ٱلنَّاسَ فَيَمۡكُثُ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ كَذَٰلِكَ يَضۡرِبُ ٱللَّهُ ٱلۡأَمۡثَالَ ١٧

(17) هغه له بره نه اوبه نازلې کړې، نو خوړونه په خپلې اندازې سره وبهېدل، نو سیلاب اوچت شوی ځګ راپورته کړ او له هغو څیزونو نه هم چې دوی پرې په اور کې د ګاڼې، یا سامان جوړولو لپاره بلول کوي، د دې په مثل ځګ وي، همدارنګه الله (مثال د) حق او باطل بیانوي، نو هر چې ځګ دی، نو هغه بې کاره لاړ شي او هر چې هغه څیز دی چې خلقو ته فایده رسوي، نو هغه په ځمکه کې پاتې کېږي، همدارنګه الله مثالونه بیانوي

لِلَّذِينَ ٱسۡتَجَابُواْ لِرَبِّهِمُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ وَٱلَّذِينَ لَمۡ يَسۡتَجِيبُواْ لَهُۥ لَوۡ أَنَّ لَهُم مَّا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا وَمِثۡلَهُۥ مَعَهُۥ لَٱفۡتَدَوۡاْ بِهِۦٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ سُوٓءُ ٱلۡحِسَابِ وَمَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ١٨

(18) هم د هغو کسانو لپاره نېکه بدله ده چې د خپل رب حکم یې قبول کړی دی او هغه کسان چې د هغه حکم یې نه دی قبول کړی که له دوی سره په رښتیا هر هغه څه وي چې په ځمکه کې دي ټول او د دغو په مثل نور هم له ده سره وي (، نو) خامخا به دوی هغه په فدیه کې ورکړي، دغه کسان دي چې د دوی لپاره بد حساب دی او د دوی استوګنځای جهنم دی او هغه بد ارام ځای دی

۞أَفَمَن يَعۡلَمُ أَنَّمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ

(19) ایا نو هغه څوک چې پر دې پوهېږي چې

مِن رَّبِّكَ ٱلۡحَقُّ كَمَنۡ هُوَ أَعۡمَىٰٓۚ
إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ١٩

ببشکه هغه (قرآن) چې تا ته د خپل رب له جانبه نازل کړی شوی دی، حق دی، د هغه چا په شان دی چې هغه ړوند دی؟ یقیناً همدا خبره ده چې نصیحت د خالصو عقلونو والا اخلي

ٱلَّذِينَ يُوفُونَ بِعَهۡدِ ٱللَّهِ وَلَا
يَنقُضُونَ ٱلۡمِيثَٰقَ ٢٠

(20) هغه کسان چې د الله وعده پوره کوي او پخه وعده نه ماتوي

وَٱلَّذِينَ يَصِلُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ
أَن يُوصَلَ وَيَخۡشَوۡنَ رَبَّهُمۡ
وَيَخَافُونَ سُوٓءَ ٱلۡحِسَابِ ٢١

(21) او هغه کسان چې هغه څه وصل کوي چې الله د هغه د پیوست ساتلو حکم کړی دی او له خپل رب څخه ویرېږي او له بد حساب نه ویره کوي

وَٱلَّذِينَ صَبَرُواْ ٱبۡتِغَآءَ وَجۡهِ رَبِّهِمۡ
وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنفَقُواْ مِمَّا
رَزَقۡنَٰهُمۡ سِرّٗا وَعَلَانِيَةٗ وَيَدۡرَءُونَ
بِٱلۡحَسَنَةِ ٱلسَّيِّئَةَ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ
عُقۡبَى ٱلدَّارِ ٢٢

(22) او هغه کسان چې د خپل رب د مخ لټونې لپاره یې صبر کړی دی او لمونځ یې قایم کړی دی او له هغه څه نه یې چې مونږ ورته ورکړي دي؛ په پټه او ښکاره انفاق کړی دی او هغوی په نېکۍ سره بدي دفع کوي دغه کسان چې دي د دوی لپاره د اخرت ښه انجام دی

جَنَّٰتُ عَدۡنٖ يَدۡخُلُونَهَا وَمَن
صَلَحَ مِنۡ ءَابَآئِهِمۡ وَأَزۡوَٰجِهِمۡ

(23) چې د تل اوسېدلو جنتونه دي، دوی به هغو ته داخلېږي، او هغوی به هم (داخلېږي)

وَذُرِّيَّٰتِهِمۡۖ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَدۡخُلُونَ عَلَيۡهِم مِّن كُلِّ بَابٖ ٢٣

چې صالح (صلاحيت لري) وي د دوی له پلرونو څخه او د دوی له جوړو (ښځو) څخه او د دوی له اولادونو څخه او ملايك به په دوی باندې له هرې دروازې نه ورننوځي

سَلَٰمٌ عَلَيۡكُم بِمَا صَبَرۡتُمۡۚ فَنِعۡمَ عُقۡبَى ٱلدَّارِ ٢٤

(24) (او وايي به) ستاسو د صبر کولو په سبب دې پر تاسو باندې سلام وي، نو (دا) د اخرت ښه انجام دی

وَٱلَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهۡدَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مِيثَٰقِهِۦ وَيَقۡطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيُفۡسِدُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱللَّعۡنَةُ وَلَهُمۡ سُوٓءُ ٱلدَّارِ ٢٥

(25) او هغه کسان چې د الله عهد ماتوي د هغه (عهد) له پخولو نه وروسته او هغه څه پرېکوي چې الله د هغه د وصلولو حکم کړی دی او په ځمکه کې فساد کوي، هم دغه کسان دي چې د دوی لپاره لعنت دی او هم د دوی لپاره د اخرت بدي ده

ٱللَّهُ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ وَفَرِحُواْ بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا مَتَٰعٞ ٢٦

(26) الله روزي فراخوي چا ته چې وغواړي او تنګوي يې (چا ته چې يې وغواړي) او دوی پر دنيايي ژوند خوشحاله شوي دي او دنيايي ژوند د اخرت په مقابله کې نه دی مګر لږه متاع (سامان)

وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ ءَايَةٞ مِّن رَّبِّهِۦۚ قُلۡ إِنَّ ٱللَّهَ

(27) او وايي هغه کسان چې کفر يې کړی دی: په ده باندې د خپل رب له جانبه کومه نښه (معجزه) ولې نه ده نازل کړې شوې؟ ته

يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِيٓ إِلَيۡهِ مَنۡ أَنَابَ ٢٧

(ورته) ووايه: بېشکه الله چې چا ته وغواړي گمراه کوي يې او خپل طرف ته هغه چا ته هدايت کوي چې رجوع وکړي

ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَتَطۡمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكۡرِ ٱللَّهِۗ أَلَا بِذِكۡرِ ٱللَّهِ تَطۡمَئِنُّ ٱلۡقُلُوبُ ٢٨

(28) هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او د هغوی زړونه د الله په ذکر سره مطمئن کېږي، خبردار شئ! يواځې د الله په ذکر (ياد) سره زړونه مطمئن کېږي

ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ طُوبَىٰ لَهُمۡ وَحُسۡنُ مَـَٔابٖ ٢٩

(29) هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او نېک عملونه يې کړي دي، د دوی لپاره ښه حال دی او ښه استوګنځای دی

كَذَٰلِكَ أَرۡسَلۡنَٰكَ فِيٓ أُمَّةٖ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهَآ أُمَمٞ لِّتَتۡلُوَاْ عَلَيۡهِمُ ٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ وَهُمۡ يَكۡفُرُونَ بِٱلرَّحۡمَٰنِۚ قُلۡ هُوَ رَبِّي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَإِلَيۡهِ مَتَابِ ٣٠

(30) (ای نبي) همدارنګه ته مونږ په داسې امت کې لېږلی يې چې يقيناً له هغه نه مخکې ډېر امتونه تېر شوي دي، د دې لپاره چې ته دوی ته هغه (پېغام) ولولې چې مونږ تا ته وحي کړی دی، په داسې حال کې چې دوی په رحمٰن سره کفر کوي، ته ووايه: هغه زما رب دی، له هغه نه غير د عبادت هېڅ لايق نشته، خاص پر هغه باندې ما توکل کړی دی او خاص هم هغهٔ ته زما بېرته ورتله دي

وَلَوۡ أَنَّ قُرۡءَانٗا سُيِّرَتۡ بِهِ ٱلۡجِبَالُ

(31) او که بېشکه (دا) قرآن چې دی (داسې شي چې) په ده سره غرونه روان کړی شي، يا

أَوۡ قُطِّعَتۡ بِهِ ٱلۡأَرۡضُ أَوۡ كُلِّمَ بِهِ
ٱلۡمَوۡتَىٰۗ بَل لِّلَّهِ ٱلۡأَمۡرُ جَمِيعًاۗ أَفَلَمۡ
يَاْيۡـَٔسِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَن لَّوۡ يَشَآءُ
ٱللَّهُ لَهَدَى ٱلنَّاسَ جَمِيعٗاۗ وَلَا
يَزَالُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ تُصِيبُهُم بِمَا
صَنَعُواْ قَارِعَةٌ أَوۡ تَحُلُّ قَرِيبٗا مِّن
دَارِهِمۡ حَتَّىٰ يَأۡتِيَ وَعۡدُ ٱللَّهِۚ إِنَّ
ٱللَّهَ لَا يُخۡلِفُ ٱلۡمِيعَادَ ٣١

په ده سره ځمکه ټوټې کړی شي، یا په ده سره مړي په خبرو راوستل شي (بیا به هم دوی ایمان رانه وړي) بلکې امر (اختیار) ټول خاص الله لپاره دی، ایا نو هغه کسان چې ایمان یې راوړو (د دغو خلقو له ایمان نه) نا امیده شوي نه دي، (حال دا چې دغه مومنان پوهېږي چې) که الله غوښتلی، نو یقینًا ټولو خلقو ته به یې هدایت کړی و او هغه کسان چې کفر یې کړی دی، همېشه به دوی ته د خپلو کړو عملونو په سبب زړه ټکوونکی (عذاب) رسېږي، یا به د دوی کورونو ته نژدې راکوزېږي، تر هغه پورې چې د الله وعده راشي، بېشکه الله د وعدې خلاف نه کوي

وَلَقَدِ ٱسۡتُهۡزِئَ بِرُسُلٖ مِّن قَبۡلِكَ
فَأَمۡلَيۡتُ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ ثُمَّ
أَخَذۡتُهُمۡۖ فَكَيۡفَ كَانَ عِقَابِ ٣٢

(32) او یقینًا یقینًا له تا نه په مخکې رسولانو پورې استهزا (او مسخرې) شوې وې، نو ما کافران شویو خلقو ته مهلت ورکړ، بیا مې هغوی ونیول، نو (بیا) زما عذاب څنګه و؟

أَفَمَنۡ هُوَ قَآئِمٌ عَلَىٰ كُلِّ نَفۡسِۭ بِمَا
كَسَبَتۡۗ وَجَعَلُواْ لِلَّهِ شُرَكَآءَ قُلۡ
سَمُّوهُمۡۚ أَمۡ تُنَبِّـُٔونَهُۥ بِمَا لَا يَعۡلَمُ
فِي ٱلۡأَرۡضِ أَم بِظَٰهِرٖ مِّنَ ٱلۡقَوۡلِۗ

(33) ایا نو هغه ذات چې ولاړ (او نګران) دی پر هر نفس باندې سره د هغه د هغو عملونو چې کوي یې (نو بل څوك د ده برابر کېدی شي؟) او دوی د الله لپاره شریکان مقرر کړل، ته (ورته) ووایه: تاسو د دوی نومونه (او

بَلۡ زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ مَكۡرُهُمۡ
وَصُدُّواْ عَنِ ٱلسَّبِيلِۗ وَمَن يُضۡلِلِ
ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِنۡ هَادٖ ٣٣

صفتونه) ذکر کړئ، یا تاسو هغه (الله) ته د هغه څه خبر ورکوئ چې هغه یې په ځمکه کې نه پېژني، بلکې تاسو په ظاهره (بې دلیله) وینا سره (تش په خولې، دوی شریکان جوړوئ) بلکې کافران شویو کسانو ته خپل مکرونه (او دروغ) ښایسته کړی شوي دي او له سمې لارې نه بند کړی شوي دي او هغه څوک چې الله یې گمراه کړي، نو د هغه لپاره هېڅ هدایت ورکوونکی نشته

لَّهُمۡ عَذَابٞ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ
وَلَعَذَابُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَشَقُّۖ وَمَا لَهُم
مِّنَ ٱللَّهِ مِن وَاقٖ ٣٤

**(34)** شته دی د دوی لپاره عذاب په دنیایي ژوند کې او خامخا د اخرت عذاب ډېر سخت دی، او د دوی لپاره به د الله (له عذاب) نه هېڅ ساتونکی نه وي

۞مَّثَلُ ٱلۡجَنَّةِ ٱلَّتِي وُعِدَ ٱلۡمُتَّقُونَۖ
تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ أُكُلُهَا
دَآئِمٞ وَظِلُّهَاۚ تِلۡكَ عُقۡبَى ٱلَّذِينَ
ٱتَّقَواْۚ وَّعُقۡبَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ٱلنَّارُ ٣٥

**(35)** د هغه جنت حال چې له متقیانو سره یې وعده شوې ده (دا دی چې) د هغهٔ له لاندې ولې بهېږي، د هغهٔ مېوې همېشنی دي او د هغهٔ سیوری هم، دغه (جنت) د هغو کسانو انجام (او د رجوع ځای) دی چې پرهېزګاري کوي او د کافرانو انجام اور دی

وَٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ
يَفۡرَحُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَۖ وَمِنَ

**(36)** او هغه کسان چې مونږ هغوی ته (له تا نه مخکې) کتاب ورکړی دی، هغوی په هغه

ٱلۡأَحۡزَابِ مَن يُنكِرُ بَعۡضَهُۥۚ قُلۡ
إِنَّمَآ أُمِرۡتُ أَنۡ أَعۡبُدَ ٱللَّهَ وَلَآ
أُشۡرِكَ بِهِۦٓۚ إِلَيۡهِ أَدۡعُواْ وَإِلَيۡهِ
مَـَٔابِ ٣٦

(کتاب، قرآن) باندې خوشحالېږي چې تا ته نازل کړی شوی دی، او ( د اهل کتابو) په ډلو کې ځيني هغه دي چې د ده ځيني برخې نه مني، ته (دوی ته) ووايه: ما ته د دې حکم شوی دی چې د الله عبادت کوم او له هغه سره شريك ونه نيسم، خاص د هغهٔ طرف ته بلنه کوم او خاص هم هغهٔ ته زما ورتله دي

وَكَذَٰلِكَ أَنزَلۡنَٰهُ حُكۡمًا عَرَبِيًّاۚ
وَلَئِنِ ٱتَّبَعۡتَ أَهۡوَآءَهُم بَعۡدَ مَا
جَآءَكَ مِنَ ٱلۡعِلۡمِ مَا لَكَ مِنَ ٱللَّهِ
مِن وَلِيّٖ وَلَا وَاقٖ ٣٧

**(37)** او همداسې مونږ دا (قرآن) نازل کړی دی، په عربی ژبه حکم کوونکی او قسم دی که ته د دوی د خواهشاتو پیروي وکړې وروسته له دې چې تا ته علم راغی (،نو) تا لپاره به د الله په مقابله کې نه هېڅ کارساز وي او نه بچ کوونکی

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلٗا مِّن قَبۡلِكَ
وَجَعَلۡنَا لَهُمۡ أَزۡوَٰجٗا وَذُرِّيَّةٗۚ وَمَا
كَانَ لِرَسُولٍ أَن يَأۡتِيَ بِـَٔايَةٍ إِلَّا
بِإِذۡنِ ٱللَّهِۗ لِكُلِّ أَجَلٖ كِتَابٞ ٣٨

**(38)** او يقينًا يقينًا مونږ له تا نه مخکې رسولان لېږلي وو او مونږ دوی ته ښځې او اولادونه ورکړي وو، او د هېڅ رسول لپاره دا اختيار نه و چې کومه معجزه راوړي مگر د الله په اذن (او حکم) سره، د هرې مودې (دور) لپاره يو ليك (، کتاب او قانون) دی

يَمۡحُواْ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ وَيُثۡبِتُۖ
وَعِندَهُۥٓ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ ٣٩

**(39)** الله محوه کوي هغه چې اراده يې وکړي او ثابتوي يې او له هغه سره اصل د کتاب دی

وَإِن مَّا نُرِيَنَّكَ بَعۡضَ ٱلَّذِي نَعِدُهُمۡ أَوۡ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِنَّمَا عَلَيۡكَ ٱلۡبَلَٰغُ وَعَلَيۡنَا ٱلۡحِسَابُ ٤٠

(40) او كه واقعًا مونږ تا ته ځيني له هغه (عذاب) نه وښيو چې دوی ته يې مونږ وعده وركوو، يا خامخا مونږ تا وفات كړو، نو پر تا خو يواځې تبليغ كول دي او پر مونږ باندې حساب كول دي

أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّا نَأۡتِي ٱلۡأَرۡضَ نَنقُصُهَا مِنۡ أَطۡرَافِهَاۚ وَٱللَّهُ يَحۡكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكۡمِهِۦۚ وَهُوَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ٤١

(41) ايا دوی نه ګوري چې يقينًا مونږ ځمكې ته راځو چې د هغې له اطرافو نه يې كموو او الله حكم كوي، هيڅوك د هغهٔ د حكم رد كوونكی نشته او هغه ډېر ژر حساب كوونكی دی

وَقَدۡ مَكَرَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ فَلِلَّهِ ٱلۡمَكۡرُ جَمِيعٗاۖ يَعۡلَمُ مَا تَكۡسِبُ كُلُّ نَفۡسٖۗ وَسَيَعۡلَمُ ٱلۡكُفَّٰرُ لِمَنۡ عُقۡبَى ٱلدَّارِ ٤٢

(42) او يقينًا هغو (كافرانو) مكر كړی و چې له دې (كافرانو) نه مخكې وو، نو خاص الله لره دي پټ تدبيرونه ټول، هغه پوهېږي پر هغه څه چې هر نفس يې كوي، او كافران به ژر پوه شي چې د چا لپاره د اخرت ښه انجام دی

وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَسۡتَ مُرۡسَلٗاۚ قُلۡ كَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدَۢا بَيۡنِي وَبَيۡنَكُمۡ وَمَنۡ عِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلۡكِتَٰبِ ٤٣

(43) او كافران شوي خلق وايي: ته رسول نه يې، ته (ورته) ووايه: زما په مينځ كې او ستاسو په مينځ كې د ګواه په ډول الله ښه كافي دی او هغه څوك (هم) چې له هغهٔ سره د كتاب علم دی

## سُورَةُ إِبۡرَاهِيمَ

## سورة ابراهيم

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

الٓرۚ كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ إِلَيۡكَ لِتُخۡرِجَ ٱلنَّاسَ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ بِإِذۡنِ رَبِّهِمۡ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَمِيدِ ١

(1) الف، لام، را، (دا) کتاب دی چې مونږ تا ته نازل کړی دی، د دې لپاره چې ته خلق له تيارو نه رڼا ته وباسې د دوی د رب په اذن (او حکم) سره، د ډېر غالب، ډېر ستايل شوي ذات لارې ته

ٱللَّهِ ٱلَّذِي لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَوَيۡلٞ لِّلۡكَٰفِرِينَ مِنۡ عَذَابٖ شَدِيدٍ ٢

(2) چې الله دی، هغه چې خاص د هغهٔ لپاره دي هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هغه څه چې په ځمکه کې دي او کافرانو ته له ډېر سخت عذاب نه هلاکت دی

ٱلَّذِينَ يَسۡتَحِبُّونَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا عَلَى ٱلۡأٓخِرَةِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبۡغُونَهَا عِوَجًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ فِي ضَلَٰلِۭ بَعِيدٖ ٣

(3) هغه کسان چې دنيايي ژوند په اخرت باندې غوره ګڼي او د الله له لارې نه بندول کوي او په دې کې کوږوالی لټوي، دغه کسان په ډېرې لرې ګمراهۍ کې دي

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوۡمِهِۦ لِيُبَيِّنَ لَهُمۡۖ فَيُضِلُّ ٱللَّهُ مَن

(4) او مونږ هېڅ يو رسول نه دی لېږلی مګر د خپل قوم په ژبه، د دې لپاره چې دوی ته

يَشَآءُ وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٤

بیان (او وضاحت) وکړي، بیا نو الله گمراه کوي هغه څوك چې یې وغواړي او هدایت ورکوي هغه چا ته چې یې وغواړي، او هم دی ښه غالب، ښه حکمت والا دی

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ أَنۡ أَخۡرِجۡ قَوۡمَكَ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ وَذَكِّرۡهُم بِأَيَّىٰمِ ٱللَّهِۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّكُلِّ صَبَّارٖ شَكُورٖ ٥

(5) او یقینًا یقینًا مونږ موسٰی له خپلو معجزو سره لېږلی و (او دا مو ورته ویلي وو) چې خپل قوم له تیارو نه رڼا ته راوباسه او دوی ته د الله د ورځو یادونه وکړه، بېشکه په دغو کې خامخا د هر ښه صبر کوونکي، ډېر شکر کوونکي لپاره نښې دي

وَإِذۡ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ أَنجَىٰكُم مِّنۡ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ يَسُومُونَكُمۡ سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِ وَيُذَبِّحُونَ أَبۡنَآءَكُمۡ وَيَسۡتَحۡيُونَ نِسَآءَكُمۡۚ وَفِي ذَٰلِكُم بَلَآءٞ مِّن رَّبِّكُمۡ عَظِيمٞ ٦

(6) او كله چې موسٰی خپل قوم ته وویل: تاسو د الله هغه نعمت رایاد کړئ چې پر تاسو باندې شوی دی، كله چې یې تاسو له اٰلِ فرعون نه خلاص کړئ چې هغوی به تاسو ته ډېر سخت عذاب دررساوه او ستاسو زامن به یې حلالول او ستاسو ښځې (لوڼه) به یې ژوندۍ پرېښودلې او په دې کې ستاسو د رب له جانبه ډېر لوی ازمېښت و

وَإِذۡ تَأَذَّنَ رَبُّكُمۡ لَئِن شَكَرۡتُمۡ لَأَزِيدَنَّكُمۡۖ وَلَئِن كَفَرۡتُمۡ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٞ ٧

(7) او كله چې ستاسو رب اعلان وکړ چې قسم دی كه تاسو شکر وباسئ (،نو) زه به خامخا هرومرو تاسو ته (په نعمتونو كې)

اضافه وکړم او قسم دی که تاسو ناشکري وکړئ، نو بېشکه زما عذاب خامخا ډېر سخت دی

وَقَالَ مُوسَىٰٓ إِن تَكۡفُرُوٓاْ أَنتُمۡ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا فَإِنَّ ٱللَّهَ لَغَنِيٌّ حَمِيدٌ ٨

(8) او موسیٰ وویل: که کافران شئ تاسو او هغه خوك چې په ځمکه کې دي، ټول، نو بېشکه الله خامخا ډېر بې پروا، ډېر ستایل شوی دی

أَلَمۡ يَأۡتِكُمۡ نَبَؤُاْ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ قَوۡمِ نُوحٖ وَعَادٖ وَثَمُودَ وَٱلَّذِينَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ لَا يَعۡلَمُهُمۡ إِلَّا ٱللَّهُۚ جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَرَدُّوٓاْ أَيۡدِيَهُمۡ فِيٓ أَفۡوَٰهِهِمۡ وَقَالُوٓاْ إِنَّا كَفَرۡنَا بِمَآ أُرۡسِلۡتُم بِهِۦ وَإِنَّا لَفِي شَكّٖ مِّمَّا تَدۡعُونَنَآ إِلَيۡهِ مُرِيبٖ ٩

(9) ایا تاسو ته د هغو خلقو خبر نه دی راغلی چې له تاسو نه مخکې وو، چې د نوح قوم او عادیان او ثمودیان وو او هغه کسان چې له دوی نه پس وو، چې یواځې الله پر هغو عالم دی، دوی ته خپلو رسولانو ښکاره دلیلونه راوړي وو، نو دوی خپل لاسونه خپلو خولو ته وګرځول او ویې ویل: بېشکه مونږ کافران شوي یو پر هغه څه چې تاسو په هغه سره رالېږل شوي یئ او بېشکه مونږ یقیناً د هغه څه باره کې چې تاسو مونږ هغهٔ ته بلئ په اضطراب اچوونکي شك کې یو

۞قَالَتۡ رُسُلُهُمۡ أَفِي ٱللَّهِ شَكّٞ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ يَدۡعُوكُمۡ لِيَغۡفِرَ لَكُم مِّن

(10) د دوی رسولانو وویل: ایا د الله په باره کې شك دی، چې د اسمانونو او ځمکې پیدا کوونکی دی؟ هغه تاسو رابلي، د دې لپاره

ذُنُوبِكُمۡ وَيُؤَخِّرَكُمۡ إِلَىٰٓ أَجَلٖ
مُّسَمّٗىۚ قَالُوٓاْ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا بَشَرٞ
مِّثۡلُنَا تُرِيدُونَ أَن تَصُدُّونَا عَمَّا
كَانَ يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَا فَأۡتُونَا بِسُلۡطَٰنٖ
مُّبِينٖ ١٠

چې تاسو لپاره ستاسو څه ګناهونه وبخښي او تاسو مقررې نېټې ته وروسته کړي، دوی وویل: نه یئ تاسو مګر زمونږ په شان انسان، تاسو غواړئ چې مونږ له هغه څه نه منع کړئ چې زمونږ پلرونو یې عبادت کاوه، نو (بیا خو) تاسو مونږ ته ښکاره دلیل(معجزه) راوړئ

قَالَتۡ لَهُمۡ رُسُلُهُمۡ إِن نَّحۡنُ إِلَّا
بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَمُنُّ
عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۖ وَمَا
كَانَ لَنَآ أَن نَّأۡتِيَكُم بِسُلۡطَٰنٍ إِلَّا
بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ
ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ١١

(11) دوی ته خپلو رسولانو وویل: مونږ نه یو مګر ستاسو په شان انسانان، او لیکن الله په خپلو بنده ګانو کې چې پر چا وغواړي احسان کوي او مونږ ته له سره اختیار نشته چې تاسو ته کوم دلیل (معجزه) راوړو مګر د الله په حکم سره او لازم ده چې مومنان خاص په الله باندې توکل وکړي

وَمَا لَنَآ أَلَّا نَتَوَكَّلَ عَلَى ٱللَّهِ وَقَدۡ
هَدَىٰنَا سُبُلَنَاۚ وَلَنَصۡبِرَنَّ عَلَىٰ مَآ
ءَاذَيۡتُمُونَاۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ
ٱلۡمُتَوَكِّلُونَ ١٢

(12) او مونږ ته څه عذر دی چې مونږ به پر الله توکل نه کوو، حال دا چې هغۀ مونږ ته د خپلو لارو هدایت کړی دی او خامخا هرومرو به مونږ پر هغو تکلیفونو صبر کوو چې تاسو یې مونږ ته راکوئ، او لازم ده چې توکل کوونکي خاص په الله باندې توکل وکړي

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِرُسُلِهِمۡ
لَنُخۡرِجَنَّكُم مِّنۡ أَرۡضِنَآ أَوۡ

(13) او کافران شویو خلقو خپلو رسولانو ته وویل: خامخا هرومرو به مونږ تاسو له خپلې

لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَاۖ فَأَوۡحَىٰٓ إِلَيۡهِمۡ رَبُّهُمۡ لَنُهۡلِكَنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٣

ځمکې نه وباسو، یا به خامخا هرومرو تاسو زمونږ دین ته راګرځئ، نو دغو (رسولانو) ته خپل رب وحي وکړه چې خامخا ضرور به مونږ ظالمان هلاکوو

وَلَنُسۡكِنَنَّكُمُ ٱلۡأَرۡضَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡۚ ذَٰلِكَ لِمَنۡ خَافَ مَقَامِي وَخَافَ وَعِيدِ ١٤

(14) او خامخا ضرور به مونږ له دوی نه پس تاسو په دغه ځمکه کې اوسوو، دغه (د ظالمانو هلاکول او د نیکانو اوسول حق دي) د هغه چا لپاره چې زما په وړاندې له ودریدلو نه ویریږي او زما له وعید نه ویریږي

وَٱسۡتَفۡتَحُواْ وَخَابَ كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيدٖ ١٥

(15) او (بالاخر) هغو (رسولانو له الله نه) فتح وغوښته او هر متکبر سرکشه نامراده شو

مِّن وَرَآئِهِۦ جَهَنَّمُ وَيُسۡقَىٰ مِن مَّآءٖ صَدِيدٖ ١٦

(16) چې د هغه په وړاندې جهنم دی او پر هغه به د وینو زويو اوبه څښولی شي

يَتَجَرَّعُهُۥ وَلَا يَكَادُ يُسِيغُهُۥ وَيَأۡتِيهِ ٱلۡمَوۡتُ مِن كُلِّ مَكَانٖ وَمَا هُوَ بِمَيِّتٖۖ وَمِن وَرَآئِهِۦ عَذَابٌ غَلِيظٞ ١٧

(17) چې هغه به په تکلیف سره ګوټ ګوټ څښي او نژدې به نه وي چې هغه تېرې کړي او ده ته به له هره ځایه مرګ راشي، حال دا چې هغه به مړ کېدونکی نه وي او د ده شا او مخې ته به ډېر سخت عذاب وي

مَّثَلُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِرَبِّهِمۡۖ

(18) حال د هغو کسانو چې په خپل رب سره کافران شوي دي، د دوی عملونه د هغه ایرو

أَعۡمَٰلُهُمۡ كَرَمَادٍ ٱشۡتَدَّتۡ بِهِ ٱلرِّيحُ فِي يَوۡمٍ عَاصِفٖۖ لَّا يَقۡدِرُونَ مِمَّا كَسَبُواْ عَلَىٰ شَيۡءٖۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلضَّلَٰلُ ٱلۡبَعِيدُ ١٨

په شان دي چې په سخته بادي ورځ کې پرې تیز باد راوالوځي، دوی به له خپلو کړو عملونو نه په هېڅ شي قادره نشي، همدغه ډېره لرې گمراهي ده

أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّۚ إِن يَشَأۡ يُذۡهِبۡكُمۡ وَيَأۡتِ بِخَلۡقٖ جَدِيدٖ ١٩

**(19)** ایا ته نه وینې چې بېشکه الله اسمانونه او ځمکه په حقه سره پیدا کړي دي، که هغه وغواړي(،نو) تاسو به ختم کړي او نوي خلق به راولي

وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ بِعَزِيزٖ ٢٠

**(20)** او دغه (کار) په الله باندې هېڅ گران نه دی

وَبَرَزُواْ لِلَّهِ جَمِيعٗا فَقَالَ ٱلضُّعَفَٰٓؤُاْ لِلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُوٓاْ إِنَّا كُنَّا لَكُمۡ تَبَعٗا فَهَلۡ أَنتُم مُّغۡنُونَ عَنَّا مِنۡ عَذَابِ ٱللَّهِ مِن شَيۡءٖۚ قَالُواْ لَوۡ هَدَىٰنَا ٱللَّهُ لَهَدَيۡنَٰكُمۡۖ سَوَآءٌ عَلَيۡنَآ أَجَزِعۡنَآ أَمۡ صَبَرۡنَا مَا لَنَا مِن مَّحِيصٖ ٢١

**(21)** او دوی ټول به په جمع د الله په وړاندې حاضر شي، نو کمزوران به هغو کسانو ته ووايي چې کبر او لويي به یې کوله: بېشکه مونږ ستاسو پیروي کوونکي وو، نو ایا تاسو زمونږ څخه د الله له عذاب نه څه شی لرې کوونکي يئ؟ هغوی به ووايي: که الله مونږ ته هدايت کړی وی (نو) مونږ به هم تاسو ته لار ښوونه کړې وی، پر مونږ برابر دي که مونږ شور او فرياد وکړو، یا مونږ صبر وکړو، زمونږ لپاره هېڅ د خلاصي ځای نشته

وَقَالَ ٱلشَّيۡطَٰنُ لَمَّا قُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ
إِنَّ ٱللَّهَ وَعَدَكُمۡ وَعۡدَ ٱلۡحَقِّ
وَوَعَدتُّكُمۡ فَأَخۡلَفۡتُكُمۡۖ وَمَا
كَانَ لِيَ عَلَيۡكُم مِّن سُلۡطَٰنٍ إِلَّآ
أَن دَعَوۡتُكُمۡ فَٱسۡتَجَبۡتُمۡ لِيۖ فَلَا
تَلُومُونِي وَلُومُوٓاْ أَنفُسَكُمۖ مَّآ أَنَا۠
بِمُصۡرِخِكُمۡ وَمَآ أَنتُم بِمُصۡرِخِيَّ
إِنِّي كَفَرۡتُ بِمَآ أَشۡرَكۡتُمُونِ مِن
قَبۡلُۗ إِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ لَهُمۡ عَذَابٌ
أَلِيمٞ ٢٢

(22) او كله چې د خبرې فيصله وشي، شيطان به ووايي: ببشكه الله له تاسو سره وعده كړې وه حقه وعده او ما له تاسو سره وعده كړې وه، نو ما له تاسو سره خلاف وكړو، او زما لپاره پر تاسو باندې هېڅ غلبه نه وه غير له دې نه چې ما تاسو راوبللئ، نو تاسو زما بلنه قبوله كړه (اوس) نو تاسو ما مه ملامتوئ او (بلكې) خپل ځانونه ملامته كړئ، نه زه ستاسو فريادرس يم او نه تاسو زما فريادرسان يئ، ببشكه زه كافر (او ببزاره) شوى يم په هغه څه چې تاسو زه (له الله سره) شريك كړى وم له دې نه مخكې، ببشكه دا ظالمان چې دي د هغوى لپاره ډېر دردوونكى عذاب دى

وَأُدۡخِلَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ
ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن
تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا بِإِذۡنِ
رَبِّهِمۡۖ تَحِيَّتُهُمۡ فِيهَا سَلَٰمٌ ٢٣

(23) او هغه كسان به چې ايمان يې راوړى دى او نېك عملونه يې كړي دي داسې جنتونو ته داخل كړى شي چې د هغو له لاندې ولې بهېږي، په دې حال كې چې دوى به په هغو كې تل ترتله وي، د خپل رب په حكم سره او د دوى پېشكشي به په دغو (جنتونو) كې سلام وي

أَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا

(24) ايا ته نه وينې چې الله څنګه يو مثال

كَلِمَةٗ طَيِّبَةٗ كَشَجَرَةٖ طَيِّبَةٍ
أَصۡلُهَا ثَابِتٞ وَفَرۡعُهَا فِي
ٱلسَّمَآءِ ٢٤

بیانوي: پاکیزه کلمه (چې لا اله الا الله ده) د هغې پاکیزه ونې په شان ده چې د هغې بېخ کلك او مضبوط وي (په ځمکه کې) او د هغې څانګې په اسمان کې وي

تُؤۡتِيٓ أُكُلَهَا كُلَّ حِينِۭ بِإِذۡنِ
رَبِّهَاۗ وَيَضۡرِبُ ٱللَّهُ ٱلۡأَمۡثَالَ
لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمۡ يَتَذَكَّرُونَ ٢٥

(25) خپله مېوه د خپل رب په حکم سره هر وخت ورکوي او الله د خلقو لپاره مثالونه بیانوي، د دې لپاره چې دوی نصیحت واخلي

وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيثَةٖ كَشَجَرَةٍ
خَبِيثَةٍ ٱجۡتُثَّتۡ مِن فَوۡقِ ٱلۡأَرۡضِ
مَا لَهَا مِن قَرَارٖ ٢٦

(26) او د خبیثې کلمې (چې د کفر کلمه ده) مثال د خبیثې (بدبویې) ونې دی چې د ځمکې له پاسه نه ویستل شوې وي، چې د هغې لپاره هېڅ قدر قرار نه وي

يُثَبِّتُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱلۡقَوۡلِ
ٱلثَّابِتِ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَفِي
ٱلۡأٓخِرَةِۖ وَيُضِلُّ ٱللَّهُ ٱلظَّٰلِمِينَۚ
وَيَفۡعَلُ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ ٢٧

(27) الله هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی په ثابته خبره باندې مضبوطوي، په دنیایي ژوند کې او په اخرت کې هم او الله ظالمان ګمراه کوي او الله چې څه وغواړي هغه کوي

۞أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ بَدَّلُواْ نِعۡمَتَ
ٱللَّهِ كُفۡرٗا وَأَحَلُّواْ قَوۡمَهُمۡ دَارَ
ٱلۡبَوَارِ ٢٨

(28) ایا تا نه دي کتلي هغو کسانو ته چې په ناشکرۍ سره یې د الله نعمت بدل کړ او خپل قوم یې د هلاکت کور ته ورکوز کړ

جَهَنَّمَ يَصۡلَوۡنَهَاۖ وَبِئۡسَ

(29) چې جهنم دی، دوی به په هغه کې

ٱلۡقَرَارُ ٢٩

داخلېږي او هغه داستوګنې بد ځای دی

وَجَعَلُواْ لِلَّهِ أَندَادٗا لِّيُضِلُّواْ عَن
سَبِيلِهِۦۗ قُلۡ تَمَتَّعُواْ فَإِنَّ مَصِيرَكُمۡ
إِلَى ٱلنَّارِ ٣٠

(30) او دوی د الله لپاره شريکان مقرر کړل، د دې لپاره چې د هغه له لارې نه (خلق) ګمراه کړي، ته (ورته) ووايه: تاسو نفع واخلئ، پس بېشکه ستاسو بېرته ورتله (د دوزخ) اور ته دي

قُل لِّعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يُقِيمُواْ
ٱلصَّلَوٰةَ وَيُنفِقُواْ مِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ
سِرّٗا وَعَلَانِيَةٗ مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَ
يَوۡمٞ لَّا بَيۡعٞ فِيهِ وَلَا خِلَٰلٌ ٣١

(31) ته زما هغو بنده ګانو ته ووايه چې ايمان يې راوړی دی چې لمونځ دې قايموي او له هغه مال نه دې چې مونږ دوی ته ورکړی دی؛ په پټه او ښکاره انفاق کوي، مخکې له دې نه چې هغه ورځ راشي چې په هغې کې نه اخيستل خرڅول شته او نه دوستي

ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضَ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ
فَأَخۡرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزۡقٗا
لَّكُمۡۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلۡفُلۡكَ
لِتَجۡرِيَ فِي ٱلۡبَحۡرِ بِأَمۡرِهِۦۖ وَسَخَّرَ
لَكُمُ ٱلۡأَنۡهَٰرَ ٣٢

(32) الله هغه ذات دی چې اسمانونه او ځمکه يې پيدا کړي دي او له بره نه يې اوبه نازلې کړې دي، پس په هغو سره يې له مېوو نه تاسو لپاره رزق راويستلی دی او تاسو لپاره يې بېړۍ مُسَخَّرې کړې دي، د دې لپاره چې هغه (بېړۍ) د هغه په حکم سره په سمندر کې رواني وي، او تاسو لپاره يې نهرونه مسخر کړي دي

وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ

(33) او تاسو لپاره يې لمر او سپوږمۍ په کار

دَآئِبَيۡنِۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ
وَٱلنَّهَارَ ٣٣

لګولي دي، په داسې حال کې چې د قانون مطابق ګرځي او تاسو لپاره يې شپه او ورځ په کار لګولي دي

وَءَاتَىٰكُم مِّن كُلِّ مَا سَأَلۡتُمُوهُۚ
وَإِن تَعُدُّواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ لَا
تُحۡصُوهَآۗ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَظَلُومٞ
كَفَّارٞ ٣٤

(34) او تاسو ته يې له هغو ځيزونو نه چې تاسو هغه غوښتي، ځيني درکړي دي او که تاسو د الله نعمتونه وشمېرئ (نو) تاسو به هغه ونشمېرلی شئ، بېشکه انسان خامخا ډېر ظلم کوونکی، ډېر ناشکره دی

وَإِذۡ قَالَ إِبۡرَٰهِيمُ رَبِّ ٱجۡعَلۡ هَٰذَا
ٱلۡبَلَدَ ءَامِنٗا وَٱجۡنُبۡنِي وَبَنِيَّ أَن
نَّعۡبُدَ ٱلۡأَصۡنَامَ ٣٥

(35) او (ياد کړه) هغه وخت چې ابراهيم وويل: ای زما ربه! ته دا ښار د امن والا وګرځوه او ما او زما زامن د بتانو له عبادت نه لرې وساته

رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضۡلَلۡنَ كَثِيرٗا مِّنَ
ٱلنَّاسِۖ فَمَن تَبِعَنِي فَإِنَّهُۥ مِنِّيۖ
وَمَنۡ عَصَانِي فَإِنَّكَ غَفُورٞ
رَّحِيمٞ ٣٦

(36) ای زما ربه! بېشکه دغو (بتانو) په خلقو کې ډېر زيات ګمراه کړي دي، نو چا چې زما پيروي وکړه، نو بېشکه هغه زما څخه دی او چا چې زما نافرماني وکړه، نو بېشکه ته ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی يې

رَّبَّنَآ إِنِّيٓ أَسۡكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ
غَيۡرِ ذِي زَرۡعٍ عِندَ بَيۡتِكَ
ٱلۡمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ

(37) ای زمونږه ربه! بېشکه ما واوسول خپل ځيني بچي په داسې ناو (دره) کې چې د فصل والا نه دی، ستا د عزتمن کور په خوا کې، ای زمونږ ربه! د دې لپاره چې دوی

فَٱجۡعَلۡ أَفۡـِٔدَةٗ مِّنَ ٱلنَّاسِ تَهۡوِيٓ إِلَيۡهِمۡ وَٱرۡزُقۡهُم مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ لَعَلَّهُمۡ يَشۡكُرُونَ ﴿٣٧﴾

لمونځ قایم کړي، نو ته د خلقو زړونه راوګرځوه، چې په مینې سره د دوی خوا ته راځغلي او ته دوی ته له مېوو څخه روزي ورکړه، د دې لپاره چې دوی شکر وباسي

رَبَّنَآ إِنَّكَ تَعۡلَمُ مَا نُخۡفِي وَمَا نُعۡلِنُۗ وَمَا يَخۡفَىٰ عَلَى ٱللَّهِ مِن شَيۡءٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ ﴿٣٨﴾

(38) ای زمونږ ربه! بېشکه ته عالم يې پر هغه څه چې مونږ يې پټوو او پر هغه څه چې مونږ يې څرګندوو او په الله باندې هېڅ شی نه پټېږي، په ځمکه کې او نه په اسمان کې

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي وَهَبَ لِي عَلَى ٱلۡكِبَرِ إِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَۚ إِنَّ رَبِّي لَسَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ ﴿٣٩﴾

(39) ټوله ثنا خاص د هغه الله لپاره ده چې ما ته يې سره له زوړوالي نه اسمعيل او اسحق رابخښلي دي، بېشکه زما رب خامخا د ښه اورېدونکی دی

رَبِّ ٱجۡعَلۡنِي مُقِيمَ ٱلصَّلَوٰةِ وَمِن ذُرِّيَّتِيۚ رَبَّنَا وَتَقَبَّلۡ دُعَآءِ ﴿٤٠﴾

(40) ای زما ربه! ته ما د لمونځ همېشه قايمونکی وګرځوه او زما له اولاد څخه هم (د لمانځه قايمونکي وګرځوه)، ای زما ربه! او ته زما دعا قبوله کړې

رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لِي وَلِوَٰلِدَيَّ وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ يَوۡمَ يَقُومُ ٱلۡحِسَابُ ﴿٤١﴾

(41) ای زمونږ ربه! ته ما وبخښه و زما مور و پلار او مومنان په هغې ورځ چې حساب به قايمېږي

وَلَا تَحۡسَبَنَّ ٱللَّهَ غَٰفِلًا عَمَّا يَعۡمَلُ ٱلظَّٰلِمُونَۚ إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمۡ لِيَوۡمٖ تَشۡخَصُ فِيهِ ٱلۡأَبۡصَٰرُ ﴿٤٢﴾

(42) او ته په الله باندې له سره (دا) گمان مه کوه چې هغه غافله دی له هغو کارونو نه چې ظالمان يې کوي، بېشکه همدا خبره ده چې هغه، دوی هغې ورځې ته وروسته کوي چې په هغې کې به سترگې خلاصې پاتې شي

مُهۡطِعِينَ مُقۡنِعِي رُءُوسِهِمۡ لَا يَرۡتَدُّ إِلَيۡهِمۡ طَرۡفُهُمۡۖ وَأَفۡـِٔدَتُهُمۡ هَوَآءٞ ﴿٤٣﴾

(43) چې منډې وهونکي به وي، د خپلو سرونو اوچت نيوونکي به وي، دوی ته به د خپلو سترگو رپول ببرته نه راگرځي (سترگې به يې خلاصې پاتې وي)، او د دوی زړونه به (له عقل او فهم نه) تش وي

وَأَنذِرِ ٱلنَّاسَ يَوۡمَ يَأۡتِيهِمُ ٱلۡعَذَابُ فَيَقُولُ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ رَبَّنَآ أَخِّرۡنَآ إِلَىٰٓ أَجَلٖ قَرِيبٖ نُّجِبۡ دَعۡوَتَكَ وَنَتَّبِعِ ٱلرُّسُلَۗ أَوَلَمۡ تَكُونُوٓاْ أَقۡسَمۡتُم مِّن قَبۡلُ مَا لَكُم مِّن زَوَالٖ ﴿٤٤﴾

(44) او ته خلق له هغې ورځې نه ووېروه چې دوی ته به (په هغې کې) عذاب راشي، نو وايي به هغه کسان چې ظلم يې کړی دی: ای زمونږ ربه! ته مونږ تر نژدې نېټې پورې وروسته کړه (مهلت راکړه) ستا بلنه به قبوله کړو او د رسولانو پيروي به وکړو، (الله به ووايي:) ايا تاسو نه وئ چې مخکې له دې نه به مو قسم کاوه چې تاسو لپاره هېڅ زوال نشته

وَسَكَنتُمۡ فِي مَسَٰكِنِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ وَتَبَيَّنَ لَكُمۡ

(45) او تاسو د هغو کسانو په کورونو کې اوسېدلي وئ چې په خپلو ځانونو به يې ظلم

كَيۡفَ فَعَلۡنَا بِهِمۡ وَضَرَبۡنَا لَكُمُ ٱلۡأَمۡثَالَ ﴿٤٥﴾

كاوه او تاسو ته (دا خبره) ښه څرګنده شوې وه چې موږ له هغوی سره څنګه كار كړی و، او تاسو ته موږ مثالونه بيان كړي وو

وَقَدۡ مَكَرُواْ مَكۡرَهُمۡ وَعِندَ ٱللَّهِ مَكۡرُهُمۡ وَإِن كَانَ مَكۡرُهُمۡ لِتَزُولَ مِنۡهُ ٱلۡجِبَالُ ﴿٤٦﴾

(46) او يقيناً هغوی خپل ټول مكرونه (او فريبونه) تر سره كړل، په دې حال كې چې د دوی مكرونه د الله په وړاندې دي، او د دوی مكرونه داسې نه وو چې د هغو په وجه به غرونه زايل شي

فَلَا تَحۡسَبَنَّ ٱللَّهَ مُخۡلِفَ وَعۡدِهِۦ رُسُلَهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٞ ذُو ٱنتِقَامٖ ﴿٤٧﴾

(47) نو ته هيڅكله هم د الله باره كې دا ګمان مه كوه چې هغه به له خپلو رسولانو سره د وعدې خلاف وكړي، بېشكه الله ډېر غالب دی، انتقام والا دی

يَوۡمَ تُبَدَّلُ ٱلۡأَرۡضُ غَيۡرَ ٱلۡأَرۡضِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُۖ وَبَرَزُواْ لِلَّهِ ٱلۡوَٰحِدِ ٱلۡقَهَّارِ ﴿٤٨﴾

(48) (ياده كړه) هغه ورځ چې دغه ځمكه به په بلې ځمكې سره بدله كړی شي او اسمانونه (هم) او دوی (ټول) به خاص الله ته مخامخ ودرېږي چې يو دی، ډېر غالب دی.

وَتَرَى ٱلۡمُجۡرِمِينَ يَوۡمَئِذٖ مُّقَرَّنِينَ فِي ٱلۡأَصۡفَادِ ﴿٤٩﴾

(49) او ته به په دغې ورځ كې مجرمان وينې چې يو له بل سره به په زولنو كې تړل شوي وي

سَرَابِيلُهُم مِّن قَطِرَانٖ وَتَغۡشَىٰ

(50) د دوی قميصونه به د نانزرو وي او د

وُجُوهَهُمُ ٱلنَّارُ ﴿٥٠﴾

دوی مخونه به اور رالاندي (او پټ) کړي وي

لِيَجۡزِيَ ٱللَّهُ كُلَّ نَفۡسٖ مَّا كَسَبَتۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ﴿٥١﴾

(51) د دې لپاره چې الله بدله ورکړي هر نفس ته د هغه څه چې ده کړي دي، بېشکه الله ډېر ژر حساب والا دی

هَٰذَا بَلَٰغٞ لِّلنَّاسِ وَلِيُنذَرُواْ بِهِۦ وَلِيَعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَا هُوَ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ وَلِيَذَّكَّرَ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴿٥٢﴾

(52) دا (قرآن) د خلقو لپاره پیغام دی او د دې لپاره چې په ده سره خلق خبردار کړی شي او د دې لپاره چې دوی پر دې پوه شي چې یقینًا همدا خبره ده چې هغه (الله) واحد (بې شریکه) حق معبود دی او د دې لپاره چې د خالصو عقلونو خاوندان نصیحت واخلي

## سُورَةُ الحِجرِ

## سورۀ حِجر

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

الٓرۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ وَقُرۡءَانٖ مُّبِينٖ ﴿١﴾

(1) الف، لام، را، دغه د کتاب او واضح قرآن ایتونه دي

رُّبَمَا يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوۡ كَانُواْ مُسۡلِمِينَ ﴿٢﴾

(2) ډېر ځلې به ارزو کوي هغه کسان چې کافران شوي دي چې کاش دوی مسلمانان وی!

ذَرۡهُمۡ يَأۡكُلُواْ وَيَتَمَتَّعُواْ وَيُلۡهِهِمُ ٱلۡأَمَلُۖ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ ٣

(3) ته دوی پرېږده چې خوراك كوي او فايده اخلي او امېدونه يې غافله كړي، نو ژر ده چې دوی به پوه شي

وَمَآ أَهۡلَكۡنَا مِن قَرۡيَةٍ إِلَّا وَلَهَا كِتَابٞ مَّعۡلُومٞ ٤

(4) او مونږه هېڅ يو كلی نه دی هلاك كړی مگر په دې حال كې چې د هغه به ليك (مقرر وخت) معلوم و

مَّا تَسۡبِقُ مِنۡ أُمَّةٍ أَجَلَهَا وَمَا يَسۡتَـٔۡخِرُونَ ٥

(5) هېڅ امت له خپل وخت نه نه مخكې كېږي او نه وروسته كېږي

وَقَالُواْ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِي نُزِّلَ عَلَيۡهِ ٱلذِّكۡرُ إِنَّكَ لَمَجۡنُونٞ ٦

(6) او دوی وويل: ای هغه كسه چې په هغه باندې ذكر (قرآن) نازل شوی دی! يقينًا ته خو لېونی يې

لَّوۡمَا تَأۡتِينَا بِٱلۡمَلَـٰٓئِكَةِ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّـٰدِقِينَ ٧

(7) ولې ته مونږ ته ملايك نه راولې! كه چېرې ته له رښتينو څخه يې

مَا نُنَزِّلُ ٱلۡمَلَـٰٓئِكَةَ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَمَا كَانُوٓاْ إِذٗا مُّنظَرِينَ ٨

(8) (ای خلقو واورئ!)مونږ ملايك نه نازلوو مگر په حقه سره او دوی به په دغه وخت كې مهلت وركړی شوي نه وي

إِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا ٱلذِّكۡرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ٩

(9) بېشكه همدا مونږ پخپله ذكر نازل كړی دی او بېشكه مونږ د ده خامخا ساتونكي يو

| | |
|---|---|
| وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ فِي شِيَعِ ٱلۡأَوَّلِينَ ١٠ | (10) او يقينًا يقينًا مونږ له تا نه مخكې د ړومبنيو خلقو په ډلو كې (رسولان) لېږلي وو |
| وَمَا يَأۡتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ١١ | (11) او دوى ته به هېڅ يو رسول نه راته مگر دوى به په هغه پورې مسخرې كولې |
| كَذَٰلِكَ نَسۡلُكُهُۥ فِي قُلُوبِ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ١٢ | (12) همدارنگه مونږ دا خبره د مجرمانو په زړونو كې ننباسو |
| لَا يُؤۡمِنُونَ بِهِۦ وَقَدۡ خَلَتۡ سُنَّةُ ٱلۡأَوَّلِينَ ١٣ | (13) دوى پر ده ايمان نه راوړي او يقينًا د پخوانيو (كافرو) طريقه تېره شوې ده |
| وَلَوۡ فَتَحۡنَا عَلَيۡهِم بَابًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ فَظَلُّواْ فِيهِ يَعۡرُجُونَ ١٤ | (14) او كه مونږ په دوى باندې له اسمان نه كومه دروازه پرانستلې وى، بيا دوى په هغې كې تل ختلى |
| لَقَالُوٓاْ إِنَّمَا سُكِّرَتۡ أَبۡصَٰرُنَا بَلۡ نَحۡنُ قَوۡمٌ مَّسۡحُورُونَ ١٥ | (15) (نو) دوى به خامخا ويل چې همدا خبره ده چې زمونږ سترگې تړل شوې دي، بلكې پر مونږ جادو شوى دى |
| وَلَقَدۡ جَعَلۡنَا فِي ٱلسَّمَآءِ بُرُوجًا وَزَيَّنَّٰهَا لِلنَّٰظِرِينَ ١٦ | (16) او يقينًا يقينًا مونږ په اسمان كې برجونه پيدا كړي دي او مونږ هغه د كتونكو لپاره ښايسته كړى دى |
| وَحَفِظۡنَٰهَا مِن كُلِّ شَيۡطَٰنٍ | (17) او مونږ هغه ساتلى دى له هر شيطان |

| | |
|---|---|
| رَّجِيمٍ ١٧ | ويشتل شوي نه |
| إِلَّا مَنِ ٱسۡتَرَقَ ٱلسَّمۡعَ فَأَتۡبَعَهُۥ شِهَابٌ مُّبِينٌ ١٨ | (18) مگر هغه (شيطان) چې اوربدل شوې خبره غلا کړي، نو په هغه پسې شي يوه ښکاره شعله |
| وَٱلۡأَرۡضَ مَدَدۡنَٰهَا وَأَلۡقَيۡنَا فِيهَا رَوَٰسِيَ وَأَنۢبَتۡنَا فِيهَا مِن كُلِّ شَيۡءٍ مَّوۡزُونٍ ١٩ | (19) او ځمکه، موږ هغه غځولې ده او موږ په هغې کې غرونه غورځولي دي او موږ په هغې کې هر اندازه کړی شوی شی زرغون کړی دی |
| وَجَعَلۡنَا لَكُمۡ فِيهَا مَعَٰيِشَ وَمَن لَّسۡتُمۡ لَهُۥ بِرَٰزِقِينَ ٢٠ | (20) او موږ تاسو لپاره په هغې کې معیشتونه پیدا کړي دي او هغه هم چې تاسو هغه ته روزي ورکوونکي نه يئ |
| وَإِن مِّن شَيۡءٍ إِلَّا عِندَنَا خَزَآئِنُهُۥ وَمَا نُنَزِّلُهُۥٓ إِلَّا بِقَدَرٍ مَّعۡلُومٍ ٢١ | (21) او نشته هېڅ څيز مگر زموږ سره د هغه خزانې دي او موږ هغه نه نازلوو مگر په معلومې اندازې سره |
| وَأَرۡسَلۡنَا ٱلرِّيَٰحَ لَوَٰقِحَ فَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَسۡقَيۡنَٰكُمُوهُ وَمَآ أَنتُمۡ لَهُۥ بِخَٰزِنِينَ ٢٢ | (22) او موږ هواگانې لېږلې دي، چې بلاربوونکې دي، پس موږ له بره اوبه نازلې کړې، نو موږ هغه په تاسو وڅښولې او تاسو دغو (اوبو) لره خزانه کوونکي نه يئ |
| وَإِنَّا لَنَحۡنُ نُحۡيِۦ وَنُمِيتُ وَنَحۡنُ | (23) او بېشکه موږ، يقيناً همدا موږ ژوند |

ٱلۡوَٰرِثُونَ ﴿٢٣﴾

وركوو او مرګ وركوو او همدا مونږ وارثان يو

وَلَقَدۡ عَلِمۡنَا ٱلۡمُسۡتَقۡدِمِينَ مِنكُمۡ وَلَقَدۡ عَلِمۡنَا ٱلۡمُسۡتَـٔۡخِرِينَ ﴿٢٤﴾

(24) او يقينًا يقينًا مونږ په تاسو کې مخکې کېدونکي پېژندلي دي او يقينًا يقينًا مونږ وروسته کېدونکي (هم) پېژندلي دي

وَإِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَحۡشُرُهُمۡۚ إِنَّهُۥ حَكِيمٌ عَلِيمٞ ﴿٢٥﴾

(25) او بېشکه ستا رب، هغه به دوی راټولوي، بېشکه هغه ښه حکمت والا، ښه عالم دی

وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن صَلۡصَٰلٖ مِّنۡ حَمَإٖ مَّسۡنُونٖ ﴿٢٦﴾

(26) او يقينًا يقينًا مونږه انسان پیدا کړی دی له کړنګېدونکي وچې خټې نه، چې له تورې سخا کړی شوې خټې څخه وه

وَٱلۡجَآنَّ خَلَقۡنَٰهُ مِن قَبۡلُ مِن نَّارِ ٱلسَّمُومِ ﴿٢٧﴾

(27) او جانّ (پلار د پېريانو) مونږ هغه له ده نه مخکې د بې لوګي اور څخه پیدا کړی دی

وَإِذۡ قَالَ رَبُّكَ لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي خَٰلِقُۢ بَشَرٗا مِّن صَلۡصَٰلٖ مِّنۡ حَمَإٖ مَّسۡنُونٖ ﴿٢٨﴾

(28) او کله چې ستا رب وويل: بېشکه زه د يو بشر پیدا کوونکی يم د کړنګېدونکي وچې خټې نه چې له تورې سخا کړی شوې خټې څخه ده

فَإِذَا سَوَّيۡتُهُۥ وَنَفَخۡتُ فِيهِ مِن رُّوحِي فَقَعُواْ لَهُۥ سَٰجِدِينَ ﴿٢٩﴾

(29) نو کله چې زه هغه برابر کړم او په هغه کې له خپله روح پُو کړم، نو تاسو هغه ته پرېوځئ، سجده کوونکي

فَسَجَدَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ كُلُّهُمۡ أَجۡمَعُونَ ٣٠

(30) نو ملايكو ټولو عامو سجده وكړه

إِلَّآ إِبۡلِيسَ أَبَىٰٓ أَن يَكُونَ مَعَ ٱلسَّٰجِدِينَ ٣١

(31) له ابليس نه غير، هغه له دې نه انكار وكړ چې له سجده كوونكو سره ملګرى شي

قَالَ يَٰٓإِبۡلِيسُ مَا لَكَ أَلَّا تَكُونَ مَعَ ٱلسَّٰجِدِينَ ٣٢

(32) ويې ويل: اى ابليسه! تا ته څه عذر دى چې ته له سجده كوونكو سره نه ملګرى كېږې؟

قَالَ لَمۡ أَكُن لِّأَسۡجُدَ لِبَشَرٍ خَلَقۡتَهُۥ مِن صَلۡصَٰلٖ مِّنۡ حَمَإٖ مَّسۡنُونٖ ٣٣

(33) هغه وويل: زه داسې نه يم چې بشر ته سجده وكړم چې تا هغه پيدا كړى دى له كړنګېدونكو وچو كودرو نه، چې له تورې سخا شوې خټې ځنې و

قَالَ فَٱخۡرُجۡ مِنۡهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٞ ٣٤

(34) وفرمايل: (الله) نو ته ووځه له دې ځاى نه، پس يقيناً ته رټل شوى يې

وَإِنَّ عَلَيۡكَ ٱللَّعۡنَةَ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ٣٥

(35) او بېشكه په تا باندې د قيامت د ورځې پورې لعنت دى

قَالَ رَبِّ فَأَنظِرۡنِيٓ إِلَىٰ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ ٣٦

(36) هغه وويل: اى زما ربه! نو ته ما ته د هغې ورځې پورې مهلت راكړه چې خلق به بيا ژوندي كولى شي

قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ ٱلۡمُنظَرِينَ ﴿٣٧﴾

(37) ويې ويل: پس يقيناً ته له مهلت ورکړې شويو څخه يې

إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡوَقۡتِ ٱلۡمَعۡلُومِ ﴿٣٨﴾

(38) د معلوم وخت تر ورځې پورې

قَالَ رَبِّ بِمَآ أَغۡوَيۡتَنِي لَأُزَيِّنَنَّ لَهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَأُغۡوِيَنَّهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٣٩﴾

(39) ويې ويل: اى زما ربه! په سبب د دې چې تا زه ګمراه کړم خامخا هرومرو به زه په ځمکه کې د دوى لپاره ښکلي کول کوم (ګناهونه او نافرمانۍ به ورته ښکلي کوم) او خامخا هرومرو به زه دوى ټول ګمراه کوم

إِلَّا عِبَادَكَ مِنۡهُمُ ٱلۡمُخۡلَصِينَ ﴿٤٠﴾

(40) مګر په دوى کې ستا خالص کړى شوي بنده ګان

قَالَ هَٰذَا صِرَٰطٌ عَلَيَّ مُسۡتَقِيمٌ ﴿٤١﴾

(41) ويې فرمايل: دا لار ده چې تر ما پورې نېغه (رارسېدلې) ده

إِنَّ عِبَادِي لَيۡسَ لَكَ عَلَيۡهِمۡ سُلۡطَٰنٌ إِلَّا مَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلۡغَاوِينَ ﴿٤٢﴾

(42) بېشکه زما بنده ګان چې دي نشته تا لپاره په دوى باندې هېڅ غلبه مګر هغه چې ستا پيروي کوي له ګمراهانو څخه

وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوۡعِدُهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٤٣﴾

(43) او بېشکه جهنم، خامخا د دوى د ټولو د وعدې ځاى دى

لَهَا سَبۡعَةُ أَبۡوَٰبٖ لِّكُلِّ بَابٖ مِّنۡهُمۡ

(44) د هغه اوه دروازې دي، د هرې دروازې

| | |
|---|---|
| جُزْءٌ مَّقْسُومٌ ﴿٤٤﴾ | لپاره به تقسيم (بېله) کړی شوي برخه وي له دوی نه |
| إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿٤٥﴾ | (45) بېشکه متقيان به په باغونو او چينو کې وي |
| ٱدْخُلُوهَا بِسَلَٰمٍ ءَامِنِينَ ﴿٤٦﴾ | (46) (چې ورته ويل به شي:) تاسو دغو ته په سلامتی سره ننوځئ، په داسې حال کې چې په امن کې به يئ |
| وَنَزَعْنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنْ غِلٍّ إِخْوَٰنًا عَلَىٰ سُرُرٍ مُّتَقَٰبِلِينَ ﴿٤٧﴾ | (47) او مونږ به وباسو هغه کينه چې د دوی په سينو کې وي، په داسې حال کې چې ورونه به وي، په تختونو به يو بل ته مخامخ ناست وي |
| لَا يَمَسُّهُمْ فِيهَا نَصَبٌ وَمَا هُم مِّنْهَا بِمُخْرَجِينَ ﴿٤٨﴾ | (48) دوی ته به په دغو (جنتونو) کې هېڅ تکليف (ستړي والی) نه رسېږي او نه به دوی له دغو نه کله هم وېستلی شي |
| ۞نَبِّئْ عِبَادِيٓ أَنِّيٓ أَنَا ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٤٩﴾ | (49) ته زما بنده ګانو ته خبر ورکړه چې بېشکه زه، همدا زه ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی يم |
| وَأَنَّ عَذَابِي هُوَ ٱلْعَذَابُ ٱلْأَلِيمُ ﴿٥٠﴾ | (50) او دا چې بېشکه زما عذاب، هم هغه ډېر دردوونکی عذاب دی |

| | |
|---|---|
| وَنَبِّئۡهُمۡ عَن ضَيۡفِ إِبۡرَٰهِيمَ ﴿٥١﴾ | (51) او ته دوی ته د ابراهیم د مېلمنو په باره کې خبر ورکړه |
| إِذۡ دَخَلُواْ عَلَيۡهِ فَقَالُواْ سَلَٰمٗا قَالَ إِنَّا مِنكُمۡ وَجِلُونَ ﴿٥٢﴾ | (52) کله چې هغوی پر هغه ورننوتل، نو هغوی وویل: (مونږ سلام وایو) سلام ویل: هغه وویل: بېشکه مونږ له تاسو څخه وېرېدونکي یو |
| قَالُواْ لَا تَوۡجَلۡ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَٰمٍ عَلِيمٖ ﴿٥٣﴾ | (53) هغوی وویل: ته مه وېرېږه، بېشکه مونږ تا ته د ډېر پوه هلك زېرى درکوو |
| قَالَ أَبَشَّرۡتُمُونِي عَلَىٰٓ أَن مَّسَّنِيَ ٱلۡكِبَرُ فَبِمَ تُبَشِّرُونَ ﴿٥٤﴾ | (54) هغه وویل: ایا تاسو ما ته زېرى راکړ، سره له دې چې ما ته زوړوالى (بوډاوالى) را رسېدلى دى، نو تاسو په کومه وجه زېرى راکوئ؟ |
| قَالُواْ بَشَّرۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ فَلَا تَكُن مِّنَ ٱلۡقَٰنِطِينَ ﴿٥٥﴾ | (55) هغوی وویل: مونږ تا ته په حقه سره زېرى درکړى دى، نو ته له نااميدانو نه مه کېږه |
| قَالَ وَمَن يَقۡنَطُ مِن رَّحۡمَةِ رَبِّهِۦٓ إِلَّا ٱلضَّآلُّونَ ﴿٥٦﴾ | (56) هغه وویل: له ګمراهانو نه غیر (بل) څوك دى چې د خپل رب له رحمت نه به نااميده کېږي! |
| قَالَ فَمَا خَطۡبُكُمۡ أَيُّهَا | (57) هغه وویل: نو ستاسو (نور) څه مقصد دى، اى رالېږل شویو؟ |

ٱلۡمُرۡسَلُونَ ﴿٥٧﴾

قَالُوٓاْ إِنَّآ أُرۡسِلۡنَآ إِلَىٰ قَوۡمٖ مُّجۡرِمِينَ ﴿٥٨﴾

(58) هغوی وویل: یقینًا مونږ د مجرم قوم په طرف رالیږل شوي یو

إِلَّآ ءَالَ لُوطٍ إِنَّا لَمُنَجُّوهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٥٩﴾

(59) غیر له آلِ لوط نه، ببشکه مونږ خامخا هغوی ټولو ته نجات ورکوونکي یو

إِلَّا ٱمۡرَأَتَهُۥ قَدَّرۡنَآ إِنَّهَا لَمِنَ ٱلۡغَٰبِرِينَ ﴿٦٠﴾

(60) (خو) د هغه له ښځې نه غیر، مونږ دا فیصله کړې ده چې یقینًا هغه به لازمًا له وروسته پاتې کېدونکو څخه وي

فَلَمَّا جَآءَ ءَالَ لُوطٍ ٱلۡمُرۡسَلُونَ ﴿٦١﴾

(61) نو کله چې د لوط آل ته رالیږل شوي (ملایك) راغلل

قَالَ إِنَّكُمۡ قَوۡمٞ مُّنكَرُونَ ﴿٦٢﴾

(62) هغه وویل: ببشکه تاسو یو ناپېژندګلو خلق یئ

قَالُواْ بَلۡ جِئۡنَٰكَ بِمَا كَانُواْ فِيهِ يَمۡتَرُونَ ﴿٦٣﴾

(63) هغوی وویل: بلکې مونږ تا ته هغه (عذاب) راوړی دی چې دوی به په هغه کې شك کاوه

وَأَتَيۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ﴿٦٤﴾

(64) او مونږ تا ته حق راوړی دی او ببشکه مونږ یقینًا رښتیني یو

فَأَسۡرِ بِأَهۡلِكَ بِقِطۡعٖ مِّنَ ٱلَّيۡلِ وَٱتَّبِعۡ أَدۡبَٰرَهُمۡ وَلَا يَلۡتَفِتۡ مِنكُمۡ أَحَدٞ وَٱمۡضُواْ حَيۡثُ تُؤۡمَرُونَ ٦٥

(65) نو ته خپل اهل د شپې په یوه حصه کې بوځه او ته د دوی شا ته وروسته ځه او په تاسو کې دې هیڅوك بېرته نه ګوري او ځئ هغه ځای ته چې تاسو ته یې حکم کېږي

وَقَضَيۡنَآ إِلَيۡهِ ذَٰلِكَ ٱلۡأَمۡرَ أَنَّ دَابِرَ هَٰٓؤُلَآءِ مَقۡطُوعٞ مُّصۡبِحِينَ ٦٦

(66) او مونږ هغه ته د دې کار فیصله وحي کړه چې یقیناً د دې خلقو بېخ پرې کېدونکی دی، په دې حال کې چې دوی به په سبا کې داخلېدونکي وي

وَجَآءَ أَهۡلُ ٱلۡمَدِينَةِ يَسۡتَبۡشِرُونَ ٦٧

(67) او د ښار اوسېدونکي راغلل چې ډېره خوشحالي یې کوله

قَالَ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ ضَيۡفِي فَلَا تَفۡضَحُونِ ٦٨

(68) وویل (لوط): بېشکه دا زما مېلمانه دي، نو تاسو ما مه شرموئ

وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُخۡزُونِ ٦٩

(69) او له الله نهووېرېږئ او ما مه سپکوئ

قَالُوٓاْ أَوَلَمۡ نَنۡهَكَ عَنِ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٧٠

(70) هغوی وویل: ایا ته مونږ خلقو (ته له پناه ورکولو) نه نه وې منع کړی؟

قَالَ هَٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِيٓ إِن كُنتُمۡ فَٰعِلِينَ ٧١

(71) هغه وویل: دا زما لوڼه دي که تاسو (له دوی سره نکاح) کوونکي یئ

| | |
|---|---|
| لَعَمۡرُكَ إِنَّهُمۡ لَفِي سَكۡرَتِهِمۡ يَعۡمَهُونَ ﴿٧٢﴾ | (72) ستا په عمر مې دې قسم وي! ببشكه دوى خامخا به خپلې مستۍ (نشه) كې سرګردان دي |
| فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلصَّيۡحَةُ مُشۡرِقِينَ ﴿٧٣﴾ | (73) نو دوى يو هيبتناك غږ ونيول، په داسې حال كې چې د لمرختو په وخت كې داخلېدونكي وو |
| فَجَعَلۡنَا عَٰلِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمۡطَرۡنَا عَلَيۡهِمۡ حِجَارَةٗ مِّن سِجِّيلٍ ﴿٧٤﴾ | (74) نو مونږ د هغه(ښار) پورته طرف ښكته طرف وګرځاوه او په دوى باندې مونږ د كوټكاڼو كاڼي ووروول |
| إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّلۡمُتَوَسِّمِينَ ﴿٧٥﴾ | (75) ببشكه په دې كې خامخا د پوهو، عبرت اخيستونكو لپاره نښې دي |
| وَإِنَّهَا لَبِسَبِيلٖ مُّقِيمٍ ﴿٧٦﴾ | (76) او ببشكه دغه (ښاريه) خامخا په سمه (چلنده) لار كې پرته ده |
| إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٧٧﴾ | (77) ببشكه په دې كې د مومنانو لپاره خامخا غټه نښه ده |
| وَإِن كَانَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡأَيۡكَةِ لَظَٰلِمِينَ ﴿٧٨﴾ | (78) او ببشكه شان دا دى چې د ځنګل والا يقينًا ظالمان وو |
| فَٱنتَقَمۡنَا مِنۡهُمۡ وَإِنَّهُمَا لَبِإِمَامٖ | (79) نو مونږ له هغوى نه انتقام واخيست او |

مُّبِينٖ ﴿٧٩﴾

بېشکه دغه دواړه (ښارونه) پر لويه ښکاره لار پراته دي

وَلَقَدۡ كَذَّبَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡحِجۡرِ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿٨٠﴾

(80) او يقينًا يقينًا حِجر والاوو د رسولانو تکذيب کړی و

وَءَاتَيۡنَٰهُمۡ ءَايَٰتِنَا فَكَانُواْ عَنۡهَا مُعۡرِضِينَ ﴿٨١﴾

(81) او مونږ هغوی ته خپلې نښې ور (ښکاره) کړې وې، نو دوی له هغو نه مخ گرځوونکي وو

وَكَانُواْ يَنۡحِتُونَ مِنَ ٱلۡجِبَالِ بُيُوتًا ءَامِنِينَ ﴿٨٢﴾

(82) او دوی به له غرونو څخه کوټې توږلې، په دې حال کې چې په امن به وو

فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلصَّيۡحَةُ مُصۡبِحِينَ ﴿٨٣﴾

(83) نو دوی يو هيبتناك غږ ونيول، په داسې حال کې چې په سبا کې داخلېدونکي وو

فَمَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴿٨٤﴾

(84) نو د دوی په کار رانغلل هغه (شيان) چې دوی به حاصلول

وَمَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَآ إِلَّا بِٱلۡحَقِّۗ وَإِنَّ ٱلسَّاعَةَ لَأٓتِيَةٞۖ فَٱصۡفَحِ ٱلصَّفۡحَ ٱلۡجَمِيلَ ﴿٨٥﴾

(85) او مونږ اسمانونه او ځمکه او هغه څه چې د دې دواړو په مېنځ کې دي ؛ نه دي پيدا کړي مگر په حقه سره او بېشکه قيامت خامخا راتلونکی دی، نو ته (له دوی څخه) ښکلو ښکلو کولو سره

(85) خنگ وکړه

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ ٱلۡخَلَّٰقُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٨٦﴾

(86) بېشکه ستا رب، هم دی ښه

پیداکوونکی، بې حده علم والا دی

وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَٰكَ سَبۡعٗا مِّنَ ٱلۡمَثَانِي وَٱلۡقُرۡءَانَ ٱلۡعَظِيمَ ﴿٨٧﴾

(87) او یقینًا یقینًا مونږ تا ته بیا بیا لوستل کېدونکي اوه ایتونه درکړي دي او عظیم قرآن (هم)

لَا تَمُدَّنَّ عَيۡنَيۡكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعۡنَا بِهِۦٓ أَزۡوَٰجٗا مِّنۡهُمۡ وَلَا تَحۡزَنۡ عَلَيۡهِمۡ وَٱخۡفِضۡ جَنَاحَكَ لِلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٨٨﴾

(88) او ته خپلې سترګې هغو شیانو ته مه ور اوږدې کوه (مه پورته کوه) چې مونږ په هغو سره فایده ورکړې ده دغو خلقو ته، چې قسم قسم شیان دي او په دوی باندې مه غمګین کېږه او خپل وزر د مومنانو لپاره ښکته کړه

وَقُلۡ إِنِّيٓ أَنَا ٱلنَّذِيرُ ٱلۡمُبِينُ ﴿٨٩﴾

(89) او ته ووایه: بېشکه زه چې یم، هم دا زه ښکاره وېروونکی یم

كَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَى ٱلۡمُقۡتَسِمِينَ ﴿٩٠﴾

(90) (له داسې عذابه) لکه څنګه چې مونږ نازل کړی و په تقسیموونکو باندې

ٱلَّذِينَ جَعَلُواْ ٱلۡقُرۡءَانَ عِضِينَ ﴿٩١﴾

(91) هغه کسان چې قرآن یې ټوټې ټوټې کړی و

فَوَرَبِّكَ لَنَسۡـَٔلَنَّهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٩٢﴾

(92) نو قسم دی په رب ستا چې خامخا هرومرو به مونږ له دوی ټولو څخه تپوس کوو

عَمَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿٩٣﴾

(93) د هغو کارونو په باره کې چې دوی به کول

| | |
|---|---|
| فَٱصۡدَعۡ بِمَا تُؤۡمَرُ وَأَعۡرِضۡ عَنِ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ٩٤ | (94) نو ته ښه ښکاره بيان کړه هغه څه چې تا ته يې حکم کولی شي او له مشرکانو نه مخ واړوه |
| إِنَّا كَفَيۡنَٰكَ ٱلۡمُسۡتَهۡزِءِينَ ٩٥ | (95) بېشکه مونږ ستا لپاره (ستا) استهزا کوونکو ته کافي شوي يو |
| ٱلَّذِينَ يَجۡعَلُونَ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَۚ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ ٩٦ | (96) هغه کسان چې له الله سره نور معبودان مقرروي (شريکوي) نو ژر به دوی پوه شي |
| وَلَقَدۡ نَعۡلَمُ أَنَّكَ يَضِيقُ صَدۡرُكَ بِمَا يَقُولُونَ ٩٧ | (97) او يقيناً يقيناً مونږ ته معلوم دي چې بېشکه ستا سينه تنګېږي په هغو خبرو چې دوی يې وايي |
| فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ وَكُن مِّنَ ٱلسَّٰجِدِينَ ٩٨ | (98) نو ته د خپل رب له حمد (ستايني) سره تسبيح وايه او ته شه له سجده کوونکو څخه |
| وَٱعۡبُدۡ رَبَّكَ حَتَّىٰ يَأۡتِيَكَ ٱلۡيَقِينُ ٩٩ | (99) او د خپل رب عبادت کوه تر هغه پورې چې تا ته يقين (مرګ) راشي |

## سُورَةُ النَّحۡلِ

## سورۀ نحل

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

أَتَىٰٓ أَمۡرُ ٱللَّهِ فَلَا تَسۡتَعۡجِلُوهُۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ١

(1) د الله حکم راغی، نو تاسو هغه په تلوار مه غواړئ، هغه لره پاکي ده او هغه ډېر اوچت دی له هغه څه نه چې دوی يې ورسره شريکوي

يُنَزِّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ بِٱلرُّوحِ مِنۡ أَمۡرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦٓ أَنۡ أَنذِرُوٓاْ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱتَّقُونِ ٢

(2) هغه په خپل حکم ملايك له وحي سره نازلوي په هغه چا باندې چې يې وغواړي په خپلو بنده ګانو کې، چې تاسو (خلق) خبردار کړئ، په دې خبره چې بېشکه حقيقت دا دی چې نشته هېڅ لايق د عبادت مګر زه يم، نو تاسو له ما نهووېرېږئ

خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّۚ تَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٣

(3) هغهٔ اسمانونه او ځمکه په حقه سره پيدا کړي دي، هغه اوچت دی له هغه چې دوی يې ورسره شريکوي

خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِن نُّطۡفَةٍ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُّبِينٌ ٤

(4) هغهٔ، انسان له نطفې نه پيدا کړی دی، بيا نو ناڅاپه دغه (انسان) ښه ښکاره سخت

جګړه کوونکی دی

وَٱلۡأَنۡعَٰمَ خَلَقَهَاۗ لَكُمۡ فِيهَا دِفۡءٞ وَمَنَٰفِعُ وَمِنۡهَا تَأۡكُلُونَ ٥

(5) او څاروي، هغه يې پيدا کړي دي، تاسو لپاره په دوی کې د ګرمۍ اسباب او (نورې) ګټې دي او ځينې په دوی کې تاسو خورئ

وَلَكُمۡ فِيهَا جَمَالٌ حِينَ تُرِيحُونَ وَحِينَ تَسۡرَحُونَ ٦

(6) او تاسو لپاره په دوی کې جمال (او ښايست) دی کله چې يې بېرته ماښام (کور ته) راولئ او کله چې يې د څر لپاره بوځئ

وَتَحۡمِلُ أَثۡقَالَكُمۡ إِلَىٰ بَلَدٖ لَّمۡ تَكُونُواْ بَٰلِغِيهِ إِلَّا بِشِقِّ ٱلۡأَنفُسِۚ إِنَّ رَبَّكُمۡ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٞ ٧

(7) او دوی ستاسو درانه بارونه پورته کوي هغه ښار ته چې تاسو هغه ته رسېدونکي نه وئ مګر د ځانونو په مشقت سره، بېشکه ستاسو رب يقينًا ډېر نرمي کوونکی، بې حده مهربان دی

وَٱلۡخَيۡلَ وَٱلۡبِغَالَ وَٱلۡحَمِيرَ لِتَرۡكَبُوهَا وَزِينَةٗۚ وَيَخۡلُقُ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ٨

(8) او اسونه او قچر او خره (يې پيدا کړي دي)، د دې لپاره چې تاسو په دغو باندې سواره شئ او د زينت لپاره او پيدا کوي هغه څه چې تاسو يې نه پېژنئ

وَعَلَى ٱللَّهِ قَصۡدُ ٱلسَّبِيلِ وَمِنۡهَا جَآئِرٞۚ وَلَوۡ شَآءَ لَهَدَىٰكُمۡ أَجۡمَعِينَ ٩

(9) او خاص په الله باندې د سمې لارې بيان دی او ځينې په دغو (نورو لارو) کې کږې دي او که هغه غوښتلی(،نو) لازمًا به يې تاسو ټولو

ته هدايت كړى و

هُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗۖ لَّكُم مِّنۡهُ شَرَابٞ وَمِنۡهُ شَجَرٞ فِيهِ تُسِيمُونَ ١٠

(10) دى همغه ذات دى چې تاسو لپاره يې له بره نه اوبه نازلې كړې دي، تاسو ته له هغو څنې مشروب (څښاك) دى او له هغو څنې ونې (وابنه) هم رازرونېږي چې په هغو كې تاسو (خاروي) څروئ

يُنۢبِتُ لَكُم بِهِ ٱلزَّرۡعَ وَٱلزَّيۡتُونَ وَٱلنَّخِيلَ وَٱلۡأَعۡنَٰبَ وَمِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ١١

(11) هغهٔ په دې (اولو) سره تاسو لپاره فصل او زيتون او كجورې او انګور او هر قسمه مېوې زرغونوي، بېشكه په دغو كې خامخا لويه نښه ده د هغو خلقو لپاره چې ښه غور فكر كوي

وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ وَٱلنُّجُومُ مُسَخَّرَٰتُۢ بِأَمۡرِهِۦٓۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ١٢

(12) او هغه مُسخَّر كړې ده تاسو لپاره شپه او ورځ او لمر او سپوږمۍ. او ستوري د هغه په حكم سره مُسَخَّر دي، بېشكه په دغو كې خامخا ډېرې نښې دي د هغو خلقو لپاره چې له عقل نه كار اخلي

وَمَا ذَرَأَ لَكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُخۡتَلِفًا أَلۡوَٰنُهُۥٓۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّقَوۡمٖ يَذَّكَّرُونَ ١٣

(13) او (مُسخر كړي يې دي) هغه څه چې تاسو لپاره يې په ځمكه كې پيدا كړي دي، په داسې حال كې چې رنګونه يې مختلف دي، بېشكه په دغو كې يقينًا لويه نښه ده د هغو خلقو لپاره چې نصيحت قبلوي

وَهُوَ ٱلَّذِي سَخَّرَ ٱلۡبَحۡرَ لِتَأۡكُلُواْ مِنۡهُ لَحۡمٗا طَرِيّٗا وَتَسۡتَخۡرِجُواْ مِنۡهُ حِلۡيَةٗ تَلۡبَسُونَهَاۖ وَتَرَى ٱلۡفُلۡكَ مَوَاخِرَ فِيهِ وَلِتَبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِهِۦ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ١٤

(14) دی همغه ذات دی چې سمندر يې مُسخر کړی دی، د دې لپاره چې تاسو له هغه نه تازه غوښه وخورئ او له هغه نه ګاڼه (زېورات) راوباسئ چې تاسو يې اغوندئ او تهٔ په ده کې بېړۍ وينې، چې اوبه څيرونکې وي او د دې لپاره چې تاسو د هغه فضل طلب کړئ او د دې لپاره چې تاسو شکر وباسئ

وَأَلۡقَىٰ فِي ٱلۡأَرۡضِ رَوَٰسِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمۡ وَأَنۡهَٰرٗا وَسُبُلٗا لَّعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ ١٥

(15) او هغهٔ په ځمکه کې پاخه غرونه غورځولي دي چې پر تاسو باندې ونه ښوربږي او (پيدا کړي يې دي) ولې (نهرونه) او لارې، د دې لپاره چې تاسو لار ومومئ

وَعَلَٰمَٰتٖۚ وَبِٱلنَّجۡمِ هُمۡ يَهۡتَدُونَ ١٦

(16) او علامې (يې مقرر کړې دي) او په ستورو سره دوی لار مومي

أَفَمَن يَخۡلُقُ كَمَن لَّا يَخۡلُقُۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ١٧

(17) ايا نو هغه ذات چې پيدا کوي په شان د هغه چا دی چې (څه) نشي پيدا کولی؟ ايا نو تاسو پند نه اخلئ!

وَإِن تَعُدُّواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ لَا تُحۡصُوهَآۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ ١٨

(18) او که چېرې تاسو د الله نعمتونه شمېرل شروع کړئ، (، نو) هغه به ونشمېرلی شئ، بېشکه الله يقيناً ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی

وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا تُسِرُّونَ وَمَا تُعۡلِنُونَ ١٩

(19) او الله ته معلوم دي هغه څه چې تاسو يې پټوئ او هغه څه چې تاسو يې څرګندوئ

وَٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَخۡلُقُونَ شَيۡـٔٗا وَهُمۡ يُخۡلَقُونَ ٢٠

(20) او هغه کسان چې دوی يې له الله نه غير بلي، هغوی هېڅ شی نشي پيدا کولی، په دې حال کې چې دوی پخپله پيداکاوه شي

أَمۡوَٰتٌ غَيۡرُ أَحۡيَآءٖۖ وَمَا يَشۡعُرُونَ أَيَّانَ يُبۡعَثُونَ ٢١

(21) مړه دي، ژوندي نه دي او دوی نه پوهېږي چې کله به دوی بيا راژوندي کولی شي

إِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۚ فَٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ قُلُوبُهُم مُّنكِرَةٞ وَهُم مُّسۡتَكۡبِرُونَ ٢٢

(22) ستاسو حق معبود يو معبود دی، نو هغه کسان چې پر اخرت ايمان نه راوړي د هغوی زړونه مُنکِر دي او دوی تکبر کوونکي دي

لَا جَرَمَ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعۡلِنُونَۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُسۡتَكۡبِرِينَ ٢٣

(23) حقيقت دا دی چې بېشکه الله پوهېږي پر هغه څه چې دوی يې پټوي او پر هغه څه چې دوی يې څرګندوي، بېشکه هغه (الله) تکبر کوونکي نه خوښوي

وَإِذَا قِيلَ لَهُم مَّاذَآ أَنزَلَ رَبُّكُمۡ قَالُوٓاْ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ٢٤

(24) او کله چې دوی ته وويل شي: ستاسو رب څه نازل کړي دي؟ دوی وايي: د پخوانيو (خلقو) باطلې افسانې

لِيَحۡمِلُوٓاْ أَوۡزَارَهُمۡ كَامِلَةٗ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَمِنۡ أَوۡزَارِ ٱلَّذِينَ يُضِلُّونَهُم بِغَيۡرِ عِلۡمٍۗ أَلَا سَآءَ مَا يَزِرُونَ ﴿٢٥﴾

(25) د دې لپاره چې دوی خپل پېټي پوره پورته کړي د قيامت په ورځ او د هغو خلقو له پېټو نه (هم پورته کړي) چې دوی يې په جهالت سره گمراه کوي، خبردار شئ! بد دی هغه څيز چې دوی يې باروي

قَدۡ مَكَرَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ فَأَتَى ٱللَّهُ بُنۡيَٰنَهُم مِّنَ ٱلۡقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيۡهِمُ ٱلسَّقۡفُ مِن فَوۡقِهِمۡ وَأَتَىٰهُمُ ٱلۡعَذَابُ مِنۡ حَيۡثُ لَا يَشۡعُرُونَ ﴿٢٦﴾

(26) يقيناً له دوی نه مخکې خلقو مکر کړی و، نو الله د دوی عمارتونه له بنيادونو نه ونړول، نو په دوی باندې د دوی له پاسه چتونه راپرېوتل او دوی ته عذاب له هغه ځايه راغی چې دوی يې شعور (او گمان) هم نه لاره

ثُمَّ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يُخۡزِيهِمۡ وَيَقُولُ أَيۡنَ شُرَكَآءِيَ ٱلَّذِينَ كُنتُمۡ تُشَٰٓقُّونَ فِيهِمۡۚ قَالَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ إِنَّ ٱلۡخِزۡيَ ٱلۡيَوۡمَ وَٱلسُّوٓءَ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٢٧﴾

(27) بيا به هغه د قيامت په ورځ دوی رسوا کوي او وايي به: زما هغه شريکان چېرته دي چې تاسو به د هغوی په باره کې (له اهل حقو سره جگړې) مخالفتونه کول؟ وبه وايي هغه کسان چې علم ورته ورکړ شوی دی: بېشکه په نن ورځ کې رسوايي او بدي په کافرانو باندې ده

ٱلَّذِينَ تَتَوَفَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ ظَالِمِيٓ أَنفُسِهِمۡۖ فَأَلۡقَوُاْ ٱلسَّلَمَ مَا كُنَّا نَعۡمَلُ مِن سُوٓءِۭۚ بَلَىٰٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ

(28) هغه کسان چې ملايک يې (روح) قبضوي، په داسې حال کې چې دوی به خپلو ځانونو ظلم کوونکي وي، نو دوی به

بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٢٨

روغه (تسليمي) وړاندي کړي چې مونږ هېڅ بد عمل نه کاوه، ولې نه! بېشکه الله ښه پوه دی پر هغو عملونو چې تاسو به کول

فَٱدۡخُلُوٓاْ أَبۡوَٰبَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَاۖ فَلَبِئۡسَ مَثۡوَى ٱلۡمُتَكَبِّرِينَ ٢٩

(29) نو تاسو د جهنم په دروازه کې ننوځئ، په داسي حال کې، چې په ده کې به همېشه وئ، نو يقيناً د تکبر کوونکو استوګنه بده ده

۞وَقِيلَ لِلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ مَاذَآ أَنزَلَ رَبُّكُمۡۚ قَالُواْ خَيۡرٗاۗ لِّلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٞۚ وَلَدَارُ ٱلۡأٓخِرَةِ خَيۡرٞۚ وَلَنِعۡمَ دَارُ ٱلۡمُتَّقِينَ ٣٠

(30) او هغو کسانو ته به وويل شي چې تقوىٰ يې غوره کړې ده: ستاسو رب څه نازل کړي دي؟ هغوی به وايي: خير (يې نازل کړی دی). د هغو کسانو لپاره چې په دې دنيا کې يې نېکي کړې ده ؛ نېکه بدله ده او يقيناً د اخرت کور ډېر غوره دی او يقيناً ښه کور د متقيانو دی

جَنَّٰتُ عَدۡنٖ يَدۡخُلُونَهَا تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ لَهُمۡ فِيهَا مَا يَشَآءُونَۚ كَذَٰلِكَ يَجۡزِي ٱللَّهُ ٱلۡمُتَّقِينَ ٣١

(31) چې د همېشه اوسېدلو جنتونه دي چې دوی به هغو ته داخلېږي، د هغو له لاندې ولې بهېږي، د دوی لپاره په دغو (جنتونو) کې هغه څه دي چې دوی يې غواړي، همدارنګه الله متقيانو ته بدله ورکوي

ٱلَّذِينَ تَتَوَفَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ طَيِّبِينَ يَقُولُونَ سَلَٰمٌ عَلَيۡكُمُ ٱدۡخُلُواْ

(32) هغه کسان چې ملايک يې (روح) قبض کوي، په دې حال کې چې هغوی پاک وي،

ٱلۡجَنَّةَ بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٣٢﴾

دوی به (ورته) وايي: پر تاسو دې سلام وي، تاسو جنت ته داخل شئ، په سبب د هغو (نېکو) عملونو چې تاسو به کول

هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن تَأۡتِيَهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَوۡ يَأۡتِيَ أَمۡرُ رَبِّكَۚ كَذَٰلِكَ فَعَلَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ وَمَا ظَلَمَهُمُ ٱللَّهُ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ﴿٣٣﴾

(33) دوی انتظار نه کوي مګر د دې چې دوی ته ملايك راشي، یا ستا د رب حکم راشي، همدارنګه کار کړی و هغو کسانو چې له دوی نه مخکې وو او الله پر هغوی ظلم نه و کړی او لېکن هغوی پر خپلو ځانونو ظلم کاوه

فَأَصَابَهُمۡ سَيِّـَٔاتُ مَا عَمِلُواْ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ﴿٣٤﴾

(34) نو هغوی ته د خپلو عملونو بدي ورسېدله او هغوی ګېر کړل هغه څه چې دوی به ورپورې استهزا کوله

وَقَالَ ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُواْ لَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا عَبَدۡنَا مِن دُونِهِۦ مِن شَيۡءٖ نَّحۡنُ وَلَآ ءَابَآؤُنَا وَلَا حَرَّمۡنَا مِن دُونِهِۦ مِن شَيۡءٖۚ كَذَٰلِكَ فَعَلَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ فَهَلۡ عَلَى ٱلرُّسُلِ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ﴿٣٥﴾

(35) او وويل هغو کسانو چې شرك يې کړی و: که چېرې الله غوښتلې (، نو) مونږ به له هغه نه غير د هيڅ شي عبادت نه و کړی او نه به زمونږ پلرونو او نه به مونږ د هغه (له حکم نه غير څه شی حرام کړی و، همدارنګه کار کړی و هغو کسانو چې له دوی نه مخکې وو، نو د رسولانو په ذمه نشته مګر ښکاره رسَول

وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولًا أَنِ

(36) او یقينًا یقينًا مونږ په هر يو امت کې يو رسول لېږلی و (په دې سره) چې تاسو د الله

ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجۡتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَۖ
فَمِنۡهُم مَّنۡ هَدَى ٱللَّهُ وَمِنۡهُم مَّنۡ
حَقَّتۡ عَلَيۡهِ ٱلضَّلَٰلَةُۚ فَسِيرُواْ فِي
ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ
عَٰقِبَةُ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ٣٦

عبادت کوئ او له طاغوت نه ځان وساتئ، نو په دوی کې ځینو ته الله هدایت وکړ او ځینې په دوی کې هغه دي چې گمراهي پرې ثابته شوه، نو تاسو په ځمکه کې وگرځئ، بیا وگورئ چې د تکذیب کوونکو انجام څنگه و؟

إِن تَحۡرِصۡ عَلَىٰ هُدَىٰهُمۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ
لَا يَهۡدِي مَن يُضِلُّۖ وَمَا لَهُم مِّن
نَّٰصِرِينَ ٣٧

(37) که ته د دوی په هدایت راړولو باندې حرص وکړې، نو بېشکه الله هدایت نه کوي هغه چا ته چې هغه یې گمراه کړي او د دوی لپاره هیڅوك مدد کوونکي نشته

وَأَقۡسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهۡدَ أَيۡمَٰنِهِمۡ لَا
يَبۡعَثُ ٱللَّهُ مَن يَمُوتُۚ بَلَىٰ وَعۡدًا
عَلَيۡهِ حَقّٗا وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ
ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ٣٨

(38) او دوی په (نوم د) الله باندې قسمونه کوي، خپل پاخه قسمونه، چې الله به هغه څوك بیا راژوندي نه کړي چې وفات کېږي، ولې نه! (ژوندي کوي به یې، ځکه چې وعده یې کړې ده) وعده حقه پر هغه لازمه او لېکن اکثره خلق نه پوهېږي

لِيُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِي يَخۡتَلِفُونَ فِيهِ
وَلِيَعۡلَمَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّهُمۡ
كَانُواْ كَٰذِبِينَ ٣٩

(39) لپاره د دې چې د دوی لپاره هغه شی ښه واضحه کړي چې دوی په هغه کې اختلاف کوي او لپاره د دې چې هغه کسان چې کفر یې کړی دی، پوه شي چې یقینًا دوی دروغژن وو

إِنَّمَا قَوۡلُنَا لِشَيۡءٍ إِذَآ أَرَدۡنَٰهُ أَن نَّقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ٤٠

(40) همدا خبره ده چې زمونږ وینا یو شي ته چې کله یې مونږ اراده وکړو؛ دا ده چې مونږ هغه ته وایو: وشه نو هغه وشي

وَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ فِي ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مَا ظُلِمُواْ لَنُبَوِّئَنَّهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗۖ وَلَأَجۡرُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَكۡبَرُۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ٤١

(41) او هغه کسان چې د الله لپاره یې هجرت کړی دی وروسته له دې چې ظلم پرې شو خامخا هرومرو به مونږ دوی ته په دنیا کې ښه ځای ورکړو او یقینًا د اخرت اجر تر ټولو لوی دی، که چېرې وی دوی چې پوهېدلی

ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ٤٢

(42) هغه کسان چې صبر کوي او خاص په خپل رب باندې دوی توکل کوي

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ إِلَّا رِجَالٗا نُّوحِيٓ إِلَيۡهِمۡۖ فَسۡـَٔلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلذِّكۡرِ إِن كُنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ٤٣

(43) او مونږ له تا نه مخکې نه دي لېږلي مګر سړي (پېغمبران) چې مونږ هغوی ته وحي کوله، نو تاسو له اهلِ علمو نه تپوس وکړئ که چېرې یئ تاسو چې نه پوهېږئ

بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَٱلزُّبُرِۗ وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلذِّكۡرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيۡهِمۡ وَلَعَلَّهُمۡ يَتَفَكَّرُونَ ٤٤

(44) په څرګندو معجزو او کتابونو سره او مونږ تا ته ذکر (وحي) نازل کړی دی، د دې لپاره چې ته خلقو ته هغه څه ښه واضحه کړې چې دوی ته نازل کړی شوي دي او د دې لپاره چې دوی ښه فکر وکړي

أَفَأَمِنَ ٱلَّذِينَ مَكَرُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ
أَن يَخۡسِفَ ٱللَّهُ بِهِمُ ٱلۡأَرۡضَ أَوۡ
يَأۡتِيَهُمُ ٱلۡعَذَابُ مِنۡ حَيۡثُ لَا
يَشۡعُرُونَ ٤٥

(45) ايا نو هغه کسان چې ناکاره مکرونه يې کړي دي؛ له دې نه په امن کې شوي دي چې الله دوی په ځمکه کې ډوب کړي يا دوی ته عذاب له داسې ځايه راشي چې دوی (پرې) نه پوهېږي

أَوۡ يَأۡخُذَهُمۡ فِي تَقَلُّبِهِمۡ فَمَا هُم
بِمُعۡجِزِينَ ٤٦

(46) يا دوی ونيسي د خپلو ګرځېدو په وخت کې، نو دوی هيڅکله هم (الله لره) عاجزه کوونکي نه دي

أَوۡ يَأۡخُذَهُمۡ عَلَىٰ تَخَوُّفٖ فَإِنَّ
رَبَّكُمۡ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٌ ٤٧

(47) يا دوی په وېره ونيسي، پس يقينًا ستاسو رب خامخا ډېر نرمي کوونکی، بې حده مهربان دی

أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ إِلَىٰ مَا خَلَقَ ٱللَّهُ مِن
شَيۡءٖ يَتَفَيَّؤُاْ ظِلَٰلُهُۥ عَنِ ٱلۡيَمِينِ
وَٱلشَّمَآئِلِ سُجَّدٗا لِّلَّهِ وَهُمۡ
دَٰخِرُونَ ٤٨

(48) ايا دوی د الله پيدا کړي کوم شي ته نه دي کتلي چې د هغه سيوري له ښي اړخ او چپو اړخونو نه ګرځي، چې الله ته سجده کوونکي دي، په داسې حال کې چې دوی عاجزي کوونکي دي

وَلِلَّهِ يَسۡجُدُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا
فِي ٱلۡأَرۡضِ مِن دَآبَّةٖ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ
وَهُمۡ لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ ٤٩

(49) او خاص د الله لپاره سجده کوي هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هغه څه چې په ځمکه کې دي له خوځنده ځيزونو څخه او ملايك هم، په داسې حال کې چې دوی تکبر

نه کوي

يَخَافُونَ رَبَّهُم مِّن فَوۡقِهِمۡ وَيَفۡعَلُونَ مَا يُؤۡمَرُونَ ۩ ﴿٥٠﴾

(50) دوی له خپل رب څخه وېرېږي چې د دوی له پاسه دی او دوی کوي هغه څه چې دوی ته حکم کاوه شي

۞وَقَالَ ٱللَّهُ لَا تَتَّخِذُوٓاْ إِلَٰهَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِۖ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ فَإِيَّٰيَ فَٱرۡهَبُونِ ﴿٥١﴾

(51) او الله وويل: تاسو دوه معبودان مه نیسئ، همدا خبره ده چې هغه یو معبود دی، نو تاسو خاص له ما نه ووېرېږئ

وَلَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَهُ ٱلدِّينُ وَاصِبًاۚ أَفَغَيۡرَ ٱللَّهِ تَتَّقُونَ ﴿٥٢﴾

(52) او خاص د هغۀ لپاره دي هغه څه چې په اسمانونو او ځمکه کې دي او عبادت خاص هم د دۀ لپاره دی، همېشه، ایا نو تاسو غیر له الله نه (له بل چا نه) وېرېږئ؟

وَمَا بِكُم مِّن نِّعۡمَةٖ فَمِنَ ٱللَّهِۖ ثُمَّ إِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فَإِلَيۡهِ تَجۡـَٔرُونَ ﴿٥٣﴾

(53) او پر تاسو چې هر نعمت شوی دی، نو د الله له طرفه دی، بیا چې کله تاسو ته ضرر دررسېږي، نو (بیا هم) خاص هغه ته زاري کوئ

ثُمَّ إِذَا كَشَفَ ٱلضُّرَّ عَنكُمۡ إِذَا فَرِيقٞ مِّنكُم بِرَبِّهِمۡ يُشۡرِكُونَ ﴿٥٤﴾

(54) بیا کله چې هغه له تاسو نه تکلیف لرې کړي ()، نو) ناڅاپه یوه ډله په تاسو کې له خپل رب سره شریکان جوړوي

لِيَكۡفُرُواْ بِمَآ ءَاتَيۡنَٰهُمۡۚ فَتَمَتَّعُواْ

(55) د دې لپاره چې ناشکري وکړي د هغه

فَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ٥٥

څه چې مونږ دوی ته ورکړي دي، نو تاسو فايده واخلئ، پس ژر به تاسو پوه شئ

وَيَجۡعَلُونَ لِمَا لَا يَعۡلَمُونَ نَصِيبًا مِّمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡۗ تَٱللَّهِ لَتُسۡـَٔلُنَّ عَمَّا كُنتُمۡ تَفۡتَرُونَ ٥٦

(56) او دوی د هغه څه لپاره چې پر هېڅ نه پوهېږي؛ برخه مقرروي په هغه څه کې چې مونږ دوی ته ورکړي دي، قسم دی پر الله چې خامخا له تاسو به هرومرو پوښتنه کېږي، د هغه څه په باره کې چې تاسو به دروغ تړل

وَيَجۡعَلُونَ لِلَّهِ ٱلۡبَنَٰتِ سُبۡحَٰنَهُۥ وَلَهُم مَّا يَشۡتَهُونَ ٥٧

(57) او دوی د الله لپاره لونه مقرروي، (حال دا چې) هغه (له دې نه) پاك دی، او د دوی لپاره (بیا) هغه (زامن) دي چې دوی يې خوښوي

وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِٱلۡأُنثَىٰ ظَلَّ وَجۡهُهُۥ مُسۡوَدّٗا وَهُوَ كَظِيمٞ ٥٨

(58) او کله چې په دوی کې يو ته د لور زېرى ورکړى شي د هغه مخ تك تور شي، په دې حال کې چې له قهره ډك وي

يَتَوَٰرَىٰ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ مِن سُوٓءِ مَا بُشِّرَ بِهِۦٓۚ أَيُمۡسِكُهُۥ عَلَىٰ هُونٍ أَمۡ يَدُسُّهُۥ فِي ٱلتُّرَابِۗ أَلَا سَآءَ مَا يَحۡكُمُونَ ٥٩

(59) له خلقو څخه پټ ګرځي د هغه څه د بدی په وجه چې ده ته يې زېرى ورکړى شوى دى (او سوچ کوي چې)، ايا دی دغه (لور) سره له ذلته وساتي، يا هغه په خاورو کې ومنډي، خبردار شئ ! بد دي هغه څه چې دوی يې فيصله کوي

لِلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِـٱلۡأٓخِرَةِ مَثَـلُ
ٱلسَّــوۡءِۖ وَلِلَّهِ ٱلۡمَثَـلُ ٱلۡأَعۡلَىٰۚ وَهُـوَ
ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٦٠

(60) د هغو کسانو لپاره چې پر اخرت ایمان نه راوړي بد مثال دی او خاص د الله لپاره تر ټولو لوړ مثال دی او هم هغه ښه غالب، ښه حکمت والا دی

وَلَوۡ يُؤَاخِذُ ٱللَّهُ ٱلنَّاسَ بِظُلۡمِهِـم
مَّا تَرَكَ عَلَيۡهَا مِن دَآبَّةٖ وَلَٰكِـن
يُؤَخِّرُهُمۡ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَـمّٗىۖ فَـإِذَا
جَــآءَ أَجَلُهُـمۡ لَا يَسۡتَــٔۡخِرُونَ
سَاعَةٗ وَلَا يَسۡتَقۡدِمُونَ ٦١

(61) او که چېرې الله خلق د ظلم په وجه نیولی (، نو) هغهٔ به د دې (ځمکې) پر سر هېڅ خوځنده نه و پرېښی او لېکن هغه دوی تر مقررې نېټې وروسته کوي، نو کله چې د دوی نېټه راشي (بیا به نو) دوی یوه ګړی نه وروسته کېږي او نه مخکې کېږي

وَيَجۡعَلُــونَ لِلَّهِ مَــا يَكۡرَهُــونَۚ
وَتَصِـفُ أَلۡسِـنَتُهُمُ ٱلۡكَـذِبَ أَنَّ
لَهُـمُ ٱلۡحُسۡـنَىٰۚ لَا جَـرَمَ أَنَّ لَهُـمُ
ٱلنَّارَ وَأَنَّهُم مُّفۡرَطُونَ ٦٢

(62) او دوی د الله لپاره هغه څه ثابتوي چې (پخپله) یې بد ګڼي او د دوی ژبې دروغ بیانوي چې ببشکه د همدوی لپاره تر ټولو ښه حالت دی، حقیقت دا دی چې ببشکه د همدوی لپاره اور دی او ببشکه همدوی تر ټولو مخکې لېږدول شوي دي

تَٱللَّهِ لَقَدۡ أَرۡسَـلۡنَآ إِلَىٰٓ أُمَـمٖ مِّـن
قَبۡلِــكَ فَــزَيَّنَ لَهُــمُ ٱلشَّــيۡطَٰنُ
أَعۡمَٰلَهُمۡ فَهُوَ وَلِيُّهُمُ ٱلۡيَوۡمَ وَلَهُـمۡ
عَذَابٌ أَلِيمٞ ٦٣

(63) قسم دی پر الله! یقینًا یقینًا مونږ امتونو ته له تا نه مخکې رسولان لېږلي وو، نو شیطان دوی ته د دوی عملونه ښکلي کړل، نو نن ورځ همغه د دوی دوست دی او د دوی لپاره ډېر دردوونکی عذاب دی

وَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِي ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٗ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ٦٤

(64) او مونږ په تا باندې کتاب نه دی نازل کړی مگر د دې لپاره چې ته دوی ته هغه (کار) ښه واضحه کړې چې دوی په هغه کې اختلاف کوي او د هغه قوم د هدايت او رحمت لپاره (مو نازل کړی دی) چې ايمان لري

وَٱللَّهُ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَآۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّقَوۡمٖ يَسۡمَعُونَ ٦٥

(65) او الله له بره نه اوبه نازلې کړې دي، بيا يې په هغو سره ځمکه راژوندۍ کړې ده د هغې له مرگ نه پس، ببشکه په دې کې خامخا لويه نښه ده د هغو خلقو لپاره چې (حق او نصيحت) اوري

وَإِنَّ لَكُمۡ فِي ٱلۡأَنۡعَٰمِ لَعِبۡرَةٗۖ نُّسۡقِيكُم مِّمَّا فِي بُطُونِهِۦ مِنۢ بَيۡنِ فَرۡثٖ وَدَمٖ لَّبَنًا خَالِصٗا سَآئِغٗا لِّلشَّٰرِبِينَ ٦٦

(66) او ببشکه تاسو لپاره په څارويو کې خامخا لوی عبرت دی، مونږ پر تاسو څښوو ځيني له هغو څيزونو څخه چې د دوی په گېډو کې دي د غوشايو او وينې په مينځ کې خالص شيده (پی) چې د څښونکو لپاره له حلق نه په اسانۍ سره تېرېدونکي دي

وَمِن ثَمَرَٰتِ ٱلنَّخِيلِ وَٱلۡأَعۡنَٰبِ تَتَّخِذُونَ مِنۡهُ سَكَرٗا وَرِزۡقًا حَسَنًاۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّقَوۡمٖ

(67) او د كجورو او انگورو له مېوو څخه، تاسو له دغو نه نشه كوونكي (څيزونه) او ښكلی رزق جوړوئ، ببشكه په دې كې خامخا لويه نښه ده د هغو خلقو لپاره چې له عقل نه كار

يَعۡقِلُونَ ٦٧

اخلي

وَأَوۡحَىٰ رَبُّكَ إِلَى ٱلنَّحۡلِ أَنِ ٱتَّخِذِي مِنَ ٱلۡجِبَالِ بُيُوتٗا وَمِنَ ٱلشَّجَرِ وَمِمَّا يَعۡرِشُونَ ٦٨

(68) او ستا رب د شاتو مچيو ته په زړه کې واچوله چې په غرونو کې کورونه جوړ کړه او په ونو کې او په هغو (ځايونو، چوپالونو) کې چې خلق يې لوړ جوړوي

ثُمَّ كُلِي مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ فَٱسۡلُكِي سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلٗاۚ يَخۡرُجُ مِنۢ بُطُونِهَا شَرَابٞ مُّخۡتَلِفٌ أَلۡوَٰنُهُۥ فِيهِ شِفَآءٞ لِّلنَّاسِۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ٦٩

(69) بيا ته خوره له هر قسمه مېوو څخه، نو ته ځه د خپل رب په لارو باندې چې اسانې دي، د دوی له خېټو نه مشروب راوځي چې رنګونه يې مختلف دي، په ده کې د خلقو لپاره شفا ده، بېشکه په دې کې لويه نښه ده د هغه قوم لپاره چې ښه فکر کوي

وَٱللَّهُ خَلَقَكُمۡ ثُمَّ يَتَوَفَّىٰكُمۡۚ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرۡذَلِ ٱلۡعُمُرِ لِكَيۡ لَا يَعۡلَمَ بَعۡدَ عِلۡمٖ شَيۡـًٔاۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٞ قَدِيرٞ ٧٠

(70) او الله تاسو پيداکړي يئ، بيا به هغه تاسو وفات کوي او په تاسو کې ځينې هغه دي چې ډېر خوار ژوندون ته ورګرځولی شي، د دې لپاره چې له علم نه بعد پر هېڅ شي پوه نشي، بېشکه الله ښه عالم، ښه قادر دی

وَٱللَّهُ فَضَّلَ بَعۡضَكُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ فِي ٱلرِّزۡقِۚ فَمَا ٱلَّذِينَ فُضِّلُواْ بِرَآدِّي رِزۡقِهِمۡ عَلَىٰ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُمۡ فَهُمۡ فِيهِ سَوَآءٌۚ أَفَبِنِعۡمَةِ

(71) او الله ستاسو ځينې په ځينو نورو باندې په رزق کې غوره کړي دي، نو هغه کسان چې غوره کړی شوي دي هغوی خپل رزق لره ورګرځوونکي (ورکوونکي) نه دي هغو کسانو

ٱللَّهِ يَجۡحَدُونَ ﴿٧١﴾

ته چې دوی يې مالکان شوي دي، (د دوی وينځې غلامان دي) نو دوی په دغه (رزق) کې برابر دي؟ ايا نو د الله له نعمتونو نه دوی انکار کوي

وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ أَزۡوَٰجٗا وَجَعَلَ لَكُم مِّنۡ أَزۡوَٰجِكُم بَنِينَ وَحَفَدَةٗ وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِۚ أَفَبِٱلۡبَٰطِلِ يُؤۡمِنُونَ وَبِنِعۡمَتِ ٱللَّهِ هُمۡ يَكۡفُرُونَ ﴿٧٢﴾

(72) او الله تاسو لپاره ستاسو له جنسه جوړې پيدا کړې دي او تاسو لپاره يې ستاسو له جوړو نه زامن او لمسي (اولادونه) پيدا کړي دي او تاسو ته يې له پاکيزه څيزونو څخه روزي درکړې ده، ايا نو په باطل باندې دوی ايمان راوړي او د الله په نعمتونو سره دوی کفر کوي

وَيَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَمۡلِكُ لَهُمۡ رِزۡقٗا مِّنَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ شَيۡـٔٗا وَلَا يَسۡتَطِيعُونَ ﴿٧٣﴾

(73) او دوی له الله نه غير د هغو څيزونو عبادت کوي چې د دوی لپاره اختيار نه لري د هيڅ رزق له اسمانونو او ځمکې نه د هيڅ شي او نه دوی طاقت لري

فَلَا تَضۡرِبُواْ لِلَّهِ ٱلۡأَمۡثَالَۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ وَأَنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٧٤﴾

(74) نو تاسو د الله لپاره مثالونه مه بيانوئ، بېشکه الله پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ

۞ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا عَبۡدٗا مَّمۡلُوكٗا لَّا يَقۡدِرُ عَلَىٰ شَيۡءٖ وَمَن رَّزَقۡنَٰهُ مِنَّا رِزۡقًا حَسَنٗا فَهُوَ يُنفِقُ مِنۡهُ

(75) الله يو مثال بيانوي چې يو مملوک مريی دی چې پر هيڅ شي قدرت نه لري او (بل) هغه څوک دی چې مونږ هغه ته له خپل

سِرّٗا وَجَهۡرًاۖ هَلۡ يَسۡتَوُۥنَۚ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ٧٥

جانبه ښکلی رزق ورکړی دی، نو هغه له ده نه په پټه او ښکاره انفاق کوي، ایا دوی سره برابرېږي؟ ټولې ستاینې خاص الله لره دي، بلکې د دوی زیاتره نه پوهېږي

وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا رَّجُلَيۡنِ أَحَدُهُمَآ أَبۡكَمُ لَا يَقۡدِرُ عَلَىٰ شَيۡءٖ وَهُوَ كَلٌّ عَلَىٰ مَوۡلَىٰهُ أَيۡنَمَا يُوَجِّههُّ لَا يَأۡتِ بِخَيۡرٍ هَلۡ يَسۡتَوِي هُوَ وَمَن يَأۡمُرُ بِٱلۡعَدۡلِ وَهُوَ عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ٧٦

(76) او الله يو مثال بيانوي چې دوه سړي دي، په دواړو کې يو ګونګی دی، پر هېڅ شي قدرت نه لري، په دې حال کې چې هغه په خپل بادار باندې بار (بوج) دی، چې چېرته يې هم ولېږي هېڅ خير نه راوړي، ايا برابرېږي دغه کس او هغه څوک چې په انصاف سره حکم کوي او هغه په نېغې لارې باندې قايم دی

وَلِلَّهِ غَيۡبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَمَآ أَمۡرُ ٱلسَّاعَةِ إِلَّا كَلَمۡحِ ٱلۡبَصَرِ أَوۡ هُوَ أَقۡرَبُۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٧٧

(77) او خاص د الله لپاره دي غيب د اسمانونو او ځمکې، او د قيامت امر نه دی مګر په شان د رپ د سترګو، يا هغه زيات قريب دی (له دې نه هم) بېشکه الله په هر شي باندې ښه قادر دی

وَٱللَّهُ أَخۡرَجَكُم مِّنۢ بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ شَيۡـٔٗا وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ

(78) او الله تاسو د خپلو ميندو له خېټو نه راوويستئ، په داسې حال کې چې پر هېڅ شي نه پوهېدلئ او تاسو ته يې غوږونه او سترګې او زړونه ور کړل، د دې لپاره چې

وَٱلۡأَفۡـِٔدَةَ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ﴿٧٨﴾

تاسو شکر وباسئ

أَلَمۡ يَرَوۡاْ إِلَى ٱلطَّيۡرِ مُسَخَّرَٰتٖ فِي جَوِّ ٱلسَّمَآءِ مَا يُمۡسِكُهُنَّ إِلَّا ٱللَّهُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿٧٩﴾

(79) ایا دوی مرغانو ته نه دي کتلي چې د اسمان په فضا کې مُسَخَّر شوي دي، دوی لره نه ساتي (له غورځېدلو نه) مگر الله، ببشکه په دغو (ځیزونو) کې خامخا ډېرې نښې دي د هغو خلقو لپاره چې ایمان راوړي

وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّنۢ بُيُوتِكُمۡ سَكَنٗا وَجَعَلَ لَكُم مِّن جُلُودِ ٱلۡأَنۡعَٰمِ بُيُوتٗا تَسۡتَخِفُّونَهَا يَوۡمَ ظَعۡنِكُمۡ وَيَوۡمَ إِقَامَتِكُمۡ وَمِنۡ أَصۡوَافِهَا وَأَوۡبَارِهَا وَأَشۡعَارِهَآ أَثَٰثٗا وَمَتَٰعًا إِلَىٰ حِينٖ ﴿٨٠﴾

(80) او الله تاسو لپاره ستاسو له کورونو نه د استوګنې ځایونه جوړ کړي دي او تاسو لپاره یې د څارویو له څرمنو نه کورونه جوړ کړي دي چې تاسو یې د خپل سفر په ورځ سپك مومئ او د اقامت په ورځ هم او د هغو له وړیو او د هغو له وېښتانو او د هغو له وژغنو نه یې اسبابونه او تر یو وخته پورې د نفعې سامانونه (جوړ کړي دي)

وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّمَّا خَلَقَ ظِلَٰلٗا وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ ٱلۡجِبَالِ أَكۡنَٰنٗا وَجَعَلَ لَكُمۡ سَرَٰبِيلَ تَقِيكُمُ ٱلۡحَرَّ وَسَرَٰبِيلَ تَقِيكُم بَأۡسَكُمۡۚ كَذَٰلِكَ يُتِمُّ نِعۡمَتَهُۥ عَلَيۡكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تُسۡلِمُونَ ﴿٨١﴾

(81) او الله له خپلو پیدا کړیو څیزونو نه تاسو لپاره سیورې تیار کړي دي او تاسو لپاره یې په غرونو کې پټ ځایونه جوړ کړي دي او تاسو لپاره یې داسې قمیصونه پیدا کړي دي چې تاسو له ګرمۍ نه ساتي او داسې قمیصونه (زغرې) چې تاسو له جنګ نه ساتي، همدارنګه هغه خپل نعمتونه پر تاسو باندې

پوره کوي، د دې لپاره چې تاسو اسلام راوړئ

فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّمَا عَلَيۡكَ ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ٨٢

(82) نو كه دوی مخ واړوي، نو همدا خبره ده چې په تا باندې يواځې ښكاره رَسَوَل (تبليغ كول) لازم دي

يَعۡرِفُونَ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ ثُمَّ يُنكِرُونَهَا وَأَكۡثَرُهُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ٨٣

(83) دوی د الله نعمتونه پېژني، بيا له هغو نه انكار كوي او د دوی زياتره كافران دي

وَيَوۡمَ نَبۡعَثُ مِن كُلِّ أُمَّةٖ شَهِيدٗا ثُمَّ لَا يُؤۡذَنُ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ وَلَا هُمۡ يُسۡتَعۡتَبُونَ ٨٤

(84) او هغه ورځ چې مونږ به له هر امت نه يو گواه راپورته كړو، بيا به هغو كسانو ته چې كفر يې كړی دی، اجازت نه وركولی شي او نه به له دوی نه د راضي كولو طلب كولی شي

وَإِذَا رَءَا ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ ٱلۡعَذَابَ فَلَا يُخَفَّفُ عَنۡهُمۡ وَلَا هُمۡ يُنظَرُونَ ٨٥

(85) او كله چې هغه كسان چې ظلم يې كړی دی عذاب ووينې، نو له دوی نه به هغه سپك (كم) نه كړی شي او نه به دوی ته مهلت وركولی شي

وَإِذَا رَءَا ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُواْ شُرَكَآءَهُمۡ قَالُواْ رَبَّنَا هَٰٓؤُلَآءِ شُرَكَآؤُنَا ٱلَّذِينَ كُنَّا نَدۡعُواْ مِن دُونِكَۖ فَأَلۡقَوۡاْ إِلَيۡهِمُ ٱلۡقَوۡلَ إِنَّكُمۡ لَكَٰذِبُونَ ٨٦

(86) او كله چې مشركان خپل شريكان ووينې، دوی به ووايي: ای زمونږ ربه! دا زمونږ هغه شريكان دي چې مونږ به له تا نه غير بلل، نو شريكان به دوی ته خبره وروغورځوي (جواب به وركړي) چې بېشكه تاسو يقينًا

دروغجنا يئ

وَأَلۡقَوۡاْ إِلَى ٱللَّهِ يَوۡمَئِذٍ ٱلسَّلَمَۖ وَضَلَّ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ﴿٨٧﴾

**(87)** او مشركان به په دغې ورځې كې الله ته تسليمي وړاندې كړي او له دوى نه به هغه څه ورك شي چې دوى به دروغ تړل

ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ زِدۡنَٰهُمۡ عَذَابًا فَوۡقَ ٱلۡعَذَابِ بِمَا كَانُواْ يُفۡسِدُونَ ﴿٨٨﴾

**(88)** هغه كسان چې كفر يې كړى دى او د الله له لارې نه يې بندول كړي دي، مونږ به هغوى ته عذاب د عذاب له پاسه ورزيات كړو، په سبب د هغه چې دوى به فساد كاوه

وَيَوۡمَ نَبۡعَثُ فِي كُلِّ أُمَّةٖ شَهِيدًا عَلَيۡهِم مِّنۡ أَنفُسِهِمۡۖ وَجِئۡنَا بِكَ شَهِيدًا عَلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِۚ وَنَزَّلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ تِبۡيَٰنٗا لِّكُلِّ شَيۡءٖ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٗ وَبُشۡرَىٰ لِلۡمُسۡلِمِينَ ﴿٨٩﴾

**(89)** او په هغې ورځې كې چې مونږ به په هر امت كې يو ګواه راپورته كړو د دوى په خلاف د همدوى له نفسونو نه او مونږ به تا په دوى باندې ګواه راولو او مونږ په تا باندې كتاب نازل كړى دى، په داسې حال كې چې (د دين) د هر شي لپاره (په كې) واضحه بيان دى او هدايت او رحمت او زيرى دى د مسلمانانو لپاره

۞إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُ بِٱلۡعَدۡلِ وَٱلۡإِحۡسَٰنِ وَإِيتَآيِٕ ذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَيَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِ وَٱلۡبَغۡيِۚ يَعِظُكُمۡ لَعَلَّكُمۡ

**(90)** بېشكه الله د انصاف كولو او احسان كولو او خپلوانو ته د وركړې حكم كوي او له فحاشۍ او بدو كارونو او سركشۍ نه منع كوي، هغه تاسو ته وعظ كوي، د دې لپاره

تَذَكَّرُونَ ٩٠

چې تاسو نصيحت قبول کړئ

وَأَوۡفُواْ بِعَهۡدِ ٱللَّهِ إِذَا عَٰهَدتُّمۡ وَلَا تَنقُضُواْ ٱلۡأَيۡمَٰنَ بَعۡدَ تَوۡكِيدِهَا وَقَدۡ جَعَلۡتُمُ ٱللَّهَ عَلَيۡكُمۡ كَفِيلًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا تَفۡعَلُونَ ٩١

(91) او تاسو د الله وعده پوره کړئ کله چې تاسو وعده وکړئ او خپل قسمونه د هغو له پخولو نه بعد مه ماتوئ، حال دا چې تاسو الله پر خپلو ځانونو کفيل (ضامن) ګرځولی دی، بېشکه الله پوهېږي پر هغه څه چې تاسو يې کوئ

وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّتِي نَقَضَتۡ غَزۡلَهَا مِنۢ بَعۡدِ قُوَّةٍ أَنكَٰثٗا تَتَّخِذُونَ أَيۡمَٰنَكُمۡ دَخَلَۢا بَيۡنَكُمۡ أَن تَكُونَ أُمَّةٌ هِيَ أَرۡبَىٰ مِنۡ أُمَّةٍۚ إِنَّمَا يَبۡلُوكُمُ ٱللَّهُ بِهِۦۚ وَلَيُبَيِّنَنَّ لَكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ مَا كُنتُمۡ فِيهِ تَخۡتَلِفُونَ ٩٢

(92) او تاسو د هغې ښځې په شان مه کېږئ چې خپل ورېشلي تارونه به يې له مضبوطوالي نه پس بېرته اومه کول، په دې حال کې چې ټوټې ټوټې وي، تاسو خپل قسمونه په خپل مينځ کې د ټګۍ ذريعه جوړوئ، په دې وجه چې شي يوه ډله، هغه ډېره زياته (غالبه او فايده اخيستونکې) له بلې ډلې نه، همدا خبره ده چې الله تاسو په دې سره ازمايي او خامخا ضرور به د قيامت په ورځ تاسو ته بيانوي هغه څه چې تاسو به په هغه کې اختلاف کاوه

وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَعَلَكُمۡ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ وَلَٰكِن يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُۚ وَلَتُسۡـَٔلُنَّ عَمَّا

(93) او که چېرې الله غوښتلی (نو) خامخا تاسو به يې يو امت ګرځولي وی او لېکن هغه ګمراه کوي چا چې وغواړي او هدايت ورکوي

كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٩٣

چا ته چې وغواړي او خامخا ضرور به له تاسو نه تپوس کېږي د هغو عملونو په باره کې چې تاسو به کول

وَلَا تَتَّخِذُوٓاْ أَيۡمَٰنَكُمۡ دَخَلَۢا بَيۡنَكُمۡ فَتَزِلَّ قَدَمُۢ بَعۡدَ ثُبُوتِهَا وَتَذُوقُواْ ٱلسُّوٓءَ بِمَا صَدَدتُّمۡ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَكُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ٩٤

(94) او تاسو خپل قسمونه په خپل مینځ کې د تګۍ ذریعه مه جوړوئ، نو (ګنې) قدم به (پر اسلام) د هغه له ټېنګېدلو نه پس وښویږي او تاسو به بدي وڅکئ، په سبب د هغه چې تاسو د الله له لارې نه بندول کړي دي او تاسو لپاره ډېر لوی عذاب دی

وَلَا تَشۡتَرُواْ بِعَهۡدِ ٱللَّهِ ثَمَنٗا قَلِيلًاۚ إِنَّمَا عِندَ ٱللَّهِ هُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٩٥

(95) او تاسو د الله په عهد سره لږې پیسې (دنیاوي مال و دولت) مه اخلئ، بېشکه هغه څه چې د الله په نیز دي هغه تاسو لپاره ډېر غوره دي، که چېرې تاسو پوهېږئ

مَا عِندَكُمۡ يَنفَدُ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ بَاقٖۗ وَلَنَجۡزِيَنَّ ٱلَّذِينَ صَبَرُوٓاْ أَجۡرَهُم بِأَحۡسَنِ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٩٦

(96) هغه څه چې له تاسو سره دي هغه ختمېږي او څه چې له الله سره دي هغه باقي دي او خامخا ضرور به مونږ هغو کسانو ته په عوض کې د هغوی اجر ورکړو چې صبر یې کړی دی د هغو تر ټولو ښو عملونو په بدل کې چې دوی به کول

مَنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا مِّن ذَكَرٍ أَوۡ

(97) چا چې نېک عمل وکړ، سړی وي، یا که ښځه، په داسې حال کې چې مومن وي، نو

| | |
|---|---|
| أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَلَنُحۡيِيَنَّهُۥ حَيَوٰةٗ طَيِّبَةٗۖ وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ أَجۡرَهُم بِأَحۡسَنِ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٩٧ | خامخا هرومرو به مونږ هغه ته ژوند ورکړو، ډېر پاکېزه ژوند او خامخا هرومرو به مونږ هغوی ته د هغوی د اجر جزا ورکړو د هغو تر ټولو ښو عملونو په بدل کې چې دوی به کول |
| فَإِذَا قَرَأۡتَ ٱلۡقُرۡءَانَ فَٱسۡتَعِذۡ بِٱللَّهِ مِنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ ٩٨ | (98) نو کله چې ته قرآن لولې، نو د الله پناه وغواړه د رټل شوي شیطان (له شر) نه |
| إِنَّهُۥ لَيۡسَ لَهُۥ سُلۡطَٰنٌ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ٩٩ | (99) بېشکه چې دی، نشته ده ته هېڅ غلبه په هغو کسانو باندې چې ایمان يې راوړی دی او چې خاص په خپل رب باندې هغوی توکل کوي |
| إِنَّمَا سُلۡطَٰنُهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ يَتَوَلَّوۡنَهُۥ وَٱلَّذِينَ هُم بِهِۦ مُشۡرِكُونَ ١٠٠ | (100) همداخبره ده چې د ده غلبه په هغو کسانو باندې ده چې له ده سره دوستي کوي او په هغو کسانو باندې چې هغوی له هغه (الله) سره شریك جوړونکي دي |
| وَإِذَا بَدَّلۡنَآ ءَايَةٗ مَّكَانَ ءَايَةٖ وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا يُنَزِّلُ قَالُوٓاْ إِنَّمَآ أَنتَ مُفۡتَرِۭۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ١٠١ | (101) او کله چې مونږ یو ایت د بل ایت په ځای کې تبدیل کړو، او الله ښه پوه دی پر هغه څه چې هغه يې نازلوي، دوی وايي: خبره همدا ده چې ته دروغ تړونکی يې، بلکې د دوی اکثره نه پوهېږي |
| قُلۡ نَزَّلَهُۥ رُوحُ ٱلۡقُدُسِ مِن رَّبِّكَ | (102) ته ووایه: هغه ستا د رب له جانبه په |

بِٱلۡحَقِّ لِيُثَبِّتَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهُدٗى وَبُشۡرَىٰ لِلۡمُسۡلِمِينَ ١٠٢

حقه سره روح القدس (جبريل) نازل كړى دى، د دې لپاره چې هغه كسان ثابت او ټينګ كړي چې ايمان يې راوړى دى او د مسلمانانو د هدايت او زېرې لپاره

وَلَقَدۡ نَعۡلَمُ أَنَّهُمۡ يَقُولُونَ إِنَّمَا يُعَلِّمُهُۥ بَشَرٞۗ لِّسَانُ ٱلَّذِي يُلۡحِدُونَ إِلَيۡهِ أَعۡجَمِيّٞ وَهَٰذَا لِسَانٌ عَرَبِيّٞ مُّبِينٌ ١٠٣

(103) او يقينًا يقينًا مونږ پوهېږو چې بېشكه دوى وايي: خبره همدا ده چې ده ته يو انسان ښوونه كوي، د هغه كس ژبه چې دوى هغه ته نسبت كوي؛ عجمي ده او دا (قرآن) واضحه عربي ژبه ده

إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ لَا يَهۡدِيهِمُ ٱللَّهُ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ١٠٤

(104) بېشكه هغه كسان چې د الله په ايتونو باندې ايمان راوړي، الله دوى ته هدايت نه كوي او دوى ته ډېر دردوونكى عذاب دى

إِنَّمَا يَفۡتَرِي ٱلۡكَذِبَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰذِبُونَ ١٠٥

(105) خبره همدا ده چې دروغ هغه كسان تړي چې د الله په ايتونو باندې ايمان نه راوړي او همدغه خلق دروغجن دي

مَن كَفَرَ بِٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ إِيمَٰنِهِۦٓ إِلَّا مَنۡ أُكۡرِهَ وَقَلۡبُهُۥ مُطۡمَئِنُّۢ بِٱلۡإِيمَٰنِ وَلَٰكِن مَّن شَرَحَ بِٱلۡكُفۡرِ صَدۡرٗا فَعَلَيۡهِمۡ غَضَبٞ

(106) هغه څوك چې په الله سره كافر شو د خپل ايمان له راوړلو نه پس، غير له هغه كس نه چې زور پرې وكړى شي، په دې حال كې چې د هغهٔ زړهٔ په ايمان سره مطمئن وي او لېكن هغه څوك چې په كفر سره خپله سينه

مِّنَ ٱللَّهِ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ١٠٦

فراخه کړي (له زړه نه يې راي شي)، نو په دغو خلقو باندې د الله له جانبه غضب دی او د دوی لپاره ډېر لوی عذاب دی

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ ٱسۡتَحَبُّواْ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا عَلَى ٱلۡأٓخِرَةِ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ١٠٧

(107) دا په سبب د دې چې بېشکه دوی دنيايي ژوند په اخرت باندې غوره کړی دی او دا چې بېشکه الله کافر قوم ته هدايت نه کوي

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ وَسَمۡعِهِمۡ وَأَبۡصَٰرِهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡغَٰفِلُونَ ١٠٨

(108) دا همغه کسان دي چې الله د دوی پر زړونو او د دوی پر غوږونو او د دوی پر سترګو باندې مهر لګولی دی او همدغه کسان غافلان دي

لَا جَرَمَ أَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ١٠٩

(109) حقيقت دا دی چې بېشکه دوی په اخرت کې، همدوی تاوانيان دي

ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ هَاجَرُواْ مِنۢ بَعۡدِ مَا فُتِنُواْ ثُمَّ جَٰهَدُواْ وَصَبَرُوٓاْ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعۡدِهَا لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ ١١٠

(110) بيا بېشکه ستا رب د هغو کسانو لپاره چې هجرت يې کړی دی وروسته له دې چې په فتنو کې واچول شول، بيا يې جهاد هم کړی دی او صبر يې کړی دی، بېشکه ستا رب له دې نه پس خامخا ښه مغفرت کوونکی، بې حده رحم کوونکی دی

۞يَوۡمَ تَأۡتِي كُلُّ نَفۡسٖ تُجَٰدِلُ عَن

(111) هغه ورځ چې هر کس به په داسې حال

نَّفۡسِهَا وَتُوَفَّىٰ كُلُّ نَفۡسٖ مَّا عَمِلَتۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ﴿١١١﴾

کې راځي چې د خپل نفس له طرف نه به جګړه کوي او هر نفس ته به پوره ورکړې شي هغه څه چې ده کړي دي، په دې حال کې چې پر دوی به ظلم ونه کړې شي

وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا قَرۡيَةٗ كَانَتۡ ءَامِنَةٗ مُّطۡمَئِنَّةٗ يَأۡتِيهَا رِزۡقُهَا رَغَدٗا مِّن كُلِّ مَكَانٖ فَكَفَرَتۡ بِأَنۡعُمِ ٱللَّهِ فَأَذَٰقَهَا ٱللَّهُ لِبَاسَ ٱلۡجُوعِ وَٱلۡخَوۡفِ بِمَا كَانُواْ يَصۡنَعُونَ ﴿١١٢﴾

**(112)** او الله د یو کلي مثال بیانوي چې د امن والا (او) اطمینان والا و، دغه (کلي) ته به د هغه رزق له هره ځایه پرېمانه راته، نو دغه کلي د الله د نعمتونو ناشکري وکړه، نو الله په دغه کلي باندې د لوږې او وېرې لباس وڅکاوه (لوږه او وېره یې پرې راوستله) په سبب د هغو عملونو چې دوی به کول

وَلَقَدۡ جَآءَهُمۡ رَسُولٞ مِّنۡهُمۡ فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَهُمُ ٱلۡعَذَابُ وَهُمۡ ظَٰلِمُونَ ﴿١١٣﴾

**(113)** او یقینًا یقینًا دوی ته له همدوی ځنې رسول راغلی و، نو دوی د هغه تکذیب وکړ، نو دوی عذاب ونیول، په داسې حال کې چې دوی ظالمان وو

فَكُلُواْ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ حَلَٰلٗا طَيِّبٗا وَٱشۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ إِيَّاهُ تَعۡبُدُونَ ﴿١١٤﴾

**(114)** نو تاسو خورئ له هغو (خوراکونو) نه چې تاسو ته الله درکړي دي، چې حلال، پاکیزه دي او تاسو د الله د نعمتونو شکر وباسئ که چېرې تاسو خاص د هغهٔ عبادت کوئ

إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَيۡتَةَ وَٱلدَّمَ
وَلَحۡمَ ٱلۡخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ لِغَيۡرِ ٱللَّهِ
بِهِۦۖ فَمَنِ ٱضۡطُرَّ غَيۡرَ بَاغٖ وَلَا
عَادٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ١١٥

**(115)** همدا خبره ده چې هغه پر تاسو باندې حرامه کړې ده مرداره او وينه او د خنزير غوښه او هغه چې په هغه باندې د غيرالله لپاره اواز پورته شوی وي، نو هغه څوك چې مجبوره شي ، په دې حال کې چې نه ظالم وي او نه (له حده) تجاوز کوونکی وي، نو بېشکه الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی

وَلَا تَقُولُواْ لِمَا تَصِفُ أَلۡسِنَتُكُمُ
ٱلۡكَذِبَ هَٰذَا حَلَٰلٞ وَهَٰذَا حَرَامٞ
لِّتَفۡتَرُواْ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَۚ إِنَّ
ٱلَّذِينَ يَفۡتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ
لَا يُفۡلِحُونَ ١١٦

**(116)** او په دې وجه چې ستاسو ژبې دروغ بيانوي تاسو دا مه وايئ چې دا حلال دي او دا حرام دي، د دې لپاره چې تاسو په الله باندې له ځانه دروغ جوړ کړئ، بېشکه هغه کسان چې په الله باندې دروغ تپي، هغوی به خلاصی ونه مومي

مَتَٰعٞ قَلِيلٞ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ١١٧

**(117)** ډېره لږه فايده ده، او د دوی لپاره ډېر دردوونکی عذاب دی

وَعَلَى ٱلَّذِينَ هَادُواْ حَرَّمۡنَا مَا
قَصَصۡنَا عَلَيۡكَ مِن قَبۡلُۖ وَمَا
ظَلَمۡنَٰهُمۡ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ
يَظۡلِمُونَ ١١٨

**(118)** او په هغو کسانو باندې چې يهوديان شوي دي، مونږ حرام کړي دي هغه څه چې مونږ تا ته له دې نه مخکې بيان کړي دي او مونږ پر هغوی باندې ظلم نه دی کړی او لېکن هغوی وو چې پر خپلو ځانونو يې ظلم

کاوه

ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ عَمِلُواْ ٱلسُّوٓءَ بِجَهَٰلَةٖ ثُمَّ تَابُواْ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ وَأَصۡلَحُوٓاْ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعۡدِهَا لَغَفُورٞ رَّحِيمٌ ١١٩

(119) بیا بېشکه ستا رب هغو کسانو ته چې بدي يې په ناپوهۍ سره کړې ده، بیا یې له دې نه بعد توبه وویستله او اصلاح یې وکړه، بېشکه ستا رب له دې (توبې) نه بعد خامخا ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی

إِنَّ إِبۡرَٰهِيمَ كَانَ أُمَّةٗ قَانِتٗا لِّلَّهِ حَنِيفٗا وَلَمۡ يَكُ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ١٢٠

(120) بېشکه ابراهیم یو امت و، د الله فرمان منونکی، حق ته مایله او نه و هغه له مشرکانو څخه

شَاكِرٗا لِّأَنۡعُمِهِۚ ٱجۡتَبَىٰهُ وَهَدَىٰهُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ١٢١

(121) د هغهٔ د نعمتونو شکر کوونکی و، الله هغه غوره کړی و او هغه ته یې د نېغې لارې هدایت کړی و

وَءَاتَيۡنَٰهُ فِي ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗۖ وَإِنَّهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ١٢٢

(122) او مونږ هغه ته په دنیا کې نېکي (او ښېګڼه) ورکړې وه او بېشکه هغه په اخرت کې خامخا له صالحانو څخه دی

ثُمَّ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ أَنِ ٱتَّبِعۡ مِلَّةَ إِبۡرَٰهِيمَ حَنِيفٗاۖ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ١٢٣

(123) بیا مونږ تا ته وحي وکړه چې د ابراهیم د ملت پیروي وکړه چې حنیف و او له مشرکانو څخه نه و

إِنَّمَا جُعِلَ ٱلسَّبۡتُ عَلَى ٱلَّذِينَ

(124) همدا خبره ده چې (ورځ د) خالي پر

ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِۚ وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَحۡكُمُ
بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ
فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ١٢٤

هغو کسانو مقرر شوې ده چې په دې کې يې اختلاف کړی و او بېشکه ستا رب به خامخا د دوی په مينځ کې د قيامت په ورځ فيصله کوي په هغه څيز کې چې دوی به په هغه کې اختلاف کاوه

ٱدۡعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلۡحِكۡمَةِ
وَٱلۡمَوۡعِظَةِ ٱلۡحَسَنَةِۖ وَجَٰدِلۡهُم
بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ
أَعۡلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ وَهُوَ
أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ ١٢٥

(125) ته د خپل رب لارې ته په حکمت سره او ښکلې نصيحت سره بلنه کوه او له دوی سره په هغې طريقې سره مجادله (مباحثه) کوه چې هغه تر ټولو ښه وي، بېشکه ستا رب (چې دی) هغه ښه پوه دی پر هغه کس چې د هغه له لارې نه ګمراه شوی دی او هغه ښه پوه دی پر لار موندونکو باندې

وَإِنۡ عَاقَبۡتُمۡ فَعَاقِبُواْ بِمِثۡلِ مَا
عُوقِبۡتُم بِهِۦۖ وَلَئِن صَبَرۡتُمۡ لَهُوَ
خَيۡرٞ لِّلصَّٰبِرِينَ ١٢٦

(126) او که تاسو سزا (عذاب) ورکوئ، نو د هغې سزا (عذاب) په مثل يې ورکوئ چې تاسو ته په هغه سره عذاب درکړی شوی دی او البته که تاسو صبر وکړئ، (نو) يقينًا دا د صبر کوونکو لپاره ډېر غوره دی

وَٱصۡبِرۡ وَمَا صَبۡرُكَ إِلَّا بِٱللَّهِۚ وَلَا
تَحۡزَنۡ عَلَيۡهِمۡ وَلَا تَكُ فِي ضَيۡقٖ
مِّمَّا يَمۡكُرُونَ ١٢٧

(127) او ته صبر کوه او نه دی صبر ستا مګر په توفيق د الله سره او په دوی باندې مه غمژن کېږه او په زړه تنګی کې مه پرېوځه د هغو مکرونو (فرېبونه) په وجه چې دوی يې

کوي

إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَواْ وَّٱلَّذِينَ هُم مُّحۡسِنُونَ ١٢٨

(128) بېشکه الله د هغو کسانو ملګری دی چې پرهېزګاري کوي او د هغو کسانو چې هغوی نېکي کوونکي دي

## سُورَةُ الإِسۡرَاءِ

## سورۀ اِسراء

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِيٓ أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ لَيۡلٗا مِّنَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ إِلَى ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡأَقۡصَا ٱلَّذِي بَٰرَكۡنَا حَوۡلَهُۥ لِنُرِيَهُۥ مِنۡ ءَايَٰتِنَآۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ١

(1) هغه ذات لره پاکي ده چې خپل بنده يې د شپې په يوه لږه برخه کې له مسجد حرام نه مسجد اقصىٰ ته بوتلو، هغه (مسجد اقصىٰ) چې مونږ د هغه ګېرچاپېره برکت اچولی دی، د دې لپاره چې مونږ هغه ته له خپلو نښو څخه ځينې وښيو، بېشکه هم هغه ښه اورېدونکی، ښه لیدونکی دی

وَءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ وَجَعَلۡنَٰهُ هُدٗى لِّبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ أَلَّا تَتَّخِذُواْ مِن دُونِي وَكِيلٗا ٢

(2) او مونږ موسىٰ ته کتاب ورکړی و او هغه مو د بني اسرائيلو لپاره هدايت ګرځولی و، چې تاسو له ما نه غير هېڅ کارساز مه نيسئ

ذُرِّيَّةَ مَنۡ حَمَلۡنَا مَعَ نُوحٍۚ إِنَّهُۥ

(3) ای د هغه چا اولاده چې مونږ له نوح سره

كَانَ عَبۡدٗا شَكُورٗا ٣

سواره کړي وو، بېشکه هغه ډېر شکر ایستونکی بنده و

وَقَضَيۡنَآ إِلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ فِي ٱلۡكِتَٰبِ لَتُفۡسِدُنَّ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَرَّتَيۡنِ وَلَتَعۡلُنَّ عُلُوّٗا كَبِيرٗا ٤

(4) او مونږ بني اسرائیلو ته په کتاب کې دا قطعي خبرداری ورکړی و چې تاسو به خامخا هرومرو په ځمکه کې دوه ځلې فساد کوئ او خامخا هرومرو به تاسو سرکشي کوئ، ډېره لویه سرکشي

فَإِذَا جَآءَ وَعۡدُ أُولَىٰهُمَا بَعَثۡنَا عَلَيۡكُمۡ عِبَادٗا لَّنَآ أُوْلِي بَأۡسٖ شَدِيدٖ فَجَاسُواْ خِلَٰلَ ٱلدِّيَارِۚ وَكَانَ وَعۡدٗا مَّفۡعُولٗا ٥

(5) نو کله چې په هغو دواړو کې د اول ځلې وعده راغله (نو) مونږ پر تاسو باندې خپل داسې بنده ګان مسلط کړل چې ډېر سخت جنګي خلق وو، نو هغوی د ښارونو په مینځ کې ښه وګرځېدل او وه دا یوه وعده چې پوره کولی شوه

ثُمَّ رَدَدۡنَا لَكُمُ ٱلۡكَرَّةَ عَلَيۡهِمۡ وَأَمۡدَدۡنَٰكُم بِأَمۡوَٰلٖ وَبَنِينَ وَجَعَلۡنَٰكُمۡ أَكۡثَرَ نَفِيرًا ٦

(6) بیا مونږ بېرته تاسو ته پر هغوی باندې غلبه دروګرځوله او ستاسو مدد مو وکړ په مالونو او زامنو سره او تاسو مو د ملاتړ (او افرادو) په لحاظ ښېخي زیات کړئ

إِنۡ أَحۡسَنتُمۡ أَحۡسَنتُمۡ لِأَنفُسِكُمۡۖ وَإِنۡ أَسَأۡتُمۡ فَلَهَاۚ فَإِذَا جَآءَ وَعۡدُ ٱلۡأٓخِرَةِ لِيَسُـُٔواْ

(7) که تاسو نېکي وکړئ (نو) د خپلو ځانونو لپاره به نېکي وکړئ او که چېرې تاسو بدي وکړئ، نو د همدغو (نفسونو) لپاره ده، نو کله چې د اخري ځل وعده راغله (نو مونږ پر تاسو

وُجُوهَكُمۡ وَلِيَدۡخُلُواْ ٱلۡمَسۡجِدَ كَمَا دَخَلُوهُ أَوَّلَ مَرَّةٖ وَلِيُتَبِّرُواْ مَا عَلَوۡاْ تَتۡبِيرًا ٧

باندې نور بنده ګان مُسلط کړل)، د دې لپاره چې (په وهلو وهلو) ستاسو مخونه وران ویجاړه کړي او د دې لپاره چې (اقصا) جومات ته داخل شي لکه څنګه چې اول ځلې ده ته داخل شوي وو، او د دې لپاره چې هلاك او تباه کړي هر هغه شی چې دوی پرې غالب شي، هلاکول

عَسَىٰ رَبُّكُمۡ أَن يَرۡحَمَكُمۡۚ وَإِنۡ عُدتُّمۡ عُدۡنَاۚ وَجَعَلۡنَا جَهَنَّمَ لِلۡكَٰفِرِينَ حَصِيرًا ٨

(8) امید دی چې ستاسو رب به پر تاسو رحم وکړي او که تاسو بیرته وګرځېدئ (سرکشۍ ته، نو) مونږ به هم راوګرځو (عذاب درکولو ته)، او مونږ جهنم د کافرانو لپاره زندان ګرځولی دی

إِنَّ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانَ يَهۡدِي لِلَّتِي هِيَ أَقۡوَمُ وَيُبَشِّرُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٱلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أَنَّ لَهُمۡ أَجۡرٗا كَبِيرٗا ٩

(9) بیشکه دا قرآن هغې (لارې) ته ښودنه کوي چې تر ټولو برابره نیغه ده او هغو مومنانو ته زیرې ورکوي چې نیك عملونه کوي، د دې چې یقینًا د دوی لپاره ډېر لوی اجر دی

وَأَنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ أَعۡتَدۡنَا لَهُمۡ عَذَابًا أَلِيمٗا ١٠

(10) او دا چې بیشکه هغه کسان چې په اخرت باندې ایمان نه راوړي، مونږ د هغوی لپاره ډېر دردوونکی عذاب تیار کړی دی

وَيَدۡعُ ٱلۡإِنسَٰنُ بِٱلشَّرِّ دُعَآءَهُۥ

(11) او انسان د شر دعا غواړي د خپلې خیر

| | |
|---|---|
| بِٱلۡخَيۡرِۖ وَكَانَ ٱلۡإِنسَٰنُ عَجُولٗا ﴿١١﴾ | د دعا (په شان) او انسان له شروع نه ډېر تلوار كوونكى دى |
| وَجَعَلۡنَا ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ ءَايَتَيۡنِۖ فَمَحَوۡنَآ ءَايَةَ ٱلَّيۡلِ وَجَعَلۡنَآ ءَايَةَ ٱلنَّهَارِ مُبۡصِرَةٗ لِّتَبۡتَغُواْ فَضۡلٗا مِّن رَّبِّكُمۡ وَلِتَعۡلَمُواْ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ وَٱلۡحِسَابَۚ وَكُلَّ شَيۡءٖ فَصَّلۡنَٰهُ تَفۡصِيلٗا ﴿١٢﴾ | **(12)** او مونږ شپه او ورځ دوه نښې جوړې كړې دي، بیا مونږ د شپې نښه تته وګرځوله او د ورځې نښه مو روښانه وګرځوله، د دې لپاره چې تاسو د خپل رب فضل طلب كړئ او د دې لپاره چې تاسو د كلونو شمېر او حساب وپېژنئ او هر شى، مونږ هغه ښه په تفصیل سره بیان كړى دى |
| وَكُلَّ إِنسَٰنٍ أَلۡزَمۡنَٰهُ طَٰٓئِرَهُۥ فِي عُنُقِهِۦۖ وَنُخۡرِجُ لَهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ كِتَٰبٗا يَلۡقَىٰهُ مَنشُورًا ﴿١٣﴾ | **(13)** او هر انسان لره، مونږ هغه ته خپل عمل د هغه په غاړه كې لازم كړى دى او د قیامت په ورځ به ده ته یو كتاب راوباسو چې دى به ورسره مخامخ شي، په داسې حال كې چې غوړېدلى به وي |
| ٱقۡرَأۡ كِتَٰبَكَ كَفَىٰ بِنَفۡسِكَ ٱلۡيَوۡمَ عَلَيۡكَ حَسِيبٗا ﴿١٤﴾ | **(14)** ته خپل كتاب ولوله، نن ورځ ستا په خلاف هم ستا خپل نفس كافي دى، حساب كوونكى |
| مَّنِ ٱهۡتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهۡتَدِي لِنَفۡسِهِۦۖ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيۡهَاۚ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ أُخۡرَىٰۗ | **(15)** چا چې نېغه لار ونیوله، نو همدا خبره ده چې هغه د خپل ځان (د فایدې) لپاره نېغه لار نیسي او څوك چې بې لارې شو، نو همدا خبره ده چې هغه د همدغه (نفس) په ضرر |

| | |
|---|---|
| وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّىٰ نَبۡعَثَ رَسُولٗا ١٥ | بې لارې کېږي او هېڅ بار اوچتونکی د بل بار نه اوچتوي او مونږ کله هم عذاب ورکوونکي نه یو تر هغه پورې چې رسول ولېږو |
| وَإِذَآ أَرَدۡنَآ أَن نُّهۡلِكَ قَرۡيَةً أَمَرۡنَا مُتۡرَفِيهَا فَفَسَقُواْ فِيهَا فَحَقَّ عَلَيۡهَا ٱلۡقَوۡلُ فَدَمَّرۡنَٰهَا تَدۡمِيرٗا ١٦ | **(16)** او کله چې مونږ اراده وکړو چې یو کلی هلاك کړو (نو) مونږ د هغه (کلي) کبرجنو مالدارو ته حکم وکړو، نو هغوی (حکم ونه مني بلکې) په دغه (کلي) کې فسق وکړي، نو په هغه باندې خبره ثابته شي، بیا مونږ هغه تباه کړو، سخت تباه کول |
| وَكَمۡ أَهۡلَكۡنَا مِنَ ٱلۡقُرُونِ مِنۢ بَعۡدِ نُوحٖۗ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ بِذُنُوبِ عِبَادِهِۦ خَبِيرَۢا بَصِيرٗا ١٧ | **(17)** او مونږ له نوح نه وروسته څومره ډېر قرنونه (امتونه) هلاك کړي دي! او ستا رب ښه کافي دی د خپلو بنده ګانو په ګناهونو باندې ښه خبردار، ښه لیدونکی |
| مَّن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡعَاجِلَةَ عَجَّلۡنَا لَهُۥ فِيهَا مَا نَشَآءُ لِمَن نُّرِيدُ ثُمَّ جَعَلۡنَا لَهُۥ جَهَنَّمَ يَصۡلَىٰهَا مَذۡمُومٗا مَّدۡحُورٗا ١٨ | **(18)** هغه څوك چې داسې وي چې دنیا غواړي (نو) مونږ به هغه ته په دې کې هغه څه په تلوار ورکړو چې مونږ یې غواړو، د هغه چا لپاره چې مونږ یې اراده وکړو، بیا مونږ د هغهٔ لپاره جهنم مقرر کړو چې دی به هغه ته ننوځي، په داسې حال کې چې ملامت کړی شوی، شړل شوی به وي |

وَمَنۡ أَرَادَ ٱلۡأٓخِرَةَ وَسَعَىٰ لَهَا
سَعۡيَهَا وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَأُوْلَٰٓئِكَ كَانَ
سَعۡيُهُم مَّشۡكُورٗا ١٩

(19) او هغه څوك چې اخرت غواړي او د هغه لپاره كوشش كوي، د هغهٔ لايق كوشش، په دې حال كې چې مومن (هم) وي، نو دغه خلق، د دوی سعي قدر كړی شوې (او مقبوله) ده

كُلّٗا نُّمِدُّ هَٰٓؤُلَآءِ وَهَٰٓؤُلَآءِ مِنۡ
عَطَآءِ رَبِّكَۚ وَمَا كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ
مَحۡظُورًا ٢٠

(20) له هر يو سره مونږ ستا د رب له وركړې څخه مدد كوو، له دوی سره او له دغو سره، او ستا د رب عطا (وركړه په دنيا كې) كله هم منع كړی شوې نه ده

ٱنظُرۡ كَيۡفَ فَضَّلۡنَا بَعۡضَهُمۡ عَلَىٰ
بَعۡضٖۚ وَلَلۡأٓخِرَةُ أَكۡبَرُ دَرَجَٰتٖ
وَأَكۡبَرُ تَفۡضِيلٗا ٢١

(21) ته وګوره! څرنګه مونږ د دوی ځينې، په ځينو نورو باندې غوره كړي دي او خامخا اخرت د درجو په لحاظ تر ټولو لوی او د فضيلت وركولو په لحاظ تر ټولو غټ دی

لَّا تَجۡعَلۡ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ
فَتَقۡعُدَ مَذۡمُومٗا مَّخۡذُولٗا ٢٢

(22) ته له الله سره بل معبود مه نيسه، نو (ګڼې) ملامت كړی شوی، بې يارومددګار به كېنې

۞وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ
إِيَّاهُ وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ إِحۡسَٰنًاۚ إِمَّا
يَبۡلُغَنَّ عِندَكَ ٱلۡكِبَرَ أَحَدُهُمَآ أَوۡ
كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفّٖ وَلَا

(23) او ستا رب حكم كړی دی چې تاسو عبادت مه كوئ (د بل هيچا) مګر يواځې د هغهٔ او له مور و پلار سره ښه احسان كوئ او كه چېرې په دوی كې يو يا دواړه له تا سره

| | |
|---|---|
| تَنۡهَرۡهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوۡلٗا كَرِيمٗا ﴿٢٣﴾ | کله هم زوړوالي (بوډاوالي) ته ورسېږي، نو ته دي دواړو ته اُف (هم) مه وايه او مه دوی رټه او ته دوی ته ډېره تعظيمي خبره وايه |
| وَٱخۡفِضۡ لَهُمَا جَنَاحَ ٱلذُّلِّ مِنَ ٱلرَّحۡمَةِ وَقُل رَّبِّ ٱرۡحَمۡهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرٗا ﴿٢٤﴾ | (24) او ته د دوی لپاره له مهربانۍ نه د تواضع وزر ښکته کړه او وايه: ای زما ربه! ته پر دوی دواړو مهرباني وکړه، لکه څنګه چې دوی دواړو زما پالنه کړې ده، په دې حال کې چې زه وړوکی وم |
| رَّبُّكُمۡ أَعۡلَمُ بِمَا فِي نُفُوسِكُمۡۚ إِن تَكُونُواْ صَٰلِحِينَ فَإِنَّهُۥ كَانَ لِلۡأَوَّٰبِينَ غَفُورٗا ﴿٢٥﴾ | (25) ستاسو رب پر هغه څه ښه پوه دی چې ستاسو په نفسونو کې دي که تاسو نېکان يئ، نو بېشکه هغه له شروع نه د توبه کوونکو لپاره ډېر مغفرت کوونکی دی |
| وَءَاتِ ذَا ٱلۡقُرۡبَىٰ حَقَّهُۥ وَٱلۡمِسۡكِينَ وَٱبۡنَ ٱلسَّبِيلِ وَلَا تُبَذِّرۡ تَبۡذِيرًا ﴿٢٦﴾ | (26) او د خپلوۍ خاوند ته د هغه حق ورکړه او مسکين او مسافر ته (هم) او اسراف مه کوه، اسراف کول |
| إِنَّ ٱلۡمُبَذِّرِينَ كَانُوٓاْ إِخۡوَٰنَ ٱلشَّيَٰطِينِۖ وَكَانَ ٱلشَّيۡطَٰنُ لِرَبِّهِۦ كَفُورٗا ﴿٢٧﴾ | (27) بېشکه اسراف کوونکي د شيطانانو ورونه دي او شيطان له همېشه د خپل رب ډېر ناشکره دی |
| وَإِمَّا تُعۡرِضَنَّ عَنۡهُمُ ٱبۡتِغَآءَ رَحۡمَةٖ | (28) او که چېرې ته له دوی نه خامخا اعراض |

مِّن رَّبِّكَ تَرۡجُوهَا فَقُل لَّهُمۡ قَوۡلٗا مَّيۡسُورٗا ٢٨

کوي (مخ اړوي)، د خپل رب له جانبه د رحمت د طلب لپاره چې ته يې امېد لرې، نو دوی ته ډېره اسانه خبره وايه

وَلَا تَجۡعَلۡ يَدَكَ مَغۡلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ وَلَا تَبۡسُطۡهَا كُلَّ ٱلۡبَسۡطِ فَتَقۡعُدَ مَلُومٗا مَّحۡسُورًا ٢٩

(29) او مه کوه خپل لاس تر خپلې غاړې پورې تړل شوی او مه هغه غځوه، بېخي پوره غځول (ګنې) نو ملامت کړی شوی، پښېمانه شوی به کېنې

إِنَّ رَبَّكَ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ إِنَّهُۥ كَانَ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرَۢا بَصِيرٗا ٣٠

(30) بېشکه ستا رب رزق فراخوي چا ته چې وغواړي او تنګوي يې، (چا ته چې وغواړی) بېشکه هغه پر خپلو بنده ګانو ښه خبردار، ښه ليدونکی دی

وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ أَوۡلَٰدَكُمۡ خَشۡيَةَ إِمۡلَٰقٖۖ نَّحۡنُ نَرۡزُقُهُمۡ وَإِيَّاكُمۡۚ إِنَّ قَتۡلَهُمۡ كَانَ خِطۡـٔٗا كَبِيرٗا ٣١

(31) او تاسو خپل اولاد د فقر له وېرې مه وژنئ، هم دا مونږ هغوی ته روزي ورکوو او تاسو ته (هم) بېشکه د دوی وژل له شروع نه ډېره لويه ګناه ده

وَلَا تَقۡرَبُواْ ٱلزِّنَىٰٓۖ إِنَّهُۥ كَانَ فَٰحِشَةٗ وَسَآءَ سَبِيلٗا ٣٢

(32) او تاسو زنا ته مه نژدې کېږئ، بېشکه دا له شروع نه غټه بې حيايي ده او بده لار ده

وَلَا تَقۡتُلُواْ ٱلنَّفۡسَ ٱلَّتِي حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلۡحَقِّۗ وَمَن قُتِلَ مَظۡلُومٗا

(33) او تاسو هغه نفس مه وژنئ چې الله حرام کړی دی مګر په حقه سره (د قانون او قاضي د حکم مطابق) او څوك چې ووژل شي، په

فَقَدۡ جَعَلۡنَا لِوَلِيِّهِۦ سُلۡطَٰنٗا فَلَا يُسۡرِف فِّي ٱلۡقَتۡلِۖ إِنَّهُۥ كَانَ مَنصُورٗا ٣٣

دي حال کې چې مظلوم وي، نو یقینًا مونږ د هغه ولي (وارث) ته پوره غلبه ورکړې ده، نو هغه دې په وژلو کې اسراف نه کوي، بېشکه دغه (وارث) مدد کړی شوی دی

وَلَا تَقۡرَبُواْ مَالَ ٱلۡيَتِيمِ إِلَّا بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ حَتَّىٰ يَبۡلُغَ أَشُدَّهُۥۚ وَأَوۡفُواْ بِٱلۡعَهۡدِۖ إِنَّ ٱلۡعَهۡدَ كَانَ مَسۡـُٔولٗا ٣٤

(34) او تاسو د یتیم مال ته مه نژدې کېږئ مګر په هغې طریقې سره چې هغه تر ټولو ښه وي، تر هغه پورې چې هغه خپل د بلوغ حد ته ورسېږي او تاسو عهد پوره کوئ، بېشکه د عهد باره کې به پوښتنه کېږي.

وَأَوۡفُواْ ٱلۡكَيۡلَ إِذَا كِلۡتُمۡ وَزِنُواْ بِٱلۡقِسۡطَاسِ ٱلۡمُسۡتَقِيمِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ وَأَحۡسَنُ تَأۡوِيلٗا ٣٥

(35) او تاسو پېمانه پوره ورکوئ کله چې تاسو (څه شی) پیمانه کوئ او په ډېرې برابرې تلې سره تول کوئ دا (کار) تر ټولو غوره او د انجام په لحاظ تر ټولو ښه دی

وَلَا تَقۡفُ مَا لَيۡسَ لَكَ بِهِۦ عِلۡمٌۚ إِنَّ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡبَصَرَ وَٱلۡفُؤَادَ كُلُّ أُوْلَٰٓئِكَ كَانَ عَنۡهُ مَسۡـُٔولٗا ٣٦

(36) او ته د هغه شي پیروي مه کوه چې تا ته د هغهٔ (صحیح) علم نه وي، بېشکه غوږونه او سترګې او زړه، په دغو کې د هر یو باره کې به تپوس کولی شي.

وَلَا تَمۡشِ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَرَحًاۖ إِنَّكَ لَن تَخۡرِقَ ٱلۡأَرۡضَ وَلَن تَبۡلُغَ ٱلۡجِبَالَ طُولٗا ٣٧

(37) او په ځمکه کې په تکبر سره مه ګرځه، بېشکه چې ته به ځمکه کله هم څیرې نه کړې شې او په اوږدوالي کې به غرونو ته کله

هم ونه رسېږي

كُلُّ ذَٰلِكَ كَانَ سَيِّئُهُۥ عِندَ رَبِّكَ مَكۡرُوهٗا ٣٨

(38) دغه ټول کارونه (چې دي)، د دغو بدي (او خرابي) ستا د رب په نيز له شروع نه ناخوښه ده

ذَٰلِكَ مِمَّآ أَوۡحَىٰٓ إِلَيۡكَ رَبُّكَ مِنَ ٱلۡحِكۡمَةِۗ وَلَا تَجۡعَلۡ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتُلۡقَىٰ فِي جَهَنَّمَ مَلُومٗا مَّدۡحُورًا ٣٩

(39) دا (ټول حکمونه) له هغو د حکمت (او پوهې) له خبرو څخه دي چې ستا رب تا ته وحي کړې دي او ته له الله سره بل هېڅ معبود مه نيسه (ګڼې) نو په جهنم کې به وغورځول شې، ملامت کړی شوی، رټل شوی

أَفَأَصۡفَىٰكُمۡ رَبُّكُم بِٱلۡبَنِينَ وَٱتَّخَذَ مِنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ إِنَٰثًاۚ إِنَّكُمۡ لَتَقُولُونَ قَوۡلًا عَظِيمٗا ٤٠

(40) ايا ستاسو رب تاسو په زامنو سره غوره کړي يئ او (پخپله) هغه له ملايکو څخه جينکۍ نيولي دي؟ ببشکه تاسو يقينًا ډېره لويه (دروغجنه) خبره وايئ

وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَا فِي هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ لِيَذَّكَّرُواْ وَمَا يَزِيدُهُمۡ إِلَّا نُفُورٗا ٤١

(41) او يقينًا يقينًا مونږ په دې قرآن کې مکرر بيان کړې دی، د دې لپاره چې دوی نصيحت واخلي (خو دغه بيان) دوی ته نه زياتوي مګر تېښته (لرې والی)

قُل لَّوۡ كَانَ مَعَهُۥٓ ءَالِهَةٞ كَمَا يَقُولُونَ إِذٗا لَّٱبۡتَغَوۡاْ إِلَىٰ ذِي

(42) ته ووايه: که له دغه (الله) سره نور معبودان وی، لکه څنګه چې دوی يې وايي ()، نو) په دغه وخت کې به دوی خامخا د عرش د

| | |
|---|---|
| ٱلۡعَرۡشِ سَبِيلٗا ﴿٤٢﴾ | مالك په طرف لار لټولې وی |
| سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يَقُولُونَ عُلُوّٗا كَبِيرٗا ﴿٤٣﴾ | (43) هغه لره پاکي ده او هغه ډېر اوچت دی له هغو خبرو نه چې دوی يې وايي ډېر لوی اوچتېدل |
| تُسَبِّحُ لَهُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ ٱلسَّبۡعُ وَٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهِنَّۚ وَإِن مِّن شَيۡءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمۡدِهِۦ وَلَٰكِن لَّا تَفۡقَهُونَ تَسۡبِيحَهُمۡۚ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورٗا ﴿٤٤﴾ | (44) خاص د هغه لپاره تسبيح وايي اوه اسمانونه او ځمکه او هغه څوك چې په دغو کې دي، او نشته هېڅ يو شی مگر د هغه له ستاينې سره تسبيح وايي او لېکن تاسو د هغو پر تسبيح نه پوهېږئ، بېشکه هغه له ازله ډېر تحمل والا، ډېر بخښونکی دی |
| وَإِذَا قَرَأۡتَ ٱلۡقُرۡءَانَ جَعَلۡنَا بَيۡنَكَ وَبَيۡنَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ حِجَابٗا مَّسۡتُورٗا ﴿٤٥﴾ | (45) او کله چې ته قرآن لولې (، نو) مونږ ستا په مينځ کې او د هغو کسانو په مينځ کې چې پر اخرت ايمان نه راوړي يوه پټه پرده پيدا کړو |
| وَجَعَلۡنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ أَكِنَّةً أَن يَفۡقَهُوهُ وَفِيٓ ءَاذَانِهِمۡ وَقۡرٗاۚ وَإِذَا ذَكَرۡتَ رَبَّكَ فِي ٱلۡقُرۡءَانِ وَحۡدَهُۥ وَلَّوۡاْ عَلَىٰٓ أَدۡبَٰرِهِمۡ نُفُورٗا ﴿٤٦﴾ | (46) او مونږ د هغوی په زړونو باندې پردې اچوو له دې نه چې دوی پر ده پوه شي او د دوی په غوږونو کې کوڼوالی (پيداکړو)، او کله چې ته په قرآن کې، يوازې خپل رب ياد کړې، نو دوی په خپلو شاگانو ببرته وگرځي، په داسې حال کې چې ترهېدونکي وي |

نَّحۡنُ أَعۡلَمُ بِمَا يَسۡتَمِعُونَ بِهِۦٓ إِذۡ يَسۡتَمِعُونَ إِلَيۡكَ وَإِذۡ هُمۡ نَجۡوَىٰٓ إِذۡ يَقُولُ ٱلظَّٰلِمُونَ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلٗا مَّسۡحُورًا ٤٧

(47) مونږ ښه پوه يو پر هغه (نيت) چې دوی په هغه سره اورېدل کوي، کله چې دوی تا ته غوږ ږدي او کله چې دوی پټې مشورې کوي، کله چې دا ظالمان وايي: تاسو پيروي نه کوئ مګر د داسې سړي چې جادو پرې شوی دی

ٱنظُرۡ كَيۡفَ ضَرَبُواْ لَكَ ٱلۡأَمۡثَالَ فَضَلُّواْ فَلَا يَسۡتَطِيعُونَ سَبِيلٗا ٤٨

(48) ته وګوره! دوی ستا په باره کې مثالونه څنګه بيان کړل، نو ګمراه شول، نو د سمې لارې استطاعت نه لري

وَقَالُوٓاْ أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمٗا وَرُفَٰتًا أَءِنَّا لَمَبۡعُوثُونَ خَلۡقٗا جَدِيدٗا ٤٩

(49) او دوی وايي ايا کله چې مونږ هډوکي او ميده شوي خاورې شو، ايا په رښتيا به مونږ بيا راژوندي کولی شو په نويو پيدا کولو سره

۞ قُلۡ كُونُواْ حِجَارَةً أَوۡ حَدِيدًا ٥٠

(50) ته (ورته) ووايه: تاسو کاڼي شئ، يا اوسپنه

أَوۡ خَلۡقٗا مِّمَّا يَكۡبُرُ فِي صُدُورِكُمۡۚ فَسَيَقُولُونَ مَن يُعِيدُنَاۖ قُلِ ٱلَّذِي فَطَرَكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةٖۚ فَسَيُنۡغِضُونَ إِلَيۡكَ رُءُوسَهُمۡ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هُوَۖ قُلۡ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ قَرِيبٗا ٥١

(51) يا کوم داسې مخلوق له هغه قسمه نه چې ستاسو په زړونو (او ذهنونو) کې لوی ښکاري، نو دوی به ژر ووايي: څوک به مونږ بيا راژوندي کوي؟ ته ووايه: هغه ذات چې تاسو يې اول کرت پيدا کړي يئ، نو ژر به دوی خپل سرونه تا ته (د استهزا په ډول) وخوځوي او وايي به: دا به کله وي؟ ته ووايه: اميد دی

چې دغه به ډېر نژدې وي

يَوۡمَ يَدۡعُوكُمۡ فَتَسۡتَجِيبُونَ بِحَمۡدِهِۦ وَتَظُنُّونَ إِن لَّبِثۡتُمۡ إِلَّا قَلِيلٗا ٥٢

(52) په هغې ورځ کې چې هغه (الله) به تاسو راوبلي، نو تاسو به (د هغه بلل) قبول کړئ، په داسې حال کې چې د هغه ثنا به وايئ، او گمان به کوئ چې تاسو (په دې حالت کې) نه يئ پاتې شوي مگر لږ شانې

وَقُل لِّعِبَادِي يَقُولُواْ ٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ يَنزَغُ بَيۡنَهُمۡۚ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ كَانَ لِلۡإِنسَٰنِ عَدُوّٗا مُّبِينٗا ٥٣

(53) او ته زما بنده گانو ته ووايه چې هغه خبره دې وايي چې هغه تر ټولو ښه وي، بېشکه شيطان د دوی په مينځ کې دښمني اچوي، بېشکه شيطان د انسان لپاره له شروع نه ښکاره دښمن دی

رَّبُّكُمۡ أَعۡلَمُ بِكُمۡۖ إِن يَشَأۡ يَرۡحَمۡكُمۡ أَوۡ إِن يَشَأۡ يُعَذِّبۡكُمۡۚ وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ عَلَيۡهِمۡ وَكِيلٗا ٥٤

(54) ستاسو رب پر تاسو ښه پوه دی، كه هغه وغواړي (نو) پر تاسو به رحم وكړي او كه هغه وغواړي (نو) تاسو ته به عذاب دركړي او ته مونږ په دوی باندې ذمه وار نه يې لېږلی

وَرَبُّكَ أَعۡلَمُ بِمَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ وَلَقَدۡ فَضَّلۡنَا بَعۡضَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ عَلَىٰ بَعۡضٖۖ وَءَاتَيۡنَا دَاوُۥدَ زَبُورٗا ٥٥

(55) او ستاسو رب ښه عالم دی پر هغه چا چې په اسمانونو او ځمكه كې دي او يقينًا يقينًا مونږ ځينو نبيانو ته په ځينو نورو باندې فضيلت وركړی دی او مونږ داود ته زبور وركړی و

قُلِ ٱدۡعُواْ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُم مِّن
دُونِهِۦ فَلَا يَمۡلِكُونَ كَشۡفَ
ٱلضُّرِّ عَنكُمۡ وَلَا تَحۡوِيلًا ٥٦

(56) ته وو‌ایه: تاسو هغه (معبودان) راوبلئ چې تاسو يې له هغه (الله) نه غير عقيده لرئ، نو دوی اختيار نه لري له تاسو نه د ضرر لرې کولو او نه يې د ګرځولو

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ يَبۡتَغُونَ
إِلَىٰ رَبِّهِمُ ٱلۡوَسِيلَةَ أَيُّهُمۡ أَقۡرَبُ
وَيَرۡجُونَ رَحۡمَتَهُۥ وَيَخَافُونَ
عَذَابَهُۥٓۚ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ
مَحۡذُورًا ٥٧

(57) دغه خلق چې دوی يې بلي، هغه خلق دي چې خپل رب ته وسيله لټوي چې په دوی کې کوم يو زيات قريب دی، او د هغه د رحمت امېد لري او د هغه له عذابه وېرېږي، بېشکه ستا د رب عذاب له همېشه داسې دی چې (په کار ده چې) وېره ترې وکړی شي

وَإِن مِّن قَرۡيَةٍ إِلَّا نَحۡنُ مُهۡلِكُوهَا
قَبۡلَ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ أَوۡ مُعَذِّبُوهَا
عَذَابًا شَدِيدًاۚ كَانَ ذَٰلِكَ فِي
ٱلۡكِتَٰبِ مَسۡطُورًا ٥٨

(58) او نشته هېڅ يو (کفر او سرکښې کوونکی) کلی مګر د قيامت له ورځې نه مخکې مونږ هغه لره هلا کوونکي يو، يا هغه لره عذاب ورکوونکي يو، ډېر سخت عذاب، ادا له شروع نه په کتاب کې ليکل شوي دي

وَمَا مَنَعَنَآ أَن نُّرۡسِلَ بِٱلۡأٓيَٰتِ إِلَّآ
أَن كَذَّبَ بِهَا ٱلۡأَوَّلُونَۚ وَءَاتَيۡنَا
ثَمُودَ ٱلنَّاقَةَ مُبۡصِرَةً فَظَلَمُواْ بِهَاۚ
وَمَا نُرۡسِلُ بِٱلۡأٓيَٰتِ إِلَّا
تَخۡوِيفًا ٥٩

(59) او مونږ نه يو منع کړي له دې نه چې (د دوی له غوښتنې سره سم) معجزې ولېږو مګر دې خبرې چې اولنيو خلقو د دغو (معجزو) تکذيب کړی و او مونږ ثمود ته اوښه ورکړه، چې ښکاره معجزه وه، نو هغوی له هغې سره ظلم وکړ او مونږ معجزې نه رالېږو مګر د

وېرولو لپاره

وَإِذۡ قُلۡنَا لَكَ إِنَّ رَبَّكَ أَحَاطَ بِٱلنَّاسِۚ وَمَا جَعَلۡنَا ٱلرُّءۡيَا ٱلَّتِيٓ أَرَيۡنَٰكَ إِلَّا فِتۡنَةٗ لِّلنَّاسِ وَٱلشَّجَرَةَ ٱلۡمَلۡعُونَةَ فِي ٱلۡقُرۡءَانِۚ وَنُخَوِّفُهُمۡ فَمَا يَزِيدُهُمۡ إِلَّا طُغۡيَٰنٗا كَبِيرٗا ﴿٦٠﴾

(60) او هغه وخت (یاد کړه) چې مونږ تا ته وویل: بېشکه ستا رب ټول خلق راګېر کړي دي او هغه منظره چې مونږ تا ته وښودله مونږ نه ده ګرځولې مګر د خلقو لپاره ازمایش او هغه ونه هم (ازمایش ګرځولې) چې قرآن کې پرې لعنت شوی دی او مونږ دوی وېروو، نو (دغه وېرول) دوی ته نه زیاتوي مګر ډېره لويه سرکشي

وَإِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبۡلِيسَ قَالَ ءَأَسۡجُدُ لِمَنۡ خَلَقۡتَ طِينٗا ﴿٦١﴾

(61) او کله چې مونږ ملایکو ته وویل: تاسو ادم ته سجده وکړئ، نو دوی سجده وکړه غیر له ابلیس نه، هغه وویل: ایا زه هغه چا ته سجده وکړم چې تا له خَټې (خاورې) نه پیدا کړی دی

قَالَ أَرَءَيۡتَكَ هَٰذَا ٱلَّذِي كَرَّمۡتَ عَلَيَّ لَئِنۡ أَخَّرۡتَنِ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ لَأَحۡتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهُۥٓ إِلَّا قَلِيلٗا ﴿٦٢﴾

(62) هغه وویل: ما ته خبر راکړه! دا سړی چې تا هغه په ما باندې بهتر کړی دی، یقینًا که تا زه د قیامت د ورځې پورې وروسته کړم (نو) زه به خامخا هرومرو د ده د اولادې بېخ وباسم، سوا له لږو څنې

قَالَ ٱذۡهَبۡ فَمَن تَبِعَكَ مِنۡهُمۡ

(63) (الله) وویل چې ځه! نو په دوی کې چې چا ستا پیروي وکړه، نو بېشکه جهنم ستاسو

فَإِنَّ جَهَنَّمَ جَزَآؤُكُمۡ جَزَآءٗ مَّوۡفُورٗا ﴿٦٣﴾

جزا ده، ډېره پوره جزا

وَٱسۡتَفۡزِزۡ مَنِ ٱسۡتَطَعۡتَ مِنۡهُم بِصَوۡتِكَ وَأَجۡلِبۡ عَلَيۡهِم بِخَيۡلِكَ وَرَجِلِكَ وَشَارِكۡهُمۡ فِي ٱلۡأَمۡوَٰلِ وَٱلۡأَوۡلَٰدِ وَعِدۡهُمۡۚ وَمَا يَعِدُهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ إِلَّا غُرُورًا ﴿٦٤﴾

**(64)** او ته په خپل اواز سره له دوی څخه هغه څوك راپورته کړه چې ستا پرې وس رسېږي، او ته په دوی باندې خپل سواره او پیاده راجمع کړه او له دوی سره په مالونو او اولادونو کې شريك شه او دوی ته وعده ورکړه، او شيطان دوی ته وعده نه ورکوي مګر د دوکې

إِنَّ عِبَادِي لَيۡسَ لَكَ عَلَيۡهِمۡ سُلۡطَٰنٞۚ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ وَكِيلٗا ﴿٦٥﴾

**(65)** بېشکه زما بنده ګان چې دي، تا لره پر هغوی باندې هېڅ غلبه نشته او ستا رب ښه کافي کارساز دی

رَّبُّكُمُ ٱلَّذِي يُزۡجِي لَكُمُ ٱلۡفُلۡكَ فِي ٱلۡبَحۡرِ لِتَبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ كَانَ بِكُمۡ رَحِيمٗا ﴿٦٦﴾

**(66)** ستاسو رب هغه دی چې تاسو لپاره په سمندر کې بېړۍ روانوي، د دې لپاره چې تاسو د هغه فضل ولټوئ، بېشکه هغه پر تاسو له شروع نه ډېر رحم کوونکی دی

وَإِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فِي ٱلۡبَحۡرِ ضَلَّ مَن تَدۡعُونَ إِلَّآ إِيَّاهُۖ فَلَمَّا نَجَّىٰكُمۡ إِلَى ٱلۡبَرِّ أَعۡرَضۡتُمۡۚ وَكَانَ ٱلۡإِنسَٰنُ كَفُورًا ﴿٦٧﴾

**(67)** او کله چې تاسو ته په سمندر کې سختي درورسېږي (، نو) هغه څوك (ستاسو له فکره) ورك شي چې تاسو يې بلئ مګر يواځې هغه (الله بلئ)، نو کله چې تاسو وچې ته بچ کړي (،نو) تاسو (له توحيده) مخ اړوئ

او انسان دی ډېر ناشکره

أَفَأَمِنتُمۡ أَن يَخۡسِفَ بِكُمۡ جَانِبَ ٱلۡبَرِّ أَوۡ يُرۡسِلَ عَلَيۡكُمۡ حَاصِبٗا ثُمَّ لَا تَجِدُواْ لَكُمۡ وَكِيلًا ٦٨

(68) ایا نو تاسو له دې نه په امان کې یئ چې هغه تاسو د وچې ځمکې په یوه خوا کې ډوب (ښخ) کړي، یا پر تاسو باندې کاڼي وروونکی سخت باد راولېږي (او) بیا تاسو د خپل ځان لپاره هېڅ ساتونکی ونه مومئ

أَمۡ أَمِنتُمۡ أَن يُعِيدَكُمۡ فِيهِ تَارَةً أُخۡرَىٰ فَيُرۡسِلَ عَلَيۡكُمۡ قَاصِفٗا مِّنَ ٱلرِّيحِ فَيُغۡرِقَكُم بِمَا كَفَرۡتُمۡ ثُمَّ لَا تَجِدُواْ لَكُمۡ عَلَيۡنَا بِهِۦ تَبِيعٗا ٦٩

(69) یا تاسو له دې نه په امان کې یئ چې په دغه (سمندر) کې مو بېرته په دویم ځلې واپس کړي، نو پر تاسو باندې (بېړۍ) ماتوونکی سخت باد راولېږي، نو تاسو د کفر کولو په سبب غرق کړي، بیا به تاسو د خپل ځان لپاره زمونږ په ضد راپسې ګرځېدونکی ونه مومئ

۞وَلَقَدۡ كَرَّمۡنَا بَنِيٓ ءَادَمَ وَحَمَلۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ وَرَزَقۡنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَفَضَّلۡنَٰهُمۡ عَلَىٰ كَثِيرٖ مِّمَّنۡ خَلَقۡنَا تَفۡضِيلٗا ٧٠

(70) او یقینًا یقینًا مونږ د ادم اولادې ته ډېر عزت ورکړی دی، او مونږ دوی ته په وچه او سمندر کې سورلۍ ورکړې دي او مونږ دوی ته خوندور پاکیزه شیان ورکړي دي او مونږ دوی په خپل مخلوق کې په ډېرو زیاتو باندې غوره کړي دي، غوره کول

يَوۡمَ نَدۡعُواْ كُلَّ أُنَاسِۭ بِإِمَٰمِهِمۡۖ

(71) او (یاده کړه) هغه ورځ چې مونږ به ټول خلق (انسانان) سره له خپل امامه (عملنامې)

فَمَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَقۡرَءُونَ كِتَٰبَهُمۡ وَلَا يُظۡلَمُونَ فَتِيلٗا ٧١

راوبلو، نو هغه څوك چې هغه ته خپل كتاب (عمل نامه) په خپل ښي لاس كې وركړى شو، نو دغه كسان به خپل كتاب (عمل نامه) لولي او پر دوى به د كجورې د نري تار هومره ظلم (هم) نه كېږي

وَمَن كَانَ فِي هَٰذِهِۦٓ أَعۡمَىٰ فَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ أَعۡمَىٰ وَأَضَلُّ سَبِيلٗا ٧٢

**(72)** او څوك چې په دې (دنيا) كې ړوند و، نو هغه به په اخرت كې هم ړوند وي، او (د نجات) د لارې په لحاظ به ډېر بې لارې وي

وَإِن كَادُواْ لَيَفۡتِنُونَكَ عَنِ ٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ لِتَفۡتَرِيَ عَلَيۡنَا غَيۡرَهُۥۖ وَإِذٗا لَّٱتَّخَذُوكَ خَلِيلٗا ٧٣

**(73)** او بېشكه شان دا دى چې دوى نژدې وو چې تا له هغه (قرآن) نه واړوي چې مونږ تا ته وحي كړى دى، د دې لپاره چې ته پر مونږ له دې (قرآن) نه غير (خبرې) راوتړې او په دغه وخت كې به نو ته دوى دوست نيولى وى

وَلَوۡلَآ أَن ثَبَّتۡنَٰكَ لَقَدۡ كِدتَّ تَرۡكَنُ إِلَيۡهِمۡ شَيۡـٔٗا قَلِيلًا ٧٤

**(74)** او كه ته مونږ (په حق باندې) نه وى ټينګ كړى (،نو) يقينًا يقينًا ته نژدې وې چې دوى ته لږ څه مايله شې

إِذٗا لَّأَذَقۡنَٰكَ ضِعۡفَ ٱلۡحَيَوٰةِ وَضِعۡفَ ٱلۡمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيۡنَا نَصِيرٗا ٧٥

**(75)** (نو) په دغه وخت كې به خامخا مونږ په تا څكلى وى دوه چند عذاب په (دې دنياوي) ژوندون او دوه چنده عذاب په مرګ (په اخرت) كې بيا به تا د خپل ځان لپاره زمونږ

په خلاف مدد کوونکی نه وی موندلی

وَإِن كَادُواْ لَيَسۡتَفِزُّونَكَ مِنَ
ٱلۡأَرۡضِ لِيُخۡرِجُوكَ مِنۡهَاۖ وَإِذٗا لَّا
يَلۡبَثُونَ خِلَٰفَكَ إِلَّا قَلِيلٗا ٧٦

(76) او ببشکه شان دا دی چې دوی قریب وو چې تا له دې ځمکې (وطن) نه واقعًا وخوځوي، د دې لپاره چې تا له دې نه وباسي او په دغه وخت کې به دوی له تا نه وروسته درنګ (وخت) نه وی تېر کړی مګر ډېر لږ

سُنَّةَ مَن قَدۡ أَرۡسَلۡنَا قَبۡلَكَ مِن
رُّسُلِنَاۖ وَلَا تَجِدُ لِسُنَّتِنَا
تَحۡوِيلًا ٧٧

(77) (دا ده زمونږ) طریقه په هغو رسولانو کې چې مونږ له تا نه مخکې یقینًا لېږلي وو، او ته به زمونږ طریقې لره هېڅ تبدیلېدل ونه مومې

أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِدُلُوكِ ٱلشَّمۡسِ إِلَىٰ
غَسَقِ ٱلَّيۡلِ وَقُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِۖ إِنَّ
قُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِ كَانَ مَشۡهُودٗا ٧٨

(78) ته لمونځ قایموه د لمر له زواله وروسته د شپې تر تیارې پورې او د سبا قرآن (لمونځ) هم (قایموه) ببشکه د سبا قرآن، ده ته خو حاضري کولی شي

وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَتَهَجَّدۡ بِهِۦ نَافِلَةٗ لَّكَ
عَسَىٰٓ أَن يَبۡعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامٗا
مَّحۡمُودٗا ٧٩

(79) او د شپې په څه حصه کې خوب پرېږده، چې تا لپاره دا زیاتي عبادت دی، امید دی چې ستا رب به تا مقامِ محمود (ستایل شوي ځای) ته پورته کړي

وَقُل رَّبِّ أَدۡخِلۡنِي مُدۡخَلَ صِدۡقٖ
وَأَخۡرِجۡنِي مُخۡرَجَ صِدۡقٖ وَٱجۡعَل

(80) او ته ووايه: ای زما ربه! ته ما داخل کړه په رښتیني داخلولو سره او ته ما وباسه په رښتیني وېستلو سره او ته زما لپاره له خپل

لِّي مِن لَّدُنكَ سُلۡطَٰنٗا نَّصِيرٗا ﴿٨٠﴾

جانب نه یو مددکوونکی قوت مقرر کړه

وَقُلۡ جَآءَ ٱلۡحَقُّ وَزَهَقَ ٱلۡبَٰطِلُۚ إِنَّ ٱلۡبَٰطِلَ كَانَ زَهُوقٗا ﴿٨١﴾

(81) او ته ووايه: حق راغی او باطل په تېښته ورك شو، بېشكه باطل دی ورکېدونکی

وَنُنَزِّلُ مِنَ ٱلۡقُرۡءَانِ مَا هُوَ شِفَآءٞ وَرَحۡمَةٞ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ وَلَا يَزِيدُ ٱلظَّٰلِمِينَ إِلَّا خَسَارٗا ﴿٨٢﴾

(82) او موږ قرآن نازلوو هغه چې د مومنانو لپاره شفا او رحمت دی او ظالمانو ته نه زیاتوي مگر تاوان

وَإِذَآ أَنۡعَمۡنَا عَلَى ٱلۡإِنسَٰنِ أَعۡرَضَ وَنَـَٔا بِجَانِبِهِۦ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ كَانَ يَـُٔوسٗا ﴿٨٣﴾

(83) او كله چې موږ پر (نافرمان) انسان باندې انعام وکړو (نو) هغه مخ وگرځوي او خپل ځان لرې کړي او كله چې ده ته شر (او تكليف) ورسي (نو) ډېر نااُمېده شي

قُلۡ كُلّٞ يَعۡمَلُ عَلَىٰ شَاكِلَتِهِۦ فَرَبُّكُمۡ أَعۡلَمُ بِمَنۡ هُوَ أَهۡدَىٰ سَبِيلٗا ﴿٨٤﴾

(84) ته ووايه: هر كس پر خپلې مناسبحالې طريقې عمل كوي، نو ستا رب ښه عالم دی پر هغه چا چې هغه د لارې په لحاظ ښه هدايت والا دی

وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلرُّوحِۖ قُلِ ٱلرُّوحُ مِنۡ أَمۡرِ رَبِّي وَمَآ أُوتِيتُم مِّنَ ٱلۡعِلۡمِ إِلَّا قَلِيلٗا ﴿٨٥﴾

(85) او دوی له تا نه د روح په باره کې پوښتنه کوي ته (ورته) ووايه: روح زما د رب له امره ځنې دی او تاسو ته له علم ځنې څه برخه نه ده درکړه شوې مگر ډېره لږه

وَلَئِن شِئۡنَا لَنَذۡهَبَنَّ بِٱلَّذِيٓ

(86) او يقيناً كه موږ وغواړو (نو) خامخا ضرور

أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ بِهِۦ عَلَيۡنَا وَكِيلًا ﴿٨٦﴾

به هغه (قرآن) ببرته یوسو چې مونږ تا ته وحي کړی دی، بیا به ته د خپل ځان لپاره په دې باره کې زمونږ په خلاف هېڅ وکیل (او کارساز) ونه مومې

إِلَّا رَحۡمَةٗ مِّن رَّبِّكَۚ إِنَّ فَضۡلَهُۥ كَانَ عَلَيۡكَ كَبِيرٗا ﴿٨٧﴾

(87) خو ستا د رب له جانبه د مهربانی په وجه (مونږ دا قایم ساتلی دی، ځکه چې)، بېشکه د هغه فضل په تا باندې ډېر لوی دی

قُل لَّئِنِ ٱجۡتَمَعَتِ ٱلۡإِنسُ وَٱلۡجِنُّ عَلَىٰٓ أَن يَأۡتُواْ بِمِثۡلِ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ لَا يَأۡتُونَ بِمِثۡلِهِۦ وَلَوۡ كَانَ بَعۡضُهُمۡ لِبَعۡضٖ ظَهِيرٗا ﴿٨٨﴾

(88) ته ووایه: خامخا که انسانان او پېریان ټول پر دې خبره سره جمع شي چې د دې قرآن مِثل راوړي (،نو) د ده په مثل به رانه وړی شي اگر که د دوی ځیني د ځینو نورو ملاتړي (هم) وي

وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَا لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ مِن كُلِّ مَثَلٖ فَأَبَىٰٓ أَكۡثَرُ ٱلنَّاسِ إِلَّا كُفُورٗا ﴿٨٩﴾

(89) او یقینًا یقینًا مونږ په دې قرآن کې هر قسمه مثال بیا بیا بیان کړی دی، نو زیاترو خلقو انکار وکړ غیر له کفر کولو نه

وَقَالُواْ لَن نُّؤۡمِنَ لَكَ حَتَّىٰ تَفۡجُرَ لَنَا مِنَ ٱلۡأَرۡضِ يَنۢبُوعًا ﴿٩٠﴾

(90) او دوی وویل: مونږ به پر تا له سره ایمان رانه وړو تر دې چې ته زمونږ لپاره په دې ځمکه کې خوټېدونکې چینه جاري کړې

أَوۡ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٞ مِّن نَّخِيلٖ

(91) یا چې تا لپاره باغ وي د کجورو او انګورو، بیا ته د دې (باغ) په مینځ کې ولې

وَعِنَبٖ فَتُفَجِّرَ ٱلۡأَنۡهَٰرَ خِلَٰلَهَا تَفۡجِيرًا ٩١

روانې کړې، روانول

أَوۡ تُسۡقِطَ ٱلسَّمَآءَ كَمَا زَعَمۡتَ عَلَيۡنَا كِسَفًا أَوۡ تَأۡتِيَ بِٱللَّهِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ قَبِيلًا ٩٢

(92) يا چې لکه څنګه چې ستا خيال دی ته پر موږ باندې اسمان ټوټې ټوټې راوغورځوې، يا چې ته الله او ملايک مخامخ (ښکاره) راولې

أَوۡ يَكُونَ لَكَ بَيۡتٞ مِّن زُخۡرُفٍ أَوۡ تَرۡقَىٰ فِي ٱلسَّمَآءِ وَلَن نُّؤۡمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتَّىٰ تُنَزِّلَ عَلَيۡنَا كِتَٰبٗا نَّقۡرَؤُهُۥۗ قُلۡ سُبۡحَانَ رَبِّي هَلۡ كُنتُ إِلَّا بَشَرٗا رَّسُولٗا ٩٣

(93) يا چې تا لپاره د سرو زرو کور وي، يا چې ته پورته اسمان ته وخېژې او موږ به ستا پر (تشو) ختلو له سره ايمان رانه وړو تر هغه پورې چې ته پر موږ باندې داسې يو کتاب راکوز کړې چې موږ يې لولو، ته (دوی ته) ووايه: زما رب لپاره پاکي ده، زه نه يم مګر يو انسان (د نورو رسولانو په شان) رالېږل شوی

وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ أَن يُؤۡمِنُوٓاْ إِذۡ جَآءَهُمُ ٱلۡهُدَىٰٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَبَعَثَ ٱللَّهُ بَشَرٗا رَّسُولٗا ٩٤

(94) او خلق د ايمان له راوړلو نه نه دي منع کړي، کله چې دوی ته هدايت راغی، مګر دې خبرې چې دوی به ويل: ايا الله يو انسان رسول رالېږلی دی!

قُل لَّوۡ كَانَ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَلَٰٓئِكَةٞ يَمۡشُونَ مُطۡمَئِنِّينَ لَنَزَّلۡنَا عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَلَكٗا رَّسُولٗا ٩٥

(95) ته (دوی ته) ووايه: که په ځمکه کې (د انسانانو پر ځای) ملايک وی، چې په ارام سره ګرځېدلی (نو) موږ به خامخا په دوی باندې له اسمان نه مَلَك، رسول رالېږلی وی

قُلۡ كَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدَۢا بَيۡنِي وَبَيۡنَكُمۡۚ إِنَّهُۥ كَانَ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرَۢا بَصِيرٗا ٩٦

(96) ته ووايه: زما په مينځ كې او ستاسو په مينځ كې الله ښه كافي ګواه دى، بېشكه هغه په خپلو بنده ګانو باندې ښه خبردار، (د هغو) ښه ليدونكى دى

وَمَن يَهۡدِ ٱللَّهُ فَهُوَ ٱلۡمُهۡتَدِۖ وَمَن يُضۡلِلۡ فَلَن تَجِدَ لَهُمۡ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِهِۦۖ وَنَحۡشُرُهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمۡ عُمۡيٗا وَبُكۡمٗا وَصُمّٗاۖ مَّأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ كُلَّمَا خَبَتۡ زِدۡنَٰهُمۡ سَعِيرٗا ٩٧

(97) او چا ته چې الله هدايت وكړي، نو هم هغه هدايت موندونكى دى او هغه څوك چې هغه (الله) يې بې لارې كړي، نو ته به د هغوى لپاره له هغه (الله) نه غير هېڅ كارسازي (دوستان) له سره ونه مومې او د قيامت په ورځ به مونږ دوى په خپلو مخونو باندې (نسكور) راجمع كوو، په دې حال كې چې ړانده او ګونګيان او كاڼه به وي او د دوى اوسېدنځاى به جهنم وي، هر كله چې (د جهنم اور) غلى شي، (نو) مونږ به دوى ته لمبې وهونكى اور ورزيات كړو

ذَٰلِكَ جَزَآؤُهُم بِأَنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَقَالُوٓاْ أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمٗا وَرُفَٰتًا أَءِنَّا لَمَبۡعُوثُونَ خَلۡقٗا جَدِيدًا ٩٨

(98) ,,دا د دوى جزا ده، په سبب د دې چې بېشكه دوى زمونږ په ايتونو سره كفر كړى و او ويل به يې: ايا كله چې مونږ هډوكي او رېزېدلي خاورې شو، ايا په رښتيا به مونږ هرومرو بيا ژوندي كولى شو، په نوي تخليق سره

۞أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ قَادِرٌ عَلَىٰٓ أَن يَخۡلُقَ مِثۡلَهُمۡ وَجَعَلَ لَهُمۡ أَجَلٗا لَّا رَيۡبَ فِيهِ فَأَبَى ٱلظَّٰلِمُونَ إِلَّا كُفُورٗا ﴿٩٩﴾

(99) ايا دوی نه دي کتلي چې بېشکه هغه الله چې اسمانونه او ځمکه يې پيدا کړي دي پر دې قادر دی چې د دوی په مثل (نور) پيدا کړي او هغه د دوی لپاره يوه نېټه مقرر کړې ده چې په هغې کې هېڅ شك نشته، نو ظالمانو انکار وکړ مگر له کفر کولو نه

قُل لَّوۡ أَنتُمۡ تَمۡلِكُونَ خَزَآئِنَ رَحۡمَةِ رَبِّيٓ إِذٗا لَّأَمۡسَكۡتُمۡ خَشۡيَةَ ٱلۡإِنفَاقِۚ وَكَانَ ٱلۡإِنسَٰنُ قَتُورٗا ﴿١٠٠﴾

(100) ته (دوی ته) ووايه: كه تاسو زما د رب د رحمت د خزانو مالكان شئ (نو) په دغه وخت کې به تاسو هرو مرو امساك (بخل) وکړئ د لگېدلو (خرچ كېدو) له وېرې نه او انسان خو دی ډېر بخیل

وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَىٰ تِسۡعَ ءَايَٰتِۭ بَيِّنَٰتٖۖ فَسۡـَٔلۡ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ إِذۡ جَآءَهُمۡ فَقَالَ لَهُۥ فِرۡعَوۡنُ إِنِّي لَأَظُنُّكَ يَٰمُوسَىٰ مَسۡحُورٗا ﴿١٠١﴾

(101) او یقینًا یقینًا مونږ موسٰی ته نهه واضحې معجزې ورکړې وې، نو ته له بني اسرائیلو نه پوښتنه وکړه کله چې هغه، دوی ته راغی، نو هغهٔ ته فرعون ووېل: بېشکه زه خامخا ضرور پر تا د جادو شوي عقيده ساتم ای موسٰی! (پر تا جادو شوی دی)

قَالَ لَقَدۡ عَلِمۡتَ مَآ أَنزَلَ هَٰٓؤُلَآءِ إِلَّا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ بَصَآئِرَ وَإِنِّي لَأَظُنُّكَ يَٰفِرۡعَوۡنُ

(102) ويې ويل:يقينًا يقينًا ته پوهېږې (په زړه کې) چې دا (نهه معجزې) نه دي نازلې کړې مگر د اسمانونو او ځمکې رب، په داسې حال کې چې دليلونه دي، او بېشکه زه خامخا

مَثۡبُورٗا ١٠٢

هرومرو په تا باندې ای فرعونه! د هلاك شوي يقين كوم

فَأَرَادَ أَن يَسۡتَفِزَّهُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ فَأَغۡرَقۡنَٰهُ وَمَن مَّعَهُۥ جَمِيعٗا ١٠٣

**(103)** نو هغه (فرعون) اراده وكړه چې دوى له دغې ځمكې (وطن) نه وخوځوي (وباسي)، نو مونږ هغه او څوك چې له هغه سره وو؛ ټول غرق (ډوب) كړل

وَقُلۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِۦ لِبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱسۡكُنُواْ ٱلۡأَرۡضَ فَإِذَا جَآءَ وَعۡدُ ٱلۡأٓخِرَةِ جِئۡنَا بِكُمۡ لَفِيفٗا ١٠٤

**(104)** او د هغه ( له هلاكت) نه وروسته مونږ بني اسرائيلو ته وويل: تاسو په دغه ځمكه (خاوره) كې اوسئ، نو كله چې د اخرت وعده (قيامت) راشي (نو) مونږ به تاسو ټول ګډ سره راولو

وَبِٱلۡحَقِّ أَنزَلۡنَٰهُ وَبِٱلۡحَقِّ نَزَلَۗ وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا مُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا ١٠٥

**(105)** او په حقه سره مونږ دا نازل كړى دى او په حقه سره نازل شوى دى او ته مونږ نه يې لېږلى مګر زېرى وركوونكى او وېروونكى

وَقُرۡءَانٗا فَرَقۡنَٰهُ لِتَقۡرَأَهُۥ عَلَى ٱلنَّاسِ عَلَىٰ مُكۡثٖ وَنَزَّلۡنَٰهُ تَنزِيلٗا ١٠٦

**(106)** او (مونږ) قرآن (نازل كړى دى) مونږ هغه ټوټه ټوټه (نازل) كړى دى، د دې لپاره چې ته دا خلقو ته ولولې په ارام (او وقفې) سره او مونږ دا نازل كړى دى (لږ لږ) نازلول

قُلۡ ءَامِنُواْ بِهِۦٓ أَوۡ لَا تُؤۡمِنُوٓاْۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ مِن قَبۡلِهِۦٓ إِذَا

**(107)** ته (دوى ته) ووايه چې تاسو پر ده ايمان راوړئ، يا ايمان مه راوړئ، بېشكه هغه

يُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ يَخِرُّونَ لِلۡأَذۡقَانِ سُجَّدٗا ١٠٧

كسان چې له دغه (قرآن) نه مخكې هغوی ته علم وركړې شوی دی، كله چې هغوی ته دا لوستی شي (نو) هغوی په (اړخ د) خپلو زنو باندې نسكور پرېوځي، چې سجده كوونكي وي

وَيَقُولُونَ سُبۡحَٰنَ رَبِّنَآ إِن كَانَ وَعۡدُ رَبِّنَا لَمَفۡعُولٗا ١٠٨

(108) او وايي زمونږ رب ته پاكي ده، بېشكه زمونږ د رب وعده خامخا كېدونكې ده

وَيَخِرُّونَ لِلۡأَذۡقَانِ يَبۡكُونَ وَيَزِيدُهُمۡ خُشُوعٗا۩ ١٠٩

(109) او دوی پر خپلو زنو نسكور پرېوځي، چې ژاړي او عاجزي يې (د قرآن اورېدل) ورته ورزياته كړي

قُلِ ٱدۡعُواْ ٱللَّهَ أَوِ ٱدۡعُواْ ٱلرَّحۡمَٰنَۖ أَيّٗا مَّا تَدۡعُواْ فَلَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ وَلَا تَجۡهَرۡ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتۡ بِهَا وَٱبۡتَغِ بَيۡنَ ذَٰلِكَ سَبِيلٗا ١١٠

(110) ته (دوی ته) ووايه: تاسو الله بلئ، يا تاسو رحمٰن بلئ، هر يو (نوم) يې چې وبلئ، نو خاص د هغهٔ لپاره دي تر ټولو ښكلي نومونه او ته (قراءت د) خپل لمونځ ډېر مه ظاهروه او مه يې ډېر پټوه او د دې دواړو په مينځ كې (منځنۍ) لار ولټوه

وَقُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي لَمۡ يَتَّخِذۡ وَلَدٗا وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ شَرِيكٞ فِي ٱلۡمُلۡكِ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ وَلِيّٞ مِّنَ ٱلذُّلِّۖ وَكَبِّرۡهُ تَكۡبِيرَۢا ١١١

(111) او ته ووايه: ټوله ثنا هغه الله لره خاص ده چې نه يې څوك اولاد نيولی دی او نه د هغه لپاره په بادشاهۍ كې څوك شريك شته او نه د هغهٔ لپاره د عاجزۍ په وجه څوك

دوست شته او تهٔ د هغه لويي بيانوه، لويي کامله

## سُورَةُ الكَهۡفِ

## سورة کهف

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ عَلَىٰ عَبۡدِهِ ٱلۡكِتَٰبَ وَلَمۡ يَجۡعَل لَّهُۥ عِوَجَاۜ ١

(1) تولې ستاينې خاص هغه الله لره دي چې پر خپل بنده يې کتاب نازل کړی دی او په ده کې يې هېڅ کوږوالی نه دی ايښی

قَيِّمٗا لِّيُنذِرَ بَأۡسٗا شَدِيدٗا مِّن لَّدُنۡهُ وَيُبَشِّرَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٱلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أَنَّ لَهُمۡ أَجۡرًا حَسَنٗا ٢

(2) په دې حال کې چې سم برابر دی، د دې لپاره چې هغه دوی له ډېر سخت عذاب نه ووېروي، چې د هغه (الله) له جانبه (راتلونکی) دی او مومنانو ته زېری ورکړي چې نېك عملونه کوي چې بېشکه د دوی لپاره ډېر ښکلی اجر دی

مَّٰكِثِينَ فِيهِ أَبَدٗا ٣

(3) چې دوی به تل ترتله په هغه کې اوسېدونکي وي

وَيُنذِرَ ٱلَّذِينَ قَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدٗا ٤

(4) او چې هغه کسان ووېروي چې (له ډېره جهله) وايي: الله (د ځان لپاره) اولاد نيولی

دی

مَّا لَهُم بِهِۦ مِنۡ عِلۡمٖ وَلَا لِأٓبَآئِهِمۡۚ كَبُرَتۡ كَلِمَةٗ تَخۡرُجُ مِنۡ أَفۡوَٰهِهِمۡۚ إِن يَقُولُونَ إِلَّا كَذِبٗا ٥

(5) دوی ته پر دې خبره هېڅ علم نشته او نه د دوی پلرونو ته، دا د خبرې په لحاظ ډېره غټه (خبره) ده چې د دوی له خولو نه راوځي، دوی نه وايي مگر دروغ

فَلَعَلَّكَ بَٰخِعٞ نَّفۡسَكَ عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِمۡ إِن لَّمۡ يُؤۡمِنُواْ بِهَٰذَا ٱلۡحَدِيثِ أَسَفًا ٦

(6) نو ښايي چې ته په دوی پسې وروسته (په گرځېدو سره) له ډېره غمه د خپل ځان وژونکی شي که دوی پر دې خبره (قرآن) ايمان رانه وړي

إِنَّا جَعَلۡنَا مَا عَلَى ٱلۡأَرۡضِ زِينَةٗ لَّهَا لِنَبۡلُوَهُمۡ أَيُّهُمۡ أَحۡسَنُ عَمَلٗا ٧

(7) بېشکه موږ (چې يو) موږ هر هغه څيز چې د ځمکې له پاسه دی د دغې لپاره زينت گرځولی دی، د دې لپاره چې موږ دوی و ازمايو چې په دوی کې کوم يو د عمل په لحاظ ډېر غوره دی

وَإِنَّا لَجَٰعِلُونَ مَا عَلَيۡهَا صَعِيدٗا جُرُزًا ٨

(8) او بېشکه موږ خامخا هغه څه چې په دې (ځمکه) باندې دي؛ وچ کلك ډاگ گرځوونکي يو

أَمۡ حَسِبۡتَ أَنَّ أَصۡحَٰبَ ٱلۡكَهۡفِ وَٱلرَّقِيمِ كَانُواْ مِنۡ ءَايَٰتِنَا

(9) ايا ته گمان کوې چې بېشکه د غار او تختۍ والا زموږ په نښو کې ډېر عجيبه وو؟

عَجَبًا ﴿٩﴾

إِذۡ أَوَى ٱلۡفِتۡيَةُ إِلَى ٱلۡكَهۡفِ فَقَالُواْ رَبَّنَآ ءَاتِنَا مِن لَّدُنكَ رَحۡمَةٗ وَهَيِّئۡ لَنَا مِنۡ أَمۡرِنَا رَشَدٗا ﴿١٠﴾

(10) (یاد کړه) هغه وخت چې ځلمیانو غار ته رجوع وکړه (په غار کې یې پناه واخیسته)، نو ویې ویل: ای زمونږ ربه! ته مونږ ته له خپل جانب نه رحمت راکړه او زمونږ لپاره زمونږ په دې کار کې (اسباب د) هدایت برابر کړه

فَضَرَبۡنَا عَلَىٰٓ ءَاذَانِهِمۡ فِي ٱلۡكَهۡفِ سِنِينَ عَدَدٗا ﴿١١﴾

(11) نو مونږ د دوی پر غوږونو خوب واچاوه، په غار کې څو کاله په شمېر

ثُمَّ بَعَثۡنَٰهُمۡ لِنَعۡلَمَ أَيُّ ٱلۡحِزۡبَيۡنِ أَحۡصَىٰ لِمَا لَبِثُوٓاْ أَمَدٗا ﴿١٢﴾

(12) بیا مونږ دوی له خوبه راپاخول، د دې لپاره چې مونږ معلوم (څرګند) کړو چې په دوه ډلو کې کومې یوې هغه موده یاده ساتلې ده چې دوی تېره کړې ده

نَّحۡنُ نَقُصُّ عَلَيۡكَ نَبَأَهُم بِٱلۡحَقِّۚ إِنَّهُمۡ فِتۡيَةٌ ءَامَنُواْ بِرَبِّهِمۡ وَزِدۡنَٰهُمۡ هُدٗى ﴿١٣﴾

(13) مونږ تا ته د دوی خبر په حقه سره بیانوو، بېشکه دوی داسې ځلمیان وو چې پر خپل رب یې ایمان راوړی و او مونږ دوی په هدایت کې ورزیات کړي وو

وَرَبَطۡنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ إِذۡ قَامُواْ فَقَالُواْ رَبُّنَا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ لَن نَّدۡعُوَاْ مِن دُونِهِۦٓ

(14) او مونږ د دوی زړونه مضبوط کړي وو، کله چې دوی ولاړ شول، نو ویې ویل: زمونږ رب د اسمانونو او ځمکې رب دی، مونږ به هېڅکله له هغه نه غیر بل معبود ونه بلو (که

إِلَٰهٗاۖ لَّقَدۡ قُلۡنَآ إِذٗا شَطَطًا ١٤

مونږ له هغه نه غیر بل معبود وبلو نو)، یقینًا یقینًا په دغه وخت کې به مونږ ډېره غلطه خبره کړې وي

هَٰٓؤُلَآءِ قَوۡمُنَا ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةٗۖ لَّوۡلَا يَأۡتُونَ عَلَيۡهِم بِسُلۡطَٰنِۭ بَيِّنٖۖ فَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗا ١٥

(15) زمونږ دغې قوم له هغه (الله) نه غیر نور معبودان نیولي دي، دوی پر (عبادت د) دغو (باطلو معبودانو) باندې ښکاره دلیل ولې نه راوړي؟ نو له هغه چا نه لوی ظالم څوك دی چې په الله باندې دروغ تړي!

وَإِذِ ٱعۡتَزَلۡتُمُوهُمۡ وَمَا يَعۡبُدُونَ إِلَّا ٱللَّهَ فَأۡوُۥٓاْ إِلَى ٱلۡكَهۡفِ يَنشُرۡ لَكُمۡ رَبُّكُم مِّن رَّحۡمَتِهِۦ وَيُهَيِّئۡ لَكُم مِّنۡ أَمۡرِكُم مِّرۡفَقٗا ١٦

(16) او کله چې تاسو جدا شوئ له دوی نه او له هغه څه نه چې دوی يې له الله نه غیر عبادت کوي، نو تاسو په غار کې ځای ونیسئ، ستاسو رب به تاسو لپاره خپل رحمت خور (او پراخه) کړي او تاسو لپاره به ستاسو په کار کې اساني تیاره کړي

۞وَتَرَى ٱلشَّمۡسَ إِذَا طَلَعَت تَّزَٰوَرُ عَن كَهۡفِهِمۡ ذَاتَ ٱلۡيَمِينِ وَإِذَا غَرَبَت تَّقۡرِضُهُمۡ ذَاتَ ٱلشِّمَالِ وَهُمۡ فِي فَجۡوَةٖ مِّنۡهُۚ ذَٰلِكَ مِنۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِۗ مَن يَهۡدِ ٱللَّهُ فَهُوَ ٱلۡمُهۡتَدِۖ وَمَن يُضۡلِلۡ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ

(17) او ته به لمر وینې کله چې راخېژي، نو د دوی له غاره ښي اړخ ته میلان کوي او کله چې پرېوځي (نو) د دوی په څنګ تېر شي ګس اړخ ته او دوی له دې (غار) نه په ارت میدان کې دي، دغه د الله له نښو څنې دي، چا ته چې الله هدایت وکړي، نو هم هغه هدایت موندونکی دی او څوك چې ګمراه

وَلِيّٗا مُّرۡشِدٗا ١٧

کړي، نو ته به د هغه لپاره له سره ونه مومې، کوم لار ښوونکی دوست

وَتَحۡسَبُهُمۡ أَيۡقَاظٗا وَهُمۡ رُقُودٞۚ وَنُقَلِّبُهُمۡ ذَاتَ ٱلۡيَمِينِ وَذَاتَ ٱلشِّمَالِۖ وَكَلۡبُهُم بَٰسِطٞ ذِرَاعَيۡهِ بِٱلۡوَصِيدِۚ لَوِ ٱطَّلَعۡتَ عَلَيۡهِمۡ لَوَلَّيۡتَ مِنۡهُمۡ فِرَارٗا وَلَمُلِئۡتَ مِنۡهُمۡ رُعۡبٗا ١٨

**(18)** او ته به پر دوی د ويښو گمان کوې، حال دا چې دوی ويده دي او مونږ دوی په ښي اړخ او گس اړخ اړوو او د دوی سپی (د غار) په خولې کې د خپلو ځنگلو غځوونکی دی، که ته پر دوی له بره نظر واچوې (نو) ته به خامخا له دوی نه په تېښته راوگرځې او خامخا به ته د وېرې په لحاظ ډك کړی شې

وَكَذَٰلِكَ بَعَثۡنَٰهُمۡ لِيَتَسَآءَلُواْ بَيۡنَهُمۡۚ قَالَ قَآئِلٞ مِّنۡهُمۡ كَمۡ لَبِثۡتُمۡۖ قَالُواْ لَبِثۡنَا يَوۡمًا أَوۡ بَعۡضَ يَوۡمٖۚ قَالُواْ رَبُّكُمۡ أَعۡلَمُ بِمَا لَبِثۡتُمۡ فَٱبۡعَثُوٓاْ أَحَدَكُم بِوَرِقِكُمۡ هَٰذِهِۦٓ إِلَى ٱلۡمَدِينَةِ فَلۡيَنظُرۡ أَيُّهَآ أَزۡكَىٰ طَعَامٗا فَلۡيَأۡتِكُم بِرِزۡقٖ مِّنۡهُ وَلۡيَتَلَطَّفۡ وَلَا يُشۡعِرَنَّ بِكُمۡ أَحَدًا ١٩

**(19)** او همداسې مونږ دوی بیا راوېښ کړل، د دې لپاره چې دوی په خپل مېنځ کې يو له بله پوښتنه وکړي، په دوی کې يو ويونکي وويل: تاسو څومره وخت تېر کړی دی؟ دوی وويل: مونږ يوه ورځ، يا د ورځې څه حصه وخت تېر کړی دی، نورو وويل: ستاسو رب ښه عالم دی پر هغې مودې چې تاسو تېره کړې ده، نو تاسو خپل يو تن له خپلو دې سپينو زرو سره ښار ته ولېږئ، نو هغه دې وگوري چې د دې (ښار) کوم يو کس د طعام په لحاظ ډېر پاکيزه دی، نو دی دې تاسو ته له هغه نه خوراك راوړي او نرمي او زيرکي دې کوي او په تاسو دې هيڅوك له سره خبر نه

کړي

إِنَّهُمۡ إِن يَظۡهَرُواْ عَلَيۡكُمۡ يَرۡجُمُوكُمۡ أَوۡ يُعِيدُوكُمۡ فِي مِلَّتِهِمۡ وَلَن تُفۡلِحُوٓاْ إِذًا أَبَدٗا ٢٠

(20) ببشکه دوی که پر تاسو خبر (او غالبه شي (نو) دوی به تاسو سنګسار کړي، یا به تاسو هغوی خپل دین ته بېرته وګرځوي او په دغه وخت کې به تاسو له سره کامیاب نشئ، هیڅکله

وَكَذَٰلِكَ أَعۡثَرۡنَا عَلَيۡهِمۡ لِيَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ وَأَنَّ ٱلسَّاعَةَ لَا رَيۡبَ فِيهَآ إِذۡ يَتَنَٰزَعُونَ بَيۡنَهُمۡ أَمۡرَهُمۡۖ فَقَالُواْ ٱبۡنُواْ عَلَيۡهِم بُنۡيَٰنٗاۖ رَّبُّهُمۡ أَعۡلَمُ بِهِمۡۚ قَالَ ٱلَّذِينَ غَلَبُواْ عَلَىٰٓ أَمۡرِهِمۡ لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيۡهِم مَّسۡجِدٗا ٢١

(21) او همداسې مونږ په دوی باندې (خلق خبر کړل، د دې لپاره چې دغه (خلق) پوه شي چې ببشکه د الله وعده حقه ده او دا چې ببشکه قیامت (چې دی) په هغه کې هېڅ شك نشته، (مونږ خلق) هغه وخت (خبر کړل چې دوی په خپل مېنځ کې د هغوی په معامله کې جګړې کولې، نو ځینو وویل: تاسو په دوی باندې یوه ودانۍ جوړه کړئ، د دوی رب پر دوی ښه عالم دی، (خو) هغو کسانو وویل چې د دوی په معامله کې غالب وو، مونږ به خامخا هرومرو په (غار د) دوی باندې یو جومات جوړوو

سَيَقُولُونَ ثَلَٰثَةٞ رَّابِعُهُمۡ كَلۡبُهُمۡ وَيَقُولُونَ خَمۡسَةٞ سَادِسُهُمۡ كَلۡبُهُمۡ رَجۡمَۢا بِٱلۡغَيۡبِۖ وَيَقُولُونَ سَبۡعَةٞ

(22) ژر به دغه(خلق) وایي چې (دوی) درې دي، د دوی څلورم د دوی سپی دی او وایي به ځینې چې (دوی) پنځه دي، د دوی شپږم

وَثَامِنُهُمۡ كَلۡبُهُمۡۚ قُل رَّبِّيٓ أَعۡلَمُ بِعِدَّتِهِم مَّا يَعۡلَمُهُمۡ إِلَّا قَلِيلٞۗ فَلَا تُمَارِ فِيهِمۡ إِلَّا مِرَآءٗ ظَٰهِرٗا وَلَا تَسۡتَفۡتِ فِيهِم مِّنۡهُمۡ أَحَدٗا ﴿٢٢﴾

د دوی سپی دی، په داسې حال کې چې بې نښې نالیدلي ویشتل کوي او وایي به چې (دوی) اوه دي او د دوی اتم د دوی سپی دی، ته ووایه: زما رب د دوی پر شمېر ښه عالم دی، پر دوی خبر (او عالِم) نه دي مگر ډېر لږ (خلق)، نو ته د دوی په باره کې له سرسري بحث نه غیر نور بحث مه کوه او ته د دوی په باره کې په دغو (اهل کتابو) کې له هیڅا نه فتوٰی مه غواړه

وَلَا تَقُولَنَّ لِشَاْيۡءٍ إِنِّي فَاعِلٞ ذَٰلِكَ غَدًا ﴿٢٣﴾

(23) او ته د هېڅ شي په باره کې له سره داسې مه وایه چې بېشکه زه سبا ته د دغه کار کوونکی یم

إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُۚ وَٱذۡكُر رَّبَّكَ إِذَا نَسِيتَ وَقُلۡ عَسَىٰٓ أَن يَهۡدِيَنِ رَبِّي لِأَقۡرَبَ مِنۡ هَٰذَا رَشَدٗا ﴿٢٤﴾

(24) مگر (جوخت ورسره وایه) که الله یې وغواړي او خپل رب یاد کړه (ان شاء الله ووایه) کله چې (د هغهٔ نوم اخیستل) دې هېر شي، او ته ووایه: امید دی چې ما ته به زما رب لارښوونه وکړي، د نېکی په لحاظ دې ته د قریب تري لاري

وَلَبِثُواْ فِي كَهۡفِهِمۡ ثَلَٰثَ مِاْئَةٖ سِنِينَ وَٱزۡدَادُواْ تِسۡعٗا ﴿٢٥﴾

(25) او دوی په خپل غار کې درې سوه کاله تېر کړل او نهه یې (پرې) ور زیات کړل

قُلِ ٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا لَبِثُواْۖ لَهُۥ غَيۡبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ أَبۡصِرۡ بِهِۦ وَأَسۡمِعۡۚ مَا لَهُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَلِيّٖ وَلَا يُشۡرِكُ فِي حُكۡمِهِۦٓ أَحَدٗا ٢٦

(26) ته ووايه: الله ښه عالم دی پر مقدار د هغې مودې چې دوی تېره کړې ده، خاص د هغه لپاره د اسمانونو او ځمکې غیب (پټ اَسرار) دي، هغه هر څه ښه لیدونکی او هر څه ښه اورېدونکی دی! د دوی لپاره له هغه نه غیر هېڅ کارساز (او حمایتي) نشته او هغه په خپل حکم (او قضا) کې هیڅوك نه شریکوي

وَٱتۡلُ مَآ أُوحِيَ إِلَيۡكَ مِن كِتَابِ رَبِّكَۖ لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَٰتِهِۦ وَلَن تَجِدَ مِن دُونِهِۦ مُلۡتَحَدٗا ٢٧

(27) او ته لوله هغه چې تا ته د خپل رب له کتابه وحي کړی شوی دی، د هغه (الله) کلمو لره هیڅوك بدلوونکی نشته او له هغهٔ نه غیر به ته له سره هېڅ پناه ځای ونه مومې

وَٱصۡبِرۡ نَفۡسَكَ مَعَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ رَبَّهُم بِٱلۡغَدَوٰةِ وَٱلۡعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجۡهَهُۥۖ وَلَا تَعۡدُ عَيۡنَاكَ عَنۡهُمۡ تُرِيدُ زِينَةَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَا تُطِعۡ مَنۡ أَغۡفَلۡنَا قَلۡبَهُۥ عَن ذِكۡرِنَا وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ وَكَانَ أَمۡرُهُۥ فُرُطٗا ٢٨

(28) او ته خپل ځان له هغو کسانو سره بند (او ټینګ) وساته چې خپل رب د ورځې په شروع کې او د ورځې په اخر کې بولي، دوی د هغهٔ مخ غواړي او ستا سترګې دې له دوی نه تېرې نشي، چې ته د دنیايي ژوند ښایست غواړې او ته د هغه چا اطاعت مه کوه چې مونږ له خپل ذکر نه د هغهٔ زړه غافل کړی دی او هغه د خپل خواهش تابع شوی دی او د هغهٔ کار له حد نه وتلی دی

وَقُلِ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكُمۡۖ فَمَن شَآءَ
فَلۡيُؤۡمِن وَمَن شَآءَ فَلۡيَكۡفُرۡۚ إِنَّآ
أَعۡتَدۡنَا لِلظَّٰلِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمۡ
سُرَادِقُهَاۚ وَإِن يَسۡتَغِيثُواْ يُغَاثُواْ
بِمَآءٖ كَٱلۡمُهۡلِ يَشۡوِي ٱلۡوُجُوهَۚ
بِئۡسَ ٱلشَّرَابُ وَسَآءَتۡ
مُرۡتَفَقًا ﴿٢٩﴾

(29) او ته (دوی ته) ووايه: حق ستا د رب له جانبه دی، نو څوك چې (ايمان راوړل) غواړي، نو هغه دې ايمان راوړي او څوك چې (کفر کول) غواړي، نو هغه دې کفر وکړي، بېشکه مونږ د ظالمانو لپاره داسې اور تيار کړی دی چې له دغو نه د هغه پردې راچاپېره شوې دي او که دوی (له تندې نه) فرياد وکړي (نو) په داسې اوبو سره به يې فرياد رسي وشي لکه زوې (د تيلو خټه) چې مخونه به ورېتوي، بد دی دغه مشروب او بد دی دغه ځای د اوسېدلو

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ
ٱلصَّٰلِحَٰتِ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجۡرَ
مَنۡ أَحۡسَنَ عَمَلًا ﴿٣٠﴾

(30) بېشکه هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او نېك عملونه يې کړي دي، (، نو) يقينًا مونږ د هغه چا اجر نه ضايع کوو چې ښه عمل يې کړی دی

أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ جَنَّٰتُ عَدۡنٖ تَجۡرِي
مِن تَحۡتِهِمُ ٱلۡأَنۡهَٰرُ يُحَلَّوۡنَ فِيهَا
مِنۡ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٖ وَيَلۡبَسُونَ
ثِيَابًا خُضۡرٗا مِّن سُندُسٖ
وَإِسۡتَبۡرَقٖ مُّتَّكِـِٔينَ فِيهَا عَلَى
ٱلۡأَرَآئِكِۚ نِعۡمَ ٱلثَّوَابُ وَحَسُنَتۡ

(31) دغه کسان چې دي، د دوی لپاره د تل استوګنې جنتونه دي چې د هغو له لاندې ولې بهېږي، دوی به په هغو کې د سروزرو په وښيو اراسته (او ښکلي) کاوه شي او دوی به د نري ورېښمو او پېړو ورېښمو شنې جامې اغوندي، په داسې حال کې چې په دغو

مُرۡتَفَقًا ﴿٣١﴾

(جنتونو) کې به په تختونو باندې تکیه وهونکي وي، دغه ښه بدل دی او ښه د ارام ځای دی

۞وَٱضۡرِبۡ لَهُم مَّثَلٗا رَّجُلَيۡنِ جَعَلۡنَا لِأَحَدِهِمَا جَنَّتَيۡنِ مِنۡ أَعۡنَٰبٖ وَحَفَفۡنَٰهُمَا بِنَخۡلٖ وَجَعَلۡنَا بَيۡنَهُمَا زَرۡعٗا ﴿٣٢﴾

(32) او دوی ته یو مثال بیان کړه، دوه سړي دي، په دوی کې یو ته مونږ د انګورو دوه باغونه ورکړي دي، او دغه دواړه (باغونه) مونږ په کجورو سره پټ کړي دي او د دواړو په مینځ کې مونږ فصل (کښت) پیدا کړی دی

كِلۡتَا ٱلۡجَنَّتَيۡنِ ءَاتَتۡ أُكُلَهَا وَلَمۡ تَظۡلِم مِّنۡهُ شَيۡـٔٗاۚ وَفَجَّرۡنَا خِلَٰلَهُمَا نَهَرٗا ﴿٣٣﴾

(33) دغه دواړه باغونه خپلې مېوې کوي او هېڅ شی ترې نه کموي او مونږ د دواړو په مینځ کې ویاله بهولې ده

وَكَانَ لَهُۥ ثَمَرٞ فَقَالَ لِصَٰحِبِهِۦ وَهُوَ يُحَاوِرُهُۥٓ أَنَا۠ أَكۡثَرُ مِنكَ مَالٗا وَأَعَزُّ نَفَرٗا ﴿٣٤﴾

(34) او د دغه (کس) لپاره نورې مېوې هم وې، نو ده خپل ملګري ته وویل، په دې حال کې چې له یو بل سره یې خبرې کولې: زه له تا نه په مال کې زیات یم او په ملاتړ (سړیو) کې ډېر غالب یم

وَدَخَلَ جَنَّتَهُۥ وَهُوَ ظَالِمٞ لِّنَفۡسِهِۦ قَالَ مَآ أَظُنُّ أَن تَبِيدَ هَٰذِهِۦٓ أَبَدٗا ﴿٣٥﴾

(35) او دی خپل باغ ته داخل شو، په داسې حال کې چې پر خپل ځان ظلم کوونکی و، ویې ویل: زه ګمان نه کوم چې دا (باغ) به کله هم هلاك (او خراب) شي

وَمَآ أَظُنُّ ٱلسَّاعَةَ قَآئِمَةً وَلَئِن رُّدِدتُّ إِلَىٰ رَبِّي لَأَجِدَنَّ خَيۡرًا مِّنۡهَا مُنقَلَبًا ٣٦

**(36)** او زه گمان نه کوم چې قیامت قایمېدونکی دی او قسم دی که (بالفرض) زه خپل رب ته بوتلی شوم، نو خامخا هرومرو به زه له دې (باغ) نه غوره د بېرته ورتلو ځای ومومم

قَالَ لَهُۥ صَاحِبُهُۥ وَهُوَ يُحَاوِرُهُۥٓ أَكَفَرۡتَ بِٱلَّذِي خَلَقَكَ مِن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٍ ثُمَّ سَوَّىٰكَ رَجُلًا ٣٧

**(37)** ده ته خپل (مومن) ملګري وویل، په داسې حال کې چې ده ته یې جواب ورکاوه: ایا ته په هغه ذات سره کفر کوې چې ته یې له خاورو پیدا کړې، بیا یې له نطفې نه، بیا یې ته سړی برابر کړې

لَّٰكِنَّا۠ هُوَ ٱللَّهُ رَبِّي وَلَآ أُشۡرِكُ بِرَبِّيٓ أَحَدًا ٣٨

**(38)** لېکن زه چې یم (زه وایم چې) شان دا دی چې همدا الله زما رب دی، او زه له خپل رب سره هیڅوك نه شریکوم

وَلَوۡلَآ إِذۡ دَخَلۡتَ جَنَّتَكَ قُلۡتَ مَا شَآءَ ٱللَّهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِٱللَّهِۚ إِن تَرَنِ أَنَا۠ أَقَلَّ مِنكَ مَالًا وَوَلَدًا ٣٩

**(39)** او کله چې تهٔ خپل باغ ته داخل شوې تا ولې ونه ویل چې مَاشَاءَ اللهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ (کېږي هغه چې الله یې اراده وکړي، هېڅ طاقت نشته مګر د الله په توفیق سره) که ته ما له خپل ځان نه په مال او اولاد کې کم وینې

فَعَسَىٰ رَبِّيٓ أَن يُؤۡتِيَنِ خَيۡرًا مِّن

**(40)** نو امید دی چې ما ته به زما رب ستا له

جَنَّتِكَ وَيُرۡسِلَ عَلَيۡهَا حُسۡبَانٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ فَتُصۡبِحَ صَعِيدٗا زَلَقًا ﴿٤٠﴾

باغ نه غوره راکړي او په دغه (باغ) به له اسمانه عذاب (تندر) نازل کړي، نو هغه به وچ ښوی میدان وګرځي

أَوۡ يُصۡبِحَ مَآؤُهَا غَوۡرٗا فَلَن تَسۡتَطِيعَ لَهُۥ طَلَبٗا ﴿٤١﴾

**(41)** یا به د ده اوبه وچې ډوبې شي، بیا به ته د دغو(ډوبو اوبو) په لټون له سره ونه توانېږې

وَأُحِيطَ بِثَمَرِهِۦ فَأَصۡبَحَ يُقَلِّبُ كَفَّيۡهِ عَلَىٰ مَآ أَنفَقَ فِيهَا وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا وَيَقُولُ يَٰلَيۡتَنِي لَمۡ أُشۡرِكۡ بِرَبِّيٓ أَحَدٗا ﴿٤٢﴾

**(42)** او د ده مېوې ګېرې کړې شوې، (هلاکې شوې) نو داسې شو چې خپل ورغوي (لاسونه) یې (له افسوسه) مښل په هغه (مال) باندې چې ده په دغه (باغ) کې لګولی و، په داسې حال کې چې هغه د خپلو چتونو له پاسه راپرېوتی و، او ده ویل: ای کاشکې ما له خپل رب سره هیڅوک نه وی شریک کړی

وَلَمۡ تَكُن لَّهُۥ فِئَةٞ يَنصُرُونَهُۥ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَمَا كَانَ مُنتَصِرًا ﴿٤٣﴾

**(43)** او د ده هېڅ داسې ډله نه وه چې له الله نه غیر یې د ده مرسته کړې وی او نه دا پخپله بدله اخیستونکی (د ځان مدد کوونکی) و

هُنَالِكَ ٱلۡوَلَٰيَةُ لِلَّهِ ٱلۡحَقِّۚ هُوَ خَيۡرٞ ثَوَابٗا وَخَيۡرٌ عُقۡبٗا ﴿٤٤﴾

**(44)** په دغه وخت کې ټول د اختیار حق الله لره دی، هغه د ثواب (او بدله) ورکولو په لحاظ تر ټولو غوره دی او د انجام ورکولو په لحاظ تر ټولو ښه

وَٱضۡرِبۡ لَهُم مَّثَلَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا كَمَآءٍ أَنزَلۡنَٰهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَٱخۡتَلَطَ بِهِۦ نَبَاتُ ٱلۡأَرۡضِ فَأَصۡبَحَ هَشِيمٗا تَذۡرُوهُ ٱلرِّيَٰحُۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ مُّقۡتَدِرًا ٤٥

**(45)** او ته دوی ته د دنیایي ژوند مثال بیان کړه چې د هغو اوبو په شان دی چې مونږ له بره نه نازلې کړې دي، نو په دغو سره د ځمکې زرغونه له یو بل سره ګډه وډه شي، بیا (دغه زرغونه) وچه کلکه ماته ماته شي، چې بادونه یې الوځوي او الله په هر شي باندې قدرت لرونکی دی

ٱلۡمَالُ وَٱلۡبَنُونَ زِينَةُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَٱلۡبَٰقِيَٰتُ ٱلصَّٰلِحَٰتُ خَيۡرٌ عِندَ رَبِّكَ ثَوَابٗا وَخَيۡرٌ أَمَلٗا ٤٦

**(46)** مال او زامن خو د دنیایي ژوند زینت دی، او باقي پاتې کېدونکي نېك عملونه ستا د رب په نیز د ثواب په لحاظ تر ټولو غوره دي او د امېد په لحاظ تر ټولو ښه

وَيَوۡمَ نُسَيِّرُ ٱلۡجِبَالَ وَتَرَى ٱلۡأَرۡضَ بَارِزَةٗ وَحَشَرۡنَٰهُمۡ فَلَمۡ نُغَادِرۡ مِنۡهُمۡ أَحَدٗا ٤٧

**(47)** او (یاده كړه) هغه ورځ چې مونږ به غرونه روان كړو او ته به ځمكه ښكاره (صاف میدان) وینې او مونږ به دوی (ټول) راجمع كړو، نو په دوی كې به یو تن هم پرې نږدو

وَعُرِضُواْ عَلَىٰ رَبِّكَ صَفّٗا لَّقَدۡ جِئۡتُمُونَا كَمَا خَلَقۡنَٰكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةِۭۚ بَلۡ زَعَمۡتُمۡ أَلَّن نَّجۡعَلَ لَكُم مَّوۡعِدٗا ٤٨

**(48)** او دوی به خپل رب ته قطار قطار وړاندې كړى شي (او وبه ویل شي:) یقینًا یقینًا تاسو مونږ ته داسې (لغړ او یواځې) راغلئ لكه چې مونږ تاسو په ړومبي ځل پیدا كړي وئ، بلكې تاسو دا ګمان كاوه چې مونږ به تاسو لپاره له سره كوم میعاد مقرر نه كړو

وَوُضِعَ ٱلۡكِتَٰبُ فَتَرَى
ٱلۡمُجۡرِمِينَ مُشۡفِقِينَ مِمَّا فِيهِ
وَيَقُولُونَ يَٰوَيۡلَتَنَا مَالِ هَٰذَا
ٱلۡكِتَٰبِ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةٗ وَلَا
كَبِيرَةً إِلَّآ أَحۡصَىٰهَاۚ وَوَجَدُواْ مَا
عَمِلُواْ حَاضِرٗاۗ وَلَا يَظۡلِمُ رَبُّكَ
أَحَدٗا ٤٩

(49) او كتاب به كېښودل شي، نو ته به مجرمان وينې چې له هغه څه نه به وېرېدونكي وي چې په ده كې دي او وايي به: اى زمونږ هلاكته! د دې كتاب (اعمالنامې) څه حال دى چې نه وړه (ګناه) پرېږدي او نه غټه مګر هغه (هره يوه) يې حساب كړې ده او دوى به خپل ترسره كړي عملونه حاضر مومي، او ستا رب پر هيچا ظلم نه كوي

وَإِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ
فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبۡلِيسَ كَانَ مِنَ
ٱلۡجِنِّ فَفَسَقَ عَنۡ أَمۡرِ رَبِّهِۦٓۗ
أَفَتَتَّخِذُونَهُۥ وَذُرِّيَّتَهُۥٓ أَوۡلِيَآءَ مِن
دُونِي وَهُمۡ لَكُمۡ عَدُوُّۢۚ بِئۡسَ
لِلظَّٰلِمِينَ بَدَلٗا ٥٠

(50) او (ياد كړه) هغه وخت چې مونږ ملايكو ته وويل: تاسو ادم ته سجده وكړئ، نو دوى سجده وكړه، غير له ابليس نه، هغه له جناتو څخه و، نو هغه د خپل رب د حكم نافرماني يې وكړه، ايا نو تاسو له ما نه غير هغه او د هغهٔ اولاده دوستان جوړوئ، حال دا چې هغوى ستاسو دښمنان دي، او د ظالمانو لپاره بد بدل دى

۞مَّآ أَشۡهَدتُّهُمۡ خَلۡقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضِ وَلَا خَلۡقَ أَنفُسِهِمۡ وَمَا
كُنتُ مُتَّخِذَ ٱلۡمُضِلِّينَ
عَضُدٗا ٥١

(51) ما دغه (شيطانان) نه د اسمانونو او ځمكې پيدا كولو ته حاضر كړي دي او نه د دوى د ځانونو پيدا كولو ته او زه ګمراه كوونكو لره مټ (بازو) جوړوونكى (نيونكى) نه يم

وَيَوۡمَ يَقُولُ نَادُواْ شُرَكَآءِيَ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُمۡ فَدَعَوۡهُمۡ فَلَمۡ يَسۡتَجِيبُواْ لَهُمۡ وَجَعَلۡنَا بَيۡنَهُم مَّوۡبِقٗا ﴿٥٢﴾

(52) او (ياده كړه) هغه ورځ چې وبه وايي (الله): تاسو زما هغو شريكانو ته اواز وكړئ چې تاسو به ګڼل، نو دوى به هغوى ته چغې ووهي، نو هغوى به دوى ته هېڅ جواب ورنه كړي او مونږ به د دوى تر مينځ د هلاكت يو ميدان (دوزخ) وګرځوو

وَرَءَا ٱلۡمُجۡرِمُونَ ٱلنَّارَ فَظَنُّوٓاْ أَنَّهُم مُّوَاقِعُوهَا وَلَمۡ يَجِدُواْ عَنۡهَا مَصۡرِفٗا ﴿٥٣﴾

(53) او مجرمان به اور ووينې، نو يقين به وكړي چې بېشكه دوى په دغه (اور) كې غورځېدونكي دي او دوى به له دغه (اور) نه د په څنګ كېدلو ځاى ونه مومي

وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَا فِي هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ لِلنَّاسِ مِن كُلِّ مَثَلٖۚ وَكَانَ ٱلۡإِنسَٰنُ أَكۡثَرَ شَيۡءٖ جَدَلٗا ﴿٥٤﴾

(54) او يقينًا يقينًا مونږ په دې قرآن كې د خلقو لپاره هر قسمه مثالونه بيا بيا بيان كړي دي، او انسان په جګړه كې تر هر شي زيات دى

وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ أَن يُؤۡمِنُوٓاْ إِذۡ جَآءَهُمُ ٱلۡهُدَىٰ وَيَسۡتَغۡفِرُواْ رَبَّهُمۡ إِلَّآ أَن تَأۡتِيَهُمۡ سُنَّةُ ٱلۡأَوَّلِينَ أَوۡ يَأۡتِيَهُمُ ٱلۡعَذَابُ قُبُلٗا ﴿٥٥﴾

(55) او نه دي منع كړي خلق له دې نه چې ايمان راوړي، كله چې دوى ته هدايت راغى او له دې نه چې له خپل رب نه مغفرت وغواړي مګر (دې خبرې) چې دوى ته د رومبنو خلقو طريقه راشي، يا دوى ته عذاب مخامخ راشي

وَمَا نُرۡسِلُ ٱلۡمُرۡسَلِينَ إِلَّا
مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَۚ وَيُجَٰدِلُ
ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِٱلۡبَٰطِلِ
لِيُدۡحِضُواْ بِهِ ٱلۡحَقَّۖ وَٱتَّخَذُوٓاْ
ءَايَٰتِي وَمَآ أُنذِرُواْ هُزُوٗا ٥٦

(56) او مونږ رسولان نه لېږو مګر زېرى وركوونكي او وېروونكي، او كافران شوي خلق په باطله سره جګړه كوي، د دې لپاره چې په دې سره حق ورك او لرې كړي او دوى زما ايتونه او هغه څه چې دوى پرې وېرول شوي وو؛ مسخره او ټوكې ونيول

وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِـَٔايَٰتِ
رَبِّهِۦ فَأَعۡرَضَ عَنۡهَا وَنَسِيَ مَا
قَدَّمَتۡ يَدَاهُۚ إِنَّا جَعَلۡنَا عَلَىٰ
قُلُوبِهِمۡ أَكِنَّةً أَن يَفۡقَهُوهُ وَفِيٓ
ءَاذَانِهِمۡ وَقۡرٗاۖ وَإِن تَدۡعُهُمۡ إِلَى
ٱلۡهُدَىٰ فَلَن يَهۡتَدُوٓاْ إِذًا أَبَدٗا ٥٧

(57) او له هغه كس نه لوى ظالم څوك دى چې هغه ته د خپل رب په ايتونو سره نصيحت وركړى شي، نو دى له هغو نه مخ واړوي او هغه عملونه هېر كړي چې د ده لاسونو مخكې لېږلي دي، بېشكه مونږ د دوى پر زړونو پردې اچولې دي، د دې لپاره چې دوى پر ده پوه (نه) شي او د دوى په غوږونو كې مو كوڼوالى (اچولى دى) او كه ته دوى هدايت ته بلې، نو دوى به له سره هيڅكله هم هدايت ونه مومي

وَرَبُّكَ ٱلۡغَفُورُ ذُو ٱلرَّحۡمَةِۖ لَوۡ
يُؤَاخِذُهُم بِمَا كَسَبُواْ لَعَجَّلَ لَهُمُ
ٱلۡعَذَابَۚ بَل لَّهُم مَّوۡعِدٞ لَّن يَجِدُواْ
مِن دُونِهِۦ مَوۡئِلٗا ٥٨

(58) او هم ستا رب ډېر بخښونكى، د رحمت والا دى، كه دوى يې د خپلو كړو ګناهونو په سبب نيولي وى، (نو دوى ته به يې عذاب خامخا ژر رالېږلى و، بلكې د دوى لپاره د وعدې وخت شته، (نو) دوى به له هغه (الله) نه غير هيڅ پناه ځاى ونه مومي

وَتِلۡكَ ٱلۡقُرَىٰٓ أَهۡلَكۡنَٰهُمۡ لَمَّا
ظَلَمُواْ وَجَعَلۡنَا لِمَهۡلِكِهِم
مَّوۡعِدٗا ﴿٥٩﴾

(59) او دغه کلي دي چې مونږ دوی هلاك کړل، کله چې دوی ظلم وکړ او مونږ د دوی هلاکت ته یوه نېټه ټاکلې وه

وَإِذۡ قَالَ مُوسَىٰ لِفَتَىٰهُ لَآ أَبۡرَحُ
حَتَّىٰٓ أَبۡلُغَ مَجۡمَعَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ أَوۡ
أَمۡضِيَ حُقُبٗا ﴿٦٠﴾

(60) او (یاد کړه) هغه وخت چې موسیٰ خپل ځلمي ته وویل: زه به تل ځمه، تر هغه پورې چې د دوه دریابونو د جمع کېدو ځای ته ورسېږم، یا به ګرځمه ډېرې زمانې

فَلَمَّا بَلَغَا مَجۡمَعَ بَيۡنِهِمَا نَسِيَا
حُوتَهُمَا فَٱتَّخَذَ سَبِيلَهُۥ فِي ٱلۡبَحۡرِ
سَرَبٗا ﴿٦١﴾

(61) نو کله چې دوی دواړه د هغو دواړو (دریابونو) په خپل مینځ کې د یو ځای کېدو مقام ته ورسېدل، نو دوی خپل کب هېر کړ، نو هغه په سمندر کې (د) سرنګ (په شان) خپله لار ونیوله

فَلَمَّا جَاوَزَا قَالَ لِفَتَىٰهُ ءَاتِنَا
غَدَآءَنَا لَقَدۡ لَقِينَا مِن سَفَرِنَا
هَٰذَا نَصَبٗا ﴿٦٢﴾

(62) نو کله چې دوی (له دغه ځایه) تېر شول، (موسیٰ) خپل ځلمي ته وویل: ته مونږ ته زمونږ سبا ناری راوړه، ببشکه یقینًا مونږ له خپل دې سفره له ستومانۍ سره مخ شوي یو

قَالَ أَرَءَيۡتَ إِذۡ أَوَيۡنَآ إِلَى ٱلصَّخۡرَةِ
فَإِنِّي نَسِيتُ ٱلۡحُوتَ وَمَآ أَنسَىٰنِيهُ
إِلَّا ٱلشَّيۡطَٰنُ أَنۡ أَذۡكُرَهُۥۚ وَٱتَّخَذَ

(63) هغه وویل: ایا ته خبر شوې کله چې مونږ لوېي تېرې ته ځای ونیوه (هلته مو دمه وکړه)، نو ببشکه ما هغه کب هېر کړ او هغه له ما نه هېر نه کړ مګر شیطان چې زه هغه (تا

سَبِيلَهُۥ فِي ٱلۡبَحۡرِ عَجَبٗا ٦٣

ته) درياد کړم او هغه په سمندر کې خپله لاره ډېر عجيبه جوړه کړه

قَالَ ذَٰلِكَ مَا كُنَّا نَبۡغِۚ فَٱرۡتَدَّا عَلَىٰٓ ءَاثَارِهِمَا قَصَصٗا ٦٤

(64) ويې ويل: دغه هغه څه دي چې مونږ يې طلب کاوه، پس بېرته په همغو خپلو قدمونو قدم په قدم راوگرځېدل

فَوَجَدَا عَبۡدٗا مِّنۡ عِبَادِنَآ ءَاتَيۡنَٰهُ رَحۡمَةٗ مِّنۡ عِندِنَا وَعَلَّمۡنَٰهُ مِن لَّدُنَّا عِلۡمٗا ٦٥

(65) بيا نو دوی زمونږ په بنده ګانو کې يو بنده ومونده، چې مونږ هغه ته له خپله جانبه رحمت ورکړی و او له خپل جانبه مو هغه ته (خاص) علم ښوولی و

قَالَ لَهُۥ مُوسَىٰ هَلۡ أَتَّبِعُكَ عَلَىٰٓ أَن تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمۡتَ رُشۡدٗا ٦٦

(66) ده ته موسیٰ وويل: ايا زه ستا تابع شمه په دې شرط سره چې ته به ما ته ښيې د هغه (علم) نه چې تا ته د نيغې لار ښوول شوی دی

قَالَ إِنَّكَ لَن تَسۡتَطِيعَ مَعِيَ صَبۡرٗا ٦٧

(67) هغه وويل: ببشکه ته به زما سره هيچېرې د صبر کولو طاقت ونه لرې

وَكَيۡفَ تَصۡبِرُ عَلَىٰ مَا لَمۡ تُحِطۡ بِهِۦ خُبۡرٗا ٦٨

(68) او ته به څنګه پر هغه کار صبر وکړې چې د علم په لحاظ تا د هغهٔ احاطه نه ده کړې

قَالَ سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ

(69) هغه وويل: که الله وغواړي ته به ما ضرور

صَابِرٗا وَلَآ أَعۡصِي لَكَ أَمۡرٗا ٦٩

صبر کوونکی وومومې او زه به ستا د حکم نافرماني نه کوم

قَالَ فَإِنِ ٱتَّبَعۡتَنِي فَلَا تَسۡـَٔلۡنِي عَن شَيۡءٍ حَتَّىٰٓ أُحۡدِثَ لَكَ مِنۡهُ ذِكۡرٗا ٧٠

(70) هغه ووېل: که ته زما متابعت کوې، نو ته له ما نه د هېڅ شي په باره کې تر هغه پورې تپوس مه کوه چې زه تا ته د هغه ذکر شروع کړم

فَٱنطَلَقَا حَتَّىٰٓ إِذَا رَكِبَا فِي ٱلسَّفِينَةِ خَرَقَهَاۖ قَالَ أَخَرَقۡتَهَا لِتُغۡرِقَ أَهۡلَهَا لَقَدۡ جِئۡتَ شَيۡـًٔا إِمۡرٗا ٧١

(71) نو دوی دواړه روان شول تر دې چې کله دوی په کښتۍ کې سواره شول، نو ده هغه کښتۍ سورۍ کړه، موسیٰ ووېل: ایا تا دا د دې لپاره سورۍ کړه چې ته د دې اهل (سورلۍ) غرق کړې، یقینًا یقینًا تا ډېر دروند ناروا کار وکړ

قَالَ أَلَمۡ أَقُلۡ إِنَّكَ لَن تَسۡتَطِيعَ مَعِيَ صَبۡرٗا ٧٢

(72) هغه ووېل: ایا ما تا ته ویلي نه وو چې بېشکه ته به زما سره هیڅېرې د صبر کولو طاقت ونه لرې

قَالَ لَا تُؤَاخِذۡنِي بِمَا نَسِيتُ وَلَا تُرۡهِقۡنِي مِنۡ أَمۡرِي عُسۡرٗا ٧٣

(73) ده ووېل: ته ما پر هغه کار مه نیسه چې ما په هېره وکړ او ته پر ما د دې کار په وجه سختي مه راچوه

فَٱنطَلَقَا حَتَّىٰٓ إِذَا لَقِيَا غُلَٰمٗا فَقَتَلَهُۥ قَالَ أَقَتَلۡتَ نَفۡسٗا زَكِيَّةَۢ

(74) نو دواړه روان شول، تر دې چې کله دوی له یو هلك سره مخامخ شول، نو ده هغه قتل

| | |
|---|---|
| بِغَيۡرِ نَفۡسٖ لَّقَدۡ جِئۡتَ شَيۡـٔٗا نُّكۡرٗا ﴿٧٤﴾ | کړ، (موسیٰ) وويل: ايا تا يو پاکيزه (بې گناه) نفس وواژه، بې له عوضه د بل نفس، يقينًا يقينًا تا ډېر ناکاره کار وکړ |
| ۞قَالَ أَلَمۡ أَقُل لَّكَ إِنَّكَ لَن تَسۡتَطِيعَ مَعِيَ صَبۡرٗا ﴿٧٥﴾ | (75) هغه (خضر) وويل: ايا ما تا ته ويلي نه وو چې بېشکه ته به زما سره د صبر کولو طاقت ببخي ونه کړی شې |
| قَالَ إِن سَأَلۡتُكَ عَن شَيۡءِۭ بَعۡدَهَا فَلَا تُصَٰحِبۡنِيۖ قَدۡ بَلَغۡتَ مِن لَّدُنِّي عُذۡرٗا ﴿٧٦﴾ | (76) هغه (موسیٰ) وويل: که له دې نه بعد ما له تا نه د څه شي باره کې پوښتنه وکړه، نو بيا ته ما د ځان مه ملگرى کوه، يقينًا ته زما له جانبه (حد د) عذر ته ورسېدې |
| فَٱنطَلَقَا حَتَّىٰٓ إِذَآ أَتَيَآ أَهۡلَ قَرۡيَةٍ ٱسۡتَطۡعَمَآ أَهۡلَهَا فَأَبَوۡاْ أَن يُضَيِّفُوهُمَا فَوَجَدَا فِيهَا جِدَارٗا يُرِيدُ أَن يَنقَضَّ فَأَقَامَهُۥۖ قَالَ لَوۡ شِئۡتَ لَتَّخَذۡتَ عَلَيۡهِ أَجۡرٗا ﴿٧٧﴾ | (77) بيا دواړه روان شول تر هغه پورې چې د يو کلي اوسېدونکو ته راغلل (،نو) د هغه (کلي) له اوسېدونکو نه يې طعام (خوراك) وغوښت، نو هغو، دوی دواړو ته د مېلمستيا له ورکولو نه انکار وکړ، بيا دوی په دغه (کلي) کې يو دېوال وموند چې غوښتل يې ونړېږي، نو ده (خضر) هغه سم کړ، هغه (موسیٰ) وويل: که تا غوښتلی (نو)خامخا پر دې (سازولو) به دې مزدوري اخيستې وی |
| قَالَ هَٰذَا فِرَاقُ بَيۡنِي وَبَيۡنِكَۚ | (78) ده وويل: دا زما په مينځ کې او ستا په مينځ کې (د) بېلتون (وخت) دی، ژر به زه تا |

سَأُنَبِّئُكَ بِتَأۡوِيلِ مَا لَمۡ تَسۡتَطِع عَّلَيۡهِ صَبۡرًا ٧٨

د هغو خبرو په حقيقت خبر کړم چې په هغو باندې تا د صبر کولو طاقت ونه کړی شو

أَمَّا ٱلسَّفِينَةُ فَكَانَتۡ لِمَسَٰكِينَ يَعۡمَلُونَ فِي ٱلۡبَحۡرِ فَأَرَدتُّ أَنۡ أَعِيبَهَا وَكَانَ وَرَآءَهُم مَّلِكٞ يَأۡخُذُ كُلَّ سَفِينَةٍ غَصۡبٗا ٧٩

**(79)** هر چې کښتۍ وه، نو هغه د هغو مسکینانو وه چې په بحر کې يې کار کاوه، نو ما اراده وکړه چې زه هغه عيبجنه کړم، په داسې حال کې چې د دوی په مخه کې يو داسې باچا و چې هره (روغه) کښتۍ به يې په زور سره اخيستله

وَأَمَّا ٱلۡغُلَٰمُ فَكَانَ أَبَوَاهُ مُؤۡمِنَيۡنِ فَخَشِينَآ أَن يُرۡهِقَهُمَا طُغۡيَٰنٗا وَكُفۡرٗا ٨٠

**(80)** او هر چې هلك و، نو د هغه مور و پلار مومنان وو، نو مونږ له دې ووېرېدو چې دی به هغوی پر سرکښۍ او کفر کولو مجبوره کړي

فَأَرَدۡنَآ أَن يُبۡدِلَهُمَا رَبُّهُمَا خَيۡرٗا مِّنۡهُ زَكَوٰةٗ وَأَقۡرَبَ رُحۡمٗا ٨١

**(81)** نومونږ وغوښتل چې دوی ته د دوی رب (داسې) بدل ورکړي (چې) له دغه (هلك) نه په پاکۍ کې غوره وي او (له دغه نه) په مهربانۍ کې ډېر نږدې وي

وَأَمَّا ٱلۡجِدَارُ فَكَانَ لِغُلَٰمَيۡنِ يَتِيمَيۡنِ فِي ٱلۡمَدِينَةِ وَكَانَ تَحۡتَهُۥ كَنزٞ لَّهُمَا وَكَانَ أَبُوهُمَا صَٰلِحٗا فَأَرَادَ رَبُّكَ أَن يَبۡلُغَآ أَشُدَّهُمَا

**(82)** او پاتې شو دېوال، نو هغه د دوه يتيمو هلکانو و، چې په ښار کې وو، او له هغه نه لاندې د هغو دواړو لپاره خزانه وه او د دغو دواړو پلار نېك (سړی) و، نو ستا رب اراده وکړه چې دوی دواړه خپلې ځوانۍ (او قوت)

وَيَسۡتَخۡرِجَا كَنزَهُمَا رَحۡمَةً مِّن رَّبِّكَۚ وَمَا فَعَلۡتُهُۥ عَنۡ أَمۡرِيۚ ذَٰلِكَ تَأۡوِيلُ مَا لَمۡ تَسۡطِع عَّلَيۡهِ صَبۡرٗا ﴿٨٢﴾

ته ورسي او (بيا) خپله خزانه راوباسي، ستا د رب د مهربانۍ په وجه او دغه (كار) ما (له خپله ځانه) په خپل حكم نه دى كړى، دغه حقيقت د هغه څه دى چې تا په هغو د صبر كولو طاقت ونشو كړى

وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَن ذِي ٱلۡقَرۡنَيۡنِۖ قُلۡ سَأَتۡلُواْ عَلَيۡكُم مِّنۡهُ ذِكۡرًا ﴿٨٣﴾

**(83)** او دوى له تا نه د ذوالقرنين باره كې تپوس كوي، ته (دوى ته) ووايه: ژر به زه تاسو ته د هغه په هكله څه احوال بيان كړم

إِنَّا مَكَّنَّا لَهُۥ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَءَاتَيۡنَٰهُ مِن كُلِّ شَيۡءٖ سَبَبٗا ﴿٨٤﴾

**(84)** بېشكه مونږ هغه ته په ځمكه كې اقتدار وركړى و او مونږ هغه ته له هر شي نه يوه لاره (او وسيله) وركړې وه

فَأَتۡبَعَ سَبَبًا ﴿٨٥﴾

**(85)** نو هغه لاره ونيوله (او هغه اسباب هم چې مغرب ته يې ورساوه)

حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ مَغۡرِبَ ٱلشَّمۡسِ وَجَدَهَا تَغۡرُبُ فِي عَيۡنٍ حَمِئَةٖ وَوَجَدَ عِندَهَا قَوۡمٗاۗ قُلۡنَا يَٰذَا ٱلۡقَرۡنَيۡنِ إِمَّآ أَن تُعَذِّبَ وَإِمَّآ أَن تَتَّخِذَ فِيهِمۡ حُسۡنٗا ﴿٨٦﴾

**(86)** تر هغه پورې چې كله دى د لمر پرېوتو ځاى ته ورسېده (نو) ده دغه (لمر) ومونده چې د تورو ختو په لويه چينه كې ډوبېده، او ده هغې(چينې) ته نژدې يو قوم ومونده، مونږ وويل: اى ذوالقرنينه! (تا ته اختيار حاصل دى چې) يا خو ته (دوى ته) عذاب وركړه او يا دا چې ته د دوى په هكله ښه لار ونيسه

قَالَ أَمَّا مَن ظَلَمَ فَسَوۡفَ نُعَذِّبُهُۥ ثُمَّ يُرَدُّ إِلَىٰ رَبِّهِۦ فَيُعَذِّبُهُۥ عَذَابٗا نُّكۡرٗا ﴿٨٧﴾

(87) ده وویل: هر چې هغه کس دی چې (له دې نه بعد) ظلم (شرك) وکړي، نو ژر به مونږ هغه ته (دنیایي) سزا ورکړو، بیا به هغه خپل رب ته بېرته بوتللی شي، نو هغه به ده ته عذاب ورکړي ډېر سخت عذاب

وَأَمَّا مَنۡ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا فَلَهُۥ جَزَآءً ٱلۡحُسۡنَىٰۖ وَسَنَقُولُ لَهُۥ مِنۡ أَمۡرِنَا يُسۡرٗا ﴿٨٨﴾

(88) او پاتې شو هغه کس چې ایمان راوړي او نیك عمل وکړي، نو د هغه لپاره په بدله کې غوره ښېګڼه ده (چې جنت دی) او ژر ده چې مونږ به هغه ته زمونږ په کار کې پیدا کړو

ثُمَّ أَتۡبَعَ سَبَبًا ﴿٨٩﴾

(89) بیا ده بله لاره ونیوله (او هغه اسباب هم چې مشرق ته یې ورساوه)

حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ مَطۡلِعَ ٱلشَّمۡسِ وَجَدَهَا تَطۡلُعُ عَلَىٰ قَوۡمٖ لَّمۡ نَجۡعَل لَّهُم مِّن دُونِهَا سِتۡرٗا ﴿٩٠﴾

(90) تر هغه پورې چې کله دی د لمر ختو ځای ته ورسېده (،نو) دغه (لمر) یې ومونده چې پر داسې قوم راخېژي چې مونږ هغوی ته د دغه (لمر) په وړاندې کومه پرده نه وه ګرځولې

كَذَٰلِكَۖ وَقَدۡ أَحَطۡنَا بِمَا لَدَيۡهِ خُبۡرٗا ﴿٩١﴾

(91) همداسې (حال) و او یقیناً مونږ د خبرداری په لحاظ پر هغه څه احاطه کړې وه چې له ده سره وو

| | |
|---|---|
| ثُمَّ أَتۡبَعَ سَبَبًا ﴿٩٢﴾ | **(92)** بیا ده بله لاره ونیوله (او نور اسباب یې تیار کړل) |
| حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ بَيۡنَ ٱلسَّدَّيۡنِ وَجَدَ مِن دُونِهِمَا قَوۡمٗا لَّا يَكَادُونَ يَفۡقَهُونَ قَوۡلٗا ﴿٩٣﴾ | **(93)** تر هغه پورې چې کله دی د دوه غرونو مینځ ته ورسیده (،نو) د دغو دواړو وړاندې یې داسې قوم ومونده چې نږدې نه وو چې دوی (د ذوالقرنین) پر خبره پوه شي |
| قَالُواْ يَٰذَا ٱلۡقَرۡنَيۡنِ إِنَّ يَأۡجُوجَ وَمَأۡجُوجَ مُفۡسِدُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَهَلۡ نَجۡعَلُ لَكَ خَرۡجًا عَلَىٰٓ أَن تَجۡعَلَ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَهُمۡ سَدّٗا ﴿٩٤﴾ | **(94)** دوی وویل: ای ذوالقرنینه! ببشکه یاجوج او ماجوج په ځمکه کې فساد کوونکي دي، نو ایا مونږ تا لپاره لګښت مقرر کړو، د دې لپاره چې ته زمونږ په مینځ کې او د دوی مینځ کې یو دېوال جوړ کړې؟ |
| قَالَ مَا مَكَّنِّي فِيهِ رَبِّي خَيۡرٞ فَأَعِينُونِي بِقُوَّةٍ أَجۡعَلۡ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهُمۡ رَدۡمًا ﴿٩٥﴾ | **(95)** ده وویل: هغه شیزونه چې ما ته زما رب په (استعمال د) هغو کې قدرت راکړی دی (هغه) ډېر غوره دي، نو تاسو زما سره مرسته په محنت (او کار) سره وکړئ، زه به ستاسو په مینځ کې او د دوی په مینځ کې ښه مضبوط دېوال جوړ کړم |
| ءَاتُونِي زُبَرَ ٱلۡحَدِيدِۖ حَتَّىٰٓ إِذَا سَاوَىٰ بَيۡنَ ٱلصَّدَفَيۡنِ قَالَ ٱنفُخُواْۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَعَلَهُۥ نَارٗا قَالَ | **(96)** تاسو ما ته د اوسپنې تختې راکړئ، تر هغه پورې (یې ایښودلې چې) کله دغه (دېوال) د (غرونو) دوو څوکو په مینځ کې |

| | |
|---|---|
| ءَاتُونِيٓ أُفۡرِغۡ عَلَيۡهِ قِطۡرٗا ﴿٩٦﴾ | برابر شو، ویې ویل چې پو کړئ، تر هغه پورې چې کله یې دغه (اوسپنه) اور وګرځوله (،نو) ویې ویل: تاسو ما ته راوړئ چې زه پر دې (دېوال) وېلې کړی شوې تانبه وغورځوم |
| فَمَا ٱسۡطَٰعُوٓاْ أَن يَظۡهَرُوهُ وَمَا ٱسۡتَطَٰعُواْ لَهُۥ نَقۡبٗا ﴿٩٧﴾ | (97) نو د دوی به طاقت نه وي چې پر ده وخېژي او نه به دوی د سوري کولو طاقت ولرلی شي |
| قَالَ هَٰذَا رَحۡمَةٞ مِّن رَّبِّيۖ فَإِذَا جَآءَ وَعۡدُ رَبِّي جَعَلَهُۥ دَكَّآءَۖ وَكَانَ وَعۡدُ رَبِّي حَقّٗا ﴿٩٨﴾ | (98) دغه زما د رب له جانبه یو رحمت دی، نو کله چې زما د رب وعده راشي دا به له ځمکې سره هموار وګرځوي او زما د رب وعده حقه ده |
| ۞وَتَرَكۡنَا بَعۡضَهُمۡ يَوۡمَئِذٖ يَمُوجُ فِي بَعۡضٖۖ وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَجَمَعۡنَٰهُمۡ جَمۡعٗا ﴿٩٩﴾ | (99) او مونږ به په دغه ورځ کې د دوی ځینې پرېږدو چې په ځینو نورو کې به موجونه وهي (ننوځي به) او په شپېلۍ کې به پوکی وکړی شي، نومونږ به دوی راجمع کړو، پوره جمع کول |
| وَعَرَضۡنَا جَهَنَّمَ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡكَٰفِرِينَ عَرۡضًا ﴿١٠٠﴾ | (100) او په دغې ورځ به مونږ جهنم کافرانو ته وروړاندې کړو، وروړاندې کول |
| ٱلَّذِينَ كَانَتۡ أَعۡيُنُهُمۡ فِي غِطَآءٍ عَن ذِكۡرِي وَكَانُواْ لَا يَسۡتَطِيعُونَ | (101) هغو کسانو ته چې د هغوی سترګې زما له ذکر نه په پرده کې وې او دوی اورېدل |

سَمۡعًا ﴿١٠١﴾

نشول كولى

أَفَحَسِبَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَن يَتَّخِذُواْ عِبَادِي مِن دُونِيٓ أَوۡلِيَآءَۚ إِنَّآ أَعۡتَدۡنَا جَهَنَّمَ لِلۡكَٰفِرِينَ نُزُلٗا ﴿١٠٢﴾

(102) ايا نو كافران شويو كسانو ګمان كړى دى چې دوى به له ما نه غير زما بنده ګان كارسازوونكي ونيسي (او بيا به هم زه ورته عذاب نه وركوم، نه) بېشكه مونږ د كافرانو لپاره جهنم مېلمستيا تيار كړى دى

قُلۡ هَلۡ نُنَبِّئُكُم بِٱلۡأَخۡسَرِينَ أَعۡمَٰلًا ﴿١٠٣﴾

(103) ته (دوى ته) ووايه: ايا مونږ تاسو ته د هغو كسانو باره كې خبر دركړو چې د اعمالو په لحاظ تر ټولو زيات تاواني دي؟

ٱلَّذِينَ ضَلَّ سَعۡيُهُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَهُمۡ يَحۡسَبُونَ أَنَّهُمۡ يُحۡسِنُونَ صُنۡعًا ﴿١٠٤﴾

(104) دوى هغه كسان دي چې په دنيايي ژوند كې د دوى منډې توى (او بې ځايه) تللي دي، په داسې حال كې چې دوى ادا ګمان كوي چې يقيناً هم دوى ښه عملونه كوي

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ وَلِقَآئِهِۦ فَحَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فَلَا نُقِيمُ لَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَزۡنٗا ﴿١٠٥﴾

(105) هم دغه كسان دي چې د خپل رب په ايتونو او د هغه په ملاقات سره كافر (او انكاري) شوي دي، نو د دوى عملونه برباد شول، نو د قيامت په ورځ به مونږ د دوى لپاره هېڅ وزن ونه دروو (هېڅ حيثيت به ورنكړو)

ذَٰلِكَ جَزَآؤُهُمۡ جَهَنَّمُ بِمَا

(106) دغه، د دوى بدله جهنم ده په سبب

كَفَرُواْ وَٱتَّخَذُوٓاْ ءَايَٰتِي وَرُسُلِي
هُزُوًا ﴿١٠٦﴾

كفر وكړ او زما ايتونه او زما رسولان يې مسخره نيولي وو

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ
ٱلصَّٰلِحَٰتِ كَانَتۡ لَهُمۡ جَنَّٰتُ
ٱلۡفِرۡدَوۡسِ نُزُلًا ﴿١٠٧﴾

(107) بېشكه هغه كسان چې ايمان يې راوړى دى او نېك عملونه يې كړي دي، د دوى لپاره د فردوس (اعلىٰ) جنتونه مېلمستيا دي

خَٰلِدِينَ فِيهَا لَا يَبۡغُونَ عَنۡهَا
حِوَلًا ﴿١٠٨﴾

(108) چې په دغو كې به تل وي، دوى به له دغو نه گرځېدل (او بل ځاى ته منتقل كېدل) نه غواړي

قُل لَّوۡ كَانَ ٱلۡبَحۡرُ مِدَادًا لِّكَلِمَٰتِ
رَبِّي لَنَفِدَ ٱلۡبَحۡرُ قَبۡلَ أَن تَنفَدَ
كَلِمَٰتُ رَبِّي وَلَوۡ جِئۡنَا بِمِثۡلِهِۦ
مَدَدًا ﴿١٠٩﴾

(109) ته (دوى ته) ووايه: كه سمندر زما د رب د كلماتو لپاره سياهي شي، (نو) سمندر به خامخا خلاص شي، مخكې له دې چې زما د رب كلمات تمام شي، اگر كه مونږ د دغه (سمندر) په مثل مدد (يا سياهي) هم راوړو

قُلۡ إِنَّمَآ أَنَا۠ بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ يُوحَىٰٓ
إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ فَمَن
كَانَ يَرۡجُواْ لِقَآءَ رَبِّهِۦ فَلۡيَعۡمَلۡ
عَمَلٗا صَٰلِحٗا وَلَا يُشۡرِكۡ بِعِبَادَةِ
رَبِّهِۦٓ أَحَدَۢا ﴿١١٠﴾

(110) ته (دوى ته) ووايه: بېشكه همدا خبره ده چې زه يواځې ستاسو په شان بشر يم، ما ته وحي كولى شي چې بېشكه ستاسو معبود يواځې يو معبود دى، نو هغه څوك چې د خپل رب د ملاقات امېد لري، نو هغه دې نېك عمل وكړي او د خپل رب په عبادت كې دې

هیڅوك نه شریکوي

## سُورَةُ مَرۡيَمَ

## سورۀ مریم

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

كٓهيعٓصٓ ١

**(1)** کاف، ها، یا، عین، صاد

ذِكۡرُ رَحۡمَتِ رَبِّكَ عَبۡدَهُۥ زَكَرِيَّآ ٢

**(2)** (دا) ستا د رب د رحمت ذکر دی په خپل بنده زکریا باندې

إِذۡ نَادَىٰ رَبَّهُۥ نِدَآءً خَفِيّٗا ٣

**(3)** کله چې ده خپل رب ته اواز وکړ ډېر ورو اواز

قَالَ رَبِّ إِنِّي وَهَنَ ٱلۡعَظۡمُ مِنِّي وَٱشۡتَعَلَ ٱلرَّأۡسُ شَيۡبٗا وَلَمۡ أَكُنۢ بِدُعَآئِكَ رَبِّ شَقِيّٗا ٤

**(4)** ويې ويل: ای زما ربه! يقيناً زه چې يم زما هډوکي کمزوري (ضعيف) شوي دي او سر مې د سپين والي په وجه شغلې وهې، په دې حال کې چې ای زما ربه! زه هيڅکله له تا نه په سوال سره محروم (او نا اميده) نه يم پاتې شوی

وَإِنِّي خِفۡتُ ٱلۡمَوَٰلِيَ مِن وَرَآءِي وَكَانَتِ ٱمۡرَأَتِي عَاقِرٗا فَهَبۡ لِي مِن

**(5)** او بېشکه زه چې يم، خپل وروسته له خپلوانو نه وېرېږم، او زما ښځه له شروع نه شنډه ده، نو ته ما ته له خپل جانب نه یو

لَّدُنكَ وَلِيّٗا ٥

وارث راکړه

يَرِثُنِي وَيَرِثُ مِنۡ ءَالِ يَعۡقُوبَۖ
وَٱجۡعَلۡهُ رَبِّ رَضِيّٗا ٦

(6) چې وارث شي د دين زما او وارث شي د دين د اولاد د يعقوب او دی وګرځوه ای ربه غوره شوی

يَٰزَكَرِيَّآ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَٰمٍ ٱسۡمُهُۥ
يَحۡيَىٰ لَمۡ نَجۡعَل لَّهُۥ مِن قَبۡلُ
سَمِيّٗا ٧

(7) ای زکریا! بېشکه مونږ تا ته د داسې هلك زېرى درکوو چې د ده به نوم يحيٰی وي، مونږ ده ته له دې نه مخکې څوك همنامی نه دی ګرځولی

قَالَ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَٰمٞ
وَكَانَتِ ٱمۡرَأَتِي عَاقِرٗا وَقَدۡ بَلَغۡتُ
مِنَ ٱلۡكِبَرِ عِتِيّٗا ٨

(8) ده ووېل: ای زما ربه! زما لپاره به هلك څنګه کېږي، په داسې حال کې چې زما ښځه له شروع نه شنډه ده اويقينًا زه د ډېر زوړوالي په وجه ډېرې کمزورۍ ته رسېدلی يم

قَالَ كَذَٰلِكَ قَالَ رَبُّكَ هُوَ عَلَيَّ
هَيِّنٞ وَقَدۡ خَلَقۡتُكَ مِن قَبۡلُ وَلَمۡ
تَكُ شَيۡـٔٗا ٩

(9) (الله) ورته ووېل: هم داسې دي، ستا رب فرمايلي دي چې دغه (کار) ما ته ډېر اسان دی او تحقيق ته ما پیدا کړی يې له دې نه مخکې، حال دا چې ته هېڅ شی نه وې

قَالَ رَبِّ ٱجۡعَل لِّيٓ ءَايَةٗۖ قَالَ
ءَايَتُكَ أَلَّا تُكَلِّمَ ٱلنَّاسَ ثَلَٰثَ
لَيَالٖ سَوِيّٗا ١٠

(10) ده ووېل: ای زما ربه! ته زما لپاره يوه نښه مقرر کړه (الله) ووېل: ستا نښه داده چې ته به له خلقو سره درې شپې (او ورځې) خبرې نشې کولی، په داسې حال کې چې ته

به ښه روغ يې

فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوۡمِهِۦ مِنَ ٱلۡمِحۡرَابِ فَأَوۡحَىٰٓ إِلَيۡهِمۡ أَن سَبِّحُواْ بُكۡرَةٗ وَعَشِيّٗا ١١

(11) نو دی په خپل قوم باندې له عبادت ځای څخه راووت، پس دوی ته يې اشاره وکړه داسې چې تاسو سبا او بېگاه تسبيح وايئ

يَٰيَحۡيَىٰ خُذِ ٱلۡكِتَٰبَ بِقُوَّةٖۖ وَءَاتَيۡنَٰهُ ٱلۡحُكۡمَ صَبِيّٗا ١٢

(12) ای يحيٰی! ته دغه کتاب په قوت سره ونيسه، او مونږ ده ته حکم (حکمت او نبوت) ورکړ، په داسې حال کې چې دی هلك و

وَحَنَانٗا مِّن لَّدُنَّا وَزَكَوٰةٗۖ وَكَانَ تَقِيّٗا ١٣

(13) او له خپل جانب نه مو (ده ته)، مهرباني (ورکړې وه) او پاکي او دی ډېر پرهېزگاره و

وَبَرَّۢا بِوَٰلِدَيۡهِ وَلَمۡ يَكُن جَبَّارًا عَصِيّٗا ١٤

(14) او له خپل مور و پلار سره نېکي کوونکی و، او سرکشه، نافرمانه نه و

وَسَلَٰمٌ عَلَيۡهِ يَوۡمَ وُلِدَ وَيَوۡمَ يَمُوتُ وَيَوۡمَ يُبۡعَثُ حَيّٗا ١٥

(15) او پر ده دې سلام وي په هغې ورځ چې دی پيدا شو او په هغې ورځ چې دی به مري او په هغې ورځ چې دی به بيا ژوندی راپورته کړی شي

وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ مَرۡيَمَ إِذِ ٱنتَبَذَتۡ مِنۡ أَهۡلِهَا مَكَانٗا شَرۡقِيّٗا ١٦

(16) او ته په کتاب کې (قصه د) مريم ياده کړه کله چې هغه له خپلې کورنۍ نه هغه ځای ته په څنگ شوه چې (د کور) مشرقي

جانب و

فَٱتَّخَذَتۡ مِن دُونِهِمۡ حِجَابٗا فَأَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡهَا رُوحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرٗا سَوِيّٗا ﴿١٧﴾

(17) نو دې د دوی په طرف پرده ونیوله، نو مونږ دې ته خپل روح (مَلَك جبریل) ولېږه، نو هغه دې ته د کامل سړي په شکل کې څرګند شو

قَالَتۡ إِنِّيٓ أَعُوذُ بِٱلرَّحۡمَٰنِ مِنكَ إِن كُنتَ تَقِيّٗا ﴿١٨﴾

(18) (نو) دې وویل: ببشکه زه له تا نه په رحمٰن پورې پناه نیسم، که چېرې ته پرهېزګاره یې

قَالَ إِنَّمَآ أَنَا۠ رَسُولُ رَبِّكِ لِأَهَبَ لَكِ غُلَٰمٗا زَكِيّٗا ﴿١٩﴾

(19) هغه وویل: یقینًا زه خو یواځې ستا د رب رسول (استاځی) یم، د دې لپاره چې (د خپل رب په حکم) تا ته یو ډېر پاك هلك درکړم

قَالَتۡ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَٰمٞ وَلَمۡ يَمۡسَسۡنِي بَشَرٞ وَلَمۡ أَكُ بَغِيّٗا ﴿٢٠﴾

(20) دې وویل: زما به هلك څنګه پیدا شي؟ حال دا چې ما ته هېڅ یو بشر لاس هم نه دی راوړی، او زه چېرې بدکاره هم نه یم

قَالَ كَذَٰلِكِ قَالَ رَبُّكِ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٞۖ وَلِنَجۡعَلَهُۥٓ ءَايَةٗ لِّلنَّاسِ وَرَحۡمَةٗ مِّنَّاۚ وَكَانَ أَمۡرٗا مَّقۡضِيّٗا ﴿٢١﴾

(21) ویې ویل: خبره همداسې ده (لېکن) ستا رب فرمایلي دي: دغه کار ما ته ډېر اسان دی او د دې لپاره چې مونږ هغه (ماشوم) د خلقو لپاره نښه وګرځوو او له خپل جانب نه رحمت او دغه یو فیصله شوی کار دی

| | |
|---|---|
| ۞فَحَمَلَتۡهُ فَٱنتَبَذَتۡ بِهِۦ مَكَانٗا قَصِيّٗا ﴿٢٢﴾ | (22) نو (مریم) په دغه (عيسٰى) سره حامله شوه، نو له دغه (حمل) سره يو لرې ځاى ته په څنګ شوه |
| فَأَجَآءَهَا ٱلۡمَخَاضُ إِلَىٰ جِذۡعِ ٱلنَّخۡلَةِ قَالَتۡ يَٰلَيۡتَنِي مِتُّ قَبۡلَ هَٰذَا وَكُنتُ نَسۡيٗا مَّنسِيّٗا ﴿٢٣﴾ | (23) نو دغه (مریم) د لنګوال درد د كجورې د ونې تنې (ډډ) ته راوسته، دې ووېل: اى كاشكې زه له دې نه مخكې مړه شوې وى او زه بېخي هېره شوې، له زړونو وتلې وى |
| فَنَادَىٰهَا مِن تَحۡتِهَآ أَلَّا تَحۡزَنِي قَدۡ جَعَلَ رَبُّكِ تَحۡتَكِ سَرِيّٗا ﴿٢٤﴾ | (24) نو دې ته يې د دې له لاندې نه اواز وكړ چې مه خفه كېږه، يقينًا ستا رب له تا نه لاندې چينه روانه كړې ده |
| وَهُزِّيٓ إِلَيۡكِ بِجِذۡعِ ٱلنَّخۡلَةِ تُسَٰقِطۡ عَلَيۡكِ رُطَبٗا جَنِيّٗا ﴿٢٥﴾ | (25) او خپل ځان ته د كجورې تنه راوخوځوه، هغه به پر تا پخې تازه لوندې كجورې راوغورځوي |
| فَكُلِي وَٱشۡرَبِي وَقَرِّي عَيۡنٗاۖ فَإِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ ٱلۡبَشَرِ أَحَدٗا فَقُولِيٓ إِنِّي نَذَرۡتُ لِلرَّحۡمَٰنِ صَوۡمٗا فَلَنۡ أُكَلِّمَ ٱلۡيَوۡمَ إِنسِيّٗا ﴿٢٦﴾ | (26) پس (دغه كجورې) خوره او (دغه اوبه) څښه او (په عيسٰى سره) سترګې یخې كړه، نو كه خامخا تا له خلقو څخه يو څوك وليده، نو (ورته) وايه: بېشكه ما د رحمٰن لپاره پر ځان د روژې نذر منلى دى، پس نن ورځ به زه له سره خبرې ونه كړم له هېڅ يوه انسان سره |
| فَأَتَتۡ بِهِۦ قَوۡمَهَا تَحۡمِلُهُۥۖ قَالُواْ | (27) نو دې (مريمې) هغه (عيسٰى) خپل قوم |

يَٰمَرۡيَمُ لَقَدۡ جِئۡتِ شَيۡـٔٗا فَرِيّٗا ﴿٢٧﴾

ته راوړ، چې دی يې راپورته کړی و، دوی (ورته) وويل: ای مريمې! يقينًا تا ډېر بد کار کړی دی

يَٰٓأُخۡتَ هَٰرُونَ مَا كَانَ أَبُوكِ ٱمۡرَأَ سَوۡءٖ وَمَا كَانَتۡ أُمُّكِ بَغِيّٗا ﴿٢٨﴾

(28) ای د هارون خورې! ستا پلار خو بد سړی نه و او نه ستا مور بدکاره (بد عمله) وه

فَأَشَارَتۡ إِلَيۡهِۖ قَالُواْ كَيۡفَ نُكَلِّمُ مَن كَانَ فِي ٱلۡمَهۡدِ صَبِيّٗا ﴿٢٩﴾

(29) نو هغې دغه (عيسٰى) ته اشاره وکړه، دوی وويل: مونږ له هغه چا سره څنګه خبرې وکړو چې دی په غېږ کې دی، چې وړوکی دی

قَالَ إِنِّي عَبۡدُ ٱللَّهِ ءَاتَىٰنِيَ ٱلۡكِتَٰبَ وَجَعَلَنِي نَبِيّٗا ﴿٣٠﴾

(30) ده وويل: بېشكه زه د الله بنده يم، هغهٔ ما ته كتاب راكړی دی او زه يې نبي ګرځولی يم

وَجَعَلَنِي مُبَارَكًا أَيۡنَ مَا كُنتُ وَأَوۡصَٰنِي بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱلزَّكَوٰةِ مَا دُمۡتُ حَيّٗا ﴿٣١﴾

(31) او زه يې بركت ناك ګرځولی يم په هر ځای كې چې اوسم او ده ما ته په لمانځه او زكات سره كلك حكم راكړی دی، تر څو چې زه ژوندی يم

وَبَرَّۢا بِوَٰلِدَتِي وَلَمۡ يَجۡعَلۡنِي جَبَّارٗا شَقِيّٗا ﴿٣٢﴾

(32) (او زه يې ګرځولی يم) له خپلې مور سره نېكي كوونكی او زه يې سركشه، بدبخته نه يم

گرځولی

وَٱلسَّلَٰمُ عَلَيَّ يَوۡمَ وُلِدتُّ وَيَوۡمَ أَمُوتُ وَيَوۡمَ أُبۡعَثُ حَيّٗا ٣٣

(33) او پر ما دي سلام وي په هغې ورځ چې زه پیدا شوم او په هغې ورځ چې زه به مرم او په هغې ورځ چې زه به بیا ژوندی راپورته کولی شم

ذَٰلِكَ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَۖ قَوۡلَ ٱلۡحَقِّ ٱلَّذِي فِيهِ يَمۡتَرُونَ ٣٤

(34) دغه عیسیٰ د مریمې زوی دی (الله د ده باره کې) حقه خبره کړې ده، هغه چې دوی په هغې کې سره جګړې کوي

مَا كَانَ لِلَّهِ أَن يَتَّخِذَ مِن وَلَدٖۖ سُبۡحَٰنَهُۥٓۚ إِذَا قَضَىٰٓ أَمۡرٗا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ٣٥

(35) د الله لپاره نه ښایېږي چې دی دې خوك اولاد ونیسي، ده لره پاکي ده، دی چې کله د څه کار فیصله وکړي، نو بېشکه همدا خبره ده چې ده ته وايي: وشه! نو هغه (کار) وشي

وَإِنَّ ٱللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمۡ فَٱعۡبُدُوهُۚ هَٰذَا صِرَٰطٞ مُّسۡتَقِيمٞ ٣٦

(36) او بېشکه چې الله زما رب دی او ستاسو رب دی، نو تاسو د ده عبادت کوئ، دا ډېره نېغه لار ده

فَٱخۡتَلَفَ ٱلۡأَحۡزَابُ مِنۢ بَيۡنِهِمۡۖ فَوَيۡلٞ لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن مَّشۡهَدِ يَوۡمٍ عَظِيمٍ ٣٧

(37) نو دغه ډلې په خپل منځ کې سره مختلفې شوې، نو کافران شویو کسانو لپاره د ډېرې سترې ورځې له حاضرېدو هلاکت (او خرابي) دی

أَسۡمِعۡ بِهِمۡ وَأَبۡصِرۡ يَوۡمَ يَأۡتُونَنَا لَٰكِنِ ٱلظَّٰلِمُونَ ٱلۡيَوۡمَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ﴿٣٨﴾

(38) دوی به څه ښه اورېدونکي او څه ښه لیدونکي وي! په هغې ورځ چې مونږ ته به راځي، لېکن ظالمان نن ورځې په ښکاره ګمراهۍ کې دي

وَأَنذِرۡهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡحَسۡرَةِ إِذۡ قُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ وَهُمۡ فِي غَفۡلَةٖ وَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٣٩﴾

(39) او ته دوی د حسرت (او ارمان) له ورځې نه ووېروه کله چې به کار فيصله کړی شي، حال دا چې دوی (اوس) په غفلت کې دي او دوی ايمان نه راوړي

إِنَّا نَحۡنُ نَرِثُ ٱلۡأَرۡضَ وَمَنۡ عَلَيۡهَا وَإِلَيۡنَا يُرۡجَعُونَ ﴿٤٠﴾

(40) بېشکه مونږ چې يو، همدا مونږ د ځمکې او د هغه چا چې په دغه (ځمکه) باندې دي؛ وارثان کېږو او خاص مونږ ته به دوی بېرته راوستی شي

وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ إِبۡرَٰهِيمَۚ إِنَّهُۥ كَانَ صِدِّيقٗا نَّبِيًّا ﴿٤١﴾

(41) او په کتاب کې ابراهيم ياد کړه، بېشکه دی ډېر رېښتينی (او) نبي و

إِذۡ قَالَ لِأَبِيهِ يَٰٓأَبَتِ لِمَ تَعۡبُدُ مَا لَا يَسۡمَعُ وَلَا يُبۡصِرُ وَلَا يُغۡنِي عَنكَ شَيۡـٔٗا ﴿٤٢﴾

(42) کله چې ده خپل پلار ته ووېل: ای زما پلار جانه! ته ولې د هغه څيز عبادت کوې چې نه (څه) اوري او نه ويني او له تا نه هېڅ شی (تکليف) نشي لرې کولی؟

يَٰٓأَبَتِ إِنِّي قَدۡ جَآءَنِي مِنَ ٱلۡعِلۡمِ

(43) ای زما پلار جانه! بېشکه زه چې يم

مَا لَمۡ يَأۡتِكَ فَٱتَّبِعۡنِيٓ أَهۡدِكَ صِرَٰطٗا سَوِيّٗا ٤٣

يقينًا ما ته (د الله له جانبه) هغه علم راغلی دی چې تا ته نه دی راغلی، نو ته زما پیروي وکړه، زه به تا ته نېغه (سمه) لار وښیم

يَٰٓأَبَتِ لَا تَعۡبُدِ ٱلشَّيۡطَٰنَۖ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ كَانَ لِلرَّحۡمَٰنِ عَصِيّٗا ٤٤

(44) ای زما پلار جانه! د شیطان بندګي مه کوه، یقینًا شیطان خود رحمان نافرمان دی

يَٰٓأَبَتِ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يَمَسَّكَ عَذَابٞ مِّنَ ٱلرَّحۡمَٰنِ فَتَكُونَ لِلشَّيۡطَٰنِ وَلِيّٗا ٤٥

(45) ای زما پلارجانه! بېشکه زه چې یم، زه له دې نه وېرېږم چې تا ته به د رحمٰن له جانبه عذاب درورسېږي، نو ته به د شیطان دوست شې

قَالَ أَرَاغِبٌ أَنتَ عَنۡ ءَالِهَتِي يَٰٓإِبۡرَٰهِيمُۖ لَئِن لَّمۡ تَنتَهِ لَأَرۡجُمَنَّكَۖ وَٱهۡجُرۡنِي مَلِيّٗا ٤٦

(46) هغه (پلار د ابراهیم) وویل: ای ابراهیمه! ایا ته زما له معبودانو نه مخ ګرځوونکی یې، یقینًا که ته منع نه شوې، نو زه به تا خامخا ضرور سنګسار کړم او له ما څخه ډېره موده لرې (او جدا) شه

قَالَ سَلَٰمٌ عَلَيۡكَۖ سَأَسۡتَغۡفِرُ لَكَ رَبِّيٓۖ إِنَّهُۥ كَانَ بِي حَفِيّٗا ٤٧

(47) ده وویل: پر تا دې سلام وي، ضرور به زه تا لپاره له خپل رب نه مغفرت غواړم، بېشکه دی په ما باندې ډېر مهربان دی

وَأَعۡتَزِلُكُمۡ وَمَا تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَأَدۡعُواْ رَبِّي عَسَىٰٓ أَلَّآ

(48) او زه جدا کېږم له تاسو نه او له هغو څیزونو نه چې تاسو یې له الله نه غیر بلئ، او زه خپل رب رابلم، امید دی چې زه به د خپل

أَكُونَ بِدُعَآءِ رَبِّي شَقِيّٗا ﴿٤٨﴾

رب په رابللو سره بدبخته نشم

فَلَمَّا ٱعۡتَزَلَهُمۡ وَمَا يَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَهَبۡنَا لَهُۥٓ إِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَۖ وَكُلًّا جَعَلۡنَا نَبِيّٗا ﴿٤٩﴾

(49) نو کله چې دی له دوی نه او له هغو نه چې دغه خلق يې له الله نه غير عبادت کوي؛ بېل شو (، نو) مونږ ده ته اسحق او يعقوب عطا کړل او دا هر يو مونږ نبيان ګرځولي وو

وَوَهَبۡنَا لَهُم مِّن رَّحۡمَتِنَا وَجَعَلۡنَا لَهُمۡ لِسَانَ صِدۡقٍ عَلِيّٗا ﴿٥٠﴾

(50) مونږ دغو ته له خپل رحمته عطا ورکړه او مونږ دوی ته د صدق ډېره اوچته ژبه ورکړې وه

وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ مُوسَىٰٓۚ إِنَّهُۥ كَانَ مُخۡلَصٗا وَكَانَ رَسُولٗا نَّبِيّٗا ﴿٥١﴾

(51) او په کتاب کې موسٰی ياد کړه، بېشکه چې دی خالص کړی شوی و او رسول (او)، نبي و

وَنَٰدَيۡنَٰهُ مِن جَانِبِ ٱلطُّورِ ٱلۡأَيۡمَنِ وَقَرَّبۡنَٰهُ نَجِيّٗا ﴿٥٢﴾

(52) او مونږ ده ته د طور غر له ښي اړخ نه اواز کړی و او مونږ دی قريب کړ، چې د راز خبرې مو ورسره کولې

وَوَهَبۡنَا لَهُۥ مِن رَّحۡمَتِنَآ أَخَاهُ هَٰرُونَ نَبِيّٗا ﴿٥٣﴾

(53) او مونږ ده ته له خپل رحمته د ده ورور هارون ورکړ، چې نبي و

وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ إِسۡمَٰعِيلَۚ إِنَّهُۥ كَانَ صَادِقَ ٱلۡوَعۡدِ وَكَانَ رَسُولٗا نَّبِيّٗا ﴿٥٤﴾

(54) او په کتاب کې اسماعيل ياد کړه، بېشکه دی د وعدې رښتينی و او رسول (او) نبي و

وَكَانَ يَأۡمُرُ أَهۡلَهُۥ بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱلزَّكَوٰةِ وَكَانَ عِندَ رَبِّهِۦ مَرۡضِيّٗا ٥٥

(55) او ده به خپل اهل ته د لمانځه او زکات حکم کاوه او دی د خپل رب په نیز پسندیده و

وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ إِدۡرِيسَۚ إِنَّهُۥ كَانَ صِدِّيقٗا نَّبِيّٗا ٥٦

(56) او په کتاب کې ادریس یاد کړه، یقینًا دی رښتینی (او) نبي و

وَرَفَعۡنَٰهُ مَكَانًا عَلِيًّا ٥٧

(57) او دی مونږ ډېر اوچت ځای ته پورته کړی دی

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مِن ذُرِّيَّةِ ءَادَمَ وَمِمَّنۡ حَمَلۡنَا مَعَ نُوحٖ وَمِن ذُرِّيَّةِ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡرَٰٓءِيلَ وَمِمَّنۡ هَدَيۡنَا وَٱجۡتَبَيۡنَآۚ إِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُ ٱلرَّحۡمَٰنِ خَرُّواْۤ سُجَّدٗاۤ وَبُكِيّٗا۩ ٥٨

(58) دغه خلق هغه کسان دي چې الله په دوی باندې له انبیاوو ځنې انعام کړی دی، د ادم په اولاده کې او د هغه چا (په اولاد کې) چې مونږ له نوح سره بار کړي وو او د ابراهیم او اسرائیل (یعقوب) په اولاده کې او له هغه چا نه چې مونږ (ورته) هدایت کړی و او مونږ غوره کړي وو کله چې به پر دوی د رحمٰن ایتونه ولوستی شول( نو) دوی به پرېوتل، سجده کوونکي او ژړېدونکي

۞فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٌ أَضَاعُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَٱتَّبَعُواْ ٱلشَّهَوَٰتِۖ فَسَوۡفَ يَلۡقَوۡنَ غَيًّا ٥٩

(59) نو له دوی نه وروسته داسې بد ځای ناستي پیدا شول چې لمونځونه یې ضایع کړل او د شهوتونو پیروي یې وکړه، نو ژر به دوی د خپلې بدۍ له انجام سره ملاقات

وکړي

إِلَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا فَأُوْلَٰٓئِكَ يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ وَلَا يُظۡلَمُونَ شَيۡـٔٗا ﴿٦٠﴾

(60) مګر هغه څوك چې توبه وباسي او ايمان راوړي او نيك عمل وکړي، نو دغه كسان دي چې دوى به جنت ته داخلېږي او پر دوى به هېڅ شى ظلم نه كېږي

جَنَّٰتِ عَدۡنٍ ٱلَّتِي وَعَدَ ٱلرَّحۡمَٰنُ عِبَادَهُۥ بِٱلۡغَيۡبِۚ إِنَّهُۥ كَانَ وَعۡدُهُۥ مَأۡتِيّٗا ﴿٦١﴾

(61) د تل اوسېدونې جنتونو ته، هغه چې رحمٰن يې وعده کړې ده له خپلو بنده ګانو سره په ناليدلو، بېشكه دى (الله) چې دى، د ده وعده (خامخا) راتلونكې ده

لَّا يَسۡمَعُونَ فِيهَا لَغۡوًا إِلَّا سَلَٰمٗاۖ وَلَهُمۡ رِزۡقُهُمۡ فِيهَا بُكۡرَةٗ وَعَشِيّٗا ﴿٦٢﴾

(62) دوى به په دغو (جنتونو) كې لغوه خبرې نه اوري بس سلام به اوري، او د دوى لپاره په دغو (جنتونو) كې سبا او بېګاه د دوى رزق دى

تِلۡكَ ٱلۡجَنَّةُ ٱلَّتِي نُورِثُ مِنۡ عِبَادِنَا مَن كَانَ تَقِيّٗا ﴿٦٣﴾

(63) دغه هغه جنتونه دي چې مونږ يې په خپلو بنده ګانو كې هغه څوك وارث ګرځولو چې پرهېزګاره وي

وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمۡرِ رَبِّكَۖ لَهُۥ مَا بَيۡنَ أَيۡدِينَا وَمَا خَلۡفَنَا وَمَا بَيۡنَ ذَٰلِكَۚ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيّٗا ﴿٦٤﴾

(64) او (جبريل ووېل) مونږ نه راكوزېږو مګر د خپل رب په امر سره، خاص د هغه لپاره دي هغه څه چې زمونږ په وړاندې دي او هغه چې زمونږ وروسته دي او هغه څه چې د دغو په

مینځ کې دي او ستا رب هیڅکله هېرووونکی نه دی

رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا فَٱعۡبُدۡهُ وَٱصۡطَبِرۡ لِعِبَٰدَتِهِۦۚ هَلۡ تَعۡلَمُ لَهُۥ سَمِيّٗا ٦٥

(65) (دغه) د اسمانونو او ځمکې رب دی او د هغه څه چې د دغو دواړو په مینځ کې دي، نو ته د ده عبادت کوه او د ده پر عبادت ښه ټینګ اوسه، ایا ته د ده کوم همنام پېژنې!

وَيَقُولُ ٱلۡإِنسَٰنُ أَءِذَا مَا مِتُّ لَسَوۡفَ أُخۡرَجُ حَيًّا ٦٦

(66) او دغه (له بعث نه منکر) انسان وایي: ایا کله چې زه مړ شم خامخا عنقریب به زه بیا ژوندی را ایستلی شم

أَوَلَا يَذۡكُرُ ٱلۡإِنسَٰنُ أَنَّا خَلَقۡنَٰهُ مِن قَبۡلُ وَلَمۡ يَكُ شَيۡـٔٗا ٦٧

(67) ایا دغه انسان نه یادوي چې بېشکه مونږ دی له دې نه مخکې پیدا کړی و، او دی هېڅ شی نه و

فَوَرَبِّكَ لَنَحۡشُرَنَّهُمۡ وَٱلشَّيَٰطِينَ ثُمَّ لَنُحۡضِرَنَّهُمۡ حَوۡلَ جَهَنَّمَ جِثِيّٗا ٦٨

(68) نو قسم دی ستا په رب چې مونږ به خامخا ضرور دوی او شیطانان ټول راجمع کړو، بیا به مونږ دوی خامخا ضرور د دوزخ چاپېره په ګونډو پراته راحاضر کړو

ثُمَّ لَنَنزِعَنَّ مِن كُلِّ شِيعَةٍ أَيُّهُمۡ أَشَدُّ عَلَى ٱلرَّحۡمَٰنِ عِتِيّٗا ٦٩

(69) بیا به خامخا ضرور مونږ له هرې ډلې نه راوباسو هر هغه څوك چې د سرکشۍ په لحاظ په رحمٰن باندې ډېر سخت دی

| | |
|---|---|
| ثُمَّ لَنَحۡنُ أَعۡلَمُ بِٱلَّذِينَ هُمۡ أَوۡلَىٰ بِهَا صِلِيّٗا ﴿٧٠﴾ | (70) بیا خامخا مونږ په هغو خلقو ښه عالمان یو چې هغوی دغه (دوزخ) ته د داخلولو (او سوځولو) ښه لایق دي |
| وَإِن مِّنكُمۡ إِلَّا وَارِدُهَاۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتۡمٗا مَّقۡضِيّٗا ﴿٧١﴾ | (71) او نشته دی په تاسو کې هیڅوك مگر ده ته وارديدونکی دی دغه (وارديدل) ستا د رب په ذمه يقيني او فيصله کړې شوي دي |
| ثُمَّ نُنَجِّي ٱلَّذِينَ ٱتَّقَواْ وَّنَذَرُ ٱلظَّٰلِمِينَ فِيهَا جِثِيّٗا ﴿٧٢﴾ | (72) بیا به مونږ هغو کسانو ته نجات ورکړو چې پرهېزګاري یې کړې ده او ظالمان (کافران) به په دغه (دوزخ) کې په ګونډو پراته پرېږدو |
| وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٖ قَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَيُّ ٱلۡفَرِيقَيۡنِ خَيۡرٞ مَّقَامٗا وَأَحۡسَنُ نَدِيّٗا ﴿٧٣﴾ | (73) او کله چې دوی ته زمونږ ایتونه لوستی شي، چې ښه واضح دي، (، نو) کافران شوي کسان هغو کسانو ته چې ایمان یې راوړی دی؛ وایي په دغو دواړو ډلو کې کومه یوه د مقام په لحاظ ډېره غوره او د مجلس په لحاظ ډېر ښایسته ده |
| وَكَمۡ أَهۡلَكۡنَا قَبۡلَهُم مِّن قَرۡنٍ هُمۡ أَحۡسَنُ أَثَٰثٗا وَرِءۡيٗا ﴿٧٤﴾ | (74) او له دوی نه مخکې مونږ څومره ډېر قرنونه (امتونه) هلاك کړي دي، چې هغوی د سامانونو او ليدنې (شکل) په لحاظ ډېر ښه |

قُلۡ مَن كَانَ فِي ٱلضَّلَٰلَةِ فَلۡيَمۡدُدۡ لَهُ ٱلرَّحۡمَٰنُ مَدًّاۚ حَتَّىٰٓ إِذَا رَأَوۡاْ مَا يُوعَدُونَ إِمَّا ٱلۡعَذَابَ وَإِمَّا ٱلسَّاعَةَ فَسَيَعۡلَمُونَ مَنۡ هُوَ شَرّٞ مَّكَانٗا وَأَضۡعَفُ جُندٗا ﴿٧٥﴾

(75) ته (دوي ته) ووایه: هر هغه څوك چې په ګمراهۍ کې وي، نو رحمٰن دې ده ته مهلت ورکړي، مهلت ورکول ، تر هغه پورې چې کله دوی هغه څه ووینې چې له دوی سره یې وعده کولی شي، یا عذاب، یا قیامت، نو دوی به ژر پوه شي چې څوك دی د ځای په لحاظ ډېر بد او د لښکر په لحاظ ډېر کمزوری

وَيَزِيدُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ٱهۡتَدَوۡاْ هُدٗىۗ وَٱلۡبَٰقِيَٰتُ ٱلصَّٰلِحَٰتُ خَيۡرٌ عِندَ رَبِّكَ ثَوَابٗا وَخَيۡرٞ مَّرَدًّا ﴿٧٦﴾

(76) او الله هغو کسانو ته هدایت نور هم زیاتوي چې نیغه لار یې موندلې ده، او نېکۍ باقي پاتې کېدونکې ستا د رب په نیز د ثواب په لحاظ ډېرې غوره دي او د بېرته ورتللو په لحاظ ډېرې ښې دي

أَفَرَءَيۡتَ ٱلَّذِي كَفَرَ بِـَٔايَٰتِنَا وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالٗا وَوَلَدًا ﴿٧٧﴾

(77) ایا تا هغه کس لیدلی چې زمونږ په ایتونو باندې کافر شوی دی او وایي چې ما ته به (په اخرت کې) خامخا ضرور مال او اولاد راکول کیږي

أَطَّلَعَ ٱلۡغَيۡبَ أَمِ ٱتَّخَذَ عِندَ ٱلرَّحۡمَٰنِ عَهۡدٗا ﴿٧٨﴾

(78) ایا دی په غیبو خبر شوی دی، یا ده د رحمٰن په نیز کومه وعده اخیستې ده

كَلَّاۚ سَنَكۡتُبُ مَا يَقُولُ وَنَمُدُّ لَهُۥ مِنَ ٱلۡعَذَابِ مَدّٗا ﴿٧٩﴾

(79) داسې نه ده ضرور مونږ لیکو هغه څه چې دی یې وایي او ده ته به له عذابه وغځوو،

غځول

وَنَرِثُهُۥ مَا يَقُولُ وَيَأۡتِينَا فَرۡدٗا ٨٠

(80) او په میراث به اخلو هغه څه چې دی يې وايي، او دی به مونږ ته يواځې (ځانله) راځي

وَٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ ءَالِهَةٗ لِّيَكُونُواْ لَهُمۡ عِزّٗا ٨١

(81) او دوی له الله نه غیر (نور) معبودان ونیول، د دې لپاره چې دغه (معبودان) د دوی د عزت سبب شي

كَلَّاۚ سَيَكۡفُرُونَ بِعِبَادَتِهِمۡ وَيَكُونُونَ عَلَيۡهِمۡ ضِدًّا ٨٢

(82) داسې نه ده، ژر به دغه (معبودان) د دوی په عبادت سره منکر شي او دغه به د دوی په ضد (او خلاف) شي

أَلَمۡ تَرَ أَنَّآ أَرۡسَلۡنَا ٱلشَّيَٰطِينَ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ تَؤُزُّهُمۡ أَزّٗا ٨٣

(83) ایا ته نه ګورې چې مونږ شیطانان په کافرانو باندې راخوشې کوو، چې دوی تېزوي، تېزول

فَلَا تَعۡجَلۡ عَلَيۡهِمۡۖ إِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمۡ عَدّٗا ٨٤

(84) نو ته په دوی باندې (د عذاب په راتلو کې) تلوار مه کوه، بېشکه مونږ د دوی لپاره شمېرل کوو، شمېرل

يَوۡمَ نَحۡشُرُ ٱلۡمُتَّقِينَ إِلَى ٱلرَّحۡمَٰنِ وَفۡدٗا ٨٥

(85) (یاده کړه) هغه ورځ چې مونږ به متقيان راجمع کړو د رحمٰن په طرف بلل شوي سواره میلمانه

وَنَسُوقُ ٱلۡمُجۡرِمِينَ إِلَىٰ جَهَنَّمَ وِرۡدٗا ٨٦

(86) او مجرمان (كافران) به د جهنم په طرف تږي پیاده شړو

لَّا يَمۡلِكُونَ ٱلشَّفَٰعَةَ إِلَّا مَنِ ٱتَّخَذَ عِندَ ٱلرَّحۡمَٰنِ عَهۡدٗا ٨٧

(87) هغوی د شفاعت اختيار نه لري، مگر هغه څوك چې د رحمٰن په نيز يې وعده اخيستې ده

وَقَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱلرَّحۡمَٰنُ وَلَدٗا ٨٨

(88) او دغه (كافران) وايي: رحمٰن د ځان لپاره اولاد نيولی دی

لَّقَدۡ جِئۡتُمۡ شَيۡـًٔا إِدّٗا ٨٩

(89) يقينًا يقينًا تاسو ډېره لويه د گناه خبره وکړه

تَكَادُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ يَتَفَطَّرۡنَ مِنۡهُ وَتَنشَقُّ ٱلۡأَرۡضُ وَتَخِرُّ ٱلۡجِبَالُ هَدًّا ٩٠

(90) نژدې دي چې اسمانونه له دې نه وچوي او ځمكه ټوټې ټوټې شي او غرونه راولوېږي ذرې ذرې

أَن دَعَوۡاْ لِلرَّحۡمَٰنِ وَلَدٗا ٩١

(91) په دې خبره چې دوی د رحمٰن لپاره اولاد وباله

وَمَا يَنۢبَغِي لِلرَّحۡمَٰنِ أَن يَتَّخِذَ وَلَدًا ٩٢

(92) او رحمٰن ته نه ښايي چې اولاد ونيسي

إِن كُلُّ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ

(93) نه دي دغه هر يو چې په اسمانونو او ځمكه كې دي مگر رحمٰن ته راتلونكي دي،

| | |
|---|---|
| إِلَّآ ءَاتِي ٱلرَّحۡمَٰنِ عَبۡدٗا ٩٣ | په دې حال کې چې بنده به وي |
| لَّقَدۡ أَحۡصَىٰهُمۡ وَعَدَّهُمۡ عَدّٗا ٩٤ | (94) يقينًا يقينًا ده دوی راګېر کړي دي او دوی یې شمېرلي دي، شمېرل |
| وَكُلُّهُمۡ ءَاتِيهِ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فَرۡدًا ٩٥ | (95) او هر يو له دوی نه ده ته راتلونکی دی په ورځ د قيامت کې يواځې |
| إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَيَجۡعَلُ لَهُمُ ٱلرَّحۡمَٰنُ وُدّٗا ٩٦ | (96) بېشکه هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او نېك عملونه یې کړي دي ژر به رحمٰن د دوی لپاره (د خلقو په زړونو کې) مینه (او محبت) پیدا کړي |
| فَإِنَّمَا يَسَّرۡنَٰهُ بِلِسَانِكَ لِتُبَشِّرَ بِهِ ٱلۡمُتَّقِينَ وَتُنذِرَ بِهِۦ قَوۡمٗا لُّدّٗا ٩٧ | (97) پس بېشکه همدا خبره ده چې مونږ دغه (قرآن) ستا په ژبه آسان کړی دی، د دې لپاره چې ته په ده سره پرهېزګارانو ته زېری ورکړې او ته په ده سره ډېر جګړه کوونکی قوم ووېروې |
| وَكَمۡ أَهۡلَكۡنَا قَبۡلَهُم مِّن قَرۡنٍ هَلۡ تُحِسُّ مِنۡهُم مِّنۡ أَحَدٍ أَوۡ تَسۡمَعُ لَهُمۡ رِكۡزَۢا ٩٨ | (98) او له دوی نه مخکې مونږه څومره ډېر قرنونه هلاك کړي دي! ایا ته په دوی کې یو تن محسوسوې، یا ته د دوی کوم نرم غږ (اواز) هم اورې |

## سُورَةُ طه

## سورۀ طه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

طه ﴿١﴾

(1) طا، ها

مَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡقُرۡءَانَ لِتَشۡقَىٰٓ ﴿٢﴾

(2) مونږ قرآن په تا باندې د دې لپاره نه دی نازل کړی چې ته په سختۍ او مشقت کې پرېوځې

إِلَّا تَذۡكِرَةٗ لِّمَن يَخۡشَىٰ ﴿٣﴾

(3) مګر (نازل کړی دی مونږ) نصيحت د هغه چا لپاره چې وېرېږي

تَنزِيلٗا مِّمَّنۡ خَلَقَ ٱلۡأَرۡضَ وَٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱلۡعُلَى ﴿٤﴾

(4) (نازل کړی شوی دی) په نازلېدلو سره د هغه (الله) له جانبه چې ځمکه او ډېر اوچت اسمانونه يې پيدا کړي دي

ٱلرَّحۡمَٰنُ عَلَى ٱلۡعَرۡشِ ٱسۡتَوَىٰ ﴿٥﴾

(5) رحمٰن په عرش باندې برقراره شو

لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا وَمَا تَحۡتَ ٱلثَّرَىٰ ﴿٦﴾

(6) خاص د ده لپاره دي هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هغه څه چې په ځمکه کې دي او هغه څه چې د دواړو په مينځ کې دي او هغه څه چې د لوندې ځمکې نه لاندې دي

| | |
|---|---|
| | دي |
| وَإِن تَجۡهَرۡ بِٱلۡقَوۡلِ فَإِنَّهُۥ يَعۡلَمُ ٱلسِّرَّ وَأَخۡفَى ﴿٧﴾ | (7) او كه ته خبره په جهر سره كوې، نو يقيناً هغه په پټه خبره او په ډېره پټه خبره هم پوهيږي |
| ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ لَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ ﴿٨﴾ | (8) الله (چې دى) نشته دى هېڅ لايق د عبادت مگر هم دى دى، خاص د ده لپاره تر ټولو ښكلي نومونه دي |
| وَهَلۡ أَتَىٰكَ حَدِيثُ مُوسَىٰٓ ﴿٩﴾ | (9) او ايا تا ته د موسٰى قصه (خبره) راغلې ده |
| إِذۡ رَءَا نَارٗا فَقَالَ لِأَهۡلِهِ ٱمۡكُثُوٓاْ إِنِّيٓ ءَانَسۡتُ نَارٗا لَّعَلِّيٓ ءَاتِيكُم مِّنۡهَا بِقَبَسٍ أَوۡ أَجِدُ عَلَى ٱلنَّارِ هُدٗى ﴿١٠﴾ | (10) كله چې ده اور وليده، نو خپل اهل ته يې وويل: تاسو ايسار شئ، بېشكه ما اور وليده، كېدى شي چې زه له هغه نه تاسو ته لگولې (بله) لمبه راوړم، يا به په اور باندې څه لار ښوونه (لار ښود) ومومم |
| فَلَمَّآ أَتَىٰهَا نُودِيَ يَٰمُوسَىٰٓ ﴿١١﴾ | (11) نو كله چې دى دغه (اور) ته راغى، ده ته اواز وكړى شو چې اى موسٰى! |
| إِنِّيٓ أَنَا۠ رَبُّكَ فَٱخۡلَعۡ نَعۡلَيۡكَ إِنَّكَ بِٱلۡوَادِ ٱلۡمُقَدَّسِ طُوٗى ﴿١٢﴾ | (12) بېشكه زه چې يم، زه ستا رب يم، نو ته خپلې پڼې وباسه، بېشكه ته په مقدسه (سپېڅلې) وادۍ (دره) طُوٰى كې يې |
| وَأَنَا ٱخۡتَرۡتُكَ فَٱسۡتَمِعۡ لِمَا | (13) او ته ما غوره كړى يې، نو ته هغه څه ته |

يُوحَىٰٓ ١٣

بنه غوږ شه چې وحي کولی شي

إِنَّنِيٓ أَنَا ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدۡنِي وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِذِكۡرِيٓ ١٤

(14) بېشکه زه چې يم، زه الله يم، نشته دی هېڅ لايق د عبادت مگر همدا زه يم، نو ته زما عبادت کوه، او زما د يادولو لپاره لمونځ قايموه

إِنَّ ٱلسَّاعَةَ ءَاتِيَةٌ أَكَادُ أُخۡفِيهَا لِتُجۡزَىٰ كُلُّ نَفۡسِۭ بِمَا تَسۡعَىٰ ١٥

(15) بېشکه قيامت راتلونکی دی، زه غواړم چې دغه (قيامت) پټ وساتم، د دې لپاره چې هر نفس ته د هغو عملونو په سبب بدله ورکړی شي چې دی يې کوي

فَلَا يَصُدَّنَّكَ عَنۡهَا مَن لَّا يُؤۡمِنُ بِهَا وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ فَتَرۡدَىٰ ١٦

(16) نو تا دې هيڅکله بند نه کړي له دغه (قيامت) نه هغه څوك چې په ده ايمان نه راوړي او هغه د خپل خواهش پيروي کوي (،گني) نو ته به هلاك شې

وَمَا تِلۡكَ بِيَمِينِكَ يَٰمُوسَىٰ ١٧

(17) او ای موسٰی! ستا په ښي لاس کې څه شی دی؟

قَالَ هِيَ عَصَايَ أَتَوَكَّؤُاْ عَلَيۡهَا وَأَهُشُّ بِهَا عَلَىٰ غَنَمِي وَلِيَ فِيهَا مَـَٔارِبُ أُخۡرَىٰ ١٨

(18) ده ووېل: دا زما امسا ده په دې زه تکيه لگوم، او په دې سره زه خپلو گډو (بيزو) ته پاڼې څنډوهم، او زما لپاره په دې کې نور حاجتونه (او فايدې) هم دي

قَالَ أَلۡقِهَا يَٰمُوسَىٰ ١٩

(19) (الله) ووېل: ای موسٰی! ته دا وغورځوه

| | |
|---|---|
| فَأَلۡقَىٰهَا فَإِذَا هِيَ حَيَّةٞ تَسۡعَىٰ ﴿٢٠﴾ | (20) نو ده دغه وغورځوله، نو ناڅاپه دغه (امسا) مار شو، منډې يې وهلې |
| قَالَ خُذۡهَا وَلَا تَخَفۡۖ سَنُعِيدُهَا سِيرَتَهَا ٱلۡأُولَىٰ ﴿٢١﴾ | (21) (الله) وويل: ته دا راونيسه، او ته مه ويرېږه، ژر به مونږ دا خپل ړومبني شكل ته راوګرځوو |
| وَٱضۡمُمۡ يَدَكَ إِلَىٰ جَنَاحِكَ تَخۡرُجۡ بَيۡضَآءَ مِنۡ غَيۡرِ سُوٓءٍ ءَايَةً أُخۡرَىٰ ﴿٢٢﴾ | (22) او ته خپل لاس خپل تخرګ ته پيوست كړه، دا به راووځي، چې تك سپين به وي، بې له عيب (او بيمارى ) نه، په داسې حال كې چې دا بله نښه (او معجزه) ده |
| لِنُرِيَكَ مِنۡ ءَايَٰتِنَا ٱلۡكُبۡرَى ﴿٢٣﴾ | (23) د دې لپاره چې مونږ تا ته د خپلو ترټولو لويو نښو څخه (څه) وښيو |
| ٱذۡهَبۡ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ إِنَّهُۥ طَغَىٰ ﴿٢٤﴾ | (24) ته فرعون ته لاړ شه، بېشكه ده سركشي شروع كړې ده |
| قَالَ رَبِّ ٱشۡرَحۡ لِي صَدۡرِي ﴿٢٥﴾ | (25) ده وويل: اى زما ربه! ته ما لره زما سينه (خلاصه) پرانيځه |
| وَيَسِّرۡ لِيٓ أَمۡرِي ﴿٢٦﴾ | (26) او ما ته زما كار اسان كړه |
| وَٱحۡلُلۡ عُقۡدَةٗ مِّن لِّسَانِي ﴿٢٧﴾ | (27) او زما له ژبې نه غوټه پرانيځه |

| | |
|---|---|
| يَفۡقَهُواْ قَوۡلِي ﴿٢٨﴾ | (28) چې دوی زما په خبره پوه شي |
| وَٱجۡعَل لِّي وَزِيرًا مِّنۡ أَهۡلِي ﴿٢٩﴾ | (29) او زما لپاره زما له اهل نه یو وزیر (مددګار) وټاکه |
| هَٰرُونَ أَخِي ﴿٣٠﴾ | (30) هارون، چې زما ورور دی |
| ٱشۡدُدۡ بِهِۦٓ أَزۡرِي ﴿٣١﴾ | (31) په ده سره ته زما مَلا قوي کړه |
| وَأَشۡرِكۡهُ فِيٓ أَمۡرِي ﴿٣٢﴾ | (32) او دی زما په کار کې شریك کړه |
| كَيۡ نُسَبِّحَكَ كَثِيرًا ﴿٣٣﴾ | (33) د دې لپاره چې مونږ ستا ډېره تسبیح ووایو |
| وَنَذۡكُرَكَ كَثِيرًا ﴿٣٤﴾ | (34) او ستا ډېر ذکر وکړو |
| إِنَّكَ كُنتَ بِنَا بَصِيرًا ﴿٣٥﴾ | (35) بېشکه هم ته زمونږ حال ښه لیدونکی یې |
| قَالَ قَدۡ أُوتِيتَ سُؤۡلَكَ يَٰمُوسَىٰ ﴿٣٦﴾ | (36) (الله) ووېل: ای موسٰی! یقینًا تا ته ستا سوال درکړی شو |
| وَلَقَدۡ مَنَنَّا عَلَيۡكَ مَرَّةً أُخۡرَىٰٓ ﴿٣٧﴾ | (37) او یقینًا یقینًا مونږ په تا باندې یو ځل بل احسان کړی و |
| إِذۡ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰٓ أُمِّكَ مَا يُوحَىٰٓ ﴿٣٨﴾ | (38) کله چې مونږ ستا مور ته الهام وکړ هغه |

چې (تا ته اوس) وحي کولی شي

أَنِ ٱقْذِفِيهِ فِي ٱلتَّابُوتِ فَٱقْذِفِيهِ فِي ٱلْيَمِّ فَلْيُلْقِهِ ٱلْيَمُّ بِٱلسَّاحِلِ يَأْخُذْهُ عَدُوٌّ لِّي وَعَدُوٌّ لَّهُۥۚ وَأَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّي وَلِتُصْنَعَ عَلَىٰ عَيْنِيٓ ﴿٣٩﴾

(39) چې ته (ای مورې د موسٰی) دا (موسٰی) په تابوت (صندوق) کې واچوه، بیا دغه (صندوق) په سیند کې وغورځوه، نو دغه (صندوق) لره دې سیند په ساحل کې وغورځوي، چې دغه (موسٰی) لره ونیسي زما دښمن او د ده دښمن او ما په تا باندې له خپل جانبه محبت اچولی و، او د دې لپاره ستا تربیت زما د سترګو په وړاندې وشي

إِذْ تَمْشِيٓ أُخْتُكَ فَتَقُولُ هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ مَن يَكْفُلُهُۥۖ فَرَجَعْنَٰكَ إِلَىٰٓ أُمِّكَ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَۚ وَقَتَلْتَ نَفْسًا فَنَجَّيْنَٰكَ مِنَ ٱلْغَمِّ وَفَتَنَّٰكَ فُتُونًاۚ فَلَبِثْتَ سِنِينَ فِيٓ أَهْلِ مَدْيَنَ ثُمَّ جِئْتَ عَلَىٰ قَدَرٍ يَٰمُوسَىٰ ﴿٤٠﴾

(40) کله چې ستا خور (په تا پسې) روانه وه (ته يې وليدې چې د هيچا تی (پی) نه اخلې) نو دې ويل: ايا زه تاسو ته هغه څوک وښيم چې د ده کفالت (او تربيت) به کوي، نو ته مونږ خپلې مور ته بېرته راوستې، د دې لپاره چې د هغې سترګې يخې شي او غمژنه نشي او تا يو کس مړ کړی و، نو ته مونږ له غم نه خلاص کړې او ته مونږ په قسما قسم ازموينو سره وازمايلې، نو تا څو کاله په اهل مدين کې تېر کړل، بيا ته په ټاکلې اندازې سره راغلې، ای موسٰی!

وَٱصْطَنَعْتُكَ لِنَفْسِي ﴿٤١﴾

(41) او ته ما د خپل ځان لپاره تيار کړی يې

ٱذْهَبْ أَنتَ وَأَخُوكَ بِـَٔايَـٰتِي وَلَا تَنِيَا فِي ذِكْرِي ﴿٤٢﴾

(42) ته لاړ شه او ستا ورور دې هم، زما په معجزو سره او تاسو دواړه زما په ذکر (ياد) کې سستي مه کوئ

ٱذْهَبَآ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ إِنَّهُۥ طَغَىٰ ﴿٤٣﴾

(43) تاسو دواړه فرعون ته لاړ شئ، بېشکه هغه باغي شوی دی

فَقُولَا لَهُۥ قَوْلًا لَّيِّنًا لَّعَلَّهُۥ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَىٰ ﴿٤٤﴾

(44) نو تاسو هغه ته ډېره نرمه خبره وکړئ، ښايي چې دی پند واخلي، يا ووېرېږي

قَالَا رَبَّنَآ إِنَّنَا نَخَافُ أَن يَفْرُطَ عَلَيْنَآ أَوْ أَن يَطْغَىٰ ﴿٤٥﴾

(45) دواړو وويل: ای زمونږه ربه! بېشکه مونږ له دې نه وېرېږو چې دی به زمونږ سره زياتی وکړي، يا به سرکشي شروع کړي

قَالَ لَا تَخَافَآ إِنَّنِي مَعَكُمَآ أَسْمَعُ وَأَرَىٰ ﴿٤٦﴾

(46) (الله) وويل: تاسو مه وېرېږئ، بېشکه زه له تاسو سره يم، زه اورم او زه وينم

فَأْتِيَاهُ فَقُولَآ إِنَّا رَسُولَا رَبِّكَ فَأَرْسِلْ مَعَنَا بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ وَلَا تُعَذِّبْهُمْ قَدْ جِئْنَـٰكَ بِـَٔايَةٍ مِّن رَّبِّكَ وَٱلسَّلَـٰمُ عَلَىٰ مَنِ ٱتَّبَعَ ٱلْهُدَىٰٓ ﴿٤٧﴾

(47) نو تاسو ده ته ورشئ، پس (ورته) وواياست چې بېشکه مونږ ستا د رب رسولان يو، نو ته زمونږ سره بني اسرائيل خوشي کړه، او ته دوی مه په عذابوه، په تحقيق مونږ تا ته ستا د رب له معجزې سره راغلي يو، او (له عذاب نه) سلامتي دې د هغه چا لپاره چې د هدايت پيروي وکړي

إِنَّا قَدۡ أُوحِيَ إِلَيۡنَآ أَنَّ ٱلۡعَذَابَ عَلَىٰ مَن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿٤٨﴾

(48) بېشکه مونږ چې یو، یقینًا مونږ ته وحي کړی شوې ده چې بېشکه عذاب په هغه چا دی چې (د رسولانو) تکذیب کوي او (له اسلامه) مخ ګرځوي

قَالَ فَمَن رَّبُّكُمَا يَٰمُوسَىٰ ﴿٤٩﴾

(49) ده (فرعون) وویل: ای موسٰی ستاسو د دواړو رب څوك دی؟

قَالَ رَبُّنَا ٱلَّذِيٓ أَعۡطَىٰ كُلَّ شَيۡءٍ خَلۡقَهُۥ ثُمَّ هَدَىٰ ﴿٥٠﴾

(50) ده وویل: زمونږ رب هغه ذات دی چې هر شي ته یې د ده (موافق) شکل ورکړی دی، بیا یې لار ښودلې ده

قَالَ فَمَا بَالُ ٱلۡقُرُونِ ٱلۡأُولَىٰ ﴿٥١﴾

(51) (فرعون) وویل: د ړومبنو زمانو د خلقو څه حال دی؟

قَالَ عِلۡمُهَا عِندَ رَبِّي فِي كِتَٰبٖۖ لَّا يَضِلُّ رَبِّي وَلَا يَنسَى ﴿٥٢﴾

(52) ده وویل: د هغو علم زما له رب سره دی په یو کتاب کې، زما له رب نه څه ورکېږي او نه ترې هېرېږي

ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ مَهۡدٗا وَسَلَكَ لَكُمۡ فِيهَا سُبُلٗا وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَخۡرَجۡنَا بِهِۦٓ أَزۡوَٰجٗا مِّن نَّبَاتٖ شَتَّىٰ ﴿٥٣﴾

(53) هغه ذات چې تاسو لپاره یې ځمکه فرش ګرځولې ده او تاسو لپاره یې په دې کې لارې چلولې دي او له بره نه یې اوبه نازلې کړې دي، پس په دغو (اوبو) سره مونږ بېلا بېل (او) قسما قسم زرغونې را ایستلې دي

كُلُوا۟ وَٱرْعَوْا۟ أَنْعَٰمَكُمْ ۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّأُو۟لِى ٱلنُّهَىٰ ﴿٥٤﴾

(54) تاسو يې خورئ او خپل څاروي (په کې) څروئ، ببشکه په دغو (شيانو) کې د عقل والاو لپاره يقيناً ډېرې نښې دي

۞ مِنْهَا خَلَقْنَٰكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَىٰ ﴿٥٥﴾

(55) له هم دې (ځمکې) نه موږ تاسو پيدا کړي يئ او په هم دې کې به موږ تاسو ننه باسو، او بل کرت به موږ تاسو راوباسو

وَلَقَدْ أَرَيْنَٰهُ ءَايَٰتِنَا كُلَّهَا فَكَذَّبَ وَأَبَىٰ ﴿٥٦﴾

(56) او يقيناً يقيناًموږ ده ته خپلې ټولې نښې (او معجزې) وروښوولې، نو ده تکذيب وکړ او انکار يې وکړ

قَالَ أَجِئْتَنَا لِتُخْرِجَنَا مِنْ أَرْضِنَا بِسِحْرِكَ يَٰمُوسَىٰ ﴿٥٧﴾

(57) ووېل: (فرعون) ايا ته موږ ته راغلى يې اى موسٰى؟، د دې لپاره چې ته په خپل سحر (جادو) سره موږ له خپلې ځمکې نه وباسې

فَلَنَأْتِيَنَّكَ بِسِحْرٍ مِّثْلِهِۦ فَٱجْعَلْ بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ مَوْعِدًا لَّا نُخْلِفُهُۥ نَحْنُ وَلَآ أَنتَ مَكَانًا سُوًى ﴿٥٨﴾

(58) نو موږ به خامخا ضرور تا ته د دغه (سحر) په مثل سحر راوړو، نو ته زموږ په مينځ کې او په خپل مينځ کې يوه وعده مقرره کړه چې نه به موږ د هغې مخالفت کوو او نه ته، داسې ځاى چې مساوي (هوار) وي

قَالَ مَوْعِدُكُمْ يَوْمُ ٱلزِّينَةِ وَأَن يُحْشَرَ ٱلنَّاسُ ضُحًى ﴿٥٩﴾

(59) ده ووېل: ستاسو د وعدې وخت د زينت (او جشن) ورځ ده او دا چې خلق دې د

خانبت په وخت کې راجمع کړی شي

فَتَوَلَّىٰ فِرۡعَوۡنُ فَجَمَعَ كَيۡدَهُۥ ثُمَّ أَتَىٰ ٦٠

(60) نو فرعون وګرځېده، نو خپل مکر (او چل) يې راجمع کړ، بيا راغی

قَالَ لَهُم مُّوسَىٰ وَيۡلَكُمۡ لَا تَفۡتَرُواْ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗا فَيُسۡحِتَكُم بِعَذَابٖۖ وَقَدۡ خَابَ مَنِ ٱفۡتَرَىٰ ٦١

(61) (موسٰی جادوګرو ته) وويل: تاسو هلاك شئ! په الله باندې دروغ مه تړئ (ګنئ) نو هغه به تاسو په عذاب سره هلاك کړي، او په تحقيق نا اميده (او نامراد) شو هغه کس چې (په الله) يې دروغ وتړل

فَتَنَٰزَعُوٓاْ أَمۡرَهُم بَيۡنَهُمۡ وَأَسَرُّواْ ٱلنَّجۡوَىٰ ٦٢

(62) نو دغو (جادوګرو) په خپل کار کې په خپل مينځ سره جګړه وکړه او دغه پټه مشوره يې خفيه وساتله

قَالُوٓاْ إِنۡ هَٰذَٰنِ لَسَٰحِرَٰنِ يُرِيدَانِ أَن يُخۡرِجَاكُم مِّنۡ أَرۡضِكُم بِسِحۡرِهِمَا وَيَذۡهَبَا بِطَرِيقَتِكُمُ ٱلۡمُثۡلَىٰ ٦٣

(63) دوی وويل: بېشکه چې دا دواړه خامخا ساحران (جادوګر) دي، دوی دواړه غواړي چې تاسو له خپلې ځمکې (خاورې) نه په خپل سحر (جادو) سره وباسي او ستاسو ډېر غوره لار (د دين) ختمه کړي

فَأَجۡمِعُواْ كَيۡدَكُمۡ ثُمَّ ٱئۡتُواْ صَفّٗاۚ وَقَدۡ أَفۡلَحَ ٱلۡيَوۡمَ مَنِ ٱسۡتَعۡلَىٰ ٦٤

(64) نو تاسو خپل ټول چل مکر راجمع کړئ، بيا تاسو (ميدان ته) راشئ صف صف، او يقينًا نن ورځ هغه څوك كامياب دی چې غالب شو

قَالُواْ يَٰمُوسَىٰٓ إِمَّآ أَن تُلۡقِيَ وَإِمَّآ
أَن نَّكُونَ أَوَّلَ مَنۡ أَلۡقَىٰ ٦٥

(65) ده وويل: اى موسیٰ! يا به ته (امسا) غورځوې، يا به مونږ شو اول د هغه چا چې (امسا) غورځوي

قَالَ بَلۡ أَلۡقُواْۖ فَإِذَا حِبَالُهُمۡ
وَعِصِيُّهُمۡ يُخَيَّلُ إِلَيۡهِ مِن سِحۡرِهِمۡ
أَنَّهَا تَسۡعَىٰ ٦٦

(66) ده وويل: بلکې تاسو وغورځوئ، نو ناڅاپه د دوی رسۍ او د دوی امساګانې د دوی د سحر په وجه د ده (موسیٰ) خيال ته داسې راوستی شوې چې په رښتيا دغه منډې وهي

فَأَوۡجَسَ فِي نَفۡسِهِۦ خِيفَةٗ
مُّوسَىٰ ٦٧

(67) نو موسیٰ په خپل نفس (زړه) کې وېره وموندله

قُلۡنَا لَا تَخَفۡ إِنَّكَ أَنتَ
ٱلۡأَعۡلَىٰ ٦٨

(68) مونږ (ده ته) وويل: ته مه وېرېږه، بېشکه هم ته ښه غالب يې

وَأَلۡقِ مَا فِي يَمِينِكَ تَلۡقَفۡ مَا
صَنَعُوٓاْۖ إِنَّمَا صَنَعُواْ كَيۡدُ سَٰحِرٖۖ
وَلَا يُفۡلِحُ ٱلسَّاحِرُ حَيۡثُ أَتَىٰ ٦٩

(69) او ته هغه (امسا) وغورځوه چې ستا په ښي لاس کې ده، چې هغه څه لواړ (ښوی) تېر کړي چې دغو جوړ کړي دي، بېشکه هغه شی چې دوی تيار کړی دی د جادوګر چل مکر دی، او جادوګر برى نه مومي هر چېرته چې راشي

فَأُلۡقِيَ ٱلسَّحَرَةُ سُجَّدٗا قَالُوٓاْ ءَامَنَّا

(70) نو ساحران وغورځولی شول، سجده

بِرَبِّ هَٰرُونَ وَمُوسَىٰ ٧٠

كوونكي، ويې ويل:مونږ د هارون او موسٰى په رب ايمان راوړ

قَالَ ءَامَنتُمْ لَهُۥ قَبْلَ أَنْ ءَاذَنَ لَكُمْ ۖ إِنَّهُۥ لَكَبِيرُكُمُ ٱلَّذِى عَلَّمَكُمُ ٱلسِّحْرَ ۖ فَلَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَٰفٍ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ فِى جُذُوعِ ٱلنَّخْلِ وَلَتَعْلَمُنَّ أَيُّنَآ أَشَدُّ عَذَابًا وَأَبْقَىٰ ٧١

(71) (فرعون) وويل چې تاسو د ده تصديق وکړ مخکې له دې چې زه تاسو ته اجازت درکړم، بېشکه دی يقينًا ستاسو هغه مشر دی چې تاسو ته يې سحر (جادو) ښودلی دی، نو زه به خامخا ضرور ستاسو لاسونه او ستاسو پښې ادل بدل پرې کوم او زه به خامخا ضرور تاسو د کجور په تنو کې په دار کوم او تاسو به خامخا ضرور پوه شئ چې په مونږ کې کوم يو د عذاب ورکولو په لحاظ ډېر سخت دی او ډېر باقي پاتې کېدونکی دی (زه او که موسٰى)

قَالُوا۟ لَن نُّؤْثِرَكَ عَلَىٰ مَا جَآءَنَا مِنَ ٱلْبَيِّنَٰتِ وَٱلَّذِى فَطَرَنَا ۖ فَٱقْضِ مَآ أَنتَ قَاضٍ ۖ إِنَّمَا تَقْضِى هَٰذِهِ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَآ ٧٢

(72) هغوی وويل: مونږ به تا ته له سره ترجيح درنه کړو په هغه باندې چې مونږ ته راغلی دی چې ښکاره معجزې دي او هغه (الله) چې مونږ يې پيدا کړي يو، نو ته هغه کار وکړه چې ته د هغه کوونکی يې، بېشکه ته يواځې د دې دنيايي ژوند فيصله کولی شې

إِنَّآ ءَامَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا خَطَٰيَٰنَا وَمَآ أَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ ٱلسِّحْرِ ۗ

(73) بېشکه مونږ په خپل رب ايمان راوړی دی، د دې لپاره چې هغه زمونږ خطاګانې

| | |
|---|---|
| وَٱللَّهُ خَيۡرٞ وَأَبۡقَىٰٓ ٧٣ | وبخښي او هغه (جرم) چې تا موږ په هغه مجبوره کړي وو، چې سحر دی او الله ډېر غوره او تل پاتې کېدونکی دی |
| إِنَّهُۥ مَن يَأۡتِ رَبَّهُۥ مُجۡرِمٗا فَإِنَّ لَهُۥ جَهَنَّمَ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحۡيَىٰ ٧٤ | (74) بېشکه شان دا دی چې هغه څوك چې خپل رب ته راشي، په دې حال کې چې کافر وي، نو بېشکه د ده لپاره دوزخ دی، دی به په ده کې نه مري او نه به (ښه) ژوندون کوي |
| وَمَنۡ يَأۡتِهِۦ مُؤۡمِنٗا قَدۡ عَمِلَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلدَّرَجَٰتُ ٱلۡعُلَىٰ ٧٥ | (75) او هغه څوك چې ده ته په داسې حال کې راشي چې مومن وي، نېك عملونه يې کړي وي (،نو) د دوی لپاره ډېرې اوچتې درجې دي |
| جَنَّٰتُ عَدۡنٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ وَذَٰلِكَ جَزَآءُ مَن تَزَكَّىٰ ٧٦ | (76) چې د تل اوسېدنې جنتونه دي چې د هغو له لاندې ولې بهېږي، چې دوی به په هغو کې تل ترتله وي، دغه د هغه چا بدله ده چې ځان يې (له شرك او کفر نه) پاك ساتلی وي |
| وَلَقَدۡ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنۡ أَسۡرِ بِعِبَادِي فَٱضۡرِبۡ لَهُمۡ طَرِيقٗا فِي ٱلۡبَحۡرِ يَبَسٗا لَّا تَخَٰفُ دَرَكٗا وَلَا تَخۡشَىٰ ٧٧ | (77) او يقينًا يقينًا موږ موسٰی ته وحي وکړه چې ته زما بنده ګان د شپې وباسه، نو ته د دوی لپاره په سمندر کې يوه وچه لاره جوړه کړه، ته به نه ويرېږې له نيول کېدو نه او نه به |

وېرېږي (له ډوبېدو نه)

فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ بِجُنُودِهِۦ فَغَشِيَهُم مِّنَ ٱلْيَمِّ مَا غَشِيَهُمْ ﴿٧٨﴾

(78) نو فرعون سره له خپلو لښکرو په دوی پسې راغی، نو دوی لره له سمندر نه هغه شي لاندې کړل چې دوی یې لاندې کړل

وَأَضَلَّ فِرْعَوْنُ قَوْمَهُۥ وَمَا هَدَىٰ ﴿٧٩﴾

(79) او فرعون خپل قوم لره گمراه کړ او نېغه لار یې ور ونه ښودله

يَٰبَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ قَدْ أَنجَيْنَٰكُم مِّنْ عَدُوِّكُمْ وَوَٰعَدْنَٰكُمْ جَانِبَ ٱلطُّورِ ٱلْأَيْمَنَ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكُمُ ٱلْمَنَّ وَٱلسَّلْوَىٰ ﴿٨٠﴾

(80) اې بني اسرائیلو بېشکه مونږ تاسو ته ستاسو له دښمن نه نجات درکړ او د طور غر ښي اړخ ته مو له تاسو سره وعده وکړه او مونږ پر تاسو باندې مَن (ترنجبین) او مرزان (ډوله مرغان) نازل کړل

كُلُوا۟ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقْنَٰكُمْ وَلَا تَطْغَوْا۟ فِيهِ فَيَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبِى ۖ وَمَن يَحْلِلْ عَلَيْهِ غَضَبِى فَقَدْ هَوَىٰ ﴿٨١﴾

(81) تاسو هغه پاکیزه څیزونه خورئ چې مونږ تاسو ته درکړي دي او تاسو په دغه (رزق) کې تجاوز مه کوئ (گنې) نو په تاسو به زما غضب راکوز شي اوهغه څوك چې په هغه باندې زما غضب راکوز شي، نو یقینًا دی وغورځېده (هلاك شه)

وَإِنِّى لَغَفَّارٌ لِّمَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحًا ثُمَّ ٱهْتَدَىٰ ﴿٨٢﴾

(82) او بېشکه زه خامخا ډېر بخښونکی یم هغه چا ته چې توبه وباسي او ایمان راوړي او

نېك عمل كوي، بيا په نېغه لار روان اوسي

﴿وَمَآ أَعۡجَلَكَ عَن قَوۡمِكَ يَٰمُوسَىٰ ٨٣﴾

(83) او ته څه شي راګړندی کړې له خپل قوم نه ای موسٰی!

﴿قَالَ هُمۡ أُوْلَآءِ عَلَىٰٓ أَثَرِي وَعَجِلۡتُ إِلَيۡكَ رَبِّ لِتَرۡضَىٰ ٨٤﴾

(84) ده وويل: دوی دغه دي په ما پسې راروان دي او زه تا ته جلت راغلم ای زما ربه! د دې لپاره چې ته راضي شې

﴿قَالَ فَإِنَّا قَدۡ فَتَنَّا قَوۡمَكَ مِنۢ بَعۡدِكَ وَأَضَلَّهُمُ ٱلسَّامِرِيُّ ٨٥﴾

(85) (الله) وويل: نو بېشکه مونږ ستا قوم له تا نه وروسته وازمايه او سامري دوی ګمراه کړل

﴿فَرَجَعَ مُوسَىٰٓ إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ غَضۡبَٰنَ أَسِفٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ أَلَمۡ يَعِدۡكُمۡ رَبُّكُمۡ وَعۡدًا حَسَنًاۚ أَفَطَالَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡعَهۡدُ أَمۡ أَرَدتُّمۡ أَن يَحِلَّ عَلَيۡكُمۡ غَضَبٞ مِّن رَّبِّكُمۡ فَأَخۡلَفۡتُم مَّوۡعِدِي ٨٦﴾

(86) نو موسٰی خپل قوم ته راواپس شو، چې ډېر په غصه او غمجن و، ويې ويل:ای زما قومه! ايا تاسو سره ستاسو رب ډېره ښه وعده نه وه کړې، ايا نو په تاسو زمانه ډېره اوږده شوه، يا که تاسو اراده کړې وه چې په تاسو باندې د خپل رب غضب راکوز شي، نو تاسو زما د وعدې خلاف ورزي وکړه

﴿قَالُواْ مَآ أَخۡلَفۡنَا مَوۡعِدَكَ بِمَلۡكِنَا وَلَٰكِنَّا حُمِّلۡنَآ أَوۡزَارٗا مِّن زِينَةِ ٱلۡقَوۡمِ فَقَذَفۡنَٰهَا فَكَذَٰلِكَ أَلۡقَى ٱلسَّامِرِيُّ ٨٧﴾

(87) دوی وويل: مونږ ستا د وعدې مخالفت په خپل اختيار سره نه دی کړی، او لېکن پر مونږ باندې د (قبطيانو د) قوم د ښکلا زيورات بار کړی شوي وو، نو مونږ هغه وغورځول، نو

همداسې سامري هغه (په اور کې) وغورځول

فَأَخۡرَجَ لَهُمۡ عِجۡلٗا جَسَدٗا لَّهُۥ خُوَارٞ فَقَالُواْ هَٰذَآ إِلَٰهُكُمۡ وَإِلَٰهُ مُوسَىٰ فَنَسِيَ ﴿٨٨﴾

(88) نو ده د دوی لپاره (له هغې کندې څخه) یو سخی چې جسد و؛ راوویست، چې د ده لپاره د سخي اواز و، نو دوی وویل: دا ستاسو معبود دی او د موسٰی معبود دی، پس هغه هېر کړی دی

أَفَلَا يَرَوۡنَ أَلَّا يَرۡجِعُ إِلَيۡهِمۡ قَوۡلٗا وَلَا يَمۡلِكُ لَهُمۡ ضَرّٗا وَلَا نَفۡعٗا ﴿٨٩﴾

(89) (الله فرمايي) نو ايا دوی نه ګوري چې بېشکه شان دا دی چې دغه (سخی) دوی ته بېرته خبره نه راګرځوي او دی د دوی لپاره نه د ضرر اختيار لري او نه د نفعې

وَلَقَدۡ قَالَ لَهُمۡ هَٰرُونُ مِن قَبۡلُ يَٰقَوۡمِ إِنَّمَا فُتِنتُم بِهِۦۖ وَإِنَّ رَبَّكُمُ ٱلرَّحۡمَٰنُ فَٱتَّبِعُونِي وَأَطِيعُوٓاْ أَمۡرِي ﴿٩٠﴾

(90) او یقینًا یقینًا هارون دوی ته د دې (موسٰی له راتلو) نه مخکې ویلي وو چې ای زما قومه! بېشکه همدا خبره ده چې تاسو په دې سره ازمایل شوي یئ، او ستاسو رب خو رحمٰن دی، نو تاسو زما پیروي وکړئ او زما د حکم اطاعت وکړئ

قَالُواْ لَن نَّبۡرَحَ عَلَيۡهِ عَٰكِفِينَ حَتَّىٰ يَرۡجِعَ إِلَيۡنَا مُوسَىٰ ﴿٩١﴾

(91) دوی وویل: مونږ به تل به په (عبادت) د ده محکم ولاړ اوسو، تر هغه پورې چې موسٰی مونږ ته بېرته راشي

قَالَ يَٰهَٰرُونُ مَا مَنَعَكَ إِذۡ رَأَيۡتَهُمۡ

(92) (موسٰی چې راغی نو) ویې ویل:ای

| | |
|---|---|
| ضَلُّوٓاْ ﴿٩٢﴾ | هارونه! ته څه شي منع کړی وې، کله چې تا دوی ولیدل چې ګمراه شول |
| أَلَّا تَتَّبِعَنِۖ أَفَعَصَيۡتَ أَمۡرِي ﴿٩٣﴾ | (93) چې تا زما پیروي ونه کړه، ایا نو تا زما د حکم نافرماني وکړه؟ |
| قَالَ يَبۡنَؤُمَّ لَا تَأۡخُذۡ بِلِحۡيَتِي وَلَا بِرَأۡسِيٓۖ إِنِّي خَشِيتُ أَن تَقُولَ فَرَّقۡتَ بَيۡنَ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ وَلَمۡ تَرۡقُبۡ قَوۡلِي ﴿٩٤﴾ | (94) ده وویل: ای زما د مور زویه! ته مه زما ږیره نیسه او مه زما سره، بېشکه زه ووېرېدم له دې نه چې ته به وایې چې تا د بني اسرائیلو په مینځ کې بېلتون واچاوه او زما خبرې ته دې ونه کتل |
| قَالَ فَمَا خَطۡبُكَ يَٰسَٰمِرِيُّ ﴿٩٥﴾ | (95) (موسٰی) وویل: نو ستا څه کار و ای سامري! |
| قَالَ بَصُرۡتُ بِمَا لَمۡ يَبۡصُرُواْ بِهِۦ فَقَبَضۡتُ قَبۡضَةٗ مِّنۡ أَثَرِ ٱلرَّسُولِ فَنَبَذۡتُهَا وَكَذَٰلِكَ سَوَّلَتۡ لِي نَفۡسِي ﴿٩٦﴾ | (96) هغه وویل: ما هغه شی ولیده چې دوی هغه نه و لیدلی نو ما یو موټی (خاوره) راوخیسته د رسول له قدمه، نو هغه ما (د دغه سخي په خوله کې) وغورځوله او همداسې ما ته زما نفس (دا کار) ښایسته کړی و |
| قَالَ فَٱذۡهَبۡ فَإِنَّ لَكَ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ أَن تَقُولَ لَا مِسَاسَۖ وَإِنَّ لَكَ مَوۡعِدٗا لَّن تُخۡلَفَهُۥۖ وَٱنظُرۡ إِلَىٰٓ إِلَٰهِكَ ٱلَّذِي ظَلۡتَ عَلَيۡهِ عَاكِفٗاۖ | (97) ده وویل: نو ته ځه! پس بېشکه تا لره په ژوندن کې دا دي چې ته به وایې: (په ما) مه لګېږئ، او بېشکه تا لپاره د وعدې یو وخت دی چې له تا سره به د هغې وعدې هېڅ |

لَّنُحَرِّقَنَّهُۥ ثُمَّ لَنَنسِفَنَّهُۥ فِي ٱلۡيَمِّ نَسۡفًا ﴿٩٧﴾

خلاف ونه کړی شي، او ته خپل هغه معبود ته وګوره چې ته په (عبادت) د ده باندې محکم ولاړ وې، مونږ به دی خامخا ضرور سوځوو، بیا مونږ دی په سمندر کې بادوو، بادول

إِنَّمَآ إِلَٰهُكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ وَسِعَ كُلَّ شَيۡءٍ عِلۡمٗا ﴿٩٨﴾

(98) بیشکه همدا خبره ده چې ستاسو معبود هغه الله دی چې نشته هېڅ لایق د عبادت مګر هم دی دی، ده د علم په لحاظ هر شی، راګېر کړی

كَذَٰلِكَ نَقُصُّ عَلَيۡكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ مَا قَدۡ سَبَقَۚ وَقَدۡ ءَاتَيۡنَٰكَ مِن لَّدُنَّا ذِكۡرٗا ﴿٩٩﴾

(99) هم داسې مونږ تا ته بیانوو ځینې له هغو خبرونو نه چې مخکې تېر شوي دي او په تحقیق تا ته مونږ درکړی دی له خپل جانب نه ذکر (چې قرآن دی)

مَّنۡ أَعۡرَضَ عَنۡهُ فَإِنَّهُۥ يَحۡمِلُ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وِزۡرًا ﴿١٠٠﴾

(100) هرڅوك چې له ده نه مخ وګرځوي، پس بیشکه دغه کس به د قیامت په ورځ ( د عذاب) بار پورته کوي

خَٰلِدِينَ فِيهِۖ وَسَآءَ لَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ حِمۡلٗا ﴿١٠١﴾

(101) چې تل به وي په دغه (عذاب) کې او دغه بد دی د دوی لپاره د بارولو په لحاظ

يَوۡمَ يُنفَخُ فِي ٱلصُّورِۚ وَنَحۡشُرُ ٱلۡمُجۡرِمِينَ يَوۡمَئِذٖ زُرۡقٗا ﴿١٠٢﴾

(102) په هغې ورځ کې چې په شپېلۍ کې به (په دوهم ځل) وپوکل شي او په دغې ورځ کې به مونږ مجرمان (کافران) راجمع کوو چې

شين سترګي (تور مخي) به وي

يَتَخَٰفَتُونَ بَيۡنَهُمۡ إِن لَّبِثۡتُمۡ إِلَّا عَشۡرٗا ﴿١٠٣﴾

(103) دوى به په خپل مينځ کې پټې پټې خبرې کوي چې تاسو وخت نه دى تېر کړى (په دنيا کې) مګر لس شپې

نَّحۡنُ أَعۡلَمُ بِمَا يَقُولُونَ إِذۡ يَقُولُ أَمۡثَلُهُمۡ طَرِيقَةً إِن لَّبِثۡتُمۡ إِلَّا يَوۡمٗا ﴿١٠٤﴾

(104) مونږ ښه عالمان يو په هغو خبرو چې دوى يې وايي، کله چې په دوى کې د روش په لحاظ ډېر کامل وايي: تاسو وخت نه دى تېر کړى مګر يوه ورځ

وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡجِبَالِ فَقُلۡ يَنسِفُهَا رَبِّي نَسۡفٗا ﴿١٠٥﴾

(105) او دوى له تا نه د غرونو په باره کې پوښتنه کوي، نو ته (ورته) ووايه چې زما رب به دغه (غرونه) تار په تار کړي، تار تار کول

فَيَذَرُهَا قَاعٗا صَفۡصَفٗا ﴿١٠٦﴾

(106) نو دغه (ځمکه) به تش هوار ډاګ پرېږدي

لَّا تَرَىٰ فِيهَا عِوَجٗا وَلَآ أَمۡتٗا ﴿١٠٧﴾

(107) چې ته به په دې کې نه ښکته والى وينې او نه څه اوچت والى

يَوۡمَئِذٖ يَتَّبِعُونَ ٱلدَّاعِيَ لَا عِوَجَ لَهُۥۖ وَخَشَعَتِ ٱلۡأَصۡوَاتُ لِلرَّحۡمَٰنِ فَلَا تَسۡمَعُ إِلَّا هَمۡسٗا ﴿١٠٨﴾

(108) په دغې ورځ کې به دوى د بلونکي پيروي کوي، دغې (بلنې) ته به هېڅ کوږ والى نه وي، او ټول اوازونه به رحمٰن ته چوپ شي، نو ته به نه اورې مګر کشارى (د قدمونو)

| | |
|---|---|
| يَوۡمَئِذٖ لَّا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ إِلَّا مَنۡ أَذِنَ لَهُ ٱلرَّحۡمَٰنُ وَرَضِيَ لَهُۥ قَوۡلٗا ١٠٩ | (109) په دغې ورځ كې به شفاعت فايده نه رسوي مگر هغه چا ته چې د هغه په حق كې رحمٰن اجازت وكړي او دغه (الله) د ده په خبره راضي شوى وي |
| يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ وَلَا يُحِيطُونَ بِهِۦ عِلۡمٗا ١١٠ | (110) دغه (الله) پوهېږي په هر هغه څه چې د دوى په وړاندې دي او په هر هغه څه چې د دوى وروسته دي او دوى د هغه د علم احاطه نشي كولى |
| ۞وَعَنَتِ ٱلۡوُجُوهُ لِلۡحَيِّ ٱلۡقَيُّومِۖ وَقَدۡ خَابَ مَنۡ حَمَلَ ظُلۡمٗا ١١١ | (111) او مخونه تل ژوندي، د ټول عالم انتظام كوونكي ذات ته ټيټ شول او تحقيق نامراده شو هغه كس چې (د) ظلم (بار) يې پورته كړ |
| وَمَن يَعۡمَلۡ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَلَا يَخَافُ ظُلۡمٗا وَلَا هَضۡمٗا ١١٢ | (112) او هغه څوك چې نېك عمل وكړي، په دې حال كې چې مومن وي، نو دى به نه له ظلم (بې انصافۍ) نه وېرېږي او نه له نقصان نه |
| وَكَذَٰلِكَ أَنزَلۡنَٰهُ قُرۡءَانًا عَرَبِيّٗا وَصَرَّفۡنَا فِيهِ مِنَ ٱلۡوَعِيدِ لَعَلَّهُمۡ يَتَّقُونَ أَوۡ يُحۡدِثُ لَهُمۡ ذِكۡرٗا ١١٣ | (113) او هم داسې مونږ دغه (كتاب) نازل كړى دى عربي قرآن، او مونږ په ده كې (ايتونه) له وعيد څخه بيا بيا راوړي دي، د دې لپاره چې دوى پرهېزگاره شي يا دغه (قرآن) دوى ته څه پند پيدا كړي |

فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ ٱلۡمَلِكُ ٱلۡحَقُّۗ وَلَا
تَعۡجَلۡ بِٱلۡقُرۡءَانِ مِن قَبۡلِ أَن
يُقۡضَىٰٓ إِلَيۡكَ وَحۡيُهُۥۖ وَقُل رَّبِّ
زِدۡنِي عِلۡمٗا ﴿١١٤﴾

**(114)** نو اوچت دی الله حق بادشاه دی او ته په (لوستلو د) قرآن سره تلوار مه کوه مخکې له دې چې تا ته د ده وحې پوره کړی شي او ته وایه: ای زما ربه ما ته (زما) په علم کې زیاتوالی راکړې

وَلَقَدۡ عَهِدۡنَآ إِلَىٰٓ ءَادَمَ مِن قَبۡلُ
فَنَسِيَ وَلَمۡ نَجِدۡ لَهُۥ عَزۡمٗا ﴿١١٥﴾

**(115)** او یقینًا په تحقیق سره مونږ ادم ته له دې نه مخکې حکم کړی و، نو هغه هېر کړ او مونږ د ده پخه اراده ونه مونده

وَإِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ
فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبۡلِيسَ أَبَىٰ ﴿١١٦﴾

**(116)** او کله چې مونږ ملایکو ته ووېل: تاسو ادم ته سجده وکړئ، نو دوی سجده وکړه، غیر له ابلیس نه، ده انکار وکړ

فَقُلۡنَا يَٰٓـَٔادَمُ إِنَّ هَٰذَا عَدُوّٞ لَّكَ
وَلِزَوۡجِكَ فَلَا يُخۡرِجَنَّكُمَا مِنَ
ٱلۡجَنَّةِ فَتَشۡقَىٰٓ ﴿١١٧﴾

**(117)** نو مونږ ادم ته ووېل: بېشکه دا (ابلیس) ستا او ستا د ښځې دښمن دی، نو دی دې تاسو هرګز له جنت نه ونه باسي، (ګنې) نو په مشقت کې به پرېوځئ

إِنَّ لَكَ أَلَّا تَجُوعَ فِيهَا وَلَا
تَعۡرَىٰ ﴿١١٨﴾

**(118)** بېشکه تا لپاره دا مقرر ده چې ته به په دې (جنت) کې نه وږی کېږې او نه به بربنډېږې

وَأَنَّكَ لَا تَظۡمَؤُاْ فِيهَا وَلَا

**(119)** او دا چې بېشکه ته به نه په ده کې

تَضۡحَىٰ ١١٩
ترى كېږي او نه به دې ګرمي كېږي

فَوَسۡوَسَ إِلَيۡهِ ٱلشَّيۡطَٰنُ قَالَ يَٰٓـَٔادَمُ هَلۡ أَدُلُّكَ عَلَىٰ شَجَرَةِ ٱلۡخُلۡدِ وَمُلۡكٖ لَّا يَبۡلَىٰ ١٢٠
(120) نو ده ته شيطان وسوسه واچوله، ويې ويل:اى ادمه! ايا زه تا ته د تل ژوندي پاتې كېدلو ونه وښيم او داسې بادشاهي چې نه به ختمېږي

فَأَكَلَا مِنۡهَا فَبَدَتۡ لَهُمَا سَوۡءَٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخۡصِفَانِ عَلَيۡهِمَا مِن وَرَقِ ٱلۡجَنَّةِۚ وَعَصَىٰٓ ءَادَمُ رَبَّهُۥ فَغَوَىٰ ١٢١
(121) نو دوى دواړو (ښځې خاوند) له دغې (ونې) نه خوراك وكړ، نو دوى ته خپل د شرم ځايونه ښكاره شول او دوى شروع شول چې په خپلو ځانونو يې د جنت پاڼې نښلولې او ادم د خپل رب نافرماني وكړه، نو ښويېده

ثُمَّ ٱجۡتَبَٰهُ رَبُّهُۥ فَتَابَ عَلَيۡهِ وَهَدَىٰ ١٢٢
(122) بيا دې خپل رب غوره كړ، نو د ده توبه يې قبوله كړه او هدايت يې وكړ (ده ته)

قَالَ ٱهۡبِطَا مِنۡهَا جَمِيعَۢاۖ بَعۡضُكُمۡ لِبَعۡضٍ عَدُوّٞۖ فَإِمَّا يَأۡتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدٗى فَمَنِ ٱتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشۡقَىٰ ١٢٣
(123) (الله) وويل: تاسو دواړه له دې (جنت) نه كوز شئ ټول، ستاسو ځيني به د ځينو نورو دښمنان وي، نو كه تاسو ته زما له جانبه هدايت راغى، نو چا چې زما د هدايت پيروي وكړه، نو دى به نه ګمراه كېږي او نه به بدبخته كېږي

وَمَنۡ أَعۡرَضَ عَن ذِكۡرِي فَإِنَّ لَهُۥ
(124) او هغه څوك چې زما له ذكر (قرآن) نه مخ وګرځوي، نو بېشكه د ده لپاره ډېر تنګ

مَعِيشَةً ضَنكًا وَنَحۡشُرُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ أَعۡمَىٰ ١٢٤

گذران (او ژوند) دی او دی به مونږ د قيامت په ورځ ړوند راپورته کوو

قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرۡتَنِيٓ أَعۡمَىٰ وَقَدۡ كُنتُ بَصِيرٗا ١٢٥

(125) دی به وايي: ای زما ربه! تا زه ولې ړوند راپاڅولم، حال دا چې زه (په دنيا کې) بينا وم

قَالَ كَذَٰلِكَ أَتَتۡكَ ءَايَٰتُنَا فَنَسِيتَهَاۖ وَكَذَٰلِكَ ٱلۡيَوۡمَ تُنسَىٰ ١٢٦

(126) (الله به) ووايي: همداسې و، تا ته زمونږ ايتونه راغلي وو، نو تا هغه هېر کړل، او همداسې به ته نن ورځ هېرولی شې

وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي مَنۡ أَسۡرَفَ وَلَمۡ يُؤۡمِنۢ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِۦۚ وَلَعَذَابُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَشَدُّ وَأَبۡقَىٰٓ ١٢٧

(127) او همداسې مونږ جزا ورکوو هغه چا ته چې له حده ووت او د خپل رب په ايتونو يې ايمان رانه وړ او خامخا د اخرت عذاب ډېر سخت دی او ډېر باقي پاتې کېدونکی دی

أَفَلَمۡ يَهۡدِ لَهُمۡ كَمۡ أَهۡلَكۡنَا قَبۡلَهُم مِّنَ ٱلۡقُرُونِ يَمۡشُونَ فِي مَسَٰكِنِهِمۡۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّأُوْلِي ٱلنُّهَىٰ ١٢٨

(128) ايا نو دوی ته نه ده څرګنده شوې چې خومره ډېرې پېړۍ (امتونه) مونږ هلاکې کړې دي، چې دوی د هغوی په استوګنځايونو کې تېرېږي، بېشکه په دغو کې د عقل والاو لپاره ډېرې نښې دي

وَلَوۡلَا كَلِمَةٞ سَبَقَتۡ مِن رَّبِّكَ لَكَانَ لِزَامٗا وَأَجَلٞ مُّسَمّٗى ١٢٩

(129) او که چېرې هغه خبره نه وی چې ستا د رب له جانبه مخکې شوې ده (،نو) خامخا دغه (هلاکت د دوی) به لازم و، (او که چېرې

نه وی، مقرر شوې نېټه

فَٱصۡبِرۡ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ قَبۡلَ طُلُوعِ ٱلشَّمۡسِ وَقَبۡلَ غُرُوبِهَاۖ وَمِنۡ ءَانَآيِٕ ٱلَّيۡلِ فَسَبِّحۡ وَأَطۡرَافَ ٱلنَّهَارِ لَعَلَّكَ تَرۡضَىٰ ﴿١٣٠﴾

(130) نو (ای نبي!) ته په هغو خبرو صبر کوه چې دوی يې وايي او ته د خپل رب له ستاينې سره تسبيح وايه له لمر ختو نه مخکې او مخکې د پرېوتو له ده نه، او د شپې په ځينو وختونو کې، نو ته تسبيح وايه او د ورځې په غاړو کې، ښايي چې ته به خوشاله شې

وَلَا تَمُدَّنَّ عَيۡنَيۡكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعۡنَا بِهِۦٓ أَزۡوَٰجٗا مِّنۡهُمۡ زَهۡرَةَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا لِنَفۡتِنَهُمۡ فِيهِۚ وَرِزۡقُ رَبِّكَ خَيۡرٞ وَأَبۡقَىٰ ﴿١٣١﴾

(131) او ته خپلې سترګې هرګز مه اوږدوه هغه ځيز ته چې مونږ په هغه سره دغو ته نفع ورکړې ده چې قسما قسم ځيزونه دي د دنيايي ژوند ښايست، د دې لپاره چې مونږ دغه (کفار) په دې کې وازمايو او ستا د رب رزق ډېر غوره او ډېر باقي پاتې کېدونکی دی

وَأۡمُرۡ أَهۡلَكَ بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱصۡطَبِرۡ عَلَيۡهَاۖ لَا نَسۡـَٔلُكَ رِزۡقٗاۖ نَّحۡنُ نَرۡزُقُكَۗ وَٱلۡعَٰقِبَةُ لِلتَّقۡوَىٰ ﴿١٣٢﴾

(132) او ته خپل اهل ته د لمانځه حکم کوه او ته هم په دې (لمانځه) ټينګ ولاړ اوسه، مونږ له تا نه رزق نه غواړو، مونږ تا ته رزق درکوو، او ښه انجام د پرهيزګارۍ لپاره دی

وَقَالُواْ لَوۡلَا يَأۡتِينَا بِـَٔايَةٖ مِّن رَّبِّهِۦٓۚ أَوَلَمۡ تَأۡتِهِم بَيِّنَةُ مَا فِي ٱلصُّحُفِ ٱلۡأُولَىٰ ﴿١٣٣﴾

(133) او دوی وايي: دی (محمد) د خپل رب له جانبه مونږ ته کومه نښه (معجزه) ولې نه راوړي؟ ايا دوی ته واضح دليل له هغه څه نه

دی راغلی چې په ړومبنيو صحيفو کې دي

وَلَوۡ أَنَّآ أَهۡلَكۡنَٰهُم بِعَذَابٖ مِّن قَبۡلِهِۦ لَقَالُواْ رَبَّنَا لَوۡلَآ أَرۡسَلۡتَ إِلَيۡنَا رَسُولٗا فَنَتَّبِعَ ءَايَٰتِكَ مِن قَبۡلِ أَن نَّذِلَّ وَنَخۡزَىٰ ١٣٤

(134) او که يقينًا مونږ دوی له دغه (قرآن) نه مخکې هلاك كړي وی (، نو) خامخا دوی به ويلی: ای زمونږ ربه! تا مونږ ته ولې يو رسول راونه لېږه، پس چې مونږ ستا د ايتونو پيروي کړې وی، مخکې له دې نه چې مونږ ذليله شو او رسوا شو

قُلۡ كُلّٞ مُّتَرَبِّصٞ فَتَرَبَّصُواْۖ فَسَتَعۡلَمُونَ مَنۡ أَصۡحَٰبُ ٱلصِّرَٰطِ ٱلسَّوِيِّ وَمَنِ ٱهۡتَدَىٰ ١٣٥

(135) ته (دوی ته) ووايه: هر يو انتظار كوونکی دی، نو تاسو (هم) انتظار كوئ، نو ژر ده چې تاسو به پوه شئ چې د نېغې لارې خاوندان څوك دي او څوك دی چې نېغه لار يې موندلې ده

## سُورَةُ الأَنبِيَاءِ

## سورة انبياء

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونکی دی**

ٱقۡتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمۡ وَهُمۡ فِي غَفۡلَةٖ مُّعۡرِضُونَ ١

(1) خلقو ته د هغوی (د) حساب (وخت) ډېر نژدې شو، حال دا چې دوی په غفلت کې دي، مخ گرځوونکي دي

مَا يَأۡتِيهِم مِّن ذِكۡرٖ مِّن رَّبِّهِم مُّحۡدَثٍ إِلَّا ٱسۡتَمَعُوهُ وَهُمۡ يَلۡعَبُونَ ٢

(2) دوی ته د خپل رب له جانبه هېڅ نوی نصیحت نه راځي مگر دوی هغه اوري، په داسې حال کې چې دوی لوبې (مسخرې پرې) کوي

لَاهِيَةٗ قُلُوبُهُمۡۗ وَأَسَرُّواْ ٱلنَّجۡوَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ هَلۡ هَٰذَآ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡۖ أَفَتَأۡتُونَ ٱلسِّحۡرَ وَأَنتُمۡ تُبۡصِرُونَ ٣

(3) په دې حال کې چې د دوی زړونه غافله وي، او خفیه مشوره یې پټه وساتله هغو کسانو چې ظلم یې کړی دی (او ویې ویل:) دا (محمد) نه دی مگر ستاسو په شان یو انسان دی، ایا نو تاسو جادو ته راځئ، حال دا چې تاسو گورئ

قَالَ رَبِّي يَعۡلَمُ ٱلۡقَوۡلَ فِي ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ٤

(4) (رسول دوی ته) وویل: زما رب په اسمان او ځمکه کې په هره خبره پوهېږي او هم هغه ښه اورېدونکی، ښه عالم دی

بَلۡ قَالُوٓاْ أَضۡغَٰثُ أَحۡلَٰمِۭ بَلِ ٱفۡتَرَىٰهُ بَلۡ هُوَ شَاعِرٞ فَلۡيَأۡتِنَا بِـَٔايَةٖ كَمَآ أُرۡسِلَ ٱلۡأَوَّلُونَ ٥

(5) بلکې دوی وایي:(دا قرآن) گډوډ خوبونه دي، بلکې دا یې له خپل ځانه جوړ کړی دی، بلکې دا شاعر دی، نو دا دې مونږ ته لویه نښه (معجزه) راوړي، له ځنگه چې ړومبني (پیغمبران په هغو سره) لېږل شوي وو

مَآ ءَامَنَتۡ قَبۡلَهُم مِّن قَرۡيَةٍ أَهۡلَكۡنَٰهَآۖ أَفَهُمۡ يُؤۡمِنُونَ ٦

(6) ایمان نه دی راوړی له دوی نه مخکې هېڅ یو داسې کلي، چې مونږ هغه هلاک

کړی، ايا نو دوی به ايمان راوړي؟

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا قَبۡلَكَ إِلَّا رِجَالٗا نُّوحِيٓ إِلَيۡهِمۡۖ فَسۡـَٔلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلذِّكۡرِ إِن كُنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ٧

(7) او مونږ له تا نه مخکې رسولان نه دي لېږلي مګر سړي چې مونږ به هغوی ته وحې کوله، نو تاسو د ذکر له خاوندانو (عالمانو) نه تپوس وکړئ که تاسو نه پوهېږئ

وَمَا جَعَلۡنَٰهُمۡ جَسَدٗا لَّا يَأۡكُلُونَ ٱلطَّعَامَ وَمَا كَانُواْ خَٰلِدِينَ ٨

(8) او مونږ هغه (رسولان داسې) جسدونه نه ووګرځولي چې طعام به نه خوري او هغوی تل ژوندي پاتې کېدونکي نه وو

ثُمَّ صَدَقۡنَٰهُمُ ٱلۡوَعۡدَ فَأَنجَيۡنَٰهُمۡ وَمَن نَّشَآءُ وَأَهۡلَكۡنَا ٱلۡمُسۡرِفِينَ ٩

(9) بيا مونږ له دوی سره وعده رښتيا کړه، نو مونږ دوی ته نجاتورکړ او هغه چا ته چې زمونږ اراده (د هغوی د نجات) وه او له حد نه تېرېدونکي مو هلاك کړل

لَقَدۡ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكُمۡ كِتَٰبٗا فِيهِ ذِكۡرُكُمۡۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ١٠

(10) يقينًا يقينًا مونږ تاسو ته داسې کتاب نازل کړی دی چې په هغه کې ستاسو ذکر (او عزت) دی، ايا نو تاسو عقل نه لرئ؟

وَكَمۡ قَصَمۡنَا مِن قَرۡيَةٖ كَانَتۡ ظَالِمَةٗ وَأَنشَأۡنَا بَعۡدَهَا قَوۡمًا ءَاخَرِينَ ١١

(11) او څومره ډېر کلي چې ظالم وو، مونږ مات (او ټوټې) کړي دي او له هغو نه پس مو نور خلق پیدا کړل

فَلَمَّآ أَحَسُّواْ بَأۡسَنَآ إِذَا هُم مِّنۡهَا

(12) نو کله چې به يې زمونږ عذاب محسوس

| | |
|---|---|
| يَرۡكُضُونَ ١٢ | کړ، ناځاپه به هغوی له دغو (کليو) نه (په ډېره بيړه) تښتېدل |
| لَا تَرۡكُضُواْ وَٱرۡجِعُوٓاْ إِلَىٰ مَآ أُتۡرِفۡتُمۡ فِيهِ وَمَسَٰكِنِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تُسۡـَٔلُونَ ١٣ | (13) تاسو مه تښتئ، او واپس لاړ شئ هغو (نعمتونو) ته چې تاسو ته په هغو کې خوشحالي درکړې شوي وه او خپلو کورونو ته، د دې لپاره چې له تاسو نه پوښتنه وکړې شي |
| قَالُواْ يَٰوَيۡلَنَآ إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ١٤ | (14) دوی وویل: ای زمونږ هلاکته! بېشکه همدا مونږ ظالمان وو |
| فَمَا زَالَت تِّلۡكَ دَعۡوَىٰهُمۡ حَتَّىٰ جَعَلۡنَٰهُمۡ حَصِيدًا خَٰمِدِينَ ١٥ | (15) نو تل به د دوی دغه چغه وه تر دې چې مونږ به دوی وگرځول رېبل شوي، مړه يخ پراته |
| وَمَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَآءَ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا لَٰعِبِينَ ١٦ | (16) او مونږ اسمان او ځمکه او هغه څه چې د دواړو په مینځ کې دي (داسې) نه دي پیدا کړي، چې لوبې کوونکي یو |
| لَوۡ أَرَدۡنَآ أَن نَّتَّخِذَ لَهۡوًا لَّٱتَّخَذۡنَٰهُ مِن لَّدُنَّآ إِن كُنَّا فَٰعِلِينَ ١٧ | (17) که مونږ اراده کړې وی چې څه لوبه تماشه جوړه کړو (نو) یقینًا هغه به مو له خپلې خوا نه جوړه کړې وی که مونږ (دا کار) کوونکي وی |
| بَلۡ نَقۡذِفُ بِٱلۡحَقِّ عَلَى ٱلۡبَٰطِلِ | (18) بلکې مونږ په حق سره باطل وُلو، نو دا د |

فَيَدۡمَغُهُۥ فَإِذَا هُوَ زَاهِقٞۚ وَلَكُمُ ٱلۡوَيۡلُ مِمَّا تَصِفُونَ ١٨

هغه دماغ راوباسي، نو ناڅاپه هغه ختمېدونکی وي، او تاسو ته د هغه څه په وجه هلاکت دی چې تاسو يې بيانوئ

وَلَهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَمَنۡ عِندَهُۥ لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ عَنۡ عِبَادَتِهِۦ وَلَا يَسۡتَحۡسِرُونَ ١٩

(19) او خاص د هغه لپاره دي هغه څوك چې په اسمانونو او ځمكه كې دي، او هغه څوك چې له هغه سره دي، هغوی د هغه له عبادت نه تكبر نه كوي او نه ستومانه كېږي

يُسَبِّحُونَ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ لَا يَفۡتُرُونَ ٢٠

(20) هغوی شپه او روځ تسبيح وايي، نه څه وقفه كوي

أَمِ ٱتَّخَذُوٓاْ ءَالِهَةٗ مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ هُمۡ يُنشِرُونَ ٢١

(21) ايا دوی له ځمكې نه نور معبودان نيولي دي چې هغوی ژوندي كول كوي؟

لَوۡ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَاۚ فَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلۡعَرۡشِ عَمَّا يَصِفُونَ ٢٢

(22) كه چېرې په دغو (ځمكه او اسمان) كې له الله نه پرته نور معبودان وی (نو) دواړه به خامخا وران شوي وو، نو الله د عرش مالك، پاك دی له هغو خبرو چې دوی يې بيانوي

لَا يُسۡـَٔلُ عَمَّا يَفۡعَلُ وَهُمۡ يُسۡـَٔلُونَ ٢٣

(23) له هغه نه پوښتنه نشي كېدی د هغه څه په باره كې چې هغه يې كوي او له دوی نه پوښتنه كېږي

أَمِ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةٗۖ قُلۡ

(24) ايا دوی له هغه (الله) نه پرته نور

هَاتُواْ بُرۡهَٰنَكُمۡۖ هَٰذَا ذِكۡرُ مَن مَّعِيَ وَذِكۡرُ مَن قَبۡلِيۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ٱلۡحَقَّۖ فَهُم مُّعۡرِضُونَ ٢٤

معبودان نیولي دي، ته ووايه: تاسو خپل پوخ دلیل راوړئ، دا (وحي) د هغه چا نصیحت دی چې زما سره دي او د هغه چا نصیحت دی چې له ما نه مخکې تېر شوي دي، بلکې د دوی (کافر) اکثره خلق حق نه پېژني، نو دوی مخ ګروځونکي دي

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِيٓ إِلَيۡهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدُونِ ٢٥

(25) او مونږ له تا نه مخکې هېڅ رسول نه دی لېږلی مګر چې هغه ته به مونږ(دا) وحي کوله چې بېشکه شان دا دی چې له ما نه پرته بل هېڅ حق معبود نشته، لهذا تاسو زما عبادت کوئ

وَقَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱلرَّحۡمَٰنُ وَلَدٗاۗ سُبۡحَٰنَهُۥۚ بَلۡ عِبَادٞ مُّكۡرَمُونَ ٢٦

(26) او دوی (کافر) وایي: الله (د ځان لپاره) اولاد نیولی دی، هغه (له دې نه) پاك دی، بلکې (ملایك خو) ډېر معزز بنده ګان دي

لَا يَسۡبِقُونَهُۥ بِٱلۡقَوۡلِ وَهُم بِأَمۡرِهِۦ يَعۡمَلُونَ ٢٧

(27) له هغه (الله) نه په خبره کولو کې ړومبی والی نه کوئ او دوی خاص د هغه په حکم عمل کوي

يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ وَلَا يَشۡفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ٱرۡتَضَىٰ وَهُم مِّنۡ خَشۡيَتِهِۦ مُشۡفِقُونَ ٢٨

(28) هغه ته معلوم دي څه چې د دوی په وړاندې دي او څه چې له دوی نه وروسته دي، او دوی شفاعت نشي کولی مګر د هغه چا لپاره چې هغه (الله) ترې راضي وي او

دوی خاص د هغه له هیبته وېرېدونکي دي

﴿وَمَن يَقُلْ مِنْهُمْ إِنِّىٓ إِلَـٰهٌ مِّن دُونِهِۦ فَذَٰلِكَ نَجْزِيهِ جَهَنَّمَ ۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴿٢٩﴾

(29) او په دوی کې چې څوك ووايي چې بېشکه زه له هغه (الله) نه پرته معبود يم، نو دغه دی چې مونږ ده ته (د) جهنم جزا ورکوو، همداسې مونږ ظالمانو ته جزا ورکوو

أَوَلَمْ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَنَّ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَـٰهُمَا ۖ وَجَعَلْنَا مِنَ ٱلْمَآءِ كُلَّ شَىْءٍ حَىٍّ ۖ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٠﴾

(30) ایا هغه کسان چې کافران شوي دي په دې نه دي خبر شوي چې یقینًا یقینًا اسمانونه او ځمکه دواړه سره نښتي وو، بیا مونږ دواړه بېل کړل، او مونږ له اوبو څخه هر ژوند شی پیدا کړی دی، ایا نو دوی ایمان نه راوړي؟

وَجَعَلْنَا فِى ٱلْأَرْضِ رَوَٰسِىَ أَن تَمِيدَ بِهِمْ وَجَعَلْنَا فِيهَا فِجَاجًا سُبُلًا لَّعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ ﴿٣١﴾

(31) او مونږ په ځمکه کې پاخه غرونه پیدا کړي دي چې په دوی باندې (دغه ځمکه) ونه خوځېږي او مونږ په دې کې لارې پیدا کړې دي، چې ارتې پراخه دي، د دې لپاره چې دوی لار ومومي

وَجَعَلْنَا ٱلسَّمَآءَ سَقْفًا مَّحْفُوظًا ۖ وَهُمْ عَنْ ءَايَـٰتِهَا مُعْرِضُونَ ﴿٣٢﴾

(32) او مونږ اسمان محفوظ چت جوړ کړی دی او دوی (کفار) د هغه (اسمان) له نخښونه مخ ګرځوونکي دي

وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ

(33) او دی همغه ذات دی چې شپه او ورځ او

وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ كُلّٞ فِي فَلَكٖ يَسۡبَحُونَ ٣٣

لمر او سپوږمۍ يې پيدا کړي دي، هر يو په (خپل) فلك (دايره) کې گرځي

وَمَا جَعَلۡنَا لِبَشَرٖ مِّن قَبۡلِكَ ٱلۡخُلۡدَۖ أَفَإِيْن مِّتَّ فَهُمُ ٱلۡخَٰلِدُونَ ٣٤

(34) اومونږ له تا نه مخکې هېڅ يو انسان ته تل ژوندي پاتې کېدل نه دي مقرر کړي، ايا نو که ته مړ شې، نو دوی به تل ژوندي پاتې کېدونکي وي؟

كُلُّ نَفۡسٖ ذَآئِقَةُ ٱلۡمَوۡتِۗ وَنَبۡلُوكُم بِٱلشَّرِّ وَٱلۡخَيۡرِ فِتۡنَةٗۖ وَإِلَيۡنَا تُرۡجَعُونَ ٣٥

(35) هر يو نفس د مرگ (مزه) څکونکی دی، او مونږ تاسو په شر او خير سره ازمايو، ازمايل، او تاسو به خاص مونږ ته راوستلی شئ

وَإِذَا رَءَاكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِن يَتَّخِذُونَكَ إِلَّا هُزُوًا أَهَٰذَا ٱلَّذِي يَذۡكُرُ ءَالِهَتَكُمۡ وَهُم بِذِكۡرِ ٱلرَّحۡمَٰنِ هُمۡ كَٰفِرُونَ ٣٦

(36) او کله چې تا هغه کسان ويني چې کافران شوي دي (نو) دوی تا نه نيسي مگر مسخره کړی شوی (او په خپل مينځ کې وايي:) ايا دا همغه کس دی چې ستاسو معبودان (په سپکه) يادوي؟ حال دا چې همدوی پخپله د رحمن له يادولو نه انکاري دي

خُلِقَ ٱلۡإِنسَٰنُ مِنۡ عَجَلٖۚ سَأُوْرِيكُمۡ ءَايَٰتِي فَلَا تَسۡتَعۡجِلُونِ ٣٧

(37) انسان له تلواره پيدا کړی شوی دی، ژر به تاسو ته خپلې نښې وښيم، لهذا له ما نه ژر مطالبه مه کوئ

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلۡوَعۡدُ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ۝٣٨

(38) او دوی وایي: دغه وعده به کله وي، که تاسو رښتیني یئ؟

لَوۡ يَعۡلَمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ حِينَ لَا يَكُفُّونَ عَن وُجُوهِهِمُ ٱلنَّارَ وَلَا عَن ظُهُورِهِمۡ وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ۝٣٩

(39) که کافران شوي کسان په هغه وخت کې پوه شي چې له خپلو مخونو نه به اور نشي منع کولی او نه له خپلو شاګانو او نه به د دوی مرسته کولی شي

بَلۡ تَأۡتِيهِم بَغۡتَةً فَتَبۡهَتُهُمۡ فَلَا يَسۡتَطِيعُونَ رَدَّهَا وَلَا هُمۡ يُنظَرُونَ ۝٤٠

(40) بلکې دا (قیامت) به په دوی ناڅاپه راشي، نو دوی به حیران کړي، بیا دوی د هغه د لرې کولو طاقت نه لري او نه به دوی ته مهلت ورکاوه شي

وَلَقَدِ ٱسۡتُهۡزِئَ بِرُسُلٖ مِّن قَبۡلِكَ فَحَاقَ بِٱلَّذِينَ سَخِرُواْ مِنۡهُم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ۝٤١

(41) او یقینًا یقینًا له تا نه مخکې رسولانو پورې استهزاګانې شوې دي، نو ګېر کړل هغو کسانو لره چې په دوی پورې به یې مسخرې کولې، هغه شي چې دوی به ورپورې استهزا کوله

قُلۡ مَن يَكۡلَؤُكُم بِٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ مِنَ ٱلرَّحۡمَٰنِۚ بَلۡ هُمۡ عَن ذِكۡرِ رَبِّهِم مُّعۡرِضُونَ ۝٤٢

(42) (دوی ته) ته ووایه: تاسو د رحمن (له عذاب) نه د شپې او د ورځې څوک ساتي؟ بلکې دوی دخپل رب له ذکر نه مخ ګرځوونکي دي

أَمۡ لَهُمۡ ءَالِهَةٞ تَمۡنَعُهُم مِّن دُونِنَاۚ لَا يَسۡتَطِيعُونَ نَصۡرَ أَنفُسِهِمۡ وَلَا هُم مِّنَّا يُصۡحَبُونَ ﴿٤٣﴾

(43) ایا د دوی لپاره نور معبودان شته چې زمونږ نه پرته دوی ساتي؟ هغوی د خپلو ځانونو د مرستې طاقت نه لري او نه دوی زمونږ (د عذاب) نه ساتل کېږي

بَلۡ مَتَّعۡنَا هَٰٓؤُلَآءِ وَءَابَآءَهُمۡ حَتَّىٰ طَالَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡعُمُرُۗ أَفَلَا يَرَوۡنَ أَنَّا نَأۡتِي ٱلۡأَرۡضَ نَنقُصُهَا مِنۡ أَطۡرَافِهَآۚ أَفَهُمُ ٱلۡغَٰلِبُونَ ﴿٤٤﴾

(44) بلکې مونږ دوی ته او د دوی پلرونو ته نفع ورکړه تر دې چې په دوی باندې عمر اوږد شو، ایا نو دوی نه ویني چې بېشکه مونږ ځمکې ته راځو، د هغې له غاړو نه هغه کموو، ایا نو هم دوی غالب دي؟

قُلۡ إِنَّمَآ أُنذِرُكُم بِٱلۡوَحۡيِۚ وَلَا يَسۡمَعُ ٱلصُّمُّ ٱلدُّعَآءَ إِذَا مَا يُنذَرُونَ ﴿٤٥﴾

(45) ته (دوی ته) ووایه: یقینًا زه تاسو یواځې په وحې سره وېروم او کاڼه بلنه نه اوري کله چې هغوی وېرولی شي

وَلَئِن مَّسَّتۡهُمۡ نَفۡحَةٞ مِّنۡ عَذَابِ رَبِّكَ لَيَقُولُنَّ يَٰوَيۡلَنَآ إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿٤٦﴾

(46) او که یقینًا دوی ته ستا د رب له عذاب نه لږ تپ ورسېږي، (نو) دوی به خامخا لازمًا وایي: ای زمونږ هلاکته! بېشکه هم مونږ ظالمان وو

وَنَضَعُ ٱلۡمَوَٰزِينَ ٱلۡقِسۡطَ لِيَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ فَلَا تُظۡلَمُ نَفۡسٞ شَيۡـٔٗاۖ وَإِن كَانَ مِثۡقَالَ حَبَّةٖ مِّنۡ خَرۡدَلٍ

(47) او د قیامت په ورځ به مونږ ډېر د انصاف تلې کېږدو، نو په هېڅ نفس باندې به هېڅ شی ظلم ونه کړی شي او که دا (عمل) د اوري د دانې په وزن وي مونږ به هغه راوړو او

أَتَيۡنَا بِهَاۗ وَكَفَىٰ بِنَا حَٰسِبِينَ ﴿٤٧﴾

هم مونږ حساب كوونكي بس يو

وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ٱلۡفُرۡقَانَ وَضِيَآءٗ وَذِكۡرٗا لِّلۡمُتَّقِينَ ﴿٤٨﴾

(48) او يقينًا يقينًا مونږ موسیٰ او هارون ته فرقان (حق او باطل سره بېلوونکی کتاب) او رڼا او د متقيانو لپاره ذکر (نصيحت) ورکړی و

ٱلَّذِينَ يَخۡشَوۡنَ رَبَّهُم بِٱلۡغَيۡبِ وَهُم مِّنَ ٱلسَّاعَةِ مُشۡفِقُونَ ﴿٤٩﴾

(49) هغه كسان چې له خپل رب نه خشيت (وېره) كوي بې له ليدلو او دوی د قيامت څخه وېرېدونكي دي

وَهَٰذَا ذِكۡرٞ مُّبَارَكٌ أَنزَلۡنَٰهُۚ أَفَأَنتُمۡ لَهُۥ مُنكِرُونَ ﴿٥٠﴾

(50) او دا (قرآن) مبارك نصيحت دی چې مونږ دا نازل كړی دی، ايا نو تاسو له ده نه انكار كوونكي يئ

۞وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَآ إِبۡرَٰهِيمَ رُشۡدَهُۥ مِن قَبۡلُ وَكُنَّا بِهِۦ عَٰلِمِينَ ﴿٥١﴾

(51) او يقينًا يقينًا مونږ ابراهيم ته د هغه هدايت له دې نه مخكې وركړی و او مونږ په هغه باندې پوه وو

إِذۡ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوۡمِهِۦ مَا هَٰذِهِ ٱلتَّمَاثِيلُ ٱلَّتِيٓ أَنتُمۡ لَهَا عَٰكِفُونَ ﴿٥٢﴾

(52) كله چې هغه خپل پلار او خپل قوم ته وويل: دا بتان، څه شی دی هغه چې تاسو دوی ته په عبادت تېنګ ولاړ يئ؟

قَالُواْ وَجَدۡنَآ ءَابَآءَنَا لَهَا عَٰبِدِينَ ﴿٥٣﴾

(53) هغوی وويل: مونږ خپل پلرونه دوی ته عبادت كوونكي موندلي دي

| | |
|---|---|
| قَالَ لَقَدۡ كُنتُمۡ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُمۡ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ﴿٥٤﴾ | (54) هغه وویل: یقینًا یقینًا تاسو او ستاسو پلرونه په ښکاره ګمراهۍ کې یئ |
| قَالُوٓاْ أَجِئۡتَنَا بِٱلۡحَقِّ أَمۡ أَنتَ مِنَ ٱللَّٰعِبِينَ ﴿٥٥﴾ | (55) هغوی وویل: ایا تا مونږ ته حق راوړی دی، یا ته له لوبو کوونکو څخه یې؟ |
| قَالَ بَل رَّبُّكُمۡ رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ٱلَّذِي فَطَرَهُنَّ وَأَنَا۠ عَلَىٰ ذَٰلِكُم مِّنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿٥٦﴾ | (56) هغه وویل: بلکې ستاسو رب د اسمانونو او ځمکې رب دی هغه (رب) چې دغه یې پیدا کړې دي او زه په دې باندې له ګواهانو څخه یم |
| وَتَٱللَّهِ لَأَكِيدَنَّ أَصۡنَٰمَكُم بَعۡدَ أَن تُوَلُّواْ مُدۡبِرِينَ ﴿٥٧﴾ | (57) او په الله قسم دی چې هرومرو خامخا به زه ستاسو له بتانو سره یو چال چلوم وروسته له دې چې تاسو وګرځئ شاکوونکي |
| فَجَعَلَهُمۡ جُذَٰذًا إِلَّا كَبِيرٗا لَّهُمۡ لَعَلَّهُمۡ إِلَيۡهِ يَرۡجِعُونَ ﴿٥٨﴾ | (58) نو هغه، دغه (بتان) ټوټې ټوټې کړل د هغو له لوی نه غیر (چې هغه یې پرېښود)، د دې لپاره چې هغوی همده ته رجوع وکړي |
| قَالُواْ مَن فَعَلَ هَٰذَا بِـَٔالِهَتِنَآ إِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٩﴾ | (59) دوی وویل: زمونږ له معبودانو سره دا کار چا کړی دی، بېشکه دغه کس یقینًا له ظالمانو څخه دی |
| قَالُواْ سَمِعۡنَا فَتٗى يَذۡكُرُهُمۡ يُقَالُ | (60) دوی وویل: مونږ له یو زلمي نه اورېدلي وو، چې دوی به یې (په سپکه) یادول، هغه ته |

| | |
|---|---|
| لَهُۥٓ إِبۡرَٰهِيمُ ﴿٦٠﴾ | ابراهیم ویلی شي |
| قَالُواْ فَأۡتُواْ بِهِۦ عَلَىٰٓ أَعۡيُنِ ٱلنَّاسِ لَعَلَّهُمۡ يَشۡهَدُونَ ﴿٦١﴾ | **(61)** هغوی وویل: نو هغه د خلقو د سترګو په وړاندې راولئ، د دې لپاره چې هغوی (يې ووینې او) ګواهي وکړي |
| قَالُوٓاْ ءَأَنتَ فَعَلۡتَ هَٰذَا بِـَٔالِهَتِنَا يَٰٓإِبۡرَٰهِيمُ ﴿٦٢﴾ | **(62)** ويې ویل:ای ابراهیمه! ایا تا زموږ له معبودانو سره دا کار کړی دی؟ |
| قَالَ بَلۡ فَعَلَهُۥ كَبِيرُهُمۡ هَٰذَا فَسۡـَٔلُوهُمۡ إِن كَانُواْ يَنطِقُونَ ﴿٦٣﴾ | **(63)** هغه وویل: بلکې دا کار د دوی دې مشر (لوی بت) کړی دی، نو تاسو له دوی نه پوښتنه وکړئ که دوی خبرې کوي |
| فَرَجَعُوٓاْ إِلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ فَقَالُوٓاْ إِنَّكُمۡ أَنتُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٦٤﴾ | **(64)** نو دوی خپلو نفسونو ته رجوع وکړه، بیا يې وویل: بېشکه هم تاسو ظالمان يئ |
| ثُمَّ نُكِسُواْ عَلَىٰ رُءُوسِهِمۡ لَقَدۡ عَلِمۡتَ مَا هَٰٓؤُلَآءِ يَنطِقُونَ ﴿٦٥﴾ | **(65)** بیا دوی په خپلو سرونو نسکور کړی شول (ويې ويل:) يقيناً يقيناً ته پوه يې چې دا (بتان) خبرې نشي کولی |
| قَالَ أَفَتَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكُمۡ شَيۡـٔٗا وَلَا يَضُرُّكُمۡ ﴿٦٦﴾ | **(66)** هغه وویل: ایا نو تاسو له الله نه پرته د هغه څه عبادت کوئ چې تاسو ته هېڅ نفع نشي رسولی او نه تاسو ته ضرر رسولی شي |
| أُفّٖ لَّكُمۡ وَلِمَا تَعۡبُدُونَ مِن | **(67)** اُف په تاسو او په هغو چې تاسو يې له |

دُونِ ٱللَّهِۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴿٦٧﴾

الله نه پرته عبادت كوئ، ايا نو تاسو عقل نه لرئ

قَالُواْ حَرِّقُوهُ وَٱنصُرُوٓاْ ءَالِهَتَكُمۡ إِن كُنتُمۡ فَٰعِلِينَ ﴿٦٨﴾

(68) وېې ويل:دا وسوځوئ او د خپلو معبودانو مرسته وكړئ كه چېرې تاسو (څه) كوونكي يئ

قُلۡنَا يَٰنَارُ كُونِي بَرۡدٗا وَسَلَٰمًا عَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِيمَ ﴿٦٩﴾

(69) مونږ وويل: اى اوره! يخ او سلامتيا والا شه په ابراهيم باندې

وَأَرَادُواْ بِهِۦ كَيۡدٗا فَجَعَلۡنَٰهُمُ ٱلۡأَخۡسَرِينَ ﴿٧٠﴾

(70) او دوى له هغه سره د ضررناك مكر كولو اراده كړې وه، نو مونږه هم دوى بې حده تاوانيان وګرځول

وَنَجَّيۡنَٰهُ وَلُوطًا إِلَى ٱلۡأَرۡضِ ٱلَّتِي بَٰرَكۡنَا فِيهَا لِلۡعَٰلَمِينَ ﴿٧١﴾

(71) او مونږ هغه ته او لوط ته نجات وركړ د هغې ځمكې په طرف چې مونږ په هغې كې د عالَمونو لپاره بركت اچولى دى

وَوَهَبۡنَا لَهُۥٓ إِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ نَافِلَةٗۖ وَكُلّٗا جَعَلۡنَا صَٰلِحِينَ ﴿٧٢﴾

(72) او مونږ هغه ته اسحق عطا كړ او يعقوب، زياتي، او مونږه (دغه) هر يو نېكان ګرځولي دي

وَجَعَلۡنَٰهُمۡ أَئِمَّةٗ يَهۡدُونَ بِأَمۡرِنَا وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡهِمۡ فِعۡلَ ٱلۡخَيۡرَٰتِ وَإِقَامَ ٱلصَّلَوٰةِ وَإِيتَآءَ ٱلزَّكَوٰةِۖ

(73) او مونږه هغوى داسې امامان ګرځولي وو چې زمونږ په حكم سره به يې لار ښوونه كوله او مونږ دوى ته د نېكۍ كولو او د لمونځ

| | |
|---|---|
| وَكَانُواْ لَنَا عَٰبِدِينَ ٧٣ | قایمولو او د زکات ورکولو وحي کړې وه او دوی خاص زمونږ عبادت کوونکي وو |
| وَلُوطًا ءَاتَيۡنَٰهُ حُكۡمًا وَعِلۡمًا وَنَجَّيۡنَٰهُ مِنَ ٱلۡقَرۡيَةِ ٱلَّتِي كَانَت تَّعۡمَلُ ٱلۡخَبَٰٓئِثَۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَوۡمَ سَوۡءٖ فَٰسِقِينَ ٧٤ | (74) او لوط ته، مونږ هغه ته د فیصلي کولو قوت او پوهه ورکړې وه او مونږ هغه ته له هغه کلي نه نجات ورکړی و چې ناپاکه خبیث عملونه یې کول، بېشکه هغوی د بدی خلق (او) نافرمانه وو |
| وَأَدۡخَلۡنَٰهُ فِي رَحۡمَتِنَآۖ إِنَّهُۥ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ٧٥ | (75) او مونږ هغه (لوط) په خپل رحمت کې داخل کړ، یقینًا هغه له نېکانو څخه دی |
| وَنُوحًا إِذۡ نَادَىٰ مِن قَبۡلُ فَٱسۡتَجَبۡنَا لَهُۥ فَنَجَّيۡنَٰهُ وَأَهۡلَهُۥ مِنَ ٱلۡكَرۡبِ ٱلۡعَظِيمِ ٧٦ | (76) او (یاد کړه) نوح، کله چې هغه له دې نه مخکې اواز وکړ، نو مونږ د هغه سوال قبول کړ، نو مونږ هغه ته او د هغه کورنۍ ته له ډېر لوی غم نه نجات ورکړ |
| وَنَصَرۡنَٰهُ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَوۡمَ سَوۡءٖ فَأَغۡرَقۡنَٰهُمۡ أَجۡمَعِينَ ٧٧ | (77) او مونږ د ده لپاره له هغه قوم نه انتقام واخیست چې زمونږ د ایتونو تکذیب یې کړی و، بېشکه هغوی بد خلق وو، نو مونږ دوی ټول غرق کړل |
| وَدَاوُۥدَ وَسُلَيۡمَٰنَ إِذۡ يَحۡكُمَانِ فِي ٱلۡحَرۡثِ إِذۡ نَفَشَتۡ فِيهِ غَنَمُ | (78) او (یاد کړه) داود او سلیمان، کله چې هغوی د فصل په باره کې فیصله کوله، کله چې په هغه کې د شپې د خلقو بې شپانه |

ٱلْقَوْمِ وَكُنَّا لِحُكْمِهِمْ شَٰهِدِينَ ﴿٧٨﴾

ګډې بيزې څربدلې وې او مونږ له هغوی فيصلې ته کتونکي وو

فَفَهَّمْنَٰهَا سُلَيْمَٰنَ ۚ وَكُلًّا ءَاتَيْنَا حُكْمًا وَعِلْمًا ۚ وَسَخَّرْنَا مَعَ دَاوُۥدَ ٱلْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ وَٱلطَّيْرَ ۚ وَكُنَّا فَٰعِلِينَ ﴿٧٩﴾

(79) نو مونږه سليمان ته هغه (فيصله) وښودله او مونږ (دوی) هر يو ته حکم او علم ورکړی و، او مونږ د داود سره غرونه تابع کړي وو چې تسبيح به يې ويله او مرغان (هم) او مونږ (د داسې کارونو) کوونکي وو

وَعَلَّمْنَٰهُ صَنْعَةَ لَبُوسٍ لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُم مِّنۢ بَأْسِكُمْ ۖ فَهَلْ أَنتُمْ شَٰكِرُونَ ﴿٨٠﴾

(80) او مونږ هغه ته تاسو لپاره د زغرې جوړول وښودل، د دې لپاره چې هغه (زغره) ستاسو د (دښمنانو له) جنګ نه ستاسو حفاظت وکړي، نو ايا تاسو شکر کوونکي يئ؟

وَلِسُلَيْمَٰنَ ٱلرِّيحَ عَاصِفَةً تَجْرِى بِأَمْرِهِۦٓ إِلَى ٱلْأَرْضِ ٱلَّتِى بَٰرَكْنَا فِيهَا ۚ وَكُنَّا بِكُلِّ شَىْءٍ عَٰلِمِينَ ﴿٨١﴾

(81) او (مونږ) د سليمان لپاره هوا (تابع کړې ده)، چې ډېره تېزه وه، د هغه په حکم سره به هغې ځمکې (سيمې) ته روانېده چې مونږ په هغې کې برکت اچولی دی او مونږ له ازله په هر شي باندې پوه يو

وَمِنَ ٱلشَّيَٰطِينِ مَن يَغُوصُونَ لَهُۥ وَيَعْمَلُونَ عَمَلًا دُونَ ذَٰلِكَ ۖ وَكُنَّا لَهُمْ حَٰفِظِينَ ﴿٨٢﴾

(82) او (مونږ تابع کړي وو) ځينې له شيطانانو څخه هغه چې د ده لپاره به يې غوپې وهلې او له دې نه غير نور کارونه به يې کول، او مونږ دوی لره (له وراني نه) ساتونکي

وو

۞وَأَيُّوبَ إِذۡ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّي مَسَّنِيَ ٱلضُّرُّ وَأَنتَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ٨٣

(83) او (یاد کړه) ایوب کله چې هغه خپل رب ته اواز وکړ چې یقینًا زه (چې یم) ما ته تکلیف رارسېدلی دی او ته تر ټولو زیات رحم کوونکی یې

فَٱسۡتَجَبۡنَا لَهُۥ فَكَشَفۡنَا مَا بِهِۦ مِن ضُرّٖۖ وَءَاتَيۡنَٰهُ أَهۡلَهُۥ وَمِثۡلَهُم مَّعَهُمۡ رَحۡمَةٗ مِّنۡ عِندِنَا وَذِكۡرَىٰ لِلۡعَٰبِدِينَ ٨٤

(84) نو مونږ د هغه دعا قبوله کړه، نو مونږ هغه تکلیف لرې کړ چې هغه ته و او مونږ هغه ته د هغه کورنی او له هغوی سره د هغوی په مثل عطا کړل له خپل طرف نه د رحمت په وجه او د عبادت کوونکو لپاره د نصیحت په خاطر

وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِدۡرِيسَ وَذَا ٱلۡكِفۡلِۖ كُلّٞ مِّنَ ٱلصَّٰبِرِينَ ٨٥

(85) او (یاد کړه) اسمعیل او ادریس او ذوالکفل، دغه هر یو له صبر کوونکو څخه دي

وَأَدۡخَلۡنَٰهُمۡ فِي رَحۡمَتِنَآۖ إِنَّهُم مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ٨٦

(86) او مونږ دوی په خپل رحمت کې داخل کړل، بېشکه دوی له صالحانو څخه دي

وَذَا ٱلنُّونِ إِذ ذَّهَبَ مُغَٰضِبٗا فَظَنَّ أَن لَّن نَّقۡدِرَ عَلَيۡهِ فَنَادَىٰ فِي ٱلظُّلُمَٰتِ أَن لَّآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبۡحَٰنَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ

(87) او (یاد کړه) د کب والا، کله چې هغه د غصې په حال کې لاړ، نو هغه دا خیال وکړ چې مونږ به په ده باندې له سره تنګي ونه کړو، بیا یې په تیارو کې اواز وکړ (داسې) چې نشته هیڅ لایق د عبادت مګر ته یې، ته پاك

ٱلظَّـٰلِمِينَ ٨٧

يې، بېشکه هم زه له ظالمانو څخه يم

فَٱسۡتَجَبۡنَا لَهُۥ وَنَجَّيۡنَٰهُ مِنَ ٱلۡغَمِّۚ وَكَذَٰلِكَ نُـۨجِي ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٨٨

(88) نو مونږ د هغه دعا قبوله کړه او مونږ هغه له غم نه خلاص کړ او همداسې مونږ مومنانو ته نجات ورکوو

وَزَكَرِيَّآ إِذۡ نَادَىٰ رَبَّهُۥ رَبِّ لَا تَذَرۡنِي فَرۡدٗا وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلۡوَٰرِثِينَ ٨٩

(89) او (ياد کړه) زکريا کله چې هغه خپل رب ته اواز وکړ: اى زما ربه! ما يواځې (بې اولاده) مه پرېږده او ته ترټولو غوره وارث يې

فَٱسۡتَجَبۡنَا لَهُۥ وَوَهَبۡنَا لَهُۥ يَحۡيَىٰ وَأَصۡلَحۡنَا لَهُۥ زَوۡجَهُۥٓۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡخَيۡرَٰتِ وَيَدۡعُونَنَا رَغَبٗا وَرَهَبٗاۖ وَكَانُواْ لَنَا خَٰشِعِينَ ٩٠

(90) نو مونږ د هغه دعا قبوله کړه او مونږ هغه ته يحيٰى عطا کړ او د هغه لپاره مو د هغه ښځه روغه کړه، بېشکه دوى (نبيان داسې) وو چې په نېکيو کې به يې تلوار کاوه او مونږ به يې بللو، په دې حال کې چې رغبت کوونکي او وېرېدونکي وو او دوى خاص زمونږ لپاره تواضع کوونکي وو

وَٱلَّتِيٓ أَحۡصَنَتۡ فَرۡجَهَا فَنَفَخۡنَا فِيهَا مِن رُّوحِنَا وَجَعَلۡنَٰهَا وَٱبۡنَهَآ ءَايَةٗ لِّلۡعَٰلَمِينَ ٩١

(91) او (ياده کړه) هغه (جينۍ) چې د خپل شرم ځاى حفاظت يې کړى و، نو مونږ په (ګرېوان د) هغې کې خپل ځينې روح پو کړ او مونږ هغه او د هغې زوى د خلقو لپاره لويه نښه وګرځول

إِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمۡ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ
وَأَنَا۠ رَبُّكُمۡ فَٱعۡبُدُونِ ٩٢

(92) بېشکه همدا ستاسو دين دی، چې يو دين دی او هم زه ستاسو رب يم، نو تاسو زما عبادت کوئ

وَتَقَطَّعُوٓاْ أَمۡرَهُم بَيۡنَهُمۡۖ كُلٌّ إِلَيۡنَا
رَٰجِعُونَ ٩٣

(93) او دوی خپل (د دين) کار په خپل مينځ کې ټوټې ټوټې کړ، دوی ټول خاص مونږ ته واپس راتلونکي دي

فَمَن يَعۡمَلۡ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَهُوَ
مُؤۡمِنٞ فَلَا كُفۡرَانَ لِسَعۡيِهِۦ وَإِنَّا
لَهُۥ كَٰتِبُونَ ٩٤

(94) نو هغه څوك چې د نېكۍ عملونه كوي، په دې حال كې چې مومن وي، نو د ده د كوشش لپاره هېڅ ناقدري نشته او بېشكه مونږ د دغه (كوشش) لیكونكي يو

وَحَرَٰمٌ عَلَىٰ قَرۡيَةٍ أَهۡلَكۡنَٰهَآ أَنَّهُمۡ
لَا يَرۡجِعُونَ ٩٥

(95) او حرام (ممتنع) دي په هغه كلي باندې چې مونږ هغه هلاك كړى وي ادا چې په رښتيا به دوی بېرته نه راځي

حَتَّىٰٓ إِذَا فُتِحَتۡ يَأۡجُوجُ
وَمَأۡجُوجُ وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٖ
يَنسِلُونَ ٩٦

(96) تر هغه پورې كله چې ياجوج ماجوج پرانستل شي او دوی به له هرې لوړې نه ګړندي راكوزېږي

وَٱقۡتَرَبَ ٱلۡوَعۡدُ ٱلۡحَقُّ فَإِذَا هِيَ
شَٰخِصَةٌ أَبۡصَٰرُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ
يَٰوَيۡلَنَا قَدۡ كُنَّا فِي غَفۡلَةٖ مِّنۡ

(97) او حقه وعده به ښه رانژدې شي، نو قصه ادا ده چې ناڅاپه د هغو كسانو سترګې به بوټې راوتلې پاتې وي چې كفر يې كړى دى

| | |
|---|---|
| هَٰذَا بَلۡ كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿٩٧﴾ | (او وايي به:) ای زمونږ هلاکته! يقيناً مونږ له دي نه په غفلت کې وو، بلکې مونږ ظالمان وو |
| إِنَّكُمۡ وَمَا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ أَنتُمۡ لَهَا وَٰرِدُونَ ﴿٩٨﴾ | (98) بېشکه تاسو او هغه څه چې تاسو يې له الله نه پرته عبادت کوئ؛ (ټول) د جهنم خشاك يئ، تاسو هغه ته ننوتونکي يئ |
| لَوۡ كَانَ هَٰٓؤُلَآءِ ءَالِهَةٗ مَّا وَرَدُوهَاۖ وَكُلّٞ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٩٩﴾ | (99) كه چېرې دوى (په رښتيا) معبودان وى ، نو ده ته به نه وو داخل شوي او (دا) ټول به په هغه کې تل ترتله وي |
| لَهُمۡ فِيهَا زَفِيرٞ وَهُمۡ فِيهَا لَا يَسۡمَعُونَ ﴿١٠٠﴾ | (100) په دغه (دوزخ) کې به د دوى چغې سوري وي او دوى په هغه کې (هېڅ) نه اوري |
| إِنَّ ٱلَّذِينَ سَبَقَتۡ لَهُم مِّنَّا ٱلۡحُسۡنَىٰٓ أُوْلَٰٓئِكَ عَنۡهَا مُبۡعَدُونَ ﴿١٠١﴾ | (101) بېشکه هغه کسان چې هغوى ته زمونږ له جانبه سعادت مخکې فيصله شوى دى، دغه کسان له دغه (دوزخ) نه لرې کړې شوي دي |
| لَا يَسۡمَعُونَ حَسِيسَهَاۖ وَهُمۡ فِي مَا ٱشۡتَهَتۡ أَنفُسُهُمۡ خَٰلِدُونَ ﴿١٠٢﴾ | (102) دوى به د هغه (دوزخ) اواز (هم) نه اوري او دوى به په هغو (نعمتونو) کې تل ترتله وي چې د دوى نفسونه يې غواړي |
| لَا يَحۡزُنُهُمُ ٱلۡفَزَعُ ٱلۡأَكۡبَرُ وَتَتَلَقَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ هَٰذَا | (103) دوى به هغه تر ټولو لويه وېره نه غمجن کوئ او له دوى سره به ملايك ملاقات کوي |

يَـــــوۡمُكُمُ ٱلَّذِي كُنـــــتُمۡ تُوعَدُونَ ١٠٣

(او وايي به:) دا ستاسو هغه ورځ ده چې تاسو ته به يې وعده درکولی شوه

يَـوۡمَ نَطۡـوِي ٱلسَّـمَآءَ كَطَـيِّ ٱلسِّجِلِّ لِلۡكُتُبِۚ كَمَا بَـدَأۡنَآ أَوَّلَ خَلۡقٖ نُّعِيدُهُۥۚ وَعۡدًا عَلَيۡنَآۚ إِنَّا كُنَّا فَٰعِلِينَ ١٠٤

**(104)** (یاده کړه) هغه ورځ چې مونږ به اسمان راونغاړو په شان د کاغذ د رانغاړلو په ليکنې باندې، لکه څنګه چې مونږ د اول تخليق ابتدا کړې ده، مونږ د هغه بيا اعاده کوو، دا زمونږ په ذمه وعده ده، بېشکه مونږ (دا کار) کوونکي يو

وَلَقَدۡ كَتَبۡنَا فِي ٱلزَّبُورِ مِنۢ بَعۡدِ ٱلذِّكۡرِ أَنَّ ٱلۡأَرۡضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ ٱلصَّٰلِحُونَ ١٠٥

**(105)** او يقينًا يقينًا مونږ په زبور کې له نصيحت نه پس دا ليکلي وو چې بېشکه دغه ځمکه، د دې به زما صالح (باصلاحيته) بنده ګان وارثان کېږي

إِنَّ فِي هَٰذَا لَبَلَٰغٗا لِّقَوۡمٍ عَٰبِدِينَ ١٠٦

**(106)** بېشکه په دې (بيان) کې يقينًا د عبادت کوونکو خلقو لپاره کفايت دی

وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا رَحۡمَةٗ لِّلۡعَٰلَمِينَ ١٠٧

**(107)** او مونږ ته نه يې لېږلې مګر د عالمونو لپاره رحمت

قُلۡ إِنَّمَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ فَهَلۡ أَنتُم مُّسۡلِمُونَ ١٠٨

**(108)** ووايه: بېشکه همدا خبره ده چې ما ته وحي کولی شي چې يقينًا هم دا خبره ده چې ستاسو حق معبود يو معبود دی، نو ايا

تاسو اسلام راوړونکي يئ؟

فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَقُلۡ ءَاذَنتُكُمۡ عَلَىٰ سَوَآءٍۖ وَإِنۡ أَدۡرِيٓ أَقَرِيبٌ أَم بَعِيدٞ مَّا تُوعَدُونَ ١٠٩

(109) نو كه دوى وګرځېدل، نو ته (ورته) ووايه: ما تاسو په برابرۍ سره خبر كړي يئ او زه نه پوهېږم چې ايا نژدې دى، يا كه لرې دى هغه چې تاسو سره يې وعده كولى شي

إِنَّهُۥ يَعۡلَمُ ٱلۡجَهۡرَ مِنَ ٱلۡقَوۡلِ وَيَعۡلَمُ مَا تَكۡتُمُونَ ١١٠

(110) بېشكه هغه (الله) په ښكاره خبره پوهېږي او په هغې هم چې تاسو يې پټوئ

وَإِنۡ أَدۡرِي لَعَلَّهُۥ فِتۡنَةٞ لَّكُمۡ وَمَتَٰعٌ إِلَىٰ حِينٖ ١١١

(111) او زه نه پوهېږم كېدى شي چې دا (تاخير د عذاب) تاسو لپاره يو ازمېښت وي او فايده اخيستل وي تر يو وخته پورې

قَٰلَ رَبِّ ٱحۡكُم بِٱلۡحَقِّۗ وَرَبُّنَا ٱلرَّحۡمَٰنُ ٱلۡمُسۡتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ ١١٢

(112) (رسول) وويل: اى زما ربه! په حق سره فيصله وكړه او هم زمونږ رب ډېر مهربان دى، مدد ترې غوښتل شوى په هغو خبرو چې تاسو يې بيانوئ

## سُورَةُ الحَجِّ

## سورة حج

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمۡۚ إِنَّ

(1) اى خلقو! له خپل رب نه ووېرېږئ، بېشكه

زَلۡزَلَةَ ٱلسَّاعَةِ شَيۡءٌ عَظِيمٞ ۝١

د قيامت زلزله ډېر لوى شى دى

يَوۡمَ تَرَوۡنَهَا تَذۡهَلُ كُلُّ مُرۡضِعَةٍ عَمَّآ أَرۡضَعَتۡ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمۡلٍ حَمۡلَهَا وَتَرَى ٱلنَّاسَ سُكَٰرَىٰ وَمَا هُم بِسُكَٰرَىٰ وَلَٰكِنَّ عَذَابَ ٱللَّهِ شَدِيدٞ ۝٢

(2) په هغې ورځ چې تاسو هغه ووينئ، چې هره تى ورکوونکې به غافله شي له هغه (ورِوکي) نه چې هغه ته تى ورکوي او هره حمل والا به خپل حمل وغورځوي او ته به خلقو لره نشه ويني، حال دا چې دوى به نشه نه وي او لېکن د الله عذاب به ډېر سخت وي

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِي ٱللَّهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٖ وَيَتَّبِعُ كُلَّ شَيۡطَٰنٖ مَّرِيدٖ ۝٣

(3) او په خلقو كې ځينې هغه دي چې د الله په باره كې بې له علمه جګړه كوي او د هر سركشه شيطان پيروي كوي

كُتِبَ عَلَيۡهِ أَنَّهُۥ مَن تَوَلَّاهُ فَأَنَّهُۥ يُضِلُّهُۥ وَيَهۡدِيهِ إِلَىٰ عَذَابِ ٱلسَّعِيرِ ۝٤

(4) په باره د هغه كې (په ازل كې دا) ليكل شوي دي چې ببشكه شان دا دى چې هر څوك د ده سره دوستي وكړي، نو يقينًا دا (شيطان) دغه (خپل دوست) ګمراه كوي او ده ته د لمبې وهونكي عذاب لاره ښيي

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمۡ فِي رَيۡبٖ مِّنَ ٱلۡبَعۡثِ فَإِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن تُرَابٖ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ ثُمَّ مِنۡ عَلَقَةٖ ثُمَّ مِن مُّضۡغَةٖ مُّخَلَّقَةٖ وَغَيۡرِ مُخَلَّقَةٖ لِّنُبَيِّنَ لَكُمۡۚ وَنُقِرُّ فِي

(5) اى خلقو! كه تاسو د بيا راژوندي كېدو په باره كې په شك كې يئ، نو يقينًا مونږ تاسو له خاورې نه پيدا كړي يئ، (ستاسو نيكه ادم بيا (مو د هغه اولاده پيدا كړه) له يو څاڅكي (مني) نه، بيا له پرنېويني نه، بيا له يوې

ٱلۡأَرۡحَامِ مَا نَشَآءُ إِلَىٰٓ أَجَلٖ
مُّسَمّٗى ثُمَّ نُخۡرِجُكُمۡ طِفۡلٗا ثُمَّ
لِتَبۡلُغُوٓاْ أَشُدَّكُمۡۖ وَمِنكُم مَّن
يُتَوَفَّىٰ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرۡذَلِ
ٱلۡعُمُرِ لِكَيۡلَا يَعۡلَمَ مِنۢ بَعۡدِ
عِلۡمٖ شَيۡـٔٗاۚ وَتَرَى ٱلۡأَرۡضَ هَامِدَةٗ
فَإِذَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡهَا ٱلۡمَآءَ ٱهۡتَزَّتۡ
وَرَبَتۡ وَأَنۢبَتَتۡ مِن كُلِّ زَوۡجِۭ
بَهِيجٖ ٥

غوښې بوټۍ نه چې تام الخلقت وي او ناقص الخلقت وي، د دې لپاره چې مونږ تاسو ته (خپل حکمت او قدرت) بیان کړو او مونږ په رحمونو کې ثابت پرېږدو هغه چې مونږ یې اراده وکړو تر معلومې نېټې پورې، بیا مونږ تاسو راوباسو (د میندو له خېټو نه) په داسې حال کې چې واړه بچي یئ، بیا (مونږ تاسو پالو) د دې لپاره چې تاسو خپل قوت او کمال ته ورسیږئ او په تاسو کې ځینې هغه دي چې وفات کولی شي او ځینې په تاسو کې هغه دي چې رد کولی (رسولی) شي تر ټولو ناکاره عمر پورې، د دې لپاره چې هغه له پوهېدلو نه وروسته په هېڅ شي پوه نشي او ته به ځمکه وچه شاړه وینې، نو کله چې مونږ په هغې باندې اوبه نازلې کړو (نو) ځربه او نرمه شي او له هر قسمه ښکلو (نباتاتو) نه زرغون کړي

ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ وَأَنَّهُۥ
يُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَأَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ
قَدِيرٞ ٦

(6) دا په سبب د دې چې یقینًا هم الله حق دی او دا چې یقینًا هغه مړي ژوندي کوي او دا چې ببشکه هغه په هر شي باندې قادر دی

وَأَنَّ ٱلسَّاعَةَ ءَاتِيَةٞ لَّا رَيۡبَ فِيهَا
وَأَنَّ ٱللَّهَ يَبۡعَثُ مَن فِي

(7) او دا چې یقینًا قیامت راتلونکی دی، چې په (راتلو د) هغه کې هېڅ شك نشته او دا چې

ٱلْقُبُورِ ۝٧

ببشکه الله به بیا ژوندي راپورته کوي هر هغه چې په قبرونو کې دي

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِي ٱللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَلَا هُدًى وَلَا كِتَٰبٍ مُّنِيرٍ ۝٨

(8) او په خلقو کې ځینې هغه دي چې د الله په باره کې بې له علمه او بې له هدایته او بې له روښانه کتابه جګړه کوي

ثَانِيَ عِطْفِهِۦ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ۖ لَهُۥ فِي ٱلدُّنْيَا خِزْيٌ ۖ وَنُذِيقُهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ عَذَابَ ٱلْحَرِيقِ ۝٩

(9) په داسې حال کې چې خپل ښنګ اړوي، د دې لپاره چې د الله له لارې نه (خلق) ګمراه کړي، د ده لپاره په دنیا کې رسوایي ده او مونږ به په ده د قیامت په ورځ د سوځوونکي اور عذاب وڅکوو

ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ يَدَاكَ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَيْسَ بِظَلَّٰمٍ لِّلْعَبِيدِ ۝١٠

(10) دا په سبب د هغو عملونو دي چې ستا دواړو لاسونو مخکې لېږلي دي او دا چې ببشکه الله په خپلو بنده ګانو باندې له سره ظلم کوونکی نه دی

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَعْبُدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ حَرْفٍ ۖ فَإِنْ أَصَابَهُۥ خَيْرٌ ٱطْمَأَنَّ بِهِۦ ۖ وَإِنْ أَصَابَتْهُ فِتْنَةٌ ٱنقَلَبَ عَلَىٰ وَجْهِهِۦ خَسِرَ ٱلدُّنْيَا وَٱلْآخِرَةَ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْخُسْرَانُ ٱلْمُبِينُ ۝١١

(11) او په خلقو کې ځینې هغه دي چې د الله عبادت کوي په یوې غاړه باندې، نو که ده ته خیر ورسي (نو) په دې (دین) مطمئن (او قایم) پاتې شي او که ده ته څه مصیبت (ازمېښت) ورسي ، (نو) بېرته په خپل مخ (کفر ته) وګرځي، ده (خپل) دنیا او اخرت

ضايع كړل، همدغه ښكاره تاوان دی

يَدْعُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُۥ وَمَا لَا يَنفَعُهُۥۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلضَّلَٰلُ ٱلْبَعِيدُ ١٢

(12) دی له الله نه پرته هغه څه بلي چې ده ته نه ضرر رسولی شي او نه ده ته نفع رسولی شي، همدغه ډېره لرې ګمراهي ده

يَدْعُواْ لَمَن ضَرُّهُۥٓ أَقْرَبُ مِن نَّفْعِهِۦۚ لَبِئْسَ ٱلْمَوْلَىٰ وَلَبِئْسَ ٱلْعَشِيرُ ١٣

(13) دا هغه (معبود) بلي چې يقيناً د هغه نقصان د هغه له نفع نه زيات نژدې دی، خامخا (هغه) بد دوست دی او خامخا بد ملګری دی

إِنَّ ٱللَّهَ يُدْخِلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ ١٤

(14) بېشكه الله هغه كسان چې ايمان يې راوړی دی او نېك عملونه يې كړي دي؛ داسې جنتونو ته داخلوي چې د هغو له لاندې ولې بهېږي، بېشكه الله كوي هغه چې اراده يې وكړي

مَن كَانَ يَظُنُّ أَن لَّن يَنصُرَهُ ٱللَّهُ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ إِلَى ٱلسَّمَآءِ ثُمَّ لْيَقْطَعْ فَلْيَنظُرْ هَلْ يُذْهِبَنَّ كَيْدُهُۥ مَا يَغِيظُ ١٥

(15) هر څوك چې دا ګمان كوي چې الله به په دنيا او اخرت كې د دغه (رسول) له سره مدد ونه كړي، نو هغه دې اسمان ته يوه رسۍ اوږده كړي، بيا دې (هغه) غوڅه كړي، نو ودې ګوري چې ايا په رښتيا به د ده چل (او تدبير) هغه شی ختم كړي چې دا يې په غصه كړی دی

وَكَذَٰلِكَ أَنزَلۡنَٰهُ ءَايَٰتِۭ بَيِّنَٰتٖ
وَأَنَّ ٱللَّهَ يَهۡدِي مَن يُرِيدُ ١٦

(16) او همدارنګه مونږ دا (قرآن) د څرګندو ایتونو په شکل کې نازل کړی دی او دا چې بېشکه الله هدایت کوي چا ته چې اراده وکړي

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَٱلَّذِينَ هَادُواْ
وَٱلصَّٰبِـِٔينَ وَٱلنَّصَٰرَىٰ وَٱلۡمَجُوسَ
وَٱلَّذِينَ أَشۡرَكُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ يَفۡصِلُ
بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ
كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ ١٧

(17) بېشکه هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او هغه کسان چې یهودیان شوي او صابیان او نصرانیان او مجوس دي او هغه کسان دي چې شرك یې کړی دی، بېشکه الله به د دوی په مینځ کې د قیامت په ورځ فیصله کوي، بېشکه الله په هر شي باندې ګواه دی

أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَسۡجُدُۤ لَهُۥ مَن فِي
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ
وَٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُ وَٱلنُّجُومُ
وَٱلۡجِبَالُ وَٱلشَّجَرُ وَٱلدَّوَآبُّ وَكَثِيرٞ
مِّنَ ٱلنَّاسِۖ وَكَثِيرٌ حَقَّ عَلَيۡهِ
ٱلۡعَذَابُۗ وَمَن يُهِنِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ
مِن مُّكۡرِمٍۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَفۡعَلُ مَا
يَشَآءُ۩ ١٨

(18) ایا ته نه وینې چې بېشکه الله (چې دی) ده ته سجده کوي هر هغه چې په اسمانونو کې دي او هر هغه چې په ځمکه کې دي او لمر او سپوږمۍ او ستوري او غرونه او ونې او څاروي او ډېر له خلقو ځینې او (په دوی کې) ډېر داسې دي چې په هغو باندې عذاب ثابت شوی دی او هغه څوك چې الله یې سپك کړي، نو ده ته هیڅوك عزت ورکوونکی نشته، بېشکه الله کوي هغه څه چې اراده یې وکړي

۞هَٰذَانِ خَصۡمَانِ ٱخۡتَصَمُواْ فِي
رَبِّهِمۡۖ فَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ قُطِّعَتۡ

(19) دا دوه جګړه کوونکي (ډلې) دي چې د خپل رب په باره کې یې جګړه وکړه، نو هغه

لَهُمۡ ثِيَابٞ مِّن نَّارٖ يُصَبُّ مِن فَوۡقِ رُءُوسِهِمُ ٱلۡحَمِيمُ ١٩

کسان چې کافران شوي دي د دوی د لپاره به د اور جامې پرې کړی شي، د دوی د سرونو له پاسه به ګرمې ایشېدلې اوبه اچولی شي

يُصۡهَرُ بِهِۦ مَا فِي بُطُونِهِمۡ وَٱلۡجُلُودُ ٢٠

(20) (په دغو (اوبو) سره به هغه څه (کولمې) خورنې کړی شي چې د دوی په ګېډو کې دي او څرمنې(د دوی هم)

وَلَهُم مَّقَٰمِعُ مِنۡ حَدِيدٖ ٢١

(21) او د دوی (د وهلو) لپاره د اوسپنو څټکونه دي

كُلَّمَآ أَرَادُوٓاْ أَن يَخۡرُجُواْ مِنۡهَا مِنۡ غَمٍّ أُعِيدُواْ فِيهَا وَذُوقُواْ عَذَابَ ٱلۡحَرِيقِ ٢٢

(22) هر کله چې دوی له هغه (دوزخ) نه، له غم نه د وتلو اراده وکړي (،نو) بېرته به په هغه کې ورګرځولی شي(او ورته ویلی به شي:) د سخت سوځوونکي (اور) عذاب وڅکئ

إِنَّ ٱللَّهَ يُدۡخِلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ يُحَلَّوۡنَ فِيهَا مِنۡ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٖ وَلُؤۡلُؤٗاۖ وَلِبَاسُهُمۡ فِيهَا حَرِيرٞ ٢٣

(23) بېشکه الله به هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او نېک عملونه یې کړي دي داسې جنتونه ته داخل کړي چې د هغو له لاندې ولې بهېږي، دوی ته به په هغو کې د سرو زرو باهوګان واچول شي او ملغلرې او د دوی لباس به په هغو (جنتونو) کې ورېښم وي

وَهُدُوٓاْ إِلَى ٱلطَّيِّبِ مِنَ ٱلۡقَوۡلِ

(24) او دوی ته د پاکیزه خبرې ښوونه وشوه او د ستایل شوي (الله) د لارې هدایت ورته

| | |
|---|---|
| وَهُدُوٓاْ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلۡحَمِيدِ ﴿٢٤﴾ | وشو |
| إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ ٱلَّذِي جَعَلۡنَٰهُ لِلنَّاسِ سَوَآءً ٱلۡعَٰكِفُ فِيهِ وَٱلۡبَادِۚ وَمَن يُرِدۡ فِيهِ بِإِلۡحَادِۭ بِظُلۡمٖ نُّذِقۡهُ مِنۡ عَذَابٍ أَلِيمٖ ﴿٢٥﴾ | (25) بېشكه هغه كسان چې كافران شوي دي او د الله له لارې نه اړول كوي او له مسجد حرام نه هغه چې مونږ هغه د خلقو لپاره داسې ګرځولی دی چې په ده كې اوسېدونكي او له بهره راتلونكي برابر دي، او څوك چې په ده كې په ظلم سره د الحاد (او بې لار توب) اراده وكړي (،نو) مونږ به په هغه له ډېر دردوونكي عذاب څخه (عذاب) وڅكوو |
| وَإِذۡ بَوَّأۡنَا لِإِبۡرَٰهِيمَ مَكَانَ ٱلۡبَيۡتِ أَن لَّا تُشۡرِكۡ بِي شَيۡـٔٗا وَطَهِّرۡ بَيۡتِيَ لِلطَّآئِفِينَ وَٱلۡقَآئِمِينَ وَٱلرُّكَّعِ ٱلسُّجُودِ ﴿٢٦﴾ | (26) او (یاد كړه) هغه وخت چې مونږه ابراهیم ته د بیت الله ځای ښكاره (معین) كړ چې ته له ما سره هېڅ شی مه شریكوه، او زما كور د طواف كوونكو، او قیام كوونكو او ركوع كوونكو (او) سجده كوونكو لپاره پاك كړه |
| وَأَذِّن فِي ٱلنَّاسِ بِٱلۡحَجِّ يَأۡتُوكَ رِجَالٗا وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٖ يَأۡتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٖ ﴿٢٧﴾ | (27) او ته په خلقو كې د حج اعلان وكړه دوی به تا ته پیدل راشي او په هر خوار ډنګر اوښ باندې چې دغه (اوښان) به راځي له هرې لرې ژورې لارې نه |
| لِّيَشۡهَدُواْ مَنَٰفِعَ لَهُمۡ وَيَذۡكُرُواْ ٱسۡمَ ٱللَّهِ فِيٓ أَيَّامٖ مَّعۡلُومَٰتٍ عَلَىٰ | (28) د دې لپاره چې دوی خپلو فايدو ته حاضر شي او په معلومو ورځو كې د الله نوم |

مَا رَزَقَهُم مِّنۢ بَهِيمَةِ ٱلۡأَنۡعَٰمِۖ فَكُلُواْ مِنۡهَا وَأَطۡعِمُواْ ٱلۡبَآئِسَ ٱلۡفَقِيرَ ٢٨

یاد کړي، په هغو بې ژبو څارویو باندې چې هغه (الله) دوی ته ورکړي دي، نو تاسو له هغو نه خورئ او په بد حال فقیر یې خورئ

ثُمَّ لۡيَقۡضُواْ تَفَثَهُمۡ وَلۡيُوفُواْ نُذُورَهُمۡ وَلۡيَطَّوَّفُواْ بِٱلۡبَيۡتِ ٱلۡعَتِيقِ ٢٩

(29) بیا دې دوی خپل خیري لرې کړي او خپل نذرونه دې پوره کړي او د قدیم (او عزتمن) کور طوافونه دې وکړي

ذَٰلِكَۖ وَمَن يُعَظِّمۡ حُرُمَٰتِ ٱللَّهِ فَهُوَ خَيۡرٞ لَّهُۥ عِندَ رَبِّهِۦۗ وَأُحِلَّتۡ لَكُمُ ٱلۡأَنۡعَٰمُ إِلَّا مَا يُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡۖ فَٱجۡتَنِبُواْ ٱلرِّجۡسَ مِنَ ٱلۡأَوۡثَٰنِ وَٱجۡتَنِبُواْ قَوۡلَ ٱلزُّورِ ٣٠

(30) دغه (حکم بیان شو) او څوک چې د الله د حرمتونو (احکامو) تعظیم کوي، نو دغه (کار) د ده لپاره د خپل رب په نیز ډېر غوره دی او تاسو لپاره څاروي حلال ګرځول شوي دي غیر له هغو نه چې په تاسو (یې حرمت) لوستل کېږي، نو تاسو ځان وساتئ له پلیتۍ نه چې بتان دي او تاسو د دروغو له وینا څخه ځان وساتئ

حُنَفَآءَ لِلَّهِ غَيۡرَ مُشۡرِكِينَ بِهِۦۚ وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَتَخۡطَفُهُ ٱلطَّيۡرُ أَوۡ تَهۡوِي بِهِ ٱلرِّيحُ فِي مَكَانٖ سَحِيقٖ ٣١

(31) په داسې حال کې چې الله ته په اخلاص سره غاړه اېښودونکي یئ، له ده سره شریك جوړونکي نه یئ، او هر څوك چې له الله سره شریك ونیسي، نو ګویاکې هغه له اسمان نه راوغورځېده، نو مرغان یې وتښتوي، یا یې هوا (باد) له اوچت ځای نه لرې په ژور ځای کې

وغورځوي

ذَٰلِكَۖ وَمَن يُعَظِّمۡ شَعَٰٓئِرَ ٱللَّهِ فَإِنَّهَا مِن تَقۡوَى ٱلۡقُلُوبِ ٣٢

(32) دغه (حکم بیان شو) او څوك چې د الله د نښو تعظیم وکړي، نو بېشکه دا د زړونو له تقویٰ څخه دی

لَكُمۡ فِيهَا مَنَٰفِعُ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى ثُمَّ مَحِلُّهَآ إِلَى ٱلۡبَيۡتِ ٱلۡعَتِيقِ ٣٣

(33) تاسو لپاره په دغو (څارویو) کې تر یو مقرر وخته پورې ډېرې فایدې دي، بیا د دوی حلالځای قدیم کور (بیت الله) ته دی

وَلِكُلِّ أُمَّةٖ جَعَلۡنَا مَنسَكٗا لِّيَذۡكُرُواْ ٱسۡمَ ٱللَّهِ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّنۢ بَهِيمَةِ ٱلۡأَنۡعَٰمِۗ فَإِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ فَلَهُۥٓ أَسۡلِمُواْۗ وَبَشِّرِ ٱلۡمُخۡبِتِينَ ٣٤

(34) او د هر امت لپاره مونږ یوه قرباني مقرر کړې ده، د دې لپاره چې دوی د الله نوم یاد کړي په هغو شیانو چې دوی ته هغه (الله) ورکړي دي، چې څاروي دي، نو ستاسو حق معبود یو معبود دی، نو تاسو خاص هغه ته غاړه کېږدئ او عاجزي کوونکو ته زېری ورکړه

ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَجِلَتۡ قُلُوبُهُمۡ وَٱلصَّٰبِرِينَ عَلَىٰ مَآ أَصَابَهُمۡ وَٱلۡمُقِيمِي ٱلصَّلَوٰةِ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ٣٥

(35) هغه کسان چې کله الله یاد کړی شي (نو) د دوی زړونه ووېرېږي او (زېری ورکړه) صبر کوونکو ته په هغو (سختیو) چې دوی ته رسېږي او لمونځ قایموونکو ته او هغو ته چې له هغه مال نه څه انفاق کوي چې مونږ دوی ته ورکړی دی

وَٱلۡبُدۡنَ جَعَلۡنَٰهَا لَكُم مِّن

(36) او (د هدیې) اوښان (او غوایان) مونږه

شَعَٰٓئِرِ ٱللَّهِ لَكُمۡ فِيهَا خَيۡرٞۖ فَٱذۡكُرُواْ ٱسۡمَ ٱللَّهِ عَلَيۡهَا صَوَآفَّۖ فَإِذَا وَجَبَتۡ جُنُوبُهَا فَكُلُواْ مِنۡهَا وَأَطۡعِمُواْ ٱلۡقَانِعَ وَٱلۡمُعۡتَرَّۚ كَذَٰلِكَ سَخَّرۡنَٰهَا لَكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ٣٦

هغه تاسو لپاره د الله له نښو څخه ګرځولي دي، تاسو لپاره په دغو کې خير دی، نو تاسو په دغو باندې د الله نوم يادوئ، په داسې حال کې چې ولاړ وي، نو کله چې د دوی اړخونه پرېوځي، نو له دغو نه خورئ او په صبر کوونکي او په بې صبره(سوالګري فقير) يې خورئ، همداسې تاسو لپاره مونږ دغه تابع کړي دي، د دې لپاره چې تاسو شکر وباسئ

لَن يَنَالَ ٱللَّهَ لُحُومُهَا وَلَا دِمَآؤُهَا وَلَٰكِن يَنَالُهُ ٱلتَّقۡوَىٰ مِنكُمۡۚ كَذَٰلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمۡ لِتُكَبِّرُواْ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَىٰكُمۡۗ وَبَشِّرِ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٣٧

(37) الله ته له سره نه رسېږي د دغو غوښې او نه د دغو وينې او لېکن هغه ته ستاسو تقوىٰ رسېږي، همداسې يې دغه تاسو لپاره تابع کړي دي، د دې لپاره چې تاسو د الله لويي بيان کړئ په هغې (طريقې) سره چې هغه تاسو ته ښوونه کړې ده او نېکي کوونکو ته زېری ورکړه

۞إِنَّ ٱللَّهَ يُدَٰفِعُ عَنِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٖ كَفُورٍ ٣٨

(38) بېشکه الله له هغو کسانو نه دفاع کوي چې ايمان يې راوړی دی، بېشکه الله هر ډېر خيانت ګر، لوی ناشکره نه خوښوي

أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَٰتَلُونَ بِأَنَّهُمۡ ظُلِمُواْۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ نَصۡرِهِمۡ لَقَدِيرٌ ٣٩

(39) هغو کسانو ته چې ورسره قتال کاوه شي (د قتال) اجازت ورکړی شو، ځکه چې يقيناً په دوی ظلم کړی شوی دی، او بېشکه الله د

دوی په مدد کولو خامخا قادر دی

ٱلَّذِينَ أُخۡرِجُواْ مِن دِيَٰرِهِم بِغَيۡرِ حَقٍّ إِلَّآ أَن يَقُولُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُۗ وَلَوۡلَا دَفۡعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعۡضَهُم بِبَعۡضٖ لَّهُدِّمَتۡ صَوَٰمِعُ وَبِيَعٞ وَصَلَوَٰتٞ وَمَسَٰجِدُ يُذۡكَرُ فِيهَا ٱسۡمُ ٱللَّهِ كَثِيرٗاۗ وَلَيَنصُرَنَّ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴿٤٠﴾

**(40)** هغه کسان چې له خپلو کورونو نه ناحقه ایستل شوي دي (بې له کوم سببه) مګر دا چې دوی به ویل: زمونږ رب الله دی، او که چېرې د الله دفع کول نه وی خلقو لره، ځینو لره په ځینو نورو باندې (، نو) خامخا به نړول شوې وی تکیې او مدرسې او عبادتخانې او هغه جوماتونه چې په هغو کې د الله نوم ډېر یادولی شي او الله به خامخا ضرور د هغه چا مدد وکړي چې د هغه (الله) مدد کوي، بېشکه الله خامخا ډېر زورور، غالب دی

ٱلَّذِينَ إِن مَّكَّنَّٰهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَمَرُواْ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَنَهَوۡاْ عَنِ ٱلۡمُنكَرِۗ وَلِلَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلۡأُمُورِ ﴿٤١﴾

**(41)** هغه کسان دي چې که مونږ دوی ته په ځمکه کې قدرت ورکړو (نو) دوی به لمونځ قایموي او زکات به ادا کوي او د نېکۍ حکم به کوي او له بدۍ نه به منع کوي، او خاص د الله لپاره د کارونو انجام دی

وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدۡ كَذَّبَتۡ قَبۡلَهُمۡ قَوۡمُ نُوحٖ وَعَادٞ وَثَمُودُ ﴿٤٢﴾

**(42)** او که چېرې دوی ستا تکذیب وکړي، نو یقینًا له دوی نه مخکې د نوح قوم او عادیانو او ثمودیانو تکذیب کړی دی

وَقَوۡمُ إِبۡرَٰهِيمَ وَقَوۡمُ لُوطٖ ﴿٤٣﴾

**(43)** او د ابراهیم قوم او د لوط قوم

وَأَصۡحَٰبُ مَدۡيَنَۖ وَكُذِّبَ مُوسَىٰۖ فَأَمۡلَيۡتُ لِلۡكَٰفِرِينَ ثُمَّ أَخَذۡتُهُمۡۖ فَكَيۡفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿٤٤﴾

(44) او د مدين والاو، او د موسیٰ تکذيب شوی دی، نو ما کافرانو ته مهلت ورکړ، بيا ما دوی ونيول، نو زما انکار کول څنګه وو؟

فَكَأَيِّن مِّن قَرۡيَةٍ أَهۡلَكۡنَٰهَا وَهِيَ ظَالِمَةٞ فَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا وَبِئۡرٖ مُّعَطَّلَةٖ وَقَصۡرٖ مَّشِيدٍ ﴿٤٥﴾

(45) نو څومره ډېر کلي دي چې مونږ هغه هلاك کړي دي، په داسې حال کې چې هغه ظالمان وو، نو دغه (کلي) په خپلو چتونو پراته دي، او څومره ډېر بېکاره پراته کوهيان دي او مضبوطې ماڼۍ دي

أَفَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَتَكُونَ لَهُمۡ قُلُوبٞ يَعۡقِلُونَ بِهَآ أَوۡ ءَاذَانٞ يَسۡمَعُونَ بِهَاۖ فَإِنَّهَا لَا تَعۡمَى ٱلۡأَبۡصَٰرُ وَلَٰكِن تَعۡمَى ٱلۡقُلُوبُ ٱلَّتِي فِي ٱلصُّدُورِ ﴿٤٦﴾

(46) ايا نو دوی په ځمکه کې ګرځېدلي نه دي، نو چې دوی لپاره داسې زړونه وی چې دوی په هغو سره پوهېدلی يا داسې غوږونه چې دوی په هغو سره اورېدلی، نو بېشکه قصه دا ده چې سترګې نه ړندېږي او لېکن هغه زړونه ړندېږي چې په سينو کې دي

وَيَسۡتَعۡجِلُونَكَ بِٱلۡعَذَابِ وَلَن يُخۡلِفَ ٱللَّهُ وَعۡدَهُۥۚ وَإِنَّ يَوۡمًا عِندَ رَبِّكَ كَأَلۡفِ سَنَةٖ مِّمَّا تَعُدُّونَ ﴿٤٧﴾

(47) او دوی په تا په (راوستلو د) عذاب سره تلوار کوي او الله به له سره د خپلې وعدې خلاف و نه کړي، او بېشکه يوه ورځ ستا د رب په نيز د زرو کلونو په شان ده له هغو چې تاسو يې شمېرئ

وَكَأَيِّن مِّن قَرۡيَةٍ أَمۡلَيۡتُ لَهَا وَهِيَ

(48) او ډېر کلي دي چې ما هغو ته مهلت

| | |
|---|---|
| ظَالِمَةٌ ثُمَّ أَخَذۡتُهَا وَإِلَيَّ ٱلۡمَصِيرُ ﴿٤٨﴾ | ورکړی و، حال دا چې دوی ظالمان وو، بيا ما هغه ونيول، او خاص ما ته بېرته راتله دي |
| قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّمَآ أَنَا۠ لَكُمۡ نَذِيرٞ مُّبِينٞ ﴿٤٩﴾ | (49) ته ووايه: ای خلقو! بېشکه همدا خبره ده چې زه تاسو ته ښکاره وېرووونکی يم |
| فَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ﴿٥٠﴾ | (50) نو هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او نېك عملونه يې کړي دي د دوی لپاره مغفرت او ډېر د عزت روزي ده |
| وَٱلَّذِينَ سَعَوۡاْ فِيٓ ءَايَٰتِنَا مُعَٰجِزِينَ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَحِيمِ ﴿٥١﴾ | (51) او هغه کسان چې زمونږ په ايتونو کې کوشش کوي، په داسې حال کې چې (په خپل خيال کې) عاجزه کوونکي دي، دغه کسان د دوزخ ملګري دي |
| وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رَّسُولٖ وَلَا نَبِيٍّ إِلَّآ إِذَا تَمَنَّىٰٓ أَلۡقَى ٱلشَّيۡطَٰنُ فِيٓ أُمۡنِيَّتِهِۦ فَيَنسَخُ ٱللَّهُ مَا يُلۡقِي ٱلشَّيۡطَٰنُ ثُمَّ يُحۡكِمُ ٱللَّهُ ءَايَٰتِهِۦۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ﴿٥٢﴾ | (52) او مونږ له تا نه مخکې نه دی لېږلی هېڅ يو رسول او نه نبي، مګر کله چې به هغه لوستل کول (،نو) شيطان به د هغه په لوستلو کې غورځول وکړل، نو الله هغه لرې کوي چې شيطان يې غورځوي، بيا الله خپل ايتونه مضبوطوي، او الله ښه عالم، ښه حکمت والا دی |
| لِّيَجۡعَلَ مَا يُلۡقِي ٱلشَّيۡطَٰنُ فِتۡنَةٗ | (53) د دې لپاره چې هغه (الله) هغه شی چې |

لِّلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَٱلْقَاسِيَةِ قُلُوبُهُمْۗ وَإِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ لَفِي شِقَاقِۭ بَعِيدٖ ٥٣

شيطان يې غورځوي د هغو کسانو لپاره ازمېښت وګرځوي چې د هغوی په زړونو کې مرض دی او د هغوی لپاره چې زړونه يې سخت دي او بېشکه ظالمان خامخا په ډېر لوی مخالفت کې دی

وَلِيَعْلَمَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْعِلْمَ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَيُؤْمِنُواْ بِهِۦ فَتُخْبِتَ لَهُۥ قُلُوبُهُمْۗ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهَادِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسْتَقِيمٖ ٥٤

(54) او د دې لپاره چې هغه کسان پوه شي چې دوی ته علم ورکړې شوی دی چې بېشکه دا (قرآن) حق دی ستا د رب له جانبه، پس چې دوی په ده ايمان راوړي، بيا د دوی زړونه ده ته نرم شي او بېشکه الله خامخا هغو کسانو ته چې ايمان يې راوړی دی ؛ د نېغې لارې هدايت کوونکی دی

وَلَا يَزَالُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِي مِرْيَةٖ مِّنْهُ حَتَّىٰ تَأْتِيَهُمُ ٱلسَّاعَةُ بَغْتَةً أَوْ يَأْتِيَهُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَقِيمٍ ٥٥

(55) او هغه کسان چې کافران شوي دي تل به د دغه (قرآن) په هکله به شك کې وي، تر دې چې په دوی قيامت ناڅاپه راشي، يا دوی ته د شنډې ورځې عذاب راشي

ٱلْمُلْكُ يَوْمَئِذٖ لِّلَّهِ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْۚ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فِي جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ٥٦

(56) باچاهي په دغې ورځ کې خاص د الله لپاره ده، هغه به د دوی په مينځ کې فيصله کوي نو هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او نېك عملونه يې کړي دي د نعمتونو په جنتونو کې دي

وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا فَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٞ مُّهِينٞ ٥٧

(57) او هغه کسان چې کفر يې کړى دى او زمونږ د ايتونو تکذيب يې کړى دى، نو دغه کسان چې دي، د دوى لپاره رسوا کوونکى عذاب دى

وَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ثُمَّ قُتِلُوٓاْ أَوۡ مَاتُواْ لَيَرۡزُقَنَّهُمُ ٱللَّهُ رِزۡقًا حَسَنٗاۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهُوَ خَيۡرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ٥٨

(58) او هغه کسان چې د الله په لاره کې يې هجرت کړى دى، بيا هغوى ووژل شي، يا (په خپل مرگ) مړه شي (نو) خامخا هرومرو به الله دوى ته ډېره ښکلې روزي ورکړي، او بېشکه الله خامخا همغه تر ټولو غوره رزق ورکوونکى دى

لَيُدۡخِلَنَّهُم مُّدۡخَلٗا يَرۡضَوۡنَهُۥۗ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَعَلِيمٌ حَلِيمٞ ٥٩

(59) خامخا ضرور به هغه دوى داسې ځاى ته داخل کړي چې دوى به هغه خوښوي او بېشکه الله خامخا ښه عالم، ډېر تحمل والا دى

۞ذَٰلِكَۖ وَمَنۡ عَاقَبَ بِمِثۡلِ مَا عُوقِبَ بِهِۦ ثُمَّ بُغِيَ عَلَيۡهِ لَيَنصُرَنَّهُ ٱللَّهُۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٞ ٦٠

(60) (خبره هم) دا ده، او هغه کس چې بدل يې واخيست په مثل د هغه (ضرر) چې دى په هغه سره مُعذب شوى و، بيا (په دويم ځل) په ده ظلم وکړى شو (نو) خامخا ضرور به الله د ده مدد کوي، بېشکه الله خامخا ډېر معافي کوونکى، ډېر بخښونکى دى

ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ يُولِجُ ٱلَّيۡلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيۡلِ وَأَنَّ ٱللَّهَ سَمِيعُۢ بَصِيرٞ ﴿٦١﴾

(61) دغه په دې سبب چې بېشکه الله شپه په ورځ کې ننباسي او ورځ په شپه کې ننباسي او دا چې بېشکه الله ښه اورېدونکی، ښه لیدونکی دی

ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ هُوَ ٱلۡبَٰطِلُ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡكَبِيرُ ﴿٦٢﴾

(62) دغه په دې سبب چې بېشکه الله، هم دی حق دی او دا چې بېشکه هغه چې دوی یې له هغه (الله) نه غیر بولي، همغه باطل دی او دا چې بېشکه الله، هم دی ډېر اوچت، ډېر لوی دی

أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَتُصۡبِحُ ٱلۡأَرۡضُ مُخۡضَرَّةًۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٞ ﴿٦٣﴾

(63) ایا تا نه دي لیدلي چې بېشکه الله له بره نه اوبه نازلې کړې، بیا (په دغو سره) ځمکه تکه شنه ګرځي، بېشکه الله ډېر مهربان (ښه باریك بین)، ډېر خبردار دی

لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهُوَ ٱلۡغَنِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ﴿٦٤﴾

(64) خاص هم دغه (الله) لره دي هر څه چې په اسمانونو کې دي او هر څه چې په ځمکه کې دي او بېشکه الله خامخا هم دی غني ( بې پروا) ډېر ستایل شوی دی

أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَٱلۡفُلۡكَ تَجۡرِي فِي ٱلۡبَحۡرِ بِأَمۡرِهِۦ وَيُمۡسِكُ ٱلسَّمَآءَ

(65) ایا تا نه دي لیدلي چې بېشکه الله تاسو لپاره تابع کړي دي هر هغه چې په ځمکه کې دي او بېړۍ چې په بحر کې د هغه په امر

| | |
|---|---|
| أَن تَقَعَ عَلَى ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِٱلنَّاسِ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٞ ٦٥ | ګرځي او هغه اسمان ساتي له دې نه چې په ځمکه باندې راولوېږي مګر (خو) د هغه په حکم سره، بېشکه الله په خلقو باندې خامخا ډېر نرمي کوونکی، مهربان دی |
| وَهُوَ ٱلَّذِيٓ أَحۡيَاكُمۡ ثُمَّ يُمِيتُكُمۡ ثُمَّ يُحۡيِيكُمۡۗ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَكَفُورٞ ٦٦ | (66) او دغه (الله) همغه ذات دی چې تاسو يې ژوندي کړي يئ، بیا به هغه تاسو مړه کاندي، بیا به هغه تاسو ژوندي کړي، بېشکه انسان خامخا ډېر ناشکره دی |
| لِّكُلِّ أُمَّةٖ جَعَلۡنَا مَنسَكًا هُمۡ نَاسِكُوهُۖ فَلَا يُنَٰزِعُنَّكَ فِي ٱلۡأَمۡرِۚ وَٱدۡعُ إِلَىٰ رَبِّكَۖ إِنَّكَ لَعَلَىٰ هُدٗى مُّسۡتَقِيمٖ ٦٧ | (67) د هر یو امت لپاره مونږ د بندګۍ یوه لاره مقرر کړې ده چې دوی په هغې عمل کوونکي دي، نو دوی دې له تا سره په دې کار (د دین) کې له سره جګړه ونه کړي او ته خپل رب ته (د خلقو) بلنه کوه، بېشکه ته خامخا په نېغ (او برابر) هدایت باندې یې |
| وَإِن جَٰدَلُوكَ فَقُلِ ٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا تَعۡمَلُونَ ٦٨ | (68) او که دوی له تاسره جګړه کوي، نو ته وایه: الله پوه دی په هغو عملونو چې تاسو يې کوئ |
| ٱللَّهُ يَحۡكُمُ بَيۡنَكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فِيمَا كُنتُمۡ فِيهِ تَخۡتَلِفُونَ ٦٩ | (69) الله به د دوی په مینځ کې د قیامت په ورځ په هغو خبرو کې فیصله کوي چې دوی به په کې اختلاف کاوه |

| | |
|---|---|
| أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِۚ إِنَّ ذَٰلِكَ فِي كِتَٰبٍۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ ٧٠ | (70) ایا ته نه یې پوه شوی چې بېشکه الله پوهېږي په هر هغه څه چې په اسمان او ځمکه کې دي، بېشکه دغه په یو کتاب کې دي، بېشکه دغه الله ته ډېر اسان دي |
| وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِۦ سُلْطَٰنٗا وَمَا لَيْسَ لَهُم بِهِۦ عِلْمٞۗ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِن نَّصِيرٖ ٧١ | (71) او دوی (کفار) له الله نه غیر د هغه شي عبادت کوي چې الله په (عبادت د) هغه هېڅ دلیل نه دی نازل کړی او د هغه شي چې دوی ته په هغه باندې هېڅ علم نشته، او د ظالمانو لپاره هېڅ مدد کوونکی نشته |
| وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٖ تَعْرِفُ فِي وُجُوهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلْمُنكَرَۖ يَكَادُونَ يَسْطُونَ بِٱلَّذِينَ يَتْلُونَ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتِنَاۗ قُلْ أَفَأُنَبِّئُكُم بِشَرّٖ مِّن ذَٰلِكُمُۚ ٱلنَّارُ وَعَدَهَا ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ٧٢ | (72) او کله چې دوی ته زمونږ ایتونه ولوستل شي، چې ډېر واضح دي، (نو) ته د کافران شویو کسانو په مخونو انکار پېژنې، نږدې وي چې دوی په هغو کسانو حمله وکړي چې دوی ته زمونږ ایتونه تلاوت کوي، ته (دوی ته) ووایه: ایا نو زه تاسو ته له دغه نه د ډېر بد شي خبر درکړم (هغه) اور دی، الله د ده وعده کړې ده له هغو کسانو سره چې کافران شوي دي او هغه د بېرته ورتلو بد ځای دی |
| يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٞ فَٱسْتَمِعُواْ لَهُۥٓۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدْعُونَ | (73) ای خلقو! یو مثال بیانولی شي، نو تاسو ده ته ښه غوږ کېږدئ، بېشکه هغه شیان چې |

مِن دُونِ ٱللَّهِ لَن يَخۡلُقُواْ ذُبَابٗا وَلَوِ ٱجۡتَمَعُواْ لَهُۥۖ وَإِن يَسۡلُبۡهُمُ ٱلذُّبَابُ شَيۡـٔٗا لَّا يَسۡتَنقِذُوهُ مِنۡهُۚ ضَعُفَ ٱلطَّالِبُ وَٱلۡمَطۡلُوبُ ۝٧٣

تاسو يې له الله نه غير بلئ دوی له سره يو مچ هم نشي پيدا کولی اګر که دوی ده ته ټول راجمع شي او که مچ له دوی نه يو شی وتښتوي، دوی له هغه نه دغه (شی) نشي راخلاصولی، کمزوری دی دا طالب (د غيرالله عبادت کوونکی) او دغه مطلوب (باطل معبود)

مَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدۡرِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ۝٧٤

(74) دوی د الله قدر ونه کړ، څنګه چې د هغه د قدر کولو حق دی، بېشکه الله خامخا ډېر زورور، ښه غالب دی

ٱللَّهُ يَصۡطَفِي مِنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلٗا وَمِنَ ٱلنَّاسِۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعُۢ بَصِيرٞ ۝٧٥

(75) الله له ملايکو څخه استازي غوره کوي او له خلقو څخه، بېشکه الله ښه اورېدونکی، ښه ليدونکی دی

يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ ۝٧٦

(76) هغه پوهېږي په هغه څه چې د دوی په وړاندې دي او په هغه څه چې د دوی وروسته دي، او خاص الله ته ټول کارونه بېرته ورګرځول کېږي

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱرۡكَعُواْ وَٱسۡجُدُواْۤ وَٱعۡبُدُواْ رَبَّكُمۡ وَٱفۡعَلُواْ ٱلۡخَيۡرَ لَعَلَّكُمۡ

(77) ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو رکوع کوئ او سجده کوئ او د خپل رب عبادت کوئ او نيکي کوئ، د دې

تُفۡلِحُونَ۩ ٧٧

لپاره چې تاسو کامیاب شئ

وَجَٰهِدُواْ فِي ٱللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِۦۚ
هُوَ ٱجۡتَبَىٰكُمۡ وَمَا جَعَلَ
عَلَيۡكُمۡ فِي ٱلدِّينِ مِنۡ حَرَجٖۚ
مِّلَّةَ أَبِيكُمۡ إِبۡرَٰهِيمَۚ هُوَ
سَمَّىٰكُمُ ٱلۡمُسۡلِمِينَ مِن قَبۡلُ
وَفِي هَٰذَا لِيَكُونَ ٱلرَّسُولُ شَهِيدًا
عَلَيۡكُمۡ وَتَكُونُواْ شُهَدَآءَ عَلَى
ٱلنَّاسِۚ فَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ
ٱلزَّكَوٰةَ وَٱعۡتَصِمُواْ بِٱللَّهِ هُوَ
مَوۡلَىٰكُمۡۖ فَنِعۡمَ ٱلۡمَوۡلَىٰ وَنِعۡمَ
ٱلنَّصِيرُ ٧٨

(78) او په (لاره د) الله کې کوشش کوئ، ښه چې د هغه د کوشش حق دی، هغه تاسو غوره کړي یئ او په تاسو باندې یې په دین کې هېڅ حرج (مشقت) نه دی اېښی، تاسو د خپل پلار ابراهیم د ملت تابع شئ، دغه (الله) تاسو مسلمانان نومولي یئ، له دې (قرآن) نه مخکې او په دې کې، د دې لپاره چې رسول پر تاسو باندې ګواه شي او تاسو په خلقو باندې ګواهان شئ، نو تاسو لمونځ قایموئ او زکات ادا کوئ او په (دین د) الله باندې منګولې ټینګې کلکې کړئ، هغه ستاسو مالك دی، نو هغه ښه مالك دی او ښه مدد کوونکی دی

## سُورَةُ المُؤۡمِنُونَ

## سورۀ مؤمنون

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

قَدۡ أَفۡلَحَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ١

(1) یقینًا مومنان کامیاب شول

ٱلَّذِينَ هُمۡ فِي صَلَاتِهِمۡ

(2) هغه چې هغوی په خپلو لمونځونو کې

خَٰشِعُونَ ٢

خشوع کوونکي دي

وَٱلَّذِينَ هُمۡ عَنِ ٱللَّغۡوِ مُعۡرِضُونَ ٣

**(3)** او هغه کسان چې دوی له لغو (خبرو او کارونو) نه مخ گرځوونکي دي

وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِلزَّكَوٰةِ فَٰعِلُونَ ٤

**(4)** او هغه چې هغوی د زکات ادا کوونکي دي

وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِفُرُوجِهِمۡ حَٰفِظُونَ ٥

**(5)** او هغه چې هغوی د خپلو فرجونو (د شهوت ځایونو) ساتونکي دي

إِلَّا عَلَىٰٓ أَزۡوَٰجِهِمۡ أَوۡ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُمۡ فَإِنَّهُمۡ غَيۡرُ مَلُومِينَ ٦

**(6)** مگر له خپلو ښځو او وینځو نه، نو بېشکه دوی (هغوی ته په ورتلو سره) ملامت کړی شوي نه دي

فَمَنِ ٱبۡتَغَىٰ وَرَآءَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡعَادُونَ ٧

**(7)** پس چا چې ولټولو سوا له دغو نه، نو دغه کسان، دوی له حد نه تېرېدونکي دي

وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِأَمَٰنَٰتِهِمۡ وَعَهۡدِهِمۡ رَٰعُونَ ٨

**(8)** او هغه چې هغوی د خپلو امانتونو او عهد رعایت کوونکي دي

وَٱلَّذِينَ هُمۡ عَلَىٰ صَلَوَٰتِهِمۡ يُحَافِظُونَ ٩

**(9)** او هغه چې هغوی په خپلو لمونځونو مداومت (او حفاظت) کوي

أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡوَٰرِثُونَ ١٠

**(10)** هم دغه خلق وارثان دي

ٱلَّذِينَ يَرِثُونَ ٱلۡفِرۡدَوۡسَ هُمۡ فِيهَا
خَٰلِدُونَ ١١

(11) هغه چې د فردوس وارثان کېږي به، دوی به په هغه کې همېشه وي

وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن سُلَٰلَةٖ
مِّن طِينٖ ١٢

(12) او یقینًا یقینًا مونږ انسان د ختې له خُلاصې نه پیدا کړی دی

ثُمَّ جَعَلۡنَٰهُ نُطۡفَةٗ فِي قَرَارٖ
مَّكِينٖ ١٣

(13) بیا مونږ هغه، نطفه (د مني یو څاڅکی) وګرځوله په مضبوط قرار ځای کې

ثُمَّ خَلَقۡنَا ٱلنُّطۡفَةَ عَلَقَةٗ فَخَلَقۡنَا
ٱلۡعَلَقَةَ مُضۡغَةٗ فَخَلَقۡنَا ٱلۡمُضۡغَةَ
عِظَٰمٗا فَكَسَوۡنَا ٱلۡعِظَٰمَ لَحۡمٗا ثُمَّ
أَنشَأۡنَٰهُ خَلۡقًا ءَاخَرَۚ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ
أَحۡسَنُ ٱلۡخَٰلِقِينَ ١٤

(14) بیا مونږ دغه نطفه د ويني ټوټه وګرځوله، وروسته مونږ دغه د ويني ټوټه د غوښې وړه بوټۍ وګرځوله، وروسته مونږ دغه بوټۍ هډوکي وګرځوله، بیا مو هډوکو ته غوښه واغوستله، بیا مونږ هغه په بل تخلیق کې پیدا کړ، نو الله ډېر برکت والا دی چې تر ټولو ښه پیدا کوونکی دی

ثُمَّ إِنَّكُم بَعۡدَ ذَٰلِكَ لَمَيِّتُونَ ١٥

(15) بیا بېشکه تاسو له دې (ژوند) نه بعد خامخا مړه کېدونکي یئ

ثُمَّ إِنَّكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ
تُبۡعَثُونَ ١٦

(16) بیا به یقینًا تاسو د قیامت په ورځ ژوندي راپاڅولی شئ

وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا فَوۡقَكُمۡ سَبۡعَ

(17) او یقینًا یقینًا مونږ ستاسو له پاسه اوه

طَرَآئِقَ وَمَا كُنَّا عَنِ ٱلۡخَلۡقِ غَٰفِلِينَ ١٧

لاري (اسمانونه) پيدا کړي دي او مونږ د مخلوق (له ټولو حالاتو) نه غافله نه يو

وَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءَۢ بِقَدَرٖ فَأَسۡكَنَّٰهُ فِي ٱلۡأَرۡضِۖ وَإِنَّا عَلَىٰ ذَهَابِۭ بِهِۦ لَقَٰدِرُونَ ١٨

(18) او مونږ له بره نه په اندازې سره اوبه نازلې کړې، بيا مو هغه په ځمکه کې وساتلې او بېشکه مونږ د هغې په بېولو يقيناً قادر يو

فَأَنشَأۡنَا لَكُم بِهِۦ جَنَّٰتٖ مِّن نَّخِيلٖ وَأَعۡنَٰبٖ لَّكُمۡ فِيهَا فَوَٰكِهُ كَثِيرَةٞ وَمِنۡهَا تَأۡكُلُونَ ١٩

(19) نو مونږ په دې (اوبو) سره تاسو لپاره د کجورو او انګورو باغونه پيدا کړي دي، چې تاسو ته په هغو (باغونو) کې ډېرې مېوې دي او له هم دغو (باغونو) نه تاسو خوراك كوئ

وَشَجَرَةٗ تَخۡرُجُ مِن طُورِ سَيۡنَآءَ تَنۢبُتُ بِٱلدُّهۡنِ وَصِبۡغٖ لِّلۡأٓكِلِينَ ٢٠

(20) او هغه ونه (مو پيدا کړه) چې د طور سيناء نه راوځي؟ چې د خوړونکو لپاره د غوړو او انګولي سره زرغونېږي

وَإِنَّ لَكُمۡ فِي ٱلۡأَنۡعَٰمِ لَعِبۡرَةٗۖ نُّسۡقِيكُم مِّمَّا فِي بُطُونِهَا وَلَكُمۡ فِيهَا مَنَٰفِعُ كَثِيرَةٞ وَمِنۡهَا تَأۡكُلُونَ ٢١

(21) او بېشکه تاسو لپاره په څارويو کې يقيناً لوی عبرت دی، مونږ په تاسو له هغو (پيو) نه درڅښوو چې د هغو (څارويو) په ګېډو کې دي او تاسو لپاره په دوی کې ډېرې فايدې دي او له دوی نه تاسو خوړل (هم) کوئ

وَعَلَيۡهَا وَعَلَى ٱلۡفُلۡكِ تُحۡمَلُونَ ٢٢

(22) او په دغو (څارويو) باندې او په بېړيو باندې تاسو بارولی شئ

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ فَقَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓۚ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٢٣﴾

(23) او يقينًا يقينًا مونږ نوح خپل قوم ته لېږلی و، نو هغه (ورته) وويل: ای زما قومه! تاسو د الله عبادت کوئ، تاسو لپاره له هغه نه غير بل هېڅ حق معبود نشته، ايا نو تاسو نه وېرېږئ!

فَقَالَ ٱلۡمَلَؤُاْ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦ مَا هَٰذَآ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ يُرِيدُ أَن يَتَفَضَّلَ عَلَيۡكُمۡ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَأَنزَلَ مَلَٰٓئِكَةٗ مَّا سَمِعۡنَا بِهَٰذَا فِيٓ ءَابَآئِنَا ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿٢٤﴾

(24) نو د هغه له قومه کافر شويو مشرانو وويل: نه دی دا (نوح) مگر هم ستاسو په شان بشر، دی غواړي چې پر تاسو باندي مشري (او برتري) حاصله کړي او که الله غوښتلی (نو) خامخا ملايك به يې نازل کړي وو، مونږ خو دا خبره (چې رسول بني ادم وي) زمونږ په هغو پلرونو کې نه ده اورېدلي چې پخوا وو

إِنۡ هُوَ إِلَّا رَجُلُۢ بِهِۦ جِنَّةٞ فَتَرَبَّصُواْ بِهِۦ حَتَّىٰ حِينٖ ﴿٢٥﴾

(25) نه دی دا (نوح) مگر داسې سړی چې په ده پورې لېونتوب نښتی دی، نو تاسو ده ته تر يو وخته انتظار کوئ

قَالَ رَبِّ ٱنصُرۡنِي بِمَا كَذَّبُونِ ﴿٢٦﴾

(26) هغه وويل: ای زما ربه! ته زما مدد وکړه، په سبب د دې چې دوی زما تکذيب وکړ

فَأَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡهِ أَنِ ٱصۡنَعِ ٱلۡفُلۡكَ بِأَعۡيُنِنَا وَوَحۡيِنَا فَإِذَا جَآءَ أَمۡرُنَا وَفَارَ ٱلتَّنُّورُ فَٱسۡلُكۡ فِيهَا مِن كُلّٖ

(27) نو مونږ هغه ته وحي وکړه داسې چې زمونږ د سترگو په وړاندې او زمونږ له وحې سره سم بېړۍ جوړه کړه، نو کله چې زمونږ

زَوۡجَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِ وَأَهۡلَكَ إِلَّا مَن سَبَقَ عَلَيۡهِ ٱلۡقَوۡلُ مِنۡهُمۡۖ وَلَا تُخَٰطِبۡنِي فِي ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓاْ إِنَّهُم مُّغۡرَقُونَ ﴿٢٧﴾

حکم راغی او تنور راوخوټېږده، بیا نو ته په دې (بېړۍ) کې له هر قسمه نه جوړه جوړه دوه دوه (نر او ښځه) داخل کړه او خپله کورنۍ هم (خو) له هغه چا نه غیر چې په دوی کې په هغه باندې (د عذاب) خبره ړومبۍ شوې ده او ته له ما سره د هغو کسانو په باره کې خبره مه کوه چې ظلم یې کړی دی، بېشکه دوی به غرق کولی شي

فَإِذَا ٱسۡتَوَيۡتَ أَنتَ وَمَن مَّعَكَ عَلَى ٱلۡفُلۡكِ فَقُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي نَجَّىٰنَا مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٨﴾

(28) نو کله چې وختلې ته او هغه څوك چې له تا سره دي په بېړۍ کې، نو ووایه: ټول د کمال صفتونه خاص د هغه الله لپاره دي چې مونږ یې له ظالم قوم نه خلاص کړو

وَقُل رَّبِّ أَنزِلۡنِي مُنزَلٗا مُّبَارَكٗا وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلۡمُنزِلِينَ ﴿٢٩﴾

(29) او (د کوزېدو په وخت کې) ووایه: ای زما ربه! ته ما په یو مبارك منزل (ځای) کې کوز کړه او ته تر ټولو کوزوونکو ښه ډېر غوره یې

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ وَإِن كُنَّا لَمُبۡتَلِينَ ﴿٣٠﴾

(30) بېشکه په دې کې یقینًا دلیلونه (نښې) دي او بېشکه مونږ خامخا ازمېښت کوونکي یو

ثُمَّ أَنشَأۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِمۡ قَرۡنًا ءَاخَرِينَ ﴿٣١﴾

(31) بیا مونږه له دوی نه وروسته نور خلق پیدا کړل

فَأَرۡسَلۡنَا فِيهِمۡ رَسُولٗا مِّنۡهُمۡ أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓۚ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٣٢﴾

(32) نو مونږ په هغو کې له همدوی څخه یو رسول ولېږه چې تاسو د الله عبادت کوئ، تاسو لپاره له هغه نه غیر بل هېڅ حق معبود نشته، ایا نو تاسو نه وېرېږئ!

وَقَالَ ٱلۡمَلَأُ مِن قَوۡمِهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِلِقَآءِ ٱلۡأٓخِرَةِ وَأَتۡرَفۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا مَا هَٰذَآ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ يَأۡكُلُ مِمَّا تَأۡكُلُونَ مِنۡهُ وَيَشۡرَبُ مِمَّا تَشۡرَبُونَ ﴿٣٣﴾

(33) او وویل د ده له قومه هغو مشرانو چې کافر شوي وو او د اخرت د ملاقات یې تکذیب کړی و او مونږ هغوی ته په دنیایي ژوند کې خوشحالي ورکړې وه: نه دی دا مګر ستاسو په شان بشر، له هغه څه نه دا خوراك کوي له څه نه چې تاسو خوراك کوئ او له هغه څه نه څښاك کوي چې تاسو ترې څښاك کوئ

وَلَئِنۡ أَطَعۡتُم بَشَرٗا مِّثۡلَكُمۡ إِنَّكُمۡ إِذٗا لَّخَٰسِرُونَ ﴿٣٤﴾

(34) او (قسم دی) خامخا که تاسو د خپل ځان په شان انسان اطاعت وکړئ، (نو) بېشکه چې تاسو به په دغه وخت کې یقینًا تاوانیان یئ

أَيَعِدُكُمۡ أَنَّكُمۡ إِذَا مِتُّمۡ وَكُنتُمۡ تُرَابٗا وَعِظَٰمًا أَنَّكُم مُّخۡرَجُونَ ﴿٣٥﴾

(35) ایا دا تاسو ته وعده درکوي دا چې بېشکه کله چې تاسو مړه شئ او تاسو خاورې او هډوکي شئ (،نو) یقینًا به تاسو ژوندي راوبښکل شئ؟

۞هَيۡهَاتَ هَيۡهَاتَ لِمَا

(36) (له عقله) ډېر لرې دی، ډېر لرې دی

تُوعَدُونَ ٣٦

هغه ځيز چې له تاسو سره يې وعده كولی شي

إِنۡ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنۡيَا نَمُوتُ وَنَحۡيَا وَمَا نَحۡنُ بِمَبۡعُوثِينَ ٣٧

**(37)** نه دی دا (ژوندون) مګر همدا زموږ دنيايي ژوندون، چې مرو او ژوندي كېږو او له سره به مونږ بيا راژوندي نه كړی شو

إِنۡ هُوَ إِلَّا رَجُلٌ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا وَمَا نَحۡنُ لَهُۥ بِمُؤۡمِنِينَ ٣٨

**(38)** دی نه دی مګر (يو داسې) سړی چې په الله باندې يې دروغ ورتپلي دي او مونږ په ده باندې ببخي ايمان راوړونكي نه يو

قَالَ رَبِّ ٱنصُرۡنِي بِمَا كَذَّبُونِ ٣٩

**(39)** هغه (نبي) وويل: ای زما ربه! ته زما مدد وكړه، په سبب د دې چې دوی زه دروغجن وګڼلم

قَالَ عَمَّا قَلِيلٖ لَّيُصۡبِحُنَّ نَٰدِمِينَ ٤٠

**(40)** (الله) وويل: له ډېر لږ وخت نه پس به دوی خامخا لازمًا پښېمانه شي

فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلصَّيۡحَةُ بِٱلۡحَقِّ فَجَعَلۡنَٰهُمۡ غُثَآءٗۚ فَبُعۡدٗا لِّلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ٤١

**(41)** نو دوی يوې چغې په حقه سره ونيول، بيا نو مونږه دوی د سيلاب خس وخشاك كړل، نو د ظالم قوم لپاره (د الله له رحمت نه) لرې والی دی

ثُمَّ أَنشَأۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِمۡ قُرُونًا ءَاخَرِينَ ٤٢

**(42)** بيا مونږ له دوی نه بعد نور قومونه (خلق) پيدا كړل

مَا تَسۡبِقُ مِنۡ أُمَّةٍ أَجَلَهَا وَمَا يَسۡتَـٔۡخِرُونَ ٤٣

(43) هېڅ يو امت د خپلې مقررې نېټې نه نه رومبی کېدی شي او نه وروسته کېدی شي

ثُمَّ أَرۡسَلۡنَا رُسُلَنَا تَتۡرَاۖ كُلَّ مَا جَآءَ أُمَّةً رَّسُولُهَا كَذَّبُوهُۖ فَأَتۡبَعۡنَا بَعۡضَهُم بَعۡضًا وَجَعَلۡنَٰهُمۡ أَحَادِيثَۚ فَبُعۡدًا لِّقَوۡمٍ لَّا يُؤۡمِنُونَ ٤٤

(44) بیا مونږ خپل (نور) رسولان ولېږل، په دې حال کې چې یو په بل پسې پیوست وو، هر کله چې به کوم امت ته خپل رسول راغی (نو) هغوی به د هغه تکذیب وکړ، نو مونږ به د دوی ځینې د ځینو نورو پسې (په هلاکت کې) پرله پسې کړل او مونږ دوی تشې قصې وګرځول، نو (د الله له رحمت نه) لرې والی دی د هغه قوم لپاره چې ایمان نه راوړي

ثُمَّ أَرۡسَلۡنَا مُوسَىٰ وَأَخَاهُ هَٰرُونَ بِـَٔايَٰتِنَا وَسُلۡطَٰنٍ مُّبِينٍ ٤٥

(45) بیا مونږ موسیٰ او د هغه ورور هارون ولېږل په خپلو ایتونو (معجزو) او ښکاره دلیل سره

إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِۦ فَٱسۡتَكۡبَرُواْ وَكَانُواْ قَوۡمًا عَالِينَ ٤٦

(46) فرعون او د هغه ډلې ته، نو هغوی ډېره لویي وکړه او هغوی یو متکبر قوم وو

فَقَالُوٓاْ أَنُؤۡمِنُ لِبَشَرَيۡنِ مِثۡلِنَا وَقَوۡمُهُمَا لَنَا عَٰبِدُونَ ٤٧

(47) نو هغوی ویل: ایا مونږ به د خپل ځان په شان په دوه انسانانو باندې ایمان راوړو؟ حال دا چې د دې دواړو قوم زمونږ غلامان دي

| | |
|---|---|
| فَكَذَّبُوهُمَا فَكَانُواْ مِنَ ٱلْمُهْلَكِينَ ﴿٤٨﴾ | (48) نو هغوی د دې دواړو تکذیب وکړ، نو شول له هلاك کړی شویو نه |
| وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ ﴿٤٩﴾ | (49) او يقينًا يقينًا مونږ موسٰی ته کتاب ورکړی و، د دې لپاره چې دوی (بني اسرائیل) نېغه لار ومومي |
| وَجَعَلْنَا ٱبْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُۥٓ ءَايَةً وَءَاوَيْنَٰهُمَآ إِلَىٰ رَبْوَةٍ ذَاتِ قَرَارٍ وَمَعِينٍ ﴿٥٠﴾ | (50) او مونږ د مریمې زوی او د هغه مور (د خپل قدرت) لویه نښه ګرځولې وه او مونږه دوی دواړه داسې هسکې (او نرمې خړبې) ځمکې ته راوستل چې د قرار او پاکو صافو بهېدونکو اوبو والا وه |
| يَٰٓأَيُّهَا ٱلرُّسُلُ كُلُواْ مِنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَٱعْمَلُواْ صَٰلِحًا ۖ إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴿٥١﴾ | (51) ای رسولانو! تاسو له پاکیزه خیزونو ځني خورئ او نیك عملونه کوئ، بېشکه زه په هغو کارونو چې تاسو یې کوئ، ښه عالم یم |
| وَإِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَٰحِدَةً وَأَنَا۠ رَبُّكُمْ فَٱتَّقُونِ ﴿٥٢﴾ | (52) او بېشکه دا ستاسو دین دی، په داسې حال کې چې یو دین دی او زه ستاسو رب یم، نو تاسو له ما نه وېرېږئ |
| فَتَقَطَّعُوٓاْ أَمْرَهُم بَيْنَهُمْ زُبُرًا ۖ كُلُّ حِزْبٍۭ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ ﴿٥٣﴾ | (53) نو دوی (امتیانو) خپل (د دین) کار په خپل مینځ کې ټوټې ټوټې پرې کړ، هر یو حزب (ډله) په هغه (باطل دین) باندې چې له |

دوی سره دی، ډېر خوشحال دي

فَذَرۡهُمۡ فِي غَمۡرَتِهِمۡ حَتَّىٰ حِينٍ ٥٤

(54) نو ته دوی تر یو وخته پورې په خپلې ګمراهۍ کې پرېږده

أَيَحۡسَبُونَ أَنَّمَا نُمِدُّهُم بِهِۦ مِن مَّالٖ وَبَنِينَ ٥٥

(55) ایا دوی ګمان کوي چې بېشکه له مال او زامنو څخه چې په څه سره مونږ د دوی مدد کوو

نُسَارِعُ لَهُمۡ فِي ٱلۡخَيۡرَٰتِۚ بَل لَّا يَشۡعُرُونَ ٥٦

(56) چې مونږ دوی ته په ښېګڼو (او اکرامونو) کې تلوار کوو؟ بلکې دوی نه پوهېږي

إِنَّ ٱلَّذِينَ هُم مِّنۡ خَشۡيَةِ رَبِّهِم مُّشۡفِقُونَ ٥٧

(57) بېشکه هغه کسان چې دوی د خپل رب (د عذاب) له ډاره وېرېدونکي دي

وَٱلَّذِينَ هُم بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ يُؤۡمِنُونَ ٥٨

(58) او هغه کسان چې دوی د خپل رب په ایتونو ایمان راوړي

وَٱلَّذِينَ هُم بِرَبِّهِمۡ لَا يُشۡرِكُونَ ٥٩

(59) او هغه کسان چې دوی له خپل رب سره شرك نه کوي

وَٱلَّذِينَ يُؤۡتُونَ مَآ ءَاتَواْ وَّقُلُوبُهُمۡ وَجِلَةٌ أَنَّهُمۡ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ رَٰجِعُونَ ٦٠

(60) او هغه کسان چې ورکوي، هغه څه چې ورکوي، او زړونه د دوی وېرېدونکي وي (څکه چې) یقینًا دوی خپل رب ته واپس ورتلونکي دي

| | |
|---|---|
| أُوْلَٰٓئِكَ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡخَيۡرَٰتِ وَهُمۡ لَهَا سَٰبِقُونَ ٦١ | (61) دغه کسان په نېکيو کې تلوار کوي او دوی دغو (نېکيو) ته ړومبی کېدونکي دي |
| وَلَا نُكَلِّفُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَاۚ وَلَدَيۡنَا كِتَٰبٌ يَنطِقُ بِٱلۡحَقِّ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ٦٢ | (62) مونږ هېڅ يو نفس نه مکلف کوو مګر د هغه له طاقت سره سم او زمونږ سره کتاب دی چې حق بيانوي او په دوی به هېڅ ظلم ونه کړی شي |
| بَلۡ قُلُوبُهُمۡ فِي غَمۡرَةٖ مِّنۡ هَٰذَا وَلَهُمۡ أَعۡمَٰلٞ مِّن دُونِ ذَٰلِكَ هُمۡ لَهَا عَٰمِلُونَ ٦٣ | (63) بلکې د دوی (کفارو) زړونه له دې (قرآن) نه په غفلت کې دي او د دوی لپاره له دې (شرك) نه علاوه نور (ناکاره) عملونه دي، چې دوی هغه کوونکي دي |
| حَتَّىٰٓ إِذَآ أَخَذۡنَا مُتۡرَفِيهِم بِٱلۡعَذَابِ إِذَا هُمۡ يَجۡـَٔرُونَ ٦٤ | (64) تر هغه پورې چې کله مونږ د دوی متکبره مالداران په عذاب سره ونيسو (،نو) ناڅاپه دوی (بيا) فرياد کوي |
| لَا تَجۡـَٔرُواْ ٱلۡيَوۡمَۖ إِنَّكُم مِّنَّا لَا تُنصَرُونَ ٦٥ | (65) نن ورځ فرياد مه کوئ، بېشکه تاسو سره به زمونږ له جانبه مدد ونه کړی شي |
| قَدۡ كَانَتۡ ءَايَٰتِي تُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡ فَكُنتُمۡ عَلَىٰٓ أَعۡقَٰبِكُمۡ تَنكِصُونَ ٦٦ | (66) يقيناً زما ايتونه به په تاسو تلاوت کولی شول، نو تاسو به په خپلو پوندو ببرته ګرځېدئ |

| | |
|---|---|
| مُسۡتَكۡبِرِينَ بِهِۦ سَٰمِرٗا تَهۡجُرُونَ ﴿٦٧﴾ | (67) په دې حال کې چې کبر کوونکي به وئ په دې (قرآن، محمد یا کعبې) سره، چې د شپې قصې کوونکي به وئ، تاسو به (قرآن) پرېښوده |
| أَفَلَمۡ يَدَّبَّرُواْ ٱلۡقَوۡلَ أَمۡ جَآءَهُم مَّا لَمۡ يَأۡتِ ءَابَآءَهُمُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿٦٨﴾ | (68) ایا نو دوی په دې وینا کې (چې قرآن دی) فکر نه کوي، یا دوی ته هغه څه راغلي دي چې د دوی پلرونو ته نه دي راغلي چې له دوی نه پخوا وو |
| أَمۡ لَمۡ يَعۡرِفُواْ رَسُولَهُمۡ فَهُمۡ لَهُۥ مُنكِرُونَ ﴿٦٩﴾ | (69) یا که دوی خپل رسول نه دی پېژندلی، پس دوی له ده نه منکران دي |
| أَمۡ يَقُولُونَ بِهِۦ جِنَّةُۢۚ بَلۡ جَآءَهُم بِٱلۡحَقِّ وَأَكۡثَرُهُمۡ لِلۡحَقِّ كَٰرِهُونَ ﴿٧٠﴾ | (70) ایا دوی وایي چې په ده لېونتوب دی، (داسې نه ده) بلکې هغه دوی ته حق (دین) راوړی دی او د دوی زیاتره حق لره بدګڼونکي دي |
| وَلَوِ ٱتَّبَعَ ٱلۡحَقُّ أَهۡوَآءَهُمۡ لَفَسَدَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهِنَّۚ بَلۡ أَتَيۡنَٰهُم بِذِكۡرِهِمۡ فَهُمۡ عَن ذِكۡرِهِم مُّعۡرِضُونَ ﴿٧١﴾ | (71) او که حق (الله) د دوی د خواهشاتو پیروي کړې وی (، نو) خامخا به تباه شوي وو اسمانونه او ځمکه او هغه څوك چې په دغو کې دي، بلکې مونږ دوی ته د دوی ذکر راوړ، نو دوی له خپل ذکر نه مخ اړوونکي دي |

| | |
|---|---|
| أَمۡ تَسۡـَٔلُهُمۡ خَرۡجٗا فَخَرَاجُ رَبِّكَ خَيۡرٞۖ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ٧٢ | (72) ايا ته له دوی نه مزدوري غواړې؟ نو د خپل رب مزدوري ډېره غوره ده او هغه ترټولو غوره رزق ورکوونکی دی |
| وَإِنَّكَ لَتَدۡعُوهُمۡ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ٧٣ | (73) او ببشکه ته یقینًا دوی نېغې لارې ته بلې |
| وَإِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ عَنِ ٱلصِّرَٰطِ لَنَٰكِبُونَ ٧٤ | (74) او ببشکه هغه کسان چې په اخرت ايمان نه راوړي له سمې لارې نه خامخا کاږه دي |
| ۞وَلَوۡ رَحِمۡنَٰهُمۡ وَكَشَفۡنَا مَا بِهِم مِّن ضُرّٖ لَّلَجُّواْ فِي طُغۡيَٰنِهِمۡ يَعۡمَهُونَ ٧٥ | (75) او كه مونږ په دوی مهرباني کړې وی او هغه تکليف مو لرې کړی وی چې په دوی دی (، نو) خامخا به دوی په خپله سرکشۍ کې راټينګ شوي وو، په دې حال کې چې سرګردان به وو |
| وَلَقَدۡ أَخَذۡنَٰهُم بِٱلۡعَذَابِ فَمَا ٱسۡتَكَانُواْ لِرَبِّهِمۡ وَمَا يَتَضَرَّعُونَ ٧٦ | (76) او يقينًا يقينًا مونږ دوی په عذاب سره ونيول، نو (بيا هم) دوی نه خپل رب ته غاړه کېښوده او نه يې تضرع او زاري وکړه |
| حَتَّىٰٓ إِذَا فَتَحۡنَا عَلَيۡهِم بَابٗا ذَا عَذَابٖ شَدِيدٍ إِذَا هُمۡ فِيهِ مُبۡلِسُونَ ٧٧ | (77) تر دې چې کله مونږ په دوی باندې د ډېر سخت عذاب والا دروازه پرانستله ناڅاپه دوی په هغه کې نا امېده وو |

وَهُوَ ٱلَّذِيٓ أَنشَأَ لَكُمُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَٱلۡأَفۡـِٔدَةَۚ قَلِيلٗا مَّا تَشۡكُرُونَ ٧٨

(78) او دغه (الله) هماغه ذات دی چې تاسو لپاره يې غوږونه او سترګې او زړونه پيدا کړل، تاسو ډېر لږ شکر وباسئ

وَهُوَ ٱلَّذِي ذَرَأَكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَإِلَيۡهِ تُحۡشَرُونَ ٧٩

(79) او دی هماغه ذات دی چې تاسو يې په ځمکه کې خواره کړي يئ او خاص د هغه په طرف به تاسو ورجمع کولی شئ

وَهُوَ ٱلَّذِي يُحۡيِۦ وَيُمِيتُ وَلَهُ ٱخۡتِلَٰفُ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ٨٠

(80) او د غه (الله) هغه ذات دی چې ژوندي کول کوي او مړه کول کوي او خاص د همده په اختيار کې دی د شپې او ورځې اختلاف (بدلېدل رابدلېدل) ايا نو تاسو له عقل نه کار نه اخلئ!

بَلۡ قَالُواْ مِثۡلَ مَا قَالَ ٱلۡأَوَّلُونَ ٨١

(81) بلکې وايي دوی په شان د هغې وينا چې پخوانيو (کافرو) ويلې وه

قَالُوٓاْ أَءِذَا مِتۡنَا وَكُنَّا تُرَابٗا وَعِظَٰمًا أَءِنَّا لَمَبۡعُوثُونَ ٨٢

(82) هغوی ويل: ايا کله چې مونږ مړه شو او خاورې او هډوکي شو، ايا مونږ به په رښتيا يقينًا بيا راژوندي کولی شو

لَقَدۡ وُعِدۡنَا نَحۡنُ وَءَابَآؤُنَا هَٰذَا مِن قَبۡلُ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ٨٣

(83) (بلکې نه کېږو ځکه چې) يقينًا يقينًا مونږ ته او زمونږ پلرونو ته دا وعده له دې نه مخکې (هم) راکړی شوې وه، نه دې دا خبرې

مگر د ړومبنو خلقو باطلې قصې دي

قُل لِّمَنِ ٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهَآ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٨٤

(84) ته (دوی ته) ووايه: دا ځمکه او څوك چې په دې کې دي، د چا دي؟ که چېرې تاسو پوهېږئ

سَيَقُولُونَ لِلَّهِۚ قُلۡ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ٨٥

(85) دوی به يقينًا ووايي: خاص د الله لپاره دي، (نو ورته) ووايه: ايا نو تاسو نصيحت نه اخلئ!

قُلۡ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱلسَّبۡعِ وَرَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡعَظِيمِ ٨٦

(86) ته (دوی ته) ووايه: د اوو اسمانونو او د ډېر لوی عرش رب څوك دی؟

سَيَقُولُونَ لِلَّهِۚ قُلۡ أَفَلَا تَتَّقُونَ ٨٧

(87) دوی به ضرور ووايي: د الله لپاره دي، ته (ورته) ووايه: ايا نو تاسو نه وېرېږئ!

قُلۡ مَنۢ بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيۡءٖ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيۡهِ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٨٨

(88) ته (دوی ته) ووايه: څوك دی هغه ذات چې د هغه په لاس کې د هر شي بادشاهي ده او هغه پناه ورکوي او د هغه په خلاف پناه نشي ورکول کېدی که چېرې تاسو پوهېږئ

سَيَقُولُونَ لِلَّهِۚ قُلۡ فَأَنَّىٰ تُسۡحَرُونَ ٨٩

(89) خامخا به دوی ووايي: خاص د الله لپاره دي. ته (ورته) ووايه: نو څنګه په تاسو جادو کولی شي؟

بَلۡ أَتَيۡنَٰهُم بِٱلۡحَقِّ وَإِنَّهُمۡ

(90) بلکې مونږ دوی ته حق راوړی دی او

لَكَٰذِبُونَ ٩٠

بېشکه دوی خامخا دروغجنان دي

مَا ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ مِن وَلَدٖ وَمَا كَانَ مَعَهُۥ مِنۡ إِلَٰهٍۚ إِذٗا لَّذَهَبَ كُلُّ إِلَٰهِۭ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖۚ سُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ٩١

(91) الله (د ځان لپاره) هېڅ اولاد نیولی نه دی او نه له هغه سره بل هېڅ معبود شته (او که ورسره وی نو) په دغه وخت کې به خامخا هر اله بېولي وو هغه څه چې پیدا کړي یې وو، او خامخا د دوی ځینو به په ځینو نورو باندې غلبه کوله، پاك دی الله له هغو خبرو نه چې دوی یې بیانوي

عَٰلِمِ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ فَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٩٢

(92) چې په غیبو او ښکاره و عالم دی، نو ډېر اوچت دی هغه له هغو څیزونو نه چې دوی یې ورسره شریکوي

قُل رَّبِّ إِمَّا تُرِيَنِّي مَا يُوعَدُونَ ٩٣

(93) (ای نبي!) ته ووایه: ای زما ربه! که چېرې خامخا ته ما ته هغه (عذاب) وښیې چې له دوی سره یې وعده کولی شي

رَبِّ فَلَا تَجۡعَلۡنِي فِي ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ٩٤

(94) ای زما ربه! نو ته ما په ظالم قوم کې مه شاملوه

وَإِنَّا عَلَىٰٓ أَن نُّرِيَكَ مَا نَعِدُهُمۡ لَقَٰدِرُونَ ٩٥

(95) او بېشکه مونږ خامخا قادر یو په دې چې تا ته هغه (عذاب) وښیو چې دوی ته یې مونږ وعده ورکوو

| | |
|---|---|
| ٱدۡفَعۡ بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ ٱلسَّيِّئَةَۚ نَحۡنُ أَعۡلَمُ بِمَا يَصِفُونَ ﴿٩٦﴾ | (96) (اى نبي!) ته بدي دفع (لرې) کوه په هغې طريقې سره چې تر ټولو ښه وي، مونږ ښه پوه يو په هغو خبرو چې دوى يې بيانوي |
| وَقُل رَّبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنۡ هَمَزَٰتِ ٱلشَّيَٰطِينِ ﴿٩٧﴾ | (97) او ته ووايه: اى زما ربه! زه په تا پورې پناه نيسم د شيطانانو له وسوسو نه |
| وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَن يَحۡضُرُونِ ﴿٩٨﴾ | (98) او زه په تا پورې پناه نيسم اى زما ربه! له دې نه چې دوى ما ته حاضر شي |
| حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَحَدَهُمُ ٱلۡمَوۡتُ قَالَ رَبِّ ٱرۡجِعُونِ ﴿٩٩﴾ | (99) تر هغه پورې چې په دوى کې يو کس ته مرگ راشي (، نو بيا) به وايي: اى زما ربه! ته ما بېرته وگرځوه |
| لَعَلِّيٓ أَعۡمَلُ صَٰلِحٗا فِيمَا تَرَكۡتُۚ كَلَّآۚ إِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَآئِلُهَاۖ وَمِن وَرَآئِهِم بَرۡزَخٌ إِلَىٰ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ ﴿١٠٠﴾ | (100) د دې لپاره چې زه نېك عمل وكړم په هغه خيز كې چې ما (هلته په دنيا كې) پرېښى دى، هېڅ كله هم نشي كېدى، بېشكه دا (بېرته تلل) يوه خبره ده چې دا د هغې ويونكى دى او د دوى په مخ كې برزخ دى تر هغې ورځې پورې چې دوى به بيا ژوندي راپورته كولى شي |
| فَإِذَا نُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَلَآ أَنسَابَ بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَئِذٖ وَلَا يَتَسَآءَلُونَ ﴿١٠١﴾ | (101) نوكله چې په شپېلۍ كې پوكى وكړى شي، نو نه به وي د دوى په مينځ كې هېڅ |

(فایده مند) نسبونه په دغې ورځ کې او نه به دوی له یو بل نه پوښتنه کوي

فَمَن ثَقُلَتۡ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ١٠٢

(102) نو هغه خوك چې، د هغه تلې درنې شوې، نو همدغه خلق کامیاب دي

وَمَنۡ خَفَّتۡ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ فِي جَهَنَّمَ خَٰلِدُونَ ١٠٣

(103) او هغه خوك چې، د هغه تلې سپکې شوې، نو دغه هغه کسان دي چې خپلو ځانونو ته يې تاوان رسولی دی، په دوزخ کې به تل پراته وي

تَلۡفَحُ وُجُوهَهُمُ ٱلنَّارُ وَهُمۡ فِيهَا كَٰلِحُونَ ١٠٤

(104) اور به د دوی مخونه سوځوي او دوی به په دغه (جهنم) کې بدمخي غونج تندي وي

أَلَمۡ تَكُنۡ ءَايَٰتِي تُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡ فَكُنتُم بِهَا تُكَذِّبُونَ ١٠٥

(105) ایا زما ایتونه به تاسو ته نه لوستل کېدل، نو تاسو به د هغو تکذیب کاوه

قَالُواْ رَبَّنَا غَلَبَتۡ عَلَيۡنَا شِقۡوَتُنَا وَكُنَّا قَوۡمٗا ضَآلِّينَ ١٠٦

(106) دوی به ووایي: ای زمونږ ربه! پر مونږ باندې زمونږ بدبختي غالبه شوې وه او مونږ گمراه قوم وو

رَبَّنَآ أَخۡرِجۡنَا مِنۡهَا فَإِنۡ عُدۡنَا فَإِنَّا ظَٰلِمُونَ ١٠٧

(107) ای زمونږ ربه! مونږ له دې (جهنم) نه وباسه، نو که مونږ بیا (کفر ته) راوگرځېدو، نو بیا یقینًا مونږ ظالمان یو

| | |
|---|---|
| قَالَ ٱخۡسَـُٔواْ فِيهَا وَلَا تُكَلِّمُونِ ١٠٨ | (108) وبه فرمايي: ذليله خوار پراته اوسئ په ده کې او زما سره خبرې مه کوئ |
| إِنَّهُۥ كَانَ فَرِيقٞ مِّنۡ عِبَادِي يَقُولُونَ رَبَّنَآ ءَامَنَّا فَٱغۡفِرۡ لَنَا وَٱرۡحَمۡنَا وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلرَّٰحِمِينَ ١٠٩ | (109) ببشکه شان دا دی چې زما په بنده ګانو کې يوه ډله وه چې ويل به يې: ای زمونږ ربه! مونږ ايمان راوړی دی، نو ته مونږ ته بخښنه وکړه او پر مونږ رحم وکړه او ته تر ټولو ډېر غوره رحم کوونکی يې |
| فَٱتَّخَذۡتُمُوهُمۡ سِخۡرِيًّا حَتَّىٰٓ أَنسَوۡكُمۡ ذِكۡرِي وَكُنتُم مِّنۡهُمۡ تَضۡحَكُونَ ١١٠ | (110) نو تاسو به هغوی مسخره کړی شوي نيول، تر دې چې دوی له تاسو نه زما ياد (هم) هېر کړ او تاسو به پر هغوی پورې خندل |
| إِنِّي جَزَيۡتُهُمُ ٱلۡيَوۡمَ بِمَا صَبَرُوٓاْ أَنَّهُمۡ هُمُ ٱلۡفَآئِزُونَ ١١١ | (111) ببشکه زه چې يم، ما نن ورځ هغوی ته بدله ورکړه، په سبب د هغه چې هغوی صبر کړی و، ببشکه هم هغوی کامياب دي |
| قَٰلَ كَمۡ لَبِثۡتُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ عَدَدَ سِنِينَ ١١٢ | (112) وبه وايي: تاسو په ځمکه کې د کلونو په شمېر څومره وخت تېر کړی دی؟ |
| قَالُواْ لَبِثۡنَا يَوۡمًا أَوۡ بَعۡضَ يَوۡمٖ فَسۡـَٔلِ ٱلۡعَآدِّينَ ١١٣ | (113) هغوی به ووايي: مونږ وخت تېر کړی دی يوه ورځ، يا د ورځې څه حصه، نو له حسابګرو نه تپوس وکړه |

| | |
|---|---|
| قَٰلَ إِن لَّبِثۡتُمۡ إِلَّا قَلِيلٗاۖ لَّوۡ أَنَّكُمۡ كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ١١٤ | (114) وبه فرمايي: تاسو وخت نه دى تېر کړى مگر (د اخرت د عذاب په مقابله کې) ډېر لږ، که چېرې په رښتيا تاسو يئ چې پوهېږئ |
| أَفَحَسِبۡتُمۡ أَنَّمَا خَلَقۡنَٰكُمۡ عَبَثٗا وَأَنَّكُمۡ إِلَيۡنَا لَا تُرۡجَعُونَ ١١٥ | (115) ايا نو تاسو گمان کوئ چې بېشکه مونږ تاسو بس عبث پيدا کړي يئ او دا چې بېشکه تاسو به مونږ ته نه راوستل کېږئ |
| فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ ٱلۡمَلِكُ ٱلۡحَقُّۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡكَرِيمِ ١١٦ | (116) نو ډېر اوچت دى الله چې حق بادشاه دى، نشته دى هېڅ حق معبود مگر هغه دى، د عزتناك عرش رب دى |
| وَمَن يَدۡعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ لَا بُرۡهَٰنَ لَهُۥ بِهِۦ فَإِنَّمَا حِسَابُهُۥ عِندَ رَبِّهِۦٓۚ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ١١٧ | (117) او هغه څوك چې له الله سره بل داسې اله بلي چې له هغه سره په دې باندې هېڅ دليل نشته، نو بېشکه همدا خبره ده چې د ده حساب د ده د رب په نيز دى، بېشکه شان دا دى چې کافران برى نه مومي |
| وَقُل رَّبِّ ٱغۡفِرۡ وَٱرۡحَمۡ وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلرَّٰحِمِينَ ١١٨ | (118) او ته ووايه: اى زما ربه! بخښنه وکړه او رحم وکړه او ته ترټولو ډېر غوره رحم کوونکى يې |

## سُورَةُ النُّورِ

## سورۀ نور

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

سُورَةٌ أَنزَلۡنَٰهَا وَفَرَضۡنَٰهَا وَأَنزَلۡنَا فِيهَآ ءَايَٰتِۭ بَيِّنَٰتٖ لَّعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ١

(1) (دا) يو سورت دی چې موږ دا نازل کړی دی او موږ دا فرض کړی دی او موږ په ده کې ښکاره ايتونه نازل کړي دي، د دې لپاره چې تاسو نصيحت واخلئ

ٱلزَّانِيَةُ وَٱلزَّانِي فَٱجۡلِدُواْ كُلَّ وَٰحِدٖ مِّنۡهُمَا مِاْئَةَ جَلۡدَةٖۖ وَلَا تَأۡخُذۡكُم بِهِمَا رَأۡفَةٞ فِي دِينِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۖ وَلۡيَشۡهَدۡ عَذَابَهُمَا طَآئِفَةٞ مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٢

(2) هغه ښځه چې زنا يې کړې وي او هغه سړی چې زنا يې کړې وي، نو تاسو (ای قاضيانو او حاکمانو) په دغو دواړو کې هر يو سل دُرې ووهئ او تاسو دې د الله په دين کې (په حکم نافذولو کې) په دغو باندې زړه سوی ونه نيسي، که يئ تاسو چې په الله او په ورځ د اخرت ايمان لرئ او د دې دواړو سزا ته دې د مومنانو يوه ډله حاضره وي

ٱلزَّانِي لَا يَنكِحُ إِلَّا زَانِيَةً أَوۡ مُشۡرِكَةٗ وَٱلزَّانِيَةُ لَا يَنكِحُهَآ إِلَّا زَانٍ أَوۡ مُشۡرِكٞۚ وَحُرِّمَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٣

(3) زنا کار سړی نکاح نه کوي مگر له زناکارې، يا مشرکې ښځې سره او زناکاره ښځه، له هغې سره نکاح نه کوي مگر زنا کار، يا مشرك سړی او په مومنانو باندې دغه (زنا او

د زنا کارو سره نکاح) حرام کړی شوي دي

وَٱلَّذِينَ يَرۡمُونَ ٱلۡمُحۡصَنَٰتِ ثُمَّ لَمۡ يَأۡتُواْ بِأَرۡبَعَةِ شُهَدَآءَ فَٱجۡلِدُوهُمۡ ثَمَٰنِينَ جَلۡدَةٗ وَلَا تَقۡبَلُواْ لَهُمۡ شَهَٰدَةً أَبَدٗاۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ٤

(4) او هغه کسان چې په پاکدامنو ښځو تهمت لګوي، بیا څلور ګواهان رانه ولي، نو تاسو دوی اتیا دُرې ووهئ او هیڅکله هم د دوی ګواهي مه قبلوئ او همدغه کسان فاسقان دي

إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ وَأَصۡلَحُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٥

(5) مګر هغه کسان چې له دې نه بعد توبه وباسي او (د ځان) اصلاح وکړي، نو بېشکه الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی

وَٱلَّذِينَ يَرۡمُونَ أَزۡوَٰجَهُمۡ وَلَمۡ يَكُن لَّهُمۡ شُهَدَآءُ إِلَّآ أَنفُسُهُمۡ فَشَهَٰدَةُ أَحَدِهِمۡ أَرۡبَعُ شَهَٰدَٰتِۭ بِٱللَّهِ إِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ٦

(6) او هغه کسان چې په خپلو ښځو تهمت ولګوي او له خپلو ځانونو نه غیر نور د دوی لپاره څوک ګواهان نه وي، نو د دوی د یو ګواهي څلور ځلې د الله په نامه شاهدي کول دي چې بېشکه دا خامخا له رښتینو څخه دی

وَٱلۡخَٰمِسَةُ أَنَّ لَعۡنَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡهِ إِن كَانَ مِنَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ٧

(7) او پنځمه (ګواهي) دا چې بېشکه په ده دې د الله لعنت وي که دا له دروغجنو څخه وي

وَيَدۡرَؤُاْ عَنۡهَا ٱلۡعَذَابَ أَن تَشۡهَدَ أَرۡبَعَ شَهَٰدَٰتِۭ بِٱللَّهِ إِنَّهُۥ لَمِنَ

(8) او له هغې نه سزا دفع کوي دا چې هغه (ښځه) څلور ځلې د الله په نامه شاهدي

| | |
|---|---|
| ٱلۡكَٰذِبِينَ ﴿٨﴾ | وركړي چې ببشكه دغه (سړى) خامخا له دروغجنو څخې دى |
| وَٱلۡخَٰمِسَةَ أَنَّ غَضَبَ ٱللَّهِ عَلَيۡهَآ إِن كَانَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٩﴾ | (9) او پنځمه (گواهي) دا چې ببشكه د الله غضب دي په دې وي كه دا (سړى په دې تهمت لگولو كې) له رښتيا ويونكو څخې وي |
| وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهُۥ وَأَنَّ ٱللَّهَ تَوَّابٌ حَكِيمٌ ﴿١٠﴾ | (10) او كه پر تاسو باندې د الله فضل او د هغه رحمت نه وى او دا چې ببشكه الله ډېر توبه قبلوونكى، ښه حكمت والا دى (نو تاسو به په دنيا كې معذب شوي وى) |
| إِنَّ ٱلَّذِينَ جَآءُو بِٱلۡإِفۡكِ عُصۡبَةٞ مِّنكُمۡۚ لَا تَحۡسَبُوهُ شَرّٗا لَّكُمۖ بَلۡ هُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡۚ لِكُلِّ ٱمۡرِيٕٖ مِّنۡهُم مَّا ٱكۡتَسَبَ مِنَ ٱلۡإِثۡمِۚ وَٱلَّذِي تَوَلَّىٰ كِبۡرَهُۥ مِنۡهُمۡ لَهُۥ عَذَابٌ عَظِيمٞ ﴿١١﴾ | (11) ببشكه هغه كسان چې غټ دروغ يې راوړي دي، له هم تاسو نه يوه ډله ده، په دې (دروغو) د ځان لپاره د شر گمان مه كوئ بلكې دا تاسو لپاره خير دى، په دغو (بهتان ويونكو) كې د هر يو سړي لپاره هغه شى دى چې هغه گټلى دى له گناه نه او هغه كس چې د دغو (دروغو) لوى بار يې پورته كړى دى په دوى كې د ده لپاره ډېر لوى عذاب دى |
| لَّوۡلَآ إِذۡ سَمِعۡتُمُوهُ ظَنَّ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتُ بِأَنفُسِهِمۡ خَيۡرٗا وَقَالُواْ | (12) كله چې تاسو دا (دروغ) واورېدل، نو ولې مومنو سړيو او مومنو ښځو په خپلو ځانونو باندې د خير گمان ونه كړ او دا يې ونه |

هَٰذَآ إِفۡكٞ مُّبِينٞ ﴿١٢﴾

ويل چې دا ښکاره دروغ دي

لَّوۡلَا جَآءُو عَلَيۡهِ بِأَرۡبَعَةِ شُهَدَآءَۚ فَإِذۡ لَمۡ يَأۡتُواْ بِٱلشُّهَدَآءِ فَأُوْلَٰٓئِكَ عِندَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلۡكَٰذِبُونَ ﴿١٣﴾

(13) ولې يې په دې (دروغو) باندې څلور گواهان رانه وستل، نو کله چې يې څلور گواهان رانه وستل، نو همدغه کسان د الله په نيز دروغجن دي

وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهُۥ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ لَمَسَّكُمۡ فِي مَآ أَفَضۡتُمۡ فِيهِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٤﴾

(14) او كه چېرې پر تاسو باندې د الله فضل او د هغه رحمت نه وى په دنيا او اخرت كې (، نو) خامخا به تاسو ته د هغو (دروغو) په سبب چې تاسو په هغه كې غوپه شوي وئ ؛ ډېر لوى عذاب دررسېدلى و

إِذۡ تَلَقَّوۡنَهُۥ بِأَلۡسِنَتِكُمۡ وَتَقُولُونَ بِأَفۡوَاهِكُم مَّا لَيۡسَ لَكُم بِهِۦ عِلۡمٞ وَتَحۡسَبُونَهُۥ هَيِّنٗا وَهُوَ عِندَ ٱللَّهِ عَظِيمٞ ﴿١٥﴾

(15) كله چې تاسو دا (بهتان) په خپلو ژبو سره اخيسته او تاسو به په خپلو خولو سره هغه خبرې كولې چې تاسو ته د هغې هېڅ علم نه و او تاسو به دا خبره اسانه گڼله، حال دا چې هغه د الله په نيز ډېره لويه وه

وَلَوۡلَآ إِذۡ سَمِعۡتُمُوهُ قُلۡتُم مَّا يَكُونُ لَنَآ أَن نَّتَكَلَّمَ بِهَٰذَا سُبۡحَٰنَكَ هَٰذَا بُهۡتَٰنٌ عَظِيمٞ ﴿١٦﴾

(16) او كله چې تاسو دا (بهتان) واورېده (، نو) ولې تاسو ونه ويلې: مونږ ته جايز نه دي چې په دې خبره باندې خوله وخوځوو، تا لره پاكي ده (اى ربه!) دا ډېر لوى بهتان دى

يَعِظُكُمُ ٱللَّهُ أَن تَعُودُواْ لِمِثۡلِهِۦٓ

(17) تاسو ته الله نصيحت كوي چې تاسو د

أَبَدًا إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ١٧

دي په مثل کار ته هیڅکله هم ونه ګرځئ که تاسو مومنان یئ

وَيُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلۡأٓيَٰتِۚ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ١٨

(18) او الله تاسو ته خپل ایتونه بیانوي او الله ښه پوه، ښه حکمت والا دی

إِنَّ ٱلَّذِينَ يُحِبُّونَ أَن تَشِيعَ ٱلۡفَٰحِشَةُ فِي ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ وَأَنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ١٩

(19) بیشکه هغه کسان چې خوښوي چې په مومنانو کې فاحشه (بدنامي) خوره شي، د دوی لپاره په دنیا او اخرت کې ډېر دردوونکی عذاب دی، او الله پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ

وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهُۥ وَأَنَّ ٱللَّهَ رَءُوفٞ رَّحِيمٞ ٢٠

(20) او که پر تاسو باندې د الله فضل او د هغه رحمت نه وی او دا چې بیشکه الله ډېر نرمي کوونکی، بې حده رحم کوونکی دی (نو په دنیا کې به ډېر رسوا شوي وی)

۞يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ وَمَن يَتَّبِعۡ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِ فَإِنَّهُۥ يَأۡمُرُ بِٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِۚ وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهُۥ مَا زَكَىٰ مِنكُم مِّنۡ أَحَدٍ أَبَدٗا وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يُزَكِّي مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ

(21) ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو د شیطان د قدمونو پیروي مه کوئ او چا چې د شیطان د قدمونو پیروي وکړه، نو بیشکه دا (شیطان) د بې حیایۍ او ناروا کارونو امر کوي او که پر تاسو باندې د الله فضل او د هغه رحمت نه وی (نو) په تاسو کې هیڅوك هیڅکله هم ( د بهتان له ګناه نه) پاك شوی نه وی او لیکن الله پاکوي چا لره

عَلِيمٌ ﴿٢١﴾

چې وغواړي او الله ښه اوريدونكى، ښه عالم دى

وَلَا يَأْتَلِ أُوْلُواْ ٱلْفَضْلِ مِنكُمْ وَٱلسَّعَةِ أَن يُؤْتُوٓاْ أُوْلِي ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينَ وَٱلْمُهَٰجِرِينَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۖ وَلْيَعْفُواْ وَلْيَصْفَحُوٓاْۗ أَلَا تُحِبُّونَ أَن يَغْفِرَ ٱللَّهُ لَكُمْۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٢﴾

(22) او په تاسو كې دې د فضيلت او فراخۍ خاوندان له دې قسم نه خوري چې نه به وركوي (نفقه) خپلوانو او مسكينانو او د الله په لار كې هجرت كوونكو ته او دوى دې معافي وكړي او تېر دې شي، ايا تاسو دا نه خوښوئ چې الله تاسو ته بخښنه وكړي او الله ښه بخښونكى، بې حده رحم كوونكى دى

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَرْمُونَ ٱلْمُحْصَنَٰتِ ٱلْغَٰفِلَٰتِ ٱلْمُؤْمِنَٰتِ لُعِنُواْ فِي ٱلدُّنْيَا وَٱلْأٓخِرَةِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٢٣﴾

(23) بېشكه هغه كسان چې په پاك لمنو، ناخبره مومنو ښځو باندې تهمت لګوي په دوى باندې په دنيا او اخرت كې لعنت كړى شوى دى او د دوى لپاره لوى عذاب دى

يَوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ أَلْسِنَتُهُمْ وَأَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم بِمَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ﴿٢٤﴾

(24) په هغې ورځ چې په دوى باندې به خپلې ژبې او خپل لاسونه او خپلې پښې ګواهي كوي (د دوى) په هغو عملونو چې دوى به كول

يَوْمَئِذٍ يُوَفِّيهِمُ ٱللَّهُ دِينَهُمُ ٱلْحَقَّ وَيَعْلَمُونَ أَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْحَقُّ

(25) په دغې ورځ كې به الله دوى ته د دوى حقه (لايقه) بدله پوره وركړي او دوى به پوه شي چې بېشكه الله، هم هغه ښكاره ( او

ٱلْمُبِينُ ﴿٢٥﴾

ثابت) حق دی

ٱلْخَبِيثَٰتُ لِلْخَبِيثِينَ وَٱلْخَبِيثُونَ لِلْخَبِيثَٰتِ ۖ وَٱلطَّيِّبَٰتُ لِلطَّيِّبِينَ وَٱلطَّيِّبُونَ لِلطَّيِّبَٰتِ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ مُبَرَّءُونَ مِمَّا يَقُولُونَ ۖ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴿٢٦﴾

(26) ناپاکې ښځې د ناپاکو سړیو لپاره دي او ناپاك سړي د ناپاکو ښځو لپاره دي او پاکې ښځې د پاکو سړیو لپاره دي او پاك سړي د پاکو ښځو لپاره دي، دغه (پاکان خلق) پاك او بري دي له هغو خبرو نه چې دوی (دروغجن) یې وایي او د دغو (پاکو خلقو) لپاره مغفرت او عزتناکه روزي ده

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَدْخُلُوا۟ بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّىٰ تَسْتَأْنِسُوا۟ وَتُسَلِّمُوا۟ عَلَىٰٓ أَهْلِهَا ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿٢٧﴾

(27) ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی تاسو له خپلو کورونو نه غیر نورو کورونو ته مه داخلیږئ، تر دې چې تاسو اجازه وغواړئ او د هغو په اوسېدونکو سلام واچوئ، دا تاسو لپاره ډېر غوره دي، د دې لپاره چې تاسو نصیحت ومنئ

فَإِن لَّمْ تَجِدُوا۟ فِيهَآ أَحَدًا فَلَا تَدْخُلُوهَا حَتَّىٰ يُؤْذَنَ لَكُمْ ۖ وَإِن قِيلَ لَكُمُ ٱرْجِعُوا۟ فَٱرْجِعُوا۟ ۖ هُوَ أَزْكَىٰ لَكُمْ ۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴿٢٨﴾

(28) نو که تاسو په دې (کورونو) کې څوك ونه مومئ، نو تاسو هغو ته مه ننوځئ، تر دې چې تاسو ته اجازت درکړی شي او که تاسو ته وویل شي چې بېرته وګرځئ، نو تاسو بېرته وګرځئ، دا تاسو لپاره ډېر پاکيزه دي او الله په هغو کارونو چې تاسو يې کوئ ؛ ښه عالم دی

لَّيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ أَن تَدۡخُلُواْ بُيُوتًا غَيۡرَ مَسۡكُونَةٖ فِيهَا مَتَٰعٞ لَّكُمۡۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا تُبۡدُونَ وَمَا تَكۡتُمُونَ ٢٩

(29) پر تاسو باندې هېڅ ګناه نشته چې تاسو داسې کورونو ته داخل شئ چې د اوسېدنې نه دي (او) په هغو کې ستاسو څه سامان (منفعت) وي او الله پوهېږي په هغه څه چې تاسو يې ښکاره کوئ او هغه چې تاسو يې پټوئ

قُل لِّلۡمُؤۡمِنِينَ يَغُضُّواْ مِنۡ أَبۡصَٰرِهِمۡ وَيَحۡفَظُواْ فُرُوجَهُمۡۚ ذَٰلِكَ أَزۡكَىٰ لَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا يَصۡنَعُونَ ٣٠

(30) ته مومنانو ته ووايه چې خپلې سترګې دې (له نامحرمو نه) ټيټې ساتي او د خپلو فرجونو (شرم ځايونو) ساتنه دې کوي، دا د دوی لپاره ډېر پاکيزه دي، بېشکه الله ښه خبردار دی په هغو کارونو چې دوی يې کوي

وَقُل لِّلۡمُؤۡمِنَٰتِ يَغۡضُضۡنَ مِنۡ أَبۡصَٰرِهِنَّ وَيَحۡفَظۡنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبۡدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنۡهَاۖ وَلۡيَضۡرِبۡنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّۖ وَلَا يُبۡدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوۡ ءَابَآئِهِنَّ أَوۡ ءَابَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوۡ أَبۡنَآئِهِنَّ أَوۡ أَبۡنَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوۡ إِخۡوَٰنِهِنَّ أَوۡ بَنِيٓ إِخۡوَٰنِهِنَّ أَوۡ بَنِيٓ أَخَوَٰتِهِنَّ أَوۡ نِسَآئِهِنَّ أَوۡ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُنَّ

(31) او ته مومنو ښځو ته ووايه چې خپلې سترګې دې ټيټې ساتي او د خپلو شرم ځايونو حفاظت دې کوي او خپل زينت دې نه ښکاره کوي مګر هغه چې له دې (زينت) نه (عادتًا) ظاهرېږي، او په خپلو ګرېوانونو دې پړونې واچوي او دوی دې خپل زينت نه ښکاره کوي مګر د خپلو خاوندانو لپاره يا د خپلو پلرونو يا د خپلو خاوندانو د پلرونو لپاره يا د خپلو زامنو لپاره يا د خپل خاوند د زامنو لپاره يا د خپلو ورونو لپاره يا د خپلو وريرونو لپاره يا د خپلو خورينو لپاره يا د خپلو ښځو لپاره يا هغه چا

أَوِ ٱلتَّٰبِعِينَ غَيۡرِ أُوْلِي ٱلۡإِرۡبَةِ مِنَ
ٱلرِّجَالِ أَوِ ٱلطِّفۡلِ ٱلَّذِينَ لَمۡ
يَظۡهَرُواْ عَلَىٰ عَوۡرَٰتِ ٱلنِّسَآءِۖ وَلَا
يَضۡرِبۡنَ بِأَرۡجُلِهِنَّ لِيُعۡلَمَ مَا
يُخۡفِينَ مِن زِينَتِهِنَّۚ وَتُوبُوٓاْ إِلَى
ٱللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ
لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴿٣١﴾

ته چې د دوی ښې لاسونه یې مالکان شوي دي، یا هغو تابعانو ته چې ښځو ته له حاجت والاوو نه وي له سړیو نه، یا هغو وړو هلکانو (ماشومانو) ته چې د ښځو په اسرارو او پټو خبرو واقف شوي نه وي او دا (ښځې) دې خپلې پښې نه وهي، د دې لپاره چې معلوم کړی شي هغه څه چې دوی یې له خپل زینت ځنې پټوي او تاسو ټول الله ته توبه وباسئ ای مومنانو! د دې لپاره چې تاسو کامیاب شئ

وَأَنكِحُواْ ٱلۡأَيَٰمَىٰ مِنكُمۡ
وَٱلصَّٰلِحِينَ مِنۡ عِبَادِكُمۡ
وَإِمَآئِكُمۡۚ إِن يَكُونُواْ فُقَرَآءَ
يُغۡنِهِمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦۗ وَٱللَّهُ
وَٰسِعٌ عَلِيمٞ ﴿٣٢﴾

(32) او په تاسو کې د بې واده خلقو (ښځې وي او که سړي) نکاح کوئ، او په خپلو مریانو او وینځو کې د نېکانو صالحو (هم نکاح کوئ) که چېرې (دغه ذکر شوي خلق) فقیران وي (نو) الله به دوی له خپله فضله غنیان کړي او الله د فراخۍ والا، ښه عالم دی

وَلۡيَسۡتَعۡفِفِ ٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ
نِكَاحًا حَتَّىٰ يُغۡنِيَهُمُ ٱللَّهُ مِن
فَضۡلِهِۦۗ وَٱلَّذِينَ يَبۡتَغُونَ ٱلۡكِتَٰبَ
مِمَّا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُكُمۡ فَكَاتِبُوهُمۡ
إِنۡ عَلِمۡتُمۡ فِيهِمۡ خَيۡرٗاۖ وَءَاتُوهُم
مِّن مَّالِ ٱللَّهِ ٱلَّذِيٓ ءَاتَىٰكُمۡۚ وَلَا

(33) او هغه کسان دې خپل ځان (او عفت) وساتي چې (اسباب د) نکاح نه مومي تر هغه پورې چې الله دوی له خپله فضله غنیان کړي او ستاسو په مریانو وینځو کې چې څوک مکاتب والې غواړي، نو تاسو له هغوی سره مکاتبت وکړئ که تاسو په دوی کې څه خیر معلوم کړئ او تاسو دوی ته د الله له هغه مال

تُكۡرِهُواْ فَتَيَٰتِكُمۡ عَلَى ٱلۡبِغَآءِ إِنۡ أَرَدۡنَ تَحَصُّنٗا لِّتَبۡتَغُواْ عَرَضَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۚ وَمَن يُكۡرِههُّنَّ فَإِنَّ ٱللَّهَ مِنۢ بَعۡدِ إِكۡرَٰهِهِنَّ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٣٣﴾

نه ورکړئ چې تاسو ته يې درکړې دی او تاسو خپلې وينځې په زنا مه مجبوروئ، که دوی د ځان پاك ساتلو اراده لري، د دې لپاره چې تاسو د دنيايي ژوند سامان (او مال) طلب کړئ او څوك چې دوی مجبورې کړي، نو بېشکه الله(چې دی) په دوی باندې د (مالکانو له) زور نه پس ډېر بخښونکی، بې حده مهربان دی

وَلَقَدۡ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكُمۡ ءَايَٰتٖ مُّبَيِّنَٰتٖ وَمَثَلٗا مِّنَ ٱلَّذِينَ خَلَوۡاْ مِن قَبۡلِكُمۡ وَمَوۡعِظَةٗ لِّلۡمُتَّقِينَ ﴿٣٤﴾

(34) او يقينًا يقينًا مونږ تاسو ته څرګندوونکي ايتونه نازل کړي دي او حال د هغو کسانو چې له تاسو نه مخکې تېر شوي دي او نصيحت لپاره د متقيانو

۞ٱللَّهُ نُورُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ مَثَلُ نُورِهِۦ كَمِشۡكَوٰةٖ فِيهَا مِصۡبَاحٌۖ ٱلۡمِصۡبَاحُ فِي زُجَاجَةٍۖ ٱلزُّجَاجَةُ كَأَنَّهَا كَوۡكَبٞ دُرِّيّٞ يُوقَدُ مِن شَجَرَةٖ مُّبَٰرَكَةٖ زَيۡتُونَةٖ لَّا شَرۡقِيَّةٖ وَلَا غَرۡبِيَّةٖ يَكَادُ زَيۡتُهَا يُضِيٓءُ وَلَوۡ لَمۡ تَمۡسَسۡهُ نَارٞۚ نُّورٌ عَلَىٰ نُورٖۚ يَهۡدِي ٱللَّهُ لِنُورِهِۦ

(35) الله د اسمانونو او ځمکې نور دی، د هغه د نور صفت داسې دی لکه يوه طاقچه ده چې په هغې کې بله ډيوه ده، بله ډيوه په شيشې (قنديل) کې ده، دغه قنديل (داسې دی) ګوياکې هغه روڼ ځلېدونکی ستوری دی، د زيتون له مبارکې ونې نه بلولی شي چې (دغه ونه) نه مشرق طرف ته وي او نه مغرب طرف ته، نژدې ده چې د هغې تېل (پخپله) رڼا وکړي اګر چې دغو ته اور هم نه وي رسېدلی،

مَن يَشَآءُۚ وَيَضۡرِبُ ٱللَّهُ ٱلۡأَمۡثَٰلَ لِلنَّاسِۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ٣٥

رڼا له پاسه رڼا، الله د خپل نور په طرف هغه چا ته لار ښيي چې يې وغواړي او الله د خلقو لپاره مثالونه بيانوي، او الله په هر شي باندې ښه پوه دی

فِي بُيُوتٍ أَذِنَ ٱللَّهُ أَن تُرۡفَعَ وَيُذۡكَرَ فِيهَا ٱسۡمُهُۥ يُسَبِّحُ لَهُۥ فِيهَا بِٱلۡغُدُوِّ وَٱلۡأٓصَالِ ٣٦

(36) په هغو کورونو (جوماتونو) کې چې الله حکم کړی دی چې پورته دې کړل شي او په دغو کې دې د ده نوم يادوه شي او په دغو (جوماتونو) کې د هغه پاکي بيانوي، د ورځې په شروع کې او د ورځې په اخر کې

رِجَالٞ لَّا تُلۡهِيهِمۡ تِجَٰرَةٞ وَلَا بَيۡعٌ عَن ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَإِقَامِ ٱلصَّلَوٰةِ وَإِيتَآءِ ٱلزَّكَوٰةِ يَخَافُونَ يَوۡمٗا تَتَقَلَّبُ فِيهِ ٱلۡقُلُوبُ وَٱلۡأَبۡصَٰرُ ٣٧

(37) (داسې) سړي چې د الله له ذکر او لمونځ قايمولو او د زکات اداکولو نه يې نه تجارت غافله کوي او نه اخيستل خرڅول، دوی له هغې ورځې نه ويرېږي چې په هغې کې به زړونه او سترګې اوړي راوړي

لِيَجۡزِيَهُمُ ٱللَّهُ أَحۡسَنَ مَا عَمِلُواْ وَيَزِيدَهُم مِّن فَضۡلِهِۦۗ وَٱللَّهُ يَرۡزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٖ ٣٨

(38) د دې لپاره چې الله دوی ته بدله ورکړي ډېره ښکلې بدله د هغو عملونو چې دوی کړي دي او دوی ته له خپل فضله اضافه وکړي او الله چا ته چې وغواړي، بې له حسابه رزق ورکوي

وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَعۡمَٰلُهُمۡ

(39) او هغه کسان چې کافران شوي دي، د

كَسَرَابِۭ بِقِيعَةٖ يَحۡسَبُهُ ٱلظَّمۡـَٔانُ مَآءً حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَهُۥ لَمۡ يَجِدۡهُ شَيۡـٔٗا وَوَجَدَ ٱللَّهَ عِندَهُۥ فَوَفَّىٰهُ حِسَابَهُۥۗ وَٱللَّهُ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ٣٩

هغوی عملونه د سراب (شګې ګل) په شان دي چې په هوار ډاګ کې دي، تږی په هغه باندې د اوبو ګمان کوي، تر دې چې کله ده ته راشي، نو دغه هېڅ شی ونه مومي او په خپلې خوا کې الله ومومي، نو هغه به ده ته د ده حساب پوره ورکړي، او الله ډېر ژر حساب والا دی

أَوۡ كَظُلُمَٰتٖ فِي بَحۡرٖ لُّجِّيّٖ يَغۡشَىٰهُ مَوۡجٞ مِّن فَوۡقِهِۦ مَوۡجٞ مِّن فَوۡقِهِۦ سَحَابٞۚ ظُلُمَٰتُۢ بَعۡضُهَا فَوۡقَ بَعۡضٍ إِذَآ أَخۡرَجَ يَدَهُۥ لَمۡ يَكَدۡ يَرَىٰهَاۗ وَمَن لَّمۡ يَجۡعَلِ ٱللَّهُ لَهُۥ نُورٗا فَمَا لَهُۥ مِن نُّورٍ ٤٠

(40) يا (د دوی عملونه) د هغو تیارو په شان دي چې په ژور سمندر کې دي، چې دغه (سمندر) یو موج (چپې) پټ کړی وي، د هغه له پاسه بل موج (چپه) وي (بیا) د هغه له پاسه وریځ وي، تیارې دي چې د دوی ځینې د ځینو نورو له پاسه دي، کله چې دی خپل لاس راوباسي (، نو) نږدې نه دي چې دغه ووینې او هر هغه څوك چې الله ده ته رڼا ورنه کړي، نو د هغه لپاره هېڅ رڼا نشته

أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُسَبِّحُ لَهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَٱلطَّيۡرُ صَٰٓفَّٰتٖۖ كُلّٞ قَدۡ عَلِمَ صَلَاتَهُۥ وَتَسۡبِيحَهُۥۗ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِمَا يَفۡعَلُونَ ٤١

(41) ایا ته نه وینې چې بېشکه الله چې دی، د هغه لپاره پاکي بیانوي هغه څوك چې په اسمانونو او ځمکه کې دي او مرغان هم (تسبیح وايي)، په داسې حال کې چې د خپلو وزرو خواره کوونکي وي، هر یو (چې دی) یقینًا هغه (الله) د هغه په لمونځ او د هغه

په تسبیح عالم دی، او الله ښه عالم دی په
هغو کارونو چې دوی یې کوي

وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ وَإِلَى ٱللَّهِ ٱلْمَصِيرُ ﴿٤٢﴾

(42) او خاص د الله لپاره ده د اسمانونو او ځمکې بادشاهي، او خاص الله ته بېرته ورتله دي

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُزْجِى سَحَابًا ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيْنَهُۥ ثُمَّ يَجْعَلُهُۥ رُكَامًا فَتَرَى ٱلْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلَٰلِهِۦ وَيُنَزِّلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن جِبَالٍ فِيهَا مِنۢ بَرَدٍ فَيُصِيبُ بِهِۦ مَن يَشَآءُ وَيَصْرِفُهُۥ عَن مَّن يَشَآءُ ۖ يَكَادُ سَنَا بَرْقِهِۦ يَذْهَبُ بِٱلْأَبْصَٰرِ ﴿٤٣﴾

(43) ایا تا نه دي کتلي چې ببشکه الله وريځې روانوي، بیا هغه په خپل منيځ کې یو ځای کوي، بیا هغه لاندې باندې قط په قط کوي، بیا ته باران وينې چې د دې له مینځه راوځي او د اسمان له جانبه (د وريځو) غرونه راکوزوي چې په هغو کې ځینې ږلی وي، نو هغه رسوي هغه چا ته چې یې وغواړي او اړوي یې له هغه چا نه چې یې وغواړي، نژدې وي چې د هغو د برېښنا پړق (چمك) نظرونه ختم کړي

يُقَلِّبُ ٱللَّهُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّأُو۟لِى ٱلْأَبْصَٰرِ ﴿٤٤﴾

(44) الله شپه او ورځ اړوي را اړوي ببشکه په دغو کې د سترګو خاوندانو ته لوی عبرت دی

وَٱللَّهُ خَلَقَ كُلَّ دَآبَّةٍ مِّن مَّآءٍ ۖ فَمِنْهُم مَّن يَمْشِى عَلَىٰ بَطْنِهِۦ وَمِنْهُم مَّن يَمْشِى عَلَىٰ رِجْلَيْنِ

(45) او په ځمکه ګرځېدونکی هر حیوان الله له اوبو څخه پيدا کړی دی، نو په دوی کې ځینې هغه دي چې په خپلې خېټې تګ کوي

وَمِنۡهُم مَّن يَمۡشِي عَلَىٰٓ أَرۡبَعٖۚ يَخۡلُقُ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٤٥

او په دوی کې ځينې هغه دي چې په دوه پښو تګ کوي او په دوی کې ځينې هغه دي چې په څلورو ګرځي، الله چې څه وغواړي پيدا کوي يې، بېشکه الله په هر شي باندې ښه قادر دی

لَّقَدۡ أَنزَلۡنَآ ءَايَٰتٖ مُّبَيِّنَٰتٖۚ وَٱللَّهُ يَهۡدِي مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ٤٦

(46) يقيناً يقيناً مونږه بيانوونکي ايتونه نازل کړي دي او الله چې چا ته وغواړي، نېغې لارې ته يې هدايت کوي

وَيَقُولُونَ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَبِٱلرَّسُولِ وَأَطَعۡنَا ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٞ مِّنۡهُم مِّنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَۚ وَمَآ أُوْلَٰٓئِكَ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٤٧

(47) او دوی وايي: مونږ په الله باندې او په رسول باندې ايمان راوړی دی او مونږ اطاعت کړی دی، بيا په دوی کې يوه ډله له دې نه پس مخ ګرځوي او دغه خلق له سره مومنان نه دي

وَإِذَا دُعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَهُمۡ إِذَا فَرِيقٞ مِّنۡهُم مُّعۡرِضُونَ ٤٨

(48) او كله چې دوی الله او د هغه رسول ته راوبلل شي، د دې لپاره چې هغه د دوی په مينځ کې فيصله وکړي، ناڅاپه، په دوی کې يوه ډله مخ ګرځوونکې وي

وَإِن يَكُن لَّهُمُ ٱلۡحَقُّ يَأۡتُوٓاْ إِلَيۡهِ مُذۡعِنِينَ ٤٩

(49) او كه حق د دوی لپاره وي (نو بيا) ده (رسول) ته راځي، چې ګړندي فرمان منونکي دي

أَفِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ أَمِ ٱرۡتَابُوٓاْ أَمۡ يَخَافُونَ أَن يَحِيفَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ وَرَسُولُهُۥۚ بَلۡ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ٥٠

(50) ايا د دوی په زړونو کې مرض دی، يا دوی شك کوي، يا دوی وېرېږي له دې نه چې الله او د هغه رسول به په دوی ظلم وکړي، بلکې همدغه خلق ظالمان دي

إِنَّمَا كَانَ قَوۡلَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ إِذَا دُعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَهُمۡ أَن يَقُولُواْ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ٥١

(51) بېشکه د مومنانو خبره خو همدا وي، کله چې دوی الله او د هغه رسول ته وبلل شي چې وايي: مونږ (حکم) واورېده او مونږ ومانه او همدغه خلق کامياب (خلاصى موندونکي) دي

وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَخۡشَ ٱللَّهَ وَيَتَّقۡهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَآئِزُونَ ٥٢

(52) او هر څوك چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړي او له الله نه ووېرېږي او د هغه تقوىٰ اختيار کړي، نو همدغه خلق برى موندونکي دي

۞وَأَقۡسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهۡدَ أَيۡمَٰنِهِمۡ لَئِنۡ أَمَرۡتَهُمۡ لَيَخۡرُجُنَّۖ قُل لَّا تُقۡسِمُواْۖ طَاعَةٞ مَّعۡرُوفَةٌۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ٥٣

(53) او دوی په الله قسمونه وخوړل، سخت پاخه قسمونه: خامخا که ته دوی ته (جهاد ته د وتلو) امر وکړې (نو) دوی به خامخا ضرور وځي، ته (دوی ته) ووايه: تاسو (د دروغو) قسمونه مه خورئ، (له تاسو مطلوب) نېك طاعت دی، بېشکه الله ښه خبردار دی په هغو کارونو چې تاسو يې کوئ

قُلۡ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَۖ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّمَا عَلَيۡهِ مَا حُمِّلَ وَعَلَيۡكُم مَّا حُمِّلۡتُمۡۖ وَإِن تُطِيعُوهُ تَهۡتَدُواْۚ وَمَا عَلَى ٱلرَّسُولِ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ﴿٥٤﴾

(54) ته دوی ته ووایه: تاسو د الله اطاعت وکړئ او د رسول اطاعت وکړئ، نو که دوی مخ واړوي، نو بېشکه همدا خبره ده چې په دغه (رسول) باندې هغه ( د تبليغ) بار دی چې پرې اېښودل شوی دی او پر تاسو باندې هغه بار دی چې په تاسو اېښودل شوی دی او که تاسو د هغه (رسول) اطاعت وکړئ (نو) نېغه لار به ومومئ، او د رسول په ذمه نشته مگر ښکاره پیغام رسول

وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ كَمَا ٱسۡتَخۡلَفَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمۡ دِينَهُمُ ٱلَّذِي ٱرۡتَضَىٰ لَهُمۡ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّنۢ بَعۡدِ خَوۡفِهِمۡ أَمۡنٗاۚ يَعۡبُدُونَنِي لَا يُشۡرِكُونَ بِي شَيۡـٔٗاۚ وَمَن كَفَرَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ﴿٥٥﴾

(55) الله وعده کړې د هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړی دی، چې تاسو یئ او نېك عملونه یې کړي دي، چې خامخا هرومرو به دوی ته په ځمکه کې خلافت ورکوي لکه چې هغو کسانو ته یې خلافت ورکړی و چې له دوی نه مخکې وو او خامخا ضرور به دوی ته د دوی هغه دین ثابت (او قوي) وگرځوي چې هغه (الله) د دوی لپاره غوره کړی دی او خامخا ضرور به دوی ته د دوی له وېرې نه پس امن په بدل کې ورکړي، چې دوی به زما عبادت کوي او زما سره به هېڅ شی نه شریکوي، او هر څوك چې د دغو (انعامونو) نه بعد کافر شو، نو همدغه کسان فاسقان دي

وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَطِيعُوا۟ ٱلرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ٥٦

(56) او تاسو لمونځ قايموئ او زكات ادا كوئ او د رسول اطاعت كوئ، د دې لپاره چې په تاسو رحم وكړى شي

لَا تَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مُعْجِزِينَ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ وَمَأْوَىٰهُمُ ٱلنَّارُ ۖ وَلَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ٥٧

(57) ته له سره گمان مه كوه په هغو كسانو چې كافران شوي دي چې په ځمكه كې (دوى مونږ لره) عاجزه كوونكي دي. او د دوى استوگنه اور دى، او هغه خامخا د ورتلو بد ځاى دى

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لِيَسْتَـْٔذِنكُمُ ٱلَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُمْ وَٱلَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا۟ ٱلْحُلُمَ مِنكُمْ ثَلَٰثَ مَرَّٰتٍ ۚ مِّن قَبْلِ صَلَوٰةِ ٱلْفَجْرِ وَحِينَ تَضَعُونَ ثِيَابَكُم مِّنَ ٱلظَّهِيرَةِ وَمِنۢ بَعْدِ صَلَوٰةِ ٱلْعِشَآءِ ۚ ثَلَٰثُ عَوْرَٰتٍ لَّكُمْ ۚ لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلَا عَلَيْهِمْ جُنَاحٌۢ بَعْدَهُنَّ ۚ طَوَّٰفُونَ عَلَيْكُم بَعْضُكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ

(58) اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى! له تاسو نه دې هغه كسان چې تاسو يې مالكان يئ او هغه كسان چې له تاسو (ازادو) نه بلوغ ته نه دي رسېدلي، درې ځلې دې اجازت غواړي له سبا د لمانځه نه مخكې او كله چې تاسو په غرمه كې جامې وباسئ او د ماسختن له لمانځه نه پس، تاسو لپاره درې د پردې وختونه دي، د دغو (وختونو) نه غير نه په تاسو گناه شته او نه پر هغوى باندې، (دوى) ډېر گرځېدونكي دي پر تاسو باندې، ستاسو ځينې په ځينو نورو باندې، همداسې الله تاسو ته ايتونه بيانوي، او الله ښه عالم، ښه حكمت والا دى

ٱلۡأٓيَٰتِۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ٥٨

وَإِذَا بَلَغَ ٱلۡأَطۡفَٰلُ مِنكُمُ ٱلۡحُلُمَ فَلۡيَسۡتَـٔۡذِنُواْ كَمَا ٱسۡتَـٔۡذَنَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمۡ ءَايَٰتِهِۦۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ٥٩

(59) او کله چې ستاسو (ازاد) ماشومان بلوغ ته ورسېږي، نو دوی دې اجازت غواړي، لکه چې هغه کسان اجازت غواړي چې له دوی نه مخکې (بالغ شوي) دي، همداسې الله تاسو ته خپل ایتونه بیانوي، او الله ښه عالم، ښه حکمت والا دی

وَٱلۡقَوَٰعِدُ مِنَ ٱلنِّسَآءِ ٱلَّٰتِي لَا يَرۡجُونَ نِكَاحٗا فَلَيۡسَ عَلَيۡهِنَّ جُنَاحٌ أَن يَضَعۡنَ ثِيَابَهُنَّ غَيۡرَ مُتَبَرِّجَٰتِۭ بِزِينَةٖۖ وَأَن يَسۡتَعۡفِفۡنَ خَيۡرٞ لَّهُنَّۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ٦٠

(60) او ډېرې زړې (له حیض او اولاد نه ناستې ښځې هغه چې (د بوډاوالي په وجه) د نکاح امېد نه لري، نو پر هغوی باندې څه ګناه نشته چې خپلې جامې کېږدي، په داسې حال کې چې د زینت ښرګندوونکې نه وي، او دا چې دوی (له دې نه هم) ځان وساتي، د دوی لپاره ډېره غوره دي، او الله ښه اورېدونکی، ښه عالم دی

لَّيۡسَ عَلَى ٱلۡأَعۡمَىٰ حَرَجٞ وَلَا عَلَى ٱلۡأَعۡرَجِ حَرَجٞ وَلَا عَلَى ٱلۡمَرِيضِ حَرَجٞ وَلَا عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمۡ أَن تَأۡكُلُواْ مِنۢ بُيُوتِكُمۡ أَوۡ بُيُوتِ ءَابَآئِكُمۡ أَوۡ بُيُوتِ أُمَّهَٰتِكُمۡ أَوۡ

(61) په ړانده باندې حرج نشته او نه په ګوډ حرج (مشقت) شته او نه په ناروغه حرج شته او نه ستاسو په خپلو ځانونو باندې (حرج شته) چې تاسو له خپلو کورونو نه خوراك وکړئ، یا د خپلو پلرونو له کورونو نه، یا د خپلو میندو له کورونو نه، یا د خپلو وروڼو له کورونو

بُيُوتِ إِخْوَٰنِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَخَوَٰتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَعْمَٰمِكُمْ أَوْ بُيُوتِ عَمَّٰتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَخْوَٰلِكُمْ أَوْ بُيُوتِ خَٰلَٰتِكُمْ أَوْ مَا مَلَكْتُم مَّفَاتِحَهُۥٓ أَوْ صَدِيقِكُمْۚ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَأْكُلُواْ جَمِيعًا أَوْ أَشْتَاتًاۚ فَإِذَا دَخَلْتُم بُيُوتًا فَسَلِّمُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ مُبَٰرَكَةً طَيِّبَةًۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلْأَيَٰتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٦١﴾

نه، یا د خپلو خویندو له کورونو نه، یا د خپلو ترونو له کورونو نه، یا د خپلو پلرنۍ تروریانو له کورونو نه یا د خپلو ماماګانو له کورونو نه، یا د خپلو مورنۍ تروریانو له کورونو نه، یا له هغو (کورونو) نه چې تاسو د هغو د چابیو اختیارمن شئ، یا د خپلو دوستانو (له کورونو) نه، په تاسو هیڅ ګناه نشته چې تاسو یو ځای خوراك وکړئ، یا بېل بېل، نو کله چې تاسو کورونو ته ننوځئ، نو په خپلو ځانونو سلام اچوئ، (دا) د الله له جانبه مبارکه پاکیزه تحفه ده، همداسې الله تاسو ته ایتونه بیانوي، د دې لپاره چې تاسو له عقل نه کار واخلئ

إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَإِذَا كَانُواْ مَعَهُۥ عَلَىٰٓ أَمْرٍ جَامِعٍ لَّمْ يَذْهَبُواْ حَتَّىٰ يَسْتَـْٔذِنُوهُۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسْتَـْٔذِنُونَكَ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۚ فَإِذَا ٱسْتَـْٔذَنُوكَ لِبَعْضِ شَأْنِهِمْ فَأْذَن لِّمَن شِئْتَ مِنْهُمْ وَٱسْتَغْفِرْ لَهُمُ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ

**(62)** بېشکه هم دا خبره ده چې مومنان خو هغه کسان دي چې په الله او د هغه په رسول يې ایمان راوړی دی او کله چې دوی له هغه (رسول) سره په کوم جمع کوونکي کار (لکه، جمعه، جهاد، یا جرګه) وي، (نو پخپل سر) نه ځي، تر هغه پورې چې له هغه نه اجازت وغواړي، بېشکه هغه کسان چې له تا نه اجازت غواړي، دغه کسان دي چې په الله او د هغه په رسول ایمان لري، نو کله چې دوی له

رَّحِيمٌ ۝٦٢

تا نه د خپلو ځینو کارونو لپاره اجازت وغواړي، نو په دوی کې چې چا ته وغواړې اجازت ورکړه او د دوی لپاره له الله نه بخښنه وغواړه. بېشکه الله ډېر بخښونکی، بې حده مهربان دی

لَّا تَجْعَلُوا۟ دُعَآءَ ٱلرَّسُولِ بَيْنَكُمْ
كَدُعَآءِ بَعْضِكُم بَعْضًا ۚ قَدْ
يَعْلَمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ يَتَسَلَّلُونَ
مِنكُمْ لِوَاذًا ۚ فَلْيَحْذَرِ ٱلَّذِينَ
يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِۦٓ أَن تُصِيبَهُمْ
فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ۝٦٣

**(63)** تاسو په خپل مینځ کې د رسول بلنه داسې مه ګرځوئ لکه ستاسو د ځینو بلنه ځینو نورو ته، یقینًا الله هغه کسان پېژني چې له تاسو نه کشېږي (یو یو، دوه دوه، پټ دباندې وځي)، په داسې حال کې چې یو له بله ځان سره پناه کوي، نو هغه کسان دې ووېرېږي چې د هغه (رسول) له حکم نه مخالفت کوي، له دې نه چې دوی ته څه افت ورسېږي، یا دوی ته ډېر دردوونکی عذاب ورسېږي

أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلْأَرْضِ ۖ قَدْ يَعْلَمُ مَآ أَنتُمْ عَلَيْهِ
وَيَوْمَ يُرْجَعُونَ إِلَيْهِ فَيُنَبِّئُهُم بِمَا
عَمِلُوا۟ ۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ
عَلِيمٌۢ ۝٦٤

**(64)** خبردار شئ! بېشکه خاص د الله لپاره دي هر هغه څه دي چې په اسمانونو او ځمکه کې دي، یقینًا هغه عالم دی په هغه حال چې تاسو په هغه یئ او په هغې ورځ (هم) چې تاسو به هغه ته بېرته بېول کېږئ، نو هغه به دوی په هغو عملونو خبر کړي چې دوی کړي

دي، او الله په هر شي باندې ښه عالم دی

## سُورَةُ الفُرْقَانِ

## سورة فرقان

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى**

تَبَارَكَ ٱلَّذِي نَزَّلَ ٱلۡفُرۡقَانَ عَلَىٰ عَبۡدِهِۦ لِيَكُونَ لِلۡعَٰلَمِينَ نَذِيرًا ﴿١﴾

(1) ډېر بركتناك دى هغه ذات چې په خپل بنده يې فرقان (قرآن) نازل كړى دى، د دې لپاره چې دى د خلقو لپاره ويروونكى شي

ٱلَّذِي لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَمۡ يَتَّخِذۡ وَلَدًا وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ شَرِيكٞ فِي ٱلۡمُلۡكِ وَخَلَقَ كُلَّ شَيۡءٖ فَقَدَّرَهُۥ تَقۡدِيرًا ﴿٢﴾

(2) هغه ذات چې خاص د هغه لپاره د اسمانونو او ځمكې بادشاهي ده او هېڅ اولاد يې نه دى نيولى او د ده لپاره په بادشاهۍ كې هېڅ شريك نشته، او هر شى يې پيدا كړى دى، نو هغه يې په اندازه كړى دى، اندازه كول

وَٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةٗ لَّا يَخۡلُقُونَ شَيۡـٔٗا وَهُمۡ يُخۡلَقُونَ وَلَا يَمۡلِكُونَ لِأَنفُسِهِمۡ ضَرّٗا وَلَا نَفۡعٗا وَلَا يَمۡلِكُونَ مَوۡتٗا وَلَا حَيَوٰةٗ وَلَا نُشُورٗا ﴿٣﴾

(3) او دوى (كفارو) له هغه نه غير نور داسې معبودان نيولي دي چې هېڅ شى نشي پيدا كولى، په داسې حال كې چې دوى پيدا كاوه شي او دوى د خپلو ځانونو لپاره نه د ضرر مالكان دي او نه د نفعې او نه د مرگ اختيار

لري او نه د ژوند او نه د بیا ژوندي کولو

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّآ إِفۡكٌ ٱفۡتَرَىٰهُ وَأَعَانَهُۥ عَلَيۡهِ قَوۡمٌ ءَاخَرُونَۖ فَقَدۡ جَآءُو ظُلۡمٗا وَزُورٗا ٤

(4) او کافران شویو خلقو وویل: نه دی دا مگر دروغ چې ده، له ځانه جوړ کړی دی او په ده باندې نورو خلقو د ده مرسته کړې ده، نو یقینًا دغو (کفارو) وکړ لوی ظلم او دروغ

وَقَالُوٓاْ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ٱكۡتَتَبَهَا فَهِيَ تُمۡلَىٰ عَلَيۡهِ بُكۡرَةٗ وَأَصِيلٗا ٥

(5) او دوی وویل: (دا) د ړومبنیو خلقو باطلې قصې دي چې ده په چا لیکلې دي، نو هغه ده ته سبا او بېگاه لوستلی شي

قُلۡ أَنزَلَهُ ٱلَّذِي يَعۡلَمُ ٱلسِّرَّ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ إِنَّهُۥ كَانَ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ٦

(6) ته (دوی ته) ووایه: دا (قرآن) هغه ذات نازل کړی دی چې عالم دی په هر پټ څیز باندې چې په اسمانونو او ځمکه کې دی، بېشکه هغه ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی

وَقَالُواْ مَالِ هَٰذَا ٱلرَّسُولِ يَأۡكُلُ ٱلطَّعَامَ وَيَمۡشِي فِي ٱلۡأَسۡوَاقِ لَوۡلَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مَلَكٞ فَيَكُونَ مَعَهُۥ نَذِيرًا ٧

(7) او دوی وایي: دې رسول ته څه دي چې طعام خوري او په بازارونو کې گرځي، ده ته ملایك ولې نه نازلاوه شي، بیا چې له ده سره دغه (ملایك) وېروونکې شي

أَوۡ يُلۡقَىٰٓ إِلَيۡهِ كَنزٌ أَوۡ تَكُونُ لَهُۥ

(8) یا ده ته خزانه ولې نه غورځولی کېږي، یا ولې د ده لپاره داسې باغ نه کېږي چې دا له

جَنَّةٞ يَأۡكُلُ مِنۡهَاۚ وَقَالَ ٱلظَّٰلِمُونَ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلٗا مَّسۡحُورًا ٨

هغه نه خوراك كوي؟ او ظالمانو وويل: تاسو پيروي نه كوئ مگر د داسې سړي چې سحر (جادو) پرې شوی دی

ٱنظُرۡ كَيۡفَ ضَرَبُواْ لَكَ ٱلۡأَمۡثَٰلَ فَضَلُّواْ فَلَا يَسۡتَطِيعُونَ سَبِيلٗا ٩

(9) ته وگوره! دوی تا لپاره څنگه مثالونه بيانوي، نو گمراه شول، نو دوی د (حقې) لارې (د موندلو) هېڅ طاقت نه لري

تَبَارَكَ ٱلَّذِيٓ إِن شَآءَ جَعَلَ لَكَ خَيۡرٗا مِّن ذَٰلِكَ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ وَيَجۡعَل لَّكَ قُصُورَۢا ١٠

(10) ډېر برکتناك دی هغه ذات چې كه وغواړي تا لپاره به د دغو (خزانو) نه غوره وگرځوي (يعنې داسې) باغونه چې د هغو له لاندې ولې بهېږي او تا لپاره به بنگلې جوړې كړي

بَلۡ كَذَّبُواْ بِٱلسَّاعَةِۖ وَأَعۡتَدۡنَا لِمَن كَذَّبَ بِٱلسَّاعَةِ سَعِيرًا ١١

(11) بلكې دوی د قيامت تكذيب وكړ او مونږ د هغه چا لپاره چې د قيامت تكذيب كوي ؛ لمبې وهونكې اور تيار كړی دی

إِذَا رَأَتۡهُم مِّن مَّكَانِۭ بَعِيدٖ سَمِعُواْ لَهَا تَغَيُّظٗا وَزَفِيرٗا ١٢

(12) كله چې هغه (اور) دوی لره له ډېر لرې ځای نه ووينې، نو دوی به د هغه خوټكېدل او غورېدل واورې

وَإِذَآ أُلۡقُواْ مِنۡهَا مَكَانٗا ضَيِّقٗا مُّقَرَّنِينَ دَعَوۡاْ هُنَالِكَ ثُبُورٗا ١٣

(13) او كله چې دوی په دغه (دوزخ) كې په تنگ ځای كې وغورځول شي، په داسې حال

کې چې له یو بل سره به په ځنځیرونو تړل شوي وي (، نو) دوی به په دغه ځای کې مرګ ته چغې وهي

لَّا تَدۡعُواْ ٱلۡيَوۡمَ ثُبُورٗا وَٰحِدٗا وَٱدۡعُواْ ثُبُورٗا كَثِيرٗا ١٤

(14) نن ورځ تاسو یو هلاکت (مرګ) ته چغې مه وهئ او (بلکې) تاسو ډېرو هلاکتونو ته چغې ووهئ

قُلۡ أَذَٰلِكَ خَيۡرٌ أَمۡ جَنَّةُ ٱلۡخُلۡدِ ٱلَّتِي وُعِدَ ٱلۡمُتَّقُونَۚ كَانَتۡ لَهُمۡ جَزَآءٗ وَمَصِيرٗا ١٥

(15) ته (دوی ته) ووایه: دغه (خیر) غوره دی، یا که هغه د همېشه والي جنت چې متقیانو (پرهېزګارو) ته یې وعده ورکړې شوې ده؟ دغه به د دوی لپاره بدله او د ورتلو ځای وي

لَّهُمۡ فِيهَا مَا يَشَآءُونَ خَٰلِدِينَۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ وَعۡدٗا مَّسۡـُٔولٗا ١٦

(16) د دوی لپاره به په هغه کې هغه څه وي چې دوی یې غواړي، په داسې حال کې چې دوی به په کې تل وي، دا ستا د رب په ذمه غوښتل شوې وعده ده

وَيَوۡمَ يَحۡشُرُهُمۡ وَمَا يَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ فَيَقُولُ ءَأَنتُمۡ أَضۡلَلۡتُمۡ عِبَادِي هَٰٓؤُلَآءِ أَمۡ هُمۡ ضَلُّواْ ٱلسَّبِيلَ ١٧

(17) او (یاده کړه) هغه ورځ چې هغه (الله) به راجمع کړي دوی او هغه څه چې دوی به یې له الله نه غیر عبادت کاوه، نو وبه وایي: ایا تاسو زما دغه بنده ګان ګمراه کړي وو، یا دوی پخپله (حقه) لاره ورکه کړې وه؟

قَالُواْ سُبۡحَٰنَكَ مَا كَانَ يَنۢبَغِي لَنَآ

(18) دغه (معبودان) به ووایي: تالره پاکي ده،

أَن نَّتَّخِذَ مِن دُونِكَ مِنۡ أَوۡلِيَآءَ
وَلَٰكِن مَّتَّعۡتَهُمۡ وَءَابَآءَهُمۡ حَتَّىٰ
نَسُواْ ٱلذِّكۡرَ وَكَانُواْ قَوۡمَۢا بُورٗا ١٨

مونږ ته جايز نه ده چې مونږ له تا نه غير دوستان ونيسو او لېکن تا دوی ته او د دوی پلرونو ته فايده (او ښه زندگي) ورکړې وه، تر دې چې دوی ذکر (نصيحت) هېر کړ او دوی هلاکېدونکی قوم و

فَقَدۡ كَذَّبُوكُم بِمَا تَقُولُونَ فَمَا
تَسۡتَطِيعُونَ صَرۡفٗا وَلَا نَصۡرٗاۚ وَمَن
يَظۡلِم مِّنكُمۡ نُذِقۡهُ عَذَابٗا
كَبِيرٗا ١٩

(19) نو يقينًا (ای مشرکانو!) دوی تاسو دروغجن کړئ په هغې خبره کې چې تاسو ويله، نو تاسو نه د (عذاب د) گرځولو طاقت لرئ او نه د مدد کولو، او په تاسو کې هر هغه څوك چې ظلم وکړي! مونږ به هغه ته ډېر لوی عذاب وڅکوو

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا قَبۡلَكَ مِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ
إِلَّآ إِنَّهُمۡ لَيَأۡكُلُونَ ٱلطَّعَامَ
وَيَمۡشُونَ فِي ٱلۡأَسۡوَاقِۗ وَجَعَلۡنَا
بَعۡضَكُمۡ لِبَعۡضٖ فِتۡنَةً أَتَصۡبِرُونَۗ
وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيرٗا ٢٠

(20) او له تا نه مخکې مونږ رسولان نه دي لېږلي مگر چې يقينًا هغوی به خامخا طعام خواره، او په بازارونو کې گرځېدل او مونږه ستاسو ځينې د ځينو نورو لپاره ازمېښت گرځولي دي (چې) ايا تاسو صبر کوئ (که نه؟) او ستا رب له ازله ښه ليدونکی دی

۞وَقَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَرۡجُونَ لِقَآءَنَا
لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡنَا ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَوۡ
نَرَىٰ رَبَّنَاۗ لَقَدِ ٱسۡتَكۡبَرُواْ فِيٓ

(21) او ووېل هغو کسانو چې زمونږ د ملاقات امېد نه لري: پر مونږ باندې ملايك ولې نه نازلولی شي، يا (ولې) مونږ خپل رب نه وينو، يقينًا يقينًا دوی په خپلو نفسونو کې کبر وکړ،

| | |
|---|---|
| أَنفُسِهِمۡ وَعَتَوۡ عُتُوّٗا كَبِيرٗا ٢١ | او له حده تېر شول، له حد نه ډېر لوی تېرېدل |
| يَوۡمَ يَرَوۡنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ لَا بُشۡرَىٰ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُجۡرِمِينَ وَيَقُولُونَ حِجۡرٗا مَّحۡجُورٗا ٢٢ | (22) (یاده کړه) هغه ورځ چې دوی به ملایكویني، په دغې ورځ کې به د مجرمانو لپاره هېڅ زیری (خوشالي) نه وي او وایي به (ملایك چې جنت) بند دی، ممنوع دی |
| وَقَدِمۡنَآ إِلَىٰ مَا عَمِلُواْ مِنۡ عَمَلٖ فَجَعَلۡنَٰهُ هَبَآءٗ مَّنثُورًا ٢٣ | (23) او دوی چې څه عمل هم کړی دی هغه ته به مونږ ورسو، نو هغه به خور کړی شوی ګرد وګرځوو |
| أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِ يَوۡمَئِذٍ خَيۡرٞ مُّسۡتَقَرّٗا وَأَحۡسَنُ مَقِيلٗا ٢٤ | (24) جنتیان به په دغې ورځ کې د استوګنې په لحاظ غوره او د ارام ځای په لحاظ ډېر ښه وي |
| وَيَوۡمَ تَشَقَّقُ ٱلسَّمَآءُ بِٱلۡغَمَٰمِ وَنُزِّلَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ تَنزِيلًا ٢٥ | (25) او (یاده کړه) هغه ورځ چې په وریځو سره به اسمان توټې توټې شي او ملایك به نازل کړی شي (پرله پسې) نازلول |
| ٱلۡمُلۡكُ يَوۡمَئِذٍ ٱلۡحَقُّ لِلرَّحۡمَٰنِۚ وَكَانَ يَوۡمًا عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ عَسِيرٗا ٢٦ | (26) حقیقي بادشاهي به په دغې ورځ کې د رحمن لپاره وي، او وي به دغه په کافرانو ډېره سخته ورځ |
| وَيَوۡمَ يَعَضُّ ٱلظَّالِمُ عَلَىٰ يَدَيۡهِ | (27) او (یاده کړه) هغه ورځ چې ظالم به په |

| | |
|---|---|
| يَقُولُ يَٰلَيۡتَنِي ٱتَّخَذۡتُ مَعَ ٱلرَّسُولِ سَبِيلٗا ﴿٢٧﴾ | خپلو دواړو لاسونو خوله لګوي، په داسې حال کې چې وايي به: ای کاشکې! ما له رسول سره (نبغه) لار نیولې وی |
| يَٰوَيۡلَتَىٰ لَيۡتَنِي لَمۡ أَتَّخِذۡ فُلَانًا خَلِيلٗا ﴿٢٨﴾ | (28) ای زما هلاکته! کاشکې ما فلانکی سړی دوست نه وی جوړ کړی |
| لَّقَدۡ أَضَلَّنِي عَنِ ٱلذِّكۡرِ بَعۡدَ إِذۡ جَآءَنِيۗ وَكَانَ ٱلشَّيۡطَٰنُ لِلۡإِنسَٰنِ خَذُولٗا ﴿٢٩﴾ | (29) يقينًا يقينًا هغه زه له ذکر (قرآن) نه ګمراه کړم، کله چې هغه (ذکر) ما ته راغی او شیطان انسان لره بې مدده پرېښودونکی دی |
| وَقَالَ ٱلرَّسُولُ يَٰرَبِّ إِنَّ قَوۡمِي ٱتَّخَذُواْ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانَ مَهۡجُورٗا ﴿٣٠﴾ | (30) او رسول وويل: ای زما ربه! بېشکه زما قوم دا قرآن متروک ګرځولی دی |
| وَكَذَٰلِكَ جَعَلۡنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوّٗا مِّنَ ٱلۡمُجۡرِمِينَۗ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ هَادِيٗا وَنَصِيرٗا ﴿٣١﴾ | (31) او همداسې مونږ د هر نبي لپاره له مجرمانو څخه دښمنان ګرځولي وو او ستا رب ډېر کافي دی، سمه لار ښوونکی، او ښه مدد کوونکی |
| وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوۡلَا نُزِّلَ عَلَيۡهِ ٱلۡقُرۡءَانُ جُمۡلَةٗ وَٰحِدَةٗۚ كَذَٰلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِۦ فُؤَادَكَۖ وَرَتَّلۡنَٰهُ تَرۡتِيلٗا ﴿٣٢﴾ | (32) او کافران شویو خلقو وویل: په ده باندې قرآن ټول يو کرت ولې نه نازلاوه شي؟ همداسې (لږ لږ يې نازلوو) د دې لپاره چې په ده سره مونږ ستا زړه مضبوط کړو او مونږ ښه په ارام لوستی دی دا (قرآن په تا باندې) په |

ارام لوستل

وَلَا يَأۡتُونَكَ بِمَثَلٍ إِلَّا جِئۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ وَأَحۡسَنَ تَفۡسِيرًا ٣٣

(33) او دوی تا ته کوم مثال (عجیب سوال او اعتراض) نه راوړي مگر مونږ تا ته راوړو (د هغه) حق (جواب) او تر ټولو ښه تفسیر

ٱلَّذِينَ يُحۡشَرُونَ عَلَىٰ وُجُوهِهِمۡ إِلَىٰ جَهَنَّمَ أُوْلَٰٓئِكَ شَرّٞ مَّكَانٗا وَأَضَلُّ سَبِيلٗا ٣٤

(34) هغه کسان چې جهنم ته به په خپلو مخونو جمع کولی شي، دغه کسان د ځای په لحاظ تر ټولو بد او د لارې په لحاظ تر ټولو گمراه دي

وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ وَجَعَلۡنَا مَعَهُۥٓ أَخَاهُ هَٰرُونَ وَزِيرٗا ٣٥

(35) او یقینًا یقینًا مونږ موسیٰ ته کتاب ورکړی و او مونږ له هغه سره د هغه ورور هارون مددگار گرځولی و

فَقُلۡنَا ٱذۡهَبَآ إِلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا فَدَمَّرۡنَٰهُمۡ تَدۡمِيرٗا ٣٦

(36) نو مونږ وویل: تاسو دواړه هغه قوم ته لاړ شئ چې زمونږ د ایتونو تکذیب یې کړی دی، بیا مونږ هغوی (فرعونیان) هلاك کړل، سخت هلاکول

وَقَوۡمَ نُوحٖ لَّمَّا كَذَّبُواْ ٱلرُّسُلَ أَغۡرَقۡنَٰهُمۡ وَجَعَلۡنَٰهُمۡ لِلنَّاسِ ءَايَةٗۖ وَأَعۡتَدۡنَا لِلظَّٰلِمِينَ عَذَابًا أَلِيمٗا ٣٧

(37) او (مونږ هلاك كړ) د نوح قوم، کله چې هغوی د رسولانو تکذیب وکړ، مونږ هغوی غرق کړل او مونږه دوی د خلقو لپاره (د عبرت) نشان وگرځول او مونږه د ظالمانو لپاره ډېر

دردوونکی عذاب تیار کړی دی

وَعَادٗا وَثَمُودَاْ وَأَصۡحَٰبَ ٱلرَّسِّ
وَقُرُونَۢا بَيۡنَ ذَٰلِكَ كَثِيرٗا ٣٨

(38) او (مونږ هلاك كړي دي) عاديان او ثموديان او د كوهي والا او د دوی په مينځ كې ډېر زيات نور قومونه

وَكُلّٗا ضَرَبۡنَا لَهُ ٱلۡأَمۡثَٰلَۖ وَكُلّٗا
تَبَّرۡنَا تَتۡبِيرٗا ٣٩

(39) او (په دوی كې) هر يو ته، مونږ هغه ته مثالونه بيان كړي وو او مونږ ټول هلاك كړل، ښخې هلاكول

وَلَقَدۡ أَتَوۡاْ عَلَى ٱلۡقَرۡيَةِ ٱلَّتِيٓ
أُمۡطِرَتۡ مَطَرَ ٱلسَّوۡءِۚ أَفَلَمۡ
يَكُونُواْ يَرَوۡنَهَاۚ بَلۡ كَانُواْ لَا
يَرۡجُونَ نُشُورٗا ٤٠

(40) او يقينًا يقينًا دوی په هغه كلي تېر شوي دي چې په هغه باندې د بدی باران ورول شوی و، ايا نو دوی هغه نه ليده ؟ بلكې دوی د بيا ژوندي پورته كېدلو اميد نه لاره

وَإِذَا رَأَوۡكَ إِن يَتَّخِذُونَكَ إِلَّا
هُزُوًا أَهَٰذَا ٱلَّذِي بَعَثَ ٱللَّهُ
رَسُولًا ٤١

(41) او كله چې دوی تا ووينې (، نو) دوی تا نه نيسي مگر ځای د مسخرې (او وايي:) ايا دا هغه سړی دی چې الله، (په طور د) رسول رالېږلی دی؟

إِن كَادَ لَيُضِلُّنَا عَنۡ ءَالِهَتِنَا لَوۡلَآ
أَن صَبَرۡنَا عَلَيۡهَاۚ وَسَوۡفَ
يَعۡلَمُونَ حِينَ يَرَوۡنَ ٱلۡعَذَابَ مَنۡ
أَضَلُّ سَبِيلًا ٤٢

(42) ببشكه چې دی نږدې و چې مونږ خامخا له خپلو معبودانو نه بې لارې كړي كه مونږ په دوی ټينگ ودرېدلي نه وی (الله فرمايي:) دوی به ژر پوه شي كله چې دوی عذاب ويني چې څوك له (حقې) لارې نه ډېر بې لارې

دی

أَرَءَيْتَ مَنِ ٱتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ أَفَأَنتَ تَكُونُ عَلَيْهِ وَكِيلًا ﴿٤٣﴾

(43) ايا ته هغه څوك وينې چې خپل معبود يې خپل خواهش ګرځولی دی! ايا نو ته به په ده باندې نګران يې

أَمْ تَحْسَبُ أَنَّ أَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُونَ أَوْ يَعْقِلُونَ ۚ إِنْ هُمْ إِلَّا كَٱلْأَنْعَٰمِ ۖ بَلْ هُمْ أَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٤٤﴾

(44) ايا ته ګمان کوې چې په رښتيا د دوی زياتره اوري، يا له عقل نه کار اخلي، دوی نه دي مګر په شان د څارويو بلکې دوی د لارې په لحاظ زيات ګمراه دي

أَلَمْ تَرَ إِلَىٰ رَبِّكَ كَيْفَ مَدَّ ٱلظِّلَّ وَلَوْ شَآءَ لَجَعَلَهُۥ سَاكِنًا ثُمَّ جَعَلْنَا ٱلشَّمْسَ عَلَيْهِ دَلِيلًا ﴿٤٥﴾

(45) ايا تا (د) خپل رب (قدرت) ته نه دي کتلي چې هغه سيورى څنګه غځولی دی او که هغه غوښتلی (نو) هغه به يې خامخا ولاړ (ساکن) ګرځولی وی، بيا مونږ په هغه باندې لمر دليل وګرځاوه

ثُمَّ قَبَضْنَٰهُ إِلَيْنَا قَبْضًا يَسِيرًا ﴿٤٦﴾

(46) بيا مونږ هغه خپل طرف ته راټول کړ ډېر اسان راټولول

وَهُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ لِبَاسًا وَٱلنَّوْمَ سُبَاتًا وَجَعَلَ ٱلنَّهَارَ نُشُورًا ﴿٤٧﴾

(47) او دی هماغه ذات دی چې تاسو لپاره يې شپه لباس او خوب (سبب د) ارام ګرځولی دی او ورځ يې د ګرځېدو وخت ګرځولې ده

وَهُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ ٱلرِّيَٰحَ بُشۡرَۢا
بَيۡنَ يَدَيۡ رَحۡمَتِهِۦۚ وَأَنزَلۡنَا مِنَ
ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ طَهُورٗا ٤٨

(48) او همدى هغه ذات دى چې هواګانې
يې له رحمت نه مخکې زېرى ورکوونکې
لېږلې دي او مونږ له بره نه پاکوونکې اوبه
نازلې کړې دي

لِّنُحۡـِۧيَ بِهِۦ بَلۡدَةٗ مَّيۡتٗا وَنُسۡقِيَهُۥ
مِمَّا خَلَقۡنَآ أَنۡعَٰمٗا وَأَنَاسِيَّ
كَثِيرٗا ٤٩

(49) د دې لپاره چې مونږ په دغو (اوبو) سره
مړ ښار راژوندى کړو او چې دا په څارويو او
ډېر زياتو انسانانو وڅښوو، چې زمونږ له
مخلوق څخه دي

وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَٰهُ بَيۡنَهُمۡ لِيَذَّكَّرُواْ
فَأَبَىٰٓ أَكۡثَرُ ٱلنَّاسِ إِلَّا
كُفُورٗا ٥٠

(50) او يقينًا يقينًا مونږ دا د دوى په مينځ
کې په قسم قسم طريقو خورې کړې دي،
لپاره د دې چې دوى نصيحت واخلي، نو
زياترو خلقو انکار وکړ مګر له کفر کولو نه

وَلَوۡ شِئۡنَا لَبَعَثۡنَا فِي كُلِّ قَرۡيَةٖ
نَّذِيرٗا ٥١

(51) او که مونږ غوښتلى (، نو) مونږ به خامخا
هر کلي ته يو وېرووونکى لېږلى و

فَلَا تُطِعِ ٱلۡكَٰفِرِينَ وَجَٰهِدۡهُم
بِهِۦ جِهَادٗا كَبِيرٗا ٥٢

(52) نو ته د کافرانو اطاعت مه کوه او ته له
دوى سره په دې (قرآن) سره جهاد کوه، ډېر
لوى جهاد کول

۞وَهُوَ ٱلَّذِي مَرَجَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ هَٰذَا
عَذۡبٞ فُرَاتٞ وَهَٰذَا مِلۡحٌ أُجَاجٞ

(53) او دى هماغه ذات دى چې دوه دريابونه
يې خوشې کړې دي (له يو بل سره جوخت)

وَجَعَلَ بَيۡنَهُمَا بَرۡزَخٗا وَحِجۡرٗا مَّحۡجُورٗا ﴿٥٣﴾

دا خوږ دی، ډېر خوږ (تنده ماتوونکی) او د ا (بل) تریو دی، ښه تریو او د دواړو په مینځ کې یې یوه پرده او بند پیدا کړی دی چې منع کړی شوی دی

وَهُوَ ٱلَّذِي خَلَقَ مِنَ ٱلۡمَآءِ بَشَرٗا فَجَعَلَهُۥ نَسَبٗا وَصِهۡرٗاۗ وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيرٗا ﴿٥٤﴾

(54) او دی همغه ذات دی چې له اوبو نه یې انسان پیدا کړی دی، بیا یې هغه (د) نسب او سخرګنی (والا) وګرځاوه او ستا رب ښه قادر دی

وَيَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُهُمۡ وَلَا يَضُرُّهُمۡۗ وَكَانَ ٱلۡكَافِرُ عَلَىٰ رَبِّهِۦ ظَهِيرٗا ﴿٥٥﴾

(55) او دوی له الله نه غیر د هغه څه عبادت کوي چې دوی ته نه نفع رسولی شي اونه دوی ته ضرر رسولی شي او کافر د خپل رب په مخالفت کې (د شیطان) مدد کوونکی دی

وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا مُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا ﴿٥٦﴾

(56) او ته مونږ نه یې لېږلی مګر زېری ورکوونکی او وېروونکی

قُلۡ مَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍ إِلَّا مَن شَآءَ أَن يَتَّخِذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلٗا ﴿٥٧﴾

(57) ته (دوی ته)ووایه: زه له تاسو نه په دې (تبلیغ) باندې هېڅ مزدوري (اجرت) نه غواړم خو (غواړم ایمان راوړل د) هغه کس چې غواړي چې د خپل رب په طرف لار ونیسي

وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱلۡحَيِّ ٱلَّذِي لَا يَمُوتُ وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِهِۦۚ وَكَفَىٰ بِهِۦ بِذُنُوبِ

(58) او ته توکل وکړه په هغه تل ژوندي ذات چې نه مري او ته د هغه له ستاینې سره

عِبَادِهِۦ خَبِيرًا ﴿٥٨﴾

تسبيح بيانوه او هم الله د خپلو بنده ګانو په ګناهونو ښه کافي خبردار دی

ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ ٱلرَّحۡمَٰنُ فَسۡـَٔلۡ بِهِۦ خَبِيرًا ﴿٥٩﴾

(59) هغه (الله) چې اسمانونه او ځمکه، او هغه څه چې د دواړو په مينځ کې دي، په شپږو ورځو کې پيدا کړي دي، بيا په عرش باندې برقرار شو، (دغه) رحمن دی، نو ته د ده په باره کې له ښه خبردار نه تپوس وکړه

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱسۡجُدُواْ لِلرَّحۡمَٰنِ قَالُواْ وَمَا ٱلرَّحۡمَٰنُ أَنَسۡجُدُ لِمَا تَأۡمُرُنَا وَزَادَهُمۡ نُفُورٗا۩ ﴿٦٠﴾

(60) او کله چې دوی ته وويل شي: تاسو رحمٰن ته سجده وکړئ، دوی وايي: رحمن څه شی دی؟ ايا موږ به هغه څه ته سجده کوو چې ته يې موږ ته حکم راکوې او دا (رحمٰن ته د سجده کولو حکم) دوی ته منډه تېښته ورزياته کړې

تَبَارَكَ ٱلَّذِي جَعَلَ فِي ٱلسَّمَآءِ بُرُوجٗا وَجَعَلَ فِيهَا سِرَٰجٗا وَقَمَرٗا مُّنِيرٗا ﴿٦١﴾

(61) ډېر برکتناك دی هغه ذات چې په اسمان کې يې برجونه پيدا کړي دي او په ده کې يې چراغ (لمر) او رڼا کوونکې سپوږمۍ پيدا کړې ده

وَهُوَ ٱلَّذِي جَعَلَ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ خِلۡفَةٗ لِّمَنۡ أَرَادَ أَن يَذَّكَّرَ أَوۡ أَرَادَ شُكُورٗا ﴿٦٢﴾

(62) او دی هماغه ذات دی چې شپه او ورځ يې يو له بل پسې راتلونکې پيدا کړې دي، د هغه چا لپاره چې اراده لري چې نصيحت

واخلي يا غواړي چې شکر وباسي

وَعِبَادُ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلَّذِينَ يَمۡشُونَ عَلَى ٱلۡأَرۡضِ هَوۡنٗا وَإِذَا خَاطَبَهُمُ ٱلۡجَٰهِلُونَ قَالُواْ سَلَٰمٗا ﴿٦٣﴾

(63) او د رحمن بنده ګان هغه دي چې په ځمکه ورو ګرځي او کله چې له دوی سره جاهلان خطاب (خبره) کوي (نو) دوی سالمه (درسته) خبره کوي

وَٱلَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمۡ سُجَّدٗا وَقِيَٰمٗا ﴿٦٤﴾

(64) او هغه کسان دي چې خپل رب ته شپه تېروي، په داسې حال کې چې سجده کوونکي او قيام کوونکي وي

وَٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا ٱصۡرِفۡ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَۖ إِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا ﴿٦٥﴾

(65) او هغه کسان دي چې وايي: ای زمونږ ربه! ته زمونږ نه د جهنم عذاب وګرځوه، بېشکه د هغه عذاب همېشه لازمېدونکی دی

إِنَّهَا سَآءَتۡ مُسۡتَقَرّٗا وَمُقَامٗا ﴿٦٦﴾

(66) بېشکه دا (جهنم) د قرار او استوګنې په لحاظ بد ځای دی

وَٱلَّذِينَ إِذَآ أَنفَقُواْ لَمۡ يُسۡرِفُواْ وَلَمۡ يَقۡتُرُواْ وَكَانَ بَيۡنَ ذَٰلِكَ قَوَامٗا ﴿٦٧﴾

(67) او هغه کسان دي چې کله انفاق کوي (مال لګوي نو) اسراف نه کوي او بخل هم نه کوي او د دغو (دواړو حالتونو) په مينځ کې ميانه حاله وي

وَٱلَّذِينَ لَا يَدۡعُونَ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ وَلَا يَقۡتُلُونَ ٱلنَّفۡسَ ٱلَّتِي

(68) او هغه کسان دي چې له الله سره بل معبود نه بلي او هغه نفس چې الله حرام کړی

حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَلَا يَزۡنُونَۚ
وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ يَلۡقَ أَثَامٗا ٦٨

وي؛ ناحقه نه قتلوي او زنا نه كوي او څوك
چې د غه (كارونه) وكړي (نو) هغه به د خپلې
گناه له جزا سره ملاقات وكړي

يُضَٰعَفۡ لَهُ ٱلۡعَذَابُ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ
وَيَخۡلُدۡ فِيهِۦ مُهَانًا ٦٩

(69) د قيامت په ورځ به ده ته عذاب دوه
چنده كولی شي او په هغه (عذاب) كې به تل
وي، په داسې حال چې چې خوار او ذليله به
وي

إِلَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ عَمَلٗا
صَٰلِحٗا فَأُوْلَٰٓئِكَ يُبَدِّلُ ٱللَّهُ
سَيِّـَٔاتِهِمۡ حَسَنَٰتٖۗ وَكَانَ ٱللَّهُ
غَفُورٗا رَّحِيمٗا ٧٠

(70) مگر هغه كس چې توبه وباسي او ايمان
راوړي او نيك عمل وكړي، نو دغه كسان دي
چې الله به د دوی بدی په نيكی سره بدلې
كړي او الله له ازله ډېر بخښونكی، بې حده
رحم كوونكی دی

وَمَن تَابَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا فَإِنَّهُۥ
يَتُوبُ إِلَى ٱللَّهِ مَتَابٗا ٧١

(71) او هغه څوك چې توبه وباسي او نيك
عمل وكړي، نو بېشكه دغه كس الله ته رجوع
كوي، رجوع كول

وَٱلَّذِينَ لَا يَشۡهَدُونَ ٱلزُّورَ وَإِذَا
مَرُّواْ بِٱللَّغۡوِ مَرُّواْ كِرَامٗا ٧٢

(72) او هغه كسان دي چې باطلو ته نه
حاضرېږي او كله چې په بېكاره كار تېرېږي
(نو) عزت داره تېرېږي

وَٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ
لَمۡ يَخِرُّواْ عَلَيۡهَا صُمّٗا

(73) او هغه كسان دي چې كله دوی ته د
خپل رب په ايتونو سره نصيحت وكړی شي

وَعُمۡيَانٗا ٧٣

(نو) په دې (ایتونو) باندي کاڼه او ړانده نه غورځېږي

وَٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبۡ لَنَا مِنۡ أَزۡوَٰجِنَا وَذُرِّيَّٰتِنَا قُرَّةَ أَعۡيُنٖ وَٱجۡعَلۡنَا لِلۡمُتَّقِينَ إِمَامًا ٧٤

(74) او هغه کسان دي چې وايي: ای زمونږه ربه! ته مونږ ته زمونږ له ښځو نه او زمونږ له اولادونو نه د سترګو يخ والی راوبښه او ته مونږ د متقيانو امام وګرځوه

أُوْلَٰٓئِكَ يُجۡزَوۡنَ ٱلۡغُرۡفَةَ بِمَا صَبَرُواْ وَيُلَقَّوۡنَ فِيهَا تَحِيَّةٗ وَسَلَٰمًا ٧٥

(75) دغه کسان دي چې د صبر کولو په سبب به دوی ته د اوچتو ماڼيو بدله ورکولی شي او په دې (جنت) کې به د ژوند په دعا او سلام سره د دوی استقبال کولی شي

خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ حَسُنَتۡ مُسۡتَقَرّٗا وَمُقَامٗا ٧٦

(76) په داسې حال کې چې همېشه به وي دوی په دغه (جنت) کې، د قرار او استوګنې په لحاظ دا ښه ځای دی

قُلۡ مَا يَعۡبَؤُاْ بِكُمۡ رَبِّي لَوۡلَا دُعَآؤُكُمۡۖ فَقَدۡ كَذَّبۡتُمۡ فَسَوۡفَ يَكُونُ لِزَامَۢا ٧٧

(77) ته (دوی ته) ووايه: زما رب ستاسو څه پروا کوي که ستاسو دعا کول نه وی، نو يقيناً تاسو تکذيب کړی دی، نو ژر به دا (د تکذيب سزا تاسو سره) لازمه وي

## سُورَةُ الشُّعَرَاءِ

## سورة شعراء

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

طسٓمٓ ١

(1) طا، سين، ميم

تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ٢

(2) دا د واضح کتاب ايتونه دي

لَعَلَّكَ بَٰخِعٞ نَّفۡسَكَ أَلَّا يَكُونُواْ مُؤۡمِنِينَ ٣

(3) ښايي چې ته د خپل ځان هلاکوونکی يې، په دې وجه چې دوی مومنان کېږي نه

إِن نَّشَأۡ نُنَزِّلۡ عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ءَايَةٗ فَظَلَّتۡ أَعۡنَٰقُهُمۡ لَهَا خَٰضِعِينَ ٤

(4) که مونږ وغواړو (نو) په دوی به له اسمان نه يو دليل نازل کړو، بيا به د دوی څټونه دغه (دليل) ته غاړه اېښودونکي شي

وَمَا يَأۡتِيهِم مِّن ذِكۡرٖ مِّنَ ٱلرَّحۡمَٰنِ مُحۡدَثٍ إِلَّا كَانُواْ عَنۡهُ مُعۡرِضِينَ ٥

(5) او دوی ته د رحمن له جانبه څه نوی ذکر (نصيحت) نه راځي مګر دوی له هغه نه مخ ګرځوونکي دي

فَقَدۡ كَذَّبُواْ فَسَيَأۡتِيهِمۡ أَنۢبَٰٓؤُاْ مَا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ٦

(6) نو تحقيق دوی تکذيب وکړ، پس دوی ته به ژر د هغه څه خبر (انجام) راشي چې دوی به په هغه پورې استهزا کولې

| | |
|---|---|
| أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ إِلَى ٱلۡأَرۡضِ كَمۡ أَنۢبَتۡنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوۡجٖ كَرِيمٍ ٧ | (7) ايا دوى ځمكې ته نه ګوري، څومره ډېر مونږ په دې كې له هر قسمه عمده جوړه نه زرغون كړي دي |
| إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗۖ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّؤۡمِنِينَ ٨ | (8) بېشكه په دې كې خامخا لويه نښه ده او د دوى زياتره ايمان راوړونكي نه دي |
| وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ٩ | (9) او بېشكه ستا رب خامخا هم هغه ښه غالب، بې حده رحم كوونكى دى |
| وَإِذۡ نَادَىٰ رَبُّكَ مُوسَىٰٓ أَنِ ٱئۡتِ ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٠ | (10) او (ياد كړه) هغه وخت چې ستا رب موسىٰ ته اواز وكړ داسې چې ته هغه قوم ته ورشه چې ظالمان دي |
| قَوۡمَ فِرۡعَوۡنَۚ أَلَا يَتَّقُونَ ١١ | (11) چې د فرعون قوم دى، ايا دوى نه وېرېږي (له الله نه)! |
| قَالَ رَبِّ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يُكَذِّبُونِ ١٢ | (12) (موسىٰ) وويل: اى زما ربه! بېشكه زه له دې نه وېرېږم چې دوى به زما تكذيب وكړي |
| وَيَضِيقُ صَدۡرِي وَلَا يَنطَلِقُ لِسَانِي فَأَرۡسِلۡ إِلَىٰ هَٰرُونَ ١٣ | (13) او (بل) زما سينه تنګېږي او (بل) زما ژبه نه چلېږي، نو ته هارون ته پيغام ولېږه |
| وَلَهُمۡ عَلَيَّ ذَنۢبٞ فَأَخَافُ أَن | (14) او (بل دا چې) د هغوى لپاره زما په خلاف (دعوىٰ د) ګناه ده، نو زه له دې نه |

يَقۡتُلُونِ ١٤

وبرېږم چې دوی به ما قتل کړي

قَالَ كَلَّاۖ فَٱذۡهَبَا بِـَٔايَٰتِنَآۖ إِنَّا مَعَكُم مُّسۡتَمِعُونَ ١٥

(15) (الله) وفرمايل: داسې نشي کېدی، نو تاسو دواړه زما له ښکاره معجزو سره لاړ شئ، بېشکه مونږ له تاسو سره يو، اورېدونکي يو

فَأۡتِيَا فِرۡعَوۡنَ فَقُولَآ إِنَّا رَسُولُ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٦

(16) نو تاسو دواړه فرعون ته ورشئ، نو (ورته) ووايئ: بېشکه مونږ د رب العلمين استازي يو

أَنۡ أَرۡسِلۡ مَعَنَا بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ١٧

(17) په دې خبره چې ته زمونږ سره بني اسرائيل خوشې کړه

قَالَ أَلَمۡ نُرَبِّكَ فِينَا وَلِيدٗا وَلَبِثۡتَ فِينَا مِنۡ عُمُرِكَ سِنِينَ ١٨

(18) (فرعون) وويل: ايا مونږه په خپل کاله کې ستا پالنه نه وه کړې، په داسې حال کې چې ته بچی وې او تا په مونږ کې د خپل عمر څو کاله تېر کړي وو

وَفَعَلۡتَ فَعۡلَتَكَ ٱلَّتِي فَعَلۡتَ وَأَنتَ مِنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ١٩

(19) او تا خپل هغه کار کړی و چې تا کړی و، په دې حال کې چې ته له ناشکرو څخه يې

قَالَ فَعَلۡتُهَآ إِذٗا وَأَنَا۠ مِنَ ٱلضَّآلِّينَ ٢٠

(20) (موسیٰ) وويل: ما دغه کار په هغه وخت کې کړی و چې زه له ناپوهانو څخه وم

فَفَرَرۡتُ مِنكُمۡ لَمَّا خِفۡتُكُمۡ فَوَهَبَ لِي رَبِّي حُكۡمٗا وَجَعَلَنِي

(21) نو کله چې زه له تاسو ووېرېدم (نو) له تاسو نه وتښتېدم، بيا ما ته زما رب حکم (او

| | |
|---|---|
| مِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿٢١﴾ | علم) راکړ او زه يې له رسولانو څخه وګرځولم |
| وَتِلۡكَ نِعۡمَةٞ تَمُنُّهَا عَلَيَّ أَنۡ عَبَّدتَّ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ﴿٢٢﴾ | (22) او دغه داسې احسان دی چې ته يې په ما زباتوې (هغه) دا دی چې تا بني اسرائيل غلامان ګرځولي وو |
| قَالَ فِرۡعَوۡنُ وَمَا رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٢٣﴾ | (23) فرعون وويل: او رب العلمين څه شی دی؟ |
| قَالَ رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَآۖ إِن كُنتُم مُّوقِنِينَ ﴿٢٤﴾ | (24) هغه وويل: رب دی د اسمانونو او ځمکې او د هغه څه چې د دې دواړو په مينځ کې دي، که تاسو يقين کوونکي يئ |
| قَالَ لِمَنۡ حَوۡلَهُۥٓ أَلَا تَسۡتَمِعُونَ ﴿٢٥﴾ | (25) هغه (فرعون) خپلو ګېر چاپېره خلقو ته وويل: ايا تاسو نه اورئ؟ |
| قَالَ رَبُّكُمۡ وَرَبُّ ءَابَآئِكُمُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿٢٦﴾ | (26) (موسیٰ) وويل: (چې رب العلمين) ستاسو رب دی او ستاسو د مخکينو پلرونو رب دی |
| قَالَ إِنَّ رَسُولَكُمُ ٱلَّذِيٓ أُرۡسِلَ إِلَيۡكُمۡ لَمَجۡنُونٞ ﴿٢٧﴾ | (27) (فرعون) وويل: بېشکه ستاسو دغه رسول چې تاسو ته رالېږل شوی دی، يقينًا لېونی دی |
| قَالَ رَبُّ ٱلۡمَشۡرِقِ وَٱلۡمَغۡرِبِ وَمَا | (28) (موسیٰ) وويل: (هغه) د مشرق او مغرب |

| | |
|---|---|
| بَيْنَهُمَآۖ إِن كُنتُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٢٨﴾ | رب دی او څه چې د دې دواړو په مینځ کې دي، که تاسو له عقل نه کار اخلئ |
| قَالَ لَئِنِ ٱتَّخَذْتَ إِلَٰهًا غَيْرِى لَأَجْعَلَنَّكَ مِنَ ٱلْمَسْجُونِينَ ﴿٢٩﴾ | (29) (فرعون موسیٰ ته) وویل: قسم دی که تا له ما نه غیر بل معبود ونیوه (نو) زه به خامخا هرومرو تا وګرځوم له قیدیانو څنې |
| قَالَ أَوَلَوْ جِئْتُكَ بِشَىْءٍ مُّبِينٍ ﴿٣٠﴾ | (30) (موسیٰ) وویل: ایا اګر که زه تا ته یو ښکاره څرګندوونکی شی (دلیل) راوړم |
| قَالَ فَأْتِ بِهِۦٓ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٣١﴾ | (31) (فرعون) وویل: نو ته هغه راوړه که ته له رښتینو څخه یې |
| فَأَلْقَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِىَ ثُعْبَانٌ مُّبِينٌ ﴿٣٢﴾ | (32) نو هغه (موسیٰ) خپله امسا وغورځوله، نو ناڅاپه هغه وه ښکاره ښامار |
| وَنَزَعَ يَدَهُۥ فَإِذَا هِىَ بَيْضَآءُ لِلنَّٰظِرِينَ ﴿٣٣﴾ | (33) او خپل لاس یې راوایست، نو ناڅاپه هغه د کتونکو لپاره تک سپین و |
| قَالَ لِلْمَلَإِ حَوْلَهُۥٓ إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٌ عَلِيمٌ ﴿٣٤﴾ | (34) فرعون خپلو چاپېره سردارانو ته وویل: بېشکه دا یقینًا ډېر پوه جادوګر دی |
| يُرِيدُ أَن يُخْرِجَكُم مِّنْ أَرْضِكُم بِسِحْرِهِۦ فَمَاذَا | (35) دا غواړي چې په خپل جادو سره تاسو له خپلې ځمکې نه وباسي، نو تاسو د څه مشوره راکوئ؟ |

تَأۡمُرُونَ ٣٥

قَالُوٓاْ أَرۡجِهۡ وَأَخَاهُ وَٱبۡعَثۡ فِي ٱلۡمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ٣٦

(36) هغوى وويل: ته دا او د ده ورور وروسته کړه او په ښارونو کې راټولوونکي ولېږه

يَأۡتُوكَ بِكُلِّ سَحَّارٍ عَلِيمٖ ٣٧

(37) چې تا ته هر ښه پوه، غټ جادوګر راولي

فَجُمِعَ ٱلسَّحَرَةُ لِمِيقَٰتِ يَوۡمٖ مَّعۡلُومٖ ٣٨

(38) نو جادوګر د معلومې ورځې میعاد ته راجمع کړی شول

وَقِيلَ لِلنَّاسِ هَلۡ أَنتُم مُّجۡتَمِعُونَ ٣٩

(39) او خلقو ته وویل شول چې ایا تاسو راجمع کېدونکي یئ؟

لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ ٱلسَّحَرَةَ إِن كَانُواْ هُمُ ٱلۡغَٰلِبِينَ ٤٠

(40) کېدی شي چې مونږ د جادوګرو پیروي وکړو که هم دوی غالب راتلونکي شي

فَلَمَّا جَآءَ ٱلسَّحَرَةُ قَالُواْ لِفِرۡعَوۡنَ أَئِنَّ لَنَا لَأَجۡرًا إِن كُنَّا نَحۡنُ ٱلۡغَٰلِبِينَ ٤١

(41) نو کله چې جادوګر راغلل، (نو) فرعون ته یې وویل: ایا یقینًا به زمونږ لپاره واقعي اجر وي که همدا مونږ غالبه شو؟

قَالَ نَعَمۡ وَإِنَّكُمۡ إِذٗا لَّمِنَ ٱلۡمُقَرَّبِينَ ٤٢

(42) ویې ویل:هو، او بېشکه تاسو به په دغه وخت کې خامخا له مقربانو څخه یئ!

قَالَ لَهُم مُّوسَىٰٓ أَلۡقُواْ مَآ أَنتُم

(43) دوی ته موسىٰ وویل: تاسو هغه څه

مُّلۡقُونَ ﴿٤٣﴾

وغورځوئ چې تاسو يې غورځوونکي يئ

فَأَلۡقَوۡاْ حِبَالَهُمۡ وَعِصِيَّهُمۡ وَقَالُواْ بِعِزَّةِ فِرۡعَوۡنَ إِنَّا لَنَحۡنُ ٱلۡغَٰلِبُونَ ﴿٤٤﴾

**(44)** نو هغوی خپلې رسۍ او امساګانې وغورځولې او ويې ويل:د فرعون په عزت سره، بېشکه مونږ، خامخا همدا مونږ غالب يو

فَأَلۡقَىٰ مُوسَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ تَلۡقَفُ مَا يَأۡفِكُونَ ﴿٤٥﴾

**(45)** نو موسٰی خپله امسا وغورځوله، نو ناڅاپه هغې هغه څه نسوی تېرول چې دوی په دروغه جوړ کړي وو

فَأُلۡقِيَ ٱلسَّحَرَةُ سَٰجِدِينَ ﴿٤٦﴾

**(46)** نو جادوګر وغورځول شول (پرمخې)، چې سجده کوونکي وو

قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٤٧﴾

**(47)** ويې ويل:مونږ په رب العلمين ايمان راوړ

رَبِّ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ﴿٤٨﴾

**(48)** چې د موسٰی او هارون رب دی

قَالَ ءَامَنتُمۡ لَهُۥ قَبۡلَ أَنۡ ءَاذَنَ لَكُمۡۖ إِنَّهُۥ لَكَبِيرُكُمُ ٱلَّذِي عَلَّمَكُمُ ٱلسِّحۡرَ فَلَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَۚ لَأُقَطِّعَنَّ أَيۡدِيَكُمۡ وَأَرۡجُلَكُم مِّنۡ خِلَٰفٖ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٤٩﴾

**(49)** (فرعون) وويل: تاسو په ده ايمان راوړ مخکې له دې نه چې زه تاسو ته اجازت درکړم، بېشکه دا يقينًا ستاسو هغه مشر دی چې تاسو ته يې جادو ښودلی دی، نو يقينًا تاسو به ژر پوه شئ، خامخا هرومرو به زه ستاسو لاسونه او ستاسو پښې، ادل بدل پرې کړم، او زه به خامخا هرومرو تاسو ټول په دار

کرم

قَالُواْ لَا ضَيۡرَۖ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ٥٠ (50) هغوی وویل: هیڅ ضرر نشته، بېشکه مونږ خپل رب ته بېرته ورتلونکي یو

إِنَّا نَطۡمَعُ أَن يَغۡفِرَ لَنَا رَبُّنَا خَطَٰيَٰنَآ أَن كُنَّآ أَوَّلَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٥١ (51) بېشکه مونږ دا طمع لرو چې زمونږ رب به مونږ ته زمونږ ګناهونه وبخښي، په دې چې مونږ (په دې حاضرینو کې) اول د ایمان راوړونکو یو

۞وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنۡ أَسۡرِ بِعِبَادِيٓ إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ٥٢ (52) او مونږ موسیٰ ته وحي وکړه داسې چې ته زما بنده ګان د شپې بوځه، بېشکه تاسو پسې به درتلل کېدی شي

فَأَرۡسَلَ فِرۡعَوۡنُ فِي ٱلۡمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ٥٣ (53) نو فرعون په ښارونو کې راټولوونکي ولېږل

إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَشِرۡذِمَةٞ قَلِيلُونَ ٥٤ (54) (او ویې ویل) بېشکه دغه (بني اسرائیل) ډېره لږه وړه ډله ده

وَإِنَّهُمۡ لَنَا لَغَآئِظُونَ ٥٥ (55) او بېشکه دوی مونږ لره یقینًا غصه کوونکي دي

وَإِنَّا لَجَمِيعٌ حَٰذِرُونَ ٥٦ (56) او بېشکه مونږ خامخا بیداره ډله یو

فَأَخۡرَجۡنَٰهُم مِّن جَنَّٰتٖ (57) نو مونږه دوی (فرعونیان) له باغونو او

| | |
|---|---|
| وَعُيُونٖ ٥٧ | چينو نه راوښكل |
| وَكُنُوزٖ وَمَقَامٖ كَرِيمٖ ٥٨ | (58) او له خزانو او ښو ځايونو نه |
| كَذَٰلِكَۖ وَأَوۡرَثۡنَٰهَا بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٥٩ | (59) همداسې (مونږ وكړل) او مونږ د دغو (څيزونو) وارثان بني اسرائيل وګرځول |
| فَأَتۡبَعُوهُم مُّشۡرِقِينَ ٦٠ | (60) نو (فرعونيان) د دوی پسې شول، چې د لمر ختو په وخت كې داخليدونكي وو |
| فَلَمَّا تَرَٰٓءَا ٱلۡجَمۡعَانِ قَالَ أَصۡحَٰبُ مُوسَىٰٓ إِنَّا لَمُدۡرَكُونَ ٦١ | (61) نو كله چې دواړو ډلو يو بل سره وليدل، د موسیٰ ملګرو وويل: بېشكه مونږ خامخا نيول كېدونكي يو |
| قَالَ كَلَّآۖ إِنَّ مَعِيَ رَبِّي سَيَهۡدِينِ ٦٢ | (62) (موسیٰ) وويل: هيڅكله داسې نشي كېدى، بېشكه زما سره زما رب دى، هغه به ضرور زما لار ښوونه كوي |
| فَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنِ ٱضۡرِب بِّعَصَاكَ ٱلۡبَحۡرَۖ فَٱنفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرۡقٖ كَٱلطَّوۡدِ ٱلۡعَظِيمِ ٦٣ | (63) نو مونږ موسیٰ ته وحي وكړه چې ته په خپلې امسا سره سمندر ووهه، نو هغه څيرې شو، نو هره برخه د ډېر اوچت غر په شان شوله |
| وَأَزۡلَفۡنَا ثَمَّ ٱلۡأٓخَرِينَ ٦٤ | (64) او دغه ځای ته مونږ هغه نور ښه رانژدې كړل |

وَأَنجَيۡنَا مُوسَىٰ وَمَن مَّعَهُۥٓ أَجۡمَعِينَ ﴿٦٥﴾

(65) اومونږ موسیٰ او هغو کسانو ته چې له هغه سره وو ؛ ټولو ته نجات ورکړ

ثُمَّ أَغۡرَقۡنَا ٱلۡأٓخَرِينَ ﴿٦٦﴾

(66) بیا مونږ هغه نور غرق (ډوب) کړل

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗۖ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿٦٧﴾

(67) ببشکه په دې کې خامخا لویه نښه ده، او د دوی زیاتره ایمان راوړونکي نه وو

وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٦٨﴾

(68) او ببشکه رب ستا خامخا هم هغه ښه غالب، بې حده رحم کوونکی دی

وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ إِبۡرَٰهِيمَ ﴿٦٩﴾

(69) او ته دوی ته د ابراهیم خبر (قصه) ولوله

إِذۡ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوۡمِهِۦ مَا تَعۡبُدُونَ ﴿٧٠﴾

(70) کله چې هغه خپل پلار او خپل قوم ته وویل: تاسو د څه شیز عبادت کوئ

قَالُواْ نَعۡبُدُ أَصۡنَامٗا فَنَظَلُّ لَهَا عَٰكِفِينَ ﴿٧١﴾

(71) هغوی وویل: مونږ د بتانو عبادت کوو، پس همېشه به دوی ته په عبادت قایم اوسو

قَالَ هَلۡ يَسۡمَعُونَكُمۡ إِذۡ تَدۡعُونَ ﴿٧٢﴾

(72) هغه وویل: ایا دوی ستاسو اوري کله چې تاسو (دوی) بلئ؟

أَوۡ يَنفَعُونَكُمۡ أَوۡ يَضُرُّونَ ﴿٧٣﴾

(73) یا تاسو ته نفع دررسوي، یا ضرر دررسوي؟

قَالُواْ بَلْ وَجَدْنَآ ءَابَآءَنَا كَذَٰلِكَ يَفْعَلُونَ ﴿٧٤﴾

(74) هغوی وویل: بلکې مونږ خپل پلرونه موندلي دي چې همداسې به يې کول

قَالَ أَفَرَءَيْتُم مَّا كُنتُمْ تَعْبُدُونَ ﴿٧٥﴾

(75) هغه وویل: ایا تاسو کتلي دي (او پوه شوي يئ په) هغه چې تاسو يې عبادت کوئ

أَنتُمْ وَءَابَآؤُكُمُ ٱلْأَقْدَمُونَ ﴿٧٦﴾

(76) تاسو او ستاسو پخوا تیر شوي پلرونه

فَإِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِّيٓ إِلَّا رَبَّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٧٧﴾

(77) پس بېشکه دوی (ستاسو معبودان) زما دښمنان دي غیر له رب العلمین نه

ٱلَّذِي خَلَقَنِي فَهُوَ يَهْدِينِ ﴿٧٨﴾

(78) هغه چې زه يې پیدا کړی یم، نو هغه زما لار ښوونه کوي

وَٱلَّذِي هُوَ يُطْعِمُنِي وَيَسْقِينِ ﴿٧٩﴾

(79) او هغه چې همغه په ما خوراك کوي او په ما څښاك کوي

وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ ﴿٨٠﴾

(80) او کله چې زه ناروغه شم، نو هغه ما ته شفا راکوي

وَٱلَّذِي يُمِيتُنِي ثُمَّ يُحْيِينِ ﴿٨١﴾

(81) او هغه چې ما ته به مرگ راکوي، بیا به ما ژوندی کوي

وَٱلَّذِيٓ أَطْمَعُ أَن يَغْفِرَ لِي خَطِيٓـَٔتِي يَوْمَ ٱلدِّينِ ﴿٨٢﴾

(82) او هغه چې زه طمع لرم دا چې د قیامت په ورځ به هغه ما ته زما گناه وبخښي

| | |
|---|---|
| رَبِّ هَبۡ لِي حُكۡمٗا وَأَلۡحِقۡنِي بِٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٨٣﴾ | (83) اى زما ربه! ما ته حكم (علم وحكمت) راكړه او ما له نېكانو سره پيوست كړه |
| وَٱجۡعَل لِّي لِسَانَ صِدۡقٖ فِي ٱلۡأٓخِرِينَ ﴿٨٤﴾ | (84) او زما لپاره په وروستنو خلقو كې د صدق ژبه (نېكنامي) وګرځوه |
| وَٱجۡعَلۡنِي مِن وَرَثَةِ جَنَّةِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٨٥﴾ | (85) او ما د نعمتونو د جنت له وارثانو څني وګرځوه |
| وَٱغۡفِرۡ لِأَبِيٓ إِنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلضَّآلِّينَ ﴿٨٦﴾ | (86) او زما پلار ته بخښنه وكړه، يقينًا هغه له ګمراهانو څني و |
| وَلَا تُخۡزِنِي يَوۡمَ يُبۡعَثُونَ ﴿٨٧﴾ | (87) او ته ما مه شرموه په هغې ورځ كې چې خلق به بيا ژوندي كولی شي |
| يَوۡمَ لَا يَنفَعُ مَالٞ وَلَا بَنُونَ ﴿٨٨﴾ | (88) په هغې ورځ چې نه به مال نفع رسوي او نه زامن |
| إِلَّا مَنۡ أَتَى ٱللَّهَ بِقَلۡبٖ سَلِيمٖ ﴿٨٩﴾ | (89) مګر هغه چا ته چې الله ته په ډېر سلامت زړه راغی |
| وَأُزۡلِفَتِ ٱلۡجَنَّةُ لِلۡمُتَّقِينَ ﴿٩٠﴾ | (90) او جنت به(په هغې ورځ كې) پرهېزګارانو ته ورنژدې كړی شي |
| وَبُرِّزَتِ ٱلۡجَحِيمُ لِلۡغَاوِينَ ﴿٩١﴾ | (91) او جهنم به ګمراهانو ته ښه ښكاره كړی |

شي

وَقِيلَ لَهُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ تَعْبُدُونَ ٩٢

(92) او دوی ته به وویل شي: چېرته دي هغه (معبودان) چې تاسو به يې عبادت کاوه

مِن دُونِ ٱللَّهِ هَلْ يَنصُرُونَكُمْ أَوْ يَنتَصِرُونَ ٩٣

(93) له الله نه غير، ايا دوی ستاسو مدد کوي، يا دوی بدله اخيستی شي؟

فَكُبْكِبُواْ فِيهَا هُمْ وَٱلْغَاوُۥنَ ٩٤

(94) نو دا (بتان) به په دغه (جهنم) کې نسکور وغورځول شي دوی او ګمراهان هم

وَجُنُودُ إِبْلِيسَ أَجْمَعُونَ ٩٥

(95) او د ابليس لښکرې، دوی ټول

قَالُواْ وَهُمْ فِيهَا يَخْتَصِمُونَ ٩٦

(96) دوی به ووايي، په داسې حال کې چې دوی به سره جګړې کوي:

تَٱللَّهِ إِن كُنَّا لَفِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ٩٧

(97) قسم په الله، يقينًا مونږه خامخا په ښکاره ګمراهۍ کې وو

إِذْ نُسَوِّيكُم بِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ٩٨

(98) کله چې مونږ تاسو له رب العلمين سره برابرولئ

وَمَآ أَضَلَّنَآ إِلَّا ٱلْمُجْرِمُونَ ٩٩

(99) او مونږ نه وو ګمراه کړي مګر مجرمانو (بدو مشرانو)

فَمَا لَنَا مِن شَٰفِعِينَ ١٠٠

(100) نو زمونږ لپاره هيڅوك شفاعت کوونکي

نشته

| | |
|---|---|
| وَلَا صَدِيقٍ حَمِيمٍ ﴿١٠١﴾ | (101) او نه کوم مخلص دوست |
| فَلَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَكُونَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٠٢﴾ | (102) نو ارمان که په رښتيا زمونږ لپاره يو ځل دنيا ته واپسي وی، نو چې شوي وی مونږ له مومنانو نه |
| إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٠٣﴾ | (103) بېشکه په دې کې خامخا لويه نښه ده او د دوی زياتره مومنان نه وو |
| وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٠٤﴾ | (104) او بېشکه ستا رب، خامخا همغه ډېر غالب، بې حده رحم کوونکی دی |
| كَذَّبَتْ قَوْمُ نُوحٍ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٠٥﴾ | (105) د نوح قوم د رسولانو تکذيب وکړ |
| إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ نُوحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٠٦﴾ | (106) کله چې دوی ته د دوی ورور نوح وويل: ايا تاسو نه وېرېږئ! |
| إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٠٧﴾ | (107) بېشکه زه تاسو ته امانتګر رسول يم |
| فَٱتَّقُوا ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٠٨﴾ | (108) نو تاسو له الله نه ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ |
| وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۖ إِنْ | (109) او زه له تاسو نه په دې (تبليغ) باندې هېڅ اجر (عوض) نه غواړم، نه دی اجر زما |

أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٠٩﴾

مگر په رب العلمين باندې

فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١١٠﴾

(110) نو تاسو له الله نه ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ

۞قَالُوٓاْ أَنُؤۡمِنُ لَكَ وَٱتَّبَعَكَ ٱلۡأَرۡذَلُونَ ﴿١١١﴾

(111) هغوى وويل: ايا مونږ په تا ايمان راوړو!، حال دا چې ستا پيروي تر ټولو رذيلو خوارو خلقو کړې ده

قَالَ وَمَا عِلۡمِي بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١١٢﴾

(112) (نوح) وويل: او ما ته څه علم دى په هغه څه چې دوى يې کوي

إِنۡ حِسَابُهُمۡ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّيۖ لَوۡ تَشۡعُرُونَ ﴿١١٣﴾

(113) نه دى د دوى حساب مگر زما په رب باندې، که تاسو پوهېږئ

وَمَآ أَنَا۠ بِطَارِدِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١١٤﴾

(114) او زه له سره دې مومنانو لره شړونکى نه يم

إِنۡ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٞ مُّبِينٞ ﴿١١٥﴾

(115) زه نه يم مگر ښکاره وېروونکى

قَالُواْ لَئِن لَّمۡ تَنتَهِ يَٰنُوحُ لَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمَرۡجُومِينَ ﴿١١٦﴾

(116) دوى وويل: اى نوحه! قسم دى که ته وانه وښتې (نو) خامخا هرومرو به ته له سنگسار کړى شويو څخه شې

قَالَ رَبِّ إِنَّ قَوۡمِي كَذَّبُونِ ﴿١١٧﴾

(117) هغه وويل: اى زما ربه! بېشکه زما قوم

زما تکذیب وکړ

فَٱفۡتَحۡ بَيۡنِي وَبَيۡنَهُمۡ فَتۡحٗا وَنَجِّنِي وَمَن مَّعِيَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١١٨

**(118)** نو ته زما په مینځ کې او د دوی په مینځ کې فیصله وکړه واضحه فیصله او ته ما ته نجات راکړه او هغه چا ته چې له ما سره کوم مومنان دي

فَأَنجَيۡنَٰهُ وَمَن مَّعَهُۥ فِي ٱلۡفُلۡكِ ٱلۡمَشۡحُونِ ١١٩

**(119)** نو مونږ نجات ورکړ هغه ته او هغه چا ته چې له ده سره په ډکه کشتۍ کې وو

ثُمَّ أَغۡرَقۡنَا بَعۡدُ ٱلۡبَاقِينَ ١٢٠

**(120)** بیا مونږ له دې نه پس باقي خلق غرق (ډوب) کړل

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗۖ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّؤۡمِنِينَ ١٢١

**(121)** بیشکه په دې کې خامخا لویه نښه ده او د دوی زیاتره مومنان نه وو

وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ١٢٢

**(122)** او بیشکه ستا رب خامخا همغه ډېر غالب، بې حده رحم کوونکی دی

كَذَّبَتۡ عَادٌ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ١٢٣

**(123)** عادیانو د رسولانو تکذیب وکړ

إِذۡ قَالَ لَهُمۡ أَخُوهُمۡ هُودٌ أَلَا تَتَّقُونَ ١٢٤

**(124)** کله چې دوی ته د دوی ورور هود وویل: ایا تاسو نه وېرېږئ!

إِنِّي لَكُمۡ رَسُولٌ أَمِينٞ ١٢٥

**(125)** بیشکه زه تاسو ته امانتګر رسول یم

| | |
|---|---|
| فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٢٦﴾ | (126) نو تاسو له الله نه ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ |
| وَمَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٢٧﴾ | (127) او زه له تاسو نه په دې (تبليغ) باندې هېڅ اجر (عوض) نه غواړم، زمااجر نه دی مګر په رب العلمين باندې |
| أَتَبۡنُونَ بِكُلِّ رِيعٍ ءَايَةٗ تَعۡبَثُونَ ﴿١٢٨﴾ | (128) ايا تاسو په هر اوچت ځای يوه نښه (لوړه ودانۍ) جوړوئ، په داسې حال کې چې عبثيات کوئ! |
| وَتَتَّخِذُونَ مَصَانِعَ لَعَلَّكُمۡ تَخۡلُدُونَ ﴿١٢٩﴾ | (129) او تاسو پاخه عمارتونه جوړوئ، ښايي چې تاسو به (په دنيا کې) تل اوسېږئ |
| وَإِذَا بَطَشۡتُم بَطَشۡتُمۡ جَبَّارِينَ ﴿١٣٠﴾ | (130) او کله چې تاسو نيول کوئ (،نو) نيول کوئ، په داسې حال کې چې ظلم کوونکي يئ |
| فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٣١﴾ | (131) نو تاسو له الله نه ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ |
| وَٱتَّقُواْ ٱلَّذِيٓ أَمَدَّكُم بِمَا تَعۡلَمُونَ ﴿١٣٢﴾ | (132) او تاسو له هغه ذات نه ووېرېږئ چې ستاسو مدد يې کړی دی په هغه څه سره چې تاسو پرې پوه يئ |

| | |
|---|---|
| أَمَدَّكُم بِأَنْعَٰمٖ وَبَنِينَ ١٣٣ | (133) هغه ستاسو مدد کړی دی په څارویو او زامنو سره |
| وَجَنَّٰتٖ وَعُيُونٍ ١٣٤ | (134) او باغونو او چينو سره |
| إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيمٖ ١٣٥ | (135) بېشکه زه پر تاسو باندې د ډېرې لويې ورځې د عذاب وېره کوم |
| قَالُواْ سَوَآءٌ عَلَيۡنَآ أَوَعَظۡتَ أَمۡ لَمۡ تَكُن مِّنَ ٱلۡوَٰعِظِينَ ١٣٦ | (136) هغوی وويل: مونږ ته يو شان ده، ايا که ته نصيحت (وعظ) کوې، يا ته نه کېږې له وعظ کوونکو نه |
| إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا خُلُقُ ٱلۡأَوَّلِينَ ١٣٧ | (137) نه دی دا ستا (وعظ کول) مگر عادت د پخوانيو خلقو |
| وَمَا نَحۡنُ بِمُعَذَّبِينَ ١٣٨ | (138) او مونږ له سره په عذاب کې مبتلا کېدونکې نه يو |
| فَكَذَّبُوهُ فَأَهۡلَكۡنَٰهُمۡۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗۖ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّؤۡمِنِينَ ١٣٩ | (139) نو دوی د هغه تکذيب وکړ، نو مونږه دوی هلاك کړل، بېشکه په دې کې خامخا لويه نښه ده او د دوی اکثره مومنان نه وو |
| وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ١٤٠ | (140) او بېشکه ستا رب خامخا همغه ښه غالب، بې حده رحم کوونکی دی |

| | |
|---|---|
| كَذَّبَتۡ ثَمُودُ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ١٤١ | (141) ثموديانو د رسولانو تکذيب وکړ |
| إِذۡ قَالَ لَهُمۡ أَخُوهُمۡ صَٰلِحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ١٤٢ | (142) کله چې دوی ته د دوی ورور صالح وويل: ايا تاسو نه وېرېږئ! |
| إِنِّي لَكُمۡ رَسُولٌ أَمِينٞ ١٤٣ | (143) بېشکه زه تاسو ته امانتګر رسول يم |
| فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ١٤٤ | (144) نو تاسو له الله نه ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ |
| وَمَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٤٥ | (145) او زه له تاسو نه په دې (تبليغ) باندې هېڅ اجر نه غواړم، زما اجر نه دی مګر په رب العلمين باندې |
| أَتُتۡرَكُونَ فِي مَا هَٰهُنَآ ءَامِنِينَ ١٤٦ | (146) ايا تاسو به په پرېښودل شئ په هغو څيزونو کې چې دلته دي، په امن (او بې غمۍ) سره |
| فِي جَنَّٰتٖ وَعُيُونٖ ١٤٧ | (147) په باغونو او چينو کې |
| وَزُرُوعٖ وَنَخۡلٖ طَلۡعُهَا هَضِيمٞ ١٤٨ | (148) او په فصلونو او داسې کجورو کې چې د هغو وږي (شګوفې) ډېر نرمې پستې وي |
| وَتَنۡحِتُونَ مِنَ ٱلۡجِبَالِ بُيُوتٗا فَٰرِهِينَ ١٤٩ | (149) او تاسو په غرونو کې کوروته توږئ (کنئ)، په داسې حال کې چې ښه ماهران |

يئ

فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٥٠﴾

(150) نو تاسو له الله نه ووېرېږئ، او زما اطاعت وکړئ

وَلَا تُطِيعُوٓا۟ أَمْرَ ٱلْمُسْرِفِينَ ﴿١٥١﴾

(151) او تاسو د اسراف کوونکو (له حد نه تېرېدونکو کافرانو) حکم مه منئ

ٱلَّذِينَ يُفْسِدُونَ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ ﴿١٥٢﴾

(152) هغه چې په ځمکه کې فساد کوي او اصلاح نه کوي

قَالُوٓا۟ إِنَّمَآ أَنتَ مِنَ ٱلْمُسَحَّرِينَ ﴿١٥٣﴾

(153) هغوی ووېل: بېشکه همدا خبره ده چې ته له جادو کړی شویو کسانو څخه یې

مَآ أَنتَ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا فَأْتِ بِـَٔايَةٍ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّـٰدِقِينَ ﴿١٥٤﴾

(154) ته نه یې مګر زمونږ په مثل بشر، نو ته کومه معجزه راوړه! که ته له رښتینو څخه یې

قَالَ هَـٰذِهِۦ نَاقَةٌ لَّهَا شِرْبٌ وَلَكُمْ شِرْبُ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ﴿١٥٥﴾

(155) او هغه ووېل: دا اوښه ده، د دې لپاره د اوبو وار دی او تاسو لپاره د مقررې ورځې د اوبو وار دی

وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٥٦﴾

(156) او تاسو دې ته هېڅ تکلیف مه رسوئ، (ګنې) نو تاسو به د ډېرې لویې ورځې عذاب ونیسي

| | |
|---|---|
| فَعَقَرُوهَا فَأَصۡبَحُواْ نَٰدِمِينَ ١٥٧ | (157) نو دوی د هغې پړکې پرې کړل، بیا دوی پښېمانه شول |
| فَأَخَذَهُمُ ٱلۡعَذَابُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗۖ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّؤۡمِنِينَ ١٥٨ | (158) نو دوی عذاب ونيول، بېشکه په دې کې خامخا لويه نښه ده او د دوی اکثره مومنان نه وو |
| وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ١٥٩ | (159) او بېشکه ستا رب خامخا همغه ډېر غالب، بې حده رحم کوونکی دی |
| كَذَّبَتۡ قَوۡمُ لُوطٍ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ١٦٠ | (160) د لوط قوم د رسولانو تکذيب وکړ |
| إِذۡ قَالَ لَهُمۡ أَخُوهُمۡ لُوطٌ أَلَا تَتَّقُونَ ١٦١ | (161) کله چې دوی ته د دوی ورور لوط وويل: ايا تاسو نه وېرېږئ! |
| إِنِّي لَكُمۡ رَسُولٌ أَمِينٞ ١٦٢ | (162) بېشکه زه تاسو ته امانتګر رسول يم |
| فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ١٦٣ | (163) نو تاسو له الله نه ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ |
| وَمَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٦٤ | (164) او زه له تاسو نه په دې (تبليغ) باندې هېڅ اجر (عوض) نه غواړم، زما اجر نه دی مګر په رب العلمين باندې |
| أَتَأۡتُونَ ٱلذُّكۡرَانَ مِنَ | (165) ايا په مخلوقاتو کې تاسو له سړيو سره |

| | |
|---|---|
| ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦٥﴾ | بدکاري کوئ |
| وَتَذَرُونَ مَا خَلَقَ لَكُمْ رَبُّكُم مِّنْ أَزْوَٰجِكُمۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ عَادُونَ ﴿١٦٦﴾ | (166) او تاسو پرېږدئ هغه څه چې تاسو لپاره ستاسو رب پیدا کړي دي، یعني ستاسو ښځې، بلکې تاسو له حده تېرېدونکي خلق یئ |
| قَالُواْ لَئِن لَّمْ تَنتَهِ يَٰلُوطُ لَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُخْرَجِينَ ﴿١٦٧﴾ | (167) دوی وویل: قسم دی که ته منع نه شوې ای لوطه! (نو) خامخا هرومرو به ته له اېستل شویو څخه شې |
| قَالَ إِنِّي لِعَمَلِكُم مِّنَ ٱلْقَالِينَ ﴿١٦٨﴾ | (168) هغه وویل: بېشکه زه ستاسو له عمل سره له سخت بغض لرونکو څخه یم |
| رَبِّ نَجِّنِي وَأَهْلِي مِمَّا يَعْمَلُونَ ﴿١٦٩﴾ | (169) ای زما ربه! ته ما ته او زما اهل ته نجات راکړې له هغو کارونو نه چې دوی یې کوي |
| فَنَجَّيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥٓ أَجْمَعِينَ ﴿١٧٠﴾ | (170) نو مونږ هغه ته او د هغه اهل ټولو ته نجات ورکړ |
| إِلَّا عَجُوزًا فِي ٱلْغَٰبِرِينَ ﴿١٧١﴾ | (171) غیر له یوې بوډۍ نه چې په باقي پاتې کېدونکو کې وه |
| ثُمَّ دَمَّرْنَا ٱلْأٓخَرِينَ ﴿١٧٢﴾ | (172) بیا مونږ هغه نور هلاك كړل |

| | |
|---|---|
| وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم مَّطَرًاۖ فَسَآءَ مَطَرُ ٱلْمُنذَرِينَ ١٧٣ | (173) او په دوی باندې مونږ باران ووراوه، عجیب (د کاڼو) باران، نو بد باران و د وېرول شویو (خلقو) |
| إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةًۖ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّؤۡمِنِينَ ١٧٤ | (174) بېشکه په دې کې خامخا لویه نښه ده، او د دوی زیاتره مومنان نه وو |
| وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ١٧٥ | (175) او بېشکه ستا رب خامخا همغه ډېر غالب، بې حده رحم کوونکی دی |
| كَذَّبَ أَصۡحَٰبُ لۡـَٔيۡكَةِ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ١٧٦ | (176) د ونو ځنګل والاو د رسولانو تکذیب وکړ |
| إِذۡ قَالَ لَهُمۡ شُعَيۡبٌ أَلَا تَتَّقُونَ ١٧٧ | (177) کله چې دوی ته شعیب ووېل: ایا تاسو نه وېرېږئ! |
| إِنِّي لَكُمۡ رَسُولٌ أَمِينٞ ١٧٨ | (178) بېشکه زه تاسو ته امانتګر رسول یم |
| فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ١٧٩ | (179) نو تاسو له الله نه ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ |
| وَمَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٨٠ | (180) او زه له تاسو نه په دې (تبلیغ) باندې هېڅ اجر نه غواړم، زما اجر نه دی مګر په رب العلمین باندې |

| | |
|---|---|
| ﴿أَوۡفُواْ ٱلۡكَيۡلَ وَلَا تَكُونُواْ مِنَ ٱلۡمُخۡسِرِينَ ١٨١﴾ | (181) تاسو پیمانه پوره ورکوئ او تاسو له کم ورکونکو څخه مه کېږئ |
| ﴿وَزِنُواْ بِٱلۡقِسۡطَاسِ ٱلۡمُسۡتَقِيمِ ١٨٢﴾ | (182) او تاسو په برابري تلې سره تول کوئ |
| ﴿وَلَا تَبۡخَسُواْ ٱلنَّاسَ أَشۡيَآءَهُمۡ وَلَا تَعۡثَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُفۡسِدِينَ ١٨٣﴾ | (183) او تاسو خلقو ته د هغوی څیزونه مه کموئ، او مه ګرځئ په وراني سره په ځمکه کې، په دې حال چې فساد کوونکي یئ |
| ﴿وَٱتَّقُواْ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ وَٱلۡجِبِلَّةَ ٱلۡأَوَّلِينَ ١٨٤﴾ | (184) او تاسو له هغه ذات نه ووېرېږئ چې تاسو او ړومبني خلق یې پیدا کړي دي |
| ﴿قَالُوٓاْ إِنَّمَآ أَنتَ مِنَ ٱلۡمُسَحَّرِينَ ١٨٥﴾ | (185) هغوی وویل: بېشکه همدا خبره ده چې ته له جادو کړی شویو ځنې یې |
| ﴿وَمَآ أَنتَ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُنَا وَإِن نَّظُنُّكَ لَمِنَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ١٨٦﴾ | (186) او ته نه یې مګر زمونږ په شان بشر، او یقینًا مونږ خامخا تا له دروغ ویونکو څخه ګڼو |
| ﴿فَأَسۡقِطۡ عَلَيۡنَا كِسَفٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ١٨٧﴾ | (187) نو ته پر مونږ باندې له اسمانه ټوټې راوغورځوه، که ته له رښتینو ځنې یې |
| ﴿قَالَ رَبِّيٓ أَعۡلَمُ بِمَا تَعۡمَلُونَ ١٨٨﴾ | (188) هغه وویل: زما رب ښه عالم دی په هغو کارونو چې تاسو یې کوئ |

فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَهُمۡ عَذَابُ يَوۡمِ ٱلظُّلَّةِۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيمٍ ١٨٩

(189) نو دوی د هغه تکذیب وکړ، پس دوی د سیوري د ورځې عذاب ونیول، بېشکه دغه (عذاب) د ډېرې لویې ورځې عذاب و

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗۖ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّؤۡمِنِينَ ١٩٠

(190) بېشکه په دې کې خامخا لویه نښه ده، او د دوی زیاتره مومنان نه وو

وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ١٩١

(191) او بېشکه ستا رب خامخا همغه ډېر غالب، بې حده رحم کوونکی دی

وَإِنَّهُۥ لَتَنزِيلُ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٩٢

(192) او بېشکه دا (قرآن) د رب العلمین (له جانبه) نازل کړی شوی دی

نَزَلَ بِهِ ٱلرُّوحُ ٱلۡأَمِينُ ١٩٣

(193) دا جبریل امین راکوز کړی دی

عَلَىٰ قَلۡبِكَ لِتَكُونَ مِنَ ٱلۡمُنذِرِينَ ١٩٤

(194) ستا په زړه باندې، د دې لپاره چې ته له وېروونکو څخه شې

بِلِسَانٍ عَرَبِيّٖ مُّبِينٖ ١٩٥

(195) په ښکاره عربي ژبه کې

وَإِنَّهُۥ لَفِي زُبُرِ ٱلۡأَوَّلِينَ ١٩٦

(196) او بېشکه دا (قرآن، یعني د ده ذکر) د ړومبنیو خلقو په کتابونو کې دی

أَوَلَمۡ يَكُن لَّهُمۡ ءَايَةً أَن يَعۡلَمَهُۥ

(197) ایا دغه (کفارو) ته (د قرآن د حقانیت) دا لویه نښه نه ده چې د بني اسرائیلو عالمان

| | |
|---|---|
| عُلَمَـٰٓؤُاْ بَنِيٓ إِسۡرَـٰٓءِيلَ ﴿١٩٧﴾ | په ده پوهېږي؟ |
| وَلَوۡ نَزَّلۡنَـٰهُ عَلَىٰ بَعۡضِ ٱلۡأَعۡجَمِينَ ﴿١٩٨﴾ | (198) او که مونږ دا (قرآن) په عجميانو کې په چا نازل کړی وی |
| فَقَرَأَهُۥ عَلَيۡهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ مُؤۡمِنِينَ ﴿١٩٩﴾ | (199) بيا هغه دا (قرآن) دوی ته لوستلی وی، دوی په ده باندې ايمان راوړونکي نه وو |
| كَذَٰلِكَ سَلَكۡنَـٰهُ فِي قُلُوبِ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿٢٠٠﴾ | (200) همداسې مونږ دا (د قرآن تکذيب) د مجرمانو په زړونو کې ننه ايستلی دی |
| لَا يُؤۡمِنُونَ بِهِۦ حَتَّىٰ يَرَوُاْ ٱلۡعَذَابَ ٱلۡأَلِيمَ ﴿٢٠١﴾ | (201) دوی په ده ايمان نه راوړي تر هغه پورې چې دوی ډېر دردوونکی عذاب ووينې |
| فَيَأۡتِيَهُم بَغۡتَةً وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ﴿٢٠٢﴾ | (202) نو هغه (عذاب) به په دوی ناڅاپه راشي، په داسې حال کې چې دوی نه پوهېږي |
| فَيَقُولُواْ هَلۡ نَحۡنُ مُنظَرُونَ ﴿٢٠٣﴾ | (203) بيا به دوی وايي: ايا مونږ ته به مهلت راکولی شي؟ |
| أَفَبِعَذَابِنَا يَسۡتَعۡجِلُونَ ﴿٢٠٤﴾ | (204) ايا نو دوی زمونږ همدا عذاب ژر غواړي |
| أَفَرَءَيۡتَ إِن مَّتَّعۡنَـٰهُمۡ سِنِينَ ﴿٢٠٥﴾ | (205) نو ته ما ته خبر راکړه که مونږ دوی ته څو کاله نفع ورکړو |

ثُمَّ جَآءَهُم مَّا كَانُواْ يُوعَدُونَ ﴿٢٠٦﴾

(206) بیا په دوی هغه (عذاب) راشي چې دوی سره به یې وعده کولی شوه

مَآ أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُواْ يُمَتَّعُونَ ﴿٢٠٧﴾

(207) (نو) د دوی به هېڅ په کار رانشي هغه څه چې دوی ته به (په هغو سره) نفع ورکولی شوه

وَمَآ أَهْلَكْنَا مِن قَرْيَةٍ إِلَّا لَهَا مُنذِرُونَ ﴿٢٠٨﴾

(208) او مونږ هېڅ یو کلی نه دی هلاك کړی مګر د هغه لپاره وېرووونکي وو

ذِكْرَىٰ وَمَا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿٢٠٩﴾

(209) د نصیحت کولو لپاره، اومونږ ظالمان نه وو

وَمَا تَنَزَّلَتْ بِهِ ٱلشَّيَٰطِينُ ﴿٢١٠﴾

(210) او دا (قرآن) شیطانانو نه دی راکوز کړی

وَمَا يَنۢبَغِي لَهُمْ وَمَا يَسْتَطِيعُونَ ﴿٢١١﴾

(211) او نه دا (کار) د هغوی لپاره صحیح دی او نه دوی (د دې کار) طاقت لري

إِنَّهُمْ عَنِ ٱلسَّمْعِ لَمَعْزُولُونَ ﴿٢١٢﴾

(212) بېشکه دوی (شیطانان) له اورېدلو نه خامخا منع کړی شوي (لرې کړی شوي) دي

فَلَا تَدْعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتَكُونَ مِنَ ٱلْمُعَذَّبِينَ ﴿٢١٣﴾

(213) نو ته له الله سره بل هېڅ معبود مه بله، (ګنې) نو شې به ته له عذاب ورکړی شویو نه

| | |
|---|---|
| وَأَنذِرۡ عَشِيرَتَكَ ٱلۡأَقۡرَبِينَ ﴿٢١٤﴾ | (214) او ته خپل ډېر نژدې خپلوان ووېروه |
| وَٱخۡفِضۡ جَنَاحَكَ لِمَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٢١٥﴾ | (215) او ته خپل وزر ښکته کړه د هغه چا لپاره چې ستا پیروي يې کړې ده، چې مومنان دي |
| فَإِنۡ عَصَوۡكَ فَقُلۡ إِنِّي بَرِيٓءٞ مِّمَّا تَعۡمَلُونَ ﴿٢١٦﴾ | (216) نو كه دغو (خپلوانو) ستا نافرماني وكړه، نو ته (ورته) ووایه: بېشكه زه د هغو كارونو نه بېزاره يم چې تاسو يې كوئ |
| وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱلۡعَزِيزِ ٱلرَّحِيمِ ﴿٢١٧﴾ | (217) او ته توكل وكړه په ډېر غالب، بې حده رحم كوونكي ذات باندې |
| ٱلَّذِي يَرَىٰكَ حِينَ تَقُومُ ﴿٢١٨﴾ | (218) هغه چې تاویني كله چې ته پاڅېږې (لمانځه ته) |
| وَتَقَلُّبَكَ فِي ٱلسَّٰجِدِينَ ﴿٢١٩﴾ | (219) او په سجده كوونكو كې ستا اوښتل (ويني) |
| إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٢٢٠﴾ | (220) بېشكه هغه، هم هغه ښه اورېدونكى، ښه عالم دى |
| هَلۡ أُنَبِّئُكُمۡ عَلَىٰ مَن تَنَزَّلُ ٱلشَّيَٰطِينُ ﴿٢٢١﴾ | (221) ايا زه تاسو ته خبر دركړم چې په چا باندې شیطانان راكوزېږي؟ |

| | |
|---|---|
| تَنَزَّلُ عَلَىٰ كُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ ﴿٢٢٢﴾ | (222) دوی په هر ډېر دروغجن، سخت مجرم باندې راکوزېږي |
| يُلْقُونَ ٱلسَّمْعَ وَأَكْثَرُهُمْ كَٰذِبُونَ ﴿٢٢٣﴾ | (223) دوی غوږ ږدي (د ملايکو خبرو ته) او د دوی زياتره دروغجنان دي |
| وَٱلشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ ٱلْغَاوُۥنَ ﴿٢٢٤﴾ | (224) او شاعران (چې دي) د دوی پيروي ګمراه خلق کوي |
| أَلَمْ تَرَ أَنَّهُمْ فِى كُلِّ وَادٍ يَهِيمُونَ ﴿٢٢٥﴾ | (225) ايا ته نه وينې چې بېشکه دوی په هره وادۍ (ناو) کې سرګردانه ګرځي |
| وَأَنَّهُمْ يَقُولُونَ مَا لَا يَفْعَلُونَ ﴿٢٢٦﴾ | (226) او بېشکه دوی وايي هغه څه چې دوی يې (پخپله) نه کوي |
| إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَذَكَرُوا۟ ٱللَّهَ كَثِيرًا وَٱنتَصَرُوا۟ مِنۢ بَعْدِ مَا ظُلِمُوا۟ ۗ وَسَيَعْلَمُ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ أَىَّ مُنقَلَبٍ يَنقَلِبُونَ ﴿٢٢٧﴾ | (227) غير له هغو کسانو نه چې ايمان راوړي او نېک عملونه کوي او الله ډېر زيات يادوي او بدله اخلي کله چې پر دوی ظلم وکړی شي، او هغه کسان چې ظلم يې کړی دی ژر به پوه شي چې د بېرته ورتلو کوم ځای ته به دوی بېرته ورځي |

## سُورَةُ النَّمۡلِ

## سورة نمل

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

طسٓۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡقُرۡءَانِ وَكِتَابٖ مُّبِينٍ ١

(1) طا، سين، دا د قرآن او ښکاره (ښکاره بيانوونکي) کتاب ايتونه دي

هُدٗى وَبُشۡرَىٰ لِلۡمُؤۡمِنِينَ ٢

(2) هدايت او زېری دی، د مومنانو لپاره

ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ يُوقِنُونَ ٣

(3) هغه چې لمونځ قايموي او زکات ورکوي او هم دوی په اخرت يقين کوي

إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ زَيَّنَّا لَهُمۡ أَعۡمَٰلَهُمۡ فَهُمۡ يَعۡمَهُونَ ٤

(4) ببشکه هغه کسان چې په اخرت ايمان نه راوړي، دوی ته مونږ د دوی عملونه ښايسته کړي دي، نو دوی سرګردانه دي

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَهُمۡ سُوٓءُ ٱلۡعَذَابِ وَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ هُمُ ٱلۡأَخۡسَرُونَ ٥

(5) دغه کسان دي چې د دوی لپاره بد عذاب دی، او دوی به په اخرت کې هم دوی تر ټولو تاوانيان وي

وَإِنَّكَ لَتُلَقَّى ٱلۡقُرۡءَانَ مِن لَّدُنۡ

(6) او ببشکه ته (چې يې) خامخا تا ته د ډېر

حَكِيمٍ عَلِيمٍ ٦

حکمت والا، ښه علم والا (الله) له جانبه قرآن ښوولی (او عطا کولی) شي

إِذۡ قَالَ مُوسَىٰ لِأَهۡلِهِۦٓ إِنِّيٓ ءَانَسۡتُ نَارٗا سَـَٔاتِيكُم مِّنۡهَا بِخَبَرٍ أَوۡ ءَاتِيكُم بِشِهَابٖ قَبَسٖ لَّعَلَّكُمۡ تَصۡطَلُونَ ٧

(7) (یاد کړه) هغه وخت چې موسیٰ خپلې ښځې ته وویل: بېشکه ما اور ولیده، زه به تاسو ته له دغه (ځای) نه څه خبر راوړم، یا به تاسو ته بله کړی شوې لمبه راوړم، د دې لپاره چې تاسو تاوده شئ

فَلَمَّا جَآءَهَا نُودِيَ أَنۢ بُورِكَ مَن فِي ٱلنَّارِ وَمَنۡ حَوۡلَهَا وَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٨

(8) نو کله چې دی هغه (اور) ته راغی، اواز وکړی شو، داسې چې برکتي کړی شوی دی هغه چې په اور کې دی او هغه چې د ده (اور) چاپېره دی او پاکي ده الله ته چې رب العلمين دی

يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّهُۥٓ أَنَا ٱللَّهُ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٩

(9) ای موسیٰ! بېشکه شان دا دی چې هم زه الله یم، ښه غالب، ښه حکمت والا

وَأَلۡقِ عَصَاكَۚ فَلَمَّا رَءَاهَا تَهۡتَزُّ كَأَنَّهَا جَآنّٞ وَلَّىٰ مُدۡبِرٗا وَلَمۡ يُعَقِّبۡۚ يَٰمُوسَىٰ لَا تَخَفۡ إِنِّي لَا يَخَافُ لَدَيَّ ٱلۡمُرۡسَلُونَ ١٠

(10) او ته خپله امسا وغورځوه، نو کله چې هغه دا ولیدله چې خوځېږي، ګویا کې دغه (همسا) نرۍ سپین تېز مار دی، نو وتښتېده چې شاکوونکی و او بېرته راونه ګرځېده، ای موسیٰ، مه وېرېږه، بېشکه زه چې یم، له ما سره رسولان نه وېرېږي

إِلَّا مَن ظَلَمَ ثُمَّ بَدَّلَ حُسۡنَۢا بَعۡدَ
سُوٓءٖ فَإِنِّي غَفُورٞ رَّحِيمٞ ١١

(11) خو هغه څوك چې ظلم يې كړى وي، بيا له بدى نه پس نېكي په بدل كې راوړي، نو بېشكه زه ډېر بخښونكى، بې حده رحم كوونكى يم

وَأَدۡخِلۡ يَدَكَ فِي جَيۡبِكَ تَخۡرُجۡ
بَيۡضَآءَ مِنۡ غَيۡرِ سُوٓءٖۖ فِي تِسۡعِ
ءَايَٰتٍ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَقَوۡمِهِۦٓۚ إِنَّهُمۡ
كَانُواْ قَوۡمٗا فَٰسِقِينَ ١٢

(12) او ته خپل لاس په خپل ګرېوان كې ننباسه، (نو) له بيمارۍ (او عيب) نه بغير به تك سپين راووځي، (دا حساب دي) په نهو معجزو كې (چې ته ورسره لېږل شوى يې) فرعون او د هغه قوم ته، بېشكه دوى يو فاسق (نافرمانه) قوم دى

فَلَمَّا جَآءَتۡهُمۡ ءَايَٰتُنَا مُبۡصِرَةٗ قَالُواْ
هَٰذَا سِحۡرٞ مُّبِينٞ ١٣

(13) نو كله چې دوى ته زمونږ نښې (معجزې) راغلې، چې روښانه وې، (نو) دوى وويل: دا ښكاره جادو دى

وَجَحَدُواْ بِهَا وَٱسۡتَيۡقَنَتۡهَآ
أَنفُسُهُمۡ ظُلۡمٗا وَعُلُوّٗاۚ فَٱنظُرۡ
كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ١٤

(14) او دوى له دغو (معجزو) نه انكار وكړ، د ظلم او سركشۍ په وجه، حال دا چې د دوى نفسونو په دغو يقين كړى و، نو ته وګوره د فساد كوونكو انجام څنګه و؟

وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا دَاوُۥدَ وَسُلَيۡمَٰنَ
عِلۡمٗاۖ وَقَالَا ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي
فَضَّلَنَا عَلَىٰ كَثِيرٖ مِّنۡ عِبَادِهِ

(15) او يقينًا يقينًا مونږ داود او سليمان ته (خاص) علم وركړى و او هغو دواړو وويل: ټوله ستاينه خاص د هغه الله لپاره ده چې مونږ ته

ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٥

يې په خپلو مومنو بنده ګانو کې په ډېرو زياتو باندې فضيلت راکړى دى

وَوَرِثَ سُلَيۡمَٰنُ دَاوُۥدَۖ وَقَالَ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ عُلِّمۡنَا مَنطِقَ ٱلطَّيۡرِ وَأُوتِينَا مِن كُلِّ شَيۡءٍۖ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلۡفَضۡلُ ٱلۡمُبِينُ ١٦

(16) او سليمان د داود (په علم، نبوت او سلطنت کې) وارث شو او هغه وويل: اى خلقو! مونږ ته د الوتونکو (مرغانو) خبرې ښوول شوې دي او مونږ ته له هر څيز نه راکړه شوي ده، بېشکه دا، خامخا هم دغه ښکاره فضل دى

وَحُشِرَ لِسُلَيۡمَٰنَ جُنُودُهُۥ مِنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ وَٱلطَّيۡرِ فَهُمۡ يُوزَعُونَ ١٧

(17) او د سليمان لپاره د هغه لښکرې راجمع کړى شوې، چې له پېريانو او انسانانو او مرغانو څخه وې، بيا به د دوى (په ترتيب سره) ډلې جوړولى شوې

حَتَّىٰٓ إِذَآ أَتَوۡاْ عَلَىٰ وَادِ ٱلنَّمۡلِ قَالَتۡ نَمۡلَةٞ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّمۡلُ ٱدۡخُلُواْ مَسَٰكِنَكُمۡ لَا يَحۡطِمَنَّكُمۡ سُلَيۡمَٰنُ وَجُنُودُهُۥ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ١٨

(18) تر هغه پورې چې کله دوى د مېږانو په دره راغلل، (نو) يوې مېږى وويل: اى مېږانو تاسو خپلو استوګنو ته ننوځئ، چې تاسو سليمان او د هغه لښکرې مات او چيت پيت نه کړي، په داسې حال کې چې دوى به نه پوهېږي

فَتَبَسَّمَ ضَاحِكٗا مِّن قَوۡلِهَا وَقَالَ رَبِّ أَوۡزِعۡنِيٓ أَنۡ أَشۡكُرَ نِعۡمَتَكَ

(19) نو دى د دې په خبره (اول) مسکى شو، چې خندا کوونکى و (وروسته) د خوشحالۍ په وجه) ويې ويل:اى زما ربه! ته ما ته الهام او

ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتَ عَلَيَّ وَعَلَىٰ وَٰلِدَيَّ وَأَنۡ أَعۡمَلَ صَٰلِحٗا تَرۡضَىٰهُ وَأَدۡخِلۡنِي بِرَحۡمَتِكَ فِي عِبَادِكَ ٱلصَّٰلِحِينَ ١٩

توفيق راکړه چې زه ستا د هغو نعمتونو شکر وباسم چې تا په ما او زما په مور و پلار انعام (او پېرزو) کړي دي او دا چې زه داسې نېك عمل وکړم چې ته يې خوښوې، او ته ما په خپل رحمت سره په خپلو نېکو بنده ګانو کې داخل کړه

وَتَفَقَّدَ ٱلطَّيۡرَ فَقَالَ مَالِيَ لَآ أَرَى ٱلۡهُدۡهُدَ أَمۡ كَانَ مِنَ ٱلۡغَآئِبِينَ ٢٠

**(20)** او د مرغانو لټونه يې وکړه، نو ويې ويل: ما له څه دي چې زه هدهد (ملاچرګك) نه وينم، بلکې که هغه له غايب شويو څنې دی؟

لَأُعَذِّبَنَّهُۥ عَذَابٗا شَدِيدًا أَوۡ لَأَاْذۡبَحَنَّهُۥٓ أَوۡ لَيَأۡتِيَنِّي بِسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٖ ٢١

**(21)** خامخا هرومرو به زه ده ته سزا ورکړم، ډېره سخته سزا، يا به خامخا ضرور دی حلال کړم، يا به ضرور هرومرو ما ته ښکاره دليل راوړي

فَمَكَثَ غَيۡرَ بَعِيدٖ فَقَالَ أَحَطتُ بِمَا لَمۡ تُحِطۡ بِهِۦ وَجِئۡتُكَ مِن سَبَإِۭ بِنَبَإٖ يَقِينٍ ٢٢

**(22)** نو هغه (هدهد) ايسار شو، خو ډېر نه، (او ژر راغی) نو ويې ويل:ما هغه خبره (په علم کې) ګېره کړې ده چې تا هغه ګېره کړې نه ده او زه تا ته له سبا (ښار) نه په يقيني خبر سره راغلی يم

إِنِّي وَجَدتُّ ٱمۡرَأَةٗ تَمۡلِكُهُمۡ وَأُوتِيَتۡ مِن كُلِّ شَيۡءٖ وَلَهَا

**(23)** بېشکه ما يوه داسې ښځه وموندله چې په دغو (د سبا ښار په اوسېدونکو) باداشاهي کوي او هغې ته له هر شيز څخه ورکړه شوي

عَرۡشٌ عَظِيمٌ ﴿٢٣﴾

ده او د هغې يو ډېر لوی تخت دی

وَجَدتُّهَا وَقَوۡمَهَا يَسۡجُدُونَ لِلشَّمۡسِ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَعۡمَٰلَهُمۡ فَصَدَّهُمۡ عَنِ ٱلسَّبِيلِ فَهُمۡ لَا يَهۡتَدُونَ ﴿٢٤﴾

(24) ما هغه او د هغې قوم ومونده چې له الله نه غير لمر ته سجده کوي او دوی ته شيطان خپل عملونه ښايسته کړي دي، نو دوی يې له (حقې) لارې نه منع کړي دي، نو دوی هدايت نه مومي

أَلَّا يَسۡجُدُواْۤ لِلَّهِ ٱلَّذِي يُخۡرِجُ ٱلۡخَبۡءَ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَيَعۡلَمُ مَا تُخۡفُونَ وَمَا تُعۡلِنُونَ ﴿٢٥﴾

(25) چې دوی الله ته سجده ونه کړي، هغه چې په اسمانونو او ځمکه کې پټ ځيزونه راوباسي او پوهېږي په هغه څه چې تاسو يې پټوئ او په هغه څه چې تاسو يې ښکاره کوئ

ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡعَظِيمِ۩ ﴿٢٦﴾

(26) الله چې دی، نشته هېڅ لايق د عبادت مگر هم دی دی، د ډېر ستر عرش رب دی

۞قَالَ سَنَنظُرُ أَصَدَقۡتَ أَمۡ كُنتَ مِنَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ﴿٢٧﴾

(27) (سليمان) وويل: ضرور به مونږ گورو چې ايا تا رښتيا ويلي دي، يا ته له دروغ ويونکو څخه يې؟

ٱذۡهَب بِّكِتَٰبِي هَٰذَا فَأَلۡقِهۡ إِلَيۡهِمۡ ثُمَّ تَوَلَّ عَنۡهُمۡ فَٱنظُرۡ مَاذَا يَرۡجِعُونَ ﴿٢٨﴾

(28) ته زما دا ليك يوسه، نو ته دا دوی ته وروغورځوه، بيا ته له دوی نه مخ وگرځوه، نو وگوره چې دوی څه واپس کوي؟

قَالَتۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمَلَؤُاْ إِنِّيٓ أُلۡقِيَ إِلَيَّ

(29) هغې وويل: ای سردارانو! بېشکه زه چې

| | |
|---|---|
| كِتَٰبٌ كَرِيمٌ ٢٩ | يم، ما ته يو ډېر عزتناك ليك راغورځول شوی دی |
| إِنَّهُۥ مِن سُلَيۡمَٰنَ وَإِنَّهُۥ بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ٣٠ | (30) بېشكه دا د سليمان له جانبه (راغلی) دی او بېشكه هغه (داسې) دی: د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكی دی |
| أَلَّا تَعۡلُواْ عَلَيَّ وَأۡتُونِي مُسۡلِمِينَ ٣١ | (31) دا چې تاسو زما په خلاف سركشي مه كوئ او تاسو ما ته راشئ مسلمانان (غاړه ايښودونكي) |
| قَالَتۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمَلَؤُاْ أَفۡتُونِي فِيٓ أَمۡرِي مَا كُنتُ قَاطِعَةً أَمۡرًا حَتَّىٰ تَشۡهَدُونِ ٣٢ | (32) هغې وويل: ای سردارانو! تاسو ما ته زما په (دغه) كار كې مشوره راكړئ، زه د كوم كار فيصله كوونكې نه يم تر هغه پورې چې تاسو ما ته حاضر شئ |
| قَالُواْ نَحۡنُ أُوْلُواْ قُوَّةٖ وَأُوْلُواْ بَأۡسٖ شَدِيدٖ وَٱلۡأَمۡرُ إِلَيۡكِ فَٱنظُرِي مَاذَا تَأۡمُرِينَ ٣٣ | (33) هغوی وويل: مونږه د قوت والا او د ډېر سخت جنګ والا يو، او (نور) اختيار تا ته دی، نو ته وګوره چې ته څه حكم كوې؟ |
| قَالَتۡ إِنَّ ٱلۡمُلُوكَ إِذَا دَخَلُواْ قَرۡيَةً أَفۡسَدُوهَا وَجَعَلُوٓاْ أَعِزَّةَ أَهۡلِهَآ أَذِلَّةٗۚ وَكَذَٰلِكَ يَفۡعَلُونَ ٣٤ | (34) هغې وويل: بېشكه بادشاهان (د هغوی لښكرې) چاپان چې دي، كله چې دوی كوم كلي (ښار) ته داخل شي (نو) هغه خرابوي، او د هغه عزتمن اوسېدونكي ذليله ګرځوي او |

دوی به هم همداسې کوي

وَإِنِّي مُرۡسِلَةٌ إِلَيۡهِم بِهَدِيَّةٖ فَنَاظِرَةُۢ بِمَ يَرۡجِعُ ٱلۡمُرۡسَلُونَ ﴿٣٥﴾

(35) او بېشکه زه دوی ته یوه ډالۍ لېږونکې یم، نو کتونکې یم چې په څه خبرې سره لېږل شوي استازي بېرته راځي

فَلَمَّا جَآءَ سُلَيۡمَٰنَ قَالَ أَتُمِدُّونَنِ بِمَالٖ فَمَآ ءَاتَىٰنِۦَ ٱللَّهُ خَيۡرٞ مِّمَّآ ءَاتَىٰكُمۚ بَلۡ أَنتُم بِهَدِيَّتِكُمۡ تَفۡرَحُونَ ﴿٣٦﴾

(36) نو کله چې هغه (استازی) سلیمان ته راغی، (نو سلیمان ورته) وویل: ایا تاسو په مال سره زما مدد کوئ، نو هغه چې ما ته الله راکړی دی (هغه) ډېر غوره دی له هغه نه چې تاسو ته یې درکړی دی، بلکې تاسو په خپلې ډالۍ سره خوشالېږئ

ٱرۡجِعۡ إِلَيۡهِمۡ فَلَنَأۡتِيَنَّهُم بِجُنُودٖ لَّا قِبَلَ لَهُم بِهَا وَلَنُخۡرِجَنَّهُم مِّنۡهَآ أَذِلَّةٗ وَهُمۡ صَٰغِرُونَ ﴿٣٧﴾

(37) ته هغوی ته بېرته لاړ شه، نو مونږ به خامخا هرومرو په دوی پسې داسې لښکرې بوځو، چې په دوی کې به له هغو سره د مقابلې هېڅ طاقت نه وي او مونږ به خامخا هرومرو دوی له هغه (ښاره) وباسو، په دې حال چې چې ذلیل به وي، خوار او سپك به وي

قَالَ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمَلَؤُاْ أَيُّكُمۡ يَأۡتِينِي بِعَرۡشِهَا قَبۡلَ أَن يَأۡتُونِي مُسۡلِمِينَ ﴿٣٨﴾

(38) (سلیمان) وویل: ای (د دربار) مخورو! په تاسو کې به څوك ما ته د هغې تخت راوړي، مخکې له دې چې دوی ما ته راشي

مسلمانان (غاړه اېښودونکي)؟

قَالَ عِفۡرِيتٞ مِّنَ ٱلۡجِنِّ أَنَا۠ ءَاتِيكَ بِهِۦ قَبۡلَ أَن تَقُومَ مِن مَّقَامِكَۖ وَإِنِّي عَلَيۡهِ لَقَوِيٌّ أَمِينٞ ﴿٣٩﴾

(39) په پېریانو کې ډېر سخت زورور وویل: زه به هغه تا ته راوړم مخکې له دې چې ته له خپل ځای نه پاڅېږې، او بېشکه زه په دغه (تخت) باندې خامخا قوي (او) امانتګر یم

قَالَ ٱلَّذِي عِندَهُۥ عِلۡمٞ مِّنَ ٱلۡكِتَٰبِ أَنَا۠ ءَاتِيكَ بِهِۦ قَبۡلَ أَن يَرۡتَدَّ إِلَيۡكَ طَرۡفُكَۚ فَلَمَّا رَءَاهُ مُسۡتَقِرًّا عِندَهُۥ قَالَ هَٰذَا مِن فَضۡلِ رَبِّي لِيَبۡلُوَنِيٓ ءَأَشۡكُرُ أَمۡ أَكۡفُرُۖ وَمَن شَكَرَ فَإِنَّمَا يَشۡكُرُ لِنَفۡسِهِۦۖ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ رَبِّي غَنِيّٞ كَرِيمٞ ﴿٤٠﴾

(40) وویل هغه کس چې له هغه سره د کتاب علم و: زه به هغه تا ته راوړم مخکې له دې چې تا ته خپل نظر بیا راګرځي، نو کله چې یې هغه خپلې مخې ته برقرار (حاضر) ولید، ویې ویل: دا زما د رب له فضله ځني دی، د دې لپاره چې هغه ما وازمايي چې زه شکر وباسم، یا ناشکري کوم او څوک چې شکر وباسي، نو هغه یوائحې د ځان لپاره شکر وباسي او څوک چې ناشکري کوي، نو بېشکه زما رب ډېر بې پروا، ډېر کرم کوونکی دی

قَالَ نَكِّرُواْ لَهَا عَرۡشَهَا نَنظُرۡ أَتَهۡتَدِيٓ أَمۡ تَكُونُ مِنَ ٱلَّذِينَ لَا يَهۡتَدُونَ ﴿٤١﴾

(41) ویې ویل:هغې ته خپل تخت نا اشنا کړئ چې وګورو ایا پېژني یې، یا کېږي له هغو کسانو نه چې نه یې پېژني

فَلَمَّا جَآءَتۡ قِيلَ أَهَٰكَذَا عَرۡشُكِۖ قَالَتۡ كَأَنَّهُۥ هُوَۚ وَأُوتِينَا

(42) نو کله چې هغه راغله، (ورته) وویل شول: ایا ستا تخت همداسې دی؟ هغې

ٱلۡعِلۡمَ مِن قَبۡلِهَا وَكُنَّا مُسۡلِمِينَ ٤٢

وويل: ګویا کې دا همغه دی او مونږ ته له دې (معجزې) نه مخکې (د توحید او نبوت) علم راکړی شوی و او مونږ غاړه اېښودونکي (مسلمانان) وو

وَصَدَّهَا مَا كَانَت تَّعۡبُدُ مِن دُونِ ٱللَّهِۖ إِنَّهَا كَانَتۡ مِن قَوۡمٖ كَٰفِرِينَ ٤٣

(43) او دا (د الله له عبادت نه) منع کړې وه هغه څيز چې دې یې له الله نه غیر عبادت کاوه، یقینًا هغه له کافر قوم څخه وه

قِيلَ لَهَا ٱدۡخُلِي ٱلصَّرۡحَۖ فَلَمَّا رَأَتۡهُ حَسِبَتۡهُ لُجَّةٗ وَكَشَفَتۡ عَن سَاقَيۡهَاۚ قَالَ إِنَّهُۥ صَرۡحٞ مُّمَرَّدٞ مِّن قَوَارِيرَۗ قَالَتۡ رَبِّ إِنِّي ظَلَمۡتُ نَفۡسِي وَأَسۡلَمۡتُ مَعَ سُلَيۡمَٰنَ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٤٤

(44) هغې ته وويل شول: ته دې صحن ته ننوځه، نو کله چې یې هغه ولیده، نو په هغه یې د ژورو اوبو ګمان وکړ او له خپلو دواړو پنډیو نه یې کپړه پورته کړه هغه (سلیمان) وویل: بېشکه دا هوار ښویه صحن دی چې له شیشو نه (جوړ) دی، هغې وویل: بېشکه ما (مخکې) په خپل ځان ظلم کړی دی او ما له سلیمان سره خاص د الله رب العلمین لپاره اسلام راوړی دی

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَآ إِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمۡ صَٰلِحًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ فَإِذَا هُمۡ فَرِيقَانِ يَخۡتَصِمُونَ ٤٥

(45) او یقینًا یقینًا مونږ ثمودیانو ته د هغوی ورور صالح لېږلی و، په دې سره چې تاسو د الله عبادت کوئ، نو ناڅاپه هغوی داسې دوه ډلې وې چې په خپل مینځ کې جنګېدلې

قَالَ يَٰقَوۡمِ لِمَ تَسۡتَعۡجِلُونَ بِٱلسَّيِّئَةِ قَبۡلَ ٱلۡحَسَنَةِۖ لَوۡلَا تَسۡتَغۡفِرُونَ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ٤٦

(46) هغه وويل: اى زما قومه! ولې تاسو په بدى (عذاب) سره تادي کوئ، مخکې له نېکى (توبې) نه، ولې تاسو له الله نه مغفرت نه غواړئ ؟ د دې لپاره چې په تاسو رحم وکړى شي

قَالُواْ ٱطَّيَّرۡنَا بِكَ وَبِمَن مَّعَكَۚ قَالَ طَٰٓئِرُكُمۡ عِندَ ٱللَّهِۖ بَلۡ أَنتُمۡ قَوۡمٞ تُفۡتَنُونَ ٤٧

(47) هغوى وويل: مونږ په تا او په هغه چا چې له تاسره دي؛ بدفالي نيولې ده، هغه وويل: ستاسو بدفالي د الله په نېز ده، بلکې تاسو داسې قوم يئ چې ازمايل کېږئ

وَكَانَ فِي ٱلۡمَدِينَةِ تِسۡعَةُ رَهۡطٖ يُفۡسِدُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا يُصۡلِحُونَ ٤٨

(48) او په ښار کې نهه (غټ شرير) سړي وو، چې په ځمکه کې به يې فساد کاوه او اصلاح به يې نه کوله

قَالُواْ تَقَاسَمُواْ بِٱللَّهِ لَنُبَيِّتَنَّهُۥ وَأَهۡلَهُۥ ثُمَّ لَنَقُولَنَّ لِوَلِيِّهِۦ مَا شَهِدۡنَا مَهۡلِكَ أَهۡلِهِۦ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ٤٩

(49) هغوى وويل: تاسو په الله قسم وخورئ چې خامخا هرومرو به په ده او د ده په ټبر د شپې حمله کوو، بيا به مونږ د ده ولي (وارث) ته خامخا ضرور (داسې) ووايو چې مونږ د ده هلاکت ته حاضر شوي نه يو او بېشکه مونږ يقينًا رښتيني يو

وَمَكَرُواْ مَكۡرٗا وَمَكَرۡنَا مَكۡرٗا

(50) او دوى مکر وکړ، خاص مکر کول او مونږ هم تدبير وکړ خاص تدبير کول، په دې حال

وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ﴿٥٠﴾

کې چې دوی نه پوهېدل

فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ مَكۡرِهِمۡ أَنَّا دَمَّرۡنَٰهُمۡ وَقَوۡمَهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٥١﴾

(51) نو ته وګوره چې د دوی د مکر انجام څنګه و چې بېشکه مونږه دوی او د دوی قوم ټول هلاك كړل

فَتِلۡكَ بُيُوتُهُمۡ خَاوِيَةَۢ بِمَا ظَلَمُوٓاْۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ﴿٥٢﴾

(52) نو دغه د دوی کورونه دي، چې وران شوي پراته دي، په سبب د دې چې ظلم (شرك) يې كاوه، بېشكه په دې كې خامخا لويه نښه ده د هغه قوم لپاره چې پوهېږي

وَأَنجَيۡنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ ﴿٥٣﴾

(53) او مونږ نجات وركړ هغو كسانو ته چې ايمان يې راوړی و او پرهېزګاري يې كوله

وَلُوطًا إِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهِۦٓ أَتَأۡتُونَ ٱلۡفَٰحِشَةَ وَأَنتُمۡ تُبۡصِرُونَ ﴿٥٤﴾

(54) او (ياد كړه) لوط كله چې ده خپل قوم ته وويل: ايا تاسو فاحشه (د لواطت قبيح كار) كوئ، حال دا چې تاسو وينئ

أَئِنَّكُمۡ لَتَأۡتُونَ ٱلرِّجَالَ شَهۡوَةٗ مِّن دُونِ ٱلنِّسَآءِۚ بَلۡ أَنتُمۡ قَوۡمٞ تَجۡهَلُونَ ﴿٥٥﴾

(55) ايا بېشكه تاسو خامخا د خپل شهوت لپاره له ښځو نه غير له سړيو سره بدكاري كوئ! بلكې تاسو داسې قوم يئ چې جهالت كوئ

۞فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوۡمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَخۡرِجُوٓاْ ءَالَ لُوطٖ مِّن

(56) نو د ده د قوم جواب نه و غير له دې نه چې دوی وويل: تاسو د لوط خپلخانه له خپل

قَرۡيَتِكُمۡۖ إِنَّهُمۡ أُنَاسٞ
يَتَطَهَّرُونَ ٥٦

کلي نه وباسئ، بېشکه دوی داسې خلق دی
چې ځانونه ډېر پاك ساتي

فَأَنجَيۡنَٰهُ وَأَهۡلَهُۥٓ إِلَّا ٱمۡرَأَتَهُۥ
قَدَّرۡنَٰهَا مِنَ ٱلۡغَٰبِرِينَ ٥٧

(57) نو مونږ نجات ورکړ ده ته، او د ده کورنۍ
ته د ده له ښځې نه غیر، مونږ هغه په باقي
پاتې کېدونکو کې مقرر کړې وه

وَأَمۡطَرۡنَا عَلَيۡهِم مَّطَرٗاۖ فَسَآءَ
مَطَرُ ٱلۡمُنذَرِينَ ٥٨

(58) او مونږ په دوی باندې (د کاڼو) باران
ووراوه، نو د وېرول شویو باران بد و

قُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ وَسَلَٰمٌ عَلَىٰ عِبَادِهِ
ٱلَّذِينَ ٱصۡطَفَىٰٓۗ ءَآللَّهُ خَيۡرٌ أَمَّا
يُشۡرِكُونَ ٥٩

(59) ته ووایه: ټوله ستاینه خاص د الله لپاره
ده، او سلام دې وي د هغه په هغو بنده ګانو
باندې چې غوره کړي یې دي، ایا الله غوره
دی، یا که هغه چې دوی یې (له الله سره)
شریکوي

أَمَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ
وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ
فَأَنۢبَتۡنَا بِهِۦ حَدَآئِقَ ذَاتَ بَهۡجَةٖ
مَّا كَانَ لَكُمۡ أَن تُنۢبِتُواْ شَجَرَهَآۗ
أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ بَلۡ هُمۡ قَوۡمٞ
يَعۡدِلُونَ ٦٠

(60) بلکې هغه ذات (بهتر دی) چې
اسمانونه او ځمکه یې پیدا کړي دي او تاسو
لپاره یې له بره نه اوبه نازلې کړې دي، نو هم
مونږ په هغو سره د رونق (او ښایست) والا
باغونه زرغون کړل، تاسو لپاره دا طاقت نشته
چې تاسو د هغو (باغونو) ونې زرغونې کړئ،
ایا له الله سره بل معبود شته؟ بلکې دوی یو
داسې قوم دی چې (له الله سره د نورو)

برابري كوي

أَمَّن جَعَلَ ٱلۡأَرۡضَ قَرَارٗا وَجَعَلَ خِلَٰلَهَآ أَنۡهَٰرٗا وَجَعَلَ لَهَا رَوَٰسِيَ وَجَعَلَ بَيۡنَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ حَاجِزًاۗ أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ٦١

(61) بلكې هغه ذات (غوره دى) چې ځمكه يې د قرار (او ارام) ځاى جوړه كړې ده او د هغې په مينځ كې يې نهرونه جوړ كړي دي او د دې لپاره يې پاخه لوړ غرونه پيدا كړي دي، او د دوو سمندرونو په مينځ كې يې پرده پيدا كړې ده، ايا له الله سره بل معبود شته؟ بلكې د دوى اكثره نه پوهېږي

أَمَّن يُجِيبُ ٱلۡمُضۡطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكۡشِفُ ٱلسُّوٓءَ وَيَجۡعَلُكُمۡ خُلَفَآءَ ٱلۡأَرۡضِۗ أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ قَلِيلٗا مَّا تَذَكَّرُونَ ٦٢

(62) بلكې هغه ذات (غوره دى) چې د مجبور ( او عاجز) سوال قبلوي، كله چې دغه (الله) وبلي او هغه تكليف (او سختي) لرې كوي او تاسو د ځمكې خليفه ګان جوړوي، ايا له الله سره بل معبود شته؟ تاسو ډېر لږ شانته نصيحت قبلوئ

أَمَّن يَهۡدِيكُمۡ فِي ظُلُمَٰتِ ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ وَمَن يُرۡسِلُ ٱلرِّيَٰحَ بُشۡرَۢا بَيۡنَ يَدَيۡ رَحۡمَتِهِۦٓۗ أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ تَعَٰلَى ٱللَّهُ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٦٣

(63) بلكې هغه ذات (غوره دى) چې تاسو ته د وچې او سمندر په تيارو كې لاره ښيي او هغه ذات چې له خپل رحمت نه مخكې هواګانې لېږي، چې زيرى وركوونكې وي، ايا له الله سره بل معبود شته؟ الله ډېر اوچت دى له هغو شيانو نه چې دوى يې (له الله سره) شريكوي

أَمَّن يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ وَمَن يَرۡزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۗ أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ قُلۡ هَاتُواْ بُرۡهَٰنَكُمۡ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٦٤﴾

(64) بلكې هغه ذات چې اول ځلې مخلوق پيدا كوي، بيا به دغه (مخلوق) بېرته ژوندي كوي او هغه ذات چې تاسو ته له اسمان او ځمكې نه روزي دركوي، ايا له الله سره بل معبود شته ؟ ته (دوى ته) ووايه: تاسو خپل دليل راوړئ، كه تاسو رښتيني يئ

قُل لَّا يَعۡلَمُ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ٱلۡغَيۡبَ إِلَّا ٱللَّهُۚ وَمَا يَشۡعُرُونَ أَيَّانَ يُبۡعَثُونَ ﴿٦٥﴾

(65) ته (دوى ته) ووايه: هر هغه څوك چې په اسمانونو او ځمكه كې دي په غيبو نه پوهېږي غير له الله نه او دوى نه پوهېږي چې كله به دوى بيا ژوندي كولى شي

بَلِ ٱدَّٰرَكَ عِلۡمُهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِۚ بَلۡ هُمۡ فِي شَكّٖ مِّنۡهَاۖ بَلۡ هُم مِّنۡهَا عَمُونَ ﴿٦٦﴾

(66) بلكې د اخرت په باره كې د دوى علم ببخي ختم شوى دى، بلكې دوى د دغه (قيامت) په باره كې په شك كې دي، بلكې دوى له دغه (قيامت) نه ړانده دي

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَءِذَا كُنَّا تُرَٰبٗا وَءَابَآؤُنَآ أَئِنَّا لَمُخۡرَجُونَ ﴿٦٧﴾

(67) او كافران شويو كسانو وويل: ايا كله چې مونږه او زمونږ پلرونه خاوري شو، ايا په رښتيا به مونږ خامخا (ژوندي) راوښكلى شو؟

لَقَدۡ وُعِدۡنَا هَٰذَا نَحۡنُ وَءَابَآؤُنَا مِن قَبۡلُ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿٦٨﴾

(68) يقينًا يقينًا له دي نه مخكې هم دا وعده مونږ ته او زمونږ پلرونه ته راكړى شوې ده، نه دي دغه (خبرې) مگر د ړومبنو خلقو باطلې

قصې

قُلۡ سِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ٦٩

(69) ته (دوی ته) ووایه: تاسو په ځمکه کې وګرځئ، بیا وګورئ چې د مجرمانو (کافرانو) انجام څنګه و؟

وَلَا تَحۡزَنۡ عَلَيۡهِمۡ وَلَا تَكُن فِي ضَيۡقٖ مِّمَّا يَمۡكُرُونَ ٧٠

(70) او ته په دوی غم مه کوه او په تنګۍ کې مه کېږه، د هغو مکرونو (فریبونو) په سبب چې دوی یې کوي

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلۡوَعۡدُ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٧١

(71) او دوی وایي: دا (د عذاب د نازلېدو) وعده به کله وي، که تاسو رښتیني یئ

قُلۡ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ رَدِفَ لَكُم بَعۡضُ ٱلَّذِي تَسۡتَعۡجِلُونَ ٧٢

(72) ته (دوی ته) ووایه چې امید دی چې په تاسو پسې به پیوست شي ځینې له هغه (عذاب) نه چې تاسو یې په جلتۍ غواړئ

وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَشۡكُرُونَ ٧٣

(73) او بېشکه ستا رب په خلقو باندې خامخا د فضل کولو والا دی او لیکن د دوی اکثره شکر نه وباسي

وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَعۡلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمۡ وَمَا يُعۡلِنُونَ ٧٤

(74) او بېشکه ستا رب خامخا پوهېږي په هغه څه چې د دوی سینې یې پټوي او څه چې دوی (خلق) ظاهروي

وَمَا مِنۡ غَآئِبَةٖ فِي ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٍ ٧٥

(75) او په اسمان او ځمکه کې هېڅ پټ پناه شی نشته مګر په واضح کتاب کې (ليك) دي

إِنَّ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانَ يَقُصُّ عَلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ أَكۡثَرَ ٱلَّذِي هُمۡ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ٧٦

(76) بېشكه دا قرآن بني اسرائيلو ته د هغو خبرو زياتره حصه بيانوي چې دوى په هغو كې اختلاف كوي

وَإِنَّهُۥ لَهُدٗى وَرَحۡمَةٞ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ٧٧

(77) او بېشكه دا (قرآن) يقينًا هدايت او رحمت دى، لپاره د مومنانو

إِنَّ رَبَّكَ يَقۡضِي بَيۡنَهُم بِحُكۡمِهِۦۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡعَلِيمُ ٧٨

(78) بېشكه ستا رب به د دوى په مينځ كې په خپل انصاف سره فيصله كوي، او همغه ډېر غالب، ښه علم والا دى

فَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۖ إِنَّكَ عَلَى ٱلۡحَقِّ ٱلۡمُبِينِ ٧٩

(79) نو ته خاص په الله باندې توكل وكړه، بېشكه ته په ښكاره حق باندې يې

إِنَّكَ لَا تُسۡمِعُ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَلَا تُسۡمِعُ ٱلصُّمَّ ٱلدُّعَآءَ إِذَا وَلَّوۡاْ مُدۡبِرِينَ ٨٠

(80) بېشكه ته مړو ته نشې اورولى او ته كڼو ته (هم) اواز نشې رسولى، كله چې دوى مخ واړوي، په دې حال كې چې شا كوونكي وي

وَمَآ أَنتَ بِهَٰدِي ٱلۡعُمۡيِ عَن ضَلَٰلَتِهِمۡۖ إِن تُسۡمِعُ إِلَّا مَن يُؤۡمِنُ

(81) او ته ړندو ته د هغوى له ګمراهۍ نه هدايت كوونكى نه يې، ته نشې اورولى مګر هغه چا ته چې زمونږ په ايتونو ايمان راوړي، نو

بِـَٔايَٰتِنَا فَهُم مُّسۡلِمُونَ ﴿٨١﴾

هم دوی مسلمانان دي

۞وَإِذَا وَقَعَ ٱلۡقَوۡلُ عَلَيۡهِمۡ أَخۡرَجۡنَا لَهُمۡ دَآبَّةٗ مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ تُكَلِّمُهُمۡ أَنَّ ٱلنَّاسَ كَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا لَا يُوقِنُونَ ﴿٨٢﴾

**(82)** او كله چې په دوی (د عذاب) خبره ثابته شي (او قيامت رانژدې شي، نو) مونږ به دوی ته له ځمکې نه يوه دابّه (ژوندی خوځنده) راوباسو، چې له دوی سره به خبرې کوي، چې بېشکه خلقو به زمونږ په ايتونو يقين نه کاوه

وَيَوۡمَ نَحۡشُرُ مِن كُلِّ أُمَّةٖ فَوۡجٗا مِّمَّن يُكَذِّبُ بِـَٔايَٰتِنَا فَهُمۡ يُوزَعُونَ ﴿٨٣﴾

**(83)** او (ياده کړه) هغه ورځ چې مونږ به له هر امت نه (د مشرانو) يوه ډله راجمع کړو، له هغو نه چې زمونږ د ايتونو تکذيب کوي، نو دوی به منع کولی(يوځای کولی) شي

حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُو قَالَ أَكَذَّبۡتُم بِـَٔايَٰتِي وَلَمۡ تُحِيطُواْ بِهَا عِلۡمًا أَمَّاذَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٨٤﴾

**(84)** تر دې چې کله دوی (محشر ته) راشي، وبه وايي (الله): ايا تاسو زما د ايتونو تکذيب کړی و، حال دا چې د علم په لحاظ سره تاسو د هغو احاطه نه وه کړې، ايا څه دي هغه چې تاسو عمل کاوه؟

وَوَقَعَ ٱلۡقَوۡلُ عَلَيۡهِم بِمَا ظَلَمُواْ فَهُمۡ لَا يَنطِقُونَ ﴿٨٥﴾

**(85)** او په دوی باندې به (د عذاب) خبره ثابته شي، په سبب د هغه ظلم چې دوی کړی و، نو دوی به خبرې نشي کولی

أَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّا جَعَلۡنَا ٱلَّيۡلَ

**(86)** ايا دوی نه دي کتلي چې بېشکه مونږ

لِيَسۡكُنُواْ فِيهِ وَٱلنَّهَارَ مُبۡصِرًاۚ إِنَّ
فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ٨٦

شپه پيدا کړې ده، د دې لپاره چې دوی په دې کې سکون (او ارام) وکړي او ورځ مو روښانه (ګرځولې ده) ببشکه په دغو کې خامخا ډېر دليلونه (نښې) دی د هغه قوم لپاره چې ايمان راوړي

وَيَوۡمَ يُنفَخُ فِي ٱلصُّورِ فَفَزِعَ مَن
فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا
مَن شَآءَ ٱللَّهُۚ وَكُلٌّ أَتَوۡهُ
دَٰخِرِينَ ٨٧

(87) او (ياده کړه) هغه ورځ چې په شپېلۍ کې به پوکی وکړی شي، نو سخت به ووېرېږي هغه څوك چې په اسمانونو کې دي او هغه څوك چې په ځمکه کې دي غير له هغه چا نه چې الله يې وغواړي او دوی ټول به دغه (الله) ته عاجزه (او ذليله) راشي

وَتَرَى ٱلۡجِبَالَ تَحۡسَبُهَا جَامِدَةٗ
وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ ٱلسَّحَابِۚ صُنۡعَ ٱللَّهِ
ٱلَّذِيٓ أَتۡقَنَ كُلَّ شَيۡءٍۚ إِنَّهُۥ خَبِيرُۢ
بِمَا تَفۡعَلُونَ ٨٨

(88) او ته به غرونه وينې، ته به په دوی د کلکو ولاړو ګمان کوې، حال دا چې دوی به د وريځې د تېرېدلو په شان تېرېږي، (وګورئ) کاريګري د الله هغه چې هر شی يې محکم کړی دی، بېشکه هغه ښه خبردار دی په هغو کارونو چې تاسو يې کوئ

مَن جَآءَ بِٱلۡحَسَنَةِ فَلَهُۥ خَيۡرٞ
مِّنۡهَا وَهُم مِّن فَزَعٖ يَوۡمَئِذٍ
ءَامِنُونَ ٨٩

(89) هغه څوك چې يوه نېکي (د توحيد کلمه) راوړي، نو د هغه لپاره له هغې نه غوره (بدله) ده او دوی به د دغې ورځې د سختې وېرې نه په امان (امن والا) وي

وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَكُبَّتۡ
وُجُوهُهُمۡ فِي ٱلنَّارِ هَلۡ تُجۡزَوۡنَ إِلَّا
مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٩٠

(90) او څوك چې يوه بدي (شرك) راوړي، نو د دوی مخونه به په اور کې نسکور وغورځولی شي، (او ورته ويلی به شي) تاسو ته جزا نه درکولی کېږي مگر (جزا د) هغو عملونو چې تاسو به کول

إِنَّمَآ أُمِرۡتُ أَنۡ أَعۡبُدَ رَبَّ هَٰذِهِ
ٱلۡبَلۡدَةِ ٱلَّذِي حَرَّمَهَا وَلَهُۥ كُلُّ
شَيۡءٖۖ وَأُمِرۡتُ أَنۡ أَكُونَ مِنَ
ٱلۡمُسۡلِمِينَ ٩١

(91) بېشكه ما ته حكم شوی دی چې يواځې د دې ښار د رب عبادت وكړم، هغه (الله) چې ده ته يې حرمت (عزت) وركړی دی او هر شی خاص د هغه لپاره دی او ما ته حكم راكړی شوی دی چې زه له مسلمانانو څخه شم

وَأَنۡ أَتۡلُوَاْ ٱلۡقُرۡءَانَۖ فَمَنِ ٱهۡتَدَىٰ
فَإِنَّمَا يَهۡتَدِي لِنَفۡسِهِۦۖ وَمَن ضَلَّ
فَقُلۡ إِنَّمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُنذِرِينَ ٩٢

(92) او داچې د قرآن تلاوت وكړم، نو څوك چې په نېغه لار روان شو، نو بېشكه هغه يواځې د خپل ځان د فايدې لپاره په نېغه لار ځي او څوك چې گمراه شو، نو ته ووايه: زه خو يواځې له وېروونكو څخه يم

وَقُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ سَيُرِيكُمۡ
ءَايَٰتِهِۦ فَتَعۡرِفُونَهَاۚ وَمَا رَبُّكَ
بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ٩٣

(93) او ته ووايه: ټول د كمال صفتونه خاص د الله لپاره دي، هغه به عنقريب په تاسو خپل دليلونه (نښې) ووينې، نو تاسو به هغه وپېژنئ او ستا رب له سره غافل نه دی له هغو كارونو نه چې تاسو يې كوئ

## سُورَةُ القَصَصِ

## سورۀ قصص

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى

طسٓمٓ ١

(1) طا، سين، ميم

تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ٢

(2) دا د خرګند كتاب ايتونه دي

نَتۡلُواْ عَلَيۡكَ مِن نَّبَإِ مُوسَىٰ وَفِرۡعَوۡنَ بِٱلۡحَقِّ لِقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ٣

(3) مونږ تا ته لولو د موسٰى او فرعون له خبرونو ځنې په حقه سره د هغه قوم لپاره چې ايمان راوړي

إِنَّ فِرۡعَوۡنَ عَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَجَعَلَ أَهۡلَهَا شِيَعٗا يَسۡتَضۡعِفُ طَآئِفَةٗ مِّنۡهُمۡ يُذَبِّحُ أَبۡنَآءَهُمۡ وَيَسۡتَحۡيِۦ نِسَآءَهُمۡۚ إِنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ٤

(4) بېشكه فرعون په ځمكه كې لويي راخيستې وه او د دې اوسېدونكي يې ډلې ډلې كړي وو، په دوى كې يې يوه ډله ډېره ضعيفه كوله، د دوى زامن به يې حلالول او د دوى ښځې به يې ژوندۍ پرېښودلې، بېشكه هغه له فساد كوونكو ځنې و

وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى ٱلَّذِينَ ٱسۡتُضۡعِفُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَنَجۡعَلَهُمۡ أَئِمَّةٗ وَنَجۡعَلَهُمُ ٱلۡوَٰرِثِينَ ٥

(5) او مونږ اراده وكړه چې په هغو كسانو احسان وكړو چې په ځمكه كې ډېر ضعيف كړى شوي دي او چې دوى امامان وګرځوو او چې مونږ دوى (د فرعون د ملك) وارثان

وگرځوو

| | |
|---|---|
| (6) او چې مونږ دوی ته په ځمکه کې قدرت ورکړو او چې فرعون او هامان او د دواړو لښکرو ته له دغو (بني اسرائيلو) نه هغه شی وښيو چې دوی به ترې وېرېدل | وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي ٱلْأَرْضِ وَنُرِيَ فِرْعَوْنَ وَهَٰمَٰنَ وَجُنُودَهُمَا مِنْهُم مَّا كَانُواْ يَحْذَرُونَ ﴿٦﴾ |
| (7) او مونږ د موسیٰ مور ته وحي وکړه چې ته ده ته تی ورکوه، نو کله چې په ده ووېرېدلې، نو دا په سيند کې وغورځوه او مه وېرېږه او غم مه کوه، بېشکه دا مونږ تا ته بېرته راوستونکي يو او مونږ دا له رسولانو له نه گرځوونکي يو | وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰٓ أُمِّ مُوسَىٰٓ أَنْ أَرْضِعِيهِۖ فَإِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ فَأَلْقِيهِ فِي ٱلْيَمِّ وَلَا تَخَافِي وَلَا تَحْزَنِيٓۖ إِنَّا رَآدُّوهُ إِلَيْكِ وَجَاعِلُوهُ مِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٧﴾ |
| (8) نو دی ال فرعون ومونده (او اوچت يې كړ) د دې لپاره چې (عاقبتًا) د دوی لپاره دښمن او غم شي، بېشکه فرعون او هامان او د دواړو لښکرې (دوی ټول) خطا کوونکي وو | فَٱلْتَقَطَهُۥٓ ءَالُ فِرْعَوْنَ لِيَكُونَ لَهُمْ عَدُوًّا وَحَزَنًاۗ إِنَّ فِرْعَوْنَ وَهَٰمَٰنَ وَجُنُودَهُمَا كَانُواْ خَٰطِـِٔينَ ﴿٨﴾ |
| (9) او د فرعون ښځې وويل: (دا هلك) زما او ستا د سترګو يخوالی دی، تاسو دا مه وژنئ، امېد دی چې دا به مونږ ته نفع راورسوي، يا به دا مونږ زوی ونيسو، په دې حال کې چې دوی نه پوهېدل | وَقَالَتِ ٱمْرَأَتُ فِرْعَوْنَ قُرَّتُ عَيْنٍ لِّي وَلَكَۖ لَا تَقْتُلُوهُ عَسَىٰٓ أَن يَنفَعَنَآ أَوْ نَتَّخِذَهُۥ وَلَدًا وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٩﴾ |

وَأَصۡبَحَ فُؤَادُ أُمِّ مُوسَىٰ فَٰرِغًاۖ إِن كَادَتۡ لَتُبۡدِي بِهِۦ لَوۡلَآ أَن رَّبَطۡنَا عَلَىٰ قَلۡبِهَا لِتَكُونَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٠

(10) او د موسیٰ د مور زړه (له صبره) بېخي خالي شو، بېشکه هغه قريب وه چې خامخا د ده اظهار وکړي که چېرې مونږ د هغې زړه مضبوط کړی نه وی، د دې لپاره چې له باور کوونکو څخه شي

وَقَالَتۡ لِأُخۡتِهِۦ قُصِّيهِۖ فَبَصُرَتۡ بِهِۦ عَن جُنُبٖ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ١١

(11) او هغې د هغه خور ته وويل: د ده (موسیٰ) پسې برابره ځه، نو هغې به ده ته له لرې نه کتل، په دې حال کې چې دوی به نه پوهېدل

۞وَحَرَّمۡنَا عَلَيۡهِ ٱلۡمَرَاضِعَ مِن قَبۡلُ فَقَالَتۡ هَلۡ أَدُلُّكُمۡ عَلَىٰٓ أَهۡلِ بَيۡتٖ يَكۡفُلُونَهُۥ لَكُمۡ وَهُمۡ لَهُۥ نَٰصِحُونَ ١٢

(12) او مونږ په ده باندې دايېگانې بندې کړې وې، له مخکې نه، نو هغې (د موسیٰ خور) وويل: ايا زه تاسو ته داسې کورنۍ وښيم چې ستاسو لپاره د ده کفالت (او ساتنه) وکړي، په داسې حال کې چې هغوی به له ده سره ښېګڼه کوونکي وي

فَرَدَدۡنَٰهُ إِلَىٰٓ أُمِّهِۦ كَيۡ تَقَرَّ عَيۡنُهَا وَلَا تَحۡزَنَ وَلِتَعۡلَمَ أَنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ١٣

(13) نو مونږ هغه خپلې مور ته بېرته راوسته، د دې لپاره چې د هغې سترګې يخې شي او غم ونه کړي او د دې لپاره چې پوه شي چې بېشکه د الله وعده حقه ده او لېکن د دوی زياتره خلق نه پوهېږي

وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُۥ وَٱسْتَوَىٰٓ ءَاتَيْنَٰهُ حُكْمًا وَعِلْمًا ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٤﴾

(14) او کله چې هغه خپل زور (ځوانۍ) ته ورسېده، او ښه برابر شه، مونږ هغه ته حکم (نبوت) او پوهه ورکړه او همداسې مونږ نېکي کوونکو ته بدله ورکوو

وَدَخَلَ ٱلْمَدِينَةَ عَلَىٰ حِينِ غَفْلَةٍ مِّنْ أَهْلِهَا فَوَجَدَ فِيهَا رَجُلَيْنِ يَقْتَتِلَانِ هَٰذَا مِن شِيعَتِهِۦ وَهَٰذَا مِنْ عَدُوِّهِۦ ۖ فَٱسْتَغَٰثَهُ ٱلَّذِى مِن شِيعَتِهِۦ عَلَى ٱلَّذِى مِنْ عَدُوِّهِۦ فَوَكَزَهُۥ مُوسَىٰ فَقَضَىٰ عَلَيْهِ ۖ قَالَ هَٰذَا مِنْ عَمَلِ ٱلشَّيْطَٰنِ ۖ إِنَّهُۥ عَدُوٌّ مُّضِلٌّ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾

(15) او هغه (دې) ښار ته د هغه (ښار) د اوسېدونکو د غفلت (خوب) په وخت کې داخل شو، نو ده په هغه کې دوه سړي مونډل چې له یو بل سره په جنګ وو، دا یو د ده له ډلې (بنی اسرائیلو) نه و او دا بل د ده له دښمنانو څخه و نو، هغه کس چې د ده له ډلې څخه و، له ده نه یې مرسته وغوښته، د هغه کس په خلاف چې د ده له دښمنانو څخه و، نو موسىٰ هغه په سوك وواهه، نو هغه یې قتل کړ، ده وویل: دا د شیطان له کاره څخه دی، بېشکه هغه ښکاره ګمراه کوونکی دښمن دی

قَالَ رَبِّ إِنِّى ظَلَمْتُ نَفْسِى فَٱغْفِرْ لِى فَغَفَرَ لَهُۥٓ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٦﴾

(16) ده وویل: ای زما ربه! بېشکه ما په خپل ځان ظلم کړی دی، نو ته ما ته بخښنه وکړې، نو هغه ورته بخښنه وکړه، بېشکه هغه، هم هغه ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی

قَالَ رَبِّ بِمَآ أَنْعَمْتَ عَلَىَّ فَلَنْ

(17) ویې ویل:ای زما ربه! په سبب د هغه

أَكُونَ ظَهِيرًا لِّلۡمُجۡرِمِينَ ١٧

انعام چې تا په ما وکړ، نو زه به هېڅرې د مجرمانو مددګار نشم

فَأَصۡبَحَ فِي ٱلۡمَدِينَةِ خَآئِفًا
يَتَرَقَّبُ فَإِذَا ٱلَّذِي ٱسۡتَنصَرَهُۥ
بِٱلۡأَمۡسِ يَسۡتَصۡرِخُهُۥۚ قَالَ لَهُۥ
مُوسَىٰٓ إِنَّكَ لَغَوِيّٞ مُّبِينٞ ١٨

(18) نو سبا يې کړ په ښار کې، په داسي حال کې چې وېرېدونکی و، (او) انتظار يې کاوه، نو ناڅاپه هغه کس چې پرون يې له ده نه مدد غوښتی و، ده ته ناري وهي، موسىٰ ده ته وويل: بېشکه ته خامخا ښکاره ګمراه يې

فَلَمَّآ أَنۡ أَرَادَ أَن يَبۡطِشَ بِٱلَّذِي
هُوَ عَدُوّٞ لَّهُمَا قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ أَتُرِيدُ
أَن تَقۡتُلَنِي كَمَا قَتَلۡتَ نَفۡسَۢا
بِٱلۡأَمۡسِۖ إِن تُرِيدُ إِلَّآ أَن تَكُونَ
جَبَّارٗا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا تُرِيدُ أَن
تَكُونَ مِنَ ٱلۡمُصۡلِحِينَ ١٩

(19) نو کله چې ده اراده وکړه چې هغه کس ونيسي چې هغه د دوی دواړو دښمن دی، هغه وويل: ای موسىٰ! ايا ته غواړې چې ما (هم) قتل کړې، لکه پرون چې دې يو نفس وژلی و، ته نه غواړې مګر دا چې په ځمکه کې زورور شې او ته نه غواړې چې ته له اصلاح کوونکو څخه شې

وَجَآءَ رَجُلٞ مِّنۡ أَقۡصَا ٱلۡمَدِينَةِ
يَسۡعَىٰ قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّ ٱلۡمَلَأَ
يَأۡتَمِرُونَ بِكَ لِيَقۡتُلُوكَ فَٱخۡرُجۡ
إِنِّي لَكَ مِنَ ٱلنَّٰصِحِينَ ٢٠

(20) او د ښار تر ټولو لرې غاړې نه يو سړی راغی چې منډې يې راوهلې، ويې ويل:ای موسىٰ بېشکه چې مشران ستا په باره کې مشورې کوي، د دې لپاره چې تا قتل کړي، نو ته وځه! بېشکه زه ستا له خير غوښتونکو څخه يم

فَخَرَجَ مِنۡهَا خَآئِفٗا يَتَرَقَّبُۖ قَالَ رَبِّ نَجِّنِي مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ٢١

(21) نو موسیٰ له دغه (ښار) نه ووت، په دې حال کې چې وېرېدونکی و (او) انتظار یې کاوه، ویې ویل:ای زما ربه! ته ما ته له ظالم قوم نه نجات راکړې

وَلَمَّا تَوَجَّهَ تِلۡقَآءَ مَدۡيَنَ قَالَ عَسَىٰ رَبِّيٓ أَن يَهۡدِيَنِي سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ٢٢

(22) او کله چې يې د مدين په طرف مخه کړه، ویې ویل:امید دی چې زما رب به ما ته نیغه لار راوښيي

وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ مَدۡيَنَ وَجَدَ عَلَيۡهِ أُمَّةٗ مِّنَ ٱلنَّاسِ يَسۡقُونَ وَوَجَدَ مِن دُونِهِمُ ٱمۡرَأَتَيۡنِ تَذُودَانِۖ قَالَ مَا خَطۡبُكُمَاۖ قَالَتَا لَا نَسۡقِي حَتَّىٰ يُصۡدِرَ ٱلرِّعَآءُۖ وَأَبُونَا شَيۡخٞ كَبِيرٞ ٢٣

(23) او کله چې د مدين اوبو ته ورسېده، نو د هغه (کوهي) په خوا کې یې د خلقو یوه ډله وموندله چې اوبه یې ورکولې او له هغوی نه یې رابېرته دوه ښځې وموندلې چې خپل څاروي یې رامنع کول، ویې ویل:ستاسو څه معامله ده؟ هغوی وویل: مونږ (څارویو ته) اوبه نه ورکوو تر هغه پورې چې شپانه بېرته (سره له ماله) لاړ شي او زمونږ پلار عمر خوړلی بوډا دی

فَسَقَىٰ لَهُمَا ثُمَّ تَوَلَّىٰٓ إِلَى ٱلظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ إِنِّي لِمَآ أَنزَلۡتَ إِلَيَّ مِنۡ خَيۡرٖ فَقِيرٞ ٢٤

(24) نو (د) هغو (کنډك) ته يې اوبه ورکړې، بیا سیوري ته وګرځېده، نو ویې ویل:ای زما ربه! بېشکه زه هر هغه څیز ته چې ته یې ما ته نازلوې له خیره څنې؛ محتاج یم

فَجَآءَتۡهُ إِحۡدَىٰهُمَا تَمۡشِي عَلَى ٱسۡتِحۡيَآءٖ قَالَتۡ إِنَّ أَبِي يَدۡعُوكَ لِيَجۡزِيَكَ أَجۡرَ مَا سَقَيۡتَ لَنَاۚ فَلَمَّا جَآءَهُۥ وَقَصَّ عَلَيۡهِ ٱلۡقَصَصَ قَالَ لَا تَخَفۡۖ نَجَوۡتَ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٥﴾

(25) نو په دغو دواړو کې يوه ده ته راغله چې په ډېرې حيا سره يې تگ کاوه، ويې ويل:ببشکه زما پلار تا غواړي، د دې لپاره چې تا ته اجر (حق) درکړي د هغه عمل چې تا مونږ ته (زمونږ څاروي) اوبه کړي وو، نو کله چې هغه ده ته راغی او ده ته يې (خپله) قصه بيان کړه، ويې ويل:ته مه وېرېږه (اوس) ته له ظالم قوم نه خلاص شوی يې

قَالَتۡ إِحۡدَىٰهُمَا يَٰٓأَبَتِ ٱسۡتَـٔۡجِرۡهُۖ إِنَّ خَيۡرَ مَنِ ٱسۡتَـٔۡجَرۡتَ ٱلۡقَوِيُّ ٱلۡأَمِينُ ﴿٢٦﴾

(26) په دواړو کې يوې وويل: ای زما پلار جانه! ته دا مزدور ونيسه، بېشکه ترټولو غوره په هغه چا کې چې ته يې مزدور نيسې، هغه دی چې ښه قوتناك او امانتگر وي

قَالَ إِنِّيٓ أُرِيدُ أَنۡ أُنكِحَكَ إِحۡدَى ٱبۡنَتَيَّ هَٰتَيۡنِ عَلَىٰٓ أَن تَأۡجُرَنِي ثَمَٰنِيَ حِجَجٖۖ فَإِنۡ أَتۡمَمۡتَ عَشۡرٗا فَمِنۡ عِندِكَۖ وَمَآ أُرِيدُ أَنۡ أَشُقَّ عَلَيۡكَۚ سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٢٧﴾

(27) ويې ويل:ببشکه زه غواړم په خپلو دغو دوه لونو کې يوه تا ته په نکاح درکړم، په دې شرط چې ته به اته کاله زما مزدوري کوې، نو که تا لس کاله پوره کړل، نو ستا له اړخه به (احسان) وي، او زه په تا باندې مشقت اچول نه غواړم، ژر ده چې ته به ما له نېکانو څخه ومومې، که الله وغواړي (ان شاء الله)

قَالَ ذَٰلِكَ بَيۡنِي وَبَيۡنَكَۖ أَيَّمَا ٱلۡأَجَلَيۡنِ قَضَيۡتُ فَلَا عُدۡوَٰنَ عَلَيَّۖ

(28) ويې ويل:دا دی (عهد مقرر) زما په مينځ کې او ستا په مينځ کې، په دغو دواړو نېټو

وَٱللَّهُ عَلَىٰ مَا نَقُولُ وَكِيلٞ ۝٢٨

کې چې کومه ما پوره کړه، نو په ما به (نور) هېڅ زياتی نه وي، او څه چې مونږ وايو، الله پرې ګواه دی

۞فَلَمَّا قَضَىٰ مُوسَى ٱلۡأَجَلَ وَسَارَ بِأَهۡلِهِۦٓ ءَانَسَ مِن جَانِبِ ٱلطُّورِ نَارٗاۖ قَالَ لِأَهۡلِهِ ٱمۡكُثُوٓاْ إِنِّيٓ ءَانَسۡتُ نَارٗا لَّعَلِّيٓ ءَاتِيكُم مِّنۡهَا بِخَبَرٍ أَوۡ جَذۡوَةٖ مِّنَ ٱلنَّارِ لَعَلَّكُمۡ تَصۡطَلُونَ ۝٢٩

(29) نو کله چې موسیٰ نېټه پوره کړه او له خپل اهل سره روان شو (،نو) د طور له جانبه يې اور وليده، خپل اهل ته يې وويل: تاسو ايسار شي، بېشکه ما اور وليده، کېدی شي چې زه تاسو ته له هغه نه څه خبر، يا د اور سکروټه (شغله) راوړم، د دې لپاره چې تاسو (پرې) تاوده شئ

فَلَمَّآ أَتَىٰهَا نُودِيَ مِن شَٰطِيِٕ ٱلۡوَادِ ٱلۡأَيۡمَنِ فِي ٱلۡبُقۡعَةِ ٱلۡمُبَٰرَكَةِ مِنَ ٱلشَّجَرَةِ أَن يَٰمُوسَىٰٓ إِنِّيٓ أَنَا ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝٣٠

(30) نو کله چې دغه (اور) ته راغی (،نو) په مبارکه ټوټه (قطعه) کې د ناو په ښي اړخ کې له ونې نه ورته اواز وکړی شو داسې چې ای موسیٰ! بېشکه همدا زه الله رب العلمين يم

وَأَنۡ أَلۡقِ عَصَاكَۚ فَلَمَّا رَءَاهَا تَهۡتَزُّ كَأَنَّهَا جَآنّٞ وَلَّىٰ مُدۡبِرٗا وَلَمۡ يُعَقِّبۡۚ يَٰمُوسَىٰٓ أَقۡبِلۡ وَلَا تَخَفۡۖ إِنَّكَ مِنَ ٱلۡأٓمِنِينَ ۝٣١

(31) او داسې چې خپله امسا وغورځوه، نو کله چې يې هغه وليدله چې حرکت کوي، ګوياکې نری منګری مار دی، (نو) مخ يې واړوه، په دې حال کې چې شاکوونکی (تېښتېدونکی) و، او بېرته را ونه ګرځېده، ای موسیٰ! مخ راواړوه او مه وېرېږه: بېشکه ته له

امان موندونکو څخه يې

ٱسۡلُكۡ يَدَكَ فِي جَيۡبِكَ تَخۡرُجۡ
بَيۡضَآءَ مِنۡ غَيۡرِ سُوٓءٖ وَٱضۡمُمۡ
إِلَيۡكَ جَنَاحَكَ مِنَ ٱلرَّهۡبِۖ
فَذَٰنِكَ بُرۡهَٰنَانِ مِن رَّبِّكَ إِلَىٰ
فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِۦٓۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَوۡمٗا
فَٰسِقِينَ ٣٢

(32) ته خپل لاس په خپل گريوان کې ننباسه، را وبه وځي، په داسي حال کې چې بې له کوم عيبه به تك سپين وي او ته خپل ځانگ خپل ځان ته راپيوست کړه، د ويرې له وجې نه، نو دغه دواړه ستا د رب له جانبه دليلونه دي فرعون او د هغه سردارانو ته، بېشکه چې دوی فاسقان خلق دي

قَالَ رَبِّ إِنِّي قَتَلۡتُ مِنۡهُمۡ نَفۡسٗا
فَأَخَافُ أَن يَقۡتُلُونِ ٣٣

(33) ويې ويل:ای زما ربه! بېشکه ما له دوی نه يو نفس وژلی دی، نو زه وېرېږم چې دوی به ما ووژني

وَأَخِي هَٰرُونُ هُوَ أَفۡصَحُ مِنِّي
لِسَانٗا فَأَرۡسِلۡهُ مَعِيَ رِدۡءٗا
يُصَدِّقُنِيٓۖ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن
يُكَذِّبُونِ ٣٤

(34) او زما ورور هارون چې دی، هغه له ما نه په ژبه کې ډېر فصيح دی، نو ته هغه زما سره مددگار ولېږه چې زما تصديق کوي، بېشکه زه وېرېږم له دې نه چې دوی به زما تکذيب وکړي

قَالَ سَنَشُدُّ عَضُدَكَ بِأَخِيكَ
وَنَجۡعَلُ لَكُمَا سُلۡطَٰنٗا فَلَا
يَصِلُونَ إِلَيۡكُمَا بِـَٔايَٰتِنَآۚ أَنتُمَا
وَمَنِ ٱتَّبَعَكُمَا ٱلۡغَٰلِبُونَ ٣٥

(35) ويې ويل:ژر به مونږ ستا مټ په خپل ورور سره مضبوط کړو او تاسو لپاره به غلبه وگرځوو، نو دوی به تاسو ته نشي دررسېدلی، زمونږ د نښو په وجه تاسو دواړه او څوك چې ستاسو پيروي کوي هم تاسو (ټول) به غالب

وئ

فَلَمَّا جَآءَهُم مُّوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَا بَيِّنَٰتٖ قَالُواْ مَا هَٰذَآ إِلَّا سِحۡرٞ مُّفۡتَرٗى وَمَا سَمِعۡنَا بِهَٰذَا فِيٓ ءَابَآئِنَا ٱلۡأَوَّلِينَ ٣٦

(36) نو کله چې دوی ته موسیٰ زمونږ په خرګندو معجزو سره راغی، دوی وویل: نه دی دا مګر جادو (سحر)، چې په دروغو سره جوړ کړی شوی دی او مونږ دا خبره په خپلو پلرونو کې نه ده اوریدلې چې پخوا وو

وَقَالَ مُوسَىٰ رَبِّيٓ أَعۡلَمُ بِمَن جَآءَ بِٱلۡهُدَىٰ مِنۡ عِندِهِۦ وَمَن تَكُونُ لَهُۥ عَٰقِبَةُ ٱلدَّارِۚ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ ٣٧

(37) او موسیٰ وویل: زما رب ښه عالم دی په هغه چا چې د هغه له جانبه په هدایت سره راغلی دی او په هغه چا چې د هغه لپاره به د اخرت ښه انجام وي، بېشکه شان دا دی چې ظالمان به برى نه مومي

وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمَلَأُ مَا عَلِمۡتُ لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرِي فَأَوۡقِدۡ لِي يَٰهَٰمَٰنُ عَلَى ٱلطِّينِ فَٱجۡعَل لِّي صَرۡحٗا لَّعَلِّيٓ أَطَّلِعُ إِلَىٰٓ إِلَٰهِ مُوسَىٰ وَإِنِّي لَأَظُنُّهُۥ مِنَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ٣٨

(38) او فرعون وویل: اى سردارانو! زه تاسو لپاره له خپل ځان نه غیر بل هېڅ معبود نه پېژنم، نو اى هامانه! ته زما لپاره په خټې باندې اور بل کړه، پس زما لپاره یوه اوچته ماڼۍ جوړه کړه، کېدی شي چې زه د موسیٰ معبود ته وخېژم او بېشکه زه دا له دروغجنانو څخه ګنم

وَٱسۡتَكۡبَرَ هُوَ وَجُنُودُهُۥ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُمۡ إِلَيۡنَا لَا

(39) او ده او د ده لښکرو په ځمکه کې ناحقه (تکبر او) اولویې وکړه او دا یې وګڼله چې

| | |
|---|---|
| يُرۡجَعُونَ ﴿٣٩﴾ | يقينًا دوی به مونږ ته نه راګرځول کېږي |
| فَأَخَذۡنَٰهُ وَجُنُودَهُۥ فَنَبَذۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡيَمِّۖ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٠﴾ | (40) نو مونږ دا او د ده لښکرې راونیولې، نو مونږ دوی په دریاب کې وغورځول، نو ته وګوره چې د ظالمانو (کافرانو) انجام څنګه و؟ |
| وَجَعَلۡنَٰهُمۡ أَئِمَّةٗ يَدۡعُونَ إِلَى ٱلنَّارِۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ لَا يُنصَرُونَ ﴿٤١﴾ | (41) او مونږه دوی داسې پېشوایان وګرځول چې اور ته بلنه کوي او د قیامت په ورځ به له دوی سره مرسته نه کولی شي |
| وَأَتۡبَعۡنَٰهُمۡ فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا لَعۡنَةٗۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ هُم مِّنَ ٱلۡمَقۡبُوحِينَ ﴿٤٢﴾ | (42) او په دې دنیا کې مونږ د دوی پسې لعنت ولګاوه، او د قیامت په ورځ به همدوی له خراب کړی شویو (بدمخي شویو) څخه وي |
| وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ مِنۢ بَعۡدِ مَآ أَهۡلَكۡنَا ٱلۡقُرُونَ ٱلۡأُولَىٰ بَصَآئِرَ لِلنَّاسِ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٗ لَّعَلَّهُمۡ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٤٣﴾ | (43) او یقینًا یقینًا مونږ موسیٰ ته کتاب ورکړی و، وروسته له هغه نه چې مونږ ړومبنې امتونه هلاك كړل، په دې حال کې چې هغه د خلقو لپاره د بصیرتونو والا، او هدایت او رحمت دی، د دې لپاره چې دوی نصیحت ومني |
| وَمَا كُنتَ بِجَانِبِ ٱلۡغَرۡبِيِّ إِذۡ قَضَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَى ٱلۡأَمۡرَ وَمَا كُنتَ مِنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿٤٤﴾ | (44) او (ای نبي!) ته (د موسیٰ) سره د مغربي (غره) خوا ته نه وې کله چې مونږ موسیٰ ته د (نبوت د) کار وحې وکړه او ته له |

حاضرينو څخه نه وې

وَلَٰكِنَّآ أَنشَأۡنَا قُرُونٗا فَتَطَاوَلَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡعُمُرُۚ وَمَا كُنتَ ثَاوِيٗا فِيٓ أَهۡلِ مَدۡيَنَ تَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِنَا وَلَٰكِنَّا كُنَّا مُرۡسِلِينَ ٤٥

(45) او لېکن مونږ ډېر امتونه پيدا کړل، نو په دوی خپل عمرونه اوږده شول او ته په مدين والاو کې اوسېدونکی نه وې، چې تا هغوی ته زمونږ ايتونه لوستلی، او لېکن همدا مونږ (تا لره) لېږونکي يو

وَمَا كُنتَ بِجَانِبِ ٱلطُّورِ إِذۡ نَادَيۡنَا وَلَٰكِن رَّحۡمَةٗ مِّن رَّبِّكَ لِتُنذِرَ قَوۡمٗا مَّآ أَتَىٰهُم مِّن نَّذِيرٖ مِّن قَبۡلِكَ لَعَلَّهُمۡ يَتَذَكَّرُونَ ٤٦

(46) او ته د طور خوا ته نه وې کله چې مونږ اواز وکړ او لېکن (ته لېږلی يې مونږ) رحمت، د خپل رب له جانبه، د دې لپاره چې ته هغه قوم ووېروې چې له تا نه مخکې دوی ته کوم وېروونکی نه دی راغلی، د دې لپاره چې دوی نصيحت قبول کړي

وَلَوۡلَآ أَن تُصِيبَهُم مُّصِيبَةُۢ بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيهِمۡ فَيَقُولُواْ رَبَّنَا لَوۡلَآ أَرۡسَلۡتَ إِلَيۡنَا رَسُولٗا فَنَتَّبِعَ ءَايَٰتِكَ وَنَكُونَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٤٧

(47) او که دا نه وی چې دوی ته به څه مصيبت ورسېږي په سبب د هغو عملونو چې د دوی لاسونو مخکې لېږلي دي، بيا به دوی وايي: ای زمونږ ربه! ته مونږ ته کوم رسول ولې نه رالېږي، پس چې مونږ ستا د ايتونو تابع شو او شو له مومنانو څخه

فَلَمَّا جَآءَهُمُ ٱلۡحَقُّ مِنۡ عِندِنَا قَالُواْ لَوۡلَآ أُوتِيَ مِثۡلَ مَآ أُوتِيَ

(48) نو کله چې دوی ته زمونږ له جانبه حق راغی، وېي ويل:ده ته په مثل د هغو (معجزو) ولې نه دي ورکړی شوي چې موسٰی ته ورکړی

مُوسَىٰٓۚ أَوَلَمۡ يَكۡفُرُواْ بِمَآ أُوتِيَ مُوسَىٰ مِن قَبۡلُۖ قَالُواْ سِحۡرَانِ تَظَٰهَرَا وَقَالُوٓاْ إِنَّا بِكُلّٖ كَٰفِرُونَ ﴿٤٨﴾

شوي دي؟ ايا دوی کافران شوي نه وو په هغو (معجزو) چې له دې نه مخکې موسیٰ ته ورکړی شوي وې؟ دوی وویل: دوه سحره دي، چې د یو بل مدد کوي، او دوی وویل: مونږ په هر یو سره کفر کوونکي یو

قُلۡ فَأۡتُواْ بِكِتَٰبٖ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِ هُوَ أَهۡدَىٰ مِنۡهُمَآ أَتَّبِعۡهُ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٤٩﴾

(49) ته ووایه: تاسو د الله له خوا نه داسې کتاب راوړئ چې هغه د دې دواړو کتابونو نه زیات لار ښوونکی وي، چې زه د هغه پیروي وکړم، که تاسو رښتیني یئ

فَإِن لَّمۡ يَسۡتَجِيبُواْ لَكَ فَٱعۡلَمۡ أَنَّمَا يَتَّبِعُونَ أَهۡوَآءَهُمۡۚ وَمَنۡ أَضَلُّ مِمَّنِ ٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ بِغَيۡرِ هُدٗى مِّنَ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٠﴾

(50) نو که دوی ستا خبره ونه منله، نو ته پوه شه چې دوی یقینًا یواځې د خپلو خواهشاتو پیروي کوي او له هغه چا نه لوی ګمراه څوک دی، چې د خپل خواهش پیروي کوي، بې له هدایته د الله له جانبه، بېشکه الله ظالم قوم ته نېغه لار نه ښیي

۞وَلَقَدۡ وَصَّلۡنَا لَهُمُ ٱلۡقَوۡلَ لَعَلَّهُمۡ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٥١﴾

(51) او یقینًا یقینًا مونږ دوی ته کلام پرله پسې لېږلی دی، د دې لپاره چې دوی نصیحت واخلي

ٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِهِۦ هُم بِهِۦ يُؤۡمِنُونَ ﴿٥٢﴾

(52) هغه کسان چې مونږ هغوی ته له ده نه مخکې کتاب ورکړی و، هغوی په ده باندې

ايمان راوړي

وَإِذَا يُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِهِۦٓ إِنَّهُ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّنَآ إِنَّا كُنَّا مِن قَبۡلِهِۦ مُسۡلِمِينَ ٥٣

(53) او كله چې دوى ته ولوستى شي، دوى وايي: مونږ په ده باندې ايمان راوړى دى، بېشكه همدا زمونږ د رب له جانبه حق دى، بېشكه مونږ له ده نه مخكې هم مسلمانان وو

أُوْلَٰٓئِكَ يُؤۡتَوۡنَ أَجۡرَهُم مَّرَّتَيۡنِ بِمَا صَبَرُواْ وَيَدۡرَءُونَ بِٱلۡحَسَنَةِ ٱلسَّيِّئَةَ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ٥٤

(54) دغه كسان دي چې دوى ته به د دوى اجر دوه كرته وركاوه شي، په سبب د دې چې دوى صبر وكړ او دوى په نېكۍ سره بدي لرې كوي، او ځينې له هغه مال نه چې مونږ دوى ته وركړى دى لګوي يې

وَإِذَا سَمِعُواْ ٱللَّغۡوَ أَعۡرَضُواْ عَنۡهُ وَقَالُواْ لَنَآ أَعۡمَٰلُنَا وَلَكُمۡ أَعۡمَٰلُكُمۡ سَلَٰمٌ عَلَيۡكُمۡ لَا نَبۡتَغِي ٱلۡجَٰهِلِينَ ٥٥

(55) او كله چې دوى بېكاره خبره واوري (، نو) له هغې نه مخ واړوي او وايي: زمونږ لپاره زمونږ عملونه دي او ستاسو لپاره ستاسو عملونه دي، په تاسو دې سلام وي، مونږ جاهلان نه غواړو

إِنَّكَ لَا تَهۡدِي مَنۡ أَحۡبَبۡتَ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَهۡدِي مَن يَشَآءُۚ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ ٥٦

(56) بېشكه ته هدايت نشې كولى هغه چا ته چې ته يې خوښوې، او لیكن الله هدايت وركوي چا ته چې وغواړي او هغه ښه عالم دى په هدايت موندونكو باندې

وَقَالُوٓاْ إِن نَّتَّبِعِ ٱلۡهُدَىٰ مَعَكَ

(57) او دوى وايي: كه مونږ له تا سره د

نُتَخَطَّفۡ مِنۡ أَرۡضِنَآۚ أَوَلَمۡ
نُمَكِّن لَّهُمۡ حَرَمًا ءَامِنٗا يُجۡبَىٰٓ
إِلَيۡهِ ثَمَرَٰتُ كُلِّ شَيۡءٖ رِّزۡقٗا مِّن
لَّدُنَّا وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا
يَعۡلَمُونَ ٥٧

هدایت پیروي وکړو (نو) له خپلې ځمکې نه به وتښتول (ووېستل) شو، ایا مونږ دوی ته د داسې حرم تمکین نه دی ورکړی چې د امن والا دی، ده ته د هر شي مېوې راوړلی (او ورکولی) شي ښه رزق ورکول، زمونږ له خوا نه، او لېکن د دوی زیاتره نه پوهېږي

وَكَمۡ أَهۡلَكۡنَا مِن قَرۡيَةِۭ بَطِرَتۡ
مَعِيشَتَهَاۖ فَتِلۡكَ مَسَٰكِنُهُمۡ لَمۡ
تُسۡكَن مِّنۢ بَعۡدِهِمۡ إِلَّا قَلِيلٗاۖ
وَكُنَّا نَحۡنُ ٱلۡوَٰرِثِينَ ٥٨

(58) او مونږ ځومره ډېر کلي هلاك كړي دي چې په خپل معیشت كې یې سرکشي كړې وه، نو دغه د دوی کورونه دي چې له دوی نه پس په كې سکونت نه دی شوی مگر ډېر لږ او هم دا مونږ وارثان یو

وَمَا كَانَ رَبُّكَ مُهۡلِكَ ٱلۡقُرَىٰ
حَتَّىٰ يَبۡعَثَ فِيٓ أُمِّهَا رَسُولٗا يَتۡلُواْ
عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِنَاۚ وَمَا كُنَّا مُهۡلِكِي
ٱلۡقُرَىٰٓ إِلَّا وَأَهۡلُهَا ظَٰلِمُونَ ٥٩

(59) او ستا رب له سره د كليو هلاكوونكى نه دى، تر هغه پورې چې د هغو (كليو) په اصل (مرکزي ښار) كې یو رسول ولېږي چې دوی ته زمونږ ایتونه لولي، اومونږ د كليو هلاكوونكي نه یو مگر په داسې حال كې چې د هغو اوسېدونكي ظالمان وي

وَمَآ أُوتِيتُم مِّن شَيۡءٖ فَمَتَٰعُ
ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَزِينَتُهَاۚ وَمَا عِندَ
ٱللَّهِ خَيۡرٞ وَأَبۡقَىٰٓۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ٦٠

(60) او تاسو ته چې څه شی هم دركړى شوى دى، نو د دنیایي ژوند فایده او د هغه زینت دى، او هغه څه چې له الله سره دي، ډېر غوره او ښه باقي پاتې كېدونكي دي، ایا

نو تاسو له عقل نه کار نه اخلئ؟

أَفَمَن وَعَدْنَٰهُ وَعْدًا حَسَنًا فَهُوَ لَٰقِيهِ كَمَن مَّتَّعْنَٰهُ مَتَٰعَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ثُمَّ هُوَ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ مِنَ ٱلْمُحْضَرِينَ ﴿٦١﴾

(61) ایا نو هغه څوك چې له هغه سره مونږ وعده کړې ده، ښه وعده، پس دی له هغې سره ملاقات کوونکی دی، د هغه چا په شان دی، چې مونږ هغه ته فایده ورکړې د دنیایي ژوند فایده، بیا به هغه د قیامت په ورځ له حاضر کړی شویو څخه وي؟

وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَآءِىَ ٱلَّذِينَ كُنتُمْ تَزْعُمُونَ ﴿٦٢﴾

(62) او (یاده کړه) هغه ورځ چې دوی ته به هغه (الله) اواز وکړي، نو وبه وایي: زما هغه شریکان چېرته دي چې تاسو به ګڼل؟

قَالَ ٱلَّذِينَ حَقَّ عَلَيْهِمُ ٱلْقَوْلُ رَبَّنَا هَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ أَغْوَيْنَآ أَغْوَيْنَٰهُمْ كَمَا غَوَيْنَا ۖ تَبَرَّأْنَآ إِلَيْكَ ۖ مَا كَانُوٓا۟ إِيَّانَا يَعْبُدُونَ ﴿٦٣﴾

(63) هغه کسان به ووایي چې پر هغوی باندې خبره ثابته شوې ده: ای زمونږه ربه! دا هغه کسان دي چې مونږ ګمراه کړي وو، مونږ دوی ګمراه کړل، لکه چې مونږ ګمراه شوي وو مونږ (له دوی نه) ستا په طرف بېزاره کېږو، دوی زمونږ عبادت نه کاوه

وَقِيلَ ٱدْعُوا۟ شُرَكَآءَكُمْ فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ يَسْتَجِيبُوا۟ لَهُمْ وَرَأَوُا۟ ٱلْعَذَابَ ۚ لَوْ أَنَّهُمْ كَانُوا۟ يَهْتَدُونَ ﴿٦٤﴾

(64) او وبه ویل شي: تاسو خپل شریکان وبلئ، نو دوی به هغوی وبلي: نو هغوی به دوی ته هېڅ جواب ورنه کړي او دوی به عذاب وویني (او تمنا به وکړي چې) کاشکې

| | |
|---|---|
| | واقعتًا دوی (په دنیا کې) هدایت موندلی وی |
| وَيَوۡمَ يُنَادِيهِمۡ فَيَقُولُ مَاذَآ أَجَبۡتُمُ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٦٥ | (65) او (یاده کړه) هغه ورځ چې دوی ته به (الله) اواز وکړي، نو وبه وايي: تاسو رسولانو ته څه جواب ورکړی و؟ |
| فَعَمِيَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَنۢبَآءُ يَوۡمَئِذٖ فَهُمۡ لَا يَتَسَآءَلُونَ ٦٦ | (66) نو په دغې ورځ به په دوی باندې خبرونه پټ شي، نو دوی به یو تربله پوښتنه نه کوي |
| فَأَمَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا فَعَسَىٰٓ أَن يَكُونَ مِنَ ٱلۡمُفۡلِحِينَ ٦٧ | (67) نو پاتې شو هغه کس چې توبه وباسي او ایمان راوړي او نېك عمل وکړي، نو امېد دی چې دغه به له نجات موندونکو څخه وي |
| وَرَبُّكَ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخۡتَارُۗ مَا كَانَ لَهُمُ ٱلۡخِيَرَةُۚ سُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٦٨ | (68) او ستا رب پیدا کوي هغه چې وغواړي او هغه انتخاب کوي، دوی ته هېڅ اختیار نشته، الله لره پاکي ده، او هغه اوچت دی له هغه څه نه چې دوی یې (ورسره) شریکوي |
| وَرَبُّكَ يَعۡلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمۡ وَمَا يُعۡلِنُونَ ٦٩ | (69) او ستا رب پوهېږي په هغه څه چې د دوی سینې یې پټوي او څه چې دوی څرګندوي |
| وَهُوَ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ لَهُ ٱلۡحَمۡدُ فِي ٱلۡأُولَىٰ وَٱلۡأٓخِرَةِۖ وَلَهُ ٱلۡحُكۡمُ | (70) او همدغه الله دی، نشته هېڅ لایق د عبادت مګر هم دی دی، خاص هم ده لره ثنا ده په دنیا او اخرت کې، او خاص هم ده لره |

| | |
|---|---|
| وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ﴿٧٠﴾ | حکم دی، او خاص ده ته به تاسو بېرته بیولی شئ |
| قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ إِن جَعَلَ ٱللَّهُ عَلَيۡكُمُ ٱلَّيۡلَ سَرۡمَدًا إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ مَنۡ إِلَٰهٌ غَيۡرُ ٱللَّهِ يَأۡتِيكُم بِضِيَآءٍۚ أَفَلَا تَسۡمَعُونَ ﴿٧١﴾ | (71) ته (دوی ته) ووایه: تاسو ما ته خبر راکړئ که چېرې الله پر تاسو باندې د قیامت د ورځې پورې همېشه شپه کړي (نو) له الله نه غیر بل څوك الٰه (معبود) دی چې تاسو ته رڼا راوړي؟ ایا نو تاسو نه اورئ ؟ |
| قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ إِن جَعَلَ ٱللَّهُ عَلَيۡكُمُ ٱلنَّهَارَ سَرۡمَدًا إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ مَنۡ إِلَٰهٌ غَيۡرُ ٱللَّهِ يَأۡتِيكُم بِلَيۡلٍ تَسۡكُنُونَ فِيهِۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ ﴿٧٢﴾ | (72) ته (دوی ته) ووایه: ما ته خبر راکړئ، که چېرې الله پر تاسو باندې د قیامت د ورځې پورې همېشه ورځ کړي، نو له الله نه غیر بل څوك معبود دی چې تاسو ته هغه شپه راوړي چې تاسو په هغې کې ارام کوئ؟ ایا نو تاسو نه وینئ؟ |
| وَمِن رَّحۡمَتِهِۦ جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ لِتَسۡكُنُواْ فِيهِ وَلِتَبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِهِۦ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ﴿٧٣﴾ | (73) او خاص د خپل رحمت له وجې یې تاسو لپاره شپه او ورځ پیدا کړې ده، د دې لپاره چې تاسو په دغې (شپه) کې ارام وکړئ او د دې لپاره چې تاسو (په دغې ورځ کې) د هغه له فضله (څه) ولټوئ او د دې لپاره چې تاسو شکر وباسئ |
| وَيَوۡمَ يُنَادِيهِمۡ فَيَقُولُ أَيۡنَ | (74) او (یاده کړه) هغه ورځ چې دوی ته (الله) |

شُرَكَآءِيَ ٱلَّذِينَ كُنتُمۡ تَزۡعُمُونَ ﴿٧٤﴾

اواز وکړي، نو وبه وايي: چېرته دي زما هغه شريکان چې تاسو به ګڼل؟

وَنَزَعۡنَا مِن كُلِّ أُمَّةٖ شَهِيدٗا فَقُلۡنَا هَاتُواْ بُرۡهَٰنَكُمۡ فَعَلِمُوٓاْ أَنَّ ٱلۡحَقَّ لِلَّهِ وَضَلَّ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ﴿٧٥﴾

(75) او مونږ به له هر امت نه يو ګواه راوباسو، نو مونږ به (دوی ته) ووايو: تاسو خپل دليل راوړئ، نو دوی به پوه شي چې بېشکه حق خاص د الله لپاره دی، او له دوی نه به هغه څه ورك شي چې دوی به دروغ تړل

۞إِنَّ قَٰرُونَ كَانَ مِن قَوۡمِ مُوسَىٰ فَبَغَىٰ عَلَيۡهِمۡۖ وَءَاتَيۡنَٰهُ مِنَ ٱلۡكُنُوزِ مَآ إِنَّ مَفَاتِحَهُۥ لَتَنُوٓأُ بِٱلۡعُصۡبَةِ أُوْلِي ٱلۡقُوَّةِ إِذۡ قَالَ لَهُۥ قَوۡمُهُۥ لَا تَفۡرَحۡۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡفَرِحِينَ ﴿٧٦﴾

(76) بېشکه قارون د موسىٰ له قومه څخه و، نو ده په دغو (بني اسرائيلو) باندې سرکشي (او لويي) وکړه او مونږه ده ته له خزانو څنې دومره مقدار ورکړی و چې بېشکه د هغو چابیانې (کلیګانې) به خامخا په طاقتورې ډلې درنېدلې، (ياد کړه) هغه وخت چې ده ته د ده قوم وويل: ته (په مال خوشحالي او تکبر مه کوه بېشکه الله (په مال خوشالېدونکي) تکبر کوونکي نه خوښوي

وَٱبۡتَغِ فِيمَآ ءَاتَىٰكَ ٱللَّهُ ٱلدَّارَ ٱلۡأٓخِرَةَۖ وَلَا تَنسَ نَصِيبَكَ مِنَ ٱلدُّنۡيَاۖ وَأَحۡسِن كَمَآ أَحۡسَنَ ٱللَّهُ إِلَيۡكَۖ وَلَا تَبۡغِ ٱلۡفَسَادَ فِي ٱلۡأَرۡضِۖ

(77) او ته په هغه (مال) کې چې تا ته الله درکړی دی ؛ د اخرت کور (جنت) لټوه، او له دنيا نه خپله برخه مه هېروه، او احسان کوه، لکه چې تا سره الله احسان کړی دی، او په ځمکه کې فساد مه غواړه، بېشکه الله فساد

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٧٧﴾

کوونکي نه خوښوي

قَالَ إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلْمٍ عِندِيٓۚ أَوَلَمْ يَعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ قَدْ أَهْلَكَ مِن قَبْلِهِۦ مِنَ ٱلْقُرُونِ مَنْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُ قُوَّةً وَأَكْثَرُ جَمْعًاۚ وَلَا يُسْـَٔلُ عَن ذُنُوبِهِمُ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿٧٨﴾

(78) هغه وویل: یقیناً دا خو ما ته راکړی شوی دی په هغه علم سره چې زما سره دی، ایا دی نه و پوه، چې بېشکه الله یقیناً له ده نه مخکې له امتونو څخه هغه څوك هلاك كړي دي چې هغه له ده نه په قوت کې زیات سخت وو، او په جمع (ډله) کې له ده نه ډېر وو، او له مجرمانو (کافرانو) نه به د خپلو ګناهونو په باره کې، تپوس نه کاوه شي

فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوْمِهِۦ فِي زِينَتِهِۦۖ قَالَ ٱلَّذِينَ يُرِيدُونَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا يَٰلَيْتَ لَنَا مِثْلَ مَآ أُوتِيَ قَٰرُونُ إِنَّهُۥ لَذُو حَظٍّ عَظِيمٍ ﴿٧٩﴾

(79) نو دی په خپل قوم باندې په زینت کې راووت، (نو) هغو کسانو وویل چې دنیایي ژوند يې غوښته: ای کاشکې چې مونږ له هم وی په شان د هغو (مالونو) چې قارون ته ورکړی شوي دي، بېشکه دا خامخا د ډېرې لویې برخې خاوند دی

وَقَالَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْعِلْمَ وَيْلَكُمْ ثَوَابُ ٱللَّهِ خَيْرٌ لِّمَنْ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحًاۚ وَلَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ٱلصَّٰبِرُونَ ﴿٨٠﴾

(80) او هغو کسانو وویل چې علم ورته ورکړی شوی و: په تاسو افسوس! د الله ثواب ډېر غوره دی د هغه چا لپاره چې ایمان يې راوړی دی او نېك عمل يې كړی دی، او دغه خبره نه موندل کېږي مګر صبر کوونکو ته

فَخَسَفۡنَا بِهِۦ وَبِدَارِهِ ٱلۡأَرۡضَ فَمَا كَانَ لَهُۥ مِن فِئَةٖ يَنصُرُونَهُۥ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلۡمُنتَصِرِينَ ٨١

(81) نو مونږ هغه او د هغه کور په ځمکه کې ننه ایست، نو بیا د ده لپاره له الله نه غیر هېڅ ډله نه وه چې د ده مدد یې کړی وی اونه و دی (پخپله) له بدل اخیستونکو څخه

وَأَصۡبَحَ ٱلَّذِينَ تَمَنَّوۡاْ مَكَانَهُۥ بِٱلۡأَمۡسِ يَقُولُونَ وَيۡكَأَنَّ ٱللَّهَ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ وَيَقۡدِرُۖ لَوۡلَآ أَن مَّنَّ ٱللَّهُ عَلَيۡنَا لَخَسَفَ بِنَاۖ وَيۡكَأَنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ٨٢

(82) او شول هغه کسان چې پرون یې د ده د مرتبې تمنا کوله، چې ویل یې: تعجب دی! ځکه چې یقینًا الله رزق فراخوي چا لپاره چې وغواړي په خپلو بنده ګانو کې او تنګوي یې، که چېرې نه وی دا چې الله پر مونږ احسان وکړ، خامخا مونږ به یې هم (په ځمکه کې) ننه ایستي (ډوب کړي) وو، تعجب دی! ځکه چې یقینًا، کافران خلاصی نه مومي

تِلۡكَ ٱلدَّارُ ٱلۡأٓخِرَةُ نَجۡعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوّٗا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فَسَادٗاۚ وَٱلۡعَٰقِبَةُ لِلۡمُتَّقِينَ ٨٣

(83) دغه د اخرت کور (جنت) دا مونږ د هغو کسانو لپاره مقرروو چې په ځمکه کې نه د لویي اراده لري او نه د فساد (وراني) کولو او ښه انجام د پرهېزګارانو لپاره دی

مَن جَآءَ بِٱلۡحَسَنَةِ فَلَهُۥ خَيۡرٞ مِّنۡهَاۖ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَلَا يُجۡزَى ٱلَّذِينَ عَمِلُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ إِلَّا مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٨٤

(84) چا چې یوه نېکي راوړه، نو د هغه لپاره له هغې نه غوره (بدله) ده او چا چې یوه بدي راوړه، نو جزا نشي ورکولی هغو کسانو ته چې بدۍ یې کړي دي، مګر هغه چې دوی به څه

عمل کاوه

إِنَّ ٱلَّذِى فَرَضَ عَلَيْكَ ٱلْقُرْءَانَ لَرَآدُّكَ إِلَىٰ مَعَادٍۚ قُل رَّبِّىٓ أَعْلَمُ مَن جَآءَ بِٱلْهُدَىٰ وَمَنْ هُوَ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٨٥﴾

(85) بېشکه هغه (الله) چې په تا يې قرآن فرض (نازل) کړی دی يقيناً هغه تالره د وعدې ځای ته بېرته بېونکی دی ، ته ووايه: زما رب ښه عالم دی په هغه چا چې نېکي يې راوړې ده او په هغه چا چې هغه په ښکاره ګمراهۍ کې دی

وَمَا كُنتَ تَرْجُوٓا۟ أَن يُلْقَىٰٓ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبُ إِلَّا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَۖ فَلَا تَكُونَنَّ ظَهِيرًا لِّلْكَٰفِرِينَ ﴿٨٦﴾

(86) او تا امېد نه لاره چې تا ته به کتاب نازل کړی شي لېکن ستا د رب له جانبه د رحمت په وجه (نازل کړی شو)، نو ته له سره مه کېږه مددګار د کافرانو

وَلَا يَصُدُّنَّكَ عَنْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ بَعْدَ إِذْ أُنزِلَتْ إِلَيْكَۖ وَٱدْعُ إِلَىٰ رَبِّكَۖ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿٨٧﴾

(87) او دوی (کافران) دې تا د الله له ايتونو نه هيڅبېرې وانهړوي، وروسته له دې چې کله تا ته نازل کړی شول، او ته خپل رب طرف ته (خلق) بله، او هيڅبېرې مه کېږه له مشرکانو څخه

وَلَا تَدْعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَۘ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ كُلُّ شَىْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُۥۚ لَهُ ٱلْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٨٨﴾

(88) او ته له الله سره بل هيڅ معبود مه بله (ځکه چې) د عبادت هيڅ لايق نشته مګر هغه دی، د هغه له مخ (ذات) نه غير هر څيز فناکېدونکی دی حکم خاص د هغه لپاره دی

او خاص هغه ته به تاسو بېرته بوتلى شئ

## سُورَةُ العَنكَبُوتِ

## سورة عنكبوت

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى**

الٓمٓ ١

(1) الف، لام، ميم

أَحَسِبَ ٱلنَّاسُ أَن يُتۡرَكُوٓاْ أَن يَقُولُوٓاْ ءَامَنَّا وَهُمۡ لَا يُفۡتَنُونَ ٢

(2) ايا خلقو دا گمان كړى دى چې دوى به په خپلې دې وينا پرېښودل شي چې: مونږ ايمان راوړى دى، حال دا چې دوى به نه ازمايل كېږي

وَلَقَدۡ فَتَنَّا ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۖ فَلَيَعۡلَمَنَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْ وَلَيَعۡلَمَنَّ ٱلۡكَٰذِبِينَ ٣

(3) او يقينًا يقينًا مونږ هغه كسان ازمايلي وو چې له دوى نه مخكې وو، نو خامخا ضرور به الله هغه كسان معلوموي (ظاهروي) چې رښتيني دي او خامخا ضرور به دروغجن معلوموي

أَمۡ حَسِبَ ٱلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ أَن يَسۡبِقُونَاۚ سَآءَ مَا يَحۡكُمُونَ ٤

(4) بلكې ايا هغو كسانو گمان كړى دى چې بد عملونه كوي چې دوى به زمونږ نه ړومبى (او خلاص) شي؟ بد دى هغه حكم (فيصله) چې دوى يې كوي

| | |
|---|---|
| مَن كَانَ يَرۡجُواْ لِقَآءَ ٱللَّهِ فَإِنَّ أَجَلَ ٱللَّهِ لَأٓتٖۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ٥ | (5) هر څوك چې د الله د ملاقات امېد لري، نو بېشکه د الله (د ملاقات) نېټه خامخا راتلونکې ده او هم هغه ښه اورېدونکی، ښه عالم دی |
| وَمَن جَٰهَدَ فَإِنَّمَا يُجَٰهِدُ لِنَفۡسِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَغَنِيٌّ عَنِ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٦ | (6) او هغه څوك چې جهاد کوي، نو یقینًا هم د خپل ځان لپاره جهاد کوي، بېشکه الله خامخا غني(ډېر بې پروا) دی، له عالمونو نه |
| وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَنُكَفِّرَنَّ عَنۡهُمۡ سَيِّـَٔاتِهِمۡ وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ أَحۡسَنَ ٱلَّذِي كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٧ | (7) او هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او نېك عملونه یې کړي دي، خامخا ضرور به مونږ له هغوی نه د هغوی ګناهونه ورژوو او خامخا ضرور به مونږ دوی ته د ترټولو غوره عملونو چې دوی به کول ؛ بدله ورکړو |
| وَوَصَّيۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيۡهِ حُسۡنٗاۖ وَإِن جَٰهَدَاكَ لِتُشۡرِكَ بِي مَا لَيۡسَ لَكَ بِهِۦ عِلۡمٞ فَلَا تُطِعۡهُمَآۚ إِلَيَّ مَرۡجِعُكُمۡ فَأُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٨ | (8) اومونږ انسان ته د خپل مور و پلار په باره کې د نېکۍ کولو کلك حکم کړی دی، او که دوی دواړه په تا ډېر کوښښ وکړي، د دې لپاره چې ته زما سره هغه شی شریك کړې چې تا ته د هغه هېڅ علم نشته، نو ته د دوی خبره مه منه، خاص ما ته ستاسو بېرته راتلل دي، نو زه به تاسو په هغو عملونو خبر کړم چې تاسو به کول |

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَنُدۡخِلَنَّهُمۡ فِي ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٩﴾

(9) او هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او نېك عملونه یې کړي دي، خامخا ضرور به مونږ دوی په (ډله د) صالحانو کې داخل کړو

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ فَإِذَآ أُوذِيَ فِي ٱللَّهِ جَعَلَ فِتۡنَةَ ٱلنَّاسِ كَعَذَابِ ٱللَّهِۖ وَلَئِن جَآءَ نَصۡرٞ مِّن رَّبِّكَ لَيَقُولُنَّ إِنَّا كُنَّا مَعَكُمۡۚ أَوَلَيۡسَ ٱللَّهُ بِأَعۡلَمَ بِمَا فِي صُدُورِ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٠﴾

(10) او په خلقو کې ځینې هغه څوك دي چې وايي: مونږ په الله ایمان راوړی دی، نو کله چې ده ته په (لاره د) الله کې تکلیف (سختي) ورسولی شي (، نو) د خلقو (له اړخه) سختي (او فتنه) د الله له جانبه عذاب وګڼي او قسم دی خامخا که ستا د رب له جانبه امداد راشي (، نو) خامخا ضرور به وايي چې بېشکه مونږ هم له تاسو سره وو، ایا الله ښه عالم نه دی په هغه (اخلاص او نفاق) چې د عالمونو (خلقو) په سینو کې دی

وَلَيَعۡلَمَنَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَيَعۡلَمَنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ ﴿١١﴾

(11) او خامخا ضرور به الله هغه کسان معلوموي ( څرګندوي) چې ایمان یې راوړی دی او خامخا ضرور به منافقین معلوموي

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّبِعُواْ سَبِيلَنَا وَلۡنَحۡمِلۡ خَطَٰيَٰكُمۡ وَمَا هُم بِحَٰمِلِينَ مِنۡ خَطَٰيَٰهُم مِّن شَيۡءٍۖ إِنَّهُمۡ

(12) او کافران شویو کسانو هغو خلقو ته وویل چې ایمان یې راوړی دی: تاسو زمونږ د لارې متابعت وکړئ او لازم ده چې مونږ ستاسو ګناهونه اوچت کړو، حال دا چې دوی د هغوی له ګناهونو نه هېڅ شی (ګناه) نه دي

| | |
|---|---|
| لَكَٰذِبُونَ ﴿١٢﴾ | پورته کوونکي، بېشکه دوی دروغجنان دي |
| وَلَيَحۡمِلُنَّ أَثۡقَالَهُمۡ وَأَثۡقَالٗا مَّعَ أَثۡقَالِهِمۡۖ وَلَيُسۡـَٔلُنَّ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ عَمَّا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ﴿١٣﴾ | (13) او خامخا ضرور به دوی خپل بوجونه پورته کوي او له خپلو بوجونو سره نور بوجونه (هم) او د قیامت په ورځ به خامخا ضرور له دوی نه د هغو (دروغو) تپوس کولی شي چې دوی له ځانه جوړول |
| وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ فَلَبِثَ فِيهِمۡ أَلۡفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمۡسِينَ عَامٗا فَأَخَذَهُمُ ٱلطُّوفَانُ وَهُمۡ ظَٰلِمُونَ ﴿١٤﴾ | (14) او یقینًا یقینًا مونږه نوح خپل قوم ته (رسول) لېږلی و، نو هغه په دوی کې پنځوس کاله کم زر کاله تېر کړل، بیا دوی طوفان ونیول، په داسې حال کې چې دوی ظالمان وو |
| فَأَنجَيۡنَٰهُ وَأَصۡحَٰبَ ٱلسَّفِينَةِ وَجَعَلۡنَٰهَآ ءَايَةٗ لِّلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٥﴾ | (15) نو مونږ هغه ته او د کشتۍ والاو ته نجات ورکړ او مونږ د عالمونو لپاره دغه (کشتۍ، یا قصه) لویه نښه وګرځوله |
| وَإِبۡرَٰهِيمَ إِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱتَّقُوهُۖ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿١٦﴾ | (16) او (یاده کړه قصه د) ابراهیم، کله چې هغه خپل قوم ته وویل: تاسو د الله عبادت کوئ او له هغه نه وېرېږئ، دا تاسو لپاره ډېر غوره دي، که تاسو پوهېږئ |
| إِنَّمَا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوۡثَٰنٗا وَتَخۡلُقُونَ إِفۡكًاۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ | (17) یقینًا تاسو له الله نه غیر د بتانو عبادت کوئ او تاسو دروغ جوړوئ، بېشکه هغه |

تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَا
يَمۡلِكُونَ لَكُمۡ رِزۡقٗا فَٱبۡتَغُواْ
عِندَ ٱللَّهِ ٱلرِّزۡقَ وَٱعۡبُدُوهُ
وَٱشۡكُرُواْ لَهُۥٓۖ إِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ١٧

(معبودان) چې تاسو يې له الله نه غیر عبادت کوئ، دوی تاسو لپاره د رزق مالکان نه دي، نو تاسو له الله سره رزق ولټوئ او د هغه عبادت کوئ او د هغه شکر وباسئ، تاسو به خاص هغه ته بېرته بیولی کېږئ

وَإِن تُكَذِّبُواْ فَقَدۡ كَذَّبَ أُمَمٞ
مِّن قَبۡلِكُمۡۖ وَمَا عَلَى ٱلرَّسُولِ إِلَّا
ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ١٨

**(18)** او (ای کافرانو!) که تاسو تکذیب کوئ، نو یقیناً له تاسو نه مخکې امتونو هم تکذیب کړی دی، او د رسول په غاړه یواځې ښکاره پیغام رسونه ده

أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ كَيۡفَ يُبۡدِئُ ٱللَّهُ
ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥٓۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى
ٱللَّهِ يَسِيرٞ ١٩

**(19)** ایا دوی نهویني چې الله څنګه اول کرت مخلوق پیدا کوي، بیا د هغو اعاده کوي، بېشکه دا (کار) الله ته ډېر اسان دی

قُلۡ سِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ
كَيۡفَ بَدَأَ ٱلۡخَلۡقَۚ ثُمَّ ٱللَّهُ يُنشِئُ
ٱلنَّشۡأَةَ ٱلۡأٓخِرَةَۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ
شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٢٠

**(20)** ته ووایه: تاسو په ځمکه کې وګرځئ، بیا وګورئ چې هغه (الله) د مخلوق ابتدا څنګه کړې ده، بیا به الله پیدا کړي، وروستنې پیدا کول، بېشکه الله په هر شي باندې ښه قادر دی

يُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ وَيَرۡحَمُ مَن
يَشَآءُۖ وَإِلَيۡهِ تُقۡلَبُونَ ٢١

**(21)** هغه عذاب ورکوي هغه چا ته چې وغواړي او رحم کوي په هغه چا چې وغواړي او خاص هغه ته به تاسو بېرته بېولی کېږئ

وَمَآ أَنتُم بِمُعۡجِزِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِۖ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٖ ﴿٢٢﴾

(22) او (اى خلقو!) نه يئ تاسو عاجزه كوونكي (د الله) په ځمكه او نه په اسمان كې او تاسو لپاره له الله نه غير نه هېڅ دوست شته او نه مددگار

وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَلِقَآئِهِۦٓ أُوْلَٰٓئِكَ يَئِسُواْ مِن رَّحۡمَتِي وَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٢٣﴾

(23) او هغه كسان چې د الله په ايتونو او د هغه په ملاقات سره كافر شوي دي، دغه كسان زما له رحمت نه نا امېده شوي دي او دغه كسان دي چې د دوى لپاره ډېر دردووںكى عذاب دى

فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوۡمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُواْ ٱقۡتُلُوهُ أَوۡ حَرِّقُوهُ فَأَنجَىٰهُ ٱللَّهُ مِنَ ٱلنَّارِۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿٢٤﴾

(24) نو د هغه (ابراهيم) د قوم (بل) هېڅ جواب نه و مگر دا چې دوى وويل: تاسو دا ووژنئ يا دا وسوځوئ، نو الله ده ته له اور نه نجات وركړ، بېشكه په دې كې خامخا ډېرې نښې دي د هغه قوم لپاره چې ايمان راوړي

وَقَالَ إِنَّمَا ٱتَّخَذۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ أَوۡثَٰنٗا مَّوَدَّةَ بَيۡنِكُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ ثُمَّ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَكۡفُرُ بَعۡضُكُم بِبَعۡضٖ وَيَلۡعَنُ بَعۡضُكُم بَعۡضٗا وَمَأۡوَىٰكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴿٢٥﴾

(25) او ده وويل: يقينًا تاسو له الله نه غير (دا) بتان يواځې د خپل مينځي دوستۍ لپاره نيولي دي، په دنيايي ژوند كې، بيا به د قيامت په ورځ ستاسو ځيني په ځينو نورو سره منكرېږي او ستاسو ځيني به په ځينو نورو لعنت وايي او ستاسو استوګنه اور دى او تاسو لپاره به هيڅوك مدد كوونكي نه وي

۞فَـَٔامَنَ لَهُۥ لُوطٌۘ وَقَالَ إِنِّي مُهَاجِرٌ إِلَىٰ رَبِّيٓۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٢٦﴾

(26) نو په ده باندې لوط ایمان راوړ او ده وویل: بېشکه زه خپل رب ته هجرت کوونکی یم، بېشکه هم هغه ښه غالب، ښه حکمت والا دی

وَوَهَبۡنَا لَهُۥٓ إِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَجَعَلۡنَا فِي ذُرِّيَّتِهِ ٱلنُّبُوَّةَ وَٱلۡكِتَٰبَ وَءَاتَيۡنَٰهُ أَجۡرَهُۥ فِي ٱلدُّنۡيَاۖ وَإِنَّهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٢٧﴾

(27) او مونږ هغه ته اسحق او یعقوب وبخښل او مونږ د هغه په اولاده کې نبوت او کتاب کېښوده او مونږ هغه ته د هغه اجر په دنیا کې ورکړ او بېشکه هغه په اخرت کې خامخا له صالحانو څخه دی

وَلُوطًا إِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهِۦٓ إِنَّكُمۡ لَتَأۡتُونَ ٱلۡفَٰحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنۡ أَحَدٖ مِّنَ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٢٨﴾

(28) او (یاده کړه قصه د) لوط کله چې هغه خپل قوم ته وویل: بېشکه تاسو یقینًا غټه بدکاري کوئ، چې په عالمونو کې هیڅوک دي ته له تاسو نه ړومبی شوي نه دي

أَئِنَّكُمۡ لَتَأۡتُونَ ٱلرِّجَالَ وَتَقۡطَعُونَ ٱلسَّبِيلَ وَتَأۡتُونَ فِي نَادِيكُمُ ٱلۡمُنكَرَۖ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوۡمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُواْ ٱئۡتِنَا بِعَذَابِ ٱللَّهِ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٢٩﴾

(29) ایا خامخا تاسو یقینًا له سړیو سره بدکاري کوئ او لارې شکوئ او تاسو په خپل مجلس کې ناکاره کارونه کوئ، نو د ده د قوم (بل) هیڅ جواب نه و مګردا چې دوی وویل: ته په مونږه د الله عذاب راوله که ته له رښتینو څخه یې

قَالَ رَبِّ ٱنصُرۡنِي عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ٣٠

(30) ده وویل: ای زما ربه! د فسادي قوم په مقابله کې ته زما مدد وکړه

وَلَمَّا جَآءَتۡ رُسُلُنَآ إِبۡرَٰهِيمَ بِٱلۡبُشۡرَىٰ قَالُوٓاْ إِنَّا مُهۡلِكُوٓاْ أَهۡلِ هَٰذِهِ ٱلۡقَرۡيَةِۖ إِنَّ أَهۡلَهَا كَانُواْ ظَٰلِمِينَ ٣١

(31) او کله چې زمونږ استازيو ابراهيم ته زیری راوړ (بيا يې ورته وويل:) بېشکه مونږ د دې کلي اوسېدونکو لره هلاك کوونکي يو، بېشکه د دغه (کلي) اوسېدونکي ظالمان دي

قَالَ إِنَّ فِيهَا لُوطٗاۚ قَالُواْ نَحۡنُ أَعۡلَمُ بِمَن فِيهَاۖ لَنُنَجِّيَنَّهُۥ وَأَهۡلَهُۥٓ إِلَّا ٱمۡرَأَتَهُۥ كَانَتۡ مِنَ ٱلۡغَٰبِرِينَ ٣٢

(32) ده وویل: بېشکه په دغه (کلي) کې خو لوط دی، هغوی وویل: مونږ په هغه چا ښه عالمان يو چې په دغه کې دي، مونږ به خامخا ضرور هغه ته او د هغه اهل ته نجات ورکوو د هغه له ښځې نه غير، هغه په باقي پاتې کېدونکو کې ده

وَلَمَّآ أَن جَآءَتۡ رُسُلُنَا لُوطٗا سِيٓءَ بِهِمۡ وَضَاقَ بِهِمۡ ذَرۡعٗاۖ وَقَالُواْ لَا تَخَفۡ وَلَا تَحۡزَنۡ إِنَّا مُنَجُّوكَ وَأَهۡلَكَ إِلَّا ٱمۡرَأَتَكَ كَانَتۡ مِنَ ٱلۡغَٰبِرِينَ ٣٣

(33) او کله چې خنګه لوط ته زمونږ استازي راغلل (،نو) هغه د دوی په وجه غمګين شو او د دوی په وجه يې زړه ډېر تنګ شو او هغوی وويل: ته مه وېرېږه او مه غمګين کېږه، بېشکه مونږ تا لره او ستا اهل لره نجات ورکوونکي يو، خو ستا له ښځې نه غير، هغه په باقي پاتې کېدونکو کې ده

إِنَّا مُنزِلُونَ عَلَىٰٓ أَهۡلِ هَٰذِهِ ٱلۡقَرۡيَةِ رِجۡزٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ بِمَا كَانُواْ يَفۡسُقُونَ ٣٤

(34) بېشکه مونږ د دې کلي په اوسېدونکو باندې له اسمانه عذاب نازلوونکي يو، په سبب د هغې نافرمانۍ (او بدکارۍ) چې دوی به کوله

وَلَقَد تَّرَكۡنَا مِنۡهَآ ءَايَةَۢ بَيِّنَةٗ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ٣٥

(35) او يقينًا يقينًا مونږ له دغه کلي نه يوه ډېره خرگنده نښه پرېښوده، د هغه قوم لپاره چې له عقل نه کار اخلي

وَإِلَىٰ مَدۡيَنَ أَخَاهُمۡ شُعَيۡبٗا فَقَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱرۡجُواْ ٱلۡيَوۡمَ ٱلۡأٓخِرَ وَلَا تَعۡثَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُفۡسِدِينَ ٣٦

(36) او (مونږ لېږلی و) مدين ته د هغوی ورور شعيب، نو ده وويل: ای زما قومه! تاسو د الله عبادت کوئ او د اخري ورځې امېد ساتئ او په ځمکه کې ورانکاري مه گرځئ، په داسې حال کې چې فساد کوونکي يئ

فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلرَّجۡفَةُ فَأَصۡبَحُواْ فِي دَارِهِمۡ جَٰثِمِينَ ٣٧

(37) نو دوی د هغه تکذيب وکړ، نو دوی سختې زلزلې ونيول، نو شول په خپلو کورونو کې پړمخې مړه پراته

وَعَادٗا وَثَمُودَاْ وَقَد تَّبَيَّنَ لَكُم مِّن مَّسَٰكِنِهِمۡۖ وَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَعۡمَٰلَهُمۡ فَصَدَّهُمۡ عَنِ ٱلسَّبِيلِ وَكَانُواْ مُسۡتَبۡصِرِينَ ٣٨

(38) او (هلاك کړي مو وو قوم د) عاد او ثمود او په تحقيق تاسو ته (د دوی هلاکول) د دوی له کورونو نه ښکاره شوي دياو دوی ته شيطان خپل عملونه ښايسته کړل، نو دوی يې له (حقې) لارې نه منع کړل (واړول)، حال دا

چې دوی ښه بینا (او هوښیار) وو

وَقَٰرُونَ وَفِرۡعَوۡنَ وَهَٰمَٰنَۖ وَلَقَدۡ جَآءَهُم مُّوسَىٰ بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَٱسۡتَكۡبَرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا كَانُواْ سَٰبِقِينَ ٣٩

(39) او (مونږ هلاك كړ) قارون او فرعون او هامان او یقینًا یقینًا دوی ته موسٰی ښكاره معجزې راوړې وې، نو دوی په ځمكه كې لويي وكړه او دوی (زمونږ نه) ړومبی كېدونكی نه وو

فَكُلًّا أَخَذۡنَا بِذَنۢبِهِۦۖ فَمِنۡهُم مَّنۡ أَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِ حَاصِبٗا وَمِنۡهُم مَّنۡ أَخَذَتۡهُ ٱلصَّيۡحَةُ وَمِنۡهُم مَّنۡ خَسَفۡنَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ وَمِنۡهُم مَّنۡ أَغۡرَقۡنَاۚ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظۡلِمَهُمۡ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ٤٠

(40) نو (په دوی كې) هر یو مونږ په خپلې ګناه سره ونیوه، نو په دوی كې ځینې هغه دي چې مونږ پرې كاڼي وېشتونكی باد راخوشې كړ او ځینې په دوی كې هغه دي چې دوی سختې چغې ونیول او ځینې په دوی كې هغه دي چې مونږ هغوی په ځمكه كې ننه ابستل او ځینې په دوی كې هغه دي چې مونږ (په اوبو كې) غرق كړل او الله له سره داسې نه و چې په دوی یې ظلم كړی وی او لېكن دوی په خپلو ځانونو (پخپله) ظلم كاوه

مَثَلُ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوۡلِيَآءَ كَمَثَلِ ٱلۡعَنكَبُوتِ ٱتَّخَذَتۡ بَيۡتٗاۖ وَإِنَّ أَوۡهَنَ ٱلۡبُيُوتِ لَبَيۡتُ ٱلۡعَنكَبُوتِۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ٤١

(41) د هغو كسانو حال چې له الله نه غير یې دوستان (او كارسازي) نیولي دي د غنې (جولاګې) د حال په شان دی، چې یو كور جوړ كړي، او بېشكه په كورونو كې تر ټولو كمزوری كور خامخا د جولاګې كور دی كه

چېرې دوی پوهېدلی (نو د غیر الله عبادت به يې نه کاوه)

إِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ مِن شَيۡءٖۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٤٢﴾

(42) بېشکه الله په هر هغه شي عالم دی چې دوی يې له هغه نه غیر بللي او همغه ښه غالب، ښه حکمت والا دی

وَتِلۡكَ ٱلۡأَمۡثَٰلُ نَضۡرِبُهَا لِلنَّاسِۖ وَمَا يَعۡقِلُهَآ إِلَّا ٱلۡعَٰلِمُونَ ﴿٤٣﴾

(43) او دغه مثالونه، مونږ دغه د خلقو لپاره بیانوو او په دوی نه پوهېږي مګر پوه خلق

خَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٤٤﴾

(44) الله اسمانونه او ځمکه په حق سره پیدا کړي دي، بېشکه په دې کې د مومنانو لپاره خامخا لويه نښه ده

ٱتۡلُ مَآ أُوحِيَ إِلَيۡكَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَۖ إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ تَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِۗ وَلَذِكۡرُ ٱللَّهِ أَكۡبَرُۗ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا تَصۡنَعُونَ ﴿٤٥﴾

(45) ته هغه لوله چې تا ته وحي کړی شوی دی، چې کتاب (او قرآن) دی او لمونځ قايموه، بېشکه لمونځ (لمونځ کوونکي لره) له بې حيايۍ او بدکار نه منع کوي او خامخا د الله يادول ډېر لوی دي او الله پوهېږي په هغو کارونو چې تاسو يې کوئ

۞وَلَا تُجَٰدِلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ إِلَّا بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ إِلَّا ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنۡهُمۡۖ وَقُولُوٓاْ ءَامَنَّا بِٱلَّذِيٓ

(46) او تاسو له اهل کتابو سره جګړه مه کوئ مګر په هغې (طریقې) سره چې هغه تر ټولو ښه وي، غیر له هغو کسانو نه چې ظلم وکړي

أُنزِلَ إِلَيۡنَا وَأُنزِلَ إِلَيۡكُمۡ وَإِلَٰهُنَا
وَإِلَٰهُكُمۡ وَٰحِدٞ وَنَحۡنُ لَهُۥ
مُسۡلِمُونَ ٤٦

له دوی څنې او تاسو وایئ: مونږ په هغه (کتاب) ایمان راوړی دی چې مونږ ته نازل کړی شوی دی او ( په هغه کتاب) چې تاسو ته نازل کړی شوی دی او زمونږ معبود او ستاسو معبود یو دی او مونږ خاص هغه ته غاړه ایښودونکي یو

وَكَذَٰلِكَ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَۚ
فَٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ
يُؤۡمِنُونَ بِهِۦۖ وَمِنۡ هَٰٓؤُلَآءِ مَن
يُؤۡمِنُ بِهِۦۚ وَمَا يَجۡحَدُ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَّا
ٱلۡكَٰفِرُونَ ٤٧

**(47)** او هم داسې مونږ تا ته کتاب نازل کړ، نو هغه کسان چې مونږ هغوی ته کتاب ورکړی دی هغوی په ده (قرآن) ایمان راوړي او له دغو (عربو) نه ځینې هغه دي چې په ده ایمان راوړي او زمونږ له ایتونو نه انکار نه کوي مگر کافران

وَمَا كُنتَ تَتۡلُواْ مِن قَبۡلِهِۦ مِن
كِتَٰبٖ وَلَا تَخُطُّهُۥ بِيَمِينِكَۖ إِذٗا
لَّٱرۡتَابَ ٱلۡمُبۡطِلُونَ ٤٨

**(48)** او له دې (قرآن) نه مخکې نه تا کوم کتاب لوسته او نه تا د غه په خپل ښي لاس سره لیکه، (که ته داسې وی نو) په دغه وخت کې به باطل پرستو شك کاوه

بَلۡ هُوَ ءَايَٰتُۢ بَيِّنَٰتٞ فِي صُدُورِ
ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَۚ وَمَا يَجۡحَدُ
بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَّا ٱلظَّٰلِمُونَ ٤٩

**(49)** بلکې دغه (قرآن) ښکاره ایتونه دي د هغو خلقو په سینو کې چې هغوی ته علم ورکړی شوی دی او زمونږ له ایتونو نه انکار نه کوي مگر ظالمان

وَقَالُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ ءَايَٰتٞ مِّن
رَّبِّهِۦۖ قُلۡ إِنَّمَا ٱلۡأٓيَٰتُ عِندَ ٱللَّهِ
وَإِنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٞ مُّبِينٌ ٥٠

(50) او دوی وايي: په ده باندې د خپل رب له جانبه نښې (معجزې) ولې نه نازلولی شي؟ ته (دوی ته) ووايه: بېشکه معجزې خو يوازې له الله سره دي، بېشکه زه خو بس ښکاره وېرووونکی يم

أَوَلَمۡ يَكۡفِهِمۡ أَنَّآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ
ٱلۡكِتَٰبَ يُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ
لَرَحۡمَةٗ وَذِكۡرَىٰ لِقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ٥١

(51) ايا دوی ته دا کافي نه دي چې بېشکه مونږ په تاکتاب نازل کړی دی، په دې حال کې چې دوی ته لوستل کېږي، بېشکه چې په دغه (کتاب) کې خامخا رحمت او نصيحت دی د هغه قوم لپاره چې ايمان راوړي

قُلۡ كَفَىٰ بِٱللَّهِ بَيۡنِي وَبَيۡنَكُمۡ
شَهِيدٗاۖ يَعۡلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضِۗ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱلۡبَٰطِلِ
وَكَفَرُواْ بِٱللَّهِ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ
ٱلۡخَٰسِرُونَ ٥٢

(52) ته (دوی ته) ووايه: زما په مينځ کې او ستا په مېنځ کې الله ښه کافي ګواه دی، هغه عالم دی په هر هغه شي چې په اسمانونو او ځمکه کې دي او هغه کسان چې په باطل يې ايمان راوړی دی او په الله سره کافران شوي دي همدغه کسان تاوانيان دي

وَيَسۡتَعۡجِلُونَكَ بِٱلۡعَذَابِ وَلَوۡلَآ
أَجَلٞ مُّسَمّٗى لَّجَآءَهُمُ ٱلۡعَذَابُۚ
وَلَيَأۡتِيَنَّهُم بَغۡتَةٗ وَهُمۡ لَا
يَشۡعُرُونَ ٥٣

(53) او دوی دعذاب په راتلو سره په تا تلوار کوي، او که چېرې ټاکل شوي نېټه نه وی (نو )خامخا به په دوی عذاب راغلی و، او خامخا ضرور به دا په دوی ناڅاپه راځي، په دې حال کې چې دوی به شعور (خبر) نه لري

يَسۡـــتَعۡجِلُونَكَ بِٱلۡعَـــذَابِ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةُۢ بِٱلۡكَٰفِرِينَ ٥٤

(54) او دوی د عذاب په راتلو سره په تا تلوار کوي، حال دا چې جهنّم خو کافرانو لره خامخا راګېروونکی دی

يَوۡمَ يَغۡشَىٰهُمُ ٱلۡعَذَابُ مِن فَوۡقِهِمۡ وَمِن تَحۡتِ أَرۡجُلِهِمۡ وَيَقُولُ ذُوقُواْ مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٥٥

(55) په هغې ورځ کې چې دوی لره به عذاب پټ کاندي د دوی له پاسه نه او د دوی د پښو له لاندي، نه او دوی ته به وواییي: تاسو (د) هغه عمل (سزا) وڅکئ چې تاسو به کاوه

يَٰعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ أَرۡضِي وَٰسِعَةٞ فَإِيَّٰيَ فَٱعۡبُدُونِ ٥٦

(56) ای زما هغو بنده ګانو چې ایمان یې راوړی دی! بېشکه زما ځمکه فراخه ده، نو تاسو خاص زما عبادت کوئ

كُلُّ نَفۡسٖ ذَآئِقَةُ ٱلۡمَوۡتِۖ ثُمَّ إِلَيۡنَا تُرۡجَعُونَ ٥٧

(57) هر نفس د مرګ(مزه) څکونکی دی، بیا به خاص مونږ ته راګرځولی شئ

وَٱلَّذِيـــنَ ءَامَنُـــواْ وَعَمِلُـــواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَنُبَوِّئَنَّهُم مِّنَ ٱلۡجَنَّـةِ غُرَفٗا تَجۡرِي مِـن تَحۡتِهَـا ٱلۡأَنۡهَٰـرُ خَٰلِدِيـــنَ فِيهَـــاۚ نِعۡـــمَ أَجۡـــرُ ٱلۡعَٰمِلِينَ ٥٨

(58) او هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او نېك عملونه یې کړي خامخا ضرور به مونږ دوی ته د جنت په داسې لوړو بالاخانو کې ځای ورکړو چې د هغو له لاندي ولې بهېږي، په دې حال کې چې تل به وي په دغو (بالاخانو) کې، دغه (جنت) د عمل کوونکو ښه اجر دی

ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ٥٩

(59) هغه کسان چې صبر يې کړی دی او دوی خاص په خپل رب باندې توکل کوي

وَكَأَيِّن مِّن دَآبَّةٖ لَّا تَحۡمِلُ رِزۡقَهَا ٱللَّهُ يَرۡزُقُهَا وَإِيَّاكُمۡۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ٦٠

(60) او په ځمکه ډېر خوځنده (زنده سر) دي چې خپل رزق نه پورته کوي، الله دوی ته او تاسو ته روزي درکوي او هغه ښه اورېدونکی، ښه عالم دی

وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ٦١

(61) او قسم دی که ته له دوی نه پوښتنه وکړې چې اسمانونه او ځمکه چا پیدا کړې دي او (چا) لمر او سپوږمۍ مسخر کړې دي؟ دوی به خامخا ضرور ووايي چې الله (پیدا کړې او مسخر کړې دي)، نو څرنګه دوی ګرځولی شي؟

ٱللَّهُ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ وَيَقۡدِرُ لَهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ٦٢

(62) الله چې په خپلو بنده ګانو کې چا لره وغواړي؛ رزق فراخوي او په هغه يې تنګوي، بېشکه الله په هر شي ښه عالم دی

وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّن نَّزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ مِنۢ بَعۡدِ مَوۡتِهَا لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۚ قُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا

(63) او قسم دی که ته له دوی نه پوښتنه وکړې چې چا له اسمان نه اوبه نازلې کړې دي، بیا يې په هغو سره ځمکه د هغې له مرګ نه پس ژوندۍ کړې ده؟ (نو) خامخا ضرور به دوی ووايي چې الله (دا کار کړی

يَعۡقِلُونَ ٦٣

دی) ته ووايه: ټول د کمال صفتونه خاص د الله لپاره دي بلکې د دوی اکثره عقل نه لري

وَمَا هَٰذِهِ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا لَهۡوٞ وَلَعِبٞۚ وَإِنَّ ٱلدَّارَ ٱلۡأٓخِرَةَ لَهِيَ ٱلۡحَيَوَانُۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ٦٤

(64) او دا دنیایي ژوند نه دی مګر عبث او لوبې او بیشکه دار اخرت (جنت) خامخا همغه واقعي ژوندون دی، که چیرې دوی پوهېدلی

فَإِذَا رَكِبُواْ فِي ٱلۡفُلۡكِ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمۡ إِلَى ٱلۡبَرِّ إِذَا هُمۡ يُشۡرِكُونَ ٦٥

(65) نو کله چې دوی په کشتۍ کې سواره شي (، نو) دوی الله بولي، په داسې حال کې چې خاص هغه لره دین خالص کوونکي وي، نوکله چې هغه (الله) دوی ته وچې ته نجات ورکړي (نو) ناڅاپه دوی (له الله سره) شریکان نیسي

لِيَكۡفُرُواْ بِمَآ ءَاتَيۡنَٰهُمۡ وَلِيَتَمَتَّعُواْۚ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ ٦٦

(66) د دې لپاره چې دوی په هغو (نعمتونو سره) کفر(ناشکري) وکړي چې مونږ دوی ته ورکړي دي او د دې لپاره چې دوی فایده واخلي، نو ژر به دوی پوه شي

أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّا جَعَلۡنَا حَرَمًا ءَامِنٗا وَيُتَخَطَّفُ ٱلنَّاسُ مِنۡ حَوۡلِهِمۡۚ أَفَبِٱلۡبَٰطِلِ يُؤۡمِنُونَ وَبِنِعۡمَةِ ٱللَّهِ يَكۡفُرُونَ ٦٧

(67) ایا دوی نه دي لیدلي چې بیشکه مونږ حرم امن والا ګرځولی دی، حال دا چې د دوی ګېر چاپېره خلق تښتولی شي، ایا نو دوی په باطل ایمان راوړي او د الله په نعمت

سره کافران کېږي؟

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِٱلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُۥٓۚ أَلَيْسَ فِي جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكَٰفِرِينَ ﴿٦٨﴾

(68) او له هغه کس نه لوی ظالم څوك دی چې په الله باندې دروغ تړي، يا د حق تکذيب کوي، کله چې ده ته دغه (حق) راشي، ايا په جهنّم کې د کافرانو لپاره د اوسېدوځای نشته؟

وَٱلَّذِينَ جَٰهَدُوا۟ فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَاۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَمَعَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٦٩﴾

(69) او هغه کسان چې په (دين ز) مونږ کې کوشش کوي ()، نو) مونږ به دوی ته خامخا ضرور خپلې لارې ونښيو او بېشکه الله خامخا د نېکي کوونکو ملګری دی

## سُورَةُ الرُّومِ

## سورهٔ روم

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

الٓمٓ ﴿١﴾

(1) الف، لام، ميم

غُلِبَتِ ٱلرُّومُ ﴿٢﴾

(2) روميان مغلوب کړی شول

فِيٓ أَدْنَى ٱلْأَرْضِ وَهُم مِّنۢ بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُونَ ﴿٣﴾

(3) په ډېرې نزدې ځمکه کې، او دوی به د خپل مغلوب کېدو نه وروسته ژر غالب شي

فِي بِضۡعِ سِنِينَۗ لِلَّهِ ٱلۡأَمۡرُ مِن قَبۡلُ وَمِنۢ بَعۡدُۚ وَيَوۡمَئِذٖ يَفۡرَحُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٤

(4) په څو کلونو کې خاص الله ته حکم دی له دې نه مخکې او له دې نه وروسته او په دغې ورځ به مومنان خوشاله شي

بِنَصۡرِ ٱللَّهِۚ يَنصُرُ مَن يَشَآءُۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ٥

(5) د الله په مدد، هغه مدد کوي چا ته چې وغواړي او همغه ښه غالب، ښه مهربان دی

وَعۡدَ ٱللَّهِۖ لَا يُخۡلِفُ ٱللَّهُ وَعۡدَهُۥ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ٦

(6) وعده کول د الله، الله د خپلې وعدې مخالفت نه کوي او لېکن د خلقو زیاتره نه پوهېږي

يَعۡلَمُونَ ظَٰهِرٗا مِّنَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَهُمۡ عَنِ ٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ غَٰفِلُونَ ٧

(7) دوی د دنیایي ژوند په ظاهري (او سرسري شیانو) پوهېږي، په داسې حال کې چې دوی له اخرته هم دوی غافلان دي

أَوَلَمۡ يَتَفَكَّرُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۗ مَّا خَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَآ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَأَجَلٖ مُّسَمّٗىۗ وَإِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلنَّاسِ بِلِقَآيِٕ رَبِّهِمۡ لَكَٰفِرُونَ ٨

(8) ایا دوی په خپلو نفسونو کې فکر نه دی کړی، چې الله اسمانونه او ځمکه او هر هغه څه چې د دې دواړو په مینځ کې دي؛ نه دي پیدا کړي مګر په حقه سره او په ټاکلې نېټې سره او بېشکه ډېر له خلقو څخه د خپل رب په ملاقات خامخا منکران(او کافران) دي

أَوَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن

(9) ایا دوی په ځمکه کې نه ګرځي، نو چې وګوري چې د هغو کسانو انجام څنګه و چې

قَبۡلِهِمۡۚ كَانُوٓاْ أَشَدَّ مِنۡهُمۡ قُوَّةٗ وَأَثَارُواْ ٱلۡأَرۡضَ وَعَمَرُوهَآ أَكۡثَرَ مِمَّا عَمَرُوهَا وَجَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِۖ فَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظۡلِمَهُمۡ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ٩

له دوی نه مخکې وو هغوی له دوی نه په قوت کې زیات سخت وو او هغوی ځمکه څیروله او دا يې اباده کړې وه ډېره له هغې نه چې دوی دغه اباده کړې ده او دوی ته خپلو رسولانو ښکاره دليلونه راوړي وو، نو الله كله هم داسې نه و چې په دوی ظلم وكړي او لېكن دوی (پخپله) په خپلو ځانونو ظلم كاوه

ثُمَّ كَانَ عَٰقِبَةَ ٱلَّذِينَ أَسَٰٓـُٔواْ ٱلسُّوٓأَىٰٓ أَن كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَكَانُواْ بِهَا يَسۡتَهۡزِءُونَ ١٠

(10) بیا د هغو كسانو انجام، چې بد يې كړي وو، ډېر بد و، په دې سبب چې دوی د الله د ايتونو تكذيب كړی و او په دغو (ايتونو) پورې به يې استهزا كولې

ٱللَّهُ يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ ثُمَّ إِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ١١

(11) الله اول ځلې مخلوق پيدا كوي، بیا به يې اعاده كوي، بیا به خاص هغه ته ورګرځولی شي

وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يُبۡلِسُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ١٢

(12) او په هغې ورځ چې قيامت قايم شي، مجرمان به نااميده شي

وَلَمۡ يَكُن لَّهُم مِّن شُرَكَآئِهِمۡ شُفَعَٰٓؤُاْ وَكَانُواْ بِشُرَكَآئِهِمۡ كَٰفِرِينَ ١٣

(13) او د دوی لپاره به د دوی په شريكانو كې هېڅ شفاعت كوونكي نه وي او دوی به له خپلو شريكانو نه منكران (كافران) شي

وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يَوۡمَئِذٖ يَتَفَرَّقُونَ ١٤

(14) او په کومه ورځ چې قیامت قایم شي، په دغې ورځ به دوی بېل بېل شي

فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَهُمۡ فِي رَوۡضَةٖ يُحۡبَرُونَ ١٥

(15) نو هر چې هغه کسان دي چې ایمان یې راوړی دی او نېك عملونه یې کړي دي، نو دوی به په باغ (جنت) کې خوشالولی شي

وَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَلِقَآيِٕ ٱلۡأٓخِرَةِ فَأُوْلَٰٓئِكَ فِي ٱلۡعَذَابِ مُحۡضَرُونَ ١٦

(16) او پاتې شو هغه کسان چې کفر یې کړی دی او زموږ د ایتونو او د اخرت د ملاقات تکذیب یې کړی دی، نو دغه کسان به په عذاب کې حاضر کړی شوي وي

فَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ حِينَ تُمۡسُونَ وَحِينَ تُصۡبِحُونَ ١٧

(17) نو (وایئ) د الله تسبیح کله چې تاسو ماښام کوئ او کله چې تاسو سبا کوئ

وَلَهُ ٱلۡحَمۡدُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَعَشِيّٗا وَحِينَ تُظۡهِرُونَ ١٨

(18) او خاص هغه لره ستاینځ دي په اسمانونو اوپه ځمکه کې او (تسبیح وایئ) د ورځې په اخره برخه کې او کله چې تاسو ماسپښین کوئ

يُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ وَيُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتَ مِنَ ٱلۡحَيِّ وَيُحۡيِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَاۚ وَكَذَٰلِكَ تُخۡرَجُونَ ١٩

(19) هغه (الله) له مړي نه ژوندی راوباسي او له ژوندي نه مړی راوباسي او ځمکه د هغې له مرګ نه پس راژوندۍ کوي او همداسې به تاسو راویستل کېږئ

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنۡ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٖ ثُمَّ إِذَآ أَنتُم بَشَرٞ تَنتَشِرُونَ ٢٠

(20) او يوه د هغه له نښو څخه دا ده چې تاسو يې له خاورې پيدا کړئ، بيا ناڅاپه تاسو بشر وئ چې خورېدلئ

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنۡ خَلَقَ لَكُم مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ أَزۡوَٰجٗا لِّتَسۡكُنُوٓاْ إِلَيۡهَا وَجَعَلَ بَيۡنَكُم مَّوَدَّةٗ وَرَحۡمَةًۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ٢١

(21) او د هغه له نښو څخه دا دي چې تاسو لپاره يې ستاسو له نفسونو څخه جوړې پيدا کړې، د دې لپاره چې تاسو هغو ته (په مايله کېدو سره) سکون حاصل کړئ او هغه ستاسو په مېنځ کې مينه او مهرباني پيدا کړه، ببشکه په دغو کې خامخا نښې دي د هغه قوم لپاره چې ښه فکر کوي

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦ خَلۡقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَٱخۡتِلَٰفُ أَلۡسِنَتِكُمۡ وَأَلۡوَٰنِكُمۡۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّلۡعَٰلِمِينَ ٢٢

(22) او د هغه له نښو څخه د اسمانونو او ځمکې پيدا کول دي او ستاسو د ژبو او ستاسو د رنګونو اختلاف (بېل والی) دی، ببشکه په دغو کې خامخا نښې دي د عالمانو (پوهانو) لپاره

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦ مَنَامُكُم بِٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ وَٱبۡتِغَآؤُكُم مِّن فَضۡلِهِۦٓۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَسۡمَعُونَ ٢٣

(23) او د هغه له نښو نه ستاسو خوب دی، په شپه او ورځ کې او ستاسو لټول دي د هغه له فضله، ببشکه په دغو کې خامخا نښې دي د هغه قوم لپاره چې اوري

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦ يُرِيكُمُ ٱلۡبَرۡقَ خَوۡفٗا وَطَمَعٗا وَيُنَزِّلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَيُحۡيِۦ بِهِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَآۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ٢٤

(24) او د هغه له نښو څخه(دا) دي چې هغه تاسو ته برېښنا د وېرې او طمعې لپاره ښيي او له بره نه اوبه نازلوي، بیا په دغو (اوبو) سره ځمکه راژوندۍ کوي، د هغې له مرګ نه وروسته، بېشکه په دغو کې خامخا نښې دي د هغه قوم لپاره چې له عقل نه کار اخلي

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦٓ أَن تَقُومَ ٱلسَّمَآءُ وَٱلۡأَرۡضُ بِأَمۡرِهِۦۚ ثُمَّ إِذَا دَعَاكُمۡ دَعۡوَةٗ مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ إِذَآ أَنتُمۡ تَخۡرُجُونَ ٢٥

(25) او د هغه له نښو څخه (دا) دي چې اسمان او ځمکه د هغه په حکم سره ولاړ دي، بیا چې کله هغه تاسو راوبلي، یوځل بلل، له ځمکې نه، (نو) ناڅاپه به تاسو (ژوندي) راوځئ

وَلَهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ كُلّٞ لَّهُۥ قَٰنِتُونَ ٢٦

(26) او خاص د هغه لپاره دي هغه څوك چې په اسمانونو او ځمکه کې دي، (دغه) ټول د همده اطاعت کوونکي دي

وَهُوَ ٱلَّذِي يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ وَهُوَ أَهۡوَنُ عَلَيۡهِۚ وَلَهُ ٱلۡمَثَلُ ٱلۡأَعۡلَىٰ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٢٧

(27) او دی همغه ذات دی چې مخلوق اول ځلې پیدا کوي، بیا به دغه دوباره راژوندي کوي او دغه (بیا راژوندي کول) هغه (الله) ته ډېر اسان دي او خاص هغه لره تر ټولو لوړ شان (او صفت) دی په اسمانونو اوځمکه کې او هغه ښه غالب، ښه حکمت والا دی

ضَرَبَ لَكُم مَّثَلًا مِّنْ أَنفُسِكُمْۖ هَل لَّكُم مِّن مَّا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُم مِّن شُرَكَآءَ فِي مَا رَزَقْنَٰكُمْ فَأَنتُمْ فِيهِ سَوَآءٌ تَخَافُونَهُمْ كَخِيفَتِكُمْ أَنفُسَكُمْۚ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلْـَٔايَٰتِ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٢٨﴾

(28) هغه (الله) تاسو ته ستاسو له ځانونو نه يو مثال بيانوي (هغه دا چې) ايا تاسو لپاره ستاسو له مريانو څخه په هغه (مال) کې چې مونږ تاسو ته درکړی دی، څوك شريكان شته؟ نو چې تاسو (ټول) په هغه (مال) کې سره برابر يئ چې تاسو له دوی نه داسې وېرېږئ لکه ستاسو وېره کول له خپلو ځانونو (ازادو شريكانو) نه، همداسې مونږ ايتونه په تفصيل سره بيانوو، د هغه قوم لپاره چې له عقل نه کار اخلئ

بَلِ ٱتَّبَعَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓاْ أَهْوَآءَهُم بِغَيْرِ عِلْمٍۖ فَمَن يَهْدِي مَنْ أَضَلَّ ٱللَّهُۖ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴿٢٩﴾

(29) بلکې هغو کسانو چې ظلم يې کړی دی، بې له علمه د خپلو خواهشاتو پيروي وکړه، نو هغه چا ته به څوك هدايت وکړي چې الله گمراه کړی دی او د دوی لپاره هېڅ مدد کوونکي نشته

فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًاۚ فِطْرَتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِي فَطَرَ ٱلنَّاسَ عَلَيْهَاۚ لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٠﴾

(30) نو ته خپل مخ دين ته نبغ (او برابر) وساته، په داسې حال کې چې حق ته مايل اوسې، (تاسو لازم ونيسئ) د الله هغه فطرت لره چې په هغه يې خلق پيدا کړي دي، د الله تخليق لره هېڅ بدلون نشته همدغه سم(نبغ) دين دی، او لېکن د خلقو اکثريت نه پوهېږي

۞مُنِيبِينَ إِلَيۡهِ وَٱتَّقُوهُ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَلَا تَكُونُواْ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ٣١

(31) په داسې حال کې چې هغه ته رجوع کوونکي يئ او له هغه نه ووېرېږئ او لمونځ قايم کړئ او له مشرکانو څخه مه کېږئ

مِنَ ٱلَّذِينَ فَرَّقُواْ دِينَهُمۡ وَكَانُواْ شِيَعٗاۖ كُلُّ حِزۡبِۭ بِمَا لَدَيۡهِمۡ فَرِحُونَ ٣٢

(32) له هغو کسانو څخه چې خپل دين يې تار په تار کړی دی او ډلې ډلې (پارټۍ پارټۍ) شوي دي، هره يوه ډله په هغه څه سره چې له دوی سره دي؛ ډېره خوشحاله ده

وَإِذَا مَسَّ ٱلنَّاسَ ضُرّٞ دَعَوۡاْ رَبَّهُم مُّنِيبِينَ إِلَيۡهِ ثُمَّ إِذَآ أَذَاقَهُم مِّنۡهُ رَحۡمَةً إِذَا فَرِيقٞ مِّنۡهُم بِرَبِّهِمۡ يُشۡرِكُونَ ٣٣

(33) او کله چې خلقو ته ضرر ورسېږي (نو دوی خپل رب بولي، په داسې حال کې چې هغه ته رجوع کوونکي وي، بيا چې کله هغه (الله) له خپل جانبه په دوی رحمت وڅکوي، ناڅاپه په دوی کې يوه ډله له خپل رب سره شريکان نيسي

لِيَكۡفُرُواْ بِمَآ ءَاتَيۡنَٰهُمۡۚ فَتَمَتَّعُواْ فَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ٣٤

(34) د دې لپاره چې دوی د هغه څه ناشکري وکړي چې مونږ دوی ته ورکړي دي، نوتاسو فايده واخلئ، پس ژر به تاسو پوه شئ

أَمۡ أَنزَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ سُلۡطَٰنٗا فَهُوَ يَتَكَلَّمُ بِمَا كَانُواْ بِهِۦ يُشۡرِكُونَ ٣٥

(35) ايا مونږ په دوی باندې کوم د ليل نازل کړی دی، نو دغه (دليل دوی ته) د هغه شي خبرې کوي چې دوی به د دغه (الله) سره شريکاوه

وَإِذَآ أَذَقۡنَا ٱلنَّاسَ رَحۡمَةٗ فَرِحُواْ بِهَاۖ وَإِن تُصِبۡهُمۡ سَيِّئَةُۢ بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيهِمۡ إِذَا هُمۡ يَقۡنَطُونَ ٣٦

(36) او كله چې مونږ په خلقو خپل رحمت وڅكوو (نو) دوى په هغه خوشحال شي او كه دوى ته څه سختي ورسيږي د هغو عملونو په سبب چې د دوى لاسونو مخكې لېږلي دي (نو) ناڅاپه دوى نااميده شي

أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ٣٧

(37) ايا دوى نه دي ليدلي چې بېشكه الله رزق فراخوي، چا ته چې وغواړي او تنګوي يې، بېشكه په دغه كې خامخا د هغه قوم لپاره نښې دي چې ايمان راوړي

فَـَٔاتِ ذَا ٱلۡقُرۡبَىٰ حَقَّهُۥ وَٱلۡمِسۡكِينَ وَٱبۡنَ ٱلسَّبِيلِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ يُرِيدُونَ وَجۡهَ ٱللَّهِۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ٣٨

(38) نو ته رشته دار ته د هغه حق وركړه او مسكين او مسافر ته، دغه د هغو كسانو لپاره ډېر غوره دي چې د الله مخ غواړي، اوهمدغه خلق پوره كامياب دي

وَمَآ ءَاتَيۡتُم مِّن رِّبٗا لِّيَرۡبُوَاْ فِيٓ أَمۡوَٰلِ ٱلنَّاسِ فَلَا يَرۡبُواْ عِندَ ٱللَّهِۖ وَمَآ ءَاتَيۡتُم مِّن زَكَوٰةٖ تُرِيدُونَ وَجۡهَ ٱللَّهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُضۡعِفُونَ ٣٩

(39) او هغه څه چې تاسو يې وركوئ، چې له سوده څخه وي، د دې لپاره چې د خلقو په مالونو كې زيات شي، نو د الله په نيز دغه نه زياتېږي او هغه څه چې تاسو يې وركوئ چې له زكاته وي، په داسې حال كې چې تاسو د الله مخ غواړئ،نو همدغه كسان ډېر زياتوونكي دي

ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ
ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ۖ هَلْ
مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَفْعَلُ مِن
ذَٰلِكُم مِّن شَىْءٍ ۚ سُبْحَٰنَهُۥ
وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٤٠﴾

**(40)** الله هغه ذات دی چې تاسو يې پيدا کړئ، بيا هغه تاسو ته روزي درکړه، بيا به هغه تاسو مړه کوي، بيا به تاسو ژوندي کوي، ايا ستاسو په شريکانو کې کوم يو شته چې په دغو (کارونو) کې څه شی کولی شي؟ هغه (الله) ته پاکي ده او هغه ډېر اوچت دی له دې نه چې دوی ورسره شريك نيسي

ظَهَرَ ٱلْفَسَادُ فِى ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ بِمَا
كَسَبَتْ أَيْدِى ٱلنَّاسِ لِيُذِيقَهُم
بَعْضَ ٱلَّذِى عَمِلُوا۟ لَعَلَّهُمْ
يَرْجِعُونَ ﴿٤١﴾

**(41)** په وچه او لونده (بر او بحر) کې فساد خور شو، په سبب د هغو (عملونو) چې د خلقو لاسونو کړي دي، د دې لپاره چې هغه (الله) په دوی ځيني برخه (د سزا) د هغو عملونو وڅکوي چې دوی کړي دي، د دې لپاره چې دوی راواپس شي

قُلْ سِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَٱنظُرُوا۟
كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلُ ۚ
كَانَ أَكْثَرُهُم مُّشْرِكِينَ ﴿٤٢﴾

**(42)** ته (دوی ته) ووايه: تاسو په ځمکه کې وگرځئ، نو وگورئ چې د هغو کسانو انجام څنگه و چې له دوی نه مخکې وو، د هغوی اکثره مشرکان وو

فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ ٱلْقَيِّمِ مِن
قَبْلِ أَن يَأْتِىَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهُۥ مِنَ
ٱللَّهِ ۖ يَوْمَئِذٍ يَصَّدَّعُونَ ﴿٤٣﴾

**(43)** نو ته خپل مخ ډېر نبغ (سم) دين ته برابر او قايم وساته له دې نه مخکې چې هغه ورځ راشي چې د الله له جانبه هغې ته بېرته گرځېدل (گرځول) نشته، په دغې ورځ کې به

خلق تار په تار (ببل ببل) شي

مَن كَفَرَ فَعَلَيۡهِ كُفۡرُهُۥۖ وَمَنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا فَلِأَنفُسِهِمۡ يَمۡهَدُونَ ٤٤

(44) هر څوك چې كافر شو، نو په همده باندې (عذاب د) كفر د ده دى او چا چې نېك عمل وكړ، نو دوى خاص د خپلو ځانونو لپاره فرشونه غوړوي (او ځايونه تياروي)

لِيَجۡزِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِن فَضۡلِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٤٥

(45) د دې لپاره چې هغه (الله) هغو كسانو ته چې ایمان یې راوړى دى او نېك عملونه يې كړي دي؛ له خپله فضله بدله وركړي، بېشكه هغه (الله) له كافرانو سره مينه نه كوي

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦٓ أَن يُرۡسِلَ ٱلرِّيَاحَ مُبَشِّرَٰتٖ وَلِيُذِيقَكُم مِّن رَّحۡمَتِهِۦ وَلِتَجۡرِيَ ٱلۡفُلۡكُ بِأَمۡرِهِۦ وَلِتَبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِهِۦ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ٤٦

(46) او د هغه (الله) له نښو څخه دا دي چې هغه هواګانې رالېږي، چې زېرى وركوونكي دي، او د دې لپاره چې په تاسو له خپل رحمته څېنې (مزې)! وڅكوي او د دې لپاره چې كشتۍ د هغه په حكم سره رواني شي، او د دې لپاره چې تاسو د هغه له فضله ولټوئ، او د دې لپاره چې تاسو شكر وباسئ

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ رُسُلًا إِلَىٰ قَوۡمِهِمۡ فَجَآءُوهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَٱنتَقَمۡنَا مِنَ ٱلَّذِينَ أَجۡرَمُواْۖ وَكَانَ حَقًّا عَلَيۡنَا نَصۡرُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٤٧

(47) اويقينًا يقينًا مونږ له تا نه مخكې خپلو قومونو ته رسولان لېږلي وو، نوهغوى دوى ته په ښكاره معجزو سره راغلل، نو مونږه له هغو كسانو نه چې جرم (كفر) يې كړى و، انتقام (او بدل) واخيست او په مونږه باندې د

مومنانو مدد کول حق دي

ٱللَّهُ ٱلَّذِى يُرۡسِلُ ٱلرِّيَٰحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا فَيَبۡسُطُهُۥ فِى ٱلسَّمَآءِ كَيۡفَ يَشَآءُ وَيَجۡعَلُهُۥ كِسَفًا فَتَرَى ٱلۡوَدۡقَ يَخۡرُجُ مِنۡ خِلَٰلِهِۦۖ فَإِذَآ أَصَابَ بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦٓ إِذَا هُمۡ يَسۡتَبۡشِرُونَ ﴿٤٨﴾

(48) الله هغه ذات دی چې هواګاني لېږي، نو هغه وریځې پورته کوي، نو هغه (الله) دغه په بره کې څنګه چې وغواړي خوروي او دغه (وریځې) ټوټه ټوټه لاندي باندې وګرځوي، بیا ته باران وینې چې د هغې (وریځې) له مینځ نه راوځي، نو کله چې دغه (باران) هغه چا ته ورسوي چې هغه یې په خپلو بنده ګانو کې اراده کړې وي، ناڅاپه دوی ښه خوشحالي کوي

وَإِن كَانُواْ مِن قَبۡلِ أَن يُنَزَّلَ عَلَيۡهِم مِّن قَبۡلِهِۦ لَمُبۡلِسِينَ ﴿٤٩﴾

(49) او یقینًا دوی مخکې له دې چې په دوی دغه (باران) نازل کړی شي، له دې نه مخکې خامخا نا امیده وو

فَٱنظُرۡ إِلَىٰٓ ءَاثَٰرِ رَحۡمَتِ ٱللَّهِ كَيۡفَ يُحۡيِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَآۚ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ﴿٥٠﴾

(50) نو ته د الله د رحمت نښو (او اشارو) ته وګوره، الله څمکه د هغې له مرګ (وچ والي) نه وروسته څنګه ژوندۍ کوي، بېشکه دغه (الله) خامخا مړو لره ژوندي کوونکی دی او هغه په هر شي باندې قادر دی

وَلَئِنۡ أَرۡسَلۡنَا رِيحٗا فَرَأَوۡهُ مُصۡفَرّٗا لَّظَلُّواْ مِنۢ بَعۡدِهِۦ يَكۡفُرُونَ ﴿٥١﴾

(51) او قسم دی که مونږ (د دوی په فصلونو داسې ضرري) هوا را اولېږو، بیا دوی دغه (فصل) تک زیړ ووینې،(نو) خامخا دوی به له

دي نه بعد شي چې کفر به کوي

فَإِنَّكَ لَا تُسۡمِعُ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَلَا تُسۡمِعُ ٱلصُّمَّ ٱلدُّعَآءَ إِذَا وَلَّوۡاْ مُدۡبِرِينَ ٥٢

(52) نو بېشکه ته مړو ته نشې اوروليی او نه ته کڼو ته بلنه اوروليی شې، کله چې هغوی مخ واړوي، په داسې حال کې چې شا کوونکي وي

وَمَآ أَنتَ بِهَٰدِ ٱلۡعُمۡيِ عَن ضَلَٰلَتِهِمۡۖ إِن تُسۡمِعُ إِلَّا مَن يُؤۡمِنُ بِـَٔايَٰتِنَا فَهُم مُّسۡلِمُونَ ٥٣

(53) او ته ړندو ته د هغوی له ګمراهۍ نه هدايت کوونکی نه يې، ته نشې اوروليی مګر هغه چا ته چې زمونږ په ايتونو ايمان راوړي، نو دوی مسلمانان دي

۞ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن ضَعۡفٖ ثُمَّ جَعَلَ مِنۢ بَعۡدِ ضَعۡفٖ قُوَّةٗ ثُمَّ جَعَلَ مِنۢ بَعۡدِ قُوَّةٖ ضَعۡفٗا وَشَيۡبَةٗۚ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُۚ وَهُوَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡقَدِيرُ ٥٤

(54) الله هغه ذات دی چې تاسو يې له ضعف نه پيدا کړئ، بيا يې له کمزورۍ نه بعد قوت پيدا کړ، بيا يې له قوت نه پس کمزوري او بوډاوالی (دوبېنتو سپين والی) پيدا کړ، څه چې هغه وغواړي پيدا کوي، او همغه ښه عالم، ښه قدرت والا دی

وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يُقۡسِمُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ مَا لَبِثُواْ غَيۡرَ سَاعَةٖۚ كَذَٰلِكَ كَانُواْ يُؤۡفَكُونَ ٥٥

(55) او په هغې ورځ کې چې قيامت به قايم شي، مجرمان (کافران) به (په دې) قسم خوري چې دوی (په دنيا کې) له يو ساعت نه غير نه دي پاتې شوي، همدارنګې به دوی ګرځولی شول

وَقَالَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ وَٱلۡإِيمَٰنَ لَقَدۡ لَبِثۡتُمۡ فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡبَعۡثِۖ فَهَٰذَا يَوۡمُ ٱلۡبَعۡثِ وَلَٰكِنَّكُمۡ كُنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ٥٦

(56) او هغه کسان به چې هغوی ته علم او ایمان ورکړی شوی و، ووایي: یقینًا یقینًا تاسو د الله په کتاب کې د بعث (بیا راژوندي کولو) د ورځې پورې پاتې شوي یئ، نو دا د بعث، ورځ ده، او لیکن تاسو وئ چې نه پوهېدئ

فَيَوۡمَئِذٖ لَّا يَنفَعُ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مَعۡذِرَتُهُمۡ وَلَا هُمۡ يُسۡتَعۡتَبُونَ ٥٧

(57) نو په دغې ورځ به هغو کسانو ته چې ظلم (شرك) یې کړی دی، د هغوی عذر فایده نه رسوي او نه به له دوی نه د معذرت کولو (او توبه اېستلو) غوښتنه کېږي

وَلَقَدۡ ضَرَبۡنَا لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ مِن كُلِّ مَثَلٖۚ وَلَئِن جِئۡتَهُم بِـَٔايَةٖ لَّيَقُولَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا مُبۡطِلُونَ ٥٨

(58) او یقینًا یقینًا مونږه خلقو ته په دې قرآن کې هر قسمه مثال بیان کړی دی، او قسم دی که ته دوی ته کومه نښه (معجزه) راوړې (نو) هغه کسان به چې کافران شوي دي؛ خامخا ضرور وایي: تاسو نه یئ مګر باطل (او ناحق) ویونکي

كَذَٰلِكَ يَطۡبَعُ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ ٥٩

(59) همداسې الله د هغو کسانو په زړونو مهر لګوي چې نه پوهېږي

فَٱصۡبِرۡ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞۖ وَلَا يَسۡتَخِفَّنَّكَ ٱلَّذِينَ لَا يُوقِنُونَ ٦٠

(60) نو (ای نبي) ته صبر کوه، بېشکه د الله وعده حقه ده او تا دې له سره سپك نه کړي هغه کسان چې (په اخرت) یقین نه لري

## سُورَةُ لُقۡمَانَ

## سورهٔ لقمان

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

الٓمٓ ١

(1) الف، لام، ميم

تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡحَكِيمِ ٢

(2) دغه د حکمت لرونکي کتاب ايتونه دي

هُدٗى وَرَحۡمَةٗ لِّلۡمُحۡسِنِينَ ٣

(3) په داسي حال کي چي نېکي کوونکو لپاره هدايت او رحمت دی

ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ يُوقِنُونَ ٤

(4) هغه کسان چي لمونځ قايموي او زکات ادا کوي او په اخرت باندې هم دوی يقين کوي

أُوْلَٰٓئِكَ عَلَىٰ هُدٗى مِّن رَّبِّهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ٥

(5) دغه کسان په هدايت باندي دي د خپل رب له جانبه او همدغه کسان پوره کامياب دي

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشۡتَرِي لَهۡوَ ٱلۡحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٖ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًاۚ

(6) او په خلقو کي ځيني هغه څوك دي چي عبثي خبري اخلي، د دې لپاره چي بې له علمه د الله له لارې نه (خلق) گمراه کړي او

| | |
|---|---|
| أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٞ مُّهِينٞ ٦ | دغه (لاره) مَسخره جوړه کړي، دغه کسان چې دي، د دوی لپاره سپکوونکی عذاب دی |
| وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِ ءَايَٰتُنَا وَلَّىٰ مُسۡتَكۡبِرٗا كَأَن لَّمۡ يَسۡمَعۡهَا كَأَنَّ فِيٓ أُذُنَيۡهِ وَقۡرٗاۖ فَبَشِّرۡهُ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ٧ | (7) او کله چې ده ته زموږ ایتونه ولوستل شي (نو) مخ وګرځوي، په داسې حال کې چې ډېر تکبر کوونکی وي، ګویاکې ده دا له سره اورېدلي نه دي، ګویاکې د ده په دواړو غوږونو کې دروندوالی (کوڼوالی) دی، نو ته ده ته د ډېر دردوونکي عذاب زېری ورکړه |
| إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمۡ جَنَّٰتُ ٱلنَّعِيمِ ٨ | (8) بېشکه هغه کسان چې ایمان یې راوړی اونېك عملونه یې کړي دي، د دوی لپاره د نعمتونو جنتونه دي |
| خَٰلِدِينَ فِيهَاۖ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٗاۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٩ | (9) چې دوی به په هغو کې تل ترتله وي (دغه وعده کړې ده) وعده د الله حقه او همغه ښه غالب، ښه حکمت والا دی |
| خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ بِغَيۡرِ عَمَدٖ تَرَوۡنَهَاۖ وَأَلۡقَىٰ فِي ٱلۡأَرۡضِ رَوَٰسِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمۡ وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٖۚ وَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَنۢبَتۡنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوۡجٖ | (10) هغه، اسمانونه بې له ستنو پیدا کړي دي چې تاسو هغه وینئ او په ځمکه کې یې پاخه غرونه غورځولي (پیدا کړي) دي چې دغه (ځمکه) تاسو ونه خوځوي. او په دغې (ځمکه) کې هر قسمه خوځنده (زنده سر) خواره کړي دي او موږ له بره نه اوبه نازلې |

| | |
|---|---|
| كَرِيمٍ ١٠ | كړي دي، بيا مونږ په دغې (ځمكه) كې هر قسمه ښې عمده (غلې، گياگانې) رازرغونې كړي |
| هَٰذَا خَلۡقُ ٱللَّهِ فَأَرُونِي مَاذَا خَلَقَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦۚ بَلِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ١١ | (11) دغه د الله مخلوق دی، نو تاسو (ای مشركانو!) ما ته وښيئ څه شی دی هغه چې دغو (بتانو) پيدا كړی دی، چې غير له هغه (الله) نه دي، بلكې ظالمان په ښكاره گمراهۍ كې دي |
| وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا لُقۡمَٰنَ ٱلۡحِكۡمَةَ أَنِ ٱشۡكُرۡ لِلَّهِۚ وَمَن يَشۡكُرۡ فَإِنَّمَا يَشۡكُرُ لِنَفۡسِهِۦۖ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٞ ١٢ | (12) او يقينًا يقينًا مونږ لقمان ته حكمت وركړی و چې د الله شكر وباسه او هر چا چې شكر وكړ، نو بېشكه همدا خبره ده چې هغه د ځان لپاره شكر كوي، او هر چا چې ناشكري وكړه، نو بېشكه الله ډېر بې پروا، ښه ستايل شوى دى |
| وَإِذۡ قَالَ لُقۡمَٰنُ لِٱبۡنِهِۦ وَهُوَ يَعِظُهُۥ يَٰبُنَيَّ لَا تُشۡرِكۡ بِٱللَّهِۖ إِنَّ ٱلشِّرۡكَ لَظُلۡمٌ عَظِيمٞ ١٣ | (13) او (ياد كړه) هغه وخت چې لقمان خپل زوى ته وويل، په دې حال كې چې ده ته يې نصيحت كاوه: اى زما خوږه زويه! له الله سره شريك مه نيسه، بېشكه شرك يقينًا ډېر لوى ظلم دى |
| وَوَصَّيۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيۡهِ حَمَلَتۡهُ | (14) اومونږ انسان ته د خپل مور و پلار (سره د نيكي كولو) په باره كې كلك حكم كړی |

أُمُّهُۥ وَهۡنًا عَلَىٰ وَهۡنٖ وَفِصَٰلُهُۥ فِي
عَامَيۡنِ أَنِ ٱشۡكُرۡ لِي وَلِوَٰلِدَيۡكَ
إِلَيَّ ٱلۡمَصِيرُ ١٤

دی، دی خپلې مور اوچت کړی و، په داسې حال کې چې سخته کمزورې وه، له پاسه د بلې کمزورۍ نه او د دوه ببلول (د تي نه) په دوه کلونو کې وو، دا چې ته زما او د خپل مور و پلار شکر کوه، خاص ما ته بېرته راتله دي

وَإِن جَٰهَدَاكَ عَلَىٰٓ أَن تُشۡرِكَ بِي
مَا لَيۡسَ لَكَ بِهِۦ عِلۡمٞ فَلَا
تُطِعۡهُمَاۖ وَصَاحِبۡهُمَا فِي ٱلدُّنۡيَا
مَعۡرُوفٗاۖ وَٱتَّبِعۡ سَبِيلَ مَنۡ أَنَابَ
إِلَيَّۚ ثُمَّ إِلَيَّ مَرۡجِعُكُمۡ فَأُنَبِّئُكُم
بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ١٥

**(15)** او که دوی (دواړه) په تا ډېر کوشش وکړي د دې چې ته زما سره هغه شی شریك کړه، چې تا ته د هغه هېڅ علم نشته، نو ته د دوی خبره مه منه، او په دنیا کې له دوی سره نېکه ملګرتیا کوه او ته د هغه چا د لارې پیروي کوه چې ما ته رجوع کوي، بیا خاص ما ته ستاسو بېرته راتله دي، نو زه به تاسو په هغو کارونو خبر کړم چې تاسو به کول

يَٰبُنَيَّ إِنَّهَآ إِن تَكُ مِثۡقَالَ حَبَّةٖ
مِّنۡ خَرۡدَلٖ فَتَكُن فِي صَخۡرَةٍ أَوۡ
فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ أَوۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ يَأۡتِ
بِهَا ٱللَّهُۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٞ ١٦

**(16)** ای زما خوږه زویه! بېشکه دغه(د بدۍ او نېکۍ خصلت) چې دی، که دغه د اوړي د داني په قدر وي، بیا دغه په یو کاڼي کې وي، یا په اسمانونو کې وي، یا په ځمکه کې وي، الله به هغه راوړي، بېشکه الله ډېر باریك بین، ښه خبردار دی

يَٰبُنَيَّ أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ وَأۡمُرۡ
بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَٱنۡهَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ

**(17)** ای زما خوږه زویه! ته لمونځ قایموه او د نېکۍ حکم کوه او له بدۍ نه (ځان او خلق)

وَٱصۡبِرۡ عَلَىٰ مَآ أَصَابَكَۖ إِنَّ ذَٰلِكَ مِنۡ عَزۡمِ ٱلۡأُمُورِ ١٧

منع کوه او صبر کوه په هغه (تکليف) چې تا ته رسېږي. بېشکه دغه (کارونه) له اهمو کارونو څخه دي

وَلَا تُصَعِّرۡ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمۡشِ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَرَحًاۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخۡتَالٖ فَخُورٖ ١٨

(18) او له خلقو نه خپل مخ مه گرځوه، او په ځمکه کې په تکبر سره مه گرځه، بېشکه الله نه خوښوي هر کبرجن (او) فخر کوونکی

وَٱقۡصِدۡ فِي مَشۡيِكَ وَٱغۡضُضۡ مِن صَوۡتِكَۚ إِنَّ أَنكَرَ ٱلۡأَصۡوَٰتِ لَصَوۡتُ ٱلۡحَمِيرِ ١٩

(19) او ته په خپل تگ کې میانه رو اوسه او خپل اواز څه ورو کړه، بېشکه چې په اوازونو کې تر ټولو بد (اواز) خامخا د خره اواز دی

أَلَمۡ تَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَأَسۡبَغَ عَلَيۡكُمۡ نِعَمَهُۥ ظَٰهِرَةٗ وَبَاطِنَةٗۗ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِي ٱللَّهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٖ وَلَا هُدٗى وَلَا كِتَٰبٖ مُّنِيرٖ ٢٠

(20) ایا تاسو نه دي کتلي چې بېشکه الله تاسو لپاره په کار اچولي دي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي او پر تاسو باندې يې خپل نعمتونه، چې ظاهري دي او باطني دي ؛ پوره کړي دي او په خلقو کې ځینې هغه دي چې د الله په باره کې جگړه کوي، بې له علمه او بې له هدايته او بې له روښانه کتابه

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱتَّبِعُواْ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ قَالُواْ بَلۡ نَتَّبِعُ مَا وَجَدۡنَا عَلَيۡهِ ءَابَآءَنَآۚ أَوَلَوۡ كَانَ ٱلشَّيۡطَٰنُ

(21) او کله چې دوی ته وويل شي چې تاسو د هغه (قرآن) پیروي وکړئ چې الله نازل کړی دی دوی وايي: (نه!) بلکې مونږ د هغې

يَدۡعُوهُمۡ إِلَىٰ عَذَابِ ٱلسَّعِيرِ ٢١

(لاري) پیروي کوو چې په هغې باندې مونږ خپل پلرونه موندلي دي، ایا اګر که شیطان دوی د دوزخ عذاب ته رابلل

۞وَمَن يُسۡلِمۡ وَجۡهَهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِ وَهُوَ مُحۡسِنٞ فَقَدِ ٱسۡتَمۡسَكَ بِٱلۡعُرۡوَةِ ٱلۡوُثۡقَىٰۗ وَإِلَى ٱللَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلۡأُمُورِ ٢٢

(22) او هغه څوك چې خپل مخ الله ته وسپاري، په دې حال کې چې نېکي کوونکی وي، نو يقينًا ده په ډېرې مضبوطې کړی باندې منګولې ښخې کړې دي، او خاص الله ته د ټولو کارونو انجام دی

وَمَن كَفَرَ فَلَا يَحۡزُنكَ كُفۡرُهُۥٓۚ إِلَيۡنَا مَرۡجِعُهُمۡ فَنُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ٢٣

(23) او هر څوك چې كافر شو، نو تا دې د هغه كافر كېدل غمګين نه كړي، خاص مونږ ته د دوی بېرته راتله دي، نو مونږ به دوی خبر كړو په هغو كارونو چې دوی به كول، بېشكه الله ښه عالم دی په هغو خبرو چې په سينو كې دي

نُمَتِّعُهُمۡ قَلِيلٗا ثُمَّ نَضۡطَرُّهُمۡ إِلَىٰ عَذَابٍ غَلِيظٖ ٢٤

(24) مونږ به دوی ته لږه شان نفع وركړو، بیا به مونږ په زور سره دوی ډېر سخت عذاب ته راكاږو

وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۚ قُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا

(25) او قسم دی كه ته له دوی نه پوښتنه وكړې چې اسمانونه او ځمكه چا پيدا كړې دي (،) نو دوی به خامخا ضرور ووايي چې الله، ته ووايه: ټول د كمال صفتونه خاص الله

يَعۡلَمُونَ ٢٥

لره دي بلکې د دوی زیاتره نه پوهېږي

لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ إِنَّ
ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡغَنِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ٢٦

(26) خاص د الله لپاره دي هر هغه څه چې په اسمانونو او ځمکه کې دي، بېشکه الله، همغه ډېر بې پروا، ښه ستایل شوی دی

وَلَوۡ أَنَّمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ مِن شَجَرَةٍ
أَقۡلَٰمٞ وَٱلۡبَحۡرُ يَمُدُّهُۥ مِنۢ بَعۡدِهِۦ
سَبۡعَةُ أَبۡحُرٖ مَّا نَفِدَتۡ كَلِمَٰتُ
ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ٢٧

(27) او که په رښتیا سره هره هغه ونه چې په ځمکه کې ده، قلمونه شي، په داسې حال کې چې(سیاهي شي) دغه (محیط) بحر، (بیا) د ده مدد نور اوه بحرونه وکړي (نو) د الله کلمات به خلاص نشي، بېشکه الله ښه غالب، ښه حکمت والا دی

مَّا خَلۡقُكُمۡ وَلَا بَعۡثُكُمۡ إِلَّا
كَنَفۡسٖ وَٰحِدَةٍۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعُۢ
بَصِيرٌ ٢٨

(28) نه دي ستاسو پیدا کول او نه بیا ژوندي راپاڅول مګر لکه د یوه نفس، بېشکه الله ښه اورېدونکی، ښه لیدونکی دی

أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُولِجُ ٱلَّيۡلَ فِي
ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيۡلِ
وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ كُلّٞ
يَجۡرِيٓ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى وَأَنَّ ٱللَّهَ
بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ٢٩

(29) ایا تا نه دي لیدلي چې بېشکه الله شپه په ورځ کې ننباسي او ورځ په شپه کې ننباسي او هغه لمر او سپوږمۍ مسخر کړي (په کار اچولي) دي، هر یو یې تر مقررې نېټې پورې روان دی او دا چې بېشکه هغه الله په هغو کارونو چې تاسو یې کوئ؛ ښه خبردار دی

ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدۡعُونَ مِن دُونِهِ ٱلۡبَٰطِلُ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡكَبِيرُ ٣٠

(30) دغه په دې سبب چې ببشكه الله، هم دى حق دى، او دا چې ببشكه هغه (معبودان) چې دوى يې له هغه (الله) نه غير بولي، باطل دي او دا چې ببشكه الله، هم دى ډېر اوچت، ډېر لوى دى

أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱلۡفُلۡكَ تَجۡرِي فِي ٱلۡبَحۡرِ بِنِعۡمَتِ ٱللَّهِ لِيُرِيَكُم مِّنۡ ءَايَٰتِهِۦٓۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّكُلِّ صَبَّارٖ شَكُورٖ ٣١

(31) ايا تا نه دي ليدلي چې ببشكه كشتۍ په سمندر كې د الله په نعمت سره تګ كوي، د دې لپاره چې تاسو ته له خپلو نښو ځنې وښيي، ببشكه په دغو كې خامخا نښې دي د هر ډېر صبر كوونكي، ډېر شكر كوونكي لپاره

وَإِذَا غَشِيَهُم مَّوۡجٞ كَٱلظُّلَلِ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمۡ إِلَى ٱلۡبَرِّ فَمِنۡهُم مُّقۡتَصِدٞۚ وَمَا يَجۡحَدُ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَّا كُلُّ خَتَّارٖ كَفُورٖ ٣٢

(32) او كله چې دوى لره د وريځو په شان موج را لاندې(پټ) كړي (نو) دوى الله بولي، په داسې حال كې چې دين خاص الله ته خالص كوونكي وي، نو كله چې هغه دوى ته وچې ته نجات وركړي، بيا نو په دوى كې ځيني په نېغه لاره ولاړ وي او زمونږ له ايتونو (دليلونو) نه انكار نه كوي مګر هر هغه چې ډېر عهد ماتوونكى، ډېر ناشكره دي

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمۡ وَٱخۡشَوۡاْ يَوۡمٗا لَّا يَجۡزِي وَالِدٌ عَن وَلَدِهِۦ وَلَا مَوۡلُودٌ هُوَ جَازٍ عَن

(33) اى خلقو! تاسو د خپل رب تقوٰى غوره كړئ او له هغې ورځې نه ووېرېږئ چې هېڅ پلار به د خپل اولاد په كار نشي راتلى او نه

وَالِدِهِۦ شَيۡـًٔاۚ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞۖ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِٱللَّهِ ٱلۡغَرُورُ ٣٣

کوم اولاد شته چې هغه له خپل پلار نه څه شی (عذاب) دفع کوونکی دی، بېشکه د الله وعده حقه ده، نو دنیایي ژوند دې تاسو له سره غره( دوکه) نه کړي اوتاسو دې د الله په باره کې لوی غره کوونکی (شیطان) له سره غره نه کړي

إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلسَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ ٱلۡغَيۡثَ وَيَعۡلَمُ مَا فِي ٱلۡأَرۡحَامِۖ وَمَا تَدۡرِي نَفۡسٞ مَّاذَا تَكۡسِبُ غَدٗاۖ وَمَا تَدۡرِي نَفۡسُۢ بِأَيِّ أَرۡضٖ تَمُوتُۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرُۢ ٣٤

(34) بېشکه الله چې دی، خاص له هغه سره د قیامت علم دی او هغه باران نازلوي او هغه (په یقیني طریقه، بې له وسایلو) پوهېږي په هر هغه څه چې په رحمونو کې دي او هېڅ یونفس نه پوهېږي چې هغه به سبا ته څه کار کوي او هېڅ یو نفس نه پوهېږي چې په کومه ځمکه (سیمه) کې به مري، بېشکه الله ښه عالم، ښه خبردار دی

## سُورَةُ السَّجۡدَةِ

## سورۀ سجده

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

الٓمٓ ١

(1) الف، لام، میم

تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ لَا رَيۡبَ فِيهِ مِن

(2) د دغه کتاب نازلول، چې په ده کې هېڅ

رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢

شك نشته، د رب العالمين له جانبه دي

أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰهُۚ بَلۡ هُوَ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَ لِتُنذِرَ قَوۡمٗا مَّآ أَتَىٰهُم مِّن نَّذِيرٖ مِّن قَبۡلِكَ لَعَلَّهُمۡ يَهۡتَدُونَ ٣

(3) (بلکې) ايا دوی وايي چې ده (محمدﷺ) دا له خپله ځانه جوړ کړی دی، بلکې همدغه ستا د رب له جانبه حق دی، د دې لپاره چې ته هغه قوم ووېروې چې دوی ته له تا نه مخکې هېڅ وېروونکی نه دی راغلی، د دې لپاره چې دوی سمه لاره ومومي

ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ مَا لَكُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَلِيّٖ وَلَا شَفِيعٍۚ أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ ٤

(4) الله هغه ذات دی چې اسمانونه او ځمکه او هر هغه څه چې د دې دواړو په مينځ کې دي، په شپږو ورځو کې پيدا کړي دي، بيا يې په عرش باندې استوا وکړه، ستاسو لپاره له هغه نه غير نه هېڅ کارساز شته او نه شفاعت کوونکی، ايا نو تاسو پند نه اخلئ!

يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ إِلَى ٱلۡأَرۡضِ ثُمَّ يَعۡرُجُ إِلَيۡهِ فِي يَوۡمٖ كَانَ مِقۡدَارُهُۥٓ أَلۡفَ سَنَةٖ مِّمَّا تَعُدُّونَ ٥

(5) هغه د کار تدبير کوي له اسمان نه ځمکې ته (د قيامت د ورځې پورې)، بيا به ده ته دغه (کار) په هغې ورځ کې خېژي چې د هغې مقدار زر کاله دی، له هغو (کلونو) نه چې تاسو يې شمېرئ

ذَٰلِكَ عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ٦

(6) دغه (الله) د پټو او ښکاره و عالم دی، چې ښه غالب، بې حده مهربان دی

ٱلَّذِيٓ أَحۡسَنَ كُلَّ شَيۡءٍ خَلَقَهُۥۖ وَبَدَأَ خَلۡقَ ٱلۡإِنسَٰنِ مِن طِينٖ ٧

(7) هغه (الله) چې ښایسته کړی یې دی هر شی چې ده هغه پیدا کړی دی، او د انسان تخلیق یې له ختې نه شروع کړی دی

ثُمَّ جَعَلَ نَسۡلَهُۥ مِن سُلَٰلَةٖ مِّن مَّآءٖ مَّهِينٖ ٨

(8) بیا یې د هغه نسل د ضعیفو حقیرو اوبو له خلاصې نه پیدا کړ

ثُمَّ سَوَّىٰهُ وَنَفَخَ فِيهِ مِن رُّوحِهِۦۖ وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَٱلۡأَفۡـِٔدَةَۚ قَلِيلٗا مَّا تَشۡكُرُونَ ٩

(9) بیا یې هغه برابر کړ او په هغه کې یې له خپله روحه څنې پو کړل او د هغه لپاره یې غوږونه او سترګې او زړونه پیدا کړل (خو) تاسو ډېر لږ شکر وباسئ

وَقَالُوٓاْ أَءِذَا ضَلَلۡنَا فِي ٱلۡأَرۡضِ أَءِنَّا لَفِي خَلۡقٖ جَدِيدِۭۚ بَلۡ هُم بِلِقَآءِ رَبِّهِمۡ كَٰفِرُونَ ١٠

(10) او دوی وایي: ایا کله چې مونږ په ځمکه کې ورك (او خاورې) شو، ایا مونږ به خامخا په رښتیا سره په نوي تخلیق کې یو! بلکې دوی د خپل رب له ملاقات نه انکار کوونکي دي

۞قُلۡ يَتَوَفَّىٰكُم مَّلَكُ ٱلۡمَوۡتِ ٱلَّذِي وُكِّلَ بِكُمۡ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمۡ تُرۡجَعُونَ ١١

(11) ته (دوی ته) ووایه: ستاسو روحونه هغه د مرګ مَلَك قبض کوي چې په تاسو مقرر کړی شوی دی، بیا به تاسو خپل رب ته بېرته ورګرځولی شئ

وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلۡمُجۡرِمُونَ نَاكِسُواْ رُءُوسِهِمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ رَبَّنَآ أَبۡصَرۡنَا

(12) او که ته ووینې کله چې مجرمان د خپل رب په وړاندې سرکوزې وي (د خپلو سرونو

| | |
|---|---|
| وَسَمِعۡنَا فَٱرۡجِعۡنَا نَعۡمَلۡ صَٰلِحًا إِنَّا مُوقِنُونَ ﴿١٢﴾ | تېتوونکي وي او وايي به) اى زمونږه ربه! مونږ ولیده او مونږ واورېده، نو ته مونږ بېرته بوځه، چې مونږ نېك عمل وکړو، بېشکه مونږ (اوس) يقين کوونکي يو |
| وَلَوۡ شِئۡنَا لَأٓتَيۡنَا كُلَّ نَفۡسٍ هُدَىٰهَا وَلَٰكِنۡ حَقَّ ٱلۡقَوۡلُ مِنِّي لَأَمۡلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ أَجۡمَعِينَ ﴿١٣﴾ | (13) او که مونږ غوښتلى (نو) مونږ به خامخا هر نفس ته د هغه هدايت ورکړى و او لېکن زما له جانبه دغه خبره ثابته (او لازمه) شوې ده چې زه به جهنّم خامخا ضرور له پېريانو او انسانانو، ټولو نه ډکوم |
| فَذُوقُواْ بِمَا نَسِيتُمۡ لِقَآءَ يَوۡمِكُمۡ هَٰذَآ إِنَّا نَسِينَٰكُمۡۖ وَذُوقُواْ عَذَابَ ٱلۡخُلۡدِ بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿١٤﴾ | (14) نو تاسو (دا عذاب) وڅکئ په سبب د دې چې تاسو د خپلې دغې ورځې ملاقات هېر کړى و، بېشکه مونږ (هم) تاسو هېر کړئ، نو تاسو (اوس) دغه دايمي عذاب وڅکئ، په سبب د هغو عملونو چې تاسو به کول |
| إِنَّمَا يُؤۡمِنُ بِـَٔايَٰتِنَا ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُواْ بِهَا خَرُّواْۤ سُجَّدٗا وَسَبَّحُواْ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ وَهُمۡ لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ۩ ﴿١٥﴾ | (15) بېشکه زمونږ په ايتونو خو يواځې هغه کسان ايمان راوړي چې کله دوى ته په دغو (ايتونو) سره پند ورکړى شي، نو پرېوځي، په داسې حال کې چې سجده کوونکي وي او د خپل رب د ستاينې سره تسبيح وايي او دوى تکبر نه کوي |

| | |
|---|---|
| تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمۡ عَنِ ٱلۡمَضَاجِعِ يَدۡعُونَ رَبَّهُمۡ خَوۡفٗا وَطَمَعٗا وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ﴿١٦﴾ | (16) د دوی ډډې له خپلو خوب ځايونو نه لرې کېږي، دوی خپل رب بولي په وېرې او طمعې سره او له هغه (مال) نه، چې مونږ دوی ته ورکړی دی ؛ څه لګوي |
| فَلَا تَعۡلَمُ نَفۡسٞ مَّآ أُخۡفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعۡيُنٖ جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١٧﴾ | (17) نو هېڅ يو نفس ته معلوم نه دي هغه څه چې د دوی لپاره پټ کړی شوي دي، د سترګو له يخوالي نه، لپاره د بدلې د هغو عملونو چې دوی به کول |
| أَفَمَن كَانَ مُؤۡمِنٗا كَمَن كَانَ فَاسِقٗاۚ لَّا يَسۡتَوُۥنَ ﴿١٨﴾ | (18) ايا هغه څوك چې مومن وي، د هغه چا په شان دی چې فاسق وي؟ دوی سره نه برابرېږي |
| أَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَلَهُمۡ جَنَّٰتُ ٱلۡمَأۡوَىٰ نُزُلَۢا بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١٩﴾ | (19) هر چې هغه کسان دي چې ايمان يې راوړی دی او نېك عملونه يې کړي دي، نو د دوی لپاره د استوګنې باغونه دي، د مېلمستيا په طريقه، په سبب د هغو عملونو چې دوی به کول |
| وَأَمَّا ٱلَّذِينَ فَسَقُواْ فَمَأۡوَىٰهُمُ ٱلنَّارُۖ كُلَّمَآ أَرَادُوٓاْ أَن يَخۡرُجُواْ مِنۡهَآ أُعِيدُواْ فِيهَا وَقِيلَ لَهُمۡ ذُوقُواْ عَذَابَ ٱلنَّارِ ٱلَّذِي كُنتُم بِهِۦ | (20) او پاتې شو هغه کسان چې فاسقان شوي دي، نو د دوی استوګنه اور دی، هر کله چې دوی اراده وکړي چې له دغه (اور) نه ووځي (نو) بېرته به په هغه کې واپس کړی |

تُكَذِّبُونَ ٢٠

شي او دوی ته به وویل شي چې تاسو د اور هغه عذاب وڅکئ چې تاسو به د ده تکذیب کاوه

وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنَ ٱلۡعَذَابِ ٱلۡأَدۡنَىٰ دُونَ ٱلۡعَذَابِ ٱلۡأَكۡبَرِ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ٢١

(21) او مونږ به خامخا هرومرو په دوی د نژدې (لږ) عذاب نه وڅکوو، له ډېر لوی عذاب نه مخکې، د دې لپاره چې دوی (له کفر نه اسلام ته) راوګرځي

وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِۦ ثُمَّ أَعۡرَضَ عَنۡهَآۚ إِنَّا مِنَ ٱلۡمُجۡرِمِينَ مُنتَقِمُونَ ٢٢

(22) او څوك دی لوی ظالم له هغه چا نه چې هغه ته د خپل رب په ایتونو سره پند ورکړی شي، بیا هغه له دغو (ایتونو) نه مخ وګرځوي، بېشکه مونږ له مجرمانو نه انتقام اخیستونکي یو

وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ فَلَا تَكُن فِي مِرۡيَةٖ مِّن لِّقَآئِهِۦۖ وَجَعَلۡنَٰهُ هُدٗى لِّبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٢٣

(23) او یقینًا یقینًا مونږ موسیٰ ته كتاب وركړی و، نو ته د هغه (موسیٰ) له ملاقات نه مه په شك كې كېږه او مونږ هغه د بني اسرائیلو لپاره هدایت ګرځولی و

وَجَعَلۡنَا مِنۡهُمۡ أَئِمَّةٗ يَهۡدُونَ بِأَمۡرِنَا لَمَّا صَبَرُواْۖ وَكَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يُوقِنُونَ ٢٤

(24) او مونږ په دوی کې ځینې امامان ګرځولي وو چې زمونږ په حکم سره به یې (خلقو ته) لار ښودنه کوله کله چې دوی صبر وکړ، او دوی زمونږ په ایتونو یقین کاوه

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَفۡصِلُ بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ
ٱلۡقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ فِيهِ
يَخۡتَلِفُونَ ٢٥

(25) بېشكه همدغه ستا رب به د قيامت په ورځ د دوی په مينځ كې فيصله كوي، په هغو خبرو كې چې دوی به په هغو كې اختلاف كاوه

أَوَلَمۡ يَهۡدِ لَهُمۡ كَمۡ أَهۡلَكۡنَا مِن
قَبۡلِهِم مِّنَ ٱلۡقُرُونِ يَمۡشُونَ فِي
مَسَٰكِنِهِمۡۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٍۚ
أَفَلَا يَسۡمَعُونَ ٢٦

(26) ايا دوی ته ښكاره شوې نه ده چې مونږ له دوی نه مخكې څومره ډېرې پېړۍ هلاكې كړې دي، چې دوی د هغو په (ورانو) استوګنو كې (تل) تېرېږي، بېشكه په دغو كې خامخا نښې دي، ايا نو دوی نه اوري!

أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّا نَسُوقُ ٱلۡمَآءَ إِلَى
ٱلۡأَرۡضِ ٱلۡجُرُزِ فَنُخۡرِجُ بِهِۦ زَرۡعًا
تَأۡكُلُ مِنۡهُ أَنۡعَٰمُهُمۡ وَأَنفُسُهُمۡۚ
أَفَلَا يُبۡصِرُونَ ٢٧

(27) او ايا دوی نه دي ليدلي چې بېشكه مونږ وچې (ګياه ختمې شوې) ځمكې ته اوبه لېږو، نو په دغو (اوبو) سره هغه فصل راوباسو چې له هغه نه د دوی څاروي او د دوی نفسونه خوراك كوي، ايا نو دوی نهويني

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلۡفَتۡحُ إِن
كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٢٨

(28) او دوی وايي: دغه فيصله به كله وي، كه تاسو رښتيني يئ؟

قُلۡ يَوۡمَ ٱلۡفَتۡحِ لَا يَنفَعُ ٱلَّذِينَ
كَفَرُوٓاْ إِيمَٰنُهُمۡ وَلَا هُمۡ
يُنظَرُونَ ٢٩

(29) ته (دوی ته) ووايه: د فيصلې په ورځ به كافران شويو كسانو ته د هغوی ايمان راوړل فايده ورنكړي او نه به دوی ته مهلت وركولی شي

فَأَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ وَٱنتَظِرۡ إِنَّهُم مُّنتَظِرُونَ ٣٠

(30) نو ته له دوی نه مخ واړوه او انتظار کوه، بېشکه دوی (هم) انتظار کوونکي دي

## سُورَةُ الأَحْزَابِ

## سورۀ احزاب

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ ٱتَّقِ ٱللَّهَ وَلَا تُطِعِ ٱلۡكَٰفِرِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقِينَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ١

(1) ای نبي! ته له الله نه ووېرېږه او د کافرانو او منافقانو خبره مه منه، بېشکه چې الله له ازله ښه عالم، ښه حکمت والا دی

وَٱتَّبِعۡ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرًا ٢

(2) او ته د هغه (حکم) پیروي کوه چې تا ته د خپل رب له جانبه وحي کولی شي، بېشکه الله په هغو کارونو چې تاسو یې کوئ(ای خلقو!) ښه خبردار دی

وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ٣

(3) او ته په الله توکل وکړه او الله ښه کافي دی کار جوړوونکی

مَّا جَعَلَ ٱللَّهُ لِرَجُلٖ مِّن قَلۡبَيۡنِ فِي جَوۡفِهِۦۚ وَمَا جَعَلَ أَزۡوَٰجَكُمُ ٱلَّٰٓـِٔي تُظَٰهِرُونَ مِنۡهُنَّ أُمَّهَٰتِكُمۡۚ

(4) الله د هېڅ يو سړي لپاره د هغه په دننه کې دوه زړونه نه دي پیدا کړي او هغه (الله) ستاسو هغه ښځې چې تاسو له هغو نه ظهار

وَمَا جَعَلَ أَدْعِيَآءَكُمْ
أَبْنَآءَكُمْۚ ذَٰلِكُمْ قَوْلُكُم
بِأَفْوَٰهِكُمْۖ وَٱللَّهُ يَقُولُ ٱلْحَقَّ
وَهُوَ يَهْدِى ٱلسَّبِيلَ ٤

کوئ ستاسو میندې نه دي گرځولي او هغه(الله) ستاسو په زامنو بلل شوي ستاسو (واقعي) زامن نه دي گرځولي، دغه (درې خبرې) ستاسو (بېکاره) خبرې دي، په خپلو خولو سره، او الله حق وايي او هغه نېغه لار ښيي

ٱدْعُوهُمْ لِءَابَآئِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِندَ
ٱللَّهِۚ فَإِن لَّمْ تَعْلَمُوٓا۟ ءَابَآءَهُمْ
فَإِخْوَٰنُكُمْ فِى ٱلدِّينِ وَمَوَٰلِيكُمْۚ
وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ فِيمَآ
أَخْطَأْتُم بِهِۦ وَلَٰكِن مَّا تَعَمَّدَتْ
قُلُوبُكُمْۚ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا
رَّحِيمًا ٥

(5) تاسو دغه(په زامنو بلل شوي) د هغوی پلرونو ته منسوب کړئ، دغه (کار) د الله په نېز د انصاف والا دی، نو که تاسو د هغوی پلرونه نه پېژنئ، نو دوی ستاسو ورونه دي په دین کې او ستاسو دوستان دي، او په تاسو هېڅ گناه نشته په هغه شي کې چې تاسو په کې خطا شئ او لیکن (گناه شته د ) هغه (کار) چې ستاسو زړونه د هغه قصد (اراده) وکړي او الله له ازله ډېر بخښونکی، بې حده مهربان دی

ٱلنَّبِىُّ أَوْلَىٰ بِٱلْمُؤْمِنِينَ مِنْ
أَنفُسِهِمْۖ وَأَزْوَٰجُهُۥٓ أُمَّهَٰتُهُمْۗ وَأُو۟لُوا۟
ٱلْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَىٰ بِبَعْضٍ فِى
كِتَٰبِ ٱللَّهِ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ
وَٱلْمُهَٰجِرِينَ إِلَّآ أَن تَفْعَلُوٓا۟ إِلَىٰٓ

(6) نبي (محمدﷺ) په مومنانو باندې د دوی له ځانونو نه زیات حقدار دی او د ده ښځې د دوی میندې دي او د خپلوۍ خاوندان (رشته داران) د الله په کتاب کې د دوی ځینې په ځینو نورو باندې له مومنانو او مهاجرینو نه زیات حق لرونکي دي، مگر دا چې تاسو له

أَوۡلِيَآئِكُم مَّعۡرُوفٗاۚ كَانَ ذَٰلِكَ فِي ٱلۡكِتَٰبِ مَسۡطُورٗا ٦

خپلو دوستانو سره څه نېکي وکړئ، دغه په کتاب کې ليکل شوي دي

وَإِذۡ أَخَذۡنَا مِنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مِيثَٰقَهُمۡ وَمِنكَ وَمِن نُّوحٖ وَإِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَى ٱبۡنِ مَرۡيَمَۖ وَأَخَذۡنَا مِنۡهُم مِّيثَٰقًا غَلِيظٗا ٧

(7) او کله چې مونږ له نبيانو نه د دوی پخه وعده واخيسته او له تا نه او له نوح او ابراهيم او موسىٰ او د مريمې له زوی عيسىٰ نه، او مونږ له دوی نه ډېره پخه مضبوطه وعده واخيسته

لِّيَسۡـَٔلَ ٱلصَّٰدِقِينَ عَن صِدۡقِهِمۡۚ وَأَعَدَّ لِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابًا أَلِيمٗا ٨

(8) د دې لپاره چې هغه (الله) له صادقانو نه د هغوی د صدق (رښتياوو) په باره کې تپوس وکړي او هغه د کافرانو لپاره ډېر دردوونکی عذاب تيار کړی دی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ جَآءَتۡكُمۡ جُنُودٞ فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ رِيحٗا وَجُنُودٗا لَّمۡ تَرَوۡهَاۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرًا ٩

(9) ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو د الله هغه نعمت رایاد کړئ چې پر تاسو شوی دی، کله چې په تاسو لښکرې راغلې، نو مونږ پر هغوی باندې باد او داسې لښکرې راخوشې کړې چې تاسو نه ليدلې او الله هغو کارونو لره چې تاسو يې کوئ ښه ليدونکی دی

إِذۡ جَآءُوكُم مِّن فَوۡقِكُمۡ وَمِنۡ أَسۡفَلَ مِنكُمۡ وَإِذۡ زَاغَتِ

(10) کله چې دوی په تاسو راغلل، ستاسو له بره اړخ نه او ستاسو نه له لاندې اړخ نه او کله

ٱلۡأَبۡصَٰرُ وَبَلَغَتِ ٱلۡقُلُوبُ ٱلۡحَنَاجِرَ وَتَظُنُّونَ بِٱللَّهِ ٱلظُّنُونَا۠ ١٠

چې سترګې کږې او زړونه چنغړکو ته ورسېدل او تاسو په الله ګمانونه کول، قسم قسم ګمانونه

هُنَالِكَ ٱبۡتُلِيَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ وَزُلۡزِلُواْ زِلۡزَالٗا شَدِيدٗا ١١

**(11)** په دغه ځای (او وخت) کې مومنان وازمایلی شول او وخوځولی شول، ډېر سخت خوځول

وَإِذۡ يَقُولُ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ مَّا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ إِلَّا غُرُورٗا ١٢

**(12)** او (یاد کړه) هغه وخت چې منافقانو او هغو کسانو چې د هغوی په زړونو کې مرض و، وویل: مونږ سره الله او د هغه رسول وعده نه ده کړې مګر د دوکې(وعده)

وَإِذۡ قَالَت طَّآئِفَةٞ مِّنۡهُمۡ يَٰٓأَهۡلَ يَثۡرِبَ لَا مُقَامَ لَكُمۡ فَٱرۡجِعُواْۚ وَيَسۡتَـٔۡذِنُ فَرِيقٞ مِّنۡهُمُ ٱلنَّبِيَّ يَقُولُونَ إِنَّ بُيُوتَنَا عَوۡرَةٞ وَمَا هِيَ بِعَوۡرَةٍۖ إِن يُرِيدُونَ إِلَّا فِرَارٗا ١٣

**(13)** او کله چې په دوی کې یوې ډلې وویل: ای د یثرب (مدینې) اوسېدونکو! تاسو لپاره ( د استوګنې) هېڅ ځای نشته، نو بېرته وګرځئ او په دوی کې یوه ډله له نبي نه د بېرته تللو اجازت غواړي، دوی وایي: بېشکه زمونږ کورونه تش پراته دي، حال دا چې هغه تش نه دي پراته، دوی اراده نه لري مګر د تېښتې

وَلَوۡ دُخِلَتۡ عَلَيۡهِم مِّنۡ أَقۡطَارِهَا ثُمَّ سُئِلُواْ ٱلۡفِتۡنَةَ لَأٓتَوۡهَا وَمَا تَلَبَّثُواْ بِهَآ إِلَّا يَسِيرٗا ١٤

**(14)** او که په دوی (دغه لښکرې) په دې (مدینه) کې راننه ایستی شي د دې له (ټولو) اړخونو نه، بیا له دوی نه د فتنې (د شرك او له

مسلمانانو سره د جنګ) غوښتنه وکړی شي (،
نو) دوی به خامخا دغه (کار) وکړي او دوی به
په دې کې ځنډ ونه کړي مګر ډېر لږ

وَلَقَدْ كَانُوا۟ عَـٰهَدُوا۟ ٱللَّهَ مِن قَبْلُ
لَا يُوَلُّونَ ٱلْأَدْبَـٰرَ ۚ وَكَانَ عَهْدُ ٱللَّهِ
مَسْـُٔولًا ﴿١٥﴾

(15) او يقيناً يقيناً دوی له دې نه مخکې له
الله سره عهد کړی و، چې دوی به شاګانې
وانه ړوي او د الله عهد دی چې (د ده باره
کې) پوښتنه کېږي

قُل لَّن يَنفَعَكُمُ ٱلْفِرَارُ إِن
فَرَرْتُم مِّنَ ٱلْمَوْتِ أَوِ ٱلْقَتْلِ وَإِذًا
لَّا تُمَتَّعُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٦﴾

(16) ته (دوی ته) ووایه: تاسو ته به تېښته له
سره نفع در ونه رسوي که تاسو له مرګ، یا
قتل نه وتښتئ او په دغه وخت کې به تاسو ته
فایده درنه کړی شي مګر ډېره لږه

قُلْ مَن ذَا ٱلَّذِى يَعْصِمُكُم مِّنَ
ٱللَّهِ إِنْ أَرَادَ بِكُمْ سُوٓءًا أَوْ أَرَادَ
بِكُمْ رَحْمَةً ۚ وَلَا يَجِدُونَ لَهُم مِّن
دُونِ ٱللَّهِ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿١٧﴾

(17) ته (دوی ته) ووایه: څوك دی هغه ذات
چې تاسو به له الله نه بچ کړي که هغه (الله)
تاسو ته د تکلیف رسولو اراده وکړي، یا هغه په
تاسو د مهربانۍ کولو اراده وکړي؟ او دوی به
د خپل ځان لپاره له الله نه غیر نه هېڅ
کارساز ومومي او نه مدد ګار

۞ قَدْ يَعْلَمُ ٱللَّهُ ٱلْمُعَوِّقِينَ
مِنكُمْ وَٱلْقَآئِلِينَ لِإِخْوَٰنِهِمْ هَلُمَّ
إِلَيْنَا ۖ وَلَا يَأْتُونَ ٱلْبَأْسَ إِلَّا

(18) يقيناً الله ته په تاسو کې (له جهاد نه)
منع کوونکي معلوم دي او خپلو ورونو ته ادا
ویونکي چې مونږ ته راشئ! او دوی جنګ ته

قَلِيلًا ﴿١٨﴾

نه راځي مګر ډېر لږ

أَشِحَّةً عَلَيْكُمْۖ فَإِذَا جَآءَ
ٱلْخَوْفُ رَأَيْتَهُمْ يَنظُرُونَ إِلَيْكَ
تَدُورُ أَعْيُنُهُمْ كَٱلَّذِى يُغْشَىٰ
عَلَيْهِ مِنَ ٱلْمَوْتِۖ فَإِذَا ذَهَبَ
ٱلْخَوْفُ سَلَقُوكُم بِأَلْسِنَةٍ حِدَادٍ
أَشِحَّةً عَلَى ٱلْخَيْرِۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَمْ
يُؤْمِنُوا فَأَحْبَطَ ٱللَّهُ أَعْمَٰلَهُمْۚ
وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرًا ﴿١٩﴾

**(19)** په داسې حال کې چې پر تاسو باندې بخل کوونکي دي، نو کله چې وېره راشي (، نو) ته به دوی وینې چې تا ته به ګوري، په داسې حال کې چې د دوی سترګې به (داسې) چورلي، لکه هغه کس چې په هغه د مرګ په وجه بې هوشي راوستلی شوې وي، نو کله چې وېره لاړه شي (نو) دوی تاسو ته ضرر دررسوي په خپلو تېرو ژبو سره، په داسې حال کې چې د خیر(مالِ غنیمت) ډېر حریصان وي، دغو کسانو ایمان نه دی راوړی، نو الله د دوی عملونه برباد کړل او دغه (کار) الله ته ډېر اسان دی

يَحْسَبُونَ ٱلْأَحْزَابَ لَمْ يَذْهَبُواْۖ
وَإِن يَأْتِ ٱلْأَحْزَابُ يَوَدُّواْ لَوْ
أَنَّهُم بَادُونَ فِى ٱلْأَعْرَابِ
يَسْـَٔلُونَ عَنْ أَنۢبَآئِكُمْۖ وَلَوْ كَانُواْ
فِيكُم مَّا قَٰتَلُوٓاْ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٢٠﴾

**(20)** دوی په لښکرو ګمان کوي چې دوی نه دي تللي، او که دغه لښکرې (بیا) راشي (نو) دوی خوښوي چې کاشکې په رښتیا دوی بانډېسیان وی په اعرابو (صحرایي خلقو) کې، چې ستاسو د خبرونو په باره کې یې پوښتنې کولی، او که دوی په تاسو کې وی نو دوی به جنګ نه و کړی مګر ډېر لږ

لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِى رَسُولِ ٱللَّهِ

**(21)** یقینًا یقینًا تاسو لپاره په (کار د ) رسول

أُسۡوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرۡجُواْ ٱللَّهَ وَٱلۡيَوۡمَ ٱلۡأٓخِرَ وَذَكَرَ ٱللَّهَ كَثِيرٗا ﴿٢١﴾

الله کې ډېره ښه اقتدا ده، د هغه چا لپاره چې د الله او د وروستنۍ ورځې امېد لري او الله ډېر زيات يادوي

وَلَمَّا رَءَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلۡأَحۡزَابَ قَالُواْ هَٰذَا مَا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَصَدَقَ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥۚ وَمَا زَادَهُمۡ إِلَّآ إِيمَٰنٗا وَتَسۡلِيمٗا ﴿٢٢﴾

**(22)** او کله چې مومنانو ډلې وليدې، ويې ويل:دا هغه دي چې مونږ سره يې الله او د هغه رسول وعده کړې وه، او الله او د هغه رسول رښتيا ويلي وو، اودوی ته دغو زيات نه کړ مگر ايمان او (د الله حکمونو ته) تسليمېدل

مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ رِجَالٞ صَدَقُواْ مَا عَٰهَدُواْ ٱللَّهَ عَلَيۡهِۖ فَمِنۡهُم مَّن قَضَىٰ نَحۡبَهُۥ وَمِنۡهُم مَّن يَنتَظِرُۖ وَمَا بَدَّلُواْ تَبۡدِيلٗا ﴿٢٣﴾

**(23)** په مومنانو کې ځينې داسې سړي دي چې هغه خبره يې رښتيا کړله چې په هغې يې له الله سره عهد کړی و نو ځينې په دوی کې هغه دي چې پوره يې کړ خپل نذر(عهد) او ځينې په دوی کې هغه دي چې انتظار کوي او دوی (په خپله خبره کې) تبديلي نه ده کړې، هېڅ تبديلي

لِّيَجۡزِيَ ٱللَّهُ ٱلصَّٰدِقِينَ بِصِدۡقِهِمۡ وَيُعَذِّبَ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ إِن شَآءَ أَوۡ يَتُوبَ عَلَيۡهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ﴿٢٤﴾

**(24)** د دې لپاره چې الله رښتينو ته د هغوی د رښتياوو په سبب بدله ورکړي او منافقانو ته عذاب ورکړي که يې وغواړي، يا په دوی رجوع وکړي، بېشکه چې الله ډېر بخښونکی، بې حده مهربان دی

وَرَدَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِغَيۡظِهِمۡ لَمۡ يَنَالُواْ خَيۡرٗاۚ وَكَفَى ٱللَّهُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٱلۡقِتَالَۚ وَكَانَ ٱللَّهُ قَوِيًّا عَزِيزٗا ٢٥

(25) او الله کافران سره له خپلې غصې نه ببرته وشړل، په داسې حال کې چې هېڅ خير يې ونه موند او الله مومنان له جنگ نه وساتلاو الله ډېر زورور، ښه غالب دی

وَأَنزَلَ ٱلَّذِينَ ظَٰهَرُوهُم مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ مِن صَيَاصِيهِمۡ وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلرُّعۡبَ فَرِيقٗا تَقۡتُلُونَ وَتَأۡسِرُونَ فَرِيقٗا ٢٦

(26) او هغه (الله) هغه کسان چې د دوی مرسته يې کړې وه، چې له اهل کتابو څخه وو، له خپلو قلاګانو نه راکوز کړل او د دوی په زړونو کې يې وېره وغورځوله، (نو) يوه ډله تاسو وژله او بله ډله تاسو بندي کوله

وَأَوۡرَثَكُمۡ أَرۡضَهُمۡ وَدِيَٰرَهُمۡ وَأَمۡوَٰلَهُمۡ وَأَرۡضٗا لَّمۡ تَطَـُٔوهَاۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٗا ٢٧

(27) او هغه، تاسو وارثان کړئ د هغوی د ځمکو او د هغوی د کورونو او د هغوی د مالونو او د هغې ځمکې چې تاسو هغه نه وه پايمال کړې، او الله په هر شي باندې له ازله ښه قادر دی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزۡوَٰجِكَ إِن كُنتُنَّ تُرِدۡنَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيۡنَ أُمَتِّعۡكُنَّ وَأُسَرِّحۡكُنَّ سَرَاحٗا جَمِيلٗا ٢٨

(28) ای نبي! ته خپلو ښځو ته ووايه! که تاسو يئ چې دنيايي ژوند او د ده زينت غواړئ، نو راشئ چې زه تاسو ته څه فايده دروړسوم او تاسو خوشې (ازادې) کړم، ډېر ښه ازادول

وَإِن كُنتُنَّ تُرِدۡنَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ

(29) اوکه تاسو يئ چې الله او د هغه رسول او

وَٱلدَّارَ ٱلۡأٓخِرَةَ فَإِنَّ ٱللَّهَ أَعَدَّ لِلۡمُحۡسِنَٰتِ مِنكُنَّ أَجۡرًا عَظِيمًا ﴿٢٩﴾

د اخرت کور (جنت) غواړئ، نو بېشکه الله د نېکي کوونکو ښځو لپاره،چې تاسو يئ، ډېر لوی اجر تيار کړی دی

يَٰنِسَآءَ ٱلنَّبِيِّ مَن يَأۡتِ مِنكُنَّ بِفَٰحِشَةٖ مُّبَيِّنَةٖ يُضَٰعَفۡ لَهَا ٱلۡعَذَابُ ضِعۡفَيۡنِۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٗا ﴿٣٠﴾

(30) ای د نبي ښځو! په تاسو کې چې هر چا ښکاره بدکاري وکړه (نو) هغې ته به عذاب يو په دوه، دوچند کړی شي او دغه (کار) الله ته ډېر اسان دی

۞وَمَن يَقۡنُتۡ مِنكُنَّ لِلَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتَعۡمَلۡ صَٰلِحٗا نُّؤۡتِهَآ أَجۡرَهَا مَرَّتَيۡنِ وَأَعۡتَدۡنَا لَهَا رِزۡقٗا كَرِيمٗا ﴿٣١﴾

(31) او په تاسو کې چې څوك د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړي او نېك عمل وکړي(، نو) مونږ به هغې ته د هغې اجر دوه ځله ورکړو او مونږ د هغې لپاره ډېر د عزت رزق تيار کړی دی

يَٰنِسَآءَ ٱلنَّبِيِّ لَسۡتُنَّ كَأَحَدٖ مِّنَ ٱلنِّسَآءِ إِنِ ٱتَّقَيۡتُنَّۚ فَلَا تَخۡضَعۡنَ بِٱلۡقَوۡلِ فَيَطۡمَعَ ٱلَّذِي فِي قَلۡبِهِۦ مَرَضٞ وَقُلۡنَ قَوۡلٗا مَّعۡرُوفٗا ﴿٣٢﴾

(32) ای د نبي ښځو! تاسو په (ډلو د) ښځو کې د هېڅ يوې (ډلې ) په شان نه يئ که تاسو پرهېزګاري وکړئ، نو تاسو په وينا کې نرمي مه کوئ، (ګنې) نو هغه کس به په طمع کې پرېوځي چې د هغه په زړه کې (د نفاق، يا بدکارۍ) مرض وي او تاسو هغه خبره کوئ چې مناسبه وي

وَقَرۡنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجۡنَ

(33) او تاسو په خپلو کورونو کې قرار ونيسئ

تَبَرُّجَ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِ ٱلۡأُولَىٰۖ وَأَقِمۡنَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتِينَ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَطِعۡنَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓۚ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُذۡهِبَ عَنكُمُ ٱلرِّجۡسَ أَهۡلَ ٱلۡبَيۡتِ وَيُطَهِّرَكُمۡ تَطۡهِيرٗا ﴿٣٣﴾

او تاسو د ړومبني جاهليت د زينت ښکاره کولو په شان زينت مه ښکاره کوئ او تاسو لمونځ قايموئ او زکات ادا کوئ او د الله او د هغه د رسول اطاعت کوئ، بېشکه همدا خبره ده چې الله غواړي چې له تاسو نه، ای اهل بيتو! ګناه لرې کړي او تاسو پاك کړي، پاکول

وَٱذۡكُرۡنَ مَا يُتۡلَىٰ فِي بُيُوتِكُنَّ مِنۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ وَٱلۡحِكۡمَةِۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ لَطِيفًا خَبِيرًا ﴿٣٤﴾

(34) او تاسو يادوئ هغه د الله ايتونه او حکمت چې ستاسو په کورونو کې لوستل کېږي، بېشکه الله دی، ډېر باريك بين، ښه خبردار

إِنَّ ٱلۡمُسۡلِمِينَ وَٱلۡمُسۡلِمَٰتِ وَٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ وَٱلۡقَٰنِتِينَ وَٱلۡقَٰنِتَٰتِ وَٱلصَّٰدِقِينَ وَٱلصَّٰدِقَٰتِ وَٱلصَّٰبِرِينَ وَٱلصَّٰبِرَٰتِ وَٱلۡخَٰشِعِينَ وَٱلۡخَٰشِعَٰتِ وَٱلۡمُتَصَدِّقِينَ وَٱلۡمُتَصَدِّقَٰتِ وَٱلصَّٰٓئِمِينَ وَٱلصَّٰٓئِمَٰتِ وَٱلۡحَٰفِظِينَ فُرُوجَهُمۡ وَٱلۡحَٰفِظَٰتِ وَٱلذَّٰكِرِينَ ٱللَّهَ كَثِيرٗا وَٱلذَّٰكِرَٰتِ أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُم

(35) بېشکه مسلمانان او مسلمانانې او مومنان او مومنانې، او اطاعت کوونکي او اطاعت کوونکې او صادقان (رښتيني) او صادقانې او صبر کوونکي او صبر کوونکې اوعاجزي کوونکي او عاجزي کوونکې او خيرات کوونکي او خيرات کوونکې او روژه نيونکي او روژه نيوونکې او د خپلو شرم ځايونو حفاظت کوونکي او حفاظت کوونکې او الله لره ډېر يادوونکي او يادوونکې، الله د دوی لپاره مغفرت او ډېر لوی اجر تيار کړی دی

مَّغۡفِرَةٗ وَأَجۡرًا عَظِيمٗا ٣٥

وَمَا كَانَ لِمُؤۡمِنٖ وَلَا مُؤۡمِنَةٍ إِذَا قَضَى ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمۡرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ ٱلۡخِيَرَةُ مِنۡ أَمۡرِهِمۡۗ وَمَن يَعۡصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلٗا مُّبِينٗا ٣٦

(36) او نه دي روا د هېڅ مومن لپاره او نه د مومني لپاره، کله چې الله او د هغه رسول د يو کار فيصله وکړي دا چې د دوی لپاره دې په خپل کار کې اختيار وي او څوک چې د الله او د هغه د رسول نافرماني کوي، نو يقيناً دغه (کس) گمراه شو، ښکاره گمراه کېدل

وَإِذۡ تَقُولُ لِلَّذِيٓ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَأَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِ أَمۡسِكۡ عَلَيۡكَ زَوۡجَكَ وَٱتَّقِ ٱللَّهَ وَتُخۡفِي فِي نَفۡسِكَ مَا ٱللَّهُ مُبۡدِيهِ وَتَخۡشَى ٱلنَّاسَ وَٱللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخۡشَىٰهُۖ فَلَمَّا قَضَىٰ زَيۡدٞ مِّنۡهَا وَطَرٗا زَوَّجۡنَٰكَهَا لِكَيۡ لَا يَكُونَ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ حَرَجٞ فِيٓ أَزۡوَٰجِ أَدۡعِيَآئِهِمۡ إِذَا قَضَوۡاْ مِنۡهُنَّ وَطَرٗاۚ وَكَانَ أَمۡرُ ٱللَّهِ مَفۡعُولٗا ٣٧

(37) او (ياد کړه ای نبي!) کله چې تا هغه کس ته چې الله په هغه انعام کړی و او تا ( هم) په هغه (په ازادولو سره) انعام کړی و ؛ ويل: ته خپله ښځه له ځان سره وساته او له الله نه ووېرېږه او تا هغه خبره په خپل زړه کې پټوله چې الله د هغې ښکاره کوونکی و او ته له خلقو نه وېربدلې او الله زيات حق دار دی چې ته له هغه نه ووېرېږې، نوکله چې زيد له هغې نه غرض (حاجت) پوره کړ (نو) مونږ هغه تا ته په نکاح کړه، د دې لپاره چې په مومنانو باندې د خپلو په زامنو بلل شويو، په ښځو کې څه سختي نه وي، کله چې دغه (په زامنو بلل شوي) له دغو (ښځو) نه حاجت پوره کړې او دی د الله کار ادا کړی شوی

| | |
|---|---|
| مَّا كَانَ عَلَى ٱلنَّبِيِّ مِنۡ حَرَجٖ فِيمَا فَرَضَ ٱللَّهُ لَهُۥۖ سُنَّةَ ٱللَّهِ فِي ٱلَّذِينَ خَلَوۡاْ مِن قَبۡلُۚ وَكَانَ أَمۡرُ ٱللَّهِ قَدَرٗا مَّقۡدُورًا ٣٨ | (38) په نبي باندې هېڅ قدر حرج (او سختي) نشته په هغه کار(د نکاح) کې چې الله د ده لپاره مقرر کړی و، د الله (مقرر کړې) طريقه ده په هغو (نبيانو) کې چې له ده نه مخکې تېر شوي دي او دی د الله امر قطعي تاکل شوې فیصله |
| ٱلَّذِينَ يُبَلِّغُونَ رِسَٰلَٰتِ ٱللَّهِ وَيَخۡشَوۡنَهُۥ وَلَا يَخۡشَوۡنَ أَحَدًا إِلَّا ٱللَّهَۗ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ حَسِيبٗا ٣٩ | (39) هغه (نبيان) چې د الله پيغامونه رسوي او له هغه نه وېرېږي او له الله نه غير له هيڅا نه نه وېرېږي او الله ښه کافي دی حساب کوونکی |
| مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٖ مِّن رِّجَالِكُمۡ وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٗا ٤٠ | (40) محمد (ﷺ) ستاسو په سړيو کې د هيچا پلار نه دی او لېکن د الله رسول دی او د نبيانو (د لړۍ) ختمونکی دی او الله په هر شي ښه عالم دی |
| يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ ذِكۡرٗا كَثِيرٗا ٤١ | (41) ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو الله يادوئ، ډېر زيات يادول |
| وَسَبِّحُوهُ بُكۡرَةٗ وَأَصِيلًا ٤٢ | (42) او تاسو د هغه پاکي بيانوئ د ورځې په اوله برخه او اخري برخه کې |
| هُوَ ٱلَّذِي يُصَلِّي عَلَيۡكُمۡ | (43) دی همغه ذات دی چې په تاسو |

| | |
|---|---|
| وَمَلَٰٓئِكَتُهُۥ لِيُخۡرِجَكُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِۚ وَكَانَ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ رَحِيمٗا ﴿٤٣﴾ | ”صلاة“ (شفقت) رالېږي او د هغه ملايك (هم)، د دې لپاره چې هغه تاسو له تيارو نه رڼا ته راوباسي، هغه په مومنانو ډېر رحم كوونكى دى |
| تَحِيَّتُهُمۡ يَوۡمَ يَلۡقَوۡنَهُۥ سَلَٰمٞۚ وَأَعَدَّ لَهُمۡ أَجۡرٗا كَرِيمٗا ﴿٤٤﴾ | (44) ( د الله له جانبه) دوى ته پېشكشي به، په هغې ورځ كې چې دوى به له هغه (الله) سره ملاقات كوي، سلام وي، او هغه د دوى لپاره ډېر د عزت اجر تيار كړى دى |
| يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ شَٰهِدٗا وَمُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا ﴿٤٥﴾ | (45) اى نبي! بېشكه مونږ ته ګواه، او زېرى وركوونكى، او وېروونكى لېږلى يې |
| وَدَاعِيًا إِلَى ٱللَّهِ بِإِذۡنِهِۦ وَسِرَاجٗا مُّنِيرٗا ﴿٤٦﴾ | (46) او الله ته د هغه په حكم سره، بلونكى او رڼا كوونكې ډيوه مولېږلى يې |
| وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ بِأَنَّ لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ فَضۡلٗا كَبِيرٗا ﴿٤٧﴾ | (47) او ته مومنانو ته زېرى وركړه په دې سره چې بېشكه د دوى لپاره د الله له جانبه ډېر لوى فضل دى |
| وَلَا تُطِعِ ٱلۡكَٰفِرِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَدَعۡ أَذَىٰهُمۡ وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلٗا ﴿٤٨﴾ | (48) او ته د كافرانو او منافقانو خبره مه منه او د دوى ضرر پرېږده او په الله توكل وكړه او الله بنه كافي دى كارساز |
| يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا | (49) اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى |

نَكَحۡتُمُ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ ثُمَّ طَلَّقۡتُمُوهُنَّ مِن قَبۡلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ فَمَا لَكُمۡ عَلَيۡهِنَّ مِنۡ عِدَّةٖ تَعۡتَدُّونَهَاۖ فَمَتِّعُوهُنَّ وَسَرِّحُوهُنَّ سَرَاحٗا جَمِيلٗا ﴿٤٩﴾

دی! کله چې تاسو له مومنو ښځو سره نکاح وکړئ، بیا دوی طلاقې کړئ، مخکې له دې چې تاسو هغو ته لاس ورورېئ، نو تاسو لپاره په دوی باندې هېڅ عدت نشته، چې تاسو به هغه شمېرئ، نوتاسو دوی ته څه فایده ورکړئ او دوی خوشې کړئ، ډېر ښه خوشې کول

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِنَّآ أَحۡلَلۡنَا لَكَ أَزۡوَٰجَكَ ٱلَّٰتِيٓ ءَاتَيۡتَ أُجُورَهُنَّ وَمَا مَلَكَتۡ يَمِينُكَ مِمَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَيۡكَ وَبَنَاتِ عَمِّكَ وَبَنَاتِ عَمَّٰتِكَ وَبَنَاتِ خَالِكَ وَبَنَاتِ خَٰلَٰتِكَ ٱلَّٰتِي هَاجَرۡنَ مَعَكَ وَٱمۡرَأَةٗ مُّؤۡمِنَةً إِن وَهَبَتۡ نَفۡسَهَا لِلنَّبِيِّ إِنۡ أَرَادَ ٱلنَّبِيُّ أَن يَسۡتَنكِحَهَا خَالِصَةٗ لَّكَ مِن دُونِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۗ قَدۡ عَلِمۡنَا مَا فَرَضۡنَا عَلَيۡهِمۡ فِيٓ أَزۡوَٰجِهِمۡ وَمَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُمۡ لِكَيۡلَا يَكُونَ عَلَيۡكَ حَرَجٞۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ﴿٥٠﴾

(50) ای نبي! ببشکه مونږ تا لپاره ستا هغه ښځې حلالې کړې دي چې تا(هغو ته) خپل مهرونه ورکړي دي او هغه ښځې (هم) چې ته يې مالك شوی يې له هغو (وينځو) نه چې الله تا ته (له کفارو نه) راګرځولي دي او (مونږ حلالې کړې دي) ستا د تره لوڼه او ستا د عمو (پلرنۍ ترورياڼو) لوڼه او ستا د ماما لوڼه او ستا د خاله ګانو (مورنۍ ترورياڼو) لوڼه، هغه چې له تا سره يې هجرت کړی دی، او (هغه) مومنه ښځه (هم)، که چېرې هغه خپل ځان نبي ته وبخښي، که نبي اراده وکړي چې دغه په نکاح واخلي، په داسې حال کې چې (دغه ښځه) له مومنانو نه غير يواځې تا ته خاص (جايزه ) ده، يقيناً مونږ ته هغه (حکم) معلوم دی چې مونږ په دوی باندې د خپلو ښځو او خپلو وينځو په باره کې فرض کړی دی، د دې

لپاره چې په تا هېڅ حرج (او سختي) نه وي او الله له ازله ډېر بخښونکی، بې حده مهربان دی

۞تُرۡجِي مَن تَشَآءُ مِنۡهُنَّ وَتُـٔۡوِيٓ إِلَيۡكَ مَن تَشَآءُۖ وَمَنِ ٱبۡتَغَيۡتَ مِمَّنۡ عَزَلۡتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكَۚ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَن تَقَرَّ أَعۡيُنُهُنَّ وَلَا يَحۡزَنَّ وَيَرۡضَيۡنَ بِمَآ ءَاتَيۡتَهُنَّ كُلُّهُنَّۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا فِي قُلُوبِكُمۡۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَلِيمٗا ٥١

(51) ته چې په دغو(ښځو) کې کومه غواړې ببرته (وروسته) کوې یې اوکومه چې غواړې ځان ته یې رانژدې کوې او هغه چې ته یې بیا غواړې له هغو نه چې تالرې کړې وي، نوپه تا هېڅ ګناه نشته دغه (حکم) ډېر نژدې دی چې د دوی سترګې به یخې شي او نه به غمجنې کېږي او دوی ټولې به په هغه راضي کېږي چې ته یې دوی ته ورکوې او الله په هغو خبرو پوهېږي چې ستاسو په زړونو کې دي او الله دی ښه عالم، ښه تحمل والا

لَّا يَحِلُّ لَكَ ٱلنِّسَآءُ مِنۢ بَعۡدُ وَلَآ أَن تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنۡ أَزۡوَٰجٖ وَلَوۡ أَعۡجَبَكَ حُسۡنُهُنَّ إِلَّا مَا مَلَكَتۡ يَمِينُكَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ رَّقِيبٗا ٥٢

(52) د دغو (نهو ښځو) نه پس تا ته (نورې) ښځې حلالې نه دي او نه دا (حلال دي) چې ته د دوی په بدل کې نورې ښځې واخلې (راولې) اګر که د هغوی حسن تا په تعجب کې اچوي، مګر (خو روا دي درته) هغه وینځې چې ته یې مالك شې او الله دی په هر شي باندې ښه نګران

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَدۡخُلُواْ

(53) ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی

بُيُوتَ ٱلنَّبِيِّ إِلَّآ أَن يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَىٰ طَعَامٍ غَيْرَ نَٰظِرِينَ إِنَىٰهُ وَلَٰكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ فَٱدْخُلُواْ فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَٱنتَشِرُواْ وَلَا مُسْتَـْٔنِسِينَ لِحَدِيثٍۚ إِنَّ ذَٰلِكُمْ كَانَ يُؤْذِى ٱلنَّبِىَّ فَيَسْتَحْىِۦ مِنكُمْۖ وَٱللَّهُ لَا يَسْتَحْىِۦ مِنَ ٱلْحَقِّۚ وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَٰعًا فَسْـَٔلُوهُنَّ مِن وَرَآءِ حِجَابٍۚ ذَٰلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّۚ وَمَا كَانَ لَكُمْ أَن تُؤْذُواْ رَسُولَ ٱللَّهِ وَلَآ أَن تَنكِحُوٓاْ أَزْوَٰجَهُۥ مِنۢ بَعْدِهِۦٓ أَبَدًاۚ إِنَّ ذَٰلِكُمْ كَانَ عِندَ ٱللَّهِ عَظِيمًا ٥٣

دی! تاسو د نبي کورونو ته مه ننوځئ مګر دا چې تاسو ته طعام (خوړلو) ته اجازت درکړی شي، په داسې حال کې چې د هغه (طعام) پخلي ته انتظار کوونکي نه یئ او لېکن کله چې تاسو وبلل شئ، نو ننوځئ، بیا چې کله طعام وخورئ، نو خوراه شئ او نه دا چې په خبرو سره زړه خوشالوونکي یئ: بېشکه دغه (کار) داسې دی چې نبي ته تکلیف رسوي، نوهغه له تاسو نه حیا کوي او الله د حقې خبرې (له ویلو) نه حیا نه کوي او کله چې تاسو له دغو(پاکو بیبیانو) نه څه سامان غواړئ، نو له دوی نه یې په داسې حال کې غواړئ، چې تاسو له پردې نه د باندې یئ، دا (کار) ډېر پاك ساتونکی دی ستاسو زړونو لره او د هغوی زړونو لره او تاسو ته روا نه دي چې تاسو د الله رسول ته تکلیف ورسوئ او نه دا چې تاسو د هغه له ښځو سره له هغه نه پس نکاح وکړئ، هیڅکله، بېشکه دغه (کار) د الله په نیز ډېر لوی (جرم) دی

إِن تُبْدُواْ شَيْـًٔا أَوْ تُخْفُوهُ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمًا ٥٤

**(54)** که چېرې تاسو کوم شی ښکاره کړئ، یا هغه پټ کړئ، نو بېشکه الله په هر شي باندې ښه عالم دی

لَّا جُنَاحَ عَلَيۡهِنَّ فِيٓ ءَابَآئِهِنَّ وَلَآ أَبۡنَآئِهِنَّ وَلَآ إِخۡوَٰنِهِنَّ وَلَآ أَبۡنَآءِ إِخۡوَٰنِهِنَّ وَلَآ أَبۡنَآءِ أَخَوَٰتِهِنَّ وَلَا نِسَآئِهِنَّ وَلَا مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُنَّۗ وَٱتَّقِينَ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدًا ٥٥

(55) په دغو (ښځو) هيڅ ګناه نشته په (مخامخ کېدو او راتلو د) خپلو پلرونو کې او نه په خپلو زامنو کې او نه په خپلو وروڼو کې او نه په خپلو وريرونو کې او نه په خپلو خورينو کې او نه په خپلو ښځو کې او نه (ګناه شته) په (مخامخ کېدو او راتلو د) هغو(وينځو مريانو) کې چې د دغو (ښځو) ښي لاسونه يې مالکان شوي دي او (اې ښځو!) تاسو له الله نه ووېرېږئ، بېشکه الله په هر شي باندې ښه ګواه دی

إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا ٥٦

(56) بېشکه الله او د هغه ملايك په نبي درود وايي، اې هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو په دغه(نبي) باندې درود وايئ او سلام وايئ، سلام ويل

إِنَّ ٱلَّذِينَ يُؤۡذُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَأَعَدَّ لَهُمۡ عَذَابٗا مُّهِينٗا ٥٧

(57) بېشکه هغه کسان چې الله او د هغه رسول ته ايذا (او تکليف) رسوي، الله په دوی لعنت کړی دی په دنيا او اخرت (دواړو) کې او د دوی لپاره يې سپکوونکی عذاب تيار کړی دی

وَٱلَّذِينَ يُؤۡذُونَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ بِغَيۡرِ مَا ٱكۡتَسَبُواْ

(58) او هغه کسان چې مومنو سړيو او مومنو ښځو ته په ناکړي کار(او ناکرده ګناه) تکليف

فَقَدِ ٱحْتَمَلُوا۟ بُهْتَـٰنًا وَإِثْمًا مُّبِينًا ﴿٥٨﴾

رسوي، نويقيناً دوی په خپل ځان غټ دروغ او ښکاره ګناه باروي

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ قُل لِّأَزْوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِ ٱلْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَـٰبِيبِهِنَّ ۚ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰٓ أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٥٩﴾

(59) ای نبي! ته خپلو ښځو او خپلو لوڼو او د مومنانو ښځو ته ووایه چې په خپلو ځانونو دې له خپلو څادرو څنې راخواره ( او راځوړند) کاندي، دغه (د بدن پټول) ډېر نژدې دي دې ته چې دوی به وپېژندل شي (چې پرده داري دي) نو دوی ته به تکليف نه رسولی شي او الله دی ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی

۞ لَّئِن لَّمْ يَنتَهِ ٱلْمُنَـٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَٱلْمُرْجِفُونَ فِى ٱلْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَآ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٦٠﴾

(60) قسم دی که دغه منافقان او هغه کسان چې د هغوی په زړونو کې (د بدکارۍ) مرض دی او په مدينه کې بدي (تشويشناکې) اوازې ګډوونکي، منع نشي (نو) مونږ به خامخا ضرور تا په دوی مسلط کړو، بیا به دوی په دې کې له تا سره هَم جواره (په ګاونډ کې) پاتې نشي مګر ډېر لږ (وخت)

مَّلْعُونِينَ ۖ أَيْنَمَا ثُقِفُوٓا۟ أُخِذُوا۟ وَقُتِّلُوا۟ تَقْتِيلًا ﴿٦١﴾

(61) په داسې حال کې چې رټلي ترټل شوي به وي، هر چېرې چې وموندل شي (نو) وبه نيول شي او وبه وژلی شي ډېر بد وژل کېدل

سُنَّةَ ٱللَّهِ فِى ٱلَّذِينَ خَلَوْا۟ مِن قَبْلُ ۖ

(62) دغه لاره د الله (ايښودل شوې) ده د

وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ ٱللَّهِ تَبۡدِيلٗا ٦٢

هغو (منافقو) کسانو په باره کې چې له دوی نه مخکې تېر شوي دي او ته به د الله لارې لره هېڅ تبديلي ونه مومې

يَسۡـَٔلُكَ ٱلنَّاسُ عَنِ ٱلسَّاعَةِۖ قُلۡ إِنَّمَا عِلۡمُهَا عِندَ ٱللَّهِۚ وَمَا يُدۡرِيكَ لَعَلَّ ٱلسَّاعَةَ تَكُونُ قَرِيبًا ٦٣

(63) (ای نبي) خلق له تا نه د قيامت په باره کې تپوس کوي، ته (دوی ته)ووايه چې بېشکه د هغه ( قيامت) علم يواځې الله سره دی، او ته څه شي پوه کړی يې؟ کېدی شي چې قيامت ډېر نژدې وي

إِنَّ ٱللَّهَ لَعَنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ وَأَعَدَّ لَهُمۡ سَعِيرًا ٦٤

(64) بېشکه الله په کافرانو لعنت کړی دی او د دوی لپاره يې سخت لمبې وهونکی اور تيار کړی دی

خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ لَّا يَجِدُونَ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا ٦٥

(65) په داسې حال کې چې په دې کې به همېشه وي، تل ترتله، دوی به نه کوم دوست (کارسازی) مومي او نه مددګار

يَوۡمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمۡ فِي ٱلنَّارِ يَقُولُونَ يَٰلَيۡتَنَآ أَطَعۡنَا ٱللَّهَ وَأَطَعۡنَا ٱلرَّسُولَا۠ ٦٦

(66) په هغې ورځ کې چې د دوی مخونه به په اور کې اړولی راړولی شي، دوی به وايي: ای کاشکې موږ ! د الله اطاعت کړی وی او د رسول اطاعت مو کړی وی

وَقَالُواْ رَبَّنَآ إِنَّآ أَطَعۡنَا سَادَتَنَا

(67) او دوی به وايي: ای زموږ ربه! بېشکه موږ د خپلو مشرانو او د خپلو غټانو اطاعت

وَكُبَرَآءَنَا فَأَضَلُّونَا ٱلسَّبِيلَا۠ ﴿٦٧﴾

کړی و، نو دوی زمونږ نه حقه لار ورکه کړه

رَبَّنَآ ءَاتِهِمۡ ضِعۡفَيۡنِ مِنَ ٱلۡعَذَابِ وَٱلۡعَنۡهُمۡ لَعۡنٗا كَبِيرٗا ﴿٦٨﴾

(68) ای زمونږ ربه! ته دوی ته له عذابه دوه چنده ورکړه او ته په دوی لعنت وکړه، ډېر لوی لعنت کول

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ ءَاذَوۡاْ مُوسَىٰ فَبَرَّأَهُ ٱللَّهُ مِمَّا قَالُواْۚ وَكَانَ عِندَ ٱللَّهِ وَجِيهٗا ﴿٦٩﴾

(69) ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو د هغو کسانو په شان مه کېږئ چې موسیٰ ته یې تکلیف رسولی و، نو الله هغه (موسیٰ) پاك (او بري) كړ د هغه (الزام او دروغو) نه چې دوی ویل او هغه د الله په نېز ډېر مخور و

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ﴿٧٠﴾

(70) ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو له الله نهووېرېږئ او خبره کوئ ډېره سمه (درسته) خبره

يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا ﴿٧١﴾

(71) هغه به تاسو ته ستاسو عملونه درست (او صالح) کړي او تاسو ته به ستاسو گناهونه وبخښي او هر څوك چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وكړي، نو یقینًا دغه کامیاب شو، ډېر لوی کامیابېدل

إِنَّا عَرَضۡنَا ٱلۡأَمَانَةَ عَلَى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَٱلۡجِبَالِ فَأَبَيۡنَ أَن

(72) بېشکه مونږ اسمانونو او ځمکې او غرونو ته امانت وړاندې کړ، نو دوی د ده له پورته

يَحۡمِلۡنَهَا وَأَشۡفَقۡنَ مِنۡهَا وَحَمَلَهَا ٱلۡإِنسَٰنُۖ إِنَّهُۥ كَانَ ظَلُومٗا جَهُولٗا ٧٢

كولو نه انكار وكړ او له ده ووېرېدل او انسان دغه (امانت) پورته كړ، بېشكه دغه (انسان) دى، ډېر ظالم، ډېر نادان

لِّيُعَذِّبَ ٱللَّهُ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتِ وَٱلۡمُشۡرِكِينَ وَٱلۡمُشۡرِكَٰتِ وَيَتُوبَ ٱللَّهُ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمَۢا ٧٣

(73) (دغه وړاندې كول وو) د دې لپاره چې الله منافقانو سړيو او منافقو ښځو او مشركانو سړيو او مشركو ښځو ته عذاب وركړي او چې الله په مومنانو سړيو اومومنو ښځو باندې په رحمت سره رجوع وكړي او الله له ازله ډېر بخښونكى، بې حده مهربان دى

## سُورَةُ سَبَإٍ

## سورۀ سبأ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى**

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَهُ ٱلۡحَمۡدُ فِي ٱلۡأٓخِرَةِۚ وَهُوَ ٱلۡحَكِيمُ ٱلۡخَبِيرُ ١

(1) ټول د كمال صفتونه يواځې هغه الله لره دي چې خاص د هغه لپاره دي هر هغه څه چې په اسمانونو كې دي او هر هغه څه چې په ځمكه كې دي او خاص همده ته دي ټولې ستاينې په اخرت كې او همدغه (الله) ښه حكمت والا، ښه خبردار دى

يَعۡلَمُ مَا يَلِجُ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا

(2) هغه پوهېږي په هر هغه څه چې په ځمكه

يَخۡرُجُ مِنۡهَا وَمَا يَنزِلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ وَمَا يَعۡرُجُ فِيهَاۚ وَهُوَ ٱلرَّحِيمُ ٱلۡغَفُورُ ٢

كې ننوځي او په هر هغه څه چې له دې نه راوځي او په په هر هغه څه چې له اسمان نه راکوزېږي او په هر هغه څه چې په ده کې پورته خېژي او همدغه (الله) بې حده مهربان، ډېر بخښونکی دی

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَا تَأۡتِينَا ٱلسَّاعَةُۖ قُلۡ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتَأۡتِيَنَّكُمۡ عَٰلِمِ ٱلۡغَيۡبِۖ لَا يَعۡزُبُ عَنۡهُ مِثۡقَالُ ذَرَّةٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَآ أَصۡغَرُ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكۡبَرُ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٖ ٣

(3) او كافران شويو كسانو وويل چې مونږ ته به قيامت رانشي ته (دوی ته) ووايه: ولې نه! زما دې په خپل رب قسم وي چې خامخا لازمًا به هغه (قيامت) تاسو ته راشي(هغه رب) چې د غيبو عالم دی، له هغه نه نه پټېږي په اندازه د يوې ذرې په اسمانونو كې او نه په ځمكه كې او نه د دغې (ذرې) نه وړوكی(شی) او نه (ترې) غټ مگر (دغه هر څه) په ښكاره كتاب كې دي

لِّيَجۡزِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ٤

(4) د دې لپاره چې هغه (الله) بدله وركړي هغو كسانو ته چې ايمان يې راوړی دی اونېك عملونه يې كړي دي، دغه كسان(چې دي) د دوی لپاره مغفرت او ډېر د عزت رزق دی

وَٱلَّذِينَ سَعَوۡ فِيٓ ءَايَٰتِنَا مُعَٰجِزِينَ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٞ مِّن رِّجۡزٍ أَلِيمٞ ٥

(5) او هغه كسان چې زمونږ په ايتونو كې (د باطلولو) كوشش كوي، په دې حال كې چې (په خپل گمان الله لره) عاجزه كوونكي وي،

دغه كسان (چې دي) د دوی لپاره له بد عذاب نه ډېره دردونكې سزا ده

وَيَرَى ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ هُوَ ٱلۡحَقَّ وَيَهۡدِيٓ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَمِيدِ ٦

(6) او هغه كسان چې هغوی ته علم وركړې شوی دی، (دوی) هغه (قرآن) چې تا ته د خپل رب له جانبه نازل كړی شوی، همدغه حقويني او دغه (قرآن) د ډېر غالب، ښه ستايل شوي (الله) لارې ته ښودنه كوي

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ هَلۡ نَدُلُّكُمۡ عَلَىٰ رَجُلٖ يُنَبِّئُكُمۡ إِذَا مُزِّقۡتُمۡ كُلَّ مُمَزَّقٍ إِنَّكُمۡ لَفِي خَلۡقٖ جَدِيدٍ ٧

(7) او كافران شويو كسانو وويل: ايا مونږ تاسو ته داسې سړی وښيو چې تاسو ته خبر دركوي چې كله تاسو ذرې ذرې كړی شئ، پوره ذره ذره كېدل، (نو) بېشكه تاسو به خامخا په نوي تخليق كې يئ (له نوي سره به پيدا كولی شئ)

أَفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَم بِهِۦ جِنَّةُۢۗ بَلِ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ فِي ٱلۡعَذَابِ وَٱلضَّلَٰلِ ٱلۡبَعِيدِ ٨

(8) ايا ده له ځانه په الله دروغ تړلي دي، يا په ده پورې لېونتوب دی(داسې نه ده ای مشركانو!) بلكې هغه كسان چې په اخرت ايمان نه لري په عذاب او ډېرې لرې گمراهۍ كې دي

أَفَلَمۡ يَرَوۡاْ إِلَىٰ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۚ إِن

(9) ايا دوی نه دي كتلي هغه څه ته چې د دوی په مخ كې دي او هغه څه ته چې له دوی نه وروسته دي له اسمانه او ځمكې نه،

نَّشَأۡ نَخۡسِفۡ بِهِمُ ٱلۡأَرۡضَ أَوۡ
نُسۡقِطۡ عَلَيۡهِمۡ كِسَفٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِۚ
إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّكُلِّ عَبۡدٖ
مُّنِيبٖ ٩

كه چېرې مونږ وغواړو (نو) دوی به په ځمكه كې ورډوب كړو، يا به په دوی له اسمانه ټوټې راوغورځوو، بېشكه په دغو (كارونو) كې خامخا لويه نښه ده د هر رجوع كوونكي بنده لپاره

۞وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا دَاوُۥدَ مِنَّا فَضۡلٗاۖ
يَٰجِبَالُ أَوِّبِي مَعَهُۥ وَٱلطَّيۡرَۖ وَأَلَنَّا
لَهُ ٱلۡحَدِيدَ ١٠

(10) او يقينًا يقينًا مونږ داود ته له خپله جانبه لوی فضيلت وركړى و، اى غرونو! او مرغانو له ده سره تسبيح راوګرځوئ او مونږ د ده لپاره اوسپنه پسته كړې وه

أَنِ ٱعۡمَلۡ سَٰبِغَٰتٖ وَقَدِّرۡ فِي
ٱلسَّرۡدِۖ وَٱعۡمَلُواْ صَٰلِحًاۖ إِنِّي بِمَا
تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ١١

(11) چې ته پوره ارتې زغرې جوړوه او د (كړيو) په اوبدلو (بوڼلو) كې اندازه كوه او تاسو نېك عمل كوئ، بېشكه زه هغه كارونو لره چې تاسو يې كوئ ؛ ښه ليدونكى يم

وَلِسُلَيۡمَٰنَ ٱلرِّيحَ غُدُوُّهَا شَهۡرٞ
وَرَوَاحُهَا شَهۡرٞۖ وَأَسَلۡنَا لَهُۥ عَيۡنَ
ٱلۡقِطۡرِۖ وَمِنَ ٱلۡجِنِّ مَن يَعۡمَلُ بَيۡنَ
يَدَيۡهِ بِإِذۡنِ رَبِّهِۦۖ وَمَن يَزِغۡ مِنۡهُمۡ
عَنۡ أَمۡرِنَا نُذِقۡهُ مِنۡ عَذَابِ
ٱلسَّعِيرِ ١٢

(12) او د سليمان لپاره مو هوا (مسخر كړې وه) چې د هغې د ورځې د اولې حصې مزل يوه مياشت (لاره) وه او د هغې د ورځې د اخري حصې مزل (هم) يوه مياشت (لاره) وه او د ده لپاره مونږ د ويلې كړى شوي تانبې چينه وبهوله او (مسخر كړي مو وو) له پېريانو نه هغه څوك چې د ده په مخ كې به يې د ده د رب په حكم سره كار كاوه (ورته ويل شوي وو چې) په دوى كې چې هر چا زمونږ له حكم

نه سرکشي وکړه (، نو) مونږ به په هغه د لمبې
وهونکي اور د عذاب نه وڅکوو

يَعۡمَلُونَ لَهُۥ مَا يَشَآءُ مِن مَّحَٰرِيبَ وَتَمَٰثِيلَ وَجِفَانٖ كَٱلۡجَوَابِ وَقُدُورٖ رَّاسِيَٰتٍۚ ٱعۡمَلُوٓاْ ءَالَ دَاوُۥدَ شُكۡرٗاۚ وَقَلِيلٞ مِّنۡ عِبَادِيَ ٱلشَّكُورُ ١٣

**(13)** دوی (پېريانو) به د ده لپاره هغه څه جوړول چې ده به غوښتل، يعني اوچتې قلاګانې، او تمثالونه او لګنونه، لکه تالابونه او په نغريو کلك پراته دېګونه، ای آل داوده! تاسو (نېك) عمل کوئ د شکر لپاره او زما په بنده ګانو کې شکر کوونکي ډېر لږ دي

فَلَمَّا قَضَيۡنَا عَلَيۡهِ ٱلۡمَوۡتَ مَا دَلَّهُمۡ عَلَىٰ مَوۡتِهِۦٓ إِلَّا دَآبَّةُ ٱلۡأَرۡضِ تَأۡكُلُ مِنسَأَتَهُۥۖ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ ٱلۡجِنُّ أَن لَّوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ٱلۡغَيۡبَ مَا لَبِثُواْ فِي ٱلۡعَذَابِ ٱلۡمُهِينِ ١٤

**(14)** نو کله چې مونږ په ده د مرګ حکم وکړ، نو دوی (پېريان هيڅا) خبر نه کړل مګر د ځمکې چينجو چې د ده امسا يې خوړله، نو کله چې هغه (سليمان په ځمکه) ولوېده (نو) پېريانو ته معلومه شوه چې بېشکه که دوی په غيبو پوهېدلی( نو) په دغه سپکوونکي عذاب کې به نه و پاتې شوي

لَقَدۡ كَانَ لِسَبَإٖ فِي مَسۡكَنِهِمۡ ءَايَةٞۖ جَنَّتَانِ عَن يَمِينٖ وَشِمَالٖۖ كُلُواْ مِن رِّزۡقِ رَبِّكُمۡ وَٱشۡكُرُواْ لَهُۥۚ بَلۡدَةٞ طَيِّبَةٞ وَرَبٌّ غَفُورٞ ١٥

**(15)** يقينًا يقينًا د سبا (خلقو) لپاره په خپلې استوګنې کې يوه لويه نښه وه (هغه دا چې د دوی) ښي او چپ اړخ ته دوه باغونه دي، تاسو د خپل رب له رزقه خورئ او د هغه شکر وباسئ (دا ښار) پاکيزه ښار دی او (ستاسو) رب دی ډېر بخښونکی

فَأَعۡرَضُواْ فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ سَيۡلَ ٱلۡعَرِمِ وَبَدَّلۡنَٰهُم بِجَنَّتَيۡهِمۡ جَنَّتَيۡنِ ذَوَاتَيۡ أُكُلٍ خَمۡطٖ وَأَثۡلٖ وَشَيۡءٖ مِّن سِدۡرٖ قَلِيلٖ ﴿١٦﴾

(16) بیا دوی مخ واړلو (د نبیانو له دعوت نه) نو مونږ په دوی د بند زورور سېلاب راخلاص کړ او د دوی د دوه باغونو په ځای مو دوی ته دوه داسې باغونه په بدل کې ورکړل چې دواړه خاوندان د بې خونده مېوو او غزانو او څه لږ شی د بېرو وو

ذَٰلِكَ جَزَيۡنَٰهُم بِمَا كَفَرُواْۖ وَهَلۡ نُجَٰزِيٓ إِلَّا ٱلۡكَفُورَ ﴿١٧﴾

(17) دغه، مونږ دوی ته سزا ورکړه، په سبب د دوی د کفر کولو او مونږ جزا نه ورکوو مګر سخت ناشکري ته

وَجَعَلۡنَا بَيۡنَهُمۡ وَبَيۡنَ ٱلۡقُرَى ٱلَّتِي بَٰرَكۡنَا فِيهَا قُرٗى ظَٰهِرَةٗ وَقَدَّرۡنَا فِيهَا ٱلسَّيۡرَۖ سِيرُواْ فِيهَا لَيَالِيَ وَأَيَّامًا ءَامِنِينَ ﴿١٨﴾

(18) او مونږه د دوی په مینځ کې او د هغو کلیو په مینځ کې چې مونږ په هغو کې برکت اچولی و ښکاره (لارې ته نژدې) کلي جوړ کړل او د دغو (کلیو) په مینځ کې مونږ تګ راتګ په اندازه کړی و، تاسو ګرځئ په دغو (کلیو) کې، په شپو او ورځو، په داسې حال کې چې په امان به یئ

فَقَالُواْ رَبَّنَا بَٰعِدۡ بَيۡنَ أَسۡفَارِنَا وَظَلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ فَجَعَلۡنَٰهُمۡ أَحَادِيثَ وَمَزَّقۡنَٰهُمۡ كُلَّ مُمَزَّقٍۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّكُلِّ صَبَّارٖ

(19) نو دوی وویل: ای زمونږ ربه! ته زمونږ د منزلونو په مینځ کې لرې والی پیدا کړه او دوی په خپلو ځانونو ظلم وکړ، نو مونږه دوی قصې (افسانې) وګرځول او مونږ دوی تار په تار کړل، پوره تار په تار کول، بېشکه په دغو

شَكُورٍ ۝١٩

کي خامخا نښې دي دهر ډېر صبر کوونکي، ډېر شکر کوونکي لپاره

وَلَقَدۡ صَدَّقَ عَلَيۡهِمۡ إِبۡلِيسُ ظَنَّهُۥ فَٱتَّبَعُوهُ إِلَّا فَرِيقٗا مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ۝٢٠

**(20)** او یقینًا یقینًا ابلیس د دوی په باره کې خپل خیال رښتیا ومونده، نو دوی ټولو د هغه پیروي وکړه، مګر یوې ډلې، چې هغه مومنان دي

وَمَا كَانَ لَهُۥ عَلَيۡهِم مِّن سُلۡطَٰنٍ إِلَّا لِنَعۡلَمَ مَن يُؤۡمِنُ بِٱلۡأٓخِرَةِ مِمَّنۡ هُوَ مِنۡهَا فِي شَكّٖۗ وَرَبُّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٍ حَفِيظٞ ۝٢١

**(21)** او د دغه (شیطان) لپاره په دغو (اهل سباوو) باندې هېڅ تسلط (او غلبه) نه وه مګر د دې لپاره چې مونږ معلوم (او ببل) کړو هغه څوك چې په اخرت ایمان لري له هغه چا نه چې هغه د دغه (اخرت) په باره کې په شك کې دی او ستا رب د هر شي ښه نګران دی

قُلِ ٱدۡعُواْ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَمۡلِكُونَ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا لَهُمۡ فِيهِمَا مِن شِرۡكٖ وَمَا لَهُۥ مِنۡهُم مِّن ظَهِيرٖ ۝٢٢

**(22)** ته (دې مشرکانو ته) ووایه: تاسو هغه (معبودان) وبولئ چې تاسو (هغه) له الله نه غیر (معبودان) ګڼلي دي، دوی د یوې ذرې اندازه اختیار (او مِلك) نه لري په اسمانونو کې او نه په ځمکه کې او د دوی لپاره په دغو دواړو کې هېڅ برخه (شرکت) نشته، او نشته دغه (الله) ته له دوی نه هېڅ مددګار

وَلَا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ عِندَهُۥٓ إِلَّا

**(23)** او د هغه (الله) په نیز شفاعت نفع نه رسوي مګر د هغه چا لپاره چې هغه (الله) د

لِمَنۡ أَذِنَ لَهُۥۚ حَتَّىٰٓ إِذَا فُزِّعَ عَن قُلُوبِهِمۡ قَالُواْ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمۡۖ قَالُواْ ٱلۡحَقَّۖ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡكَبِيرُ ﴿٢٣﴾

هغه لپاره اجازت ورکړي تر هغه پورې چې کله د دوی د زړونو نه وېره(هيبت) لرې کړی شي(نو) دوی وايي: ستاسو رب څه وفرمايل؟ هغوی به ووايي چې حق (يې وفرمايه) او هم دی ډېر اوچت، ډېر لوی دی

۞قُلۡ مَن يَرۡزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ قُلِ ٱللَّهُۖ وَإِنَّآ أَوۡ إِيَّاكُمۡ لَعَلَىٰ هُدًى أَوۡ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ﴿٢٤﴾

**(24)** (ای نبي!) ته (دوی ته) ووايه چې تاسو ته له اسمانونو اوځمکې نه څوك رزق درکوي؟ ته ووايه چې ”الله“ او بېشکه مونږ، يا تاسو خامخا په هدايت باندې يو، يا په ښکاره ګمراهۍ کې يو

قُل لَّا تُسۡـَٔلُونَ عَمَّآ أَجۡرَمۡنَا وَلَا نُسۡـَٔلُ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ﴿٢٥﴾

**(25)** ته (دوی ته) ووايه: له تاسو نه د هغو جرمونو په باره کې تپوس نه کېږي چې مونږ کړي دي او زمونږ نه پوښتنه نه کېږي د هغو عملونو په باره کې چې تاسو يې کوئ

قُلۡ يَجۡمَعُ بَيۡنَنَا رَبُّنَا ثُمَّ يَفۡتَحُ بَيۡنَنَا بِٱلۡحَقِّ وَهُوَ ٱلۡفَتَّاحُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٢٦﴾

**(26)** ته ووايه: زمونږ رب به زمونږ په مينځ کې جمع وکړي، بيا به زمونږ په مينځ کې په حقه سره فيصله وکړي او هم دی ښه فيصله کوونکی، ښه عالم دی

قُلۡ أَرُونِيَ ٱلَّذِينَ أَلۡحَقۡتُم بِهِۦ شُرَكَآءَۖ كَلَّاۚ بَلۡ هُوَ ٱللَّهُ ٱلۡعَزِيزُ

**(27)** ته(دوی ته) ووايه: تاسو ما ته هغه (معبودان) راوښيئ چې تاسو له هغه (الله) سره پيوست کړي دي، چې شريکان دي (کله

ٱلۡحَكِيمُ ﴿٢٧﴾

هم داسې نشي کېدی) بلکې همدغه الله ښه غالب، ښه حکمت والا دی

وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا كَآفَّةٗ لِّلنَّاسِ
بَشِيرٗا وَنَذِيرٗا وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ
ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٢٨﴾

(28) او ته نه يې لېږلی مونږ مګر د ټولو خلقو (انسانانو) لپاره زيرې ورکوونکی او وېروونکی او لېکن اکثره خلق نه پوهېږي

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلۡوَعۡدُ إِن
كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٢٩﴾

(29) او دوی وايي: دغه وعده به کله وي که تاسو رښتيني يئ؟

قُل لَّكُم مِّيعَادُ يَوۡمٖ لَّا
تَسۡتَـٔۡخِرُونَ عَنۡهُ سَاعَةٗ وَلَا
تَسۡتَقۡدِمُونَ ﴿٣٠﴾

(30) ته (دوی ته) ووايه: تاسو لپاره د داسې ورځې وعده ده چې تاسو به له هغې نه نه يوه ګړۍ وروسته کېږئ او نه به تاسو ړومبی کېږئ

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَن نُّؤۡمِنَ
بِهَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ وَلَا بِٱلَّذِي بَيۡنَ
يَدَيۡهِۗ وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ
مَوۡقُوفُونَ عِندَ رَبِّهِمۡ يَرۡجِعُ
بَعۡضُهُمۡ إِلَىٰ بَعۡضٍ ٱلۡقَوۡلَ يَقُولُ
ٱلَّذِينَ ٱسۡتُضۡعِفُواْ لِلَّذِينَ
ٱسۡتَكۡبَرُواْ لَوۡلَآ أَنتُمۡ لَكُنَّا
مُؤۡمِنِينَ ﴿٣١﴾

(31) او کافران شويو کسانو وويل: مونږ به له سره په دې قرآن ايمان رانه وړو او نه په هغو کتابونو چې له ده نه مخکې دي او که ته ووينې کله چې ظالمان د خپل رب په وړاندې ودرول شوي وي، په داسې حال کې چې د دوی ځينې به ځينو نورو ته خبره اړوي (داسې) چې (په دنيا کې) ښه ضعيف کړی شوي کسان به هغو کسانو ته وايي چې تکبر به يې کاوه: که تاسو (مونږ لره د ايمان نه منع

كوونكي) نه وى (، نو) يقينًا مونږ به مومنان وو

قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُواْ لِلَّذِينَ ٱسۡتُضۡعِفُوٓاْ أَنَحۡنُ صَدَدۡنَٰكُمۡ عَنِ ٱلۡهُدَىٰ بَعۡدَ إِذۡ جَآءَكُمۖ بَلۡ كُنتُم مُّجۡرِمِينَ ٣٢

(32) هغه كسان به ووايي چې تكبر يې كړى و، هغو كسانو ته چې ښه كمزور كړى شوي وو: ايا مونږه تاسو د هدايت نه بند كړي وئ، وروسته له دې چې كله هغه تاسو ته راغى! (داسې نه ده) بلكې تاسو (پخپله) مجرمان وئ

وَقَالَ ٱلَّذِينَ ٱسۡتُضۡعِفُواْ لِلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُواْ بَلۡ مَكۡرُ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ إِذۡ تَأۡمُرُونَنَآ أَن نَّكۡفُرَ بِٱللَّهِ وَنَجۡعَلَ لَهُۥٓ أَندَادٗاۚ وَأَسَرُّواْ ٱلنَّدَامَةَ لَمَّا رَأَوُاْ ٱلۡعَذَابَۚ وَجَعَلۡنَا ٱلۡأَغۡلَٰلَ فِيٓ أَعۡنَاقِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۖ هَلۡ يُجۡزَوۡنَ إِلَّا مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٣٣

(33) او كمزور كړى شوي كسان به هغو كسانو ته ووايي چې تكبر به يې كاوه: (داسې نه وه) بلكې(دا ستاسو) د شپې او ورځې مكر (او فريب) و، كله چې به تاسو مونږ ته حكم كاوه چې مونږ په الله سره كافران شو او د هغه لپاره مونږ شريكان پيدا كړو او دوى (ټول) به پښېماني پټه كړي كله چې دوى عذاب ووينې او مونږ به څنځيرونه د كافران شويو كسانو په غاړو (څټونو) كې واچوو، دوى ته بدله نه وركول كېږي مگر د هغو عملونو چې دوى به كول

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا فِي قَرۡيَةٖ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتۡرَفُوهَآ إِنَّا بِمَآ أُرۡسِلۡتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ٣٤

(34) او مونږ نه و لېږلى په كوم ښار كې هېڅ يو وېروونكى مگر هغه متكبره مړو (مالدارو) خلقو به ويل: بېشكه مونږ په هغه څه چې

تاسو په هغه سره رالېږل شوي يئ، كافران يو

وَقَالُواْ نَحۡنُ أَكۡثَرُ أَمۡوَٰلٗا وَأَوۡلَٰدٗا وَمَا نَحۡنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴿٣٥﴾

(35) او دوى به ويل: مونږ د مال او اولاد په لحاظ ډېر زيات يو او مونږ به په عذاب كولى نشو

قُلۡ إِنَّ رَبِّي يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٣٦﴾

(36) ته ( دوى ته) ووايه: بېشكه زما رب رزق فراخوي چا ته چې وغواړي او تنګوي يې او لېكن د خلقو اكثريت نه پوهېږي

وَمَآ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُكُم بِٱلَّتِي تُقَرِّبُكُمۡ عِندَنَا زُلۡفَىٰٓ إِلَّا مَنۡ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا فَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ جَزَآءُ ٱلضِّعۡفِ بِمَا عَمِلُواْ وَهُمۡ فِي ٱلۡغُرُفَٰتِ ءَامِنُونَ ﴿٣٧﴾

(37) او نه دي ستاسو مالونه او نه اولاد هغه شى چې هغه تاسو مونږ ته رانژدې كړي، ښه رانژدې كول مګر هغه څوك چې ايمان يې راوړ او نېك عمل يې وكړ، نو دغه كسان دي چې د دوى لپاره دوه چنده بدله ده، په سبب د هغو عملونو چې دوى كړي دي او دوى به (د جنت) په بالاخانو كې په امن وي

وَٱلَّذِينَ يَسۡعَوۡنَ فِيٓ ءَايَٰتِنَا مُعَٰجِزِينَ أُوْلَٰٓئِكَ فِي ٱلۡعَذَابِ مُحۡضَرُونَ ﴿٣٨﴾

(38) او هغه كسان چې زمونږ په ايتونو كې كوشش كوي، چې ( په خپل خيال مونږ ه لره) عاجزه كوونكي وي، دغه كسان په عذاب كې حاضر كړى شوي دي

قُلۡ إِنَّ رَبِّي يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن

(39) ته (دوى ته) ووايه: بېشكه زما رب رزق فراخوي چا ته چې وغواړي په خپلو بنده ګانو

يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ وَيَقۡدِرُ لَهُۥٓۚ وَمَآ أَنفَقۡتُم مِّن شَيۡءٖ فَهُوَ يُخۡلِفُهُۥۖ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ٣٩

کې او د هغه لپاره يې تنګوي او تاسو چې څه شی هم لګوئ، نو هغه د دغه (څيز) عوض درکوي او هغه تر ټولو غوره رزق ورکوونکی دی

وَيَوۡمَ يَحۡشُرُهُمۡ جَمِيعٗا ثُمَّ يَقُولُ لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ أَهَٰٓؤُلَآءِ إِيَّاكُمۡ كَانُواْ يَعۡبُدُونَ ٤٠

(40) او (ياد کړئ) هغه ورځ چې هغه (الله) به دوی ټول راجمع کړي، بيا به ملايکو ته ووايي: ايا دغو کسانو به خاص ستاسو عبادت کاوه؟

قَالُواْ سُبۡحَٰنَكَ أَنتَ وَلِيُّنَا مِن دُونِهِمۖ بَلۡ كَانُواْ يَعۡبُدُونَ ٱلۡجِنَّۖ أَكۡثَرُهُم بِهِم مُّؤۡمِنُونَ ٤١

(41) هغوی (ملايك) به ووايي: تا لره پاکي ده، ته له دوی نه غير زمونږ مولیٰ (او کارساز) يې بلکې دوی به د پېريانو عبادت کاوه، د دوی اکثره پر هغوی ايمان راوړونکي وو

فَٱلۡيَوۡمَ لَا يَمۡلِكُ بَعۡضُكُمۡ لِبَعۡضٖ نَّفۡعٗا وَلَا ضَرّٗا وَنَقُولُ لِلَّذِينَ ظَلَمُواْ ذُوقُواْ عَذَابَ ٱلنَّارِ ٱلَّتِي كُنتُم بِهَا تُكَذِّبُونَ ٤٢

(42) نو نن ورځ ستاسو ځينې د ځينو نورو لپاره نه د هېڅ نفعې اختيار لري اونه د ضرر او مونږ به هغو کسانو ته چې ظلم (شرك) يې کړی دی،ووايو: تاسو د هغه اور عذاب وڅکئ چې تاسو به د هغه تکذيب کاوه

وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٖ قَالُواْ مَا هَٰذَآ إِلَّا رَجُلٞ يُرِيدُ أَن يَصُدَّكُمۡ عَمَّا كَانَ يَعۡبُدُ ءَابَآؤُكُمۡ وَقَالُواْ مَا هَٰذَآ إِلَّآ إِفۡكٞ

(43) او کله چې دوی ته زمونږ ايتونه تلاوت کولی شي، چې ښه واضح دي (نو) دوی وايي: نه دی دا مګر يو داسې سړی دی چې غواړي چې تاسو د هغو (معبودانو له عبادت) نه منع کړي چې ستاسو پلرونو به يې عبادت

مُّفۡتَرٗىۚ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِلۡحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمۡ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا سِحۡرٞ مُّبِينٞ ٤٣

كاوه او دوى وايي: دا (قرآن) نه دى مگر خالص دروغ دي چې له ځانه جوړ کړى شوي دي او کافران شوي خلق د حق(قرآن) په باره کې وايي کله چې دوى ته راغى: نه دى دا مگر ښکاره جادو

وَمَآ ءَاتَيۡنَٰهُم مِّن كُتُبٖ يَدۡرُسُونَهَاۖ وَمَآ أَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡهِمۡ قَبۡلَكَ مِن نَّذِيرٖ ٤٤

(44) حال دا چې مونږ دوى ته هېڅ کتابونه نه دي ورکړي چې دوى يې لولي او نه له تا نه مخکې مونږ دوى ته هېڅ وېروونکى لېږلى دى

وَكَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَمَا بَلَغُواْ مِعۡشَارَ مَآ ءَاتَيۡنَٰهُمۡ فَكَذَّبُواْ رُسُلِيۖ فَكَيۡفَ كَانَ نَكِيرِ ٤٥

(45) او هغو کسانو تکذيب کړى و، چې له دوى نه مخکې وو، حال دا چې دوى (د مکې کافران) نه دي رسېدلي لسمې برخې ته د هغه (قوت او قدرت) چې ما هغوى (مخکينو کافرانو) ته ورکړى و، نو هغوى زمونږ د رسولانو تکذيب وکړ، بيا نو زما انکار څنگه و

۞قُلۡ إِنَّمَآ أَعِظُكُم بِوَٰحِدَةٍۖ أَن تَقُومُواْ لِلَّهِ مَثۡنَىٰ وَفُرَٰدَىٰ ثُمَّ تَتَفَكَّرُواْۚ مَا بِصَاحِبِكُم مِّن جِنَّةٍۚ إِنۡ هُوَ إِلَّا نَذِيرٞ لَّكُم بَيۡنَ يَدَيۡ عَذَابٖ شَدِيدٖ ٤٦

(46) ته (دوى ته) وايه: بېشکه زه تاسو ته يواځې ديوې خبرې وعظ کوم، دا چې تاسو خاص الله ته ودرېږئ، دوه دوه او يو يو، بيا ښه فکر وکړئ چې ستاسو په ملگري کې هېڅ لېونتوب نشته، نه دى دا مگر تاسو لره وېرووونکى، د ډېر سخت عذاب نه مخکې

قُلۡ مَا سَأَلۡتُكُم مِّنۡ أَجۡرٖ فَهُوَ لَكُمۡۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٞ ٤٧

(47) ته (دوی ته) ووایه: هغه چې ما له تاسو نه څه اجرت غوښتی وي، نو هغه دې تاسو لپاره وي، زما اجر نشته مگر په الله باندې دی او هغه په هر شي باندې ښه گواه (او ښه خبردار) دی

قُلۡ إِنَّ رَبِّي يَقۡذِفُ بِٱلۡحَقِّ عَلَّٰمُ ٱلۡغُيُوبِ ٤٨

(48) ته ووایه: بېشکه زما رب حق رالېږي (هغه) د پټو خبرو ښه عالم دی

قُلۡ جَآءَ ٱلۡحَقُّ وَمَا يُبۡدِئُ ٱلۡبَٰطِلُ وَمَا يُعِيدُ ٤٩

(49) ته ووایه: حق راغی او باطل نه اول ځلي پیدا کول کولی شي او نه دوباره ژوندي کول کولی شي

قُلۡ إِن ضَلَلۡتُ فَإِنَّمَآ أَضِلُّ عَلَىٰ نَفۡسِيۖ وَإِنِ ٱهۡتَدَيۡتُ فَبِمَا يُوحِيٓ إِلَيَّ رَبِّيٓۚ إِنَّهُۥ سَمِيعٞ قَرِيبٞ ٥٠

(50) ته (دوی ته) ووایه: که چېرې زه گمراه شم، نو یقینًا یواځې د خپل ځان په ضرر گمراه کېږم او که ما هدایت موندہ، نو په سبب د هغه کلام چې زما رب یې ما ته وحي کوي، بېشکه هغه ښه اورېدونکی، ډېر نژدې دی

وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذۡ فَزِعُواْ فَلَا فَوۡتَ وَأُخِذُواْ مِن مَّكَانٖ قَرِيبٖ ٥١

(51) او که ته ووینې کله چې دوی ووېرېږي، نو هېڅ خلاصی به نه وي او دوی به له ډېر نژدې ځایه ونیول شي

وَقَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِهِۦ وَأَنَّىٰ لَهُمُ ٱلتَّنَاوُشُ مِن مَّكَانِۭ بَعِيدٖ ٥٢

(52) او دوی به ووايي: مونږ په دغه (الله) ايمان راوړی دی، او د دوی لپاره به د ډېر لرې ځای نه نيول له کومه وي!

وَقَدۡ كَفَرُواْ بِهِۦ مِن قَبۡلُۖ وَيَقۡذِفُونَ بِٱلۡغَيۡبِ مِن مَّكَانِۭ بَعِيدٖ ٥٣

(53) حال دا چې يقينًا دوی په ده سره له دې نه مخکې کافران شوي وو او دوی به بې له ليدلو ويشتل کول، له ډېر لرې ځايه

وَحِيلَ بَيۡنَهُمۡ وَبَيۡنَ مَا يَشۡتَهُونَ كَمَا فُعِلَ بِأَشۡيَاعِهِم مِّن قَبۡلُۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ فِي شَكّٖ مُّرِيبِۭ ٥٤

(54) او پرده به واچول شي د دوی په مینځ کې او په مینځ د هغه شي کې چې دوی يې غوښتي (او ارمان يې کوي) لکه چې د دوی له ملګرو (هم جنسو) سره(دا کار) کړی شوی و له دوی نه مخکې، بېشکه دوی په اضطراب اچوونکي شك کې وو

## سُورَةُ فَاطِرٍ

## سورة فاطر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ جَاعِلِ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلًا أُوْلِيٓ أَجۡنِحَةٖ مَّثۡنَىٰ وَثُلَٰثَ وَرُبَٰعَۚ

(1) ټولې ستاينې خاص د الله لپاره دي چې د اسمانونو او ځمکې پيدا کوونکی دی، ملايکو لره رسولان ګرځوونکی دی، (داسې ملايك

يَزِيدُ فِي ٱلۡخَلۡقِ مَا يَشَآءُۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ١

چې د وزرو والا دي، دوه دوه او درې درې او څلور څلور، هغه په تخليق کې زياتوي چې څه وغواړي، بېشکه الله په هر شي باندې ښه قادر دی

مَّا يَفۡتَحِ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ مِن رَّحۡمَةٖ فَلَا مُمۡسِكَ لَهَاۖ وَمَا يُمۡسِكۡ فَلَا مُرۡسِلَ لَهُۥ مِنۢ بَعۡدِهِۦۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٢

(2) هر هغه شی چې الله يې د خلقو لپاره له رحمته پرانيزي، نو د هغه (رحمت) هيڅوك بندوونکی نشته او هر شی چې هغه يې بند کړي، نو د هغه راخلاصوونکی نشته د هغه (الله) نه بعد، همغه ښه غالب، ښه حکمت والا دی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡۚ هَلۡ مِنۡ خَٰلِقٍ غَيۡرُ ٱللَّهِ يَرۡزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ فَأَنَّىٰ تُؤۡفَكُونَ ٣

(3) ای خلقو! تاسو د الله هغه نعمتونه ياد کړئ چې په تاسو شوي دي، ايا له الله نه غير (بل) خالق شته، چې تاسو ته له اسمان او ځمکې نه رزق درکوي؟ نشته هېڅ حق معبود مگر هم دی دی، نو کوم اړخ ته تاسو گرځولی کېږئ

وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدۡ كُذِّبَتۡ رُسُلٞ مِّن قَبۡلِكَۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ ٤

(4) او که چېرې دوی ستا تکذيب وکړي، نو يقينًا له تا نه د مخکينو رسولانو هم تکذيب شوی دی، او خاص الله ته ټول کارونه بېرته گرځولی شي

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞۖ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِٱللَّهِ ٱلۡغَرُورُ ٥

(5) اى خلقو! بېشكه د الله وعده حقه ده، نو تاسو دې دنيايي ژوند له سره غره (دوكه) نه كړي او تاسو دې ډېر غره (دوكه) كوونكى د الله په باره كې له سره غره نه كړي

إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ لَكُمۡ عَدُوّٞ فَٱتَّخِذُوهُ عَدُوًّاۚ إِنَّمَا يَدۡعُواْ حِزۡبَهُۥ لِيَكُونُواْ مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلسَّعِيرِ ٦

(6) بېشكه شيطان هم ستاسو دښمن دى، نو تاسو هغه دښمن وګڼئ، يقينًا همدا خبره ده چې هغه خپله ډله رابلي، د دې لپاره چې دوى له دوزخيانو څخه شي

ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدٞۖ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَأَجۡرٞ كَبِيرٌ ٧

(7) هغه كسان چې كافران شوي دي، د دوى لپاره ډېر سخت عذاب دى او هغه كسان چې ايمان يې راوړى دى او نېك عملونه يې كړي دي، د دوى لپاره مغفرت او ډېر لوى اجر دى

أَفَمَن زُيِّنَ لَهُۥ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ فَرَءَاهُ حَسَنٗاۖ فَإِنَّ ٱللَّهَ يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُۖ فَلَا تَذۡهَبۡ نَفۡسُكَ عَلَيۡهِمۡ حَسَرَٰتٍۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِمَا يَصۡنَعُونَ ٨

(8) ايا نو هغه كس چې هغه ته خپل بد عمل ښايسته كړى شي، پس هغه، دغه (بد عمل) ښه ويني، (ګڼي) نو بېشكه الله ګمراه كوي چا له چې وغواړي او هدايت وركوي چا له چې وغواړي، نو ستا نفس دې په (ګمراهۍ د دوى د افسوس له وجې نه نه هلاكېږي، بېشكه چې الله ښه عالم دى په هغو كارونو چې دوى يې كوي

وَٱللَّهُ ٱلَّذِىٓ أَرۡسَلَ ٱلرِّيَٰحَ فَتُثِيرُ سَحَابٗا فَسُقۡنَٰهُ إِلَىٰ بَلَدٖ مَّيِّتٖ فَأَحۡيَيۡنَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَاۚ كَذَٰلِكَ ٱلنُّشُورُ ٩

(9) او الله هغه ذات دی چې بادونه رالېږي،پس هغه (بادونه) ورېځې راپورته کوي، بیا مونږ هغه (ورېځ) مړ ښار ته بوځو، بیا په هغې سره ځمکه راژوندۍ کړو، د هغې له مرګ نه پس، همداسې به وي بیا ژوندي پورته کول

مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡعِزَّةَ فَلِلَّهِ ٱلۡعِزَّةُ جَمِيعًاۚ إِلَيۡهِ يَصۡعَدُ ٱلۡكَلِمُ ٱلطَّيِّبُ وَٱلۡعَمَلُ ٱلصَّٰلِحُ يَرۡفَعُهُۥۚ وَٱلَّذِينَ يَمۡكُرُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدٞۖ وَمَكۡرُ أُوْلَٰٓئِكَ هُوَ يَبُورُ ١٠

(10) هر هغه څوك چې هغه عزت غواړي، نو خاص الله ته دی ټول عزت، همدغه (الله) ته پاکیزه خبرې پورته خېژي او نېك عمل دغه (کلمات) پورته کوي او هغه کسان چې ناکاره (بد) مکرونه جوړوي، د دوی لپاره ډېر سخت عذاب دی او د دغو کسانو مکر، هم هغه باطل (او هلاك) دی

وَٱللَّهُ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٖ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ ثُمَّ جَعَلَكُمۡ أَزۡوَٰجٗاۚ وَمَا تَحۡمِلُ مِنۡ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلۡمِهِۦۚ وَمَا يُعَمَّرُ مِن مُّعَمَّرٖ وَلَا يُنقَصُ مِنۡ عُمُرِهِۦٓ إِلَّا فِي كِتَٰبٍۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ ١١

(11) او الله تاسو له خاورې نه پیدا کړي یئ، بیا یې له نطفې نه، بیا یې تاسو جوړې جوړې (ښځه او خاوند) وګرځولئ او نه حامله کېږي هېڅ یوه ښځه او نه زېږوي (بچي لره) مګر د هغه (الله) په علم سره او د هېڅ عمر اوږد کړی شوي عمر نه اوږدول کېږي او نه د هغه له عمر نه کمی کولی شي مګر ( دا هر څه) په کتاب کې (ثابت) دي، بېشکه دغه (د عمر

لنډول او اوږدول) الله ته ډېر اسان دي

وَمَا يَسۡتَوِي ٱلۡبَحۡرَانِ هَٰذَا عَذۡبٌ
فُرَاتٞ سَآئِغٞ شَرَابُهُۥ وَهَٰذَا مِلۡحٌ
أُجَاجٞۖ وَمِن كُلّٖ تَأۡكُلُونَ لَحۡمٗا
طَرِيّٗا وَتَسۡتَخۡرِجُونَ حِلۡيَةٗ
تَلۡبَسُونَهَاۖ وَتَرَى ٱلۡفُلۡكَ فِيهِ
مَوَاخِرَ لِتَبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِهِۦ
وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ١٢

(12) او هغه دواړه بحرونه(سيندونه) سره نه برابرېږي دا يو خوږ دی، ډېر خوږ، (تنده ماتوونكی) دی، د ده اوبه په اسانۍ سره تېرېدونكې دي او دا (بل) تريو(او) سخت تريخ دی، او تاسو له هر يو څخه تازه غوښې خورئ اوتاسو هغه زيوارت راوباسئ چې تاسو يې اغوندئ او ته په دغه (سمندر) كې كشتۍ وينې، په داسې حال كې چې (اوبو لره) څيرونكې رواني وي، د دې لپاره چې تاسو د هغه (الله) له فضله ولټوئ او د دې لپاره چې تاسو شكر وباسئ

يُولِجُ ٱلَّيۡلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ
ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيۡلِ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ
وَٱلۡقَمَرَۖ كُلّٞ يَجۡرِي لِأَجَلٖ مُّسَمّٗىۚ
ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡ لَهُ ٱلۡمُلۡكُۚ
وَٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ مَا
يَمۡلِكُونَ مِن قِطۡمِيرٍ ١٣

(13) دغه (الله) شپه په ورځ كې ننباسي او ورځ په شپه كې ننباسي او هغه په كار اچولې دي لمر اوسپوږمی، هر يو تر مقررې نېټې پورې روان دی، دغه الله ستاسو رب دی، خاص د ده لپاره بادشاهي ده او هغه (معبودان) چې تاسو يې له دغه (الله) نه غير بولئ، دوی د كجورې د زړي د پردې هم مالكان نه دي

إِن تَدۡعُوهُمۡ لَا يَسۡمَعُواْ

(14) كه تاسو دوی وبولئ، دوی ستاسو بلنه

دُعَآءَكُمۡ وَلَوۡ سَمِعُواْ مَا ٱسۡتَجَابُواْ لَكُمۡۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَكۡفُرُونَ بِشِرۡكِكُمۡۚ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثۡلُ خَبِيرٖ ١٤

نه اوري او که چېرې وايې وري، نو دوی ستاسو بلنه قبلولی نه شي او د قيامت په ورځ به دوی ستاسو په شريك جوړولو منکر شي او تا ته (بل څوك) خبر نشي درکولی د ښه خبرداره (الله) په شان

۞يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ أَنتُمُ ٱلۡفُقَرَآءُ إِلَى ٱللَّهِۖ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلۡغَنِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ١٥

(15) ای خلقو! هم تاسو الله ته محتاجان يئ، او الله، هم دی ښه بې پروا، ښه ستايل شوی دی

إِن يَشَأۡ يُذۡهِبۡكُمۡ وَيَأۡتِ بِخَلۡقٖ جَدِيدٖ ١٦

(16) که هغه اراده وکړي (نو) تاسو به ختم کړي او نور نوی مخلوق به راولي

وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ بِعَزِيزٖ ١٧

(17) او دغه الله ته هېڅ ګران (او مشکل نه) دي

وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ أُخۡرَىٰۚ وَإِن تَدۡعُ مُثۡقَلَةٌ إِلَىٰ حِمۡلِهَا لَا يُحۡمَلۡ مِنۡهُ شَيۡءٞ وَلَوۡ كَانَ ذَا قُرۡبَىٰٓۗ إِنَّمَا تُنذِرُ ٱلَّذِينَ يَخۡشَوۡنَ رَبَّهُم بِٱلۡغَيۡبِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَۚ وَمَن تَزَكَّىٰ فَإِنَّمَا يَتَزَكَّىٰ لِنَفۡسِهِۦۚ وَإِلَى ٱللَّهِ ٱلۡمَصِيرُ ١٨

(18) او هېڅ پورته کوونکی د بل د ګناه بار نه پورته کوي او که دروند باری خپل بار ته (بل څوك) راوبولي (، نو) له هغه نه به هېڅ شی وانه خستی شي اګر که د خپلوۍ والا هم وي، بېشکه همدا خبره ده چې ته يواځې هغه کسان وېروې چې له خپل رب نه په غيبو سره خشيت (او وېره) کوي او لمونځ قايموي او هغه څوك چې پاکي حاصلوي، نو همدا خبره

ده چې هغه د ځان (د فايدې) لپاره پاکي حاصلوي اوخاص الله ته بېرته ورتله دي

وَمَا يَسۡتَوِي ٱلۡأَعۡمَىٰ وَٱلۡبَصِيرُ ١٩

(19) او ړوند اوليدونکی (بينا) سره برابرېدی نشي

وَلَا ٱلظُّلُمَٰتُ وَلَا ٱلنُّورُ ٢٠

(20) او نه هم تيارې او رڼا)

وَلَا ٱلظِّلُّ وَلَا ٱلۡحَرُورُ ٢١

(21) او نه هم سېوری او گرم باد (يا تېز لمر)

وَمَا يَسۡتَوِي ٱلۡأَحۡيَآءُ وَلَا ٱلۡأَمۡوَٰتُۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُسۡمِعُ مَن يَشَآءُۖ وَمَآ أَنتَ بِمُسۡمِعٖ مَّن فِي ٱلۡقُبُورِ ٢٢

(22) او نه هم ژوندي او مړي، بېشکه الله اوروي هغه چا ته چې يې وغواړي او ته نشې اورولی هغه چا ته چې په قبرونو کې دي

إِنۡ أَنتَ إِلَّا نَذِيرٌ ٢٣

(23) نه يې ته مگر وېروونکی

إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ بَشِيرٗا وَنَذِيرٗاۚ وَإِن مِّنۡ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٞ ٢٤

(24) بېشکه مونږ ته په حق (دين) سره لېږلی يې چې زېرى ورکوونکی او وېروونکی يې او نه و هېڅ يو امت مگر په هغه کې يو وېروونکی تېر شوی دی

وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدۡ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَبِٱلزُّبُرِ وَبِٱلۡكِتَٰبِ

(25) او که چېرې دوی تا دروغجن وبولي، نو يقينًا (خپل انبياء) دروغجن بللي وو هغو کسانو چې له دوی نه مخکې وو، دوی ته د

ٱلْمُنِيرِ ﴿٢٥﴾

دوی رسولان په ښکاره دليلونو سره، او په صحيفو سره او په روښانه رڼا کوونکي کتاب سره راغلي وو

ثُمَّ أَخَذْتُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ۖ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿٢٦﴾

(26) بيا ما هغه کسان ونيول چې کافران شول، نو زما انکار څرنګه و؟

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجْنَا بِهِۦ ثَمَرَٰتٍ مُّخْتَلِفًا أَلْوَٰنُهَاۚ وَمِنَ ٱلْجِبَالِ جُدَدٌۢ بِيضٌ وَحُمْرٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهَا وَغَرَابِيبُ سُودٌ ﴿٢٧﴾

(27) ايا تا نه دي ليدلي چې بېشكه الله له بره نه اوبه نازلې کړې دي، بيا مونږ په دغو سره داسې مېوې راوېستلې دي چې د هغو رنګونه مختلف دي او په غرونو کې ځينې سپينې او سرې لارې دي، چې د دغو (لارو) رنګونه سره مختلف دي او (ځينې په دوی کې) ډېرې تکې تورې دي

وَمِنَ ٱلنَّاسِ وَٱلدَّوَآبِّ وَٱلْأَنْعَٰمِ مُخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهُۥ كَذَٰلِكَۗ إِنَّمَا يَخْشَى ٱللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ ٱلْعُلَمَٰٓؤُا۟ۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ ﴿٢٨﴾

(28) او له خلقو او زنده سرو او څارويو څخه (داسې قسم دی چې) د دغو رنګونه سره مختلف دي هم داسې، بېشكه هم دا خبره ده چې له الله نه د هغه په بنده ګانو کې يواځې عالمان وېرېږي، بېشكه الله ښه غالب، ډېر بخښونکی دی

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَتْلُونَ كِتَٰبَ ٱللَّهِ وَأَقَامُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنفَقُوا۟ مِمَّا

(29) بېشكه هغه کسان چې د الله کتاب لولي او لمونځ قايموي او انفاق کوي له هغه (مال)

رَزَقۡنَٰهُمۡ سِرّٗا وَعَلَانِيَةٗ يَرۡجُونَ
تِجَٰرَةٗ لَّن تَبُورَ ﴿٢٩﴾

نه چې دوی ته مونږ ورکړی دی، په پټه او په
ښکاره، دوی د داسې تجارت امېد لري چې له
سره به هلاك نشي

لِيُوَفِّيَهُمۡ أُجُورَهُمۡ وَيَزِيدَهُم مِّن
فَضۡلِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ غَفُورٞ شَكُورٞ ﴿٣٠﴾

(30) د دې لپاره چې (الله) دوی ته د دوی
اجرونه پوره ورکړي او دوی ته له خپله فضله
زيات ورکړي، بېشکه چې دغه (الله) ډېر
بخښونکی، ښه قدردان دی

وَٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ
هُوَ ٱلۡحَقُّ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِۗ
إِنَّ ٱللَّهَ بِعِبَادِهِۦ لَخَبِيرُۢ بَصِيرٞ ﴿٣١﴾

(31) او هغه څه چې مونږ تا ته له کتابه وحي
کړې دي هم دغه حق دي، په داسې حال
کې چې تصديق کوونکی دی د هغو (کتابونو)
چې له ده نه مخکې وو، بېشکه الله په خپلو
بنده ګانو باندې خامخا ښه خبردار، ښه
ليدونکی دی

ثُمَّ أَوۡرَثۡنَا ٱلۡكِتَٰبَ ٱلَّذِينَ
ٱصۡطَفَيۡنَا مِنۡ عِبَادِنَاۖ فَمِنۡهُمۡ
ظَالِمٞ لِّنَفۡسِهِۦ وَمِنۡهُم مُّقۡتَصِدٞ
وَمِنۡهُمۡ سَابِقُۢ بِٱلۡخَيۡرَٰتِ بِإِذۡنِ
ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَضۡلُ ٱلۡكَبِيرُ ﴿٣٢﴾

(32) بيا مونږ د دغه کتاب (قرآن) وارثان کړل
هغه کسان چې مونږ په خپلو بنده ګانو کې
غوره (او انتخاب) کړي وو، بيا په دوی کې
ځينې په خپل ځان ظلم کوونکي دي او
ځينې په دوی کې مېنځ لاري دي او ځينې
په دوی کې نېکيو ته ړومبی کېدونکي دي، د
الله په حکم سره، يقيناً همدغه ډېر لوی فضل
دی

جَنَّٰتُ عَدۡنٖ يَدۡخُلُونَهَا يُحَلَّوۡنَ فِيهَا مِنۡ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٖ وَلُؤۡلُؤٗاۖ وَلِبَاسُهُمۡ فِيهَا حَرِيرٞ ٣٣

(33) د تل استوګنې جنتونه دي، دوی به دغو ته ننوځي، دوی به په دغو (جنتونو) کې د سرو زرو په بنګړو سره او په ملغلرو سره زیور دار (اراسته) کولی شي او د دوی جامې به په دغو (جنتونو) کې وربښم وي

وَقَالُواْ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِيٓ أَذۡهَبَ عَنَّا ٱلۡحَزَنَۖ إِنَّ رَبَّنَا لَغَفُورٞ شَكُورٌ ٣٤

(34) او دوی به ووايي: ټول د کمال صفتونه خاص هغه الله لره دي چې زمونږ نه یې غم (خفګان) ختم کړ، بېشکه زمونږ رب خامخا ډېر بخښونکی، بې حده قدردان دی

ٱلَّذِيٓ أَحَلَّنَا دَارَ ٱلۡمُقَامَةِ مِن فَضۡلِهِۦ لَا يَمَسُّنَا فِيهَا نَصَبٞ وَلَا يَمَسُّنَا فِيهَا لُغُوبٞ ٣٥

(35) هغه (الله) چې مونږ ته یې له خپله فضله د اوسېدنې کور ته راوستو، چې مونږ ته په دغو کې نه څه تکلیف رارسېږي او نه مونږ ته په دغو کې ستوماني رارسېږي

وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَهُمۡ نَارُ جَهَنَّمَ لَا يُقۡضَىٰ عَلَيۡهِمۡ فَيَمُوتُواْ وَلَا يُخَفَّفُ عَنۡهُم مِّنۡ عَذَابِهَاۚ كَذَٰلِكَ نَجۡزِي كُلَّ كَفُورٖ ٣٦

(36) او هغه کسان چې کافران شوي دي، د دوی لپاره د جهنّم اور دی، په دوی به نه ( د بل مرګ) فیصله کېږي، پس چې دوی مړه شي او نه به له دوی نه د دغه (جهنّم) له عذاب نه کمی کولی شي، همداسې مونږ هر ډېر ناشکره ( بې ایمانه) ته بدله ورکوو

وَهُمۡ يَصۡطَرِخُونَ فِيهَا رَبَّنَآ

(37) او دوی به په دغه (دوزخ) کې چغې

أَخۡرِجۡنَا نَعۡمَلۡ صَٰلِحًا غَيۡرَ ٱلَّذِي
كُنَّا نَعۡمَلُۚ أَوَلَمۡ نُعَمِّرۡكُم مَّا
يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَن تَذَكَّرَ وَجَآءَكُمُ
ٱلنَّذِيرُۖ فَذُوقُواْ فَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِن
نَّصِيرٍ ٣٧

سورې وهي، (وايي به:) اى زمونږه ربه! ته
مونږ راوباسه، مونږ به نېك عمل وكړو غير له
هغه عمل نه چې مونږ به كاوه، او ايا مونږ
تاسو ته دومره عمر نه و دركړى چې په هغه
كې پند اخلي هر هغه څوك چې پند اخيستل
غواړي، او تاسو ته وېروونكى هم راغلى و، نو
تاسو (اوس عذاب) وڅكئ، پس د ظالمانو
لپاره هېڅ مدد كوونكى نشته

إِنَّ ٱللَّهَ عَٰلِمُ غَيۡبِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضِۚ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ
ٱلصُّدُورِ ٣٨

(38) بېشكه چې الله د اسمانونو او ځمكې د
غيبو عالم دى، بېشكه هغه د سينو په خبرو
ښه پوهېدونكى دى

هُوَ ٱلَّذِي جَعَلَكُمۡ خَلَٰٓئِفَ فِي
ٱلۡأَرۡضِۚ فَمَن كَفَرَ فَعَلَيۡهِ
كُفۡرُهُۥۖ وَلَا يَزِيدُ ٱلۡكَٰفِرِينَ
كُفۡرُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ إِلَّا مَقۡتٗاۖ
وَلَا يَزِيدُ ٱلۡكَٰفِرِينَ كُفۡرُهُمۡ إِلَّا
خَسَارٗا ٣٩

(39) دغه(الله) همغه ذات دى چې تاسو يې
په ځمكه كې (د تېرو خلقو) خليفگان جوړ
كړئ، نو هغه څوك چې كافر شو، نو خاص په
همده باندې د ده (د) كفر (ضرر) دى او
كافرانو ته د دوى كفر د خپل رب په نيز نه
ورزياتوي مگر غضب، او كافرانو ته د دوى كفر
نه ورزياتوي مگر تاوان

قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ شُرَكَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ
تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَرُونِي مَاذَا

(40) (اى نبي!) ته (دوى ته) ووايه: ايا تاسو
خپل شريكان ليدلي دي هغه چې تاسو يې
له الله نه غير بلئ، تاسو ما ته وښيئ چې دوى

خَلَقُواْ مِنَ ٱلۡأَرۡضِ أَمۡ لَهُمۡ شِرۡكٞ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ أَمۡ ءَاتَيۡنَٰهُمۡ كِتَٰبٗا فَهُمۡ عَلَىٰ بَيِّنَتٖ مِّنۡهُۚ بَلۡ إِن يَعِدُ ٱلظَّٰلِمُونَ بَعۡضُهُم بَعۡضًا إِلَّا غُرُورًا ﴿٤٠﴾

له ځمکې څخه څه پيدا کړي دي، يا د دوی لپاره په اسمانونو کې څه شراکت (او برخه) شته؟ يا مونږ دوی ته څه کتاب ورکړی دی، نو دوی له هغه نه په پاخه دليل باندې (ولاړ) دي؟ بلکې ظالمان (چې دي) د دوی ځينې د ځينو نورو سره وعده نه کوي مگر د دوکې

۞إِنَّ ٱللَّهَ يُمۡسِكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ أَن تَزُولَاۚ وَلَئِن زَالَتَآ إِنۡ أَمۡسَكَهُمَا مِنۡ أَحَدٖ مِّنۢ بَعۡدِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورٗا ﴿٤١﴾

(41) بېشکه چې الله اسمانونه او ځمکه ساتي او (نيسي يې) چې زايل نشي او قسم د ی که دواړه په زوال شي (نو) له هغه (الله) نه غير به يې هيڅوك ونه ساتلی شي (ونه نيولی) شي، بېشکه هغه (الله) دی، ښه تحمل والا، ډېر بخښونکی

وَأَقۡسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهۡدَ أَيۡمَٰنِهِمۡ لَئِن جَآءَهُمۡ نَذِيرٞ لَّيَكُونُنَّ أَهۡدَىٰ مِنۡ إِحۡدَى ٱلۡأُمَمِۖ فَلَمَّا جَآءَهُمۡ نَذِيرٞ مَّا زَادَهُمۡ إِلَّا نُفُورًا ﴿٤٢﴾

(42) او دوی په الله قسمونه وخوړل، خپل پاخه قسمونه، خامخا که دوی ته کوم وېروونکی راغی (نو) دوی به خامخا ضرور په امتونو کې له هر يو نه ډېر هدايت موندونکي وي، نوکله چې دوی ته وېروونکی راغی، نو دوی ته يې زياته نه کړه مگر تېښته

ٱسۡتِكۡبَارٗا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَكۡرَ ٱلسَّيِّيِٕۚ وَلَا يَحِيقُ ٱلۡمَكۡرُ ٱلسَّيِّئُ إِلَّا بِأَهۡلِهِۦۚ فَهَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّا

(43) په ځمکه کې د لويي کولو لپاره او د ډېر بد مکر کولو لپاره، او ډېر بد مکر يواځې په خپل اهل (مکر کوونکي) چاپېره کېږي، نو

سُنَّتَ ٱلۡأَوَّلِينَۚ فَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ ٱللَّهِ تَبۡدِيلٗاۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ ٱللَّهِ تَحۡوِيلًا ﴿٤٣﴾

دوی انتظار نه کوي مګر د ړومبنو خلقو د طریقې، نو ته به د الله طریقې لره له سره هېڅ تبدیلي ونه مومې او ته به د الله طریقې لره له سره څه ګرځول ونه مومې

أَوَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَكَانُوٓاْ أَشَدَّ مِنۡهُمۡ قُوَّةٗۚ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعۡجِزَهُۥ مِن شَيۡءٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَلِيمٗا قَدِيرٗا ﴿٤٤﴾

(44) ایا دوی په ځمکه کې نه دي ګرځېدلي، پس چې ووینې چې د هغو کسانو انجام څنګه و چې له دوی نه مخکې وو، او هغوی له دوی نه په قوت کې زیات سخت و او الله کله هم داسې نه دی چې هغه لره دې عاجزه کړي هېڅ کوم شی په اسمانونو کې او په ځمکه کې، بېشکه هغه (الله) له ازله ښه پوه، ښه قادر دی

وَلَوۡ يُؤَاخِذُ ٱللَّهُ ٱلنَّاسَ بِمَا كَسَبُواْ مَا تَرَكَ عَلَىٰ ظَهۡرِهَا مِن دَآبَّةٖ وَلَٰكِن يُؤَخِّرُهُمۡ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗىۖ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِعِبَادِهِۦ بَصِيرَۢا ﴿٤٥﴾

(45) او که چېرې الله خلق نیولي وی په سبب د هغو (بدو عملونو) چې دوی کړي دي، نو د دې (ځمکې) په شا به یې هېڅ زنده سر(خوځنده) نه و پرېښی او لیکن دوی تر ټاکل شوې نېټې پورې وروسته کوي، نو کله چې د دوی نېټه راشي، نو بېشکه الله خپلو بنده ګانو لره ښه لیدونکی دی

## سُورَةُ يسٓ

## سورة يس

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى

يسٓ ١

(1) يا، سين

وَٱلۡقُرۡءَانِ ٱلۡحَكِيمِ ٢

(2) قسم دى په قرآن، چې ډېر د حكمت والا دى

إِنَّكَ لَمِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٣

(3) ببشكه ته، يقينًا له رسولانو څخه يې

عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ٤

(4) په نبغه لار يې

تَنزِيلَ ٱلۡعَزِيزِ ٱلرَّحِيمِ ٥

(5) (دغه قرآن) د ډېر غالب، بې حده مهربان نازلول دي

لِتُنذِرَ قَوۡمٗا مَّآ أُنذِرَ ءَابَآؤُهُمۡ فَهُمۡ غَٰفِلُونَ ٦

(6) د دې لپاره چې ته هغه قوم ووېروې چې د دوى پلرونه نه دي وېرول شوي، نو (ځكه) دوى غافلان دي

لَقَدۡ حَقَّ ٱلۡقَوۡلُ عَلَىٰٓ أَكۡثَرِهِمۡ فَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ٧

(7) يقينًا يقينًا د دوى په زياترو باندې (د عذاب) خبره ثابته شوې ده، نو (په دې وجه) دوى ايمان نه راوړي

| | |
|---|---|
| إِنَّا جَعَلْنَا فِيٓ أَعْنَٰقِهِمْ أَغْلَٰلًا فَهِيَ إِلَى ٱلْأَذْقَانِ فَهُم مُّقْمَحُونَ ﴿٨﴾ | (8) ببشکه مونږ د دوی په غاړو (ځتیونو) کې طوقونه اچولي دي، نو دغه (طوقونه) تر زنو پورې دي، نو (په دې سره) دوی جګ سري کړی شوي دي |
| وَجَعَلْنَا مِنۢ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ سَدًّا وَمِنْ خَلْفِهِمْ سَدًّا فَأَغْشَيْنَٰهُمْ فَهُمْ لَا يُبْصِرُونَ ﴿٩﴾ | (9) او مونږ د دوی په مخه کې یو دېوال کړی دی او یو دېوال د دوی شا ته، پس مونږ دوی پټ کړي دي، لهذا دوی هېڅ نهویني |
| وَسَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٠﴾ | (10) او دوی ته یو شان ده که ته دوی ووېروې، یا ته دوی ونه وېروې، دوی ایمان نه راوړي |
| إِنَّمَا تُنذِرُ مَنِ ٱتَّبَعَ ٱلذِّكْرَ وَخَشِيَ ٱلرَّحْمَٰنَ بِٱلْغَيْبِ فَبَشِّرْهُ بِمَغْفِرَةٍ وَأَجْرٍ كَرِيمٍ ﴿١١﴾ | (11) ببشکه همدا خبره ده چې ته یواځې هغه څوك وېروې چې د ذکر (قرآن) پیروي کوي او له رحمٰن نه په نالیدلو وېرېږي، نو ته دغه کس ته د مغفرت او د ډېر عزت والا اجر زېری ورکړه |
| إِنَّا نَحْنُ نُحْيِ ٱلْمَوْتَىٰ وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوا۟ وَءَاثَٰرَهُمْ ۚ وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَٰهُ فِيٓ إِمَامٍ مُّبِينٍ ﴿١٢﴾ | (12) ببشکه مونږ، همدا مونږ مړي ژوندي کوو او مونږ هغه څه لیکو چې دوی یې مخکې لېږلي او د دوی پاتې نښې (هم) او هر شی، مونږ هغه په ښکاره اصل (لوح محفوظ) کې درج کړی دی |

| | |
|---|---|
| وَٱضۡرِبۡ لَهُم مَّثَلًا أَصۡحَٰبَ ٱلۡقَرۡيَةِ إِذۡ جَآءَهَا ٱلۡمُرۡسَلُونَ ١٣ | (13) او ته دوی ته د دغه کلي اوسېدونکي مثال وگرځوه، کله چې دوی ته رسولان راغلل |
| إِذۡ أَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡهِمُ ٱثۡنَيۡنِ فَكَذَّبُوهُمَا فَعَزَّزۡنَا بِثَالِثٖ فَقَالُوٓاْ إِنَّآ إِلَيۡكُم مُّرۡسَلُونَ ١٤ | (14) کله چې مونږ دوی ته دوه پېغمبران ولېږل، نو دوی هغو دواړو ته دروغجن وویل، نو مونږ (دغه) په دریم سره مضبوط کړل، نو دغو (رسولانو) وویل: بېشکه مونږ تاسو ته رسولان (رالېږل شوي) یو |
| قَالُواْ مَآ أَنتُمۡ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُنَا وَمَآ أَنزَلَ ٱلرَّحۡمَٰنُ مِن شَيۡءٍ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا تَكۡذِبُونَ ١٥ | (15) دوی وویل، تاسو نه یئ مگر زمونږ په شان انسانان او رحمٰن هېڅ شی هم نه دی نازل کړی، نه یئ تاسو مگر دروغ وایئ |
| قَالُواْ رَبُّنَا يَعۡلَمُ إِنَّآ إِلَيۡكُمۡ لَمُرۡسَلُونَ ١٦ | (16) دغو (رسولانو) وویل: زمونږ رب پوهېږي، بېشکه مونږ تاسو ته یقینًا (پېغمبران) راستول شوي یو |
| وَمَا عَلَيۡنَآ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ١٧ | (17) او زمونږ په ذمه نشته مگر ښکاره پېغام رسونه |
| قَالُوٓاْ إِنَّا تَطَيَّرۡنَا بِكُمۡۖ لَئِن لَّمۡ تَنتَهُواْ لَنَرۡجُمَنَّكُمۡ وَلَيَمَسَّنَّكُم مِّنَّا عَذَابٌ أَلِيمٞ ١٨ | (18) دغو خلقو وویل: بېشکه مونږ په تاسو سره بدفالي نیولې ده، قسم دی که تاسو منع نشوئ (،) نو مونږ به خامخا ضرور تاسو سنگسار کړو او زمونږ له جانبه به تاسو ته |

خامخا ضرور ډېر دردوونکی عذاب درورسېږي

قَالُواْ طَٰٓئِرُكُم مَّعَكُمۡ أَئِن ذُكِّرۡتُمۚ بَلۡ أَنتُمۡ قَوۡمٞ مُّسۡرِفُونَ ١٩

**(19)** دغو(پېغمبرانو) وویل: ستاسو بدفالي له هم تاسو سره ده، ایا نو که تاسو ته پند درکړی شي (نو تاسو دغه ته بدفالي وایئ؟) بلکې تاسو له حده تېرېدونکی قوم یئ

وَجَآءَ مِنۡ أَقۡصَا ٱلۡمَدِينَةِ رَجُلٞ يَسۡعَىٰ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱتَّبِعُواْ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٢٠

**(20)** او د ښار تر ټولو لرې جانب نه یو سړی راغی، چې منډې یې وهلې، ویې ویل:ای زما قومه! تاسو د رسولانو پیروي وکړئ

ٱتَّبِعُواْ مَن لَّا يَسۡـَٔلُكُمۡ أَجۡرٗا وَهُم مُّهۡتَدُونَ ٢١

**(21)** تاسو د هغه چا پیروي وکړئ چې له تاسو نه څه اجر (او مزدوري) نه غواړي، په داسې حال کې چې دوی (پخپله) هدایت موندونکي دي

وَمَا لِيَ لَآ أَعۡبُدُ ٱلَّذِي فَطَرَنِي وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ٢٢

**(22)** او په ما څه شوي دي (څه مانع دی) چې زه به د هغه ذات عبادت نه کوم چې زه یې پیدا کړی یم او خاص هغه ته به تاسو بېرته بېول کېږئ

ءَأَتَّخِذُ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً إِن يُرِدۡنِ ٱلرَّحۡمَٰنُ بِضُرّٖ لَّا تُغۡنِ عَنِّي شَفَٰعَتُهُمۡ شَيۡـٔٗا وَلَا يُنقِذُونِ ٢٣

**(23)** ایا زه له هغه (الله) نه غیر نور داسې معبوان ونیسم چې که رحمٰن ما ته د ضرر رسولو اراده وکړي، (نو) له ما نه به د دوی سفارش هېڅ شی (ضرر) دفع (لرې) نه کړی

شي او نه به ما دوی خلاص کړی شي

إِنِّيٓ إِذٗا لَّفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ٢٤

(24) ببشکه زه به په دغه وخت کې خامخا په ښکاره گمراهۍ کې یم

إِنِّيٓ ءَامَنتُ بِرَبِّكُمۡ فَٱسۡمَعُونِ ٢٥

(25) ببشکه زه چې یم، ما ستاسو په رب ایمان راوړی دی، نو تاسو (ټول) زما (دا خبره) واورئ

قِيلَ ٱدۡخُلِ ٱلۡجَنَّةَۖ قَالَ يَٰلَيۡتَ قَوۡمِي يَعۡلَمُونَ ٢٦

(26) ده ته وویل شو: ته جنت ته ننوځه! ده وویل: ای کاشکې چې زما قوم پوه شي!

بِمَا غَفَرَ لِي رَبِّي وَجَعَلَنِي مِنَ ٱلۡمُكۡرَمِينَ ٢٧

(27) په هغه شي چې زما رب ما ته په هغه سره بخښنه وکړه او زه یې له عزتمنو څخه کړمه

۞وَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَىٰ قَوۡمِهِۦ مِنۢ بَعۡدِهِۦ مِن جُندٖ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَمَا كُنَّا مُنزِلِينَ ٢٨

(28) او مونږ له هغه نه وروسته د ده په قوم باندې له اسمان نه هېڅ لښکر راکوز نه کړ او نه مونږ نازلوونکي وو

إِن كَانَتۡ إِلَّا صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ فَإِذَا هُمۡ خَٰمِدُونَ ٢٩

(29) هغه (سزا) نه وه مگر یوه چغه، نو ناڅاپه دوی مړه یخ پخ پراته وو

يَٰحَسۡرَةً عَلَى ٱلۡعِبَادِۚ مَا يَأۡتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُواْ بِهِۦ

(30) ای افسوسه په بنده گانو! دوی ته به نه راته کوم رسول مگر دوی به په هغه پورې

| | |
|---|---|
| يَسۡتَهۡزِءُونَ ٣٠ | استهزا كولې |
| أَلَمۡ يَرَوۡاْ كَمۡ أَهۡلَكۡنَا قَبۡلَهُم مِّنَ ٱلۡقُرُونِ أَنَّهُمۡ إِلَيۡهِمۡ لَا يَرۡجِعُونَ ٣١ | (31) ايا دوى نه ويني چې له دوى نه مخكې مونږ څومره امتونه هلاك كړي دي، چې يقيناً هغوى دوى ته بېرته نه راګرځي |
| وَإِن كُلٌّ لَّمَّا جَمِيعٌ لَّدَيۡنَا مُحۡضَرُونَ ٣٢ | (32) او نه دي دا هر يو مګر ټول به زمونږ په وړاندې حاضر كړى شوي وي |
| وَءَايَةٌ لَّهُمُ ٱلۡأَرۡضُ ٱلۡمَيۡتَةُ أَحۡيَيۡنَٰهَا وَأَخۡرَجۡنَا مِنۡهَا حَبًّا فَمِنۡهُ يَأۡكُلُونَ ٣٣ | (33) او د دوى لپاره يوه لويه نښه مړه (وچه كلكه) ځمكه ده، چې مونږ هغه ژوندۍ كړه او له هغې نه مونږ دانې راوويستې، نو د دغو (دانو) څخه دوى خوراك كوي |
| وَجَعَلۡنَا فِيهَا جَنَّٰتٍ مِّن نَّخِيلٍ وَأَعۡنَٰبٍ وَفَجَّرۡنَا فِيهَا مِنَ ٱلۡعُيُونِ ٣٤ | (34) او مونږ په دغه (ځمكه) كې د كجورو او انګورو باغونه پيدا كړي دي او مونږه په دغه (ځمكه) كې چينې جاري كړي دي |
| لِيَأۡكُلُواْ مِن ثَمَرِهِۦ وَمَا عَمِلَتۡهُ أَيۡدِيهِمۡۚ أَفَلَا يَشۡكُرُونَ ٣٥ | (35) د دې لپاره چې دوى د دغو (څيزونو) له مېوو نه خوراك وكړي، حال دا چې دغه (مېوې) د دوى لاسونو نه دي پيدا كړې، ايا نو دوى شكر نه وباسي |
| سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلۡأَزۡوَٰجَ | (36) پاكي ده هغه ذات لره چې دغه ټولې |

كُلَّهَا مِمَّا تُنۢبِتُ ٱلۡأَرۡضُ وَمِنۡ أَنفُسِهِمۡ وَمِمَّا لَا يَعۡلَمُونَ ٣٦

جوړې یې پیدا کړي دي، له هغو څيزونو نه چې ځمکه یې زرغونوي او د دوی له نفسونو نه او له هغو څيزونو نه چې دوی یې نه پېژني

وَءَايَةٞ لَّهُمُ ٱلَّيۡلُ نَسۡلَخُ مِنۡهُ ٱلنَّهَارَ فَإِذَا هُم مُّظۡلِمُونَ ٣٧

(37) او د دوی لپاره لویه نښه شپه (هم) ده، مونږ له هغې نه ورځ راوباسو، نو ناڅاپه دوی په تیارو کې ننوتونکي وي

وَٱلشَّمۡسُ تَجۡرِي لِمُسۡتَقَرّٖ لَّهَاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ٣٨

(38) او لمر (دی چې) په خپلې ټاکلې لارې باندې روان دی، دغه د ډېر غالب، ښه پوه ذات مُقَدر (اندازه) کول دي

وَٱلۡقَمَرَ قَدَّرۡنَٰهُ مَنَازِلَ حَتَّىٰ عَادَ كَٱلۡعُرۡجُونِ ٱلۡقَدِيمِ ٣٩

(39) او سپوږمۍ لره، مونږ د هغې لپاره منزلونه مقرر کړي دي، تر هغه پورې چې دا شي لکه د کجورې وچ ډنډورکی

لَا ٱلشَّمۡسُ يَنۢبَغِي لَهَآ أَن تُدۡرِكَ ٱلۡقَمَرَ وَلَا ٱلَّيۡلُ سَابِقُ ٱلنَّهَارِۚ وَكُلّٞ فِي فَلَكٖ يَسۡبَحُونَ ٤٠

(40) لمر لره ممکن نه دي چې سپوږمۍ رالاندې کړي او نه شپه په ورځ ړومبی کېدونکې ده او هر یو په (خپل) مدار کې لامبو وهي

وَءَايَةٞ لَّهُمۡ أَنَّا حَمَلۡنَا ذُرِّيَّتَهُمۡ فِي ٱلۡفُلۡكِ ٱلۡمَشۡحُونِ ٤١

(41) او د دوی لپاره لویه نښه دا ده چې بېشکه مونږ د دوی اولاد په ډکه بېړۍ کې سواره کړي دي

وَخَلَقۡنَا لَهُم مِّن مِّثۡلِهِۦ مَا يَرۡكَبُونَ ﴿٤٢﴾

(42) او د دوی لپاره مو د دغې (ببړۍ) په شان هغه څيزونه پيدا کړي دي چې دوی پرې سورېږي

وَإِن نَّشَأۡ نُغۡرِقۡهُمۡ فَلَا صَرِيخَ لَهُمۡ وَلَا هُمۡ يُنقَذُونَ ﴿٤٣﴾

(43) او که مونږ وغواړو (نو) دوی به غرق کړو، بيا به دوی لپاره نه هېڅ فريادرس وي او نه به دوی له غرقېدونه خلاصول کېږي

إِلَّا رَحۡمَةٗ مِّنَّا وَمَتَٰعًا إِلَىٰ حِينٖ ﴿٤٤﴾

(44) مگر (نه يې غرقوو) له خپل جانب نه د رحمت په سبب او تر يو وخته پورې د فايدې اخيستلو لپاره

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱتَّقُواْ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيكُمۡ وَمَا خَلۡفَكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ﴿٤٥﴾

(45) او کله چې دوی ته وويل شي: تاسو ځان وساتئ له هغه (عذاب) نه چې ستاسو په مخکې دی او له هغه نه چې ستاسو شا ته (په اخرت کې) دی، د دې لپاره چې په تاسو رحم وکړی شي

وَمَا تَأۡتِيهِم مِّنۡ ءَايَةٖ مِّنۡ ءَايَٰتِ رَبِّهِمۡ إِلَّا كَانُواْ عَنۡهَا مُعۡرِضِينَ ﴿٤٦﴾

(46) او دوی ته د خپل رب له دليلونو نه هېڅ دليل نه راځي، مگر دوی له هغو نه مخ گرځوونکي دي

وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ أَنفِقُواْ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ قَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ

(47) او کله چې دوی ته وويل شي چې تاسو له هغه (مال) نه ځينې ولگوئ چې الله تاسو

لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنُطۡعِمُ مَن لَّوۡ يَشَآءُ ٱللَّهُ أَطۡعَمَهُۥٓ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ٤٧

ته درکړی دی، نو کافران شوي (د الله منکر) کسان هغو خلقو ته چې ایمان یې راوړی دی؛ وایي: ایا مونږ هغه چا ته طعام ورکړو چې که الله غوښتلی (نو) هغه ته به یې طعام ورکړی وی. نه یئ تاسو مګر په ښکاره ګمراهۍ کې

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلۡوَعۡدُ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٤٨

(48) او دوی (کفار) وایي: (د قیامت) دغه وعده به کله وي که تاسو رښتیني یئ

مَا يَنظُرُونَ إِلَّا صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ تَأۡخُذُهُمۡ وَهُمۡ يَخِصِّمُونَ ٤٩

(49) دوی انتظار نه کوي مګر د یوې داسې چغې چې دوی به ونیسي، په داسې حال کې چې دوی به یو له بله سره جګړې کوي

فَلَا يَسۡتَطِيعُونَ تَوۡصِيَةٗ وَلَآ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِمۡ يَرۡجِعُونَ ٥٠

(50) نو نه به د وصیت کولو توان ولري او نه به خپل اهل ته بېرته ورشي

وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَإِذَا هُم مِّنَ ٱلۡأَجۡدَاثِ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ يَنسِلُونَ ٥١

(51) او په شپېلۍ کې به پوکی وکړی شي، نو ناڅاپه به دوی له قبرونو نه د خپل رب په طرف منډې وهي

قَالُواْ يَٰوَيۡلَنَا مَنۢ بَعَثَنَا مِن مَّرۡقَدِنَاۜۗ هَٰذَا مَا وَعَدَ ٱلرَّحۡمَٰنُ وَصَدَقَ ٱلۡمُرۡسَلُونَ ٥٢

(52) دوی به وایي: ای زمونږ هلاکته! مونږ له خپل خوب ځای نه چا راپاڅولو؟ (جواب به ورکړی شي) دا هغه (ژوندون) دی چې رحمٰن یې وعده کړې وه او رسولانو رښتیا ویلي وو

إِن كَانَتۡ إِلَّا صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ فَإِذَا هُمۡ جَمِيعٞ لَّدَيۡنَا مُحۡضَرُونَ ٥٣

(53) دغه (پوکی) به نه وي مگر يوه چغه، نو ناڅاپه به دوی ټول زمونږ په وړاندي حاضر کړی شوي وي

فَٱلۡيَوۡمَ لَا تُظۡلَمُ نَفۡسٞ شَيۡـٔٗا وَلَا تُجۡزَوۡنَ إِلَّا مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٥٤

(54) نو نن ورځ به په هېڅ يو نفس باندي هېڅ شی ظلم ونه کړی شي او تاسو ته به بدله نه درکولی کېږي مگر هغه چي تاسو څه عمل کاوه

إِنَّ أَصۡحَٰبَ ٱلۡجَنَّةِ ٱلۡيَوۡمَ فِي شُغُلٖ فَٰكِهُونَ ٥٥

(55) بېشکه د جنت والا نن ورځ په مشغولتيا کي دي، خوند اخيستونکي دي

هُمۡ وَأَزۡوَٰجُهُمۡ فِي ظِلَٰلٍ عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِ مُتَّكِـُٔونَ ٥٦

(56) دوی او د دوی ښځي په سيوරو کي (ناست) دي، په تختونو باندي تکيه وهونکي دي

لَهُمۡ فِيهَا فَٰكِهَةٞ وَلَهُم مَّا يَدَّعُونَ ٥٧

(57) د دوی لپاره په دغو (جنتونو) ښي مېوي دي او د دوی لپاره هغه څه دي چي دوی يې غواړي

سَلَٰمٞ قَوۡلٗا مِّن رَّبّٖ رَّحِيمٖ ٥٨

(58) سلام دی (چي دوی ته به ويلی شي) ښکاره ويل د رب له جانبه، چي ډېر مهربان دی

وَٱمۡتَٰزُواْ ٱلۡيَوۡمَ أَيُّهَا

(59) او (وبه ويل شي:) ای مجرمانو! تاسو نن

| | |
|---|---|
| ٱلۡمُجۡرِمُونَ ٥٩ | ورځ بېل بېل شئ |
| ۞أَلَمۡ أَعۡهَدۡ إِلَيۡكُمۡ يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ أَن لَّا تَعۡبُدُواْ ٱلشَّيۡطَٰنَۖ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٞ ٦٠ | (60) ای بني ادمو! ایا ما تاسو ته کلك حکم نه و کړی، داسې چې تاسو د شیطان عبادت مه کوئ. یقینًا هغه ستاسو ښکاره دښمن دی |
| وَأَنِ ٱعۡبُدُونِيۚ هَٰذَا صِرَٰطٞ مُّسۡتَقِيمٞ ٦١ | (61) او داسې چې تاسو زما عبادت کوئ، دا نېغه لار ده؟ |
| وَلَقَدۡ أَضَلَّ مِنكُمۡ جِبِلّٗا كَثِيرًاۖ أَفَلَمۡ تَكُونُواْ تَعۡقِلُونَ ٦٢ | (62) او یقینًا یقینًا ده (شیطان) په تاسو کې ډېر خلق گمراه کړي دي، ایا نو تاسو داسې نه یئ چې عقل وچلوئ؟ |
| هَٰذِهِۦ جَهَنَّمُ ٱلَّتِي كُنتُمۡ تُوعَدُونَ ٦٣ | (63) (منکرانو ته به په اخرت کې وویل شي:) دا هغه جهنم دی چې تاسو ته به یې وعده درکول کېده |
| ٱصۡلَوۡهَا ٱلۡيَوۡمَ بِمَا كُنتُمۡ تَكۡفُرُونَ ٦٤ | (64) تاسو ده ته په نن ورځ ننوځئ، په سبب د هغه کفر چې تاسو به کاوه |
| ٱلۡيَوۡمَ نَخۡتِمُ عَلَىٰٓ أَفۡوَٰهِهِمۡ وَتُكَلِّمُنَآ أَيۡدِيهِمۡ وَتَشۡهَدُ أَرۡجُلُهُم بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ٦٥ | (65) نن ورځ به مونږ د دوی په خولو مهر ولگوو، او زمونږ سره به د دوی لاسونه خبرې کوي او د دوی پښې به گواهي کوي په هغو کارونو چې دوی به کول |

وَلَوۡ نَشَآءُ لَطَمَسۡنَا عَلَىٰٓ أَعۡيُنِهِمۡ فَٱسۡتَبَقُواْ ٱلصِّرَٰطَ فَأَنَّىٰ يُبۡصِرُونَ ﴿٦٦﴾

(66) او كه مونږ غوښتلى (نو) د دوى سترګې به مو محوه (هوارې) كړې وى، نو دوى به (خپلې معلومې) لارې ته وړاندې شوې وى، بيا به دوى څنګه ليدله

وَلَوۡ نَشَآءُ لَمَسَخۡنَٰهُمۡ عَلَىٰ مَكَانَتِهِمۡ فَمَا ٱسۡتَطَٰعُواْ مُضِيّٗا وَلَا يَرۡجِعُونَ ﴿٦٧﴾

(67) او كه مونږ غوښتلى (نو) خامخا مونږ به دوى په خپلو ځايونو كې مسخ كړې وو، نو (بيا به) دوى نه د وړاندې تللو طاقت لاره او نه به بېرته ګرځېدلى وى

وَمَن نُّعَمِّرۡهُ نُنَكِّسۡهُ فِي ٱلۡخَلۡقِۚ أَفَلَا يَعۡقِلُونَ ﴿٦٨﴾

(68) او هر هغه څوك چې مونږ هغه ته اوږد عمر وركړو (نو) هغه په تخليق (ساخت) كې نسكور كړو، ايا نو دوى عقل مندي نه كوي

وَمَا عَلَّمۡنَٰهُ ٱلشِّعۡرَ وَمَا يَنۢبَغِي لَهُۥٓۚ إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ وَقُرۡءَانٞ مُّبِينٞ ﴿٦٩﴾

(69) او مونږ ده ته شعر نه دى ښودلى او نه دا له ده سره ښايېږي، نه دى دا كتاب مګر نصيحت دى او بيانوونكى قرآن دى

لِّيُنذِرَ مَن كَانَ حَيّٗا وَيَحِقَّ ٱلۡقَوۡلُ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٧٠﴾

(70) د دې لپاره چې دغه (قرآن، يا نبي) هغه څوك ووېروي چې ژوندى وي او د دې لپاره چې په كافرانو خبره ثابته شي

أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّا خَلَقۡنَا لَهُم مِّمَّا عَمِلَتۡ أَيۡدِينَآ أَنۡعَٰمٗا فَهُمۡ لَهَا

(71) ايا دوى نه دي كتلي چې بېشكه مونږ له هغو څيزونو نه چې زمونږ لاسونو جوړ كړي

مَٰلِكُونَ ٧١

دي، دوی لپاره څاروي پیدا کړي دي، بیا دوی د هغو مالکان دي

وَذَلَّلۡنَٰهَا لَهُمۡ فَمِنۡهَا رَكُوبُهُمۡ وَمِنۡهَا يَأۡكُلُونَ ٧٢

(72) او مونږ دغه (څاروي) د دوی لپاره تابع کړي دي، نو په دغو کې ځینې د دوی سورلۍ دي او په دغو کې ځینې دوی خوري

وَلَهُمۡ فِيهَا مَنَٰفِعُ وَمَشَارِبُۚ أَفَلَا يَشۡكُرُونَ ٧٣

(73) او د دوی لپاره په دغو (څارویو) کې فایدې او مشروبونه دي، ایا نو دوی شکر نه وباسي؟

وَٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ ءَالِهَةٗ لَّعَلَّهُمۡ يُنصَرُونَ ٧٤

(74) او دوی له الله نه غیر نور معبودان ونیول، د دې لپاره چې دوی سره مدد وکړی شي

لَا يَسۡتَطِيعُونَ نَصۡرَهُمۡ وَهُمۡ لَهُمۡ جُندٞ مُّحۡضَرُونَ ٧٥

(75) دغه (معبودان) د دوی د مدد کولو طاقت نه لري، په داسې حال کې چې دوی (مشرکان) به دغو (معبودانو) ته حاضر کړی شوی لښکر وي

فَلَا يَحۡزُنكَ قَوۡلُهُمۡۘ إِنَّا نَعۡلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعۡلِنُونَ ٧٦

(76) نو تا دې د دوی وینا غمژن نه کړي، بېشکه مونږ پوهېږو په هغه (حسد، کینه) چې دوی یې پټوي او په هغه (کفر، عناد) چې دوی یې څرګندوي

أَوَلَمۡ يَرَ ٱلۡإِنسَٰنُ أَنَّا خَلَقۡنَٰهُ مِن نُّطۡفَةٖ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٞ مُّبِينٞ ٧٧

(77) ايا انسان نه دي کتلي چې ببشکه مونږ دغه (انسان) له نطفې (يو څاڅکي اوبو) نه پيدا کړی دی، نو ناڅاپه دی ښکاره سخت جګړه کوونکی دی

وَضَرَبَ لَنَا مَثَلٗا وَنَسِيَ خَلۡقَهُۥۖ قَالَ مَن يُحۡيِ ٱلۡعِظَٰمَ وَهِيَ رَمِيمٞ ٧٨

(78) او دی زمونږ لپاره مثال بيانوي او خپل پيدايښت يې هېر کړی دی، وايي: دغه هډوکي به څوک راژوندي کوي، په داسې حال کې چې هغه وراسته وي

قُلۡ يُحۡيِيهَا ٱلَّذِيٓ أَنشَأَهَآ أَوَّلَ مَرَّةٖۖ وَهُوَ بِكُلِّ خَلۡقٍ عَلِيمٌ ٧٩

(79) ته (دوی ته) ووایه: دا به هغه ذات راژوندي کوي چې دا يې اول ځلې پيدا کړې دي، او هغه په خپل مخلوق باندې ښه عالم دی

ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُم مِّنَ ٱلشَّجَرِ ٱلۡأَخۡضَرِ نَارٗا فَإِذَآ أَنتُم مِّنۡهُ تُوقِدُونَ ٨٠

(80) هغه ذات چې تاسو لپاره يې له شنې ونې نه اور پيدا کړی دی، نو ناڅاپه تاسو له دغې (شنې ونې) نه اور بلوئ

أَوَلَيۡسَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يَخۡلُقَ مِثۡلَهُمۚ بَلَىٰ وَهُوَ ٱلۡخَلَّٰقُ ٱلۡعَلِيمُ ٨١

(81) ايا هغه ذات چې اسمانونه او ځمکه يې پيدا کړي دي، په دې نه دی قادر چې هغه د دوی په شان (نور مخلوق) پيدا کړي؟ ولې نه! او هم دی ښه پيدا کوونکی، ښه پوه دی

إِنَّمَآ أَمۡرُهُۥٓ إِذَآ أَرَادَ شَيۡـًٔا أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ٨٢

(82) بېشکه د هغه امر (حکم) هم دا وي چې کله د يو شي اراده وکړي، دا چې هغه ته ووايي چې پيدا شه، نو هغه پيدا شي

فَسُبۡحَٰنَ ٱلَّذِي بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيۡءٖ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ٨٣

(83) نو پاکي ده هغه (الله) لره چې خاص د هغه په لاس کې د هر شي باچاهي ده او خاص هغه ته به بېرته بېولی کېږئ

## سُورَةُ الصَّافَّاتِ

## سورهٔ صافات

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

وَٱلصَّٰٓفَّٰتِ صَفّٗا ١

(1) قسم دی (د ملايکو) په صف جوړونکو ډلو باندې، صف جوړول

فَٱلزَّٰجِرَٰتِ زَجۡرٗا ٢

(2) بيا (شيطانانو لره) په شړونکو (ملايکو دی) سخت شړل

فَٱلتَّٰلِيَٰتِ ذِكۡرًا ٣

(3) بيا د ذکر په لوستونکو باندې

إِنَّ إِلَٰهَكُمۡ لَوَٰحِدٞ ٤

(4) چې بېشکه ستاسو معبود يقينًا يو دی

رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا

(5) چې د اسمانونو او ځمکې رب دی او د هغه څه چې د دواړو په مينځ کې دي او د

بَيۡنَهُمَا وَرَبُّ ٱلۡمَشَٰرِقِ ٥

مشرقونو رب دی

إِنَّا زَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنۡيَا بِزِينَةٍ ٱلۡكَوَاكِبِ ٦

(6) بېشکه مونږ (ځمکې ته) زیات نژدې اسمان په زینت سره ښایسته کړی دی، چې ستوري دي

وَحِفۡظًا مِّن كُلِّ شَيۡطَٰنٖ مَّارِدٖ ٧

(7) او له هر سرکښه شیطان نه مو ښه ساتلی دی

لَّا يَسَّمَّعُونَ إِلَى ٱلۡمَلَإِ ٱلۡأَعۡلَىٰ وَيُقۡذَفُونَ مِن كُلِّ جَانِبٖ ٨

(8) دغه (شیطانان) تر ټولو لوړ مجلس ته غوږ نشي نیولی او دوی له هره جانبه ویشتل شي

دُحُورٗاۖ وَلَهُمۡ عَذَابٞ وَاصِبٌ ٩

(9) د شړلو لپاره او د دوی لپاره همېشنی عذاب دی

إِلَّا مَنۡ خَطِفَ ٱلۡخَطۡفَةَ فَأَتۡبَعَهُۥ شِهَابٞ ثَاقِبٞ ١٠

(10) غیر له هغه (شیطان) نه چې وتښتوي يو کرت تښتونه، نو په ده پسې شي لمبه رڼا کوونکې

فَٱسۡتَفۡتِهِمۡ أَهُمۡ أَشَدُّ خَلۡقًا أَم مَّنۡ خَلَقۡنَآۚ إِنَّا خَلَقۡنَٰهُم مِّن طِينٖ لَّازِبِۭ ١١

(11) نو ته له دوی نه پوښتنه وکړه چې ایا دوی د تخلیق په لحاظ ډېر سخت دي، یا هغه چې مونږ پیدا کړي دي؟، بېشکه مونږ دوی له سرېښناکې خټې نه پیدا کړي دي

بَلۡ عَجِبۡتَ وَيَسۡخَرُونَ ١٢

(12) بلکې ته (د دوی په انکار) تعجب کوې،

په داسې حال کې چې دوی (په تا پورې) مسخرې کوي

وَإِذَا ذُكِّرُوا۟ لَا يَذْكُرُونَ ﴿١٣﴾

(13) او کله چې دوی ته نصیحت وکړی شي، دوی پند (نصیحت) نه اخلي

وَإِذَا رَأَوْا۟ ءَايَةً يَسْتَسْخِرُونَ ﴿١٤﴾

(14) او کله چې دوی کومه (نښه دلیل) ووینې، (نو ورپورې) ډېرې مسخرې کوي

وَقَالُوٓا۟ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾

(15) او وایي چې نه دی دا (چې مونږ ولید) مګر ښکاره جادو

أَءِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَٰمًا أَءِنَّا لَمَبْعُوثُونَ ﴿١٦﴾

(16) ایا کله چې مونږ مړه شو او خاورې او هډوکي شو، ایا په رښتیا به مونږ خامخا بیا ژوندي راپاڅول کېږو؟

أَوَءَابَآؤُنَا ٱلْأَوَّلُونَ ﴿١٧﴾

(17) او ایا زمونږ ړومبني پلرونه هم؟

قُلْ نَعَمْ وَأَنتُمْ دَٰخِرُونَ ﴿١٨﴾

(18) ته (دوی ته) ووایه: هو! په داسې حال کې چې تاسو به ذلیل هم یئ

فَإِنَّمَا هِىَ زَجْرَةٌ وَٰحِدَةٌ فَإِذَا هُمْ يَنظُرُونَ ﴿١٩﴾

(19) پس همدا خبره ده چې هغه (قیامت) خو یوه چغه ده، نو ناڅاپه به دوی ګوري

وَقَالُوا۟ يَٰوَيْلَنَا هَٰذَا يَوْمُ ٱلدِّينِ ﴿٢٠﴾

(20) او دوی به وایي: ای زمونږ هلاکته! دا د

بدلې ورځ ده

| | |
|---|---|
| هَـٰذَا يَوۡمُ ٱلۡفَصۡلِ ٱلَّذِي كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ٢١ | (21) دا د فيصلې ورځ ده، هغه ورځ چې تاسو به د دې تکذيب کاوه |
| ۞ٱحۡشُرُواْ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ وَأَزۡوَٰجَهُمۡ وَمَا كَانُواْ يَعۡبُدُونَ ٢٢ | (22) (الله به ملايکو ته ووايي:) تاسو راټول کړئ هغه کسان چې ظلم (شرك) يې کړی دی او د دوی جوړې (د عقيدې ملګري) او هغه څه چې دوی به يې عبادت کاوه |
| مِن دُونِ ٱللَّهِ فَٱهۡدُوهُمۡ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلۡجَحِيمِ ٢٣ | (23) له الله نه غير، نو تاسو دوی د دوزخ په لاره روان (او برابر) کړئ |
| وَقِفُوهُمۡۖ إِنَّهُم مَّسۡـُٔولُونَ ٢٤ | (24) او دوی ودروئ، بېشکه له دوی نه پوښتنې کول شي |
| مَا لَكُمۡ لَا تَنَاصَرُونَ ٢٥ | (25) په تاسو څه دي چې يو له بله سره مرسته نه کوئ؟ |
| بَلۡ هُمُ ٱلۡيَوۡمَ مُسۡتَسۡلِمُونَ ٢٦ | (26) بلکې دوی نن ورځ (پخپله) تسليمېدونکي دي |
| وَأَقۡبَلَ بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ يَتَسَآءَلُونَ ٢٧ | (27) او د دوی ځينې به ځينو نورو ته مخ ورواړوي، يو تربله به پوښتنې کوي |
| قَالُوٓاْ إِنَّكُمۡ كُنتُمۡ تَأۡتُونَنَا عَنِ | (28) وبه وايي (کشران مشرانو ته) بېشکه هم |

ٱلۡيَمِينِ ﴿٢٨﴾

تاسو وئ چې مونږ ته به په زور سره راتللئ

قَالُواْ بَل لَّمۡ تَكُونُواْ مُؤۡمِنِينَ ﴿٢٩﴾

(29) وبه وايي (مشران په جواب كې) بلكې تاسو پخپله ايمان راوړونكي نه وئ

وَمَا كَانَ لَنَا عَلَيۡكُم مِّن سُلۡطَٰنِۭۖ بَلۡ كُنتُمۡ قَوۡمًا طَٰغِينَ ﴿٣٠﴾

(30) او زمونږ لپاره پر تاسو باندې هېڅ زور (تسلط) نه و، بلكې تاسو پخپله سركښه قوم وئ

فَحَقَّ عَلَيۡنَا قَوۡلُ رَبِّنَآۖ إِنَّا لَذَآئِقُونَ ﴿٣١﴾

(31) نو په مونږه باندې زمونږ د رب خبره ثابته شوه، يقينًا مونږ خامخا (عذاب لره) څكونكي يو

فَأَغۡوَيۡنَٰكُمۡ إِنَّا كُنَّا غَٰوِينَ ﴿٣٢﴾

(32) نو مونږ تاسو گمراه كړئ، ببشكه مونږ (پخپله هم) گمراهان وو

فَإِنَّهُمۡ يَوۡمَئِذٖ فِي ٱلۡعَذَابِ مُشۡتَرِكُونَ ﴿٣٣﴾

(33) پس ببشكه دوى په دغه ورځ په عذاب كې سره شريكان دي

إِنَّا كَذَٰلِكَ نَفۡعَلُ بِٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿٣٤﴾

(34) ببشكه مونږ له مجرمانو سره همداسې كوو

إِنَّهُمۡ كَانُوٓاْ إِذَا قِيلَ لَهُمۡ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ يَسۡتَكۡبِرُونَ ﴿٣٥﴾

(35) ببشكه دوى (داسې) وو چې كله به دوى ته وويل شول چې له الله نه غير هېڅ لايق د عبادت نشته (،نو) دوى به تكبر كاوه

| | |
|---|---|
| وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُوٓاْ ءَالِهَتِنَا لِشَاعِرٖ مَّجۡنُونِۭ ٣٦ | (36) او دوی وايي چې ايا يقيناً مونږ په رښتيا سره د يو لېوني شاعر له وجې نه خپل معبودان (خدايان) پرېښودونکي يو |
| بَلۡ جَآءَ بِٱلۡحَقِّ وَصَدَّقَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٣٧ | (37) (داسې نه ده) بلکې دغه (نبي) حق (دين) راوړی دی، او د رسولانو تصديق يې کړی دی |
| إِنَّكُمۡ لَذَآئِقُواْ ٱلۡعَذَابِ ٱلۡأَلِيمِ ٣٨ | (38) بېشکه تاسو خامخا ډېر دردوونکي عذاب لره څکونکي يئ |
| وَمَا تُجۡزَوۡنَ إِلَّا مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٣٩ | (39) او تاسو ته بدله نه درکولی کېږي مګر د هغو عملونو چې تاسو به کول |
| إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلۡمُخۡلَصِينَ ٤٠ | (40) لېکن د الله غوره کړی شوي بنده ګان |
| أُوْلَـٰٓئِكَ لَهُمۡ رِزۡقٞ مَّعۡلُومٞ ٤١ | (41) دغه کسان چې دي، د دوی لپاره معلومه روزي ده |
| فَوَٰكِهُ وَهُم مُّكۡرَمُونَ ٤٢ | (42) چې (رنګارنګ) مېوې دي، په داسې حال کې چې دوی به عزتمن کړی شوي وي |
| فِي جَنَّـٰتِ ٱلنَّعِيمِ ٤٣ | (43) د نعمتونو په باغونو کې |
| عَلَىٰ سُرُرٖ مُّتَقَـٰبِلِينَ ٤٤ | (44) (چې ناست به وي) په تختونو يو بل ته |

مخامخ

يُطَافُ عَلَيۡهِم بِكَأۡسٖ مِّن مَّعِينِۭ ﴿٤٥﴾

(45) په دوی به د روانو صافو شرابو جامونه ګرځولی شي

بَيۡضَآءَ لَذَّةٖ لِّلشَّٰرِبِينَ ﴿٤٦﴾

(46) چې تك سپين به وي، د څښونكو لپاره به خوندور وي

لَا فِيهَا غَوۡلٞ وَلَا هُمۡ عَنۡهَا يُنزَفُونَ ﴿٤٧﴾

(47) نه به په هغو کې سر خوږی وي او نه به دوی د دغو (شرابو) په وجه نشه كولی شي

وَعِندَهُمۡ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرۡفِ عِينٞ ﴿٤٨﴾

(48) او له دوی سره به د (خپل) نظر رامنع كوونكي غټو سترګو والا حورې وي

كَأَنَّهُنَّ بَيۡضٞ مَّكۡنُونٞ ﴿٤٩﴾

(49) ګویاكې دوی پټې ساتل شوې هګۍ دي

فَأَقۡبَلَ بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ يَتَسَآءَلُونَ ﴿٥٠﴾

(50) نو د دغو (جنتیانو) ځینې به ځینو نورو ته مخ راوګرځوي، چې سره تپوس به كوي

قَالَ قَآئِلٞ مِّنۡهُمۡ إِنِّي كَانَ لِي قَرِينٞ ﴿٥١﴾

(51) په دوی کې یو ویونكی به ووایي: بېشكه زما یو دوست و

يَقُولُ أَءِنَّكَ لَمِنَ ٱلۡمُصَدِّقِينَ ﴿٥٢﴾

(52) ویل به یې: ایا یقینًا ته خامخا له تصدیق كوونكو څخه یې؟

أَءِذَا مِتۡنَا وَكُنَّا تُرَابٗا وَعِظَٰمًا أَءِنَّا لَمَدِينُونَ ٥٣

(53) ايا كله چې مونږ مړه شو او خاورې او هډوكي شو، ايا بېشكه مونږ ته به خامخا جزا راكولی شي

قَالَ هَلۡ أَنتُم مُّطَّلِعُونَ ٥٤

(54) وبه وايي: ايا تاسو كتونكي يئ؟

فَٱطَّلَعَ فَرَءَاهُ فِي سَوَآءِ ٱلۡجَحِيمِ ٥٥

(55) نو وبه ګوري، نو هغه به (د دوزخ) په مينځ كې ووينې

قَالَ تَٱللَّهِ إِن كِدتَّ لَتُرۡدِينِ ٥٦

(56) وبه وايي (كتونكی): قسم په الله! بېشكه شان دا و چې ته نژدې وې چې ما هلاك كړې

وَلَوۡلَا نِعۡمَةُ رَبِّي لَكُنتُ مِنَ ٱلۡمُحۡضَرِينَ ٥٧

(57) او كه زما د رب نعمت نه وى (نو) خامخا زه به له حاضر كړى شويو څخه وم

أَفَمَا نَحۡنُ بِمَيِّتِينَ ٥٨

(58) ايا نو مونږ مړه كېدونكي نه يو

إِلَّا مَوۡتَتَنَا ٱلۡأُولَىٰ وَمَا نَحۡنُ بِمُعَذَّبِينَ ٥٩

(59) زمونږ له ړومبي مرګ نه غير، او مونږ په عذاب كړى شوي نه يو

إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ٦٠

(60) بېشكه دا، يقينًا همدغه ډېر لوى برى دى

لِمِثۡلِ هَٰذَا فَلۡيَعۡمَلِ ٱلۡعَٰمِلُونَ ٦١

(61) د دغو (نعمتونو) مثل لپاره دې عمل كوونكي عمل وكړي

| | |
|---|---|
| أَذَٰلِكَ خَيۡرٌ نُّزُلًا أَمۡ شَجَرَةُ ٱلزَّقُّومِ ٦٢ | (62) ایا دغه د مېلمستیا په لحاظ غوره دي، یا د زقوم ونه |
| إِنَّا جَعَلۡنَٰهَا فِتۡنَةً لِّلظَّٰلِمِينَ ٦٣ | (63) ببشکه مونږ دغه (ونه) د ظالمانو (مشرکانو) لپاره فتنه (او عذاب) ګرځولې ده |
| إِنَّهَا شَجَرَةٌ تَخۡرُجُ فِيٓ أَصۡلِ ٱلۡجَحِيمِ ٦٤ | (64) ببشکه دغه داسې ونه ده چې د دوزخ په بېخ کې راوځي |
| طَلۡعُهَا كَأَنَّهُۥ رُءُوسُ ٱلشَّيَٰطِينِ ٦٥ | (65) د دغې وږي، ګویاکې هغه د شیطانانو سرونه دي |
| فَإِنَّهُمۡ لَأٓكِلُونَ مِنۡهَا فَمَالِـُٔونَ مِنۡهَا ٱلۡبُطُونَ ٦٦ | (66) پس ببشکه دوی به خامخا له هغې نه خوړونکي وي، نو له هغې نه به د خپلو خېټو ډکوونکي وي |
| ثُمَّ إِنَّ لَهُمۡ عَلَيۡهَا لَشَوۡبًا مِّنۡ حَمِيمٖ ٦٧ | (67) بیا ببشکه دوی ته به د هغې له پاسه د ایشول شویو اوبو ګډون وي |
| ثُمَّ إِنَّ مَرۡجِعَهُمۡ لَإِلَى ٱلۡجَحِيمِ ٦٨ | (68) بیا ببشکه د دوی ورتله خامخا لمبې وهونکي اور ته دي |
| إِنَّهُمۡ أَلۡفَوۡاْ ءَابَآءَهُمۡ ضَآلِّينَ ٦٩ | (69) ببشکه دوی خپل پلرونه ګمراه موندلي دي |

| | |
|---|---|
| فَهُمۡ عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِمۡ يُهۡرَعُونَ ٧٠ | (70) نو دوی د هغوی په قدمونو پسې په ډېرې تېزۍ سره منډې وهي |
| وَلَقَدۡ ضَلَّ قَبۡلَهُمۡ أَكۡثَرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ٧١ | (71) او یقینًا یقینًا له دوی نه مخکې د ړومبنو خلقو اکثره ګمراه شوي دي |
| وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا فِيهِم مُّنذِرِينَ ٧٢ | (72) او یقینًا یقینًا مونږ په دوی کې وېروونکي پېغمبران لېږلي وو |
| فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُنذَرِينَ ٧٣ | (73) نو ته وګوره چې د وېرول شویو انجام څنګه و؟ |
| إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلۡمُخۡلَصِينَ ٧٤ | (74) لیکن د الله غوره کړې بندګان (له عذاب نه خلاص دي) |
| وَلَقَدۡ نَادَىٰنَا نُوحٞ فَلَنِعۡمَ ٱلۡمُجِيبُونَ ٧٥ | (75) او یقینًا یقینًا مونږ ته نوح اواز وکړ، نو (مونږ) ښه جواب ورکوونکي یو |
| وَنَجَّيۡنَٰهُ وَأَهۡلَهُۥ مِنَ ٱلۡكَرۡبِ ٱلۡعَظِيمِ ٧٦ | (76) او مونږ هغه ته او د هغه کورنۍ ته له ډېر لوی غم نه نجات ورکړ |
| وَجَعَلۡنَا ذُرِّيَّتَهُۥ هُمُ ٱلۡبَاقِينَ ٧٧ | (77) او مونږ د هغه اولاده، بس هم هغه باقي پاتې کېدونکې وګرځوله |
| وَتَرَكۡنَا عَلَيۡهِ فِي ٱلۡأٓخِرِينَ ٧٨ | (78) او مونږ په ده باندې په وروستنیو خلقو |

کې (مدح او ثنا) پرېښودله

سَلَٰمٌ عَلَىٰ نُوحٖ فِي ٱلۡعَٰلَمِينَ ٧٩
(79) په عالمونو کې دې په نوح سلام وي

إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٨٠
(80) بېشکه مونږ نېکانو ته همداسې بدله ورکوو

إِنَّهُۥ مِنۡ عِبَادِنَا ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٨١
(81) بېشکه هغه زمونږ د مومنو بنده ګانو څخه و

ثُمَّ أَغۡرَقۡنَا ٱلۡأٓخَرِينَ ٨٢
(82) بیا مونږ هغه نور (کافر) خلق غرق کړل

۞وَإِنَّ مِن شِيعَتِهِۦ لَإِبۡرَٰهِيمَ ٨٣
(83) او بېشکه د هغه له ملګرو څخنې خامخا ابراهيم دی

إِذۡ جَآءَ رَبَّهُۥ بِقَلۡبٖ سَلِيمٍ ٨٤
(84) (یاد کړه) کله چې هغه خپل رب ته په ډېر روغ زړه سره راغی

إِذۡ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوۡمِهِۦ مَاذَا تَعۡبُدُونَ ٨٥
(85) کله چې هغه خپل پلار او خپل قوم ته وویل: څه شی دی چې تاسو یې عبادت کوئ؟

أَئِفۡكًا ءَالِهَةً دُونَ ٱللَّهِ تُرِيدُونَ ٨٦
(86) ایا تاسو د دروغو (او باطلو) لپاره له الله پرته معبودان غواړئ؟

فَمَا ظَنُّكُم بِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٨٧
(87) نو په رب العالمين مو ستاسو څه ګمان

دی

فَنَظَرَ نَظۡرَةٗ فِي ٱلنُّجُومِ ٨٨

(88) نو په ستوريو کې نظر يې واچوه، يو نظر

فَقَالَ إِنِّي سَقِيمٞ ٨٩

(89) نو ويې ويل:بېشکه زه ناجوړه يم

فَتَوَلَّوۡاْ عَنۡهُ مُدۡبِرِينَ ٩٠

(90) نو دوی له هغه نه وګرځېدل، په داسې حال کې چې شاکوونکي وو

فَرَاغَ إِلَىٰٓ ءَالِهَتِهِمۡ فَقَالَ أَلَا تَأۡكُلُونَ ٩١

(91) نو د دوی معبودانو (بتانو) ته پټ راغی، نو ويې ويل: ايا تاسو (دا خوراکونه) نه خورئ؟

مَا لَكُمۡ لَا تَنطِقُونَ ٩٢

(92) په تاسو څه شوي دي چې تاسو خبرې نه کوئ؟

فَرَاغَ عَلَيۡهِمۡ ضَرۡبَۢا بِٱلۡيَمِينِ ٩٣

(93) نو په مهارت سره يې په دوی باندې راباندې کړل، په داسې حال کې چې په ښي لاس سره وهونکی و

فَأَقۡبَلُوٓاْ إِلَيۡهِ يَزِفُّونَ ٩٤

(94) نو هغوی (مشرکانو) ده ته متوجه شول، چې ورپسې منډې يې وهلې

قَالَ أَتَعۡبُدُونَ مَا تَنۡحِتُونَ ٩٥

(95) ده وويل: ايا تاسو د هغه څه عبادت کوئ چې تاسو يې (پخپله) تراشئ

وَٱللَّهُ خَلَقَكُمۡ وَمَا تَعۡمَلُونَ ٩٦

(96) حال دا چې الله تاسو او هغه عملونه

چې تاسو يې کوئ، پيدا کړي دي

قَالُواْ ٱبْنُواْ لَهُۥ بُنْيَٰنًا فَأَلْقُوهُ فِي ٱلْجَحِيمِ ﴿٩٧﴾

(97) دوی وويل: د ده لپاره يوه ودانۍ جوړه کړئ، بيا تاسو دا په لمبې وهونکي اور کې واچوئ

فَأَرَادُواْ بِهِۦ كَيْدًا فَجَعَلْنَٰهُمُ ٱلْأَسْفَلِينَ ﴿٩٨﴾

(98) نو دوی له ده سره د فريب اراده وکړه، نو مونږ همدوی تر ټولو زيات ذليله کړل

وَقَالَ إِنِّي ذَاهِبٌ إِلَىٰ رَبِّي سَيَهْدِينِ ﴿٩٩﴾

(99) او ده (ابراهيم) وويل: بېشکه زه خپل رب ته تلونکی يم، ژر به هغه ما ته لاره وښيي

رَبِّ هَبْ لِي مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٠٠﴾

(100) ای زما ربه! ته ما ته (زوی) راکړې، چې له صالحانو څخه وي

فَبَشَّرْنَٰهُ بِغُلَٰمٍ حَلِيمٍ ﴿١٠١﴾

(101) نو مونږ ده ته د ډېر حلم والا هلك زېری ورکړ

فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ ٱلسَّعْيَ قَالَ يَٰبُنَيَّ إِنِّيٓ أَرَىٰ فِي ٱلْمَنَامِ أَنِّيٓ أَذْبَحُكَ فَٱنظُرْ مَاذَا تَرَىٰۚ قَالَ يَٰٓأَبَتِ ٱفْعَلْ مَا تُؤْمَرُۖ سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿١٠٢﴾

(102) نو کله چې هغه (هلك) له ده (خپل پلار) سره منډې وهلو ته ورسېده، ويې ويل: ای زما خوږه زويه! بېشکه زه په خوب کې وينم داسې چې بېشکه زه تا ذبحه کوم، نو ته وګوره چې ستا څه رايه ده؟ هغه وويل: ای زما پلار جانه! ته هغه کار وکړه چې تا ته يې امر کول شي، ژر ده چې که الله وغواړي، ته به ما

له صبر کوونکو ځنې وومې

فَلَمَّآ أَسۡلَمَا وَتَلَّهُۥ لِلۡجَبِينِ ١٠٣

(103) نو کله چې دواړو غاړه کېښوده او هغه يې په اړخ څملاوه

وَنَٰدَيۡنَٰهُ أَن يَٰٓإِبۡرَٰهِيمُ ١٠٤

(104) او مونږ ده ته اواز وکړ، داسې چې ای ابراهيمه

قَدۡ صَدَّقۡتَ ٱلرُّءۡيَآۚ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١٠٥

(105) يقيناً تا خوب رښتيا کړ، بېشکه مونږ نېکي کوونکو ته همداسې بدله ورکوو

إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلۡبَلَٰٓؤُاْ ٱلۡمُبِينُ ١٠٦

(106) بېشکه دا، يقيناً همدغه ښکاره ازمېښت و

وَفَدَيۡنَٰهُ بِذِبۡحٍ عَظِيمٖ ١٠٧

(107) او مونږ ده (اسماعيل) ته په ډېرې لويې ذبيحې سره خلاصی ورکړو

وَتَرَكۡنَا عَلَيۡهِ فِي ٱلۡأٓخِرِينَ ١٠٨

(108) او مونږ باقي پرېښود په ده باندې وروستنيو خلقو کې

سَلَٰمٌ عَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِيمَ ١٠٩

(109) دا چې سلام دې وي په ابراهيم

كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١١٠

(110) نېکانو ته مونږ همداسې بدله ورکوو

إِنَّهُۥ مِنۡ عِبَادِنَا ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١١١

(111) بېشکه هغه زمونږ له مومنو بنده ګانو ځنې دی

وَبَشَّرۡنَٰهُ بِإِسۡحَٰقَ نَبِيّٗا مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١١٢﴾

(112) او مونږ ده ته د اسحاق زېرى ورکړ، په داسې حال کې چې نبي و، له صالحانو نه

وَبَٰرَكۡنَا عَلَيۡهِ وَعَلَىٰٓ إِسۡحَٰقَۚ وَمِن ذُرِّيَّتِهِمَا مُحۡسِنٞ وَظَالِمٞ لِّنَفۡسِهِۦ مُبِينٞ ﴿١١٣﴾

(113) او برکت اچولى و مونږ په ده (اسمٰعيل) باندې او په اسحاق باندې، او د دې دواړو په اولاد کې ځوك نېکي کوونکى دى او ځوك په خپل ځان باندې ښکاره ظلم کوونکى دى

وَلَقَدۡ مَنَنَّا عَلَىٰ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ﴿١١٤﴾

(114) او يقينًا يقينًا مونږ په موسىٰ او هارون احسان وکړ

وَنَجَّيۡنَٰهُمَا وَقَوۡمَهُمَا مِنَ ٱلۡكَرۡبِ ٱلۡعَظِيمِ ﴿١١٥﴾

(115) او مونږ دغو دواړو ته او د دغو دواړو قوم ته له ډېر لوى غم نه نجات ورکړ

وَنَصَرۡنَٰهُمۡ فَكَانُواْ هُمُ ٱلۡغَٰلِبِينَ ﴿١١٦﴾

(116) او مونږ د دوى مدد وکړ، نو همدوى غالبه شول

وَءَاتَيۡنَٰهُمَا ٱلۡكِتَٰبَ ٱلۡمُسۡتَبِينَ ﴿١١٧﴾

(117) او مونږ دغو دواړو ته ډېر واضحه کتاب ورکړى و

وَهَدَيۡنَٰهُمَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ﴿١١٨﴾

(118) او مونږ دغو دواړو ته نېغه لاره ښودلې وه

وَتَرَكۡنَا عَلَيۡهِمَا فِي ٱلۡأٓخِرِينَ ﴿١١٩﴾

(119) او مونږ په دواړو باندې په وروستنيو

خلقو کې باقي پرېښوده

سَلَٰمٌ عَلَىٰ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ١٢٠

(120) دا چې سلام دي وي په موسي او هارون

إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي ٱلْمُحْسِنِينَ ١٢١

(121) بېشکه مونږ نېکي کوونکو ته همداسې بدله ورکوو

إِنَّهُمَا مِنْ عِبَادِنَا ٱلْمُؤْمِنِينَ ١٢٢

(122) بېشکه دغه دواړه زمونږ د مومنو بنده ګانو څخني دي

وَإِنَّ إِلْيَاسَ لَمِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ١٢٣

(123) او بېشکه الياس خامخا له رسولانو څخني دی

إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ أَلَا تَتَّقُونَ ١٢٤

(124) (ياد کړه)، هغه وخت چې ده خپل قوم ته وويل: ولې تاسو نه وېرېږئ!

أَتَدْعُونَ بَعْلًا وَتَذَرُونَ أَحْسَنَ ٱلْخَٰلِقِينَ ١٢٥

(125) ايا تاسو بعل (بت) بولئ او تر ټولو ښه پيدا کوونکی ذات پرېږدئ

ٱللَّهَ رَبَّكُمْ وَرَبَّ ءَابَآئِكُمُ ٱلْأَوَّلِينَ ١٢٦

(126) چې الله دی، چې ستاسو رب دی او ستاسو د ړومبنو پلرونو رب دی

فَكَذَّبُوهُ فَإِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ ١٢٧

(127) نو هغوی د ده تکذيب وکړ، نو بېشکه هغوی به خامخا حاضرولی شي

إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلۡمُخۡلَصِينَ ١٢٨

(128) د الله له خالص کړی شويو بنده ګانو نه غير (چې دوی د هغه تکذيب ونه کړ)

وَتَرَكۡنَا عَلَيۡهِ فِي ٱلۡأٓخِرِينَ ١٢٩

(129) او باقي پرېښود مونږ په ده باندې په وروستنيو خلقو کې

سَلَٰمٌ عَلَىٰٓ إِلۡ يَاسِينَ ١٣٠

(130) چې په الياسين دې سلام وي

إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١٣١

(131) بېشکه مونږ نېکي کوونکو ته همداسې بدله ورکوو

إِنَّهُۥ مِنۡ عِبَادِنَا ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٣٢

(132) بېشکه هغه زمونږ له مومنو بنده ګانو څخه دی

وَإِنَّ لُوطٗا لَّمِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ١٣٣

(133) او بېشکه لوط له رسولانو څخه دی

إِذۡ نَجَّيۡنَٰهُ وَأَهۡلَهُۥٓ أَجۡمَعِينَ ١٣٤

(134) (ياد کړه) هغه وخت چې مونږ ده ته او د ده کورنۍ ته، ټولو ته نجات ورکړ

إِلَّا عَجُوزٗا فِي ٱلۡغَٰبِرِينَ ١٣٥

(135) غير له يوې بوډۍ نه چې په باقي پاتې کېدونکو کې وه

ثُمَّ دَمَّرۡنَا ٱلۡأٓخَرِينَ ١٣٦

(136) بيا مونږ نور (ټول) خلق هلاك كړل

وَإِنَّكُمۡ لَتَمُرُّونَ عَلَيۡهِم مُّصۡبِحِينَ ١٣٧

(137) او بېشکه تاسو په دوی تېرېږئ، په دې حال کې چې سبا کوونکي يئ

وَبِٱلَّيۡلِۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ١٣٨

(138) او په شپه کې هم، ایا نو تاسو عقل نه کاروئ

وَإِنَّ يُونُسَ لَمِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ١٣٩

(139) او بېشکه یونس خامخا له رسولانو څخه دی

إِذۡ أَبَقَ إِلَى ٱلۡفُلۡكِ ٱلۡمَشۡحُونِ ١٤٠

(140) (یاد کړه) هغه وخت چې هغه ډکې کشتۍ ته وتښتېده

فَسَاهَمَ فَكَانَ مِنَ ٱلۡمُدۡحَضِينَ ١٤١

(141) نو ده قرعه واچوله، نو شو (په قرعه کې) له مغلوب کړی شویو څخه

فَٱلۡتَقَمَهُ ٱلۡحُوتُ وَهُوَ مُلِيمٞ ١٤٢

(142) نو بیا تېر کړ هغه لره مهي (کب)، په دې حال کې چې هغه (د خپل ځان) ملامت کوونکی و

فَلَوۡلَآ أَنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلۡمُسَبِّحِينَ ١٤٣

(143) نو که دا خبره نه وی چې بېشکه هغه له تسبیح ویونکو څخه و

لَلَبِثَ فِي بَطۡنِهِۦٓ إِلَىٰ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ ١٤٤

(144) (نو) خامخا دا به د هغه (کب) په خېټه کې تر هغې ورځې پورې پاتې و چې دوی به بیا ژوندي راپاخولی شي

۞فَنَبَذۡنَٰهُ بِٱلۡعَرَآءِ وَهُوَ سَقِيمٞ ١٤٥

(145) نو مونږ هغه په ډاګه میدان کې وغورځاوه، په دې حال کې چې ناروغ و

| | |
|---|---|
| وَأَنۢبَتۡنَا عَلَيۡهِ شَجَرَةٗ مِّن يَقۡطِينٖ ١٤٦ | (146) او مونږ په ده باندې يو ځېلی داره ونه را زرغونه کړه |
| وَأَرۡسَلۡنَٰهُ إِلَىٰ مِاْئَةِ أَلۡفٍ أَوۡ يَزِيدُونَ ١٤٧ | (147) او مونږ دی لیږلی و سل زرو خلقو ته بلکې دوی زیات وو |
| فَـَٔامَنُواْ فَمَتَّعۡنَٰهُمۡ إِلَىٰ حِينٖ ١٤٨ | (148) نو دوی ایمان راوړ، نو مونږ دوی ته تر یو وخته پورې نفع ورکړه |
| فَٱسۡتَفۡتِهِمۡ أَلِرَبِّكَ ٱلۡبَنَاتُ وَلَهُمُ ٱلۡبَنُونَ ١٤٩ | (149) نو ته له دوی نه پوښتنه وکړه، ایا ستا د رب لپاره لوڼه دي او د دوی لپاره زامن دي؟ |
| أَمۡ خَلَقۡنَا ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ إِنَٰثٗا وَهُمۡ شَٰهِدُونَ ١٥٠ | (150) یا که مونږ ملایك ښځې پیدا کړي دي، په داسې حال کې چې دوی حاضر وو |
| أَلَآ إِنَّهُم مِّنۡ إِفۡكِهِمۡ لَيَقُولُونَ ١٥١ | (151) خبردار! بېشکه دوی له خپلو بدترو دروغو څخه خامخا (داسې) وايي |
| وَلَدَ ٱللَّهُ وَإِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ١٥٢ | (152) الله اولاد زېږولی دی. او بېشکه دوی یقینًا دروغجن دي |
| أَصۡطَفَى ٱلۡبَنَاتِ عَلَى ٱلۡبَنِينَ ١٥٣ | (153) ایا هغه (الله د ځان لپاره) لوڼه غوره کړي دي په زامنو باندې |
| مَا لَكُمۡ كَيۡفَ تَحۡكُمُونَ ١٥٤ | (154) په تاسو څه شوي دي، څرنګه تاسو |

(دا) فیصله (او حکم) کوئ؟

أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿١٥٥﴾

(155) ایا تاسو نصیحت نه اخلئ

أَمْ لَكُمْ سُلْطَٰنٌ مُّبِينٌ ﴿١٥٦﴾

(156) ایا تاسو لپاره څه واضحه دلیل شته؟

فَأْتُوا۟ بِكِتَٰبِكُمْ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿١٥٧﴾

(157) نو تاسو خپل کتاب راوړئ، که چېرې تاسو رښتیني یئ

وَجَعَلُوا۟ بَيْنَهُۥ وَبَيْنَ ٱلْجِنَّةِ نَسَبًا ۚ وَلَقَدْ عَلِمَتِ ٱلْجِنَّةُ إِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ ﴿١٥٨﴾

(158) او دوی د هغه (الله) په مینځ کې او د پېریانو په مینځ کې نسب ( د خپلوی نسبت) مقرر کړ، او یقینًا یقینًا پېریان په دې پوه شوي دي چې بېشکه دوی به خامخا حاضر کړی شي

سُبْحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٥٩﴾

(159) الله لپاره پاکي ده له هغو (خبرو) نه چې دوی یې وایي

إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴿١٦٠﴾

(160) لیکن د الله خالص (غوره) کړی شوي بنده ګان (له دغو خبرو نه بچ دي)

فَإِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ ﴿١٦١﴾

(161) پس بېشکه تاسو او هغه چې تاسو یې عبادت کوئ

مَآ أَنتُمْ عَلَيْهِ بِفَٰتِنِينَ ﴿١٦٢﴾

(162) نه یئ تاسو په دې (بت پرستۍ) سره ګمراه کوونکي (په فتنه کې اچوونکي د

هيچا)

إِلَّا مَنۡ هُوَ صَالِ ٱلۡجَحِيمِ ١٦٣ | (163) غير له هغه چا نه چې هغه په دوزخ كې ننوتونكى دى

وَمَامِنَّآ إِلَّا لَهُۥ مَقَامٞ مَّعۡلُومٞ ١٦٤ | (164) او په مونږ كې هيڅوك نشته مگر د هغه لپاره معلوم ځاى دى

وَإِنَّا لَنَحۡنُ ٱلصَّآفُّونَ ١٦٥ | (165) او بېشكه خامخا مونږ صف تړونكي يو

وَإِنَّا لَنَحۡنُ ٱلۡمُسَبِّحُونَ ١٦٦ | (166) او بېشكه مونږ خامخا تسبيح ويونكي يو

وَإِن كَانُواْ لَيَقُولُونَ ١٦٧ | (167) او بېشكه چې خامخا دوى به ويل

لَوۡ أَنَّ عِندَنَا ذِكۡرٗا مِّنَ ٱلۡأَوَّلِينَ ١٦٨ | (168) كه چېرې مونږ سره د پخوانيو خلقو (له كتابونو) نه كوم ذكر (كتاب) وى

لَكُنَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلۡمُخۡلَصِينَ ١٦٩ | (169) (نو) خامخا مونږ به د الله خالص (او غوره) كړى شوي بنده گان وو

فَكَفَرُواْ بِهِۦۖ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ ١٧٠ | (170) نو دوى په دغه (قرآن) سره كافر شول، نو ژر ده چې دوى به پوه شي

وَلَقَدۡ سَبَقَتۡ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا ٱلۡمُرۡسَلِينَ ١٧١ | (171) او يقينًا يقينًا زمونږ خبره زمونږ د لېږل شويو (رسولانو) بنده گانو لپاره صادر شوې ده

إِنَّهُمْ لَهُمُ ٱلْمَنصُورُونَ ﴿١٧٢﴾

(172) چې بېشکه دوی، خامخا هم دوی مدد کړی شوي دي

وَإِنَّ جُندَنَا لَهُمُ ٱلْغَٰلِبُونَ ﴿١٧٣﴾

(173) او بېشکه زمونږ لښکر، خامخا هم دوی غالب راتلونکي دي

فَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿١٧٤﴾

(174) نو ته له دوی نه مخ وګرځوه، تر یو وخته پورې

وَأَبْصِرْهُمْ فَسَوْفَ يُبْصِرُونَ ﴿١٧٥﴾

(175) او دوی ته ګوره، نو ژر ده چې دوی به (خپل انجام) وویني

أَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُونَ ﴿١٧٦﴾

(176) ایا نو دوی زمونږ د عذاب تلوار کوي

فَإِذَا نَزَلَ بِسَاحَتِهِمْ فَسَآءَ صَبَاحُ ٱلْمُنذَرِينَ ﴿١٧٧﴾

(177) نو کله چې هغه د دوی په مېدان کې نازل شي، نو د وېرول شویو سبا به بد وي

وَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿١٧٨﴾

(178) او ته له دوی نه مخ وګرځوه تر یو وخته پورې

وَأَبْصِرْ فَسَوْفَ يُبْصِرُونَ ﴿١٧٩﴾

(179) او ته ګوره، نو ژر ده چې دوی به وویني

سُبْحَٰنَ رَبِّكَ رَبِّ ٱلْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٨٠﴾

(180) ستا رب لره پاکي ده چې د عزت (او غلبې) مالك دی، له هغو خبرو نه چې دوی (مشرکان) یې بیانوي

وَسَلَٰمٌ عَلَى ٱلْمُرْسَلِينَ ١٨١

(181) او سلام دې وي په رسولانو باندې

وَٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ١٨٢

(182) او ټول د کمال صفتونه خاص الله لره دي چې د عالمونو ټوله پالونکی دی

## سُورَةُ صٓ

## سورۀ ص

**بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

صٓ وَٱلْقُرْءَانِ ذِى ٱلذِّكْرِ ١

(1) صاد، قسم دی په قرآن چې د نصیحت والا دی

بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ فِى عِزَّةٍ وَشِقَاقٍ ٢

(2) بلکې هغه کسان چې کافران شوي دي، په کبر او مخالفت کې دي

كَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَبْلِهِم مِّن قَرْنٍ فَنَادَوا۟ وَّلَاتَ حِينَ مَنَاصٍ ٣

(3) مونږه له دوی نه مخکې څومره ډېرې پیړۍ هلاکې کړې دي، نو هغوی به چغې وهلې، حال دا چې دغه وخت به د خلاصې نه و

وَعَجِبُوٓا۟ أَن جَآءَهُم مُّنذِرٌ مِّنْهُمْ ۖ وَقَالَ ٱلْكَٰفِرُونَ هَٰذَا سَٰحِرٌ كَذَّابٌ ٤

(4) او دوی په دې وجه تعجب کوي چې دوی ته له همدوی څخه يو وېروونکی راغی او کافرانو ووېل: دا (پیغمبر) جادوګر دی، سخت

دروغجن دی

أَجَعَلَ ٱلۡأٓلِهَةَ إِلَٰهٗا وَٰحِدًاۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَيۡءٌ عُجَابٞ ۝٥

(5) ایا ده دغه معبودان یو اله وګرځول، بېشکه دا خامخا ډېر عجیبه شیز دی

وَٱنطَلَقَ ٱلۡمَلَأُ مِنۡهُمۡ أَنِ ٱمۡشُواْ وَٱصۡبِرُواْ عَلَىٰٓ ءَالِهَتِكُمۡۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَيۡءٞ يُرَادُ ۝٦

(6) او له دوی څخه (د کفارو) مشران لاړل، چي (ویل یې:) ځئ او په خپلو معبودانو ټینګ اوسئ، بېشکه دغه (توحید) خامخا یو داسې شی دی چې غوښتنه یې کولی شي (زمونږ نه)

مَا سَمِعۡنَا بِهَٰذَا فِي ٱلۡمِلَّةِ ٱلۡأٓخِرَةِ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا ٱخۡتِلَٰقٌ ۝٧

(7) مونږ دغه (توحید) په وروستي دین (نصرانیت) کې نه دی اورېدلی. نه دی دا مګر له خپله ځانه نه جوړ کړی شوي دروغ

أَءُنزِلَ عَلَيۡهِ ٱلذِّكۡرُ مِنۢ بَيۡنِنَاۚ بَلۡ هُمۡ فِي شَكّٖ مِّن ذِكۡرِيۚ بَل لَّمَّا يَذُوقُواْ عَذَابِ ۝٨

(8) ایا زمونږ له مینځه په ده باندې ذکر (وحي، قرآن) نازل کړی شو! بلکې دوی زما د ذکر (قرآن) په هکله په شك کې دي بلکې لا تر اوسه دوی زما عذاب نه دی څکلی

أَمۡ عِندَهُمۡ خَزَآئِنُ رَحۡمَةِ رَبِّكَ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡوَهَّابِ ۝٩

(9) ایا له دوی سره ستا د رب د رحمت خزانې دي (هغه رب) چې ډېر غالب، عطا کوونکی دی؟

أَمۡ لَهُم مُّلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ

(10) یا د دوی لپاره بادشاهي ده د اسمانونو

وَمَا بَيۡنَهُمَاۖ فَلۡيَرۡتَقُواْ فِي ٱلۡأَسۡبَٰبِ ١٠

او ځمکې او د هغه څه چې د دواړو په مينځ کې دي، نو دوی دې په اسبابو کې وخېژي

جُندٞ مَّا هُنَالِكَ مَهۡزُومٞ مِّنَ ٱلۡأَحۡزَابِ ١١

(11) (دغه) داسې لښکر ګوتې دی له لښکرو څخه، چې په دغه ځای کې شکست ورکړی شوی دی

كَذَّبَتۡ قَبۡلَهُمۡ قَوۡمُ نُوحٖ وَعَادٞ وَفِرۡعَوۡنُ ذُو ٱلۡأَوۡتَادِ ١٢

(12) تکذيب کړی و له دوی نه مخکې د نوح قوم او عاديانو او فرعون چې د مېخونو والا و

وَثَمُودُ وَقَوۡمُ لُوطٖ وَأَصۡحَٰبُ لۡـَٔيۡكَةِۚ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلۡأَحۡزَابُ ١٣

(13) او ثموديانو او د لوط قوم او د ځنګل والاوو، همدغه ډلې دي

إِن كُلٌّ إِلَّا كَذَّبَ ٱلرُّسُلَ فَحَقَّ عِقَابِ ١٤

(14) نه ده هره يوه (ډله) مګر چې د رسولانو تکذيب يې کړی دی، نو زما عذاب پرې ثابت شو

وَمَا يَنظُرُ هَٰٓؤُلَآءِ إِلَّا صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ مَّا لَهَا مِن فَوَاقٖ ١٥

(15) او دوی انتظار نه کوي مګر د يوې داسې چغې چې د هغې لپاره بېرته ګرځېدل نشته (وقفه نشته)

وَقَالُواْ رَبَّنَا عَجِّل لَّنَا قِطَّنَا قَبۡلَ يَوۡمِ ٱلۡحِسَابِ ١٦

(16) او دوی ويل: ای زمونږ ربه! ته مونږ ته زمونږ برخه ژر راکړه، د حساب له ورځې نه مخکې

| | |
|---|---|
| ٱصۡبِرۡ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَٱذۡكُرۡ عَبۡدَنَا دَاوُۥدَ ذَا ٱلۡأَيۡدِۖ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٌ ﴿١٧﴾ | (17) ته د دوی په دغو خبرو صبر کوه او ته زمونږ بنده داود یاد کړه چې د قوت والا و، بېشکه هغه ډېر رجوع کوونکی و |
| إِنَّا سَخَّرۡنَا ٱلۡجِبَالَ مَعَهُۥ يُسَبِّحۡنَ بِٱلۡعَشِيِّ وَٱلۡإِشۡرَاقِ ﴿١٨﴾ | (18) بېشکه مونږ له هغه سره غرونه تابع کړي وو چې د ورځې په اخره او اوله برخه کې به يې تسبيح ويله |
| وَٱلطَّيۡرَ مَحۡشُورَةٗۖ كُلّٞ لَّهُۥٓ أَوَّابٞ ﴿١٩﴾ | (19) او مرغان مو (تابع کړي وو) په دې حال کې چې جمع کړی شوي به وو، هر یو به ده ته بېه رجوع کوونکی و |
| وَشَدَدۡنَا مُلۡكَهُۥ وَءَاتَيۡنَٰهُ ٱلۡحِكۡمَةَ وَفَصۡلَ ٱلۡخِطَابِ ﴿٢٠﴾ | (20) اومونږ د هغه باچاهي مضبوطه کړې وه او مونږ هغه ته حکمت او د غوڅې خبرې قوت ورکړی و |
| ۞وَهَلۡ أَتَىٰكَ نَبَؤُاْ ٱلۡخَصۡمِ إِذۡ تَسَوَّرُواْ ٱلۡمِحۡرَابَ ﴿٢١﴾ | (21) او ایا تا ته د جګړه کوونکو خبر راغلی دی، کله چې هغوی په (دېوال د) عبادت خانې راوختل |
| إِذۡ دَخَلُواْ عَلَىٰ دَاوُۥدَ فَفَزِعَ مِنۡهُمۡۖ قَالُواْ لَا تَخَفۡۖ خَصۡمَانِ بَغَىٰ بَعۡضُنَا عَلَىٰ بَعۡضٖ فَٱحۡكُم بَيۡنَنَا بِٱلۡحَقِّ وَلَا تُشۡطِطۡ وَٱهۡدِنَآ إِلَىٰ | (22) کله چې دوی په داود ورننوتل، نو هغه له دوی نه ووېرېده، دوی وویل: ته مه وېرېږه! (مونږ یو) دوه جګړه کوونکي ډلې، زمونږ ځینو په ځینو نورو ظلم کړی دی، نو ته زمونږ په |

سَوَآءِ ٱلصِّرَٰطِ ﴿٢٢﴾

مینځ کې په حقه سره فیصله وکړه او زیاتی مه کوه او ته نېغې لارې ته زمونږ لار ښووونه وکړه

إِنَّ هَٰذَآ أَخِي لَهُۥ تِسۡعٞ وَتِسۡعُونَ نَعۡجَةٗ وَلِيَ نَعۡجَةٞ وَٰحِدَةٞ فَقَالَ أَكۡفِلۡنِيهَا وَعَزَّنِي فِي ٱلۡخِطَابِ ﴿٢٣﴾

(23) بېشكه دا زما ورور دى، د ده نهه نوي (يو كم سل) ګډې (مېږې) دي او زما يوه ګډه (مېږه) ده، نو ده وويل: ته ما د دې كفيل (مالك) وګرځوه او په خبرو كې يې په ما غلبه كړې ده

قَالَ لَقَدۡ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ نَعۡجَتِكَ إِلَىٰ نِعَاجِهِۦۖ وَإِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلۡخُلَطَآءِ لَيَبۡغِي بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٍ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَقَلِيلٞ مَّا هُمۡۗ وَظَنَّ دَاوُۥدُ أَنَّمَا فَتَنَّٰهُ فَٱسۡتَغۡفَرَ رَبَّهُۥ وَخَرَّۤ رَاكِعٗاۤ وَأَنَابَ۩ ﴿٢٤﴾

(24) ده (داود) وويل: يقينًا يقينًا ده په تا ظلم كړى دى، ستا د ګډې په غوښتلو (چې يو ځاى يې كړي) له خپلو ګډو سره او بېشكه په شريكانو كې ډېر زيات (داسې وي چې) خامخا ځينې د دوى په ځينو نورو ظلم كوي، غير له هغو كسانو نه چې ايمان يې راوړى دى او نېك عملونه يې كړي دي او دوى ډېر لږ دي. او داود يقين وكړ چې بېشكه همدا خبره ده چې مونږ هغه وازمايه، نو له خپل رب نه يې بخښنه وغوښته او پرېوته، په داسې حال كې چې ركوع (او) سجده كوونكى و، او رجوع يې وكړه

فَغَفَرۡنَا لَهُۥ ذَٰلِكَۖ وَإِنَّ لَهُۥ عِندَنَا لَزُلۡفَىٰ وَحُسۡنَ مَـَٔابٖ ﴿٢٥﴾

(25) نو مونږ ده ته دغه (خطا) وبخښله، او بېشكه د هغه لپاره زمونږ په نيز خامخا قربت

دی او د ورتلو ښه ځای دی

يَٰدَاوُۥدُ إِنَّا جَعَلۡنَٰكَ خَلِيفَةٗ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱحۡكُم بَيۡنَ ٱلنَّاسِ بِٱلۡحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ ٱلۡهَوَىٰ فَيُضِلَّكَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَضِلُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدُۢ بِمَا نَسُواْ يَوۡمَ ٱلۡحِسَابِ ٢٦

(26) ای داوده! بېشکه مونږ ته په ځمکه کې خلیفه ګرځولی یې، نو ته د خلقو په مینځ کې په حقه سره فیصلې کوه او د خواهشاتو پیروي مه کوه، (ګنې) نو تا به د الله له لارې نه ګمراه کړي، بېشکه هغه کسان چې د الله له لارې نه ګمراه کېږي، د هغوی لپاره ډېر سخت عذاب دی، په سبب د دوی د هېرولو ورځې د حساب لره

وَمَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَآءَ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا بَٰطِلٗاۚ ذَٰلِكَ ظَنُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۚ فَوَيۡلٞ لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنَ ٱلنَّارِ ٢٧

(27) او مونږ اسمان او ځمکه او هغه څه چې د دواړو په مینځ کې دي داسې نه دي پیدا کړي، چې باطل (او عبث) دي دغه (باطل پیدا کول) د کافران شویو خلقو ګمان دی، نو دا کافران شویو خلقو لپاره له اوره هلاکت (او عذاب) دی

أَمۡ نَجۡعَلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ كَٱلۡمُفۡسِدِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَمۡ نَجۡعَلُ ٱلۡمُتَّقِينَ كَٱلۡفُجَّارِ ٢٨

(28) ایا مونږ به هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او نېك عملونه یې کړي دي، په ځمکه کې د فساد کوونکو په شان وګرځوو؟ ایا مونږ به متقیان د فاجرانو (بدکارانو) په شان وګرځوو؟

كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ إِلَيۡكَ مُبَٰرَكٞ لِّيَدَّبَّرُوٓاْ ءَايَٰتِهِۦ وَلِيَتَذَكَّرَ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ٢٩

(29) (دغه قرآن) كتاب دى چې مونږه تا ته نازل كړى دى، بركتناك دى، د دې لپاره چې دوى د ده په ايتونو كې فكر وكړي او د دې لپاره چې د خالصو عقلونو والا ترې پند واخلي

وَوَهَبۡنَا لِدَاوُۥدَ سُلَيۡمَٰنَۚ نِعۡمَ ٱلۡعَبۡدُ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٌ ٣٠

(30) او مونږ داود ته سليمان عطا كړ، (هغه) ښه بنده و، بېشكه چې هغه ډېر رجوع كوونكى و

إِذۡ عُرِضَ عَلَيۡهِ بِٱلۡعَشِيِّ ٱلصَّٰفِنَٰتُ ٱلۡجِيَادُ ٣١

(31) كله چې ده ته د ورځې په اخر كې هغه ګړندي خاص اسونه وړاندې كړى شول چې په درې پښو ودرېږي

فَقَالَ إِنِّيٓ أَحۡبَبۡتُ حُبَّ ٱلۡخَيۡرِ عَن ذِكۡرِ رَبِّي حَتَّىٰ تَوَارَتۡ بِٱلۡحِجَابِ ٣٢

(32) نو ده ويل: بېشكه ما د دغه مال محبت محبوب ګڼلى دى د خپل رب د ياد په وجه، تر دې چې (دغه اسونه) په پرده كې پټ شول

رُدُّوهَا عَلَيَّۖ فَطَفِقَ مَسۡحَۢا بِٱلسُّوقِ وَٱلۡأَعۡنَاقِ ٣٣

(33) تاسو دغه ما ته بېرته راولئ، نو شروع شو چې په پنډيو او څټونو يې لاس راښكه

وَلَقَدۡ فَتَنَّا سُلَيۡمَٰنَ وَأَلۡقَيۡنَا عَلَىٰ كُرۡسِيِّهِۦ جَسَدٗا ثُمَّ أَنَابَ ٣٤

(34) او يقينًا يقينًا مونږ سليمان وازمايه، او د ده په كرسۍ مو يو جسد وغورځاوه، بيا ده رجوع وكړه

قَالَ رَبِّ ٱغۡفِرۡ لِي وَهَبۡ لِي مُلۡكٗا
لَّا يَنۢبَغِي لِأَحَدٖ مِّنۢ بَعۡدِيٓۖ إِنَّكَ
أَنتَ ٱلۡوَهَّابُ ٣٥

(35) ده وویل: ای زما ربه! ته ما وبخښه او ما ته داسې باچاهي راکړه چې له ما نه پس د چا لپاره هم مناسب نه وي، بېشکه هم ته ښه عطا کوونکی یې

فَسَخَّرۡنَا لَهُ ٱلرِّيحَ تَجۡرِي بِأَمۡرِهِۦ
رُخَآءً حَيۡثُ أَصَابَ ٣٦

(36) نو مونږ د ده لپاره هوا مسخره کړه چې د ده په امر سره به چلېدله نرمه نرمه، چېرته چې به ده اراده وکړه

وَٱلشَّيَٰطِينَ كُلَّ بَنَّآءٖ وَغَوَّاصٖ ٣٧

(37) (مونږ تابع کړي وو د ده لپاره) پېریان هر ښه معمار او ښه غوټه وهونکی

وَءَاخَرِينَ مُقَرَّنِينَ فِي
ٱلۡأَصۡفَادِ ٣٨

(38) او نور (پېریان) چې په ځنځیرونو کې له یو بل سره تړل شوي وو

هَٰذَا عَطَآؤُنَا فَٱمۡنُنۡ أَوۡ أَمۡسِكۡ
بِغَيۡرِ حِسَابٖ ٣٩

(39) دا زمونږ عطا ده، نو ته احسان کوه، یا یې وساته، بې له حسابه

وَإِنَّ لَهُۥ عِندَنَا لَزُلۡفَىٰ وَحُسۡنَ
مَـَٔابٖ ٤٠

(40) او بېشکه د هغه لپاره زمونږ په نیز خامخا قرب دی، او (په اخرت کې) د ورتلو ښه ځای دی

وَٱذۡكُرۡ عَبۡدَنَآ أَيُّوبَ إِذۡ نَادَىٰ
رَبَّهُۥٓ أَنِّي مَسَّنِيَ ٱلشَّيۡطَٰنُ بِنُصۡبٖ

(41) او ته زمونږ بنده ایوب یاد کړه، کله چې هغه خپل رب ته اواز وکړ چې بېشکه ما ته

| | |
|---|---|
| وَعَذَابٍ ﴿٤١﴾ | شیطان ایذا او تکلیف رارسولی دی |
| ٱرۡكُضۡ بِرِجۡلِكَۖ هَٰذَا مُغۡتَسَلُۢ بَارِدٞ وَشَرَابٞ ﴿٤٢﴾ | (42) ته (ځمکه) په خپلې پښې سره ووهه، دغه یخ غسلځای دی، او د څښلو اوبه دي |
| وَوَهَبۡنَا لَهُۥٓ أَهۡلَهُۥ وَمِثۡلَهُم مَّعَهُمۡ رَحۡمَةٗ مِّنَّا وَذِكۡرَىٰ لِأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴿٤٣﴾ | (43) او مونږ ده ته د ده اهل ورکړ او له دوی سره د دوی په مثل (نور هم) له خپل جانب نه د رحمت له وجې او عقلمندو ته د نصیحت لپاره |
| وَخُذۡ بِيَدِكَ ضِغۡثٗا فَٱضۡرِب بِّهِۦ وَلَا تَحۡنَثۡۗ إِنَّا وَجَدۡنَٰهُ صَابِرٗاۚ نِّعۡمَ ٱلۡعَبۡدُ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٞ ﴿٤٤﴾ | (44) او ته په خپل لاس سره جارو ونیسه، نو په هغې سره وهل وکړه او مه حانث کېږه، بېشکه مونږ هغه صابر وموندہ، (هغه) ښه سړی و، بېشکه هغه ډېر رجوع کوونکی و |
| وَٱذۡكُرۡ عِبَٰدَنَآ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ أُوْلِي ٱلۡأَيۡدِي وَٱلۡأَبۡصَٰرِ ﴿٤٥﴾ | (45) او ته زمونږ بنده ګان ابراهیم، او اسحٰق او یعقوب یاد کړه چې د (عمل د) قوت او (حق لیدونکو) سترګو خاوندان وو |
| إِنَّآ أَخۡلَصۡنَٰهُم بِخَالِصَةٖ ذِكۡرَى ٱلدَّارِ ﴿٤٦﴾ | (46) بېشکه مونږ دوی په یو خالص خوی سره خالص کړي دي چې هغه د اخرت یادول دي |
| وَإِنَّهُمۡ عِندَنَا لَمِنَ ٱلۡمُصۡطَفَيۡنَ ٱلۡأَخۡيَارِ ﴿٤٧﴾ | (47) او بېشکه دوی زمونږ، په نیز خامخا له غوره کړی شویو، بهترو خلقو څخه دي |

وَٱذۡكُرۡ إِسۡمَٰعِيلَ وَٱلۡيَسَعَ وَذَا ٱلۡكِفۡلِۖ وَكُلّٞ مِّنَ ٱلۡأَخۡيَارِ ﴿٤٨﴾

(48) او ته اسماعيل او اليسع او ذوالكفل ياد کړه، دغه هر يو د خير او بهترۍ والا وو

هَٰذَا ذِكۡرٞۚ وَإِنَّ لِلۡمُتَّقِينَ لَحُسۡنَ مَـَٔابٖ ﴿٤٩﴾

(49) دا پند دی، او بېشکه د متقيانو لپاره خامخا د ورتلو ښه ځای دی

جَنَّٰتِ عَدۡنٖ مُّفَتَّحَةٗ لَّهُمُ ٱلۡأَبۡوَٰبُ ﴿٥٠﴾

(50) چې د همېشه استوګنې جنتونه دي، په داسې حال کې چې د دوی لپاره يې دروازې ښې پرانستې دي

مُتَّكِـِٔينَ فِيهَا يَدۡعُونَ فِيهَا بِفَٰكِهَةٖ كَثِيرَةٖ وَشَرَابٖ ﴿٥١﴾

(51) په دغو کې به تکيه وهلې وي، په دغو (جنتونو) کې به دوی ډېرې مېوې او مشروب راغواړي

۞وَعِندَهُمۡ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرۡفِ أَتۡرَابٌ ﴿٥٢﴾

(52) او له دوی سره به د نظر رامنع کوونکې همځولې ښځې وي

هَٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِيَوۡمِ ٱلۡحِسَابِ ﴿٥٣﴾

(53) دا (ثواب او نعمتونه) هغه څه دي چې تاسو ته يې د حساب د ورځې لپاره وعده درکولی شي

إِنَّ هَٰذَا لَرِزۡقُنَا مَا لَهُۥ مِن نَّفَادٍ ﴿٥٤﴾

(54) بېشکه دا خامخا زمونږ داسې رزق دی، چې ده لره هېڅ خلاصېدل نشته

هَٰذَاۚ وَإِنَّ لِلطَّٰغِينَ لَشَرَّ

(55) دغه (د مومنانو حال) دی او بېشکه د

| | |
|---|---|
| مَـَٔابٍ ﴿٥٥﴾ | سرکشانو لپاره خامخا د ورتلو ډېر بد ځای دی |
| جَهَنَّمَ يَصۡلَوۡنَهَا فَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ﴿٥٦﴾ | (56) چې جهنم دی، دوی به په هغه کې داخلېږي، نو هغه بده بستره ده |
| هَٰذَا فَلۡيَذُوقُوهُ حَمِيمٞ وَغَسَّاقٞ ﴿٥٧﴾ | (57) دغه اېشېدلې اوبه او زوې دي، نو دوی دې دا وڅکي |
| وَءَاخَرُ مِن شَكۡلِهِۦٓ أَزۡوَٰجٌ ﴿٥٨﴾ | (58) او بل (عذاب) دی له دغه قسم نه، څو قسمه |
| هَٰذَا فَوۡجٞ مُّقۡتَحِمٞ مَّعَكُمۡ لَا مَرۡحَبَۢا بِهِمۡۚ إِنَّهُمۡ صَالُواْ ٱلنَّارِ ﴿٥٩﴾ | (59) دغه یوه ډله ده چې له تاسو سره په ډېر تکلیف سره ننوتونکي دي، دوی ته دې هېڅ خوشالي نه وي، بېشکه دوی اور ته داخلېدونکي دي |
| قَالُواْ بَلۡ أَنتُمۡ لَا مَرۡحَبَۢا بِكُمۡۖ أَنتُمۡ قَدَّمۡتُمُوهُ لَنَاۖ فَبِئۡسَ ٱلۡقَرَارُ ﴿٦٠﴾ | (60) هغوی به وايي: بلکې تاسو چې یئ، تاسو ته دې هېڅ خوشالي نه وي، تاسو دغه (عذاب) مونږ ته راوړاندې کړی دی، نو دا (دوزخ) بد قرار ځای دی |
| قَالُواْ رَبَّنَا مَن قَدَّمَ لَنَا هَٰذَا فَزِدۡهُ عَذَابٗا ضِعۡفٗا فِي ٱلنَّارِ ﴿٦١﴾ | (61) دوی به وايي: ای زمونږ ربه! چا چې مونږ ته دا راوړاندې کړی دی، نو ته هغه ته په اور کې عذاب دوه چنده ورزیات کړه |

| | |
|---|---|
| وَقَالُواْ مَا لَنَا لَا نَرَىٰ رِجَالٗا كُنَّا نَعُدُّهُم مِّنَ ٱلۡأَشۡرَارِ ﴿٦٢﴾ | (62) او دوی به ووايي: پر مونږ څه شوي دي چې مونږ هغه سړي نه وينو چې مونږ به هغوی له اشرارو (بدترو خلقو) څخه شمېرل؟ |
| أَتَّخَذۡنَٰهُمۡ سِخۡرِيًّا أَمۡ زَاغَتۡ عَنۡهُمُ ٱلۡأَبۡصَٰرُ ﴿٦٣﴾ | (63) ايا مونږ هغوی په مسخرو سره نيولې وو، يا که له هغوی نه زمونږ سترګې کږې شوې دي؟ |
| إِنَّ ذَٰلِكَ لَحَقّٞ تَخَاصُمُ أَهۡلِ ٱلنَّارِ ﴿٦٤﴾ | (64) بېشکه دغه خامخا حق دي، يعني (دا) د دوزخيانو خپل مينځې جګړه کول |
| قُلۡ إِنَّمَآ أَنَا۠ مُنذِرٞۖ وَمَا مِنۡ إِلَٰهٍ إِلَّا ٱللَّهُ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّارُ ﴿٦٥﴾ | (65) ته (دوی ته) ووايه: زه خو بس وېرونکی يم، او نشته دی حق معبود غير له الله نه چې يو او ډېر غلبې والا دی |
| رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡغَفَّٰرُ ﴿٦٦﴾ | (66) چې رب دی د اسمانونو او ځمکې او د هغه څه چې د دواړو په مينځ کې دي، چې ډېر غالب، ښه بخښونکی دی |
| قُلۡ هُوَ نَبَؤٌاْ عَظِيمٌ ﴿٦٧﴾ | (67) ته (دوی ته) ووايه: دغه (قرآن) ډېر لوی خبر دی |
| أَنتُمۡ عَنۡهُ مُعۡرِضُونَ ﴿٦٨﴾ | (68) تاسو له ده نه مخ ګرځوونکي يئ |
| مَا كَانَ لِيَ مِنۡ عِلۡمِۭ بِٱلۡمَلَإِ | (69) ما ته د ملاِ اعلیٰ (لوړ مجلس) په باره |

ٱلۡأَعۡلَىٰٓ إِذۡ يَخۡتَصِمُونَ ﴿٦٩﴾

کې هېڅ علم نشته، کله چې دوی په خپل
مینځ کې اختلاف کوي

إِن يُوحَىٰٓ إِلَيَّ إِلَّآ أَنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٞ
مُّبِينٌ ﴿٧٠﴾

(70) ما ته وحي نه کېږي مګر د دې چې
بېشکه همدا خبره ده چې زه ښکاره وېرووونکی
یم

إِذۡ قَالَ رَبُّكَ لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي خَٰلِقُۢ
بَشَرٗا مِّن طِينٖ ﴿٧١﴾

(71) کله چې ستا رب ملايکو ته وويل چې
بېشکه زه له خَټې نه د يو بشر پيدا کوونکی
یم

فَإِذَا سَوَّيۡتُهُۥ وَنَفَخۡتُ فِيهِ مِن
رُّوحِي فَقَعُواْ لَهُۥ سَٰجِدِينَ ﴿٧٢﴾

(72) نو کله چې زه هغه برابر کړم او په هغه
کې له خپل (پيدا کړي) روح نه پو کړم، نو
تاسو هغه ته پرېوځئ، چې سجده کوونکي يئ

فَسَجَدَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ كُلُّهُمۡ
أَجۡمَعُونَ ﴿٧٣﴾

(73) نو ملايکو ټولو سجده وکړه

إِلَّآ إِبۡلِيسَ ٱسۡتَكۡبَرَ وَكَانَ مِنَ
ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٧٤﴾

(74) غیر له ابليس نه، هغه لويي وکړه او شو
له کافرانو څخه

قَالَ يَٰٓإِبۡلِيسُ مَا مَنَعَكَ أَن
تَسۡجُدَ لِمَا خَلَقۡتُ بِيَدَيَّۖ
أَسۡتَكۡبَرۡتَ أَمۡ كُنتَ مِنَ

(75) (الله) وويل: ای ابليسه! ته هغه کس ته
له سجدې کولو نه څه شي منع کړې، چې ما
پخپلو دواړو لاسونو پيدا کړی دی ؟ ايا تا لويي
وکړه، يا ته (له شروع نه) د لوړو اوچتو خلقو

ٱلۡعَالِينَ ٧٥

ځني يې؟

قَالَ أَنَا۠ خَيۡرٞ مِّنۡهُ خَلَقۡتَنِي مِن نَّارٖ وَخَلَقۡتَهُۥ مِن طِينٖ ٧٦

(76) هغه ووېل: زه له ده نه ډېر غوره يم، تا زه له اوره پيدا کړی يم او هغه دې له خټې نه پيدا کړی دی

قَالَ فَٱخۡرُجۡ مِنۡهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٞ ٧٧

(77) (الله) ووېل: نو ته له دې (جنت) نه ووځه، پس بېشکه ته رټل شوی یې

وَإِنَّ عَلَيۡكَ لَعۡنَتِيٓ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ٧٨

(78) او بېشکه په تا باندې د بدلې تر ورځې پورې زما لعنت دی

قَالَ رَبِّ فَأَنظِرۡنِيٓ إِلَىٰ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ ٧٩

(79) هغه ووېل: ای زما ربه! نو ته ما ته تر هغې ورځې پورې مهلت راکړه چې دوی (خلق) به بیا راژوندي کولی شي

قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ ٱلۡمُنظَرِينَ ٨٠

(80) الله ووېل: پس بېشکه ته له مهلت ورکړی شویو څخه یې

إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡوَقۡتِ ٱلۡمَعۡلُومِ ٨١

(81) د معلوم وخت تر ورځې پورې

قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَأُغۡوِيَنَّهُمۡ أَجۡمَعِينَ ٨٢

(82) ده ووېل: نو قسم ستا پر عزت! چې خامخا ضرور به زه دوی ټول ګمراه کوم

إِلَّا عِبَادَكَ مِنۡهُمُ ٱلۡمُخۡلَصِينَ ٨٣

(83) مګر په دوی کې ستا هغه بنده ګان چې

خالص کړی شوي دي

قَالَ فَٱلۡحَقُّ وَٱلۡحَقَّ أَقُولُ ٨٤

(84) الله وويل: پس حقه خبره دا ده، او زه حقه خبره کوم

لَأَمۡلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنكَ وَمِمَّن تَبِعَكَ مِنۡهُمۡ أَجۡمَعِينَ ٨٥

(85) چې خامخا ضرور به زه جهنم ډکوم له تا نه او له هغه چا نه چې په دوی کې ستا پیروي وکړي، له ټولو نه

قُلۡ مَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٖ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُتَكَلِّفِينَ ٨٦

(86) ته (دوی ته) ووایه: زه له تاسو نه په دې (تبلیغ) باندې هېڅ اجر نه غواړم او زه له تکلف کوونکو څخه نه یم

إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ لِّلۡعَٰلَمِينَ ٨٧

(87) نه دی دا (قرآن) مګر د عالمونو لپاره نصیحت

وَلَتَعۡلَمُنَّ نَبَأَهُۥ بَعۡدَ حِينِۭ ٨٨

(88) او خامخا ضرور به تاسو څه وخت وروسته د ده په خبر عالمان شئ

## سُورَةُ الزُّمَرِ

## سورة زُمر

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ

(1) د دې کتاب نازلول د الله له جانبه دي،

ٱلۡحَكِيمِ ١

چې ډېر غالب، ښه حکمت والا دی

إِنَّآ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ فَٱعۡبُدِ ٱللَّهَ مُخۡلِصٗا لَّهُ ٱلدِّينَ ٢

(2) بېشکه مونږ تا ته کتاب په حقه سره نازل کړی دی، نو ته د الله عبادت کوه، په داسې حال کې چې دین هغه (الله) لره خالص کوونکی یې

أَلَا لِلَّهِ ٱلدِّينُ ٱلۡخَالِصُۚ وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَ مَا نَعۡبُدُهُمۡ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلۡفَىٰٓ إِنَّ ٱللَّهَ يَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡ فِي مَا هُمۡ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي مَنۡ هُوَ كَٰذِبٞ كَفَّارٞ ٣

(3) خبردار شئ! خاص د الله لپاره خالص دین دی، او هغه کسان چې له هغه نه غیر یې دوستان (کارسازي) نیولي دي (وايي:) مونږ د دوی عبادت نه کوو مگر د دې لپاره چې دوی مونږ الله ته نژدې کړي، ښه نژدې کول، بېشکه الله به د دوی په مینځ کې په هغو خبرو کې فیصله کوي چې دوی په هغو کې اختلاف کوي، بېشکه الله هدایت نه کوي هغه چا ته چې هغه دروغجن، ډېر ناشکره وي

لَّوۡ أَرَادَ ٱللَّهُ أَن يَتَّخِذَ وَلَدٗا لَّٱصۡطَفَىٰ مِمَّا يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُۚ سُبۡحَٰنَهُۥۖ هُوَ ٱللَّهُ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّارُ ٤

(4) که الله غوښتلی چې (د ځان لپاره) اولاد ونیسي، (نو) خامخا ده به له خپله مخلوقه هغه غوره کړي وی چې دا یې غواړي، هغه لره پاکي ده. هم دی الله دی چې یو (او) ډېر غالب دی

خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّۖ

(5) هغه اسمانونه او ځمکه په حقه سره پیدا

يُكَوِّرُ ٱلَّيۡلَ عَلَى ٱلنَّهَارِ وَيُكَوِّرُ
ٱلنَّهَارَ عَلَى ٱلَّيۡلِۖ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ
وَٱلۡقَمَرَۖ كُلّٞ يَجۡرِي لِأَجَلٖ مُّسَمًّىۗ
أَلَا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡغَفَّٰرُ ٥

کړي دي، هغه شپه په ورځ تاووي (نغاړي) او ورځ په شپه تاووي او هغه لمر او سپوږمۍ مسخر کړي دي، هر يو مقرر کړی شوي نېټې ته روان دی، خبردار شئ! همغه ښه غالب، ښه بخښونکی دی

خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٖ وَٰحِدَةٖ ثُمَّ
جَعَلَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَأَنزَلَ لَكُم
مِّنَ ٱلۡأَنۡعَٰمِ ثَمَٰنِيَةَ أَزۡوَٰجٖۚ
يَخۡلُقُكُمۡ فِي بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمۡ
خَلۡقٗا مِّنۢ بَعۡدِ خَلۡقٖ فِي ظُلُمَٰتٖ
ثَلَٰثٖۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡ لَهُ
ٱلۡمُلۡكُۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ فَأَنَّىٰ
تُصۡرَفُونَ ٦

**(6)** هغه تاسو له يو نفس نه پيدا کړي يئ، بيا يې له هغه نه د هغه ښځه پيدا کړه او تاسو لپاره يې له څارويو نه اته جوړې پيدا کړې، هغه تاسو د خپلو ميندو په خېټو کې پيدا کوي، يو قسم پيدا کول، وروسته له بل قسم پيدا کولو نه، په دريو تيارو کې، دغه الله ستاسو رب دی، بادشاهي خاص د هغه لپاره ده، نشته دی هېڅ حق معبود مگر هغه دی، نو کوم طرف ته تاسو گرځولی شئ

إِن تَكۡفُرُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ
عَنكُمۡۖ وَلَا يَرۡضَىٰ لِعِبَادِهِ
ٱلۡكُفۡرَۖ وَإِن تَشۡكُرُواْ يَرۡضَهُ
لَكُمۡۗ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ أُخۡرَىٰۚ
ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُم مَّرۡجِعُكُمۡ
فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَۚ
إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ٧

**(7)** که تاسو کفر اختيار کړئ، نو بېشکه الله له تاسو نه ښه بې پروا دی، او هغه د خپلو بنده گانو لپاره کفر نه خوښوي، او که تاسو شکر وباسئ (نو) دی دغه (شکر) تاسو ته خوښوي، او هېڅ بار وړونکی د بل بار نه وړي، بيا خاص خپل رب ته ستاسو بېرته ورتله دي، نو هغه به تاسو په هغو عملونو خبر کړي چې تاسو به کول، بېشکه هغه د سينو په خبرو ښه

عالم دی

۞وَإِذَا مَسَّ ٱلۡإِنسَٰنَ ضُرّٞ دَعَا رَبَّهُۥ مُنِيبًا إِلَيۡهِ ثُمَّ إِذَا خَوَّلَهُۥ نِعۡمَةً مِّنۡهُ نَسِيَ مَا كَانَ يَدۡعُوٓاْ إِلَيۡهِ مِن قَبۡلُ وَجَعَلَ لِلَّهِ أَندَادٗا لِّيُضِلَّ عَن سَبِيلِهِۦۚ قُلۡ تَمَتَّعۡ بِكُفۡرِكَ قَلِيلًا إِنَّكَ مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلنَّارِ ٨

(8) او کله چې انسان ته سختي ورسېږي (، نو) خپل رب بلي، په داسې حال کې چې هغه ته رجوع کوونکی وي، بیا چې کله هغه (الله) ده ته له خپل جانب نه نعمت ورکړي (، نو) هېر کړي هغه ذات چې ده به له دې (نعمت) نه مخکې دغه (تکلیف لرې کولو) ته باله، او الله لپاره شریکان مقرر کړي، د دې لپاره چې د هغه (الله) له لارې نه (خلق) ګمراه کړي، ته ووایه: ته په خپل کفر سره لږه نفعه واخله، بېشکه ته له دوزخیانو څخه یې

أَمَّنۡ هُوَ قَٰنِتٌ ءَانَآءَ ٱلَّيۡلِ سَاجِدٗا وَقَآئِمٗا يَحۡذَرُ ٱلۡأٓخِرَةَ وَيَرۡجُواْ رَحۡمَةَ رَبِّهِۦۗ قُلۡ هَلۡ يَسۡتَوِي ٱلَّذِينَ يَعۡلَمُونَ وَٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَۗ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ٩

(9) ایا هغه څوك چې هغه د شپې په ساعتونو کې اطاعت کوونکی دی، چې سجده کوونکی او قیام کوونکی وي، له اخرت نه وېرېږي او د خپل رب د رحمت امید لري، ته ووایه: ایا سره برابربدلی شي هغه کسان چې پوهېږي او هغه کسان چې نه پوهېږي، بېشکه همدغه د خالصو عقلونو والا نصیحت اخلي

قُلۡ يَٰعِبَادِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمۡۚ لِلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٞۗ وَأَرۡضُ ٱللَّهِ وَٰسِعَةٌۗ

(10) ته (دوی ته د الله له جانبه) ووایه: ای زما هغو بنده ګانو چې ایمان یې راوړی دی: تاسو له خپل رب نه ووېرېږئ، د هغو کسانو لپاره

إِنَّمَا يُوَفَّى ٱلصَّٰبِرُونَ أَجۡرَهُم بِغَيۡرِ حِسَابٖ ١٠

چې په دنیا کې یې نېکي کړې ده ؛ لویه نېکي (او بدله) ده او د الله ځمکه فراخه ده، بېشکه یوازې صبر کوونکو ته د هغوی اجر بې حسابه پوره ورکاوه شي

قُلۡ إِنِّيٓ أُمِرۡتُ أَنۡ أَعۡبُدَ ٱللَّهَ مُخۡلِصٗا لَّهُ ٱلدِّينَ ١١

(11) ته (دوی ته) ووایه: بېشکه ما ته حکم راکړ شوی دی چې زه د الله عبادت کوم، په داسې حال کې چې هغه (الله) لره دین خالص کوونکی یم

وَأُمِرۡتُ لِأَنۡ أَكُونَ أَوَّلَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ١٢

(12) او ما ته حکم راکړی شوی دی چې زه تر ټولو اول مسلمان یم

قُلۡ إِنِّيٓ أَخَافُ إِنۡ عَصَيۡتُ رَبِّي عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيمٖ ١٣

(13) ته (دوی ته) ووایه: بېشکه زه که د خپل رب نافرماني وکړم. د ډېرې لویې ورځې له عذاب نه وېرېږم

قُلِ ٱللَّهَ أَعۡبُدُ مُخۡلِصٗا لَّهُۥ دِينِي ١٤

(14) ته (دوی ته) ووایه: زه خاص د الله عبادت کوم، په داسې حال کې چې هغه لره خپل دین خالص کوونکی یم

فَٱعۡبُدُواْ مَا شِئۡتُم مِّن دُونِهِۦۗ قُلۡ إِنَّ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ وَأَهۡلِيهِمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ

(15) نو تاسو له هغه نه غیر د څه شي چې غواړئ، عبادت وکړئ، ته ووایه: بېشکه نقصان کوونکي هغه کسان دي چې د قیامت په ورځ یې خپلو ځانونو او خپل اهل ته تاوان رسولی

| | |
|---|---|
| أَلَا ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡخُسۡرَانُ ٱلۡمُبِينُ ﴿١٥﴾ | دی. خبردار شئ، دغه (تاوان) همدغه ښکاره تاوان دی |
| لَهُم مِّن فَوۡقِهِمۡ ظُلَلٞ مِّنَ ٱلنَّارِ وَمِن تَحۡتِهِمۡ ظُلَلٞۚ ذَٰلِكَ يُخَوِّفُ ٱللَّهُ بِهِۦ عِبَادَهُۥۚ يَٰعِبَادِ فَٱتَّقُونِ ﴿١٦﴾ | (16) د دوی لپاره به د دوی له پاسه د اور چوپالونه وي او د دوی له لاندې نه به هم چوپالونه وي. دغه (عذاب) دی چې الله په ده سره خپل بنده ګان وېروي، ای زما بنده ګانو! نو تاسو زما نه ووېرېږئ |
| وَٱلَّذِينَ ٱجۡتَنَبُواْ ٱلطَّٰغُوتَ أَن يَعۡبُدُوهَا وَأَنَابُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ لَهُمُ ٱلۡبُشۡرَىٰۚ فَبَشِّرۡ عِبَادِ ﴿١٧﴾ | (17) او هغه کسان چې له طاغوت نه يې ځان وساته، يعنې د هغو له عبادت کولو نه او الله ته يې رجوع وکړه، خاص د دوی لپاره زېرى دی، نو ته زما په بنده ګانو زېرى وکړه |
| ٱلَّذِينَ يَسۡتَمِعُونَ ٱلۡقَوۡلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحۡسَنَهُۥٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ هَدَىٰهُمُ ٱللَّهُۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴿١٨﴾ | (18) هغه (بنده ګان) چې خبره په غور سره اوري، نو د هغې د تر ټولو ښې پیروي کوي، دا هغه کسان دي چې الله دوی ته هدايت کړی دی او همدغه کسان د خالص عقل والا دي |
| أَفَمَنۡ حَقَّ عَلَيۡهِ كَلِمَةُ ٱلۡعَذَابِ أَفَأَنتَ تُنقِذُ مَن فِي ٱلنَّارِ ﴿١٩﴾ | (19) ايا نو هغه څوک چې په هغه باندې د عذاب خبره ثابته شوې ده، ايا نوته هغه څوک خلاصولی شې چې په اور کې وي |
| لَٰكِنِ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ رَبَّهُمۡ لَهُمۡ | (20) لیکن هغه کسان چې له خپل رب نه |

غُرَفٌ مِّن فَوْقِهَا غُرَفٌ مَّبْنِيَّةٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ ۖ وَعْدَ ٱللَّهِ لَا يُخْلِفُ ٱللَّهُ ٱلْمِيعَادَ ﴿٢٠﴾

ویریږي خاص د دوی لپاره داسې بالاخانې دي چې د هغو له پاسه (نورې) ښې جوړې کړی شوي بالاخانې دي، چې د هغو له لاندې ولې بهېږي، (دا) د الله کړې وعده ده، الله د وعدې مخالفت نه کوي

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَسَلَكَهُۥ يَنَٰبِيعَ فِي ٱلْأَرْضِ ثُمَّ يُخْرِجُ بِهِۦ زَرْعًا مُّخْتَلِفًا أَلْوَٰنُهُۥ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَىٰهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَجْعَلُهُۥ حُطَٰمًا ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِأُوْلِي ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿٢١﴾

**(21)** ایا تا نه دي کتلي چې بېشکه الله له بره نه اوبه نازلې کړې دي، بیا یې دغه (اوبه) په ځمکه کې په چینو کې ننه ایستي دي، بیا هغه په دغو (اوبو) سره فصل راوباسي، په دې حال کې چې د هغه رنګونه مختلف وي، بیا هغه وچ شي، نو ته هغه (شین رنګی فصل) تك زېړ وینې، بیا دغه (فصل) لره هغه رژېدلی (مات شوی) وګرځوي، بېشکه په دغه کې د خالصو عقلونو والاو لپاره خامخا نصیحت دی

أَفَمَن شَرَحَ ٱللَّهُ صَدْرَهُۥ لِلْإِسْلَٰمِ فَهُوَ عَلَىٰ نُورٍ مِّن رَّبِّهِۦ ۚ فَوَيْلٌ لِّلْقَٰسِيَةِ قُلُوبُهُم مِّن ذِكْرِ ٱللَّهِ ۚ أُوْلَٰٓئِكَ فِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٢٢﴾

**(22)** ایا نو هغه څوك چې الله د هغه سینه د اسلام لپاره پرانستلې وي، نو دغه کس په رڼا کې وي د خپل رب له جانبه، پس هلاکت دی هغو کسانو ته چې د هغوی زړونه د الله له ذکره سخت دي، دغه کسان په ښکاره ګمراهۍ کې دي

ٱللَّهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ ٱلْحَدِيثِ كِتَٰبًا

**(23)** الله تر ټولو ښکلی کلام نازل کړی دی،

مُّتَشَٰبِهًا مَّثَانِيَ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ
جُلُودُ ٱلَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ثُمَّ
تَلِينُ جُلُودُهُمْ وَقُلُوبُهُمْ إِلَىٰ ذِكْرِ
ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ هُدَى ٱللَّهِ يَهْدِي بِهِۦ
مَن يَشَآءُۚ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَمَا
لَهُۥ مِنْ هَادٍ ﴿٢٣﴾

چې داسې کتاب دی چې په خپل مینځ کې مشابه دی، مکرر (او غبرگ) دی، چې له ده نه د هغو کسانو پوستکي ځیگ کېږي چې له خپل رب نه وېرېږي، بیا د دوی پوستکي او د دوی زړونه د الله ذکر ته نرم شي، دغه د الله هدایت دی، چې چا ته وغواړي په ده سره هدایت ورکوي او هغه څوك چې الله يې گمراه کړي، نو د هغه لپاره هیڅوك لار ښودونکی نشته

أَفَمَن يَتَّقِي بِوَجْهِهِۦ سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ
يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِۚ وَقِيلَ لِلظَّٰلِمِينَ
ذُوقُواْ مَا كُنتُمْ تَكْسِبُونَ ﴿٢٤﴾

(24) ایا نو هغه څوك چې په خپل مخ سره ځان بچ کوي له سخت عذاب نه په ورځ د قیامت کې او ظالمانو ته به وویل شي: تاسو وڅکئ (سزا د) هغو عملونو چې تاسو به کول

كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَأَتَىٰهُمُ
ٱلْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا
يَشْعُرُونَ ﴿٢٥﴾

(25) هغو کسانو تکذیب کړی و چې له دوی نه مخکې وو، نو په دوی عذاب له هغه ځایه راغی چې دوی نه پوهېدل

فَأَذَاقَهُمُ ٱللَّهُ ٱلْخِزْيَ فِي ٱلْحَيَوٰةِ
ٱلدُّنْيَاۖ وَلَعَذَابُ ٱلْأٓخِرَةِ أَكْبَرُۚ لَوْ
كَانُواْ يَعْلَمُونَ ﴿٢٦﴾

(26) نو الله په دوی په دنیایي ژوند کې رسوايي وڅکوله او خامخا د اخرت عذاب تر ټولو لوی دی، که چېرې دوی پوهېدلی

وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا

(27) او یقینًا یقینًا مونږ د خلقو لپاره په دې

ٱلْقُرْءَانِ مِن كُلِّ مَثَلٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ٢٧

قرآن کې هر قسمه مثال بیان کړی دی، د دې لپاره چې دوی نصیحت واخلي

قُرْءَانًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِى عِوَجٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ٢٨

(28) په داسې حال کې چې دغه عربي (واضح) قرآن دی، د کوږوالي والا نه دی، د دې لپاره چې دوی پرهېزګاره شي

ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا رَّجُلًا فِيهِ شُرَكَآءُ مُتَشَٰكِسُونَ وَرَجُلًا سَلَمًا لِّرَجُلٍ هَلْ يَسْتَوِيَانِ مَثَلًا ۚ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ٢٩

(29) الله يو مثال بیانوي، يو (غلام) سړی دی، په ده کې بدخويه په خپل مينځ کې ناسازه کسان شريکان دي او بل (غلام) سړی دی چې سالم (او پوره) د يو سړي دی، ايا دغه دواړه په حال کې سره برابر دي؟ ټول د کمال صفتونه خاص د الله لپاره دي بلکې د دوی اکثره نه پوهېږي

إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ ٣٠

(30) بېشکه ته هم مړ کېدونکی يې او بېشکه دوی (هم) مړ کېدونکي دي

ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ عِندَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُونَ ٣١

(31) بيا بېشکه تاسو به د قيامت په ورځ د خپل رب په وړاندې، يو تربله جګړه کوئ

۞ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن كَذَبَ عَلَى ٱللَّهِ وَكَذَّبَ بِٱلصِّدْقِ إِذْ جَآءَهُۥٓ ۚ أَلَيْسَ فِى جَهَنَّمَ مَثْوًى

(32) نو له هغه چا نه لوی ظالم څوك دی چې په الله دروغ تړي او رښتيا (قرآن) دروغ ګڼي، کله چې دغه (رښتيا) ده ته راشي؟ ايا

لِّلۡكَٰفِرِينَ ٣٢

په دوزخ کې د کافرانو لپاره استوګنځی نشته؟

وَٱلَّذِي جَآءَ بِٱلصِّدۡقِ وَصَدَّقَ بِهِۦٓ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُتَّقُونَ ٣٣

(33) او هغه کس چې صدق (ربښتینی دین) يې راوړ او (هغه چې) د دغه (صدق) تصدیق يې وکړ (نو) هم دغه کسان پرهیزګاران دي

لَهُم مَّا يَشَآءُونَ عِندَ رَبِّهِمۡۚ ذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٣٤

(34) د دوی لپاره د خپل رب په نیز هغه څه دي چې دوی يې غواړي، دغه د نېکي کوونکو بدله ده

لِيُكَفِّرَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ أَسۡوَأَ ٱلَّذِي عَمِلُواْ وَيَجۡزِيَهُمۡ أَجۡرَهُم بِأَحۡسَنِ ٱلَّذِي كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٣٥

(35) د دې لپاره چې الله له دوی نه هغه بدتر ګناهونه لرې (ختم) کړي چې دوی کړي دي او دوی ته د دوی اجر بدله ورکړي، په سبب د هغو تر ټولو ښکلو عملونو چې دوی به کول

أَلَيۡسَ ٱللَّهُ بِكَافٍ عَبۡدَهُۥۖ وَيُخَوِّفُونَكَ بِٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦۚ وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِنۡ هَادٖ ٣٦

(36) ایا الله خپل بنده ته ښه کافي کېدونکی نه دی او دوی تا په هغو (معبودانو) وېروي چې له دغه (الله) نه غیر دي او هغه څوک چې الله يې ګمراه کړي، نو د هغه لپاره هیڅوك نېغه لار ښودونکی نشته

وَمَن يَهۡدِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن مُّضِلٍّۗ أَلَيۡسَ ٱللَّهُ بِعَزِيزٖ ذِي ٱنتِقَامٖ ٣٧

(37) او هغه څوك چې الله ورته هدایت وکړي، نو د هغه لپاره هیڅوك ګمراه کوونکی نشته. ایا الله ښه غالب او انتقام والا نه دی ؟

وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۚ قُلۡ أَفَرَءَيۡتُم مَّا تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ إِنۡ أَرَادَنِيَ ٱللَّهُ بِضُرٍّ هَلۡ هُنَّ كَٰشِفَٰتُ ضُرِّهِۦٓ أَوۡ أَرَادَنِي بِرَحۡمَةٍ هَلۡ هُنَّ مُمۡسِكَٰتُ رَحۡمَتِهِۦۚ قُلۡ حَسۡبِيَ ٱللَّهُۖ عَلَيۡهِ يَتَوَكَّلُ ٱلۡمُتَوَكِّلُونَ ﴿٣٨﴾

(38) او يقينًا كه ته له دوى نه تپوس وکړې چې اسمانونه او ځمکه چا پيدا کړي دي (،نو) دوى به خامخا لازمًا ووايي چې ”الله“، ته (دوى ته) ووايه: تاسو ما ته خبر راکړئ، هغه (معبودان) چې تاسو يې له الله نه غير بلئ. كه چېرې الله ما ته د ضرر رسولو اراده وکړي، ايا دغه (ستاسو معبودان) د هغه د ضرر لرې کوونکي دي؟ يا که هغه (الله) ما سره د رحمت اراده وکړي، ايا دغه (معبودان) د هغه د رحمت منع کوونکي دي؟ ته (دوى ته) ووايه: زما لپاره بس الله کافي دى، خاص په ده باندې توکل کوونکي توکل کوي

قُلۡ يَٰقَوۡمِ ٱعۡمَلُواْ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمۡ إِنِّي عَٰمِلٞۖ فَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ﴿٣٩﴾

(39) ته (دوى ته) ووايه: اى زما قومه: تاسو په خپله طريقه (او ځاى) عمل کوئ، بېشکه زه هم عمل کوونکى يم، نو ژر به تاسو وپېژنئ

مَن يَأۡتِيهِ عَذَابٞ يُخۡزِيهِ وَيَحِلُّ عَلَيۡهِ عَذَابٞ مُّقِيمٌ ﴿٤٠﴾

(40) هغه څوك چې ده ته به داسې عذاب راشي چې دا به وشرموي او په ده به دايمي عذاب نازل شي

إِنَّآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ لِلنَّاسِ بِٱلۡحَقِّۖ فَمَنِ ٱهۡتَدَىٰ فَلِنَفۡسِهِۦۖ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيۡهَاۖ وَمَآ

(41) بېشکه مونږ په تا باندې کتاب نازل کړى دى د خلقو لپاره په حقه سره، نوهغه څوك چې په سمه لار روان شي، نو د خپل ځان

| | |
|---|---|
| أَنتَ عَلَيۡهِم بِوَكِيلٍ ۝٤١ | لپاره یې نفع ده او هغه څوك چې ګمراه شي، نو بېشکه همدا خبره ده چې دی د همدغه (ځان) په ضرر ګمراه کېږي او ته په دوی باندې له سره نګران نه یې |
| ٱللَّهُ يَتَوَفَّى ٱلۡأَنفُسَ حِينَ مَوۡتِهَا وَٱلَّتِي لَمۡ تَمُتۡ فِي مَنَامِهَاۖ فَيُمۡسِكُ ٱلَّتِي قَضَىٰ عَلَيۡهَا ٱلۡمَوۡتَ وَيُرۡسِلُ ٱلۡأُخۡرَىٰٓ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمًّىۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ۝٤٢ | **(42)** الله نفسونه (ساګاني) قبضوي د هغو د مرګ په وخت کې او هغه (نفس) چې مړ نه وي د (هغه ساه) د خوب په وخت کې(قبضوي)، بیا هغه (ساه) ساتي چې په هغې یې د مرګ فیصله کړې وي او هغه بله تر مقررې نېټې پورې راخوشې کړي، بېشکه په دغو (قبض، ساتلو او پرېښودلو) کې خامخا لویې نښې دي د هغه قوم لپاره چې ښه فکر کوي |
| أَمِ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ شُفَعَآءَۚ قُلۡ أَوَلَوۡ كَانُواْ لَا يَمۡلِكُونَ شَيۡـٔٗا وَلَا يَعۡقِلُونَ ۝٤٣ | **(43)** بلکې ایا دوی له الله نه غیر شفاعت کوونکي نیولي دي، ته (دوی ته) ووایه: ایا (دوی به شفاعت کوي!) اګر که دوی په داسې حال کې وي چې نه د څه شي مالکان وي او نه عقل لري |
| قُل لِّلَّهِ ٱلشَّفَٰعَةُ جَمِيعٗاۖ لَّهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ ثُمَّ إِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ۝٤٤ | **(44)** ته (دوی ته) ووایه: شفاعت ټول خاص د الله په اختیار کې دی،خاص د هغه لپاره د اسمانونو او ځمکې بادشاهي ده، بیا به تاسو |

خاص هغه ته ببرته ببول کېږئ

وَإِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَحۡدَهُ ٱشۡمَأَزَّتۡ قُلُوبُ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِۖ وَإِذَا ذُكِرَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦٓ إِذَا هُمۡ يَسۡتَبۡشِرُونَ ﴿٤٥﴾

(45) او کله چې الله يواځې ياد کړی شي ()، نو) د هغو کسانو زړونه سخت تنګ شي چې په اخرت ايمان نه لري او کله چې هغه (معبودان، بتان) ياد کړی شي چې له هغه(الله) نه غير دي()، نو) ناڅاپه دوی ډېر خوشحالېږي

قُلِ ٱللَّهُمَّ فَاطِرَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ عَٰلِمَ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ أَنتَ تَحۡكُمُ بَيۡنَ عِبَادِكَ فِي مَا كَانُواْ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ﴿٤٦﴾

(46) ته ووايه: ای الله د اسمانونو اوځمکې پيدا کوونکيه، د غيبو او د ښکاره وو عالِمه، ته به د خپلو بنده ګانو په مينځ کې فيصله کوې، په هغو خبرو کې چې دوی به په هغو کې اختلاف کاوه

وَلَوۡ أَنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُواْ مَا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا وَمِثۡلَهُۥ مَعَهُۥ لَٱفۡتَدَوۡاْ بِهِۦ مِن سُوٓءِ ٱلۡعَذَابِ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ وَبَدَا لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مَا لَمۡ يَكُونُواْ يَحۡتَسِبُونَ ﴿٤٧﴾

(47) او که په رښتيا سره د ظلم (شرك) کوونکو کسانو لپاره هغه څه چې په ځمکه کې دي، ټول مملوك شي او د دغه په مثل نور ورسره شي، نو دوی به خامخا د قيامت په ورځ کې له بدتر عذاب نه د خلاصي لپاره دغه فديه ورکړي. او دوی ته به د الله له جانبه هغه څه ښکاره شي چې دوی به يې ګمان هم نه کاوه

وَبَدَا لَهُمۡ سَيِّـَٔاتُ مَا كَسَبُواْ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ﴿٤٨﴾

(48) او دوی ته به د خپلو کړو عملونو بدۍ ښکاره شي او له دوی نه به هغه (عذاب) چاپېره شي چې دوی به په هغه پورې استهزا کولې

فَإِذَا مَسَّ ٱلۡإِنسَٰنَ ضُرّٞ دَعَانَا ثُمَّ إِذَا خَوَّلۡنَٰهُ نِعۡمَةٗ مِّنَّا قَالَ إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلۡمِۭۚ بَلۡ هِيَ فِتۡنَةٞ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٤٩﴾

(49) نو کله چې انسان ته تکلیف ورسي ()، نو) مونږ بلي، بیا چې کله ده ته مونږ له خپله جانبه نعمت ورکړو ()، نو) دی وايي: دا خو ما ته یواځې (زما) د علم په سبب راکړ شوی دی، بلکې دغه (ورکړه) ازمېښت دی، او لیکن د دوی اکثره نه پوهېږي

قَدۡ قَالَهَا ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ فَمَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴿٥٠﴾

(50) یقینًا دغه خبره هغو کسانو (هم) کړې وه چې له دوی نه مخکې وو، نو د دغو کسانو هېڅ په کار رانغلل هغه (مالونه) چې دوی به ګټل

فَأَصَابَهُمۡ سَيِّـَٔاتُ مَا كَسَبُواْۚ وَٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنۡ هَٰٓؤُلَآءِ سَيُصِيبُهُمۡ سَيِّـَٔاتُ مَا كَسَبُواْ وَمَا هُم بِمُعۡجِزِينَ ﴿٥١﴾

(51) نو دغو (پخوانیو خلقو) ته د خپلو کړو عملونو بدۍ ورسېدلې او هغه کسان چې ظلم یې کړی دی له دغو خلقو نه (چې قریش دي) ژر به دوی ته د دوی د کړو عملونو بدۍ ورسېږي او دوی (مونږ لره) عاجزه کوونکي نه دي

أَوَلَمۡ يَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ٥٢

(52) او ایا دوی نه پوهېږي چې بېشکه الله رزق فراخوي چا لپاره چې وغواړي او تنګوي يې، بېشکه په دغو (فراخولو اوتنګولو) کې خامخا ډېرې نښې دي د هغه قوم لپاره چې ايمان راوړي

۞قُلۡ يَٰعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ أَسۡرَفُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ لَا تَقۡنَطُواْ مِن رَّحۡمَةِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَغۡفِرُ ٱلذُّنُوبَ جَمِيعًاۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ٥٣

(53) ته (دوی) ته ووايه: ای زما هغو بنده ګانو چې په خپلو ځانونو يې زياتی کړی دی! تاسو د الله له رحمت نه مه نااميده کېږئ، بېشکه الله ټول ګناهونه بخښي، بېشکه دغه (الله)، هم دی ښه بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی

وَأَنِيبُوٓاْ إِلَىٰ رَبِّكُمۡ وَأَسۡلِمُواْ لَهُۥ مِن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَكُمُ ٱلۡعَذَابُ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ ٥٤

(54) او تاسو خپل رب ته رجوع وکړئ او هغه ته غاړه کېږدئ، مخکې له دې نه چې په تاسو عذاب راشي، بيا به تاسو سره مدد نه کولی شي

وَٱتَّبِعُوٓاْ أَحۡسَنَ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُم مِّن رَّبِّكُم مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَكُمُ ٱلۡعَذَابُ بَغۡتَةٗ وَأَنتُمۡ لَا تَشۡعُرُونَ ٥٥

(55) او تاسو د تر ټولو ښه حکم (قرآن) پيروي وکړئ هغه چې تاسو ته د خپل رب له جانبه نازل کړی شوی دی مخکې له دې نه چې په تاسو عذاب راشي ناڅاپه، حال دا چې تاسو به نه پوهېږئ

| | |
|---|---|
| أَن تَقُولَ نَفْسٌ يَٰحَسْرَتَىٰ عَلَىٰ مَا فَرَّطتُ فِي جَنۢبِ ٱللَّهِ وَإِن كُنتُ لَمِنَ ٱلسَّٰخِرِينَ ﴿٥٦﴾ | (56) (تاسو اوس خپل رب ته رجوع وکړئ) ځکه چې نفس به وايي: اى زما حسرته! په هغه چې ما د الله په حق کې تقصير(او کمی) کړی دی او يقينًا زه خامخا د استهزا کوونکو څخه وم |
| أَوْ تَقُولَ لَوْ أَنَّ ٱللَّهَ هَدَىٰنِي لَكُنتُ مِنَ ٱلْمُتَّقِينَ ﴿٥٧﴾ | (57) يا به وايي: که حقيقتًا الله ما ته هدايت کړی وی(، نو) زه به خامخا د پرهيزګارانو څخه وی |
| أَوْ تَقُولَ حِينَ تَرَى ٱلْعَذَابَ لَوْ أَنَّ لِي كَرَّةً فَأَكُونَ مِنَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٥٨﴾ | (58) يا به وايي کله چې عذابويني: کاشکې په رښتيا سره ما ته بېرته تلل وی، نو زه به له نېکي کوونکو څخه وم |
| بَلَىٰ قَدْ جَآءَتْكَ ءَايَٰتِي فَكَذَّبْتَ بِهَا وَٱسْتَكْبَرْتَ وَكُنتَ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٥٩﴾ | (59) ولې نه! يقينًا تا ته زما ايتونه راغلي وو، نو تا د هغو تکذيب کړی و او تکبر دې کړی و او ته وې له کافرانو نه |
| وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ تَرَى ٱلَّذِينَ كَذَبُواْ عَلَى ٱللَّهِ وُجُوهُهُم مُّسْوَدَّةٌ ۚ أَلَيْسَ فِي جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْمُتَكَبِّرِينَ ﴿٦٠﴾ | (60) او د قيامت په ورځ به ته هغه کسان ووينې چې په الله يې دروغ تړلي وو، په داسې حال کې چې د دوی مخونه به تک تور کړی شوي وي، ايا په دوزخ کې د تکبر کوونکو لپاره ځای نشته! |

وَيُنَجِّي ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ بِمَفَازَتِهِمۡ لَا يَمَسُّهُمُ ٱلسُّوٓءُ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ٦١

(61) او الله به هغو کسانو ته چې ځان يې (له شرك نه) بچ ساتلی دی، د خپلې کاميابۍ (او فلاح) په وجه نجات ورکړي، په داسې حال کې چې دوی ته به نه سختي رسېږي او نه به دوی غمجن کېږي

ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٞ ٦٢

(62) الله د هر شي پيدا کوونکی دی او هغه په هر شي باندې نګران دی

لَّهُۥ مَقَالِيدُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ٦٣

(63) خاص هم ده لره د اسمانونو او ځمکې چابياني دي، او هغه کسان چې د الله په ايتونو سره کافران شوي دي، هم دغه کسان تاوانيان دي

قُلۡ أَفَغَيۡرَ ٱللَّهِ تَأۡمُرُوٓنِّيٓ أَعۡبُدُ أَيُّهَا ٱلۡجَٰهِلُونَ ٦٤

(64) ته (دوی ته) ووايه: ايا نو تاسو ما ته حکم کوئ چې زه د غير الله عبادت وکړم؟ اې جاهلانو!

وَلَقَدۡ أُوحِيَ إِلَيۡكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكَ لَئِنۡ أَشۡرَكۡتَ لَيَحۡبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٦٥

(65) او يقينًا يقينًا تا ته وحي کړی شوې ده او هغو کسانو ته چې له تا نه مخکې وو (داسې چې) قسم دی که تا شرك وکړ (نو) ستا عمل به خامخا لازمًا برباد شي او ته به خامخا لازمًا له تاوانيانو ځنې شې

بَـلِ ٱللَّهَ فَٱعۡبُـدۡ وَكُـن مِّـنَ ٱلشَّـٰكِرِينَ ﴿٦٦﴾

(66) بلكې ته خاص د الله عبادت کوه او اوسه له شکر کوونکو څنې

وَمَـا قَـدَرُواْ ٱللَّهَ حَـقَّ قَـدۡرِهِۦ وَٱلۡأَرۡضُ جَمِيعٗـا قَبۡضَـتُهُۥ يَـوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَـةِ وَٱلسَّـمَٰوَٰتُ مَطۡوِيَّـٰتُۢ بِيَمِينِهِۦۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّـا يُشۡرِكُونَ ﴿٦٧﴾

(67) او دغو (مشرکانو) د الله تعظیم ونه کړ د هغه حق تعظیم، حال دا چې ځمکه ټوله د ده په قبضه کې ده د قیامت په ورځ کې او اسمانونه د ده په ښي لاس کې رانغاړل (راټول کړی) شوي دي، ده لره پاکي ده او هغه ډېر اوچت دی له هغو څیزونو نه چې دوی یې (له هغه سره) شریکوي

وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَصَـعِقَ مَـن فِي ٱلسَّـمَٰوَٰتِ وَمَـن فِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا مَن شَآءَ ٱللَّهُۖ ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخۡرَىٰ فَإِذَا هُمۡ قِيَامٞ يَنظُرُونَ ﴿٦٨﴾

(68) او په شپېلۍ کې به پو کړی شي، نو بې هوشه (بې خوده) به شي هر هغه څوك چې په اسمانونو کې دي او هر هغه څوك چې په ځمکه کې دي، غیر له هغه چا نه چې الله یې وغواړي، بیا به په دې کې بل ځلې پو کړی شي، نو ناڅاپه به دوی ولاړ وي، ګوري به (حیران حیران)

وَأَشۡرَقَـتِ ٱلۡأَرۡضُ بِنُـورِ رَبِّهَـا وَوُضِـعَ ٱلۡكِتَـٰبُ وَجِـاْيٓءَ بِٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَقُضِيَ بَيۡنَهُم بِٱلۡحَقِّ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ﴿٦٩﴾

(69) او ځمکه به د خپل رب په نور سره روښانه شي او کتاب (عمل نامه) به کېښودل شي او نبیان او شاهدان به راوستل شي او د دوی په مینځ کې به په حق (او انصاف) سره فیصله وکړی شي، په داسې حال کې چې په

دوی به هېڅ ظلم ونه کړی شي

وَوُفِّيَتۡ كُلُّ نَفۡسٖ مَّا عَمِلَتۡ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِمَا يَفۡعَلُونَ ۝٧٠

(70) او هر نفس ته به د ده کړی عمل پوره ورکړی شي او هغه (الله) ښه عالم دی په هغو عملونو چې دوی يې کوي

وَسِيقَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِلَىٰ جَهَنَّمَ زُمَرًاۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوهَا فُتِحَتۡ أَبۡوَٰبُهَا وَقَالَ لَهُمۡ خَزَنَتُهَآ أَلَمۡ يَأۡتِكُمۡ رُسُلٞ مِّنكُمۡ يَتۡلُونَ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتِ رَبِّكُمۡ وَيُنذِرُونَكُمۡ لِقَآءَ يَوۡمِكُمۡ هَٰذَاۚ قَالُواْ بَلَىٰ وَلَٰكِنۡ حَقَّتۡ كَلِمَةُ ٱلۡعَذَابِ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ۝٧١

(71) او کافران شوي کسان به دوزخ ته ډلې ډلې روان کړی شي، تر هغه پورې چې کله دوی دغه (دوزخ) ته راشي، (نو) د ده دروازې به پرانستل شي او دوی ته به د دغه (جهنم) نگرانان ووايي: ايا تاسو ته رسولان نه وو راغلي، چې له هم ستاسو نه وو، چې تاسو ته به يې ستاسو د رب ايتونه لوستل او تاسو به يې د خپلې دغې ورځې له ملاقات نه وېرولئ؟ دوی به ووايي: ولې نه! (راغلي وو) او لېکن د عذاب خبره په کافرانو باندې ثابته شوې وه

قِيلَ ٱدۡخُلُوٓاْ أَبۡوَٰبَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَاۖ فَبِئۡسَ مَثۡوَى ٱلۡمُتَكَبِّرِينَ ۝٧٢

(72) وبه ويل شي (دوی ته): تاسو د دوزخ په دروازو کې ننوځئ، په داسې حال کې چې په دغه (دوزخ) کې به تل يئ، نو د تکبر کوونکو استوگنه بده ده

وَسِيقَ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ رَبَّهُمۡ إِلَى

(73) او هغه کسان به چې له خپل رب نه وېرېدل، جنت ته ډلې ډلې روان کړی شي،

ٱلْجَنَّةِ زُمَرًاۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوهَا وَفُتِحَتْ أَبْوَٰبُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا سَلَٰمٌ عَلَيْكُمْ طِبْتُمْ فَٱدْخُلُوهَا خَٰلِدِينَ ﴿٧٣﴾

تر هغه پورې چې کله دوی ده ته راشي، په دې حال کې چې د ده دروازې به (له مخکې نه) پرانستل شوي وي او دوی ته به د دغه (جنت) نگرانان ووايي: په تاسو دې سلام وي، تاسو پاك يئ، نو دغو ته داخل شئ، په داسې حال کې چې تل اوسېدونکي به يئ

وَقَالُوا۟ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى صَدَقَنَا وَعْدَهُۥ وَأَوْرَثَنَا ٱلْأَرْضَ نَتَبَوَّأُ مِنَ ٱلْجَنَّةِ حَيْثُ نَشَآءُۖ فَنِعْمَ أَجْرُ ٱلْعَٰمِلِينَ ﴿٧٤﴾

(74) او دوی به وايي: ټول د کمال صفتونه هغه الله لره خاص دي چې زمونږ سره يې خپله وعده رښتينې کړه او مونږ ته يې دغه ځمکه میراث راکړه، چې په دغه جنت کې مونږ ځای نيسو، هر ځای چې مونږ وغواړو، نو د (نېك) عمل کوونکو اجر ښه دی

وَتَرَى ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ حَآفِّينَ مِنْ حَوْلِ ٱلْعَرْشِ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْۖ وَقُضِىَ بَيْنَهُم بِٱلْحَقِّۚ وَقِيلَ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٧٥﴾

(75) او (ای نبي) ته به ملايك ووينې، چې د عرش گېر چاپېره راتاوېدونکي وي، چې د خپل رب له حمد سره تسبيح وايي او د دغو (خلقو) په مينځ کې به په حقه سره فيصله وکړى شي او وبه ويل شي: ټول د کمال صفتونه خاص د الله لپاره دي چې د عالمونو ښه پالونکی دی

## سُورَةُ غَافِرٍ

## سورۀ غافر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

حمٓ ١

(1) حا، ميم

تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ٢

(2) د کتاب نازلول د الله له جانبه دي چې ډېر غالب، ښه پوه دی

غَافِرِ ٱلذَّنۢبِ وَقَابِلِ ٱلتَّوۡبِ شَدِيدِ ٱلۡعِقَابِ ذِي ٱلطَّوۡلِۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ إِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ ٣

(3) د ګناهونو بخښونکی او د توبې قبلوونکی دی، ډېر سخت عذاب والا د لوی فضل والا دی، نشته دی هيڅ حق معبود مګر هم دی دی، خاص هم ده ته بېرته ورتله دي

مَا يُجَٰدِلُ فِيٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَلَا يَغۡرُرۡكَ تَقَلُّبُهُمۡ فِي ٱلۡبِلَٰدِ ٤

(4) د الله په ايتونو کې جګړې نه کوي مګر هغه کسان چې کافران شوي دي، نو په ښارونو کې د دوی تګ راتګ دې تا تېر نه باسي

كَذَّبَتۡ قَبۡلَهُمۡ قَوۡمُ نُوحٖ وَٱلۡأَحۡزَابُ مِنۢ بَعۡدِهِمۡۖ وَهَمَّتۡ كُلُّ أُمَّةِۭ بِرَسُولِهِمۡ لِيَأۡخُذُوهُۖ

(5) له دغو (قريشو) نه مخکې د نوح قوم تکذيب کړی و او د دوی (قوم نوح) نه وروسته نورو ډلو (هم) او هر يو امت د خپل رسول په باره کې اراده وکړه چې هغه راګير کړي او

وَجَٰدَلُواْ بِٱلۡبَٰطِلِ لِيُدۡحِضُواْ بِهِ ٱلۡحَقَّ فَأَخَذۡتُهُمۡۖ فَكَيۡفَ كَانَ عِقَابِ ۝٥

دوی په باطله سره جګړې وکړې، د دې لپاره چې په دغه (باطل) سره حق ختم(او زایله) کړي، نو ما دوی ونیول، بیا نو زما سزا ورکول څنګه وو؟

وَكَذَٰلِكَ حَقَّتۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّهُمۡ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِ ۝٦

**(6)** او همداسې ستا د رب خبره په هغو کسانو لازمه شوې ده چې کافران شوي دي، چې بېشکه دوی د اور ملګري دي

ٱلَّذِينَ يَحۡمِلُونَ ٱلۡعَرۡشَ وَمَنۡ حَوۡلَهُۥ يُسَبِّحُونَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ وَيُؤۡمِنُونَ بِهِۦ وَيَسۡتَغۡفِرُونَ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْۖ رَبَّنَا وَسِعۡتَ كُلَّ شَيۡءٖ رَّحۡمَةٗ وَعِلۡمٗا فَٱغۡفِرۡ لِلَّذِينَ تَابُواْ وَٱتَّبَعُواْ سَبِيلَكَ وَقِهِمۡ عَذَابَ ٱلۡجَحِيمِ ۝٧

**(7)** (له ملایکو څخه) هغه کسان چې عرش اوچتوي او هغه (ملایك) چې د دغه (عرش) ګېر چاپېره دي، دوی د خپل رب د ستاینې سره تسبیح وايي او په ده ایمان لري او د هغو کسانو لپاره مغفرت غواړي چې ایمان یې راوړی دی (او وايي:) ای زمونږه ربه! ته د رحمت په لحاظ سره هر شي ته رسېدلی یې، نو ته هغو کسانو ته بخښنه وکړې چې توبه یې ایستلې ده او ستا د لارې پیروي یې کړې ده او ته دوی د دوزخ له عذاب نه وساته

رَبَّنَا وَأَدۡخِلۡهُمۡ جَنَّٰتِ عَدۡنٍ ٱلَّتِي وَعَدتَّهُمۡ وَمَن صَلَحَ مِنۡ ءَابَآئِهِمۡ وَأَزۡوَٰجِهِمۡ وَذُرِّيَّٰتِهِمۡۚ إِنَّكَ أَنتَ

**(8)** ای زمونږه ربه! او ته دوی د تل استوګنې هغو جنتونو ته ننباسه چې تا یې له دوی سره وعده کړې ده، او هغه څوك چې صلاحیت ولري د دوی له پلرونو او د دوی له ښځو او د

ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٨﴾

دوی له اولادونو څخه (هغه هم ننباسه)، بېشکه ته، هم ته نبه غالب، ډېر حکمت والا يې

وَقِهِمُ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ وَمَن تَقِ ٱلسَّيِّـَٔاتِ يَوۡمَئِذٖ فَقَدۡ رَحِمۡتَهُۥۚ وَذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴿٩﴾

(9) او ته دوی له سختيو نه بچ وساته او هغه خوك چې ته يې په دغې ورځ کې له سختيو نه بچ وساتې، نو يقينًا تا په هغه رحم وکړ او هم دغه ډېره لويه کاميابي ده

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُنَادَوۡنَ لَمَقۡتُ ٱللَّهِ أَكۡبَرُ مِن مَّقۡتِكُمۡ أَنفُسَكُمۡ إِذۡ تُدۡعَوۡنَ إِلَى ٱلۡإِيمَٰنِ فَتَكۡفُرُونَ ﴿١٠﴾

(10) بېشکه هغه کسان چې کافران شوي دي، دوی ته به (په دوزخ کې) اواز وکړی شي: يقينًا (تاسو ته) د الله غصه کېدل ډېر لوی وو ستاسو خپلو ځانونو ته له غصه کېدلو نه، کله چې به تاسو ايمان ته بللی شوئ، نو تاسو به کفر کاوه

قَالُواْ رَبَّنَآ أَمَتَّنَا ٱثۡنَتَيۡنِ وَأَحۡيَيۡتَنَا ٱثۡنَتَيۡنِ فَٱعۡتَرَفۡنَا بِذُنُوبِنَا فَهَلۡ إِلَىٰ خُرُوجٖ مِّن سَبِيلٖ ﴿١١﴾

(11) (نو) دوی به وواېي: ای زمونږه ربه! تا مونږ دوه ځلې مړه کړو او دوه ځل دې مونږ ژوندي کړو، نو مونږ (اوس) د خپلو گناهونو اقرار وکړ، نو ايا (له دوزخ نه زمونږ) وتلو ته کومه لار شته؟

ذَٰلِكُم بِأَنَّهُۥٓ إِذَا دُعِيَ ٱللَّهُ وَحۡدَهُۥ كَفَرۡتُمۡ وَإِن يُشۡرَكۡ بِهِۦ

(12) دغه (ابدي عذاب) په دې سبب دی چې بېشکه شان دا دی چې کله به الله يواځې وبلل شو(نو) تاسو به کفر کاوه او که له

تُؤْمِنُوا۟ۚ فَٱلْحُكْمُ لِلَّهِ ٱلْعَلِيِّ ٱلْكَبِيرِ ﴿١٢﴾

ده سره به شريك ونيول شو (نو) تاسو به ايمان راوړ، نو حكم خاص هغه الله لره دی چې ډېر اوچت، ډېر لوی دی

هُوَ ٱلَّذِى يُرِيكُمْ ءَايَٰتِهِۦ وَيُنَزِّلُ لَكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ رِزْقًاۚ وَمَا يَتَذَكَّرُ إِلَّا مَن يُنِيبُ ﴿١٣﴾

(13) دی همغه ذات دی چې تاسو ته خپلې نښې ښيي او تاسو لپاره له اسمان نه رزق نازلوي او پند نه اخلي مگر هغه څوك چې(حق ته) رجوع كوي

فَٱدْعُوا۟ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿١٤﴾

(14) نو تاسو الله بلئ، په داسې حال كې چې همده ته د دين خالص كوونكي يئ اگر كه كافران يې بد گڼي

رَفِيعُ ٱلدَّرَجَٰتِ ذُو ٱلْعَرْشِ يُلْقِى ٱلرُّوحَ مِنْ أَمْرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ لِيُنذِرَ يَوْمَ ٱلتَّلَاقِ ﴿١٥﴾

(15) (دغه الله) د اوچتو درجو والا (د درجو اوچتونكی) دی، د عرش مالك دی، په خپلو بنده گانو كې په چا چې وغواړي، په خپل حكم سره وحي نازلوي، د دې لپاره چې دغه(بنده خلقو لره) د ملاقات له ورځې نه ووېروي

يَوْمَ هُم بَٰرِزُونَۖ لَا يَخْفَىٰ عَلَى ٱللَّهِ مِنْهُمْ شَىْءٌۚ لِّمَنِ ٱلْمُلْكُ ٱلْيَوْمَۖ لِلَّهِ ٱلْوَٰحِدِ ٱلْقَهَّارِ ﴿١٦﴾

(16) له هغې ورځې نه چې دوی به ښېخي ښكاره وي، له الله نه به د دوی هېڅ شی پټ نه وي، نن ورځ د چا بادشاهي ده؟ خاص د الله (بادشاهي ده) چې يو دی، ښه غالب دی

ٱلۡيَوۡمَ تُجۡزَىٰ كُلُّ نَفۡسِۭ بِمَا
كَسَبَتۡۚ لَا ظُلۡمَ ٱلۡيَوۡمَۚ إِنَّ ٱللَّهَ
سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ١٧

(17) نن ورځ به هر نفس ته د هغه د کړي عمل بدله ورکړی شي، نن ورځ ظلم بېخي نشته، بېشکه الله ډېر ژر حساب کوونکی دی

وَأَنذِرۡهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡأٓزِفَةِ إِذِ ٱلۡقُلُوبُ
لَدَى ٱلۡحَنَاجِرِ كَٰظِمِينَۚ مَا
لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ حَمِيمٖ وَلَا شَفِيعٖ
يُطَاعُ ١٨

(18) او ته دوی له نژدې ورځې نه ووېروه کله چې زړونه به له چنغړکو سره وي، په داسې حال کې چې له غم نه به ډك وي، د ظالمانو لپاره به نه هيڅوك پوخ دوست وي او نه کوم داسې شفاعت کوونکی چې خبره يې ومنله شي

يَعۡلَمُ خَآئِنَةَ ٱلۡأَعۡيُنِ وَمَا تُخۡفِي
ٱلصُّدُورُ ١٩

(19) هغه د سترګو په خيانت پوهېږي او په هغو خبرو چې سينې يې پټوي (او رازونه وي)

وَٱللَّهُ يَقۡضِي بِٱلۡحَقِّۖ وَٱلَّذِينَ
يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَقۡضُونَ
بِشَيۡءٍۗ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلسَّمِيعُ
ٱلۡبَصِيرُ ٢٠

(20) او الله په حقه سره فيصله کوي او هغه (معبودان) چې دوی يې له هغه (الله) نه غير بلي، دغه د هېڅ شي فيصله نشي کولی، بېشکه الله، هم دی ښه اورېدونکی، ښه ليدونکی دی

۞أَوَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ
فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ
كَانُواْ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَانُواْ هُمۡ أَشَدَّ

(21) ايا دوی په ځمکه کې نه دي ګرځېدلي، پس چې وګوري چې د هغو کسانو انجام څنګه و، چې له دوی نه مخکې وو، هغوی له دوی نه په قوت کې او په ځمکه کې د نښو(او

مِنۡهُمۡ قُوَّةٗ وَءَاثَارٗا فِي ٱلۡأَرۡضِ فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُ بِذُنُوبِهِمۡ وَمَا كَانَ لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مِن وَاقٖ ﴿٢١﴾

يادګارونو) په لحاظ ډېر سخت (او مضبوط) وو، نو الله دوى د خپلو ګناهونو په سبب ونيول او د دوى لپاره له الله نه هيڅوك بچ كوونكى نه و

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَانَت تَّأۡتِيهِمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَكَفَرُواْ فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُۚ إِنَّهُۥ قَوِيّٞ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ﴿٢٢﴾

(22) دغه په دې سبب چې يقينًا دوى داسې وو چې دوى ته خپلو رسولانو ښكاره دليلونه راوړل، نو (بيا هم) دوى كافران شول، نو الله دوى ونيول، بېشكه هغه، ډېر زورور، ډېر سخت عذاب والا دى

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَا وَسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٍ ﴿٢٣﴾

(23) او يقينًا يقينًا مونږ موسىٰ له خپلو معجزو او ښكاره دليل سره لېږلى و

إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَهَٰمَٰنَ وَقَٰرُونَ فَقَالُواْ سَٰحِرٞ كَذَّابٞ ﴿٢٤﴾

(24) فرعون او هامان او قارون ته، نو دوى وويل: (دا خو) جادوګر دى، سخت دروغجن دى

فَلَمَّا جَآءَهُم بِٱلۡحَقِّ مِنۡ عِندِنَا قَالُواْ ٱقۡتُلُوٓاْ أَبۡنَآءَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ وَٱسۡتَحۡيُواْ نِسَآءَهُمۡۚ وَمَا كَيۡدُ ٱلۡكَٰفِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَٰلٖ ﴿٢٥﴾

(25) نو كله چې هغه دوى ته زمونږ له جانبه حق راوړ، دوى وويل: تاسو د هغو كسانو زامن ووژنئ چې له ده سره يې ايمان راوړى دى او د دوى ښځې (لونړه) ژوندى پرېږدئ او د كافرانو چل مكر نه دى مګر په تباهۍ كې

وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ ذَرُونِيٓ أَقۡتُلۡ مُوسَىٰ

(26) او فرعون (خپلو درباريانو ته) وويل:

وَلۡيَدۡعُ رَبَّهُۥٓۖ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يُبَدِّلَ دِينَكُمۡ أَوۡ أَن يُظۡهِرَ فِي ٱلۡأَرۡضِ ٱلۡفَسَادَ ٢٦

تاسو ما پرېږدئ چې زه(دا) موسیٰ ووژنم او دا دې خپل رب ته چغې ووهي، بېشکه زه له دې وېرېږم چې دا به ستاسو دین بدل کړي، یا به په ځمکه کې فساد خور کړي

وَقَالَ مُوسَىٰٓ إِنِّي عُذۡتُ بِرَبِّي وَرَبِّكُم مِّن كُلِّ مُتَكَبِّرٖ لَّا يُؤۡمِنُ بِيَوۡمِ ٱلۡحِسَابِ ٢٧

(27) او موسیٰ وویل چې بېشکه ما د خپل رب او ستاسو د رب پناه نیولې ده له هر تکبر کوونکي نه، چې د حساب په ورځې ایمان نه لري

وَقَالَ رَجُلٞ مُّؤۡمِنٞ مِّنۡ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ يَكۡتُمُ إِيمَٰنَهُۥٓ أَتَقۡتُلُونَ رَجُلًا أَن يَقُولَ رَبِّيَ ٱللَّهُ وَقَدۡ جَآءَكُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ مِن رَّبِّكُمۡۖ وَإِن يَكُ كَٰذِبٗا فَعَلَيۡهِ كَذِبُهُۥۖ وَإِن يَكُ صَادِقٗا يُصِبۡكُم بَعۡضُ ٱلَّذِي يَعِدُكُمۡۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي مَنۡ هُوَ مُسۡرِفٞ كَذَّابٞ ٢٨

(28) او په اٰل فرعون کې یو مومن سړي چې خپل ایمان یې پټ ساتلو، وویل: ایا تاسو یو سړی په دې وجه وژنئ چې هغه وایي: زما رب الله دی، حال دا چې یقیناً هغه تاسو ته د خپل رب له جانبه ښکاره دلیلونه هم راوړي دي او که دی دروغجن وي، نو په همده باندې د خپلو دروغو ضرر دی او که دی رښتینی وي(نو بیا خو به) تاسو ته د هغه(عذاب) ځینې برخه درورسېږي چې دا یې تاسو ته وعده درکوي، بېشکه الله هدایت نه کوي هغه چا ته چې هغه له حده تېرېدونکی، ډېر دروغجن وي

يَٰقَوۡمِ لَكُمُ ٱلۡمُلۡكُ ٱلۡيَوۡمَ

(29) ای زما قومه! نن ورځ ستاسو بادشاهي

ظَٰهِرِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَمَن يَنصُرُنَا مِنۢ بَأۡسِ ٱللَّهِ إِن جَآءَنَاۚ قَالَ فِرۡعَوۡنُ مَآ أُرِيكُمۡ إِلَّا مَآ أَرَىٰ وَمَآ أَهۡدِيكُمۡ إِلَّا سَبِيلَ ٱلرَّشَادِ ٢٩

ده، په داسې حال کې چې په ځمکه کې غالب یئ، نو مونږ به د الله له عذاب نه څوك بچ کوي که هغه پر مونږ راشي؟ فرعون وویل: زه تاسو ته نه ښیم مگر هغه خبره چې زه یې وینم او زه تاسو ته ښودنه نه کوم مگر د سمې درستې لارې

وَقَالَ ٱلَّذِيٓ ءَامَنَ يَٰقَوۡمِ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُم مِّثۡلَ يَوۡمِ ٱلۡأَحۡزَابِ ٣٠

**(30)** او هغه کس وویل چې ایمان یې راوړی و: ای زما قومه! بېشکه زه په تاسو د (تېرو) ډلو د ورځې له مثل نه وېرېږم

مِثۡلَ دَأۡبِ قَوۡمِ نُوحٖ وَعَادٖ وَثَمُودَ وَٱلَّذِينَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡۚ وَمَا ٱللَّهُ يُرِيدُ ظُلۡمٗا لِّلۡعِبَادِ ٣١

**(31)** د نوح د قوم او عادیانو او ثمودیانو او د هغو کسانو د حال له مثل نه چې له دوی نه وروسته وو او الله په بنده ګانو د هېڅ ظلم اراده نه کوي

وَيَٰقَوۡمِ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ يَوۡمَ ٱلتَّنَادِ ٣٢

**(32)** او ای زما قومه! زه په تاسو یو بل ته د چیغو وهلو له ورځې نه وېرېږم

يَوۡمَ تُوَلُّونَ مُدۡبِرِينَ مَا لَكُم مِّنَ ٱللَّهِ مِنۡ عَاصِمٖۗ وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِنۡ هَادٖ ٣٣

**(33)** هغه ورځ چې تاسو به وګرځئ شا اړوونکي، په داسې حال کې چې تاسو لپاره به له الله نه هیڅوك بچ کوونکی نه وي. او هغه څوك چې الله یې ګمراه کړي، نو د هغه لپاره هیڅوك هدایت ورکوونکی نشته

وَلَقَدْ جَآءَكُمْ يُوسُفُ مِن قَبْلُ بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَمَا زِلْتُمْ فِي شَكٍّ مِّمَّا جَآءَكُم بِهِۦ حَتَّىٰٓ إِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ لَن يَبْعَثَ ٱللَّهُ مِنۢ بَعْدِهِۦ رَسُولًا ۚ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ مُّرْتَابٌ ﴿٣٤﴾

(34) او يقينًا يقينًا تاسو ته له دې نه مخکې يوسف په واضحو دليلونو سره راغلی و، نو تاسو د هغه څه په باره کې چې تاسو ته هغه راوړی و؛ تل په شك کې وئ، تر هغه پورې چې کله هغه مړ شو، تاسو وويل: له دې نه وروسته به الله له سره هېڅ رسول راونه لېږي، همداسې الله گمراه کوي هغه چا لره چې هغه له حده تېرېدونکی، شك کوونکی دی

ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِيٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ بِغَيْرِ سُلْطَٰنٍ أَتَىٰهُمْ ۖ كَبُرَ مَقْتًا عِندَ ٱللَّهِ وَعِندَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ۚ كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ﴿٣٥﴾

(35) هغه کسان چې د الله په ايتونو کې جګړې کوي بې له کوم داسې دليله چې دوی ته راغلی وي، (دغه) د الله په نيز او د هغو کسانو په نيز چې ايمان يې راوړی د غضب په لحاظ غټه خبره ده، همداسې الله د تکبر کوونکي او جبر کوونکي په هر(جز د) زړه باندې مهر لګوي

وَقَالَ فِرْعَوْنُ يَٰهَٰمَٰنُ ٱبْنِ لِي صَرْحًا لَّعَلِّيٓ أَبْلُغُ ٱلْأَسْبَٰبَ ﴿٣٦﴾

(36) او فرعون وويل: ای هامانه! ته زما لپاره يوه ډېره اوچته ماڼۍ جوړه کړه، ښايي چې زه لارو ته ورسېږم

أَسْبَٰبَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ فَأَطَّلِعَ إِلَىٰٓ إِلَٰهِ مُوسَىٰ وَإِنِّي لَأَظُنُّهُۥ كَٰذِبًا ۚ وَكَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِفِرْعَوْنَ سُوٓءُ

(37) داسمانونو لارو ته، بيا د موسٰی الله له بره وګورم او بېشکه زه يقينًا دا دروغجن ګڼم او همداسې فرعون ته خپل بد عمل ښايسته

| | |
|---|---|
| عَمَلِهِۦ وَصُدَّ عَنِ ٱلسَّبِيلِۚ وَمَا كَيۡدُ فِرۡعَوۡنَ إِلَّا فِي تَبَابٖ ﴿٣٧﴾ | کړی شوی و، او له (حقې) لارې نه منع کړی شوی و او د فرعون چل (او مکر) نه و مګر په تباهۍ کې |
| وَقَالَ ٱلَّذِيٓ ءَامَنَ يَٰقَوۡمِ ٱتَّبِعُونِ أَهۡدِكُمۡ سَبِيلَ ٱلرَّشَادِ ﴿٣٨﴾ | (38) او هغه کس چې ایمان یې راوړی و، وویل: ای زما قومه ! تاسو زما پیروي وکړئ چې زه تاسو ته د هدایت لاره وښیم |
| يَٰقَوۡمِ إِنَّمَا هَٰذِهِ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا مَتَٰعٞ وَإِنَّ ٱلۡأٓخِرَةَ هِيَ دَارُ ٱلۡقَرَارِ ﴿٣٩﴾ | (39) ای زما قومه ! بېشکه همدا خبره ده چې دغه دنیایي ژوند خو لږه فایده ده او یقیناً اخرت چې دی، هم هغه د قرار کور دی |
| مَنۡ عَمِلَ سَيِّئَةٗ فَلَا يُجۡزَىٰٓ إِلَّا مِثۡلَهَاۖ وَمَنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا مِّن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ يُرۡزَقُونَ فِيهَا بِغَيۡرِ حِسَابٖ ﴿٤٠﴾ | (40) هر څوك چې بد كار وكړي، نو ده ته به بدله نه وركولى شي مګر په مثل د دغه (بد كار) او هر څوك چې نېك عمل وكړي، سړى وي، یا ښځه،په داسې حال كې چې مومن وي، نو دغه كسان به جنت ته داخلېږي، دوى ته به په دغه (جنت) كې بې حسابه رزق وركول كېږي |
| ۞وَيَٰقَوۡمِ مَا لِيٓ أَدۡعُوكُمۡ إِلَى ٱلنَّجَوٰةِ وَتَدۡعُونَنِيٓ إِلَى ٱلنَّارِ ﴿٤١﴾ | (41) او ای زما قومه! په ما څه چل دی چې زه تاسو نجات (او خلاصي) ته راغواړم او تاسو ما اور ته رابلئ |
| تَدۡعُونَنِي لِأَكۡفُرَ بِٱللَّهِ وَأُشۡرِكَ | (42) تاسو ما رابلئ د دې لپاره چې زه په الله |

بِهِۦ مَا لَيۡسَ لِي بِهِۦ عِلۡمٌ وَأَنَا۠
أَدۡعُوكُمۡ إِلَى ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡغَفَّٰرِ ٤٢

سره کافر شم او له هغه سره هغه شی شریك کړم چې ما ته د دغه (شي په اله کېدو) هېڅ علم نشته، حال دا چې زه تاسو ډېر غالب، ډېر مغفرت کوونکي (الله) ته رابولم

لَا جَرَمَ أَنَّمَا تَدۡعُونَنِيٓ إِلَيۡهِ لَيۡسَ
لَهُۥ دَعۡوَةٞ فِي ٱلدُّنۡيَا وَلَا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ
وَأَنَّ مَرَدَّنَآ إِلَى ٱللَّهِ وَأَنَّ
ٱلۡمُسۡرِفِينَ هُمۡ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِ ٤٣

(43) حقه خبره دا ده چې یقینًا هغه(معبود) چې تاسو ما(د) هغه (عبادت) ته بلئ، د هغه لپاره خو نه په دنیا کې څه بلل شته او نه په اخرت کې او دا چې بېشکه زمونږ ببرته ورتلل خاص الله ته دي او دا چې یقینًا له حده تېرېدونکي، همدغه د اور ملګري دي

فَسَتَذۡكُرُونَ مَآ أَقُولُ لَكُمۡۚ
وَأُفَوِّضُ أَمۡرِيٓ إِلَى ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ
بَصِيرُۢ بِٱلۡعِبَادِ ٤٤

(44) پس ژر ده چې تاسو به دغه خبرې یادوئ چې زه یې تاسو ته (اوس) وایم. او زه خپل کار الله ته سپارم، بېشکه الله (خپلو) بنده گانو لره ښه لیدونکی دی

فَوَقَىٰهُ ٱللَّهُ سَيِّـَٔاتِ مَا مَكَرُواْۖ
وَحَاقَ بِـَٔالِ فِرۡعَوۡنَ سُوٓءُ
ٱلۡعَذَابِ ٤٥

(45) نو الله هغه د دوی د مکرونو له بدیو نه بچ وساته او (پخپله) اٰل فرعون ډېر سخت عذاب ګېرکړل

ٱلنَّارُ يُعۡرَضُونَ عَلَيۡهَا غُدُوّٗا
وَعَشِيّٗاۚ وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ
أَدۡخِلُوٓاْ ءَالَ فِرۡعَوۡنَ أَشَدَّ

(46) (د دوزخ) اور(چې دی) دوی هغه ته هر سبا او هر بېگاه وړاندې کاوه شي او په هغې ورځ کې چې قیامت قایم شي (نو ملایکو ته

ٱلۡعَذَابِ ﴿٤٦﴾

به وويل شي:) تاسو ال فرعون لره تر ټولو سخت عذاب ته ننباسئ

وَإِذۡ يَتَحَآجُّونَ فِي ٱلنَّارِ فَيَقُولُ ٱلضُّعَفَـٰٓؤُاْ لِلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُوٓاْ إِنَّا كُنَّا لَكُمۡ تَبَعٗا فَهَلۡ أَنتُم مُّغۡنُونَ عَنَّا نَصِيبٗا مِّنَ ٱلنَّارِ ﴿٤٧﴾

(47) او (یاد کړه) هغه وخت چې دوی به په خپل مینځ کې جګړې کوي، نو کمزوري به هغو کسانو ته وايي چې تکبر يې کاوه : بېشکه مونږ خو ستاسو پیروي کوونکي وو، نو ایا تاسو زمونږ نه له اور څخنې څه برخه لرې کوونکي يئ؟

قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُوٓاْ إِنَّا كُلّٞ فِيهَآ إِنَّ ٱللَّهَ قَدۡ حَكَمَ بَيۡنَ ٱلۡعِبَادِ ﴿٤٨﴾

(48) هغه کسان به (په جواب کې) ووايي چې تکبر يې کړی و : بېشکه مونږ ټول په دغه (دوزخ) کې يو، بېشکه الله د بنده ګانو په مینځ کې فیصله کړې ده

وَقَالَ ٱلَّذِينَ فِي ٱلنَّارِ لِخَزَنَةِ جَهَنَّمَ ٱدۡعُواْ رَبَّكُمۡ يُخَفِّفۡ عَنَّا يَوۡمٗا مِّنَ ٱلۡعَذَابِ ﴿٤٩﴾

(49) او هغه کسان به چې (د دوزخ) په اور کې دي، د جهنم نګرانانو ته ووايي: تاسو له خپل رب نه دعا وغواړئ چې زمونږ په عذاب کې بس یوه ورځ تخفیف وکړي

قَالُوٓاْ أَوَلَمۡ تَكُ تَأۡتِيكُمۡ رُسُلُكُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِۖ قَالُواْ بَلَىٰۚ قَالُواْ فَٱدۡعُواْۗ وَمَا دُعَـٰٓؤُاْ ٱلۡكَٰفِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَٰلٍ ﴿٥٠﴾

(50) دوی به (په جواب کې) ووايي: ایا تاسو ته به ستاسو رسولان په واضحو دلیلونو سره نه راتلل؟ دوی (دوزخیان) به ووايي: ولې نه (نو) دوی (د دوزخ نګرانان) به ووايي، پس تاسو (پخپله) دعا وکړئ او د کافرانو دعا نه ده مګر

په ضياع كې

إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَيَوۡمَ يَقُومُ ٱلۡأَشۡهَٰدُ ٥١

(51) بېشكه مونږ خامخا د خپلو رسولانو او د هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى، په دنيايي ژوند كې مدد كوو او په هغې ورځ كې (هم) چې گواهان به ودرېږي

يَوۡمَ لَا يَنفَعُ ٱلظَّٰلِمِينَ مَعۡذِرَتُهُمۡۖ وَلَهُمُ ٱللَّعۡنَةُ وَلَهُمۡ سُوٓءُ ٱلدَّارِ ٥٢

(52) په هغې ورځې كې چې ظالمانو (مشركانو) ته به د هغوى معذرت هېڅ نفع نه رسوي او د همدوى لپاره لعنت دى او د همدوى لپاره بد كور (دوزخ) دى

وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡهُدَىٰ وَأَوۡرَثۡنَا بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱلۡكِتَٰبَ ٥٣

(53) او يقينًا يقينًا مونږ موسىٰ ته هدايت (تورات) وركړى و او بني اسرائيلو ته مو كتاب ميراث وركړ

هُدٗى وَذِكۡرَىٰ لِأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ ٥٤

(54) په داسې حال كې چې د خالصو عقلونو والاو ته هدايت او پند و

فَٱصۡبِرۡ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ وَٱسۡتَغۡفِرۡ لِذَنۢبِكَ وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ بِٱلۡعَشِيِّ وَٱلۡإِبۡكَٰرِ ٥٥

(55) نو (اى نبي) ته صبر وكړه! بېشكه د الله وعده حقه ده او د خپلې گناه لپاره بخښنه وغواړه او د ورځې په اخره او اوله برخه كې د خپل رب له ستاينې سره تسبيح وايه

إِنَّ ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِيٓ ءَايَٰتِ

(56) بېشكه هغه كسان چې د الله په ايتونو

ٱللَّهِ بِغَيۡرِ سُلۡطَٰنٍ أَتَىٰهُمۡ إِن فِي صُدُورِهِمۡ إِلَّا كِبۡرٞ مَّا هُم بِبَٰلِغِيهِۚ فَٱسۡتَعِذۡ بِٱللَّهِۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ٥٦

كې جګړې کوي، بې له داسې دليله چې دوی ته راغلی وي، د دوی په سينو کې نه دی مګر کبر چې دوی دغه (د کبر مقتضا) ته رسېدونکي نه دي، نو ته په الله پورې پناه ونيسه، بېشکه هغه، هم هغه ښه اورېدونکی، ښه ليدونکی دی

لَخَلۡقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ أَكۡبَرُ مِنۡ خَلۡقِ ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ٥٧

(57) يقينًا د اسمانونو او ځمکې پيدا کول د خلقو له پيدا کولو نه ډېر لوی دي او لېکن د خلقو اکثريت نه پوهېږي

وَمَا يَسۡتَوِي ٱلۡأَعۡمَىٰ وَٱلۡبَصِيرُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَلَا ٱلۡمُسِيٓءُۚ قَلِيلٗا مَّا تَتَذَكَّرُونَ ٥٨

(58) او ړوند او بينا سره نه برابرېږي او نه هم هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او نېك عملونه يې کړي دي او بدکاره (سره نه برابرېږي) تاسو ډېر لږ نصيحت اخلئ

إِنَّ ٱلسَّاعَةَ لَأٓتِيَةٞ لَّا رَيۡبَ فِيهَا وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يُؤۡمِنُونَ ٥٩

(59) بېشکه قيامت خامخا راتلونکی دی، په دې کې هېڅ شك نشته. او لېکن د خلقو اکثريت ايمان نه راوړي

وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدۡعُونِيٓ أَسۡتَجِبۡ لَكُمۡۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسۡتَكۡبِرُونَ عَنۡ عِبَادَتِي سَيَدۡخُلُونَ جَهَنَّمَ

(60) او ستاسو رب فرمايي: تاسو ما وبلئ چې زه ستاسو دعا قبوله کړم. بېشکه هغه کسان چې زما له عبادت نه تکبر کوي، ژر ده چې

دَاخِرِينَ ٦٠

دوی به دوزخ ته ننوځي، په داسې حال کې چې خوار او ذليله به وي

ٱللَّهُ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ لِتَسۡكُنُواْ فِيهِ وَٱلنَّهَارَ مُبۡصِرًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَشۡكُرُونَ ٦١

(61) الله هغه ذات دی چې تاسو لپاره يې شپه پيدا کړې ده، د دې لپاره چې تاسو په دې کې ارام حاصل کړئ او ورځ يې روښانه (ګرځولې ده)، بېشکه الله په خلقو باندې خامخا ډېر فضل کولو والا دی او لېکن د خلقو اکثريت شکر نه وباسي

ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ فَأَنَّىٰ تُؤۡفَكُونَ ٦٢

(62) دغه الله ستاسو رب دی چې د هر شي پيدا کوونکی دی، نشته هېڅ لايق د عبادت مګر همدی دی، نو کوم طرف ته تاسو ګرځولی شئ

كَذَٰلِكَ يُؤۡفَكُ ٱلَّذِينَ كَانُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ يَجۡحَدُونَ ٦٣

(63) همداسې به (له حق نه) ګرځولی کېدل هغه کسان چې د الله له ايتونو نه به يې انکار کاوه

ٱللَّهُ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ قَرَارٗا وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءٗ وَصَوَّرَكُمۡ فَأَحۡسَنَ صُوَرَكُمۡ وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡۖ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٦٤

(64) الله هغه ذات دی چې تاسو لپاره يې ځمکه قرار ځای او اسمان چت ګرځولی دی او ستاسو صورتونه يې جوړ کړي دي، پس ستاسو صورتونه يې ښکلي جوړ کړي دي او تاسو ته يې له پاکيزه څيزونو نه رزق عطا کړی دی، دغه الله ستاسو رب دی، نو الله رب

العالمين ډېر برکتي دی

هُوَ ٱلۡحَيُّ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَٱدۡعُوهُ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَۗ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٦٥

(65) هم دی (تل) ژوندی دی، نشته هېڅ حق معبود مګر هم دی دی، نو تاسو دا بلئ، په داسې حال کې چې هم ده لره د دین خالص کوونکي يئ، ټول د کمال صفتونه خاص د الله رب العالمین لپاره دي

۞قُلۡ إِنِّي نُهِيتُ أَنۡ أَعۡبُدَ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَمَّا جَآءَنِيَ ٱلۡبَيِّنَٰتُ مِن رَّبِّي وَأُمِرۡتُ أَنۡ أُسۡلِمَ لِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٦٦

(66) ته (دوی ته) ووايه: بېشکه زه له دې نه منع کړی شوی يم چې د هغو (معبودانو) عبادت وکړم چې تاسو يې له الله نه غير بلئ، کله چې ما ته زما د رب له جانبه ښکاره دلیلونه راغلل او ما ته حکم شوی دی چې زه رب العالمین ته تسلیم شم

هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن تُرَابٖ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ ثُمَّ مِنۡ عَلَقَةٖ ثُمَّ يُخۡرِجُكُمۡ طِفۡلٗا ثُمَّ لِتَبۡلُغُوٓاْ أَشُدَّكُمۡ ثُمَّ لِتَكُونُواْ شُيُوخٗاۚ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ مِن قَبۡلُۖ وَلِتَبۡلُغُوٓاْ أَجَلٗا مُّسَمّٗى وَلَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ٦٧

(67) دی همغه ذات دی چې تاسو يې له خاورې پيدا کړئ، بيا يې له نطفې نه، بيا يې د وینې له ټوټې نه: بيا هغه تاسو راوباسي، په داسې حال کې چې واړه (ماشومان) يئ، بيا (هغه ستاسو تربيت کوي)، د دې لپاره چې تاسو خپل قوت (او ځوانۍ) ته ورسېږئ، بيا (مو ژوندي ساتي) د دې لپاره چې زاړه (بوډاګان) شئ، او ځينې په تاسو کې هغه دي چې له دغه (وخت) نه مخکې وفات کولی

شي. او (تاسو ساتي) د دې لپاره چې تاسو مقررې نېټې ته ورسېږئ او د دې لپاره چې تاسو له عقل نه کار واخلئ

هُوَ ٱلَّذِي يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۖ فَإِذَا قَضَىٰٓ أَمۡرٗا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ٦٨

(68) دی همغه ذات دی چې ژوندي کول کوي او مړه کول کوي، نو کله چې د يو کار (د ايجاد) فيصله وکړي، نو بېشکه همدا خبره ده چې ده ته وايي: موجود شه! نو هغه موجود شي

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِيٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ أَنَّىٰ يُصۡرَفُونَ ٦٩

(69) ايا تا هغه کسان نه دي ليدلي چې د الله په ايتونو کې جګړې کوي، کوم طرف ته دوی ګرځولی شي؟

ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِٱلۡكِتَٰبِ وَبِمَآ أَرۡسَلۡنَا بِهِۦ رُسُلَنَاۖ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ ٧٠

(70) هغه کسان چې تکذيب کوي د کتابونو او د هغه څه چې په هغو سره مونږ خپل رسولان لېږلي وو، پس ژر به دوی پوه شي

إِذِ ٱلۡأَغۡلَٰلُ فِيٓ أَعۡنَٰقِهِمۡ وَٱلسَّلَٰسِلُ يُسۡحَبُونَ ٧١

(71) کله چې به د دوی په غاړو کې طوقونه او ځنځيرونه وي، چې دوی به راښکلی کېږي

فِي ٱلۡحَمِيمِ ثُمَّ فِي ٱلنَّارِ يُسۡجَرُونَ ٧٢

(72) په ډېرو ګرمو اوبو کې، بيا به دوی (د دوزخ) په اور کې سوځولی شي

ثُمَّ قِيلَ لَهُمۡ أَيۡنَ مَا كُنتُمۡ

(73) بيا به دوی ته ويلی شي چې چېرته دي

تُشۡرِكُونَ ٧٣

هغه (معبودان) چې تاسو به شريكول

مِن دُونِ ٱللَّهِۖ قَالُواْ ضَلُّواْ عَنَّا بَل
لَّمۡ نَكُن نَّدۡعُواْ مِن قَبۡلُ شَيۡـٔٗاۚ
كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٧٤

(74) له الله نه غير؟ دوی به ووايي: هغه زمونږ نه ورك شول، بلكې مونږ له دي نه مخكې هيڅ شی نه باله، همداسې الله كافرانو لره گمراه كوي

ذَٰلِكُم بِمَا كُنتُمۡ تَفۡرَحُونَ فِي
ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَبِمَا كُنتُمۡ
تَمۡرَحُونَ ٧٥

(75) دغه په سبب د دې چې تاسو به په ځمكه كې ناحقه خوشحالي (اولويي) كوله او په سبب د هغه چې تاسو به تكبر كاوه

ٱدۡخُلُوٓاْ أَبۡوَٰبَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ
فِيهَاۖ فَبِئۡسَ مَثۡوَى
ٱلۡمُتَكَبِّرِينَ ٧٦

(76) تاسو د جهنم په دروازو كې ننوځئ، په داسې حال چې په دغه (جهنم) كې به همېشه يئ، نو د متكبرينو استوگنځی بد دی

فَٱصۡبِرۡ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞۚ فَإِمَّا
نُرِيَنَّكَ بَعۡضَ ٱلَّذِي نَعِدُهُمۡ أَوۡ
نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيۡنَا يُرۡجَعُونَ ٧٧

(77) نو ته صبر كوه، بېشكه د الله وعده حقه ده، نو كه خامخا مونږ تا ته ځينې د هغه (عذاب) وښيو چې مونږ يې دوی ته وعده وركوو، يا مونږ تا وفات كړو، نو هم مونږ ته به دوی بېرته راوستلی شي

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلٗا مِّن قَبۡلِكَ
مِنۡهُم مَّن قَصَصۡنَا عَلَيۡكَ وَمِنۡهُم
مَّن لَّمۡ نَقۡصُصۡ عَلَيۡكَۗ وَمَا كَانَ

(78) او يقينًا يقينًا مونږ له تا نه مخكې ډېر رسولان رالېږلي وو، په دوی كې ځينې هغه دي چې مونږ تا ته بيان كړي دي او په دوی

لِرَسُولٍ أَن يَـأْتِيَ بِـَٔايَـةٍ إِلَّا بِـإِذْنِ ٱللَّهِ فَـإِذَا جَـآءَ أَمْـرُ ٱللَّهِ قُضِيَ بِـٱلْحَقِّ وَخَسِرَ هُنَالِـكَ ٱلْمُبْطِلُونَ ﴿٧٨﴾

کې ځيني هغه دي چې مونږ تا ته نه دي بيان کړي. او د هېڅ رسول لپاره دا ممکن نه وه چې هغه پخپله کومه معجزه راوړي مگر د الله په حکم سره، نو کله چې د الله حکم راشي (نو) په حق سره به فيصله وکړی شي او په دغه وخت (او ځای) کې به باطل پرستان تاوانيان شي

ٱللَّهُ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُـمُ ٱلْأَنْعَـٰمَ لِتَرْكَبُـوا۟ مِنْهَـا وَمِنْهَـا تَأْكُلُونَ ﴿٧٩﴾

(79) الله هغه ذات دی چې تاسو لپاره يې خاروي پيدا کړي دي، د دې لپاره چې تاسو په دوی کې په ځينو سورلي کوئ او په دوی کې ځيني تاسو خورئ

وَلَكُـمْ فِيهَـا مَنَـٰفِعُ وَلِتَبْلُغُـوا۟ عَلَيْهَـا حَاجَـةً فِي صُـدُورِكُمْ وَعَلَيْهَا وَعَلَى ٱلْفُلْكِ تُحْمَلُونَ ﴿٨٠﴾

(80) او تاسو لپاره په دغو (خارويو) کې ډېرې نفعې دي او د دې لپاره چې تاسو په دوی سره هغه حاجت ته ورسېږئ چې ستاسو په سينو کې دی، او په دغو باندې او په کشتيو باندې تاسو سوررول کېږئ

وَيُرِيكُمْ ءَايَـٰتِهِۦ فَـأَيَّ ءَايَـٰتِ ٱللَّهِ تُنكِرُونَ ﴿٨١﴾

(81) او هغه (الله) تاسو ته خپلې نښې ښيي، نو تاسو د الله له کومو نښو نه انکار کوئ؟

أَفَلَمْ يَسِيرُوا۟ فِي ٱلْأَرْضِ فَيَنظُـرُوا۟ كَيْـفَ كَانَ عَـٰقِبَـةُ ٱلَّذِيـنَ مِـن

(82) ايا نو دوی په ځمکه کې گرځېدلي نه دي، پس چې دوی کتلي وی چې د هغو

قَبۡلِهِمۡۚ كَانُوٓاْ أَكۡثَرَ مِنۡهُمۡ وَأَشَدَّ
قُوَّةٗ وَءَاثَارٗا فِي ٱلۡأَرۡضِ فَمَآ أَغۡنَىٰ
عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ٨٢

خلقو انجام څنگه و چې له دوی نه مخکې وو، هغوی له دوی نه زیات وو او د قوت او په ځمکه کې د نښو په لحاظ ډېر سخت وو، نو د دوی هېڅ په کار رانغلل هغه څه چې دوی به گټل

فَلَمَّا جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ
فَرِحُواْ بِمَا عِندَهُم مِّنَ ٱلۡعِلۡمِ
وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ
يَسۡتَهۡزِءُونَ ٨٣

(83) نو کله چې دوی ته د دوی پیغمبران په ښکاره دلیلونو سره راغلل، (نو) دوی به په هغه علم خوشالي (او لویي) شروع کړه چې له دوی سره و، او گېرچاپېره به شو هغه څه چې دوی به په هغه پورې استهزاء کولې

فَلَمَّا رَأَوۡاْ بَأۡسَنَا قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ
وَحۡدَهُۥ وَكَفَرۡنَا بِمَا كُنَّا بِهِۦ
مُشۡرِكِينَ ٨٤

(84) نو کله چې به دوی زمونږ عذاب ولیده، دوی به وویل: مونږ په الله ایمان راوړی دی چې ایکې یواځې دی، او مونږ کافران شولو په هغه څیز چې مونږ به د هغه په سبب مشرکان وو

فَلَمۡ يَكُ يَنفَعُهُمۡ إِيمَٰنُهُمۡ لَمَّا رَأَوۡاْ
بَأۡسَنَاۖ سُنَّتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِي قَدۡ خَلَتۡ
فِي عِبَادِهِۦۖ وَخَسِرَ هُنَالِكَ
ٱلۡكَٰفِرُونَ ٨٥

(85) نو دغه (کار داسې) نه و چې دوی ته د دوی ایمان راوړل نفع ورکړې وي کله چې دوی زمونږ عذاب ولیده، (دا) ده ایښې طریقه د الله هغه طریقه چې د هغه په بنده گانو کې تېره شوې ده او په دغه ځای (او وخت) کې کافران تاوانیان شول

# سُورَةُ فُصِّلَتْ

# سورة فُصلت

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

حمٓ ﴿١﴾

(1) حا، ميم

تَنزِيلٞ مِّنَ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿٢﴾

(2) (دغه) نازلول د ډېر مهربان، بې حده رحم کوونکي له جانبه دي

كِتَٰبٞ فُصِّلَتۡ ءَايَٰتُهُۥ قُرۡءَانًا عَرَبِيّٗا لِّقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ﴿٣﴾

(3) داسې کتاب چې د ده ایتونه په تفصیل سره بیان شوي دي، په داسې حال کې چې عربي قرآن دی، د هغه قوم لپاره چې پوهېږي

بَشِيرٗا وَنَذِيرٗا فَأَعۡرَضَ أَكۡثَرُهُمۡ فَهُمۡ لَا يَسۡمَعُونَ ﴿٤﴾

(4) زېری ورکوونکی او وېروونکی دی، نو د دوی زیاترو مخ وگرځاوه، پس دوی (حق) نه اوري

وَقَالُواْ قُلُوبُنَا فِيٓ أَكِنَّةٖ مِّمَّا تَدۡعُونَآ إِلَيۡهِ وَفِيٓ ءَاذَانِنَا وَقۡرٞ وَمِنۢ بَيۡنِنَا وَبَيۡنِكَ حِجَابٞ فَٱعۡمَلۡ إِنَّنَا عَٰمِلُونَ ﴿٥﴾

(5) او دوی وویل: زمونږ زړونه په پرده کې دي له هغه څه نه چې ته مونږ هغه ته بلې او زمونږ په غوږونو کې کوڼوالی دی اوزمونږ له مینځه او ستا له مینځه پرده ده، نو ته(خپل) عمل کوه، بېشکه مونږ هم (خپل) عمل کوونکي یو

قُلۡ إِنَّمَآ أَنَا۠ بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ يُوحَىٰٓ إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ فَٱسۡتَقِيمُوٓاْ إِلَيۡهِ وَٱسۡتَغۡفِرُوهُۗ وَوَيۡلٞ لِّلۡمُشۡرِكِينَ ٦

(6) ته (دوی ته) ووایه: بېشکه هم دا خبره ده چې زه ستاسو په شان بشر یم، ما ته دا وحي کولی شي چې بېشکه همدا خبره ده چې ستاسو حق معبود یو معبود دی، نو تاسو ده ته مستقیم (او درست) اوسئ او له ده نه مغفرت غواړئ او د مشرکانو لپاره هلاکت دی

ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ كَٰفِرُونَ ٧

(7) هغه کسان چې زکات نه ادا کوي او له اخرت نه هم دوی منکران (کافران) دي

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمۡ أَجۡرٌ غَيۡرُ مَمۡنُونٖ ٨

(8) بېشکه هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او نېک عملونه یې کړي دي، د دوی لپاره نه قطع کېدونکی اجر دی

۞قُلۡ أَئِنَّكُمۡ لَتَكۡفُرُونَ بِٱلَّذِي خَلَقَ ٱلۡأَرۡضَ فِي يَوۡمَيۡنِ وَتَجۡعَلُونَ لَهُۥٓ أَندَادٗاۚ ذَٰلِكَ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٩

(9) ته (دوی ته) ووایه: ایا په رښتیا تاسو خامخا کافران کېږئ په هغه ذات چې ځمکه یې په دوه ورځو کې پیدا کړه او تاسو د هغه لپاره شریکان جوړوئ. دغه خو رب العالمین دی

وَجَعَلَ فِيهَا رَوَٰسِيَ مِن فَوۡقِهَا وَبَٰرَكَ فِيهَا وَقَدَّرَ فِيهَآ أَقۡوَٰتَهَا فِيٓ أَرۡبَعَةِ أَيَّامٖ سَوَآءٗ

(10) او دغه (الله) په دغې (ځمکه) کې د دې له پاسه غرونه کېښودل او په هغې کې یې برکت واچوه او په هغې کې یې د دې (د اوسېدونکو) روزي مقدره (په اندازه) کړه په

لِّلسَّآئِلِينَ ١٠

ثلورو ورځو کې، په داسې حال کې چې د
تپوس کوونکو لپاره برابر دي

ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ وَهِيَ
دُخَانٞ فَقَالَ لَهَا وَلِلۡأَرۡضِ ٱئۡتِيَا
طَوۡعًا أَوۡ كَرۡهٗا قَالَتَآ أَتَيۡنَا
طَآئِعِينَ ١١

**(11)** بیا یې د اسمان په طرف اراده وکړه، په داسې حال کې چې هغه یو لوګی و، نو هغه (الله) ده ته او ځمکې ته ووېل: تاسو دواړه راشئ، په خپلې خوښې سره، یا په زور سره، دواړو ووېل: مونږ په خوښې سره (فرمان منونکي) راځو

فَقَضَىٰهُنَّ سَبۡعَ سَمَٰوَاتٖ فِي
يَوۡمَيۡنِ وَأَوۡحَىٰ فِي كُلِّ سَمَآءٍ أَمۡرَهَاۚ
وَزَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنۡيَا بِمَصَٰبِيحَ
وَحِفۡظٗاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ
ٱلۡعَلِيمِ ١٢

**(12)** نو دغه یې په دوه ورځو کې اوه اسمانونه جوړ کړل او په هر اسمان کې یې د هغه د (مناسب) کار وحي وکړه او مونږ تر ټولو نژدې اسمان په ډیوو (د ستورو) سره ښکلی کړ او (دغه مو وساته) په ښې ساتنې سره، دغه د ډېر غالب، ښه پوه ذات اندازه کول دي

فَإِنۡ أَعۡرَضُواْ فَقُلۡ أَنذَرۡتُكُمۡ
صَٰعِقَةٗ مِّثۡلَ صَٰعِقَةِ عَادٖ
وَثَمُودَ ١٣

**(13)** نو که دوی مخ وګرځاوه، نو ته (دوی ته) ووایه: زه تاسو د عادیانو او ثمودیانو د سخت عذاب په مثل نه وېروم

إِذۡ جَآءَتۡهُمُ ٱلرُّسُلُ مِنۢ بَيۡنِ
أَيۡدِيهِمۡ وَمِنۡ خَلۡفِهِمۡ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ
إِلَّا ٱللَّهَۖ قَالُواْ لَوۡ شَآءَ رَبُّنَا لَأَنزَلَ

**(14)** کله چې دوی ته خپل رسولان د دوی له مخې او د دوی له شا نه راغلل او (ورته وېیې ویل:) چې تاسو له الله نه غیر(د بل هیچا)

مَلَٰٓئِكَةٗ فَإِنَّا بِمَآ أُرۡسِلۡتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ١٤

عبادت مه کوئ. دوی وویل، که زمونږ رب غوښتلی (نو) خامخا ملايك به يې نازل کړي وی، پس بېشکه مونږ په هغه څه سره چې تاسو ورسره رالېږل شوي يئ، کفر کوونکي يو

فَأَمَّا عَادٞ فَٱسۡتَكۡبَرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَقَالُواْ مَنۡ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةًۖ أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِي خَلَقَهُمۡ هُوَ أَشَدُّ مِنۡهُمۡ قُوَّةٗۖ وَكَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يَجۡحَدُونَ ١٥

**(15)** نو هر چې عاديان وو، نو دوی خو په ځمکه کې ناحقه لويي وکړه او ويې ويل:په قوت کې زمونږ نه څوك زيات سخت (او مضبوط) دي؟! ايا دوی نه ويني چې بېشکه هغه الله چې تاسو يې پيدا کړي يئ؛ هغه له تاسو نه په قوت کې ډېر سخت دی. او دغو به زمونږ له ايتونو نه انکار کاوه

فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ رِيحٗا صَرۡصَرٗا فِيٓ أَيَّامٖ نَّحِسَاتٖ لِّنُذِيقَهُمۡ عَذَابَ ٱلۡخِزۡيِ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَعَذَابُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَخۡزَىٰۖ وَهُمۡ لَا يُنصَرُونَ ١٦

**(16)** نو مونږ په دوی باندې په څو ډېرو سپېرو ورځو کې ډېر زورور يخ باد راخوشې کړ، د دې لپاره چې مونږ په دوی باندې په دنيايي ژوند کې د رسوايي عذاب وڅکوو، او يقينًا د اخرت عذاب ډېر رسواکوونکی دی، په داسې حال کې چې د دوی به مدد نه کولی شي

وَأَمَّا ثَمُودُ فَهَدَيۡنَٰهُمۡ فَٱسۡتَحَبُّواْ ٱلۡعَمَىٰ عَلَى ٱلۡهُدَىٰ فَأَخَذَتۡهُمۡ صَٰعِقَةُ ٱلۡعَذَابِ ٱلۡهُونِ بِمَا كَانُواْ

**(17)** او پاتې شول ثموديان، نو مونږ دوی ته نېغه لار وښودله، نو دوی په هدايت باندې ړوندوالي ته ترجيح ورکړه، نو دوی د سپکوونکي عذاب سختې چغې ونيول، په

يَكۡسِبُونَ ١٧

سبب د هغو عملونو چې دوی به کول

وَنَجَّيۡنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَكَانُواْ
يَتَّقُونَ ١٨

(18) او مونږ هغو کسانو ته نجات ورکړ چې
ايمان يې راوړی و او پرهيزگاري به يې کوله

وَيَوۡمَ يُحۡشَرُ أَعۡدَآءُ ٱللَّهِ إِلَى ٱلنَّارِ
فَهُمۡ يُوزَعُونَ ١٩

(19) او(ياده کړه) هغه ورځ چې د الله
دښمنان به اور ته راجمع کولی شي، نو دوی
به ډلې کولی (او تقسيمولی) شي

حَتَّىٰٓ إِذَا مَا جَآءُوهَا شَهِدَ عَلَيۡهِمۡ
سَمۡعُهُمۡ وَأَبۡصَٰرُهُمۡ وَجُلُودُهُم بِمَا
كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٢٠

(20) تر دې چې کله دوی ده ته (څنګه)
راشي (، نو) په دوی باندې به د دوی غوږونه
او د دوی سترګې او د دوی څرمنې ګواهي
ورکړي، د هغو کارونو چې دوی به کول

وَقَالُواْ لِجُلُودِهِمۡ لِمَ شَهِدتُّمۡ
عَلَيۡنَاۖ قَالُوٓاْ أَنطَقَنَا ٱللَّهُ ٱلَّذِيٓ
أَنطَقَ كُلَّ شَيۡءٖۚ وَهُوَ خَلَقَكُمۡ
أَوَّلَ مَرَّةٖ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ٢١

(21) او دوی به خپلو څرمنو ته وواييې: تاسو
ولې پر مونږ ګواهي ورکړه؟ نو دغه (څرمنې)
به وواييې: مونږ هغه الله ګويا کړو چې هر شی
يې ګويا کړی دی. او دغه (الله) تاسو اول
ځلې پيدا کړي يئ او خاص همده ته به بېرته
ورګرځولی شئ

وَمَا كُنتُمۡ تَسۡتَتِرُونَ أَن يَشۡهَدَ
عَلَيۡكُمۡ سَمۡعُكُمۡ وَلَآ
أَبۡصَٰرُكُمۡ وَلَا جُلُودُكُمۡ

(22) او تاسو به (د ګناه د کولو په وخت کې)
ځان له دې نه نه پټولو چې په تاسو به ستاسو
غوږونه او ستاسو سترګې او ستاسو څرمنې
ګواهي ورکړي او لېکن تاسو به دا خيال کاوه

وَلَٰكِن ظَنَنتُمْ أَنَّ ٱللَّهَ لَا يَعْلَمُ
كَثِيرًا مِّمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٢٢﴾

چې بېشکه الله په ډېرو هغو کارونو نه عالم
کېږي چې تاسو يې کوئ

وَذَٰلِكُمْ ظَنُّكُمُ ٱلَّذِى ظَنَنتُم
بِرَبِّكُمْ أَرْدَىٰكُمْ فَأَصْبَحْتُم مِّنَ
ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿٢٣﴾

(23) او دغه ستاسو هغه (خراب) گمان دی
چې تاسو به په خپل رب (دغه) گمان کاوه،
دغه تاسو هلاك كړئ، نو له تاوانيانو ځني
شوئ

فَإِن يَصْبِرُوا۟ فَٱلنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ۖ
وَإِن يَسْتَعْتِبُوا۟ فَمَا هُم مِّنَ
ٱلْمُعْتَبِينَ ﴿٢٤﴾

(24) پس که دوی صبر وکړي، نو د دوی ځای
اور دی او که دوی (دالله) رضا کول (او دنیا
ته تلل) غواړي، نو دوی له قبول کړی شويو
ځني نه دي

۞ وَقَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَآءَ فَزَيَّنُوا۟ لَهُم
مَّا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَحَقَّ
عَلَيْهِمُ ٱلْقَوْلُ فِىٓ أُمَمٍ قَدْ خَلَتْ
مِن قَبْلِهِم مِّنَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ ۖ
إِنَّهُمْ كَانُوا۟ خَٰسِرِينَ ﴿٢٥﴾

(25) او مونږ د دوی لپاره ملگري مقرر كړي
دي، نو دغو (ملگرو) دوی ته هغه څيزونه
ښايسته کړي دي چې د دوی مخې ته دي او
د دوی وروسته دي او په دوی (د عذاب) خبره
ثابته شوې ده په هغو امتونو كې چې له دوی
نه مخکې کوم پېریان او انسانان تېر شوي
دي. بېشکه چې دوی تاوانيان وو

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَا تَسْمَعُوا۟
لِهَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ وَٱلْغَوْا۟ فِيهِ
لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُونَ ﴿٢٦﴾

(26) او كافران شوي كسان وايي : تاسو دغه
قرآن ته غوږ مه ږدئ او په (تلاوت د) ده کې
شور ماشور اچوئ، ښايي چې تاسو غالبه شئ

فَلَنُذِيقَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ عَذَابًا شَدِيدًا وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ أَسۡوَأَ ٱلَّذِي كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿٢٧﴾

(27) نو مونږ به په کافرانو شویو کسانو خامخا لازمًا ډېر سخت عذاب وڅکوو او خامخا لازمًا به مونږ دوی ته د هغو ټولو بدو عملونو بدله ورکړو چې دوی به کول

ذَٰلِكَ جَزَآءُ أَعۡدَآءِ ٱللَّهِ ٱلنَّارُۖ لَهُمۡ فِيهَا دَارُ ٱلۡخُلۡدِ جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يَجۡحَدُونَ ﴿٢٨﴾

(28) دغه د الله د دښمنانو بدله ده،چې اور دی، د دوی لپاره په دغه (اور) کې د همېشه والي کور دی، په داسې حال کې چې (دغه) بدله ده، په سبب د هغه چې دوی زمونږ له ایتونو نه انکار کاوه

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ رَبَّنَآ أَرِنَا ٱلَّذَيۡنِ أَضَلَّانَا مِنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ نَجۡعَلۡهُمَا تَحۡتَ أَقۡدَامِنَا لِيَكُونَا مِنَ ٱلۡأَسۡفَلِينَ ﴿٢٩﴾

(29) او کافران شوي کسان به وایې: اې زمونږه ربه! ته مونږ ته هغه دوه تنه وښیه چې د پېریانو او انسانانو څخه وو، چې مونږ دغه دواړه د خپلو قدمونو له لاندې کړو، د دې لپاره چې دغه دواړه د تر ټولو ښکته خلقو څخه شي

إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسۡتَقَٰمُواْ تَتَنَزَّلُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُواْ وَلَا تَحۡزَنُواْ وَأَبۡشِرُواْ بِٱلۡجَنَّةِ ٱلَّتِي كُنتُمۡ تُوعَدُونَ ﴿٣٠﴾

(30) بېشکه هغه کسان چې (په رښتیا) یې ویلي دي: زمونږ رب الله دی، بیا ټینګ ولاړ وي (، نو) په دوی ملایك نازلېږي چې تاسو مه وېرېږئ او مه غمګین کېږئ او تاسو د هغه جنت زېرې واخلئ چې تاسو سره به یې وعده کولی شوه

نَحۡنُ أَوۡلِيَآؤُكُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِۖ وَلَكُمۡ فِيهَا مَا تَشۡتَهِيٓ أَنفُسُكُمۡ وَلَكُمۡ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ ٣١

(31) مونږ ستاسو دوستان يو په دنيايي ژوند كې او په اخرت كې (هم) او تاسو لپاره په دغه (جنت) كې هر هغه (نعمتونه) شته چې ستاسو نفسونه يې خوښوي او تاسو لپاره په دغه (جنت) كې هر هغه څه دي چې تاسو يې غواړئ

نُزُلٗا مِّنۡ غَفُورٖ رَّحِيمٖ ٣٢

(32) په داسې حال كې چې د ډېر بخښونكي، بې حده رحم كوونكي له جانبه مېلمستيا ده

وَمَنۡ أَحۡسَنُ قَوۡلٗا مِّمَّن دَعَآ إِلَى ٱللَّهِ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ٣٣

(33) او د خبرې په لحاظ له هغه چا نه څوك ډېر ښه دى چې الله ته بلنه كوي او نېك عمل كوئ او وايي چې بېشكه زه له مسلمانانو څخه يم؟

وَلَا تَسۡتَوِي ٱلۡحَسَنَةُ وَلَا ٱلسَّيِّئَةُۚ ٱدۡفَعۡ بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ فَإِذَا ٱلَّذِي بَيۡنَكَ وَبَيۡنَهُۥ عَدَٰوَةٞ كَأَنَّهُۥ وَلِيٌّ حَمِيمٞ ٣٤

(34) او نېكي او بدي هېڅكله سره نه برابرېږي. ته په هغې طريقې سره جواب وركوه چې تر ټولو ښه وي، نو ناڅاپه به هغه كس چې ستا په مينځ كې او د هغه په مينځ كې دښمني وي، داسې شي ګويا كې هغه ستا ډېر مهربان دوست دى

وَمَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَمَا

(35) او دا (خصلت) نه وركول كېږي مګر هغو

يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ذُو حَظٍّ عَظِيمٍ ٣٥

کسانو ته چې صبر کوي او دا نه ورکول کېږي مګر د ډېرې لويې برخې والا ته

وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ نَزْغٌ فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ٣٦

(36) او كه خامخا تا ته د شيطان له جانبه څه وسوسه راشي، نو ته په الله پورې پناه ونيسه، بېشكه هم هغه ښه اورېدونكى، ښه پوه دى

وَمِنْ ءَايَٰتِهِ ٱلَّيْلُ وَٱلنَّهَارُ وَٱلشَّمْسُ وَٱلْقَمَرُ لَا تَسْجُدُوا۟ لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَٱسْجُدُوا۟ لِلَّهِ ٱلَّذِى خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ٣٧

(37) او د هغه له دليلونو څخه شپه او ورځ او لمر او سپوږمۍ دي، تاسو مه لمر ته سجده كوئ او مه سپوږمۍ ته او تاسو خاص الله ته سجده كوئ چې دغه (نښې) يې پيدا كړې دي، كه چېرې تاسو خاص د هغه عبادت كوئ

فَإِنِ ٱسْتَكْبَرُوا۟ فَٱلَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ يُسَبِّحُونَ لَهُۥ بِٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ وَهُمْ لَا يَسْـَٔمُونَ ۩ ٣٨

(38) نو كه دوى تكبر وكړ، نو هغه څوك چې له الله سره دي، هغوى شپه او ورځ د ده پاكي بيانوي، په داسې حال كې چې نه ستړي كېږي

وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنَّكَ تَرَى ٱلْأَرْضَ خَٰشِعَةً فَإِذَآ أَنزَلْنَا عَلَيْهَا ٱلْمَآءَ ٱهْتَزَّتْ وَرَبَتْ إِنَّ ٱلَّذِىٓ أَحْيَاهَا لَمُحْىِ ٱلْمَوْتَىٰٓ إِنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ

(39) او د هغه له نښو څخه دا دي چې بېشكه ته ځمكه وچه كلكه وينې، نو كله چې مونږ په دې اوبه نازلې كړې(نو) وخوځېږي او وپړسېږي، بېشكه هغه ذات چې دغه يې ژوندۍ كړې ده، خامخا د مړيو ژوندى

قَدِيرٌ ﴿٣٩﴾

كوونكى دى، بېشكه هغه په هر شي باندې ښه قادر دى

إِنَّ ٱلَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِيٓ ءَايَٰتِنَا لَا يَخْفَوْنَ عَلَيْنَآۗ أَفَمَن يُلْقَىٰ فِي ٱلنَّارِ خَيْرٌ أَم مَّن يَأْتِيٓ ءَامِنًا يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِۚ ٱعْمَلُواْ مَا شِئْتُمْ إِنَّهُۥ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٤٠﴾

(40) بېشكه هغه كسان چې زمونږ په ايتونو كې كاږه روان دي (او غلطې معناګانې كوي)، نو دوى پر مونږ پټ نه دي، ايا نو هغه څوك چې په اور كې غورځولى شي، ډېر غوره دى، يا هغه څوك چې د قيامت په ورځ (له عذاب نه) په امن كې راشي، څه چې ستاسو خوښ وي هغه كوئ، بېشكه هغه (الله) په هغو كارونو چې تاسو يې كوئ ؛ ښه ليدونكى دى

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِٱلذِّكْرِ لَمَّا جَآءَهُمْۖ وَإِنَّهُۥ لَكِتَٰبٌ عَزِيزٌ ﴿٤١﴾

(41) بېشكه هغه كسان چې په ذكر (قرآن) سره كافران شوي دي، كله چې (دا ذكر) دوى ته راغى، په دې حال كې چې يقينًا دغه (ذكر) خامخا ډېر قوي كتاب دى

لَّا يَأْتِيهِ ٱلْبَٰطِلُ مِنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِۦۖ تَنزِيلٌ مِّنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ ﴿٤٢﴾

(42) باطل ده ته نه د ده له مخې نه راتلى شي او نه د ده له شا نه، د ډېر حكمت والا، ښه ستايل شوي (الله) له جانبه رالېږل شوى دى

مَّا يُقَالُ لَكَ إِلَّا مَا قَدْ قِيلَ لِلرُّسُلِ مِن قَبْلِكَۚ إِنَّ رَبَّكَ لَذُو

(43) تا ته نه ويل كېږي مګر هغه خبرې چې يقينًا له تا نه مخكې رسولانو ته ويل شوي دي، بېشكه ستا رب خامخا د مغفرت والا او د

مَغۡفِرَةٖ وَذُو عِقَابٍ أَلِيمٖ ﴿٤٣﴾

ډېر دردوونکي عذاب والا دی

وَلَوۡ جَعَلۡنَٰهُ قُرۡءَانًا أَعۡجَمِيّٗا
لَّقَالُواْ لَوۡلَا فُصِّلَتۡ ءَايَٰتُهُۥٓۖ
ءَا۬عۡجَمِيّٞ وَعَرَبِيّٞۗ قُلۡ هُوَ لِلَّذِينَ
ءَامَنُواْ هُدٗى وَشِفَآءٞۚ وَٱلَّذِينَ لَا
يُؤۡمِنُونَ فِيٓ ءَاذَانِهِمۡ وَقۡرٞ وَهُوَ
عَلَيۡهِمۡ عَمًىۚ أُوْلَٰٓئِكَ يُنَادَوۡنَ مِن
مَّكَانِۭ بَعِيدٖ ﴿٤٤﴾

(44) او كه مونږ دا (كتاب) عجمي قرآن گرځولی وی، (نو) دوی به ضرور ویلی چې ولې د ده ایتونه واضح نه دي بیان شوي، ایا (كتاب) عجمي دی او (نبي يې) عربي دی، ته (دوی ته) ووایه: دغه (قرآن) د هغو كسانو لپاره چې ایمان يې راوړی دی ؛ هدایت او شفا دی او هغه كسان چې ایمان نه راوړي ؛ د هغوی په غوږونو كې دروندوالی دی، په داسې حال كې چې دغه (قرآن) په دوی ړندوالی دی. دغه خلق (كفار گویاكې داسې) دي چې دوی ته له ډېر لرې ځایه اواز كولی شي

وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ
فَٱخۡتُلِفَ فِيهِۚ وَلَوۡلَا كَلِمَةٞ
سَبَقَتۡ مِن رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيۡنَهُمۡۚ
وَإِنَّهُمۡ لَفِي شَكّٖ مِّنۡهُ مُرِيبٖ ﴿٤٥﴾

(45) او یقینًا یقینًا مونږ موسىٰ ته كتاب وركړی و، نو په دغه (كتاب) كې اختلاف وكړی شو او كه چېرې هغه كلمه نه وی چې ستا د رب له جانبه ړومبی شوې ده،(نو) خامخا به د دوی په مینځ كې فیصله شوې وی. او ببشكه دوی د ده په هكله خامخا په اضطراب اچوونكي شك كې دي

مَّنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا فَلِنَفۡسِهِۦۖ وَمَنۡ

(46) هر څوك چې نېك عمل كوي، نو د خپل

أَسَآءَ فَعَلَيۡهَاۗ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّٰمٖ لِّلۡعَبِيدِ ﴿٤٦﴾

ځان لپاره (يې كوي) او څوك چې بدي كوي، نو ضرر يې په همده دى، او ستا رب په (خپلو) بنده ګانو د هېڅ ظلم كوونكى نه دى

۞إِلَيۡهِ يُرَدُّ عِلۡمُ ٱلسَّاعَةِۚ وَمَا تَخۡرُجُ مِن ثَمَرَٰتٖ مِّنۡ أَكۡمَامِهَا وَمَا تَحۡمِلُ مِنۡ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلۡمِهِۦۚ وَيَوۡمَ يُنَادِيهِمۡ أَيۡنَ شُرَكَآءِي قَالُوٓاْ ءَاذَنَّٰكَ مَا مِنَّا مِن شَهِيدٖ ﴿٤٧﴾

(47) خاص همده ته د قيامت علم ورسپارلى شي او هېڅ مېوې له خپلو غلافونو څخه نه راوځي او نه هېڅ يو ښځه حامله كېږي او نه (بچى) زېږوي مګر د دغه (الله) په علم سره او (ياده كړه) هغه ورځ چې دوى ته به (رب) اواز وكړي چې (ستاسو په عقيده) زما شريكان چېرته دي؟ دوى به ووايي: مونږ تا ته خبر كړى چې (اوس) پر مونږ كې هيڅوك (د دې خبرې) ګواهي كوونكى نشته

وَضَلَّ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَدۡعُونَ مِن قَبۡلُۖ وَظَنُّواْ مَا لَهُم مِّن مَّحِيصٖ ﴿٤٨﴾

(48) او له دوى نه به هغه (معبودان) ورك شي چې له دې نه مخكې به دوى بلل او دوى به يقين وكړي چې د دوى لپاره د تېښتې هېڅ ځاى نشته

لَّا يَسۡـَٔمُ ٱلۡإِنسَٰنُ مِن دُعَآءِ ٱلۡخَيۡرِ وَإِن مَّسَّهُ ٱلشَّرُّ فَيَـُٔوسٞ قَنُوطٞ ﴿٤٩﴾

(49) انسان د خير له غوښتلو نه نه ستړى كېږي او كه ده ته شر (او تكليف) ورسېږي، نو ډېر ناهيلى، ډېر نا امېده وي

وَلَئِنۡ أَذَقۡنَٰهُ رَحۡمَةٗ مِّنَّا مِنۢ بَعۡدِ

(50) او كه خامخا مونږ په ده له خپل جانب

ضَرَّآءَ مَسَّتۡهُ لَيَقُولَنَّ هَٰذَا لِي وَمَآ
أَظُنُّ ٱلسَّاعَةَ قَآئِمَةٗ وَلَئِن رُّجِعۡتُ
إِلَىٰ رَبِّيٓ إِنَّ لِي عِندَهُۥ لَلۡحُسۡنَىٰۚ
فَلَنُنَبِّئَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِمَا
عَمِلُواْ وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنۡ عَذَابٍ
غَلِيظٖ ٥٠

نه رحمت وڅکوو، له هغه تکلیف نه وروسته چې ده ته رسېدلی وي (،نو) خامخا لازمًا به وایي: دا زما (حق) دی او زه د قیامت په هکله ګمان نه کوم چې قایم به شي او خامخا که زه خپل رب ته بېرته وګرځولی شم، (نو) بېشکه زما لپاره به د هغه په نېز خامخا تر ټولو ښه حالت (جنت) وي، نو مونږ به خامخا لازمًا کافران شوي کسان په خپلو عملونو خبر کړو او خامخا لازمًا به مونږ دوی ته له ډېر سخت عذاب څخه وڅکوو

وَإِذَآ أَنۡعَمۡنَا عَلَى ٱلۡإِنسَٰنِ أَعۡرَضَ
وَنَـَٔا بِجَانِبِهِۦ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ
فَذُو دُعَآءٍ عَرِيضٖ ٥١

(51) او کله چې مونږ په انسان باندې انعام وکړو (نو) دی (له حقه) مخ واړوي او خپل جانب (ځان) لرې کړي او کله چې ده ته سختي ورسېږي، نو بیا د ډېرې اوږدې دعا والا وي

قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ إِن كَانَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ
ثُمَّ كَفَرۡتُم بِهِۦ مَنۡ أَضَلُّ مِمَّنۡ
هُوَ فِي شِقَاقِۭ بَعِيدٖ ٥٢

(52) ته (دوی ته) ووایه: تاسو ما خبر کړئ! که چېرې دغه (قرآن) د الله له جانبه وي، بیا تاسو په ده سره کافران شئ، (نو) له هغه چا نه لوی ګمراه څوک دی چې په ډېر لرې مخالفت کې وي

سَنُرِيهِمۡ ءَايَٰتِنَا فِي ٱلۡأٓفَاقِ وَفِيٓ

(53) ژر ده چې مونږ به دوی ته خپلې نښې

أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ
ٱلْحَقُّۗ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ
عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ٥٣

په افاقو (د عالم په اطرافو) كې او د دوى په
ځانونو كې وښيو، تر دې چې دوى ته ښه
څرګند شي چې يقينًا هم دغه (قرآن) حق
دى او ايا ستا رب ښه كافي نه دى دا چې
يقينًا هغه په هر شي باندې خبردار دى

أَلَآ إِنَّهُمْ فِي مِرْيَةٍ مِّن لِّقَآءِ رَبِّهِمْۗ
أَلَآ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَيْءٍ مُّحِيطٌۢ ٥٤

(54) خبردار شئ! بېشكه دوى د خپل رب له
ملاقات نه په شك كې دي، خبردار شئ!
بېشكه هغه په هر شي احاطه كوونكى دى

## سُورَةُ الشُّورَىٰ

## سورة شورى

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى**

حمٓ ١

(1) حٰمٓ

عٓسٓقٓ ٢

(2) عٓسٓقٓ

كَذَٰلِكَ يُوحِيٓ إِلَيْكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ
مِن قَبْلِكَ ٱللَّهُ ٱلْعَزِيزُ
ٱلْحَكِيمُ ٣

(3) (له شروع نه) هغه همداسې وحي كوي
تا ته او هغو (پېغمبرانو) ته چې له تا نه مخكې
وو، هغه الله چې ډېر غالب، ښه حكمت والا
دى

لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي

(4) خاص د هغه لپاره هر هغه څه دي په

ٱلۡأَرۡضِۗ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ ٤

اسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي او هم دغه (الله) ډېر اوچت، ډېر لوی دی

تَكَادُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ يَتَفَطَّرۡنَ مِن فَوۡقِهِنَّۚ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يُسَبِّحُونَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ وَيَسۡتَغۡفِرُونَ لِمَن فِي ٱلۡأَرۡضِۗ أَلَآ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ٥

(5) اسمانونه دې ته نژدې دي چې د خپل له پاسه نه وچوي او ملايك د خپل د رب ستاينې سره تسبيح وايي او د هغه چا لپاره مغفرت غواړي چې په ځمکه کې دي. خبردار شئ! بېشکه الله، هم دی ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی

وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَ ٱللَّهُ حَفِيظٌ عَلَيۡهِمۡ وَمَآ أَنتَ عَلَيۡهِم بِوَكِيلٖ ٦

(6) او هغه کسان چې له ده نه غير يې نور کارسازان نيولي دي، الله په دوی بنه نگران دی او ته په دوی باندې هېڅ ذمه وار نه يې

وَكَذَٰلِكَ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ قُرۡءَانًا عَرَبِيّٗا لِّتُنذِرَ أُمَّ ٱلۡقُرَىٰ وَمَنۡ حَوۡلَهَا وَتُنذِرَ يَوۡمَ ٱلۡجَمۡعِ لَا رَيۡبَ فِيهِۚ فَرِيقٞ فِي ٱلۡجَنَّةِ وَفَرِيقٞ فِي ٱلسَّعِيرِ ٧

(7) او همداسې مونږ تا ته (دا) عربي قرآن وحي کړو، د دې لپاره چې ته ام القرىٰ (مکه) ووېروې او هغه څوك چې د دې گېر چاپېره دي او ته (دوی) د جمع کېدلو له ورځې نه ووېروې چې هېڅ شك په کې نشته، يوه ډله به په جنت کې وي او بله ډله به په دوزخ کې وي

وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَعَلَهُمۡ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ

(8) او که الله غوښتلي وی (نو) دوی به يې

| | |
|---|---|
| وَلَٰكِن يُدۡخِلُ مَن يَشَآءُ فِي رَحۡمَتِهِۦۚ وَٱلظَّٰلِمُونَ مَا لَهُم مِّن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٍ ٨ | خامخا يو امت ګرځولي وو او لېكن هغه په خپل رحمت كې چا ته چې وغواړي داخلوي يې او ظالمان چې دي، د دوى لپاره نه هېڅ كارساز شته او نه مددګار |
| أَمِ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَۖ فَٱللَّهُ هُوَ ٱلۡوَلِيُّ وَهُوَ يُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٩ | (9) ايا دوى له ده (الله) نه غير كارسازان (او دوستان) نيولي دي، نو هم دغه الله كارساز دى او هم دى مړي راژوندي كوي او هم دى په هر څيز باندې ښه قادر دى |
| وَمَا ٱخۡتَلَفۡتُمۡ فِيهِ مِن شَيۡءٖ فَحُكۡمُهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبِّي عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَإِلَيۡهِ أُنِيبُ ١٠ | (10) او هر هغه شى چې تاسو په هغه كې اختلاف وكړئ، نو د هغه حكم (فيصله) الله ته ده، دغه الله زما رب دى، خاص په ده باندې ما توكل كړى دى او خاص هم ده ته زه رجوع كوم |
| فَاطِرُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ جَعَلَ لَكُم مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ أَزۡوَٰجٗا وَمِنَ ٱلۡأَنۡعَٰمِ أَزۡوَٰجٗا يَذۡرَؤُكُمۡ فِيهِۚ لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ١١ | (11) (دغه الله) د اسمانونو او ځمكې پيدا كوونكى دى، تاسو لپاره يې له هم ستاسو له جنس (او ځانونو) نه جوړې پيدا كړې دي او له څارويو نه يې هم قسمونه (پيدا كړي دي)، هغه تاسو په دې طريقې سره خوروي، د هغه په مثل هېڅ شى نشته او هم دغه ښه اورېدونكى، ښه ليدونكى دى |

لَهُۥ مَقَالِيدُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ
يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ
إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ١٢

(12) خاص هم دغه (الله) لره د اسمانونو او ځمکې چابیانې دي، هغه چا لپاره چې وغواړي رزق فراخوي او (چا لپاره چې وغواړي) تنګوي یې، بېشکه هغه په هر شي باندې ښه عالم دی

۞شَرَعَ لَكُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا
وَصَّىٰ بِهِۦ نُوحٗا وَٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ
إِلَيۡكَ وَمَا وَصَّيۡنَا بِهِۦٓ إِبۡرَٰهِيمَ
وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰٓۖ أَنۡ أَقِيمُواْ ٱلدِّينَ
وَلَا تَتَفَرَّقُواْ فِيهِۚ كَبُرَ عَلَى
ٱلۡمُشۡرِكِينَ مَا تَدۡعُوهُمۡ إِلَيۡهِۚ ٱللَّهُ
يَجۡتَبِيٓ إِلَيۡهِ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِيٓ
إِلَيۡهِ مَن يُنِيبُ ١٣

(13) هغه تاسو لپاره هغه دین مقرر کړی دی چې د هغه وصیت یې نوح ته کړی و او هغه چې مونږ تا ته وحي کړی دی او هغه چې مونږ د هغه وصیت ابراهیم او موسیٰ او عیسیٰ ته کړی و، چې تاسو دین قایم کړئ او په ده کې مه مختلف کېږئ، په مشرکانو باندې هغه شی ډېر دروند دی چې ته دوی هغه ته بلې، الله غوره کوي دې (دین) ته چا ته چې وغواړي او د ده په طرف هغه چا ته هدایت کوي چې رجوع کوي

وَمَا تَفَرَّقُوٓاْ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ مَا
جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُ بَغۡيَۢا بَيۡنَهُمۡۚ وَلَوۡلَا
كَلِمَةٞ سَبَقَتۡ مِن رَّبِّكَ إِلَىٰٓ أَجَلٖ
مُّسَمّٗى لَّقُضِيَ بَيۡنَهُمۡۚ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ
أُورِثُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ لَفِي

(14) او دوی سره مختلف شوي نه وو مګر وروسته له هغه چې دوی ته علم راغی، په خپل مینځ کې د حسد په وجه، او که چېرې هغه خبره نه وی چې ستا د رب له جانبه تر ټاکلي نېټې پورې ړومبی شوې ده (، نو) د دوی په مینځ کې به خامخا فیصله کړی شوې

شَكٍّ مِّنۡهُ مُرِيبٖ ﴿١٤﴾

وی اوبېشكه هغه كسان چې له دوی نه وروسته ورته كتاب په ميراث كې وركړې شوی دی، خامخا د دغه (قرآن) په هكله په اضطراب اچوونكي شك كې دي

فَلِذَٰلِكَ فَٱدۡعُۖ وَٱسۡتَقِمۡ كَمَآ
أُمِرۡتَۖ وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَهُمۡۖ وَقُلۡ
ءَامَنتُ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِن كِتَٰبٖۖ
وَأُمِرۡتُ لِأَعۡدِلَ بَيۡنَكُمُۖ ٱللَّهُ رَبُّنَا
وَرَبُّكُمۡۖ لَنَآ أَعۡمَٰلُنَا وَلَكُمۡ
أَعۡمَٰلُكُمۡۖ لَا حُجَّةَ بَيۡنَنَا
وَبَيۡنَكُمُۖ ٱللَّهُ يَجۡمَعُ بَيۡنَنَاۖ وَإِلَيۡهِ
ٱلۡمَصِيرُ ﴿١٥﴾

(15) نو ته همدغه (توحيد) ته بلنه كوه او په استقامت اوسه، لكه څنګه چې تا ته حكم دركړې شوی دی او د دوی د خواهشاتو پيروي مه كوه او ته وايه: ما په هر هغه كتاب ايمان راوړی دی چې الله نازل كړی دی او ما ته حكم راكړې شوی دی چې ستاسو په مينځ كې انصاف وكړم، الله زمونږ رب دی او ستاسو رب دی، زمونږ لپاره زمونږ عملونه دي او تاسو لپاره ستاسو عملونه دي (حق ښه واضح شو، نو زمونږ په مينځ كې او ستاسو په مينځ كې هېڅ جګړه نشته، الله به مونږ ټول سره راجمع كړي او خاص همده ته بېرته ورتلل دي

وَٱلَّذِينَ يُحَآجُّونَ فِي ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ
مَا ٱسۡتُجِيبَ لَهُۥ حُجَّتُهُمۡ
دَاحِضَةٌ عِندَ رَبِّهِمۡ وَعَلَيۡهِمۡ
غَضَبٞ وَلَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدٌ ﴿١٦﴾

(16) او هغه كسان چې د الله په باره كې وروسته له دې جګړې كوي چې د هغه دعوت قبول كړی شو، د دغو كسانو جګړه كول د دوی د رب په نيز باطل دي او په دوی غضب دی او د دوی لپاره ډېر سخت عذاب دی

ٱللَّهُ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ وَٱلۡمِيزَانَۗ وَمَا يُدۡرِيكَ لَعَلَّ ٱلسَّاعَةَ قَرِيبٞ ١٧

(17) الله هغه ذات دى چې كتاب يې په حقه سره نازل كړى دى او تله (ميزان) يې هم او تا څه شى خبروي، ښايي چې قيامت ډېر نژدې وي

يَسۡتَعۡجِلُ بِهَا ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِهَاۖ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مُشۡفِقُونَ مِنۡهَا وَيَعۡلَمُونَ أَنَّهَا ٱلۡحَقُّۗ أَلَآ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُمَارُونَ فِي ٱلسَّاعَةِ لَفِي ضَلَٰلِۭ بَعِيدٍ ١٨

(18) دغه (قيامت) هغه كسان په تلوار سره غواړي چې په ده ايمان نه لري او هغه كسان چې (په ده) يې ايمان راوړى دى، له ده نه وېرېدونكي دي او دوى پوهېږي چې يقيناً دا حق دى، خبردار شئ! بېشكه هغه كسان چې د قيامت په باره كې جګړې (او شكونه) كوي، يقيناً په ډېرې لرې ګمراهۍ كې دي

ٱللَّهُ لَطِيفُۢ بِعِبَادِهِۦ يَرۡزُقُ مَن يَشَآءُۖ وَهُوَ ٱلۡقَوِيُّ ٱلۡعَزِيزُ ١٩

(19) الله په خپلو بنده ګانو ډېر مهربان دى، هغه روزي وركوي چا ته چې وغواړي، او هم دى ډېر زورور، ښه غالب دى

مَن كَانَ يُرِيدُ حَرۡثَ ٱلۡأٓخِرَةِ نَزِدۡ لَهُۥ فِي حَرۡثِهِۦۖ وَمَن كَانَ يُرِيدُ حَرۡثَ ٱلدُّنۡيَا نُؤۡتِهِۦ مِنۡهَا وَمَا لَهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِن نَّصِيبٍ ٢٠

(20) هر هغه څوك چې د اخرت فصل غواړي، نو مونږ به د ده لپاره د ده په فصل كې زياتوالى وكړو او هر هغه څوك چې د دنيا فصل غواړي (نو) مونږ به ده ته له دغې (دنيا) نه څه وركړو او د ده لپاره به په اخرت كې هېڅ برخه نه وي

أَمۡ لَهُمۡ شُرَكَـٰٓؤُاْ شَرَعُواْ لَهُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا لَمۡ يَأۡذَنۢ بِهِ ٱللَّهُۚ وَلَوۡلَا كَلِمَةُ ٱلۡفَصۡلِ لَقُضِيَ بَيۡنَهُمۡۗ وَإِنَّ ٱلظَّـٰلِمِينَ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٢١﴾

(21) ايا د دوى لپاره داسې شريكان شته چې د دوى لپاره يې له دين څخه هغه لاره مقرر كړې ده چې الله د هغې اذن نه دى كړى او كه چېرې د فيصلې خبره نه وى (نو) د دوى په مينځ كې به خامخا فيصله شوې وى او بېشكه ظالمان چې دي، د دوى لپاره ډېر دردوونكى عذاب دى

تَرَى ٱلظَّـٰلِمِينَ مُشۡفِقِينَ مِمَّا كَسَبُواْ وَهُوَ وَاقِعُۢ بِهِمۡۗ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّـٰلِحَٰتِ فِي رَوۡضَاتِ ٱلۡجَنَّاتِۖ لَهُم مَّا يَشَآءُونَ عِندَ رَبِّهِمۡۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَضۡلُ ٱلۡكَبِيرُ ﴿٢٢﴾

(22) ته به ظالمان (مشركان) وينې چې د خپل كړي عمل (له انجام) نه به وېرېدونكي وي، په دې حال كې چې هغه په دوى پرېوتونكى دى، او هغه كسان چې ايمان يې راوړى دى او نېك عملونه يې كړي دي، د جنتونو په باغېچو كې به وي د دوى لپاره د خپل رب په نيز هغه څه دي چې دوى يې غواړي، هم دغه ډېر لوى فضل دى

ذَٰلِكَ ٱلَّذِي يُبَشِّرُ ٱللَّهُ عِبَادَهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّـٰلِحَٰتِۗ قُل لَّآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ أَجۡرًا إِلَّا ٱلۡمَوَدَّةَ فِي ٱلۡقُرۡبَىٰۗ وَمَن يَقۡتَرِفۡ حَسَنَةٗ نَّزِدۡ لَهُۥ فِيهَا حُسۡنًاۚ إِنَّ

(23) دغه دى هغه شى چې الله يې خپلو هغو بنده ګانو ته زېرى وركوي چې ايمان يې راوړى دى او نېك عملونه يې كړي دي، ته (دوى ته) ووايه: زه له تاسو نه په دغه (تبليغ) باندې هېڅ اجر (مزدوري) نه غواړم، لېكن په خپلوۍ كې مينه (د خپلولۍ مينه) (غواړم) او

ٱللَّهَ غَفُورٌ شَكُورٌ ﴿٢٣﴾

هر هغه څوك چې نېكي وكړي مونږ به هغه ته په دغې (نېكۍ) ښايست ورزيات كړو، بېشكه الله ډېر مغفرت كوونكى ډېر قدردان (شكر قبلوونكى) دى

أَمْ يَقُولُونَ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا ۖ فَإِن يَشَإِ ٱللَّهُ يَخْتِمْ عَلَىٰ قَلْبِكَ ۗ وَيَمْحُ ٱللَّهُ ٱلْبَٰطِلَ وَيُحِقُّ ٱلْحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿٢٤﴾

(24) ايا دوى وايي چې ده په الله باندې له ځانه دروغ تړلي دي، نو كه الله وغواړي ستا په زړه به مهر ولگوي او الله باطل محوه كوي او په خپلو كلماتو سره حق ثابتوي، بېشكه هغه د سينو په خبرو ښه عالم دى

وَهُوَ ٱلَّذِى يَقْبَلُ ٱلتَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِۦ وَيَعْفُوا۟ عَنِ ٱلسَّيِّـَٔاتِ وَيَعْلَمُ مَا تَفْعَلُونَ ﴿٢٥﴾

(25) او دى همغه ذات دى چې د خپلو بنده گانو توبه قبلوي او د بديو معافي كوي او په هغو كارونو پوهېږي چې تاسو يې كوئ

وَيَسْتَجِيبُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَيَزِيدُهُم مِّن فَضْلِهِۦ ۚ وَٱلْكَٰفِرُونَ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ﴿٢٦﴾

(26) او د هغو كسانو دعاگانې قبلوي چې ايمان يې راوړى دى اونېك عملونه يې كړي دي او له خپل فضله دوى ته زيات وركوي، او كافران (چې دي) د دوى لپاره ډېر سخت عذاب دى

۞ وَلَوْ بَسَطَ ٱللَّهُ ٱلرِّزْقَ لِعِبَادِهِۦ لَبَغَوْا۟ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَٰكِن يُنَزِّلُ

(27) او كه چېرې الله د خپلو بنده گانو لپاره روزي فراخه كړي، نو دوى به په ځمكه كې خامخا سركشي وكړي او لېكن هغه په يوې

بِقَدَرٖ مَّا يَشَآءُۚ إِنَّهُۥ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرُۢ
بَصِيرٞ ٢٧

اندازې سره څومره چې وغواړي نازلوي يې، بېشکه هغه په خپلو بنده ګانو ښه خبردار، ښه ليدونکی دی

وَهُوَ ٱلَّذِي يُنَزِّلُ ٱلۡغَيۡثَ مِنۢ بَعۡدِ
مَا قَنَطُواْ وَيَنشُرُ رَحۡمَتَهُۥۚ وَهُوَ
ٱلۡوَلِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ٢٨

(28) او دی همغه ذات دی چې باران وروي، وروسته له دې چې دوی نا امېده شي او هغه خپل رحمت خوروي او هم دی ښه کارساز، ښه ستايل شوی دی

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦ خَلۡقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَثَّ فِيهِمَا مِن دَآبَّةٖۚ
وَهُوَ عَلَىٰ جَمۡعِهِمۡ إِذَا يَشَآءُ
قَدِيرٞ ٢٩

(29) او د ده له نښو څخه د اسمانونو او ځمکې پيدا کول دي او د هغو زنده سرو (خوځندهوو پيدا کول دي) چې ده په دغو دواړو کې خواره کړي دي او دغه (الله) چې کله وغواړي د دغو (ځيزونو) په راجمع کولو ښه قادر دی

وَمَآ أَصَٰبَكُم مِّن مُّصِيبَةٖ فَبِمَا
كَسَبَتۡ أَيۡدِيكُمۡ وَيَعۡفُواْ عَن
كَثِيرٖ ٣٠

(30) او تاسو ته چې څه مصيبت هم رسي، نو په سبب د هغو کارونو چې ستاسو لاسونو کړي دي او ډېر (ګناهونه) معاف کوي

وَمَآ أَنتُم بِمُعۡجِزِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِۖ
وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ
وَلَا نَصِيرٖ ٣١

(31) او تاسو په ځمکه کې (الله لره) له سره عاجزه کوونکي نه يئ او د تاسو لپاره له الله نه غير نه څوک دوست (او کارساز) شته او نه مددګار

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِ ٱلۡجَوَارِ فِي ٱلۡبَحۡرِ كَٱلۡأَعۡلَٰمِ ٣٢

(32) او د هغه له نښو څخه په سمندر کې رواني بېړۍ دي، چې دغرونو په شان دي

إِن يَشَأۡ يُسۡكِنِ ٱلرِّيحَ فَيَظۡلَلۡنَ رَوَاكِدَ عَلَىٰ ظَهۡرِهِۦٓۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّكُلِّ صَبَّارٖ شَكُورٍ ٣٣

(33) كه هغه (الله) وغواړي، نو هوا به ودروي، نو دغه (بېړۍ) به د ده په شا ولاړې پاتې شي، بېشكه په دغو كې د هر صبرناك او ډېر شكر ايستونكي لپاره يقينًا ډېرې نښې دي

أَوۡ يُوبِقۡهُنَّ بِمَا كَسَبُواْ وَيَعۡفُ عَن كَثِيرٖ ٣٤

(34) يا به دغه (بېړۍ) هلاكې (ډوبې) كړي، په سبب د هغو (گناهونو) چې دغو (خلقو) كړې دي او (كه وغواړي) ډېر (گناهونه) معاف كوي

وَيَعۡلَمَ ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِيٓ ءَايَٰتِنَا مَا لَهُم مِّن مَّحِيصٖ ٣٥

(35) او چې هغه كسان پوه شي چې زمونږ په ايتونو كې جگړې كوي، چې د دوى لپاره د خلاصي هېڅ ځاى نشته

فَمَآ أُوتِيتُم مِّن شَيۡءٖ فَمَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيۡرٞ وَأَبۡقَىٰ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ٣٦

(36) پس تاسو ته چې څه شى هم دركړى شوى دى، نو (دغه) د دنيايي ژوند فايده ده، او هغه (ثواب) چې د الله په نېز دى (هغه) ډېر غوره او ډېر باقي پاتې كېدونكى دى د هغو كسانو لپاره چې ايمان يې راوړى دى او خاص په خپل رب باندې توكل كوي

وَٱلَّذِينَ يَجۡتَنِبُونَ كَبَٰٓئِرَ ٱلۡإِثۡمِ
وَٱلۡفَوَٰحِشَ وَإِذَا مَا غَضِبُواْ هُمۡ
يَغۡفِرُونَ ٣٧

(37) او د هغو كسانو لپاره چې له غټو گناهونو او د بې حيايۍ له كارونو نه ځان ساتي او چې كله هم په غضب شي (نو) دوى بخښنه كوي

وَٱلَّذِينَ ٱسۡتَجَابُواْ لِرَبِّهِمۡ وَأَقَامُواْ
ٱلصَّلَوٰةَ وَأَمۡرُهُمۡ شُورَىٰ بَيۡنَهُمۡ
وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ٣٨

(38) او د هغو كسانو لپاره چې د خپل رب حكم مني او لمونځ قايموي او د دوى كار په خپل مينځ كې په مشوري سره وي او ځينې له هغه (مال) نه چې مونږ دوى ته وركړى دى ؛ انفاق كوي

وَٱلَّذِينَ إِذَآ أَصَابَهُمُ ٱلۡبَغۡيُ هُمۡ
يَنتَصِرُونَ ٣٩

(39) او د هغو كسانو لپاره چې دوى ته (د كافرانو له خوا) ظلم ورسېږي (نو) دوى ( له هغو نه) انتقام اخلي

وَجَزَٰٓؤُاْ سَيِّئَةٖ سَيِّئَةٞ مِّثۡلُهَاۖ فَمَنۡ
عَفَا وَأَصۡلَحَ فَأَجۡرُهُۥ عَلَى ٱللَّهِۚ
إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلظَّٰلِمِينَ ٤٠

(40) او د بدى بدله د هغې په شان بدي ده، نو هغه څوك چې معافي وكړي او اصلاح وكړي نو د ده اجر په الله دى، بېشكه هغه (الله) ظالمان نه خوښوي

وَلَمَنِ ٱنتَصَرَ بَعۡدَ ظُلۡمِهِۦ
فَأُوْلَٰٓئِكَ مَا عَلَيۡهِم مِّن
سَبِيلٍ ٤١

(41) او يقيناً هغه څوك چې په خپل ځان له ظلم كېدو نه پس بدل واخلي، نو دغه كسان (دي چې) په دوى (د ملامتيا) هېڅ لار نشته

إِنَّمَا ٱلسَّبِيلُ عَلَى ٱلَّذِينَ يَظۡلِمُونَ ٱلنَّاسَ وَيَبۡغُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٤٢﴾

(42) ببشکه همدا خبره ده چې (د ملامتیا) لار خو په هغو کسانو ده چې په خلقو ظلم کوي او په ځمکه کې ناحقه سرکشي کوي، دغه کسان (دي چې) د دوی لپاره ډېر دردوونکی عذاب دی

وَلَمَن صَبَرَ وَغَفَرَ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمِنۡ عَزۡمِ ٱلۡأُمُورِ ﴿٤٣﴾

(43) او یقینًا هغه څوك چې صبر یې وکړ او بخښنه یې وکړه، ببشکه دغه (صبر او بخښنه) خامخا له غوره کارونو څخه دي

وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن وَلِيّٖ مِّنۢ بَعۡدِهِۦۗ وَتَرَى ٱلظَّٰلِمِينَ لَمَّا رَأَوُاْ ٱلۡعَذَابَ يَقُولُونَ هَلۡ إِلَىٰ مَرَدّٖ مِّن سَبِيلٖ ﴿٤٤﴾

(44) او هر هغه څوك چې الله یې گمراه کړي، نو د ده لپاره له دغه (الله) نه پس هېڅ دوست (او حمایتي) نشته او ته به ظالمان وینې، کله چې دوی عذاب ووینې، دوی به وایې: ایا بېرته تللو ته څه لار شته؟

وَتَرَىٰهُمۡ يُعۡرَضُونَ عَلَيۡهَا خَٰشِعِينَ مِنَ ٱلذُّلِّ يَنظُرُونَ مِن طَرۡفٍ خَفِيّٖۗ وَقَالَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ وَأَهۡلِيهِمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ أَلَآ إِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ فِي عَذَابٖ مُّقِيمٖ ﴿٤٥﴾

(45) او ته به دوی وینې چې په دغه (اور) به پیش کولی شي، په داسې حال کې چې د ذلت په وجه به وېرېدونکي وي، دوی به د سترگو له گوټونو نه گوري او هغه کسان به چې ایمان یې راوړی دی؛ وایې: ببشکه تاوانیان خو هغه کسان وي چې د قیامت په ورځ یې خپل ځان او خپلې کورنۍ ته تاوان ورساوه، خبردار شئ! ببشکه ظالمان به په

دايمي (همېشني) عذاب کې وي

وَمَا كَانَ لَهُم مِّنْ أَوْلِيَآءَ يَنصُرُونَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِۗ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن سَبِيلٍ ٤٦

(46) او د دغو لپاره به هيڅوك دوستان نه وي چې له الله نه غير له دوی سره مدد وکړي او هغه څوك چې الله يې گمراه کړي نو د ده لپاره هېڅ لاره نشته

ٱسْتَجِيبُواْ لِرَبِّكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهُۥ مِنَ ٱللَّهِۚ مَا لَكُم مِّن مَّلْجَإٍ يَوْمَئِذٍ وَمَا لَكُم مِّن نَّكِيرٍ ٤٧

(47) تاسو د خپل رب حکم ومنئ مخکې له دې چې هغه ورځ راشي چې د الله له طرفه هغې لره هېڅ رد (او گرځول) نشته، په دغه ورځ کې به تاسو لپاره هېڅ پناه ځای نه وي او نه به څه انکار وي

فَإِنْ أَعْرَضُواْ فَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًاۖ إِنْ عَلَيْكَ إِلَّا ٱلْبَلَٰغُۗ وَإِنَّآ إِذَآ أَذَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ مِنَّا رَحْمَةً فَرِحَ بِهَاۖ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةُۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ فَإِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ كَفُورٞ ٤٨

(48) نو که دوی مخ وگرځوي، نو ته مونږ په دوی باندې نگران نه يې لېږلی، په تا خو يواځې تبليغ کول دي، بېشکه مونږ کله چې په انسان له خپل جانب نه رحمت وڅکوو (نو) هغه په ده سره خوشحاله شي او که چېرې دوی ته تکليف ورسېږي په سبب د هغو (گناهونو) چې د دوی لاسونو مخکې لېږلي دي بيا خو دغه انسان يقينًا ډېر ناشکره دی

لِّلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِۚ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُۚ يَهَبُ لِمَن يَشَآءُ

(49) خاص الله لره د اسمانونو او ځمکې بادشاهي ده، څه چې وغواړي هغه پيدا کوي

إِنَٰثٗا وَيَهَبُ لِمَن يَشَآءُ ٱلذُّكُورَ ﴿٤٩﴾

چا ته چې وغواړي جينکۍ ورکوي او چا ته چې وغواړي هلکان ورکوي

أَوۡ يُزَوِّجُهُمۡ ذُكۡرَانٗا وَإِنَٰثٗاۖ وَيَجۡعَلُ مَن يَشَآءُ عَقِيمًاۚ إِنَّهُۥ عَلِيمٞ قَدِيرٞ ﴿٥٠﴾

(50) يا دوى ته هلكان او جينكۍ جمع كوي (دواړه وركوي) او چا ته چې وغواړي شنډ (او شنډه يې وګرځوي، بېشكه هغه، ښه عالم، ښه قادر دى

۞ وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُكَلِّمَهُ ٱللَّهُ إِلَّا وَحۡيًا أَوۡ مِن وَرَآيِٕ حِجَابٍ أَوۡ يُرۡسِلَ رَسُولٗا فَيُوحِيَ بِإِذۡنِهِۦ مَا يَشَآءُۚ إِنَّهُۥ عَلِيٌّ حَكِيمٞ ﴿٥١﴾

(51) او د هيڅ انسان لپاره ممكن نه و چې الله ورسره خبرې وكړي مګر په وحي سره، يا له پردې نه شا ته، يا استاځى راولېږي، پس دغه د ده په حكم سره ورسوي هغه چې هغه (الله) يې غواړي، بېشكه دى، ډېر اوچت، ښه حكمت والا دى

وَكَذَٰلِكَ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ رُوحٗا مِّنۡ أَمۡرِنَاۚ مَا كُنتَ تَدۡرِي مَا ٱلۡكِتَٰبُ وَلَا ٱلۡإِيمَٰنُ وَلَٰكِن جَعَلۡنَٰهُ نُورٗا نَّهۡدِي بِهِۦ مَن نَّشَآءُ مِنۡ عِبَادِنَاۚ وَإِنَّكَ لَتَهۡدِيٓ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٥٢﴾

(52) او همداسې مونږ په خپل امر سره تا ته د روح (قرآن) وحي راولېږله، ته نه پوهېدلې چې كتاب څه شى دى او نه (پوهېدې چې) ايمان (څه شى دى) او لېكن مونږ دغه (كتاب) رڼا ګرځولې دى چې په ده سره مونږ په خپلو بنده ګانو كې چې چا ته وغواړو هدايت وركوو او بېشكه يقينًا ته نېغې لارې ته ښوونه كوې

صِرَٰطِ ٱللَّهِ ٱلَّذِي لَهُۥ مَا فِي

(53) د هغه الله لارې ته چې خاص هغه لره

ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ أَلَآ إِلَى ٱللَّهِ تَصِيرُ ٱلۡأُمُورُ ﴿٥٣﴾

دي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي. اګاه شئ! خاص الله ته ټول کارونه بېرته ګرځي

## سُورَةُ الزُّخْرُفِ

## سورة زُخرف

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

حمٓ ﴿١﴾

(1) حا، ميم

وَٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ﴿٢﴾

(2) قسم دی، په دغه روښانه كتاب

إِنَّا جَعَلۡنَٰهُ قُرۡءَٰنًا عَرَبِيّٗا لَّعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ﴿٣﴾

(3) بېشکه مونږ دا عربي قرآن ګرځولی دی، د دي لپاره چې تاسو له عقل نه کار واخلئ

وَإِنَّهُۥ فِيٓ أُمِّ ٱلۡكِتَٰبِ لَدَيۡنَا لَعَلِيٌّ حَكِيمٌ ﴿٤﴾

(4) او بېشکه دا په ام الکتب (لوح محفوظ) کې زمونږ په نزد خامخا ډېر اوچت، ډېر حکمت والا دی

أَفَنَضۡرِبُ عَنكُمُ ٱلذِّكۡرَ صَفۡحًا أَن كُنتُمۡ قَوۡمٗا مُّسۡرِفِينَ ﴿٥﴾

(5) ايا نو مونږ له تاسو نه دا ذکر (قرآن) واړوو (بند کړو) بېخي اړول (بندول)، په دي سبب چې تاسو له حده تېرېدونکی قوم یئ

وَكَمۡ أَرۡسَلۡنَا مِن نَّبِيّٖ فِي

(6) او مونږ په ړومبنو خلقو کې څومره ډېر

ٱلۡأَوَّلِينَ ٦

نبيان لېږلي دي

وَمَا يَأۡتِيهِم مِّن نَّبِيٍّ إِلَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ٧

(7) او دوی ته به هېڅ يو نبي نه راته مگر دوی به په هغه پورې مسخرې کولې

فَأَهۡلَكۡنَآ أَشَدَّ مِنۡهُم بَطۡشٗا وَمَضَىٰ مَثَلُ ٱلۡأَوَّلِينَ ٨

(8) نو مونږ هغه هلاك كړل چې له دوی نه په نيولو (او قوت) كې ډېر زيات سخت وو او د ړومبنيو خلقو مثال (او حال) تېر شوی دی

وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ لَيَقُولُنَّ خَلَقَهُنَّ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡعَلِيمُ ٩

(9) او قسم دی كه ته له دوی نه تپوس وكړې چې اسمانونه او ځمكه چا پيدا كړي دي (، نو) دوی به خامخا لازمًا ووايي چې دغه ډېر غالب، ډېر پوه ذات پيدا كړي دي

ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ مَهۡدٗا وَجَعَلَ لَكُمۡ فِيهَا سُبُلٗا لَّعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ ١٠

(10) هغه چې تاسو لپاره يې ځمكه فرش گرځولې ده او تاسو لپاره يې په دې كې لارې پيدا كړې دي، د دې لپاره چې نبغه لار ومومئ

وَٱلَّذِي نَزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءَۢ بِقَدَرٖ فَأَنشَرۡنَا بِهِۦ بَلۡدَةٗ مَّيۡتٗاۚ كَذَٰلِكَ تُخۡرَجُونَ ١١

(11) او هغه ذات چې له بره نه يې اوبه په اندازې سره نازلې كړې دي، پس په دغو سره مونږ مړ ښار راژوندی كړی دی، همداسې به تاسو راوېستلی شئ

وَٱلَّذِي خَلَقَ ٱلۡأَزۡوَٰجَ كُلَّهَا وَجَعَلَ

(12) او هغه ذات چې ټول قسمونه (انواع) يې

لَكُم مِّنَ ٱلْفُلْكِ وَٱلْأَنْعَٰمِ مَا تَرْكَبُونَ ١٢

پیدا کړي دي او تاسو لپاره يې له بېړيو او څارويو نه هغه پیدا کړي دي چې تاسو پرې سورېږئ

لِتَسْتَوُۥا۟ عَلَىٰ ظُهُورِهِۦ ثُمَّ تَذْكُرُوا۟ نِعْمَةَ رَبِّكُمْ إِذَا ٱسْتَوَيْتُمْ عَلَيْهِ وَتَقُولُوا۟ سُبْحَٰنَ ٱلَّذِى سَخَّرَ لَنَا هَٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُۥ مُقْرِنِينَ ١٣

(13) د دې لپاره چې تاسو د هغو په شاګانو نېه برابر کېنئ، بيا د خپل رب نعمت راياد کړئ، کله چې تاسو په دغه برابر کېنئ او ووايئ: پاکي ده هغه ذات لره چې زمونږ لپاره يې دا مسخر (او تابع) کړى دى او مونږ ده لره په قابو کې راوستونکي نه يو

وَإِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ ١٤

(14) او بېشکه مونږ خاص خپل رب ته خامخا بېرته ورتلونکي يو

وَجَعَلُوا۟ لَهُۥ مِنْ عِبَادِهِۦ جُزْءًا ۚ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَكَفُورٌ مُّبِينٌ ١٥

(15) او دوى د ده په بنده ګانو کې ځينو لره د ده برخه (او اولاد) وګرځول، بېشکه انسان خامخا ډېر ښکاره ناشکره دى

أَمِ ٱتَّخَذَ مِمَّا يَخْلُقُ بَنَاتٍ وَأَصْفَىٰكُم بِٱلْبَنِينَ ١٦

(16) ايا (تاسو دا وايئ چې) هغه (الله) له هغه چا نه، چې دى يې پیدا کوي، د ځان لپاره لونړه نيولي دي او تاسو يې په زامنو سره غوره کړي يئ

وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِمَا ضَرَبَ لِلرَّحْمَٰنِ مَثَلًا ظَلَّ وَجْهُهُۥ مُسْوَدًّا

(17) حال دا چې کله دوى ته په هغه (لور) سره زېرى ورکړى شي چې دى يې د رحمٰن

وَهُوَ كَظِيمٌ ﴿١٧﴾

لپاره مثال بیانوي (نو) د ده مخ تك تور شي، په دې حال کې چې دی له غمه ډك وي

أَوَمَن يُنَشَّؤُاْ فِي ٱلۡحِلۡيَةِ وَهُوَ فِي ٱلۡخِصَامِ غَيۡرُ مُبِينٖ ﴿١٨﴾

(18) او ایا (دوی د الله لپاره مقرروي) هغه چې په کالیو (زیوراتو) کې لویه ولی شي، حال دا چې په جګړه کې خبره واضحه کوونکې نه وي

وَجَعَلُواْ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ ٱلَّذِينَ هُمۡ عِبَٰدُ ٱلرَّحۡمَٰنِ إِنَٰثًاۚ أَشَهِدُواْ خَلۡقَهُمۡۚ سَتُكۡتَبُ شَهَٰدَتُهُمۡ وَيُسۡـَٔلُونَ ﴿١٩﴾

(19) او دوی (مشرکان) ملایکو لره هغه چې دوی د رحمٰن بنده ګان دي، ښځې ګرځوي، ایا دوی د دغو پیدا کولو ته حاضر وو؟ یقینًا به د دوی ګواهي ولیکل شي او له دوی نه تپوس (هم) کېږي

وَقَالُواْ لَوۡ شَآءَ ٱلرَّحۡمَٰنُ مَا عَبَدۡنَٰهُمۗ مَّا لَهُم بِذَٰلِكَ مِنۡ عِلۡمٍۖ إِنۡ هُمۡ إِلَّا يَخۡرُصُونَ ﴿٢٠﴾

(20) او دوی وايي: كه رحمٰن غوښتلي وی، (نو) مونږ به د دغو (باطلو معبودانو) عبادت نه وی كړی، دوی ته د دې (خبرې) هېڅ علم نشته، دوی یوازې اټكلونه چلوي

أَمۡ ءَاتَيۡنَٰهُمۡ كِتَٰبٗا مِّن قَبۡلِهِۦ فَهُم بِهِۦ مُسۡتَمۡسِكُونَ ﴿٢١﴾

(21) ایا دوی ته مونږ له دغه (قرآن) نه مخکې کوم کتاب ورکړی دی، پس دوی په هغه منګلولي ښخونکي دي

بَلۡ قَالُوٓاْ إِنَّا وَجَدۡنَآ ءَابَآءَنَا عَلَىٰٓ أُمَّةٖ وَإِنَّا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم

(22) بلكې دوی وايي: بېشكه مونږ خپل پلرونه په یوې لارې (طریقې) باندې موندلي

مُّهۡتَدُونَ ٢٢

دي، او ببشکه مونږ هم د دوی په قدمونو لاره موندونکي یو

وَكَذَٰلِكَ مَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ فِي قَرۡيَةٖ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتۡرَفُوهَآ إِنَّا وَجَدۡنَآ ءَابَآءَنَا عَلَىٰٓ أُمَّةٖ وَإِنَّا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم مُّقۡتَدُونَ ٢٣

(23) او همداسې مونږ له تا نه مخکې په کوم کلي کې هېڅ یو وېرووونکی نه دی لېږلی مګر د هغه کلي متکبره مالدارو به وویل: بېشکه مونږ خپل پلرونه په یوه لاره (طریقه) موندلي دي او بېشکه مونږ هم د دوی په قدمونو اقتدا کوونکي یو

۞قَٰلَ أَوَلَوۡ جِئۡتُكُم بِأَهۡدَىٰ مِمَّا وَجَدتُّمۡ عَلَيۡهِ ءَابَآءَكُمۡۖ قَالُوٓاْ إِنَّا بِمَآ أُرۡسِلۡتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ٢٤

(24) (دوی ته به د دوی نبي) وویل: او ایا اګر که ما تاسو ته له هغې (لارې) نه زیاته سمه لاره راوړې وي چې تاسو په هغې باندې خپل پلرونه موندلي دي؟ دوی به ویل: بېشکه مونږ په هغه (دین) کفر کوونکي یو چې تاسو په هغه سره رالېږل شوي یئ

فَٱنتَقَمۡنَا مِنۡهُمۡۖ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ٢٥

(25) نو مونږ له دوی نه انتقام واخیست، نو ته وګوره د تکذیب کوونکو انجام څنګه و

وَإِذۡ قَالَ إِبۡرَٰهِيمُ لِأَبِيهِ وَقَوۡمِهِۦٓ إِنَّنِي بَرَآءٞ مِّمَّا تَعۡبُدُونَ ٢٦

(26) او (یاد کړه) هغه وخت چې ابراهیم خپل پلار او خپل قوم ته وویل: بېشکه زه له هغو (معبودانو) نه بېزاره یم چې تاسو یې عبادت کوئ

إِلَّا ٱلَّذِي فَطَرَنِي فَإِنَّهُۥ
سَيَهۡدِينِ ٢٧

(27) غير له هغه ذات نه چې زه يې پيدا کړی يم، پس يقينًا هغه به ما ته خامخا هدايت وکړي

وَجَعَلَهَا كَلِمَةَۢ بَاقِيَةٗ فِي عَقِبِهِۦ
لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ٢٨

(28) او هغه (ابراهيم) دغه ( د توحيد کلمه) په خپل اولاد کې باقي پاتې کېدونکې وگرځوله، د دې لپاره چې راوگرځي

بَلۡ مَتَّعۡتُ هَٰٓؤُلَآءِ وَءَابَآءَهُمۡ
حَتَّىٰ جَآءَهُمُ ٱلۡحَقُّ وَرَسُولٞ
مُّبِينٞ ٢٩

(29) بلکې ما دوی او د دوی پلرونو ته نفع ورکړه تر هغه پورې چې دوی ته حق (قرآن) او ښکاره بيانوونکی رسول راغی

وَلَمَّا جَآءَهُمُ ٱلۡحَقُّ قَالُواْ هَٰذَا
سِحۡرٞ وَإِنَّا بِهِۦ كَٰفِرُونَ ٣٠

(30) او کله چې دوی ته حق راغی دوی وويل: دا جادو دی، او بېشکه مونږ له دې نه انکار کوونکي يو

وَقَالُواْ لَوۡلَا نُزِّلَ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانُ
عَلَىٰ رَجُلٖ مِّنَ ٱلۡقَرۡيَتَيۡنِ
عَظِيمٍ ٣١

(31) او دوی وويل: دا قرآن په دوه کليو (ښارونو) کې په يو غټ سړي ولې نه نازلاوه شي؟

أَهُمۡ يَقۡسِمُونَ رَحۡمَتَ رَبِّكَۚ نَحۡنُ
قَسَمۡنَا بَيۡنَهُم مَّعِيشَتَهُمۡ فِي
ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۚ وَرَفَعۡنَا بَعۡضَهُمۡ
فَوۡقَ بَعۡضٖ دَرَجَٰتٖ لِّيَتَّخِذَ

(32) ايا دوی ستا د رب رحمت تقسيموي؟ مونږ د دوی په مينځ کې په دنيايي ژوند کې د دوی معشيت تقسيم کړی دی او په درجو کې مو د دوی ځينې د ځينو نورو له پاسه

بَعۡضُهُم بَعۡضٗا سُخۡرِيّٗاۗ وَرَحۡمَتُ رَبِّكَ خَيۡرٞ مِّمَّا يَجۡمَعُونَ ٣٢

پورته کړي دي، د دې لپاره چې د دوی ځینې ځینې نور (تابع او) کار کوونکي ونیسي او ستا د رب رحمت له هغه نه ډېر غوره دی چې دوی يې جمع کوي

وَلَوۡلَآ أَن يَكُونَ ٱلنَّاسُ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ لَّجَعَلۡنَا لِمَن يَكۡفُرُ بِٱلرَّحۡمَٰنِ لِبُيُوتِهِمۡ سُقُفٗا مِّن فِضَّةٖ وَمَعَارِجَ عَلَيۡهَا يَظۡهَرُونَ ٣٣

(33) او که دا (خطره) نه وی چې خلق به ټول یوه ډله (کافران شي) نو مونږ به خامخا د هغه چا لپاره چې په رحمٰن کافران کېږي، د دوی کورونو ته به مو د سپینو زرو چتونه او داسې پوړۍ ګرځولې وی چې دوی به په هغو پاس ختلی

وَلِبُيُوتِهِمۡ أَبۡوَٰبٗا وَسُرُرًا عَلَيۡهَا يَتَّكِـُٔونَ ٣٤

(34) او د دوی د کوټو لپاره به مو (د سپینو زرو) دروازې او تختونه جوړ کړي وی چې دوی به په هغو تکیه وهلې

وَزُخۡرُفٗاۚ وَإِن كُلُّ ذَٰلِكَ لَمَّا مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۚ وَٱلۡأٓخِرَةُ عِندَ رَبِّكَ لِلۡمُتَّقِينَ ٣٥

(35) او له سرو زرو نه (دغه او نور زینتونه به مو ورکړي وی) او نه دي دغه (ټول ځيزونه) مګر د دنيايي ژوند سامان دی او اخرت ستا د رب په نيز د متقيانو (پرهيزګارانو) لپاره دی

وَمَن يَعۡشُ عَن ذِكۡرِ ٱلرَّحۡمَٰنِ نُقَيِّضۡ لَهُۥ شَيۡطَٰنٗا فَهُوَ لَهُۥ قَرِينٞ ٣٦

(36) او هر هغه څوك چې د رحمٰن له ذکر نه ځان ړوند کړي (،نو) مونږ به په ده باندې یو شیطان مسلط کړو، نو هغه به له ده سره تل

ملګرى وي

وَإِنَّهُمۡ لَيَصُدُّونَهُمۡ عَنِ ٱلسَّبِيلِ وَيَحۡسَبُونَ أَنَّهُم مُّهۡتَدُونَ ٣٧

(37) او بېشكه دغه (شيطانان) يقينًا دوى (خپل ملګري) له حقې لارې نه منع كوي او دوى ګمان كوي چې بېشكه دوى هدايت موندونكي دي

حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَنَا قَالَ يَٰلَيۡتَ بَيۡنِي وَبَيۡنَكَ بُعۡدَ ٱلۡمَشۡرِقَيۡنِ فَبِئۡسَ ٱلۡقَرِينُ ٣٨

(38) تر هغه پورې چې كله دا مونږ ته راشي ( نو) وايي به: اى كاشكې! زما په مينځ كې او ستا په مينځ كې د مشرق او مغرب هومره لرې والى وى، پس (دا) بد ملګرى دى

وَلَن يَنفَعَكُمُ ٱلۡيَوۡمَ إِذ ظَّلَمۡتُمۡ أَنَّكُمۡ فِي ٱلۡعَذَابِ مُشۡتَرِكُونَ ٣٩

(39) او كله چې تاسو ظلم كړى دى (نو) تاسو ته به نن ورځ دا خبره له سره نفع درنكړي چې بېشكه تاسو (او شيطانان ټول) په عذاب كې سره شريك يئ

أَفَأَنتَ تُسۡمِعُ ٱلصُّمَّ أَوۡ تَهۡدِي ٱلۡعُمۡيَ وَمَن كَانَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ٤٠

(40) ايا نو ته به كڼو ته اورول وكړې، يا به ړندو ته لار ښوونه وكړې او هغه چا ته چې په ښكاره ګمراهۍ كې دى؟

فَإِمَّا نَذۡهَبَنَّ بِكَ فَإِنَّا مِنۡهُم مُّنتَقِمُونَ ٤١

(41) نو كه تا مونږ لازمًا بوځو، نو بېشكه مونږ له دوى نه انتقام اخيستونكي يو

أَوۡ نُرِيَنَّكَ ٱلَّذِي وَعَدۡنَٰهُمۡ فَإِنَّا

(42) ايا مونږ تا ته خامخا هغه وښيو چې مونږ

| | |
|---|---|
| عَلَيۡهِم مُّقۡتَدِرُونَ ﴿٤٢﴾ | يې له دوی سره وعده کړې ده، نو بېشکه مونږ په دوی پوره قدرت لرونکي يو |
| فَٱسۡتَمۡسِكۡ بِٱلَّذِيٓ أُوحِيَ إِلَيۡكَۖ إِنَّكَ عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٤٣﴾ | (43) نو ته په هغه (قرآن) منګلې ولګوه چې تا ته وحي کړی شوی دی، بېشکه ته په نېغه لار يې |
| وَإِنَّهُۥ لَذِكۡرٞ لَّكَ وَلِقَوۡمِكَۖ وَسَوۡفَ تُسۡـَٔلُونَ ﴿٤٤﴾ | (44) او بېشکه دا (قرآن) تا لپاره او ستا د قوم لپاره ذکر (او نصيحت) دی او ژر ده چې له تاسو نه به پوښتنه وکړی شي |
| وَسۡـَٔلۡ مَنۡ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رُّسُلِنَآ أَجَعَلۡنَا مِن دُونِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ءَالِهَةٗ يُعۡبَدُونَ ﴿٤٥﴾ | (45) او ته زمونږ له هغو رسولانو نه تپوس وکړه چې مونږ له تا نه مخکې لېږلي دي، ايا مونږه له رحمن نه غير نور معبودان مقرر کړي دي چې د دوی عبادت کولی شي |
| وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِۦ فَقَالَ إِنِّي رَسُولُ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٤٦﴾ | (46) او يقينًا يقينًا مونږ موسى زمونږ له نښو سره فرعون او د هغه سردارانو ته لېږلی و، پس ده ووېل: بېشکه زه د رب العلمين رسول يم |
| فَلَمَّا جَآءَهُم بِـَٔايَٰتِنَآ إِذَا هُم مِّنۡهَا يَضۡحَكُونَ ﴿٤٧﴾ | (47) نو کله چې هغه دوی ته زمونږ په واضحو نښو سره راغی، ناڅاپه دوی په هغو (نښو) پورې خندل |
| وَمَا نُرِيهِم مِّنۡ ءَايَةٍ إِلَّا هِيَ | (48) او مونږ به دوی ته هېڅ يوه نښه نه |

أَكۡبَرُ مِنۡ أُخۡتِهَاۖ وَأَخَذۡنَٰهُم بِٱلۡعَذَابِ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ﴿٤٨﴾

بنووله مگر چې هغه به د هغې له خور (مثل) نه ډېره لويه وه او مونږ دوی په عذاب سره راونيول، د دې لپاره چې دوی رجوع وکړي

وَقَالُواْ يَٰٓأَيُّهَ ٱلسَّاحِرُ ٱدۡعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِندَكَ إِنَّنَا لَمُهۡتَدُونَ ﴿٤٩﴾

(49) او دوی (فرعونيانو) وويل: ای جادوگره! (عالمه!) ته زمونږ لپاره له خپل رب نه دعا وغواړه، د هغې وعدې په سبب چې تا سره يې کړې ده، بېشکه مونږ خامخا هدايت موندونکي يو

فَلَمَّا كَشَفۡنَا عَنۡهُمُ ٱلۡعَذَابَ إِذَا هُمۡ يَنكُثُونَ ﴿٥٠﴾

(50) نو کله چې به مونږ له دوی نه عذاب لرې کړ، په هماغه وخت کې به دوی (وعده) ماتوله

وَنَادَىٰ فِرۡعَوۡنُ فِي قَوۡمِهِۦ قَالَ يَٰقَوۡمِ أَلَيۡسَ لِي مُلۡكُ مِصۡرَ وَهَٰذِهِ ٱلۡأَنۡهَٰرُ تَجۡرِي مِن تَحۡتِيٓۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ ﴿٥١﴾

(51) او فرعون په خپل قوم کې اواز وکړ، ويې ويل:ای زما قومه! ايا د مصر باچايي زما نه ده؟ او دغه ولې چې زما له لاندې بهېږي؟ ايا نو تاسو نه وينئ

أَمۡ أَنَا۠ خَيۡرٞ مِّنۡ هَٰذَا ٱلَّذِي هُوَ مَهِينٞ وَلَا يَكَادُ يُبِينُ ﴿٥٢﴾

(52) بلکې زه ډېر غوره يم له دغه (موسٰی) نه چې هغه سپك دی او نژدې نه دی چې خبره واضحه وکړي

فَلَوۡلَآ أُلۡقِيَ عَلَيۡهِ أَسۡوِرَةٞ مِّن

(53) پس په ده باندې د سرو زرو بنګړي (وښي) ولې نه غورځول کېږي، يا له ده سره

ذَهَبٍ أَوۡ جَآءَ مَعَهُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ مُقۡتَرِنِينَ ۝٥٣

ملايك صف تړلي (پيوسته) ولې نه راغلي

فَٱسۡتَخَفَّ قَوۡمَهُۥ فَأَطَاعُوهُۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَوۡمٗا فَٰسِقِينَ ۝٥٤

(54) نو خپل قوم يې بې وقوفه وګرځاوه، نو دوی د ده خبره ومنله، بېشکه دوی فاسقان خلق وو

فَلَمَّآ ءَاسَفُونَا ٱنتَقَمۡنَا مِنۡهُمۡ فَأَغۡرَقۡنَٰهُمۡ أَجۡمَعِينَ ۝٥٥

(55) نو کله چې دوی مونږ خفه کړو (،نو) مونږ له دوی نه انتقام واخیست، پس مونږه دوی ټول غرق کړل

فَجَعَلۡنَٰهُمۡ سَلَفٗا وَمَثَلٗا لِّلۡأٓخِرِينَ ۝٥٦

(56) نومونږ دوی پيشوايان او مثال وګرځول د وروستنيو خلقو لپاره

۞وَلَمَّا ضُرِبَ ٱبۡنُ مَرۡيَمَ مَثَلًا إِذَا قَوۡمُكَ مِنۡهُ يَصِدُّونَ ۝٥٧

(57) او کله چې د مريمې زوی د مثال په طور بيان کړی شو، (نو) ناڅاپه ستا قوم د دغه (مثال) پورې (له خوشالۍ نه) چغې وهلې

وَقَالُوٓاْ ءَأَٰلِهَتُنَا خَيۡرٌ أَمۡ هُوَۚ مَا ضَرَبُوهُ لَكَ إِلَّا جَدَلَۢاۚ بَلۡ هُمۡ قَوۡمٌ خَصِمُونَ ۝٥٨

(58) او ويې ويل:ايا زمونږ معبودان غوره دي، يا که هغه؟ دوی تا ته دا (مثال) بيان نه کړ مګر د جګړې لپاره بلکې دوی ډېر جګړه کوونکی قوم دی

إِنۡ هُوَ إِلَّا عَبۡدٌ أَنۡعَمۡنَا عَلَيۡهِ

(59) دغه نه دی مګر يو بنده دی چې مونږ په ده انعام کړی دی او د بني اسرائيلو لپاره مو

| | |
|---|---|
| وَجَعَلۡنَٰهُ مَثَلٗا لِّبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ﴿٥٩﴾ | هغه (د قدرت) یو مثال ګرځولی و |
| وَلَوۡ نَشَآءُ لَجَعَلۡنَا مِنكُم مَّلَٰٓئِكَةٗ فِي ٱلۡأَرۡضِ يَخۡلُفُونَ ﴿٦٠﴾ | (60) او که مونږ غوښتلي وی (نو) مونږ به ستاسو په ځای په ځمکه کې ملایك پیدا کړي وی، چې خلیفګان شوي به وی |
| وَإِنَّهُۥ لَعِلۡمٞ لِّلسَّاعَةِ فَلَا تَمۡتَرُنَّ بِهَا وَٱتَّبِعُونِۚ هَٰذَا صِرَٰطٞ مُّسۡتَقِيمٞ ﴿٦١﴾ | (61) او ببشکه دغه (عیسٰی) د قیامت لپاره یقینًا یوه لویه نښه ده، نو تاسو د دغه (قیامت) په باره کې له سره شك مه کوئ، دا نېغه لار ده |
| وَلَا يَصُدَّنَّكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُۖ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٞ ﴿٦٢﴾ | (62) او شیطان دې تا (له دې نېغې لارې نه) له سره وا نه ړوي، ببشکه هغه تاسو لپاره ښکاره دښمن دی |
| وَلَمَّا جَآءَ عِيسَىٰ بِٱلۡبَيِّنَٰتِ قَالَ قَدۡ جِئۡتُكُم بِٱلۡحِكۡمَةِ وَلِأُبَيِّنَ لَكُم بَعۡضَ ٱلَّذِي تَخۡتَلِفُونَ فِيهِۖ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿٦٣﴾ | (63) او کله چې عیسٰی له ښکاره دلیلونو سره راغی، ویې ویل:(ای بني اسرائیلو!) یقینًا ما تاسو ته حکم راوړی دی او د دې لپاره (راغلی یم) چې تاسو ته ځینې هغه (احکام) بیان کړم چې تاسو په هغو کې اختلاف کوئ، نو تاسو له الله نه ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ |
| إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ رَبِّي وَرَبُّكُمۡ فَٱعۡبُدُوهُۚ هَٰذَا صِرَٰطٞ | (64) ببشکه هم دا الله زما رب دی او ستاسو رب دی، لهٰذا تاسو د ده عبادت کوئ، دغه نېغه لاره ده |

مُّسۡتَقِيمٞ ٦٤

فَٱخۡتَلَفَ ٱلۡأَحۡزَابُ مِنۢ بَيۡنِهِمۡۖ فَوَيۡلٞ لِّلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنۡ عَذَابِ يَوۡمٍ أَلِيمٍ ٦٥

(65) نو (د نصرانيانو) دغه ډلې په خپل منيځ کې سره مختلفې شوې، نو د هغو کسانو لپاره چې ظلم يې کړی دی، د ډېرې دردوونکې ورځې له عذاب نه هلاکت دی

هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّا ٱلسَّاعَةَ أَن تَأۡتِيَهُم بَغۡتَةٗ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ٦٦

(66) دوی انتظار نه کوي مگر د قيامت چې په دوی به ناڅاپه راشي، او دوی به نه پوهېږي

ٱلۡأَخِلَّآءُ يَوۡمَئِذِۢ بَعۡضُهُمۡ لِبَعۡضٍ عَدُوٌّ إِلَّا ٱلۡمُتَّقِينَ ٦٧

(67) په دغې ورځ کې به خواږه ياران، د دوی ځينې به د ځينو نورو دښمنان وي، غير له متقيانو نه

يَٰعِبَادِ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡكُمُ ٱلۡيَوۡمَ وَلَآ أَنتُمۡ تَحۡزَنُونَ ٦٨

(68) ای زما بنده ګانو! نن ورځ په تاسو وېره نشته او نه به تاسو غمژن کېږئ

ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَكَانُواْ مُسۡلِمِينَ ٦٩

(69) هغه کسان چې زمونږ په ايتونو يې ايمان راوړی دی او دوی مسلمانان وو

ٱدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ أَنتُمۡ وَأَزۡوَٰجُكُمۡ تُحۡبَرُونَ ٧٠

(70) (دوی ته به ويلی شي:) تاسو جنت ته ننوځئ، تاسو او ستاسو ښځې، تاسو به خوشالولی شئ

| | |
|---|---|
| يُطَافُ عَلَيۡهِم بِصِحَافٖ مِّن ذَهَبٖ وَأَكۡوَابٖۖ وَفِيهَا مَا تَشۡتَهِيهِ ٱلۡأَنفُسُ وَتَلَذُّ ٱلۡأَعۡيُنُۖ وَأَنتُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٧١ | (71) په دوی به كاسي د سرو زرو او ګلاسونه ګرځول كېږي او په دغو (جنتونو) كې به هغه څه وي چې نفسونه (زړونه) د هغو خواهش كوي او سترګې (پرې) خوند اخلي او تاسو به په دغو كې تل ترتله يئ |
| وَتِلۡكَ ٱلۡجَنَّةُ ٱلَّتِيٓ أُورِثۡتُمُوهَا بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٧٢ | (72) او دغه هغه جنتونه دي چې تاسو ته د هغو عملونو په سبب په ميراث كې دركړى شول چې تاسو به كول |
| لَكُمۡ فِيهَا فَٰكِهَةٞ كَثِيرَةٞ مِّنۡهَا تَأۡكُلُونَ ٧٣ | (73) تاسو لپاره په دغو كې ډېرې مېوې دي چې تاسو به له هغو څنې خوراك كوئ |
| إِنَّ ٱلۡمُجۡرِمِينَ فِي عَذَابِ جَهَنَّمَ خَٰلِدُونَ ٧٤ | (74) بېشكه مجرمان به د جهنم په عذاب كې تل پاتې كېدونكي وي |
| لَا يُفَتَّرُ عَنۡهُمۡ وَهُمۡ فِيهِ مُبۡلِسُونَ ٧٥ | (75) چې دغه (عذاب) به له دوى څخه نه كمولى شي او دوى به په دغه (عذاب) كې نا اميده اوسي |
| وَمَا ظَلَمۡنَٰهُمۡ وَلَٰكِن كَانُواْ هُمُ ٱلظَّٰلِمِينَ ٧٦ | (76) او مونږ په دوى ظلم نه دى كړى او لېكن هم دوى پخپله ظالمان وو |
| وَنَادَوۡاْ يَٰمَٰلِكُ لِيَقۡضِ عَلَيۡنَا | (77) او دغه (دوزخيان) به اواز وكړي: اى |

رَبُّكَۖ قَالَ إِنَّكُم مَّٰكِثُونَ ٧٧

مالکه! ستا رب دې مونږ مړه کړي، هغه (مالك) به ووايي: بېشکه تاسو (تل) ژوندي پاتې کېدونکي يئ

لَقَدۡ جِئۡنَٰكُم بِٱلۡحَقِّ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَكُمۡ لِلۡحَقِّ كَٰرِهُونَ ٧٨

(78) يقينًا يقينًا مونږ تاسو ته حق راوړی و او لېکن ستاسو زياتره حق لره بدګڼونکي دي

أَمۡ أَبۡرَمُوٓاْ أَمۡرٗا فَإِنَّا مُبۡرِمُونَ ٧٩

(79) ايا بلکې دوی د يو کار پخه اراده کړې ده، نو بېشکه مونږ (هم) خپل (تدبير) محکم کوونکي يو

أَمۡ يَحۡسَبُونَ أَنَّا لَا نَسۡمَعُ سِرَّهُمۡ وَنَجۡوَىٰهُمۚ بَلَىٰ وَرُسُلُنَا لَدَيۡهِمۡ يَكۡتُبُونَ ٨٠

(80) ايا دوی دا ګمان کوي چې بېشکه مونږ د دوی پټې خبرې او پټې مشورې نه اورو، ولې نه! او زمونږ رسولان ليکل کوي د دوی ترڅنګه

قُلۡ إِن كَانَ لِلرَّحۡمَٰنِ وَلَدٞ فَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلۡعَٰبِدِينَ ٨١

(81) ته (دوی ته) ووايه: که چېرې د رحمٰن لپاره اولاد وی، نو زه به (د هغه) ترټولو اول عبادت کوونکی وم

سُبۡحَٰنَ رَبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ رَبِّ ٱلۡعَرۡشِ عَمَّا يَصِفُونَ ٨٢

(82) پاکي ده د اسمانونو او ځمکې رب لره، د عرش رب لره له هغه څه نه چې دوی يې (د هغه په باره کې) بيانوي

فَذَرۡهُمۡ يَخُوضُواْ وَيَلۡعَبُواْ حَتَّىٰ

(83) نو ته دوی پرېږده چې (په باطلو خبرو

| | |
|---|---|
| يُلَٰقُواْ يَوۡمَهُمُ ٱلَّذِي يُوعَدُونَ ﴿٨٣﴾ | کې) غوټې وهي او لوبې کوي تر هغه پورې چې دوی د خپلې هغې ورځې سره ملاقات وکړي چې دوی ته به یې وعده ورکولی شوه |
| وَهُوَ ٱلَّذِي فِي ٱلسَّمَآءِ إِلَٰهٞ وَفِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَٰهٞۚ وَهُوَ ٱلۡحَكِيمُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٨٤﴾ | (84) او هم دی هغه دی ذات چې په اسمان کې معبود دی او په ځمکه کې (هم) معبود دی، او هم دی ډېر حکمت والا، ښه پوه دی |
| وَتَبَارَكَ ٱلَّذِي لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا وَعِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلسَّاعَةِ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ﴿٨٥﴾ | (85) او ډېر برکت ناك دی هغه ذات چې خاص د هغه لپاره د اسمانونو او ځمکې باچایي ده او د هغه څه چې د دغو دواړو په مینځ کې دي او خاص له هغه سره د قیامت د علم دی او خاص هغه ته به تاسو بېرته بېولی شئ |
| وَلَا يَمۡلِكُ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ مِن دُونِهِ ٱلشَّفَٰعَةَ إِلَّا مَن شَهِدَ بِٱلۡحَقِّ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ﴿٨٦﴾ | (86) او هغه معبودان چې دوی یې له دغه (الله) نه غیر بلي؛ د شفاعت هېڅ اختیار نه لري، مګر هغه څوك چې د حق ګواهي یې ورکړې وي، په دې حال کې چې دوی پوهېږي |
| وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَهُمۡ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ﴿٨٧﴾ | (87) او قسم دی که ته له دوی نه تپوس وکړې چې دوی چا پیدا کړي دي (نو) دوی به خامخا ضرور ووایي: الله (پیدا کړي دي) نو |

کوم طرف ته دوی ګرځول کېږي؟

وَقِيلِهِۦ يَٰرَبِّ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ قَوۡمٞ لَّا يُؤۡمِنُونَ ٨٨

(88) او قسم دی د دغه (رسول) په دې وینا چې ای زما ربه! بېشکه زما دا قوم ایمان نه راوړي

فَٱصۡفَحۡ عَنۡهُمۡ وَقُلۡ سَلَٰمٞۚ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ ٨٩

(89) نو ته له دوی نه مخ وګرځوه او ووایه: سلام، پس ژر به دوی پوه شي

## سُورَةُ الدُّخَانِ

## سورة دُخان

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

حمٓ ١

(1) حا، میم

وَٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ٢

(2) قسم دی په بیانوونکي کتاب

إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ فِي لَيۡلَةٖ مُّبَٰرَكَةٍۚ إِنَّا كُنَّا مُنذِرِينَ ٣

(3) بېشکه مونږ دا (قرآن) په مبارکه شپه کې نازل کړی دی، بېشکه مونږ وېروونکي وو

فِيهَا يُفۡرَقُ كُلُّ أَمۡرٍ حَكِيمٍ ٤

(4) په دغې (شپه) کې هر له حکمته ډك کار بیانولی (او بېلولی) شي

أَمۡرٗا مِّنۡ عِندِنَآۚ إِنَّا كُنَّا

(5) زمونږ له جانبه د حکم ورکولو په وجه

مُرۡسِلِينَ ٥

(حکم ورکول دي زمونږ له جانبه) بېشکه مونږ ( د رسولانو) لېږونکي وو

رَحۡمَةٗ مِّن رَّبِّكَۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ٦

(6) ستا د رب د رحمت لپاره، بېشکه هم دی ښه اوریدونکی، ښه پوه دی

رَبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَآۖ إِن كُنتُم مُّوقِنِينَ ٧

(7) چې د اسمانونو او ځمکې رب دی او د هغه څه چې د دواړو په مینځ کې دي، که تاسو یقین کوونکي یئ

لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۖ رَبُّكُمۡ وَرَبُّ ءَابَآئِكُمُ ٱلۡأَوَّلِينَ ٨

(8) نشته هیڅ یو حق معبود مگر هم دی دی، دی ژوندي کول کوي او مړه کول کوي، ستاسو رب دی او ستاسو د ړومبنیو پلرونو رب دی

بَلۡ هُمۡ فِي شَكّٖ يَلۡعَبُونَ ٩

(9) بلکې دوی په شك کې دي، چې لوبې کوي

فَٱرۡتَقِبۡ يَوۡمَ تَأۡتِي ٱلسَّمَآءُ بِدُخَانٖ مُّبِينٖ ١٠

(10) پس ته د هغې ورځې انتظار کوه چې اسمان ښکاره لوگی راوړي

يَغۡشَى ٱلنَّاسَۖ هَٰذَا عَذَابٌ أَلِيمٞ ١١

(11) چې خلق به پټ کړي دا ډېر دردوونکی عذاب دی

رَّبَّنَا ٱكۡشِفۡ عَنَّا ٱلۡعَذَابَ إِنَّا

(12) ای زمونږه ربه! ته زمونږ نه دغه عذاب

مُؤۡمِنُونَ ١٢

لرې کړه، بېشکه مونږ ايمان راوړونکي يو

أَنَّىٰ لَهُمُ ٱلذِّكۡرَىٰ وَقَدۡ جَآءَهُمۡ رَسُولٞ مُّبِينٞ ١٣

(13) دوی ته به نصيحت اخيستل چېرته وي، حال دا چې دوی ته ښکاره بيانوونکی رسول راغلی و

ثُمَّ تَوَلَّوۡاْ عَنۡهُ وَقَالُواْ مُعَلَّمٞ مَّجۡنُونٌ ١٤

(14) بيا دوی له هغه نه مخ وگرځاوه او ويې ويل:(دا) تعليم ورکړی شوی دی، لېونی دی

إِنَّا كَاشِفُواْ ٱلۡعَذَابِ قَلِيلًاۚ إِنَّكُمۡ عَآئِدُونَ ١٥

(15) بېشکه مونږ دغه عذاب لږ (وخت) لرې کوونکي يو، بېشکه تاسو بيا (کفر ته) راگرځېدونکي يئ

يَوۡمَ نَبۡطِشُ ٱلۡبَطۡشَةَ ٱلۡكُبۡرَىٰٓ إِنَّا مُنتَقِمُونَ ١٦

(16) (ياده کړه) هغه ورځ چې مونږ نيول وکړو، تر ټولو غټ نيول، بېشکه مونږ انتقام اخيستونکي يو

۞وَلَقَدۡ فَتَنَّا قَبۡلَهُمۡ قَوۡمَ فِرۡعَوۡنَ وَجَآءَهُمۡ رَسُولٞ كَرِيمٌ ١٧

(17) او يقينًا يقينًا مونږ له دوی نه مخکې د فرعون قوم ازمايلی و او هغو ته ډېر عزتمند رسول راغلی و

أَنۡ أَدُّوٓاْ إِلَيَّ عِبَادَ ٱللَّهِۖ إِنِّي لَكُمۡ رَسُولٌ أَمِينٞ ١٨

(18) چې تاسو ما ته د الله بنده گان (بني اسرائيل) راوسپارئ، بېشکه زه تاسو لپاره امانتگر رسول يم

وَأَن لَّا تَعۡلُواْ عَلَى ٱللَّهِۖ إِنِّيٓ ءَاتِيكُم بِسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٖ ١٩

(19) او دا چې تاسو په الله سرکشي مه کوئ، بېشکه زه تاسو ته ښکاره دليل راوړونکی يم

وَإِنِّي عُذۡتُ بِرَبِّي وَرَبِّكُمۡ أَن تَرۡجُمُونِ ٢٠

(20) او بېشکه ما پناه نيولې ده د خپل رب او ستاسو د رب، له دې نه چې تاسو ما سنګسار کړئ

وَإِن لَّمۡ تُؤۡمِنُواْ لِي فَٱعۡتَزِلُونِ ٢١

(21) او که تاسو په ما ايمان نه راوړئ، بيا نو له ما نه په ډډه شئ

فَدَعَا رَبَّهُۥٓ أَنَّ هَٰٓؤُلَآءِ قَوۡمٞ مُّجۡرِمُونَ ٢٢

(22) بيا هغه له خپل رب نه دعا وغوښته چې بېشکه دغه مجرمان خلق دي

فَأَسۡرِ بِعِبَادِي لَيۡلًا إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ٢٣

(23) نو (الله ورته وويل: چې) ته زما بنده ګان د شپې بوځه، بېشکه ستاسو به تعاقب کولی شي

وَٱتۡرُكِ ٱلۡبَحۡرَ رَهۡوًاۖ إِنَّهُمۡ جُندٞ مُّغۡرَقُونَ ٢٤

(24) او سمندر ولاړ (ساکن) پرېږده، بېشکه دوی دې ډوب کړی شوی لښکر

كَمۡ تَرَكُواْ مِن جَنَّٰتٖ وَعُيُونٖ ٢٥

(25) دوی څومره ډېر باغونه او چينې پرېښودلې

وَزُرُوعٖ وَمَقَامٖ كَرِيمٖ ٢٦

(26) او فصلونه او ډېر د عزت ځای

| | |
|---|---|
| وَنَعۡمَةٍ كَانُواْ فِيهَا فَٰكِهِينَ ٢٧ | (27) او نور نعمتونه چې دوی به په هغو کې خوشاله وو |
| كَذَٰلِكَۖ وَأَوۡرَثۡنَٰهَا قَوۡمًا ءَاخَرِينَ ٢٨ | (28) همداسې (مو دوی هلاك كړل) او دغه مو بل قوم ته په میراث ورکړل |
| فَمَا بَكَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلسَّمَآءُ وَٱلۡأَرۡضُ وَمَا كَانُواْ مُنظَرِينَ ٢٩ | (29) نو په دوی اسمان او ځمکې ونه ژړل او نه دوی مهلت ورکړی شوي وو |
| وَلَقَدۡ نَجَّيۡنَا بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ مِنَ ٱلۡعَذَابِ ٱلۡمُهِينِ ٣٠ | (30) او یقینًا یقینًا مونږ بني اسرائیل له سپکوونکي عذاب نه خلاص کړل |
| مِن فِرۡعَوۡنَۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَالِيٗا مِّنَ ٱلۡمُسۡرِفِينَ ٣١ | (31) له فرعون نه، بېشکه هغه (فرعون) سرکشه (او) له حده تېرېدونکو څخه و |
| وَلَقَدِ ٱخۡتَرۡنَٰهُمۡ عَلَىٰ عِلۡمٍ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ٣٢ | (32) او یقینًا یقینًا مونږ دغه (بني اسرائیل) د خپلې زمانې په خلقو باندې غوره کړي وو په علم سره ( په دې حال کې چې مونږ پرې عالمان وو ) |
| وَءَاتَيۡنَٰهُم مِّنَ ٱلۡأٓيَٰتِ مَا فِيهِ بَلَٰٓؤٞاْ مُّبِينٌ ٣٣ | (33) او دوی ته مونږ هغه نښې ورکړې وې، چې په هغو کې ښکاره ازمایش و |
| إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَيَقُولُونَ ٣٤ | (34) بېشکه دغه (کفار) خامخا وایي |

إِنْ هِيَ إِلَّا مَوْتَتُنَا ٱلْأُولَىٰ وَمَا نَحْنُ بِمُنشَرِينَ ۝٣٥

(35) نه دی دغه (عاقبت او د كار خاتمه) مگر زمونږ رومبنی مرگ دی، او مونږ به له سره بیا راژوندي نه کړی شو

فَأْتُوا۟ بِـَٔابَآئِنَآ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ۝٣٦

(36) نو تاسو زمونږ پلرونو (ژوندي) راولئ! كه تاسو رښتيني يئ

أَهُمْ خَيْرٌ أَمْ قَوْمُ تُبَّعٍ وَٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ أَهْلَكْنَٰهُمْ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ مُجْرِمِينَ ۝٣٧

(37) ايا دوی (قريش) غوره دي، يا كه د تبع قوم او هغه كسان چې له دوی نه مخكې وو، مونږ هغوی هلاك كړل، بېشكه دوی مجرمان خلق وو

وَمَا خَلَقْنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لَٰعِبِينَ ۝٣٨

(38) او مونږ اسمانونه او ځمكه او هر هغه څه چې د دواړو په مينځ كې دي ؛ نه دي پيدا كړي، په داسې حال كې چې عبث او لوبې كوونكي يو

مَا خَلَقْنَٰهُمَآ إِلَّا بِٱلْحَقِّ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ۝٣٩

(39) مونږ دوی دواړه نه دي پيدا كړي مگر په حقه سره او لیکن د دوی اكثره (خلق) نه پوهېږي

إِنَّ يَوْمَ ٱلْفَصْلِ مِيقَٰتُهُمْ أَجْمَعِينَ ۝٤٠

(40) بېشكه د فيصلې ورځ د دوی د ټولو ټاكلې وعده ده

يَوْمَ لَا يُغْنِي مَوْلًى عَن مَّوْلًى

(41) هغه ورځ چې هېڅ يو دوست به د بل

| | |
|---|---|
| شَيۡـٔٗا وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ٤١ | دوست هېڅ په کار رانشي او نه به له دوی سره مدد کولی شي |
| إِلَّا مَن رَّحِمَ ٱللَّهُۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ٤٢ | (42) لیکن هغه کس چې الله پرې رحم وکړي، بېشکه دا (الله)، هم دی ښه غالب، بې حده رحم کوونکی دی |
| إِنَّ شَجَرَتَ ٱلزَّقُّومِ ٤٣ | (43) بېشکه د زقوم ونه |
| طَعَامُ ٱلۡأَثِيمِ ٤٤ | (44) د غټ گناهگار خوراك دی |
| كَٱلۡمُهۡلِ يَغۡلِي فِي ٱلۡبُطُونِ ٤٥ | (45) د ویلې کړی شویو مسو (د تېلو تورې خټې) په شان چې په گېډو کې به ایشېږي |
| كَغَلۡيِ ٱلۡحَمِيمِ ٤٦ | (46) د گرمو اوبو د ایشېدلو په شان |
| خُذُوهُ فَٱعۡتِلُوهُ إِلَىٰ سَوَآءِ ٱلۡجَحِيمِ ٤٧ | (47) تاسو دا ونیسئ، پس دی د جهنم ببخې مینځ له په سختۍ سره راکاږئ |
| ثُمَّ صُبُّواْ فَوۡقَ رَأۡسِهِۦ مِنۡ عَذَابِ ٱلۡحَمِيمِ ٤٨ | (48) بیا د ده د سر له پاسه د ایشېدلو اوبو له عذابه ورتوی کړئ |
| ذُقۡ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡكَرِيمُ ٤٩ | (49) (ده ته به وویل شي چې دغه عذاب) وڅکه، بېشکه هم دا ته ډېر زبردست، ډېر عزتمن یې |

إِنَّ هَٰذَا مَا كُنتُم بِهِۦ تَمۡتَرُونَ ٥٠

(50) بېشكه دا هغه (عذاب) دى چې تاسو به په ده كې شك كاوه

إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي مَقَامٍ أَمِينٖ ٥١

(51) بېشكه متقيان به په امن ناكه ځاى كې وي

فِي جَنَّٰتٖ وَعُيُونٖ ٥٢

(52) په جنتونو كې

يَلۡبَسُونَ مِن سُندُسٖ وَإِسۡتَبۡرَقٖ مُّتَقَٰبِلِينَ ٥٣

(53) دوى به له نريو ورېښمو او پېړو ورېښمو جامې اغوندي، په داسې حال كې چې سره مخامخ به ناست وي

كَذَٰلِكَ وَزَوَّجۡنَٰهُم بِحُورٍ عِينٖ ٥٤

(54) همداسې به وي او مونږ به دوى د غټو سترګو سپينو سرو حورو سره ملګري كړو

يَدۡعُونَ فِيهَا بِكُلِّ فَٰكِهَةٍ ءَامِنِينَ ٥٥

(55) دوى به په دغو جنتونو كې هر قسمه مېوې راغواړي، په داسې حال كې چې په امن به وي

لَا يَذُوقُونَ فِيهَا ٱلۡمَوۡتَ إِلَّا ٱلۡمَوۡتَةَ ٱلۡأُولَىٰۖ وَوَقَىٰهُمۡ عَذَابَ ٱلۡجَحِيمِ ٥٦

(56) دوى به په دغو كې مرګ نه څكي غير له رومبني مرګ نه (چې په دنيا كې تېر شوى دى) او دوى به (الله) د دوزخ له عذاب نه بچ وساتي

فَضۡلٗا مِّن رَّبِّكَۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ

(57) د خپل رب د فضل په وجه، هم دغه ډېره

ٱلۡعَظِيمُ ﴿٥٧﴾

لويه کاميابي ده

فَإِنَّمَا يَسَّرۡنَٰهُ بِلِسَانِكَ لَعَلَّهُمۡ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٥٨﴾

(58) پس بېشکه هم دا خبره ده چې دا (قرآن) مونږ ستا په ژبه اسان کړی دی، د دې لپاره چې دوی نصيحت واخلي

فَٱرۡتَقِبۡ إِنَّهُم مُّرۡتَقِبُونَ ﴿٥٩﴾

(59) نو ته انتظار کوه، بېشکه دوی هم انتظار کوونکي دي

## سُورَةُ الجَاثِيَةِ

## سورۀ جاثيه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

حمٓ ﴿١﴾

(1) حا، ميم

تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ ﴿٢﴾

(2) د کتاب نازلول د الله له جانبه دي چې ډېر غالب، ښه حکمت والا دی

إِنَّ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ لَأٓيَٰتٖ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٣﴾

(3) بېشکه په اسمانونو او ځمکه کې د مومنانو لپاره يقينًا ډېرې نښې دي

وَفِي خَلۡقِكُمۡ وَمَا يَبُثُّ مِن دَآبَّةٍ ءَايَٰتٞ لِّقَوۡمٖ يُوقِنُونَ ﴿٤﴾

(4) او ستاسو په پيدا کولو کې او په هغه څه کې چې ده هر قسمه خوځنده خواره کړي دي ؛ د هغه قوم لپاره نښې دي چې يقين

کوي

وَٱخۡتِلَٰفِ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ وَمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن رِّزۡقٖ فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَا وَتَصۡرِيفِ ٱلرِّيَٰحِ ءَايَٰتٞ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ٥

(5) او د شپې او ورځې په اختلاف کې او په هغه کې چې الله له اسمان (بره) نه رزق (باران) نازل کړی دی، بیا یې په هغه سره ځمکه د هغې له مرگ نه پس راژوندۍ کړې ده او د هواگانو په بدلولو رابدلولو کې د هغو خلقو لپاره نښې دي چې له عقل نه کار اخلي

تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱللَّهِ نَتۡلُوهَا عَلَيۡكَ بِٱلۡحَقِّۖ فَبِأَيِّ حَدِيثِۭ بَعۡدَ ٱللَّهِ وَءَايَٰتِهِۦ يُؤۡمِنُونَ ٦

(6) دغه د الله دلیلونه دي چې مونږ یې په حقه سره په تا لولو، نو دوی به د الله او د هغه له ایتونو نه وروسته په کومې خبرې ایمان راوړي؟

وَيۡلٞ لِّكُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٖ ٧

(7) د هر سخت دروغ تړونکي، سخت مجرم لپاره هلاکت دی

يَسۡمَعُ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِ ثُمَّ يُصِرُّ مُسۡتَكۡبِرٗا كَأَن لَّمۡ يَسۡمَعۡهَاۖ فَبَشِّرۡهُ بِعَذَابٍ أَلِيمٖ ٨

(8) د الله ایتونه اوري چې په ده لوستل کېږي، بیا ښه کلکېږي، په داسې حال کې چې تکبر کوونکی وي، گویاکې ده دا (ایتونه) نه دي اورېدلي، نو ده ته د ډېر دردوونکي عذاب زېری ورکړه

وَإِذَا عَلِمَ مِنۡ ءَايَٰتِنَا شَيۡـًٔا ٱتَّخَذَهَا هُزُوًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٞ

(9) او کله چې دی زمونږ له ایتونو نه څه معلوم کړي، نو هغه مسخره ونیسي، دغه

مُّهِينٌ ⑨

کسان (چې دي) د دوی لپاره سپکوونکی عذاب دی

مِّن وَرَآئِهِمۡ جَهَنَّمُۖ وَلَا يُغۡنِي عَنۡهُم مَّا كَسَبُواْ شَيۡـًٔا وَلَا مَا ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوۡلِيَآءَۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٌ ⑩

(10) د دوی مخې ته جهنم دی او د دوی کړي عملونه به د دوی هېڅ په کار رانشي او نه هغه چې دوی له الله نه غیر کارسازان نیولي وو او د دوی لپاره ډېر لوی عذاب دی

هَٰذَا هُدٗىۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ لَهُمۡ عَذَابٞ مِّن رِّجۡزٍ أَلِيمٌ ⑪

(11) دا (قرآن) هدایت دی او هغه کسان چې د خپل رب په ایتونو کافران شوي دي؛ د هغوی لپاره د ډېر دردوونکي عذاب سزا ده

۞ٱللَّهُ ٱلَّذِي سَخَّرَ لَكُمُ ٱلۡبَحۡرَ لِتَجۡرِيَ ٱلۡفُلۡكُ فِيهِ بِأَمۡرِهِۦ وَلِتَبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِهِۦ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ⑫

(12) الله هغه ذات دی چې تاسو لپاره یې سمندر تابع کړی دی، د دې لپاره چې په ده کې کشتۍ د ده په حکم سره رواني شي او د دې لپاره چې تاسو د هغه له فضله لټون وکړئ او د دې لپاره چې تاسو شکر وباسئ

وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا مِّنۡهُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ⑬

(13) او تاسو لپاره یې په کار لګولي دي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي، په داسې حال کې چې دا ټول د هغه له جانبه (مسخر) دي، بېشکه په دغو کې د هغه قوم لپاره یقینًا

ډېرې نښې دي چې غور فكر كوي

قُل لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ يَغْفِرُواْ لِلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ أَيَّامَ ٱللَّهِ لِيَجْزِىَ قَوْمَۢا بِمَا كَانُواْ يَكْسِبُونَ ﴿١٤﴾

(14) (اى نبي!) ته هغو كسانو ته ووايه چې ايمان راوړى دى چې هغو كسانو ته دې بخښنه كوي چې د الله د ورځو (حوادثو) اميد نه لري، د دې لپاره چې دى (الله پخپله) يوې ډلې ته د هغوى د كړيو كارونو بدله وركړي

مَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا فَلِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَنْ أَسَآءَ فَعَلَيْهَا ۖ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ ﴿١٥﴾

(15) هر څوك چې نېك عمل وكړي، نو د خپل ځان لپاره يې دى، او څوك چې بد وكړي، نو په همده يې ضرر دى، بيا به خاص خپل رب ته تاسو بېرته بيول كېږئ

وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحُكْمَ وَٱلنُّبُوَّةَ وَرَزَقْنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَفَضَّلْنَٰهُمْ عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦﴾

(16) او يقينًا يقينًا مونږ بني اسرائيلو ته كتاب او حكم او نبوت وركړى و او دوى ته مو پاكيزه خيزونه روزي كړي وو او مونږ دوى ته (د خپلې زمانې) په خلقو فضيلت وركړى و

وَءَاتَيْنَٰهُم بَيِّنَٰتٍ مِّنَ ٱلْأَمْرِ ۖ فَمَا ٱخْتَلَفُوٓاْ إِلَّا مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلْعِلْمُ بَغْيَۢا بَيْنَهُمْ ۚ إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِى بَيْنَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿١٧﴾

(17) او مونږه دوى ته (د دين) په كار كې ښكاره دليلونه وركړي وو، نو دوى اختلاف ونه كړ مگر وروسته له دې چې دوى ته علم راغى، د خپل مينځي ضد (او حسد) په وجه، بېشكه ستا رب به د قيامت په ورځ د دوى په مينځ كې په هغو خبرو كې فيصله كوي چې

دوی به په هغو کې اختلاف کاوه

ثُمَّ جَعَلۡنَٰكَ عَلَىٰ شَرِيعَةٖ مِّنَ ٱلۡأَمۡرِ فَٱتَّبِعۡهَا وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ ١٨

(18) بیا مونږ ته (د دین) په معامله کې په واضحه لاره باندې ودرولې، نو ته د دې پیروي کوه او ته د هغو خلقو د خواهشاتو پیروي مه کوه چې نه پوهېږي

إِنَّهُمۡ لَن يُغۡنُواْ عَنكَ مِنَ ٱللَّهِ شَيۡـٔٗاۚ وَإِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۖ وَٱللَّهُ وَلِيُّ ٱلۡمُتَّقِينَ ١٩

(19) ببشکه دوی به د الله په مقابله کې ستا هېڅ په کار رانشي او ببشکه ظالمان (چې دي) د دوی ځینې د ځینو نورو دوستان دي او الله د پرهېزګارانو ملګری دی

هَٰذَا بَصَٰٓئِرُ لِلنَّاسِ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٞ لِّقَوۡمٖ يُوقِنُونَ ٢٠

(20) دا (قرآن) د خلقو لپاره ښکاره دلیلونه دي او هدایت او رحمت دی د هغه قوم لپاره چې یقین کوي

أَمۡ حَسِبَ ٱلَّذِينَ ٱجۡتَرَحُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ أَن نَّجۡعَلَهُمۡ كَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَوَآءٗ مَّحۡيَاهُمۡ وَمَمَاتُهُمۡۚ سَآءَ مَا يَحۡكُمُونَ ٢١

(21) ایا هغو کسانو چې جرمونه یې کړي دي؛ دا ګمان کړی چې مونږ به دوی د هغو کسانو په شان وګرځوو چې ایمان یې راوړی دی او نېک عملونه یې کړي دي، په داسې حال کې چې د دوی ژوند او د دوی مرګ به یو برابر وي، بده ده هغه فیصله چې دوی یې کوي

وَخَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ

(22) او الله اسمانونه او ځمکه په حقه سره پیدا کړي دي او د دې لپاره چې هر نفس ته

بِٱلۡحَقِّ وَلِتُجۡزَىٰ كُلُّ نَفۡسِۭ بِمَا كَسَبَتۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ﴿٢٢﴾

د هغه عمل بدله ورکړی شي چې ده کړې دی، په داسې حال کې چې په دوی به ظلم نه کولی شي

أَفَرَءَيۡتَ مَنِ ٱتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ وَأَضَلَّهُ ٱللَّهُ عَلَىٰ عِلۡمٖ وَخَتَمَ عَلَىٰ سَمۡعِهِۦ وَقَلۡبِهِۦ وَجَعَلَ عَلَىٰ بَصَرِهِۦ غِشَٰوَةٗ فَمَن يَهۡدِيهِ مِنۢ بَعۡدِ ٱللَّهِۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٢٣﴾

(23) ایا نو تا هغه کس لیدلی دی چې خپل معبود یې خپل خواهش ګرځولی دی او الله هغه په علم باندې ګمراه کړ او د هغه په غوږونو او د هغه په زړه یې مهر ولګاوه، او د هغه په سترګو یې پرده واچوله، نو ده ته به له الله نه بعد څوک هدایت وکړي، ایا نو تاسو پند نه اخلئ!

وَقَالُواْ مَا هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنۡيَا نَمُوتُ وَنَحۡيَا وَمَا يُهۡلِكُنَآ إِلَّا ٱلدَّهۡرُۚ وَمَا لَهُم بِذَٰلِكَ مِنۡ عِلۡمٍۖ إِنۡ هُمۡ إِلَّا يَظُنُّونَ ﴿٢٤﴾

(24) او دوی وايي: دغه (ژوندون) نشته مګر زمونږ دنیایي ژوند چې مړه کېږو او ژوندي کېږو او مونږ نه هلاکوي مګر زمانه او دوی ته په دې خبره هېڅ علم نشته، دوی یواځې ګمانونه چلوي

وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٖ مَّا كَانَ حُجَّتَهُمۡ إِلَّآ أَن قَالُواْ ٱئۡتُواْ بِـَٔابَآئِنَآ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٢٥﴾

(25) او کله چې دوی ته زمونږ ایتونه تلاوت کولی شي، چې ښه واضح دي، (نو) د دوی دلیل نه وي مګر دا چې وايي: تاسو زمونږ (مړه) پلرونه راولئ که تاسو رښتیني يئ

قُلِ ٱللَّهُ يُحۡيِيكُمۡ ثُمَّ يُمِيتُكُمۡ

(26) ته دوی ته ووايه: الله تاسو ژوندي کوي،

ثُمَّ يَجۡمَعُكُمۡ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ لَا رَيۡبَ فِيهِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٢٦﴾

بيا هغه تاسو مړه کوي بيا هغه تاسو د قيامت ورځې ته راجمع کوي چې په هغې کې هېڅ شك نشته او لېکن د خلقو اکثريت نه پوهېږي

وَلِلَّهِ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يَوۡمَئِذٖ يَخۡسَرُ ٱلۡمُبۡطِلُونَ ﴿٢٧﴾

(27) او خاص الله لپاره د اسمانونو او ځمکې باچايي ده او په هغه ورځ کې چې قيامت به قايم شي، په دغه ورځ کې به باطل پرستان تاوانيان شي

وَتَرَىٰ كُلَّ أُمَّةٖ جَاثِيَةٗۚ كُلُّ أُمَّةٖ تُدۡعَىٰٓ إِلَىٰ كِتَٰبِهَا ٱلۡيَوۡمَ تُجۡزَوۡنَ مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٢٨﴾

(28) او ته به هر امت په ځنګنونو پروت وينې، هر امت به خپل کتاب (اعمالنامې) ته راوبللى شي، نن ورځ به تاسو ته د هغو عملونو بدله درکولى شي چې تاسو به کول

هَٰذَا كِتَٰبُنَا يَنطِقُ عَلَيۡكُم بِٱلۡحَقِّۚ إِنَّا كُنَّا نَسۡتَنسِخُ مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٢٩﴾

(29) دا زمونږ کتاب دى چې پر تاسو باندې په حقه سره ګواهي کوي، بېشکه مونږ هغه عملونه ليکل چې تاسو به (په دنيا کې) کول

فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَيُدۡخِلُهُمۡ رَبُّهُمۡ فِي رَحۡمَتِهِۦۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡمُبِينُ ﴿٣٠﴾

(30) نو هر چې هغه کسان دي چې ايمان يې راوړى دى او نېك عملونه يې کړي دي، نو خپل رب به دوى په خپل رحمت کې داخل کړي، هم دغه ښکاره کاميابي ده

وَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَفَلَمۡ تَكُنۡ

(31) او پاتې شو هغه کسان چې کافران شوي

ءَايَٰتِي تُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡ فَٱسۡتَكۡبَرۡتُمۡ وَكُنتُمۡ قَوۡمٗا مُّجۡرِمِينَ ٣١

دي (نو دوی ته به وويل شي:) ايا نو تاسو ته زما ايتونه نه لوستل کېدل، بيا تاسو تکبر وکړ او تاسو مجرمان خلق وئ

وَإِذَا قِيلَ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ وَٱلسَّاعَةُ لَا رَيۡبَ فِيهَا قُلۡتُم مَّا نَدۡرِي مَا ٱلسَّاعَةُ إِن نَّظُنُّ إِلَّا ظَنّٗا وَمَا نَحۡنُ بِمُسۡتَيۡقِنِينَ ٣٢

(32) او کله چې به (تاسو ته) وويل شو چې بېشکه د الله وعده حقه ده او قيامت (چې دی) په ده کې هېڅ شك نشته، تاسو به ويل: مونږ نه پوهېږو قيامت څه شی دی؟ مونږ خو بس يو گمان کوو، گمان کول او مونږ له سره يقين کوونکي نه يو

وَبَدَا لَهُمۡ سَيِّـَٔاتُ مَا عَمِلُواْ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ٣٣

(33) او دوی ته به د خپلو عملونو بدی ښکاره شي او دوی به گېر کړي هغه (عذاب) چې دوی به په هغه پورې استهزا کولې

وَقِيلَ ٱلۡيَوۡمَ نَنسَىٰكُمۡ كَمَا نَسِيتُمۡ لِقَآءَ يَوۡمِكُمۡ هَٰذَا وَمَأۡوَىٰكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن نَّٰصِرِينَ ٣٤

(34) او وبه ويل شي نن ورځ مونږ تاسو هېروو، لکه چې تاسو د خپلې دې ورځې ملاقات هېر کړی و او ستاسو استوگنه اور دی او تاسو لپاره هيڅوك مدد کوونکي نشته

ذَٰلِكُم بِأَنَّكُمُ ٱتَّخَذۡتُمۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ هُزُوٗا وَغَرَّتۡكُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَاۚ فَٱلۡيَوۡمَ لَا يُخۡرَجُونَ مِنۡهَا

(35) دا په دې سبب چې يقينًا تاسو د الله ايتونه مسخره گرځولي وو او تاسو دنيايي ژوند غره (دوکه) کړي وئ ، نو نن ورځ به له دغه

وَلَا هُمۡ يُسۡتَعۡتَبُونَ ٣٥

(دوزخ) نه دوى نه ایستل کېږي او نه به له دوى نه د توبې کولو مطالبه کېږي

فَلِلَّهِ ٱلۡحَمۡدُ رَبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَرَبِّ ٱلۡأَرۡضِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٣٦

(36) نو ټول د کمال صفتونه خاص هغه الله لره دي چې د اسمانونو رب دی او د ځمکې رب دی، د عالمونو رب دی

وَلَهُ ٱلۡكِبۡرِيَآءُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٣٧

(37) او خاص ده لره په اسمانونو او ځمکه کې لويي ده او هم دی ښه غالب، ښه حکمت والا دی

## سُورَةُ الأَحۡقَافِ

## سورۀ احقاف

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

حمٓ ١

(1) حا، میم

تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ ٢

(2) د کتاب نازلول د الله له جانبه دي چې ډېر غالب، ښه حکمت والا دی

مَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَآ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَأَجَلٖ مُّسَمّٗىۚ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ عَمَّآ أُنذِرُواْ

(3) مونږ اسمانونه او ځمکه او هغه څه چې د دواړو په مینځ کې دي، نه دي پیدا کړي مګر په حقه او په ټاکلي مودې سره او کافران شوي کسان له هغه (قرآن) نه چې دوی پرې

مُعۡرِضُونَ ٣

وېرولی شي، مخ گرځوونکي دي

قُلۡ أَرَءَيۡتُم مَّا تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَرُونِي مَاذَا خَلَقُواْ مِنَ ٱلۡأَرۡضِ أَمۡ لَهُمۡ شِرۡكٞ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِۖ ٱئۡتُونِي بِكِتَٰبٖ مِّن قَبۡلِ هَٰذَآ أَوۡ أَثَٰرَةٖ مِّنۡ عِلۡمٍ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٤

(4) ته (دوی ته) ووایه: تاسو ما ته د هغو (معبودانو) خبر راکړئ چې تاسو يې له الله نه غير بلئ، تاسو ما ته وښيئ دوی په ځمکه کې څه پيدا کړي دي؟ يا دوی لره په (پيدا کولو د) اسمانونو کې څه شراکت شته؟ تاسو ما ته له دغه (قرآن) نه مخکې کوم کتاب راوړئ، يا له علمه څه باقي علامه، که تاسو رښتيني يئ

وَمَنۡ أَضَلُّ مِمَّن يَدۡعُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَن لَّا يَسۡتَجِيبُ لَهُۥٓ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَهُمۡ عَن دُعَآئِهِمۡ غَٰفِلُونَ ٥

(5) او له هغه کس نه زيات گمراه څوك دی چې له الله نه غير هغه (معبودان) بلي چې د ده دعا (سوال) تر قيامته پورې نشي قبلولی، په داسې حال کې چې دغه (معبودان) به د دوی له بلنې نه غافله (بې خبره) وي

وَإِذَا حُشِرَ ٱلنَّاسُ كَانُواْ لَهُمۡ أَعۡدَآءٗ وَكَانُواْ بِعِبَادَتِهِمۡ كَٰفِرِينَ ٦

(6) او کله چې (ټول) خلق (د حساب لپاره په محشر کې) راجمع کړی شي دغه (معبودان) به د دوی دښمنان وگرځي او د دغو (عبادت کوونکو) له عبادت نه به منکر شي

وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٖ قَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِلۡحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمۡ هَٰذَا سِحۡرٞ مُّبِينٌ ٧

(7) او کله چې دوی ته زمونږ ايتونه لوستلی شي، په داسې حال کې چې ښه واضح دي (،نو) کافران شوي کسان د حق په باره کې

وايي، کله چې دوی ته راغی: دا ښکاره جادو دی

أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰهُۖ قُلۡ إِنِ ٱفۡتَرَيۡتُهُۥ فَلَا تَمۡلِكُونَ لِي مِنَ ٱللَّهِ شَيۡـًٔاۖ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَا تُفِيضُونَ فِيهِۚ كَفَىٰ بِهِۦ شَهِيدَۢا بَيۡنِي وَبَيۡنَكُمۡۖ وَهُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ٨

(8) بلکې ايا دوی وايي: ده دا له ځانه جوړ کړی دی، ته (دوی ته) ووايه: که چېرې دا ما له ځانه جوړ کړی وي، نو تاسو زما لپاره له الله نه (د بچ کولو لپاره) د هېڅ شي اختيار نه لرئ، هغه په هغو خبرو ښه عالم دی چې تاسو په هغو کې لګيا يئ، هغه زما په مينځ کې او ستاسو په مينځ کې ښه کافي ګواه دی او همدغه ښه بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی

قُلۡ مَا كُنتُ بِدۡعٗا مِّنَ ٱلرُّسُلِ وَمَآ أَدۡرِي مَا يُفۡعَلُ بِي وَلَا بِكُمۡۖ إِنۡ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّ وَمَآ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٞ مُّبِينٞ ٩

(9) ته (دوی ته) ووايه: زه په رسولانو کې اول (او نوی رسول) نه يم (بلکې له ما نه مخکې هم رسولان تېر شوي) او زه بېخي نه پوهېږم چې زما سره او تاسو سره به څه کولی شي، زه خو يواځې د هغه څه پيروي کوم چې ما ته وحي کولی شي او زه خو يواځې ښکاره وېروونکی يم

قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ إِن كَانَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ وَكَفَرۡتُم بِهِۦ وَشَهِدَ شَاهِدٞ مِّنۢ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ عَلَىٰ مِثۡلِهِۦ فَـَٔامَنَ

(10) ته (دوی ته) ووايه: تاسو ما ته خبر راکړئ که چېرې دا (قرآن) د الله له جانبه وي او تاسو په ده سره کافران شوي يئ او د بني

وَٱسۡتَكۡبَرۡتُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٠

اسرائيلو يو گواه د دې په مثل سره گواهي کړې ده، پس هغه ايمان راوړ او تاسو لويي وکړه، بېشکه الله ظالم قوم ته هدايت نه کوي

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَوۡ كَانَ خَيۡرٗا مَّا سَبَقُونَآ إِلَيۡهِۚ وَإِذۡ لَمۡ يَهۡتَدُواْ بِهِۦ فَسَيَقُولُونَ هَٰذَآ إِفۡكٞ قَدِيمٞ ١١

(11) او کافران شويو کسانو د هغو کسانو په هکله وويل چې ايمان يې راوړى دى: که چېرې دا (ايمان، قرآن) خير (او غوره کار) وى، نو دوى به ده ته زمونږ نه مخکې شوي نه وو او چونکه دغو (کافرانو) په دغه (قرآن) سره نېغه لاره ونه موندله، نو ځکه دوى به ضرور وايي: دا ډېر پخواني دروغ دي

وَمِن قَبۡلِهِۦ كِتَٰبُ مُوسَىٰٓ إِمَامٗا وَرَحۡمَةٗۚ وَهَٰذَا كِتَٰبٞ مُّصَدِّقٞ لِّسَانًا عَرَبِيّٗا لِّيُنذِرَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ وَبُشۡرَىٰ لِلۡمُحۡسِنِينَ ١٢

(12) حال دا چې له ده نه مخکې د موسٰی کتاب و، چې لار ښوونکى او رحمت و او دا (قرآن) يو تصديق کوونکى کتاب دى، په داسې حال کې چې په عربي ژبه دى، د دې لپاره چې هغه کسان ووېروي چې ظلم يې کړى دى او نېکي کوونکو لپاره زېرى دى

إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسۡتَقَٰمُواْ فَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ١٣

(13) بېشکه هغه کسان چې وايي: زمونږ رب الله دى، بيا ټينگ ودرېږي، نو په دوى به نه څه وېره وي او نه به دوى غمگين کېږي

أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِ خَٰلِدِينَ

(14) دغه کسان د جنت ملگري دي، چې په

فِيهَا جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٤

ده کې به تل ترتله وي، (دوی ته به) بدله ورکولی شي د هغو (نېکو) عملونو په سبب چې دوی به کول

وَوَصَّيۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيۡهِ إِحۡسَٰنًاۖ حَمَلَتۡهُ أُمُّهُۥ كُرۡهٗا وَوَضَعَتۡهُ كُرۡهٗاۖ وَحَمۡلُهُۥ وَفِصَٰلُهُۥ ثَلَٰثُونَ شَهۡرًاۚ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ أَشُدَّهُۥ وَبَلَغَ أَرۡبَعِينَ سَنَةٗ قَالَ رَبِّ أَوۡزِعۡنِيٓ أَنۡ أَشۡكُرَ نِعۡمَتَكَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتَ عَلَيَّ وَعَلَىٰ وَٰلِدَيَّ وَأَنۡ أَعۡمَلَ صَٰلِحٗا تَرۡضَىٰهُ وَأَصۡلِحۡ لِي فِي ذُرِّيَّتِيٓۖ إِنِّي تُبۡتُ إِلَيۡكَ وَإِنِّي مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ١٥

(15) او مونږ انسان ته له خپل مور و پلار سره د نېکی کولو کلك حکم کړی دی، د ده مور دی د سختۍ په حالت کې (په خېټه کې) پورته کړی او دی یې د سختۍ په حالت کې زېږولی دی او د ده حمل او له تې نه د ده، پرېکولو (غوڅولو، د دوارو) موده دېرش میاشتې ده، تر هغه پورې چې کله دی خپل قوت ته ورسېده او څلوېښتو کالو ته ورسېده، ده وویل: ای زما ربه! ته ما ته (الهام او) توفیق راکړه چې زه ستا د هغه نعمت شکر ادا کړم چې تا په ما او زما په مور و پلار انعام کړی دی او دا چې زه داسې نېك عمل وکړم چې ته یې خوښوې او ته زما په اولاد کې صلاحیت (او نېکي) کېږده، بېشکه ما تا ته توبه کړې ده او بېشکه زه له مسلمانانو څخه یم

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ نَتَقَبَّلُ عَنۡهُمۡ أَحۡسَنَ مَا عَمِلُواْ وَنَتَجَاوَزُ عَن سَيِّـَٔاتِهِمۡ فِيٓ أَصۡحَٰبِ ٱلۡجَنَّةِۖ وَعۡدَ

(16) دغه کسان دي چې مونږ له دوی نه د دوی په عملونو کې تر ټولو ښه قبلوو او د دوی له ګناهونو نه تېرېږو، په داسې حال کې چې د جنت په ملګرو کې به وي (الله کړې ده)

ٱلصِّدۡقِ ٱلَّذِي كَانُواْ يُوعَدُونَ ١٦

هغه رښتينې وعده چې له دوی سره يې وعده کولی شوه

وَٱلَّذِي قَالَ لِوَٰلِدَيۡهِ أُفّٖ لَّكُمَآ أَتَعِدَانِنِيٓ أَنۡ أُخۡرَجَ وَقَدۡ خَلَتِ ٱلۡقُرُونُ مِن قَبۡلِي وَهُمَا يَسۡتَغِيثَانِ ٱللَّهَ وَيۡلَكَ ءَامِنۡ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ فَيَقُولُ مَا هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ١٧

**(17)** او هغه سړی چې خپل مور و پلار ته يې وويل: تاسو دواړو ته دې خرابي وي (زه له تاسو دواړو زړه تنګی يم) ايا تاسو ما ته دا وعده راکوئ چې زه به (ژوندی) راوېستلی کېږم، حال دا چې له ما نه مخکې ډېرې پېړۍ تېرې شوې دي او هغو دواړو الله ته فرياد کاوه (او ورته ويل يې:) تا لره هلاکت دی، ايمان راوړه! بېشکه د الله وعده حقه ده، نو دی (په جواب کې) وايي: دا نه دي مګر د ړومبنو خلقو باطلې قصې

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ حَقَّ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقَوۡلُ فِيٓ أُمَمٖ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهِم مِّنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِۖ إِنَّهُمۡ كَانُواْ خَٰسِرِينَ ١٨

**(18)** دغه هغه کسان دي چې په دوی باندې (د عذاب) خبره ثابته شوې ده، په هغو امتونو کې چې له دوی نه مخکې تېر شوي دي له پېريانو او انسانانو څخه، بېشکه دوی تاوانيان وو

وَلِكُلّٖ دَرَجَٰتٞ مِّمَّا عَمِلُواْۖ وَلِيُوَفِّيَهُمۡ أَعۡمَٰلَهُمۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ١٩

**(19)** او د هرې يوې (ډلې) لپاره د دوی د کړو عملونو په سبب (بېلې بېلې) مرتبې دي، او د دې لپاره چې دوی ته د دوی عملونه پوره ورکړي، په داسې حال کې چې په دوی به

ظلم ونه کړی شي

وَيَوۡمَ يُعۡرَضُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ عَلَى ٱلنَّارِ أَذۡهَبۡتُمۡ طَيِّبَٰتِكُمۡ فِي حَيَاتِكُمُ ٱلدُّنۡيَا وَٱسۡتَمۡتَعۡتُم بِهَا فَٱلۡيَوۡمَ تُجۡزَوۡنَ عَذَابَ ٱلۡهُونِ بِمَا كُنتُمۡ تَسۡتَكۡبِرُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَبِمَا كُنتُمۡ تَفۡسُقُونَ ﴿٢٠﴾

(20) او هغه ورځ (یاده کړه) چې کافران شوي کسان به اور ته پېش کولی شي (او ورته به وویل شي:) تاسو خپل خوندونه (او نعمتونه) په خپل دنیایي ژوند کې ختم کړي دي او تاسو له هغو نه فایده اخیستې ده، نو نن ورځ به تاسو ته د ذلت د عذاب بدله درکولی شي، په سبب د دې چې تاسو به په ځمکه کې ناحقه تکبر کاوه او په سبب د دې چې تاسو به نافرماني کوله

۞وَٱذۡكُرۡ أَخَا عَادٍ إِذۡ أَنذَرَ قَوۡمَهُۥ بِٱلۡأَحۡقَافِ وَقَدۡ خَلَتِ ٱلنُّذُرُ مِنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهِۦٓ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيمٖ ﴿٢١﴾

(21) او ته د عادیانو ورور (هود) یاد کړه، کله چې ده خپل قوم وویرولو، چې په احقاف (ریګستان) کې وو، او یقینًا له ده نه مخکې او له ده نه وروسته (نور) وېرووونکي (پیغمبران) تېر شوي دي (په دې خبرې سره) چې تاسو عبادت مه کوئ غیر له الله نه، بېشکه زه په تاسو د ډېرې لویې ورځې د عذاب وېره کوم

قَالُوٓاْ أَجِئۡتَنَا لِتَأۡفِكَنَا عَنۡ ءَالِهَتِنَا فَأۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٢٢﴾

(22) دوی وویل: (ای هوده!) ایا ته مونږ ته د دې لپاره راغلی یې چې مونږ له خپلو معبودانو نه واړوې، پس ته پر مونږ هغه (عذاب) راوله چې ته یې مونږ ته وعده راکوې،

که ته له رښتینو څخه یې

قَالَ إِنَّمَا ٱلۡعِلۡمُ عِندَ ٱللَّهِ وَأُبَلِّغُكُم مَّآ أُرۡسِلۡتُ بِهِۦ وَلَٰكِنِّيٓ أَرَىٰكُمۡ قَوۡمٗا تَجۡهَلُونَ ٢٣

(23) ده وویل: بېشکه همدا خبره ده چې (د عذاب د راتلو) علم خو له الله سره دی او زه تاسو ته هغه څه دررسوم چې په هغو سره زه رالېږل شوی یم او لېکن زه تاسو داسې قوم وینم چې له جهالت نه کار اخلئ

فَلَمَّا رَأَوۡهُ عَارِضٗا مُّسۡتَقۡبِلَ أَوۡدِيَتِهِمۡ قَالُواْ هَٰذَا عَارِضٞ مُّمۡطِرُنَاۚ بَلۡ هُوَ مَا ٱسۡتَعۡجَلۡتُم بِهِۦۖ رِيحٞ فِيهَا عَذَابٌ أَلِيمٞ ٢٤

(24) نو کله چې دوی هغه (عذاب) ولیده، چې د پلنې ورېځې په شکل کې د دوی میدانونو ته مخ کوونکی و، دوی وویل: دا پلنه ورېځ ده، پر مونږ باران وروونکې ده، (نو هود وویل) بلکې دا هغه (عذاب) دی چې تاسو د ده تلوار کاوه، باد دی چې په ده کې دردوونکی عذاب دی

تُدَمِّرُ كُلَّ شَيۡءِۭ بِأَمۡرِ رَبِّهَا فَأَصۡبَحُواْ لَا يُرَىٰٓ إِلَّا مَسَٰكِنُهُمۡۚ كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ٢٥

(25) چې د خپل رب په حکم سره هر شی هلاکوي، نو دوی سبا ته داسې شول چې یواځې د دوی (خالي) کورونه لیدل کېدل، مونږ همداسې مجرم قوم ته بدله ورکوو

وَلَقَدۡ مَكَّنَّٰهُمۡ فِيمَآ إِن مَّكَّنَّٰكُمۡ فِيهِ وَجَعَلۡنَا لَهُمۡ سَمۡعٗا وَأَبۡصَٰرٗا وَأَفۡـِٔدَةٗ فَمَآ أَغۡنَىٰ

(26) او یقینًا یقینًا مونږ هغوی ته په هغو څیزونو کې دومره قوت (او قدرت) ورکړی و چې تاسو ته مو په هغو کې قدرت نه دی

عَنۡهُمۡ سَمۡعُهُمۡ وَلَآ أَبۡصَٰرُهُمۡ وَلَآ
أَفۡـِٔدَتُهُم مِّن شَيۡءٍ إِذۡ كَانُواْ
يَجۡحَدُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَحَاقَ بِهِم
مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ٢٦

درکړې او د هغوی لپاره مونږ غوږونه او سترګې او زړونه پیدا کړي وو، نو له دوی نه د دوی غوږونو او نه د دوی سترګو او نه د دوی زړونو هېڅ شی (عذاب) دفع نه کړې شو، ځکه چې دوی د الله له ایتونو نه انکار کاوه او دوی هغه (عذاب) راګېر کړل چې دوی به په هغه پورې استهزا کولې

وَلَقَدۡ أَهۡلَكۡنَا مَا حَوۡلَكُم مِّنَ
ٱلۡقُرَىٰ وَصَرَّفۡنَا ٱلۡأٓيَٰتِ لَعَلَّهُمۡ
يَرۡجِعُونَ ٢٧

(27) او یقینًا یقینًا مونږ هغه کلي چې ستاسو چاپېره دي، هلاك كړل او مونږه ایتونه مکرر بیان کړي دي، د دې لپاره چې دوی (له کفر نه) راوګرځي

فَلَوۡلَا نَصَرَهُمُ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن
دُونِ ٱللَّهِ قُرۡبَانًا ءَالِهَةَۢۖ بَلۡ ضَلُّواْ
عَنۡهُمۡۚ وَذَٰلِكَ إِفۡكُهُمۡ وَمَا كَانُواْ
يَفۡتَرُونَ ٢٨

(28) نو د دوی مرسته هغو (معبودانو) ولې ونه کړه چې دغو (خلقو دوی) د تقرب لپاره له الله نه غیر معبودان ګرځولي وو، بلکې دغه (معبودان په دغه وخت کې) له دوی نه ورك شول او دغه د دوی غټ دروغ دي او هغه څه دي چې دوی به له ځانه جوړول

وَإِذۡ صَرَفۡنَآ إِلَيۡكَ نَفَرًا مِّنَ ٱلۡجِنِّ
يَسۡتَمِعُونَ ٱلۡقُرۡءَانَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ
قَالُوٓاْ أَنصِتُواْۖ فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوۡاْ إِلَىٰ

(29) او هغه وخت (یاد کړه) چې مونږ تا ته د پېریانو یوه ډله راوګرځوله، چې قرآن به اوري، نو کله چې دوی ده (قرآن) ته حاضر شول، نو ویې ویل:چوپ شئ! نو کله چې (د قرآن

قَوۡمِهِم مُّنذِرِينَ ﴿٢٩﴾

تلاوت) تمام کړی شو (نو) دوی خپل قوم ته بېرته وګرځېدل، په داسې حال کې چې وېروونکي وو

قَالُواْ يَٰقَوۡمَنَآ إِنَّا سَمِعۡنَا كِتَٰبًا أُنزِلَ مِنۢ بَعۡدِ مُوسَىٰ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلۡحَقِّ وَإِلَىٰ طَرِيقٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٣٠﴾

(30) دوی وویل: ای زمونږ قومه! بېشکه مونږ داسې کتاب واورېده چې له موسیٰ نه وروسته نازل کړی شوی دی، په داسې حال کې د هغو (کتابونو) تصدیق کوونکی دی چې له ده نه مخکې وو، حق ته او نېغې (سمې) لارې ته ښوونه کوي

يَٰقَوۡمَنَآ أَجِيبُواْ دَاعِيَ ٱللَّهِ وَءَامِنُواْ بِهِۦ يَغۡفِرۡ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمۡ وَيُجِرۡكُم مِّنۡ عَذَابٍ أَلِيمٖ ﴿٣١﴾

(31) ای زمونږ قومه! تاسو د الله د بلونکي وینا قبوله کړئ او په ده ایمان راوړئ، چې هغه (الله) تاسو ته ستاسو ځینې ګناهونه وبخښي او تاسو له ډېر دردوونکي عذاب نه خلاص (او بچ) کړي

وَمَن لَّا يُجِبۡ دَاعِيَ ٱللَّهِ فَلَيۡسَ بِمُعۡجِزٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَيۡسَ لَهُۥ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءُۚ أُوْلَٰٓئِكَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ﴿٣٢﴾

(32) او څوك چې د الله د بلونکي خبره قبوله نه کړي، نو دغه کس په ځمکه کې (الله لره) عاجزه کوونکی نه دی او د ده لپاره له دغه (الله) نه غیر هېڅ کارسازي (او مددګاران) نشته او دغه کسان په ښکاره ګمراهۍ کې دي

أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِي خَلَقَ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَلَمۡ يَعۡيَ
بِخَلۡقِهِنَّ بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يُحۡـِۧيَ
ٱلۡمَوۡتَىٰۚ بَلَىٰٓۚ إِنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ
قَدِيرٞ ٣٣

(33) او ایا دوی نه دي کتلي چې بېشکه هغه الله چې اسمانونه او ځمکه يې پيدا کړي دي او د دغو په پيدا کولو سره نه دی ستړی شوی، يقينًا په دې قادر دی چې مړي ژوندي کړي؟ ولې نه! بېشکه هغه په هر شي باندې ښه قادر دی

وَيَوۡمَ يُعۡرَضُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ عَلَى
ٱلنَّارِ أَلَيۡسَ هَٰذَا بِٱلۡحَقِّۖ قَالُواْ بَلَىٰ
وَرَبِّنَاۚ قَالَ فَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَ بِمَا
كُنتُمۡ تَكۡفُرُونَ ٣٤

(34) او هغه ورځ (ياده كړه) چې کافران شوي كسان به اور ته وړاندې كولى شي (او ورته وبه ويل شي:) ایا دا حق (اورښتيا) نه دی، دوی به ووايي: ولې نه! زمونږ دې په خپل رب قسم وي! الله به ووايي: نو تاسو عذاب وڅكئ، په سبب د هغه كفر چې تاسو به كاوه

فَٱصۡبِرۡ كَمَا صَبَرَ أُوْلُواْ ٱلۡعَزۡمِ مِنَ
ٱلرُّسُلِ وَلَا تَسۡتَعۡجِل لَّهُمۡۚ كَأَنَّهُمۡ
يَوۡمَ يَرَوۡنَ مَا يُوعَدُونَ لَمۡ يَلۡبَثُوٓاْ
إِلَّا سَاعَةٗ مِّن نَّهَارِۭۚ بَلَٰغٞۚ فَهَلۡ
يُهۡلَكُ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ٣٥

(35) نو (ای نبي!) ته صبر کوه، لکه چې د عزيمت والا رسولانو صبر کړی دی او د دوی په هکله (د عذاب) تلوار مه کوه، ګوياکې دوی به هغه ورځ (کې) چې هغه (عذاب) ووينې چې له دوی سره يې وعده کولی شوه، داسې وي چې دوی وخت نه دی تېر کړی مګر د ورځې يوه ګړی، (دا قرآن) پيغام دی، پس هلاك كولی نه شي مګر فاسقان خلق

## سُورَةُ مُحَمَّدٍ

## سورة محمد

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى

ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ أَضَلَّ أَعۡمَٰلَهُمۡ ١

(1) هغه كسان چې كافران شوي دي او (خلق يې) د الله له لارې نه منع كړي دي؛ هغه (الله) د دوى (نېك) عملونه خراب (او ضايع) كړي دي

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَءَامَنُواْ بِمَا نُزِّلَ عَلَىٰ مُحَمَّدٍ وَهُوَ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّهِمۡ كَفَّرَ عَنۡهُمۡ سَيِّـَٔاتِهِمۡ وَأَصۡلَحَ بَالَهُمۡ ٢

(2) او هغه كسان چې ايمان يې راوړ او نېك عملونه وكړل او په هغه (قرآن) يې ايمان راوړ چې په محمد (ﷺ) نازل كړى شوى دى او همدغه د دوى د رب له جانبه حق دى (نو) هغه (الله) به له دوى نه د دوى ګناهونه لرې كړي او د دوى حال به ښه كړي

ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱتَّبَعُواْ ٱلۡبَٰطِلَ وَأَنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّبَعُواْ ٱلۡحَقَّ مِن رَّبِّهِمۡۚ كَذَٰلِكَ يَضۡرِبُ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ أَمۡثَٰلَهُمۡ ٣

(3) دغه په دې سبب چې يقينًا كافران شويو كسانو د باطل پيروي كړې ده او يقينًا هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى د خپل رب له جانبه د حق پيروي كړې ده، همداسې الله خلقو ته د دوى مثالونه (او احوال) بيانوي

فَإِذَا لَقِيتُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ

(4) نو كله چې تاسو له كافران شويو خلقو

فَضَرۡبَ ٱلرِّقَابِ حَتَّىٰٓ إِذَآ
أَثۡخَنتُمُوهُمۡ فَشُدُّواْ ٱلۡوَثَاقَ فَإِمَّا
مَنَّۢا بَعۡدُ وَإِمَّا فِدَآءً حَتَّىٰ تَضَعَ
ٱلۡحَرۡبُ أَوۡزَارَهَاۚ ذَٰلِكَۖ وَلَوۡ يَشَآءُ
ٱللَّهُ لَٱنتَصَرَ مِنۡهُمۡ وَلَٰكِن
لِّيَبۡلُوَاْ بَعۡضَكُم بِبَعۡضٖۗ وَٱلَّذِينَ
قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَلَن يُضِلَّ
أَعۡمَٰلَهُمۡ ٤

سره (په جنگ کې) مخامخ شئ، نو (اول کار د دوی) د څټونو وهل دي، تر هغه پورې چې کله تاسو دوی ښه ډېر ووژنئ، نو بیا ترل ښه مضبوط کړئ (بیا رسی ښې مضبوطې وتړئ) بیا له دې نه بعد یا خو احسان کول دي (په دوی احسان وکړئ) او یا خو فدیه کول دي (د عوض په بدل کې یې ازاد کړئ) (له دوی سره جنگ کوئ) تر هغه پورې چې جنگ (والا) خپلې وسلې کېږدي، دغه (د الله حکم ) دی او که الله غوښتلي وی (نو) له دوی نه به یې خامخا بدل اخیستی و او لېکن د دې لپاره (یې تاسو ته د جهاد حکم وکړ) چې ستاسو ځینې په ځینو نورو سره وازمایي، او هغه کسان چې د الله په لاره کې ووژل شي، نو هغه (الله) به د دوی عملونه له سره ضایع نه کړي

سَيَهۡدِيهِمۡ وَيُصۡلِحُ بَالَهُمۡ ٥

(5) هغه (الله) به دوی ته خامخا لار ښوونه وکړي او د دوی حال به ښه کړي

وَيُدۡخِلُهُمُ ٱلۡجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمۡ ٦

(6) او دوی به جنت ته داخل کړي چې هغه یې دوی ته ورښودلی دی

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَنصُرُواْ

(7) ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی!

| | |
|---|---|
| ٱللَّهَ يَنصُرۡكُمۡ وَيُثَبِّتۡ أَقۡدَامَكُمۡ ۝٧ | که چېرې تاسو د الله مدد وکړئ، هغه به ستاسو مدد وکړئ او ستاسو قدمونه به ثابت (او ټینګ) کړي |
| وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَتَعۡسٗا لَّهُمۡ وَأَضَلَّ أَعۡمَٰلَهُمۡ ۝٨ | (8) او هغه کسان چې کافران شوي دي، نو د دوی لپاره هلاکوالی دی او هغه (الله) د دوی عملونه ضایع کړي دي |
| ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَرِهُواْ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأَحۡبَطَ أَعۡمَٰلَهُمۡ ۝٩ | (9) دا ځکه چې یقینًا دوی هغه (قرآن) بد ګڼلی دی چې الله نازل کړی دی، نو هغه (الله) د دوی عملونه برباد کړل |
| ۞أَفَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۖ دَمَّرَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡۖ وَلِلۡكَٰفِرِينَ أَمۡثَٰلُهَا ۝١٠ | (10) ایا نو دوی په ځمکه کې نه ګرځي، نو چې ووینې چې د هغو کسانو انجام څنګه و چې له دوی نه مخکې وو، الله په دوی تباهي راوسته، او د کافرانو لپاره د دغه (انجام) په مثل مثالونه شته |
| ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ مَوۡلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَأَنَّ ٱلۡكَٰفِرِينَ لَا مَوۡلَىٰ لَهُمۡ ۝١١ | (11) دغه ځکه چې یقینًا الله د هغو کسانو دوست (او مددګار) دی چې ایمان یې راوړی دی او دا چې یقینًا کافران (چې دي) د دوی لپاره مددګار (او دوست) نشته |
| إِنَّ ٱللَّهَ يُدۡخِلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٖ | (12) بېشکه الله به هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او نېك عملونه یې کړي دي، داسې |

تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يَتَمَتَّعُونَ وَيَأۡكُلُونَ كَمَا تَأۡكُلُ ٱلۡأَنۡعَٰمُ وَٱلنَّارُ مَثۡوٗى لَّهُمۡ ١٢

جنتونه ته داخلوي چې د هغو له لاندې ولې بهېږي او هغه کسان چې کافران شوي دي، دوی فايده اخلي او خوراك کوي لکه څنګه چې څاروي خوراك کوي او اور د دوی استوګنه ده

وَكَأَيِّن مِّن قَرۡيَةٍ هِيَ أَشَدُّ قُوَّةٗ مِّن قَرۡيَتِكَ ٱلَّتِيٓ أَخۡرَجَتۡكَ أَهۡلَكۡنَٰهُمۡ فَلَا نَاصِرَ لَهُمۡ ١٣

**(13)** او ډېر داسې کلي چې هغه ستا له هغه کلي نه چې ته يې ايستلی يې ؛ په قوت کې زيات سخت وو؛ مونږ هغوی هلاك کړل، نو د هغوی هيڅوك مددګار نه و

أَفَمَن كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّهِۦ كَمَن زُيِّنَ لَهُۥ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ وَٱتَّبَعُوٓاْ أَهۡوَآءَهُم ١٤

**(14)** ايا نو هغه کس چې د خپل رب له جانبه په ښکاره دليل (روان) وي د هغه کس په شان دی چې هغه ته خپل بد عمل ښايسته کړی شوی وي او دوی د خپلو خواهشاتو پيروي کړې وي

مَّثَلُ ٱلۡجَنَّةِ ٱلَّتِي وُعِدَ ٱلۡمُتَّقُونَۖ فِيهَآ أَنۡهَٰرٞ مِّن مَّآءٍ غَيۡرِ ءَاسِنٖ وَأَنۡهَٰرٞ مِّن لَّبَنٖ لَّمۡ يَتَغَيَّرۡ طَعۡمُهُۥ وَأَنۡهَٰرٞ مِّنۡ خَمۡرٖ لَّذَّةٖ لِّلشَّٰرِبِينَ وَأَنۡهَٰرٞ مِّنۡ عَسَلٖ مُّصَفّٗىۖ وَلَهُمۡ فِيهَا مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ وَمَغۡفِرَةٞ

**(15)** د هغه جنت حال (او صفت) چې پرهېزګارانو ته يې وعده ورکړی شوې ده، په هغو کې د داسې اوبو ويالې دي چې خرابېدونکې نه دي او د داسې شيدو (پيو) ويالې دي چې خوند (او مزه) به يې تغير نه مومي (نه خرابېږي) او د داسې شرابو ويالې دي چې څښونکو ته مزه ورکوونکې وي او د

مِّن رَّبِّهِمْۖ كَمَنۡ هُوَ خَٰلِدٞ فِي ٱلنَّارِ وَسُقُواْ مَآءً حَمِيمٗا فَقَطَّعَ أَمۡعَآءَهُمۡ ١٥

صفا كړى شويو شاتو ولې دي او د دوى لپاره په دغو (جنتونو) كې هر قسمه مېوې دي او د خپل رب له جانبه مغفرت دى (ايا دغه كس) د هغه چا په شان دى چې هغه په اور كې تل ترتله وي او په دوى ډېرې ګرمې اوبه ورڅښولى شي، نو د دوى كولمې به ټوټې ټوټې كړي

وَمِنۡهُم مَّن يَسۡتَمِعُ إِلَيۡكَ حَتَّىٰٓ إِذَا خَرَجُواْ مِنۡ عِندِكَ قَالُواْ لِلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ مَاذَا قَالَ ءَانِفًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ وَٱتَّبَعُوٓاْ أَهۡوَآءَهُمۡ ١٦

(16) او په دوى كې ځينې هغه دي چې تا ته غوږ ږدي تر دې چې كله ستا له خوا نه بهر ووځي، (نو) هغو كسانو ته وايي چې علم ورته وركړى شوى دى: ده (محمدﷺ) اوس څه وويل؟ دغه هغه كسان دي چې الله د دوى په زړونو مهر لګولى دى او دوى د خپلو خواهشاتو پيروي كړې ده

وَٱلَّذِينَ ٱهۡتَدَوۡاْ زَادَهُمۡ هُدٗى وَءَاتَىٰهُمۡ تَقۡوَىٰهُمۡ ١٧

(17) او هغه كسان چې هدايت يې موندلى دى، هغه (الله) دوى ته هدايت ورزيات كړى دى او دوى ته يې د دوى پرهېزګاري وركړې ده

فَهَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّا ٱلسَّاعَةَ أَن تَأۡتِيَهُم بَغۡتَةٗۖ فَقَدۡ جَآءَ أَشۡرَاطُهَاۚ فَأَنَّىٰ لَهُمۡ إِذَا جَآءَتۡهُمۡ

(18) نو دوى انتظار نه كوي مګر د قيامت (يعني) چې په دوى ناڅاپه راشي، نو يقينًا د ده نښې راغلې دي، نو د دوى لپاره به د دوى

ذِكۡرَىٰهُمۡ ١٨

پند اخیستل ښځگه (مفید) وي چې کله په دوی (قیامت) راشي

فَٱعۡلَمۡ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ وَٱسۡتَغۡفِرۡ لِذَنۢبِكَ وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِۗ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مُتَقَلَّبَكُمۡ وَمَثۡوَىٰكُمۡ ١٩

(19) نو ته پوه شه چې بېشکه شان دا دی چې د عبادت هیڅ لایق نشته مگر الله دی او د خپلې گناه مغفرت وغواړه او د مومنو سړیو او مومنو ښځو لپاره هم، او الله ستاسو په گرځېدنځی او اوسېدنځی عالِم دی

وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَوۡلَا نُزِّلَتۡ سُورَةٞۖ فَإِذَآ أُنزِلَتۡ سُورَةٞ مُّحۡكَمَةٞ وَذُكِرَ فِيهَا ٱلۡقِتَالُ رَأَيۡتَ ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ يَنظُرُونَ إِلَيۡكَ نَظَرَ ٱلۡمَغۡشِيِّ عَلَيۡهِ مِنَ ٱلۡمَوۡتِۖ فَأَوۡلَىٰ لَهُمۡ ٢٠

(20) او هغه کس چې ایمان یې راوړی دی، وایي: ولې یو (داسې) سورت نه نازلول کېږي (چې د جهاد حکم په کې وي)، نو کله چې یو محکم سورت نازل کړی شي او په هغه کې جنگ یاد کړی شوی وي (نو) ته به هغه کسان وینې چې د هغوی په زړونو کې (د نفاق) مرض دی، چې تا ته به گوري د هغه کس د کتو په شان چې په هغه د مرگ له وجې بې هوشي راغلې وي، نو د دوی لپاره دې هلاکت وي

طَاعَةٞ وَقَوۡلٞ مَّعۡرُوفٞۚ فَإِذَا عَزَمَ ٱلۡأَمۡرُ فَلَوۡ صَدَقُواْ ٱللَّهَ لَكَانَ خَيۡرٗا لَّهُمۡ ٢١

(21) (دوی وایي: زمونږ کار) اطاعت دی او نېکه خبره کول دي، نو کله چې کار (د جهاد) فرض (او لازم) شي، نو که دوی له الله سره صدق کړی وی (نو) یقینًا دا به د دوی

لپاره ډېر غوره و

فَهَلۡ عَسَيۡتُمۡ إِن تَوَلَّيۡتُمۡ أَن تُفۡسِدُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَتُقَطِّعُوٓاْ أَرۡحَامَكُمۡ ٢٢

(22) نو ایا تاسو، که چېرې حاکمان شئ، دې ته نژدې یئ چې تاسو به په ځمکه کې فساد وکړئ او خپل قرابتونه (خپلویانې) به پرې کړئ

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُ فَأَصَمَّهُمۡ وَأَعۡمَىٰٓ أَبۡصَٰرَهُمۡ ٢٣

(23) دا هغه کسان دي چې الله په دوی لعنت کړی دی، نو دوی یې کاڼه کړي دي او د دوی سترګې یې ړندې کړې دي

أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلۡقُرۡءَانَ أَمۡ عَلَىٰ قُلُوبٍ أَقۡفَالُهَآ ٢٤

(24) ایا نو دوی په قرآن کې فکر نه کوي، بلکې (د دوی) په زړونو د دغو تالې پرتې دي

إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱرۡتَدُّواْ عَلَىٰٓ أَدۡبَٰرِهِم مِّنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ ٱلۡهُدَى ٱلشَّيۡطَٰنُ سَوَّلَ لَهُمۡ وَأَمۡلَىٰ لَهُمۡ ٢٥

(25) بېشکه هغه کسان چې په خپلو شاګانو (له ایمانه) بېرته ګرځېدلي دي، وروسته له دې چې دوی ته هدایت ښکاره شو، دوی ته شیطان (خپل عملونه) ښایسته کړي دي او دوی ته یې مهلت ښکاره کړی دی

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَالُواْ لِلَّذِينَ كَرِهُواْ مَا نَزَّلَ ٱللَّهُ سَنُطِيعُكُمۡ فِي بَعۡضِ ٱلۡأَمۡرِۖ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ إِسۡرَارَهُمۡ ٢٦

(26) دغه په دې سبب چې یقینًا دوی هغو کسانو ته، چې دغه (قرآن) بد ګڼلی چې الله نازل کړی دی، وویل: په ځینو کارونو کې به مونږ ژر ستاسو حکم ومنو او الله د دوی په پټو

خبرو پوهېږي

فَكَيۡفَ إِذَا تَوَفَّتۡهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَضۡرِبُونَ وُجُوهَهُمۡ وَأَدۡبَٰرَهُمۡ ٢٧

(27) نو څنګه حال به وي، کله چې ملايك د دوی روحونه قبض کوي، په داسې حال کې چې دغه (ملايك) به د دوی مخونه او د دوی شاګانې وهي

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ ٱتَّبَعُواْ مَآ أَسۡخَطَ ٱللَّهَ وَكَرِهُواْ رِضۡوَٰنَهُۥ فَأَحۡبَطَ أَعۡمَٰلَهُمۡ ٢٨

(28) دغه په دې سبب چې یقینًا دوی د هغه شي متابعت وكړ چې الله يې ناراضه كړ او دوی د هغه رضامندي بده وګڼله، نو هغه د دوی عملونه برباد کړل

أَمۡ حَسِبَ ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ أَن لَّن يُخۡرِجَ ٱللَّهُ أَضۡغَٰنَهُمۡ ٢٩

(29) ايا هغه کسان چې د هغوی په زړونو کې (د نفاق) بیماري ده؛ دا ګمان کړی دی چې الله به د دوی پټې کینې له سره نه څرګندوي

وَلَوۡ نَشَآءُ لَأَرَيۡنَٰكَهُمۡ فَلَعَرَفۡتَهُم بِسِيمَٰهُمۡۚ وَلَتَعۡرِفَنَّهُمۡ فِي لَحۡنِ ٱلۡقَوۡلِۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ أَعۡمَٰلَكُمۡ ٣٠

(30) او كه مونږ وغواړو (نو) تا ته به دوی خامخا وښيو، نو ته به دوی خامخا په خپلو خاصو نښو سره وپېژنې او ته به دوی خامخا ضرور د خبرو په اړولو کې وپېژنې او الله ستاسو په عملونو عالِم دی

وَلَنَبۡلُوَنَّكُمۡ حَتَّىٰ نَعۡلَمَ ٱلۡمُجَٰهِدِينَ مِنكُمۡ وَٱلصَّٰبِرِينَ

(31) او مونږ به تاسو خامخا ضرور ازمايو تر دې چې مونږ په تاسو کې جهاد کوونکي وپېژنو (ظاهر کړو) او صبر کوونکي او ستاسو

وَنَبۡلُوَاْ أَخۡبَارَكُمۡ ٣١

خبرونه وازمايو

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن
سَبِيلِ ٱللَّهِ وَشَآقُّواْ ٱلرَّسُولَ مِنۢ
بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ ٱلۡهُدَىٰ لَن
يَضُرُّواْ ٱللَّهَ شَيۡـٔٗا وَسَيُحۡبِطُ
أَعۡمَٰلَهُمۡ ٣٢

(32) بېشکه هغه کسان چې کافران شوي دي او د الله له لارې نه منع شوي دي او د رسول مخالفت کوي، وروسته له دې چې دوی ته هدايت ښکاره شو، دوی به الله ته له سره هېڅ شی ضرر ونه رسولی شي او هغه به ضرور د دوی عملونه برباد کړي

۞يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ
ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَلَا تُبۡطِلُوٓاْ
أَعۡمَٰلَكُمۡ ٣٣

(33) ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو د الله اطاعت کوئ او د رسول اطاعت کوئ او خپل عملونه مه تباه کوئ

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن
سَبِيلِ ٱللَّهِ ثُمَّ مَاتُواْ وَهُمۡ كُفَّارٞ
فَلَن يَغۡفِرَ ٱللَّهُ لَهُمۡ ٣٤

(34) بېشکه هغه کسان چې کافران شوي دي او د الله له لارې نه منع کېږي، بيا دوی په داسې حال کې مړه شي چې کافران دي، نو الله به دوی ته له سره بخښنه ونه کړي

فَلَا تَهِنُواْ وَتَدۡعُوٓاْ إِلَى ٱلسَّلۡمِ
وَأَنتُمُ ٱلۡأَعۡلَوۡنَ وَٱللَّهُ مَعَكُمۡ
وَلَن يَتِرَكُمۡ أَعۡمَٰلَكُمۡ ٣٥

(35) نو تاسو سستي مه کوئ او سولې ته بلنه مه ورکوئ، په داسې حال کې چې هم تاسو به غالب يئ، او الله له تاسو سره دی او هغه به ستاسو عملونه له سره ضايع (او کم) نه کړي

إِنَّمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا لَعِبٞ وَلَهۡوٞۚ

(36) بېشکه هم دا خبره ده چې دنيايي ژوند خو بس لوبې او مشغولتيا ده او که تاسو

| | |
|---|---|
| وَإِن تُؤۡمِنُواْ وَتَتَّقُواْ يُؤۡتِكُمۡ أُجُورَكُمۡ وَلَا يَسۡـَٔلۡكُمۡ أَمۡوَٰلَكُمۡ ٣٦ | ايمان راوړئ او پرهېزګاره شئ (نو) هغه به تاسو ته ستاسو اجرونه درکړي او له تاسو نه به ستاسو مالونه ونه وغواړي |
| إِن يَسۡـَٔلۡكُمُوهَا فَيُحۡفِكُمۡ تَبۡخَلُواْ وَيُخۡرِجۡ أَضۡغَٰنَكُمۡ ٣٧ | (37) که هغه له تاسو نه دغه (مال) وغواړي، پس په تاسو ښه کوشش وکړي (نو) تاسو به بخل وکړئ، او هغه (الله) به ستاسو پټې کينې راوباسي |
| هَٰٓأَنتُمۡ هَٰٓؤُلَآءِ تُدۡعَوۡنَ لِتُنفِقُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَمِنكُم مَّن يَبۡخَلُۖ وَمَن يَبۡخَلۡ فَإِنَّمَا يَبۡخَلُ عَن نَّفۡسِهِۦۚ وَٱللَّهُ ٱلۡغَنِيُّ وَأَنتُمُ ٱلۡفُقَرَآءُۚ وَإِن تَتَوَلَّوۡاْ يَسۡتَبۡدِلۡ قَوۡمًا غَيۡرَكُمۡ ثُمَّ لَا يَكُونُوٓاْ أَمۡثَٰلَكُم ٣٨ | (38) خبردار شئ! تاسو ای دغو کسانو! تاسو رابللی شئ، د دې لپاره چې تاسو د الله په لاره کې مال ولګوئ، نو په تاسو کې ځينې بخل کوي او څوك چې بخل وکړي، نو يقينًا هم دا خبره ده چې هغه له خپل ځان نه (د خير په منع کولو سره) بخل کوي او هم دا الله غني (ښه بې پروا) دى او هم تاسو فقيران يئ او که تاسو وګرځېدئ (نو) هغه به له تاسو نه غير بل قوم په بدل کې راولي، بيا به هغوى ستاسو په شان نه وي |

## سُورَةُ الفَتۡحِ

## سورة فتح

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى**

إِنَّا فَتَحۡنَا لَكَ فَتۡحٗا مُّبِينٗا ١

(1) بېشكه مونږ تا ته فتح دركړې ده، ښكاره فتح

لِّيَغۡفِرَ لَكَ ٱللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنۢبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعۡمَتَهُۥ عَلَيۡكَ وَيَهۡدِيَكَ صِرَٰطٗا مُّسۡتَقِيمٗا ٢

(2) د دې لپاره چې الله تا ته ستا هغه ګناهونه وبخښي چې مخكې تېرې شوې دي او هغه چې وروسته دي او په تا باندې خپل نعمتونه پوره كړي او تا ته نېغه لاره وښيي

وَيَنصُرَكَ ٱللَّهُ نَصۡرًا عَزِيزًا ٣

(3) او د دې لپاره چې الله ستا مدد وكړي، زبردست مدد كول

هُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ فِي قُلُوبِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ لِيَزۡدَادُوٓاْ إِيمَٰنٗا مَّعَ إِيمَٰنِهِمۡۗ وَلِلَّهِ جُنُودُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمٗا ٤

(4) دغه (الله) هغه ذات دى چې د مومنانو په زړونو كې يې سكون (اطمينان) نازل كړ، د دې لپاره چې دوى د خپل (مخكيني) ايمان سره د ايمان په لحاظ نور ورزيات شي او خاص الله لره د اسمانونو او ځمكې لښكرې دي او الله ښه پوه، ښه حكمت والا دى

لِّيُدۡخِلَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ

(5) د دې لپاره چې هغه مومنان سړي او

جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا وَيُكَفِّرَ عَنۡهُمۡ سَيِّـَٔاتِهِمۡۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عِندَ ٱللَّهِ فَوۡزًا عَظِيمٗا ٥

مومنې ښځې داسې جنتونو ته داخل کړي چې د هغو له لاندې ولې بهېږي، چې دوی به په هغو کې تل ترتله وي او (د دې لپاره چې) هغه (الله) له دوی نه د دوی گناهونه لرې کړي، او دغه د الله په نيز ډېره لويه کاميابي ده

وَيُعَذِّبَ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتِ وَٱلۡمُشۡرِكِينَ وَٱلۡمُشۡرِكَٰتِ ٱلظَّآنِّينَ بِٱللَّهِ ظَنَّ ٱلسَّوۡءِۚ عَلَيۡهِمۡ دَآئِرَةُ ٱلسَّوۡءِۖ وَغَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ وَلَعَنَهُمۡ وَأَعَدَّ لَهُمۡ جَهَنَّمَۖ وَسَآءَتۡ مَصِيرٗا ٦

(6) او د دې لپاره چې منافقو سړيو او منافقو ښځو او مشركو سړيو او مشركو ښځو ته عذاب وركړي، هغه چې په الله باندې گمان كوونكي دي، بدگمان، په دوی دې د بدۍ راگرځېدل وي، او الله په دوی باندې غضب كړی دی او په دوی يې لعنت كړی دی او د دوی لپاره يې جهنم تيار كړی دی او هغه د ورتلو بد ځای دی

وَلِلَّهِ جُنُودُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ٧

(7) او خاص د الله لپاره د اسمانونو او ځمكې لښكرې دي او الله له ازله ښه غالب، ښه حكمت والا دی

إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ شَٰهِدٗا وَمُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا ٨

(8) بېشكه مونږ ته شاهد او زېرى وركوونكى او وېروونكى لېږلى يې

لِّتُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتُعَزِّرُوهُ

(9) د دې لپاره چې تاسو (اى خلقو!) په الله

وَتُوَقِّرُوهُۚ وَتُسَبِّحُوهُ بُكۡرَةٗ وَأَصِيلًا ٩

او د هغه په رسول ایمان راوړئ او د هغه (الله) مدد وکړئ او د هغه تعظیم وکړئ او سبا او بېگا د هغه تسبیح بیان کړئ

إِنَّ ٱلَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ ٱللَّهَ يَدُ ٱللَّهِ فَوۡقَ أَيۡدِيهِمۡۚ فَمَن نَّكَثَ فَإِنَّمَا يَنكُثُ عَلَىٰ نَفۡسِهِۦۖ وَمَنۡ أَوۡفَىٰ بِمَا عَٰهَدَ عَلَيۡهُ ٱللَّهَ فَسَيُؤۡتِيهِ أَجۡرًا عَظِيمٗا ١٠

(10) بېشکه هغه کسان چې له تا سره بیعت کوي، بېشکه همدا خبره ده چې دوی خو له الله سره بیعت کوي، د الله لاس د دوی د لاسونو له پاسه دی، نو هغه چا چې (دا بیعت) مات کړ، نو بېشکه همدا خبره ده چې د خپل ځان په ضرر یې ماتوي او هغه څوك چې په هغه څه وفا وکړي چې په هغه یې له الله سره عهد کړی دی، نو ده ته به هغه خامخا ډېر لوی اجر ورکړي

سَيَقُولُ لَكَ ٱلۡمُخَلَّفُونَ مِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ شَغَلَتۡنَآ أَمۡوَٰلُنَا وَأَهۡلُونَا فَٱسۡتَغۡفِرۡ لَنَاۚ يَقُولُونَ بِأَلۡسِنَتِهِم مَّا لَيۡسَ فِي قُلُوبِهِمۡۚ قُلۡ فَمَن يَمۡلِكُ لَكُم مِّنَ ٱللَّهِ شَيۡـًٔا إِنۡ أَرَادَ بِكُمۡ ضَرًّا أَوۡ أَرَادَ بِكُمۡ نَفۡعَۢاۚ بَلۡ كَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرَۢا ١١

(11) ژر ده چې تا ته په اَعرابو کې وروسته پاتې کړی شوي کسان ووایي: مونږ خپلو مالونو او خپلوکورنیو مشغول کړي وو، لهٰذا ته زمونږ لپاره بخښنه وغواړه، دوی په خپلو ژبو سره هغه خبرې وایي چې د دوی په زړونو کې هغه نشته، ته (دوی ته) ووایه: نو تاسو لپاره د الله (له عذاب) نه څوك د څه شي اختیار لرلی شي، که هغه (الله) تاسو ته د ضرر رسولو اراده وکړي، یا تاسو ته د نفعې رسولو اراده وکړي، بلکې الله په هغو کارونو چې تاسو یې

کوئ ؛ ښه خبردار دی

بَلۡ ظَنَنتُمۡ أَن لَّن يَنقَلِبَ ٱلرَّسُولُ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ إِلَىٰٓ أَهۡلِيهِمۡ أَبَدٗا وَزُيِّنَ ذَٰلِكَ فِي قُلُوبِكُمۡ وَظَنَنتُمۡ ظَنَّ ٱلسَّوۡءِ وَكُنتُمۡ قَوۡمَۢا بُورٗا ١٢

(12) بلکې (اصل خبره دا ده چې) تاسو دا گمان کړی و چې رسول او مومنان به خپلو کورنیو ته هېڅ کله هم بېرته له سره را ونه گرځي او دغه خبره ستاسو په زړونو کې ښایسته کړی شوه او تاسو گمان وکړ، بدگمان، او تاسو هلاکېدونکی قوم شوئ

وَمَن لَّمۡ يُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ فَإِنَّآ أَعۡتَدۡنَا لِلۡكَٰفِرِينَ سَعِيرٗا ١٣

(13) او هر څوك چې په الله او د هغه په رسول ایمان رانه وړي، نو بېشکه مونږ د کافرانو لپاره لمبې وهونکی اور تیار کړی دی

وَلِلَّهِ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ يَغۡفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُۚ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ١٤

(14) او خاص د الله لپاره د اسمانونو او ځمکې باچایي ده، چا ته چې وغواړي بخښنه کوي او چا ته چې وغواړي عذاب ورکوي او الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی

سَيَقُولُ ٱلۡمُخَلَّفُونَ إِذَا ٱنطَلَقۡتُمۡ إِلَىٰ مَغَانِمَ لِتَأۡخُذُوهَا ذَرُونَا نَتَّبِعۡكُمۡۖ يُرِيدُونَ أَن يُبَدِّلُواْ كَلَٰمَ ٱللَّهِۚ قُل لَّن تَتَّبِعُونَا كَذَٰلِكُمۡ قَالَ ٱللَّهُ مِن قَبۡلُۖ

(15) ژر به وروسته پاتې کړی شوي کسان ووایي، کله چې تاسو غنیمتونو ته روان شئ، د دې لپاره چې هغه راونیسئ: تاسو مونږ پرېږدئ چې تاسو پسې روان شو، دوی غواړي چې د الله کلام بدل کړي، ته (دوی ته) ووایه: تاسو به زمونږ پسې له سره رانشئ، الله

فَسَيَقُولُونَ بَلۡ تَحۡسُدُونَنَاۚ بَلۡ كَانُواْ لَا يَفۡقَهُونَ إِلَّا قَلِيلٗا ١٥

همداسې مخکې له دې نه فرمايلي دي: بيا به ژر چې دوی ووايي: بلکې تاسو زمونږ سره حسد کوئ (داسې نه ده) بلکې دوی نه پوهېدل مگر ډېر لږ څه

قُل لِّلۡمُخَلَّفِينَ مِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ سَتُدۡعَوۡنَ إِلَىٰ قَوۡمٍ أُوْلِي بَأۡسٖ شَدِيدٖ تُقَٰتِلُونَهُمۡ أَوۡ يُسۡلِمُونَۖ فَإِن تُطِيعُواْ يُؤۡتِكُمُ ٱللَّهُ أَجۡرًا حَسَنٗاۖ وَإِن تَتَوَلَّوۡاْ كَمَا تَوَلَّيۡتُم مِّن قَبۡلُ يُعَذِّبۡكُمۡ عَذَابًا أَلِيمٗا ١٦

(16) په اعرابو کې وروسته پاتې کړی شويو کسانو ته ووايه: ژر ده چې تاسو به له داسې قوم سره (د جنگ کولو) لپاره راوبللی شئ، چې د ډېر سخت جنگ والا دي، تاسو به له هغوی سره جنگ کوئ، يا به هغوی مسلمانېږي، نو که تاسو اطاعت وکړئ، الله به تاسو ته ډېر ښه اجر درکړي او که تاسو وگرځېدئ، لکه چې له دې نه مخکې گرځېدلي وئ (نو) هغه به تاسو ته ډېر دردوونکی عذاب درکړي

لَّيۡسَ عَلَى ٱلۡأَعۡمَىٰ حَرَجٞ وَلَا عَلَى ٱلۡأَعۡرَجِ حَرَجٞ وَلَا عَلَى ٱلۡمَرِيضِ حَرَجٞۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ يُدۡخِلۡهُ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ وَمَن يَتَوَلَّ يُعَذِّبۡهُ عَذَابًا أَلِيمٗا ١٧

(17) نه په ړانده باندې څه گناه شته او نه په گوډ باندې څه گناه شته او نه په بيمار باندې څه گناه شته او څوك چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړي (نو) هغه (الله) به دغه (کس) داسې جنتونو ته داخل کړي چې د هغو له لاندې ولې بهېږي او څوك چې (د الله له احکامو نه) مخ واړوي (،نو) هغه (الله) به ده

ته ډېر دردوونکی عذاب ورکړي

۞لَّقَدۡ رَضِيَ ٱللَّهُ عَنِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ
إِذۡ يُبَايِعُونَكَ تَحۡتَ ٱلشَّجَرَةِ
فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمۡ فَأَنزَلَ
ٱلسَّكِينَةَ عَلَيۡهِمۡ وَأَثَٰبَهُمۡ فَتۡحٗا
قَرِيبٗا ١٨

(18) يقينًا يقينًا الله له مومنانو نه راضي شو کله چې دوی له تا سره د ونې لاندې بيعت کاوه، پس ده ته هغه څه معلوم وو چې د دوی په زړونو کې وو، بیا هغه په دوی اطمينان نازل کړ او دوی ته يې په عوض کې نژدې برى ورکړ

وَمَغَانِمَ كَثِيرَةٗ يَأۡخُذُونَهَاۗ وَكَانَ
ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمٗا ١٩

(19) او ډېر غنيمتونه چې دوی به هغه راحاصل کړي او الله له همېشه ډېر غالب، ښه حکمت والا دی

وَعَدَكُمُ ٱللَّهُ مَغَانِمَ كَثِيرَةٗ
تَأۡخُذُونَهَا فَعَجَّلَ لَكُمۡ هَٰذِهِۦ
وَكَفَّ أَيۡدِيَ ٱلنَّاسِ عَنكُمۡ
وَلِتَكُونَ ءَايَةٗ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ
وَيَهۡدِيَكُمۡ صِرَٰطٗا مُّسۡتَقِيمٗا ٢٠

(20) الله له تاسو سره د ډېرو غنيموتونو وعده کړې ده چې تاسو به هغه واخلئ، پس دا (غنيمت) يې تاسو ته ژر درکړ او د خلقو لاسونه يې له تاسو نه بند کړل او د دې لپاره چې دا (کار) د مومنانو لپاره يو نښه شي او د دې لپاره چې هغه تاسو ته نېغه لار وښيي

وَأُخۡرَىٰ لَمۡ تَقۡدِرُواْ عَلَيۡهَا قَدۡ
أَحَاطَ ٱللَّهُ بِهَاۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ
شَيۡءٖ قَدِيرٗا ٢١

(21) او نور داسې (غنيمتونه) دي چې تاسو لا په هغو قادر شوي نه يئ، يقينًا الله هغه راګېر کړي دي او الله په هر شي باندې ښه قادر دی

وَلَوۡ قَٰتَلَكُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ
لَوَلَّوُاْ ٱلۡأَدۡبَٰرَ ثُمَّ لَا يَجِدُونَ وَلِيّٗا
وَلَا نَصِيرٗا ٢٢

(22) او كه كافران شويو كسانو له تاسو سره جنګ كړى وى (نو) دوى به خامخا شاګانې ګرځولې وى، بيا به دوى نه څوك كارساز موندلى و او نه كوم مددګار

سُنَّةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِي قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلُۖ
وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ ٱللَّهِ تَبۡدِيلٗا ٢٣

(23) الله هغه طريقه جاري كړې ده چې له دې نه مخكې تېره شوې ده او ته به د الله طريقې لره له سره څه تبديلې ونه مومې

وَهُوَ ٱلَّذِي كَفَّ أَيۡدِيَهُمۡ عَنكُمۡ
وَأَيۡدِيَكُمۡ عَنۡهُم بِبَطۡنِ مَكَّةَ
مِنۢ بَعۡدِ أَنۡ أَظۡفَرَكُمۡ عَلَيۡهِمۡۚ
وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرًا ٢٤

(24) او دى همغه ذات دى چې له تاسو نه يې د هغوى لاسونه بند كړل او له هغوى نه يې ستاسو لاسونه بند كړل، د مكې په داخل كې، وروسته له دې چې تاسو يې پر هغوى غالب كړئ، او الله هغه څه لره چې تاسو يې كوئ ؛ ښه ليدونكى دى

هُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّوكُمۡ عَنِ
ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ وَٱلۡهَدۡيَ
مَعۡكُوفًا أَن يَبۡلُغَ مَحِلَّهُۥۚ وَلَوۡلَا
رِجَالٞ مُّؤۡمِنُونَ وَنِسَآءٞ مُّؤۡمِنَٰتٞ
لَّمۡ تَعۡلَمُوهُمۡ أَن تَطَـُٔوهُمۡ
فَتُصِيبَكُم مِّنۡهُم مَّعَرَّةُۢ بِغَيۡرِ
عِلۡمٖۖ لِّيُدۡخِلَ ٱللَّهُ فِي رَحۡمَتِهِۦ مَن

(25) دوى هغه كسان دي چې كفر يې كړى دى، او تاسو يې له مسجد حرام نه منع كړي يئ او قربانۍ (د هدي څاروي هم)، په دې حال كې چې له دې نه بندي كړى شوي دي چې خپل د حلالې ځاى ته ورسېږي او كه چېرې څه مومن سړي او څه مومنې ښځې نه وى، چې تاسو دوى نه پېژندل، دا چې تاسو به دوى پايمال كړئ، بيا به تاسو ته د دوى په

يَشَآءُۚ لَوۡ تَزَيَّلُواْ لَعَذَّبۡنَا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡهُمۡ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿٢٥﴾

وجه ګناه ورسبېږي (، نو د جنګ اجازت به يې درکړی و، خو در يې نه کړ) د دې لپاره چې الله په خپل رحمت کې هغه څوك داخل كړي چې يې غواړي، كه دغه (مسلمانان له كفارو نه) جدا شوي وی، نو مونږ به خامخا په دغو (د مكې په اوسېدونكو) كسانو كې كافران شويو خلقو ته ډېر دردووونكى عذاب وركړی و

إِذۡ جَعَلَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلۡحَمِيَّةَ حَمِيَّةَ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِ فَأَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَعَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَأَلۡزَمَهُمۡ كَلِمَةَ ٱلتَّقۡوَىٰ وَكَانُوٓاْ أَحَقَّ بِهَا وَأَهۡلَهَاۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمًا ﴿٢٦﴾

(26) كله چې كافران شويو خلقو په خپلو زړونو كې غيرت واچاوه، د جاهليت غيرت، نو الله خپل اطمينان په خپل رسول او په مومنانو باندې نازل كړ او په دوی پورې يې د تقوىٰ خبره لازمه (ټينګه) كړه او دوی د دغې ډېر حقدار او د دغې اهل وو او الله همېشه په هر شي ښه پوه دی

لَّقَدۡ صَدَقَ ٱللَّهُ رَسُولَهُ ٱلرُّءۡيَا بِٱلۡحَقِّۖ لَتَدۡخُلُنَّ ٱلۡمَسۡجِدَ ٱلۡحَرَامَ إِن شَآءَ ٱللَّهُ ءَامِنِينَ مُحَلِّقِينَ رُءُوسَكُمۡ وَمُقَصِّرِينَ لَا تَخَافُونَۖ فَعَلِمَ مَا لَمۡ تَعۡلَمُواْ فَجَعَلَ مِن دُونِ ذَٰلِكَ فَتۡحًا قَرِيبًا ﴿٢٧﴾

(27) يقينًا يقينًا الله خپل رسول ته خوب په حقه سره رښتيا كړ، چې تاسو به، كه الله وغواړي، مسجد حرام ته په امن او ارام سره ننوځئ، چې خپل سرونه به خرييونكي يئ او كمونكي به يئ، په داسې حال كې چې تاسو به نه وېرېږئ، پس هغه ته معلوم دي هغه څه چې تاسو ته معلوم نه دي، نو له دغې نه

مخکې یې نژدې بری عطا کړ

هُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ
وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ
كُلِّهِۦۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدٗا ٢٨

(28) دی همغه ذات دی چې خپل رسول یې په هدایت او حق دین سره رالېږلی دی، د دې لپاره چې هغه (الله) دغه (دین) په ټولو دینونو باندې غالب کړي او هم الله کافي دی ښه ګواه

مُّحَمَّدٞ رَّسُولُ ٱللَّهِۚ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ
أَشِدَّآءُ عَلَى ٱلۡكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيۡنَهُمۡۖ
تَرَىٰهُمۡ رُكَّعٗا سُجَّدٗا يَبۡتَغُونَ
فَضۡلٗا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضۡوَٰنٗاۖ سِيمَاهُمۡ
فِي وُجُوهِهِم مِّنۡ أَثَرِ ٱلسُّجُودِۚ
ذَٰلِكَ مَثَلُهُمۡ فِي ٱلتَّوۡرَىٰةِۚ وَمَثَلُهُمۡ
فِي ٱلۡإِنجِيلِ كَزَرۡعٍ أَخۡرَجَ
شَطۡـَٔهُۥ فَـَٔازَرَهُۥ فَٱسۡتَغۡلَظَ
فَٱسۡتَوَىٰ عَلَىٰ سُوقِهِۦ يُعۡجِبُ
ٱلزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ ٱلۡكُفَّارَۗ وَعَدَ
ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ
ٱلصَّـٰلِحَٰتِ مِنۡهُم مَّغۡفِرَةٗ وَأَجۡرًا
عَظِيمَۢا ٢٩

(29) محمد د الله رسول دی او هغه کسان چې له ده سره دي، په کافرانو باندې ډېر سخت دي، په خپل مینځ کې ډېر مهرباني کوونکي دي، ته به دوی وینې چې رکوع کوونکي، سجده کوونکي دي، له الله نه فضل او رضامندي غواړي، د دوی (د دینداری) نښې د دوی په مخونو کې دي د سجدو له اثر نه، دغه په تورات کې د دوی مثال دی او په انجیل کې د دوی مثال دی، لکه هغه فصل چې خپل تېغ راوباسي، بیا هغه قوي کړي، بیا هغه (فصل، تېغ) پېړ او کلك شي بیا دغه (فصل) په خپلو پنډیو (او ببخونو) ودرېږي، په داسې حال چې زمېنداران (کروندګر) په تعجب کې اچوي، د دې لپاره چې په دغو سره کافران په غصه کړي، الله له هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړی دی او

نېك عملونه يې كړي دي، چې دغه (اصحابان) دي؛ د بخښنې او د ډېر لوی اجر وعده كړې ده

## سُورَةُ الحُجُرَاتِ

## سورۀ حجرات

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُقَدِّمُواْ بَيۡنَ يَدَيِ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ١

(1) ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو د الله او د هغه د رسول په مخكې مه وړاندې كېږئ، او له الله نه ووېرېږئ، بېشكه الله ښه اورېدونكی، ښه پوه دی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَرۡفَعُوٓاْ أَصۡوَٰتَكُمۡ فَوۡقَ صَوۡتِ ٱلنَّبِيِّ وَلَا تَجۡهَرُواْ لَهُۥ بِٱلۡقَوۡلِ كَجَهۡرِ بَعۡضِكُمۡ لِبَعۡضٍ أَن تَحۡبَطَ أَعۡمَٰلُكُمۡ وَأَنتُمۡ لَا تَشۡعُرُونَ ٢

(2) ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو خپل اوازونه د نبي د اواز له پاسه مه پورته كوئ، او مه ده ته په اوچت اواز خبره كوئ، لكه ستاسو د ځينو له ځينو نورو سره د اواز اوچتولو په شان، له دې وجې چې ستاسو عملونه به برباد شي او تاسو به پوه نه وئ

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَغُضُّونَ أَصۡوَٰتَهُمۡ عِندَ رَسُولِ ٱللَّهِ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱمۡتَحَنَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُمۡ لِلتَّقۡوَىٰۚ لَهُم

(3) بېشكه هغه كسان چې د الله د رسول په وړاندې خپل اوازونه ټيټوي ؛ دغه هغه كسان دي چې الله د دوی زړونه د تقوىٰ (او

مَّغۡفِرَةٞ وَأَجۡرٌ عَظِيمٌ ٣

پرهېزګارۍ) لپاره ازمايلي دي، د دوی لپاره بخښنه او ډېر لوی اجر دی

إِنَّ ٱلَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِن وَرَآءِ ٱلۡحُجُرَٰتِ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ ٤

(4) بېشکه هغه کسان چې تا ته له حجرو نه د باندې چغې وهي، د دوی اکثره عقل نه لري

وَلَوۡ أَنَّهُمۡ صَبَرُواْ حَتَّىٰ تَخۡرُجَ إِلَيۡهِمۡ لَكَانَ خَيۡرٗا لَّهُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٥

(5) او که يقينًا دوی صبر کړی وی، تر دې چې ته دوی ته راوتلی وی (نو) يقينًا دا به د دوی لپاره ډېره غوره و: او الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن جَآءَكُمۡ فَاسِقُۢ بِنَبَإٖ فَتَبَيَّنُوٓاْ أَن تُصِيبُواْ قَوۡمَۢا بِجَهَٰلَةٖ فَتُصۡبِحُواْ عَلَىٰ مَا فَعَلۡتُمۡ نَٰدِمِينَ ٦

(6) ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! که تاسو ته کوم فاسق (بدکار کس) خبر راوړي، نو تاسو ښه تحقيق کوئ، په دې چې تاسو به يو قوم ته په ناخبرۍ سره تکليف ورسوئ، بيا به تاسو په خپلو کړو باندې پښېمانه شئ

وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ فِيكُمۡ رَسُولَ ٱللَّهِۚ لَوۡ يُطِيعُكُمۡ فِي كَثِيرٖ مِّنَ ٱلۡأَمۡرِ لَعَنِتُّمۡ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ حَبَّبَ إِلَيۡكُمُ ٱلۡإِيمَٰنَ وَزَيَّنَهُۥ فِي قُلُوبِكُمۡ وَكَرَّهَ إِلَيۡكُمُ ٱلۡكُفۡرَ

(7) او تاسو پوه شئ چې يقينًا په تاسو کې د الله رسول موجود دی، که هغه په ډېرو کارونو کې ستاسو پيروي کړې وی (نو) تاسو به په مشقت کې غورځېدلي وی او لېکن الله تاسو ته ايمان محبوب وګرځاوه او هغه يې ستاسو

| | |
|---|---|
| وَٱلۡفُسُوقَ وَٱلۡعِصۡيَانَۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلرَّٰشِدُونَ ٧ | په زړونو کې ښایسته کړ او تاسو ته یې کفر او فسق او نافرماني کول ناخوښه وګرځول، هم دغه کسان په نېغه لار دي |
| فَضۡلٗا مِّنَ ٱللَّهِ وَنِعۡمَةٗۚ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ٨ | (8) د الله له جانبه د فضل او نعمت په وجه او الله ښه پوه، ښه حکمت والا دی |
| وَإِن طَآئِفَتَانِ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٱقۡتَتَلُواْ فَأَصۡلِحُواْ بَيۡنَهُمَاۖ فَإِنۢ بَغَتۡ إِحۡدَىٰهُمَا عَلَى ٱلۡأُخۡرَىٰ فَقَٰتِلُواْ ٱلَّتِي تَبۡغِي حَتَّىٰ تَفِيٓءَ إِلَىٰٓ أَمۡرِ ٱللَّهِۚ فَإِن فَآءَتۡ فَأَصۡلِحُواْ بَيۡنَهُمَا بِٱلۡعَدۡلِ وَأَقۡسِطُوٓاْۖ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُقۡسِطِينَ ٩ | (9) او که په مومنانو کې دوه ډلې په خپل مينځ کې جنګ شروع کړي، نو تاسو د دغو دواړو په مينځ کې سوله (روغه) وکړئ، نو که په دغو دواړو کې يوې په بلې باندې زياتی (او ظلم) وکړ، نو تاسو له هغې ډلې سره وجنګيږئ، چې زياتی کوي، تر دې چې هغه د الله حکم ته راوګرځي، نو که هغه (له ظلم نه) راوګرځېدله، نو تاسو د دواړو په مينځ کې په انصاف سره سوله وکړئ او تاسو انصاف کوئ، بېشکه الله انصاف کوونکي خوښوي |
| إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ إِخۡوَةٞ فَأَصۡلِحُواْ بَيۡنَ أَخَوَيۡكُمۡۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ١٠ | (10) بېشکه هم دا خبره ده چې مومنان خو سره ورونه دي، نو تاسو د خپلو دواړو ورونو په مينځ کې سوله کوئ او له الله نه ووېرېږئ، د دې لپاره چې په تاسو رحم وکړی شي |
| يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا يَسۡخَرۡ | (11) ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی |

قَوۡمٞ مِّن قَوۡمٍ عَسَىٰٓ أَن يَكُونُواْ
خَيۡرٗا مِّنۡهُمۡ وَلَا نِسَآءٞ مِّن نِّسَآءٍ
عَسَىٰٓ أَن يَكُنَّ خَيۡرٗا مِّنۡهُنَّۖ وَلَا
تَلۡمِزُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ وَلَا تَنَابَزُواْ
بِٱلۡأَلۡقَٰبِۖ بِئۡسَ ٱلِٱسۡمُ ٱلۡفُسُوقُ
بَعۡدَ ٱلۡإِيمَٰنِۚ وَمَن لَّمۡ يَتُبۡ
فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ١١

دی! هېڅ قوم دې په بل قوم پورې مسخرې نه کوي، کېدی شي چې هغوی له ده نه ډېر غوره وي، او نه (دې) ښځې په نورو ښځو پورې (مسخرې کوي)، کېدی شي چې هغوی له دوی نه ډېرې غوره وي او تاسو د خپلو ځانونو عیب جویي مه کوئ او یو بل په بدو لقبونو (او نومونو) سره مه بلئ، له ایمان راوړو نه بعد د فسق نامه بده ده او چا چې توبه ونه وېستله، نو هم دغه کسان ظالمان دي

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱجۡتَنِبُواْ
كَثِيرٗا مِّنَ ٱلظَّنِّ إِنَّ بَعۡضَ ٱلظَّنِّ
إِثۡمٞۖ وَلَا تَجَسَّسُواْ وَلَا يَغۡتَب
بَّعۡضُكُم بَعۡضًاۚ أَيُحِبُّ
أَحَدُكُمۡ أَن يَأۡكُلَ لَحۡمَ أَخِيهِ
مَيۡتٗا فَكَرِهۡتُمُوهُۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ
ٱللَّهَ تَوَّابٞ رَّحِيمٞ ١٢

(12) ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو له ډېرو (بدو) گمانونو نه ځان وساتئ، بېشکه ځینې گمانونه گناه ده او پټ عیبونه مه لټوئ او ستاسو ځینې دې د ځینو نورو غیبت نه کوي، ایا په تاسو کې یو کس دا خوښوي چې د خپل ورور غوښه وخوري، په دې حال کې چې هغه مړی وي، نو تاسو دغه (خوراك) بدگڼئ او له الله نه ووېرېږئ، بېشکه الله ښه توبه قبلوونکی، بې حده رحم کوونکی دی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن
ذَكَرٖ وَأُنثَىٰ وَجَعَلۡنَٰكُمۡ شُعُوبٗا

(13) ای خلقو! بېشکه مونږ تاسو له یوه سړي او له یوې ښځې پیدا کړي یئ او مونږ تاسو څانگې او قبیلې گرځولي یئ، د دې لپاره

وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓاْۚ إِنَّ أَكۡرَمَكُمۡ عِندَ ٱللَّهِ أَتۡقَىٰكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٞ ١٣

چې تاسو يو بل سره وپېژنئ، بېشکه د الله په نيز په تاسو کې ډېر عزتمن، ستاسو زيات پرهېزګار دی، بېشکه الله ښه پوه، ښه خبردار دی

۞قَالَتِ ٱلۡأَعۡرَابُ ءَامَنَّاۖ قُل لَّمۡ تُؤۡمِنُواْ وَلَٰكِن قُولُوٓاْ أَسۡلَمۡنَا وَلَمَّا يَدۡخُلِ ٱلۡإِيمَٰنُ فِي قُلُوبِكُمۡۖ وَإِن تُطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ لَا يَلِتۡكُم مِّنۡ أَعۡمَٰلِكُمۡ شَيۡـًٔاۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ١٤

**(14)** بانډېسيانو (صحرايي خلقو) وويل: مونږ ايمان راوړی دی، ته (دوی ته) ووايه: تاسو ايمان نه دی راوړی او لېکن تاسو ووايئ چې مونږ اسلام راوړی دی او ايمان لا تر اوسه ستاسو په زړونو کې نه دی ننوتی او که تاسو د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړئ، نو هغه (الله) به ستاسو له عملونو نه هېڅ شی کم نه کړي، بېشکه الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی

إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ثُمَّ لَمۡ يَرۡتَابُواْ وَجَٰهَدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلصَّٰدِقُونَ ١٥

**(15)** بېشکه مومنان خو هغه کسان دي چې په الله او د هغه په رسول يې ايمان راوړی دی، بيا يې شك نه دی کړی او د الله په لاره کې يې په خپلو مالونو او خپلو ځانونو سره جهاد کړی دی، هم دغه کسان رښتيني دي

قُلۡ أَتُعَلِّمُونَ ٱللَّهَ بِدِينِكُمۡ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي

**(16)** ته (دوی ته) ووايه: ايا تاسو پر خپل دين باندې الله خبروئ، حال دا چې الله پوهېږي په هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او په

ٱلۡأَرۡضِۚ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ١٦

هر هغه څه چې په ځمکه کې دي، او الله په هر شي باندې ښه پوه دی

يَمُنُّونَ عَلَيۡكَ أَنۡ أَسۡلَمُواْۖ قُل لَّا تَمُنُّواْ عَلَيَّ إِسۡلَٰمَكُمۖ بَلِ ٱللَّهُ يَمُنُّ عَلَيۡكُمۡ أَنۡ هَدَىٰكُمۡ لِلۡإِيمَٰنِ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ١٧

(17) دوی په تا د دې احسان کوي چې اسلام يې راوړی دی، ته (ورته)، ووايه: تاسو په ما باندې د خپل اسلام راوړلو احسان مه کوئ، بلکې الله پر تاسو باندې احسان کوي دا چې تاسو ته يې د ايمان راوړلو هدايت وکړ، که تاسو رښتيني يئ

إِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ غَيۡبَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ١٨

(18) بېشکه الله د اسمانونو او ځمکې په غيبو پوهېږي او الله هغه څه لره چې تاسو يې کوئ، ښه ليدونکی دی

## سُورَةُ قٓ

## سورۀ ق

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

قٓۚ وَٱلۡقُرۡءَانِ ٱلۡمَجِيدِ ١

(1) قٓ، قسم دی په قرآن مجيد باندې (چې ته يقينًا پيغمبر يې خو دوی ايمان نه راوړي)

بَلۡ عَجِبُوٓاْ أَن جَآءَهُم مُّنذِرٞ مِّنۡهُمۡ فَقَالَ ٱلۡكَٰفِرُونَ هَٰذَا

(2) بلکې دوی له دې نه تعجب کوي چې دوی ته له همدوی نه يو وېرووونکی راغی، نو

شَيۡءٌ عَجِيبٌ ٢
كافرانو وويل: دا خو يو عجيب شی دی

أَءِذَا مِتۡنَا وَكُنَّا تُرَابٗاۖ ذَٰلِكَ رَجۡعُۢ بَعِيدٞ ٣
(3) ايا كله چې مونږ مړه شو او مونږ خاورې شو (بيا به هم ژوندي كېږو؟) دغه بېرته راتلل (له عقل نه) ډېر لرې دي

قَدۡ عَلِمۡنَا مَا تَنقُصُ ٱلۡأَرۡضُ مِنۡهُمۡۖ وَعِندَنَا كِتَٰبٌ حَفِيظُۢ ٤
(4) يقيناً مونږ په هغه څه خبر يو چې ځمكه يې د دوی (له وجود) نه كموي او زمونږ سره يو ښه ياد ساتونكی كتاب دی

بَلۡ كَذَّبُواْ بِٱلۡحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمۡ فَهُمۡ فِيٓ أَمۡرٖ مَّرِيجٍ ٥
(5) بلكې دوی د حق تكذيب كړی دی كله چې دوی ته راغی، نو دوی په ګډو وډو خبرو (اضطراب اچوونكي كار) كې دي

أَفَلَمۡ يَنظُرُوٓاْ إِلَى ٱلسَّمَآءِ فَوۡقَهُمۡ كَيۡفَ بَنَيۡنَٰهَا وَزَيَّنَّٰهَا وَمَا لَهَا مِن فُرُوجٖ ٦
(6) ايا نو دوی د خپل ځان له پاسه اسمان ته نه دي كتلي چې څنګه مونږ هغه جوړ كړی دی او (څنګه) مونږ هغه ښايسته كړی دی، او په ده كې هېڅ چاودونه نشته

وَٱلۡأَرۡضَ مَدَدۡنَٰهَا وَأَلۡقَيۡنَا فِيهَا رَوَٰسِيَ وَأَنۢبَتۡنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوۡجِۭ بَهِيجٖ ٧
(7) او ځمكې لره، مونږ هغه غوړولې ده او په دې كې مو پاخه غرونه غورځولي دي او مونږ په دې كې له هر قسمه ښكلې زرغونې نه زرغون كړې دي

تَبۡصِرَةٗ وَذِكۡرَىٰ لِكُلِّ عَبۡدٖ
(8) د هر رجوع كوونكي بنده د لارښوونې او

| | |
|---|---|
| مُّنِيبٍ ﴿٨﴾ | نصيحت لپاره |
| وَنَزَّلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ مُّبَٰرَكٗا فَأَنۢبَتۡنَا بِهِۦ جَنَّٰتٖ وَحَبَّ ٱلۡحَصِيدِ ﴿٩﴾ | (9) او مونږ له بره نه ډېرې برکتي اوبه نازلې کړې دي، نو په دغو (اوبو) سره مونږ باغونه او د فصل دانې رازرغونې کړې |
| وَٱلنَّخۡلَ بَاسِقَٰتٖ لَّهَا طَلۡعٞ نَّضِيدٞ ﴿١٠﴾ | (10) او د کجورو ونې، چې اوږدې لوړې دي، په دې حال کې چې هغو لره لاندې باندې وږي دي |
| رِّزۡقٗا لِّلۡعِبَادِۖ وَأَحۡيَيۡنَا بِهِۦ بَلۡدَةٗ مَّيۡتٗاۚ كَذَٰلِكَ ٱلۡخُرُوجُ ﴿١١﴾ | (11) د بنده ګانو د روزۍ لپاره او مونږ په دغو (اوبو) سره مړ ښار ژوندی کړی دی، همداسې (له قبرونو نه د مړیو) راوتل دي |
| كَذَّبَتۡ قَبۡلَهُمۡ قَوۡمُ نُوحٖ وَأَصۡحَٰبُ ٱلرَّسِّ وَثَمُودُ ﴿١٢﴾ | (12) له دوی نه مخکې د نوح قوم او د کوهي والاو او ثمودیانو تکذیب کړی دی |
| وَعَادٞ وَفِرۡعَوۡنُ وَإِخۡوَٰنُ لُوطٖ ﴿١٣﴾ | (13) او عادیانو او فرعون او د لوط ورونو |
| وَأَصۡحَٰبُ ٱلۡأَيۡكَةِ وَقَوۡمُ تُبَّعٖۚ كُلّٞ كَذَّبَ ٱلرُّسُلَ فَحَقَّ وَعِيدِ ﴿١٤﴾ | (14) او د ځنګله والاو او د تبع قوم (د دوی) هر یو د رسولانو تکذیب کړی و، نو زما عذاب (پرې) ثابت شو |
| أَفَعَيِينَا بِٱلۡخَلۡقِ ٱلۡأَوَّلِۚ بَلۡ هُمۡ فِي لَبۡسٖ مِّنۡ خَلۡقٖ جَدِيدٖ ﴿١٥﴾ | (15) ایا نو مونږ په اول پیدا کولو باندې ستړي شوي یو، بلکې دوی له نوي پیدا کولو نه په |

شك كې دي

وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ وَنَعۡلَمُ مَا تُوَسۡوِسُ بِهِۦ نَفۡسُهُۥۖ وَنَحۡنُ أَقۡرَبُ إِلَيۡهِ مِنۡ حَبۡلِ ٱلۡوَرِيدِ ١٦

(16) او یقینًا یقینًا مونږه دا انسان پیدا کړی دی، په داسې حال کې چې مونږ په هغه څه پوهیږو چې د ده نفس په هغه سره وسوسه (او خطره) کوي او مونږ ده ته (د ده) د ورمیږ له رګ نه زیات نږدې یو

إِذۡ يَتَلَقَّى ٱلۡمُتَلَقِّيَانِ عَنِ ٱلۡيَمِينِ وَعَنِ ٱلشِّمَالِ قَعِيدٌ ١٧

(17) (یاد کړه) هغه وخت چې دوه اخیستونکي اخلي، چې یو له ښي اړخ نه او (بل) له چپ اړخ نه ناست وي

مَّا يَلۡفِظُ مِن قَوۡلٍ إِلَّا لَدَيۡهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ ١٨

(18) (دغه بنده) هېڅ خبره نه کوي مګر له ده سره حاضر ساتونكى دى

وَجَآءَتۡ سَكۡرَةُ ٱلۡمَوۡتِ بِٱلۡحَقِّۖ ذَٰلِكَ مَا كُنتَ مِنۡهُ تَحِيدُ ١٩

(19) او د مرګ بې خودۍ (سختۍ) حق راوړ، دغه (مرګ) هغه دى چې تا به له ده نه ځنګ کاوه

وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِۚ ذَٰلِكَ يَوۡمُ ٱلۡوَعِيدِ ٢٠

(20) او په شپېلۍ کې به پوكى وكړى شي دغه د وعید (ویرولو) ورځ ده

وَجَآءَتۡ كُلُّ نَفۡسٍ مَّعَهَا سَآئِقٞ وَشَهِيدٞ ٢١

(21) او هر نفس به راځي، په داسې حال کې چې له ده سره به یو شړونکى او یوګواه وي

لَّقَدۡ كُنتَ فِي غَفۡلَةٖ مِّنۡ هَٰذَا فَكَشَفۡنَا عَنكَ غِطَآءَكَ فَبَصَرُكَ ٱلۡيَوۡمَ حَدِيدٞ ﴿٢٢﴾

(22) یقینًا یقینًا ته له دې (ورځې) نه په غفلت کې وې، نو مونږ له تا نه ستا پرده لرې کړه، نو ستا نظر نن ورځ ډېر تېز دی

وَقَالَ قَرِينُهُۥ هَٰذَا مَا لَدَيَّ عَتِيدٌ ﴿٢٣﴾

(23) او د ده ملګری (مَلَك) به ووايي: دا دی هغه شی چې زما سره حاضر دی

أَلۡقِيَا فِي جَهَنَّمَ كُلَّ كَفَّارٍ عَنِيدٖ ﴿٢٤﴾

(24) (دواړو ملايكو ته به وويل شي:) هر ډېر عناد كوونكى كافر په دوزخ كې وغورځوئ

مَّنَّاعٖ لِّلۡخَيۡرِ مُعۡتَدٖ مُّرِيبٍ ﴿٢٥﴾

(25) چې د خير منع كوونكى، زياتي كوونكى، (او) شك كوونكى دى

ٱلَّذِي جَعَلَ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَأَلۡقِيَاهُ فِي ٱلۡعَذَابِ ٱلشَّدِيدِ ﴿٢٦﴾

(26) هغه چې له الله سره يې بل معبود مقرر كړى دى، نو تاسو دا په ډېر سخت عذاب كې وغورځوئ

۞قَالَ قَرِينُهُۥ رَبَّنَا مَآ أَطۡغَيۡتُهُۥ وَلَٰكِن كَانَ فِي ضَلَٰلِۭ بَعِيدٖ ﴿٢٧﴾

(27) د ده ملګرى (شيطان) به ووايي: اى زمونږ ربه! دا ما نه دى ګمراه كړى او لېكن دا پخپله په ډېرې لرې ګمراهۍ كې و

قَالَ لَا تَخۡتَصِمُواْ لَدَيَّ وَقَدۡ قَدَّمۡتُ إِلَيۡكُم بِٱلۡوَعِيدِ ﴿٢٨﴾

(28) (الله به) ووايي: تاسو زما په وړاندې جګړه سره مه كوئ او يقينًا ما تاسو ته وعيد (وېرول) مخكې درلېږلى و

مَا يُبَدَّلُ ٱلْقَوْلُ لَدَيَّ وَمَآ أَنَا۠ بِظَلَّٰمٍ لِّلْعَبِيدِ ﴿٢٩﴾

(29) زما په نيز (په دې باره کې) خبره نشي بدلېدی او زه په بنده ګانو هېڅرې ظلم کوونکی نه یم

يَوْمَ نَقُولُ لِجَهَنَّمَ هَلِ ٱمْتَلَأْتِ وَتَقُولُ هَلْ مِن مَّزِيدٍ ﴿٣٠﴾

(30) (یاده کړه) هغه ورځ چې مونږ به جهنم ته ووایو: ایا ته ډك شوې؟ او هغه به وایي: ایا نور هم زیاتي شته؟

وَأُزْلِفَتِ ٱلْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ غَيْرَ بَعِيدٍ ﴿٣١﴾

(31) او پرهېزګارو ته به جنت ښه رانږدې کړې شي، چې لرې به نه وي

هَٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِكُلِّ أَوَّابٍ حَفِيظٍ ﴿٣٢﴾

(32) دا هغه دي چې له تاسو سره به يې وعده کولی شوه، د هر ډېر رجوع کوونکي، د (حدودو) ساتونکي لپاره

مَّنْ خَشِيَ ٱلرَّحْمَٰنَ بِٱلْغَيْبِ وَجَآءَ بِقَلْبٍ مُّنِيبٍ ﴿٣٣﴾

(33) د هغه چا لپاره چې له رحمان نه په ناليدلو وېرېږي او په رجوع کوونکي زړه سره راشي

ٱدْخُلُوهَا بِسَلَٰمٍ ذَٰلِكَ يَوْمُ ٱلْخُلُودِ ﴿٣٤﴾

(34) (دوی ته به وویل شي:) تاسو دغه (جنت) ته په سلامتۍ سره ننوځئ، دا د همېشه والي ورځ ده

لَهُم مَّا يَشَآءُونَ فِيهَا وَلَدَيْنَا

(35) د دوی لپاره په دغه (جنت) کې هغه څه دي چې دوی يې غواړي او زمونږ سره نور

مَزِيدٌ ﴿٣٥﴾

زيات هم شته

وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ هُمْ أَشَدُّ مِنْهُم بَطْشًا فَنَقَّبُوا فِي الْبِلَادِ هَلْ مِن مَّحِيصٍ ﴿٣٦﴾

(36) او له دوی نه مخکې مونږ څومره پېړۍ هلاکې کړې دي، چې هغوی له دوی نه په قوت (او نيوكه) کې ډېر سخت (او قوي) وو، نو هغوی په ښارونو کې وګرځېدل چې ايا د تېښتې (او پناه) ځای شته؟

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِمَن كَانَ لَهُ قَلْبٌ أَوْ أَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ ﴿٣٧﴾

(37) بېشکه په دغو (کارونو) کې خامخا پند دی، هغه چا ته چې هغه لره زړه وي، يا (نصيحت ته) غوږ کېږدي، په داسې حال کې چې حاضر (او متوجه) وي

وَلَقَدْ خَلَقْنَا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ وَمَا مَسَّنَا مِن لُّغُوبٍ ﴿٣٨﴾

(38) او يقيناً يقيناً مونږ اسمانونه او ځمكه او هغه څه چې د دواړو په مینځ کې دي، په شپږو ورځو کې پيدا کړي دي، او مونږ ته هېڅ ستومانې نه ده رارسېدلې

فَاصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوبِ ﴿٣٩﴾

(39) نو ته په هغو خبرو صبر كوه چې دوی يې وايي او د خپل رب له ستاينې سره تسبيح وايه له لمر ختلو نه مخکې او له لمر ډوبېدلو نه مخکې

وَمِنَ اللَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَأَدْبَارَ

(40) او د شپې په څه حصه کې، پس د هغه تسبيح وايه او (د لمانځه) له سجدو نه وروسته

| | |
|---|---|
| ٱلسُّجُودِ ﴿٤٠﴾ | هم تسبيح وايه |
| وَٱسۡتَمِعۡ يَوۡمَ يُنَادِ ٱلۡمُنَادِ مِن مَّكَانٖ قَرِيبٖ ﴿٤١﴾ | (41) او ته په هغې ورځ غوږ کېږده چې اواز کوونکی به له نژدې ځای نه اواز وکړي |
| يَوۡمَ يَسۡمَعُونَ ٱلصَّيۡحَةَ بِٱلۡحَقِّۚ ذَٰلِكَ يَوۡمُ ٱلۡخُرُوجِ ﴿٤٢﴾ | (42) په هغې ورځ چې دوی به په حقه سره سخته چغه اوري، دغه د (له قبرونو نه د) راوتلو ورځ ده |
| إِنَّا نَحۡنُ نُحۡيِۦ وَنُمِيتُ وَإِلَيۡنَا ٱلۡمَصِيرُ ﴿٤٣﴾ | (43) بېشکه هم دا مونږ ژوندي کول کوو او مړه کول کوو او خاص مونږ ته بېرته راګرځېدل دي |
| يَوۡمَ تَشَقَّقُ ٱلۡأَرۡضُ عَنۡهُمۡ سِرَاعٗاۚ ذَٰلِكَ حَشۡرٌ عَلَيۡنَا يَسِيرٞ ﴿٤٤﴾ | (44) په هغه ورځ چې له دوی څخه به ځمکه وچوي، په داسې حال کې چې دوی به تلوار کوونکي وي، دغه راژوندي کول مونږ ته ډېر اسان دي |
| نَّحۡنُ أَعۡلَمُ بِمَا يَقُولُونَۖ وَمَآ أَنتَ عَلَيۡهِم بِجَبَّارٖۖ فَذَكِّرۡ بِٱلۡقُرۡءَانِ مَن يَخَافُ وَعِيدِ ﴿٤٥﴾ | (45) مونږ ښه پوه یو په هغو خبرو چې دوی يې وايي، او ته په دوی باندې هېڅ زور کوونکی نه يې، نو ته په قرآن سره هغه چا ته پند ورکړه چې زما له وعيد (او عذاب) نه وېرېږي |

## سُورَةُ الذَّارِيَاتِ

## سورة ذاريات

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى**

وَٱلذَّٰرِيَٰتِ ذَرۡوٗا ١

(1) قسم دى په الوځوونكو بادونو، الوځول

فَٱلۡحَٰمِلَٰتِ وِقۡرٗا ٢

(2) بيا د (اوبو د) بار په اوچتوونكو وريځو (قسم دى)

فَٱلۡجَٰرِيَٰتِ يُسۡرٗا ٣

(3) بيا په اسانى سره تلونكو كشتيو (قسم دى)

فَٱلۡمُقَسِّمَٰتِ أَمۡرًا ٤

(4) بيا د كار په تقسيموونكو ملايكو(قسم دى)

إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَصَادِقٞ ٥

(5) چې بېشكه هغه څه چې له تاسو سره يې وعده كولى شي يقينًا رښتيني (وعده) ده

وَإِنَّ ٱلدِّينَ لَوَٰقِعٞ ٦

(6) او بېشكه (د عمل) بدله خامخا واقع كېدونكې ده

وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلۡحُبُكِ ٧

(7) قسم دى په اسمان چې د لارو والا دى

إِنَّكُمۡ لَفِي قَوۡلٖ مُّخۡتَلِفٖ ٨

(8) چې بېشكه تاسو يقينًا په ګډه وډه

(مختلفه) خبره کې يئ

يُؤْفَكُ عَنْهُ مَنْ أُفِكَ ۝٩

(9) ګرځولی شي له دغه (قرآن، نبي) نه هغه څوك چې (د الله په علم کې مخکې) ګرځول شوی دی

قُتِلَ ٱلْخَرَّٰصُونَ ۝١٠

(10) اټکل کوونکي دي هلاك کړی شي

ٱلَّذِينَ هُمْ فِى غَمْرَةٍ سَاهُونَ ۝١١

(11) هغه کسان چې دوی په ډېر غفلت کې دي، هېروونکي دي

يَسْـَٔلُونَ أَيَّانَ يَوْمُ ٱلدِّينِ ۝١٢

(12) دوی پوښتنه کوي چې د بدلې ورځ به کله وي؟

يَوْمَ هُمْ عَلَى ٱلنَّارِ يُفْتَنُونَ ۝١٣

(13) په هغې ورځ کې چې دوی به په اور سره په عذاب کولی شي

ذُوقُوا۟ فِتْنَتَكُمْ هَٰذَا ٱلَّذِى كُنتُم بِهِۦ تَسْتَعْجِلُونَ ۝١٤

(14) (وبه ويل شي!) تاسو خپل عذاب وڅکئ، دا هغه (عذاب) دی چې تاسو به ادا جلت غوښته

إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِى جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ۝١٥

(15) بېشکه متقيان (پرهيزګاران) به په جنتونو او چينو کې وي

ءَاخِذِينَ مَآ ءَاتَىٰهُمْ رَبُّهُمْ ۚ إِنَّهُمْ

(16) په داسې حال کې چې هغه څه لره به نيوونکي وي چې دوی ته يې د دوی رب

كَانُواْ قَبۡلَ ذَٰلِكَ مُحۡسِنِينَ ١٦

ورکوي، بېشکه دوی له دې نه مخکې نېکي کوونکي وو

كَانُواْ قَلِيلٗا مِّنَ ٱلَّيۡلِ مَا يَهۡجَعُونَ ١٧

(17) دوی به د شپې په لږه برخه کې ویده کېدل

وَبِٱلۡأَسۡحَارِ هُمۡ يَسۡتَغۡفِرُونَ ١٨

(18) او په چرګ بانګونو کې به دوی استغفار کاوه

وَفِيٓ أَمۡوَٰلِهِمۡ حَقّٞ لِّلسَّآئِلِ وَٱلۡمَحۡرُومِ ١٩

(19) او د دوی په مالونو کې به د سوالګري او د محروم (مسکین) حق و

وَفِي ٱلۡأَرۡضِ ءَايَٰتٞ لِّلۡمُوقِنِينَ ٢٠

(20) او په ځمکه کې د یقین کوونکو لپاره ډېري نښې دي

وَفِيٓ أَنفُسِكُمۡۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ ٢١

(21) او ستاسو په ځانونو کې هم، ایا نو تاسو نه وینئ

وَفِي ٱلسَّمَآءِ رِزۡقُكُمۡ وَمَا تُوعَدُونَ ٢٢

(22) او په اسمان کې ستاسو روزي ده او هغه څه چې تاسو سره یې وعده کولی شي

فَوَرَبِّ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ إِنَّهُۥ لَحَقّٞ مِّثۡلَ مَآ أَنَّكُمۡ تَنطِقُونَ ٢٣

(23) نو د اسمان او ځمکې په رب مې قسم دی چې بېشکه دا (خبره) یقیناً حق ده، چې د هغې په شان ده چې تاسو خبري کوئ

هَلۡ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ضَيۡفِ

(24) ایا تا ته د ابراهیم د عزتمنو مېلمنو خبر

إِبْرَٰهِيمَ ٱلْمُكْرَمِينَ ﴿٢٤﴾ — رارسېدلی دی

إِذْ دَخَلُوا۟ عَلَيْهِ فَقَالُوا۟ سَلَٰمًا ۖ قَالَ سَلَٰمٌ قَوْمٌ مُّنكَرُونَ ﴿٢٥﴾ — (25) کله چې دوی په ده ورننوتل، نو ویې ویل:(مونږ په تا سلام اچوو) سلام اچول، ده وویل: (په تاسو دې) سلام (وي او په زړه کې یې تېر شول چې دا) نا اشنا خلق دي

فَرَاغَ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦ فَجَآءَ بِعِجْلٍ سَمِينٍ ﴿٢٦﴾ — (26) نو په تېزی سره خپلې ښځې ته لاړ، پس یو (وریت کړی) چاغ سخی یې راوړ

فَقَرَّبَهُۥٓ إِلَيْهِمْ قَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ ﴿٢٧﴾ — (27) نو دغه یې دوی ته ورنژدې کړ، ویې ویل:تاسو ولې نه خورئ!

فَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً ۖ قَالُوا۟ لَا تَخَفْ ۖ وَبَشَّرُوهُ بِغُلَٰمٍ عَلِيمٍ ﴿٢٨﴾ — (28) نو له دوی نه یې په زړه کې وېره موندله، دوی وویل: ته مه وېرېږه او دوی ته یې د ډېر پوه هلك زېری ورکړ

فَأَقْبَلَتِ ٱمْرَأَتُهُۥ فِى صَرَّةٍ فَصَكَّتْ وَجْهَهَا وَقَالَتْ عَجُوزٌ عَقِيمٌ ﴿٢٩﴾ — (29) نو د ده ښځې په چغې کولو سره مخ ورواړوه، پس خپل مخ یې وواهه او ویې ویل:(زه) زړه شنډه بوډۍ (یم)

قَالُوا۟ كَذَٰلِكِ قَالَ رَبُّكِ ۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْحَكِيمُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٣٠﴾ — (30) دوی وویل: همداسې ستا رب ویلي دي، بېشکه هم هغه ښه حکمت والا، ښه پوه دی

۞ قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ أَيُّهَا — (31) ده وویل: نو ستاسو څه کار (او مقصد)

| | |
|---|---|
| ٱلۡمُرۡسَلُونَ ﴿٣١﴾ | دی ای رالېږل شویو (ملایکو)؟ |
| قَالُوٓاْ إِنَّآ أُرۡسِلۡنَآ إِلَىٰ قَوۡمٖ مُّجۡرِمِينَ ﴿٣٢﴾ | (32) دوی وویل: بېشکه مونږ د یو مجرم قوم په طرف رالېږل شوي یو |
| لِنُرۡسِلَ عَلَيۡهِمۡ حِجَارَةٗ مِّن طِينٖ ﴿٣٣﴾ | (33) د دې لپاره چې مونږ په دوی باندې د خټو کاڼي راوورو |
| مُّسَوَّمَةً عِندَ رَبِّكَ لِلۡمُسۡرِفِينَ ﴿٣٤﴾ | (34) چې ستا د رب په نیز له حده وتونکو لپاره نشان داره کړی شوي دي |
| فَأَخۡرَجۡنَا مَن كَانَ فِيهَا مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٣٥﴾ | (35) نو مونږ هغه څوك راووېستل چې په دغه (کلي) کې له مومنانو څخه وو |
| فَمَا وَجَدۡنَا فِيهَا غَيۡرَ بَيۡتٖ مِّنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ﴿٣٦﴾ | (36) پس مونږ په دغه (کلي) کې د مسلمانانو له یو کور نه غیر ونه مونده |
| وَتَرَكۡنَا فِيهَآ ءَايَةٗ لِّلَّذِينَ يَخَافُونَ ٱلۡعَذَابَ ٱلۡأَلِيمَ ﴿٣٧﴾ | (37) او مونږ په دغه (کلي) کې د هغو کسانو لپاره یوه لویه نښه پرېښوده چې د ډېر دردوونکي عذاب نه وېرېږي |
| وَفِي مُوسَىٰٓ إِذۡ أَرۡسَلۡنَٰهُ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ بِسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٖ ﴿٣٨﴾ | (38) او په (قصه د) موسٰی کې، کله چې مونږ هغه فرعون ته په ښکاره دلیل سره ولېږه |
| فَتَوَلَّىٰ بِرُكۡنِهِۦ وَقَالَ سَٰحِرٌ أَوۡ | (39) نو هغه (فرعون) د خپل قوت (اولښکر) |

مَجۡنُونٞ ٣٩

سره مخ واړوه او ويې ويل:(دا موسیٰ) کوډګر (جادوګر) دی، يا لېونی دی

فَأَخَذۡنَٰهُ وَجُنُودَهُۥ فَنَبَذۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡيَمِّ وَهُوَ مُلِيمٞ ٤٠

(40) نو مونږ هغه او د هغه لښکرې راونيولې، نو مونږه دوی ټول په درياب کې وغورځول، په داسې حال کې چې هغه د ملامتی کار کوونکی و

وَفِي عَادٍ إِذۡ أَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمُ ٱلرِّيحَ ٱلۡعَقِيمَ ٤١

(41) او په عاديانو کې، کله چې مونږ په دوی باندې (له خير نه) شنډ باد راخوشې کړ

مَا تَذَرُ مِن شَيۡءٍ أَتَتۡ عَلَيۡهِ إِلَّا جَعَلَتۡهُ كَٱلرَّمِيمِ ٤٢

(42) دە به هېڅ داسې شی نه پرېښوده چې دا به پرې راغلی و مګر خو هغه به يې وچ زوړ رژېدلې واښه (يا هډوکي) وګرځاوه

وَفِي ثَمُودَ إِذۡ قِيلَ لَهُمۡ تَمَتَّعُواْ حَتَّىٰ حِينٖ ٤٣

(43) او په ثموديانو کې، کله چې دوی ته وويل شو چې تاسو تر يو وخته پورې نفع واخلئ

فَعَتَوۡاْ عَنۡ أَمۡرِ رَبِّهِمۡ فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ وَهُمۡ يَنظُرُونَ ٤٤

(44) نو دوی د خپل رب له حکم نه سرکشي وکړه، نو دوی (د) تندر (عذاب) ونيول، په دې حال کې چې دوی کتل

فَمَا ٱسۡتَطَٰعُواْ مِن قِيَامٖ وَمَا كَانُواْ مُنتَصِرِينَ ٤٥

(45) بيا نه دوی د ودرېدلو طاقت لاره او نه دوی بدل اخيستونکي وو

| | |
|---|---|
| وَقَوۡمَ نُوحٖ مِّن قَبۡلُۖ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَوۡمٗا فَٰسِقِينَ ﴿٤٦﴾ | (46) او له دوی نه مخکې د نوح قوم لره (مونږ هلاك كړی و) بېشكه هغوی يو فاسق قوم و |
| وَٱلسَّمَآءَ بَنَيۡنَٰهَا بِأَيۡيْدٖ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ ﴿٤٧﴾ | (47) او اسمان مونږ هغه په قوت سره جوړ كړی دی او بېشكه مونږ خامخا پراخوونكي/ پراخه قدرت لرونكي يو |
| وَٱلۡأَرۡضَ فَرَشۡنَٰهَا فَنِعۡمَ ٱلۡمَٰهِدُونَ ﴿٤٨﴾ | (48) او ځمكه، مونږ هغه غوړولې ده، نو (مونږ) ښه غوړوونكي يو |
| وَمِن كُلِّ شَيۡءٍ خَلَقۡنَا زَوۡجَيۡنِ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ﴿٤٩﴾ | (49) او له هر څيز څخه مونږ دوه قسمه جوړې (نر او ښځه) پيدا كړي دي، د دې لپاره چې تاسو پند واخلئ |
| فَفِرُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِۖ إِنِّي لَكُم مِّنۡهُ نَذِيرٞ مُّبِينٞ ﴿٥٠﴾ | (50) نو تاسو الله ته وتښتئ، بېشكه زه تاسو لپاره د هغه له جانبه ښكاره وېروونكی يم |
| وَلَا تَجۡعَلُواْ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَۖ إِنِّي لَكُم مِّنۡهُ نَذِيرٞ مُّبِينٞ ﴿٥١﴾ | (51) او تاسو له الله سره بل معبود مه شريكوئ، بېشكه زه تاسو لپاره د هغه له جانبه ښكاره وېروونكی يم |
| كَذَٰلِكَ مَآ أَتَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا قَالُواْ سَاحِرٌ أَوۡ مَجۡنُونٌ ﴿٥٢﴾ | (52) همداسې، هغو كسانو ته چې له دوی نه مخكې وو، هېڅ يو رسول نه و راغلی مگر دوی به ويل: (دا) جادوگر دی، يا لېونی دی |

أَتَوَاصَوۡاْ بِهِۦۚ بَلۡ هُمۡ قَوۡمٞ طَاغُونَ ٥٣

(53) ايا دوی په دې (خبرې) سره يو بل ته وصيت کړی دی، بلکې دوی سرکشه قوم دی

فَتَوَلَّ عَنۡهُمۡ فَمَآ أَنتَ بِمَلُومٖ ٥٤

(54) نو ته له دوی نه مخ واړوه، پس ته هېڅ ملامت کړی شوی نه يې

وَذَكِّرۡ فَإِنَّ ٱلذِّكۡرَىٰ تَنفَعُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٥٥

(55) او ته نصيحت کوه، پس بېشکه نصيحت کول مومنانو ته نفع رسوي

وَمَا خَلَقۡتُ ٱلۡجِنَّ وَٱلۡإِنسَ إِلَّا لِيَعۡبُدُونِ ٥٦

(56) او ما پېريان او انسانان نه دي پيدا کړي مګر د دې لپاره چې دوی زما عبادت وکړي

مَآ أُرِيدُ مِنۡهُم مِّن رِّزۡقٖ وَمَآ أُرِيدُ أَن يُطۡعِمُونِ ٥٧

(57) زه له دوی نه هېڅ رزق نه غواړم او نه ادا غواړم چې دوی ما ته خوراك راکړي

إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلرَّزَّاقُ ذُو ٱلۡقُوَّةِ ٱلۡمَتِينُ ٥٨

(58) بېشکه هم دغه الله ښه روزي ورکوونکی، قوت والا، (او) ډېر مضبوط دی

فَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُواْ ذَنُوبٗا مِّثۡلَ ذَنُوبِ أَصۡحَٰبِهِمۡ فَلَا يَسۡتَعۡجِلُونِ ٥٩

(59) د هغو کسانو لپاره چې ظلم يې کړی دی، يقينًا د دوی د ملګرو (د عذاب) د حصې په شان حصه ده، نو دوی دې په ما تلوار نه کوي

فَوَيۡلٞ لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن يَوۡمِهِمُ

(60) پس د کافران شويو خلقو لپاره هلاکت

ٱلَّذِي يُوعَدُونَ ﴿٦٠﴾

دی، د دوی له هغې ورځې نه چې دوی سره يې وعده کولی شي

## سُورَةُ الطُّورِ

## سورۀ طور

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

وَٱلطُّورِ ﴿١﴾

(1) قسم دی په طور غر

وَكِتَٰبٖ مَّسۡطُورٖ ﴿٢﴾

(2) او په کتاب ليکل شوي

فِي رَقّٖ مَّنشُورٖ ﴿٣﴾

(3) په پرانستل شوي پاڼه کې

وَٱلۡبَيۡتِ ٱلۡمَعۡمُورِ ﴿٤﴾

(4) او (قسم دی) په ودان کړی شوي کور

وَٱلسَّقۡفِ ٱلۡمَرۡفُوعِ ﴿٥﴾

(5) او په پورته کړی شوي چت (چې اسمان دی)

وَٱلۡبَحۡرِ ٱلۡمَسۡجُورِ ﴿٦﴾

(6) او په ډک (يا بل) کړی شوي سمندر

إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَٰقِعٞ ﴿٧﴾

(7) بېشکه ستا د رب عذاب خامخا نازلېدونکی دی

مَّا لَهُۥ مِن دَافِعٖ ﴿٨﴾

(8) هغه لره هيڅ دفع کوونکی نشته

يَوۡمَ تَمُورُ ٱلسَّمَآءُ مَوۡرٗا ٩

(9) هغه ورځ چې اسمان به خوځېږي، سخت خوځېدل

وَتَسِيرُ ٱلۡجِبَالُ سَيۡرٗا ١٠

(10) او غرونه به روان شي، سخت روانېدل

فَوَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ١١

(11) پس په دغې ورځ کې د تکذيب کوونکو لپاره هلاکت دی

ٱلَّذِينَ هُمۡ فِي خَوۡضٖ يَلۡعَبُونَ ١٢

(12) هغه کسان چې دوی په بېکاره خبرو (جوړولو) کې لوبې کوي

يَوۡمَ يُدَعُّونَ إِلَىٰ نَارِ جَهَنَّمَ
دَعًّا ١٣

(13) هغه ورځ چې دوی به د دوزخ اور ته ټېل وهلی شي، سخت ټېل وهل

هَٰذِهِ ٱلنَّارُ ٱلَّتِي كُنتُم بِهَا
تُكَذِّبُونَ ١٤

(14) دا هغه اور دی چې تاسو به دا دروغ گاڼه

أَفَسِحۡرٌ هَٰذَآ أَمۡ أَنتُمۡ لَا
تُبۡصِرُونَ ١٥

(15) ايا نو دا سحر(جادو) دی، يا يې تاسو نه وينئ

ٱصۡلَوۡهَا فَٱصۡبِرُوٓاْ أَوۡ لَا تَصۡبِرُواْ
سَوَآءٌ عَلَيۡكُمۡۖ إِنَّمَا تُجۡزَوۡنَ مَا
كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ١٦

(16) ورځئ، ده ته ننوځئ، پس تاسو صبر وکړئ، يا صبر مه کوئ، پر تاسو باندې دغه (دواړه کارونه) برابر دي، بېشکه همدا خبره ده چې تاسو ته د هغو عملونو بدله درکولی شي چې تاسو به کول

إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٖ وَنَعِيمٖ ١٧

(17) بېشكه پرهېزګاران به په جنتونو او نعمتونو کې وي

فَٰكِهِينَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمۡ رَبُّهُمۡ وَوَقَىٰهُمۡ رَبُّهُمۡ عَذَابَ ٱلۡجَحِيمِ ١٨

(18) چې په هغو (نعمتونو) به خوشالېدونکي وي چې دوی ته خپل رب ورکړي دي او خپل رب دوی د دوزخ له عذاب نه بچ ساتلي دي

كُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ هَنِيٓـَٔۢا بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ١٩

(19) (ورته ویلی به شي:) تاسو خورئ او څښئ په خوند سره، د هغو عملونو په بدل کې چې تاسو به کول

مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ سُرُرٖ مَّصۡفُوفَةٖۖ وَزَوَّجۡنَٰهُم بِحُورٍ عِينٖ ٢٠

(20) په دې حال کې چې په قطار ایښودل شویو تختونو باندې به تکیه کوونکي وي او مونږ به د دوی نکاح د ښایسته غټ سترګو سپینو سرو حورو سره وکړو

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَٱتَّبَعَتۡهُمۡ ذُرِّيَّتُهُم بِإِيمَٰنٍ أَلۡحَقۡنَا بِهِمۡ ذُرِّيَّتَهُمۡ وَمَآ أَلَتۡنَٰهُم مِّنۡ عَمَلِهِم مِّن شَيۡءٖۚ كُلُّ ٱمۡرِيٕۭ بِمَا كَسَبَ رَهِينٞ ٢١

(21) او هغه کسان چې ایمان يې راوړی دی او د دوی اولاد (هم) په ایمان کې د دوی متابعت کړی وي، (نو) مونږ به په دوی پورې د دوی اولاد هم پیوست کړو او مونږ به دوی ته د دوی له عملونو نه هېڅ شی کم نه کړو، هر سړی به د خپلو کړو په بدل ګرو (ګانه) وي

وَأَمۡدَدۡنَٰهُم بِفَٰكِهَةٖ وَلَحۡمٖ مِّمَّا

(22) او مونږ به دوی ته ور زیاتې کړو ، نورې مېوې او هغه غوښې چې د دوی زړه يې

يَشْتَهُونَ ﴿٢٢﴾ | غواړي

يَتَنَٰزَعُونَ فِيهَا كَأۡسٗا لَّا لَغۡوٞ فِيهَا وَلَا تَأۡثِيمٞ ﴿٢٣﴾

(23) دوی به په دغه(جنت) کې یو له بله (د شرابو) پیالې راکاږي، نه به په دغو کې عبثې خبرې وي او نه گناهگار کول

۞وَيَطُوفُ عَلَيۡهِمۡ غِلۡمَانٞ لَّهُمۡ كَأَنَّهُمۡ لُؤۡلُؤٞ مَّكۡنُونٞ ﴿٢٤﴾

(24) او د دوی چاپېره به د دوی غلامان گرځي، گویا کې دغه (غلامان) پټې ساتل شوې ملغلرې دي

وَأَقۡبَلَ بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ يَتَسَآءَلُونَ ﴿٢٥﴾

(25) او د دوی ځینې به ځینو نورو ته مخ راواړوي، چې یو له بله به پوښتنې کوي

قَالُوٓاْ إِنَّا كُنَّا قَبۡلُ فِيٓ أَهۡلِنَا مُشۡفِقِينَ ﴿٢٦﴾

(26) دوی به ووايي چې بېشکه مونږ له دې نه مخکې په خپل اهل کې وېرېدونکي وو

فَمَنَّ ٱللَّهُ عَلَيۡنَا وَوَقَىٰنَا عَذَابَ ٱلسَّمُومِ ﴿٢٧﴾

(27) نو الله پر مونږ احسان وکړ او مونږ يې د تودوخې (گرمباد) له عذاب نه وساتلو

إِنَّا كُنَّا مِن قَبۡلُ نَدۡعُوهُۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡبَرُّ ٱلرَّحِيمُ ﴿٢٨﴾

(28) بېشکه مونږ له دې نه مخکې هم دغه (الله) باله، بېشکه هم دی ډېر احسان کوونکی ، بې حده رحم کوونکی دی

فَذَكِّرۡ فَمَآ أَنتَ بِنِعۡمَتِ رَبِّكَ بِكَاهِنٖ وَلَا مَجۡنُونٍ ﴿٢٩﴾

(29) نو ته (خلقو ته) نصیحت کوه، پس ته د خپل رب په نعمت سره نه کاهن يې او نه

لېوني

أَمۡ يَقُولُونَ شَاعِرٞ نَّتَرَبَّصُ بِهِۦ رَيۡبَ ٱلۡمَنُونِ ٣٠

(30) ايا دوی وايي چې (دی) شاعر دی، مونږ د ده په حق کې د زماني د حوادثو انتظار کوو

قُلۡ تَرَبَّصُواْ فَإِنِّي مَعَكُم مِّنَ ٱلۡمُتَرَبِّصِينَ ٣١

(31) ته (دوی ته) ووايه: تاسو انتظار کوئ، پس بېشکه زه له تاسو سره له انتظار کوونکو څخه يم

أَمۡ تَأۡمُرُهُمۡ أَحۡلَٰمُهُم بِهَٰذَآۚ أَمۡ هُمۡ قَوۡمٞ طَاغُونَ ٣٢

(32) ايا دوی ته د دوی عقلونه په دې (کار) حکم کوي، يا دوی سرکشه (شرخوښونکی) قوم دی

أَمۡ يَقُولُونَ تَقَوَّلَهُۥۚ بَل لَّا يُؤۡمِنُونَ ٣٣

(33) ايا دوی وايي چې دا (قرآن) ده له ځانه جوړ کړی دی (داسې نه ده) بلکې دوی ايمان نه راوړي

فَلۡيَأۡتُواْ بِحَدِيثٖ مِّثۡلِهِۦٓ إِن كَانُواْ صَٰدِقِينَ ٣٤

(34) نو دوی دې د ده په شان خبره راوړي که دوی رښتيني وي

أَمۡ خُلِقُواْ مِنۡ غَيۡرِ شَيۡءٍ أَمۡ هُمُ ٱلۡخَٰلِقُونَ ٣٥

(35) ايا دوی بې له څه شي پيدا کړی شوي دي، يا هم دوی، پخپله پيدا کوونکي دي؟

أَمۡ خَلَقُواْ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۚ بَل لَّا يُوقِنُونَ ٣٦

(36) ايا دوی اسمانونه او ځمکه پيدا کړي دي؟ بلکې دوی يقين نه کوي

أَمۡ عِندَهُمۡ خَزَآئِنُ رَبِّكَ أَمۡ هُمُ ٱلۡمُصَيۡطِرُونَ ٣٧

(37) ايا له دوی سره ستا د رب خزانې دي، يا هم دوی واکدران دي

أَمۡ لَهُمۡ سُلَّمٞ يَسۡتَمِعُونَ فِيهِۖ فَلۡيَأۡتِ مُسۡتَمِعُهُم بِسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٍ ٣٨

(38) ايا د دوی لپاره اندرپايه (پوړۍ) ده چې دوی په هغې باندې (خبرې او) اورېدل کوي، نو د دوی اورېدونکي دې ښکاره دليل راوړي

أَمۡ لَهُ ٱلۡبَنَٰتُ وَلَكُمُ ٱلۡبَنُونَ ٣٩

(39) ايا د هغه (الله) لپاره لوڼه دي او تاسو لپاره زامن دي؟

أَمۡ تَسۡـَٔلُهُمۡ أَجۡرٗا فَهُم مِّن مَّغۡرَمٖ مُّثۡقَلُونَ ٤٠

(40) ايا ته له دوی نه څه مزدوري غواړې، پس دوی له تاوانه درانه کړی شوي دي

أَمۡ عِندَهُمُ ٱلۡغَيۡبُ فَهُمۡ يَكۡتُبُونَ ٤١

(41) ايا له دوی سره غيب دی (وحي راغلې ده) نو دوی يې ليکي

أَمۡ يُرِيدُونَ كَيۡدٗاۖ فَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ هُمُ ٱلۡمَكِيدُونَ ٤٢

(42) ايا دوی د مکر کولو اراده لري، نو هغه کسان چې کافران شوي دي هم دوی مکر کړی شوي دي

أَمۡ لَهُمۡ إِلَٰهٌ غَيۡرُ ٱللَّهِۚ سُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٤٣

(43) ايا د دوی لپاره له الله نه غير بل معبود شته؟ الله لره پاکي ده له هغه شي نه چې دوی يې ورسره شريکوي

وَإِن يَرَوۡاْ كِسۡفٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ
سَاقِطٗا يَقُولُواْ سَحَابٞ مَّرۡكُومٞ ﴿٤٤﴾

(44) او كه دوى يوه ټوټه له اسمانه
رالوېدونكې ووينې (، نو) وبه وايي (دا) قط په
قط كړى شوې وريځ ده

فَذَرۡهُمۡ حَتَّىٰ يُلَٰقُواْ يَوۡمَهُمُ ٱلَّذِي
فِيهِ يُصۡعَقُونَ ﴿٤٥﴾

(45) نو ته دوى پرېږده، تر هغه پورې چې
دوى له خپلې هغې ورځې سره ملاقات وكړي
چې دوى به په هغې كې بې خوده كولى شي

يَوۡمَ لَا يُغۡنِي عَنۡهُمۡ كَيۡدُهُمۡ شَيۡـٔٗا
وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ﴿٤٦﴾

(46) هغه ورځ چې له دوى نه به د دوى مكر
هېڅ شى (عذاب) لرې نه كړى شي او نه به د
دوى مدد كولى شى

وَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُواْ عَذَابٗا دُونَ
ذَٰلِكَ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا
يَعۡلَمُونَ ﴿٤٧﴾

(47) او بېشكه د هغو كسانو لپاره چې ظلم
(شرك) يې كړى دى له دغه (عذاب) نه
مخكې عذاب دى او لېكن د دوى زياتره خلق
نه پوهېږي

وَٱصۡبِرۡ لِحُكۡمِ رَبِّكَ فَإِنَّكَ
بِأَعۡيُنِنَاۖ وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ حِينَ
تَقُومُ ﴿٤٨﴾

(48) نو ته د خپل رب حكم ته صبر كوه، پس
بېشكه ته زمونږ د سترګو په وړاندې يې او ته د
خپل رب له ستاينې سره تسبيح وايه كله چې
ته پاڅېږې

وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَسَبِّحۡهُ وَإِدۡبَٰرَ
ٱلنُّجُومِ ﴿٤٩﴾

(49) او دشپې په ځينې حصه كې، نو ته د
هغه پاكي بيانوه او له ستوريو نه وروسته (د

شپې په اخري حصې کې ) هم

## سُورَةُ النَّجْمِ

## سورۀ نجم

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

وَٱلنَّجۡمِ إِذَا هَوَىٰ ١

(1) قسم دی په ستوريو کله چې پرېوځي

مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمۡ وَمَا غَوَىٰ ٢

(2) ستاسو ملګرى نه ګمراه شوی دی او نه (په عقيده کې) بې لارې شوی دی

وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلۡهَوَىٰٓ ٣

(3) او دی له خپل خواهش نه خبرې نه کوي

إِنۡ هُوَ إِلَّا وَحۡيٞ يُوحَىٰ ٤

(4) نه دی دا (قرآن) مګر وحي چې (ده ته) وحي کول شي

عَلَّمَهُۥ شَدِيدُ ٱلۡقُوَىٰ ٥

(5) ده ته (دا) د ډېرو سختو قوتونو والا (جبريل) ښودلی دی

ذُو مِرَّةٖ فَٱسۡتَوَىٰ ٦

(6) چې د طاقت والا دی، بيا هغه پورته لاړ

وَهُوَ بِٱلۡأُفُقِ ٱلۡأَعۡلَىٰ ٧

(7) او هغه په تر ټولو لوړې غاړې کې و

ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّىٰ ٨

(8) بيا هغه (جبريل محمدﷺ ته) نژدې شو،

پس نبه نژدې شو

فَكَانَ قَابَ قَوۡسَيۡنِ أَوۡ أَدۡنَىٰ ٩

(9) نو د دوه لیندو په مسافت شو بلکې (له دې نه هم) ډېر نژدې

فَأَوۡحَىٰٓ إِلَىٰ عَبۡدِهِۦ مَآ أَوۡحَىٰ ١٠

(10) نو هغه (الله د جبریل په ژبه) خپل بنده ته وحي وکړه، هغه چې وحي يې وکړه

مَا كَذَبَ ٱلۡفُؤَادُ مَا رَأَىٰٓ ١١

(11) د ده (نبي) زړه غلط شوی نه دی په هغه څه کې چې ده ولیدل

أَفَتُمَٰرُونَهُۥ عَلَىٰ مَا يَرَىٰ ١٢

(12) ایا تاسو له ده سره په هغه څه کې جګړه کوئ چې دی يېویني

وَلَقَدۡ رَءَاهُ نَزۡلَةً أُخۡرَىٰ ١٣

(13) او یقینًا یقینًا ده هغه (جبریل) په یو بل ځلې کوزېدو کې لیدلی دی

عِندَ سِدۡرَةِ ٱلۡمُنتَهَىٰ ١٤

(14) له سدرة المنتهٰی سره

عِندَهَا جَنَّةُ ٱلۡمَأۡوَىٰٓ ١٥

(15) دغې سره جنة ةالماویٰ دی

إِذۡ يَغۡشَى ٱلسِّدۡرَةَ مَا يَغۡشَىٰ ١٦

(16) کله چې دغه سدرة (د بېرې ونه) هغه څه پټوله چې دا يې پټوله

مَا زَاغَ ٱلۡبَصَرُ وَمَا طَغَىٰ ١٧

(17) سترګې نه کږې شوې او نه يې له حد نه تېرى وکړ

لَقَـدۡ رَأَىٰ مِـنۡ ءَايَـٰتِ رَبِّـهِ ٱلۡكُبۡرَىٰٓ ١٨

(18) يقينًا يقينًا ده د خپل رب ډېرې لويې نښې وليدلې

أَفَرَءَيۡتُمُ ٱللَّـٰتَ وَٱلۡعُزَّىٰ ١٩

(19) نو تاسو ما ته خبر راکړئ د لات او عُزّٰی

وَمَنَوٰةَ ٱلثَّالِثَةَ ٱلۡأُخۡرَىٰٓ ٢٠

(20) او منات دريم، د ېبخي وروستني

أَلَكُمُ ٱلذَّكَرُ وَلَهُ ٱلۡأُنثَىٰ ٢١

(21) ايا تاسو لپاره هلکان دي او د هغه لپاره جينکۍ

تِلۡكَ إِذٗا قِسۡمَةٞ ضِيزَىٰٓ ٢٢

(22) دغه په دې وخت کې ډېر ظالمانه تقسيم دی

إِنۡ هِيَ إِلَّآ أَسۡمَآءٞ سَمَّيۡتُمُوهَآ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلۡطَٰنٍۚ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَمَا تَهۡوَى ٱلۡأَنفُسُۖ وَلَقَدۡ جَآءَهُم مِّن رَّبِّهِمُ ٱلۡهُدَىٰٓ ٢٣

(23) دغه (بتان) نه دي مگر تش نومونه چې تاسو او ستاسو پلرونو دغه ايښې دي، الله په دغو هېڅ دليل نه دی نازل کړی دوی پيروي نه کوي مگر د تش گمان او د هغه شي چې نفسونه يې غواړي او يقينًا يقينًا دوی ته د خپل رب له جانبه هدايت راغلی دی

أَمۡ لِلۡإِنسَٰنِ مَا تَمَنَّىٰ ٢٤

(24) ايا د انسان لپاره هغه څه دي چې دی يې تمنا کوي

فَلِلَّهِ ٱلۡأٓخِرَةُ وَٱلۡأُولَىٰ ٢٥

(25) نو خاص د الله لپاره اخرت او دنيا دي

| | |
|---|---|
| ۞وَكَم مِّن مَّلَكٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ لَا تُغۡنِي شَفَٰعَتُهُمۡ شَيۡـًٔا إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ أَن يَأۡذَنَ ٱللَّهُ لِمَن يَشَآءُ وَيَرۡضَىٰٓ ٢٦ | (26) او په اسمانونو كې څومره ډېر ملايك دي چې د دوی سفارش هېڅ شی نفع نه ورکوي مګر وروسته له دې چې الله اجازت ورکړي هغه چا ته چې يې وغواړي او (د هغه په شفاعت) راضي شي |
| إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ لَيُسَمُّونَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ تَسۡمِيَةَ ٱلۡأُنثَىٰ ٢٧ | (27) بېشکه هغه کسان چې په اخرت ايمان نه لري، خامخا دوی د ښځو په نومونو سره ملايك نوموي |
| وَمَا لَهُم بِهِۦ مِنۡ عِلۡمٍۖ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّۖ وَإِنَّ ٱلظَّنَّ لَا يُغۡنِي مِنَ ٱلۡحَقِّ شَيۡـٔٗا ٢٨ | (28) حال دا چې دوی ته په دې هېڅ علم نشته، دوی يواځې د تش ګمان پيروي كوي او بېشکه ګمان له حقه هېڅ شی نشي دفع کولی |
| فَأَعۡرِضۡ عَن مَّن تَوَلَّىٰ عَن ذِكۡرِنَا وَلَمۡ يُرِدۡ إِلَّا ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا ٢٩ | (29) نو ته د هغه چا نه مخ واړوه چې زمونږ له ذكر نه يې مخ ګرځولی دی او يواځې دنيايي ژوندون غواړي |
| ذَٰلِكَ مَبۡلَغُهُم مِّنَ ٱلۡعِلۡمِۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِمَنِ ٱهۡتَدَىٰ ٣٠ | (30) دا د دوی د علم انتها ده، بېشکه ستا رب په هغه چا ښه عالم دی چې د هغه (الله) له لارې نه ګمراه شوی دی او هغه ښه عالم دی په هغه چا چې هدايت يې موندلی دی |

وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ لِيَجۡزِيَ ٱلَّذِينَ أَسَٰٓـُٔواْ بِمَا عَمِلُواْ وَيَجۡزِيَ ٱلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ بِٱلۡحُسۡنَى ﴿٣١﴾

(31) او خاص الله لره دي هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هغه څه چې په ځمکه کې دي، د دې لپاره چې هغو کسانو ته چې بد یې کړې دي، د خپل عمل بدله ورکړي او هغو کسانو ته (هم) ډېره ښه بدله ورکړي چې نېکي یې کړې ده

ٱلَّذِينَ يَجۡتَنِبُونَ كَبَٰٓئِرَ ٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡفَوَٰحِشَ إِلَّا ٱللَّمَمَۚ إِنَّ رَبَّكَ وَٰسِعُ ٱلۡمَغۡفِرَةِۚ هُوَ أَعۡلَمُ بِكُمۡ إِذۡ أَنشَأَكُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ وَإِذۡ أَنتُمۡ أَجِنَّةٞ فِي بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمۡۖ فَلَا تُزَكُّوٓاْ أَنفُسَكُمۡۖ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَنِ ٱتَّقَىٰٓ ﴿٣٢﴾

(32) هغه کسان چې له غټو ګناهونو او د بې حیايۍ له کارونو نه ځان ساتي، غیر له وړو وړو ګناهونه، بېشکه ستا رب د بخښنې وسیع کوونکی دی، هغه په تاسو ښه عالم دی، کله چې یې تاسو له ځمکې نه راپیدا کړئ او کله چې تاسو د خپلو میندو په خېټو کې پټ بچي وئ، نو تاسو د خپلو ځانونو تزکیه (پاکوالی) مه کوئ، هغه (الله) ښه عالم دی په هغه چا چې ډېر متقي دی

أَفَرَءَيۡتَ ٱلَّذِي تَوَلَّىٰ ﴿٣٣﴾

(33) ایا نو تا هغه کس لیدلی چې مخ یې واړوه (له ایمانه)

وَأَعۡطَىٰ قَلِيلٗا وَأَكۡدَىٰٓ ﴿٣٤﴾

(34) او ډېر لږ (مال) یې ورکړ او منع یې کړ (نور مال)

أَعِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلۡغَيۡبِ فَهُوَ

(35) ایا له هغه سره علم غیب دی، پس دی

| | |
|---|---|
| يَرَىٰ ﴿٣٥﴾ | ليدل کوي |
| أَمۡ لَمۡ يُنَبَّأۡ بِمَا فِي صُحُفِ مُوسَىٰ ﴿٣٦﴾ | (36) بلکې ايا دی په هغه څه نه دی خبر کړی شوی چې د موسیٰ په صحيفو کې دي |
| وَإِبۡرَٰهِيمَ ٱلَّذِي وَفَّىٰٓ ﴿٣٧﴾ | (37) او د ابراهيم هغه چې وفا يې کړې ده |
| أَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ أُخۡرَىٰ ﴿٣٨﴾ | (38) چې هېڅ پورته کوونکی د بل بار نه پورته کوی |
| وَأَن لَّيۡسَ لِلۡإِنسَٰنِ إِلَّا مَا سَعَىٰ ﴿٣٩﴾ | (39) او دا چې د انسان لپاره نشته مگر هغه څه چې ده (يې) کوشش کړی دی |
| وَأَنَّ سَعۡيَهُۥ سَوۡفَ يُرَىٰ ﴿٤٠﴾ | (40) او دا چې بېشکه د ده کوشش به عنقريب وښوول شي |
| ثُمَّ يُجۡزَىٰهُ ٱلۡجَزَآءَ ٱلۡأَوۡفَىٰ ﴿٤١﴾ | (41) بيا به ده ته بدله ورکړی شی، ډېره پوره بدله |
| وَأَنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ ٱلۡمُنتَهَىٰ ﴿٤٢﴾ | (42) او دا چې بېشکه ستا رب ته (د ټولو مخلوقاتو) ورگرځېدل دي |
| وَأَنَّهُۥ هُوَ أَضۡحَكَ وَأَبۡكَىٰ ﴿٤٣﴾ | (43) او دا چې بېشکه هم دغه (الله) (خلق) خندوي او ژړوي |
| وَأَنَّهُۥ هُوَ أَمَاتَ وَأَحۡيَا ﴿٤٤﴾ | (44) او دا چې هم دغه (الله) مرگ ورکوي او |

ژوند ورکوي

وَأَنَّهُۥ خَلَقَ ٱلزَّوۡجَيۡنِ ٱلذَّكَرَ وَٱلۡأُنثَىٰ ﴿٤٥﴾

(45) او دا چې بېشکه دغه (الله) دوه جوړې نر او ښځه پیدا کړې دي

مِن نُّطۡفَةٍ إِذَا تُمۡنَىٰ ﴿٤٦﴾

(46) له یوه څاڅکي (نطفې) نه، کله چې وڅڅول شي

وَأَنَّ عَلَيۡهِ ٱلنَّشۡأَةَ ٱلۡأُخۡرَىٰ ﴿٤٧﴾

(47) او دا چې بېشکه د ده په ذمه دي (له دې مرگ نه پس) بل ځلې پیدا کول

وَأَنَّهُۥ هُوَ أَغۡنَىٰ وَأَقۡنَىٰ ﴿٤٨﴾

(48) او دا چې بېشکه همدغه (الله) غني کول کوي او خزانې ورکوي

وَأَنَّهُۥ هُوَ رَبُّ ٱلشِّعۡرَىٰ ﴿٤٩﴾

(49) او دا چې همدغه (الله) د شِعرٰی ستوري رب (او مالك) دی

وَأَنَّهُۥٓ أَهۡلَكَ عَادًا ٱلۡأُولَىٰ ﴿٥٠﴾

(50) او دا چې بېشکه همده ړومبني عادیان هلاك كړې دي

وَثَمُودَاْ فَمَآ أَبۡقَىٰ ﴿٥١﴾

(51) او ثمودیان هم، نو باقي يې پرې نه ښودل

وَقَوۡمَ نُوحٖ مِّن قَبۡلُۖ إِنَّهُمۡ كَانُواْ هُمۡ أَظۡلَمَ وَأَطۡغَىٰ ﴿٥٢﴾

(52) او له دوی نه مخکې يې د نوح قوم هلاك كړ، بېشکه دوی، هم دوی، ډېر ظالمان او ډېر سرکشان وو

| | |
|---|---|
| وَٱلۡمُؤۡتَفِكَةَ أَهۡوَىٰ ٥٣ | (53) او اړول شوي كلي يې ښكته راوغورځول |
| فَغَشَّىٰهَا مَا غَشَّىٰ ٥٤ | (54) نو دغه هغه شي پټ كړ چې دى يې پټ كړ |
| فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكَ تَتَمَارَىٰ ٥٥ | (55) نو (اى انسانه!) ته د خپل رب په كومو نعمتونو كې شك كوې |
| هَٰذَا نَذِيرٌ مِّنَ ٱلنُّذُرِ ٱلۡأُولَىٰٓ ٥٦ | (56) دا (محمدﷺ) له ړومبنيو ويروونكو څخه يو ويروونكى دى |
| أَزِفَتِ ٱلۡأٓزِفَةُ ٥٧ | (57) قيامت ډېر نژدې راغى |
| لَيۡسَ لَهَا مِن دُونِ ٱللَّهِ كَاشِفَةٌ ٥٨ | (58) دې (قيامت) لره له الله نه غير هېڅ خرګندوونكى نشته |
| أَفَمِنۡ هَٰذَا ٱلۡحَدِيثِ تَعۡجَبُونَ ٥٩ | (59) ايا نو تاسو له دې خبرې (قرآن) نه تعجب كوئ |
| وَتَضۡحَكُونَ وَلَا تَبۡكُونَ ٦٠ | (60) او خاندئ او نه ژاړئ |
| وَأَنتُمۡ سَٰمِدُونَ ٦١ | (61) او تاسو غافلان يئ (لوبې كوونكي يئ) |
| فَٱسۡجُدُواْۤ لِلَّهِ وَٱعۡبُدُواْ۩ ٦٢ | (62) نو تاسو الله ته سجده وكړئ او (د ده) عبادت وكړئ |

## سُورَةُ القَمَرِ

## سورهٔ قمر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

ٱقۡتَرَبَتِ ٱلسَّاعَةُ وَٱنشَقَّ ٱلۡقَمَرُ ١

(1) قیامت ډېر رانژدې شو او سپوږمۍ وچاودله

وَإِن يَرَوۡاْ ءَايَةٗ يُعۡرِضُواْ وَيَقُولُواْ سِحۡرٞ مُّسۡتَمِرّٞ ٢

(2) او که چېرې دوی کوم دلیل ووینې (نو) اعراض کوي او وايي: دا خو راروان (قوي) جادو دی

وَكَذَّبُواْ وَٱتَّبَعُوٓاْ أَهۡوَآءَهُمۡۚ وَكُلُّ أَمۡرٖ مُّسۡتَقِرّٞ ٣

(3) او تکذیب کوي او د خپلو خواهشاتو پیروي کوي او هر کار قرار نیونکی دی

وَلَقَدۡ جَآءَهُم مِّنَ ٱلۡأَنۢبَآءِ مَا فِيهِ مُزۡدَجَرٌ ٤

(4) او یقینًا یقینًا دوی ته له خبرونو څنې هغه راغلي دي چې په هغو کې (د دوی لپاره) زجر او سرزنش و

حِكۡمَةُۢ بَٰلِغَةٞۖ فَمَا تُغۡنِ ٱلنُّذُرُ ٥

(5) (دغه) ډېر کامل حکمت دی، پس (دوی ته) وېروونکي نفع نه رسوي

فَتَوَلَّ عَنۡهُمۡۘ يَوۡمَ يَدۡعُ ٱلدَّاعِ إِلَىٰ شَيۡءٖ نُّكُرٍ ٦

(6) نو ته له دوی نه مخ وګرځوه (او یاده کړه) هغه ورځ چې بلونکی به یو ناخوښه، (نااشنا)

شي ته بلنه وکړي

خُشَّعًا أَبۡصَٰرُهُمۡ يَخۡرُجُونَ مِنَ ٱلۡأَجۡدَاثِ كَأَنَّهُمۡ جَرَادٞ مُّنتَشِرٞ ٧

(7) په دې حال کې چې د دوی سترګې به خړې خوارې وي، دوی به له قبرونو نه (داسې) راوځي ګویا کې دوی خواره واره ملخان دي

مُّهۡطِعِينَ إِلَى ٱلدَّاعِۖ يَقُولُ ٱلۡكَٰفِرُونَ هَٰذَا يَوۡمٌ عَسِرٞ ٨

(8) د بلونکي په طرف به تلوار کوونکي وي، کافران به وايي: دا ډېره سخته ورځ ده

۞كَذَّبَتۡ قَبۡلَهُمۡ قَوۡمُ نُوحٖ فَكَذَّبُواْ عَبۡدَنَا وَقَالُواْ مَجۡنُونٞ وَٱزۡدُجِرَ ٩

(9) له دوی نه مخکې د نوح قوم تکذیب کړی دی، نو دوی زمونږ د بنده (نوح) تکذیب وکړ او ويې ويل:(دا نوح) لېونی دی او (له تبليغه) منع کړی شو (او سخت وځورول شو)

فَدَعَا رَبَّهُۥٓ أَنِّي مَغۡلُوبٞ فَٱنتَصِرۡ ١٠

(10) نو ده له خپل رب نه دعا وغوښته، داسې چې بېشکه زه مغلوب (او عاجز) يم، نو ته (زما) انتقام (او بدله) واخله

فَفَتَحۡنَآ أَبۡوَٰبَ ٱلسَّمَآءِ بِمَآءٖ مُّنۡهَمِرٖ ١١

(11) نو مونږ د اسمان دروازې په ډېرو راتويدونکو اوبو سره پرانستلې

وَفَجَّرۡنَا ٱلۡأَرۡضَ عُيُونٗا فَٱلۡتَقَى ٱلۡمَآءُ عَلَىٰٓ أَمۡرٖ قَدۡ قُدِرَ ١٢

(12) او له ځمکې نه مو چینې روانې کړې، نو اوبه په هغه کار باندې سره يوځای (او ګډې) شوې چې مقرر شوی و

| | |
|---|---|
| وَحَمَلۡنَٰهُ عَلَىٰ ذَاتِ أَلۡوَٰحٖ وَدُسُرٖ ١٣ | (13) او مونږ هغه (په داسې بېړۍ) سور کړ چې د پلنو تختو او پېړو ميخونو والا وه |
| تَجۡرِي بِأَعۡيُنِنَا جَزَآءٗ لِّمَن كَانَ كُفِرَ ١٤ | (14) چې زمونږ د سترګو په وړاندې ګرځېدله (دا طوفان راغلی و) د هغه چا د بدلې (او امداد) لپاره چې بې قدري (او ناشکري) يې کړې شوې وه |
| وَلَقَد تَّرَكۡنَٰهَآ ءَايَةٗ فَهَلۡ مِن مُّدَّكِرٖ ١٥ | (15) او يقينًا يقينًا مونږ دغه (بېړۍ) يو دليل پرېښوده، نو ايا څوك پند اخيستونكى شته؟ |
| فَكَيۡفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ١٦ | (16) نو زما عذاب او زما وېرول څنګه وو؟ |
| وَلَقَدۡ يَسَّرۡنَا ٱلۡقُرۡءَانَ لِلذِّكۡرِ فَهَلۡ مِن مُّدَّكِرٖ ١٧ | (17) او يقينًا يقينًا مونږ دا قرآن (د يادولو او پند اخيستلو لپاره) اسان كړى دى، نو ايا څوك پند اخيستونكى شته؟ |
| كَذَّبَتۡ عَادٞ فَكَيۡفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ١٨ | (18) عاديانو تكذيب وكړ، نو زما عذاب او زما وېرول څنګه وو |
| إِنَّآ أَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ رِيحٗا صَرۡصَرٗا فِي يَوۡمِ نَحۡسٖ مُّسۡتَمِرّٖ ١٩ | (19) بېشكه مونږ په دوى باندې ډېر سخت باد راخوشې كړ د ډېر سخت سپېره والي په ورځ كې |
| تَنزِعُ ٱلنَّاسَ كَأَنَّهُمۡ أَعۡجَازُ نَخۡلٖ | (20) دغه (باد) به خلق (له ژورو پټو كندو نه) |

| | |
|---|---|
| مُّنقَعِرٍ ﴿٢٠﴾ | داسې را ايستل ګويا کې دوی له بېخه راوتلو د کجورو د ونو تنې دي |
| فَكَيۡفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٢١﴾ | (21) نو زما عذاب او زما وېرول څنګه وو؟ |
| وَلَقَدۡ يَسَّرۡنَا ٱلۡقُرۡءَانَ لِلذِّكۡرِ فَهَلۡ مِن مُّدَّكِرٖ ﴿٢٢﴾ | (22) او يقينًا يقينًا مونږ قرآن د پند اخيستلو لپاره اسان کړی دی، نو ايا څوك پند اخيستونکی شته ؟ |
| كَذَّبَتۡ ثَمُودُ بِٱلنُّذُرِ ﴿٢٣﴾ | (23) ثموديانو د وېروونکو (نبيانو) تکذيب وکړ |
| فَقَالُوٓاْ أَبَشَرٗا مِّنَّا وَٰحِدٗا نَّتَّبِعُهُۥٓ إِنَّآ إِذٗا لَّفِي ضَلَٰلٖ وَسُعُرٍ ﴿٢٤﴾ | (24) پس دوی وويل: ايا د يو داسې بشر چې زمونږ څخنې دی (او) يو دی، مونږ به د ده پيروي کوو؟ بېشکه مونږ به په دغه وخت کې خامخا په ګمراهۍ او لېونتوب کې يو |
| أَءُلۡقِيَ ٱلذِّكۡرُ عَلَيۡهِ مِنۢ بَيۡنِنَا بَلۡ هُوَ كَذَّابٌ أَشِرٞ ﴿٢٥﴾ | (25) ايا زمونږ له مينځه په ده باندې وحي راوغورځولی شوه؟ (داسې نه ده) بلکې دی ډېر دروغجن دی، ډېر خود پسند (متکبر) دی |
| سَيَعۡلَمُونَ غَدٗا مَّنِ ٱلۡكَذَّابُ ٱلۡأَشِرُ ﴿٢٦﴾ | (26) ژر به دوی سبا ته پوه شي چې ډېر دروغجن، ډېر تکبر کوونکی څوك دی |
| إِنَّا مُرۡسِلُواْ ٱلنَّاقَةِ فِتۡنَةٗ لَّهُمۡ | (27) بېشکه مونږ د دوی د ازمېښت لپاره |

فَٱرۡتَقِبۡهُمۡ وَٱصۡطَبِرۡ ٢٧

اوښي لره لېږونكي يو، نو ته دوی ته منتظر اوسه او ښه صبر كوه

وَنَبِّئۡهُمۡ أَنَّ ٱلۡمَآءَ قِسۡمَةُۢ بَيۡنَهُمۡۖ كُلُّ شِرۡبٖ مُّحۡتَضَرٞ ٢٨

(28) او دوی ته خبر وركړه چې ببشكه اوبه د دوی په مېنځ كې تقسيم دي هر وار د اوبو ته به حاضري كول شي

فَنَادَوۡاْ صَاحِبَهُمۡ فَتَعَاطَىٰ فَعَقَرَ ٢٩

(29) او دوی خپل ملگري ته اواز وكړ، نو هغه توره راواخيسته، پس د هغې لښگي يې پرې كړل (بيا يې مړه كړه)

فَكَيۡفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ٣٠

(30) نو زما عذاب او زما وېرول څنگه وو؟

إِنَّآ أَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ فَكَانُواْ كَهَشِيمِ ٱلۡمُحۡتَظِرِ ٣١

(31) ببشكه مونږ پر هغوی باندې يوه چغه راخوشې كړه، نو د شپول جوړوونكي د مات (او چوره) كړی شويو وښو په شان شول

وَلَقَدۡ يَسَّرۡنَا ٱلۡقُرۡءَانَ لِلذِّكۡرِ فَهَلۡ مِن مُّدَّكِرٖ ٣٢

(32) او يقينًا يقينًا مونږ قرآن د پند اخيستلو لپاره اسان كړی دی، نو ايا څوك پند اخيستونكی شته؟

كَذَّبَتۡ قَوۡمُ لُوطِۭ بِٱلنُّذُرِ ٣٣

(33) د لوط قوم د وېروونكو تكذيب وكړ

إِنَّآ أَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ حَاصِبًا إِلَّآ ءَالَ لُوطٖۖ نَّجَّيۡنَٰهُم بِسَحَرٖ ٣٤

(34) ببشكه مونږ پر هغوی باندې كاڼي ويشتونكی باد راخوشې كړ ـ د لوط له كورنۍ نه غير، مونږ دوی ته په پېشلمي كې نجات

ورکړ

نِّعۡمَةٗ مِّنۡ عِندِنَاۚ كَذَٰلِكَ نَجۡزِي مَن شَكَرَ ﴿٣٥﴾

(35) زمونږ له جانبه د مهربانۍ په وجه، همداسې مونږ هغه چا ته بدله ورکوو چې شکر وباسي

وَلَقَدۡ أَنذَرَهُم بَطۡشَتَنَا فَتَمَارَوۡاْ بِٱلنُّذُرِ ﴿٣٦﴾

(36) او یقینًا یقینًا هغه (لوط) دوی زمونږ له نیولو نه وېرولي وو، پس دوی(د هغه) په وېرولو کې شك وکړ

وَلَقَدۡ رَٰوَدُوهُ عَن ضَيۡفِهِۦ فَطَمَسۡنَآ أَعۡيُنَهُمۡ فَذُوقُواْ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٣٧﴾

(37) او یقینًا یقینًا دوی له ده نه د ده د مېلمنو غوښتنه وکړه، نو مونږ د دوی سترګې (محوه) ړندې کړې، پس (دوی ته ووېل شو چې) تاسو زما عذاب او زما وېرول وڅكئ

وَلَقَدۡ صَبَّحَهُم بُكۡرَةً عَذَابٞ مُّسۡتَقِرّٞ ﴿٣٨﴾

(38) او یقینًا یقینًا په دوی باندې سهار وختي ثابت (او قرار نیونکی) عذاب راغی

فَذُوقُواْ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٣٩﴾

(39) نو تاسو زما عذاب او زما وېرول وڅكئ

وَلَقَدۡ يَسَّرۡنَا ٱلۡقُرۡءَانَ لِلذِّكۡرِ فَهَلۡ مِن مُّدَّكِرٖ ﴿٤٠﴾

(40) او یقینًا یقینًا مونږ قرآن د پند اخیستلو لپاره اسان کړی دی، نو ایا څوك پند اخیستونکی شته؟

وَلَقَدۡ جَآءَ ءَالَ فِرۡعَوۡنَ ٱلنُّذُرُ ﴿٤١﴾

(41) او یقینًا یقینًا ال فرعون ته وېروونکي

| | |
|---|---|
| | راغلي وو |
| كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا كُلِّهَا فَأَخَذۡنَٰهُمۡ أَخۡذَ عَزِيزٖ مُّقۡتَدِرٍ ﴿٤٢﴾ | (42) (نو) دوی زمونږ د ټولو دليلونو (معجزو) تکذيب وکړ، نو مونږ دوی ونيول، د ډېر غالب او ښه ذات په نيولو سره |
| أَكُفَّارُكُمۡ خَيۡرٞ مِّنۡ أُوْلَٰٓئِكُمۡ أَمۡ لَكُم بَرَآءَةٞ فِي ٱلزُّبُرِ ﴿٤٣﴾ | (43) (ای عربو!) ايا ستاسو کفار له دغو (ړومبنو کفارو) نه ډېر غوره دي، يا تاسو لپاره په کتابونو کې خلاصی (راغلی) دی؟ |
| أَمۡ يَقُولُونَ نَحۡنُ جَمِيعٞ مُّنتَصِرٞ ﴿٤٤﴾ | (44) يا دوی وايي چې مونږ بدله اخيستونکې ډله يو |
| سَيُهۡزَمُ ٱلۡجَمۡعُ وَيُوَلُّونَ ٱلدُّبُرَ ﴿٤٥﴾ | (45) دغه جمع (ډله) به يقينًا يقينًا ماته کړی شي او دوی به شاګانې وګرځوي |
| بَلِ ٱلسَّاعَةُ مَوۡعِدُهُمۡ وَٱلسَّاعَةُ أَدۡهَىٰ وَأَمَرُّ ﴿٤٦﴾ | (46) بلکې قيامت د دوی د وعدې ځای دی او قيامت ډېر سخت او ډېر تريخ دی |
| إِنَّ ٱلۡمُجۡرِمِينَ فِي ضَلَٰلٖ وَسُعُرٖ ﴿٤٧﴾ | (47) بېشکه مجرمان په ګمراهۍ او لمبې وهونکې اور کې دي |
| يَوۡمَ يُسۡحَبُونَ فِي ٱلنَّارِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمۡ ذُوقُواْ مَسَّ سَقَرَ ﴿٤٨﴾ | (48) په هغې ورځ کې چې دوی به په خپلو مخونو په اور کې راښکلی شي (او ويلی به شي چې) تاسو د دوزخ رسېدل وڅکئ |

إِنَّا كُلَّ شَيۡءٍ خَلَقۡنَٰهُ بِقَدَرٖ ٤٩

(49) ببشکه مونږ هر شي لره، مونږ هغه په (ازلي) اندازې سره پيدا کړی دی

وَمَآ أَمۡرُنَآ إِلَّا وَٰحِدَةٞ كَلَمۡحِۭ بِٱلۡبَصَرِ ٥٠

(50) او زمونږ امر نه دی مګر يو ځل دی، لکه د سترګو رپول

وَلَقَدۡ أَهۡلَكۡنَآ أَشۡيَاعَكُمۡ فَهَلۡ مِن مُّدَّكِرٖ ٥١

(51) او يقينًا يقينًا مونږ ستاسو مشابه (او نظاير) هلاك كړي دي، نو ايا ځوك پند اخيستونكى شته؟

وَكُلُّ شَيۡءٖ فَعَلُوهُ فِي ٱلزُّبُرِ ٥٢

(52) او هر هغه شى (كار) چې دوى كړى دى، په كتابونو كې دى

وَكُلُّ صَغِيرٖ وَكَبِيرٖ مُّسۡتَطَرٌ ٥٣

(53) او هر وړوكى او لوى (عمل) ليكل شوى دى

إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٖ وَنَهَرٖ ٥٤

(54) ببشكه متقيان به په باغونو او ويالو كې وي

فِي مَقۡعَدِ صِدۡقٍ عِندَ مَلِيكٖ مُّقۡتَدِرِۭ ٥٥

(55) د راستى په مجلس كې به وي، له لوى قدرت لرونكي بادشاه سره

## سُورَةُ الرَّحۡمَٰن

## سورة رحمن

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

ٱلرَّحۡمَٰنُ ١

(1) ډېر زيات مهربان ذات

عَلَّمَ ٱلۡقُرۡءَانَ ٢

(2) (دا) قرآن ښودلی دی

خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ ٣

(3) هغه انسان پيدا کړی دی

عَلَّمَهُ ٱلۡبَيَانَ ٤

(4) ده ته يې بيان (او وينا) کول ښودلي دي

ٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُ بِحُسۡبَانٖ ٥

(5) لمر او سپوږمۍ په حساب سره (روان) دي

وَٱلنَّجۡمُ وَٱلشَّجَرُ يَسۡجُدَانِ ٦

(6) او ستوري / وابنه او ونې دواړه سجدې کوي

وَٱلسَّمَآءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ ٱلۡمِيزَانَ ٧

(7) او اسمان لره، دا هغه پورته (اوچت) کړی دی او تله يې ايښې (مقرر کړې) ده

أَلَّا تَطۡغَوۡاْ فِي ٱلۡمِيزَانِ ٨

(8) (د دې لپاره) چې تاسو په تله کې تېری ونه کړئ

وَأَقِيمُواْ ٱلۡوَزۡنَ بِٱلۡقِسۡطِ وَلَا

(9) او تاسو په انصاف سره وزن برابروئ او په

| | |
|---|---|
| تُخۡسِرُواْ ٱلۡمِيزَانَ ﴿٩﴾ | تول کې کمی مه کوئ |
| وَٱلۡأَرۡضَ وَضَعَهَا لِلۡأَنَامِ ﴿١٠﴾ | (10) او ځمکې لره، هغه دا د ژونديو لپاره غوړولې ده |
| فِيهَا فَٰكِهَةٞ وَٱلنَّخۡلُ ذَاتُ ٱلۡأَكۡمَامِ ﴿١١﴾ | (11) په دې کې مېوې دي او د پوښونو والا د کجورو ونې دي |
| وَٱلۡحَبُّ ذُو ٱلۡعَصۡفِ وَٱلرَّيۡحَانُ ﴿١٢﴾ | (12) او د وښو (بوسو) والا دانې دي او خوشبويه ګلان دي |
| فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿١٣﴾ | (13) نو (ای انسانانو او پېريانو!) تاسو دواړه د خپل رب په نعمتونو کې د کوم يوه تکذيب کوئ (او ترې منکرېږئ) |
| خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِن صَلۡصَٰلٖ كَٱلۡفَخَّارِ ﴿١٤﴾ | (14) انسان يې د کودرې په شان له وچې کړنګېدونکې ختې نه پيدا کړی دی |
| وَخَلَقَ ٱلۡجَآنَّ مِن مَّارِجٖ مِّن نَّارٖ ﴿١٥﴾ | (15) او جان (د پېريانو پلار) يې د اور له خالصې (بې لوګې) شغلې نه پيدا کړی دی |
| فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿١٦﴾ | (16) نو تاسو (ای انسانانو او پېريانو) دواړه د خپل رب په نعمتونو کې د کوم يوه تکذيب کوئ؟ |

| | |
|---|---|
| رَبُّ ٱلۡمَشۡرِقَيۡنِ وَرَبُّ ٱلۡمَغۡرِبَيۡنِ ١٧ | (17) (هغه د ژمي او د اوړي) د دواړو مشرقونو رب دی او (د ژمي او د اوړي) د دواړو مغربونو رب دی |
| فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ١٨ | (18) نو تاسو (ای انسانانو او پېريانو) دواړه د خپل رب په نعمتونو کې د کوم يوه تکذيب کوئ؟ |
| مَرَجَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ يَلۡتَقِيَانِ ١٩ | (19) هغه دوه سمندرونه بهولي دي، په دې حال کې چې يوله بله سره ميلاوېږي |
| بَيۡنَهُمَا بَرۡزَخٞ لَّا يَبۡغِيَانِ ٢٠ | (20) د دواړو په مينځ کې يوه پرده ده، چې په يو بل باندي نه ورګډېږي |
| فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٢١ | (21) نو تاسو (ای انسانانو او پېريانو!) دواړه د خپل رب په نعمتونو کې د کوم يوه تکذيب کوئ؟ |
| يَخۡرُجُ مِنۡهُمَا ٱللُّؤۡلُؤُ وَٱلۡمَرۡجَانُ ٢٢ | (22) له دواړو (د سمندرونو) نه ملغلرې او مرجان راوځي |
| فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٢٣ | (23) نو تاسو (ای انسانانو او پېريانو) د خپل رب په نعمتونو کې د کوم يوه تکذيب کوئ؟ |
| وَلَهُ ٱلۡجَوَارِ ٱلۡمُنشَـَٔاتُ فِي ٱلۡبَحۡرِ | (24) او خاص هغه لره دي په سمندر کې |

كَٱلۡأَعۡلَٰمِ ﴿٢٤﴾
بادبان پورته کړی شوي بېړۍ، لکه غرونه

فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٢٥﴾
(25) نو تاسو (ای انسانانو او پېريانو!) دواړه د خپل رب په نعمتونو کي د کوم يوه تکذيب کوئ؟

كُلُّ مَنۡ عَلَيۡهَا فَانٖ ﴿٢٦﴾
(26) هر هغه څوك چي په دي (ځمكي) باندې دي؛ فاني كېدونكي دي

وَيَبۡقَىٰ وَجۡهُ رَبِّكَ ذُو ٱلۡجَلَٰلِ وَٱلۡإِكۡرَامِ ﴿٢٧﴾
(27) او باقي به پاتي شي ستا د رب مخ (ذات) چي د جلال او د عزت خاوند دی

فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٢٨﴾
(28) نو (ای انسانانو او پېريانو! ) تاسو دواړه د خپل رب په نعمتونو كي كوم يو دروغ گڼئ ؟

يَسۡـَٔلُهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ كُلَّ يَوۡمٍ هُوَ فِي شَأۡنٖ ﴿٢٩﴾
(29) له ده نه سوال کوي هر هغه څوك چي په ا سمانونو او ځمکه كي دي، هر وخت هغه په يوكار کي دی

فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٣٠﴾
(30) نو تاسو (ای انسانانو او پېريانو!) د خپل رب په نعمتونو کي د کوم يوه تکذيب کوئ؟

سَنَفۡرُغُ لَكُمۡ أَيُّهَ ٱلثَّقَلَانِ ﴿٣١﴾
(31) ژر ده چي مونږ به تاسو ته وزگار شو، ای دوه درنو قبيلو (انسانانو او پېريانو!)

فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٣٢

(32) نو تاسو (ای انسانانو او پېريانو!) د خپل رب په نعمتونو کې د کوم يوه تکذيب کوئ؟

يَٰمَعْشَرَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ إِنِ ٱسْتَطَعْتُمْ أَن تَنفُذُواْ مِنْ أَقْطَارِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ فَٱنفُذُواْۚ لَا تَنفُذُونَ إِلَّا بِسُلْطَٰنٍ ٣٣

(33) ای د پېريانو او انسانانو ډلې! که چېرې تاسو د دې طاقت لرئ چې تاسو د اسمانونو او ځمکې له غاړو نه بهر ووځئ، نو ووځئ او تاسو به بهر ونه وتلی شئ مګر په قوت (او زور) سره

فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٣٤

(34) نو (ای پېريانو او انسانانو!) تاسو د خپل رب په نعمتونو کې د کوم يوه تکذيب کوئ؟

يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِّن نَّارٍ وَنُحَاسٌ فَلَا تَنتَصِرَانِ ٣٥

(35) په تاسو دواړو (ډلو) باندې به د اور خالصې لمبې او لوګی درخوشې کړی شي، بيا به تاسو يوله بل سره مدد نشئ کولی

فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٣٦

(36) نو تاسو دواړه (ای پېريانو او انسانانو!) د خپل رب په نعمتونو کې له کوم کوم نه انکار کوئ؟

فَإِذَا ٱنشَقَّتِ ٱلسَّمَآءُ فَكَانَتْ وَرْدَةً كَٱلدِّهَانِ ٣٧

(37) بيا چې کله اسمان څيرې شي، نو سور رنګه ګل به شي، لکه د سرې څرمنې

فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا

(38) نو تاسو دواړه (ای پېريانو او انسانانو!) د

| | |
|---|---|
| تُكَذِّبَانِ ﴿٣٨﴾ | خپل رب په نعمتونو کې د کوم یوه تکذیب کوئ؟ |
| فَيَوۡمَئِذٖ لَّا يُسۡـَٔلُ عَن ذَنۢبِهِۦٓ إِنسٞ وَلَا جَآنّٞ ﴿٣٩﴾ | (39) نو په دغې ورځ کې به د خپلې ګناه په باره کې نه له انسان نه پوښتنه کولی شي او نه له پېري نه |
| فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٠﴾ | (40) نو (ای پېریانو او انسانانو!) تاسو دواړه د خپل رب په نعمتونو کې د کوم یوه تکذیب کوئ؟ |
| يُعۡرَفُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ بِسِيمَٰهُمۡ فَيُؤۡخَذُ بِٱلنَّوَٰصِي وَٱلۡأَقۡدَامِ ﴿٤١﴾ | (41) مجرمان به په خپلو نښو سره پېژندلی شي، نو (د مجرمانو) وچولي او قدمونه به ونیولی شي |
| فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٢﴾ | (42) نو (ای پېریانو او انسانانو!) تاسو د خپل رب په نعمتونو کې د کوم یوه تکذیب کوئ |
| هَٰذِهِۦ جَهَنَّمُ ٱلَّتِي يُكَذِّبُ بِهَا ٱلۡمُجۡرِمُونَ ﴿٤٣﴾ | (43) دا هغه دوزخ دی چې مجرمانو (کافرانو) به دا دروغ ګاڼه |
| يَطُوفُونَ بَيۡنَهَا وَبَيۡنَ حَمِيمٍ ءَانٖ ﴿٤٤﴾ | (44) دوی به د دغه (دوزخ) په مینځ کې او د ډېرو ګرمو اوبو په مینځ کې ګرځي |
| فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا | (45) نو (ای پېریانو او انسانانو!) تاسو دواړه د |

| | |
|---|---|
| تُكَذِّبَانِ ﴿٤٥﴾ | خپل رب په نعمتونو کې د کوم يوه انکار کوئ؟ |
| وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ جَنَّتَانِ ﴿٤٦﴾ | (46) او د هغه چا لپاره چې د خپل رب په وړاندې له ودريدلو نه وېرېږي، دوه جنتونه دي |
| فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٧﴾ | (47) نو تاسو (ای پېريانو او انسانانو!) د خپل رب په نعمتونو کې د کوم يوه تکذيب کوئ؟ |
| ذَوَاتَآ أَفْنَانٍ ﴿٤٨﴾ | (48) (دغه جنتونه) د ډېرو ډېرو څانګو والا دي |
| فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٩﴾ | (49) نو تاسو (ای پېريانو او انسانانو!) د خپل رب په نعمتونو کې کوم کوم دروغ ګڼئ |
| فِيهِمَا عَيْنَانِ تَجْرِيَانِ ﴿٥٠﴾ | (50) په دغو دواړو (جنتونو) کې دوه چينې دي چې بهېږي |
| فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥١﴾ | (51) نو تاسو (ای پېريانو او انسانانو!) د خپل رب په نعمتونو کې له کوم يو نه انکار کوئ |
| فِيهِمَا مِن كُلِّ فَٰكِهَةٍ زَوْجَانِ ﴿٥٢﴾ | (52) په دغو (جنتونو) کې له هرې مېوې نه دوه دوه قسمه دي |
| فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا | (53) نو تاسو (ای پېريانو او انسانانو!) د خپل |

| | |
|---|---|
| تُكَذِّبَانِ ۝٥٣ | رب په نعمتونو كې د كوم يوه تكذيب كوئ |
| مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ فُرُشِۭ بَطَآئِنُهَا مِنۡ إِسۡتَبۡرَقٖۚ وَجَنَى ٱلۡجَنَّتَيۡنِ دَانٖ ۝٥٤ | (54) په داسې حال كې چې دوى به په داسې فرشونو باندې تكيه وهونكي وي چې د هغو استرونه به له پېرو وربښمو څخه وي او د دواړو جنتونو مېوې به نژدې وي |
| فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۝٥٥ | (55) نو تاسو (اى انسانانو او پېريانو!) د خپل رب په نعمتونو كې د كوم يوه تكذيب كوئ |
| فِيهِنَّ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرۡفِ لَمۡ يَطۡمِثۡهُنَّ إِنسٞ قَبۡلَهُمۡ وَلَا جَآنّٞ ۝٥٦ | (56) په دغو (جنتونو) كې به د سترګو رامنع كوونكې حورې وي، چې له دغو (جنتي خاوندانو) نه به مخكې دوى ته نه بل انسان لاس وروړى وي او نه پېرى |
| فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۝٥٧ | (57) نو تاسو (اى پېريانو او انسانانو!) د خپل رب په نعمتونو كې د كوم يوه تكذيب كوئ |
| كَأَنَّهُنَّ ٱلۡيَاقُوتُ وَٱلۡمَرۡجَانُ ۝٥٨ | (58) ګويا كې دغه (حورې) ياقوت لعل دي، يا مرجان دي |
| فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۝٥٩ | (59) نو تاسو د خپل رب په نعمتونو كې د كوم يوه تكذيب كوئ |
| هَلۡ جَزَآءُ ٱلۡإِحۡسَٰنِ إِلَّا | (60) د احسان بدل نه دى مګر احسان (او |

ٱلۡإِحۡسَٰنُ ٦٠ — نېکي) کول

فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٦١ — (61) نو تاسو د خپل رب په نعمتونو کې د کوم يوه تکذيب کوئ

وَمِن دُونِهِمَا جَنَّتَانِ ٦٢ — (62) او له دغو دواړو نه غير دوه نور جنتونه دي

فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٦٣ — (63) نو تاسو د خپل رب په نعمتونو کې د کوم يوه تکذيب کوئ

مُدۡهَآمَّتَانِ ٦٤ — (64) تك تور دي (له ډېر شين والي او خړوب والي نه)

فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٦٥ — (65) نو تاسو د خپل رب په نعمتونو کې د کوم يوه تکذيب کوئ

فِيهِمَا عَيۡنَانِ نَضَّاخَتَانِ ٦٦ — (66) په دغو دواړو کې دوه جوش وهونکې چينې دي

فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٦٧ — (67) نو تاسو د خپل رب په نعمتونو کې د کوم يوه تکذيب کوئ

فِيهِمَا فَٰكِهَةٞ وَنَخۡلٞ وَرُمَّانٞ ٦٨ — (68) په دغو دواړو کې مېوې او کجورې او انار دي

| | |
|---|---|
| فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦٩﴾ | (69) نو تاسو د خپل رب په نعمتونو کې د کوم يوه تکذيب کوئ |
| فِيهِنَّ خَيۡرَٰتٌ حِسَانٞ ﴿٧٠﴾ | (70) په دغو (جنتونو) کې ډېرې غوره (نېك سيرتې) ډېرې ښکلې حورې دي |
| فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧١﴾ | (71) نو تاسو د خپل رب په نعمتونو کې د کوم يوه تکذيب کوئ |
| حُورٞ مَّقۡصُورَٰتٞ فِي ٱلۡخِيَامِ ﴿٧٢﴾ | (72) په خېمو کې محفوظې ساتلې شوې حورې به وي |
| فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧٣﴾ | (73) نو تاسو د خپل رب په نعمتونو کې د کوم يوه تکذيب کوئ |
| لَمۡ يَطۡمِثۡهُنَّ إِنسٞ قَبۡلَهُمۡ وَلَا جَآنّٞ ﴿٧٤﴾ | (74) چې له دغو (جنتي خاوندانو) نه به مخکې دوی ته نه انسان لاس وروړی وي او نه پېرې |
| فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧٥﴾ | (75) نو تاسو د خپل رب په نعمتونو کې د کوم يوه تکذيب کوئ |
| مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ رَفۡرَفٍ خُضۡرٖ وَعَبۡقَرِيٍّ حِسَانٖ ﴿٧٦﴾ | (76) په داسې حال کې چې تکيه کوونکي به وي په شين رنګه بالښتونو او په ډېرو نفيسو |

ښکلو فرشونو باندې

فَبِـــأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَـــا تُكَذِّبَانِ ٧٧

(77) نو تاسو د خپل رب په نعمتونو کې د کوم یوه تکذیب کوئ

تَبَـٰرَكَ ٱسۡمُ رَبِّـكَ ذِى ٱلۡجَلَـٰلِ وَٱلۡإِكۡرَامِ ٧٨

(78) ډېر برکتي دی ستا د رب نوم، چې د جلال او د اکرام (عزت ورکولو) والا دی

## سُورَةُ الوَاقِعَةِ

## سورة واقعه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

إِذَا وَقَعَتِ ٱلۡوَاقِعَةُ ١

(1) کله چې واقع کېدونکې (قیامت) واقع شي

لَيۡسَ لِوَقۡعَتِهَا كَاذِبَةٌ ٢

(2) د ده پېښېدو لره هېڅ دروغجنوونکې نشته

خَافِضَةٞ رَّافِعَةٌ ٣

(3) (دا) ښکته کوونکې، (او) اوچتوونکې دی

إِذَا رُجَّتِ ٱلۡأَرۡضُ رَجّٗا ٤

(4) کله چې ځمکه وخوځولی شي، خوځول

وَبُسَّتِ ٱلۡجِبَالُ بَسّٗا ٥

(5) او غرونه ورژول شي، رژول

| | |
|---|---|
| فَكَانَتۡ هَبَآءٗ مُّنۢبَثّٗا ٦ | (6) نو دغه (غرونه) به یوه خوره شوې دوړه شي |
| وَكُنتُمۡ أَزۡوَٰجٗا ثَلَٰثَةٗ ٧ | (7) اوتاسو به درې قسمونه شئ |
| فَأَصۡحَٰبُ ٱلۡمَيۡمَنَةِ مَآ أَصۡحَٰبُ ٱلۡمَيۡمَنَةِ ٨ | (8) نو د ښي لاس والا (خلق)، څه (ښه) دي د ښي لاس والا خلق! |
| وَأَصۡحَٰبُ ٱلۡمَشۡـَٔمَةِ مَآ أَصۡحَٰبُ ٱلۡمَشۡـَٔمَةِ ٩ | (9) او د چپ لاس والا خلق، څه (بد) دي د چپ لاس والا خلق؟ |
| وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلسَّٰبِقُونَ ١٠ | (10) او ړومبی کېدونکي (همدوی) ړومبی کېدونکي دي |
| أُوْلَٰٓئِكَ ٱلۡمُقَرَّبُونَ ١١ | (11) هم دوی نژدې کړی شوي دي (الله ته) |
| فِي جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ١٢ | (12) د نعمتونو په جنتونو کې به وي |
| ثُلَّةٞ مِّنَ ٱلۡأَوَّلِينَ ١٣ | (13) لویه ډله به د ړومبنو خلقو څخه وي |
| وَقَلِيلٞ مِّنَ ٱلۡأٓخِرِينَ ١٤ | (14) او لږ به د وروستنو خلقو څخه وي |
| عَلَىٰ سُرُرٖ مَّوۡضُونَةٖ ١٥ | (15) په (زرو او ملغلرو سره) بُنِل شویو تختونو باندې به (ناست) وي |
| مُّتَّكِـِٔينَ عَلَيۡهَا مُتَقَٰبِلِينَ ١٦ | (16) چې په دغو باندې به یو بل ته مخامخ |

تکیه وهونکي وي

| | |
|---|---|
| يَطُوفُ عَلَيۡهِمۡ وِلۡدَٰنٞ مُّخَلَّدُونَ ١٧ | (17) په دوی باندې به (د خدمت لپاره) تل پاتې (همېشني) هلکان ګرځي |
| بِأَكۡوَابٖ وَأَبَارِيقَ وَكَأۡسٖ مِّن مَّعِينٖ ١٨ | (18) د ګلاسونو او کوزو سره او د جاري (بهېدونکو) شرابو پيالو سره |
| لَّا يُصَدَّعُونَ عَنۡهَا وَلَا يُنزِفُونَ ١٩ | (19) چې له دغو (شرابو) نه به نه د دوی سر خوږېږي او نه به بې خوده (نشه) کېږي |
| وَفَٰكِهَةٖ مِّمَّا يَتَخَيَّرُونَ ٢٠ | (20) او له هغه قسمه مېوو سره چې دوی يې خوښوي |
| وَلَحۡمِ طَيۡرٖ مِّمَّا يَشۡتَهُونَ ٢١ | (21) او د مرغانو له هغه قسمه غوښو سره چې د دوی زړونه يې غواړي |
| وَحُورٌ عِينٞ ٢٢ | (22) او (د دوی لپاره) پيمخې غټې سترګې حورې دي |
| كَأَمۡثَٰلِ ٱللُّؤۡلُوِٕ ٱلۡمَكۡنُونِ ٢٣ | (23) د پټو ساتل شويو ملغلرو په شان |
| جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٢٤ | (24) د هغو عملونو د بدلې ورکولو لپاره چې دوی به کول |
| لَا يَسۡمَعُونَ فِيهَا لَغۡوٗا وَلَا | (25) دوی به په دغه (جنت) کې نه عبث |

| | |
|---|---|
| تَأۡثِيمًا ﴿٢٥﴾ | خبرې اوري او نه د ګناه (خبرې) |
| إِلَّا قِيلٗا سَلَٰمٗا سَلَٰمٗا ﴿٢٦﴾ | (26) لېکن سلام، سلام ویل (به اوري) |
| وَأَصۡحَٰبُ ٱلۡيَمِينِ مَآ أَصۡحَٰبُ ٱلۡيَمِينِ ﴿٢٧﴾ | (27) او د ښي اړخ والا، څه دي د ښي اړخ والا |
| فِي سِدۡرٖ مَّخۡضُودٖ ﴿٢٨﴾ | (28) په بې اغزيو بېرو کې به وي |
| وَطَلۡحٖ مَّنضُودٖ ﴿٢٩﴾ | (29) او له بېخه تر سره ډکو کړی شويو (د) کيلو (په ونو) کې به وی |
| وَظِلّٖ مَّمۡدُودٖ ﴿٣٠﴾ | (30) او په اوږد کړی شويو همېشني سيورو کې به وي |
| وَمَآءٖ مَّسۡكُوبٖ ﴿٣١﴾ | (31) او په راتوی کړی شويو اوبو کې به وي |
| وَفَٰكِهَةٖ كَثِيرَةٖ ﴿٣٢﴾ | (32) اوپه ډېرو زياتو مېوو کې به وي |
| لَّا مَقۡطُوعَةٖ وَلَا مَمۡنُوعَةٖ ﴿٣٣﴾ | (33) چې نه به قطع کولی شي او نه به منع کولی شي |
| وَفُرُشٖ مَّرۡفُوعَةٍ ﴿٣٤﴾ | (34) او په اوچت کړی شويو فرشونو کې به وي |
| إِنَّآ أَنشَأۡنَٰهُنَّ إِنشَآءٗ ﴿٣٥﴾ | (35) بېشکه مونږ دغه (ښځې/حورې) پيدا |

کړې دي، خاص پیدا کول

فَجَعَلۡنَٰهُنَّ أَبۡكَارًا ﴿٣٦﴾

(36) نو مونږ دغه (حورې) پېغلې ګرځولې دي

عُرُبًا أَتۡرَابٗا ﴿٣٧﴾

(37) په خپلو خاوندانو مینانې (او) همزولې

لِّأَصۡحَٰبِ ٱلۡيَمِينِ ﴿٣٨﴾

(38) د ښي اړخ والاو لپاره

ثُلَّةٞ مِّنَ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿٣٩﴾

(39) (د ښي اړخ والا به) لویه ډله وي له ړومبنو خلقو نه

وَثُلَّةٞ مِّنَ ٱلۡأٓخِرِينَ ﴿٤٠﴾

(40) او بله لویه ډله به له وروستنیو خلقو نه وي

وَأَصۡحَٰبُ ٱلشِّمَالِ مَآ أَصۡحَٰبُ ٱلشِّمَالِ ﴿٤١﴾

(41) او د چپ اړخ (ګس) والا، څه دي د چپ اړخ والا

فِي سَمُومٖ وَحَمِيمٖ ﴿٤٢﴾

(42) (دوی به) په ګرم باد او ډېرو تودو اوبو کې وي

وَظِلّٖ مِّن يَحۡمُومٖ ﴿٤٣﴾

(43) او د تك تور لوګي په سیورې کې به وي

لَّا بَارِدٖ وَلَا كَرِيمٍ ﴿٤٤﴾

(44) چې نه به یخ وي او نه به د عزت وي

إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَبۡلَ ذَٰلِكَ مُتۡرَفِينَ ﴿٤٥﴾

(45) بېشکه دوی له دې نه مخکې (په دنیا

کې) په نعمتونو کې پالل شوي وو

وَكَانُوا۟ يُصِرُّونَ عَلَى ٱلْحِنثِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٤٦﴾

(46) او دوی په ډېره لويه گناه (کفر) باندې دوام (او اصرار) کاوه

وَكَانُوا۟ يَقُولُونَ أَئِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَـٰمًا أَءِنَّا لَمَبْعُوثُونَ ﴿٤٧﴾

(47) او دوی به ويل: ايا کله چې مونږ مړه شو او خاورې او هډوکي شو، ايا په رښتيا او يقينًا به مونږ بيا راژوندي کولی شو

أَوَءَابَآؤُنَا ٱلْأَوَّلُونَ ﴿٤٨﴾

(48) او ايا زمونږ ړومبني پلرونه هم!

قُلْ إِنَّ ٱلْأَوَّلِينَ وَٱلْـَٔاخِرِينَ ﴿٤٩﴾

(49) ته (دوی ته) ووايه چې بېشکه ړومبني او وروستني خلق

لَمَجْمُوعُونَ إِلَىٰ مِيقَـٰتِ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ﴿٥٠﴾

(50) دوی به خامخا د معلومې ورځې مقرر وخت ته راجمع کولی شي

ثُمَّ إِنَّكُمْ أَيُّهَا ٱلضَّآلُّونَ ٱلْمُكَذِّبُونَ ﴿٥١﴾

(51) بيا به يقينًا تاسو ای گمراهانو، تکذيب کوونکو!

لَـَٔاكِلُونَ مِن شَجَرٍ مِّن زَقُّومٍ ﴿٥٢﴾

(52) خامخا خوړونکي به يئ د زقوم له ونې نه

فَمَالِـُٔونَ مِنْهَا ٱلْبُطُونَ ﴿٥٣﴾

(53) نو له هغې نه به خېټې ډکوونکي يئ

فَشَـٰرِبُونَ عَلَيْهِ مِنَ ٱلْحَمِيمِ ﴿٥٤﴾

(54) بيا به تاسو د دغه (خوړل شوي زقوم) له

پاسه تودې اوبه څښونکي يئ

فَشَٰرِبُونَ شُرۡبَ ٱلۡهِيمِ ٥٥

(55) نو د ډېرو تږو اوښانو د څښلو په شان به څښونکي يئ

هَٰذَا نُزُلُهُمۡ يَوۡمَ ٱلدِّينِ ٥٦

(56) دا د بدلې په ورځ د دوی مېلمستيا ده

نَحۡنُ خَلَقۡنَٰكُمۡ فَلَوۡلَا تُصَدِّقُونَ ٥٧

(57) مونږ تاسو پيدا کړي يئ، نو ولې تاسو تصديق نه کوئ!

أَفَرَءَيۡتُم مَّا تُمۡنُونَ ٥٨

(58) نو تاسو ما ته خبر راکړئ! هغه نطفه چې تاسو يې تويوئ

ءَأَنتُمۡ تَخۡلُقُونَهُۥٓ أَمۡ نَحۡنُ ٱلۡخَٰلِقُونَ ٥٩

(59) ايا تاسو (له) دغې (نطفې نه بشر) پيدا کوئ، يا هم دا مونږ يې پيدا کوونکي يو

نَحۡنُ قَدَّرۡنَا بَيۡنَكُمُ ٱلۡمَوۡتَ وَمَا نَحۡنُ بِمَسۡبُوقِينَ ٦٠

(60) بېشکه مونږ ستاسو په مينځ کې مرګ مقدر کړی دی او مونږ عاجز کړی شوي نه يو

عَلَىٰٓ أَن نُّبَدِّلَ أَمۡثَٰلَكُمۡ وَنُنشِئَكُمۡ فِي مَا لَا تَعۡلَمُونَ ٦١

(61) له دې نه چې مونږ ستاسو په شان (نور خلق ستاسو) په بدل کې پيدا کړو او تاسو په هغو (صورتونو) سره پيدا کړو چې تاسو پرې علم نه لرئ

وَلَقَدۡ عَلِمۡتُمُ ٱلنَّشۡأَةَ ٱلۡأُولَىٰ

(62) او يقينًا يقينًا تاسو په ړومبني پيدا کولو

| | |
|---|---|
| فَلَوۡلَا تَذَكَّرُونَ ﰽ | عالمان شوي يئ، نو ولې تاسو پند نه اخلئ! |
| أَفَرَءَيۡتُم مَّا تَحۡرُثُونَ ﰾ | (63) نو تاسو ما ته خبر راکړئ! هغه تخم چې تاسو يې کرئ |
| ءَأَنتُمۡ تَزۡرَعُونَهُۥٓ أَمۡ نَحۡنُ ٱلزَّٰرِعُونَ ﰿ | (64) ايا تاسو دغه (کرل شوی) زرغونوئ، يا هم دا مونږ يې زرغونوونکي يو |
| لَوۡ نَشَآءُ لَجَعَلۡنَٰهُ حُطَٰمٗا فَظَلۡتُمۡ تَفَكَّهُونَ ﱀ | (65) که مونږ وغواړو (نو) خامخا دغه به وچ او ذره ذره کړو، بيا به تاسو حيران شئ |
| إِنَّا لَمُغۡرَمُونَ ﱁ | (66) (او وايئ به) بېشکه مونږ خامخا په تاوان کې غورځول شوي يو |
| بَلۡ نَحۡنُ مَحۡرُومُونَ ﱂ | (67) بلکې مونږ محروم کړی شوي يو |
| أَفَرَءَيۡتُمُ ٱلۡمَآءَ ٱلَّذِي تَشۡرَبُونَ ﱃ | (68) نو تاسو ما ته خبر راکړئ! هغه اوبه چې تاسو يې څښئ |
| ءَأَنتُمۡ أَنزَلۡتُمُوهُ مِنَ ٱلۡمُزۡنِ أَمۡ نَحۡنُ ٱلۡمُنزِلُونَ ﱄ | (69) ايا تاسو دغه له سپينو ورېځو نه نازلې کړې دي، يا هم دا مونږ يې نازلوونکي يو؟ |
| لَوۡ نَشَآءُ جَعَلۡنَٰهُ أُجَاجٗا فَلَوۡلَا تَشۡكُرُونَ ﱅ | (70) که مونږ وغواړو، دغه به تروې ترخې وګرځوو، نو تاسو ولې شکر نه وباسئ! |

| | |
|---|---|
| أَفَرَءَيۡتُمُ ٱلنَّارَ ٱلَّتِي تُورُونَ ٧١ | (71) نو تاسو ما ته خبر راکړئ! هغه اور چې تاسو يې بلوئ |
| ءَأَنتُمۡ أَنشَأۡتُمۡ شَجَرَتَهَآ أَمۡ نَحۡنُ ٱلۡمُنشِـُٔونَ ٧٢ | (72) ايا تاسو د ده ونه پيدا کړې ده، يا هم دا مونږ يې پيدا کوونکي يو؟ |
| نَحۡنُ جَعَلۡنَٰهَا تَذۡكِرَةٗ وَمَتَٰعٗا لِّلۡمُقۡوِينَ ٧٣ | (73) مونږه دغه (اور) تذکره (نصيحت) او د مسافرو لپاره نفعمن ګرځولی دی |
| فَسَبِّحۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلۡعَظِيمِ ٧٤ | (74) نو ته د خپل عظيم رب د نوم پاکي بيانوه |
| ۞فَلَآ أُقۡسِمُ بِمَوَٰقِعِ ٱلنُّجُومِ ٧٥ | (75) نو زه د ستوريو د پريوتو په ځايونو باندې قسم خورم |
| وَإِنَّهُۥ لَقَسَمٞ لَّوۡ تَعۡلَمُونَ عَظِيمٌ ٧٦ | (76) او بېشکه دا يقينًا ډېر لوی قسم دی که تاسو پوهېږئ |
| إِنَّهُۥ لَقُرۡءَانٞ كَرِيمٞ ٧٧ | (77) بېشکه دا خامخا ډېر عزتمن قرآن دی |
| فِي كِتَٰبٖ مَّكۡنُونٖ ٧٨ | (78) په پټ ساتل شوي کتاب کې دی |
| لَّا يَمَسُّهُۥٓ إِلَّا ٱلۡمُطَهَّرُونَ ٧٩ | (79) چې ده لره نه مسه کوي مګر نبه پاك کړی شوي خلق (ملايك) |

تَنزِيلٌ مِّن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٨٠﴾

(80) د رب العلمين له جانبه نازل کړی شوی دی

أَفَبِهَٰذَا ٱلۡحَدِيثِ أَنتُم مُّدۡهِنُونَ ﴿٨١﴾

(81) ایا نو تاسو د دې حدیث (قرآن) سپکاوی کوونکي یئ

وَتَجۡعَلُونَ رِزۡقَكُمۡ أَنَّكُمۡ تُكَذِّبُونَ ﴿٨٢﴾

(82) او تاسو خپله برخه دا ګرځوئ چې لازمًا تاسو یې تکذیب کوئ (دروغ یې ګڼئ)

فَلَوۡلَآ إِذَا بَلَغَتِ ٱلۡحُلۡقُومَ ﴿٨٣﴾

(83) نو ولې یې نه (راګرځوئ) کله چې ساه ستوني ته ورسیږي

وَأَنتُمۡ حِينَئِذٖ تَنظُرُونَ ﴿٨٤﴾

(84) او په دغه وخت کې تاسو ګورئ

وَنَحۡنُ أَقۡرَبُ إِلَيۡهِ مِنكُمۡ وَلَٰكِن لَّا تُبۡصِرُونَ ﴿٨٥﴾

(85) او مونږ ده ته له تاسو نه ډېر نژدې یو او لیکن تاسو نه وینئ

فَلَوۡلَآ إِن كُنتُمۡ غَيۡرَ مَدِينِينَ ﴿٨٦﴾

(86) نو ولې یې نه (راګرځوئ) که تاسو محکومان نه یئ

تَرۡجِعُونَهَآ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٨٧﴾

(87) (نو ولې) دغه ساه (نه) راګرځوئ که تاسو رښتیني یئ

فَأَمَّآ إِن كَانَ مِنَ ٱلۡمُقَرَّبِينَ ﴿٨٨﴾

(88) نو که چېرې (دغه مړی) له مقربینو څخه وي

| | |
|---|---|
| فَرَوۡحٞ وَرَيۡحَانٞ وَجَنَّتُ نَعِيمٖ ٨٩ | (89) نو (د ده لپاره) راحت او ښه رزق او له نعمتونو ډك جنت دى |
| وَأَمَّآ إِن كَانَ مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلۡيَمِينِ ٩٠ | (90) او كه د ښي اړخ والاو څخه وي |
| فَسَلَٰمٞ لَّكَ مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلۡيَمِينِ ٩١ | (91) نو (ورته ويلى به شي:) تا ته سلام دى (اى) له ښي اړخ والاو څخه! |
| وَأَمَّآ إِن كَانَ مِنَ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ٱلضَّآلِّينَ ٩٢ | (92) او كه چېرې (دا مړى) د تكذيب كوونكو ګمراهانو څخه وي |
| فَنُزُلٞ مِّنۡ حَمِيمٖ ٩٣ | (93) نو (د ده لپاره) د ډېرو ايشېدلو اوبو مېلمستيا ده |
| وَتَصۡلِيَةُ جَحِيمٍ ٩٤ | (94) او دوزخ ته ننه ايستل دي |
| إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ حَقُّ ٱلۡيَقِينِ ٩٥ | (95) بېشكه دا خبره يقينًا هم دا حقه يقيني ده |
| فَسَبِّحۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلۡعَظِيمِ ٩٦ | (96) پس ته د خپل عظيم رب د نوم پاكي بيانوه |

## سُورَةُ الحَدِيدِ

## سورة حديد

### بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

### د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ١

(1) د الله پاکي بیانوي هر هغه شی چې په اسمانونو او ځمکه کې دی او هم دی ښه غالب، ډېر حکمت والا دی

لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ
يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ
قَدِيرٌ ٢

(2) خاص هم ده لپاره د اسمانونو او ځمکې بادشاهي ده، دی ژوندي کول کوي اومړه کول کوي اوهم دی په هر شی باندې ښه قادر دی

هُوَ ٱلۡأَوَّلُ وَٱلۡأٓخِرُ وَٱلظَّٰهِرُ
وَٱلۡبَاطِنُۖ وَهُوَ بِكُلِّ شَيۡءٍ
عَلِيمٌ ٣

(3) هم دغه (الله) اول دی (هیڅ شی له هغه نه مخکې نه و) او اخر دی (له ده نه بعد هېڅ شی نشته) او لوړ دی (په هر شي بره دی) او باطن دی (له ده په وړاندې هېڅ شی پټ نه دی) او هغه په هر شي باندې ښه پوه دی

هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ
عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ يَعۡلَمُ مَا يَلِجُ فِي

(4) دی هغه ذات دی چې اسمانونه او ځمکه يې په شپږو ورځو کې پیدا کړي دي، بیا دی په عرش باندې برقراره شو، دی عالم دی په هر شي چې په ځمکه کې ننوځي او په هر

ٱلۡأَرۡضِ وَمَا يَخۡرُجُ مِنۡهَا وَمَا يَنزِلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ وَمَا يَعۡرُجُ فِيهَاۖ وَهُوَ مَعَكُمۡ أَيۡنَ مَا كُنتُمۡۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ٤

هغه شي چې له دې نه راوځي او په هر هغه شي چې له اسمانه راکوزېږي او په هر هغه شي چې په ده کې پورته خېژي او دغه (الله د خپل شان لایق) له تاسو سره دی، هر چېرې چې تاسو یئ او الله هغو کارونو لره چې تاسو یې کوئ، ښه لیدونکی دی

لَّهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ ٥

(5) خاص هم ده لره د اسمانونو او ځمکې بادشاهي ده او خاص الله ته ټول کارونه ورګرځولی شي

يُولِجُ ٱلَّيۡلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيۡلِۚ وَهُوَ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ٦

(6) دی شپه په ورځ کې ننباسي او ورځ په شپه کې ننباسي او دی د سینو په پټو خبرو ښه عالم دی

ءَامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَأَنفِقُواْ مِمَّا جَعَلَكُم مُّسۡتَخۡلَفِينَ فِيهِۖ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَأَنفَقُواْ لَهُمۡ أَجۡرٞ كَبِيرٞ ٧

(7) ای خلقو! تاسو په الله او د هغه په رسول ایمان راوړئ او له هغه (مال) څخه څه خرچ کړئ چې هغه (الله) تاسو په دغه (مال) کې (د نورو خلقو) ځای ناستي (خلیفه ګان) جوړ کړي یئ، نو هغه کسان چې له تاسو نه یې ایمان راوړی دی او انفاق یې کړی دی، د دوی لپاره ډېر لوی اجر دی

وَمَا لَكُمۡ لَا تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ

(8) او تاسو ته څه عذر دی چې په الله ایمان

وَٱلرَّسُولُ يَدۡعُوكُمۡ لِتُؤۡمِنُواْ
بِرَبِّكُمۡ وَقَدۡ أَخَذَ مِيثَٰقَكُمۡ إِن
كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ٨

نه راوړئ، حال دا چې (د الله) رسول تاسو ته بلنه درکوي دې ته چې تاسو په خپل رب ایمان راوړئ او یقینًا هغه (الله له تاسو نه) ستاسو پخه وعده اخیستې ده، که چېرې تاسو مومنان یئ

هُوَ ٱلَّذِي يُنَزِّلُ عَلَىٰ عَبۡدِهِۦٓ
ءَايَٰتِۭ بَيِّنَٰتٖ لِّيُخۡرِجَكُم مِّنَ
ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ
بِكُمۡ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٞ ٩

**(9)** دی همغه ذات دی چې په خپل بنده باندې خرګندې نښې (دلیلونه) نازلوي، د دې لپاره چې دغه (الله) تاسو له تیارو نه رڼا ته وباسي او بېشکه الله پر تاسو باندې یقینًا ډېر نرمي کوونکی، بې حده رحم کوونکی دی

وَمَا لَكُمۡ أَلَّا تُنفِقُواْ فِي سَبِيلِ
ٱللَّهِ وَلِلَّهِ مِيرَٰثُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضِۚ لَا يَسۡتَوِي مِنكُم مَّنۡ
أَنفَقَ مِن قَبۡلِ ٱلۡفَتۡحِ وَقَٰتَلَۚ
أُوْلَٰٓئِكَ أَعۡظَمُ دَرَجَةٗ مِّنَ ٱلَّذِينَ
أَنفَقُواْ مِنۢ بَعۡدُ وَقَٰتَلُواْۚ وَكُلّٗا وَعَدَ
ٱللَّهُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ
خَبِيرٞ ١٠

**(10)** او تاسو ته څه مانع (او عذر ) دی چې د الله په لاره کې خپل مال) نه لګوئ، حال دا چې د اسمانونو او ځمکې میراث خاص د الله لپاره دی په تاسو کې هغه څوك نه دي برابر چا چې (د الله په لاره کې) له فتحې نه مخکې انفاق کړی دی او جنګ یې کړی دی، دغه خلق د درجې په لحاظ له هغو کسانو نه ډېر لوی دي چې له دغې (فتحې) نه یې وروسته (د الله په لاره کې) انفاق کړی وي او جنګ یې کړی وي او (په دوی کې) له هر یو سره الله د ښېګڼې (جنت) وعده کړې ده او الله په هغو کارونو چې تاسو یې کوئ، ښه

خبردار دی

مَّن ذَا ٱلَّذِي يُقۡرِضُ ٱللَّهَ قَرۡضًا حَسَنًا فَيُضَٰعِفَهُۥ لَهُۥ وَلَهُۥٓ أَجۡرٞ كَرِيمٞ ١١

(11) څوک دی هغه کس چې الله ته قرض ورکړي، ډېر ښکلی قرض (حسن) نو چې هغه (الله) دغه (قرض) د ده لپاره دوه چنده کړي او د ده لپاره ډېر د عزت اجر دی

يَوۡمَ تَرَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ يَسۡعَىٰ نُورُهُم بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَبِأَيۡمَٰنِهِمۖ بُشۡرَىٰكُمُ ٱلۡيَوۡمَ جَنَّٰتٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ١٢

(12) هغه ورځ (یاده کړه) چې ته به مومنان سړي او مومنې ښځې وینې چې د دوی رڼا به د دوی مخې ته او د دوی ښي اړخ ته منډې وهي، ستاسو زېری نن ورځ داسې جنتونه دي چې د هغو له لاندې ولې بهېږي، چې په هغو کې به تل اوسېدونکي یئ، همدغه ډېره لویه کامیابي ده

يَوۡمَ يَقُولُ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتُ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱنظُرُونَا نَقۡتَبِسۡ مِن نُّورِكُمۡ قِيلَ ٱرۡجِعُواْ وَرَآءَكُمۡ فَٱلۡتَمِسُواْ نُورٗاۖ فَضُرِبَ بَيۡنَهُم بِسُورٖ لَّهُۥ بَابُۢ بَاطِنُهُۥ فِيهِ ٱلرَّحۡمَةُ وَظَٰهِرُهُۥ مِن قِبَلِهِ ٱلۡعَذَابُ ١٣

(13) (ای نبي! ته) هغه ورځ (یاده کړه) چې منافق سړي اومنافقې ښځې به ایمان داره کسانو ته وايي: مونږ ته وګورئ (انتظار وکړئ) چې ستاسو له رڼا نه رڼا واخلو (، نو) دوی ته به وویل شي چې خپلې شا ته وګرځئ، نو (هلته) رڼا ولټوئ، نو د دوی په مینځ کې به یو داسې دېوال وواهه شي چې د هغه به دروازه (هم) وي، د دغه (دېوال) دننه طرف، په هغه کې به رحمت وي او د دغه (دېوال) د

باندې طرف، له دغه جانبه به عذاب وي

يُنَادُونَهُمۡ أَلَمۡ نَكُن مَّعَكُمۡۖ قَالُواْ بَلَىٰ وَلَٰكِنَّكُمۡ فَتَنتُمۡ أَنفُسَكُمۡ وَتَرَبَّصۡتُمۡ وَٱرۡتَبۡتُمۡ وَغَرَّتۡكُمُ ٱلۡأَمَانِيُّ حَتَّىٰ جَآءَ أَمۡرُ ٱللَّهِ وَغَرَّكُم بِٱللَّهِ ٱلۡغَرُورُ ١٤

(14) دوی به دغو (مومنانو) ته اواز وکړي: ایا مونږ له تاسو سره نه وو ؟ نو دوی (مومنان) به ووایي: ولې نه! او لېکن تاسو خپل ځانونه په فتنه کې اچولي وو او تاسو انتظار کاوه او شك مو کاوه او (خپلو) ارزوګانو دوکه کړي (تېرایستلي) وئ، تر هغه پورې چې د الله امر راغی او تاسو د الله په باره کې ډېر دوکه کوونکي دوکه کړي وئ

فَٱلۡيَوۡمَ لَا يُؤۡخَذُ مِنكُمۡ فِدۡيَةٞ وَلَا مِنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۚ مَأۡوَىٰكُمُ ٱلنَّارُۖ هِيَ مَوۡلَىٰكُمۡۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ١٥

(15) نو نن ورځ به نه له تاسو نه څه فدیه (معاوضه) اخیستلی شي او نه له کافران شویو کسانو نه، ستاسو استوګنه اور دی، هغه (اور) ستاسو دوست (او لایق) دی او هغه د ورتلو بد ځای دی

۞أَلَمۡ يَأۡنِ لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَن تَخۡشَعَ قُلُوبُهُمۡ لِذِكۡرِ ٱللَّهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ ٱلۡحَقِّ وَلَا يَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلُ فَطَالَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَمَدُ فَقَسَتۡ قُلُوبُهُمۡۖ وَكَثِيرٞ مِّنۡهُمۡ فَٰسِقُونَ ١٦

(16) ایا هغو کسانو ته چې ایمان یې راوړی دی (دغه) وخت نه دی راغلی چې د دوی زړونه نرم (او په وېره) شي د الله ذکر ته او هغه حق ته چې نازل شوی دی ! او د هغو کسانو په شان نشي چې له دې نه مخکې ورته کتاب ورکړی شوی و، نو په دوی باندې زمانه اوږده شوه، پس د دوی زړونه سخت شول او په دوی

کې ډېر فاسقان (نافران) دي

ٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يُحۡيِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَاۚ قَدۡ بَيَّنَّا لَكُمُ ٱلۡأٓيَٰتِ لَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ١٧

(17) تاسو پوه شئ چې ببشکه الله ځمکه د هغې له مرګ (وچوالي) نه پس ژوندۍ کوي، یقینًا مونږ تاسو ته ایتونه بیان کړي دي، د دې لپاره چې تاسو له عقل نه کار واخلئ

إِنَّ ٱلۡمُصَّدِّقِينَ وَٱلۡمُصَّدِّقَٰتِ وَأَقۡرَضُواْ ٱللَّهَ قَرۡضًا حَسَنٗا يُضَٰعَفُ لَهُمۡ وَلَهُمۡ أَجۡرٞ كَرِيمٞ ١٨

(18) ببشکه خیرات کوونکي سړي او خیرات کوونکې ښځې او هغه چې الله ته قرض ورکوي، ښه قرض، د دوی لپاره (دغه قرضِ حسن) دوچند کولی شي او د دوی لپاره ډېر د عزت اجر دي

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦٓ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلصِّدِّيقُونَۖ وَٱلشُّهَدَآءُ عِندَ رَبِّهِمۡ لَهُمۡ أَجۡرُهُمۡ وَنُورُهُمۡۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَحِيمِ ١٩

(19) او هغه کسان چې په الله او د هغه په رسولانو یې ایمان راوړی دی همدغه کسان ډېر رښتني دي او د خپل رب په وړاندې شاهدان دي، د دوی لپاره د دوی اجر او د دوی رڼا ده او هغه کسان چې کافران شوي او زمونږ ایتونو ته یې دروغ ویلي دي؛ دغه کسان د دوزخ ملګري دي

ٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا لَعِبٞ وَلَهۡوٞ وَزِينَةٞ وَتَفَاخُرُۢ بَيۡنَكُمۡ وَتَكَاثُرٞ فِي ٱلۡأَمۡوَٰلِ وَٱلۡأَوۡلَٰدِۖ

(20) تاسو پوه شئ چې ببشکه دنیایي ژوند یواځې لوبې او عبث او زینت او په خپل مینځ یو په بل باندې فخر کول دي او په یو بل باندې په مالونو او اولادونو کې ډېر والی کول

كَمَثَلِ غَيۡثٍ أَعۡجَبَ ٱلۡكُفَّارَ
نَبَاتُهُۥ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَىٰهُ مُصۡفَرًّا
ثُمَّ يَكُونُ حُطَٰمٗاۖ وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِ
عَذَابٞ شَدِيدٞ وَمَغۡفِرَةٞ مِّنَ ٱللَّهِ
وَرِضۡوَٰنٞۚ وَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا
مَتَٰعُ ٱلۡغُرُورِ ٢٠

دي د هغه باران په شان چې کرونکي (کروندګر) لره د هغه (باران) زرغونه خوشاله کړي، بيا هغه (زرغونه) وچېږي، نو ته دغه زرغونه تکه زېړه وينې، بيا هغه رېزه رېزه شي او په اخرت کې (د اخرت منکرانو ته) ډېر سخت عذاب دی او (منونکو ته) د الله له جانبه بخښنه او رضامندي ده، او دنيايي ژوند نه دی مګر د دوکې (او غولېدلو) سامان دی

سَابِقُوٓاْ إِلَىٰ مَغۡفِرَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ
وَجَنَّةٍ عَرۡضُهَا كَعَرۡضِ ٱلسَّمَآءِ
وَٱلۡأَرۡضِ أُعِدَّتۡ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ
بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦۚ ذَٰلِكَ فَضۡلُ ٱللَّهِ
يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ
ٱلۡعَظِيمِ ٢١

(21) تاسو تلوار وکړئ د الله له جانبه مغفرت ته او داسې جنت ته چې د هغه پلنوالی د اسمان او ځمکې د پلنوالي په شان دی، د هغو کسانو لپاره تيار کړی شوی دی چې په الله او د هغه په رسولانو ايمان لري، دغه د الله فضل دی، چا ته چې وغواړي دغه ورکوي او الله د ډېر لوی فضل والا دی

مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ
وَلَا فِيٓ أَنفُسِكُمۡ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ
مِّن قَبۡلِ أَن نَّبۡرَأَهَآۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى
ٱللَّهِ يَسِيرٞ ٢٢

(22) نه رسېږي په ځمکه کې او نه ستاسو په ځانونو کې کوم مصيبت مګر (دا) په کتاب کې دي مخکې له دې نه چې دغه (ځانونه) پيدا کړو، بېشکه الله ته دا ډېره اسانه ده

لِّكَيۡلَا تَأۡسَوۡاْ عَلَىٰ مَا فَاتَكُمۡ وَلَا

(23) لپاره د دې چې تاسو په هغه څه خفه نشئ چې له تاسو فوت شول او په هغه څه

تَفۡرَحُواْ بِمَآ ءَاتَىٰكُمۡۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخۡتَالٖ فَخُورٍ ٢٣

خوشاله نشئ چې تاسو ته هغه درکړل او الله نه خوښوي هېڅ کبرجن (او) فخر کوونکی

ٱلَّذِينَ يَبۡخَلُونَ وَيَأۡمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلۡبُخۡلِۗ وَمَن يَتَوَلَّ فَإِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡغَنِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ٢٤

(24) هغه کسان چې (پخپله) بخل کوي او (نورو) خلقو ته (هم) د بخل کولو حکم کوي او هغه څوك چې مخ يې وګرځاوه، نو بېشکه الله، هم دی ښه بې پروا، ډېر ستایل شوی دی

لَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلَنَا بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَأَنزَلۡنَا مَعَهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡمِيزَانَ لِيَقُومَ ٱلنَّاسُ بِٱلۡقِسۡطِۖ وَأَنزَلۡنَا ٱلۡحَدِيدَ فِيهِ بَأۡسٞ شَدِيدٞ وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعۡلَمَ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥ وَرُسُلَهُۥ بِٱلۡغَيۡبِۚ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٞ ٢٥

(25) یقینًا یقینًا مونږ خپل رسولان په ښکاره دلیلونو سره لېږلي دي او له دوی سره مونږ کتاب او تله نازل کړي دي، د دې لپاره چې خلق په انصاف ودرېږي او مونږ اوسپنه نازله کړې ده، په دې کې (قوت د) سخت جنګ دی او د خلقو لپاره ګټې دي او د دې لپاره چې الله په هغه چا باندې پوه شي چې د ده او د ده د رسولانو په نالیدلو مدد کوي، بېشکه الله ډېر قوي، ښه غالب دی

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا نُوحٗا وَإِبۡرَٰهِيمَ وَجَعَلۡنَا فِي ذُرِّيَّتِهِمَا ٱلنُّبُوَّةَ وَٱلۡكِتَٰبَۖ فَمِنۡهُم مُّهۡتَدٖۖ وَكَثِيرٞ مِّنۡهُمۡ فَٰسِقُونَ ٢٦

(26) او یقینًا یقینًا مونږ نوح او ابراهیم رسولان لېږلي وو او د دغو دواړو په اولاده کې مو نبوت او کتاب ایښی و، نو په دوی کې ځینې هدایت موندونکي دي او په دوی کې ډېر زیات فاسقان دي

ثُمَّ قَفَّيۡنَا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم بِرُسُلِنَا وَقَفَّيۡنَا بِعِيسَى ٱبۡنِ مَرۡيَمَ وَءَاتَيۡنَٰهُ ٱلۡإِنجِيلَۖ وَجَعَلۡنَا فِي قُلُوبِ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُ رَأۡفَةٗ وَرَحۡمَةٗۚ وَرَهۡبَانِيَّةً ٱبۡتَدَعُوهَا مَا كَتَبۡنَٰهَا عَلَيۡهِمۡ إِلَّا ٱبۡتِغَآءَ رِضۡوَٰنِ ٱللَّهِ فَمَا رَعَوۡهَا حَقَّ رِعَايَتِهَاۖ فَـَٔاتَيۡنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنۡهُمۡ أَجۡرَهُمۡۖ وَكَثِيرٞ مِّنۡهُمۡ فَٰسِقُونَ ٢٧

(27) بیا مونږ د دوی د قدمونو په اثارو پسې خپل رسولان راولېږل او ورپسې مو راوست عیسیٰ زوی د مریمې او مونږ ده ته انجیل ورکړی و او مونږ د ده د پېروي کوونکو په زړونو کې نرمي او مهرباني کول اېښې وو او رهبانیت چې دغه دوی له ځانه ایجاد کړی و، مونږ په دوی باندې لازم کړی نه و لېکن (دوی غوره کړی و) د الله د رضامندۍ لټولو لپاره، نو دوی د هغه (رهبانیت) رعایت ونه کړ، حق رعایت، نو په دوی کې هغو کسانو ته چې ایمان یې راوړی و ؛ مونږ د دوی اجر ورکړ او په دوی کې ډېر زیات فاسقان وو

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَءَامِنُواْ بِرَسُولِهِۦ يُؤۡتِكُمۡ كِفۡلَيۡنِ مِن رَّحۡمَتِهِۦ وَيَجۡعَل لَّكُمۡ نُورٗا تَمۡشُونَ بِهِۦ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٢٨

(28) ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو له الله نه ووېرېږئ او د هغه په رسول ایمان راوړئ هغه (الله) به تاسو ته له خپل رحمت نه دوه حصې درکړي او تاسو لپاره به رڼا پیدا کړي چې تاسو به له هغې سره (په پل صراط) ځئ او تاسو به وبخښي او الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی

لِّئَلَّا يَعۡلَمَ أَهۡلُ ٱلۡكِتَٰبِ أَلَّا يَقۡدِرُونَ عَلَىٰ شَيۡءٖ مِّن فَضۡلِ

(29) د دې لپاره چې اهل کتاب (په دې) ښه پوه شي چې دوی د الله له فضله په هېڅ شي

ٱللَّهِ وَأَنَّ ٱلۡفَضۡلَ بِيَدِ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٢٩﴾

باندې قادر نه دي او دا چې بېشکه فضل د الله په لاس کې دی، چا ته چې وغواړي هغه ورکوي او الله د ډېر لوی فضل والا دی

## سُورَةُ المُجَادلَةِ

## سورة مجادله

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

قَدۡ سَمِعَ ٱللَّهُ قَوۡلَ ٱلَّتِي تُجَٰدِلُكَ فِي زَوۡجِهَا وَتَشۡتَكِيٓ إِلَى ٱللَّهِ وَٱللَّهُ يَسۡمَعُ تَحَاوُرَكُمَآۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعُۢ بَصِيرٌ ﴿١﴾

(1) يقيناً الله د هغې ښځې خبره واورېدله چې له تا سره يې د خپل خاوند په باره کې بحث (او سوال و جواب) کاوه او الله ته يې شکايت کاوه او الله ستاسو د دواړو سوال او جواب اورېده، بېشکه الله ښه اورېدونکی، ښه ليدونکی دی

ٱلَّذِينَ يُظَٰهِرُونَ مِنكُم مِّن نِّسَآئِهِم مَّا هُنَّ أُمَّهَٰتِهِمۡۖ إِنۡ أُمَّهَٰتُهُمۡ إِلَّا ٱلَّٰٓـِٔي وَلَدۡنَهُمۡۚ وَإِنَّهُمۡ لَيَقُولُونَ مُنكَرٗا مِّنَ ٱلۡقَوۡلِ وَزُورٗاۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٞ ﴿٢﴾

(2) هغه کسان چې په تاسو کې له خپلو ښځو نه ظهار کوي (ورته وايي چې ته په ما باندې د خپلې مور د شا په شان يې، نو دغه (ښځې) د دوی ميندې نه دي، د دوی ميندې نه دي مگر هغه چې دوی يې زېږولي دي او بېشکه يقيناً دوی يوه خرابه خبره او دروغ وايي او بېشکه يقيناً الله ډېر معافي

كوونكى، ډېر بخښونكى دى

وَٱلَّذِينَ يُظَٰهِرُونَ مِن نِّسَآئِهِمۡ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا قَالُواْ فَتَحۡرِيرُ رَقَبَةٖ مِّن قَبۡلِ أَن يَتَمَآسَّاۚ ذَٰلِكُمۡ تُوعَظُونَ بِهِۦۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ٣

(3) او هغه كسان چې له خپلو ښځو نه ظهار كوي، بيا دوى (ماتولو د) هغې خبرې ته راګرځي چې ويلې وه، نو د يو مريي ازادول (لازم) دي، مخكې له دې چې دوى يو بل سره مسه كړي (كور والى وكړي) دغه (حكم) دى، تاسو ته په ده سره پند دركاوه شي او الله په هغو كارونو چې تاسو يې كوئ ښه خبردار دى

فَمَن لَّمۡ يَجِدۡ فَصِيَامُ شَهۡرَيۡنِ مُتَتَابِعَيۡنِ مِن قَبۡلِ أَن يَتَمَآسَّاۖ فَمَن لَّمۡ يَسۡتَطِعۡ فَإِطۡعَامُ سِتِّينَ مِسۡكِينٗاۚ ذَٰلِكَ لِتُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۚ وَتِلۡكَ حُدُودُ ٱللَّهِۗ وَلِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٌ ٤

(4) نو چا چې (مريى) ونه موندە، نو (په هغه دوه مياشتې پرله پسې روژه نيول (لازم) دي، مخكې له دې چې دوى يو بل سره مسه كړي، نو هغه څوك چې (د دې) توان نه لري، نو (په ده) شپېتو مسكينانو ته خوراك وركول (لازم) دي دا (حكم) د دې لپاره دى چې تاسو په الله او د هغه په رسول ايمان راوړئ او دغه د الله (مقرر كړې) حدونه دي او د كافرانو لپاره ډېر دردوونكى عذاب دى

إِنَّ ٱلَّذِينَ يُحَآدُّونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ كُبِتُواْ كَمَا كُبِتَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ وَقَدۡ أَنزَلۡنَآ ءَايَٰتِۭ بَيِّنَٰتٖۚ

(5) بېشكه هغه كسان چې د الله او د هغه د رسول مخالفت كوي، دوى به هلاك كړى شي، لكه چې هلاك كړى شوي وو هغه

وَلِلْكَٰفِرِينَ عَذَابٌ مُّهِينٌ ٥

كسان چې له دوی نه مخکې وو او يقيناً مونږ ډېرې روښانه نښې (او دلايل) نازلې کړې دي او د کافرانو لپاره سپکوونکی عذاب دی

يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ ٱللَّهُ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوٓا۟ ۚ أَحْصَىٰهُ ٱللَّهُ وَنَسُوهُ ۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ ٦

(6) (ياده کړه) هغه ورځ چې الله به دوی ټول ژوندي راپورته کړي، پس دوی به په هغو کارونو خبر کړي چې دوی کړي دي، الله هغه محفوظ کړي دي او دوی هغه هېر کړي دي او الله په هر شي باندې ښه شاهد (ګواه) دی

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۖ مَا يَكُونُ مِن نَّجْوَىٰ ثَلَٰثَةٍ إِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ وَلَا خَمْسَةٍ إِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ وَلَآ أَدْنَىٰ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكْثَرَ إِلَّا هُوَ مَعَهُمْ أَيْنَ مَا كَانُوا۟ ۖ ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا۟ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ٧

(7) ايا ته نه يې خبر چې بېشکه الله پوهېږي په هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او په هر هغه څه چې په ځمکه کې دي، نه وي هيڅ پټه مشوره د درې کسانو مګر هغه (الله) د دوی څلورم وي او نه د پنځو کسانو مګر هغه د دوی شپږم وي او نه له دې نه د کمو وي او نه (له دې نه) د زياتو مګر هغه له دوی سره وي، دوی چې هرچېرې وي، بيا به هغه د قيامت په ورځ دوی په هغو عملونو خبر کړي چې دوی کړي دي، بېشکه الله په هر شي باندې ښه پوه دی

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ نُهُوا۟ عَنِ ٱلنَّجْوَىٰ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا نُهُوا۟

(8) ايا تا هغه کسان نه دي کتلي چې له پټو مشورو نه منع کړی شوي وو، بيا دوی هغه څه

عَنۡهُ وَيَتَنَٰجَوۡنَ بِٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِ
وَمَعۡصِيَتِ ٱلرَّسُولِۖ وَإِذَا جَآءُوكَ
حَيَّوۡكَ بِمَا لَمۡ يُحَيِّكَ بِهِ ٱللَّهُ
وَيَقُولُونَ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ لَوۡلَا يُعَذِّبُنَا
ٱللَّهُ بِمَا نَقُولُۚ حَسۡبُهُمۡ جَهَنَّمُ
يَصۡلَوۡنَهَاۖ فَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ﴿٨﴾

ته راګرځي چې له هغه نه منع کړی شوي وو او دوی د ګناه او ظلم او د رسول د نافرمانۍ په هکله پټې مشورې کوي او کله چې دوی تا ته راشي (نو) تا ته په هغه (کلمې) سره سلام کوي چې په هغې سره الله تا ته سلام نه دی (مقرر) کړی او دوی په خپلو نفسونو (زړونو) کې وايي: الله مونږ ته په هغه څه ولې عذاب نه راکوي چې مونږ يې وايو، دوی ته جهنم بس دی، چې دوی به هغه ته ننوځي، پس هغه د ورتلو بد ځای دی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا تَنَٰجَيۡتُمۡ
فَلَا تَتَنَٰجَوۡاْ بِٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِ
وَمَعۡصِيَتِ ٱلرَّسُولِ وَتَنَٰجَوۡاْ
بِٱلۡبِرِّ وَٱلتَّقۡوَىٰۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِيٓ
إِلَيۡهِ تُحۡشَرُونَ ﴿٩﴾

(9) ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! کله چې تاسو په خپل مينځ کې پټې خبرې (او مشورې)، کوئ، نو دګناه کولو او ظلم او د رسول د نافرمانۍ په هکله يو له بله سره پټې مشورې مه کوئ او د نيکۍ او تقوىٰ په هکله يو له بل سره پټې مشورې کوئ او تاسو له هغه الله نه ووېرېږئ چې تاسو به خاص هغه ته ورجمع کولی شئ

إِنَّمَا ٱلنَّجۡوَىٰ مِنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ
لِيَحۡزُنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَيۡسَ
بِضَآرِّهِمۡ شَيۡـًٔا إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ

(10) بېشکه (د ګناه) پټې مشورې يواځې د شيطان له اړخه دي، د دې لپاره چې دی هغه کسان غمجن کړي چې ايمان يې راوړی دی، حال دا چې دغه (شيطان) دوی ته هېڅ

وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ١٠

شی ضرر رسوونکی نه دی مگر د الله په اذن (او ارادې) سره او لازم ده چې مومنان خاص په الله باندې توکل وکړي

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قِيلَ لَكُمۡ تَفَسَّحُواْ فِي ٱلۡمَجَٰلِسِ فَٱفۡسَحُواْ يَفۡسَحِ ٱللَّهُ لَكُمۡۖ وَإِذَا قِيلَ ٱنشُزُواْ فَٱنشُزُواْ يَرۡفَعِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ دَرَجَٰتٖۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ١١

(11) ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! کله چې تاسو ته وویل شي: تاسو په مجلس کې ځای ارت کړئ، نو تاسو ځای ارت کړئ، الله به تاسو ته ځای ارت کړي او کله چې تاسو ته وویل شي چې (کوم نیك کار ته) پورته شئ، نو پورته شئ، الله به په تاسو کې هغه کسان په درجو کې اوچت کړي چې ایمان یې راوړی دی او هغه کسان چې هغوی ته علم ورکړی شوی دی او الله په هغو کارونو چې تاسو یې کوئ ښه خبردار دی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نَٰجَيۡتُمُ ٱلرَّسُولَ فَقَدِّمُواْ بَيۡنَ يَدَيۡ نَجۡوَىٰكُمۡ صَدَقَةٗۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ لَّكُمۡ وَأَطۡهَرُۚ فَإِن لَّمۡ تَجِدُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ١٢

(12) ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! کله چې تاسو له رسول سره پټه خبره کول غواړئ، نو تاسو له خپلې پټې مشورې نه مخکې صدقه وړاندې کړئ، دا تاسو لپاره ډېر غوره او ډېر پاکیزه دي، نو که تاسو (صدقه) ونه مومئ، نو بېشکه الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی

ءَأَشۡفَقۡتُمۡ أَن تُقَدِّمُواْ بَيۡنَ يَدَيۡ

(13) ایا تاسو له دې نه ووېرېدئ چې له

نَجۡوَىٰكُمۡ صَدَقَٰتٍۚ فَإِذۡ لَمۡ تَفۡعَلُواْ وَتَابَ ٱللَّهُ عَلَيۡكُمۡ فَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥۚ وَٱللَّهُ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ﴿١٣﴾

خپلې پټې مشورې نه مخکې صدقې وړاندې کړئ، نو کله چې تاسو (دا کار) ونه کړ او الله پر تاسو باندې رجوع وکړه، نو تاسو لمونځ قايموئ او زکات ورکوئ او د الله او د هغه د رسول اطاعت کوئ او الله په هغو عملونو چې تاسو يې کوئ ښه خبردار دی

۞أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ تَوَلَّوۡاْ قَوۡمًا غَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم مَّا هُم مِّنكُمۡ وَلَا مِنۡهُمۡ وَيَحۡلِفُونَ عَلَى ٱلۡكَذِبِ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ﴿١٤﴾

**(14)** ايا تا هغو کسانو ته نه دي کتلي چې له داسې قوم سره دوستي کوي چې الله پر هغوی باندې غضب کړی دی، دغه کسان (منافقان) نه ستاسو څخه دي او نه له هغوی (کافرانو) څخه دي او دوی په دروغو باندې قسمونه خوري، حال دا چې دوی پوهېږي

أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُمۡ عَذَابٗا شَدِيدًاۖ إِنَّهُمۡ سَآءَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١٥﴾

**(15)** الله د دوی لپاره ډېر سخت عذاب تيار کړی دی، بېشکه دوی (چې دي) بد دی هغه (کار) چې دوی به کاوه

ٱتَّخَذُوٓاْ أَيۡمَٰنَهُمۡ جُنَّةٗ فَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ فَلَهُمۡ عَذَابٞ مُّهِينٞ ﴿١٦﴾

**(16)** دوی خپل قسمونه ډال ګرځولي دي، نو دوی (خلق) د الله له لارې نه منع کړل، نو د دوی لپاره سپکوونکی عذاب دی

لَّن تُغۡنِيَ عَنۡهُمۡ أَمۡوَٰلُهُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُهُم مِّنَ ٱللَّهِ شَيۡـًٔاۚ أُوْلَٰٓئِكَ

**(17)** د دوی لپاره به د الله په مقابله کې نه د دوی مالونونه هېڅ شی پکار راشي او نه د

أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ١٧

دوی اولادونه، دغه کسان د اور ملګري دي دوی به په هغه کې تل تر تله وي

يَوۡمَ يَبۡعَثُهُمُ ٱللَّهُ جَمِيعٗا فَيَحۡلِفُونَ لَهُۥ كَمَا يَحۡلِفُونَ لَكُمۡ وَيَحۡسَبُونَ أَنَّهُمۡ عَلَىٰ شَيۡءٍۚ أَلَآ إِنَّهُمۡ هُمُ ٱلۡكَٰذِبُونَ ١٨

(18) (یاده کړه) هغه ورځ چې الله به دوی ټول ژوندي راپورته کړي، نو دوی به هغه (الله) ته قسمونه خوري، لکه څنګه چې تاسو ته قسمونه خوري او دوی به ګمان کوي چې یقینًا دوی په یو (نفعمن) شي (لار) باندې دي، خبردار شئ! بېشکه هم دوی دروغجنان دي

ٱسۡتَحۡوَذَ عَلَيۡهِمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ فَأَنسَىٰهُمۡ ذِكۡرَ ٱللَّهِۚ أُوْلَٰٓئِكَ حِزۡبُ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ أَلَآ إِنَّ حِزۡبَ ٱلشَّيۡطَٰنِ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ١٩

(19) په دوی باندې شیطان غالب شوی دی، نو هغه له دوی نه د الله ذکر هېر کړی دی، دغه کسان د شیطان لښکر دی، خبردار شئ! بېشکه د شیطان لښکر (چې دی)، هم دوی زیان کاران دي

إِنَّ ٱلَّذِينَ يُحَآدُّونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ أُوْلَٰٓئِكَ فِي ٱلۡأَذَلِّينَ ٢٠

(20) بېشکه هغه کسان چې د الله او د هغه د رسول مخالفت کوي، دغه کسان په ډېر زیاتو ذلیلو (خلقو) کې دي

كَتَبَ ٱللَّهُ لَأَغۡلِبَنَّ أَنَا۠ وَرُسُلِيٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٞ ٢١

(21) الله لیکلي دي چې خامخا (او) لازمًا به زه غالب کېږم او زما رسولان، بېشکه الله ډېر قوي، بنه غالب دی

لَّا تَجِدُ قَوۡمٗا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ يُوَآدُّونَ مَنۡ حَآدَّ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَوۡ كَانُوٓاْ ءَابَآءَهُمۡ أَوۡ أَبۡنَآءَهُمۡ أَوۡ إِخۡوَٰنَهُمۡ أَوۡ عَشِيرَتَهُمۡۚ أُوْلَٰٓئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلۡإِيمَٰنَ وَأَيَّدَهُم بِرُوحٖ مِّنۡهُۖ وَيُدۡخِلُهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ رَضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُۚ أُوْلَٰٓئِكَ حِزۡبُ ٱللَّهِۚ أَلَآ إِنَّ حِزۡبَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ٢٢

(22) ته به داسې قوم ونه مومې چې په الله او په ورځ د اخرت ايمان لري، چې دوی به له هغو کسانو سره دوستي کوي چې د الله او د هغه د رسول مخالفت کوي اگر چې دغه خلق د دوی پلرونه وي، يا د دوی زامن، يا د دوی ورونه، يا د دوی قبيله وي، دغه کسان دي چې هغه (الله) د دوی په زړونو کې ايمان ليکلی دی او دوی يې په هغه روح سره قوي کړي دي چې د ده له جانبه دی او هغه به دوی داسې جنتونو ته داخل کړي چې د هغو له لاندې ولې بهېږي، چې دوی به هغه کې تل تر تله وي، الله له دوی نه راضي شو او دوی له هغه نه راضي شول، دغه کسان د الله لښکر دی اگاه شئ! بېشکه د الله لښکر، هم دوی کامياب دي

## سُورَةُ الحَشۡرِ

## سورة حشر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي

(1) د الله لپاره پاکي بيانوي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په

ٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ١

ځمکه کې دي او هم دی ښه غالب، ډېر حکمت والا دی

هُوَ ٱلَّذِيٓ أَخۡرَجَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ مِن دِيَٰرِهِمۡ لِأَوَّلِ ٱلۡحَشۡرِۚ مَا ظَنَنتُمۡ أَن يَخۡرُجُواْۖ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُم مَّانِعَتُهُمۡ حُصُونُهُم مِّنَ ٱللَّهِ فَأَتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِنۡ حَيۡثُ لَمۡ يَحۡتَسِبُواْۖ وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلرُّعۡبَۚ يُخۡرِبُونَ بُيُوتَهُم بِأَيۡدِيهِمۡ وَأَيۡدِي ٱلۡمُؤۡمِنِينَ فَٱعۡتَبِرُواْ يَٰٓأُوْلِي ٱلۡأَبۡصَٰرِ ٢

(2) دی هغه ذات دی چې کتابي کافران يې له خپلو کورونو نه وويستل په اول وېستلو کې، تاسو دا ګمان نه کاوه چې دوی به ووځي او دوی ګمان کاوه چې د دوی قلاګاني دوی لره د الله (له عذاب) نه منع کوونکي (او ساتونکې) دي، نو الله دوی ته له هغه ځایه راغی چې دوی (يې) خيال هم نه کاوه او د دوی په زړونو کې يې رعب واچاوه، دوی خپل کورونه په خپلو لاسونو او د مومنانو په لاسونو ورانول، نو ای د سترګو خاوندانو! تاسو عبرت واخلئ

وَلَوۡلَآ أَن كَتَبَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡجَلَآءَ لَعَذَّبَهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابُ ٱلنَّارِ ٣

(3) او که الله په دوی باندې بې کوره کېدل نه وی لیکلي (نو) یقینًا دوی ته به يې په دنیا کې عذاب ورکړی و او د دوی لپاره په اخرت کې د اور عذاب دی

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ شَآقُّواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥۖ وَمَن يُشَآقِّ ٱللَّهَ فَإِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ٤

(4) دا ځکه چې یقینًا دوی د الله او د هغه د رسول مخالفت کړی و او هغه څوک چې د الله مخالفت وکړي، نو بېشکه الله د ډېر سخت عذاب والا دی

مَا قَطَعۡتُم مِّن لِّينَةٍ أَوۡ تَرَكۡتُمُوهَا قَآئِمَةً عَلَىٰٓ أُصُولِهَا فَبِإِذۡنِ ٱللَّهِ وَلِيُخۡزِيَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ٥

(5) د کجورو هره هغه ونه چې تاسو پرې کړه، یا مو هغه په خپلو بېخونو ولاړه پرېښوده، نو (دغه) د الله په حکم سره دي او د دې لپاره چې هغه (الله) دغو فاسقانو (کافرانو) لره رسوا (او ذلیله) کړي

وَمَآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ مِنۡهُمۡ فَمَآ أَوۡجَفۡتُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ خَيۡلٖ وَلَا رِكَابٖ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهُۥ عَلَىٰ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٦

(6) او هغه (مال) چې الله له دوی نه په خپل رسول باندې راګرځولی دی، نو تاسو په دغه (مال) باندې نه اسونه ځغلولي دي او نه اوښان او لیکن الله خپل رسولان مسلط کوي په هر هغه چا باندې چې یې وغواړي او الله په هر شي باندې ښه قادر دی

مَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡقُرَىٰ فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِ كَيۡ لَا يَكُونَ دُولَةَۢ بَيۡنَ ٱلۡأَغۡنِيَآءِ مِنكُمۡۚ وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمۡ عَنۡهُ فَٱنتَهُواْۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۖ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ٧

(7) هغه شی چې الله په خپل رسول باندې د کلیو له اوسېدونکو نه راګرځولی دی، نو (هغه) الله لره او ( د الله) رسول لره دی او (او د رسول) خپلوانو او یتیمانو او مسکینانو اومسافرو لره دی، د دې لپاره چې دغه (مال) په تاسو کې د غنیانو په مینځ کې ګردش کوونکی ونه ګرځي او رسول چې تاسو ته څه هم درکړي، نو هغه واخلئ او له څه نه چې هغه تاسو منع کړي، نو تاسو منع شئ او له الله نه ووېرېږئ، بېشکه الله ډېر سخت عذاب

والا دی

لِلۡفُقَرَآءِ ٱلۡمُهَٰجِرِينَ ٱلَّذِينَ أُخۡرِجُواْ مِن دِيَٰرِهِمۡ وَأَمۡوَٰلِهِمۡ يَبۡتَغُونَ فَضۡلٗا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضۡوَٰنٗا وَيَنصُرُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلصَّٰدِقُونَ ۝٨

(8) (دغه مالونه) د هغو فقيرو هجرت کوونکو لپاره دي چې له خپلو کورونو او خپلو مالونو نه ایستل شوي دي، په داسې حال کې چې دوی د الله فضل او رضامندي لټوي او د الله او د هغه د رسول مدد کوي، همدغه کسان رښتیني دي

وَٱلَّذِينَ تَبَوَّءُو ٱلدَّارَ وَٱلۡإِيمَٰنَ مِن قَبۡلِهِمۡ يُحِبُّونَ مَنۡ هَاجَرَ إِلَيۡهِمۡ وَلَا يَجِدُونَ فِي صُدُورِهِمۡ حَاجَةٗ مِّمَّآ أُوتُواْ وَيُؤۡثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ وَلَوۡ كَانَ بِهِمۡ خَصَاصَةٞۚ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفۡسِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ۝٩

(9) او د هغو کسانو لپاره دي چې دوی له دغو (مهاجرینو) نه مخکې په دغه کور (مدینه) کې او په ایمان کې ځای نیولی دی، دوی له هغو کسانو سره مینه کوي چې دوی ته یې هجرت کړی دی او دوی په خپلو سینو (زړونو) کې هېڅ غصه (او حسد) نه مومي د هغه (مال) په وجه چې دغو (مهاجرینو) ته ورکړی شو او دوی په خپلو ځانونو باندې (هجرت کوونکو ته) ترجیح ورکوي اګر که په دوی باندې تنګي (او حاجت مندي) وي او هر هغه څوك چې د خپل نفس له بخیلۍ نه بچ کړی شو، نو همدغه کسان کامیاب (او په مراد رسېدلي) دي

وَٱلَّذِينَ جَآءُو مِنۢ بَعۡدِهِمۡ

(10) او د هغو کسانو لپاره دي چې له دوی

يَقُولُونَ رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لَنَا وَلِإِخۡوَٰنِنَا ٱلَّذِينَ سَبَقُونَا بِٱلۡإِيمَٰنِ وَلَا تَجۡعَلۡ فِي قُلُوبِنَا غِلّٗا لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ رَبَّنَآ إِنَّكَ رَءُوفٞ رَّحِيمٌ ١٠

(هجرت کوونکو او انصارو) نه وروسته راغلي دي؛ دوی وايي: ای زمونږه ربه: ته مونږ ته مغفرت وکړه او زمونږ هغو ورونو ته چې زمونږ نه يې په ايمان سره سبقت (او ړومبی والی) کړی دی او ته زمونږ په زړونو کې د هغو کسانو لپاره هېڅ بغض (او کينه) مه پيدا کوه چې ايمان يې راوړی دی ای زمونږه ربه! بېشکه ته ډېر نرمي کوونکی، بې حده رحم کوونکی يې

۞أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ نَافَقُواْ يَقُولُونَ لِإِخۡوَٰنِهِمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ لَئِنۡ أُخۡرِجۡتُمۡ لَنَخۡرُجَنَّ مَعَكُمۡ وَلَا نُطِيعُ فِيكُمۡ أَحَدًا أَبَدٗا وَإِن قُوتِلۡتُمۡ لَنَنصُرَنَّكُمۡ وَٱللَّهُ يَشۡهَدُ إِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ١١

(11) ايا تا نه دي کتلي هغو کسانو ته چې منافقان شوي دي، دوی خپلو هغو ورونو ته چې په اهل کتابو کې کافران شوي دي؛ وايي: قسم دی که تاسو ووېستل شئ (نو) خامخا ضرور به مونږ هم له تاسو سره وځو او ستاسو په باره کې به د هيچا خبره هيڅکله هم ونه منو او که چېرې له تاسو سره جنگ شروع کړی شي (نو) مونږ به خامخا ضرور ستاسو مدد کوو او الله گواهي ورکوي چې بېشکه دوی يقينًا دروغجن دي

لَئِنۡ أُخۡرِجُواْ لَا يَخۡرُجُونَ مَعَهُمۡ وَلَئِن قُوتِلُواْ لَا يَنصُرُونَهُمۡ وَلَئِن

(12) قسم دی که دوی وويستل شي (نو) دوی به له دغو سره نه وځي او يقينًا که دوی سره جنگ وکړی شي (نو) دوی به د هغو

نَّصَرُوهُمْ لَيُوَلُّنَّ ٱلْأَدْبَـٰرَ ثُـمَّ لَا
يُنصَرُونَ ﴿١٢﴾

امداد نه کوي او خامخا که دوی د هغوی مدد وکړي (، نو) ضرور (او) خامخا به دوی خپلې شاګانې (په تېښته) وګرځوي، بیا به د دوی مرسته نه کېږي

لَأَنتُمْ أَشَـدُّ رَهْبَـةً فِي صُـدُورِهِم
مِّـنَ ٱللَّهِۚ ذَٰلِـكَ بِـأَنَّهُمْ قَـوْمٌ لَّا
يَفْقَهُونَ ﴿١٣﴾

(13) خامخا تاسو (ای مومنانو!) د دوی په سینو (زړونو) کې د وېرې په لحاظ له الله نه زيات سخت يئ، دغه (وېره) په دې سبب ده چې بېشکه دوی داسې قوم دی چې نه پوهېږي

لَا يُقَٰتِلُـونَكُمْ جَمِيعًـا إِلَّا فِي
قُرًى مُّحَصَّنَةٍ أَوْ مِـن وَرَآءِ جُـدُرٍۭۚ
بَأْسُهُم بَيْـنَهُمْ شَـدِيدٌۚ تَحْسَـبُهُمْ
جَمِيعًا وَقُلُوبُهُمْ شَتَّىٰۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ
قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُونَ ﴿١٤﴾

(14) دوی به له تاسوسره ټول په ګډه جنګ ونه کړي مګر په کلابندو کلیو کې، یا د دیوالونو شا ته، د دوی په خپل مینځ کې جنګ ډېر سخت دی، ته به په دوی ګمان کوې چې سره یو (ملګري) دي، حال دا چې د دوی زړونه بېل بېل دي، دا په دې وجه چې بېشکه دوی داسې قوم دی چې له عقل نه کار نه اخلي

كَمَثَلِ ٱلَّذِينَ مِـن قَـبْلِهِمْ قَرِيبًـاۖ
ذَاقُواْ وَبَالَ أَمْرِهِمْ وَلَهُـمْ عَـذَابٌ
أَلِيمٌ ﴿١٥﴾

(15) (د دوی مثال په ایمان نه راوړو کې) د هغو کسانو په شان دی چې له دوی نه مخکې په نژدې زمانه کې وو، چې هغوی د خپلو بدو چارو سزا (په دنیا کې) وڅکله او د

هغوی لپاره (په اخرت کې) ډېر دردوونکی عذاب دی

كَمَثَلِ ٱلشَّيۡطَٰنِ إِذۡ قَالَ لِلۡإِنسَٰنِ ٱكۡفُرۡ فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ إِنِّي بَرِيٓءٞ مِّنكَ إِنِّيٓ أَخَافُ ٱللَّهَ رَبَّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٦

**(16)** (د منافقانو مثال د وعدې په مخالفت کې) د شیطان په شان دی کله چې هغه انسان ته ووایي چې کافر شه، نو کله چې هغه (انسان) کافر شي، دی (ورته) وایي: بېشکه زه له تا نه بېزاره (او جدا) یم، بېشکه زه له الله رب العالمین نه وېرېږم

فَكَانَ عَٰقِبَتَهُمَآ أَنَّهُمَا فِي ٱلنَّارِ خَٰلِدَيۡنِ فِيهَاۚ وَذَٰلِكَ جَزَٰٓؤُاْ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٧

**(17)** نو د دغو دواړو عاقبت (او انجام) دا دی چې بېشکه دوی دواړه په اور کې دي، چې په ده کې به تل ترتله وي او دغه د ظالمانو بدله ده

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلۡتَنظُرۡ نَفۡسٞ مَّا قَدَّمَتۡ لِغَدٖۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ١٨

**(18)** ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو له الله نه ووېرېږئ او هر نفس دې هغه شي ته وګوري چې ده د سبا ورځې (قیامت) لپاره مخکې لېږلی دی او تاسو له الله نه ووېرېږئ ، بېشکه الله په هغو عملونو ښه خبردار دی چې تاسو یې کوئ

وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ نَسُواْ ٱللَّهَ فَأَنسَىٰهُمۡ أَنفُسَهُمۡۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ

**(19)** او تاسو د هغو کسانو په شان مه کېږئ چې الله یې هېر کړی دی، نو هغه (الله) له دوی نه خپل ځانونه هېر کړل، همدغه کسان

| | |
|---|---|
| ٱلْفَٰسِقُونَ ١٩ | نافرمانه دي |
| لَا يَسْتَوِيٓ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ وَأَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِۚ أَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ هُمُ ٱلْفَآئِزُونَ ٢٠ | (20) د دوزخ والا او د جنت والا سره برابر نه دي، جنت والا چې دي؛ هم دوی کامیاب (او په مراد رسېدلي) دي |
| لَوْ أَنزَلْنَا هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ عَلَىٰ جَبَلٍ لَّرَأَيْتَهُۥ خَٰشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ ٱللَّهِۚ وَتِلْكَ ٱلْأَمْثَٰلُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ٢١ | (21) كه مونږ دا قرآن په يوه غره باندې نازل كړى وى (نو) تا به خامخا هغه (غر) ليدلى وى، چې وېرېدونكى او د الله له وېرې نه ټوټې ټوټې كېدونكى به وى او دغه مثالونه (دي) چې مونږ يې د خلقو لپاره بيانوو، د دې لپاره چې دوى فكر وكړي |
| هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِۖ هُوَ ٱلرَّحْمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ ٢٢ | (22) دغه الله هغه ذات دى چې له ده نه غير بل هېڅ حق معبود نشته، په غيبو او په ښكاره و عالم دى، هم دى ډېر مهربان، بې حده رحم كوونكى دى |
| هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْمَلِكُ ٱلْقُدُّوسُ ٱلسَّلَٰمُ ٱلْمُؤْمِنُ ٱلْمُهَيْمِنُ ٱلْعَزِيزُ ٱلْجَبَّارُ ٱلْمُتَكَبِّرُۚ سُبْحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ ٢٣ | (23) دغه الله هغه ذات دى چې نشته هېڅ حق معبود مګر هم دى دى، چې (حقيقي) بادشاه دى، ښه پاك دى، سلامتي وركوونكى (او) امان وركوونكى دى، نګهبان (محافظ) ښه غالب (او زورور)، ډېر عظمت والا، ډېر لويي والا دى، الله پاك دى له هغو (شيانو) نه |

چې دوی يې ورسره شريکوي

هُوَ ٱللَّهُ ٱلۡخَٰلِقُ ٱلۡبَارِئُ ٱلۡمُصَوِّرُۖ لَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ يُسَبِّحُ لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٢٤

(24) هم دغه الله پيدا كوونكى، (له نيشت نه وجود ته) راوېستونكى، صورت وركوونكى دى، خاص هم ده لپاره تر ټولو ښكلي نومونه دي، د ده پاكې بيانوي هر هغه شى چې په اسمانونو او ځمكه كې دى، او هم دى ښه غالب، ډېر حكمت والا دى

## سُورَةُ المُمۡتَحنَةِ

## سورة ممتحنه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمۡ أَوۡلِيَآءَ تُلۡقُونَ إِلَيۡهِم بِٱلۡمَوَدَّةِ وَقَدۡ كَفَرُواْ بِمَا جَآءَكُم مِّنَ ٱلۡحَقِّ يُخۡرِجُونَ ٱلرَّسُولَ وَإِيَّاكُمۡ أَن تُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ رَبِّكُمۡ إِن كُنتُمۡ خَرَجۡتُمۡ جِهَٰدٗا فِي سَبِيلِي وَٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِيۚ تُسِرُّونَ إِلَيۡهِم بِٱلۡمَوَدَّةِ وَأَنَا۠ أَعۡلَمُ بِمَآ أَخۡفَيۡتُمۡ وَمَآ أَعۡلَنتُمۡۚ وَمَن

(1) اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى! تاسو زما دښمنان او خپل دښمنان دوستان مه نيسئ، چې تاسو دوى ته مينه ورورړاندې كوئ، حال دا چې دوى په هغه حق باندې كافران شوي دي چې تاسو ته راغلى دى، دوى رسول او تاسو په دې سبب (له خپل وطنه) وباسي چې تاسو په خپل رب الله باندې ايمان راوړى دى ؛ كه چېرې يئ تاسو چې زما په لاره كې د جهاد لپاره او زما د رضامندۍ د غوښتلو لپاره راوتلي يئ، تاسو

يَفۡعَلۡهُ مِنكُمۡ فَقَدۡ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ١

دوی ته په پټه سره (پېغام د) دوستي لېږئ، حال دا چې زه په هغه څه ښه عالم يم چې تاسو يې پټوئ او په هغه څه چې تاسو يې ښکاره کوئ او په تاسو کې چې هر څوك دغه (کار) وکړي، نو يقينًا هغه له نېغې لارې نه بې لارې شو

إِن يَثۡقَفُوكُمۡ يَكُونُواْ لَكُمۡ أَعۡدَآءٗ وَيَبۡسُطُوٓاْ إِلَيۡكُمۡ أَيۡدِيَهُمۡ وَأَلۡسِنَتَهُم بِٱلسُّوٓءِ وَوَدُّواْ لَوۡ تَكۡفُرُونَ ٢

(2) که چېرې دوی په تاسو برى ومومي (،نو) تاسو لپاره به دښمنان شي او تاسو ته به در اوږده کړي خپل لاسونه او خپلې ژبې په بدۍ سره او دوی خوښوي چې تاسو کافران شئ

لَن تَنفَعَكُمۡ أَرۡحَامُكُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُكُمۡۚ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَفۡصِلُ بَيۡنَكُمۡۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ٣

(3) تاسو ته به له سره نفع در ونه رسوي ستاسو خپلوياني او نه ستاسو اولاد، د قيامت په ورځ به هغه (الله) ستاسو په مېنځ کې فيصله کوي او الله هغو کارونو لره چې تاسو يې کوئ؛ ښه لیدونکی دی

قَدۡ كَانَتۡ لَكُمۡ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٞ فِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ إِذۡ قَالُواْ لِقَوۡمِهِمۡ إِنَّا بُرَءَٰٓؤُاْ مِنكُمۡ وَمِمَّا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ كَفَرۡنَا بِكُمۡ وَبَدَا بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمُ

(4) يقينًا تاسو لپاره يوه ښکلې طريقه په ابراهيم او په هغو کسانو کې ده چې له هغه سره ملګرې وو کله چې هغوی خپل قوم ته وويل: بېشکه مونږ له تاسو نه او له هغو څيزونو نه چې تاسو يې له الله نه غير عبادت کوئ، سخت بېزاره (او جدا) يو، مونږ پر تاسو

ٱلۡعَدَٰوَةُ وَٱلۡبَغۡضَآءُ أَبَدًا حَتَّىٰ
تُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ وَحۡدَهُۥٓ إِلَّا قَوۡلَ
إِبۡرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ لَأَسۡتَغۡفِرَنَّ لَكَ وَمَآ
أَمۡلِكُ لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن شَيۡءٖۖ
رَّبَّنَا عَلَيۡكَ تَوَكَّلۡنَا وَإِلَيۡكَ أَنَبۡنَا
وَإِلَيۡكَ ٱلۡمَصِيرُ ٤

باندې منكران شوي يو او زمونږ په مينځ كې او ستاسو په منيځ كې عداوت (دښمني) او بغض د تل لپاره ښرګند (او واقع) شوی دی، تر هغه پورې چې تاسو په الله باندې ايمان راوړئ چې ايكي يواځې دی خو خپل پلار ته د ابراهيم د دې (استغفار له) خبرې نه غير چې: ’’زه به تا لپاره خامخا ضرور استغفار غواړم‘‘، او زه تا لپاره د الله په مقابله كې د هېڅ شي اختيار نه لرم ، اى زمونږه ربه! خاص په تا باندې مونږ توكل كړی دی او خاص تا ته مو رجوع كړې ده او خاص تا ته بېرته درتګ دی

رَّبَّنَا لَا تَجۡعَلۡنَا فِتۡنَةٗ لِّلَّذِينَ
كَفَرُواْ وَٱغۡفِرۡ لَنَا رَبَّنَآۖ إِنَّكَ
أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٥

(5) اى زمونږه ربه! ته مونږ د كافران شويو خلقو لپاره (ځاى د) فتنې مه ګرځوه او ته مونږ ته مغفرت وكړه اى زمونږ ربه! بېشكه هم دا ته ډېر غالب، ښه حكمت والا يې

لَقَدۡ كَانَ لَكُمۡ فِيهِمۡ أُسۡوَةٌ
حَسَنَةٞ لِّمَن كَانَ يَرۡجُواْ ٱللَّهَ
وَٱلۡيَوۡمَ ٱلۡأٓخِرَۚ وَمَن يَتَوَلَّ فَإِنَّ ٱللَّهَ
هُوَ ٱلۡغَنِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ٦

(6) يقينًا يقينًا تاسو لپاره په دغو كې ډېر ښكلې (قابلِ اقتدا) طريقه ده، د هغه چا لپاره چې د الله او د اخري ورځې اميد لري او هر هغه څوك چې مخ واړوي، نو بېشكه الله، هم دی غني (ډېر بې پروا)، ښه ستايل شوی دی

۞عَسَى ٱللَّهُ أَن يَجۡعَلَ بَيۡنَكُمۡ
وَبَيۡنَ ٱلَّذِينَ عَادَيۡتُم مِّنۡهُم مَّوَدَّةٗۚ
وَٱللَّهُ قَدِيرٞۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٧

(7) امېد دی چې الله ستاسو په مينځ کې او د هغو کسانو په مينځ کې دوستي پيدا کړي چې تاسو ورسره دښمني کړې ده او الله ښه قادر دی، او الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم كوونكى دى

لَّا يَنۡهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ لَمۡ
يُقَٰتِلُوكُمۡ فِي ٱلدِّينِ وَلَمۡ يُخۡرِجُوكُم
مِّن دِيَٰرِكُمۡ أَن تَبَرُّوهُمۡ وَتُقۡسِطُوٓاْ
إِلَيۡهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ
ٱلۡمُقۡسِطِينَ ٨

(8) الله تاسو له هغو کسانو نه نه منع کوي چې له تاسو سره يې په دين کې نه جنګ کړی دی او نه يې تاسو له خپلو کورونو نه وېستلي يئ دا چې تاسو له هغوی سره نېکي وکړئ او له دوی سره انصاف وکړئ، بېشکه الله انصاف کوونکي خوښوي

إِنَّمَا يَنۡهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ
قَٰتَلُوكُمۡ فِي ٱلدِّينِ وَأَخۡرَجُوكُم مِّن
دِيَٰرِكُمۡ وَظَٰهَرُواْ عَلَىٰٓ إِخۡرَاجِكُمۡ
أَن تَوَلَّوۡهُمۡۚ وَمَن يَتَوَلَّهُمۡ فَأُوْلَٰٓئِكَ
هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ٩

(9) بېشکه الله تاسو يواځې له هغو کسانو نه منع کوي چې له تاسو سره يې په دين کې جنګ کړی دی او تاسو يې له خپلو کورونو نه ايستلي يئ او ستاسو په ايستلو کې يې يو له بل سره مدد کړی دی، دا چې تاسو له دوی سره دوستي وکړئ او هر هغه څوك چې له دوی سره دوستي وکړي، نو هم دغه کسان ظالمان دي

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا
جَآءَكُمُ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتُ مُهَٰجِرَٰتٖ

(10) ای هغو کسانوچې ايمان يې راوړی دی! کله چې تاسو ته مومنې ښځې راشي، چې

فَٱمۡتَحِنُوهُنَّۖ ٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِإِيمَٰنِهِنَّۖ
فَإِنۡ عَلِمۡتُمُوهُنَّ مُؤۡمِنَٰتٖ فَلَا
تَرۡجِعُوهُنَّ إِلَى ٱلۡكُفَّارِۖ لَا هُنَّ
حِلّٞ لَّهُمۡ وَلَا هُمۡ يَحِلُّونَ لَهُنَّۖ
وَءَاتُوهُم مَّآ أَنفَقُواْۚ وَلَا جُنَاحَ
عَلَيۡكُمۡ أَن تَنكِحُوهُنَّ إِذَآ
ءَاتَيۡتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّۚ وَلَا
تُمۡسِكُواْ بِعِصَمِ ٱلۡكَوَافِرِ وَسۡـَٔلُواْ
مَآ أَنفَقۡتُمۡ وَلۡيَسۡـَٔلُواْ مَآ أَنفَقُواْۚ
ذَٰلِكُمۡ حُكۡمُ ٱللَّهِ يَحۡكُمُ
بَيۡنَكُمۡۖ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ١٠

هجرت کوونکې وي، نو تاسو دوی وازمایئ، الله د دوی په ایمان ښه عالم دی، نو که تاسو دوی مومنې وپېژنئ (معلومې کړئ)، نو تاسو دوی کافرانو ته بېرته مه لېږئ، دوی د هغوی (کافرانو) لپاره حلالې نه دي او نه هغوی د دغو (مومنو ښځو) لپاره حلال دي او تاسو (د دغو مومنو ښځو) دغو (کافرو خاوندانو) ته هغه څه ورکړئ چې دوی لګولي دي او پر تاسو باندې په دې کې هېڅ ګناه نشته چې تاسو له دوی سره نکاح وکړئ (خو په دې شرط) کله چې تاسو دوی ته د دوی مهرونه ورکړئ او تاسو د کافرو ښځو په عصمتونو منګولې مه لګوئ (په نکاح کې يې مه ساتئ) او تاسو هغه څه وغواړئ چې تاسو (په دغو کافرو ښځو) لګولي دي او دوی (کافر خاوندان) دې هم هغه څه وغواړي چې دوی (په دغو مهاجرو ښځو باندې) لګولي وي، دغه د الله حکم دی، الله ستاسو په مینځ کې (په ده سره) فیصله کوي او الله ښه عالم، ښه حکمت والا دی

وَإِن فَاتَكُمۡ شَيۡءٞ مِّنۡ
أَزۡوَٰجِكُمۡ إِلَى ٱلۡكُفَّارِ فَعَاقَبۡتُمۡ

**(11)** او که چېرې ستاسو په ښځو کې کومه ښځه ستاسو له لاسه ووځي (او) کافرو ته (لاړه

فَـَٔاتُواْ ٱلَّذِيـنَ ذَهَبَـتۡ أَزۡوَٰجُهُـم مِّثۡلَ مَآ أَنفَقُواْۚ وَٱتَّقُـواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِيٓ أَنتُم بِهِۦ مُؤۡمِنُونَ ﴿١١﴾

شي) بیا ستاسو وار راشي (غزا وکړئ نو غنیمت واخلئ) نو تاسو هغو کسانو ته چې د هغوی ښځې تللې وي هومره (مال) ورکړئ چې هغوی (پر هغو ښځو) لګولی دی او تاسو له هغه الله نه ووېرېږئ چې تاسو په هغه ایمان لرونکي یئ

يَـٰٓأَيُّهَـا ٱلنَّـبِيُّ إِذَا جَـآءَكَ ٱلۡمُؤۡمِنَـٰتُ يُبَايِعۡنَـكَ عَلَىٰٓ أَن لَّا يُشۡرِكۡنَ بِٱللَّهِ شَيۡـٔٗا وَلَا يَسۡرِقۡنَ وَلَا يَزۡنِينَ وَلَا يَقۡتُلۡنَ أَوۡلَـٰدَهُنَّ وَلَا يَأۡتِينَ بِبُهۡتَٰنٖ يَفۡتَرِينَهُۥ بَيۡنَ أَيۡدِيهِنَّ وَأَرۡجُلِهِنَّ وَلَا يَعۡصِينَكَ فِي مَعۡرُوفٖ فَبَـايِعۡهُنَّ وَٱسۡتَغۡفِرۡ لَهُنَّ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿١٢﴾

(12) ای نبي! کله چې تا ته مومنې ښځې راشي چې له تا سره په دې خبره بیعت کوي چې له الله سره به هېڅ شی نه شریکوي او غلا به نه کوي او زنا به نه کوي او خپل اولاد به نه وژني او نه به داسې بهتان لګوي چې هغه د خپلو لاسونو او خپلو پښو په وړاندې جوړوي او په معروفو (نېکو چارو) کې به ستا نافرماني نه کوي، نو ته دوی بیعت کړه او د دوی لپاره د الله مغفرت (بخښنه) وغواړه، بېشکه الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِيـنَ ءَامَنُـواْ لَا تَتَوَلَّـوۡاْ قَوۡمًـا غَضِـبَ ٱللَّهُ عَلَـيۡهِمۡ قَـدۡ يَئِسُواْ مِـنَ ٱلۡأٓخِـرَةِ كَمَـا يَـئِسَ ٱلۡكُفَّارُ مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلۡقُبُورِ ﴿١٣﴾

(13) ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! له هغه قوم سره دوستي مه کوئ چې الله پر هغوی باندې غضب کړی دی، یقینًا دوی له اخرته داسې نا امیده شوي دي لکه کفار چې د قبرونو والاو (له راژوندي کېدو) نه نا

امېده شوي دي

## سُورَةُ الصَّفِّ

## سورة صف

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

**د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى**

سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ١

(1) د الله پاكي بيانوي هر هغه څه چې په اسمانونو كې دي او هر هغه څه چې په ځمكه كې دي او هم دى ښه غالب، ډېر حكمت والا دى

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفۡعَلُونَ ٢

(2) اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى! تاسو هغه (خبره) ولې وايئ چې نه يې كوئ!

كَبُرَ مَقۡتًا عِندَ ٱللَّهِ أَن تَقُولُواْ مَا لَا تَفۡعَلُونَ ٣

(3) دا (خبره) د الله په نيز د غضب په لحاظ لويه ده چې تاسو هغه (خبره) ووايئ چې نه يې كوئ

إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلَّذِينَ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِهِۦ صَفّٗا كَأَنَّهُم بُنۡيَٰنٞ مَّرۡصُوصٞ ٤

(4) بېشكه الله هغه كسان خوښوي چې د هغه په لاره كې صف تړلي جنګېږي، ګوياكې دوى په قلعې سره په يو بل پوري ټينګ كړى شوى (ښه محكم) عمارت دي

وَإِذۡ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِۦ يَٰقَوۡمِ لِمَ

(5) او (ياد كړه) هغه وخت چې موسٰى خپل

تُؤْذُونَنِي وَقَد تَّعْلَمُونَ أَنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُمْۖ فَلَمَّا زَاغُوٓاْ أَزَاغَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُمْۚ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِي ٱلْقَوْمَ ٱلْفَٰسِقِينَ ٥

قوم ته وويل: ای زما قومه! تاسو ما ته ولې ضرر رارسوئ، حال دا چې تاسو پوهېږئ چې یقینًا زه تاسو ته د الله رسول یم، نو کله چې دوی (د الله له حکم نه) کاږه شول، نوالله د دوی زړونه کاږه کړل او الله نافرمانه قوم ته هدایت نه کوي

وَإِذْ قَالَ عِيسَى ٱبْنُ مَرْيَمَ يَٰبَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ إِنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُم مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ وَمُبَشِّرَۢا بِرَسُولٖ يَأْتِي مِنۢ بَعْدِي ٱسْمُهُۥٓ أَحْمَدُۖ فَلَمَّا جَآءَهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ قَالُواْ هَٰذَا سِحْرٞ مُّبِينٞ ٦

(6) او (یاده کړه) هغه وخت چې د مریمې زوی عیسٰی وویل: ای بني اسرائیلو! بېشکه زه تاسو ته د الله رسول یم، چې د هغه څه تصدیق کوونکی یم چې له ما نه مخکې تېر شوی دی، چې تورات دی او د داسې رسول زېری درکوونکی یم چې له ما نه وروسته به راځي، چې د هغه نوم احمد دی، نو کله چې دوی ته دغه (رسول) له ښکاره معجزو سره راغی (نو) دوی وویل: دا ښکاره جادو دی

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ وَهُوَ يُدْعَىٰٓ إِلَى ٱلْإِسْلَٰمِۚ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِي ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ٧

(7) او له هغه چا نه لوی ظالم څوك دی چې په الله پورې له ځانه دروغ تړي، حال دا چې هغه اسلام ته بللی شي او الله ظالم قوم ته هدایت نه کوي

يُرِيدُونَ لِيُطْفِـُٔواْ نُورَ ٱللَّهِ

(8) دوی غواړي چې په خپلو خولو سره د الله رڼا مړه کړي او الله د خپلې رڼا پوره کوونکی

بِأَفْوَٰهِهِمْ وَٱللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِۦ وَلَوْ
كَرِهَ ٱلْكَٰفِرُونَ ٨

دی اگر که کافران (دا کار) بد ګڼي

هُوَ ٱلَّذِىٓ أَرْسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلْهُدَىٰ
وَدِينِ ٱلْحَقِّ لِيُظْهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ
كُلِّهِۦ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْمُشْرِكُونَ ٩

(9) دغه (الله) هغه ذات دی چې خپل رسول يې په هدايت او حق دين سره لېږلی دی، د دې لپاره چې دغه (الله) دغه (حق دين) ته په نورو ټولو دينونو باندې غلبه ورکړي، اګر که مشرکان دغه (کار) بد ګڼي

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ هَلْ أَدُلُّكُمْ
عَلَىٰ تِجَٰرَةٍ تُنجِيكُم مِّنْ عَذَابٍ
أَلِيمٍ ١٠

(10) ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! ايا زه تاسو ته داسې تجارت (سوداګري) وښيم چې تاسو ته به له ډېر دردونکي عذاب نه نجات درکوي

تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ
وَتُجَٰهِدُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ
بِأَمْوَٰلِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ ۚ ذَٰلِكُمْ
خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ١١

(11) تاسو په الله او د هغه په رسول ايمان لرئ او د الله په لاره کې په خپلو مالونو او خپلو ځانونو سره جهاد کوئ، دا تاسو لپاره ډېر غوره دي که تاسو پوهېږئ

يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ
وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن
تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ وَمَسَٰكِنَ طَيِّبَةً
فِى جَنَّٰتِ عَدْنٍ ۚ ذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ

(12) هغه به تاسو ته ستاسو ګناهونه وبخښي او تاسو به داسې جنتونو ته داخل کړي چې د هغو له لاندې ولې بهېږي او د تل اوسېدنې په جنتونو کې په ډېرو پاکيزه استوګنو کې (به مو داخل کړي)، دغه ډېره لويه کاميابي ده

ٱلۡعَظِيمُ ﴿١٢﴾

وَأُخۡرَىٰ تُحِبُّونَهَاۖ نَصۡرٞ مِّنَ ٱللَّهِ
وَفَتۡحٞ قَرِيبٞۗ وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١٣﴾

(13) او بل (نعمت) چې تاسو يې خوښوئ، د الله له جانبه مرسته او نژدې برى دى او ته مومنانو ته زيرى ورکړه

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُونُوٓاْ
أَنصَارَ ٱللَّهِ كَمَا قَالَ عِيسَى ٱبۡنُ
مَرۡيَمَ لِلۡحَوَارِيِّـۧنَ مَنۡ أَنصَارِيٓ
إِلَى ٱللَّهِۖ قَالَ ٱلۡحَوَارِيُّونَ نَحۡنُ
أَنصَارُ ٱللَّهِۖ فَـَٔامَنَت طَّآئِفَةٞ مِّنۢ
بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ وَكَفَرَت طَّآئِفَةٞۖ
فَأَيَّدۡنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ عَلَىٰ عَدُوِّهِمۡ
فَأَصۡبَحُواْ ظَٰهِرِينَ ﴿١٤﴾

(14) اى هغو کسانو چې ايمان يې راوړى دى! تاسو د الله مدد کوونکي شئ، لکه چې د مريمې زوى عيسىٰ حواريانو (خپلو ملګرو) ته ويلي وو: د الله طرف ته زما مدد کوونکي څوك دي؟ حواريانو وويل: مونږ د الله مدد کوونکي يو، نو په بني اسرائيلو کې يوې ډلې ايمان راوړو او بله ډله کافره شوه، نو مونږ هغو کسانو ته د خپل دښمن په خلاف قوت ورکړو چې ايمان يې راوړى و، نو دوى غالبه شول

## سُورَةُ الجُمُعَةِ

## سورۀ جمعه

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکى دى**

يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا
فِي ٱلۡأَرۡضِ ٱلۡمَلِكِ ٱلۡقُدُّوسِ

(1) د الله لپاره پاکي بيانوي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي، (د هغه الله چې) بادشاه دى،

| | |
|---|---|
| ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ ١ | ډېر پاك دی، ښه غالب دی، ډېر حكمت والا دی |
| هُوَ ٱلَّذِي بَعَثَ فِي ٱلۡأُمِّيِّـۧنَ رَسُولٗا مِّنۡهُمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِهِۦ وَيُزَكِّيهِمۡ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَإِن كَانُواْ مِن قَبۡلُ لَفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ٢ | (2) دغه (الله) همغه ذات دی چې امیانو ته يې له همدوی څنې یو رسول لېږلی دی، چې دوی ته د هغه (الله) ایتونه تلاوت كوي او د دوی تزكیه كوي او دوی ته كتاب او حكمت (سنت) ښيي او بېشكه شان دا دی چې دوی له دې نه مخكې یقینًا په ښكاره ګمراهۍ كې وو |
| وَءَاخَرِينَ مِنۡهُمۡ لَمَّا يَلۡحَقُواْ بِهِمۡۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٣ | (3) او له دوی څخه نورو ته (هم) چې لا تر اوسه دوی هغو (پخوانیو) ته نه دي رسېدلي او هم دی ښه غالب، ډېر حكمت والا دی |
| ذَٰلِكَ فَضۡلُ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ٤ | (4) دغه د الله فضل دی چې دا هغه چا ته وركوي چې يې وغواړي او الله د ډېر لوی فضل والا دی |
| مَثَلُ ٱلَّذِينَ حُمِّلُواْ ٱلتَّوۡرَىٰةَ ثُمَّ لَمۡ يَحۡمِلُوهَا كَمَثَلِ ٱلۡحِمَارِ يَحۡمِلُ أَسۡفَارَۢاۚ بِئۡسَ مَثَلُ ٱلۡقَوۡمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ٥ | (5) د هغو كسانو حال چې په هغوی باندې تورات وربار كړی شوی و (د تورات مكلف كړی شوي وو)، بیا دوی هغه پورته نه كړ ؛ د هغه خره د حال په شان دی چې كتابونه يې په شا كړي وي، د هغو كسانو بد مثال (حال) دی چې د الله د ایتونو تكذیب كوي او الله |

ظالم قوم ته هدايت نه كوي

قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ هَادُوٓاْ إِن زَعَمۡتُمۡ أَنَّكُمۡ أَوۡلِيَآءُ لِلَّهِ مِن دُونِ ٱلنَّاسِ فَتَمَنَّوُاْ ٱلۡمَوۡتَ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٦

(6) ته (دوى ته) ووايه: اى هغو كسانو چې يهوديان شوي دي! كه تاسو دا (غلطه) عقيده لرئ چې يقيناً تاسو له نورو خلقو نه غير د الله دوستان يئ، نو تاسو د مرګ ارزو وكړئ، كه چېرې تاسو رښتيني يئ

وَلَا يَتَمَنَّوۡنَهُۥٓ أَبَدَۢا بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيهِمۡۚ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ٧

(7) او دوى به د دغه (مرګ) ارزو هيڅكله هم ونه كړي، په سبب د هغو (كارونو) چې د دوى لاسونو مخكې لېږلي دي او الله په ظالمانو باندې ښه پوه دى

قُلۡ إِنَّ ٱلۡمَوۡتَ ٱلَّذِي تَفِرُّونَ مِنۡهُ فَإِنَّهُۥ مُلَٰقِيكُمۡۖ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَىٰ عَٰلِمِ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٨

(8) ته (دوى ته) ووايه: بېشكه هغه مرګ چې تاسو له هغه نه تښتئ، پس يقيناً هغه له تاسو سره ملاقات كوونكى دى، بيا به تاسو د غيبو او ښكاره و عالم ذات ته بوتلى شئ، نو هغه به تاسو په هغو عملونو خبر كړي چې تاسو به كول

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَوٰةِ مِن يَوۡمِ ٱلۡجُمُعَةِ فَٱسۡعَوۡاْ إِلَىٰ ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَذَرُواْ ٱلۡبَيۡعَۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ

(9) اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى! كله چې د جمعې د ورځې د لمانځه لپاره اذان وويلى شي، نو تاسو د الله ذكر ته منډې وهئ او اخيستل خرڅول پرېږدئ، دا تاسو

تَعۡلَمُونَ ٩

لپاره ډېر غوره دي که تاسو پوهېږئ

فَإِذَا قُضِيَتِ ٱلصَّلَوٰةُ فَٱنتَشِرُواْ فِي
ٱلۡأَرۡضِ وَٱبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِ ٱللَّهِ
وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرٗا لَّعَلَّكُمۡ
تُفۡلِحُونَ ١٠

(10) نو کله چې لمونځ ادا کړی شي، نو تاسو په ځمکه کې خواره شئ او د الله له فضل څخه (څه) ولټوئ او تاسو الله ډېر زيات يادوئ، د دې لپاره چې تاسو کامياب شئ

وَإِذَا رَأَوۡاْ تِجَٰرَةً أَوۡ لَهۡوًا ٱنفَضُّوٓاْ
إِلَيۡهَا وَتَرَكُوكَ قَآئِمٗاۚ قُلۡ مَا عِندَ
ٱللَّهِ خَيۡرٞ مِّنَ ٱللَّهۡوِ وَمِنَ ٱلتِّجَٰرَةِۚ
وَٱللَّهُ خَيۡرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ١١

(11) او کله چې دوی تجارت (سوداګري)، يا تماشه وليدله (نو) دوی هغې ته خواره شول او ته يې ولاړ پرېښودلې، ته (دوی ته) ووايه: هغه څه چې له الله سره دي له دغې تماشې نه او له دغې سوداګرۍ نه ډېر غوره دي او الله تر ټولو ښه رزق ورکوونکی دی

## سُورَةُ المُنَافِقُونَ

## سورة منافقون

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

إِذَا جَآءَكَ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ قَالُواْ نَشۡهَدُ
إِنَّكَ لَرَسُولُ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ إِنَّكَ
لَرَسُولُهُۥ وَٱللَّهُ يَشۡهَدُ إِنَّ
ٱلۡمُنَٰفِقِينَ لَكَٰذِبُونَ ١

(1) (ای نبي!) کله چې تا ته منافقان راشي (نو) دوی وايي: مونږ شاهدي ورکوو چې بېشکه ته يقينًا د الله رسول يې او الله پوهېږي چې ته بېشکه (او) يقينًا د هغه رسول يې او

الله شاهدي ورکوي چې بېشکه منافقان يقينًا دروغ ويونکي دي

ٱتَّخَذُوٓاْ أَيۡمَٰنَهُمۡ جُنَّةٗ فَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ إِنَّهُمۡ سَآءَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٢

(2) دوی خپل قسمونه ډال ګرځولي دي، نو دوی د الله له لارې نه منع شول، بېشکه دوی چې دي، بد دی هغه کار چې دوی يې کوي

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ ءَامَنُواْ ثُمَّ كَفَرُواْ فَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَهُمۡ لَا يَفۡقَهُونَ ٣

(3) دا ځکه چې يقينًا دوی ايمان راوړ، بيا کافر شول، نو د دوی په زړونو باندې مهر ولګول شو، پس ( اوس نو) دوی نه پوهېږي

۞وَإِذَا رَأَيۡتَهُمۡ تُعۡجِبُكَ أَجۡسَامُهُمۡۖ وَإِن يَقُولُواْ تَسۡمَعۡ لِقَوۡلِهِمۡۖ كَأَنَّهُمۡ خُشُبٞ مُّسَنَّدَةٞۖ يَحۡسَبُونَ كُلَّ صَيۡحَةٍ عَلَيۡهِمۡۚ هُمُ ٱلۡعَدُوُّ فَٱحۡذَرۡهُمۡۚ قَٰتَلَهُمُ ٱللَّهُۖ أَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ٤

(4) او کله چې ته دوی ووينې (نو) تا د دوی جسمونه (تنې) په تعجب کې اچوي او که دوی خبرې کوي، (نو) ته د دوی خبرو ته غوږ ږدې، حال دا چې ګوياکې دوی ودرول شوي وچ لرګي دي، هر اوچت غږ دخپل ځان په خلاف ګڼي، هم دوی دښمنان دي، لهذا ته له دوی نه محتاط اوسه، الله دې دوی هلاک کړي، ځرنګه دوی ګرځولی شي

وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ تَعَالَوۡاْ يَسۡتَغۡفِرۡ لَكُمۡ رَسُولُ ٱللَّهِ لَوَّوۡاْ رُءُوسَهُمۡ وَرَأَيۡتَهُمۡ يَصُدُّونَ وَهُم

(5) او کله چې دوی ته وويل شي: تاسو راشئ چې د الله رسول ستاسو لپاره مغفرت وغواړي (نو) دوی خپل سرونه تاو کړي او ته دوی وينې چې اعراض کوي، په داسې حال کې

مُّسۡتَكۡبِرُونَ ﴿٥﴾

چې تکبر کوونکي وي

سَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ أَسۡتَغۡفَرۡتَ لَهُمۡ أَمۡ لَمۡ تَسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ لَن يَغۡفِرَ ٱللَّهُ لَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ﴿٦﴾

**(6)** د دوی لپاره یو شان ده که ته د دوی لپاره مغفرت (بخښنه) وغواړې، یا ته دوی لپاره مغفرت ونه غواړې، الله به دوی هېڅ کله هم ونه بخښي، بېشکه الله نافرمان قوم ته هدایت نه کوي

هُمُ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ لَا تُنفِقُواْ عَلَىٰ مَنۡ عِندَ رَسُولِ ٱللَّهِ حَتَّىٰ يَنفَضُّواْۗ وَلِلَّهِ خَزَآئِنُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَٰكِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ لَا يَفۡقَهُونَ ﴿٧﴾

**(7)** هم دوی هغه کسان دي چې وايي: تاسو په هغو کسانو باندې مال مه لګوئ چې له رسول الله سره دي، تر دې چې دوی خواره شي او خاص د الله لپاره د اسمانونو او ځمکې خزانې دي او لېکن منافقان نه پوهېږي

يَقُولُونَ لَئِن رَّجَعۡنَآ إِلَى ٱلۡمَدِينَةِ لَيُخۡرِجَنَّ ٱلۡأَعَزُّ مِنۡهَا ٱلۡأَذَلَّۚ وَلِلَّهِ ٱلۡعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِۦ وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ وَلَٰكِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٨﴾

**(8)** دوی وايي چې قسم دی که مونږ مدينې ته بېرته وګرځو (نو) تر ټولو عزتمن (خلق) به له دغې (مدينې) نه تر ټولو ذليله (خلق) خامخا ضرور وباسي او عزت (خو) خاص د الله لپاره دی او د هغه د رسول لپاره دی او د مومنانو لپاره دی او لېکن منافقان پوهه نه لري

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُلۡهِكُمۡ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُكُمۡ عَن

**(9)** ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو دې د الله له ذکر نه نه خپل مالونه غافله

ذِكۡرِ ٱللَّهِۚ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ۝٩

کړي او نه خپل اولادونه او هغه څوك چې دا کار وکړي، نو همدغه زیانکاران (تاوانیان) دي

وَأَنفِقُواْ مِن مَّا رَزَقۡنَٰكُم مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَ أَحَدَكُمُ ٱلۡمَوۡتُ فَيَقُولَ رَبِّ لَوۡلَآ أَخَّرۡتَنِيٓ إِلَىٰٓ أَجَلٖ قَرِيبٖ فَأَصَّدَّقَ وَأَكُن مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ۝١٠

(10) او تاسو له هغه (مال) نه چې مونږ تاسو ته درکړی دی څه انفاق کوئ، مخکې له دې نه چې په تاسو کې یو کس ته مرګ راشي، بیا دا ووایي: ای زما ربه! ته ما تر نږدې مودې پورې ولې نه وروسته کوې، پس چې زه خیرات (صدقه) وکړم او له صالحانو (نېکانو) څخني شم

وَلَن يُؤَخِّرَ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِذَا جَآءَ أَجَلُهَاۚ وَٱللَّهُ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ۝١١

(11) او الله هېڅ یو نفس نه وروسته کوي کله چې د هغه اجل (نېټه) راشي او الله په هغو عملونو ښه خبردا دی چې تاسو يې کوئ

## سُورَةُ التَّغَابُنِ

## سورة تغابن

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ لَهُ ٱلۡمُلۡكُ وَلَهُ ٱلۡحَمۡدُۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ۝١

(1) د الله پاکي بیانوي هر هغه څه چې په اسمانونوکې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي، خاص د هغه لپاره بادشاهي ده او

خاص د هغه لپاره ټول د کمال صفتونه دي او هغه په هر شي باندې ښه قادر دی

هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ فَمِنكُمۡ كَافِرٞ وَمِنكُم مُّؤۡمِنٞۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٌ ٢

(2) هم دغه (الله) هغه ذات دی چې تاسو یې پیدا کړي یئ، نو په تاسو کې ځینې کافر دي او ځینې په تاسو کې مومن دي او الله هغو کارونو لره چې تاسو یې کوئ ښه لیدونکی دی

خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّ وَصَوَّرَكُمۡ فَأَحۡسَنَ صُوَرَكُمۡۖ وَإِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ ٣

(3) ده اسمانونه او ځمکه په حقه سره پیدا کړي دي او ستاسو صورتونه یې جوړ کړل، پس ستاسو صورتونه یې ډېر ښکلي کړي دي او خاص ده ته بېرته ورتګ دی

يَعۡلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَيَعۡلَمُ مَا تُسِرُّونَ وَمَا تُعۡلِنُونَۚ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ٤

(4) دی پوهېږي په هر هغه څه چې په اسمانونو اوځمکه کې دي او پوهېږي په هغه څه چې تاسو یې پټوئ او په هغه څه چې تاسویې ښرګندوئ او الله د سینو په (پټو) خبرو هم ښه عالم دی

أَلَمۡ يَأۡتِكُمۡ نَبَؤُاْ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَبۡلُ فَذَاقُواْ وَبَالَ أَمۡرِهِمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ٥

(5) ایا تاسو ته د هغو خلقو خبر نه دی راغلی چې له دې نه مخکې کافران شوي وو، نو هغوی د خپل عمل سزا وڅکله او د هغوی لپاره ډېر دردوونکی عذاب دی

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُۥ كَانَت تَّأۡتِيهِمۡ رُسُلُهُم
بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَقَالُوٓاْ أَبَشَرٞ يَهۡدُونَنَا
فَكَفَرُواْ وَتَوَلَّواْۚ وَّٱسۡتَغۡنَى ٱللَّهُۚ
وَٱللَّهُ غَنِيٌّ حَمِيدٞ ٦

(6) دا په دې سبب چې بېشکه شان دا دی چې دوی ته به د دوی رسولان له ښکاره معجزو سره راتلل، نو دوی به ویل چې ایا مونږ ته به بشر (انسانان) لاره ښیي، نو دوی کافر شول او مخ یې وګرځاوه او الله استغنا وکړه او الله ډېر بې پروا، ښه ستایل شوی دی

زَعَمَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَن لَّن
يُبۡعَثُواْۚ قُلۡ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتُبۡعَثُنَّ ثُمَّ
لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلۡتُمۡۚ وَذَٰلِكَ عَلَى
ٱللَّهِ يَسِيرٞ ٧

(7) کافران شوي کسان (دا غلطه) عقیده ساتي چې دوی به له سره بیا راژوندي نه کړی شي، ته (دوی ته) ووایه: ولې نه! زما په خپل رب قسم دی چې تاسو به خامخا ضرور بیا راژوندي کړی شئ، بیا به تاسو ته خامخا ضرور د خپلو کړو عملونو خبر درکولی شي او دا (کارونه) الله ته ډېر اسان دي

فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَٱلنُّورِ
ٱلَّذِيٓ أَنزَلۡنَاۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ
خَبِيرٞ ٨

(8) نو تاسو په الله او د هغه په رسول او په هغې رڼا (قرآن) باندې ایمان راوړئ چې مونږ نازله کړې ده او الله په هغو کارونو چې تاسو یې کوئ؛ ښه خبردار دی

يَوۡمَ يَجۡمَعُكُمۡ لِيَوۡمِ ٱلۡجَمۡعِۖ ذَٰلِكَ
يَوۡمُ ٱلتَّغَابُنِۗ وَمَن يُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ
وَيَعۡمَلۡ صَٰلِحٗا يُكَفِّرۡ عَنۡهُ

(9) (یاده کړه) هغه ورځ چې تاسو به دی (الله) د جمع کېدلو ورځې ته راجمع کړي، دغه د تاوان د ښکاره کېدو ورځ ده او هغه څوک چې په الله ایمان راوړي او نېک عمل

سَيِّـَٔاتِهِۦ وَيُدۡخِلۡهُ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ٩

وکړي (،نو) هغه به له هغه نه د هغه ګناهونه لرې کړي او داسې جنتونو ته به يې داخل کړي چې د هغو له لاندې ولې بهېږي، چې دوی به په هغو کې تل ترتله وي، دغه ډېره لويه کاميابي ده

وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِ خَٰلِدِينَ فِيهَاۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ١٠

(10) او هغه کسان چې کافران شوي دي او زمونږ د ايتونو تکذيب يې کړی دی دغه کسان د اور والا دي، چې په ده کې به همېشه وي او هغه د ورتلو بد ځای دی

مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۗ وَمَن يُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ يَهۡدِ قَلۡبَهُۥۚ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ١١

(11) هېڅ يو مصيبت نه رسېږي مګر د الله په حکم سره او هغه څوك چې په الله ايمان راوړي (، نو) هغه به د ده زړه ته هدايت وکړي او الله په هر شي باندې ښه عالم دی

وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَۚ فَإِن تَوَلَّيۡتُمۡ فَإِنَّمَا عَلَىٰ رَسُولِنَا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ١٢

(12) او تاسو د الله اطاعت وکړئ او د رسول اطاعت وکړئ، نو که تاسو وګرځېدئ، نو يقينًا زمونږ د رسول په ذمه خو يوائې ښکاره پېغام رسونه ده

ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ١٣

(13) الله (چې دی) نشته هېڅ لايق د عبادت مګر هم دی دی او لازم ده چې مومنان خاص په الله باندې توکل وکړي

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ مِنۡ أَزۡوَٰجِكُمۡ وَأَوۡلَٰدِكُمۡ عَدُوّٗا لَّكُمۡ فَٱحۡذَرُوهُمۡۚ وَإِن تَعۡفُواْ وَتَصۡفَحُواْ وَتَغۡفِرُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ١٤

(14) اې هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! بېشکه ستاسو په ښځو او اولادونو کې ځینې ستاسو دښمنان دي، نو تاسو له دوی نه محتاط اوسئ او که چېرې تاسو معافي وکړئ او تېر شئ او بخښنه وکړئ، نو بېشکه چې الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی

إِنَّمَآ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَأَوۡلَٰدُكُمۡ فِتۡنَةٞۚ وَٱللَّهُ عِندَهُۥٓ أَجۡرٌ عَظِيمٞ ١٥

(15) بېشکه هم دا خبره ده چې ستاسو مالونه او ستاسو اولادونه ازموینه (او فتنه) ده او الله (چې دی) له هغه سره ډېر لوی اجر دی

فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُمۡ وَٱسۡمَعُواْ وَأَطِيعُواْ وَأَنفِقُواْ خَيۡرٗا لِّأَنفُسِكُمۡۗ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفۡسِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ١٦

(16) نو تاسو له الله نه ووېرېږئ څومره چې تاسو کولی شئ او واورئ او اطاعت وکړئ او انفاق کوئ، (دا به) ستاسو د ځانونو لپاره خیر وي او هغه څوك چې د خپل نفس له د بخیلۍ نه وساتل شو، نو هم دغه خلق کامیاب دي

إِن تُقۡرِضُواْ ٱللَّهَ قَرۡضًا حَسَنٗا يُضَٰعِفۡهُ لَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡۚ وَٱللَّهُ شَكُورٌ حَلِيمٌ ١٧

(17) که چېرې تاسو الله ته قرض ورکړئ، ښه قرض، (نو) دی به دغه (قرض) تاسو لپاره دوه چنده کړي او تاسو ته به بخښنه وکړي او الله ښه قدردان، ښه تحمل والا دی

عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ٱلۡعَزِيزُ
ٱلۡحَكِيمُ ١٨

(18) د غيبو او ښکاره و عالم دی، ښه غالب، ښه حکمت والا دی

## سُورَةُ الطَّلَاقِ

## سورة طلاق

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِذَا طَلَّقۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ
فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ وَأَحۡصُواْ
ٱلۡعِدَّةَۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ رَبَّكُمۡۖ لَا
تُخۡرِجُوهُنَّ مِنۢ بُيُوتِهِنَّ وَلَا
يَخۡرُجۡنَ إِلَّآ أَن يَأۡتِينَ بِفَٰحِشَةٖ
مُّبَيِّنَةٖۚ وَتِلۡكَ حُدُودُ ٱللَّهِۚ وَمَن
يَتَعَدَّ حُدُودَ ٱللَّهِ فَقَدۡ ظَلَمَ
نَفۡسَهُۥۚ لَا تَدۡرِي لَعَلَّ ٱللَّهَ
يُحۡدِثُ بَعۡدَ ذَٰلِكَ أَمۡرٗا ١

(1) ای نبي! (دوی ته ووايه) کله چې تاسو (خپلې) ښځې طلاقول غواړئ، نو دوی په خپل (مناسب) وخت د عدت کې طلاقې کړئ او عدت وشمېرئ او له خپل رب الله نه وویرېږئ (او) تاسو دغه (خپلې ښځې) د دوی له کورونو نه مه وباسئ او دوی دې (پخپله) هم نه وځي مګر په دې حال کې چې دوی ښکاره بې حيايي وکړي او دغه د الله حدونه دي او هر څوک چې د الله له حدونو نه تېر شي، نو يقينًا ده په خپل ځان ظلم وکړ، (ای طلاق ورکوونکيه!) ته نه پوهېږې، کېدی شي چې الله له دغه نه وروسته کوم (ښه) کار پیدا کړي

فَإِذَا بَلَغۡنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمۡسِكُوهُنَّ

(2) نو کله چې دغه (ښځې) خپلې نېټې ته

بِمَعۡرُوفٍ أَوۡ فَارِقُوهُنَّ بِمَعۡرُوفٖ
وَأَشۡهِدُواْ ذَوَيۡ عَدۡلٖ مِّنكُمۡ
وَأَقِيمُواْ ٱلشَّهَٰدَةَ لِلَّهِۚ ذَٰلِكُمۡ
يُوعَظُ بِهِۦ مَن كَانَ يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ
وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ
يَجۡعَل لَّهُۥ مَخۡرَجٗا ٢

رسېږي، نو (یا) خو تاسو دوی په نېکه طریقه (په رجوع کولو سره په خپل نکاح کې) وساتئ، یا په نېکه طریقه له دوی نه جدا شئ او په تاسو کې دوه عدل والا کسان (په دې کار) گواهان ونیسئ او تاسو (ای گواهانو) گواهي د الله لپاره ادا کړئ، دا (حکم چې دی) په ده سره هغه چا ته نصیحت کاوه شي چې په الله او د اخرت په ورځ ایمان لري او هغه څوك چې له الله نهووېرېږي، (نو) هغه به د ده لپاره د وتلو څه ځای پیدا کړي

وَيَرۡزُقۡهُ مِنۡ حَيۡثُ لَا يَحۡتَسِبُۚ
وَمَن يَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِ فَهُوَ حَسۡبُهُۥٓۚ
إِنَّ ٱللَّهَ بَٰلِغُ أَمۡرِهِۦۚ قَدۡ جَعَلَ ٱللَّهُ
لِكُلِّ شَيۡءٖ قَدۡرٗا ٣

**(3)** او ده ته به له هغه ځایه رزق ورکړي چې دی به گمان هم نه کوي او هغه څوك چې په الله باندې توکل وکړي، نو همدی د ده لپاره بس (او کافی) دی، بېشکه الله خپل کار ته رسېدونکی دی، یقینًا الله د هر شي لپاره یوه اندازه مقرر کړې ده

وَٱلَّٰٓـِٔي يَئِسۡنَ مِنَ ٱلۡمَحِيضِ مِن
نِّسَآئِكُمۡ إِنِ ٱرۡتَبۡتُمۡ فَعِدَّتُهُنَّ
ثَلَٰثَةُ أَشۡهُرٖ وَٱلَّٰٓـِٔي لَمۡ يَحِضۡنَۚ
وَأُوْلَٰتُ ٱلۡأَحۡمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن
يَضَعۡنَ حَمۡلَهُنَّۚ وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ

**(4)** او هغه ښځې چې ستاسو په ښځو کې د حیض له راتلو نه نا امېده شوې دي که چېرې تاسو شك وکړئ، نو د دوی عدت درې میاشتې دی او هغه (جینکۍ) چې لا حایضه شوې نه وي او امېدوارې (حامله) ښځې (چې دي) د دوی عدت دا دی چې حمل (بچی)

يَجۡعَل لَّهُۥ مِنۡ أَمۡرِهِۦ يُسۡرٗا ٤

وزېږوي او هغه څوك چې له الله نهووېرېږي، هغه به د ده لپاره په كار كې ډېره اساني پيدا كړي

ذَٰلِكَ أَمۡرُ ٱللَّهِ أَنزَلَهُۥٓ إِلَيۡكُمۡۚ وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يُكَفِّرۡ عَنۡهُ سَيِّـَٔاتِهِۦ وَيُعۡظِمۡ لَهُۥٓ أَجۡرًا ٥

(5) دغه د الله حكم دى، چې تاسو ته يې دغه نازل كړى دى او هغه څوك چې له الله نه ووېرېږي، هغه به له ده نه د ده ګناهونه لرې كړي او د ده لپاره به اجر ډېر لوى كړي

أَسۡكِنُوهُنَّ مِنۡ حَيۡثُ سَكَنتُم مِّن وُجۡدِكُمۡ وَلَا تُضَآرُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُواْ عَلَيۡهِنَّۚ وَإِن كُنَّ أُوْلَٰتِ حَمۡلٖ فَأَنفِقُواْ عَلَيۡهِنَّ حَتَّىٰ يَضَعۡنَ حَمۡلَهُنَّۚ فَإِنۡ أَرۡضَعۡنَ لَكُمۡ فَـَٔاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ وَأۡتَمِرُواْ بَيۡنَكُم بِمَعۡرُوفٖۖ وَإِن تَعَاسَرۡتُمۡ فَسَتُرۡضِعُ لَهُۥٓ أُخۡرَىٰ ٦

(6) تاسو دغه ښځې (په عدت كې) د خپل طاقت سره سم د هغه ځاى په څه حصه كې اوسوئ چې تاسو (په كې) اوسېږئ او تاسو دوى ته ضرر مه رسوئ، د دې لپاره چې تاسو په دوى باندې تنګسيا راولئ او كه چېرې دغه (ښځې) اميدوارې (حامله) وي، بيا نو تاسو په دوى باندې خرچه كوئ تر هغه پورې چې دوى خپل حمل وزېږوي، نو كه دوى ستاسو (اولاد) لپاره تى وركړي، نو تاسو دوى ته د دوى مزدوري وركړئ او تاسو په خپل مينځ كې په ښې طريقې سره يو له بله سره مشوره كوئ او كه تاسو يو له بل سره سختي وكړئ، نو ده (اولاد) ته به عنقريب بله ښځه تى وركړي

| | |
|---|---|
| لِيُنفِقۡ ذُو سَعَةٖ مِّن سَعَتِهِۦۖ وَمَن قُدِرَ عَلَيۡهِ رِزۡقُهُۥ فَلۡيُنفِقۡ مِمَّآ ءَاتَىٰهُ ٱللَّهُۚ لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِلَّا مَآ ءَاتَىٰهَاۚ سَيَجۡعَلُ ٱللَّهُ بَعۡدَ عُسۡرٖ يُسۡرٗا ۝٧ | (7) د فراخۍ والا دي له خپلې فراخۍ نه خرچه وکړي او هغه څوك چې په هغه باندې خپل رزق تنګ کړی شوی وي، نو هغه دې له هغه (مال) نه څه خرچ کړي چې الله ده ته ورکړی دی، الله هېڅ یونفس نه مکلف کوي مګر هومره چې ده ته یې ورکړی دی، ژر ده چې الله به له تنګۍ نه پس اساني راولي |
| وَكَأَيِّن مِّن قَرۡيَةٍ عَتَتۡ عَنۡ أَمۡرِ رَبِّهَا وَرُسُلِهِۦ فَحَاسَبۡنَٰهَا حِسَابٗا شَدِيدٗا وَعَذَّبۡنَٰهَا عَذَابٗا نُّكۡرٗا ۝٨ | (8) او ډېر كلي وو چې د خپل رب او د هغه د رسولانو له حکم نه یې سرکشي کړې وه، نو مونږ له هغوی سره حساب وکړ، ډېر سخت حساب کول او مونږ هغوی ته عذاب ورکړ ډېر ناکاره عذاب ورکول |
| فَذَاقَتۡ وَبَالَ أَمۡرِهَا وَكَانَ عَٰقِبَةُ أَمۡرِهَا خُسۡرًا ۝٩ | (9) نو هغوی د خپل کار سزا وڅکله او د دوی د کار انجام زیان (او تاوان) شو |
| أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُمۡ عَذَابٗا شَدِيدٗاۖ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ يَٰٓأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْۚ قَدۡ أَنزَلَ ٱللَّهُ إِلَيۡكُمۡ ذِكۡرٗا ۝١٠ | (10) الله د دوی لپاره ډېر سخت عذاب تیار کړی دی، نو تاسو له الله نه ووېرېږئ ای د خالصو عقلونو خاوندانو، هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی، یقینًا الله تاسو ته ذکر (قرآن) نازل کړی دی |
| رَّسُولٗا يَتۡلُواْ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتِ | (11) (او) رسول (یې رالیږلی دی) چې تاسو |

ٱللَّهِ مُبَيِّنَـٰتٖ لِّيُخۡـرِجَ ٱلَّذِيـنَ
ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّـٰلِحَٰتِ مِـنَ
ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِۚ وَمَـن يُـؤۡمِنۢ
بِـٱللَّهِ وَيَعۡمَـلۡ صَـٰلِحٗا يُدۡخِلۡـهُ
جَنَّـٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَـٰرُ
خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَـدٗاۖ قَـدۡ أَحۡسَـنَ
ٱللَّهُ لَهُۥ رِزۡقًا ﴿١١﴾

ته د الله ایتونه لولي، چې ښه څرګندوونکي دي، د دې لپاره چې دغه (الله) هغو کسانو لره چې ایمان یې راوړی دی او نېک عملونه یې کړي دي، له تیارو نه رڼا ته وباسي او هغه څوك چې په الله ایمان راوړي او نېك عمل وکړي (نو) دی به دغه کس داسې جنتونو ته داخل کړي چې د هغو له لاندې ولې بهېږي، چې دوی به په هغو کې تل ترتله وي، یقینًا الله د ده لپاره رزق ډېر ښه کړی دی

ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَـقَ سَـبۡعَ سَـمَٰوَٰتٖ
وَمِنَ ٱلۡأَرۡضِ مِثۡلَهُنَّۖ يَتَنَزَّلُ ٱلۡأَمۡرُ
بَيۡـنَهُنَّ لِتَعۡلَمُـوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ
شَيۡءٖ قَدِيرٞ وَأَنَّ ٱللَّهَ قَـدۡ أَحَـاطَ
بِكُلِّ شَيۡءٍ عِلۡمَۢا ﴿١٢﴾

(12) الله هغه ذات دی چې اوه اسمانونه یې پیدا کړي دي او له ځمکې نه هم د دغو په مثل، (د الله) امر د دوی په مینځ کې نازلېږي، د دې لپاره چې تاسو پوه شي چې یقینًا الله په هر شي باندې ښه قادر دی او دا چې یقینًا الله د علم په لحاظ هر شی راګېر کړی دی

## سُورَةُ التَّحْرِيمِ

## سورة تحريم

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ لِمَ تُحَـرِّمُ مَـآ أَحَـلَّ

(1) ای نبي! ته ولې هغه شی حراموې

ٱللَّهُ لَكَۖ تَبۡتَغِي مَرۡضَاتَ أَزۡوَٰجِكَۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ١

(بندوې) چې الله تا ته حلال کړې دی؟ ته د خپلو ښځو خوشحالول (او راضی کول) غواړې او الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی

قَدۡ فَرَضَ ٱللَّهُ لَكُمۡ تَحِلَّةَ أَيۡمَٰنِكُمۡۚ وَٱللَّهُ مَوۡلَىٰكُمۡۖ وَهُوَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡحَكِيمُ ٢

(2) یقینًا الله تاسو لپاره ستاسو د قسمونو حلالوالی مقرر کړی دی او الله ستا مددګار دی، او هم دی ښه پوه، ښه حکمت والا دی

وَإِذۡ أَسَرَّ ٱلنَّبِيُّ إِلَىٰ بَعۡضِ أَزۡوَٰجِهِۦ حَدِيثٗا فَلَمَّا نَبَّأَتۡ بِهِۦ وَأَظۡهَرَهُ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ عَرَّفَ بَعۡضَهُۥ وَأَعۡرَضَ عَنۢ بَعۡضٖۖ فَلَمَّا نَبَّأَهَا بِهِۦ قَالَتۡ مَنۡ أَنۢبَأَكَ هَٰذَاۖ قَالَ نَبَّأَنِيَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡخَبِيرُ ٣

(3) او (یاد کړه) هغه وخت چې نبي په خپلو ښځو کې کومې ته په راز کې یوه خبره وویله، نو کله چې هغې په دې سره (بلې ته) خبر ورکړ او الله ده ته دغه (خبره) ښکاره کړه (نو) ده ځینې خبره وښودله او له ځینې نه یې اعراض وکړ، نو کله چې ده هغه (ښځه) په دې خبره کړه (نو) هغې وویل: ته په دې باندې چا خبر کړې؟ ده وویل: ما ته ډېر پوه (او) ښه خبردار ذات خبر راکړ

إِن تَتُوبَآ إِلَى ٱللَّهِ فَقَدۡ صَغَتۡ قُلُوبُكُمَاۖ وَإِن تَظَٰهَرَا عَلَيۡهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ هُوَ مَوۡلَىٰهُ وَجِبۡرِيلُ وَصَٰلِحُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ بَعۡدَ ذَٰلِكَ

(4) که چېرې تاسو دواړه الله ته توبه وباسئ، نو یقینًا ستاسو د دواړو زړونه مایله شوي دي او که د ده (نبي) په خلاف تاسو یوه له بلې سره مدد وکړئ، نو بېشکه چې الله، همغه د ده مددګار دی او جبریل او صالح مومنان او

ظَهِيرٌ ٤

ملايك له دې نه پس مددگاران دي

عَسَىٰ رَبُّهُۥٓ إِن طَلَّقَكُنَّ أَن يُبۡدِلَهُۥٓ أَزۡوَٰجًا خَيۡرًا مِّنكُنَّ مُسۡلِمَٰتٖ مُّؤۡمِنَٰتٖ قَٰنِتَٰتٖ تَٰٓئِبَٰتٍ عَٰبِدَٰتٖ سَٰٓئِحَٰتٖ ثَيِّبَٰتٖ وَأَبۡكَارًا ٥

(5) كه دى تاسو ته طلاق دركړي (، نو) امېد دى چې د ده رب به ده ته په بدل كې له تاسو نه ډېرې غوره ښځې وركړي، چې مسلماناني، مومناني، اطاعت گزارې، توبه ايستونكې، عبادت كوونكې، روژه نيوونكې، (هجرت كوونكې) څښتن ليدلې او پېغلې به وي

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ وَأَهۡلِيكُمۡ نَارٗا وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلۡحِجَارَةُ عَلَيۡهَا مَلَٰٓئِكَةٌ غِلَاظٞ شِدَادٞ لَّا يَعۡصُونَ ٱللَّهَ مَآ أَمَرَهُمۡ وَيَفۡعَلُونَ مَا يُؤۡمَرُونَ ٦

(6) اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى! تاسو خپل ځانونه او خپل اهل له داسې اور نه بچ وساتئ چې د هغه خشاك خلق او كاڼي دي، په ده باندې ډېر سخت خويه، قوتناك ملايك مقرر دي، چې دوى په هغه څه كې د الله نافرمانى نه كوي چې دوى ته يې حكم كړى وي او دوى هغه څه كوي چې دوى ته يې حكم كولى شي

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَا تَعۡتَذِرُواْ ٱلۡيَوۡمَۖ إِنَّمَا تُجۡزَوۡنَ مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٧

(7) اى هغو كسانو چې كافران شوي دي! تاسو نن ورځ عذرونه مه وړاندې كوئ، بېشكه همدا خبره ده چې تاسو ته به د هغه څه بدله دركولى شي چې تاسو به كول

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ تُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ تَوۡبَةٗ نَّصُوحًا عَسَىٰ رَبُّكُمۡ أَن يُكَفِّرَ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَيُدۡخِلَكُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ يَوۡمَ لَا يُخۡزِي ٱللَّهُ ٱلنَّبِيَّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥۖ نُورُهُمۡ يَسۡعَىٰ بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَبِأَيۡمَٰنِهِمۡ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَتۡمِمۡ لَنَا نُورَنَا وَٱغۡفِرۡ لَنَآۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٨

**(8)** اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى! تاسو الله ته توبه وباسئ خالصه رښتينې توبه، امېد دى چې ستاسو رب به له تاسو نه ستاسو گناهونه ورژوي او تاسو به داسې جنتونو ته داخل كړي چې د هغو له لاندې ولې بهېږي، په هغه ورځ كې چې الله به نبي او هغه كسان چې له ده سره يې ايمان راوړى دى رسوا نه كړي، د دوى رڼا به د دوى په وړاندې او د دوى په ښي اړخ منډې وهي، دوى به وايي: اى زمونږه ربه! ته مونږ ته زمونږ رڼا پوره كړه او مونږ وبخښه، بېشكه ته په هر شي باندې ښه قادر يې

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ جَٰهِدِ ٱلۡكُفَّارَ وَٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱغۡلُظۡ عَلَيۡهِمۡۚ وَمَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ٩

**(9)** اى نبي! ته له كافرانو او منافقانو سره جهاد كوه او په دوى باندې سختي كوه او د دوى استوگنه جهنم دى او هغه د ورتلو بد ځاى دى

ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱمۡرَأَتَ نُوحٖ وَٱمۡرَأَتَ لُوطٖۖ كَانَتَا تَحۡتَ عَبۡدَيۡنِ مِنۡ عِبَادِنَا صَٰلِحَيۡنِ فَخَانَتَاهُمَا فَلَمۡ يُغۡنِيَا

**(10)** الله د هغو كسانو لپاره مثال بيانوي چې كافران شوي دي: د نوح ښځه او د لوط ښځه، دا دواړه زمونږ په بنده گانو كې د دوه نېكو بنده گانو لاندې وې، نو دغو دواړو (ښځو) له هغو سره خيانت وكړ، نو هغوى د الله په مقابله

عَنۡهُمَا مِنَ ٱللَّهِ شَيۡـٔٗا وَقِيلَ ٱدۡخُلَا ٱلنَّارَ مَعَ ٱلدَّٰخِلِينَ ١٠

کې د دوی هېڅ په کار رانغلل او دغو دواړو (ښځو) ته وویل شول چې تاسو اور ته له ننوتونکو سره ننوځئ

وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱمۡرَأَتَ فِرۡعَوۡنَ إِذۡ قَالَتۡ رَبِّ ٱبۡنِ لِي عِندَكَ بَيۡتٗا فِي ٱلۡجَنَّةِ وَنَجِّنِي مِن فِرۡعَوۡنَ وَعَمَلِهِۦ وَنَجِّنِي مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ١١

(11) او الله د ایمان راوړونکو لپاره یو بل مثال بیانوي: د فرعون ښځه ده، کله چې هغې وویل: ای زما ربه! ته ما ته زما لپاره خپلې خوا کې په جنت کې یو کور جوړ کړه او ته ما له فرعون او د هغه له عمل نه خلاصه کړه او ته ما ته له ظالم قوم نه نجات راکړه

وَمَرۡيَمَ ٱبۡنَتَ عِمۡرَٰنَ ٱلَّتِيٓ أَحۡصَنَتۡ فَرۡجَهَا فَنَفَخۡنَا فِيهِ مِن رُّوحِنَا وَصَدَّقَتۡ بِكَلِمَٰتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهِۦ وَكَانَتۡ مِنَ ٱلۡقَٰنِتِينَ ١٢

(12) او د عمران لور مریم ده، هغه چې د خپل شرم ځای حفاظت یې کړی و، پس مونږ له خپل روح نه په ده کې پوکی وواهه او دې د خپل رب د کلمو (خبرو) او د هغه د کتابونو تصدیق کړی و او دا له حکم منونکو څخه وه

## سُورَةُ المُلْكِ

## سورۀ ملک

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

تَبَٰرَكَ ٱلَّذِي بِيَدِهِ ٱلۡمُلۡكُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ١

(1) ډېر برکت والا دی هغه ذات چې خاص د هغه په لاس کې بادشاهي ده، او هغه په هر

شي باندې ښه قادر دی

ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلۡمَوۡتَ وَٱلۡحَيَوٰةَ لِيَبۡلُوَكُمۡ أَيُّكُمۡ أَحۡسَنُ عَمَلٗاۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡغَفُورُ ٢

(2) هغه ذات چې مرگ او ژوند يې پيدا کړی دی، د دې لپاره چې تاسو وازمايي چې په تاسو کې د عمل په لحاظ کوم يو ډېر ښه دی او هم دی ښه غالب، ډېر بخښونکی دی

ٱلَّذِي خَلَقَ سَبۡعَ سَمَٰوَٰتٖ طِبَاقٗاۖ مَّا تَرَىٰ فِي خَلۡقِ ٱلرَّحۡمَٰنِ مِن تَفَٰوُتٖۖ فَٱرۡجِعِ ٱلۡبَصَرَ هَلۡ تَرَىٰ مِن فُطُورٖ ٣

(3) هغه (الله) چې اوه اسمانونه يې طبقې طبقې (لاندې باندې) پيدا کړي دي، ته به د رحمٰن په پيداکونه کې هېڅ خلل (او فرق)، ونه وينې، پس سترگې بېرته راواړه، ايا ته کوم څيرې والی (او چاود) وينې

ثُمَّ ٱرۡجِعِ ٱلۡبَصَرَ كَرَّتَيۡنِ يَنقَلِبۡ إِلَيۡكَ ٱلۡبَصَرُ خَاسِئٗا وَهُوَ حَسِيرٞ ٤

(4) بيا سترگې راواړه دوه ځلې، تا ته به سترگې بېرته راوگرځي، چې ذليله به وي، په دې حال کې چې ستړې ستومانه به وي

وَلَقَدۡ زَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنۡيَا بِمَصَٰبِيحَ وَجَعَلۡنَٰهَا رُجُومٗا لِّلشَّيَٰطِينِۖ وَأَعۡتَدۡنَا لَهُمۡ عَذَابَ ٱلسَّعِيرِ ٥

(5) او يقينًا يقينًا مونږ دا تر ټولو نژدې اسمان په ډېوو (ستوريو) سره ښايسته کړی دی او مونږ دغه (ډېوې، يعنې ستورې) د شيطانانو د ويشتلو لپاره ذريعې جوړې کړې دي او مونږ د دوی لپاره ډېر سوځوونکی عذاب تيار کړی دی

وَلِلَّذِينَ كَفَرُواْ بِرَبِّهِمۡ عَذَابُ

(6) او د هغو کسانو لپاره چې په خپل رب

جَهَنَّمَۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ٦

باندې کافران شوي دي د جهنم عذاب دی او هغه د ورتلو بد ځای دی

إِذَآ أُلۡقُواْ فِيهَا سَمِعُواْ لَهَا شَهِيقٗا وَهِيَ تَفُورُ ٧

(7) کله چې دوی په ده کې وغورځول شي دوی به د ده (لکه د خر) بد اواز واوري، په داسې حال کې چې دا به خوټېږي

تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ ٱلۡغَيۡظِۖ كُلَّمَآ أُلۡقِيَ فِيهَا فَوۡجٞ سَأَلَهُمۡ خَزَنَتُهَآ أَلَمۡ يَأۡتِكُمۡ نَذِيرٞ ٨

(8) نژدې به وي چې دی له غصې نه ټوټې شي، هر وارې چې په ده کې یوه ډله وغورځول شي (نو) له دوی نه به د دغه (دوزخ) څوکیداران پوښتنه وکړي چې ایا تاسو ته وېروونکی (پېغمبر) نه و راغلی؟

قَالُواْ بَلَىٰ قَدۡ جَآءَنَا نَذِيرٞ فَكَذَّبۡنَا وَقُلۡنَا مَا نَزَّلَ ٱللَّهُ مِن شَيۡءٍ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا فِي ضَلَٰلٖ كَبِيرٖ ٩

(9) دوی به وايي: ولې نه! یقیناً مونږ ته وېروونکی راغلی و، پس مونږ (د هغه) تکذیب وکړ (هغه مو دروغجن وګاڼه) او مونږ وویل چې الله هېڅ شی هم نه دی نازل کړی، نه يئ تاسو مګر په ډېره لویه ګمراهۍ کې

وَقَالُواْ لَوۡ كُنَّا نَسۡمَعُ أَوۡ نَعۡقِلُ مَا كُنَّا فِيٓ أَصۡحَٰبِ ٱلسَّعِيرِ ١٠

(10) او دوی به وايي: که چېرې مونږ اورېدل کولی، یا مو له عقل نه کار اخیستلی (نو) مونږ به (نن) د دوزخ په ملګرو کې نه وی

فَٱعۡتَرَفُواْ بِذَنۢبِهِمۡ فَسُحۡقٗا

(11) نو دوی د خپلو ګناهونو اقرار وکړ، نو د دوزخ والاو لپاره (د الله له رحمت نه) لرې والی

لِّأَصۡحَٰبِ ٱلسَّعِيرِ ﴿١١﴾

دی

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَخۡشَوۡنَ رَبَّهُم بِٱلۡغَيۡبِ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَأَجۡرٞ كَبِيرٞ ﴿١٢﴾

(12) بېشکه هغه کسان چې له خپل رب نه په غیبو (نالیدلو) سره وېرېږي، د دوی لپاره مغفرت او ډېر لوی اجر دی

وَأَسِرُّواْ قَوۡلَكُمۡ أَوِ ٱجۡهَرُواْ بِهِۦٓۖ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿١٣﴾

(13) او تاسو خپله خبره پټه وکړئ، یا تاسو هغه ښکاره وکړئ، بېشکه هغه (الله) د سینو په پټو خبرو هم ښه عالم دی

أَلَا يَعۡلَمُ مَنۡ خَلَقَ وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلۡخَبِيرُ ﴿١٤﴾

(14) ایا هغه ذات به نه پوهېږي چې یې (هر څه) پیدا کړي دي (ولې نه!) او هم دی ډېر باریک بین، ښه خبردار دی

هُوَ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ ذَلُولٗا فَٱمۡشُواْ فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُواْ مِن رِّزۡقِهِۦۖ وَإِلَيۡهِ ٱلنُّشُورُ ﴿١٥﴾

(15) دی همغه ذات دی چې تاسو لپاره یې ځمکه تابع ګرځولې ده، نو تاسو د دې په اړخو (اطرافو، لارو) کې ګرځئ او د دغه (الله) له رزق نه خورئ او خاص ده ته (ستاسو) بیا ژوندي راپورته کېدل دي

ءَأَمِنتُم مَّن فِي ٱلسَّمَآءِ أَن يَخۡسِفَ بِكُمُ ٱلۡأَرۡضَ فَإِذَا هِيَ تَمُورُ ﴿١٦﴾

(16) ایا تاسو په امن (او بې وېرې) شوي یئ له هغه ذات نه چې په اسمان کې دی، له دې نه چې هغه تاسو په ځمکه کې ښکته ننباسي، بیا دغه (ځمکه) ناڅاپه لړزان شروع کړي

أَمۡ أَمِنتُم مَّن فِي ٱلسَّمَآءِ أَن يُرۡسِلَ عَلَيۡكُمۡ حَاصِبٗاۖ فَسَتَعۡلَمُونَ كَيۡفَ نَذِيرِ ١٧

(17) ایا تاسو له هغه ذات، نه چې په اسمان کې دی په امن (او بې وېرې) شوي يئ، له دې نه چې پر تاسو باندې د کاڼو باران راخوشې کړي، نو چې تاسو به ژر پوه شئ چې زما وېرول څنګه دي

وَلَقَدۡ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ فَكَيۡفَ كَانَ نَكِيرِ ١٨

(18) او يقينًا يقينًا هغو کسانو (د خپلو رسولانو) تکذيب کړی و چې له دغو خلقو نه مخکې وو، نو زما انکار او عذاب څنګه وو؟

أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ إِلَى ٱلطَّيۡرِ فَوۡقَهُمۡ صَٰٓفَّٰتٖ وَيَقۡبِضۡنَۚ مَا يُمۡسِكُهُنَّ إِلَّا ٱلرَّحۡمَٰنُۚ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَيۡءِۭ بَصِيرٌ ١٩

(19) او ایا دوی د خپل (سر) له پاسه مرغانو ته نه دي کتلي، په داسې حال کې چې خپل وزرونه پرانستونکي وي او ټولوي يې، دوی (له پرېوتلو نه) نه راتينګوي مګر رحمن ذات، بېشکه هغه هر شي لره ښه ليدونکی دی

أَمَّنۡ هَٰذَا ٱلَّذِي هُوَ جُندٞ لَّكُمۡ يَنصُرُكُم مِّن دُونِ ٱلرَّحۡمَٰنِۚ إِنِ ٱلۡكَٰفِرُونَ إِلَّا فِي غُرُورٍ ٢٠

(20) ایا څوك دی هغه کس (ای مشرکانو!) چې هغه ستاسو لپاره لښکر دی چې له رحمٰن نه غير به ستاسو مدد وکړي، کافران نه دي مګر په دوکه (او غولېدلو) کې

أَمَّنۡ هَٰذَا ٱلَّذِي يَرۡزُقُكُمۡ إِنۡ أَمۡسَكَ رِزۡقَهُۥۚ بَل لَّجُّواْ فِي عُتُوّٖ وَنُفُورٍ ٢١

(21) ایا څوك دی هغه ذات چې تاسو ته به روزي درکړي که چېرې هغه (الله) خپل رزق بند کړي بلکې دوی په سرکشۍ او تېښته کې

نبوتلي (او پاخه شوي) دي

أَفَمَن يَمْشِي مُكِبًّا عَلَىٰ وَجْهِهِۦٓ أَهْدَىٰٓ أَمَّن يَمْشِي سَوِيًّا عَلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٢٢﴾

(22) ایا نو هغه ځوك چې په خپل مخ باندې نسکور ځي ښه لار موندونکی دی، یا هغه ځوك چې په نېغه لار سم برابر روان دی؟

قُلْ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَنشَأَكُمْ وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ وَٱلْأَفْـِٔدَةَ ۖ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ﴿٢٣﴾

(23) ته (دوی ته) ووایه: دغه (الله) هغه ذات دی چې تاسو يې پیدا کړي یئ او تاسو لپاره يې غوږونه او سترګې او زړونه پیدا کړي دي (خو) تاسو ډېر لږ شکر وباسئ

قُلْ هُوَ ٱلَّذِى ذَرَأَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ وَإِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٢٤﴾

(24) ته (دوی ته) ووایه چې دغه (الله) هغه ذات دی چې تاسو يې په ځمکه کې خواره کړي یئ او خاص ده ته به تاسو ورجمع کولی شئ

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٢٥﴾

(25) او دوی وايي چې دغه (د قیامت) وعده به کله وي، که تاسو رښتیني یئ؟

قُلْ إِنَّمَا ٱلْعِلْمُ عِندَ ٱللَّهِ وَإِنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٢٦﴾

(26) ته (دوی ته) ووایه چې بېشکه (د قیامت) علم خو یوازې الله ته دی او بېشکه زه خو یوازې ښکاره وېروونکی یم

فَلَمَّا رَأَوْهُ زُلْفَةً سِيٓـَٔتْ وُجُوهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَقِيلَ هَٰذَا ٱلَّذِى

(27) نو کله چې دوی دغه (عذاب) ډېر نژدې ووینې (نو) د هغو کسانو مخونه به بدشکله (او

كُنتُم بِهِۦ تَدَّعُونَ ﴿٢٧﴾

تور) شي چې کافران شوي وو او وبه ويل شي چې دا هغه (عذاب) دی چې تاسو به دا ژر غوښته

قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ إِنۡ أَهۡلَكَنِيَ ٱللَّهُ وَمَن مَّعِيَ أَوۡ رَحِمَنَا فَمَن يُجِيرُ ٱلۡكَٰفِرِينَ مِنۡ عَذَابٍ أَلِيمٖ ﴿٢٨﴾

(28) (ای نبي!) ته (دوی ته) ووايه: تاسو ما ته خبر راکړئ! که چېرې الله ما او هغه کسان چې زما سره دي، هلاك (او مړه) کړي، يا پر مونږ رحم وکړي، نو څوك دی چې کافران به له ډېر دردونکي عذاب نه بچ کړي؟

قُلۡ هُوَ ٱلرَّحۡمَٰنُ ءَامَنَّا بِهِۦ وَعَلَيۡهِ تَوَكَّلۡنَاۖ فَسَتَعۡلَمُونَ مَنۡ هُوَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ﴿٢٩﴾

(29) ته (دوی ته) ووايه: هم دغه (الله) رحمٰن دی، مونږ په ده ايمان راوړی دی او مونږ خاص په ده باندې توکل کړی دی، نو تاسو به ژر پوه شئ چې هغه څوك دی چې په ښکاره گمراهۍ کې دی

قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ إِنۡ أَصۡبَحَ مَآؤُكُمۡ غَوۡرٗا فَمَن يَأۡتِيكُم بِمَآءٖ مَّعِينِۭ ﴿٣٠﴾

(30) ته (دوی ته) ووايه چې تاسو ما ته خبر راکړئ! که چېرې ستاسو اوبه (په ځمکه کې) ډېرې ښکته لاړې شي، نو څوك دی چې تاسو ته به روانې اوبه راولي؟

## سُورَةُ القَلَمِ

## سورة قلم

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

نٓۚ وَٱلۡقَلَمِ وَمَا يَسۡطُرُونَ ١

(1) نون، قسم دی په قلم او په هغه څه چې دوی يې ليکي

مَآ أَنتَ بِنِعۡمَةِ رَبِّكَ بِمَجۡنُونٖ ٢

(2) چې ته د خپل رب په نعمت (او فضل) سره هېڅ لېونی نه يې

وَإِنَّ لَكَ لَأَجۡرًا غَيۡرَ مَمۡنُونٖ ٣

(3) او بېشکه چې خاص تا لره يقينًا داسې اجر دی چې قطع کولی به نشي

وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٖ ٤

(4) او بېشکه چې ته يقينًا په ډېرو لويو اخلاقو باندې (فايز) يې

فَسَتُبۡصِرُ وَيُبۡصِرُونَ ٥

(5) پس ژر به ته ووينې (ای نبي!) او دوی به هم ووينې

بِأَييِّكُمُ ٱلۡمَفۡتُونُ ٦

(6) چې په تاسو کې کوم يو لېونی دی

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ وَهُوَ أَعۡلَمُ

(7) بېشکه ستا رب په هغه چا ښه پوه دی چې د ده له لارې نه گمراه شوی دی او هم دی په هدايت موندونکو باندې ښه عالم دی

بِٱلۡمُهۡتَدِينَ ۝٧

فَلَا تُطِعِ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ۝٨

(8) نو ته د تکذيب کوونکو خبره مه منه

وَدُّواْ لَوۡ تُدۡهِنُ فَيُدۡهِنُونَ ۝٩

(9) دوى خوښوي چې کاشکې ته نرم شې، نو دوى به هم نرم شي

وَلَا تُطِعۡ كُلَّ حَلَّافٖ مَّهِينٍ ۝١٠

(10) او ته د هر ډېر سوګند خوړونکي، سپك، خبره مه منه

هَمَّازٖ مَّشَّآءِۭ بِنَمِيمٖ ۝١١

(11) چې ډېر عيب ويونکى، چغلى لره ډېر چلوونکى دى

مَّنَّاعٖ لِّلۡخَيۡرِ مُعۡتَدٍ أَثِيمٍ ۝١٢

(12) خير لره ډېر منع کوونکى، له حده تېرېدونکى، سخت ګناهګار دى

عُتُلِّۭ بَعۡدَ ذَٰلِكَ زَنِيمٍ ۝١٣

(13) ډېر بد خويه دى (او) له دغو (عيبونو نه پس بد اصله (حرامي هم) دى

أَن كَانَ ذَا مَالٖ وَبَنِينَ ۝١٤

(14) په دې وجه چې دى د مال او زامنو والا دى

إِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِ ءَايَٰتُنَا قَالَ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ۝١٥

(15) کله چې ده ته زمونږ ايتونه ولوستل شي (نو) دى وايي: (دا) د ړومبنو خلقو باطلې قصې دي

| | |
|---|---|
| سَنَسِمُهُۥ عَلَى ٱلۡخُرۡطُومِ ١٦ | (16) ژر ده چې مونږ به د ده په خلتم (پوزه) باندې داغ کېږدو |
| إِنَّا بَلَوۡنَٰهُمۡ كَمَا بَلَوۡنَآ أَصۡحَٰبَ ٱلۡجَنَّةِ إِذۡ أَقۡسَمُواْ لَيَصۡرِمُنَّهَا مُصۡبِحِينَ ١٧ | (17) بېشکه مونږ دوی وازمایل، لکه چې مونږ د باغ خاوندان ازمایلي وو، کله چې هغوی قسمونه وخوړل چې دوی به خامخا ضرور دغه (د باغ مېوې) پرې کړي، په دې حال کې چې سبا کوونکي به وي |
| وَلَا يَسۡتَثۡنُونَ ١٨ | (18) او دوی استثنا نه کوله (ان شاء الله یې ونه وایه) |
| فَطَافَ عَلَيۡهَا طَآئِفٞ مِّن رَّبِّكَ وَهُمۡ نَآئِمُونَ ١٩ | (19) نو په دغه (باغ) باندې ستا د رب له جانبه یوه طواف کوونکې بلا راچاپېره شوه، په داسې حال کې چې دوی ویده وو |
| فَأَصۡبَحَتۡ كَٱلصَّرِيمِ ٢٠ | (20) نو دغه (باغ داسې) شو، لکه رېبل شوی فصل |
| فَتَنَادَوۡاْ مُصۡبِحِينَ ٢١ | (21) نو دوی یو بل ته اواز وکړ، په داسې حال کې چې سبا کوونکي وو |
| أَنِ ٱغۡدُواْ عَلَىٰ حَرۡثِكُمۡ إِن كُنتُمۡ صَٰرِمِينَ ٢٢ | (22) داسې چې خپل فصل ته سبا وختي ورشئ که چېرې تاسو لَو کوونکي یئ |

| | |
|---|---|
| فَٱنطَلَقُواْ وَهُمۡ يَتَخَٰفَتُونَ ٢٣ | (23) نو دوی روان شول، په داسې حال کې چې یو له بل سره یې پټې پټې خبرې کولې |
| أَن لَّا يَدۡخُلَنَّهَا ٱلۡيَوۡمَ عَلَيۡكُم مِّسۡكِينٞ ٢٤ | (24) (داسې) چې دې (باغ) ته دې پر تاسو باندې نن ورځ ببخي هېڅ مسکین داخل نه شي |
| وَغَدَوۡاْ عَلَىٰ حَرۡدٖ قَٰدِرِينَ ٢٥ | (25) او دوی د نه ورکولو په ارادې سره سهار لاړل، په داسې حال کې چې دوی (په خپل خیال کې) قادر وو |
| فَلَمَّا رَأَوۡهَا قَالُوٓاْ إِنَّا لَضَآلُّونَ ٢٦ | (26) نو دوی چې کله هغه (باغ) ولیده، ویې ویل:بېشکه مونږ یقینًا لار ورکي یو |
| بَلۡ نَحۡنُ مَحۡرُومُونَ ٢٧ | (27) بلکې مونږ محروم کړی شوي یو |
| قَالَ أَوۡسَطُهُمۡ أَلَمۡ أَقُل لَّكُمۡ لَوۡلَا تُسَبِّحُونَ ٢٨ | (28) د دوی منځني (غوره)کس وویل: ایا ما تاسو ته نه و ویلي! ولې تاسو تسبیح نه وایئ |
| قَالُواْ سُبۡحَٰنَ رَبِّنَآ إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ٢٩ | (29) (نو) دوی وویل: پاکي ده زمونږ رب لره، بېشکه مونږ ظالمان وو |
| فَأَقۡبَلَ بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ يَتَلَٰوَمُونَ ٣٠ | (30) نو د دوی ځینو ځینو نورو ته مخ واړوه، چې یو بل یې ملامته کول |

| | |
|---|---|
| قَالُواْ يَٰوَيۡلَنَآ إِنَّا كُنَّا طَٰغِينَ ٣١ | (31) دوی وویل: ای زمونږ هلاکته! یقینًا مونږ سرکشان وو |
| عَسَىٰ رَبُّنَآ أَن يُبۡدِلَنَا خَيۡرٗا مِّنۡهَآ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا رَٰغِبُونَ ٣٢ | (32) امید دی چې زمونږ رب به مونږ ته له دې (باغ) نه غوره په بدل کې راکړي، بېشکه مونږ خپل رب ته رغبت کوونکي يو |
| كَذَٰلِكَ ٱلۡعَذَابُۖ وَلَعَذَابُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَكۡبَرُۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ٣٣ | (33) همداسې عذاب وي او یقینًا د اخرت عذاب تر ټولو لوی دی، که چېرې دوی پوهېدلی |
| إِنَّ لِلۡمُتَّقِينَ عِندَ رَبِّهِمۡ جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ٣٤ | (34) بېشکه د پرهېزګارو لپاره د خپل رب په نيز د نعمتونو جنتونه دی |
| أَفَنَجۡعَلُ ٱلۡمُسۡلِمِينَ كَٱلۡمُجۡرِمِينَ ٣٥ | (35) ایا نو مونږ به مسلمانان د مجرمانو په شان کړو؟ |
| مَا لَكُمۡ كَيۡفَ تَحۡكُمُونَ ٣٦ | (36) په تاسو څه شوي دي؟ تاسو څنګه فیصله کوئ! |
| أَمۡ لَكُمۡ كِتَٰبٞ فِيهِ تَدۡرُسُونَ ٣٧ | (37) ایا تاسو سره کتاب دی چې په هغه کې تاسو (دا) لولئ؟ |
| إِنَّ لَكُمۡ فِيهِ لَمَا تَخَيَّرُونَ ٣٨ | (38) چې بېشکه تاسو لپاره په دغه (کتاب) کې هغه څه دي چې تاسو يې خوښوئ |

أَمۡ لَكُمۡ أَيۡمَٰنٌ عَلَيۡنَا بَٰلِغَةٌ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ إِنَّ لَكُمۡ لَمَا تَحۡكُمُونَ ﴿٣٩﴾

(39) ايا تاسو لپاره زمونږ په ذمه څه قسمونه (وعدې) شته چې د قيامت د ورځې پورې رسېدونکي دي چې يقيناً تاسو لپاره به خامخا هغه څه وي چې تاسو يې فيصله کوئ

سَلۡهُمۡ أَيُّهُم بِذَٰلِكَ زَعِيمٌ ﴿٤٠﴾

(40) ته له دوی نه پوښتنه وکړه چې په دوی کې کوم يو د دغه کار ضامن دی؟

أَمۡ لَهُمۡ شُرَكَآءُ فَلۡيَأۡتُواْ بِشُرَكَآئِهِمۡ إِن كَانُواْ صَٰدِقِينَ ﴿٤١﴾

(41) ايا د دوی لپاره شريکان شته دی، نو دوی دې خپل (دغه) شريکان راولي، که چېرې دوی رښتيني وي

يَوۡمَ يُكۡشَفُ عَن سَاقٖ وَيُدۡعَوۡنَ إِلَى ٱلسُّجُودِ فَلَا يَسۡتَطِيعُونَ ﴿٤٢﴾

(42) او (ياده کړه) هغه ورځ چې پنډۍ به بربنډه کړی شي او دوی به سجدې کولو ته راوبلل شي، نو دوی به توان ونه لري

خَٰشِعَةً أَبۡصَٰرُهُمۡ تَرۡهَقُهُمۡ ذِلَّةٞۖ وَقَدۡ كَانُواْ يُدۡعَوۡنَ إِلَى ٱلسُّجُودِ وَهُمۡ سَٰلِمُونَ ﴿٤٣﴾

(43) په داسې حال کې چې د دوی سترګې به ذليله (او ټيټې) وي، دوی به ذلت راګېر کړې وي او يقيناً دوی به سجدې کولو ته رابللی شول، په داسې حال کې چې روغ رمټ به وو

فَذَرۡنِي وَمَن يُكَذِّبُ بِهَٰذَا ٱلۡحَدِيثِۖ سَنَسۡتَدۡرِجُهُم مِّنۡ

(44) نو ته ما او هغه څوک پرېږده چې د دغه حديث (قرآن) تکذيب کوي، ژر به مونږ دوی

| | |
|---|---|
| حَيۡثُ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٤٤﴾ | په استدراج کې واچوو (ورو به يې ورو راونيسو) له هغه ځايه چې دوی به نه پوهېږي |
| وَأُمۡلِي لَهُمۡۚ إِنَّ كَيۡدِي مَتِينٌ ﴿٤٥﴾ | (45) او زه دوی ته مهلت ورکوم، بېشکه زما حيله (چل) مضبوط (او محکم) دی |
| أَمۡ تَسۡـَٔلُهُمۡ أَجۡرٗا فَهُم مِّن مَّغۡرَمٖ مُّثۡقَلُونَ ﴿٤٦﴾ | (46) ايا ته له دوی نه مزدوري غواړې، نو دوی له (دغه) تاوانه، درانه کړی شوي دي |
| أَمۡ عِندَهُمُ ٱلۡغَيۡبُ فَهُمۡ يَكۡتُبُونَ ﴿٤٧﴾ | (47) ايا له دوی سره علم غيب دی، نو چې دوی يې ليکي |
| فَٱصۡبِرۡ لِحُكۡمِ رَبِّكَ وَلَا تَكُن كَصَاحِبِ ٱلۡحُوتِ إِذۡ نَادَىٰ وَهُوَ مَكۡظُومٞ ﴿٤٨﴾ | (48) نو ته د خپل رب حکم ته صبر کوه او د کب (مهي) والا (يونس) په شان مه کېږه، کله چې ده اواز وکړ، په داسې حال کې چې له غم نه ډک و |
| لَّوۡلَآ أَن تَدَٰرَكَهُۥ نِعۡمَةٞ مِّن رَّبِّهِۦ لَنُبِذَ بِٱلۡعَرَآءِ وَهُوَ مَذۡمُومٞ ﴿٤٩﴾ | (49) که چېرې داسې نه وی چې ده ته د خپل رب مهرباني ورسېدله (نو) دی به خامخا په سپېره ميدان کې غورځول شوی و، په داسې حال کې چې دی به مذموم (ملامت کړی شوی) و |
| فَٱجۡتَبَٰهُ رَبُّهُۥ فَجَعَلَهُۥ مِنَ | (50) نو دی خپل رب غوره کړ، پس دی يې له صالحانو څخه وګرځاوه |

ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٥٠﴾

وَإِن يَكَادُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَيُزۡلِقُونَكَ بِأَبۡصَٰرِهِمۡ لَمَّا سَمِعُواْ ٱلذِّكۡرَ وَيَقُولُونَ إِنَّهُۥ لَمَجۡنُونٞ ﴿٥١﴾

(51) او بېشکه شان دا دی چې کافران شوي خلق نژدې وو چې تا په خپلو سترګو سره خامخا وښیوي، کله چې دوی ذکر (قرآن) واوریده او دوی وایي چې بېشکه دی خامخا لېونی دی

وَمَا هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ لِّلۡعَٰلَمِينَ ﴿٥٢﴾

(52) حال دا چې دغه (قرآن) نه دی مګر د عالمونو لپاره نصیحت

## سُورَةُ الحَاقَّةِ

## سورۀ حاقه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

ٱلۡحَآقَّةُ ﴿١﴾

(1) دغه (قیامت) خامخا واقع کېدونکی

مَا ٱلۡحَآقَّةُ ﴿٢﴾

(2) دغه لازمًا واقع کېدونکی څه شی دی

وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلۡحَآقَّةُ ﴿٣﴾

(3) او ته څه شي پوه کړې چې دغه قیامت څه شی دی

كَذَّبَتۡ ثَمُودُ وَعَادُۢ بِٱلۡقَارِعَةِ ﴿٤﴾

(4) ثمودیانو او عادیانو د ټکوونکي (قیامت) تکذیب کړی و

| | |
|---|---|
| فَأَمَّا ثَمُودُ فَأُهۡلِكُواْ بِٱلطَّاغِيَةِ ٥ | (5) نو هر چې ثموديان وو، پس هغوی په سخت اواز سره هلاك كړی شول |
| وَأَمَّا عَادٞ فَأُهۡلِكُواْ بِرِيحٖ صَرۡصَرٍ عَاتِيَةٖ ٦ | (6) او هر چې عاديان وو، نو دوی په ډېر سخت اواز، له حده وتونكي باد سره هلاك كړی شول |
| سَخَّرَهَا عَلَيۡهِمۡ سَبۡعَ لَيَالٖ وَثَمَٰنِيَةَ أَيَّامٍ حُسُومٗاۖ فَتَرَى ٱلۡقَوۡمَ فِيهَا صَرۡعَىٰ كَأَنَّهُمۡ أَعۡجَازُ نَخۡلٍ خَاوِيَةٖ ٧ | (7) (الله) دغه (باد) په دوی باندې اوه شپې او اته ورځې متواتر (پرله پسې د دوی د هلاكت لپاره) مسخر كړی و، نو تا به دغه قوم په دغه (شپو ورځو، كورونو، باد) كې لويدلي مړه پراته ليدل، ګوياكې دوی د زړو كجورو تش ډېدونه دي |
| فَهَلۡ تَرَىٰ لَهُم مِّنۢ بَاقِيَةٖ ٨ | (8) نو ايا ته دوی لره څه باقي پاتې شوي وينې |
| وَجَآءَ فِرۡعَوۡنُ وَمَن قَبۡلَهُۥ وَٱلۡمُؤۡتَفِكَٰتُ بِٱلۡخَاطِئَةِ ٩ | (9) او فرعون او هغه چا چې له ده نه مخكې وو او چپه كړی شويو كليو غټ جرم (شرك) وكړ |
| فَعَصَوۡاْ رَسُولَ رَبِّهِمۡ فَأَخَذَهُمۡ أَخۡذَةٗ رَّابِيَةً ١٠ | (10) نو دوی د خپل رب د رسول نافرماني وكړه، نو هغه دوی ونيول، ډېر سخت نيول |
| إِنَّا لَمَّا طَغَا ٱلۡمَآءُ حَمَلۡنَٰكُمۡ فِي | (11) بېشكه مونږ، كله چې اوبه له حده ووتې، |

| | |
|---|---|
| ٱلۡجَارِيَةِ ١١ | (نو) مونږ تاسو په بېړۍ کې سواره کړئ |
| لِنَجۡعَلَهَا لَكُمۡ تَذۡكِرَةٗ وَتَعِيَهَآ أُذُنٞ وَٰعِيَةٞ ١٢ | (12) د دې لپاره چې مونږ دغه (بېړۍ) تاسو لپاره پند وګرځوو او ياد ساتونکي غوږونه دغه (پند) ياد ولري |
| فَإِذَا نُفِخَ فِي ٱلصُّورِ نَفۡخَةٞ وَٰحِدَةٞ ١٣ | (13) نو کله چې په شپېلۍ کې پوکۍ وکړې شي، يو پوکی |
| وَحُمِلَتِ ٱلۡأَرۡضُ وَٱلۡجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةٗ وَٰحِدَةٗ ١٤ | (14) او ځمکه او غرونه پورته کړې شي، پس دغه دواړه ريزه ريزه کړې شي، يو ځلې ريزه کول |
| فَيَوۡمَئِذٖ وَقَعَتِ ٱلۡوَاقِعَةُ ١٥ | (15) نو په دغې ورځ کې به واقع کېدونکې (قيامت) واقع شي |
| وَٱنشَقَّتِ ٱلسَّمَآءُ فَهِيَ يَوۡمَئِذٖ وَاهِيَةٞ ١٦ | (16) او اسمان به وچوي، نو دغه (اسمان) به په دغې ورځ کې سست وي |
| وَٱلۡمَلَكُ عَلَىٰٓ أَرۡجَآئِهَاۚ وَيَحۡمِلُ عَرۡشَ رَبِّكَ فَوۡقَهُمۡ يَوۡمَئِذٖ ثَمَٰنِيَةٞ ١٧ | (17) او ملايك به د دې د څنډو له پاسه وي او په دغې ورځ کې به ستا د رب عرش اتو (ملايکو) د دوی له پاسه اوچت کړې وي |
| يَوۡمَئِذٖ تُعۡرَضُونَ لَا تَخۡفَىٰ مِنكُمۡ | (18) په دغې ورځ کې به تاسو وړاندې کولی شئ، ستاسو له پټو (عملونو) نه به هېڅ (شی) |

| | |
|---|---|
| خَافِيَةٌ ﴿١٨﴾ | پټ پاتې نشي |
| فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ فَيَقُولُ هَآؤُمُ ٱقْرَءُواْ كِتَٰبِيَهْ ﴿١٩﴾ | (19) نو هر چې هغه څوك دى چې هغه ته خپل كتاب (عمل نامه) د ده په ښي لاس كې وركړې شوه، نو دى به وايي: چې واخلئ! زما عمل نامه ولولئ |
| إِنِّي ظَنَنتُ أَنِّي مُلَٰقٍ حِسَابِيَهْ ﴿٢٠﴾ | (20) بېشكه ما دا يقين كاوه چې زه به خامخا له خپل حساب سره مېلاوېدونكى يم |
| فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ ﴿٢١﴾ | (21) نو دغه (كس) به په خوشاله ژوند كې وي |
| فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿٢٢﴾ | (22) په اوچت جنت كې |
| قُطُوفُهَا دَانِيَةٌ ﴿٢٣﴾ | (23) چې د هغه مېوې به نږدې وي |
| كُلُواْ وَٱشْرَبُواْ هَنِيٓـَٔۢا بِمَآ أَسْلَفْتُمْ فِي ٱلْأَيَّامِ ٱلْخَالِيَةِ ﴿٢٤﴾ | (24) تاسو ښه په مزې سره خورئ او څښئ، د هغو عملونو په بدل كې چې تاسو په تېرو شويو ورځو كې مخكې لېږلي وو |
| وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِشِمَالِهِۦ فَيَقُولُ يَٰلَيْتَنِي لَمْ أُوتَ كِتَٰبِيَهْ ﴿٢٥﴾ | (25) او هر چې هغه كس دى چې ده ته خپل كتاب د ده په چپ لاس كې وركړې شي، نو دى به وايي: اى كاشكې ما ته زما كتاب (عمل نامه) نه وى راكړې شوي |

| | |
|---|---|
| وَلَمۡ أَدۡرِ مَا حِسَابِيَهۡ ٢٦ | (26) او زه نه وی خبر شوی چې زما حساب څه دی |
| يَٰلَيۡتَهَا كَانَتِ ٱلۡقَاضِيَةَ ٢٧ | (27) ای کاشکې چې هغه (مرګ) فیصله کوونکی وی |
| مَآ أَغۡنَىٰ عَنِّي مَالِيَهۡۜ ٢٨ | (28) زما مال زما هېڅ په کار رانغی |
| هَلَكَ عَنِّي سُلۡطَٰنِيَهۡ ٢٩ | (29) له ما نه زما بادشاهي برباده شوه |
| خُذُوهُ فَغُلُّوهُ ٣٠ | (30) (وبه ویل شي:) دی ونیسئ، پس دی په زلونو سره وتړئ |
| ثُمَّ ٱلۡجَحِيمَ صَلُّوهُ ٣١ | (31) بیا دی دوزخ ته داخل کړئ |
| ثُمَّ فِي سِلۡسِلَةٖ ذَرۡعُهَا سَبۡعُونَ ذِرَاعٗا فَٱسۡلُكُوهُ ٣٢ | (32) بیا په یو ځنځیر کې چې د هغه ګزونه (اوږدوالی) اویا ګزه وي، پس دی ننه باسئ |
| إِنَّهُۥ كَانَ لَا يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ ٱلۡعَظِيمِ ٣٣ | (33) بېشکه ده په ډېر لوی الله باندې ایمان نه راوړ |
| وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلۡمِسۡكِينِ ٣٤ | (34) او مسکین ته په طعام ورکولو یې ترغیب نه ورکاوه |
| فَلَيۡسَ لَهُ ٱلۡيَوۡمَ هَٰهُنَا حَمِيمٞ ٣٥ | (35) نو د ده لپاره دلته نن ورځ هېڅ دوست |

| | |
|---|---|
| | نشته |
| وَلَا طَعَامٌ إِلَّا مِنۡ غِسۡلِينٖ ٣٦ | (36) او نه څه طعام، سوا له غِسلين (د دوزخيانو د زخمونو د ويني او زوې) نه |
| لَّا يَأۡكُلُهُۥٓ إِلَّا ٱلۡخَٰطِـُٔونَ ٣٧ | (37) چې دغه نه خوري مګر (دغه) خطاكاران |
| فَلَآ أُقۡسِمُ بِمَا تُبۡصِرُونَ ٣٨ | (38) نو زه قسم خورم په هغو شيانو چې تاسو يې وينئ |
| وَمَا لَا تُبۡصِرُونَ ٣٩ | (39) او په هغو چې تاسو يې نه وينئ |
| إِنَّهُۥ لَقَوۡلُ رَسُولٖ كَرِيمٖ ٤٠ | (40) بېشكه دا (قرآن) يقينًا د ډېر عزتمن رسول خبره ده |
| وَمَا هُوَ بِقَوۡلِ شَاعِرٖۚ قَلِيلٗا مَّا تُؤۡمِنُونَ ٤١ | (41) او دا د كوم شاعر خبره ببخي نه ده، تاسو ډېر لږ ايمان راوړئ |
| وَلَا بِقَوۡلِ كَاهِنٖۚ قَلِيلٗا مَّا تَذَكَّرُونَ ٤٢ | (42) او نه د كاهن (ترويتي) خبره ده، تاسو ډېر لږ پند اخلئ |
| تَنزِيلٞ مِّن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٤٣ | (43) (دغه قرآن) د رب العلمين نازلول دي |
| وَلَوۡ تَقَوَّلَ عَلَيۡنَا بَعۡضَ ٱلۡأَقَاوِيلِ ٤٤ | (44) او كه ده پر مونږ باندې له ځانه ځينې خبرې جوړې كړې وى |

| | |
|---|---|
| لَأَخَذۡنَا مِنۡهُ بِٱلۡيَمِينِ ﴿٤٥﴾ | (45) (نو) مونږ به د ده ښی لاس نیولی وی |
| ثُمَّ لَقَطَعۡنَا مِنۡهُ ٱلۡوَتِينَ ﴿٤٦﴾ | (46) بیا به مونږ خامخا د ده د زړه رګ پرې کړی وی |
| فَمَا مِنكُم مِّنۡ أَحَدٍ عَنۡهُ حَٰجِزِينَ ﴿٤٧﴾ | (47) نو په تاسو کې به هیڅوك له ده نه منع کوونکي نه وو |
| وَإِنَّهُۥ لَتَذۡكِرَةٞ لِّلۡمُتَّقِينَ ﴿٤٨﴾ | (48) او بېشکه دا (قرآن) د پرهېزګارانو لپاره پند (او نصیحت) دی |
| وَإِنَّا لَنَعۡلَمُ أَنَّ مِنكُم مُّكَذِّبِينَ ﴿٤٩﴾ | (49) او بېشکه مونږ خامخا پوهېږو چې یقینًا په تاسو کې تکذیب کوونکي دي |
| وَإِنَّهُۥ لَحَسۡرَةٌ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٥٠﴾ | (50) او بېشکه دغه (قرآن) په کافرانو باندې د پښېمانۍ سبب دی |
| وَإِنَّهُۥ لَحَقُّ ٱلۡيَقِينِ ﴿٥١﴾ | (51) او بېشکه دغه (قرآن) خامخا یقیني حق دی |
| فَسَبِّحۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٥٢﴾ | (52) نو ته د خپل عظیم رب د نوم تسبیح وایه |

## سُورَةُ المَعَارِجِ

## سورۀ معارج

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

سَأَلَ سَآئِلُۢ بِعَذَابٖ وَاقِعٖ ﴿١﴾

(1) يو غوښتونکي هغه عذاب وغوښت چې واقع کېدونکی دی

لِّلۡكَٰفِرِينَ لَيۡسَ لَهُۥ دَافِعٞ ﴿٢﴾

(2) په کافرانو باندې، دغه (عذاب) لره هيڅوک دفع کوونکی نشته

مِّنَ ٱللَّهِ ذِي ٱلۡمَعَارِجِ ﴿٣﴾

(3) د الله له جانبه دی، چې د اوچتو زينوالك دی

تَعۡرُجُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ إِلَيۡهِ فِي يَوۡمٖ كَانَ مِقۡدَارُهُۥ خَمۡسِينَ أَلۡفَ سَنَةٖ ﴿٤﴾

(4) چې د ده په طرف پورته ملايك او روح ورخېژي، په هغې ورځ کې چې د هغې مقدار پنځوس زره کاله دی

فَٱصۡبِرۡ صَبۡرٗا جَمِيلًا ﴿٥﴾

(5) نو ته صبر کوه، ډېر ښه صبر

إِنَّهُمۡ يَرَوۡنَهُۥ بَعِيدٗا ﴿٦﴾

(6) بېشکه دوی (منکران) دغه (عذاب، قيامت) ډېر لرېويني

وَنَرَىٰهُ قَرِيبٗا ﴿٧﴾

(7) او مونږه دی ډېر نژدې وينو

يَوۡمَ تَكُونُ ٱلسَّمَآءُ كَٱلۡمُهۡلِ ٨

(8) په هغې ورځ چې اسمان به د ويلې كړې شوې قلعې په شان شي

وَتَكُونُ ٱلۡجِبَالُ كَٱلۡعِهۡنِ ٩

(9) او غرونه به د رنګدارې وهل شوې وړۍ په شان شي

وَلَا يَسۡـَٔلُ حَمِيمٌ حَمِيمٗا ١٠

(10) او يو دوست به له بل دوست نه پوښتنه نه كوي

يُبَصَّرُونَهُمۡۚ يَوَدُّ ٱلۡمُجۡرِمُ لَوۡ يَفۡتَدِي مِنۡ عَذَابِ يَوۡمِئِذِۭ بِبَنِيهِ ١١

(11) حال دا چې دوى ته به هغوى ښودلى شي، مجرم (كافر) به ارزو كوي چې د دغې ورځې له عذابه خپل زامن په عوض كې وركړي

وَصَٰحِبَتِهِۦ وَأَخِيهِ ١٢

(12) او خپله ښځه او خپل ورور

وَفَصِيلَتِهِ ٱلَّتِي تُـٔۡوِيهِ ١٣

(13) او خپله هغه قبيله چې ده ته به يې ځاى وركاوه

وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا ثُمَّ يُنجِيهِ ١٤

(14) او هر هغه څوك چې په ځمكه كې دي ټول، بيا ده ته (دا كار) نجات وركړي

كَلَّآۖ إِنَّهَا لَظَىٰ ١٥

(15) كله هم داسې نه ده، بېشكه دغه (د دوزخ اور) لمبې وهونكى دى

| | |
|---|---|
| نَزَّاعَةً لِّلشَّوَىٰ ﴿١٦﴾ | (16) چې (د سر، لاسونو او پښو) پوستکي وېستونکې دی |
| تَدۡعُواْ مَنۡ أَدۡبَرَ وَتَوَلَّىٰ ﴿١٧﴾ | (17) دا (دوزخ) به راغواړي هغه څوك چې شا کړې يې وي او مخ يې اړولی وي |
| وَجَمَعَ فَأَوۡعَىٰٓ ﴿١٨﴾ | (18) او جمع (د مال) يې کړې وي، نو ساتلی يې وي |
| ۞إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ خُلِقَ هَلُوعًا ﴿١٩﴾ | (19) بېشکه انسان بې صبره پيدا کړی شوی دی |
| إِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ جَزُوعًا ﴿٢٠﴾ | (20) کله چې ده ته شر (مصيبت) ورسېږي (نو) ډېر فرياد کوونکی وي |
| وَإِذَا مَسَّهُ ٱلۡخَيۡرُ مَنُوعًا ﴿٢١﴾ | (21) او کله چې ده ته خير (او خوشحالي) ورسېږي (نو)، ډېر منع کوونکی (او بخل کوونکی) وي |
| إِلَّا ٱلۡمُصَلِّينَ ﴿٢٢﴾ | (22) (خو) له لمونځ ګزارو نه غير |
| ٱلَّذِينَ هُمۡ عَلَىٰ صَلَاتِهِمۡ دَآئِمُونَ ﴿٢٣﴾ | (23) هغه کسان چې دوی په خپلو لمونځونو باندې همېشه والی کوونکي وي |
| وَٱلَّذِينَ فِيٓ أَمۡوَٰلِهِمۡ حَقّٞ مَّعۡلُومٞ ﴿٢٤﴾ | (24) او هغه کسان چې د دوی په مالونو کې |

| | |
|---|---|
| | معلومه برخه (مقرر) ده |
| لِّلسَّآئِلِ وَٱلۡمَحۡرُومِ ﴿٢٥﴾ | (25) د سوالگر او محروم لپاره |
| وَٱلَّذِينَ يُصَدِّقُونَ بِيَوۡمِ ٱلدِّينِ ﴿٢٦﴾ | (26) او هغه کسان چې د بدلې د ورځې تصديق (او باور) کوي |
| وَٱلَّذِينَ هُم مِّنۡ عَذَابِ رَبِّهِم مُّشۡفِقُونَ ﴿٢٧﴾ | (27) او هغه کسان چې دوی د خپل رب له عذاب نه وېرېدونکي دي |
| إِنَّ عَذَابَ رَبِّهِمۡ غَيۡرُ مَأۡمُونٖ ﴿٢٨﴾ | (28) بېشکه د دوی د رب عذاب داسې دی چې بې وېرې کېدل ترې نشته |
| وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِفُرُوجِهِمۡ حَٰفِظُونَ ﴿٢٩﴾ | (29) او هغه کسان چې هغوی د خپل شرم ځايونو حفاظت کوونکي دي |
| إِلَّا عَلَىٰٓ أَزۡوَٰجِهِمۡ أَوۡ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُمۡ فَإِنَّهُمۡ غَيۡرُ مَلُومِينَ ﴿٣٠﴾ | (30) مگر له خپلو ښځو او خپلو وينځو نه، نو بېشکه دوی ملامت کړی شوي نه دي |
| فَمَنِ ٱبۡتَغَىٰ وَرَآءَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡعَادُونَ ﴿٣١﴾ | (31) نو هغه څوك چې له دغو نه علاوه غواړي، نو هم دغه کسان له حده تېرېدونکي دي |
| وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِأَمَٰنَٰتِهِمۡ وَعَهۡدِهِمۡ رَٰعُونَ ﴿٣٢﴾ | (32) او هغه کسان چې دوی د خپلو امانتونو او خپلو وعدو لحاظ ساتونکي دي |

| | |
|---|---|
| وَٱلَّذِينَ هُم بِشَهَٰدَٰتِهِمۡ قَآئِمُونَ ٣٣ | (33) او هغه كسان چې دوى په خپلو شهادتونو (گواهيو) باندې قايم (او ولاړ) دي |
| وَٱلَّذِينَ هُمۡ عَلَىٰ صَلَاتِهِمۡ يُحَافِظُونَ ٣٤ | (34) او هغه كسان چې دوى په خپلو لمونځونو همېشه والى (او پابندي) كوي |
| أُوْلَٰٓئِكَ فِي جَنَّٰتٖ مُّكۡرَمُونَ ٣٥ | (35) دغه كسان به په باغونو كې وي، عزتمن كړى شوي به وي |
| فَمَالِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ قِبَلَكَ مُهۡطِعِينَ ٣٦ | (36) نو (اى نبي!) په دغو كافران شويو كسانو څه شوي دي چې ستا په طرف منډې راوهونكي دي |
| عَنِ ٱلۡيَمِينِ وَعَنِ ٱلشِّمَالِ عِزِينَ ٣٧ | (37) له ښي اړخ نه او له چپ اړخ نه ډلې ډلې |
| أَيَطۡمَعُ كُلُّ ٱمۡرِيٕٖ مِّنۡهُمۡ أَن يُدۡخَلَ جَنَّةَ نَعِيمٖ ٣٨ | (38) ايا په دوى كې هر يو سړى دا طمع لري چې دى به د نعمتونو جنت ته ننه اېستل شي؟ |
| كَلَّآۖ إِنَّا خَلَقۡنَٰهُم مِّمَّا يَعۡلَمُونَ ٣٩ | (39) هيڅكله نه! بېشكه همدا مونږ دوى له هغه څه نه پيدا كړي دي چې دوى يې پېژني |
| فَلَآ أُقۡسِمُ بِرَبِّ ٱلۡمَشَٰرِقِ | (40) نو زه د مشرقونو او مغربونو په رب قسم خورم چې بېشكه (او) يقينًا مونږ قادر يو |

وَٱلۡمَغَٰرِبِ إِنَّا لَقَٰدِرُونَ ﴿٤٠﴾

عَلَىٰٓ أَن نُّبَدِّلَ خَيۡرٗا مِّنۡهُمۡ وَمَا نَحۡنُ بِمَسۡبُوقِينَ ﴿٤١﴾

(41) په دې باندې چې مونږ له دوی نه غوره (مخلوق) په بدل کې راولو اومونږ عاجز کړی شوي نه يو

فَذَرۡهُمۡ يَخُوضُواْ وَيَلۡعَبُواْ حَتَّىٰ يُلَٰقُواْ يَوۡمَهُمُ ٱلَّذِي يُوعَدُونَ ﴿٤٢﴾

(42) نو ته دوی پرېږده چې په باطلو او عبثو خبرو کې مشغولېږي او لوبې کوي تر هغه پورې چې دوی له خپلې هغې ورځې سره ملاقات وکړي چې دوی ته يې وعده ورکړی شوې ده

يَوۡمَ يَخۡرُجُونَ مِنَ ٱلۡأَجۡدَاثِ سِرَاعٗا كَأَنَّهُمۡ إِلَىٰ نُصُبٖ يُوفِضُونَ ﴿٤٣﴾

(43) هغه ورځ چې دوی به له قبرونو نه داسې په منډه (او تېزی) سره راوځي ګواکې دوی هدف ته په منډه ځغلي

خَٰشِعَةً أَبۡصَٰرُهُمۡ تَرۡهَقُهُمۡ ذِلَّةٞۚ ذَٰلِكَ ٱلۡيَوۡمُ ٱلَّذِي كَانُواْ يُوعَدُونَ ﴿٤٤﴾

(44) په داسې حال کې چې د دوی سترګې به خوارې وي، دوی به ذلت (راګېر) او پټ کړې وي، دا هغه ورځ ده چې دوی ته به د دې وعده ورکول کېده

## سُورَةُ نُوحٍ

## سورۀ نوح

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

إِنَّآ أَرۡسَلۡنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوۡمِهِۦٓ أَنۡ أَنذِرۡ قَوۡمَكَ مِن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ١

(1) بېشکه مونږ نوح خپل قوم ته په دې سره لېږلی و چې ته خپل قوم ووېروه، مخکې له دې چې په دوی ډېر دردوونکی عذاب راشي

قَالَ يَٰقَوۡمِ إِنِّي لَكُمۡ نَذِيرٞ مُّبِينٌ ٢

(2) (نو) ده وويل: ای زما قومه! بېشکه زه ستاسو لپاره ښکاره وېروونکی يم

أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱتَّقُوهُ وَأَطِيعُونِ ٣

(3) چې تاسو د الله عبادت کوئ او له ده نه ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ

يَغۡفِرۡ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمۡ وَيُؤَخِّرۡكُمۡ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمًّىۚ إِنَّ أَجَلَ ٱللَّهِ إِذَا جَآءَ لَا يُؤَخَّرُۚ لَوۡ كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٤

(4) دی به تاسو ته ستاسو ځينې ګناهونه وبخښي او ترټاکلې نېټې پورې به تاسو وروسته (او باقي پاتې) کړي، بېشکه د الله نېټه چې کله راشي(نو) وروسته کېدی نشي، که چېرې تاسو پوهېږئ

قَالَ رَبِّ إِنِّي دَعَوۡتُ قَوۡمِي لَيۡلٗا وَنَهَارٗا ٥

(5) ده وويل: ای زما ربه! بېشکه ما شپه او ورځ خپل قوم (توحيد ته) راوباله

فَلَمۡ يَزِدۡهُمۡ دُعَآءِيٓ إِلَّا فِرَارٗا ٦

(6) نو دوی ته زما بلنې زیاته نه کړه مګر تېښته

وَإِنِّي كُلَّمَا دَعَوۡتُهُمۡ لِتَغۡفِرَ لَهُمۡ جَعَلُوٓاْ أَصَٰبِعَهُمۡ فِيٓ ءَاذَانِهِمۡ وَٱسۡتَغۡشَوۡاْ ثِيَابَهُمۡ وَأَصَرُّواْ وَٱسۡتَكۡبَرُواْ ٱسۡتِكۡبَارٗا ٧

(7) او بېشکه زه چې هر واري دوی د دې لپاره راوبلم چې ته دوی وبخښې (نو) دوی خپلې ګوتې په خپلو غوږونو کې ننباسي او په خپلو جامو سره ځان (مخ) پټ کړي او په کفر باندې) اصرار (او همېشه والی) کوي او لويي کوي ډېر غټه لويي

ثُمَّ إِنِّي دَعَوۡتُهُمۡ جِهَارٗا ٨

(8) بيا يقينًا ما دوی نبه په جار (په اوچت اواز سره) راوبلل

ثُمَّ إِنِّيٓ أَعۡلَنتُ لَهُمۡ وَأَسۡرَرۡتُ لَهُمۡ إِسۡرَارٗا ٩

(9) بيا يقينًا ما دوی ته خرګند (او ښکاره) دعوت وركړ او ما دوی ته په پټه هم دعوت وركړ، نبه په پټه

فَقُلۡتُ ٱسۡتَغۡفِرُواْ رَبَّكُمۡ إِنَّهُۥ كَانَ غَفَّارٗا ١٠

(10) نو ما (دوی ته) وویل: تاسو له خپل رب نه بخښنه وغواړئ بېشكه دی ډېر بخښونكی دی

يُرۡسِلِ ٱلسَّمَآءَ عَلَيۡكُم مِّدۡرَارٗا ١١

(11) دی به په تاسو نبه وریدونکی باران راخوشې کړي

وَيُمۡدِدۡكُم بِأَمۡوَٰلٖ وَبَنِينَ

(12) او تاسو ته به مالونه او زامن درزيات

وَيَجۡعَل لَّكُمۡ جَنَّٰتٖ وَيَجۡعَل لَّكُمۡ أَنۡهَٰرٗا ١٢

کړي، او تاسو ته به باغونه پيدا کړي او تاسو ته به ولې پيدا کړي

مَّا لَكُمۡ لَا تَرۡجُونَ لِلَّهِ وَقَارٗا ١٣

(13) په تاسو څه شوي دي چې د الله لپاره د لويي عقيده نه ساتئ؟

وَقَدۡ خَلَقَكُمۡ أَطۡوَارًا ١٤

(14) حال دا چې ده تاسو قسما قسم پيدا کړي يئ

أَلَمۡ تَرَوۡاْ كَيۡفَ خَلَقَ ٱللَّهُ سَبۡعَ سَمَٰوَٰتٖ طِبَاقٗا ١٥

(15) ايا تاسو نه دي کتلي چې الله اوه اسمانونه لاندې باندې پيدا کړي

وَجَعَلَ ٱلۡقَمَرَ فِيهِنَّ نُورٗا وَجَعَلَ ٱلشَّمۡسَ سِرَاجٗا ١٦

(16) او په دغو کې يې سپوږمۍ روښانه جوړه کړه او لمر يې بَله (ځلېدونکې) ډيوه جوړه کړه

وَٱللَّهُ أَنۢبَتَكُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ نَبَاتٗا ١٧

(17) او الله تاسو په خاصو زرغونولو سره له ځمکې نه رازرغون کړئ

ثُمَّ يُعِيدُكُمۡ فِيهَا وَيُخۡرِجُكُمۡ إِخۡرَاجٗا ١٨

(18) بيا به دی تاسو په دې کې ننباسي او راوبه موباسي په خاصو را اېستلو سره

وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ بِسَاطٗا ١٩

(19) او الله تاسو لپاره ځمکه فرش جوړه کړې ده

لِّتَسۡلُكُواْ مِنۡهَا سُبُلٗا فِجَاجٗا ٢٠

(20) د دې لپاره چې تاسو د دې په ارتو لويو

لارو باندې لاړ شئ

قَالَ نُوحٌ رَّبِّ إِنَّهُمْ عَصَوْنِي وَٱتَّبَعُواْ مَن لَّمْ يَزِدْهُ مَالُهُۥ وَوَلَدُهُۥٓ إِلَّا خَسَارًا ﴿٢١﴾

(21) نوح وويل: ای زما ربه! بېشکه دوی زما نافرماني وکړه، او دوی د هغه چا پيروي وکړه چې دغه (کس) ته د ده مال او د ده اولاد زياته نه کړه مگر زيانکاري (او تاوان)

وَمَكَرُواْ مَكْرًا كُبَّارًا ﴿٢٢﴾

(22) او دغو خلقو ډېر لوی مکر وچلاوه

وَقَالُواْ لَا تَذَرُنَّ ءَالِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلَا سُوَاعًا وَلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا ﴿٢٣﴾

(23) او ويې ويل (خپلو خلقو ته): تاسو خپل معبودان مه پرېږدئ او تاسو مه پرېږدئ (عبادت د) وَد، او نه (د) سُواع او نه (د) يغوث او يعوق اونسر

وَقَدْ أَضَلُّواْ كَثِيرًاۖ وَلَا تَزِدِ ٱلظَّٰلِمِينَ إِلَّا ضَلَٰلًا ﴿٢٤﴾

(24) او يقيناً دغو (خلقو) ډېر کسان گمراه کړي دي او ته ظالمانو ته مه زياتوه مگر گمراهي

مِّمَّا خَطِيٓـَٰٔتِهِمْ أُغْرِقُواْ فَأُدْخِلُواْ نَارًا فَلَمْ يَجِدُواْ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ أَنصَارًا ﴿٢٥﴾

(25) دوی د خپلو گناهونو په سبب غرق (ډوب) کړی شول، نو اور ته داخل کړی شول، نو دوی د خپلو ځانونو لپاره له الله نه غير هېڅ مدد کوونکي ونه موندل

وَقَالَ نُوحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى ٱلْأَرْضِ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ دَيَّارًا ﴿٢٦﴾

(26) او نوح وويل: ای زما ربه! ته د ځمکې له پاسه (د ځمکې په سر) په کافرانو کې هېڅ يو

گرځېدونکی مه پرېږده

إِنَّكَ إِن تَذَرْهُمْ يُضِلُّواْ عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوٓاْ إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا ﴿٢٧﴾

(27) يقيناً ته که دوی پرېږدي، نو دوی به ستا بنده ګان ګمراه کړي او دوی نه زېږوي مګر فاجر (بدکاره)، ډېر ناشکره

رَّبِّ ٱغْفِرْ لِي وَلِوَٰلِدَيَّ وَلِمَن دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِنًا وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ وَلَا تَزِدِ ٱلظَّٰلِمِينَ إِلَّا تَبَارًۢا ﴿٢٨﴾

(28) ای زما ربه! ته ما وبخښه او زما مور و پلار او هغه څوك (هم) چې زما كور ته داخل شي، چې ايمان لرونکی وي اوومومن سړي او مومنې ښځې (وبخښه) او ظالمانو ته مه زياتوه مګر هلاکت

## سُورَةُ الجِنِّ

## سورهٔ جن

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ ٱسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ ٱلْجِنِّ فَقَالُوٓاْ إِنَّا سَمِعْنَا قُرْءَانًا عَجَبًا ﴿١﴾

(1) ته (دوی ته) ووايه چې ما ته وحي شوې ده چې بېشکه شان دا دی چې په پېريانو کې يو ټولي (ډلي) (زما قراءت) په غور سره واورېده، (نو کله چې خپل قوم ته لاړل)، نو دوی وويل: بېشکه مونږ يو عجيبه قرآن واورېده

يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلرُّشۡدِ فَـَٔامَنَّا بِهِۦۖ وَلَن نُّشۡرِكَ بِرَبِّنَآ أَحَدٗا ٢

(2) چې نېغې لارې ته هدايت كوي، نو مونږ په ده ايمان راوړ، او مونږ به هيڅكله له خپل رب سره هيڅوك شريك نه كړو

وَأَنَّهُۥ تَعَٰلَىٰ جَدُّ رَبِّنَا مَا ٱتَّخَذَ صَٰحِبَةٗ وَلَا وَلَدٗا ٣

(3) او بېشكه شان دا دى چې زمونږ د رب شان ډېر اوچت دى، ده نه ښځه نيولې ده او نه اولاد

وَأَنَّهُۥ كَانَ يَقُولُ سَفِيهُنَا عَلَى ٱللَّهِ شَطَطٗا ٤

(4) او بېشكه شان دا دى چې زمونږ ناپوهو (بېوقوفو) په الله باندې زياتې (او بې حقيقته) خبرې اړولې

وَأَنَّا ظَنَنَّآ أَن لَّن تَقُولَ ٱلۡإِنسُ وَٱلۡجِنُّ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗا ٥

(5) او يقينًا مونږ دا خيال كاوه چې په الله باندې به انسانان او پېريان هيڅكله دروغ ونه وايي

وَأَنَّهُۥ كَانَ رِجَالٞ مِّنَ ٱلۡإِنسِ يَعُوذُونَ بِرِجَالٖ مِّنَ ٱلۡجِنِّ فَزَادُوهُمۡ رَهَقٗا ٦

(6) او بېشكه شان دا دى چې په انسانانو كې ډېر داسې سړي وو چې په پېريانو كې په ځينو سړيو پورې به يې پناه نيوله، نو دغو خلقو دغو (پېريانو) ته سركشي ورزياته كړه

وَأَنَّهُمۡ ظَنُّواْ كَمَا ظَنَنتُمۡ أَن لَّن يَبۡعَثَ ٱللَّهُ أَحَدٗا ٧

(7) او دا چې يقينًا دوى گمان كړى و لكه چې تاسو گمان كړى دى چې الله به هرگز هيڅوك بيا ژوندي راپورته نه كړي

وَأَنَّا لَمَسۡنَا ٱلسَّمَآءَ فَوَجَدۡنَٰهَا مُلِئَتۡ حَرَسٗا شَدِيدٗا وَشُهُبٗا ٨

(8) او دا چې بېشکه مونږ اسمان ته ورسېدو، نو مونږ هغه ومونده چې په ډېرو سختو څوکیدارانو او سوځوونکو شغلو (ستوریو) سره ډك کړې شوی دی

وَأَنَّا كُنَّا نَقۡعُدُ مِنۡهَا مَقَٰعِدَ لِلسَّمۡعِۖ فَمَن يَسۡتَمِعِ ٱلۡأٓنَ يَجِدۡ لَهُۥ شِهَابٗا رَّصَدٗا ٩

(9) او دا چې بېشکه مونږ به د اورېدلو لپاره له دې (اسمان) نه د کېناستو په ځایونو کې کېناستو، نو هغه څوك چې اوس غوږ کېږدي چې واوري (نو) دی به د ځان لپاره د اور لمبه منتظره ومومي

وَأَنَّا لَا نَدۡرِيٓ أَشَرٌّ أُرِيدَ بِمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ أَمۡ أَرَادَ بِهِمۡ رَبُّهُمۡ رَشَدٗا ١٠

(10) او دا چې یقینًا مونږ نه پوهېږو چې له هغه چا سره د شر (او بدۍ) اراده شوې ده چې په ځمکه کې دي، یا له دوی سره د دوی رب د لارښوونې (او خیر) اراده کړې ده

وَأَنَّا مِنَّا ٱلصَّٰلِحُونَ وَمِنَّا دُونَ ذَٰلِكَۖ كُنَّا طَرَآئِقَ قِدَدٗا ١١

(11) او دا چې بېشکه په مونږ کې ځینې نېکان (او صالحه خلق) دي او په مونږ کې له دغو نه لاندې هم شته، مونږ په مختلفو لارو روان یو

وَأَنَّا ظَنَنَّآ أَن لَّن نُّعۡجِزَ ٱللَّهَ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَن نُّعۡجِزَهُۥ هَرَبٗا ١٢

(12) او دا چې بېشکه مونږ یقین وکړ چې مونږ به په ځمکه کې الله له سره عاجز نه کړی شو او مونږ به دی له سره په تېښتې سره عاجز

نه کړی شو

وَأَنَّا لَمَّا سَمِعۡنَا ٱلۡهُدَىٰٓ ءَامَنَّا بِهِۦۖ فَمَن يُؤۡمِنۢ بِرَبِّهِۦ فَلَا يَخَافُ بَخۡسٗا وَلَا رَهَقٗا ﴿١٣﴾

(13) او دا چې ببشکه مونږ چې کله هدايت واوريده ()، نو) مونږ په ده ايمان راوړ، نو هغه څوك چې په خپل رب ايمان راوړي، نو دی به نه له نقصان نه ويريږي او نه (د چا) له ظلم نه

وَأَنَّا مِنَّا ٱلۡمُسۡلِمُونَ وَمِنَّا ٱلۡقَٰسِطُونَۖ فَمَنۡ أَسۡلَمَ فَأُوْلَٰٓئِكَ تَحَرَّوۡاْ رَشَدٗا ﴿١٤﴾

(14) او دا چې ببشکه په مونږ کې ځينې مسلمانان دي او ځينې په مونږ کې ظالمان دي، نو هغه چې اسلام راوړي، نو دغو خلقو د نېغې لارې قصد (او طلب) وکړ

وَأَمَّا ٱلۡقَٰسِطُونَ فَكَانُواْ لِجَهَنَّمَ حَطَبٗا ﴿١٥﴾

(15) او هر چې ظالمان دي، نو دوی به د جهنم لرګي (خشاك) وي

وَأَلَّوِ ٱسۡتَقَٰمُواْ عَلَى ٱلطَّرِيقَةِ لَأَسۡقَيۡنَٰهُم مَّآءً غَدَقٗا ﴿١٦﴾

(16) او (بله وحي ما ته دا راغلې ده چې) كه دوی په نېغې لارې باندې سم ودرېږي (نو) مونږ به په دوی ډېرې اوبه وڅښوو

لِّنَفۡتِنَهُمۡ فِيهِۚ وَمَن يُعۡرِضۡ عَن ذِكۡرِ رَبِّهِۦ يَسۡلُكۡهُ عَذَابٗا صَعَدٗا ﴿١٧﴾

(17) د دې لپاره چې مونږ دوی په دغه (نعمت) کې وازمايو او هغه څوك چې د خپل رب له ذكر (قرآن) نه مخ واړوي، نو هغه (رب) به دی سخت عذاب ته داخل کړي

وَأَنَّ ٱلۡمَسَٰجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدۡعُواْ مَعَ

(18) او دا چې يقينًا جوماتونه خاص د الله

ٱللَّهِ أَحَدًا ⁽١٨⁾

لپاره دي، نو تاسو له الله سره بل هيڅوك مه بلئ

وَأَنَّهُۥ لَمَّا قَامَ عَبۡدُ ٱللَّهِ يَدۡعُوهُ كَادُواْ يَكُونُونَ عَلَيۡهِ لِبَدًا ⁽١٩⁾

(19) او دا چې يقينًا شان دا دی چې کله د الله بنده (محمدﷺ لمانځه ته) ودرېده، چې دغه (الله) يې باله، (نو دوی نژدې وو چې په ده باندې په يو بل پسې ورپرېوتونکي شي

قُلۡ إِنَّمَآ أَدۡعُواْ رَبِّي وَلَآ أُشۡرِكُ بِهِۦٓ أَحَدًا ⁽٢٠⁾

(20) ته (دوی ته) ووايه: يقينًا زه خو يواځې خپل رب بولم او زه به له ده سره هيڅوك شريك نه کړم

قُلۡ إِنِّي لَآ أَمۡلِكُ لَكُمۡ ضَرًّا وَلَا رَشَدًا ⁽٢١⁾

(21) ته (دوی ته) ووايه: بېشکه زه تاسو لپاره نه د هېڅ ضرر مالك (او اختيار من) يم او نه د خير رسولو

قُلۡ إِنِّي لَن يُجِيرَنِي مِنَ ٱللَّهِ أَحَدٞ وَلَنۡ أَجِدَ مِن دُونِهِۦ مُلۡتَحَدًا ⁽٢٢⁾

(22) ته (دوی ته) ووايه: بېشکه زه چې يم هيڅوك به ما له الله نه له سره خلاص نه کړی شي او زه به له ده نه غير هېڅ پناه ځای ونه مومم

إِلَّا بَلَٰغٗا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِسَٰلَٰتِهِۦۚ وَمَن يَعۡصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَإِنَّ لَهُۥ نَارَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ⁽٢٣⁾

(23) مګر د الله له جانبه د تبليغ او د هغه د پېغام رسولو (اختيارمن يم) او هغه څوك چې د الله او د هغه د رسول نافرماني وکړي، نو بېشکه د ده لپاره د جهنم اور دی، چې دوی

به په هغه کې تل ترتله وي

حَتَّىٰٓ إِذَا رَأَوۡاْ مَا يُوعَدُونَ فَسَيَعۡلَمُونَ مَنۡ أَضۡعَفُ نَاصِرٗا وَأَقَلُّ عَدَدٗا ٢٤

(24) تر هغه پورې چې کله دوی هغه څه ووینې چې له دوی سره يې وعده کولی شي، نو دوی به ژر پوه شي چې د مددګار په لحاظ څوك ډېر کمزوری دی او د شمېر په لحاظ څوك ډېر کم دی

قُلۡ إِنۡ أَدۡرِيٓ أَقَرِيبٞ مَّا تُوعَدُونَ أَمۡ يَجۡعَلُ لَهُۥ رَبِّيٓ أَمَدًا ٢٥

(25) ته (دوی ته) ووايه: زه نه پوهېږم چې ايا هغه (عذاب) نژدې دی چې تاسو سره يې وعده کولی شي، یا به د ده لپاره زما رب لرې زمانه مقرره کړي

عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ فَلَا يُظۡهِرُ عَلَىٰ غَيۡبِهِۦٓ أَحَدًا ٢٦

(26) دی عالم الغيب (په غيبو عالم) دی، نو دی په خپلو غيبو باندې هيڅوك نه خبروي

إِلَّا مَنِ ٱرۡتَضَىٰ مِن رَّسُولٖ فَإِنَّهُۥ يَسۡلُكُ مِنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهِۦ رَصَدٗا ٢٧

(27) مګر هغه چې کوم رسول يې خوښ شي، نو بېشکه دغه (الله) د ده په مخ کې او د ده شا ته ساتونکي (څوکیداران) روانوي

لِّيَعۡلَمَ أَن قَدۡ أَبۡلَغُواْ رِسَٰلَٰتِ رَبِّهِمۡ وَأَحَاطَ بِمَا لَدَيۡهِمۡ وَأَحۡصَىٰ كُلَّ شَيۡءٍ عَدَدَۢا ٢٨

(28) د دې لپاره چې دی په دې پوه شي چې دوی د خپل رب پيغامونه رسولي دي او ده په هغه څه احاطه کړې ده چې له دوی سره دی او ده هر شی نبه په شمېر سره ساتلی دی

## سُورَةُ المُزَّمِّلِ

## سورة مزمل

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُزَّمِّلُ ١

(1) ای په ځان پورې جامه راتاوونکيه!

قُمِ ٱلَّيۡلَ إِلَّا قَلِيلٗا ٢

(2) په شپه کې لمانځه ته ودرېږه مګر لږه حصه (نه)

نِّصۡفَهُۥٓ أَوِ ٱنقُصۡ مِنۡهُ قَلِيلًا ٣

(3) چې هغه د دغې (شپې) نيمه (ده)، يا ته له دغې (نيمې) نه لږ څه کم شه

أَوۡ زِدۡ عَلَيۡهِ وَرَتِّلِ ٱلۡقُرۡءَانَ تَرۡتِيلًا ٤

(4) يا ته په دغې (نيمې) باندې څه اضافه وکړه او قرآن ښه ښکاره واضح لوله، واضح لوستل

إِنَّا سَنُلۡقِي عَلَيۡكَ قَوۡلٗا ثَقِيلًا ٥

(5) بېشکه مونږ به خامخا په تا باندې ډېر دروند قول نازلوو

إِنَّ نَاشِئَةَ ٱلَّيۡلِ هِيَ أَشَدُّ وَطۡـٔٗا وَأَقۡوَمُ قِيلًا ٦

(6) بېشکه د شپې پورته کېدل، دغه (پاڅېدل) د (نفس) د پايمال کولو په لحاظ ډېر سخت دي او د (قرآن د) ويلو په لحاظ ډېر سمووونکي دي

| | |
|---|---|
| إِنَّ لَكَ فِي ٱلنَّهَارِ سَبۡحًا طَوِيلًا ۝٧ | (7) ببشکه تا لره په ورځ کې ډېره اوږده مشغولتیا (مصروفیت) وي |
| وَٱذۡكُرِ ٱسۡمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلۡ إِلَيۡهِ تَبۡتِيلًا ۝٨ | (8) او ته د خپل رب نوم یادوه او ده ته (له هر څه نه) جدا شه، پوره جدا کېدل |
| رَّبُّ ٱلۡمَشۡرِقِ وَٱلۡمَغۡرِبِ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَٱتَّخِذۡهُ وَكِيلًا ۝٩ | (9) (دغه الله) د مشرق او مغرب رب دی، نشته هېڅ لایق د عبادت مګر هم دی دی، نو ته دی (خپل) کار ساز ونیسه |
| وَٱصۡبِرۡ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَٱهۡجُرۡهُمۡ هَجۡرًا جَمِيلًا ۝١٠ | (10) او ته په هغو خبرو صبر کوه چې دوی یې وایي او ته دوی پرېږده ډېر ښه پرېښودل |
| وَذَرۡنِي وَٱلۡمُكَذِّبِينَ أُوْلِي ٱلنَّعۡمَةِ وَمَهِّلۡهُمۡ قَلِيلًا ۝١١ | (11) او پرېږده ما او دروغ ګڼونکي چې د نعمت والا دي او دوی ته لږ مهلت ورکړه |
| إِنَّ لَدَيۡنَآ أَنكَالًا وَجَحِيمًا ۝١٢ | (12) ببشکه زمونږ سره درانه ځنځیرونه (زولنې) او سوځوونکی اور دی |
| وَطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ وَعَذَابًا أَلِيمًا ۝١٣ | (13) او داسې طعام دی چې په مرۍ کې نښتونکی دی او ډېر دردوونکی عذاب دی |
| يَوۡمَ تَرۡجُفُ ٱلۡأَرۡضُ وَٱلۡجِبَالُ وَكَانَتِ ٱلۡجِبَالُ كَثِيبًا مَّهِيلًا ۝١٤ | (14) په هغې ورځ کې چې ځمکه او غرونه به خوځېږي او غرونه به د شګو روانې ډېرۍ شي |

إِنَّآ أَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡكُمۡ رَسُولٗا شَٰهِدًا عَلَيۡكُمۡ كَمَآ أَرۡسَلۡنَآ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ رَسُولٗا ١٥

(15) بېشکه مونږ تاسو ته رسول درلېږلی دی، چې په تاسو (د قیامت په ورځ) شاهد دی، لکه څنګه چې مونږ فرعون ته رسول لېږلی و

فَعَصَىٰ فِرۡعَوۡنُ ٱلرَّسُولَ فَأَخَذۡنَٰهُ أَخۡذٗا وَبِيلٗا ١٦

(16) نو فرعون د دغه رسول نافرماني وکړه، نو مونږ دغه (فرعون) ونیولو په سختو نیولو سره

فَكَيۡفَ تَتَّقُونَ إِن كَفَرۡتُمۡ يَوۡمٗا يَجۡعَلُ ٱلۡوِلۡدَٰنَ شِيبًا ١٧

(17) که تاسو کافر شئ، نو تاسو به ځان له هغې ورځې نه څنګه وساتئ چې (واړه) هلکان به سپین ږیري (بوډاګان) وګرځوي

ٱلسَّمَآءُ مُنفَطِرُۢ بِهِۦۚ كَانَ وَعۡدُهُۥ مَفۡعُولًا ١٨

(18) اسمان په دغې (ورځ) کې چاودېدونکی دی، د دغه (الله) وعده کېدونکې ده

إِنَّ هَٰذِهِۦ تَذۡكِرَةٞۖ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلًا ١٩

(19) بېشکه دا (ایتونه) نصیحت (او پند) دی، نو هغه څوك چې غواړي چې خپل رب ته تلونکې لاره غوره کړي، (نو غوره دې کړي)

۞إِنَّ رَبَّكَ يَعۡلَمُ أَنَّكَ تَقُومُ أَدۡنَىٰ مِن ثُلُثَيِ ٱلَّيۡلِ وَنِصۡفَهُۥ وَثُلُثَهُۥ وَطَآئِفَةٞ مِّنَ ٱلَّذِينَ مَعَكَۚ وَٱللَّهُ يُقَدِّرُ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَۚ عَلِمَ أَن لَّن تُحۡصُوهُ فَتَابَ عَلَيۡكُمۡۖ فَٱقۡرَءُواْ

(20) بېشکه ستا رب یقینًا په دې پوهېږي چې ته د شپې (په دري برخو کې) له دوو نه لږ کم (لمانځهٔ ته) پاڅېږې او (کله) د دې نیمه برخه او (کله) دریمه برخه (هم) او له هغو کسانو نه یوه ډله هم چې له تا سره دي او الله شپه او ورځ مقدار (او اندازه) کوي، دی

مَا تَيَسَّرَ مِنَ ٱلْقُرْءَانِۚ عَلِمَ أَن
سَيَكُونُ مِنكُم مَّرْضَىٰ
وَءَاخَرُونَ يَضْرِبُونَ فِى ٱلْأَرْضِ
يَبْتَغُونَ مِن فَضْلِ ٱللَّهِ وَءَاخَرُونَ
يُقَٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِۖ فَٱقْرَءُوا۟ مَا
تَيَسَّرَ مِنْهُۚ وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا۟
ٱلزَّكَوٰةَ وَأَقْرِضُوا۟ ٱللَّهَ قَرْضًا
حَسَنًاۚ وَمَا تُقَدِّمُوا۟ لِأَنفُسِكُم
مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ ٱللَّهِ هُوَ
خَيْرًا وَأَعْظَمَ أَجْرًاۚ وَٱسْتَغْفِرُوا۟
ٱللَّهَۖ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌۢ ﴿٢٠﴾

په دې پوه دی چې ببشکه حقیقت دا دی چې تاسو به هرگز د دې طاقت ونه لرئ، نو ده پر تاسو باندې رجوع وکړه، نو تاسو له قرآنه هومره لولئ چې اسان وي. دی په دې پوه دی چې یقینًا شان دا دی چې په تاسو کې به مریضان وي او نور به په ځمکه کې سفر کوي، چې د الله فضل به لټوي او نور به د الله په لاره کې جنګ کوي، نو تاسو له دغه (قرآنه) هومره لولئ چې (درته) اسان وي او لمونځ قایموئ او زکاةت ادا کوئ او الله ته قرض ورکوئ، ډېر ښکلی قرض او هر هغه څه چې تاسو یې د خپلو ځانونو لپاره له څه خیره مخکې لېږئ (نو) هغه به تاسو له الله سره مومئ. دغه ډېر غوره او د اجر په لحاظ ډېر لوی دي او تاسو له الله نه بخښنه وغواړئ، ببشکه الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی

## سُورَةُ المُدَّثِّرِ

## سورة مدثر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُدَّثِّرُ ١

(1) ای په جامه کې نغښتونکيه!

قُمۡ فَأَنذِرۡ ٢

(2) ته پورته شه، نو (خلق) ووېروه

وَرَبَّكَ فَكَبِّرۡ ٣

(3) او نو د خپل رب لويي بيانوه

وَثِيَابَكَ فَطَهِّرۡ ٤

(4) او نو خپلې جامې پاکې ساته

وَٱلرُّجۡزَ فَٱهۡجُرۡ ٥

(5) او گناه (او بتان) نو ترك كړه

وَلَا تَمۡنُن تَسۡتَكۡثِرُ ٦

(6) او (داسې) احسان مه کوه چې بدل (او ډېرول) يې غواړې

وَلِرَبِّكَ فَٱصۡبِرۡ ٧

(7) او خاص د خپل رب لپاره، پس صبر کوه

فَإِذَا نُقِرَ فِي ٱلنَّاقُورِ ٨

(8) نو کله چې په شپېلۍ کې پوکی وکړی شي

فَذَٰلِكَ يَوۡمَئِذٖ يَوۡمٌ عَسِيرٌ ٩

(9) نو په دغه وخت کې دغه ډېره سخته ورځ ده

| | |
|---|---|
| عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ غَيۡرُ يَسِيرٖ ﴿١٠﴾ | (10) په کافرانو باندې اسانه نه ده |
| ذَرۡنِي وَمَنۡ خَلَقۡتُ وَحِيدٗا ﴿١١﴾ | (11) ته پرېږده ما او هغه څوك چې ما دی يواځې پيدا کړی دی |
| وَجَعَلۡتُ لَهُۥ مَالٗا مَّمۡدُودٗا ﴿١٢﴾ | (12) او (بيا مې) ده ته ډېر زيات مال ورکړ |
| وَبَنِينَ شُهُودٗا ﴿١٣﴾ | (13) او زامن حاضر (باشه) |
| وَمَهَّدتُّ لَهُۥ تَمۡهِيدٗا ﴿١٤﴾ | (14) او ده ته مې فراخي ورکړه، ډېره فراخي |
| ثُمَّ يَطۡمَعُ أَنۡ أَزِيدَ ﴿١٥﴾ | (15) بيا دی طمع لري چې زه به ده ته لا زيات ورکړم |
| كَلَّآۖ إِنَّهُۥ كَانَ لِأٓيَٰتِنَا عَنِيدٗا ﴿١٦﴾ | (16) هيڅکله هم نه، بېشکه دی زمونږ له ايتونو سره ډېر عناد کوونکی (مخالف) و |
| سَأُرۡهِقُهُۥ صَعُودًا ﴿١٧﴾ | (17) ژر به زه ده ته ډېر سخت تکليف ورکړم |
| إِنَّهُۥ فَكَّرَ وَقَدَّرَ ﴿١٨﴾ | (18) بېشکه ده فکر وکړ او اندازه يې وکړه |
| فَقُتِلَ كَيۡفَ قَدَّرَ ﴿١٩﴾ | (19) پس دی دې هلاك کړی شي، ده څنګه اندازه وکړه؟ |
| ثُمَّ قُتِلَ كَيۡفَ قَدَّرَ ﴿٢٠﴾ | (20) بيا دې هلاك کړی شي، ده څنګه اندازه وکړه |

ثُمَّ نَظَرَ ﴿٢١﴾

(21) بیا یې وکتل

ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ ﴿٢٢﴾

(22) بیا یې مخ تریو کړ او وچولی (تندی) یې
بوټ کړ

ثُمَّ أَدْبَرَ وَٱسْتَكْبَرَ ﴿٢٣﴾

(23) بیا یې شا کړه او لویي یې وکړه

فَقَالَ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ يُؤْثَرُ ﴿٢٤﴾

(24) نو ده وویل: نه دی دا (قرآن) مګر داسې
جادو چې رانقل کولی شي

إِنْ هَٰذَآ إِلَّا قَوْلُ ٱلْبَشَرِ ﴿٢٥﴾

(25) نه دی دا مګر د انسان قول

سَأُصْلِيهِ سَقَرَ ﴿٢٦﴾

(26) ژر به زه دی د دوزخ اور ته داخل کړم

وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا سَقَرُ ﴿٢٧﴾

(27) او ته څه شي پوه کړې چې سقر (د
دوزخ اور) څه شی دی

لَا تُبْقِي وَلَا تَذَرُ ﴿٢٨﴾

(28) دی به نه باقي ساتي او نه به پرېږدي

لَوَّاحَةٌ لِّلْبَشَرِ ﴿٢٩﴾

(29) انسان لره ډېر سوځوونکی دی

عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ ﴿٣٠﴾

(30) په ده باندې نولس(ملایک) مقرر دي

وَمَا جَعَلْنَآ أَصْحَٰبَ ٱلنَّارِ إِلَّا
مَلَٰٓئِكَةًۙ وَمَا جَعَلْنَا عِدَّتَهُمْ إِلَّا
فِتْنَةً لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ لِيَسْتَيْقِنَ

(31) او مونږ د دوزخ څوکیداران نه دي
ګرځولي مګر ملایک او مونږ د دوی شمېر نه
دی ګرځولی مګر ازمېښت د هغو کسانو لپاره

ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ وَيَزۡدَادَ
ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِيمَٰنٗا وَلَا يَرۡتَابَ
ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ
وَلِيَقُولَ ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ
وَٱلۡكَٰفِرُونَ مَاذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِهَٰذَا
مَثَلٗاۚ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ مَن يَشَآءُ
وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُۚ وَمَا يَعۡلَمُ
جُنُودَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَۚ وَمَا هِيَ إِلَّا
ذِكۡرَىٰ لِلۡبَشَرِ ٣١

چې کافران شوي دي، د دې لپاره چې هغه کسان يقين وکړي چې کتاب ورته ورکړی شوی دی او د هغو کسانو ايمان زيات شي چې ايمان يې راوړی دی او شك ونه کړي هغه کسان چې کتاب ورته ورکړی شوی دی او مومنان او د دې لپاره چې هغه کسان ووايي چې د هغوی په زړونو کې مرض دی او کافران: الله په دې سره د مثال په لحاظ څه اراده کړې ده. همداسې الله گمراه کوي چا ته چې وغواړي او هدايت ورکوي چا ته چې وغواړي او ستا د رب لښکرې نه پېژني مگر هم دی. او نه دی دا مگر د خلقو لپاره نصيحت (او پند)

كَلَّا وَٱلۡقَمَرِ ٣٢

(32) هيڅکله داسې نه ده، قسم دی په سپوږمۍ

وَٱلَّيۡلِ إِذۡ أَدۡبَرَ ٣٣

(33) او په شپې باندې کله چې شا کړي

وَٱلصُّبۡحِ إِذَآ أَسۡفَرَ ٣٤

(34) او په سبا باندې کله چې روښانه شي

إِنَّهَا لَإِحۡدَى ٱلۡكُبَرِ ٣٥

(35) بېشکه دغه (اور د سقر) يقينًا په لويو (بلاګانو) کې يو دی

| | |
|---|---|
| نَذِيرًا لِّلۡبَشَرِ ٣٦ | (36) چې انسان لره وېرووونکی دی |
| لِمَن شَآءَ مِنكُمۡ أَن يَتَقَدَّمَ أَوۡ يَتَأَخَّرَ ٣٧ | (37) هغه چا لره چې په تاسو کې غوارې چې وړاندې شي، یا وروسته شي |
| كُلُّ نَفۡسِۭ بِمَا كَسَبَتۡ رَهِينَةٌ ٣٨ | (38) هر نفس به د خپلو کړو په بدل کې ګاڼه (ګرو) وي |
| إِلَّآ أَصۡحَٰبَ ٱلۡيَمِينِ ٣٩ | (39) غیر له ښي اړخ والاو نه |
| فِي جَنَّٰتٖ يَتَسَآءَلُونَ ٤٠ | (40) (دوی به) په جنتونو کې وي، یو تر بله به پوښتنې کوي |
| عَنِ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ٤١ | (41) د مجرمانو (کافرانو) په باره کې |
| مَا سَلَكَكُمۡ فِي سَقَرَ ٤٢ | (42) (مومنان به مجرمانو ته وايي:) تاسو په دوزخ کې څه شي داخل کړي يئ؟ |
| قَالُواْ لَمۡ نَكُ مِنَ ٱلۡمُصَلِّينَ ٤٣ | (43) دوی به ووايي: مونږ له لمونځ کوونکو څنې نه وو |
| وَلَمۡ نَكُ نُطۡعِمُ ٱلۡمِسۡكِينَ ٤٤ | (44) او مسکين ته به مو طعام نه ورکاوه |
| وَكُنَّا نَخُوضُ مَعَ ٱلۡخَآئِضِينَ ٤٥ | (45) او له باطل ویونکو سره به مونږ په باطلو خبرو کې ننوتلو |

| | |
|---|---|
| وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوۡمِ ٱلدِّينِ ﴿٤٦﴾ | (46) او مونږ به د بدلې ورځ دروغ ګڼله |
| حَتَّىٰٓ أَتَىٰنَا ٱلۡيَقِينُ ﴿٤٧﴾ | (47) تر دې پورې چې مونږ ته يقين راغی |
| فَمَا تَنفَعُهُمۡ شَفَٰعَةُ ٱلشَّٰفِعِينَ ﴿٤٨﴾ | (48) نو دوی ته د سفارش کوونکو سفارش فايده نه رسوي |
| فَمَا لَهُمۡ عَنِ ٱلتَّذۡكِرَةِ مُعۡرِضِينَ ﴿٤٩﴾ | (49) نو په دوی څه شوي دي چې له نصيحت (قرآن) نه مخ ګرځوونکي دي |
| كَأَنَّهُمۡ حُمُرٞ مُّسۡتَنفِرَةٞ ﴿٥٠﴾ | (50) ګويا کې دوی تښتېدونکي ځنګلي خره دي |
| فَرَّتۡ مِن قَسۡوَرَةِۭ ﴿٥١﴾ | (51) چې له زمري نه تښتي |
| بَلۡ يُرِيدُ كُلُّ ٱمۡرِيٕٖ مِّنۡهُمۡ أَن يُؤۡتَىٰ صُحُفٗا مُّنَشَّرَةٗ ﴿٥٢﴾ | (52) بلکې په دوی کې هر يو سړی غواړي چې ده ته خورې کړې شوې صحيفې (پاڼې) ورکړې شي |
| كَلَّاۖ بَل لَّا يَخَافُونَ ٱلۡأٓخِرَةَ ﴿٥٣﴾ | (53) هيڅکله داسې نه ده بلکې دوی له اخرت نه نه وېرېږي |
| كَلَّآ إِنَّهُۥ تَذۡكِرَةٞ ﴿٥٤﴾ | (54) هيڅکله داسې نه ده، بېشکه دا (قرآن) نصيحت دی |

فَمَن شَآءَ ذَكَرَهُۥ ٥٥

(55) نو څوك چې غواړي (نو) له ده نه دې پند واخلي

وَمَا يَذۡكُرُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُۚ هُوَ أَهۡلُ ٱلتَّقۡوَىٰ وَأَهۡلُ ٱلۡمَغۡفِرَةِ ٥٦

(56) او دوى نصيحت (او پند) نه اخلي مگر كه الله يې وغواړي. هم دى د وېرې لايق دى او د بخښنې اهل دى

## سُورَةُ القِيَامَةِ

## سورۀ قيامه

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

لَآ أُقۡسِمُ بِيَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ ١

(1) زه د قيامت په ورځې باندې قسم خورم

وَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلنَّفۡسِ ٱللَّوَّامَةِ ٢

(2) او زه په ډېر ملامت کوونکي نفس باندې قسم خورم

أَيَحۡسَبُ ٱلۡإِنسَٰنُ أَلَّن نَّجۡمَعَ عِظَامَهُۥ ٣

(3) ايا (كافر) انسان دا گمان كوي چې مونږ به د ده هډوكي له سره راجمع نه كړو

بَلَىٰ قَٰدِرِينَ عَلَىٰٓ أَن نُّسَوِّيَ بَنَانَهُۥ ٤

(4) ولې نه! (جمع به يې كړو)، په داسې حال كې چې مونږ په دې قادر يو چې د ده (هډوكي او) د گوتو بندونه (هم) برابر كړو

| | |
|---|---|
| بَلۡ يُرِيدُ ٱلۡإِنسَٰنُ لِيَفۡجُرَ أَمَامَهُۥ ٥ | (5) بلکې (کافر) انسان اراده لري چې په خپله مخه (راتلونکې زمانه) کې هم نافرماني وکړي |
| يَسۡـَٔلُ أَيَّانَ يَوۡمُ ٱلۡقِيَٰمَةِ ٦ | (6) دی تپوس کوي چې د قیامت ورځ به کله وي؟ |
| فَإِذَا بَرِقَ ٱلۡبَصَرُ ٧ | (7) نو کله چې سترګې خړې (سپینې) شي |
| وَخَسَفَ ٱلۡقَمَرُ ٨ | (8) او سپوږمۍ توره (بې رڼا) شي |
| وَجُمِعَ ٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُ ٩ | (9) او لمر او سپوږمۍ سره جمع کړی شي |
| يَقُولُ ٱلۡإِنسَٰنُ يَوۡمَئِذٍ أَيۡنَ ٱلۡمَفَرُّ ١٠ | (10) نو (کافر) انسان به په دغه وخت کې وايي: د تېښتې ځای چېرته دی؟ |
| كَلَّا لَا وَزَرَ ١١ | (11) هیڅکله داسې نه ده، هیڅ پناه ځای نشته |
| إِلَىٰ رَبِّكَ يَوۡمَئِذٍ ٱلۡمُسۡتَقَرُّ ١٢ | (12) په دغې ورځ کې ځای د قرار ستا د رب په طرف دی |
| يُنَبَّؤُاْ ٱلۡإِنسَٰنُ يَوۡمَئِذِۭ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ ١٣ | (13) په دغې ورځ کې به انسان په هغه څه خبر کړی شي چې ده مخکې لېږلي دي او وروسته يې پرېښي دي |

| | |
|---|---|
| بَلِ ٱلۡإِنسَٰنُ عَلَىٰ نَفۡسِهِۦ بَصِيرَةٞ ﴿١٤﴾ | (14) بلکې انسان په خپل ځان باندې ښه دليل دی |
| وَلَوۡ أَلۡقَىٰ مَعَاذِيرَهُۥ ﴿١٥﴾ | (15) اگر که دی خپل عذرونه وړاندې کړي |
| لَا تُحَرِّكۡ بِهِۦ لِسَانَكَ لِتَعۡجَلَ بِهِۦٓ ﴿١٦﴾ | (16) (ای نبي!) ته خپله ژبه په دې (قرآن) سره مه خوځوه، د دې لپاره چې ته دا په تُندی سره حاصل کړې |
| إِنَّ عَلَيۡنَا جَمۡعَهُۥ وَقُرۡءَانَهُۥ ﴿١٧﴾ | (17) بېشکه پر مونږ باندې د ده جمع کول او د ده لوستل دي |
| فَإِذَا قَرَأۡنَٰهُ فَٱتَّبِعۡ قُرۡءَانَهُۥ ﴿١٨﴾ | (18) نو کله چې مونږ دی ولولو، نو ته د ده د لوستلو پیروي کوه |
| ثُمَّ إِنَّ عَلَيۡنَا بَيَانَهُۥ ﴿١٩﴾ | (19) بیا یقینًا زمونږ په ذمه د ده بیانول دي |
| كَلَّا بَلۡ تُحِبُّونَ ٱلۡعَاجِلَةَ ﴿٢٠﴾ | (20) هیڅکله داسې نه ده بلکې تاسو تادي کوونکې (زر تېرېدونکې فاني کېدونکې دنیا) خوښوئ |
| وَتَذَرُونَ ٱلۡأٓخِرَةَ ﴿٢١﴾ | (21) او تاسو اخرت پرېږدئ |
| وُجُوهٞ يَوۡمَئِذٖ نَّاضِرَةٌ ﴿٢٢﴾ | (22) په دغې ورځ کې به څه مخونه تازه روښانه وي |

إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ٢٣

(23) خپل رب ته به کتونکي وي

وَوُجُوهٌ يَوۡمَئِذِۭ بَاسِرَةٌ ٢٤

(24) او په دغې ورځ کې به څه مخونه سخت تریو (او سپېره) وي

تَظُنُّ أَن يُفۡعَلَ بِهَا فَاقِرَةٌ ٢٥

(25) يقين به کوي چې له دوی سره به مَلا ماتوونکی عمل وشي

كَلَّآ إِذَا بَلَغَتِ ٱلتَّرَاقِيَ ٢٦

(26) داسې نه ده کله چې ساه د ستوني هډوکي ته ورسېږي

وَقِيلَ مَنۡۜ رَاقٖ ٢٧

(27) او وبه ويل شي: څوك دی دم كوونكی؟

وَظَنَّ أَنَّهُ ٱلۡفِرَاقُ ٢٨

(28) او دی به يقين وکړي چې بېشکه دغه (وخت د) بېلتون دی

وَٱلۡتَفَّتِ ٱلسَّاقُ بِٱلسَّاقِ ٢٩

(29) او يوه پنډۍ به له بلې پنډۍ تاوېږي

إِلَىٰ رَبِّكَ يَوۡمَئِذٍ ٱلۡمَسَاقُ ٣٠

(30) ستا د رب په لوري به دغې ورځ کې ورتله دي

فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلَّىٰ ٣١

(31) پس ده نه تصديق وکړ او نه يې لمونځ وکړ

وَلَٰكِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ٣٢

(32) او لېکن دروغ يې وګڼه (قرآن) او مخ يې وګرځاوه

| | |
|---|---|
| ثُمَّ ذَهَبَ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِۦ يَتَمَطَّىٰٓ ٣٣ | (33) بیا خپل اهل ته لاړ، په داسې حال کې چې تکبر یې کاوه |
| أَوۡلَىٰ لَكَ فَأَوۡلَىٰ ٣٤ | (34) تا ته دې هلاکت (او افسوس) وي، پس هلاکت دې وي |
| ثُمَّ أَوۡلَىٰ لَكَ فَأَوۡلَىٰٓ ٣٥ | (35) بیا دې تا لپاره هلاکت وي، نو هلاکت دې وي |
| أَيَحۡسَبُ ٱلۡإِنسَٰنُ أَن يُتۡرَكَ سُدًى ٣٦ | (36) ایا(کافر) انسان گمان کوي چې دی به مهمل (او بې کاره) پرېښودل شي |
| أَلَمۡ يَكُ نُطۡفَةً مِّن مَّنِيّٖ يُمۡنَىٰ ٣٧ | (37) ایا دغه (انسان) د هغې منی یو څاڅکی نه و چې تویولی شي |
| ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً فَخَلَقَ فَسَوَّىٰ ٣٨ | (38) بیا دی د وینې یوه ټوټه وه، نو دغه (الله) دی) پیدا کړ، پس برابر یې کړ |
| فَجَعَلَ مِنۡهُ ٱلزَّوۡجَيۡنِ ٱلذَّكَرَ وَٱلۡأُنثَىٰٓ ٣٩ | (39) نو له دغې (منی) نه یې دوه قسمه پیدا کړل (یعنې) سړی او ښځه |
| أَلَيۡسَ ذَٰلِكَ بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يُحۡـِۧيَ ٱلۡمَوۡتَىٰ ٤٠ | (40) ایا دغه (الله) په دې قادر نه دی چې مړي راژوندي کړي؟ |

## سُورَةُ الإِنسَانِ

## سورۀ انسان

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

هَلۡ أَتَىٰ عَلَى ٱلۡإِنسَٰنِ حِينٞ مِّنَ ٱلدَّهۡرِ لَمۡ يَكُن شَيۡـٔٗا مَّذۡكُورًا ١

(1) يقينًا په انسان باندې داسې وخت هم راغلی دی چې دی څه داسې د يادولو (وړ) شی نه و

إِنَّا خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن نُّطۡفَةٍ أَمۡشَاجٖ نَّبۡتَلِيهِ فَجَعَلۡنَٰهُ سَمِيعَۢا بَصِيرًا ٢

(2) بېشکه مونږ انسان له ګډې وډې شوې نطفې نه پيدا کړی دی، چې مونږ به دی ازمايو، نو دی مونږ اورېدونکی (او) ليدونکی وګرځاوه

إِنَّا هَدَيۡنَٰهُ ٱلسَّبِيلَ إِمَّا شَاكِرٗا وَإِمَّا كَفُورًا ٣

(3) بېشکه مونږ ده ته د نېغې لارې ښوونه کړې ده، يا به دی شکر کوونکی وي او يا به ډېر ناشکره وي

إِنَّآ أَعۡتَدۡنَا لِلۡكَٰفِرِينَ سَلَٰسِلَاْ وَأَغۡلَٰلٗا وَسَعِيرًا ٤

(4) بېشکه مونږ د کافرانو لپاره ځنځيرونه او طوقونه (زلونې) او لمبې وهونکی اور تيار کړی دی

إِنَّ ٱلۡأَبۡرَارَ يَشۡرَبُونَ مِن كَأۡسٖ

(5) بېشکه نېکان خلق به د شرابو له داسې جامونو نه څښاك کوي چې د هغو ګډونی

كَانَ مِزَاجُهَا كَافُورًا ٥

(امېزش) به کافور وي

عَيۡنٗا يَشۡرَبُ بِهَا عِبَادُ ٱللَّهِ يُفَجِّرُونَهَا تَفۡجِيرٗا ٦

(6) چې چینه ده، د الله بنده ګان به له هغې نه څښي، دوی به هغه بهوي (چېرته چې وغواړي) ښه بهول

يُوفُونَ بِٱلنَّذۡرِ وَيَخَافُونَ يَوۡمٗا كَانَ شَرُّهُۥ مُسۡتَطِيرٗا ٧

(7) دوی نذرونه پوره کوي او له هغې ورځې نه وېرېږي چې د هغې شر ښه ښکاره دی

وَيُطۡعِمُونَ ٱلطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ مِسۡكِينٗا وَيَتِيمٗا وَأَسِيرًا ٨

(8) او دوی د هغه (الله) په مینه کې مسکین او یتیم او بندي ته طعام ورکوي

إِنَّمَا نُطۡعِمُكُمۡ لِوَجۡهِ ٱللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنكُمۡ جَزَآءٗ وَلَا شُكُورًا ٩

(9) (دوی وایي:) بېشکه همدا خبره ده چې مونږ تاسو ته د الله له مخه طعام درکوو، مونږ له تاسو نه څه بدله او شکر نه غواړو

إِنَّا نَخَافُ مِن رَّبِّنَا يَوۡمًا عَبُوسٗا قَمۡطَرِيرٗا ١٠

(10) بېشکه مونږ له خپل رب نه د تریو مخې ډېرې سختې ورځې (له عذاب) نه وېرېږو

فَوَقَىٰهُمُ ٱللَّهُ شَرَّ ذَٰلِكَ ٱلۡيَوۡمِ وَلَقَّىٰهُمۡ نَضۡرَةٗ وَسُرُورٗا ١١

(11) نو الله به دوی د دغې ورځې له شر نه بچ وساتي او دوی ته به تازګي او خوشالي ورسوي

وَجَزَىٰهُم بِمَا صَبَرُواْ جَنَّةٗ

(12) او دوی ته به د خپل صبر په سبب جنت

| | |
|---|---|
| وَحَرِيرًا ﴿١٢﴾ | او ورېښم په بدل کې ورکړي |
| مُّتَّكِـِٔينَ فِيهَا عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِۖ لَا يَرَوۡنَ فِيهَا شَمۡسٗا وَلَا زَمۡهَرِيرٗا ﴿١٣﴾ | (13) په داسې حال کې چې په تختونو باندې به تکيه وهونکي وي، دوی به په هغه (جنت) کې نه لمرويني او نه ساړه (يخني) |
| وَدَانِيَةً عَلَيۡهِمۡ ظِلَٰلُهَا وَذُلِّلَتۡ قُطُوفُهَا تَذۡلِيلٗا ﴿١٤﴾ | (14) په داسې حال کې چې په دوی باندې به د دغه (جنت د ونو) سيورى نژدې وي او د هغه د مېوو شوکول به مُسخَّر (راټيټ) کړى شوي وي، مُسخرکېدل |
| وَيُطَافُ عَلَيۡهِم بِـَٔانِيَةٖ مِّن فِضَّةٖ وَأَكۡوَابٖ كَانَتۡ قَوَارِيرَا۠ ﴿١٥﴾ | (15) او په دوی باندې به لوښي د سپينو زرو او ګلاسونه ګرځولى شي چې د شيشو به وي |
| قَوَارِيرَاْ مِن فِضَّةٖ قَدَّرُوهَا تَقۡدِيرٗا ﴿١٦﴾ | (16) د سپينو زرو شيشې چې دوی به دغه (لوښي) اندازه کړي وي، اندازه کول |
| وَيُسۡقَوۡنَ فِيهَا كَأۡسٗا كَانَ مِزَاجُهَا زَنجَبِيلًا ﴿١٧﴾ | (17) او په دغه (جنت) کې به په دوی د شرابو داسې جامونه ورڅښول کېږي چې ګډونى به يې زنجبيل وي |
| عَيۡنٗا فِيهَا تُسَمَّىٰ سَلۡسَبِيلٗا ﴿١٨﴾ | (18) چې چينه ده په دغه (جنت) کې چې نوم يې سلسبيل اېښودل شوى دى |
| ۞وَيَطُوفُ عَلَيۡهِمۡ وِلۡدَٰنٞ مُّخَلَّدُونَ | (19) او په دوی باندې به (د خدمت لپاره) |

إِذَا رَأَيْتَهُمْ حَسِبْتَهُمْ لُؤْلُؤًا مَّنثُورًا ﴿١٩﴾

همېشني هلکان ګرځي، کله چې ته دوی وويني (نو) ته به دوی خورې کړی شوې ملغلرې ګڼې

وَإِذَا رَأَيْتَ ثَمَّ رَأَيْتَ نَعِيمًا وَمُلْكًا كَبِيرًا ﴿٢٠﴾

(20) او کله چې ته وګورې (نو) په دغه ځای کې به نعمتونه او ډېره لويه بادشاهي ووينې

عَٰلِيَهُمْ ثِيَابُ سُندُسٍ خُضْرٌ وَإِسْتَبْرَقٌ وَحُلُّوٓا۟ أَسَاوِرَ مِن فِضَّةٍ وَسَقَىٰهُمْ رَبُّهُمْ شَرَابًا طَهُورًا ﴿٢١﴾

(21) د دوی په تن باندې به د نرۍ ورېښمو جامې وي چې شنې به وي او د پېړو ورېښمو (جامې به هم وي) او دوی ته به د سپينو زرو باهوګان واچولی شي او خپل رب به په دوی ډېر پاکيزه شراب وڅښي

إِنَّ هَٰذَا كَانَ لَكُمْ جَزَآءً وَكَانَ سَعْيُكُم مَّشْكُورًا ﴿٢٢﴾

(22) بېشکه دا (نعمت) تاسو لپاره بدله ده. او ستاسو سعي (کوشش) قبول کړی شوی دی

إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ ٱلْقُرْءَانَ تَنزِيلًا ﴿٢٣﴾

(23) بېشکه همدا مونږ پر تاسو باندې قرآن نازل کړی دی، ښه نازلول

فَٱصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ ءَاثِمًا أَوْ كَفُورًا ﴿٢٤﴾

(24) نو ته د خپل رب حکم ته صبر کوه او په دوی کې د هېڅ ګناهګار او سخت ناشکره خبره مه منه

وَٱذْكُرِ ٱسْمَ رَبِّكَ بُكْرَةً

(25) او په سبا او بېګاه کې ته د خپل رب نوم

| | |
|---|---|
| وَأَصِيلًا ﴿٢٥﴾ | یادوه |
| وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَٱسۡجُدۡ لَهُۥ وَسَبِّحۡهُ لَيۡلًا طَوِيلًا ﴿٢٦﴾ | (26) او د شپې په څه حصه کې، نو ته هغه ته سجده کوه او د هغه تسبيح وايه په اوږده شپه کې |
| إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ يُحِبُّونَ ٱلۡعَاجِلَةَ وَيَذَرُونَ وَرَآءَهُمۡ يَوۡمًا ثَقِيلًا ﴿٢٧﴾ | (27) ببشکه دغه خلق تادي کوونکې (زر تېرېدونکې دنيا) خوښوي او له خپل ځان وروسته درنه ورځ پرېږدي |
| نَّحۡنُ خَلَقۡنَٰهُمۡ وَشَدَدۡنَآ أَسۡرَهُمۡۖ وَإِذَا شِئۡنَا بَدَّلۡنَآ أَمۡثَٰلَهُمۡ تَبۡدِيلًا ﴿٢٨﴾ | (28) مونږ دوی پيدا کړي دي او مونږ د دوی بندونه مضبوط کړي دي او کله چې مونږ وغواړو د دوی مثالونه به په بدل کې راولو، په بدل کې راوستل |
| إِنَّ هَٰذِهِۦ تَذۡكِرَةٞۖ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلًا ﴿٢٩﴾ | (29) ببشکه دا (قرآن) نصيحت دی، نو هغه څوک چې غواړي چې خپل رب طرف ته لار ونيسي (نو ودې نيسي) |
| وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿٣٠﴾ | (30) او تاسو اراده نشئ کولی مگر دا چې الله وغواړي، ببشکه الله ښه عالم، ښه حکمت والا دی |
| يُدۡخِلُ مَن يَشَآءُ فِي رَحۡمَتِهِۦۚ وَٱلظَّٰلِمِينَ أَعَدَّ لَهُمۡ عَذَابًا | (31) چا ته چې وغواړي په خپل رحمت کې يې داخلوي او ظالمان (کافران) چې دي |

أَلِيمَۢا ٣١

هغهٔ، د دوی لپاره ډېر دردوونکی عذاب تیار کړی دی

## سُورَةُ المُرۡسَلَاتِ

## سورهٔ مرسلات

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

وَٱلۡمُرۡسَلَٰتِ عُرۡفٗا ١

(1) قسم دی په هغو بادونو چې پرله پسې لېږل شوي دي!

فَٱلۡعَٰصِفَٰتِ عَصۡفٗا ٢

(2) بیا په هغو سختو تېزو چلېدونکو بادونو باندې، تېز تلل

وَٱلنَّٰشِرَٰتِ نَشۡرٗا ٣

(3) او په خورونکو بادونو باندې، خورول

فَٱلۡفَٰرِقَٰتِ فَرۡقٗا ٤

(4) بیا په هغو بادونو چې جدا والی راولي، جدا کول

فَٱلۡمُلۡقِيَٰتِ ذِكۡرًا ٥

(5) بیا په هغو بادونو باندې چې د ذکر اچونکي دي

عُذۡرًا أَوۡ نُذۡرًا ٦

(6) د عذر لپاره او وېرولو لپاره

إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَوَٰقِعٞ ٧

(7) بېشکه چې له تاسو سره څه وعده کولی

شي يقينًا (هغه) واقع کېدونکي ده

فَإِذَا ٱلنُّجُومُ طُمِسَتۡ ٨

(8) نو کله چې ستوري بې رڼا کړی شي

وَإِذَا ٱلسَّمَآءُ فُرِجَتۡ ٩

(9) او کله چې اسمان ځیرې کړی شي

وَإِذَا ٱلۡجِبَالُ نُسِفَتۡ ١٠

(10) او کله چې غرونه والوزول شي

وَإِذَا ٱلرُّسُلُ أُقِّتَتۡ ١١

(11) او کله چې رسولانو ته وخت وټاکل شي

لِأَيِّ يَوۡمٍ أُجِّلَتۡ ١٢

(12) د کومې ورځې لپاره دغه (ځيزونه) وروسته کړی شوي دي؟

لِيَوۡمِ ٱلۡفَصۡلِ ١٣

(13) د فيصلې د ورځې لپاره

وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا يَوۡمُ ٱلۡفَصۡلِ ١٤

(14) او ته څه شي پوه کړې چې د فيصلې ورځ کله ده

وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ١٥

(15) د دروغ ګڼونکو لپاره په دغې ورځ کې هلاکت دی

أَلَمۡ نُهۡلِكِ ٱلۡأَوَّلِينَ ١٦

(16) ايا مونږ ړومبني (مجرمان) نه دي هلاك کړي

ثُمَّ نُتۡبِعُهُمُ ٱلۡأٓخِرِينَ ١٧

(17) بيا مونږ په دوی پسې وروستني خلق ورلېږو

| | |
|---|---|
| كَذَٰلِكَ نَفۡعَلُ بِٱلۡمُجۡرِمِينَ ١٨ | (18) همداسې کار مونږ له مجرمانو (کافرانو) سره کوو |
| وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ١٩ | (19) په دغې ورځې کې د تکذيب کوونکو (دروغ ګڼونکو) لپاره هلاکت دی |
| أَلَمۡ نَخۡلُقكُّم مِّن مَّآءٖ مَّهِينٖ ٢٠ | (20) ايا مونږ تاسو له سپکو اوبو نه نه يئ پيدا کړي |
| فَجَعَلۡنَٰهُ فِي قَرَارٖ مَّكِينٍ ٢١ | (21) پس مونږ دغه (اوبه) په مضبوط ځای کې کېښودلې |
| إِلَىٰ قَدَرٖ مَّعۡلُومٖ ٢٢ | (22) تر مقررې نېټې (اندازې) پورې |
| فَقَدَرۡنَا فَنِعۡمَ ٱلۡقَٰدِرُونَ ٢٣ | (23) نو مونږ قادر يو، پس (مونږ) ښه قدرت لرونکي يو |
| وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ٢٤ | (24) په دغې ورځې کې د دروغ ګڼونکو لپاره هلاکت دی |
| أَلَمۡ نَجۡعَلِ ٱلۡأَرۡضَ كِفَاتًا ٢٥ | (25) ايا مونږ ځمکه نه ده ګرځولې راجمع کوونکې |
| أَحۡيَآءٗ وَأَمۡوَٰتٗا ٢٦ | (26) ژونديو لره او مړيو لره |
| وَجَعَلۡنَا فِيهَا رَوَٰسِيَ شَٰمِخَٰتٖ | (27) او مونږ په دې کې اوچت لوی غرونه پيدا |

| | |
|---|---|
| وَأَسۡقَيۡنَٰكُم مَّآءٗ فُرَاتٗا ٢٧ | کړي دي او په تاسو مو خوږې تنده ماتوونکې اوبه څښلي |
| وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ٢٨ | (28) په دغې ورځ کې د دروغ ګڼونکو لپاره هلاکت دی |
| ٱنطَلِقُوٓاْ إِلَىٰ مَا كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ٢٩ | (29) تاسو ځئ لاړ شئ هغه څيز ته چې تاسو به هغه دروغ ګاڼه |
| ٱنطَلِقُوٓاْ إِلَىٰ ظِلّٖ ذِي ثَلَٰثِ شُعَبٖ ٣٠ | (30) تاسو ځئ لاړ شئ هغه سيورې ته چې د دريوڅانګو والا دی |
| لَّا ظَلِيلٖ وَلَا يُغۡنِي مِنَ ٱللَّهَبِ ٣١ | (31) چې نه يخ دی او نه د اور لمبې لرې کولی شي |
| إِنَّهَا تَرۡمِي بِشَرَرٖ كَٱلۡقَصۡرِ ٣٢ | (32) بېشکه دغه (اور) داسې سرې سکروټې ولي (غورځوي)، لکه اوچتې ماڼۍ |
| كَأَنَّهُۥ جِمَٰلَتٞ صُفۡرٞ ٣٣ | (33) ګويا کې دغه (سکروټې، بڅرکي) زېړ تور بخن اوښان دي |
| وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ٣٤ | (34) په دغې ورځ کې د دروغ ګڼونکو لپاره هلاکت دی |
| هَٰذَا يَوۡمُ لَا يَنطِقُونَ ٣٥ | (35) دغه ورځ ده چې دوی به (په کې) خبرې |

نشي کولی

وَلَا يُؤۡذَنُ لَهُمۡ فَيَعۡتَذِرُونَ ٣٦

(36) او دوی ته به اجازت ورکولی نشي، پس چې دوی عذر وکړي

وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ٣٧

(37) په دغې ورځ کې د دروغ ګڼونکو لپاره هلاکت دی

هَٰذَا يَوۡمُ ٱلۡفَصۡلِۖ جَمَعۡنَٰكُمۡ وَٱلۡأَوَّلِينَ ٣٨

(38) دغه د فیصلې ورځ ده، مونږ، تاسو او ړومبني خلق راجمع کړي دي

فَإِن كَانَ لَكُمۡ كَيۡدٞ فَكِيدُونِ ٣٩

(39) نو که له تاسو سره څه چل مکر وي، نو زما سره (دغه) چل مکر وکړئ

وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ٤٠

(40) په دغې ورځ کې د دروغ ګڼونکو لپاره هلاکت دی

إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي ظِلَٰلٖ وَعُيُونٖ ٤١

(41) يقينًا پرهېزګاران به په سيورو او چينو کې وي

وَفَوَٰكِهَ مِمَّا يَشۡتَهُونَ ٤٢

(42) او په داسې مېوو کې چې دوی يې غواړي

كُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ هَنِيٓـَٔۢا بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٤٣

(43) (ملايك به مومنانو ته وايي:) تاسو خورئ او څښئ، په داسې حال کې چې خوند اخيستونکي يئ د هغو عملونو په بدل کې

چې تاسو به کول

إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٤٤﴾
(44) بېشکه همداسې مونږ نېکي کوونکو ته بدله ورکوو

وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ﴿٤٥﴾
(45) په دغې ورځ کې د دروغ ګڼونکو لپاره هلاکت دی

كُلُواْ وَتَمَتَّعُواْ قَلِيلًا إِنَّكُم مُّجۡرِمُونَ ﴿٤٦﴾
(46) تاسو خورئ او فايده واخلئ لږه، بېشکه تاسو مجرمان يئ

وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ﴿٤٧﴾
(47) په دغې ورځ کې د تکذيب کوونکو (دروغ ويونکو) لپاره هلاکت او تباهي ده

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱرۡكَعُواْ لَا يَرۡكَعُونَ ﴿٤٨﴾
(48) او کله چې دوی ته وويل شي تاسو رکوع کوئ (نو) دوی رکوع نه کوي

وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ﴿٤٩﴾
(49) په دغې ورځ کې د تکذيب کوونکو لپاره هلاکت دی

فَبِأَيِّ حَدِيثِۭ بَعۡدَهُۥ يُؤۡمِنُونَ ﴿٥٠﴾
(50) نو له دې (قرآن) نه وروسته دوی په څه شي ايمان راوړي؟

## سُورَةُ النَّبَإِ

## سورۀ نبأ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

عَمَّ يَتَسَآءَلُونَ ١

(1) دوی د څه شي په باره کې يو له بل پوښتنه کوي؟

عَنِ ٱلنَّبَإِ ٱلۡعَظِيمِ ٢

(2) د ډېر لوی خبر په باره کې

ٱلَّذِي هُمۡ فِيهِ مُخۡتَلِفُونَ ٣

(3) هغه چې دوی په هغه کې سره اختلاف کوونکي دي

كَلَّا سَيَعۡلَمُونَ ٤

(4) نه دې کوي (دغه اختلاف او پوښتنې)، ژر به دوی پوه شي

ثُمَّ كَلَّا سَيَعۡلَمُونَ ٥

(5) بیا هیڅکله دې نه کوي، ژر به دوی پوه شي

أَلَمۡ نَجۡعَلِ ٱلۡأَرۡضَ مِهَٰدٗا ٦

(6) ایا مونږ ځمکه فرش نه ده ګرځولې؟

وَٱلۡجِبَالَ أَوۡتَادٗا ٧

(7) او غرونه (مو) میخونه

وَخَلَقۡنَٰكُمۡ أَزۡوَٰجٗا ٨

(8) او مونږ تاسو پیدا کړي یئ جوړې (نر او ښځه)

وَجَعَلۡنَا نَوۡمَكُمۡ سُبَاتٗا ٩
(9) او مونږ ستاسو خوب (تاسو لپاره) راحت گرځولی دی

وَجَعَلۡنَا ٱلَّيۡلَ لِبَاسٗا ١٠
(10) او شپه مو لباس گرځولې ده

وَجَعَلۡنَا ٱلنَّهَارَ مَعَاشٗا ١١
(11) او ورځ مو د روزۍ لټولو وخت گرځولی دی

وَبَنَيۡنَا فَوۡقَكُمۡ سَبۡعٗا شِدَادٗا ١٢
(12) او ستاسو له پاسه مو اوه ډېر مضبوط اسمانونه جوړ کړي دي

وَجَعَلۡنَا سِرَاجٗا وَهَّاجٗا ١٣
(13) او مونږ روښانه ځلېدونکې ډېوه پیدا کړې ده

وَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلۡمُعۡصِرَٰتِ مَآءٗ ثَجَّاجٗا ١٤
(14) او مونږ له ډکو ورېځو نه ډېرې تویېدونکې اوبه نازلې کړې دي

لِّنُخۡرِجَ بِهِۦ حَبّٗا وَنَبَاتٗا ١٥
(15) د دې لپاره چې مونږ په دغو (اوبو) سره دانې او زرغونه راوباسو

وَجَنَّٰتٍ أَلۡفَافًا ١٦
(16) او باغونه یو له بل سره نژدې

إِنَّ يَوۡمَ ٱلۡفَصۡلِ كَانَ مِيقَٰتٗا ١٧
(17) بېشکه د فیصلې ورځ مقرر وخت دی

يَوۡمَ يُنفَخُ فِي ٱلصُّورِ فَتَأۡتُونَ
(18) هغه ورځ چې پوکی به ووهل شي په شپېلۍ کې، نو تاسو به ډلې ډلې راځئ

أَفۡوَاجٗا ١٨

| | |
|---|---|
| وَفُتِحَتِ ٱلسَّمَآءُ فَكَانَتۡ أَبۡوَٰبٗا ١٩ | (19) او اسمان به پرانستل شي، نو دی به دروازې دروازې وي |
| وَسُيِّرَتِ ٱلۡجِبَالُ فَكَانَتۡ سَرَابًا ٢٠ | (20) او غرونه به روان کړی شي، نو دوی به سراب شي |
| إِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتۡ مِرۡصَادٗا ٢١ | (21) بېشکه دوزخ به د انتظار ځای (کمین ځای) شي |
| لِّلطَّٰغِينَ مَـَٔابٗا ٢٢ | (22) د سرکشو لپاره د ورتللو ځای |
| لَّٰبِثِينَ فِيهَآ أَحۡقَابٗا ٢٣ | (23) چې دوی به په هغه کې زمانې زمانې (همېشه) پاتې کېږي |
| لَّا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرۡدٗا وَلَا شَرَابًا ٢٤ | (24) دوی به په هغه کې نه څه يخوالی څکي او نه څه اوبه |
| إِلَّا حَمِيمٗا وَغَسَّاقٗا ٢٥ | (25) غير د اېشېدلو تودو اوبو او بهېدونکو وينو زوو نه |
| جَزَآءٗ وِفَاقًا ٢٦ | (26) بدله به ورکولی شي د عملونو سره برابره موافقه |
| إِنَّهُمۡ كَانُواْ لَا يَرۡجُونَ حِسَابٗا ٢٧ | (27) بېشکه دوی به د حساب امېد نه کاوه |

وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا كِذَّابٗا ٢٨

(28) او زموږ ایتونه به یې دروغ ګڼل، سخت دروغ ګڼل

وَكُلَّ شَيۡءٍ أَحۡصَيۡنَٰهُ كِتَٰبٗا ٢٩

(29) او هر شی، موږ هغه په کتاب (لوح محفوظ) کې شمېرلی (او محفوظ کړی) دی

فَذُوقُواْ فَلَن نَّزِيدَكُمۡ إِلَّا عَذَابًا ٣٠

(30) نو تاسو (خپله سزا) وڅکئ، پس موږ به تاسو ته له سره زیات نه کړو مګر عذاب

إِنَّ لِلۡمُتَّقِينَ مَفَازًا ٣١

(31) ببشکه خاص د متقیانو لپاره کامیابي ده

حَدَآئِقَ وَأَعۡنَٰبٗا ٣٢

(32) (چې) باغونه او انګور دي

وَكَوَاعِبَ أَتۡرَابٗا ٣٣

(33) او انارسینه همځولې پېغلې دي

وَكَأۡسٗا دِهَاقٗا ٣٤

(34) او ترخندېو پورې ډکې د شرابو پیالې دي

لَّا يَسۡمَعُونَ فِيهَا لَغۡوٗا وَلَا كِذَّٰبٗا ٣٥

(35) دوی په دغه (جنت) کې نه لغوه (بېکاره) خبره اوري او نه دروغ

جَزَآءٗ مِّن رَّبِّكَ عَطَآءً حِسَابٗا ٣٦

(36) د رب له جانبه به بدله ورکولی شي (د عملونو) په حساب سره ډېره ورکړه

رَّبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا ٱلرَّحۡمَٰنِۖ لَا يَمۡلِكُونَ مِنۡهُ

(37) چې د اسمانونو او ځمکې رب دی او د هغه څه چې د دغو دواړو په مینځ کې دي،

| | |
|---|---|
| خِطَابًا ﴿٣٧﴾ | چې ډېر زيات مهربان دی، دوی له هغه سره د خبرو کولو اختيار (او قدرت) نه لري |
| يَوْمَ يَقُومُ ٱلرُّوحُ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ صَفًّا ۖ لَّا يَتَكَلَّمُونَ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ ٱلرَّحْمَٰنُ وَقَالَ صَوَابًا ﴿٣٨﴾ | (38) په هغې ورځ کې چې روح او ملايك به صفونه صفونه ودرېږي، دوی به خبرې نشي کولی مګرهغه څوك چې هغه ته رحمٰن اجازت ورکړي او ده (په دنيا کې) حقه خبره (لا إله الا الله) ويلې وي |
| ذَٰلِكَ ٱلْيَوْمُ ٱلْحَقُّ ۖ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ مَـَٔابًا ﴿٣٩﴾ | (39) دغه حق ورځ ده، نو هغه څوك چې د خپل رب په طرف د ورتلو ځای نيسي (نو ودې نيسي) |
| إِنَّآ أَنذَرْنَٰكُمْ عَذَابًا قَرِيبًا يَوْمَ يَنظُرُ ٱلْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ وَيَقُولُ ٱلْكَافِرُ يَٰلَيْتَنِى كُنتُ تُرَٰبًا ﴿٤٠﴾ | (40) بېشکه مونږ تاسو له نژدې (راتلونکي) عذاب څخه ووېرولئ، په هغه ورځ کې چې هر سړی به هغه څه ته ګوري چې د ده لاسونو مخکې لېږلي دي او کافر به وايي: ای کاشکې چې زه خاوري وی |

## سُورَةُ النَّازِعَاتِ

## سورۀ نازعات

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

وَٱلنَّٰزِعَٰتِ غَرۡقٗا ١

(1) قسم دی په (ملايکو) راوښکونکو (روحونو د کفارو لره)، راوښکل

وَٱلنَّٰشِطَٰتِ نَشۡطٗا ٢

(2) او په (ملايکو) اسان راوښکوونکو (د مومنانو روحونو لره)، اسان راوښکل

وَٱلسَّٰبِحَٰتِ سَبۡحٗا ٣

(3) او په تېزو تلونکو (ملايکو)، تېز تلل

فَٱلسَّٰبِقَٰتِ سَبۡقٗا ٤

(4) پس په وړاندې کېدونکو (ملايکو)، وړاندې کېدل

فَٱلۡمُدَبِّرَٰتِ أَمۡرٗا ٥

(5) بيا د کار په تدبير جوړونکو (ملايکو) چې تاسو به خامخا بيا راژوندي کړی شئ)

يَوۡمَ تَرۡجُفُ ٱلرَّاجِفَةُ ٦

(6) په هغه ورځ چې لړځېدونکې به ولړځېږي

تَتۡبَعُهَا ٱلرَّادِفَةُ ٧

(7) په دې پسې به راځي ورپسې راتلونکې

قُلُوبٞ يَوۡمَئِذٖ وَاجِفَةٌ ٨

(8) (د مجرمانو) زړونه به په دغه ورځ کې رپېدونکي (درزېدونکي) وي

| | |
|---|---|
| أَبۡصَٰرُهَا خَٰشِعَةٞ ﴿٩﴾ | (9) د دغو سترګې به ښکته وي |
| يَقُولُونَ أَءِنَّا لَمَرۡدُودُونَ فِي ٱلۡحَافِرَةِ ﴿١٠﴾ | (10) دوی به وايي: ايا په رښتيا (او) يقينًا به مونږ ړومبني حالت ته ګرځولی شو (بيا به ژوندي کېږو؟) |
| أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمٗا نَّخِرَةٗ ﴿١١﴾ | (11) ايا کله چې مونږ زاړه رژېدونکي هډوکي شو |
| قَالُواْ تِلۡكَ إِذٗا كَرَّةٌ خَاسِرَةٞ ﴿١٢﴾ | (12) دوی وويل: دغه (ګرځېدل) به په هغه وخت کې زيانمن ګرځېدل وي |
| فَإِنَّمَا هِيَ زَجۡرَةٞ وَٰحِدَةٞ ﴿١٣﴾ | (13) پس بېشکه دغه خو بس يوه چغه ده |
| فَإِذَا هُم بِٱلسَّاهِرَةِ ﴿١٤﴾ | (14) نو ناڅاپه به دوی د ځمکې په مخ وي |
| هَلۡ أَتَىٰكَ حَدِيثُ مُوسَىٰٓ ﴿١٥﴾ | (15) ايا تا ته د موسٰی خبره راغلې ده |
| إِذۡ نَادَىٰهُ رَبُّهُۥ بِٱلۡوَادِ ٱلۡمُقَدَّسِ طُوًى ﴿١٦﴾ | (16) کله چې ده ته خپل رب په پاکې دَرې (ناو) ’’طُوٰی‘‘ کې اواز وکړ |
| ٱذۡهَبۡ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ إِنَّهُۥ طَغَىٰ ﴿١٧﴾ | (17) ته فرعون ته لاړ شه، بېشکه ده سرکشي شروع کړې ده |
| فَقُلۡ هَل لَّكَ إِلَىٰٓ أَن تَزَكَّىٰ ﴿١٨﴾ | (18) نو ته (ورته) ووايه: ايا ته دا خوښوې چې |

ته پاك شې

وَأَهۡدِيَكَ إِلَىٰ رَبِّكَ فَتَخۡشَىٰ ﴿١٩﴾
(19) او دا چې زه تا ته ستا د رب په طرف ښوونه وکړم، پس چې ته ووېرېږې

فَأَرَىٰهُ ٱلۡأٓيَةَ ٱلۡكُبۡرَىٰ ﴿٢٠﴾
(20) نو ده (موسٰی) دغه (فرعون) ته تر ټولو لويه نښه وښودله

فَكَذَّبَ وَعَصَىٰ ﴿٢١﴾
(21) نو ده تكذيب وكړ او نافرماني يې وكړه

ثُمَّ أَدۡبَرَ يَسۡعَىٰ ﴿٢٢﴾
(22) بیا یې شا كړه (او) په ډېره بیړه سره لاړ

فَحَشَرَ فَنَادَىٰ ﴿٢٣﴾
(23) نو ده (جادوګر) راجمع كړل، پس اواز يې وكړ

فَقَالَ أَنَا۠ رَبُّكُمُ ٱلۡأَعۡلَىٰ ﴿٢٤﴾
(24) نو ويې ويل:زه ستاسو رب يم، تر ټولو اوچت (رب)

فَأَخَذَهُ ٱللَّهُ نَكَالَ ٱلۡأٓخِرَةِ وَٱلۡأُولَىٰٓ ﴿٢٥﴾
(25) نو دى الله راونیوه په عذاب د اخرت او دنیا سره

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبۡرَةٗ لِّمَن يَخۡشَىٰٓ ﴿٢٦﴾
(26) بېشكه په دغه (غرقولو او سوځولو) كې يقينًا د هغه چا لپاره عبرت دى چې (له الله نه) وېرېږي

ءَأَنتُمۡ أَشَدُّ خَلۡقًا أَمِ ٱلسَّمَآءُۚ
(27) ايا تاسو د پيدا كولو په لحاظ ډېر سخت

| | |
|---|---|
| بَنَىٰهَا ٢٧ | يئ، يا كه اسمان، دغه هغه (الله) جوړ کړی دی |
| رَفَعَ سَمْكَهَا فَسَوَّىٰهَا ٢٨ | (28) د ده چت يې اوچت کړی دی، نو دغه يې ښه برابر جوړ کړی دی |
| وَأَغْطَشَ لَيْلَهَا وَأَخْرَجَ ضُحَىٰهَا ٢٩ | (29) او د ده شپه يې توره تياره کړې ده او د ده رڼا يې راوېستلې ده |
| وَٱلْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحَىٰهَآ ٣٠ | (30) او ځمکه يې له ده نه وروسته غوړولې ده |
| أَخْرَجَ مِنْهَا مَآءَهَا وَمَرْعَىٰهَا ٣١ | (31) ده له دغې (ځمکې) نه د دې اوبه او د دې واښه راايستلي دي |
| وَٱلْجِبَالَ أَرْسَىٰهَا ٣٢ | (32) او غرونو لره، ده دغه محکم کړي دي |
| مَتَٰعًا لَّكُمْ وَلِأَنْعَٰمِكُمْ ٣٣ | (33) ستاسو او ستاسو د څاريو د فايدې لپاره |
| فَإِذَا جَآءَتِ ٱلطَّآمَّةُ ٱلْكُبْرَىٰ ٣٤ | (34) نو كله چې تر ټولو لويه بلا (قيامت) راشي |
| يَوْمَ يَتَذَكَّرُ ٱلْإِنسَٰنُ مَا سَعَىٰ ٣٥ | (35) په هغه ورځ چې انسان به هغه څه يادوي چې ده کړي وي |
| وَبُرِّزَتِ ٱلْجَحِيمُ لِمَن يَرَىٰ ٣٦ | (36) او دوزخ به هغه چا ته ښکاره کړی شي چې يېويني |

| | |
|---|---|
| فَأَمَّا مَن طَغَىٰ ﴿٣٧﴾ | (37) نو هر چې هغه څوك دى چې سركشي يې كړې وي |
| وَءَاثَرَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا ﴿٣٨﴾ | (38) او دنيايي ژوند ته يې ترجيح وركړې وي |
| فَإِنَّ ٱلۡجَحِيمَ هِيَ ٱلۡمَأۡوَىٰ ﴿٣٩﴾ | (39) نو بېشكه چې هم دا دوزخ (د ده) استوګنه ده |
| وَأَمَّا مَنۡ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ وَنَهَى ٱلنَّفۡسَ عَنِ ٱلۡهَوَىٰ ﴿٤٠﴾ | (40) او هر چې هغه څوك دى چې د خپل رب په وړاندې له ودرېدلو نه وېرېدلى وي او نفس (ځان) يې له خواهشاتو نه منع كړى وي |
| فَإِنَّ ٱلۡجَنَّةَ هِيَ ٱلۡمَأۡوَىٰ ﴿٤١﴾ | (41) نو بېشكه چې هم دا جنت (د ده) استوګنه ده |
| يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلسَّاعَةِ أَيَّانَ مُرۡسَىٰهَا ﴿٤٢﴾ | (42) (اى نبي!) دوى له تا نه د قيامت په باره كې پوښتنه كوي چې د ده واقع كېدل به كله وي |
| فِيمَ أَنتَ مِن ذِكۡرَىٰهَآ ﴿٤٣﴾ | (43) ته د ده له ياده (علمه) په څه كې يې |
| إِلَىٰ رَبِّكَ مُنتَهَىٰهَآ ﴿٤٤﴾ | (44) خاص ستا رب ته د دغه (قيامت) انتها ده |

إِنَّمَآ أَنتَ مُنذِرُ مَن يَخۡشَىٰهَا ﴿٤٥﴾

(45) ببشکه ته خو یواځې د هغه چا وېروونکی یې چې له ده (قیامت) نه وېرېږي

كَأَنَّهُمۡ يَوۡمَ يَرَوۡنَهَا لَمۡ يَلۡبَثُوٓاْ إِلَّا عَشِيَّةً أَوۡ ضُحَىٰهَا ﴿٤٦﴾

(46) ګویاکې دوی به په هغې ورځې کې چې دوی دغه (قیامت) ووینې (داسې به وي لکه چې) دوی (په دنیا، یا په قبر کې) نه دي ایسار شوي مګر د ورځې اخر، یا ځاښت

## سُورَةُ عَبَسَ

## سورة عبس

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

عَبَسَ وَتَوَلَّىٰٓ ﴿١﴾

(1) ده تندی تریو کړ او مخ یې وګرځاوه

أَن جَآءَهُ ٱلۡأَعۡمَىٰ ﴿٢﴾

(2) په دې وجه چې ده ته ړوند راغی

وَمَا يُدۡرِيكَ لَعَلَّهُۥ يَزَّكَّىٰٓ ﴿٣﴾

(3) او ته څه شي پوه کړی یې، ښایي چې دی پاك شي

أَوۡ يَذَّكَّرُ فَتَنفَعَهُ ٱلذِّكۡرَىٰٓ ﴿٤﴾

(4) یا به دی نصیحت (او پند) واخلي، نو ده ته به پند نفع ورسوي

أَمَّا مَنِ ٱسۡتَغۡنَىٰ ﴿٥﴾

(5) هر چې هغه څوك دی چې استغنا یې کړې ده

| | |
|---|---|
| فَأَنتَ لَهُۥ تَصَدَّىٰ ۝٦ | (6) نو ته په هغه پسې کېږې |
| وَمَا عَلَيۡكَ أَلَّا يَزَّكَّىٰ ۝٧ | (7) حال دا چې په تا هېڅ الزام نشته چې هغه پاك نشي |
| وَأَمَّا مَن جَآءَكَ يَسۡعَىٰ ۝٨ | (8) او هر چې هغه څوك دى چې تا ته په منډو راځي |
| وَهُوَ يَخۡشَىٰ ۝٩ | (9) په داسې حال كې چې دى (له الله نه) وېرېږي |
| فَأَنتَ عَنۡهُ تَلَهَّىٰ ۝١٠ | (10) نو ته له هغه نه مشغولېږې |
| كَلَّآ إِنَّهَا تَذۡكِرَةٞ ۝١١ | (11) داسې كله هم مه كوه، بېشكه دا (سورت) يو پند (او نصيحت) دى |
| فَمَن شَآءَ ذَكَرَهُۥ ۝١٢ | (12) نو هغه څوك چې غواړي (نو) دى دې ومني |
| فِي صُحُفٖ مُّكَرَّمَةٖ ۝١٣ | (13) (دغه) په عزتمنو پاڼو كې دى |
| مَّرۡفُوعَةٖ مُّطَهَّرَةِۭ ۝١٤ | (14) چې پورته كړى شوې، ښې پاكې كړى شوې دي |
| بِأَيۡدِي سَفَرَةٖ ۝١٥ | (15) د ليكونكو (ملايكو) په لاسونو كې |

كِرَامِۭ بَرَرَةٖ ﴿١٦﴾

(16) چې ډېر عزتمن، ډېر نېك دي

قُتِلَ ٱلۡإِنسَٰنُ مَآ أَكۡفَرَهُۥ ﴿١٧﴾

(17) انسان دې هلاك كړى شي، دى څومره ډېر ناشكره دى!

مِنۡ أَيِّ شَيۡءٍ خَلَقَهُۥ ﴿١٨﴾

(18) دى دغه (الله) له څه شي نه پيدا كړى دى؟

مِن نُّطۡفَةٍ خَلَقَهُۥ فَقَدَّرَهُۥ ﴿١٩﴾

(19) له نطفې نه، دى يې پيدا كړى دى، پس دى يې اندازه كړى دى

ثُمَّ ٱلسَّبِيلَ يَسَّرَهُۥ ﴿٢٠﴾

(20) بيا يې ده ته لاره ور اسانه كړې ده

ثُمَّ أَمَاتَهُۥ فَأَقۡبَرَهُۥ ﴿٢١﴾

(21) بيا يې دى مړ كړ، نو دى يې په قبر كې كېښنود

ثُمَّ إِذَا شَآءَ أَنشَرَهُۥ ﴿٢٢﴾

(22) بيا چې كله وغواړي دى به ژوندى كړي

كَلَّا لَمَّا يَقۡضِ مَآ أَمَرَهُۥ ﴿٢٣﴾

(23) داسې نه ده، دغه (انسان) هغه كار نه دى كړى چې دغه (الله) ده ته حكم كړى دى

فَلۡيَنظُرِ ٱلۡإِنسَٰنُ إِلَىٰ طَعَامِهِۦٓ ﴿٢٤﴾

(24) نو انسان دې خپل طعام ته وګوري

أَنَّا صَبَبۡنَا ٱلۡمَآءَ صَبّٗا ﴿٢٥﴾

(25) چې بېشكه مونږ اوبه راتوى كړې دي، راتويول

ثُمَّ شَقَقۡنَا ٱلۡأَرۡضَ شَقّٗا ٢٦
(26) بيا مونږ ځمکه خیرې کړې ده، څیرول

فَأَنۢبَتۡنَا فِيهَا حَبّٗا ٢٧
(27) نو مونږ په دې کې داني را زرغونه کړې دي

وَعِنَبٗا وَقَضۡبٗا ٢٨
(28) او انګور او ترکاریاني

وَزَيۡتُونٗا وَنَخۡلٗا ٢٩
(29) او زیتون او کجورې

وَحَدَآئِقَ غُلۡبٗا ٣٠
(30) او ګڼ باغونه

وَفَٰكِهَةٗ وَأَبّٗا ٣١
(31) او میوې او ګیاه (واښه)

مَّتَٰعٗا لَّكُمۡ وَلِأَنۡعَٰمِكُمۡ ٣٢
(32) ستاسو او ستاسو د څارویو د فایدې لپاره

فَإِذَا جَآءَتِ ٱلصَّآخَّةُ ٣٣
(33) نو کله چې سخت اواز راشي

يَوۡمَ يَفِرُّ ٱلۡمَرۡءُ مِنۡ أَخِيهِ ٣٤
(34) په هغه ورځ چې سړی به له خپل وروره تښتي

وَأُمِّهِۦ وَأَبِيهِ ٣٥
(35) او له خپلې مور او خپل پلاره

وَصَٰحِبَتِهِۦ وَبَنِيهِ ٣٦
(36) او له خپلې ښځې او خپلو زامنو نه

لِكُلِّ ٱمۡرِيٕٖ مِّنۡهُمۡ يَوۡمَئِذٖ شَأۡنٞ
(37) په دوی کې د هر سړي لپاره به په دغه

| | |
|---|---|
| يُغۡنِيهِ ٣٧ | ورځ کې يو حال وي چې دی به (له نورو نه) بې پروا (بې غوره) کوي |
| وُجُوهٞ يَوۡمَئِذٖ مُّسۡفِرَةٞ ٣٨ | (38) ځه مخونه به په دغې ورځ کې روښانه وي |
| ضَاحِكَةٞ مُّسۡتَبۡشِرَةٞ ٣٩ | (39) خندېدونکي (او) خوشاله به وي |
| وَوُجُوهٞ يَوۡمَئِذٍ عَلَيۡهَا غَبَرَةٞ ٤٠ | (40) او ځه مخونه به په دغې ورځ کې پر هغو به گرد پروت وي |
| تَرۡهَقُهَا قَتَرَةٌ ٤١ | (41) دغه (مخونه) به توروالي پټ کړي وي |
| أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَفَرَةُ ٱلۡفَجَرَةُ ٤٢ | (42) دغه (تور مخي) خلق هم دوی کافران (او) فاجران (بدکاران) دي |

## سُورَةُ التَّكۡوِيرِ | سورة تکویر

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى**

| | |
|---|---|
| إِذَا ٱلشَّمۡسُ كُوِّرَتۡ ١ | (1) كله چې لمر ونغښتل شي |
| وَإِذَا ٱلنُّجُومُ ٱنكَدَرَتۡ ٢ | (2) او كله چې ستوري خړ شي |

| | |
|---|---|
| وَإِذَا ٱلۡجِبَالُ سُيِّرَتۡ ٣ | (3) او کله چې غرونه روان کړل شي |
| وَإِذَا ٱلۡعِشَارُ عُطِّلَتۡ ٤ | (4) او کله چې د لسو میاشتو بلاربې اوښې معطلې (ازادې) پرېښودی شي |
| وَإِذَا ٱلۡوُحُوشُ حُشِرَتۡ ٥ | (5) او کله چې وحشي ځناوران راجمع کړل شي |
| وَإِذَا ٱلۡبِحَارُ سُجِّرَتۡ ٦ | (6) او کله چې دریابونه بل کړی شي |
| وَإِذَا ٱلنُّفُوسُ زُوِّجَتۡ ٧ | (7) او کله چې نفسونه جوړه کړل شي |
| وَإِذَا ٱلۡمَوۡءُۥدَةُ سُئِلَتۡ ٨ | (8) او کله چې ژوندۍ خښه کړی شوې جینۍ وپوښتی شي |
| بِأَيِّ ذَنۢبٖ قُتِلَتۡ ٩ | (9) چې دا په کومې ګناه وژل شوې ده |
| وَإِذَا ٱلصُّحُفُ نُشِرَتۡ ١٠ | (10) او کله چې اعمال نامې وغوړولی شي |
| وَإِذَا ٱلسَّمَآءُ كُشِطَتۡ ١١ | (11) او کله چې له اسمان نه پوستکی وویستل شي |
| وَإِذَا ٱلۡجَحِيمُ سُعِّرَتۡ ١٢ | (12) او کله چې دوزخ بلې لمبې کړی شي |
| وَإِذَا ٱلۡجَنَّةُ أُزۡلِفَتۡ ١٣ | (13) او کله چې جنت ښه نژدې کړی شي |

| | |
|---|---|
| عَلِمَتۡ نَفۡسٞ مَّآ أَحۡضَرَتۡ ١٤ | (14) هر نفس به په هغه شي پوه شي چې ده حاضر کړی وي |
| فَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلۡخُنَّسِ ١٥ | (15) نو زه قسم خورم په هغو (ستوريو) چې بېرته ګرځېدونکي دي |
| ٱلۡجَوَارِ ٱلۡكُنَّسِ ١٦ | (16) په روانو، پټېدونکو باندې |
| وَٱلَّيۡلِ إِذَا عَسۡعَسَ ١٧ | (17) او قسم خورم په شپې کله چې شروع شي |
| وَٱلصُّبۡحِ إِذَا تَنَفَّسَ ١٨ | (18) او په سبا کله چې دی ساه واخلي (روښانه شي) |
| إِنَّهُۥ لَقَوۡلُ رَسُولٖ كَرِيمٖ ١٩ | (19) بېشکه دا (قرآن) خامخا د ډېر عزتمن رسول قول دی |
| ذِي قُوَّةٍ عِندَ ذِي ٱلۡعَرۡشِ مَكِينٖ ٢٠ | (20) چې د عرش د مالك په نيز د قوت والا (او) د مرتبې والا دی |
| مُّطَاعٖ ثَمَّ أَمِينٖ ٢١ | (21) منلی شوی دی هلته، امين دی |
| وَمَا صَاحِبُكُم بِمَجۡنُونٖ ٢٢ | (22) او ستاسو ملګری (محمد ﷺ) له سره لېونی نه دی |
| وَلَقَدۡ رَءَاهُ بِٱلۡأُفُقِ ٱلۡمُبِينِ ٢٣ | (23) او يقينًا يقينًا ده دغه (جبريل د اسمان) |

| | |
|---|---|
| | په خرګنده غاړه کې لیدلی و |
| وَمَا هُوَ عَلَى ٱلْغَيْبِ بِضَنِينٍ ﴿٢٤﴾ | (24) او دی د وحي په بیانولو کې له سره بخل کوونکی نه دی |
| وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَيْطَٰنٍ رَّجِيمٍ ﴿٢٥﴾ | (25) او ببخي نه دی دا (قرآن) خبره د شیطان رټل شوي |
| فَأَيْنَ تَذْهَبُونَ ﴿٢٦﴾ | (26) نو تاسو (ای کافرانو!)چیرته ځئ؟ |
| إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿٢٧﴾ | (27) نه دی دا (قرآن) مگر د عالمونو لپاره نصیحت (او پند) |
| لِمَن شَآءَ مِنكُمْ أَن يَسْتَقِيمَ ﴿٢٨﴾ | (28) د هغه چا لپاره چې په تاسو کې غواړي چې دی نیغ برابر شي |
| وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢٩﴾ | (29) او تاسو د (د سمي لارې) اراده نشئ کولی مگر دا چې الله رب العلمین یې اراده وکړي |

## سُورَةُ الانفِطَارِ

## سورۀ انفطار

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنفَطَرَتۡ ١

(1) کله چې اسمان وچوي

وَإِذَا ٱلۡكَوَاكِبُ ٱنتَثَرَتۡ ٢

(2) او کله چې ستوري ګډوډ شي (او راولوېږي

وَإِذَا ٱلۡبِحَارُ فُجِّرَتۡ ٣

(3) او کله چې دریابونه یو ځای روان کړی شي

وَإِذَا ٱلۡقُبُورُ بُعۡثِرَتۡ ٤

(4) او کله چې قبرونه لاندې باندې کړی شي

عَلِمَتۡ نَفۡسٞ مَّا قَدَّمَتۡ وَأَخَّرَتۡ ٥

(5) هر نفس به په هغه څه پوه شي چې ده وړاندې لېږلي دي او وروسته يې پرېښې دي

يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡإِنسَٰنُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ ٱلۡكَرِيمِ ٦

(6) ای (کافره) انسانه! ته په خپل کریم (او سخي) رب باندې څه شي دوکه کړی يې

ٱلَّذِي خَلَقَكَ فَسَوَّىٰكَ فَعَدَلَكَ ٧

(7) هغه چې ته يې پيدا کړې، نو ته يې ښه برابر کړې

فِيٓ أَيِّ صُورَةٖ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ ٨

(8) په هر صورت (شکل) کې چې هغه غوښتل، ته يې پيوند (او جوړ) کړې

كَلَّا بَلۡ تُكَذِّبُونَ بِٱلدِّينِ ٩

(9) داسې بېخي نه ده، بلکې تاسو د بدلې ورځ (قيامت) دروغ ګڼئ

وَإِنَّ عَلَيۡكُمۡ لَحَٰفِظِينَ ١٠

(10) په داسې حال کې چې پر تاسو باندې ساتونکي (ملايك) مقرر دي

كِرَامٗا كَٰتِبِينَ ١١

(11) چې عزتمن ليکونکي دي

يَعۡلَمُونَ مَا تَفۡعَلُونَ ١٢

(12) دوى په هغه څه پوهېږي چې تاسو يې کوئ

إِنَّ ٱلۡأَبۡرَارَ لَفِي نَعِيمٖ ١٣

(13) بېشکه نېکان (مومنان) به خامخا په نعمتونو کې وي

وَإِنَّ ٱلۡفُجَّارَ لَفِي جَحِيمٖ ١٤

(14) او بېشکه چې بدکاران (کافران) به خامخا په جهنم کې وي

يَصۡلَوۡنَهَا يَوۡمَ ٱلدِّينِ ١٥

(15) دوى به ده ته د بدلې په ورځ ننوځي

وَمَا هُمۡ عَنۡهَا بِغَآئِبِينَ ١٦

(16) او دوى به له دغه (دوزخ) نه له سره پټېدونکي نه وي

وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا يَوۡمُ ٱلدِّينِ ١٧

(17) او ته څه شي پوه کړې چې د بدلې ورځ

(قیامت) څه شی دی؟

ثُمَّ مَآ أَدۡرَىٰكَ مَا يَوۡمُ ٱلدِّينِ ١٨

(18) بیا ته څه شي پوه کړې چې د بدلې ورځ څه شی دی

يَوۡمَ لَا تَمۡلِكُ نَفۡسٞ لِّنَفۡسٖ شَيۡـٔٗاۖ وَٱلۡأَمۡرُ يَوۡمَئِذٖ لِّلَّهِ ١٩

(19) (یاده کړه) هغه ورځ چې هېڅ یو نفس به د بل نفس لپاره د هېڅ شي اختیار ونه لري او په دغې ورځ کې به امر (حکم) خاص الله لره وي

## سُورَةُ المُطَفِّفِينَ

## سورۀ مطففين

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

وَيۡلٞ لِّلۡمُطَفِّفِينَ ١

(1) (په تول او پیمانه کې) کمې کوونکو لره هلاکت دی

ٱلَّذِينَ إِذَا ٱكۡتَالُواْ عَلَى ٱلنَّاسِ يَسۡتَوۡفُونَ ٢

(2) هغه کسان چې دوی له خلقو نه ځان ته پیمانه اخلي (، نو) پوره (یې) اخلي

وَإِذَا كَالُوهُمۡ أَو وَّزَنُوهُمۡ يُخۡسِرُونَ ٣

(3) او کله چې دغو (خلقو) ته پیمانه ورکوي، یا یې دوی ته تلي (،نو) کمی کوي

أَلَا يَظُنُّ أُوْلَٰٓئِكَ أَنَّهُم

(4) ایا دغه خلق یقین نه کوي چې بېشکه

| | |
|---|---|
| مَّبۡعُوثُونَ ٤ | دوی به بیا راژوندي کول شي |
| لِيَوۡمٍ عَظِيمٖ ٥ | (5) په ډېره لويه ورځ کې (د حساب لپاره) |
| يَوۡمَ يَقُومُ ٱلنَّاسُ لِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٦ | (6) هغه ورځ چې خلق به ”رب العلمين“ ته ودرېږي |
| كَلَّآ إِنَّ كِتَٰبَ ٱلۡفُجَّارِ لَفِي سِجِّينٖ ٧ | (7) هيڅکله داسې نه ده په کار، ببشکه د فاجرانو (کافرانو) کتاب (ليکل شوي عملونه) خامخا په سجين کې دي |
| وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا سِجِّينٞ ٨ | (8) او ته څه شي پوه کړې چې سجين څه شی دی |
| كِتَٰبٞ مَّرۡقُومٞ ٩ | (9) يو دفتر (کتاب) دی ليکل شوی |
| وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ١٠ | (10) په دغې ورځ کې د دروغ گڼونکو لپاره هلاکت دی |
| ٱلَّذِينَ يُكَذِّبُونَ بِيَوۡمِ ٱلدِّينِ ١١ | (11) هغه کسان چې د بدلې ورځ دروغ گڼي |
| وَمَا يُكَذِّبُ بِهِۦٓ إِلَّا كُلُّ مُعۡتَدٍ أَثِيمٍ ١٢ | (12) او دغه (ورځ) دروغ نه گڼي مگر هر زياتي کوونکی، سخت گناه گار |
| إِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِ ءَايَٰتُنَا قَالَ أَسَٰطِيرُ | (13) کله چې ده ته زموږ ايتونه تلاوت کولی شي؛ دی وايي: (دا) د ړومبنيو (خلقو) باطلې |

| | |
|---|---|
| ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿١٣﴾ | قصې دي |
| كَلَّاۖ بَلۡۜ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴿١٤﴾ | (14) داسې نه ده، بلکې د دوی په زړونو باندې هغو (د ګناه عملونو) زنګ لګولی دی چې دوی به کول |
| كَلَّآ إِنَّهُمۡ عَن رَّبِّهِمۡ يَوۡمَئِذٖ لَّمَحۡجُوبُونَ ﴿١٥﴾ | (15) داسې نه ده په کار، بېشکه دوی به په دغې ورځ کې له خپل رب نه یقینًا په حجاب (بند) کړی شوي وي |
| ثُمَّ إِنَّهُمۡ لَصَالُواْ ٱلۡجَحِيمِ ﴿١٦﴾ | (16) بیا بېشکه دوی یقینًا دوزخ ته ننوتونکي دي |
| ثُمَّ يُقَالُ هَٰذَا ٱلَّذِي كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ﴿١٧﴾ | (17) بیا به (دوی ته) ویلی شي: دا هغه (دوزخ) دی چې تاسو به دا دروغ ګاڼه |
| كَلَّآ إِنَّ كِتَٰبَ ٱلۡأَبۡرَارِ لَفِي عِلِّيِّينَ ﴿١٨﴾ | (18) داسې نه ده، بېشکه د نېکانو (خلقو) عملنامې (لیکلی کتاب) خامخا په ’’علّیین‘‘ کې دي |
| وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا عِلِّيُّونَ ﴿١٩﴾ | (19) او ته څه شي پوه کړې چې ’’علّیون‘‘ څه شی دی |
| كِتَٰبٞ مَّرۡقُومٞ ﴿٢٠﴾ | (20) یو دفتر (کتاب) دی چې لیکل شوی دی |

| | |
|---|---|
| يَشۡهَدُهُ ٱلۡمُقَرَّبُونَ ٢١ | (21) چې ده ته مقرب (بنده ګان او ملايك) حاضرېږي |
| إِنَّ ٱلۡأَبۡرَارَ لَفِي نَعِيمٍ ٢٢ | (22) بېشكه نېكان خلق يقينًا په نعمتونو كې دي |
| عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِ يَنظُرُونَ ٢٣ | (23) دوى به په تختونو باندې (ناست) وي، ګوري به |
| تَعۡرِفُ فِي وُجُوهِهِمۡ نَضۡرَةَ ٱلنَّعِيمِ ٢٤ | (24) (اى كتونكيه!) ته به د دوى په مخونو كې د نعمتونو تازګي وينې |
| يُسۡقَوۡنَ مِن رَّحِيقٖ مَّخۡتُومٍ ٢٥ | (25) په دوى به مُهر (ټاپه)كړى شوي خالص شراب څښولى شي |
| خِتَٰمُهُۥ مِسۡكٞۚ وَفِي ذَٰلِكَ فَلۡيَتَنَافَسِ ٱلۡمُتَنَٰفِسُونَ ٢٦ | (26) چې د دغو مُهر (ټاپه) به مشك وي، او په دغه (نعمتونو) كې، پس په كار ده چې رغبت كوونكي رغبت وكړي |
| وَمِزَاجُهُۥ مِن تَسۡنِيمٍ ٢٧ | (27) د دغو (شرابو) ګډون له تسنيم (چينې) څخه دى |
| عَيۡنٗا يَشۡرَبُ بِهَا ٱلۡمُقَرَّبُونَ ٢٨ | (28) چې يوه چينه ده چې له دې نه به د (الله) مقربين څښي |
| إِنَّ ٱلَّذِينَ أَجۡرَمُواْ كَانُواْ مِنَ ٱلَّذِينَ | (29) بېشكه هغه كسان چې جرم (د كفر) يې |

ءَامَنُواْ يَضۡحَكُونَ ﴿٢٩﴾

کړی دی، دوی به په هغو کسانو پورې خندا کوله چې ایمان یې راوړی و

وَإِذَا مَرُّواْ بِهِمۡ يَتَغَامَزُونَ ﴿٣٠﴾

(30) او کله چې به د دوی (مومنانو) په خوا کې تېرېدل (نو) په خپلو منځونو کې به یې سترګکونه وهل

وَإِذَا ٱنقَلَبُوٓاْ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِمُ ٱنقَلَبُواْ فَكِهِينَ ﴿٣١﴾

(31) او کله چې به دوی خپلو کورونو ته واپس کېدل (نو) خوشاله به واپس کېدل

وَإِذَا رَأَوۡهُمۡ قَالُوٓاْ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَضَآلُّونَ ﴿٣٢﴾

(32) او کله چې به دوی دغه (مسلمانان) ولیدل (نو) ویل به یې: بېشکه دغه خلق یقینًا ګمراهان دي

وَمَآ أُرۡسِلُواْ عَلَيۡهِمۡ حَٰفِظِينَ ﴿٣٣﴾

(33) حال دا چې دوی په دغو (مومنانو) باندې نګرانان (څوکیداران) نه وو لېږل شوي

فَٱلۡيَوۡمَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنَ ٱلۡكُفَّارِ يَضۡحَكُونَ ﴿٣٤﴾

(34) نو په نن ورځ به هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی؛ په کافرانو پورې خندا کوي

عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِ يَنظُرُونَ ﴿٣٥﴾

(35) په تختونو باندې به ناست وي، چې ګوري به

هَلۡ ثُوِّبَ ٱلۡكُفَّارُ مَا كَانُواْ يَفۡعَلُونَ ﴿٣٦﴾

(36) یقینًا کافرانو ته د هغه څه بدله ورکړی شوه چې دوی به کول

## سُورَةُ الانشِقَاقِ

## سورة انشقاق

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنشَقَّتۡ ١

(1) کله چې اسمان څیرې شي

وَأَذِنَتۡ لِرَبِّهَا وَحُقَّتۡ ٢

(2) او خپل رب ته غوږ کېږدي او دی (اسمان) د همدې لايق دی

وَإِذَا ٱلۡأَرۡضُ مُدَّتۡ ٣

(3) او کله چې ځمکه راښکلی شي

وَأَلۡقَتۡ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتۡ ٤

(4) او هغه څه د باندې وغورځوي چې په دې کې دي او خالي شي

وَأَذِنَتۡ لِرَبِّهَا وَحُقَّتۡ ٥

(5) او خپل رب ته غوږ کېږدي او دا د همدې لايق ده

يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡإِنسَٰنُ إِنَّكَ كَادِحٌ إِلَىٰ رَبِّكَ كَدۡحٗا فَمُلَٰقِيهِ ٦

(6) ای انسانه! بېشکه ته په پوره کوشش سره کار کوونکی يې تر خپل ربه (سره د ملاقات پورې)، نبه په کوشش سره کار کول، پس ته له دغه (خپل عمل) سره ملاقات کوونکی يې

فَأَمَّا مَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ

(7) نو هر چې هغه څوك دی چې هغه ته خپل کتاب (عمل نامه) په ښي لاس کې

| | |
|---|---|
| بِيَمِينِهِۦ ﴿٧﴾ | ورکړی شي |
| فَسَوۡفَ يُحَاسَبُ حِسَابٗا يَسِيرٗا ﴿٨﴾ | (8) نو ژر ده چې له ده سره به حساب وکړی شي، ډېر اسان حساب |
| وَيَنقَلِبُ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِۦ مَسۡرُورٗا ﴿٩﴾ | (9) او دی به خپل اهل ته خوشاله وګرځي |
| وَأَمَّا مَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ وَرَآءَ ظَهۡرِهِۦ ﴿١٠﴾ | (10) او هر چې هغه څوك دی چې هغه ته خپل کتاب (عمل نامه) له خپلې شا نه وروسته ورکړی شي |
| فَسَوۡفَ يَدۡعُواْ ثُبُورٗا ﴿١١﴾ | (11) نو دی به ژر هلاکت ته چغې کړي |
| وَيَصۡلَىٰ سَعِيرًا ﴿١٢﴾ | (12) او د دوزخ بل اور ته به ننوځي |
| إِنَّهُۥ كَانَ فِيٓ أَهۡلِهِۦ مَسۡرُورًا ﴿١٣﴾ | (13) بېشکه دی په خپل اهل کې خوشاله و |
| إِنَّهُۥ ظَنَّ أَن لَّن يَحُورَ ﴿١٤﴾ | (14) بېشکه ده یقین کړی و چې دی به له سره بېرته (الله ته) ونه ګرځي |
| بَلَىٰٓۚ إِنَّ رَبَّهُۥ كَانَ بِهِۦ بَصِيرٗا ﴿١٥﴾ | (15) ولې نه! بېشکه د ده رب ده لره تل ښه لیدونکی و |
| فَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلشَّفَقِ ﴿١٦﴾ | (16) نو زه قسم خورم په شفق (له ماښام نه پس په سوروالي) |

وَٱلَّيۡلِ وَمَا وَسَقَ ١٧

(17) او په شپه او په هغه څه چې دې راجمع کړې دي

وَٱلۡقَمَرِ إِذَا ٱتَّسَقَ ١٨

(18) او په سپوږمۍ کله چې دا کامله شي

لَتَرۡكَبُنَّ طَبَقًا عَن طَبَقٖ ١٩

(19) چې تاسو به خامخا ضرور رسېږئ يو حال ته وروسته له بل حال نه

فَمَا لَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ٢٠

(20) نو په دوی څه شوي دي چې دوی ايمان نه راوړي

وَإِذَا قُرِئَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقُرۡءَانُ لَا يَسۡجُدُونَ۩ ٢١

(21) او کله چې په دوی باندې قرآن لوستی شي دوی سجده نه کوي

بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُكَذِّبُونَ ٢٢

(22) بلکې هغه کسان چې کافران شوي دي؛ هغوی تکذيب کوي

وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا يُوعُونَ ٢٣

(23) او الله ښه عالم دی په هغه څه چې دوی يې پټ ساتي

فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ٢٤

(24) نو ته دوی ته د ډېر دردوونکي عذاب زېرې ورکړه

إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمۡ أَجۡرٌ غَيۡرُ

(25) غير له هغو کسانو نه چې ايمان يې راوړی دی او نېك عملونه يې کړي دي، د

مَمۡنُونِۭ ﴿٢٥﴾

دوی لپاره نه ختمېدونکی اجر دی

## سُورَةُ البُرُوجِ

## سورۀ بروج

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلۡبُرُوجِ ﴿١﴾

(1) قسم دی په اسمان چې خاوند د برجونو دی

وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡمَوۡعُودِ ﴿٢﴾

(2) او په وعده کړی شوي ورځې(د قیامت)

وَشَاهِدٖ وَمَشۡهُودٖ ﴿٣﴾

(3) او په گواه یا حاضرېدونکي او په هغې (ورځې) چې هغې ته حاضري کولی شي (چې د قیامت ورځ ده)

قُتِلَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡأُخۡدُودِ ﴿٤﴾

(4) هلاك دي کړی شي خاوندان د خندق

ٱلنَّارِ ذَاتِ ٱلۡوَقُودِ ﴿٥﴾

(5) چې (په کې) اور و د بلېدلو (او لرگو) والا

إِذۡ هُمۡ عَلَيۡهَا قُعُودٞ ﴿٦﴾

(6) کله چې دوی په (غاړو د) هغو ناست وو

وَهُمۡ عَلَىٰ مَا يَفۡعَلُونَ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ شُهُودٞ ﴿٧﴾

(7) او دوی هغه څه ته چې دوی به په مومنانو باندې کول؛ حاضر وو

| | |
|---|---|
| وَمَا نَقَمُواْ مِنۡهُمۡ إِلَّآ أَن يُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَمِيدِ ٨ | (8) او دوی له دغو (مومنانو) نه هېڅ عیب نه لیده مګر دا چې دوی په الله باندې ایمان راوړی و، چې ډېر غالب، ښه ستایل شوی دی |
| ٱلَّذِي لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ ٩ | (9) هغه (الله) چې خاص د هغه لپاره د اسمانونو او ځمکې بادشاهي ده او الله په هر شي باندې ښه خبردار (او ګواه) دی |
| إِنَّ ٱلَّذِينَ فَتَنُواْ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ ثُمَّ لَمۡ يَتُوبُواْ فَلَهُمۡ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمۡ عَذَابُ ٱلۡحَرِيقِ ١٠ | (10) بېشکه هغه کسان چې مومنان سړي او مومنې ښځې يې په فتنه (عذاب) کې اچولي وي، بیا يې توبه نه وي ایستلې، نو د دوی لپاره د جهنم (دوزخ) عذاب دی او د دوی لپاره د ډېر سوځوونکي اور عذاب دی |
| إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمۡ جَنَّٰتٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡكَبِيرُ ١١ | (11) بېشکه هغه کسان چې ایمان يې راوړی دی او نېک عملونه يې کړي دي د دوی لپاره داسې جنتونه دي چې د هغو له لاندې ولې بهېږي، همدغه ډېره لویه کامیابي ده |
| إِنَّ بَطۡشَ رَبِّكَ لَشَدِيدٌ ١٢ | (12) بېشکه ستا د رب نیول یقینًا ډېر سخت دي |
| إِنَّهُۥ هُوَ يُبۡدِئُ وَيُعِيدُ ١٣ | (13) بېشکه هم دغه (الله) اول ځلي پیدا کوي او دویم ځلي پیدا کوي |

| | |
|---|---|
| وَهُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلۡوَدُودُ ١٤ | (14) او هم دی ډېر بخښونکی، ډېر محبت کوونکی دی |
| ذُو ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡمَجِيدُ ١٥ | (15) د عرش مالك دی، لوی شان (او عزت) والا دی |
| فَعَّالٞ لِّمَا يُرِيدُ ١٦ | (16) ډېر کوونکی دی هغه څه لره چې دی يې اراده وکړي |
| هَلۡ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ٱلۡجُنُودِ ١٧ | (17) ايا تا ته د لښکرو خبر راغلی دی؟ |
| فِرۡعَوۡنَ وَثَمُودَ ١٨ | (18) چې فرعونيان او ثموديان وو |
| بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِي تَكۡذِيبٖ ١٩ | (19) بلکې هغه کسان چې کافران شوي دي په دروغ ګڼلو کې (لګيا) دي |
| وَٱللَّهُ مِن وَرَآئِهِم مُّحِيطُۢ ٢٠ | (20) او الله د دوی له چاپېره نه راګېروونکی دی |
| بَلۡ هُوَ قُرۡءَانٞ مَّجِيدٞ ٢١ | (21) بلکې دغه د لوی قدر والا قرآن دی |
| فِي لَوۡحٖ مَّحۡفُوظِۭ ٢٢ | (22) په لوح محفوظ کې دی |

## سُورَةُ الطَّارِقِ

## سورة طارق

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

وَٱلسَّمَآءِ وَٱلطَّارِقِ ١

(1) قسم دی په اسمان او د شپې په راتلونکي

وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلطَّارِقُ ٢

(2) او ته څه شي پوه کړې چې د شپې راتلونکی څه شی دی؟

ٱلنَّجۡمُ ٱلثَّاقِبُ ٣

(3) ځلېدونکی ستوری دی

إِن كُلُّ نَفۡسٖ لَّمَّا عَلَيۡهَا حَافِظٞ ٤

(4) نشته هېڅ يو نفس مگر په هغه باندې څارونکی (ساتونکی) شته

فَلۡيَنظُرِ ٱلۡإِنسَٰنُ مِمَّ خُلِقَ ٥

(5) نو انسان دې وگوري چې دی له څه شي نه پيدا کړی شوی دی؟

خُلِقَ مِن مَّآءٖ دَافِقٖ ٦

(6) دی له تويې وهونکو اوبو نه پيدا کړی شوی دی

يَخۡرُجُ مِنۢ بَيۡنِ ٱلصُّلۡبِ وَٱلتَّرَآئِبِ ٧

(7) چې د شا او له سينو د هډوکو له مينځ نه راوځي

| | |
|---|---|
| إِنَّهُۥ عَلَىٰ رَجۡعِهِۦ لَقَادِرٞ ٨ | (8) بېشکه دغه (الله) د دغه (انسان) په بیا راژوندي کولو یقینًا قادر دی |
| يَوۡمَ تُبۡلَى ٱلسَّرَآئِرُ ٩ | (9) په هغې ورځ چې د پټو څیزونو به (په کي) څېړنه (او څرګندونه) کولی شي |
| فَمَا لَهُۥ مِن قُوَّةٖ وَلَا نَاصِرٖ ١٠ | (10) نو د دغه (انسان) لپاره به نه هېڅ قوت وي او نه څوك مدد کوونکی |
| وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلرَّجۡعِ ١١ | (11) قسم دی په اسمان چې خاوند د باران دی |
| وَٱلۡأَرۡضِ ذَاتِ ٱلصَّدۡعِ ١٢ | (12) او په ځمکه چې د (زرغوني راوتلو لپاره) چاودېدلو والا ده |
| إِنَّهُۥ لَقَوۡلٞ فَصۡلٞ ١٣ | (13) بېشکه دا (قرآن) یقینًا (د حق او باطل) بېلونکي وینا ده |
| وَمَا هُوَ بِٱلۡهَزۡلِ ١٤ | (14) او دا هیڅکله عبثه (او د ټوقو) خبره نه ده |
| إِنَّهُمۡ يَكِيدُونَ كَيۡدٗا ١٥ | (15) بېشکه دوی مکر او چل کوي، یو چل کول |
| وَأَكِيدُ كَيۡدٗا ١٦ | (16) او زه هم یو تدبیر کوم، تدبیر کول |

فَمَهِّلِ ٱلۡكَٰفِرِينَ أَمۡهِلۡهُمۡ رُوَيۡدَۢا ١٧

(17) نو ته کافرانو ته مهلت ورکړه، ته دوی ته لږ مهلت ورکړه

## سُورَةُ الأَعۡلَىٰ

## سورۀ اعلی

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

سَبِّحِ ٱسۡمَ رَبِّكَ ٱلۡأَعۡلَى ١

(1) ته پاکي بیان کړه د خپل رب د نامې چې تر ټولو اوچت دی

ٱلَّذِي خَلَقَ فَسَوَّىٰ ٢

(2) هغه چې پیدا یې کړل ټول شیان، پس بنه یې برابر کړل

وَٱلَّذِي قَدَّرَ فَهَدَىٰ ٣

(3) او هغه (رب) چې اندازه یې وکړه، پس لاره یې وښووله

وَٱلَّذِيٓ أَخۡرَجَ ٱلۡمَرۡعَىٰ ٤

(4) او هغه ذات چې تازه ګیاه یې را ایستلې ده

فَجَعَلَهُۥ غُثَآءً أَحۡوَىٰ ٥

(5) بیا یې هغه وګرځوله وچه توره

سَنُقۡرِئُكَ فَلَا تَنسَىٰٓ ٦

(6) ژر ده چې مونږ به په تا باندې (قرآن) ولولو، نو ته به یې نه هېروې

إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۚ إِنَّهُۥ يَعۡلَمُ ٱلۡجَهۡرَ وَمَا يَخۡفَىٰ ۝٧

(7) مگر هغه چې الله يې وغواړي، بېشکه دغه (الله) په ښکاره و پوهېږي او په هغه څه چې پټ وي

وَنُيَسِّرُكَ لِلۡيُسۡرَىٰ ۝٨

(8) او مونږ به تا ته اساني لارې ته اسانتيا درکوو

فَذَكِّرۡ إِن نَّفَعَتِ ٱلذِّكۡرَىٰ ۝٩

(9) نو ته نصيحت (پند) کوه که نصيحت کول نفع رسوي (يا بېشکه نصيحت کول نفع رسوي)

سَيَذَّكَّرُ مَن يَخۡشَىٰ ۝١٠

(10) ژر ده چې هغه څوك به پند واخلي چې وېرېږي

وَيَتَجَنَّبُهَا ٱلۡأَشۡقَى ۝١١

(11) او له دغه (نصيحت) نه به تر ټولو بدبخته ډډه کوي

ٱلَّذِي يَصۡلَى ٱلنَّارَ ٱلۡكُبۡرَىٰ ۝١٢

(12) هغه چې تر ټولو لوی اور ته به ننوځي

ثُمَّ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحۡيَىٰ ۝١٣

(13) بيا به دی په دغه (اور) کې نه مري او نه به ښه ژوند لري

قَدۡ أَفۡلَحَ مَن تَزَكَّىٰ ۝١٤

(14) يقينًا هغه څوك کامياب شو چې پاك شو

وَذَكَرَ ٱسۡمَ رَبِّهِۦ فَصَلَّىٰ ١٥

(15) او د خپل رب نامه يې ياده کړه، پس لمونځ يې وکړ

بَلۡ تُؤۡثِرُونَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا ١٦

(16) بلکې تاسو (په اخرت باندې) دنيايي ژوند غوره کوئ

وَٱلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ وَأَبۡقَىٰٓ ١٧

(17) حال دا چې اخرت ډېر غوره او تل ترتله دی

إِنَّ هَٰذَا لَفِي ٱلصُّحُفِ ٱلۡأُولَىٰ ١٨

(18) بېشکه دا (خبرې) يقينًا په ړومبنيو صحيفو کې هم دي

صُحُفِ إِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ ١٩

(19) د ابراهيم او موسی په صحيفو کې

## سُورَةُ الغَاشِيَةِ

## سورۀ غاشيه

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

هَلۡ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ٱلۡغَٰشِيَةِ ١

(1) ايا تا ته (يعني خلقو لره) د پټوونکې (قيامت) خبر راغلی دی؟

وُجُوهٞ يَوۡمَئِذٍ خَٰشِعَةٌ ٢

(2) څه مخونه به په دغې ورځ کې خوار (او) وېرېدونکي وي

عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ ﴿٣﴾

(3) سخت کار کوونکي، ستړي کېدونکي به وي

تَصۡلَىٰ نَارًا حَامِيَةً ﴿٤﴾

(4) ډېر ګرم اور ته به ننوځي

تُسۡقَىٰ مِنۡ عَيۡنٍ ءَانِيَةٍ ﴿٥﴾

(5) په دوی به له ډېرې ګرمې چينې نه اوبه څښولی شي

لَّيۡسَ لَهُمۡ طَعَامٌ إِلَّا مِن ضَرِيعٍ ﴿٦﴾

(6) د دوی لپاره به طعام نه وي مګر له اغزني ترخې ونې نه

لَّا يُسۡمِنُ وَلَا يُغۡنِي مِن جُوعٍ ﴿٧﴾

(7) چې نه څربول کوي او نه هېڅ لوږه لرې کوي

وُجُوهٌ يَوۡمَئِذٍ نَّاعِمَةٌ ﴿٨﴾

(8) څه مخونه به په دغې ورځ کې تروتازه وي

لِّسَعۡيِهَا رَاضِيَةٌ ﴿٩﴾

(9) په خپل کوشش به راضي (خوشاله) وي

فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿١٠﴾

(10) په اوچت جنت کې به وي

لَّا تَسۡمَعُ فِيهَا لَٰغِيَةً ﴿١١﴾

(11) دوی به په دغه (جنت) کې هېڅ بېکاره خبره نه اوري

فِيهَا عَيۡنٞ جَارِيَةٞ ﴿١٢﴾

(12) په دغه (جنت) کې روانه چينه ده

فِيهَا سُرُرٞ مَّرۡفُوعَةٞ ﴿١٣﴾

(13) په دغه (جنت) کې اوچت تختونه دي

وَأَكۡوَابٞ مَّوۡضُوعَةٞ ١٤
(14) او (په اندازې سره) ایښودل شوي جامونه دي

وَنَمَارِقُ مَصۡفُوفَةٞ ١٥
(15) او په قطار کې ایښودل شوي بالښتونه دي

وَزَرَابِيُّ مَبۡثُوثَةٌ ١٦
(16) او غوړول شوي اعلی فرشونه دي

أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى ٱلۡإِبِلِ كَيۡفَ خُلِقَتۡ ١٧
(17) ایا نو دوی اوښانو ته نه ګوري چې دوی څرنګه پیدا کړی شوي دي؟

وَإِلَى ٱلسَّمَآءِ كَيۡفَ رُفِعَتۡ ١٨
(18) او اسمان ته چې دی څنګه اوچت کړی شوی دی؟

وَإِلَى ٱلۡجِبَالِ كَيۡفَ نُصِبَتۡ ١٩
(19) او غرونو ته چې دوی څنګه ودرول شوي دي ؟

وَإِلَى ٱلۡأَرۡضِ كَيۡفَ سُطِحَتۡ ٢٠
(20) او ځمکې ته چې څنګه غوړول شوې ده؟

فَذَكِّرۡ إِنَّمَآ أَنتَ مُذَكِّرٞ ٢١
(21) نو ته پند ورکړه، بېشکه ته خو یواځې پند ورکوونکی یې

لَّسۡتَ عَلَيۡهِم بِمُصَيۡطِرٍ ٢٢
(22) ته په دوی باندې مسلط کړی شوی نه یې

إِلَّا مَن تَوَلَّىٰ وَكَفَرَ ٢٣
(23) مگر هغه څوك چې (له ايمانه) وګرځي او كافر شي

فَيُعَذِّبُهُ ٱللَّهُ ٱلۡعَذَابَ ٱلۡأَكۡبَرَ ٢٤
(24) نو الله به ده ته عذاب وركړي تر ټولو لوى عذاب

إِنَّ إِلَيۡنَآ إِيَابَهُمۡ ٢٥
(25) بېشكه خاص مونږ ته د دوى بېرته راتګ دى

ثُمَّ إِنَّ عَلَيۡنَا حِسَابَهُم ٢٦
(26) بيا يقينًا د دوى حساب زمونږ په غاړه دى

## سُورَةُ الفَجۡرِ

## سورۀ فجر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى**

وَٱلۡفَجۡرِ ١
(1) قسم دى په فجر (سبا) باندې

وَلَيَالٍ عَشۡرٖ ٢
(2) او په لسو شپو باندې

وَٱلشَّفۡعِ وَٱلۡوَتۡرِ ٣
(3) او په جفت او طاق باندې

وَٱلَّيۡلِ إِذَا يَسۡرِ ٤
(4) او په شپه باندې كله چې روانه وي

هَلۡ فِي ذَٰلِكَ قَسَمٞ لِّذِي حِجۡرٍ ٥
(5) ايا په دغو (قسمونو) کې خاوند د عقل لره (کوم قانع کوونکی) قسم شته؟

أَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ ٦
(6) ايا تا نه دي کتلي چې ستا رب څه وکړل له ’’قوم عاد‘‘ سره؟

إِرَمَ ذَاتِ ٱلۡعِمَادِ ٧
(7) چې ارم و د ستنو والا

ٱلَّتِي لَمۡ يُخۡلَقۡ مِثۡلُهَا فِي ٱلۡبِلَٰدِ ٨
(8) هغه چې په ښارونو کې د دوی په مثل نه و پيدا کړی شوي

وَثَمُودَ ٱلَّذِينَ جَابُواْ ٱلصَّخۡرَ بِٱلۡوَادِ ٩
(9) او ثموديانو سره (يې څه وکړل) هغه چې په دره کې يې تيګې غوڅې کړې (تراشلې) وې؟

وَفِرۡعَوۡنَ ذِي ٱلۡأَوۡتَادِ ١٠
(10) او له ميخونو والا فرعون سره (يې څه وکړل)

ٱلَّذِينَ طَغَوۡاْ فِي ٱلۡبِلَٰدِ ١١
(11) هغه کسان چې دوی په ښارونو کې سرکشي کړې وه

فَأَكۡثَرُواْ فِيهَا ٱلۡفَسَادَ ١٢
(12) نو په دغو کې يې فساد ډېر کړی و

فَصَبَّ عَلَيۡهِمۡ رَبُّكَ سَوۡطَ عَذَابٍ ١٣
(13) نو ستا رب په دوی باندې د عذاب قمچينه (کروړه) نازله کړه

| | |
|---|---|
| إِنَّ رَبَّكَ لَبِٱلۡمِرۡصَادِ ١٤ | (14) ببشکه ستا رب یقینًا په ځای د انتظار کې دی |
| فَأَمَّا ٱلۡإِنسَٰنُ إِذَا مَا ٱبۡتَلَىٰهُ رَبُّهُۥ فَأَكۡرَمَهُۥ وَنَعَّمَهُۥ فَيَقُولُ رَبِّيٓ أَكۡرَمَنِ ١٥ | (15) نو هر چې انسان دی، کله چې ده لره خپل رب وازمایي، پس ده ته عزت ورکړي او ده ته نعمت ورکړي، نو دی وایي: زما رب ما ته عزت راکړ |
| وَأَمَّآ إِذَا مَا ٱبۡتَلَىٰهُ فَقَدَرَ عَلَيۡهِ رِزۡقَهُۥ فَيَقُولُ رَبِّيٓ أَهَٰنَنِ ١٦ | (16) او خو هر کله چې دی وازمایي، پس په ده باندې د ده رزق تنګ کړي، نو دی وایي: زما رب زه سپک کړم |
| كَلَّاۖ بَل لَّا تُكۡرِمُونَ ٱلۡيَتِيمَ ١٧ | (17) داسې نه ده، بلکې تاسو د یتیم (سره احسان او د هغه) عزت نه کوئ |
| وَلَا تَحَٰٓضُّونَ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلۡمِسۡكِينِ ١٨ | (18) او مسکین ته په طعام ورکولو یو بل ته ترغیب نه ورکوئ |
| وَتَأۡكُلُونَ ٱلتُّرَاثَ أَكۡلٗا لَّمّٗا ١٩ | (19) او تاسو د میراث (پردی) مال خورئ، په خوړلو ټولو سره |
| وَتُحِبُّونَ ٱلۡمَالَ حُبّٗا جَمّٗا ٢٠ | (20) او تاسو له مال سره مینه کوئ، ډېره زیاته مینه |
| كَلَّآ إِذَا دُكَّتِ ٱلۡأَرۡضُ دَكّٗا | (21) داسې نه ده کله چې ځمکه وټکولی |

| | |
|---|---|
| دَكّٗا ٢١ | شي، په ټکولو ماتولو سختو سره |
| وَجَآءَ رَبُّكَ وَٱلۡمَلَكُ صَفّٗا صَفّٗا ٢٢ | (22) او ستا رب راشي او ملايك قطار (راشي) |
| وَجِاْيٓءَ يَوۡمَئِذِۭ بِجَهَنَّمَۚ يَوۡمَئِذٖ يَتَذَكَّرُ ٱلۡإِنسَٰنُ وَأَنَّىٰ لَهُ ٱلذِّكۡرَىٰ ٢٣ | (23) او په دغې ورځ کې به دوزخ راوستی شي، په دغې ورځ کې به انسان نصيحت (او پند) اخلي او (په دغه وخت کې) د ده لپاره نصيحت به څنګه (نفعمن) وي |
| يَقُولُ يَٰلَيۡتَنِي قَدَّمۡتُ لِحَيَاتِي ٢٤ | (24) دی به وايي: ای کاشکې ما د خپل ژوند لپاره مخکې (څه نيک عملونه) لېږلي وی |
| فَيَوۡمَئِذٖ لَّا يُعَذِّبُ عَذَابَهُۥٓ أَحَدٞ ٢٥ | (25) نو په دغې ورځ کې به د ده (يعني د رب) د عذاب په شان هيڅوك عذاب نه ورکوي |
| وَلَا يُوثِقُ وَثَاقَهُۥٓ أَحَدٞ ٢٦ | (26) او د ده د تړلو په شان به هيڅوك تړل نه کوي |
| يَٰٓأَيَّتُهَا ٱلنَّفۡسُ ٱلۡمُطۡمَئِنَّةُ ٢٧ | (27) ای اطمينان نيوونکيه نفسه! |
| ٱرۡجِعِيٓ إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةٗ مَّرۡضِيَّةٗ ٢٨ | (28) ته وګرځه خپل رب ته، په داسې حال کې چې خوشاله او راضي کړی شوی به يې |

فَٱدۡخُلِي فِي عِبَٰدِي ﴿٢٩﴾
(29) نو ته زما په بنده ګانو کې داخل شه

وَٱدۡخُلِي جَنَّتِي ﴿٣٠﴾
(30) او زما جنت ته ننوځه

## سُورَةُ البَلَدِ

## سورة بلد

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

لَآ أُقۡسِمُ بِهَٰذَا ٱلۡبَلَدِ ﴿١﴾
(1) زه قسم خورم په دې ښار باندې

وَأَنتَ حِلُّۢ بِهَٰذَا ٱلۡبَلَدِ ﴿٢﴾
(2) په داسې حال کې چې ته په دې ښار کې اوسېدونکی يې

وَوَالِدٖ وَمَا وَلَدَ ﴿٣﴾
(3) او په زېږوونکي باندې او په هغه باندې چې ده زېږولي دي

لَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ فِي كَبَدٍ ﴿٤﴾
(4) يقيناً يقيناً مونږ انسان په مشقت کې پيدا کړی دی

أَيَحۡسَبُ أَن لَّن يَقۡدِرَ عَلَيۡهِ أَحَدٞ ﴿٥﴾
(5) ايا دغه (کافر انسان) خيال کوي چې بېشکه شان دا دی چې په ده باندې به هيڅوک قادر نشي

يَقُولُ أَهۡلَكۡتُ مَالٗا لُّبَدًا ﴿٦﴾
(6) دی وايي: ما ډېر زيات مال خرڅ کړی

(لګولی) دی

أَيَحۡسَبُ أَن لَّمۡ يَرَهُۥٓ أَحَدٌ ٧
(7) ايا دی خيال کوي چې ببشکه دی هيچا نه دی ليدلی

أَلَمۡ نَجۡعَل لَّهُۥ عَيۡنَيۡنِ ٨
(8) ايا مونږ ده ته دوه سترګې نه دي ورکړي

وَلِسَانٗا وَشَفَتَيۡنِ ٩
(9) او يوه ژبه او دوه شونډې

وَهَدَيۡنَٰهُ ٱلنَّجۡدَيۡنِ ١٠
(10) اومونږ ده ته دوه لارې ښودلې دي

فَلَا ٱقۡتَحَمَ ٱلۡعَقَبَةَ ١١
(11) نو ده د غونډۍ په ختلو کې هېڅ تکليف ونه ويست

وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلۡعَقَبَةُ ١٢
(12) او ته څه شي پوه کړې چې (ختل د غونډۍ څه شی دی؟

فَكُّ رَقَبَةٍ ١٣
(13) خلاصول د څټ (ازادول د مريي) دي

أَوۡ إِطۡعَٰمٞ فِي يَوۡمٖ ذِي مَسۡغَبَةٖ ١٤
(14) او طعام ورکول دي په داسې ورځ کې چې د لوږې والا ده

يَتِيمٗا ذَا مَقۡرَبَةٍ ١٥
(15) يتيم ته چې د خپلوۍ خاوند وي

أَوۡ مِسۡكِينٗا ذَا مَتۡرَبَةٖ ١٦
(16) يا مسکين ته چې په خاورو ککړ وي

ثُمَّ كَانَ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
(17) بيا دغه له هغو کسانو څخه وي چې

وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلصَّبۡرِ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلۡمَرۡحَمَةِ ١٧

ايمان يې راوړی وي او يو بل ته د صبر وصيت کوي او يو بل ته د مهربانۍ (او شفقت) کولو وصيت کوي

أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡمَيۡمَنَةِ ١٨

(18) دغه کسان دښي اړخ والا دي

وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِنَا هُمۡ أَصۡحَٰبُ ٱلۡمَشۡـَٔمَةِ ١٩

(19) او هغه کسان چې زمونږ په ايتونو باندې کافران شوي دي دوی د چپ (گس) اړخ والا دي

عَلَيۡهِمۡ نَارٞ مُّؤۡصَدَةُۢ ٢٠

(20) په دوی باندې به سرپوښ کړی شوی اور وي

## سُورَةُ الشَّمۡسِ

## سورة شمس

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

وَٱلشَّمۡسِ وَضُحَىٰهَا ١

(1) قسم دی په لمر باندې او د هغه په رڼا باندې

وَٱلۡقَمَرِ إِذَا تَلَىٰهَا ٢

(2) اوسپوږمۍ باندې کله چې په ده پسې ورروسته راځي

وَٱلنَّهَارِ إِذَا جَلَّىٰهَا ٣

(3) او په ورځ باندې کله چې دغه (لمر)

ښکاره کاندي

وَٱلَّيۡلِ إِذَا يَغۡشَىٰهَا ۝٤
(4) او په شپه باندې کله چې دغه (لمر) پټ کاندي (په خپلو تيارو کې)

وَٱلسَّمَآءِ وَمَا بَنَىٰهَا ۝٥
(5) او په اسمان باندې او په هغه ذات چې دغه يې جوړ کړی دی

وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا طَحَىٰهَا ۝٦
(6) او په ځمکه باندې او په هغه ذات چې دغه (ځمکه) يې غوړولې ده

وَنَفۡسٖ وَمَا سَوَّىٰهَا ۝٧
(7) او په نفس باندې او په هغه ذات چې دغه يې ښه برابر کړی دی

فَأَلۡهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقۡوَىٰهَا ۝٨
(8) نو ده ته يې د ده بدي او د ده تقوىٰ (نېکي) الهام کړې (او ورښودلې) ده

قَدۡ أَفۡلَحَ مَن زَكَّىٰهَا ۝٩
(9) چې يقينًا کامياب شو هغه څوك چې دغه (نفس) يې پاك كړ

وَقَدۡ خَابَ مَن دَسَّىٰهَا ۝١٠
(10) او يقينًا نامراده شو هغه څوك چې دغه (نفس) يې په خاورو کې پټ كړ

كَذَّبَتۡ ثَمُودُ بِطَغۡوَىٰهَآ ۝١١
(11) ثموديانو د خپلې سرکشۍ په سبب (د رسولانو) تکذيب کړی و

إِذِ ٱنۢبَعَثَ أَشۡقَىٰهَا ﴿١٢﴾

(12) كله چې د دوی لوی بدبخت راپورته شو

فَقَالَ لَهُمۡ رَسُولُ ٱللَّهِ نَاقَةَ ٱللَّهِ وَسُقۡيَٰهَا ﴿١٣﴾

(13) نو دوی ته د الله رسول وويل: تاسو د الله اوښه او د هغې اوبه څښل پرېږدئ

فَكَذَّبُوهُ فَعَقَرُوهَا فَدَمۡدَمَ عَلَيۡهِمۡ رَبُّهُم بِذَنۢبِهِمۡ فَسَوَّىٰهَا ﴿١٤﴾

(14) نو دوی د هغه تکذيب وکړ (دروغجن يې وګاڼه) نو دوی د هغې پرکې (لينګې) پرې کړل (او مړه يې کړه) نو په دوی باندې د دوی رب د خپلو ګناهونو په سبب راګېرووونکی عذاب راولېږه، نو دغه (ټول) يې (په هلاکت کې) برابر کړل

وَلَا يَخَافُ عُقۡبَٰهَا ﴿١٥﴾

(15) او دی (الله) د دغه (هلاکت او عذاب) له انجام نه نه ويرېږي

## سُورَةُ اللَّيۡلِ

## سورة ليل

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

وَٱلَّيۡلِ إِذَا يَغۡشَىٰ ﴿١﴾

(1) قسم دی په شپه کله چې دا (هر شی) پټ کړي

وَٱلنَّهَارِ إِذَا تَجَلَّىٰ ﴿٢﴾

(2) او په ورځ باندې کله چې روښانه شي

وَمَا خَلَقَ ٱلذَّكَرَ وَٱلۡأُنثَىٰٓ ٣
(3) او په هغه ذات باندې چې نر او ښځه يې پيدا کړې دي

إِنَّ سَعۡيَكُمۡ لَشَتَّىٰ ٤
(4) چې بېشکه ستاسو سعې (او عمل) خامخا بېل بېل دي

فَأَمَّا مَنۡ أَعۡطَىٰ وَٱتَّقَىٰ ٥
(5) نو هر چې هغه څوك دى چې ورکړه کوي او وېرېږي

وَصَدَّقَ بِٱلۡحُسۡنَىٰ ٦
(6) او د ډېرې ښکلې کلمې تصديق کوي

فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلۡيُسۡرَىٰ ٧
(7) نو مونږ به ضرور ده ته د اسانۍ لارې اسانتيا ورکړو

وَأَمَّا مَنۢ بَخِلَ وَٱسۡتَغۡنَىٰ ٨
(8) او هر چې هغه څوك دى چې بخيلي کوي او بې پروايي کوي

وَكَذَّبَ بِٱلۡحُسۡنَىٰ ٩
(9) او د ډېرې ښکلې کلمې تکذيب کوي (دروغ يې گڼي)

فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلۡعُسۡرَىٰ ١٠
(10) نو مونږ به ضرور ده ته د سختۍ لارې اسانتيا ورکړو

وَمَا يُغۡنِي عَنۡهُ مَالُهُۥٓ إِذَا تَرَدَّىٰٓ ١١
(11) او کله چې دى په کنده کې غورځېږي (هلاکېږي، نو) د ده مال به د ده هېڅ په کار رانشي

إِنَّ عَلَيۡنَا لَلۡهُدَىٰ ١٢

(12) ببشکه خاص زمونږ په ذمه خامخا لاره ښوول دي

وَإِنَّ لَنَا لَلۡأٓخِرَةَ وَٱلۡأُولَىٰ ١٣

(13) او ببشکه خاص زمونږ لپاره اخرت او دنیا ده (د دواړو اختیار دی)

فَأَنذَرۡتُكُمۡ نَارٗا تَلَظَّىٰ ١٤

(14) نوما تاسو له داسې اوره ووېرولئ چې لمبې وهي

لَا يَصۡلَىٰهَآ إِلَّا ٱلۡأَشۡقَى ١٥

(15) ده ته به نه ننوځي مګر ترټولو بدبخته

ٱلَّذِي كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ١٦

(16) هغه چې تکذیب يې کړی او مخ يې (له حقه) ګرځولی دی

وَسَيُجَنَّبُهَا ٱلۡأَتۡقَى ١٧

(17) او له ده نه به خامخا لرې ساتلی شي ښه وېرېدونکی

ٱلَّذِي يُؤۡتِي مَالَهُۥ يَتَزَكَّىٰ ١٨

(18) هغه چې خپل مال د دې لپاره ورکوي چې پاك شي

وَمَا لِأَحَدٍ عِندَهُۥ مِن نِّعۡمَةٖ تُجۡزَىٰٓ ١٩

(19) او له ده سره (د ده په غاړه) د هیچا لپاره څه نعمت (او احسان) نشته چې بدله يې ورکولی شي

إِلَّا ٱبۡتِغَآءَ وَجۡهِ رَبِّهِ ٱلۡأَعۡلَىٰ ٢٠

(20) مګر د خپل رب د مخ لټوني لپاره چې تر ټولو اوچت دی

| | |
|---|---|
| وَلَسَوۡفَ يَرۡضَىٰ ﴿٢١﴾ | (21) او خامخا ژر به دی راضي شي` |

## سُورَةُ الضُّحَىٰ | سورۀ ضحی

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

| | |
|---|---|
| وَٱلضُّحَىٰ ﴿١﴾ | (1) قسم دی په څاښت باندي |
| وَٱلَّيۡلِ إِذَا سَجَىٰ ﴿٢﴾ | (2) او په شپه باندي کله چې قراره شي |
| مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَىٰ ﴿٣﴾ | (3) چې ته خپل رب نه پرېښی یې او نه یې (درسره) بغض ساتلی دی |
| وَلَلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ لَّكَ مِنَ ٱلۡأُولَىٰ ﴿٤﴾ | (4) او خامخا اخرت تا لپاره له دنیا نه ډېر غوره دی |
| وَلَسَوۡفَ يُعۡطِيكَ رَبُّكَ فَتَرۡضَىٰٓ ﴿٥﴾ | (5) او خامخا ژر به تا ته ستا رب درکړي، نو ته به راضي (خوشحاله) شې |
| أَلَمۡ يَجِدۡكَ يَتِيمٗا فَـَٔاوَىٰ ﴿٦﴾ | (6) ایا ته یې یتیم نه وې موندلی؟ پس پناه ځای یې درکړ |
| وَوَجَدَكَ ضَآلّٗا فَهَدَىٰ ﴿٧﴾ | (7) او ته یې ناخبره (او ناپوه) وموندلې، نو لار ښوونه یې (درته) وکړه |

وَوَجَدَكَ عَآئِلًا فَأَغۡنَىٰ ٨

(8) او ته يې فقير وموندلې، نو غني يې کړې

فَأَمَّا ٱلۡيَتِيمَ فَلَا تَقۡهَرۡ ٩

(9) نو هر چې يتيم دى، نو ته (ده ته) قهر مه کوه

وَأَمَّا ٱلسَّآئِلَ فَلَا تَنۡهَرۡ ١٠

(10) او هر چې سوالګرى دى، نو ته يې مه رټه

وَأَمَّا بِنِعۡمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثۡ ١١

(11) او پاتې شو (نعمت) نو ته د خپل رب نعمت بيانوه

## سُورَةُ الشَّرۡحِ

## سورۀ شرح

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکى دى**

أَلَمۡ نَشۡرَحۡ لَكَ صَدۡرَكَ ١

(1) ايا مونږ تا لره ستا سينه نه ده فراخه کړې

وَوَضَعۡنَا عَنكَ وِزۡرَكَ ٢

(2) او له تا نه مو ستا درund بار کوز کړى

ٱلَّذِىٓ أَنقَضَ ظَهۡرَكَ ٣

(3) هغه (بار) چې ستا شا يې کږه (او) درنه کړې وه

وَرَفَعۡنَا لَكَ ذِكۡرَكَ ٤

(4) او تا لپاره مو ستا ذکر اوچت کړ

فَإِنَّ مَعَ ٱلۡعُسۡرِ يُسۡرًا ٥
(5) نو بېشکه له سختۍ سره اساني شته

إِنَّ مَعَ ٱلۡعُسۡرِ يُسۡرٗا ٦
(6) بېشکه له سختۍ سره اساني شته

فَإِذَا فَرَغۡتَ فَٱنصَبۡ ٧
(7) نو کله چې ته فارغ شې، نو (په عبادت کې،) ځان ستړی کوه

وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَٱرۡغَب ٨
(8) او خاص خپل رب ته رغبت (او زاري) کوه

## سُورَةُ التِّينِ

## سورة تين

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

وَٱلتِّينِ وَٱلزَّيۡتُونِ ١
(1) قسم دی په انځر او زيتون (ښوون) باندې

وَطُورِ سِينِينَ ٢
(2) او په طور سينين (غره) باندې

وَهَٰذَا ٱلۡبَلَدِ ٱلۡأَمِينِ ٣
(3) او په دې امان ورکوونکي/امن والا ښار باندې

لَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ فِيٓ أَحۡسَنِ تَقۡوِيمٖ ٤
(4) چې يقيناً يقيناً موږ انسان په ډېر ښکلي صورت (او اعتدال) کې پيدا کړی دی

ثُمَّ رَدَدۡنَٰهُ أَسۡفَلَ سَٰفِلِينَ ٥
(5) بيا دی موږ وګرځاوه د ښکتو ډېر ښکته

إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَلَهُمۡ أَجۡرٌ غَيۡرُ مَمۡنُونٖ ٦

(6) مگر هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او نیك عملونه یې کړي دي، نو د دوی لپاره نه ختمېدونکی اجر دی

فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعۡدُ بِٱلدِّينِ ٧

(7) نو (ای د قیامت منکره!) له دې نه وروسته تا څه شی د قیامت په هکله دروغ ګڼلو ته اماده کوي؟

أَلَيۡسَ ٱللَّهُ بِأَحۡكَمِ ٱلۡحَٰكِمِينَ ٨

(8) ایا الله تر ټولو لوی حاکم نه دی؟

## سُورَةُ العَلَقِ

## سورۀ علق

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ ١

(1) ته د خپل هغه رب په نامه سره ولوله چې پیدا کړي یې دي (ټول مخلوقات)

خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِنۡ عَلَقٍ ٢

(2) ده انسان له پرنې (ټوټې) وینې نه پیدا کړی دی

ٱقۡرَأۡ وَرَبُّكَ ٱلۡأَكۡرَمُ ٣

(3) ته ولوله، په داسې حال کې چې ستا رب تر ټولو لوی کریم دی

| | |
|---|---|
| ٱلَّذِى عَلَّمَ بِٱلْقَلَمِ ﴿٤﴾ | (4) هغه چې په قلم سره يې ښوونه کړې ده |
| عَلَّمَ ٱلْإِنسَٰنَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ﴿٥﴾ | (5) انسان ته يې هغه څه ښودلي دي چې دی پرې نه پوهېده |
| كَلَّآ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَيَطْغَىٰٓ ﴿٦﴾ | (6) حقه دا خبره ده چې يقينًا انسان خامخا سرکشي کوي |
| أَن رَّءَاهُ ٱسْتَغْنَىٰٓ ﴿٧﴾ | (7) په دې وجه چې دی خپل ځان ويني چې دی بې پروا (بې حاجته) شو |
| إِنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ ٱلرُّجْعَىٰٓ ﴿٨﴾ | (8) ببشکه خاص ستا رب ته بېرته ورتلل دي |
| أَرَءَيْتَ ٱلَّذِى يَنْهَىٰ ﴿٩﴾ | (9) ته ما ته خبر راکړه د هغه کس چې منع کوي |
| عَبْدًا إِذَا صَلَّىٰٓ ﴿١٠﴾ | (10) بنده (محمدﷺ) لره کله چې دی لمونځ کوي |
| أَرَءَيْتَ إِن كَانَ عَلَى ٱلْهُدَىٰٓ ﴿١١﴾ | (11) ته ما ته خبر راکړه که چېرې دغه (بنده) په هدايت وي |
| أَوْ أَمَرَ بِٱلتَّقْوَىٰٓ ﴿١٢﴾ | (12) يا په تقوٰى (پرهېزګارۍ) سره حکم کوي |
| أَرَءَيْتَ إِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰٓ ﴿١٣﴾ | (13) ته ما ته خبر راکړه که دغه (منع کوونکی) تکذيب کوي او (له حق نه) مخ |

اړوي

أَلَمۡ يَعۡلَم بِأَنَّ ٱللَّهَ يَرَىٰ ١٤

(14) ایا دی نه پوهیږي چي بېشکه اللهویني؟

كَلَّا لَئِن لَّمۡ يَنتَهِ لَنَسۡفَعَۢا بِٱلنَّاصِيَةِ ١٥

(15) داسي نه ده! قسم دی که دی منع نشو، (نو) مونږ به (دی) خامخا ضرور ډېر سخت راکاږو د تندي (وچولي) په وېښتانو سره

نَاصِيَةٖ كَٰذِبَةٍ خَاطِئَةٖ ١٦

(16) داسي تندی چي دروغجن (او) خطا کار دی

فَلۡيَدۡعُ نَادِيَهُۥ ١٧

(17) نو دی دي خپل مجلس والا راوبلي

سَنَدۡعُ ٱلزَّبَانِيَةَ ١٨

(18) ژر ده چي مونږ به ډېر سخت تند خویه ملایك راوبلو

كَلَّا لَا تُطِعۡهُ وَٱسۡجُدۡ وَٱقۡتَرِب۩ ١٩

(19) داسي نه ده ته د ده خبره مه منه، او (الله ته) سجده کوه او (الله ته) ښه نژدې شه

## سُورَةُ القَدۡرِ

## سورۀ قدر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ فِي لَيۡلَةِ ٱلۡقَدۡرِ ١

(1) بېشکه مونږ دا (قرآن) د قدر په شپه کې نازل کړی دی

وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ ٢

(2) او ته څه شي پوه کړې چې د قدر شپه څه شی دی؟

لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ خَيۡرٞ مِّنۡ أَلۡفِ شَهۡرٖ ٣

(3) د قدر شپه له زرو مياشتو نه غوره ده

تَنَزَّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ فِيهَا بِإِذۡنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمۡرٖ ٤

(4) په دغه (شپه) کې (نور) ملايك او روح (جبريل) د خپل رب په حکم سره نازلېږي لپاره (د پوره کولو) د هر (مقرر شوي) کار

سَلَٰمٌ هِيَ حَتَّىٰ مَطۡلَعِ ٱلۡفَجۡرِ ٥

(5) (دغه شپه) سلامتيا ده، دغه (شپه) تر سبا ختلو پورې ده

## سُورَةُ البَيِّنَةِ

## سورة بينه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

لَمۡ يَكُنِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ وَٱلۡمُشۡرِكِينَ مُنفَكِّينَ حَتَّىٰ تَأۡتِيَهُمُ ٱلۡبَيِّنَةُ ١

(1) هغه کسان چې کافران شوي دي، چې کتابيان او مشرکان دي، جدا کېدونکي نه وو تر دې چې دوی ته ښکاره دليل راشي

رَسُولٞ مِّنَ ٱللَّهِ يَتۡلُواْ صُحُفٗا مُّطَهَّرَةٗ ٢

(2) چې د الله له جانبه رسول دی، چې (دوی ته) ډېرې پاکې صحيفې لولي

فِيهَا كُتُبٞ قَيِّمَةٞ ٣

(3) په دغو (صحيفو) کې ډېر سم (او درست) حکمونه (او فريضې) دي

وَمَا تَفَرَّقَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُمُ ٱلۡبَيِّنَةُ ٤

(4) او اهل کتاب په خپل مينځ کې سره جدا (او مختلف) شوي نه وو مگر وروسته له دې چې دوی ته ښکاره دليل راغی

وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ حُنَفَآءَ وَيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُواْ ٱلزَّكَوٰةَۚ وَذَٰلِكَ دِينُ ٱلۡقَيِّمَةِ ٥

(5) حال دا چې دوی ته حکم نه و ورکړی شوی مگر په دې چې دوی دې د الله عبادت کوي، په داسې حال کې چې دين (عبادت) دغه (الله) لره خالص کوونکي وي (او)

حنيفان (له باطله حق ته راګرځېدونکي) وي، او (د دې چې) دوی دې لمونځ قايموي او زکاۃت دې ورکوي اوهم دغه ډېر محکم دين دی

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ وَٱلۡمُشۡرِكِينَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ شَرُّ ٱلۡبَرِيَّةِ ٦

(6) بېشکه هغه کسان چې کافران شوي دي، چې اهل کتاب او مشرکان دي، (دوی به) د دوزخ په اور کې وي، چې په ده کې به تل ترتله وي. هم دغه کسان د خلقو بدترين دي

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ خَيۡرُ ٱلۡبَرِيَّةِ ٧

(7) بېشکه هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او نېک عملونه يې کړي دي همدغه کسان د خلقو بهترين دي

جَزَآؤُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ جَنَّٰتُ عَدۡنٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ رَّضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُۚ ذَٰلِكَ لِمَنۡ خَشِيَ رَبَّهُۥ ٨

(8) د خپل رب په نيز د دوی بدله د تل اوسېدنې جنتونه دي چې د هغو له لاندې ولې بهېږي، چې دوی به په دغو کې تل ترتله همېشه وي، الله له دوی نه راضي شوی دی او دوی له هغه نه راضي شوي دي، دغه (وعده) د هغه چا لپاره ده چې له خپل رب نه وېرېږي

## سُورَةُ الزَّلۡزَلَةِ

## سورۀ زلزله

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

إِذَا زُلۡزِلَتِ ٱلۡأَرۡضُ زِلۡزَالَهَا ١

(1) کله چې ځمکه وخوزلی شي په خپلو سختو خوزولو سره

وَأَخۡرَجَتِ ٱلۡأَرۡضُ أَثۡقَالَهَا ٢

(2) او ځمکه خپل درانه بارونه بهر ته راوباسي

وَقَالَ ٱلۡإِنسَٰنُ مَا لَهَا ٣

(3) او انسان به ووايي چې په دې څه شوي دي

يَوۡمَئِذٖ تُحَدِّثُ أَخۡبَارَهَا ٤

(4) په دغې ورځې کې به دا ځمکه خپلې خبرې (حالات) بيانوي

بِأَنَّ رَبَّكَ أَوۡحَىٰ لَهَا ٥

(5) په دې سبب چې ستا رب به دې ته وحې وکړې

يَوۡمَئِذٖ يَصۡدُرُ ٱلنَّاسُ أَشۡتَاتٗا لِّيُرَوۡاْ أَعۡمَٰلَهُمۡ ٦

(6) په دغې ورځ کې به خلق بيرته راګرځي، په داسې حال کې چې ببل ببل (او مختلف) به وي، د دې لپاره چې دوی ته خپل عملونه وښودل شي

فَمَن يَعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٍ خَيۡرٗا

(7) نو هغه څوك چې د يوې ذرې په اندازه

يَرَهُۥ ٧

نېك عمل وكړي (،نو) دى به هغه ووينې

وَمَن يَعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖ شَرّٗا يَرَهُۥ ٨

(8) او هغه څوك چې د يوې ذرې په اندازه د شر (او بدى) عمل كوي (، نو) دى به هغه ووينې

## سُورَةُ العَادِيَاتِ

## سورۀ عاديات

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

**د الله په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكى دى**

وَٱلۡعَٰدِيَٰتِ ضَبۡحٗا ١

(1) قسم دى په تېزو ځغلېدونكو اسونو، چې له سينو او ګېډو نه اواز ايستونكي دي

فَٱلۡمُورِيَٰتِ قَدۡحٗا ٢

(2) پس (قسم دى) په هغو اسونو چې په خپلو سُمانو سره تيږي وهي او اور را ايستونكي دي

فَٱلۡمُغِيرَٰتِ صُبۡحٗا ٣

(3) پس (قسم دى) په هغو اسونو چې د سبا په وخت كې لوټمار كوونكي دي

فَأَثَرۡنَ بِهِۦ نَقۡعٗا ٤

(4) نو په دغه وخت كې دغه (اسونه) ګرد پورته كوي

فَوَسَطۡنَ بِهِۦ جَمۡعًا ٥

(5) پس په دغه وخت كې د لويې ډلې په

مينځ کې ننوځي

إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لِرَبِّهِۦ لَكَنُودٞ ٦
(6) چې بېشکه انسان د خپل رب ډېر ناشکره دی

وَإِنَّهُۥ عَلَىٰ ذَٰلِكَ لَشَهِيدٞ ٧
(7) او بېشکه دی په دې خبره یقینًا ښه خبردار (او ګواه) دی

وَإِنَّهُۥ لِحُبِّ ٱلۡخَيۡرِ لَشَدِيدٌ ٨
(8) او بېشکه دی د مال په مینه کې یقینًا ډېر سخت دی

۞أَفَلَا يَعۡلَمُ إِذَا بُعۡثِرَ مَا فِي ٱلۡقُبُورِ ٩
(9) ایا نو دی نه پوهېږي کله چې هغه (مړي) راوښکل شي چې په قبرونو کې دي؟

وَحُصِّلَ مَا فِي ٱلصُّدُورِ ١٠
(10) او هغه څه راښکاره کړی شي چې په سینو کې دي

إِنَّ رَبَّهُم بِهِمۡ يَوۡمَئِذٖ لَّخَبِيرُۢ ١١
(11) بېشکه د دوی رب په دغې ورځ کې په دوی باندې یقینًا ښه خبردار دی

## سُورَةُ القَارِعَةِ

## سورۀ قارعه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

ٱلۡقَارِعَةُ ١

(1) (د زړونو) ټکوونکی (قيامت)

مَا ٱلۡقَارِعَةُ ٢

(2) (د زړونو) ټکوونکی څه شی دی؟

وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلۡقَارِعَةُ ٣

(3) او ته څه شي پوه کړې چې (د زړونو) ټکوونکی څه شی دی؟

يَوۡمَ يَكُونُ ٱلنَّاسُ كَٱلۡفَرَاشِ ٱلۡمَبۡثُوثِ ٤

(4) (دی به زړونه ټکوي) په هغې ورځ کې چې خلق به د خواره کړې شويو پتنګانو په شان شي

وَتَكُونُ ٱلۡجِبَالُ كَٱلۡعِهۡنِ ٱلۡمَنفُوشِ ٥

(5) او غرونه به د ډانډس کړې شوي رنګينې وړۍ په شان شي

فَأَمَّا مَن ثَقُلَتۡ مَوَٰزِينُهُۥ ٦

(6) نو هر چې هغه څوک دی چې د هغه تلې درنې شوې

فَهُوَ فِي عِيشَةٖ رَّاضِيَةٖ ٧

(7) نو دی به په ډېر ښه ژوندون کې وي

وَأَمَّا مَنۡ خَفَّتۡ مَوَٰزِينُهُۥ ٨

(8) او پاتې شو هغه کس چې د هغه تلې

سپکې شوې

فَأُمُّهُۥ هَاوِيَةٞ ٩ (9) نو د ده استوګنځی هاویه ده

وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا هِيَهۡ ١٠ (10) او ته څه شي پوه کړې چې دغه (هاویه) څه شی دی؟

نَارٌ حَامِيَةُۢ ١١ (11) (دغه) ډېر ګرم اور دی

## سُورَةُ التَّكَاثُرِ
## سورة تکاثر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

أَلۡهَىٰكُمُ ٱلتَّكَاثُرُ ١ (1) تاسو غافله کړئ فخر کولو په یو بل باندې په ډېروالي (د مال، اولاد او قام) سره

حَتَّىٰ زُرۡتُمُ ٱلۡمَقَابِرَ ٢ (2) تر هغه پورې چې تاسو هدېرو ته ورشئ

كَلَّا سَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ٣ (3) داسې نه ده په کار، ژر ده چې تاسو به پوه شئ

ثُمَّ كَلَّا سَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ٤ (4) بیا بېخي داسې نه ده، ژر ده چې تاسو به پوه شئ

كَلَّا لَوۡ تَعۡلَمُونَ عِلۡمَ ٱلۡيَقِينِ ٥ (5) داسې نه ده که تاسو په علم الیقین سره

پوهېدلی

لَتَرَوُنَّ ٱلۡجَحِيمَ ٦

(6) تاسو به خامخا ضرور دوزخ وینئ

ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيۡنَ ٱلۡيَقِينِ ٧

(7) بیا به تاسو خامخا ضرور دغه (دوزخ) د یقین په سترګو وینئ

ثُمَّ لَتُسۡـَٔلُنَّ يَوۡمَئِذٍ عَنِ ٱلنَّعِيمِ ٨

(8) بیا به په دغې ورځ کې له تاسو نه خامخا ضرور د نعمتونو په باره کې تپوس کېږي

## سُورَةُ العَصۡرِ

## سورة عصر

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

وَٱلۡعَصۡرِ ١

(1) قسم دی په عصر (مازيګر، يا زمانه)

إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَفِي خُسۡرٍ ٢

(2) چې ببشکه يقينًا انسان په زيان (او تاوان) کې دی

إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلۡحَقِّ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلصَّبۡرِ ٣

(3) غير له هغو کسانو نه چې ايمان يې راوړی دی او نيك عملونه يې کړي دي او يو بل ته يې د حق (دين) وصيت کړی دی، او يو بل ته يې د صبر وصيت کړی دی

## سُورَةُ الهُمَزَةِ

## سورۀ همزه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

وَيۡلٞ لِّكُلِّ هُمَزَةٖ لُّمَزَةٍ ١

(1) هلاکت دی د هر ډېر غيبت کوونکي، ډېر عيبت لګوونکي لپاره

ٱلَّذِي جَمَعَ مَالٗا وَعَدَّدَهُۥ ٢

(2) هغه چې مال يې جمع کړی دی او دغه يې بيا بيا شمېرلی (او ذخيره کړی) دی

يَحۡسَبُ أَنَّ مَالَهُۥٓ أَخۡلَدَهُۥ ٣

(3) دی خيال کوي چې بېشکه د ده مال به دی تل ژوندی وساتي؟

كَلَّاۖ لَيُنۢبَذَنَّ فِي ٱلۡحُطَمَةِ ٤

(4) داسې هيڅکله نشي کېدی، دی به خامخا ضرور په حطمه (ماتوونکي او سوځوونکي دوزخ) کې وغورځول شي

وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلۡحُطَمَةُ ٥

(5) او ته څه شي پوه کړې چې حطمه څه شی دی؟

نَارُ ٱللَّهِ ٱلۡمُوقَدَةُ ٦

(6) د الله هغه بل کړی شوی اور دی

ٱلَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى ٱلۡأَفۡـِٔدَةِ ٧

(7) هغه چې په زړونو راخېژي (او غالب کېږي)

إِنَّهَا عَلَيۡهِم مُّؤۡصَدَةٞ ٨

(8) بېشکه دغه (اور) به په دوی باندې (له هره جانبه) رابند کړی شوی وي

فِي عَمَدٖ مُّمَدَّدَةِۭ ٩

(9) په اوږدو (رابنکلی شویو) ستنو کې

## سُورَةُ الفِيلِ

## سورۀ فيل

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

أَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصۡحَٰبِ ٱلۡفِيلِ ١

(1) ايا ته نه يې خبر شوی چې ستا رب له فيل والاو سره څنګه کار کړی و؟

أَلَمۡ يَجۡعَلۡ كَيۡدَهُمۡ فِي تَضۡلِيلٖ ٢

(2) ايا د هغوی چل (او مکر) يې په ګمراهۍ او زيان کې نه و ګرځولی؟

وَأَرۡسَلَ عَلَيۡهِمۡ طَيۡرًا أَبَابِيلَ ٣

(3) او په دوی باندې يې ډلې ډلې مرغان راخوشې کړل

تَرۡمِيهِم بِحِجَارَةٖ مِّن سِجِّيلٖ ٤

(4) چې دغو (مرغانو) به دوی لره په داسې کانو ويشتل چې له خټو نه جوړ، په اور پخ شوي وو

فَجَعَلَهُمۡ كَعَصۡفٖ مَّأۡكُولِۭ ٥

(5) نو دغه (خلق) يې د خوړل شويو وښو په

شان وګرځول

## سُورَةُ قُرَيۡشٍ

## سورۀ قریش

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

لِإِيلَٰفِ قُرَيۡشٍ ١

(1) د قريشو له یو بل سره د الفت له وجې نه

إِۦلَٰفِهِمۡ رِحۡلَةَ ٱلشِّتَآءِ وَٱلصَّيۡفِ ٢

(2) د ژمي او اوړي په سفر کې د دوی د الفت په وجه

فَلۡيَعۡبُدُواْ رَبَّ هَٰذَا ٱلۡبَيۡتِ ٣

(3) نو لازم دي چې دوی د دې کور د رب عبادت وکړي

ٱلَّذِيٓ أَطۡعَمَهُم مِّن جُوعٖ وَءَامَنَهُم مِّنۡ خَوۡفِۭ ٤

(4) هغه (رب) چې دوی ته يې له لوږې نه (د بچ کولو لپاره) طعام ورکړی دی او دوی ته يې له وېرې نه (د ساتلو لپاره) امن (او بې خوفي) ورکړي ده

## سُورَةُ المَاعُونِ

## سورۀ ماعون

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

أَرَءَيۡتَ ٱلَّذِي يُكَذِّبُ بِٱلدِّينِ ١

(1) ايا تا هغه کس ليدلی چې د بدلې ورځ (قيامت) دروغ ګڼي

فَذَٰلِكَ ٱلَّذِي يَدُعُّ ٱلۡيَتِيمَ ٢

(2) نو همدغه هغه کس دی چې يتيم ته ديکې ورکوي

وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلۡمِسۡكِينِ ٣

(3) او مسکين ته په طعام ورکولو ترغيب نه ورکوي

فَوَيۡلٞ لِّلۡمُصَلِّينَ ٤

(4) نو هلاکت دی لمونځ کوونکو لره

ٱلَّذِينَ هُمۡ عَن صَلَاتِهِمۡ سَاهُونَ ٥

(5) هغه کسان چې دوی له خپلو لمونځونو نه غافله (او اعراض کوونکي) وي

ٱلَّذِينَ هُمۡ يُرَآءُونَ ٦

(6) هغه کسان چې دوی رياکاري کوي

وَيَمۡنَعُونَ ٱلۡمَاعُونَ ٧

(7) او دوی ماعون (د استعمال عام څيزونه هم له يو بل نه) منع کوي

## سُورَةُ الكَوْثَرِ

## سورۀ کوثر

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

إِنَّآ أَعۡطَيۡنَٰكَ ٱلۡكَوۡثَرَ ١

(1) بېشکه مونږ تا ته کوثر درکړی دی

فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَٱنۡحَرۡ ٢

(2) نو ته د خپل رب لپاره لمونځ کوه او قرباني کوه

إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ ٱلۡأَبۡتَرُ ٣

(3) بېشکه ستا دښمن هم هغه بې بنياده (او لاولده) دی

## سُورَةُ الكَافِرُونَ

## سورۀ کافرون

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡكَٰفِرُونَ ١

(1) (ای نبي!) ته (دوی ته) ووايه: ای کافرانو!

لَآ أَعۡبُدُ مَا تَعۡبُدُونَ ٢

(2) زه د هغو (شيانو) عبادت نه کوم چې تاسو يې عبادت کوئ

وَلَآ أَنتُمۡ عَٰبِدُونَ مَآ أَعۡبُدُ ٣

(3) او نه تاسو د هغه ذات عبادت کوونکي يئ

چې زه يې عبادت کوم

وَلَآ أَنَا۠ عَابِدٞ مَّا عَبَدتُّمۡ ٤

(4) او نه زه د هغه شي عبادت کوونکی يم چې تاسو يې عبادت کړی دی

وَلَآ أَنتُمۡ عَٰبِدُونَ مَآ أَعۡبُدُ ٥

(5) او نه تاسو عبادت کوونکي يئ د هغه ذات چې زه يې عبادت کوم

لَكُمۡ دِينُكُمۡ وَلِيَ دِينِ ٦

(6) تاسو لپاره ستاسو دين دی او زما لپاره زما دين دی

## سُورَةُ النَّصۡرِ

## سورة نصر

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

إِذَا جَآءَ نَصۡرُ ٱللَّهِ وَٱلۡفَتۡحُ ١

(1) کله چې د الله مدد راشي او فتح

وَرَأَيۡتَ ٱلنَّاسَ يَدۡخُلُونَ فِي دِينِ ٱللَّهِ أَفۡوَاجٗا ٢

(2) او ته خلق ووينې چې د الله په دين کې ډلې ډلې داخلېږي

فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ وَٱسۡتَغۡفِرۡهُۚ إِنَّهُۥ كَانَ تَوَّابَۢا ٣

(3) نو ته پاکي بيانوه د خپل رب له ستاينې سره او له ده نه مغفرت غواړه، بېشکه دی تل ښه توبه قبلوونکی دی

## سُورَةُ المَسَدِ

## سورۀ مسد

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

تَبَّتۡ يَدَآ أَبِي لَهَبٖ وَتَبَّ ١

(1) د ابو لهب دواړه لاسونه دې هلاك شي او دی هلاك شو

مَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُ مَالُهُۥ وَمَا كَسَبَ ٢

(2) د ده هېڅ په کار رانغی د ده مال او (نه) هغه څه چې ده گټلي وو

سَيَصۡلَىٰ نَارٗا ذَاتَ لَهَبٖ ٣

(3) ژر ده چې دی به لمبې وهونکي اور ته داخل شي

وَٱمۡرَأَتُهُۥ حَمَّالَةَ ٱلۡحَطَبِ ٤

(4) او د ده ښځه هم، (زه د دغې) د لرگو اوچتوونکې (مذمت کوم)

فِي جِيدِهَا حَبۡلٞ مِّن مَّسَدِۭ ٥

(5) د دې په غاړه کې د کجورې د پټ مضبوطه رسۍ ده

## سُورَةُ الإِخۡلَاصِ

## سورۀ اخلاص

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ١

(1) (ای نبي!) ته (دوی ته) ووایه: شان دا دی چې الله یو دی

ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ٢

(2) هم دا الله بې نیاز (بې حاجته) دی

لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُولَدۡ ٣

(3) نه يې (څوك) زېږولی دی او نه دی (له چا) زېږول شوی دی

وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ ٤

(4) او د ده هیڅوك سیال (او) برابر نشته

## سُورَةُ الفَلَقِ

## سورۀ فلق

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ ١

(1) (ای نبي) ته ووایه: زه په رب د سبا پورې پناه نیسم

مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ٢

(2) د هر هغه شي له شر نه چې ده پیدا کړی

دی

وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ۝٣
(3) او د تیارې شپې له شر نه کله چې تکه توره (او خوره) شي

وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِي ٱلۡعُقَدِ ۝٤
(4) او له شره د هغو (جادوګرو) ښځو چې په غوټو کې پوکې وهونکې دي

وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ ۝٥
(5) او د حسد کوونکي له شر نه کله چې دی حسد (شروع او ښکاره) کړي

## سُورَةُ النَّاسِ
## سورۀ ناس

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**
**د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی**

قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ۝١
(1) (ای نبي) ته ووایه: زه د خلقو په رب پورې پناه نیسم

مَلِكِ ٱلنَّاسِ ۝٢
(2) چې د خلقو بادشاه دی

إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ ۝٣
(3) د خلقو (حقیقي) معبود دی

مِن شَرِّ ٱلۡوَسۡوَاسِ ٱلۡخَنَّاسِ ۝٤
(4) له شره د وسوسې اچوونکي، تنبتېدونکي

ٱلَّذِي يُوَسۡوِسُ فِي صُدُورِ
(5) هغه چې د خلقو په سینو کې وسوسې

ٱلنَّاسِ ٥

اچوي

مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ ٦

(6) چې (دغه وسوسې اچوونکي) له پېريانو او انسانانو څخه دي